يَهْدِيْ إِلَى الرُّشْدِ فَآمَنَّا بِهِ

په پښتو ژبه کښې آسان، عام فهم او تحقيقي انداز کښې، علمي او الهامي نکاتو باندې مشتمل، لاجوابه علمي تحفه

رُشْدُ الْقُرْآن

فِيْ تَفْسِيْرِ آيَاتِ الْقُرْآن

شپږم جلد

د ابتداء سورة سبا نه تر آخر سورة حجرات پورې

تأليف

شيخ القرآن والحديث حضرت مولانا اُسَيْدُ الله صاحب حفظه الله

جديد مكتبه رُشيديه
محله جنگي قصه خواني پشاور
091-2580074

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

يَهۡدِيۤ اِلَى الرُّشۡدِ فَاٰمَنَّا بِهٖ ؕ وَلَنۡ نُّشۡرِكَ بِرَبِّنَاۤ اَحَدًا

په پښتو ژبه کښې آسان، عام فهم او تحقیقی
انداز کښې، علمی او الهامی نکاتو باندې مشتمل ، لاجوابه علمی تحفه



رشد القران

فی تفسیر آیات القرآن

شپږم جلد

له ابتداء د سورة سبا نه تر اخر د سورة حجرات پوري

تالیف
شیخ القرآن والحدیث
حضرت مولانا أسید اللّٰه صاحب رحمه اللّٰه

جدید مکتبہ رشیدیہ
محلہ جنگی قصہ خوانی پشاور 091-2580074

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب نوم : **رشد القران فی تفسیر آیات القرآن**

تالیف : شیخ القرآن والحدیث حضرت مولانا **أسید الله** صاحب رحمه الله

تصحیح ونظر ثانی : مولانا تقی الله صاحب

جلد : شپږم

صفحات : ٦٣٠

د چاپ اول ځل : ٢٠١٧ء

جدید مکتبه رشیدیه

محله جنگی قصه خوانی پشاور 091-2580074

د کتاب تر لاسه کولو ځایونه

پشاور • اکوړه خټک • کوټه • پروان • کندوز • غزني • جلال اباد • قندهار • بغلان • لوګر • خوست

ركوعاتها (۶)	سورة السبا مكية	آياتها (۵۴)
	بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	شروع کوم په نامه دالله چه بخښونکي دی مهربانه	

ترتيبها حسب التسلسل (۳۴) وحسب النزول (۵۸)

سورة السبأ مكيّ دې ، ترتيب قرآن په لحاظ (۳۴) دې او د ترتيب نزولی په لحاظ (۵۸) دې، دَسورة لقمان نه ورستو او د زُمر نه قبل نازل شويدې.

حصّه رابعه: دَسورة السبأ نه د قرآن پاک څلورمه حصه شروع کيږی او پدی حصه کښې زياده تر مضمون دَقيامت ذکر کيږی ، لکه څنګه چه مخکښې درې واړه حصّې مُصدرې وې(شروع شوې وې) په ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ سره ،نو دغه شان دا حصه هم مصدره ده﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ سره او هر چه دې سورة فاطر نو د هغې په شروع کښې﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ ځکه راغلي ده چه دا دواړه سورتونه شريک دی په مبدئيت کښې دا سورة مبدأ دې لپاره د سورة يٰسين، صفّت او د سورة الزّمر يو مضمون لپاره ، او سورة فاطر مبدأ دې لپاره د حواميمو سبعؤو او د سورة الزمر اکثرو مضامينو لپاره ، نو پدې وجه د دواړو سورتونو په شروع کښې﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ راغلي ده.

ربط اسمی: ربط اسمی ئی دادې چه په سورة احزاب کښې دا وؤ چه تاسو په توحيد قائم اوسيږئ که احزاب ستاسو مقابلې ته راشی نو فتح او کاميابی به ستاسو وی لکه په غزوه احزاب کښې چه تاسو ته فتح ملاوه شوه،اوس سورة سبأ کښې فرمائي چه کچرته مشرکان مسئله د توحيد او مني نو داددوئ لپاره بهتره ده ورنه په انکار به ورته هغه سزا ميلاويږی چه قوم سباء ته ميلاؤ شوه.

ربط معنوی: ئې دا دې چه د سورة سجدی نه د مسئلې د توحيد نوې پهلو شروع شوی وه چه د هغې مقصد نفی د شرک فی الشفاعة وؤ ، نو په سورة سجده او احزاب کښې ئی په تفصيل سره بيان اوشو ،اوس پدې سورة کښې د څلورو شبهاتو جوابونه دی چه په نفی د شفاعت قهری يعنی نفی د شرک فی الشفاعة باندې وارديږي،او دا شبهات د انبياؤ ، جناتو ، او د فرشتو متعلق دی.

تفصيلی خلاصه

دسورت مرکزی دعوه اثبات دَ توحید په صورت دَ نفی شفاعت قهری کښ ده، دې باندې پنځه دلیلونه پیش کیږی، څلور (۴) عقلی او یو دلیل نقلی.

اول دلیل عقلی ٱلَّذِى لَهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ (آیت ۱)

دویم دلیل عقلی قُلْ مَن يَرْزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ (آیت ۲۴)

دریم دلیل عقلی: قُلْ إِنَّ رَبِّى يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ (آیت ۳۶)

څلورم دلیل عقلی: (آیت ۳۹) قُلْ إِنَّ رَبِّى يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ دا په حقیقت کښ دَ دریم دلیل عقلی اعاده ده.

دلیل نقلی: وَيَرَى ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ (آیت نمبر ۶)

څلور شبهاتو جوابونه ذکر کیږی.

اوله شبه: داؤد علیه السلام مستحق دَ اولوهیت اوشفیع قهری دې (آیت ۱۰)

دویمه شبه: سلیمان علیه السلام مستحق دَ الوهیت اوشفیع قهری دې (آیت ۱۲)

دریمه شبه: جنات غیب دان اوشفیع قهری دی، (آیت ۱۳)

څلورمه شبه: ملائک مستحق دَ الوهیت اوشفیع قهری دی (آیت ۱۴)

اته (۸) طریقی دَ تبلیغ په کښ ذکر کیږی.

اوله طریقه دَ تبلیغ: وَإِنَّآ أَوْ إِيَّاكُمْ لَعَلَىٰ هُدًى (آیت ۲۴)

دویمه طریقه دَ تبلیغ: قُل لَّا تُسْـَٔلُونَ عَمَّآ أَجْرَمْنَا (آیت ۲۵)

دریمه طریقه دَ تبلیغ: قُلْ يَجْمَعُ بَيْنَنَا رَبُّنَا (آیت ۲۶)

څلورمه طریقه دَ تبلیغ: قُلْ إِنَّمَآ أَعِظُكُم بِوَٰحِدَةٍ (آیت ۴۶)

پنځمه طریقه دَ تبلیغ: قُلْ مَا سَأَلْتُكُم مِّنْ أَجْرٍ فَهُوَ لَكُمْ (آیت ۴۷)

شپږمه طریقه دَ تبلیغ: قُلْ إِنَّ رَبِّى يَقْذِفُ بِٱلْحَقِّ عَلَّٰمُ ٱلْغُيُوبِ (آیت ۴۸)

اوومه طریقه دَ تبلیغ: قُلْ جَآءَ ٱلْحَقُّ وَمَا يُبْدِئُ (آیت ۴۹)

اتمه طریقه دَ تبلیغ: قُلْ إِن ضَلَلْتُ فَإِنَّمَآ أَضِلُّ عَلَىٰ نَفْسِى (آیت ۵۰)

نهه (۹) تخویفات بیانیږی

(۱)وَالَّذِينَ سَعَوْ فِي آيَاتِنَا مُعَاجِزِينَ (آیت ۵) (۲)أَفَلَمْ يَرَوْا إِلَىٰ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ (آیت ۹)

(۳)لَقَدْ كَانَ لِسَبَإٍ فِي مَسْكَنِهِمْ آيَةٌ آیت ۱۰ تا ۲۱ (۴)وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَن نُّؤْمِنَ (آیت ۳۱تا۳۳)

(۵)و مآأَرْسَلْنَا فِي قَرْيَةٍ مِّن نَّذِيرٍ (آیت ۳۴،۳۵) (۶)وَالَّذِينَ يَسْعَوْنَ فِي آيَاتِنَا (آیت ۳۸)

(۷)وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ يَقُولُ (آیت ۴۰) (۸)وَكَذَّبَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَمَا بَلَغُوا (آیت ۴۵)

(۹)وَلَوْ تَرَىٰ إِذْ فَزِعُوا فَلَا فَوْتَ (آیت ۵۴ ۵۱)

درې شکوې ذکر کيږي.

(۱)وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَا تَأْتِينَا السَّاعَةُ (آیت ۳) (۲) وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا هَلْ نَدُلُّكُمْ (آیت ۹)

(۳) وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْوَعْدُ آیت ۲۹،۳۰

(تمت)

الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ

تمام خدائی صفتونه الله ﷻ لره دی،هغه الله چې ده لره دی هرهغه څه چې په اسمانونو کښ دی،اوهرهغه څه چه په زمکه کښ دی

وَلَهُ الْحَمْدُ فِي الْآخِرَةِ وَهُوَ الْحَكِيمُ الْخَبِيرُ ① يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي الْأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ

اوده لره دي حمد په اخرت کښ،اودې حکمتونووالاخبردار دې،عالم دې په هغه څه چې ننوځي په زمکه کښ اوپه هغې چې رااوځي

مِنْهَا وَمَا يَنزِلُ مِنَ السَّمَاءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا ۚ وَهُوَ الرَّحِيمُ الْغَفُورُ ②

ددې نه،اوپه هغې چې راکوزيږي داسمان نه،اوپه هغې چه خيژی اسمان ته،اوهغه رحم کونکې بخښونکې دې.

﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ﴾ دادعوه دسورت ده،چه تمام صفتونه د خدایئ توب صرف الله ﷻ لره دی،بل څوک ورسره شریک نشته نه بل څوک متصرف شته اونه شفیع قهری ﴿الَّذِي لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ﴾ دااول دلیل عقلی دې په مذکورې دعوې د توحید باندې د دې دلیل دوه حصی دی ، دا د دلیل اوله حصه ده چه پدیکښی د تصرف ذکر دې،چه په ټولو کائناتو کښی متصرف او مختار صرف الله ﷻ دې ﴿وَلَهُ الْحَمْدُ فِي الْآخِرَةِ﴾ څنګه چه په دنیا کښی مستحق د حمد صرف الله ﷻ دې نو دغه شان په آخرت کښی هم مستحق د حمد صرف الله ﷻ دې ، کقوله تعالیٰ: وقالوا الحمد لله الذی صدقنا وعده" اودغه شان وتری الملائكة حافين من حول العرش يسبحون بحمد ربهم اودغه شان وقيل

الحمد لله رب العالمين،"وغيرها من الايات دنيا کښې د الله ﷻ حمد لپاره دعبادت دي او په آخرة کښې لپاره د تلذذ او فرحت دي﴿وَهُوَ ٱلْحَكِيمُ﴾ الله ﷻ حكيم دي، هيڅ كار ئى هم د حكمت نه خالى نه دي. ټول نظام د كائناتو په حكمت سره چلوى﴿ٱلْخَبِيرُ﴾ د هر چا په حال باندى خبر دار دي ، نو د هر محتاج لپاره صرف هغه كار ساز دي﴿يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِى ٱلْأَرْضِ﴾ داد دليل دويمه حصه ده.او پديكښې دغيب دانئ ذكر دي يعنى د ټولو كائناتو د ذرې ذرې علم صرف الله ﷻ ته دي،﴿مَا يَلِجُ فِى ٱلْأَرْضِ﴾ نه مراد،د باران اوبه ،تخم،مرى وغيره مراد دى.نو مطلب دا دي چه د زمكې د اندرونى حصې علم هم صرف الله ﷻ ته دي﴿وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا﴾او د زمكې بيرونې حصې علم هم الله ﷻ ته دي.او د دې نه مراد نباتات ،معدنيات وغيره دى﴿وَمَا يَنزِلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ﴾ يعنى د آسمان بيرونى حصه علم هم الله ﷻ ته دي،مراد د دې نه فرشتې،احكامات وغيره دى﴿وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا﴾ دآسمان اندرونى حصې علم هم صرف الله ﷻ ته دي مراد د دينه فرشتې،دانسانانو عملونه وغيره دي،كقوله تعالى: اليه يصعد الكلم الطيبُ والعمل الصابح يرفعه، نودَدليل د دواړو حصونه دا ثابته شوه چه د ټولو كائناتو مالک، خالق ،كار ساز او متصرف صرف الله ﷻ دي نو دا دعوه ثابته شوه چه ﴿ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ﴾يعني د حمد او صفاتو الوهيت مستحق صرف الله ﷻ دي.

فائده:﴿وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا﴾ ذكر شو،"اليها"ذكر نه شو پديكښې اشاره ده قبوليت د اعمالو ته څكه چه ﴿إِلَىٰ﴾ د غايه لپاره راځي نو كه (اليها) ئي وئيلى ي نو صرف اسمان ته به رسيدل مراد وو. په آيت كريمه كښى﴿ٱلسَّمَٰوَٰتِ﴾ جمع راوړل او﴿ٱلْأَرْضِ﴾واحد راوړلو وجه دَسورة الانعام په اول آيت كښى تيره شويده هلته ئي اوګورئ.

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَا تَأْتِينَا ٱلسَّاعَةُ ۖ قُلْ بَلَىٰ وَرَبِّى لَتَأْتِيَنَّكُمْ لا
اووائى هغه كسان چې كفرئى كړيدې نه به راځي مونږته قيامت،ته أووايه،ولې نه.قسم مې دې وى په رب خپل خامخابه راځي تاسوته،
عَٰلِمِ ٱلْغَيْبِ ۖ لَا يَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِى ٱلْأَرْضِ
چې عالم دي په غيب باندې،نه پټيږي دهغه دعلم نه،په اندازې دَيوې ذرې په اسمانونو كښې.اونه په زمكه كښى.

وَلَآ اَصۡغَرُ مِنۡ ذٰلِكَ وَلَآ اَكۡبَرُ اِلَّا فِىۡ كِتٰبٍ مُّبِيۡنٍ ﴿۳﴾ لِّيَجۡزِىَ الَّذِيۡنَ
اونه يو وړوکي څيز ددې زرې نه، اونه لوئ، مګرپه کتاب ښکاره کښې دې. دپاره ددې چې بدله ورکړې الله ﷻ هغه کسانو ته
اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اُولٰٓئِكَ لَهُمۡ مَّغۡفِرَةٌ وَّرِزۡقٌ كَرِيۡمٌ ﴿۴﴾
چې ايمان ئې راوړې دې اوعملونه کوی نيک، دغه کسان هم دوئ لپاره مغفرت اورزق عزت والادې.
وَالَّذِيۡنَ سَعَوۡا فِىۡٓ اٰيٰتِنَا مُعٰجِزِيۡنَ اُولٰٓئِكَ
اوهغه کسان چه کوشش کوې په(باطلولو د)اياتونوزمونږه کښې، (ګمان يې داوې) چې عاجزه کونکې دې(مونږلره)، دغه کسان
لَهُمۡ عَذَابٌ مِّنۡ رِّجۡزٍ اَلِيۡمٌ ﴿۵﴾
هم دوئ لپاره عذاب دې ډير سخت دردناك .

﴿وَقَالَ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا﴾ دا شکوه ده چه کافران صرف د توحيد نه منکر نه دی بلکه د قيامت نه هم منکر دی او وائی قيامت نشته دې﴿قُلۡ بَلٰى وَرَبِّىۡ﴾دا جواب شکوه ده او دليل دې په وقوع قيامت باندې، يعنی قيامت انکارپدې خبره دې چې انسان روح دَجسم نه جدا شي او جسم يې په خاوره کښې ايره ايره شی، اومنتشراوبالکل روک شي(کما في قوله تعالى وقالوا ا أذا ضللنا في الارض...)نوبيا به ددې منتشراوروک اجزاؤ پته څنګه اولګی اوچې هغه معلوم شی نوبيابه ورله داروح دکوم ځائی نه رواستې کيږی؟الله تعالی ورته جواب کښې فرمائی چې﴿عٰلِمِ الۡغَيۡبِ﴾هيڅ ګرانه خبره نده، الله تعالی عالم الغيب دې، دَروح ټهکانه هم هغه ته معلومه ده اوکومې فرشتې يې چې وړی هغه ورته هم معلومې دی، اودهغه شان دَ کائنات ذرې ذرې باندې دهغه نظروی، وړوکی نه وړوکې شې هم دَ هغه نه پټ نشی پاتې کيدې، نوستاسو منتشراجزاهغه ته ټول معلوم دی، نوکله چې داثابته شوه چې دَروح اوبدن اجزا خو الله تعالی په علم کښې دی، اودَالله تصرف اوقدرت خوپه اول دَ سورت کښې ثابت شويدې نوده دينه بعث بعدالموت اووقوع قيامت امکان ثابت شو. اوکله چې دَ يوامر ممکن خبر، مخبر صادق ورکړی چې﴿لتأتينكم﴾نوبيادَ هغې انکار هيڅ وجه نه پاتې کيږی. ﴿عٰلِمِ الۡغَيۡبِ﴾ صفت دې يا بدل دې دَ﴿وَرَبِّىۡ﴾. نه ﴿فِى السَّمٰوٰتِ﴾ کښې اشاره ده علم د الله ﷻ ته په ارواحو باندې او

په فرښتو باندې ځکه چه ارواح په اسمانونو کښې وي او په ﴿فِي الْأَرْضِ﴾ کښې اشاره ده علم د الله پاک ته په اجسامو باندې ځکه چه اجسام په زمکه کښې دی نو چه په ارواحو اجسادو باندې عالم دې نو دَهغی په یو ځائ کولو هم قادر دې نو دوباره پیدا کیدل څه بعید ندی ﴿وَلَآ أَصْغَرُ مِن ذَٰلِكَ﴾ اصغر مبتدا دې، او ((في كتب مبين)) مستثنې مفرغ ورله خبر دې. او ذلک دپاره مشار الیه ﴿ذَرَّةٍ﴾ دې یعنی دَذرې نه هم اصغر.

تر ۱۹ صدئ عیسوې پورې دا عام اعتقادوؤچه په کائناتو کښې تولو نه وړوکې جزء ذره ده، او دا جزء لایتجزی دې. بیا سائنسدانانو دا انکشاف اوکړو چه ذره جزء لایتجزی نه ده ځکه دا درې اجزاء باندې مشتمله ده. (۱) الیکترون (۲) پروټون (۳) نیوټرون، بلکه د دې نه هم وړوکې جزء شته، د قرآن دا آیت پدې صریح گویان دې ﴿إِلَّا فِي كِتَٰبٍ مُّبِينٍ﴾ نه مراد د اکثرو په نیز لوح محفوظ دې، یعنی علم الهی (روح) نو دا به تاکید شی د ﴿لَا يَعْزُبُ عَنْهُ﴾ بعضې وائی دینه صحائف د ملائکو مراد دی

﴿لِّيَجْزِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا﴾ بشارت اخرویه دې، اودَقیامت وقوع غرض بیانیږی چې قیامت به ځکه راځی چې دا دنیادَ عمل ځائی دې، اوقیامت دَجزااوبدلې ځائی دې، نودیره بی انصافی ده چې یوکس عمل اوکړی اوبیا ورله اجر دَهغی ورنکړې شی، نو الله تعالی به قیامت ضرور روالی چې مؤمنانو ته دهغوئ حسن عمل بدله ورکړی ﴿مَّغْفِرَةٌ﴾ داپه بدله دَایمان کښ دې چې ایمان دوجې نه به الله تعالی دَ هر مؤمن مغفرت کوې ﴿وَرِزْقٌ كَرِيمٌ﴾ او دابه په بدله دَ عمل صالح کښ وې. عزت والا رزق دادې چې انسان نه دَ هغی په حصول سترې شې اونه پری دچااحسان راشی.

﴿وَٱلَّذِينَ سَعَوْ فِيٓ ءَايَٰتِنَا﴾ ای فی ابطال آیاتنا، دا تخویف اخروی دې، مراد د کوشش نه اعتراضونه کول دی او خلق منع کول دی د ایمان نه ﴿مُعَٰجِزِينَ﴾ حال دې، یعنی حال دا چه پخپل زعم کښې عاجزه کونکي دی الله ﷻ لره.

وَيَرَى ٱلَّذِينَ أُوتُوا ٱلْعِلْمَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ هُوَ ٱلْحَقَّ
او کتړي هغه کسان چه ورکړيشي دې هغوته علم هغه کتاب چې نازل کړې شویدې تاته دَطرفه دَرب ستانه ، حق

وَيَهْدِيٓ إِلَىٰ صِرَاطِ ٱلْعَزِيزِ ٱلْحَمِيدِ ⑥ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ هَلْ نَدُلُّكُمْ

اودا چې هدايت كوي داكتاب لارې ذهغې ذات ته چې غالب دې.ستائلې شوېدې اووائي كافران.آيااوښايو مونږتاسو ته

عَلَىٰ رَجُلٍ يُنَبِّئُكُمْ إِذَا مُزِّقْتُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ إِنَّكُمْ

داسې سړې چه خبردركوى تاسوته داچې هركله ذرې ذرې كړيشئ تاسوپه ډيروزرې كيدوسره،نو بيشكه تاسوبه

لَفِى خَلْقٍ جَدِيدٍ ⑦ أَفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَم بِهِۦ جِنَّةٌۢ ۗ بَلِ ٱلَّذِينَ

پورته كولې كيږئ په نوى پيدا كولو سره آياده دترليدى په الله تعالى دروغ قصداًاياپه ده باندې ليونتوب دې،بلكه هغه كسان

لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْءَاخِرَةِ فِى ٱلْعَذَابِ وَٱلضَّلَٰلِ ٱلْبَعِيدِ ⑧ أَفَلَمْ يَرَوْا۟ إِلَىٰ مَا

چې ايمان نه راوړي په اخرت باندې په عذاب كښ به وي(په آخرت كښ)او په ګمراهئ لرې كښ دى (په دنيا كښ).آيانو دوئ نه ګوري هغه

بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ ۚ إِن نَّشَأْ

چې په مخكښ ددوئ دې اوهغه چې دورستودوئ دې، د آسمان او زمكې نه.كچېرې خوښه شى زمونږ

نَخْسِفْ بِهِمُ ٱلْأَرْضَ أَوْ نُسْقِطْ عَلَيْهِمْ كِسَفًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ

خسف خښه كړومونږ دوئ په زمكه كښ،يابه رااوغورځوومونږپه دوئ باندې ټكرې دآسمان نه.بيشكه په ديكښ خامخا

لَءَايَةً لِّكُلِّ عَبْدٍ مُّنِيبٍ ⑨

نښانه دقدرت ده ذهرداسې بنده لپاره چې انابت(رجوع)والاوي،

﴿وَيَرَى ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ﴾ دا دليل نقلى دې د علماؤ داهل كتابونه ،په توحيد او په حقانيت د قرآن ،يعنى د اهل كتابو صحيح علماء هم پدې ګواه دى چه په تا باندې كوم قرآن او د توحيد وحى كيږى دا حق دې. من عندالله دې ، اوخلقو ته هدايت كوى وصول الى الله ته ، رؤيت نه مراد رؤيت قلبى دې،يعنى يقين كوى اوحق يې ګڼرى ﴿ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ﴾ ورله فاعل دې،مراد ورنه هغه علماء د اهل كتابو دى چه ايمان ئې راوړې وؤ ، لكه عبدالله بن سلام ﷺ او د هغه ملګرى. بعضِ وائي مراد ورنه صحابه كرام ﷺ او ټول مؤمنان دى ﴿ٱلَّذِىٓ أُنزِلَ إِلَيْكَ﴾ مفعول اول دى د ﴿يَرَى﴾ مراد ورنه

مسئله د توحید او قرآن دي﴿هُوَ﴾ ضمیر فصل دي﴿ٱلْحَقَّ﴾ مفعول ثاني دي . ﴿وَيَهْدِيٓ﴾ اظهر قول دا دې چې دا فعل په تاویل اسم کښ عطف دې په ﴿ٱلْحَقَّ﴾ باندې اي وهاديا او﴿يَهْدِيٓ﴾کښ ضمير مستتر راجع دي﴿ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ﴾ ته یعني اهل کتابو حقاني علمادا اعتقاد هم لري چې دا قرآن دَ الله تعالی دین طرف ته راهنمائ کوی،او یا جمله حالیه ده او جمله حال واقع ده دَ ﴿ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ﴾نه

﴿وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ هَلْ نَدُلُّكُمْ﴾دا شکوه ده د کافرانو نه چه دوئ بطور تعجب او استهزاء یو بل ته وائی چه دانبی خودیر عجیبه غوندې خبره کوی چې کله تاسو بالکل ټکړې ټکړې او ذرې ذرې شئ نو بیا به هم تاسو دوباره پورته کیږئ،یا خودې قصدا په الله ﷻ دروغ راتړی او یاليوني دې ﴿هَلْ نَدُلُّكُمْ عَلَىٰ رَجُلٍ﴾دَ رَجُل نه مراد ئې حضور ﷺ او تعبير ورنه په ﴿رَجُلٍ﴾ سره د باب تجاهل نه دې،ګویا که دې عام سړې دې څوک ئې خاص پیژني نه او دا خبره کوی(روح) ﴿إِذَا مُزِّقْتُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ﴾ اذا شرطیه دې او جواب شرط محذوف دې،چې محشرون دې ﴿كُلَّ مُمَزَّقٍ﴾مفعول مطلق دې ﴿ممزق﴾ مصدر میمي دې ،یعنی تر دې حد پوري ټکړې شئ چې هغې نه ورستو نو ټکړې کیدل ممکن نه وی،یا ﴿ممزق﴾ظرف مکان دې یعني ټکړې ټکړې شئ او اجزا خو منتشر او هرځائی کښ خواره واره شی،څه په هواګانو کښ والوزی څه دَریابونو نذر شی،څه ځناوراوخوری او څه خاور کښ وراسته او روک شی،دې باوجود به تاسو دوباره راپورته کیږئ،داجمله معترضه ده او دبعث الموت په استحاله او عدم امکان کښ مبالغه دپاره راوړلې شوې ده.﴿إِنَّكُمْ لَفِى خَلْقٍ جَدِيدٍ﴾جمله قائم مقام ددوؤ مفعولو ده د ینبئکم دپاره.

﴿أَفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ﴾ افترانه مراد کذب عن عمد دې یعنی دې دوؤه خبرونه یوه ضرورده یاخو دې قصدا اوعمدا په الله ﷻ باندې دروغ تړی،اویاليوني دې چې څه يې په خوله راځی هغه وائی.شروع کښ همزه استفهام ده او همزه وصلی د باب افتعال پکښ د همزه استفهام پوجه حذف ده ای ا افترى، ﴿بَلِ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْأَخِرَةِ﴾ دا جواب شکوه ده "بل"دااضراب دپاره دې،یعنی اصل خبره داده چې داکافران پخپله غټ پاګلان دی،ځکه چې دوئ دومره واضحه دلائلونه انکار کوی اوحق پریګدی اوګمراهی خوخوی،اودآخرت لوئ اجر و ثواب نه ځان محرومه کوې،اوعذاب اختیاره وی. ﴿ٱلْعَذَابِ﴾دا په مقابلې دَ﴿أَفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ﴾کښ دې چې دروغوسزا عذاب ده او عذاب

کښې خوبه دوئ وی نبی کریم ﷺ به نه وی لهذا دروغ ژن هم دوئ دی نبی کریم ﷺ نه دي ﴿والضَّلَالِ البَعِيدِ﴾دا په مقابلې ﴿ام به جنة﴾کښې دي.چې پاګلان هم دوئ دی.چې دومره واضحه دلائلو باوجود دبعث الموت نه انکار اودخپلو توهماتو اتباع کوی

﴿أَفَلَمْ يَرَوْا إِلَىٰ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ﴾زجراوتخويف دي منکرينودبعث بعدالموت ته . چونکه د دوئ دې اشکال د الله ﷻ عظیم قدرت نه ناواقفیت دي . نو ځکه په دیکښې د الله ﷻ د قدرت مظاهر ذکر کیږي.چې دوئ خپل مخکښې اوشاته پراته زمکه اوآسمانونو باندې غورنکوی چې ﷻ عظیم آسمانونه زمکې پیداکول ګران دی یادَدوئ؟اودوئ سره دومره خوف نشته چې دااسمان اوزمکه زمونږ په قبضه قدرت کښې دی که مونږ اوغواړو نو قارون پشانته به یې زمکه کښې دننه کړواو یادَاصحاب الایکه پشان پرې دکڼړو باران اوروو.دادَبعث بعدالموت دَپاره ډیرلوئ دلیل دې خوکه څوک حقیقت پسندوی.اوحق ته رجوع کول غواړی.

وَلَقَدْ آتَيْنَا دَاوُودَ مِنَّا فَضْلًا ۖ يَا جِبَالُ أَوِّبِي مَعَهُ
او یقینا چې ورکړې وؤمونږداؤد ﷺ ته دخپل طرف نه فضل.حکم کړې ؤومونږ.اې غرونوتسبیح وایئ تاسودده سره
وَالطَّيْرَ ۖ وَأَلَنَّا لَهُ الْحَدِيدَ ۝ أَنِ اعْمَلْ سَابِغَاتٍ وَقَدِّرْ
اومسخرکړی وؤمونږمارغان.اونرمه کړیوه مونږده لره أسپنه .چه جوړه وه زغرې کاملې اواندازه کوه
فِي السَّرْدِ ۖ وَاعْمَلُوا صَالِحًا ۖ إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ۝
په اودلو(جوړولو)[1] کښې اوعمل کوئ نیک.بیشکه زه ستاسوعملونولره لیدونکې یم.

﴿وَلَقَدْ آتَيْنَا دَاوُودَ مِنَّا﴾ د تمهید نه بعد اُوس د څلور شبهاتو جوابونه ذکر کیږی دا د اولې شبهې جواب دي. شبهه دا ده چه د داود ﷺ د حالاتو نه معلومیږی چه هغه مستحق د الوهیت وؤ ځکه چه غرونه ، مرغان. اوسپنه وغیره د هغه تابع وؤ او د مخلوقاتو تابع کیدل صفت د الوهیت دي نو معلومه شوه چه داود ﷺ هم مستحق د الوهیت دي اوشفاعت اختیارورسره دي.حاصل د جواب دا دي چه داود ﷺ ته صفات د الوهیت نه وؤ حاصل.اونه هغه ته شفاعت اختیار شته بلکه د هغه سره

(1) دویمه ترجمه لیکرخت لکه په جوړولو د زغرو [illegible]

چه کوم صفات وۀ نو هغه زمونږ د طرفه فضل او احسان وۀ بطور معجزه ورته میلاؤ شوی وۀد هغه په اختیار کښې نه وۀ ،مستحق د الوهیت خو هغه وی چه هغه ته اختیار کل حاصل وی ﴿ دَاوُدَ﴾ مفعول اول دې ﴿فَضْلًا﴾مفعول ثانی دې، ﴿فَضْلًا﴾نه مراد رسالت کتاب. او د ټولې دنیا بادشاهی،او هغه معجزات دی چه ذکر ئې ورستو را روان دې،او تعبیر ترینه په فضل سره ځکه اوشو چې معلوم شی چې داد داؤد ﷺ څه ذاتی کمال نه وۀ بلکه زمونږ فضل اوعنایت وۀ اودَې وجهی نه هم چې داټول کمالات دَبنی اسرائیلو په انبیاؤ کښې صرف داؤد ﷺ کښې جمع شوی وۀ ،نو دَدې اعتبارسره گویاهغه فضیلت زیات دې ﴿يٰجِبَالُ أَوِّبِي مَعَهُ﴾ دا اوله معجزه ده،داود ﷺ ته الله ﷻ دومره ښکلې اواز ورکړې وۀ چه کله به ئې تسبیح کوله یا دزبور تلاوت به ئې کولو نو غرونو او مارغانو به ورسره هم تسبیح کولو په زبان قال سره او الله ﷻ په دې قادر دې ، لکه څرنگه چه د حضور ﷺ په لاس کښې او د ابوبکر ﷺ په لاس کښې کانړو تسبیح کړې وه.

سوال:واردېږي چې تسبیح دَالله ﷻ خوهرمخلوق کوي کقوله تعالیٰ:وَاِن من شیءٍ الایسبح بحمده... (بنی اسرائیل) او معجزې لپاره خو خرق عادت کیدل شرط دې نو بیا څنگه د داؤد ﷺ سره غرونو تسبیح کول معجزه شوه ؟ **جواب** دا دې چه د کوم تسبیح دلته ذکر دې دا په زبان قال سره وه ، هر چا به اوریدله او پوهیدل به وربان‌دې،

﴿يٰجِبَالُ﴾نه مخکښې قلنا مقدر دې ﴿أَوِّبِي﴾مشتق دې د تأویب نه . بار بار وئیلو ته ووائې ای رجعی معه التسبیح ﴿وَالطَّيْرَ﴾ مفعول به دې دَ(سخرنا) فعل مقدرلپاره ،او تسخیر دَ مارغانو مطلب دا دې چه مارغان به په هواء کښې د ده په آواز باندې جمع کیدل اوتسبیح به ئې ورسره کوله، کقوله تعالیٰ: والطیر محشورة کل له اواب (ص: ۱۸)﴿وَأَلَنَّا لَهُ الْحَدِيدَ﴾دا دویمه معجزه ده ، الله ﷻ د داود ﷺ دپاره اوسپنه نرمه کړی وه اوسپنه به دَده په لاس کښې موم شوه چې کوم طرف ته به یې غوختله تاووله،نه به ورته ستکې ضرورت وۀ نه د اور،اونه د میخ. بعضی وائی نرمولونه مراد دادې چې دومره قوت ئې ورته ورکړې وۀ چه اوسپنه به ورته د شمع په شان نرمه خکاریده او څه به چه ئې ترینه جوړول غوښتل بغیر په اور کښې د گرمولو نه به ئې جوړول.او سبب د دې هغه دې چه په احادیثو کښې راغلې دې چه کله داود ﷺ بادشاه شو ، نو د شپې به ئې د بادشاهت لباس بدل کړو او عام لباس کښې به را اووتلو ، د خلقو نه به ئې تپوسونه کول چه ستاسو بادشاه څنگه سړې دې. نو خلقو به ئې

تعریف کولو ، یو ځل ورته الله ﷻ فرشته د انسان په صورت کښې را اولیږله ، داود ﷺ ورنه د عادت مطابق تپوس اوکړو نو هغې ورته اووئیل چه ښه سړې دې خو چه یو عادت پکښې نه وې ، نو ده ورنه تپوس اوکړو چه څه عادت ؟ نو هغې ورته اووئیل چه دې پخپله هم او د ده اهل عیال هم د بیت المال نه خوراک کوی . نو داود ﷺ الله ﷻ نه سوال اوکړو چه ماته داسې کسب راکړه چه هغه څه سبب جوړ کړم او د بیت المال نه پرې مستغنی شم ، نو الله ﷻ ورته اوسپنه نرمه کړه او د زغرو چل ئې ورته اوښودلو ، زغری به ئې جوړه ولې ، یوه زغره به ئې په څلور زره (۴۰۰۰) درهمو باندې خرڅوله، چاوئیلی دی چه روزانه به ئې یوه زغره جوړه وله او په شپږ زره (۶۰۰۰) درهمو به ئې خرڅوله ، نو دوه زره (۲۰۰۰) به ئې پخپل ځان او او اهل و عیال لګولې او څلور زره درهمه به ئې صدقه کول . په حدیث کښې راځی: کان داود ﷺ لا یأکل الا من عمل یده (بخاری فی البیوع)

﴿أَنِ اعْمَلْ﴾ أن تفسیر یه دې او تفسیر کوی دَ اوحینا فعل مقدر "اي اوحیناالیه ان اعمل" یا أن مصدریه دې ، حرف جر پکښې حذف دې ، اي: النا له الحدید لعمل سابغات (روح) یعنی زغرو جوړولو دپاره مو ورته اوسپنه نرمه کړې وه﴿سَٰبِغَٰتٍ﴾ صفت دې د موصوف مقدر دپاره "ای دروعا سابغات" یعنی زغرې کاملې او پوره ،چې نه آزادې وی نه تنګی نه لنډې وی نه اوګدې بلکه څه برابر وی. ﴿وَقَدِّرْ فِي السَّرْدِ﴾ "السّرد" نسج الدّروع، ته وائی ، یعنی د زغرو جوړول او د هغې کړئ یو بل کښې ورکول ، جوړونکی ته "سراد" یا" زراد" وائی او﴿ قَدِّرْ﴾ د تقدیر نه مشتق دې دلته ئې دوه معنی دی (۱) اوله دا چه د زغرو کړئ په اندازه جوړه وه یعني چه نه دومره فراخی وی چه غشی ترینه اوزی،او نه ډیری تنګې وی.څکه چه بیا به ورسره ګرځیدل ګران وی، نه دومره نرئ وی چې د توری یو ګوزار ته هم ټینګه نه شی.او نه دومره غټې وی چې درنې او ثقیلې وی،ورل ،ګرځول ئې مشکل وی .(خطیب وغیره) (۲) دویمه معنی دا ده چه وخت کم لګوه په جوړولو د زغرو کښی،څکه دا کسب دې او کسب بقدر الحاجة وی، باقی ټول وخت عبادت ته ورکوه. ﴿وَاعْمَلُوا صَٰلِحًا﴾ جمع یا د تعظیم پوجه ده. یا امر داؤد ﷺ او ال داؤد ﷺ دواړو ته دې.

وَلِسُلَيْمَٰنَ	الرِّيحَ	غُدُوُّهَا	شَهْرٌ	وَ	رَوَاحُهَا	ط

او(مسخر کړې وه مونږ)سلیمان لره هوا .رفتار دصبائي دهغې په مسافت ډیوې میاشتې وؤاوبیګائي رفتارئ په مسافت

شَهْرٌ ۚ وَأَسَلْنَا لَهُ عَيْنَ الْقِطْرِ ۖ وَمِنَ الْجِنِّ مَنْ يَّعْمَلُ
دیوې میاشتې وو. ببولې وه مونږ ده دپاره چینه دتانبې.اومسخرکړي وو مونږ ده لره بعض دپیریانونه هغه چه کاربه ئې کونو
بَيْنَ يَدَيْهِ بِإِذْنِ رَبِّهٖ ۖ وَمَنْ يَّزِغْ مِنْهُمْ عَنْ اَمْرِنَا نُذِقْهُ
دده په مخکښ په حکم دَرب دده سره.اوچابه چه نافرماني وکړه په دوئ کښ دَحکم زمونږ.اوبه څکوو مونږ دده ته
مِنْ عَذَابِ السَّعِيْرِ ⑫
دَعذاب دَاورنه.

﴿وَلِسُلَيْمٰنَ الرِّيحَ﴾ سخرنا ورنه مخکښ مقدردي . دا جواب د دویمی شبهی دې.شبهه داوه چه جنات او هوا وغیره د سلیمان ﷺ تابع وو . دا څیزونه د هغه په اختیار کښې وو.دا دلالت کوی پدې چه هغه مستحق د الوهیت دې،اودَشفاعت اختیار ورسره هم دې. حاصل د **جواب** دا دې چه دا څیزونه مونږ هغه دپاره مسخر کړي وو، د هغه په دی کښې اختیار نه وو.بلکه د هغه خو پخپل ځان هم اختیار نه وو.مرګ نه بچ نه شو.﴿غُدُوُّهَا شَهْرٌ وَرَوَاحُهَا شَهْرٌ﴾ غُدُو د سهار نه تر زوال پورې وخت ته وائی او رَواح د زوال نه تر غروب آفتاب پوری وخت ته وائی . هوا الله ﷻ د سلیمان ﷺ مسخر کړی وه .د هغی رفتار به داسی وو چه کومه فاصله به چه په میاشت کښې طې کیدله نو سلیمان ﷺ به هغه صرف په وخت د صبائ کښې یا په وخت د بیګائ کښې طی کوله، نو ګویا چه په یوه ورځ کښې به ئې د دوؤ میاشتو برابر سفر کولو . حسن بصری رحمه الله وائی: كان يغدو على بساطه من دمشق فينزل باصطخر يتغدى بها و يذهب رائحامن اصطخر فيبيت بكابل ، وبين دمشق واصطخر شهر كامل للمسرع وبين اصطخر وكابل شهر كامل للمسرع (ابن كثير) یعنی سهار به د دمشق نه روان شو نو د غرمې ارام او خوراک به ئې په اصطخر کښې اوکړو .او بیا به د اصطخر نه روان شو نو شپه به ئې کابل کښې اوکړه . د دمشق او اصطخر په درمیان کښې پوره د یوې میاشتې مزل دې لپاره دَتیز رفتاراو دغه شان دَاصطخراوکابل په مینځ کښې هم دَیوی میاشتې مزل دې.دَیوتیزرفتار مسافرپه اعتبارسره

﴿وَأَسَلْنَا لَهُ عَيْنَ الْقِطْرِ﴾ .دا دویم انعام دې چې مونږ وزله دَتانبې چینه جاري کړې وه.د زمکې نه به داسی راوته لکه دابو چینه.﴿وَمِنَ الْجِنِّ مَن يَعْمَلُ بَيْنَ يَدَيْهِ﴾ دا دَریم انعام دې. او جناتو د استحقاق د الوهیت رد هم دې. الله ﷻ جنات هم د سلیمان ﷺ لپاره مسخر کړی وو چه مختلف کارونه به ئې

پرې کول او چا به چه نافرماني کوله نو سخته سزا به ئې ورکوله ﴿وَمِنَ ٱلۡجِنِّ﴾ متعلق دې د مقدر سره،

ای و سخرنا له من الجنّ. ﴿بِإِذۡنِ رَبِّهِۦ﴾ ای بامره عزوجل (روح) دینه معلومه شوه چه دا تسخیر د سحر

په وجه نه وو بلکه خالص د الله ﷻ په امر او حکم سره وو. ددې آیت نه معلومیږي چې جناتونه

کار اخستل جائز دی. خو دا په دو (۲) شرطونو سره (۱) یو دا چې جائز کار د پاره وی. ناجائز کار نوی لکه

چاته تکلیف رسول وغیره شو (۲) دویم دا چې جائزې طریقې سره وی ناجائز طریقې سره کار

اخستل. هغه خپل قابو کښې راوستل او خپل اطاعت گزار جوړول شرعاً جائز ندی ﴿وَمَن يَزِغۡ مِنۡهُمۡ عَنۡ

أَمۡرِنَا﴾ یعنی په جناتو کښې چه څوک زمونږ د حکم نه نافرماني اوکړی. یعنی د سلیمان ﷺ

اطاعت اونکړی نو سخت عذاب به ورته ورکوو ﴿نُذِقۡهُ مِنۡ عَذَابِ ٱلسَّعِيرِ﴾ اکثرو په نیز دینه مراد د

جهنم عذاب دې. بعضی وائي دنیوی عذاب ورنه مراد دې. چه سلیمان ﷺ سره یو فرشته وه د اور

کوړه ورسره وه کوم پیری به چه نافرماني کوله هغه به ئې ورباندې وهلو. پیری به فرشته نه لیدله.

بعضی روایاتو کښې دی چه چا به نافرماني کوله هغه به ئې سیزه ولو. او جناتو ته د اور نه تکلیف

رسیږی ځکه هغوئ محض د اور نه نه دی پیدا بلکه اغلب عنصر پکښې اور دې (روح).

يَعۡمَلُونَ لَهُۥ مَا يَشَآءُ مِن مَّحَٰرِيبَ وَتَمَٰثِيلَ وَجِفَانٖ كَٱلۡجَوَابِ
جوړول به دوئ دده لپاره هغه چه غوښتل به هغه، عبادت خانې، او صورتونه او خانکونه په شان د حوضونو.
وَقُدُورٖ رَّاسِيَٰتٍۚ ٱعۡمَلُوٓاْ ءَالَ دَاوُۥدَ شُكۡرٗاۚ وَقَلِيلٞ مِّنۡ عِبَادِيَ ٱلشَّكُورُ ۝
او دیگونه به خپل ځائ ولاړ، مونږ ورته اووئیل عمل کوئ اې آل د داؤد د شکر. او لږ دی د بندګانو زمانه شکر کونکی

﴿يَعۡمَلُونَ لَهُۥ مَا يَشَآءُ﴾ دی آیت کښې تفصیل دې د هغه کارونو چه سلیمان ﷺ به د جناتو نه

اغستل ﴿مَّحَٰرِيبَ﴾ محاریب جمع د محراب ده. مکان مرتفع یعنی اوچت ځای ته وائی. یعنی اوچت

اوچت عمارتونه به ئې جوړول. ځنې مفسرین فرمائی چې دا تسمیه الکل باسم الجز ده او مراد ترینه

جماتونه او مسجدونه دی. لکه بیت المقدس وغیره شو چه دا هم جناتو جوړ کړې وو لکه ورستو

راروان دی ﴿وَتَمَٰثِيلَ﴾ جمع د تمثال ده، تصویر ته وائي اکثر مفسرینو په نیز د جاندار تصاویر

مراد دی. پیریانو به سلیمان ﷺ لپاره د ملائکو. انبیاؤ او صلحاؤ تصویران جوړول. او دا د حضرت

سلیمان ﷺ شریعت کښې جائز وو او زمونږ شریعت کښې ترې منع راغلې ده او کوم احادیثو کښې چې

دتصویرمذمت راغلیدي، اومصورانوته شرارخلق الله ویلی شویدی، چې دینه معلومیږی چې سابقه شرائعو کښې هم تصویر جائز نه وؤ، نوهغې نه مراد هغه تصویران دي چې عبادت خانو کښې وؤ او دغه شان هغه مصوران دی چې بت پرستی په غرض یې تصویرونه جوړول. بعض محققین فرمائی چه تماثیل نه مراد غیر ذی روح اشیاؤ تصاویر دی لکه گل کاری شوه. اوذی روح تصویرد حضرت سلیمان ﷺ شریعت کښې هم ممنوع وؤ. لکه موجوده تورات نه معلومیږی(آسان ترجمه قرآن) البته زمونږ شریعت کښې دَ تصویرونو ممانعت اتفاقی مسئله ده اوګڼ شمیر حدیثونه پدې دلالت کوی لکه بخاری ، مسلم وغیره کښې په روایت د عبدالله ابن مسعود ﷺ دا حدیث راغلې دې، اشد الناس عذاباً یوم القیامة المصوّرون یعنی قیامت کښې به د ټولو نه سخت عذاب تصویرونه جوړونکو ته وی. بل حدیث کښې دی کل مصوّر فی النار

﴿وَجِفَانٍ﴾ جمع دَ جفنة) ده دخوراک سکاک، غټ لوخی ته وائی لکه خانک. ټپ وغیره ﴿كَالْجَوَابِ﴾ جمع دَ جابية ده غټ حوض ته وائی ، مطلب دا دې چه د خوراک ، سکاک غټ غټ لوخی به وؤ . چه په هغه کښې به د حوض اومره اوبه راتلې ، ﴿وَقُدُورٍ﴾ جمع دَ قدر ده، دیګ، ﴿رَّاسِيَاتٍ﴾ای ثابتات علی الاثافی لاتنزل عنها لعظمها (روح) یعنی دومره غټ دیګونه به وؤ چه پخپل ځائ به پراته وؤ چابه راوړلې نشو

﴿اعْمَلُوا آلَ دَاوُدَ شُكْرًا﴾"قلنا"ورنه مخکښې مقدر دې﴿آلَ﴾ منادی دې، حرف ندا محذوف ده . ﴿شُكْرًا﴾ یا مفعول له دې ،ای لاجل الشکر ، اشاره ده پکښې دیته چه مناسب دا ده چه نیک عمل د شکر او محبت پوجه وی، نه د خوف او رجاء په وجه. یا مفعول به دې د﴿اعْمَلُوا﴾دپاره. یعنی شکر کوئ یا صفت دې د موصوف محذوف لپاره ای اعملوا عملا شکراً ، وغیر ذالک من الاقوال.

صاحب د روح. المعانی په حواله دَبیهقی وغیره د ابن مسعود ﷺنه نقل کړیدی چه کله ال داود ﷺ ته دغه حکم اوشو نو یو وخت به هم په دوئ نه راتلو مګر یو به پکښې ولاړوؤ عبادت به ئی کولو . په یو روایت کښې دی چه د داود ﷺخاندان د ورځې او د شپې وختونه تقسیم کړی وؤ. په کور کښې به ئی داسې وخت نه راتلو چه یو کس به د الله ﷻ په عبادت کښې مشغوله نه وؤ ، سلیمان ﷺ به پخپله د وربشو روټئ خوړله ، او په مسکینانو باندی به ئی دَرمک خوړلو ، چرته ئی هم په مړه ګیډه خوراک نه وؤکړې، چاورته دې باره کښې عرض اوکړونواوئی فرمائیل چه د لوږې

خلقو احساس راسره وي د حضرت فضيل رحمه الله نه منقول دي چه کله دا حکم اوشو نو داود ﷺ عرض اوکړو چه يا الله ! څه ستا شکر څنګه پوره کړم . څکه چه څما قولي . فعلي شکر هم ستا د طرفه يو نعمت دې نو پدې نعمت باندي هم.شکر ادا کول پکار دي وهلم جرا نو الله ﷻ ورته اوفرمائيل الان شکرتني ، يعنې اوس تا شکر ادا کړو چه هر نعمت دې څما طرفه نه اوګڼړلو. او د شکر حق ادا کولو نه دې څان عاجزه کړو . ﴿وَقَلِيلٌ مِّنْ عِبَادِيَ ٱلشَّكُورُ﴾پدې کښې تحريض دې مؤمنانو ته د شکر کولو دپاره.

لطيفه: حضرت عمر رضي الله عنه د يو کس نه واؤ ريدل چه دا دعائي کوله . **اللهم اجعلني من القليل** حضرت عمر رضي الله عنه ورته اووئيل . دا څنګه دعا ده هغه ورته او وئيل چه الله ﷻ فرمائي : **و قليل من عبادي الشکور**.نو څه غوارم چه څه د دغې قليل نه جوړ شم. عمر رضي الله عنه او وئيل : **کل الناس اعلم من عمر**.

فَلَمَّا قَضَيْنَا عَلَيْهِ الْمَوْتَ مَا دَلَّهُمْ عَلَىٰ مَوْتِهِ إِلَّا دَابَّةُ الْأَرْضِ									
پس هرکله چې حکم وکړومونږ په ده باندې د مرګ نوخبرورنکړوجناتوته په مرګ دهغه مګر چنجی د زمکې									
تَأْكُلُ مِنسَأَتَهُ ۖ فَلَمَّا خَرَّ تَبَيَّنَتِ الْجِنُّ أَن لَّوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ الْغَيْبَ									
چه خوړه ئې همسا دهغه،پس هرکله چې راپريوتلودې پوهه شول پيريان پدی کچرته دوئ ته پته لګيدلې دغيبو									
مَا	لَبِثُوا			فِي		الْعَذَابِ		الْمُهِينِ ﴿١٤﴾	
نو	نه	به	وې	دوئ	«دومره»	وخت	په	عذاب	ذليلوونکي کښې.

﴿فَلَمَّا قَضَيْنَا عَلَيْهِ ٱلْمَوْتَ﴾ دا دريمې شبهې جواب دې، مشرکانو ګمان وو چه جناتو ته د غيب علم حاصل دې ،نو دوئ مستحق د الوهيت دی، دلته جناتو پخپله اقرار اوکړو چه : **ان لوکانوا يعلمون الغيب مالبثوا فی العذاب المهين** . دارنګه دې آيت کښې تنبيه ده خلقو ته چه د مرګ نه نجات او خلاصی نشته ورنه سليمان ﷺ ته به نجات ميلاؤ شوې وو (کبير).

د سليمان ﷺ د مرګ واقعه : روايت دې چه حضرت داؤد ﷺ د بيت المقدس تعمير شروع کړې وؤ . ليکن هغه سليمان ﷺ ته د پوره کولو وصيت اوکړو او پخپله د پوره کيدلو نه مخکښې

وفات شو، سلیمان ﷺ به د جناتو نه د تعمیر کار اخستلو د بیت المقدس تعمیر ئی هم هغوئ ته حواله کړو ، کله د چه د بیت المقدس جوړیدل قریب شول ، نو د سلیمان ﷺ د وفات کیدلو وخت هم راغې ، دا د پیغمبرانو خصوصیت دې چه دوئ ته د وفات کیدلو نه مخکښې اطلاع ورکولې کیږي او اختیار ورنه اغستلې کیږي ،سلیمان ﷺ سره دا فکر لاحق شو چه څما په مرګ سره به د بیت المقدس تعمیر نیمګړې پاتې شي او جنات به کار پریدی ، او لاړ به شي ، نو الله ﷻ نه ئی سوال اوکړو چه په داسې طریقه ماته مرګ راکړه چه جنات څما د مرګ نه خبر نه شي، تعمیر کار به هم شروع وی او دوئ به هم پدې پوهه شي چه مونږ ته علم غیب نشته، نو چه کله ئی اخری وخت رانیزدې شو نو جناتو ته ئی د تعمیر نقشه حواله کړه، او حکم ئی ورته اوکړو هغوئ ورنه ګیر چاپیره د شیشو کمره جوړه کړه ، د ده معمول وؤ چه کله به خپلې عبادت خانې ته داخل شو نو ډیره زمانه پکښې معتکف وؤ، نو حسب معمول ئی عبادت شروع کړو او خپله عصا ئې د زنې (ذقن) لاندې کیخودله ، نو پدغه شان حالت کښې ورنه فرشتې روح قبض کړو ، د عصا پوجه پخپل ځائ ولاړ وؤ، د بهر نه داسې په نظر راتلو چه عبادت کوی ، د جناتو دا مجال نه وؤ چه کمرې ته راشي او اوګوری ۔تر دې چه د بیت المقدس تعمیر پوره شولو ، الله ﷻ یو چنجې (وینه) د ده په عصا مسلط کړو هغه به عصا خوړله ، تر دې چه عصاء کمزورې شوه او ماته شوه ، نو سلیمان ﷺ را پرې وتلو ، پدغه وخت کښې جناتو ته د سلیمان ﷺ د مرګ علم اوشو ۔ جناتو ته هم معلومه شوه او تولو خلقو ته معلومه شوه چه دوئ ته علم غیب نشته ۔ د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما منقول دی چه د مرګ نه ورستو یو کال پورې سلیمان ﷺ عصا باندې تکیه وؤ ، بعضې روایاتو کښې دی چه کله جناتو ته دا معلومه شوه چه د سلیمان ﷺ د مرګ څه وخت تیر شویدې، نو هغوئ مدې معلومولو دپاره دا تدبیر اوکړو چه وینه چنجې ئی په لرګی مسلط کړو، نو چه په شپه کښې ئی څومره مقدار اخوړلو نو د هغې د حساب نه ئی معلومه کړه چه عصاء سلیمانی باندې یو کال تیر شویدې.

فائده: نقل دی چه د سلیمان ﷺ عمر تول درې پنځوس (۵۳) کاله وؤ، دیارلس (۱۳) کاله عمر کښې ورته بادشاهي میلاوه شوی وه (۴۰) څلویښت کاله بادشاهي ئی کړې وه، د بیت المقدس تعمیر ئی د بادشاهې په څلورم کال شروع کړې وؤ. (روح المعاني)

﴿فَلَمَّا قَضَيْنَا عَلَيْهِ﴾ای حکمنا علیه بالموت،﴿مَا دَلَّهُمْ﴾ضمیر جناتو ته راجع دې ﴿إِلَّا دَابَّةُ الْأَرْضِ﴾ دابة الارض نه مراد وینه دې چې،لرګې دنده نه بالکل ختم کړی،﴿مِنسَأَتَهُ﴾ عصا ته وائی په حبشي ژبه کښې، بعضې وائی چه دا عربی لفظ دې د، (نساء) نه مشتق دې شړلو او ورستو کولو ته وائی. د

عصا په ذریعه سره هم انسان مضر ځیزونه لرې کوی نو ځکه عصاء. ته هم منسأ ونیلې کیږی﴿فَلَمَّا خَرَّ تَبَيَّنَتِ الْجِنُّ﴾ ﴿تَبَيَّنَت﴾ یافعل متعدی دې﴿ الْجِنُّ﴾ئی فاعل دې﴿أَن لَّوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ﴾ئي مفعول دې.
مطلب دا دې چه جناتو ته خپل حال ښکاره شو او پوهه شول چه مونږ ته علم غیب نشته، دوئ اګر چه پدې پوهه وو لیکن دا ورته تهکماً اوئیلې شول ،اویا (۲)﴿تَبَيَّنَت﴾فعل لازمی دې پمعنی د ظهرت، ﴿الْجِنُّ﴾مبدل منه دې او﴿أَن لَّوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ﴾ ترینه بدل اشتمال دې. بدل مقصود دې ،نو مطلب دا شو چه خلقو ته دا خبره ظاهره شوه چه جنات ته علم غیب نه دې حاصل، ورنه پوره یو کال به ئی په دومره مشقت کښی نه تیره ولو﴿فِي الْعَذَابِ الْمُهِينِ﴾ نه مراد هغه د محنت او مشقت والا کار دې چه د بیت المقدس په تعمیر کښی سلیمان ﷺ پدوئ مقرر کړې وو چه د لرې لرې نه به ئی کانړی اوګټی راوړې وغیره، (والله اعلم).

لَقَدْ كَانَ لِسَبَإٍ فِي مَسْكَنِهِمْ آيَةٌ ۖ جَنَّتَانِ عَن يَمِينٍ وَشِمَالٍ ۖ
یقینا چې وه.دقوم سبادپاره په ابادئ ددوئ کښې نشانه.دوه قطارونه دباغونووځی طرف دښار،اوګس طرف تهدښار،
كُلُوا مِن رِّزْقِ رَبِّكُمْ وَاشْكُرُوا لَهُ ۚ بَلْدَةٌ طَيِّبَةٌ وَرَبٌّ
(مونږورته حکم وکړو)خورئ رزق درب خپل نه اوشکرکوئ د هغه ،ستاسودا ښارآب هوادې‌مزیداره ده اوستاسورب
غَفُورٌ ﴿١٥﴾ فَأَعْرَضُوا فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ سَيْلَ الْعَرِمِ وَبَدَّلْنَاهُم
بخونکې دې‌پس دوئ اعراض وکړونوراولیږو مونږبه دوئ باندې سیلاب دډیم اوورموکړودوئ ته
بِجَنَّتَيْهِمْ جَنَّتَيْنِ ذَوَاتَيْ أُكُلٍ خَمْطٍ وَأَثْلٍ وَشَيْءٍ مِّن سِدْرٍ قَلِيلٍ ﴿١٦﴾
په بدل ددوؤباغونودوئ کښې دوه نورباغونه،چې وؤ دمیوؤ بدمزی والا.اودغزونووالا او څه دبیرې ونې چې لګې وې
ذَٰلِكَ جَزَيْنَاهُم بِمَا كَفَرُوا ۖ وَهَلْ نُجَازِي إِلَّا الْكَفُورَ ﴿١٧﴾
داسزاورکړه مونږدوئ ته په سبب دکفردوئ،اوسزانه ورکوؤمونږمګرناشکره ته

﴿لَقَدْ كَانَ لِسَبَإٍ فِي مَسْكَنِهِمْ آيَةٌ﴾ داتخویف دنیوی دې ما قبل کښی داؤد ﷺ اوسلیمان ﷺ واقعه بیان شوه چه هغوئ شکر ګذار بندګان وو، دلته د قوم سبا ذکر دې چه د الله ﷻ د نعمتونو ناشکری

کونکی وؤ، په قرآن مجید کښې د اصلاح د منکرینو لپاره درې طریقې ذکر کیږی (۱) تقلیل دنیا (۲) عذاب دنیا (۳) عذاب عقبیٰ، نو دلته د اصلاح دپاره د عذاب دنیا یوه نمونه ذکر کیږی، چه لکه ځرنګه قوم سباء د ناشکرئ او د سرکشئ په وجه د تمامو نعمتو نه محروم شول او عذاب وربادی راغې،نو دغه شان مشرکینو باندی هم د الله ﷻ عذاب راتلې شی.

سبا د یو قوم نوم دې چه په یمن کښې اباد وؤ، مأرب د دوئ دارالسلطنت وؤ، د دی قوم یو نیکه وؤ چه د هغه اصل نوم عبدشمس بن یشجب وؤ، سباء ئې لقب وؤ، (۴۸۴) کاله ئې حکومت کړې وؤ (روح)نو د ده خاندان او قبیلې ته قوم سباء وائی،الله ﷻ پدی قوم باندی د رزق دروازی فراخې کړې وې،د عیش، ارام، هر قسمه اسباب ورته ورکړې شوی وؤ، زراعت، تجارت کښې ډیر مخکښې وؤ، ډیر وخته پوری په هر قسمه راحت او عیش کښې پراته وؤ، د عیش وعشرت په انهماک کښې په ځائ د شکر او طاعت، په کفر او ګمراهئ کښې مبتلا شول (۱۳) دیارلس بستیانی وی، الله ﷻ ورته (۱۳) پیغمبران ولیږلی وؤ. او د هغوئ په ذریعه ئې ورته د توحید او د نعمتونو د شکر ادا کولو حکم اوکړو، پغمبرانو وربادی ډیر کوششونه اوکړل لیکن دوئ د خپل کفر نه منع نه شول، الله ﷻ وربادی سیلاب راوستلو چه په هغې سره د دوئ بستیانی او باغونه او ډیر خلق هلاک شول.

فائده عبدالشمس سباء بن یشجب د خپل مرګ نه مخکښې خپل قوم ته د نبی آخر الزمان محمد ﷺ بشارت ورکړې وؤ او یو څو اشعار ئې وئیلی وؤ چه په هغې کښې ئې د حضور ﷺ د بعثت ذکر او تمنا کړې وه چه کاش څه د هغه په زمانه کښې موجود وې، نو مابه د هغه مدد کولو خپل قوم ته ئې په حضور ﷺ باندی د ایمان راوړلو او د هغه د مدد کولو تلقین کړې وؤ، د هغه یو څو اشعار دا دی:

یُـسمیٰ احـمدٌ یالیت انّی ... اُعـمر بعد مبعثہ بعام
فـاعضده واحبوهُ بنصر ی ... بکلّ مدجج وبکل رام
متیٰ یـظهر فکونوا ناصریه ... ومن یلقاهُ یبلغه سـلام

﴿فِىْ مَسْكَنِهِمْ﴾مسکن اسم مکان دې. مراد ورنه د دوئ وطن او آبادیانی دی.چه د هغی نوم مأرب وؤ. د یمن دارالسلطنت وؤ. د صنعاء ښارته نیزدی وؤ﴿ءَايَةٌ﴾دلائل د قدرت د الله ﷻ او د توحید ورنه مراددی﴿ءَايَةٌ﴾مبدل منه دې،﴿جَنَّتَانِ عَن يَمِينٍ وَشِمَالٍ﴾ ورنه بدل دې.یا دا خبر د مبتدا

محذوف دې اى هى جنتان ،(روح المعانى) د﴿ جَنَّتَانِ ﴾نه مراد دوه باغونه ندى. بلکه دوه سلسلې او قطارونه ورنه مراد دى يو قطار د باغونو د شهر خى طرف ته وو او بل گس طرفته وو . پدى باغونو کښې به داسى ميوه دارى ونى وى چه يوى ښځى به په خپل سر خالى ټوکرئ کيخودله نو چه د باغ د يو سر نه به بل سر ته لاړه نو ټوکرئ به ئى پخپله د ميوو نه ډکه شوه.

﴿ كُلُوا مِن رِّزْقِ رَبِّكُمْ ﴾قلنا يا قال لهم نبيهم، ورنه مخکښې مقدر دې ، يعنى انبياؤ ورته اووئيل چه د خپل رب درکړې شوى نعمتونو نه فائده واخلئ او د خپل منعم حقيقى شکر ادا کړئ، بعضى وائې دا قول حقيقى نه دې بلکه بلسان الحال دې﴿بَلْدَةٌ طَيِّبَةٌ وَرَبٌّ غَفُورٌ ﴾دلته مبتدا محذوف دې ، اى بلدكم بلدة طيبة وربكم رب غفور، يعنى ستاسو دا ښار ډير پاکيزه دې ، اب و هوائى مزيداره ، خوشبو داره ده ،اوبه ئى خوږى دى ، نه پکښې ډيره گرمى شته نه پکښې ډيره سردى ، ماشى مچان ، لړمانان ماران وغيره پدى شهر کښې نه وو ، حتى چه يو مسافر به راغې او په جامو کښې به ئى سپږې . يا کتمل وو نو د دى آب و هوا په وجه به مړه شول.

﴿فَأَعْرَضُوا فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ ﴾دى کښې سبب او تفصيل د عذاب ذکر کيږى ،چه دوئ د ايمان راوړلو نه اعراض اوکړو ، پيغمبرانو تکذيب ئى اوکړو او ورته به ئى وئيل چه الله ﷻ په مونږ باندى هيڅ نعمت ندى کړې ﴿سَيْلَ الْعَرِمِ ﴾جمع د (عرمة)ده، عرم نه څه مراد دى ؟ پدى کښې مختلف اقوال دى (١) عرم پمعنى د شديد سره دې ، يعنى سخت سيلاب مو وربان‌دى راوستلو (٢) د عرم نه مراد وا دى ده چې کومى نه سيلاب راغلې وو ، (٣) عرم نه مراد ډيم او بند دې . (۴) بعضى وائي سخت باران ته وائي (۵) بعضى وائى چه د عرم نه مراد هغه منگکان دى چه د ډيم بنيادونه ئى کمزورى کړى وو. نو اضافت د سيل ورته د اذنى ملابست په وجه شويدې.

ابن عباس رضي الله عنهما نه منقول دى چه دا ډيم بلقيس جوړ کړې وو، څکه چه قوم سباء به په اوبو جګړى کولې ، دغه شان د انبار د دوو غرونو په مينځ کښې وو ، باران پوجه به وربان‌دى اوبه راتلى ، نو بلقيس د دوو غرونو په مينځ يو مضبوط پلن ډيم جوړ کړو،پدى کښې به د باران اوبه جمع کيدلې ، يو لوئ ډيم ورنه جوړ شو،هرى قبيلى ته ورنه نهر وتلې وو ، خپلى زمکي او باغونه بئ پرى اوبه کول ،کله چه الله ﷻ د دوئ د تباه کولو اراده وکړه نو په ډيم باندى ئى منگکان مسلط کړل چه هغوئ د ډيم بنيادونه کمزورى کړل نو چه د باران او سيلاب اوبه راغلى نو ډيم مات شولو.

او تړول بنار په اوبو کښې ډوب شولو ، دې ډيم نه علاوه قوم سباء نور هم ډيمونه جوړ کړي وو . د
تړولو نه غټ او مشهور دا ډيم وو چه دې ته (سدّ مأرب) وائی .

﴿وَبَدَّلْنَٰهُم بِجَنَّتَيْهِمْ جَنَّتَيْنِ﴾ دا سيلاب عذاب الهی وو ، اوبه ئی زهريله وی .نود باغونو ميوي ئی
ترخې کړې ﴿أُكُلٍ خَمْطٍ﴾ موصوف صفت دی ﴿أُكُلٍ﴾ ميوی ته وائی او ﴿خَمْطٍ﴾ ترخې اوبد مزي ته
وائی ﴿وَأَثْلٍ﴾ عطف دې په ﴿أُكُلٍ﴾ ای ذواتي اثل ، دا غز اوني ته وائي .چه نه پکښې ميوه وی او نه ئی
سورې وی ، ﴿وَشَيْءٍ مِّن سِدْرٍ قَلِيلٍ﴾ دا هم عطف دې په ﴿أُكُلٍ﴾ او ﴿قَلِيلٍ﴾ صفت دې د ﴿سِدْرٍ﴾ .مراد
ورنه کرکنړه ته ،ځنګلی بيره ورته هم وائی ،يا ﴿قَلِيلٍ﴾ صفت دې د ﴿شَيْءٍ﴾ ای وشئ قليل من سدرٍ .نو
مطلب دا دې چه د دوئ په باغونو کښې د سيلاب نه بعد ترخې ميوی او ازغی داری ونی زياتی
وی ، او بيري پکښې لږې وی (زاد المسير ،روح)

﴿ذَٰلِكَ﴾ بيان د سبب دې يعنی دا تبديل د ښه باغونو په خرابو باغونو سره بدله وه د ناشکرئ د
دوئ .﴿بِمَا كَفَرُوا﴾ کفر نه مراد يا ناشکری ، کفران نعمت دې ،بعض وائی مراد ورنه کفر کول دی په
هغه (۱۳) ديارلس انبياؤ چه دوئ ته مبعوث شوی وو .﴿وَهَلْ نُجَٰزِىٓ إِلَّا ٱلْكَفُورَ﴾ (کفور) دمبالغی
صيغه ده ،يعنی ډير کفر کونکې ، نو معنی دا شوه چه مونږه صرف ډير کفر کونکی ته سزاورکوو .
سوال دلته کښې د عذاب حصر په کافرانو پوری اوشو ، حلانکه ډير ځله په مسلمانانو باندی هم
عذاب راغلې دې ، **جواب** (۱) د سزا نه دلته مراد داسی عمومی عذاب دې لکه په قوم سباء باندی
چه راغلې وو ،داسی عمومی عذاب کافرانو دپاره خاص دې ، مسلمانانو باندی عمومی عذاب نه
راځی (۲) د مؤمن عذاب په حقيقت کښې عذاب نه وی بلکه هغه امتحان او تزکيه وی . او کافر ته
عذاب حقيقتاً وی . (کشاف ، روح).

وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ الْقُرَى الَّتِي بَٰرَكْنَا فِيهَا قُرًى ظَٰهِرَةً

او ګرځولی وو مونږه په مينځ د دوئ کښې او په مينځ د هغه کلو کښې، چې برکتونه اچولی دي مونږه هغې کښې ،کلي متصل په لاره کښې.

وَقَدَّرْنَا فِيهَا السَّيْرَ ۖ سِيرُوا فِيهَا لَيَالِيَ وَأَيَّامًا آمِنِينَ ﴿١٨﴾ فَقَالُوا رَبَّنَا

او اندازه کړې وه مونږه په ديکښې رفتار (مونږ ورته اووې) ځئ په ديکښې دشپې او دورځې په امن کښې . پس وويل دوئ اې ربه زمونږه!

بٰعِدۡ	بَيۡنَ	اَسۡفَارِنَا	وَظَلَمُوۡۤا	اَنۡفُسَهُمۡ	فَجَعَلۡنٰهُمۡ	اَحَادِيۡثَ

لري والې راوله په مينځ دسفرنوزمونږکښې اودوئ ظلم اوکړوپه ځانونوخپلونو اوګرځول مونږدوئ دعبرت قصې.

وَمَزَّقۡنٰهُمۡ كُلَّ مُمَزَّقٍ اِنَّ فِيۡ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُوۡرٍ ۝

اوجداجدا موکړل دوئ په ډيرجداکولوسره،بيشکه پديکښې خامخادلائل دتوحيددي.دهرصبرکونکي شکرکونکي لپاره.

﴿وَجَعَلۡنَا بَيۡنَهُمۡ وَبَيۡنَ ٱلۡقُرَى ٱلَّتِي بَٰرَكۡنَا فِيهَا﴾ دی آياتونو کښې په قوم سباء باندی د يو بل انعام اودَدوئ دَناشکرئ ذکر دې، برکت والا قريو نه مراد د ملک شام کلی دی ، برکت والا ورته ځکه وائی چه پدی کلو کښې اونی ، ميوی ، ډيری وی او خلق ئی هم مالداره وو ، و ذلک بکثرة اشجارها واثمارها والتوسعة على اهلها (روح المعانی)د ارض القرآن مصنف رحمه الله ليکلی دی چه د قوم سباء د دولت او مالدارئ بنياد تجارت وو،يمن د يو جانبه د هندوستان د سواحلو په مقابله کښې واقع دې او بل جانب ئی د افريقي په مقابله کښې واقع دې ، د حبشې او هندوستان نه به سره زر. قيمتی کانړی ، عطرونه او دغه رنګه نور قيمتی څيزونه يمن ته راتلل، يمن نه به قوم سباء په اوښانو باره ول د بحر احمر په وچه وچه به ئی شام مصر ته وړل ، نو چونکه يمن نه شام ته ډيره فاصله وه نو په لاره کښې نيزدی نيزدی ډير کلی وو. نو دهغی دا فائده وه چه مسافر به نه ستړې کيدلو. لوږه تنده به ورته نه لګيدله . د خوراک څکاک سامان وړلو نه به بی غمه وو . ګويا چه پدغه لارو باندی سفر نه وو، بلکه يو قسم تفريحی سير سياحت وو﴿قُرًى ظَٰهِرَةً﴾ ظٰهرةً پمعنی دَ متواصلة سره دې ،يعنی يو بل سره متصل کلی وو او ظاهرةً ئی ورته پدې اعتبار اووئيل چه يو مسافر به د يو کلی نه را اووتلو نو بل کلې به ورته ښکاره کيدلو . ځکه چه هر کلې به د سړک په کناره اباد وو. بعضی وائی ﴿ظَٰهِرَةً﴾ پمعنی د معروفة دې ، يعنی د دې کلو خلق به د دوئ پيژندګلو وو . نو د دوئ ميلمستيا به ئی کوله ، ﴿وَقَدَّرۡنَا فِيهَا ٱلسَّيۡرَ﴾ يعنی د هر کلی نه بل کلی ته معين او يوشان مقدار وو و او دا نيمه ورځ وه، مفسرين رحمهم الله وائی چه يو کس به سهار د کور نه را اووتلو نو په اسانئ سره به غرمی ته بل کلی ته اورسيدلو ، خوراک ، قيلوله به ئی اوکړه ، چه ماسپخين به روان شو نو د نور غروب کيدلو نه مخکښې به بل کلی ته اورسيدلو ، بعضی وائی د هر کلی په مينځ کښې به يو ميل فاصله وه.﴿سِيرُواْ فِيهَا﴾ مخکښې ورنه،(قلنا) مقدر دي،﴿لَيَالِيَ وَأَيَّامًا﴾ مفعول فيه دي﴿ءَامِنِينَ﴾حال دي

او مطلب دا دي چه د سفر لاري بی خطره وي ، شپی او ورځی هر وخت به ئی سفر کولي شو . په لارې کښې ډاکې وغيره نه وې . قتادة رحمه الله وائی چه کچرته يو سړی ته به د خپل پلار قاتل هم مخې ته راغې نو هغه ته به ئی په دوران د سفر کښې هيڅ نه وئيل (روح)

﴿فَقَالُوا رَبَّنَا بَٰعِدْ بَيْنَ أَسْفَارِنَا﴾ دې کښې د دوئ د نادانئ او د ناشکرئ ذکر دې ،کله چه دوئ پدې عيش عشرت کښې ډيره مده تيره کړه نو سرکشی ئی شروع کړه او پخپله ئی دعا اوکړه چه اې ربه ! زمونږ پدې سفر کښې لرې والې راوله . دا دعا داسې وه لکه بنی اسرائيلو چه ويلی وو : لن نصبر علی طعام واحد فادع لنا ربک يخرج لنا مما تنبت الارض(بقرة : ۶۱) او دلرې والی دعا کولو سره ئی مقصود فخر او تکبر کول وو په فقراء ،چه امير به لرې سفر کولې شی ځان سره به د سفر توښه اوړې شی او غريب به دا کار نه شی کولې، دغه رنګه مقصود ئی دا وو چه څومره د لرې نه څيز راوړې شی نو قيمت ئی هم زيات وی . ظاهر دا ده چې دوئ دا دعا په لسان قال سره کړيده ، امام رازی رحمه الله وائی چه په زبان حال سره وه ، يعنی د دوئ د ناشکرئ مطلب دا وو چه زمونږ نه دی دا نعمت واخستلې شی﴿وَظَلَمُوا أَنفُسَهُمْ﴾يعنی په تکذيب د رسولانو او د ناشکرئ په وجه ئی پخپل ځان باندې ظلم اوکړو﴿فَجَعَلْنَاهُمْ أَحَادِيثَ﴾احاديث جمع د احدوثة ده آفسوس ناکی اوحيرانه کونکې واقعې ته وائی. چه خلق ورنه عبرت واخلی ، يعنی دوئ مو د ورستو خلقو دپاره د عبرت قصې اوګرځولې ﴿وَمَزَّقْنَاهُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ﴾تمزيق نه مشتق دې ، ټکړې ټکړې کولو ته وائی. مطلب دا دې چه د خاورو په شان مو ذرې ذرې کړل چه هوا ګانې ئی الوځوی ،ليکن جمهور مفسرين وائی چه مطلب او مراد د ټکړې ټکړې کولو نه تفريق او منتشر کول دی چه په مختلفو ملکونو کښې تقسيم شول بعض شام ته لاړل ، بعضی مدينی ته لاړل ، بعضی عراق ته ، بعضی عمان ته لاړل . صاحب د ارض القرآن د دوئ د زوال او سقوط تو جيه داسې کړې ده چه يونانيانو، روميانو په مصر او شام باندې قبضه اوکړه او د افريقی ، هندوستان تجارت ئی د برې لارې په ځائې په بحرې لارې شروع کړو. مال تجارة به ئی د بيړو په ذريعه مصر ته او شام ته وړلو نو پدې وجه د قوم سباء تجارت برباد شو، والله اعلم ،﴿إِنَّ فِي ذَٰلِكَ﴾مشاراليه واقعه د قوم سباء ده.يعنی ديکښې په طاعتو باندې صبر کونکو. شهوات اوخواهشاتونونه پرهيز کونکو اوهرحال کښې الله تعالیٰ شکرادا کونکو لپاره ډيرې نشانيانې دې، چې دَصبر اوشکرڅه فوائد دی اوناصبرۍ اوناشکرئ څه نتيجه راوځی.

وَلَقَدْ صَدَّقَ عَلَيْهِمْ إِبْلِيسُ ظَنَّهُ فَاتَّبَعُوهُ إِلَّا فَرِيقًا
اويقينا چې رښتيااومونډلوپه دوئ باندې ابليس گمان خپل پس اتباع نې اوکړه دوئ دهغه. سوى ډيوې ډلې
مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٢٠﴾ وَمَا كَانَ لَهُ عَلَيْهِم مِّن سُلْطَانٍ إِلَّا لِنَعْلَمَ مَن يُؤْمِنُ
دمؤمنانو.اونه وؤداَبليس دپاره په دوئ باندې څه زورمکردديُ پاره چې مونږمعلوم کړو(جدا کړو)هغه څوک چې ايمان راوړي
بِالْآخِرَةِ مِمَّنْ هُوَ مِنْهَا فِي شَكٍّ ۗ وَرَبُّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ حَفِيظٌ ﴿٢١﴾
په اخرت دهغه چانه چه هغه دآخرت نه په شک کښې دي.اورب ستاپه هرڅيزنگهبان دي.

﴿وَلَقَدْ صَدَّقَ عَلَيْهِمْ إِبْلِيسُ ظَنَّهُ﴾ ﴿عَلَيْهِمْ﴾ضمير يا قوم سباء ته راجع دي . يا عام انسانانو ته .او مطلب دا دي چه شيطان کوم گمان کړې وؤ. چه .ولا ضلنّهم ولأمنينّهم.او دغه رنگه . ولا تجد اكثر هم شاكرين﴾نو هغه ئې رښتيا اومنډلو ،اى وجد ظنّه صادقاً (روح) ﴿فَاتَّبَعُوهُ إِلَّا فَرِيقًا مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ﴾ (من بيانيه دي اى الا فريقاً هم المؤمنون لم يتبعوه (روح المعانى) او اتباع نه مراد اتباع ده په کفر کښې،مطلب دا دي چې اتباع اوکړه دوئ د ابليس په کفر کښې مگر يو فريق اونکړه چه هغه مؤمنان دى او د تقليل نسبت ورته په اضافت سره کفارو ته شويدې

﴿وَمَا كَانَ لَهُ عَلَيْهِم مِّن سُلْطَانٍ﴾ ﴿لَهُ﴾ ضمير مجرورابليس ته راجع دي او ﴿سُلْطَانٍ﴾ يا پمعنى دَ تسليط کښې دي،يعنى الله ﷻ چې ابليس په انسانانومسلط کړيدې نو دينه مقصود ازميخت اوامتحان دې چې څوک په آخرت ايمان راوړى اوڅوک پکښې شک کوى.اويا ﴿سُلْطَانٍ﴾ پمعنى دَتسلط او استيلاء (زبردستى)کښې دي يعنى شيطان په دوئ باندې هيڅ زور زبردستى نه وه نه ورسره مادى قوت وؤاو نه څه دلائل ،صرف وسوسى وې.اودَدې تصرف اجازت ورله الله ﷻ څکه ورکړيدې چې پته اولگى چې څوک خواهشاتو پسې ځى اوڅوک په حق قائم پاتى کيږى ﴿لِنَعْلَمَ﴾ پمعنى د (لِنميّز) دي .﴿وَرَبُّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ حَفِيظٌ﴾ دا دَ پوره تخويف خلاصه ده.چې ستارب په هر څيز نگران دي،هرڅيز حرکاتواو سکناتو پته ورته لگى،څوک ترينه هم پټې دلې نشى.لهذا د شيطان په وسوسو باندې مه خطا کيږئ دَ الله ﷻ اطاعت کوئ

قُلِ ادْعُوا الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَا يَمْلِكُوْنَ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ فِي السَّمٰوٰتِ

ووایه رااوبلئ تاسوهغه چه گمان کوئ تاسوچې داآلهه دي ماسوا دالله ﷻ نه، ندی مالکان په اندازې دذرې په اسمانوکښ

وَلَا فِي الْاَرْضِ وَمَا لَهُمْ فِيْهِمَا مِنْ شِرْكٍ وَّمَا لَهٗ مِنْهُمْ مِّنْ ظَهِيْرٍ ۞

اونه په زمکه کښ، اونیشته دوئ لره پدې دواړوکښ څه برخه اونیشته الله ﷻ لره ددوئ نه هیڅ څوك مددګار.

وَلَا تَنْفَعُ الشَّفَاعَةُ عِنْدَهٗٓ اِلَّا لِمَنْ اَذِنَ لَهٗ ؕ حَتّٰٓى اِذَا فُزِّعَ

اونفع نه ورکوي شفاعت په نزد د الله اګرکه فرشته وي سوی دهغه کس نه چې اجازت ورکړې وی الله هغه لپاره دشفاعت، تردې چه یره لرې کړېشي

عَنْ قُلُوْبِهِمْ قَالُوْا مَاذَا ۙ قَالَ رَبُّكُمْ ؕ قَالُوا الْحَقَّ ۚ

دهغوئ دزړونونه تپوس وکړي لاندې فرشتې دبره فرشتونه څه حکم وکړورب ستاسو، نو دوئ ورته اووائي چې حق حکم نی وکړو

وَهُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيْرُ ۞

اوهغه اوچت دې ذات دده، اولوئ دی صفات دده.

﴿قُلِ ادْعُوا الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ﴾، دا د څلورمی شبهې جواب دې، دا شبهه د فرشتو متعلق ده دوئ به وئیل چې فرشتې عجیب وغریب تصرف وقدرت والادی، آسمانونو کښ اوسیږی، الله ﷻ ته ډیری مقربې دی، نو دوئ هم مستحق دعبودیت اوالوهیت دی، اودوئ عبادت کولو پوجه به زمونږ سفارش هم الله ﷻ ته کوی ﴿ اُدْعُوا﴾کښی امر د توبیخ او تعجیز دپاره دې، یعنی چه دا خپل مزعومه آلهه را اوبلئ چه تاسو نه څه ضرر دفع کړی یا درته څه نفع درکړی . نو که تاسو پخپله دعوه کښی رشتینی نی نو سوال به موقبول کړی ،(روح)، ﴿زَعَمْتُمْ﴾ای زعمتوهم آلهة (روح) . (هم) مفعول اول دې . تخفیفاً حذف شوې دې (الهة) مفعول ثانی دې . حذف شوې دې دوجی ددینه چه صفت ئی یعنی﴿مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ﴾سد مسد ګرځیدلې دې

الله ﷻ ورله څلور جوابونه ورکوی علی سبیل الترقی ﴿لَا يَمْلِكُوْنَ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ﴾، دا اول جواب دې . چه فرشتی او دغه شان ستاسو نور معبودان د ذرې برابر هم د څه څیز مالکان نه دی ، نه د خیر نه د شر ، نه د نفع نه د نقصان ، نو څنګه دوئ آلهه دی﴿فِي السَّمٰوٰتِ وَلَا فِي الْاَرْضِ﴾ دی ذکر لپاره

د تعمیم دي،ټول موجودات ورنه مراد دی ،یعني دوئ په ټولو موجوداتو کښې د هیڅ څیز مالکان نه دی ،یا د اسمان او زمکښې ذکر ځکه اوشو چه دوئ بعضې آله سماوی وؤ لکه فرشتې ، کواکب ، او بعضې ارضي وؤ ، لکه اصنام.یا پدې وجه چه اسباب د خیر او شر یاسماوی وی یا ارضی . نو د دواړو نه نفی اوشوه چه د دوئ قدرت او ملکیت په دواړو نشته دې نو څنګه معبودان دی . ﴿وَمَا لَهُمْ فِيهِمَا مِن شِرْكٍ﴾ ،دویم جواب دې علی سبیل الترقی،یعنی ملکیت خوي خود نشته چې څه کښې شراکت داری هم نشته دَالله ﷻ سره.په تصرف کښې﴿وَمَا لَهُ مِنْهُم مِّن ظَهِيرٍ﴾ ای معین ، دریم جواب دې علی سبیل الترقی یعنی ملکیت اور شراکت خوڅه کوې،چې الله ﷻ سره څه معامله انجام کولو کښې مددګاری هم ندی . بلکه الله ﷻ تن تنها بغیر د بل چا د تعاون نه ټول کارونه کوی. ﴿له﴾ضمیر راجع دې الله ﷻ ته ﴿منهم﴾ ضمیر مصداق معبودان باطله دی.

﴿وَلَا تَنفَعُ الشَّفَاعَةُ﴾ څلورم جواب دی علی سبیل الترقی چې دَ دې هرڅه نه قطع نظر ،دوئ دَ الله ﷻ په نیز دومره صاحب حیثیت هم ندی چې د الله ﷻ دَ اجازت او مرضئ نه بغیر دَ چاسفارش اوکړی یعنی تاسو داګمان مه کوئ چې فرشتې به زمونږ سفارش اوکړی ځکه چې اول خودوئ سفارش کښې خود مختاري ندی.ترڅو پورې چې ورته الله ﷻ طرف نه اجازت نوی میلاؤشوې، سفارش نشی کولې،اودویم داچې سفارش به دهغه چاکوی چې دَدې مستحق ؤوی،اوکفار اومشرکین ددې مستحق ندی. ﴿وَلَا تَنفَعُ﴾ پمعنی دَ "لاتوجد" سره دې ،ای لا توجدُ رأساً (روح) یعنی بالکل شفاعت به نشی کولې، لیکن چونکه مقصود د شفاعت نه نفع وی نو ځکه دلته نفي د نفع اوشوه .﴿إِلَّا لِمَنْ أَذِنَ لَهُ﴾ دا استثنا مفرغه ده ، مستثنیٰ منه ئی حذف شویده تقدیر دا رنګه دې : ولا تنفع الشفاعة لاحد الا لمن اذن له (البحرالمحیط) د "لاحدٍ" او د "مَن"نه مراد یا مشفوع له دې ، نو معنی به دا شی چه شفاعت هیڅ چاته هم نفع نه ورکوی ماسویٰ د هغه کس نه چه هغه په باره کښې د شفاعت اجازت میلاؤ شوې وی،او مراد ورنه مشفوع له مومن دې لقوله تعالی : (الا مَن شَهد بالحقّ)(زخرف) یا د"لاحدٍ"او د "مَن" نه مراد شفیع دی،ای الاّ لشافعٍ اذن له ان یشفع(بحر)یعنی شفاعت به صرف هغه څوک کوی چه اجازت ورته میلاؤ شوې وی مراد ورنه انبیاء ،ملائک ،شهداء وغیره دی او ظاهره ده چه

د تعمیم دې ،ټول موجودات ورنه مراد دی ،یعنی دوئ په ټولو موجوداتو کښې د هیڅ څیز مالکان نه دی ،یا د اسمان او زمکښې ذکر څکه اوشو چه دوئ بعضې آله سماوی وو لکه فرشتې ، کواکب . او بعضې ارضی وو ، لکه اصنام یا پدې وجه چه اسباب د خیر او شر یاسماوی وی یا ارضی ، نو د دواړو نه نفی اوشوه چه د دوئ قدرت او ملکیت په دواړو نشته دې نو څنګه معبودان دی ﴿وَمَا لَهُمْ فِيهِمَا مِن شِرْكٍ﴾ ،دویم جواب دې علی سبیل الترقی،یعنی ملکیت خوې خود نشته چې څه کښې شراکت داری هم نشته دَالله ﷻ سره په تصرف کښې﴿وَمَا لَهُۥ مِنْهُم مِّن ظَهِيرٍ﴾ ای معین ، دریم جواب دې علی سبیل الترقی یعنی ملکیت اور شراکت خوڅه کوې،چې الله ﷻ سره څه معامله انجام کولو کښې مددګاری هم ندی ، بلکه الله ﷻ تن تنها بغیر د بل چا د تعاون نه ټول کارونه کوی .﴿له﴾ضمیر راجع دې الله ﷻ ته ﴿منهم﴾ ضمیر مصداق معبودان باطله دی.

﴿وَلَا تَنفَعُ ٱلشَّفَٰعَةُ﴾ څلورم جواب دی علی سبیل الترقی چې دَ دې هرڅه نه قطع نظر ،دوئ دَ الله ﷻ په نیز دومره صاحب حیثیت هم ندی چې الله ﷻ دَ اجازت او مرضئ نه بغیر دَ چاسفارش اوکړی یعنی تاسوداګمان مه کوئ چې فرشتې به زمونږ سفارش اوکړی څکه چې اول خودوئ سفارش کښې خود مختاري ندی.ترڅو پورې چې ورته الله ﷻ طرف نه اجازت نوی میلاؤشوې، سفارش نشی کولې،اودویم داچې سفارش به دهغه چاکوی چې دَدې مستحق ووی،اوکفار اومشرکین ددې مستحق ندی ﴿وَلَا تَنفَعُ﴾ پمعنی دَ "لاتوجد" سره دې ،ای لا توجدُ رأساً (روح) یعنی بالکل شفاعت به نشی کولې، لیکن چونکه مقصود د شفاعت نه نفع وی نو څکه دلته نفي د نفع اوشوه ﴿إِلَّا لِمَنْ أَذِنَ لَهُۥ﴾ دا استثنا مفرغه ده ، مستثنیٰ منه ئی حذف شویده تقدیر دا رنګه دې : ولا تنفع الشفاعة لاحد الا لمن اذن له (البحرالمحیط) د "لاحدٍ" او د "مَن"نه مراد یا مشفوع له دې ، نو معنی به دا شی چه شفاعت هیڅ چاته هم نفع نه ورکوی ماسویٰ د هغه کس نه چه هغه په باره کښې د شفاعت اجازت میلاؤ شوې وی،او مراد ورنه مشفوع له مومن دې لقوله تعالی : (الا مَن شَهد بالحقّ))زخرف) یا د"لاحدٍ"او د "مَن" نه مراد شفیع دی،ای الاّ لشافعٍ اذن له ان یشفع(بحر)یعنی شفاعت به صرف هغه څرک کوی چه اجازت ورته میلاؤ شوې وی مراد ورنه انبیاء ،ملائک ،شهداء وغیره دی او ظاهره ده چه

دوئ ته هم اجازت د كفارو باره كښې نه دې ميلاؤ شوې . بلكه مؤمنانو باره كښې به شفاعت كوى لقوله تعالیٰ: ولايشفعون الاّ لمن ارتضیٰ(انبياء : ۲۸).

﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا فُزِّعَ عَن قُلُوبِهِمْ ﴾ ديكښې دَ نفى شفاعت قهرى مزيد وضاحت دې.چې فرشتې به څنګه دَ الله ﷻ اجازت اومرضئ نه بغير دَچا سفارش اوكړى،هغوئ خوحال دادې چې هغوئ په وخت د نزول د حكم الهى كښې يريدونكى وى ،دهيبت پوجه ئې زړونه رپيږى،خبرې نشى كولې بيا چه كله خوف لرى شى نو بيا د يو بل نه تپوس كوى چه الله ﷻ څه حكم نازل كړيدې ،

﴿فُزِّعَ﴾ باب تفعيل دې . خاصيت ئې دلته سلب مأخذ دې . اى ازيل الفزع چه خوف لرې كړې شى د هغوئ د زړونو نه ﴿عَن قُلُوبِهِمْ﴾ ضميرراجع دې فرشتو ته فرشتوذكر دلته اګرچه لفظا نشته خو حكما شته دې.ځكه چې دا آيت ملائكو په باره كښې دَمشركينو اعتقاد اووهم ترديد كښې نازل شوې دې د ابو هريره ﷺ نه روايت دې چه : اذا قضى الله تعالى الامر فى السّماء ضربت الملائكة اجنحتها خضعا لقوله تعالى كانه سلسلة على صفوانٍ فاذا فزع عن قلوبهم قالوا ما ذا قال ربكم قالوا الذى قال الحق وهو العلىّ الكبير. يعنى كله چه الله ﷻ يو امر فيصله په اسمانونو كښې كوى (حكم نازلوى) نوفرشتې د عاجزئ (او خوف) په وجه خپلې وزرې وهى د الله ﷻ كلام ته او كلام د الله ﷻ داسې وى لكه يو زنځير چه په يو غټ كاڼى (ګټ) باندې غوره ولې كيږى او كله چه د فرشتو د زړونو نه رُعب لرى كړيشى نو بيا يو بل ته وائي الله ﷻ څه او فرمائيل :﴿قَالُواْ ٱلْحَقَّ﴾ضمير راجع دې پورتنى فرشتوته

بعض مفسرينو دَ﴿ قُلُوبِهِمْ ﴾ ضمير مرجع من اذن له ګرځولې دې نودې تقدير باندې بيادې جملې كښې دَشفعا او مشفعينو لپاره دَ شفاعت اذن كيفيت بيانيږى،يعنىٰ دوئ به الله ﷻ په دربار كښې انتهائى خوف وفزع حالت كښې حاضروى،دَهيبت نه به مدهوشه وى،په هيڅ به نه پوهيږې خوكله چې اجازت ميلاؤ شې نو بيابه يې دَ زړه خوف كم شى او يوبل نه به تپوس اوكړى چې الله ﷻ څه اوفرمائيل

فائده: (حتى) دَغايت لپاره راځى ،اودا تقاضه كوى دَ ماقبل مغيا ،چې هغې سره دحتى مابعد جملې ارتباط وى،اودلته حتى ماقبل اومابعد جملو كښې هيڅ ارتباط نشته،ځكه چې (اذا فزع عن قلوبهم) غايت نشى ګرځيدې لپاره دَ (لا تنفع الشفاعة)، دې وجهې نه مفسرينو (حتى) نه مخكښې عبارت مقدر منلې دې . اول تفسير مطابق به تقدير داسې وى:لا تنفع الشفاعة الالمن اذن له ولوكان من

الملائكة،فانهم يخافون الله ويفزعون اذا اوحى اليهم حتى اذا فزع)اودويم تفسير مطابق به تقدير داسي وي(فانهم واقفون بين يديه خاشعين ساكتين،لايقدر احد منهم ان يتكلم حتى إذا فزع..

قُلْ مَنْ يَّرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ قُلِ اللّٰهُ ۙ وَاِنَّآ اَوْ اِيَّاكُمْ
ته اوايه څوك رزق دركوي تاسوته دآسمانونواوزمكې نه،ته اوايه چې الله ﷻ دركوي.اوبيشكه مونږياتاسوكښې يوه فرقه
لَعَلٰى هُدًى اَوْ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۲۴﴾ قُلْ لَّا تُسْئَلُوْنَ عَمَّآ اَجْرَمْنَا
ضروربه هدايت ده ياپه گمراهئ ښكاره كښې ده، ته ا وايه ستاسونه به سوال نشي كيدې دهغې چې مونږكوم جرم وكړو
وَلَا نُسْئَلُ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۵﴾ قُلْ يَجْمَعُ بَيْنَنَا رَبُّنَا ثُمَّ
اوزمونږنه به سوال نشي كيدې دهغه عملونوچه تاسوېې كوئ ته اوايه جمع به كړي مونږ خپل مابين كښې رب زمونږبيا به
يَفْتَحُ بَيْنَنَا بِالْحَقِّ ؕ وَهُوَ الْفَتَّاحُ الْعَلِيْمُ ﴿۲۶﴾ قُلْ اَرُوْنِيَ الَّذِيْنَ
فيصله اوكړي زمونږپه مينځ كښې په حقه سره،اوهغه فيصله كونكې عالم دې ته ووايه اوښاياست ماته هغه
اَلْحَقْتُمْ بِهٖ شُرَكَآءَ كَلَّا ؕ بَلْ هُوَ اللّٰهُ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۲۷﴾
چې تاسوپيوست كړيدې گرخولي دې دالله ﷻ سره شريكان،هرگزشريك ندى،بلكه شان دادې چه صرف الله ﷻ عزيزحكيم دې.

﴿قُلْ مَن يَرْزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ﴾ دا دويم دليل عقلي دې په توحيد على سبيل الاعتراف من الخصم،چه دوئ هم دا اعتراف كوى چه مونږ ته رزق راكونكې صرف الله ﷻ دې. او ددوئ آلهه د ذرى برابر هم دَ څه څيز مالكان نه دى﴿قُلِ ٱللَّهُ﴾يعنى كه دوئ انكار كوى دَيرى د الزام نه،ته ورته جواب كړه چه رازق صرف الله ﷻ دې،چې تاسو په خپله دَدې اعتراف كوئ﴿وَإِنَّآ أَوْ إِيَّاكُمْ﴾دا اوله طريقه د تبليغ ده يعنى كله چې ثابته شوه داخبره چې رازق هم يو الله ﷻ دې نواوس تاسو اوايئ چې څوك په هدايت اوڅوك گمراه دى.مونږ ياتاسو؟مونږ صرف دَ مالك اورازق حقيقى عبادت كوو اوتاسو ورسره شريكان گرځوئ .﴿لَعَلَىٰ هُدًى أَوْ فِى ضَلَٰلٍ﴾كلام مبنى نه دې په شك باندى . ځكه چه حضور ﷺ ته د خپل ځان هادى كيدو باندى هيڅ شك نه وو.بلكه دا د(جادلهم بالتى هى احسن) يوه نمونه ده.ځكه چه مخاطب ته كافر او گمراه ، مشرك اونيلې شى نو دا طريقه په هغه

کښې جوش او اشتغال پیدا کوی ، نو په ناحقه مقابلې ته تیاریږی . او چه دا ورته اوښیلې شي چه په مونږ کښې یو کس په غلطۍ دې نو هغه حق ته تیاریږی ، دیته اهل بیان استدراج وائی لکه په شعر د حسان بن ثابت رضی الله عنه کښې دی :

اتهجوه ولست بکفء فشر کما لخیر کما الفدآء

﴿قُل لَّا تُسۡـَٔلُونَ عَمَّآ أَجۡرَمۡنَا﴾دا دویمه طریقه د تبلیغ ده یعنی حق او حقیقت اتباع پکار ده ساتې شوې غلطیانې اوخامیانې ،نوهغه په چاکښې نشته، که زمونږ نه څه جرم اوشی نوزمونږ نه به دهغې باره کښې تپوس کیږی اوستاسو نه څه گناه اوشی نوستاسو نه به دهغې باره کښې تپوس کولې کیږیَ.دا انفرادی غلطیانې دحق اتباع نه مانع نه دی گرځول پکار.دلته خپلو غلطیانواوخامیانو طرف ته نسبت د جرم اوشو اودمخاطب غلطیانو اوخامیانو ته نسبت دمطلق عمل اوشو.دیکښې تنبیه ده نرمی لهجې اختیارولو اوسبق ورکول دی داعی ته ددې خبرې چې خپله ورکی غلطی دې هم لوئ جرم گنړی اوکه دبل نه لوئ جرم هم اوشی هغه معمولی گنړل پکار دی نو دی سره هم د حق تالاش کولو ته انسان اماده کیږی،

﴿قُلۡ يَجۡمَعُ بَيۡنَنَا﴾دا دریمه طریقه د تبلیغ ده ،یعنی دومره دلائلو اود تبلیغ نه باوجود که درسره خبره اونه منې نوطیش کښې مه راځئ اوبدرد په ځائ ورته صرف دومره اووایئی چه د قیامت په ورځ الله تعالی زمونږاوستاسو په مینځ کښې د حق فیصله کوی چه څوک په حق دی او څوک په باطله،حق والا به جنت ته داخل کړی او باطل به جهنم ته﴿وَهُوَ ٱلۡفَتَّاحُ ٱلۡعَلِيمُ﴾دا د ماقبل جملې تتمه ده "الفتاح" صیغه د مبالغې ده یعنی ډیرې فیصلې کونکې ذات، دیکښې اشاره ده قوت د فیصلې ته."العلیم" ډیر علم والا هر څه باندې عالم او دیکښې اشاره ده ده انصاف اوحکمت باندې مبنې فیصلې ته،یعنی الله تعالی هغه ذات دې چې قوت دفیصلې هم لرې او دهغه فیصله انصاف او حکمت باندې مبنی وی ﴿قُلۡ أَرُونِيَ ٱلَّذِينَ أَلۡحَقۡتُم بِهِۦ شُرَكَآءَ﴾،دا ثمره ده د دلائلو سابقو،یعنی ما قبل دلائلو نه معلومه شوه چه الله تعالی تن تنهاداسمانونواوزمکې مالک دې دآسمانونو زمکې نه صرف هغه رزق ورکوی،هغه خالق دې متصرف اوخود مختاردې،نو اې پیغمبره ته ورته اوایه چې کوم شریکان چې تاسو الله تعالی سره گرځولی دی ماته خواوخائ چې کوم خائی اوکوم شی کښې ورسره شریک دی؟اوڅه دلیل دې پدې؟ ،رؤیت نه مراد یا رؤیت علمی دې،چې همزه باب افعال سره درې مفعولو ته متعدی کیږی،اول مفعول ورله "یا"ضمیر متکلم دې،دویم ورله "الذین" اسم

موصول دي اور دريم ورله شركاء دي،او يارؤيت نه مراد رؤيت بصرى دې.اودوه مفعولو ته متعدى كيږي،اول مفعول ورله "يا" ضمير متكلم دي،اودويم ورله "الذين" اسم موصول دې.او "شركاء" حال دي، دَ "الذين" نه، "اراءة" مطالبه كول،باوجود دَدينه چې هغه معبودان بالكل ښكاره وو هرچاته ښكاريدل،ديكښ دَ هغوئ خطاو غلطى اظهار مقصود دي،او اُلحقتم فعل راوړلو كښ اشاره ده ديته چې دا حقيقتاً معبودان نه دى بلكه دوئ هځې الله ﷻ سره ملحق كړى دى.

﴿كَلَّا﴾ يعني چرته هم نشي كيدي چې دوئ څوک يوداسى ذات پيش كړى چې هغه الله ﷻ شريک وى اويا پدې باندې څه دليل پيش كړى.﴿بَلْ هُوَ ٱللَّهُ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ﴾ يعني الوهيت مستحق هغه ذات كيدې شى چې په هر چابروى،چاته يې څه حاجت اوضرورت نوى،اوهركاريې محكم اودَحِكمت نه ډک وى،نوپه دغه اوصافو سره موصوف ذات صرف يواځى الله ﷻ دې چه غالب دې په هر څه او حكمتونو والا دې. ﴿هو﴾ ضميرشان دې ،اولفظ﴿ ٱللَّهُ ﴾مبتدا دې﴿ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ﴾ ئې خبر دې.

وَمَآ أَرْسَلْنَٰكَ إِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيرًا وَنَذِيرًا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٢٨﴾
اونه ئې ليږلې مونږته مګرټولوخلقولپاره زيرې وركونكې اويرونكې ليكن زيات دَخلقونه نه پوهيږي.
وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٢٩﴾ قُل لَّكُم مِّيعَادُ يَوْمٍ
اووائي دوئ چې كله به وي داوعده دقيامت،كچرې يئ تاسورښتني.اوايه ته ستاسودپاره تاريخ دَيوې ورځې مقررې دې.
لَّا تَسْتَـْٔخِرُونَ عَنْهُ سَاعَةً وَلَا تَسْتَقْدِمُونَ ﴿٣٠﴾
چې نه به شئ ورستوكيدې دَهغې نه يوساعت اونه به مخكښ كيدې شئ.

﴿وَمَآ أَرْسَلْنَٰكَ إِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ﴾ ،اثبات توحيد نه پس اوس دَرسالت ذكردې،اودَمشركينو دَ سوال جواب هم دې،چې دوئ به نبى كريم ﷺ ته وئيل كچرته نه په رښتياد الله ﷻ پيغمبر يې نو زمونږ فرمائشى معجزې مونږ ته اوښايه.الله ﷻ جواب وركوى چې اې پيغمبره،ته مونږ ټول عالم لپاره پيغمبر جوړكړې ليږلې ئې،اوته دَ الله ﷻ واقعى پيغمبريې،پاتې شول دَ دوئ فرمائشونه اومطالبې پوره كول نو دادَمنصب رسالت وظيفه نه ده.بلكه منصب رسالت وظيفه بشارت اوانذار

ده.چې فرمانبرداروته به دَ جنت بشارت اونافرمانه به دَالله ﷻ عذاب نه یره وی داخو ډیره واضحه خبره ده خوبیا هم دوئ پدې نه پوهیږی. ﴿كَآفَّةً﴾ دکف.نه مشتق دې منع کولو په معنی کښې راځی.اودَعموم لپاره استعمالیږی.ځکه چې دې سره هم منع رازی دَافرادودَخروج نه راجحه داده چه﴿كَآفَّةً﴾ حال دې د ﴿لِّلنَّاسِ﴾نه.حال په ذوالحال مجرور باندی مقدم شوې دې د وجې د اهتمام د عموم بعثت نه ، اي الا للناس كافةً یعنی هر ملک. هر قوم. هرې طبقې ته . هرې زمانې خلقو ته مبعوث ئې ﴿بَشِيرًا﴾زیرې ورکونکې د جنت ئې هغه چاته چه ستا اطاعت اوکړی ﴿وَنَذِيرًا﴾ یره ونکې ئې د عذاب نه هغه چالره چه ستا نافرمانی اوکړی . دا دواړه صفتونه حال جوړیږی دَضمیر مفعول نه.

﴿وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْوَعْدُ﴾ دا شکوه ده چه کله دې مشرکینو ته اوئیلې شې چې قیامت ورځ شته.هغې کښې به الله ﷻ فیصله اوکړی چې څوک په حق اوڅوک په باطله ولاړ وو.نودوئ ورسورې استهزا کوی اووائی چه هغه وخت موعود به کله وی چه د حق او باطل فیصله پکښې اوشی.

﴿قُل لَّكُم مِّيعَادُ يَوْمٍ﴾دا جواب شکوه ده،چونکه سوال د دوئ بطور استهزاء وو نو جواب ئې هم بطور تهدید اوشو چه د ورځې تاریخ په علم الهی کښې معین دې چه راشی نو پته به درته اولګی . په خپل وخت به راځی د چا په طلب او طنز سره نه راځی.

وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَن نُّؤْمِنَ بِهَٰذَا الْقُرْآنِ وَلَا بِالَّذِي بَيْنَ يَدَيْهِ
اووائی کافران هرګزمونږایمان نه راوړوپدې قرآن اونه په هغه کتابونوچې دده نه مخکښې دی.
وَلَوْ تَرَىٰ إِذِ الظَّالِمُونَ مَوْقُوفُونَ عِندَ رَبِّهِمْ ۚ يَرْجِعُ بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ
اوکحرې ته اوینې اې پیغمبره،چې کله ظالمان ولاړوي په حضور د رب خپل کښې.چې ګرځوي به بعضې دَدوئ نه بعضوته
الْقَوْلَ يَقُولُ الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا لَوْلَا أَنتُمْ
خبره وائی به هغه کسان چې ضعیفان ؤوخپلومشرانوته چې کچرته تاسو نه وی

لَكُنَّا مُؤْمِنِينَ ۝ قَالَ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا لِلَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا أَنَحْنُ صَدَدْنَاكُمْ عَنِ الْهُدَىٰ

نوو به مونږ مؤمنان. او به وائي مشران ليډران خپلو كشرانو اتباعو ته. آيا مونږه منع كړي وئ تاسو د هدايت نه.

بَعْدَ إِذْ جَاءَكُم ۖ بَلْ كُنتُم مُّجْرِمِينَ ۝ وَقَالَ الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا

ورستو دډي نه چې راغلي وو تاسو ته. بلكه وئ تاسو پخپله مجرمان. او او به وائي ضعيفان كشران اتباع خپلو مشرانو ته

بَلْ مَكْرُ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ إِذْ تَأْمُرُونَنَا أَن نَّكْفُرَ

بلكه منع كړي وو مونږه ستاسو چل ول په شپې او ورځې كښې كله چې امر كولو تاسو مونږ ته ددې چې مونږ كفر كړو

بِاللَّهِ وَنَجْعَلَ لَهُ أَندَادًا ۚ وَأَسَرُّوا النَّدَامَةَ لَمَّا رَأَوُا الْعَذَابَ

په الله ﷻ باندې او او گرځو مونږ هغه لره شريكان. او پټه به كړي دوئ پښيمانتيا هر كله چې ويني دوئ عذاب.

وَجَعَلْنَا الْأَغْلَالَ فِي أَعْنَاقِ الَّذِينَ كَفَرُوا ۚ هَلْ يُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ۝

او وابه چوؤ مونږ زنځيرونه په ستونو د كافرانو كښې. نه شي وركولي دوئ ته جزا مگر د هغه عملونو چې دوئ به كول

﴿وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَن نُّؤْمِنَ بِهَٰذَا الْقُرْآنِ﴾ دا شكوه مع تخويف اخروى دي. روايت دي چه كفار مكه ؤ د اهل كتابو نه تپوس اوكړو په باره د حضور ﷺ كښې. هغوئ ورته خبرور كړو چه د دى پيغمبر صفات زمونږ په كتابونو كښې موجود دى . نو پدې خبره كفار غصه شول .او اوئ وئيل . مونږ پدې قرآن هرگز ايمان نه راوړو او نه د دينه مخكښې كتابونو باندې ﴿بِالَّذِي بَيْنَ يَدَيْهِ﴾ نه مراد مخكښې كتابونه دى. ﴿وَلَوْ تَرَىٰ إِذِ الظَّالِمُونَ﴾ دا تخويف اخروى دي. پدى كښې د كفارو او د مشركينو انجام او په ميدان حشر كښې د خپلو الهؤ سره د بحث مباحثى ذكر دي .چه په محشر كښې به دوئ په يو بل بار غور خوى. مفعول د ﴿تَرَىٰ﴾ محذوف دي، اى ولو ترى حال الظالمين. د ظالمانو نه مراد مشركان. كافران دى. جواب د لَو مقدر دي اى لرأيت امراً فظيعاً ﴿يَقُولُ الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا﴾، چه مونږ پخپله څله مجرمان يو ؟بلكه ستاسو اقتدار او غلبه وه، كروفر وؤ .منصوبې خوجوړولې او مونږ خوبه استعمالولو .اوپه تنخواگانو اوپه خرچو مود هوكه كښې مبتلا كړي وؤ د ضعيفا نو نه مراد اتباع او د گمراهو پيرانو مريدان دى، چه خپلو متبوعينو او پيرانو ته به وائ .چه تاسو مونږ د

ايمان راوړونه منع كړى وو ﴿لِلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُوٓاْ﴾ مسرانو نه مراد ګمراه مـبوعين دى ﴿لَوۡلَآ أَنتُمۡ﴾ انتم مبتدا دې خبر ئې محذوف دې چې صددتمونا عن الهدى يعنى كه تاسو مونږ دايمان نه وې منع كړې نو مونږ خامخا ايمان راوړنكى وو.

﴿وَقَالَ ٱلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُوٓاْ﴾ متبوعين به ورنه انكار وكړى چه مونږ سره كوم طاقت وو چه تاسو مو د ايمان راوړو نه منع كړى وئ؟ كله چه تاسو ته حقه خبره ورسيده او پوهه شوئ بيا نو ولې مو ايمان نه راوړو . جرم كونكى پخپله وئ اوس ئې په مونږ راغورخوئ ﴿أَنَحۡنُ صَدَدۡنَٰكُمۡ﴾ استفهام انكارى دې

﴿وَقَالَ ٱلَّذِينَ ٱسۡتُضۡعِفُواْ﴾ رد دې په انكار د متبوعينو .چې مونږ پخپله ولې مجرمان يو؟ بلكه تاسو اقتدار اوغلبه وه .منصوبې به موجوړه ولې .مونږ به مو استعمالولو .په تنخواه ګانو اوخرچو مو په دهوكه كښې مبتلا كړى وو . ﴿مَكۡرُ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ﴾. اى بل صدنا مكركم بنا فى الليل والنهار . (روح) د﴿مَكۡرُ﴾مضاف اليه حذف ده چه (كم)دي،او ظرف چه ﴿ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ﴾ دې د هغې قائمقام ګرخولې شويدې.او ﴿مَكۡرُ﴾ فاعل دې د"صدنا" فعل محذوف يا مبتدا دې خبرئې محذوف دې يا بالعكس.اى مكر الليل والنهار سبب كفرنا ، يا سبب كفرنا مكر الليل والنهار (روح)﴿إِذۡ تَأۡمُرُونَنَآ﴾بدل دې د﴿ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ﴾ نه﴿وَأَسَرُّواْ ٱلنَّدَامَةَ﴾ "اسرار" درې معنى دى : اظهار د پښيمانتيا ،اخفاء د پښيمانتيا . او په زړه كښې پښيمانه كيدل . دلته درې واړه معنې صحيح دى . كه اوله معنى مراد شى نو معنى به داشى چه كله دوئ عذاب او وينى نو خپل ندامت به ښكاره كړى، كقوله تعالىٰ: ربّنا ابصرنا وسمعنا فارجعنا نعمل صالحاً، او كه دويمه معنى شى نو مطلب به دا شى چه هر يو به د بل نه خپل خپل ندامت پټ كړى د وجې د پيغور او شرم نه .او كه دريمه معنى مراد شى نو مطلب دا دې چه هر يو به په خپل زړه كښې پخپلو كارونو او په ترک د ايمان باندې پښيمانه وى .افسوس به كوى متبوعين به په ضلال اضلال دواړو باندې او اتباع به د ضلال په وجه،دادريمه معنى دلته زياته مناسبه ده﴿وَجَعَلۡنَا ٱلۡأَغۡلَٰلَ﴾يعنى د قيامت په ورځ په مونږ د كافرانو په ستونو كښې زنځيرونه واچوو .جهنم ته به راكاګو﴿هَلۡ يُجۡزَوۡنَ إِلَّا مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ﴾ يعنى دواړه فرقوته به د خپلو خپلو عملونو سزا وركولې

کیږی . متبوعینو نه د خپل جرم په وجه . اتباعو ته د خپل جرم په وجه . کقوله تعالیٰ ولکل ضعف ولکن لاّ تعلمون (اعراف : ۳۸).

وَمَآ اَرْسَلْنَا فِیْ قَرْیَةٍ مِّنْ نَّذِیْرٍ اِلَّا قَالَ مُتْرَفُوْهَآ ۙ اِنَّا بِمَآ اُرْسِلْتُمْ بِهٖ

اونه وو لیږلي مونږ په یو کلي کښې هیڅ پیغمبر مګر ویل به مشرانو دهغې .چې بیشکه مونږه په هغې چې تاسو الیږلي شوي یئ

كٰفِرُوْنَ ۝ وَقَالُوْا نَحْنُ اَكْثَرُ اَمْوَالًا وَّاَوْلَادًا ۙ وَّمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِیْنَ ۝

کفرکونکی یو .او اویل دوئ چې مونږ زیات یو په مالونو او اولادونو کښې .او مونږته به عذاب نشي راکولي.

﴿وَمَآ أَرْسَلْنَا فِي قَرْيَةٍ مِّن نَّذِيرٍ﴾ دا تخویف دنیوی دې .او تسلی ده حضور ﷺ ته .چه د مکی د رؤساؤ او غنیانو د اعراض او سرکشئ پو جه مغموم او مه خفه کیږه په هره زمانه کښې د انبیاؤ الله او د حق محالفت هم دا سې بدبختو مالدارانو او مشرانو کړیدې ځکه چې دولت او ثروت نشه او د عزت او اقتدار غوښتلو جذبه د انسانانو سترګې ړندې کړې .﴿إِلَّا قَالَ مُتْرَفُوهَآ﴾جمع دَ "مترف" ده.د "ترف" نه مشتق دې . د ناز او نعمت زیاتوالی ته وائي ای المتوسعون فی النعم (روح) مراد ورنه مالداره او د قوم مشران دی . تخصیص د دوئ ځکه اوشو چه اغلب او اکثر تکذیب کونکی دوئ وی .ځکه چه دوئ د دنیا په عیش عشرت کښې مبتلا وی .شهواتو کښې منهمک وی . د کمزورو خلقو اهانت هم دوئ کوی . په خلاف د فقراء نه چه زړونه ئي خیر طرف ته زر متوجه کیږی پدې وجه اکثر اتباع د انبیاؤ فقراء وؤ. لکه په حدیث د هر قل کښې مذکوردی. ابن کثیر رحمه الله په روایت د ابن حاتم نقل کړیدی چه په زمانی د جاهلیت کښې دوه کسان په یو کاروبار کښې شریک وؤ . بیا د یو بل نه جدا شول . یو په مکه کښې پاتی شو او بل ساحلی علاقو ته لاړو . کله چه حضور ﷺ مبعوث شو نو ساحلی علاقی والا سړی خپل مکيّ والا ملګری ته خط اولیږلو او دَحضور ﷺ د حال نې ورنه معلومات وکړل چه تاسو خلقو د حضور ﷺ نه څه اثر اغستې دې نو ده ورته په جواب کښې اولیکلو چه کمزورو خلقو ئي خبره منلی ده . او مالدارو خلقو ئی اتباع نه ده کړې . هغه ته چه دا خط ورسیدلو نو فوراً مکې ته راغې . معلومات ئی اوکړل د حضور ﷺ خوا ته حاضرشو او تپوس ئي ورنه اوکړو چه ته خلق څه څیز طرف ته راغواړې .نبی کریم ﷺ ورته اسلام ارکان بیان کړل . هغه ګواهی ورکړه . چه اشهد انک رسول الله او مسلمان شو . حضور ﷺ ورته تپوس اوکړو چه تا د دی

خبري تصديق څنګه اوکړو نو دا ورته عرض وکړو چه په ابتداء کښې د ټولو انبیاؤ منونکي ضعیف او مسکین خلق وی (ابن کثیر)

﴿وَقَالُوا نَحْنُ أَكْثَرُ أَمْوَالًا وَأَوْلَادًا﴾ مفضل علیه محذوف دے .ای نحن اکثر منکم اموالاً یعنی زمونږ مالونه او اولادونه د مؤمنانو نه زیات دی . نو دا دلیل دي زمونږ په حقانیت باندې . کچرته مونږ د الله ﷻ خوښ نه وؤ نو بیاولي هغه مونږ له زیات مال او اولاد راکړیدي ؟ ﴿وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ﴾ مونږ ته به هیڅ قسم عذاب نه راکولي کیږي.دوئ قیاس کړل امور او حالت دَ آخرت په امور د دنیا او حالت باندې.چه څرنګه مونږ په دنیا کښې په نعمتونو کښې یو دغه رنګه به په آخرت کښې هم یو

قُلْ إِنَّ رَبِّي يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَشَاءُ وَيَقْدِرُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ۝

ته ووایه چې بیشکه رب زما فراخه کوي رزق چاته چې ئې خوښه شي او تنګوي رزق.لیکن ډیر دَ خلقونه نه پوهیږي.

وَمَا أَمْوَالُكُمْ وَلَا أَوْلَادُكُمْ بِالَّتِي تُقَرِّبُكُمْ عِنْدَنَا زُلْفَىٰ إِلَّا مَنْ

او ندی مالونه ستاسو او نه اولاد ستاسو په هغه مقام کښې چې قریب کړي تاسو مونږ ته په قریب کولو سره مګر هغه څوک

آمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَأُولَٰئِكَ لَهُمْ جَزَاءُ الضِّعْفِ بِمَا عَمِلُوا وَهُمْ

چې ایمان ئې راوړې وي او عمل کوي نیک،نو دغه کسان دوئ لره بدله ده دوه چنده،په سبب دَعملونو دَدوئ او دوئ به

فِي الْغُرُفَاتِ آمِنُونَ ۝ وَالَّذِينَ يَسْعَوْنَ فِي

په بالاخانو دَجنت کښې د امن په حالت کښې به وی او هغه کسان چې کوشش کوی

آيَاتِنَا مُعَاجِزِينَ أُولَٰئِكَ فِي الْعَذَابِ مُحْضَرُونَ ۝

دَ باطلولو دَ آیاتونو زمونږ ګمان یې داوی چې عاجزه کونکي دی مونږ لره دغه کسان به په عذاب کښې حاضرولي شي.

﴿قُلْ إِنَّ رَبِّي يَبْسُطُ الرِّزْقَ﴾ دا دریم دلیل عقلي دي په توحید ،او رددې د کافرانو د مذکوری خبری . یعنی ډیروالي د رزق او مالداری دلیل د حقانیت نه دې ، او نه کموالي او غربت د باطل والی دلیل دې . بلکه دا خو د الله ﷻ تکوینی مصلحتونو باندی مبنی دې ، نو په دې باندې ثواب عقاب نه دی قیاس کول پکار ځکه چه دارومدار د هغې په طاعت او عدم طاعت باندې دې. ﴿وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ

آلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴾.اکثر خلق نه پوهيږي نو گمان کوی چه دعزت اوشرافت اوحقانيت مالداری ده.اومعيار دحمارت اودباطل غربت دي

﴿وَمَآ أَمْوَٰلُكُمْ وَلَآ أَوْلَـٰدُكُم ﴾ دا زجر دي کافرانو ته .چې دوئ وائ چې زمونږ مال اواولاد زيات دي لهذا مونږه غوره يو اومونږله به عذاب نه راکولې کيږي،الله ﷻ ورته فرمائ چې بالکل غلط خبره ده. مال او د اولاد کثرت دَ الله ﷻ د قربت علامت نه دي او نه دقرب حاصلولو سبب دي . بلکه ايمان او عمل صالح د قرب سبب دي﴿ بِٱلَّتِي﴾صفت دي د موصوف محذوف ای بالخصلة و المکانة التی﴿ زُلْفَىٰٓ﴾ مفعول مطلق دي﴿تُقَرِّبُكُمْ ﴾ دپاره.من غير لفظه ، قربت ته وائ ﴿إِلَّا مَنْ ءَامَنَ وَعَمِلَ صَـٰلِحًا ﴾ استثناءَ "كم" ضمير منصوب نه ده په "تقربكم" کښ يعنی مال اواولاد تاسوله څه نفع نشی درکولې خکه چې تاسو کافران يئ.داخوصرف مؤمنانو له نفع ورکوی .چې مال دَالله ﷻ په لار کښ خرچ کړی.اوخپل اولاد صحيح تربيت اوکړی اودين ورباندئ زده کړی.بعض وائ استثناء ده د﴿وَمَآ أَمْوَٰلُكُمْ وَلَآ أَوْلَـٰدُكُم ﴾ نه . په حذف د مضاف سره : ای الا اموال من آمن وعمل صالحاً واولاد هم (روح)

﴿جَزَآءُ ٱلضِّعْفِ ﴾اضافت دَمصدردي مفعول ته ،"ٱلضِّعْف"مصدردي دوه چنده کيدلو ته وائ ليکن دلته ورنه مرادمطلق زياتوالي دي،لکه څنگه چه دولت والاخلق په دنياکښ خپل دولت زياتولو کوشش کوی ،الله ﷻ به په آخرت کښ د مؤمنانو اعمال زياته وی ، د يوې نيکئ اجر به کم نه کم لس گنه زياته وی ،کقوله تعالیٰ: من جآء بالحسنة فله عشر امثالها ،﴿وَهُمْ فِى ٱلْغُرُفَـٰتِ ءَامِنُونَ﴾جمع د غرفة ده مراد ورنه بالاخاني د جنت دی.﴿ ءَامِنُونَ﴾دَهر قسمه تکليف نه به په امن کښ وی

﴿وَٱلَّذِينَ يَسْعَوْنَ فِىٓ ءَايَـٰتِنَا ﴾ ای فی ابطال آياتنا.دا تخويف اخروی دي کافرانو ته، چه د قرآن د آياتونو او احکامو خلاف منصوبې جوړه وی نو دوئ به په آخرت کښ هميشه په عذاب د جهنم کښ پراته وی،﴿ مُعَـٰجِزِينَ﴾ ای طالبين تعجيزها ، يعنی طلب کونکی او اراده لرونکی د عاجزه کولو د آياتونو او د دين د الله ﷻ . يعنی دا گمان کوی چه مونږ به الله ﷻ او د هغه رسول مغلوب عاجز کړو.

قُلْ إِنَّ رَبِّى يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ وَيَقْدِرُ لَهُۥ ۚ
ته اووايه بيشکه رب زمافراخه کوی رزق چالره چې ئې خوښه شي دبندګانوخپلونه اوتنګوی هغه لره رزق

وَمَآ اَنْفَقْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهٗ ۚ وَهُوَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ۝٣٩

اوهغه چي خيرات كړئ تاسو څه خيرپه لاره دالله ﷻ كښې نو الله ﷻ به دهغې بدله دركوي. او هغه بهترين رزق وركونكى دى

وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيْعًا ثُمَّ يَقُوْلُ لِلْمَلٰٓئِكَةِ اَهٰٓؤُلَآءِ اِيَّاكُمْ كَانُوْا يَعْبُدُوْنَ ۝٤٠

اوپه هغه ورځ چي راجمع به كړي دوئ ټول بيابه وائ الله ﷻ ملائكوته آيا دا خلق وو چي تاسو به ئې ستاسو به ئې عبادت كولو

قَالُوْا سُبْحٰنَكَ اَنْتَ وَلِيُّنَا مِنْ دُوْنِهِمْ ۚ بَلْ كَانُوْا يَعْبُدُوْنَ الْجِنَّ ۚ اَكْثَرُهُمْ

اوبه وائي دوئ پاكي ده تالره .ته زمونږ دوست ئې ، دوئ نه دي .بلكه وو دوئ چي عبادت به ئې كولو د شيطانانو د ډيرو دوئ نه

بِهِمْ مُّؤْمِنُوْنَ ۝٤١ فَالْيَوْمَ لَا يَمْلِكُ بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ نَّفْعًا

په هغوئ شيطانانو ، باندي ايمان راوړنكي وو .پس نن ورځ ندي مالك څوك د ستاسو نه حالپاره د نفع رسولو

وَّلَا ضَرًّا ۗ وَنَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ذُوْقُوْا عَذَابَ النَّارِ الَّتِيْ كُنْتُمْ بِهَا تُكَذِّبُوْنَ ۝٤٢

اونه د ضرررلري كولو .اوبه وايو مونږ ظالمانو (مشركانو) ته او څكئ عذاب د هغي اُورچي وئ تاسو د هغي تكذيب موكولو

﴿قُلْ اِنَّ رَبِّيْ يَبْسُطُ الرِّزْقَ﴾ دا د دريم دليل اعاده ده .هغي كښې رد وو . په كافرانو .دلته وعظ نصيحت دي مؤمنانو ته ، چه د الله ﷻ په لاره كښې مال خرچ كړئ او د الله قرب حاصل كړئ . د فقر او افلاس نه مه يريږئ ، الله ﷻ به د هغي عوض دركوي. د ﴿يُخْلِفُهٗ﴾ معنى " يعطي بدله " د هغي بدل او عوض به الله ﷻ دركوي .كه د مال په صورت كښې وي يا د قناعت او قلبي غناء په شكل كښې چه دا داسي خزانه ده چه فناء پري نه راځي ، يا په آخرت كښې به ئې ثواب دركړي . چه دا حتمي او لازمي دي. د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دي چه حضور ﷺ فرمائي. ما من يوم يصبح العباد فيه الا ملكان ينزلان فيقول احدهما: اللهم اعط منفقاً خلفاً، ويقول الاخر: اللهم اعط ممسكاً تلفاً(بخاري ومسلم).

ترجمه يعني هرسحر دوه فرشتې راكوزيږي،يوه فرشته داوائ.اې الله خرچ كونكى ته د هغي بدله وركړه.او نه، خرچ كونكى شته مال هم تباه كړه

جابر بن عبد الله نه روایت دي چه نبی کریم ﷺ فرمائی کل ما انفق العبدنفقة فعلی الله تعالی خلفها ضامناً الا نفقةً فی بنیانٍ او معصیة .یعنی بنده څه مال هم خرچ کوی الله ﷻ دهغې عوض ذمه اغستې ده سوا دتعمیر اودګناهونو خرچونه ‹روح المعانی،ازبیهقی›

﴿وَيَوۡمَ يَحۡشُرُهُمۡ جَمِيعٗا﴾داتخویف اخروی دي مشرکانو ته،اوملائکو باره کښې چې دَ مشرکینو کوم خیال اوشبه وه نو په زبان دَ ملائکو دهغې تردید اوجواب حکایت کیږي،یعنی الله ﷻ به قیامت په ورځ دوئ هم خپل عدالت کښې حاضر کړي اوفرشتې هم ، بیابه دَ فرشتو نه تپوس اوکړي چې آیا دوئ ستاسوپه رضا اووینا سره ستاسو عبادت کولو ،فرشتې به ورنه براءت اعلان اوکړی چې دوئ دراصل دَ شیطان عبادت کولو ،چې څه به ئې ورته وئیل هغه به ئې منل﴿يَحۡشُرُهُمۡ﴾کښې هم ضمیر عابدینو اومعبودینو دواړوته راجع دي،لکه سورت الفرقان کښې دی: ویوم یحشرهم وما یعبدون من دون الله. ﴿أَهَٰٓؤُلَآءِ إِيَّاكُمۡ﴾ اشاره مشرکانو ته ده چه آیا دي ګمراهانو به ستاسو عبادت کولو ،داسوال کول دتوبیخ او لاجوابه کولو د مشرکانو دپاره دي، ځکه چه الله ﷻ عالم دي په منزه والی د ملائکو او دغه رنګه د عیسیٰ ؑ.

﴿قَالُواْ سُبۡحَٰنَكَ أَنتَ وَلِيُّنَا مِن دُونِهِم﴾ دادَفرښتو جواب دي چه یا الله ﷻ ستا ذات پاک دي،منزه دي د شریک نه مونږ خوستا ولایت اودوستی غواړو. ستادشمنانو سره دوستی نه کوؤ نوبیا څنګه کیدیشی ،چې مونږ ورته داوئیلی وی﴿بَلۡ كَانُواْ يَعۡبُدُونَ ٱلۡجِنَّ﴾بل دَ اضراب انتقالی لپاره دي، یعنی دوئ چې زمونږ عبادت کولو دایې زمونږ په رضا اووینا سره نه کولو ،بلکه شیطان په وینا اولمسون سره یې کولو ،اود هغه اطاعت کولو. ﴿ٱلۡجِنَّ﴾نه مراد شیطان دي،!ودَ اطاعت نه تعبیر په عبادت سره اوشو ځکه چې ناجائز امر کښې چااتباع دادرحقیقت دَ غیر الله عبادت دي ﴿أَكۡثَرُهُم بِهِم مُّؤۡمِنُونَ﴾ دویم ضمیر جناتو ته راجع دي او اول مشرکانو ته راجع دي یعنی دَ دوئ اکثریت شیاطینو تابع فرمان وو ،چې هغوئ به ورته څه وئیل هغهٔ ئې منلو﴿أَكۡثَرُهُم﴾یا خپلې حقیقی معنی کښې دي ځکه چې بعض مشرکین داسې هم وو چې فرشتو دَالوهیت قائل نه وؤ. اودې باره کښې ئ دَ شیاطینو خبره نه منله،اویا اکثر پمعنی دَ کل کښې دي،چې دامشرکینو ټول دَ شیطانانو خبرې منی ،خو احتیاط دَوجهې نه تعبیر ئې په اکثر سره اوکړو.

﴿فَالْيَوْمَ لَا يَمْلِكُ بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ﴾ د مشرکانو د رسواکولو دپاره به الله ﷻ د قيامت په ورځ فرشتو حال ښکاره کړي چه نن ورځ دوئ د يوې ذرې برابر هم تاسو ته نفع نشي درکولې نه شفاعت کولې شي او نه درنه ذرې برابر تکليف لرې کولې شي ﴿بَعْضُكُمْ﴾ نه مراد معبودين دي او ﴿لِبَعْضٍ﴾ نه مراد عابدين دي (روح المعاني) ﴿وَنَقُولُ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا﴾ عطف دې په ﴿يَقُولُ لِلْمَلٰٓئِكَةِ﴾ د ظالمانو نه مراد دلته مشرکان دي ﴿عَذَابَ النَّارِ الَّتِي﴾ "الَّتِي" صفت دې د "النَّارِ" په دې وجه ورته "بِهَا" ضمير د مؤنث راجع دې ، او په سورة سجده (۲۰) کښې :عذاب النار الذي، "الذي" صفت دعذاب دې . نو په دې وجه ورته (به) ضمير د مذکر راجع دې

وَإِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ قَالُوْا مَا هٰذَآ اِلَّا رَجُلٌ يُّرِيْدُ

اوکله چې لوستلې شي پدوئ باندې اياتونه زمونږواضحه دوئ وائي ندې داپيغمبرمګريوسړې دې اراده لرې

اَنْ يَّصُدَّكُمْ عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ اٰبَآؤُكُمْ ۚ وَقَالُوْا مَا هٰذَآ اِلَّآ اِفْكٌ مُّفْتَرًى ۭ

چې منع کړي تاسو دهغې نه چې عبادت به ئې کولوپلارانوستاسو.اووائې دوئ ندی دا مګردروغ جوړکړې شوې دی.

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ ۙ اِنْ هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ۝ وَمَآ اٰتَيْنٰهُمْ

اواويل کافرانو په باره دحق کښې هرکله چې راغې دوئ ته،ندې دامګرجادوښکاره.اوندې ورکړې مونږدوئ ته

مِّنْ كُتُبٍ يَّدْرُسُوْنَهَا وَمَآ اَرْسَلْنَآ اِلَيْهِمْ قَبْلَكَ مِنْ نَّذِيْرٍ ۝ وَكَذَّبَ الَّذِيْنَ

کتابونه چې دوئ بې لولې هغه اوندې ليږلې مونږ دوئ ته مخکښې ستانه هيڅ پيغمبر اوتکذيب کړې وؤهغه کسانو

مِنْ قَبْلِهِمْ ۙ وَمَا بَلَغُوْا مِعْشَارَ مَآ اٰتَيْنٰهُمْ

چې مخکښې وؤدوئ نه. اوندې رسيدلي داموجوده کافران لسمې حصې دهغې ته چې مونږورکړې وؤهغوئ ته.

فَكَذَّبُوْا رُسُلِيْ ۫ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ۝

نوتکذيب کړې وؤهغوئ زمادرسولانو.نوڅنګه وؤګرفت زما

﴿وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٍ﴾دا شکوه ده د ضد او عناد د مشرکانو نه . چه کله دوئ ته حضور ﷺ زمونږ آياتونه تلاوت کوی ، او توحيد ته ئې راغواړی نو دوئ وائی دا سړې خو نه رسول دې نه نبی دې . بلکه مقصد ئې فقط زمونږ آبائ دين ختمول دی﴿قَالُوا۟ مَا هَٰذَآ إِلَّا رَجُلٌ﴾اشاره حضور ﷺ ته ده ،والاشارة للتحقير قاتلهم الله﴿عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ ءَابَآؤُكُمْ﴾ اضافت د اباؤ مخاطبين ته د وجې د زبات غيرت پيدا کولو نه دې.يعنی دا سړې تاسو د هغه دين نه منع کوی چه ستاسو آباؤ اجدادو نه تاسو ته پاتې دې .﴿وَقَالُوا۟ مَا هَٰذَآ﴾ اشاره قرآن ته ده ،دلته هم اشاره د تحقير لپاره ده.﴿وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لِلْحَقِّ﴾ دَحق نه مراد نبوت يا قرآن دې ، يعنی کافران وائی چه خامخا دا دعوه د نبوت چه ورسره معجزې هم دی.يا دا اسلام چه د ښځې خاوند . پلار او خوی په مينځ کښی جدائی راوستونکې دې . يا دا قرآن چه د خلقو زړونه ورنه متاثره کيږی.داندې مگر ښکاره جادو دې(روح المعانی)

﴿وَمَآ ءَاتَيْنَٰهُم﴾ ضمير راجع دې اهل مکه ؤ ته.تخويف دنيوی دې ورته. چه دوئ هم کچرته مخکنی قومونوپه شان په غيرد څه دليل نه تکذيب کوی نولکه څنګه چه هغوئ هلاک شول دوئ باندی به هم خما عذاب راشی ﴿مِّن كُتُبٍ يَدْرُسُونَهَا﴾ يعنی مونږه دوئ ته داسی هيڅ يو کتاب ندې ورکړې چه د شرک تعليم وی پکښی او﴿وَمَآ أَرْسَلْنَآ إِلَيْهِمْ قَبْلَكَ مِن نَّذِيرٍ﴾ نه مو داسی رسول ورته ليږلې دې چه شرک دعوت ورته ورکوی ،نو د کوم دليل په بنياد دوئ شرک کوی اودَحضور ﷺ تکذيب کوی . يا د آيت مطلب دا دې چه دا اهل مکه محض اميان دی .نه ورسره سماوی کتاب شته او نه ورته نبی مبعوث شويدې. كما قال تعالىٰ : ام اتينا هم كتاباً من قبله فهم به مستمسكون : (الزخرف : ٢١) نو د دوئ سره په تکذيب څه دليل نشته. لکه اهل کتاب وائی.اگر چه په باطله دی. چه مونږ اهل کتاب يو . اهل شرع يو . د خپل دين نسبت يو رسول ته کوی . ليکن تاسو سره خو دا دليل باطل هم نشته نو تاسو ولې تکذيب کوئ(روح ، بحر).

ده نبی کريم ﷺ نه مخکښ قريشوته بل پيغمبر يا نبی راغليدې اوکنه؟دابحث په سورة القصص اوږ الم سجده کښ تير شويدې.هلته يې ملاحظه کړئ اوڅه تفصيل بې په سورة يس کښ هم راروان دې.

﴿وَكَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ﴾لکه قوم نوح هود .عاد و غيره﴿وَمَا بَلَغُوا۟﴾ يعنی اهل مکه.﴿مِعْشَارَ مَآ ءَاتَيْنَٰهُمْ﴾ ضمير مخکني امتونو ته راجع دې. مِعْشَار عشر يعنی (١٠) لسمی حصی ته وائی . بعضْ

ـه نیز عشرالعشیر یعنی سلمه حصی ـه واني . بعضی په نیز عشر معشرات ـه واني . یعنی زرمه ۱۰۰۰ حصـه . یعنی دی اهل مکه ؤ ـه د مخکنی امتونو هومره اوږده عمرونه . جسماني . مالي قوتونه . چه هغوئ ته ورکړې شوی وو . د هغی عشرالعشیر هم ندې ورکړې شوې . نو هغوئ څنګه خمـ په عذاب سره هلاک شول نو ستاسو به څه حال وی چه عذاب درباندی راشی. ﴿فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ﴾ ی انکاری

قُلْ اِنَّمَآ اَعِظُكُمْ بِوَاحِدَةٍ ۚ اَنْ تَقُوْمُوْا لِلّٰهِ مَثْنٰى وَفُرَادٰى ثُمَّ تَتَفَكَّرُوْا ۗ

ته اووایه بیشکه زه وعظ کوم تاسو ته د یوی خبری هغه دا چي اودریږئ الله تعالی لپاره دوه دوه او یو یو بیا سوچ اوکړئ.

مَا بِصَاحِبِكُمْ مِّنْ جِنَّةٍ ۭ اِنْ هُوَ اِلَّا نَذِيْرٌ لَّكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيْدٍ ۝

ستاسو په ملګري باندی هیڅ لیونتوب نشته .نه دی.دی مګر یره ورنکی دی ستاسو د یاره مخکښې د عذاب سخت نه

قُلْ مَا سَاَلْتُكُمْ مِّنْ اَجْرٍ فَهُوَ لَكُمْ ۭ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ ۚ

ته اووایه هغه چي سوال کوم څه ستاسو نه د څه اجر مزدوري نو هغه دي ستاسو وی.ندې اجر زما مګر په الله جل جلاله دی.

وَهُوَ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ۝ قُلْ اِنَّ رَبِّيْ يَقْذِفُ بِالْحَقِّ ۚ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ ۝

او الله جل جلاله په هر څیز باندی ګواه دی.ته اووایه بیشکه رب زما نازلوی حق.ډیر پوهیدونکي دی په غیبونو باندی.

قُلْ جَآءَ الْحَقُّ وَمَا يُبْدِئُ الْبَاطِلُ وَمَا يُعِيْدُ ۝

ته اووایه راغی حق . او څه نوې کارکولې نه شی باطل او نه زوړ سرته رسولې شی

﴿قُلْ إِنَّمَآ أَعِظُكُم بِوَٰحِدَةٍ﴾ ای بکلمة وبخصلة واحدة . دا خلورمه طریقه د تبلیغ ده. په دیکښی توحید او رسالت ته ترغیب دې . چه اې مشرکانو ضد او عناد پریږدئ . الله جل جلاله ته په اخلاص سره متوجه شئ . بیا غور فکر اوکړئ نو تاسو ته به پخپله معلومه شی چه دا پیغمبر ﷺ څه لیوني نه دې چه ستاسو په هدایت باندی دومره مشقت کوی بلکه دا خو د الله جل جلاله د طرفه د عذاب شدید راتلونه مخکی یره ورنکی دی. ﴿أَن تَقُومُوا لِلَّهِ﴾ په تاویل د مصدر سره یا بدل دې د واحدة نه یا خبر د مبتدا محذوف دې ای هی قیامکم.قیام نه مراد قیام حسّی نه دې بلکه مراد ورته متوجه کیدل او کوشش

کول دی. (روح) د ﴿لِلَّهِ﴾ لفظ په ذکر کولو کښې اخلاص طرف ته اشاره ده چه د ضد او عناد نه خالی الذهن شي چه د حق قبولو استعداد. صلاحيت در کښې پيدا شي﴿مَثْنَىٰ وَفُرَادَىٰ﴾يعنی جدا جدا دوه دوه يا يواځې يواځې.ځکه چه په ازدحام کښې سړې صحيح فکر نشی کولې. بعضی وائی عدد خاص مقصود نه دې بلکه مقصد دا دې چه د فکر کولو دوه طريقې وی . په خلوت کښې يواځې پخپله غور کول يا د نورو سره مشوره کول نو چه پدی دواړو طريقو کښې کومه چه ستاسو خوښه وی هغې طريقې سره سوچ اوکړئ . بعضی وائی مراد ورنه د ورځې او د شپې سوچ فکر کول دی ، ان المثنی عمل النهار والفرادی عمل الليل (قرطبی)﴿ثُمَّ تَتَفَكَّرُوا ۚ مَا بِصَاحِبِكُم مِّن جِنَّةٍ﴾ صاحب (ملگری) نه مراد حضور ﷺ دې . تعبير ورنه په لفظ د صاحب سره کولو کښې ديته اشاره ده چه کچرته يو سړې د بهر نه راشی ،حالاتو نه ئی واقف نه وی نو د مجنون شبه پرې کيدلې شی . ليکن حضور ﷺ خو ټول عمرستاسو سره اوسيدلې دې د هغه د احوالو. اقوالو .اعمالو نه تاسو ښه واقف يئ . د ده عقل . پوهه .امانت. ديانت د پخوانه مسلم او معروف دې . د کمالات بشريه ؤ جامع دې . نو په تاسو واجبه ده چه تصديق ئي اوکړئ.

﴿قُلْ مَا سَأَلْتُكُم مِّنْ أَجْرٍ فَهُوَ لَكُمْ ۖ﴾ دا پنځمه طريقه د تبليغ ده . چه الله ﷻ پدی گواه دې چه تاسو ته د تبليغ کولو نه مقصد ځما أجرت اخستل،مال کټل نه دی بلکه ځه خالص د الله ﷻ د رضا دپاره تبليغ کوم،نو تاسو ولې ځما تصديق نه کوئ﴿فَهُوَ لَكُمْ﴾کنايه ده د دينه چه بالکل ځه نه غوارم . والمراد د نفی السوال رأساً (روح) ﴿وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ﴾ الله ﷻ په هر څه خبردار ، گواه دې ، نو ځما په خلوص ، نيت ، صداقت هم گواه دې.

﴿قُلْ إِنَّ رَبِّي يَقْذِفُ بِالْحَقِّ﴾ دا شپږمه طريقه د تبليغ ده ﴿يَقْذِفُ﴾ قذف ويشتلو ته وائی،دلته ئي مفسرينو درې معنې کړې دي:(۱)يو دا چې دينه مراد نازلول او القاء کول دي ،او حق نه مراد قرآن او وحي ده . يعني الله ﷻ ستاسو هدايت دپاره قرآن او وحي راليږلي دي ، لهذا تاسو د دې اتباع اوکړئ او په احکاماتو ئي عمل اوکړئ،(۲) دويم دا چې دې معنی "بيان" ده ، يعني ځما رب حق بيانوي ، هغې ته غور کيدئ ، (۳) دريمه معنی ئي د غلبې او اظهار شوې ده ، چې ځما رب به حق له غلبه ورکوي ، لهذا تاسو ئي د اوس نه اتباع اوکړئ.

﴿قُلْ جَآءَ الْحَقُّ﴾ دا (۷) اومه طريقه د تبليغ ده په طور د پيشنګويۍ. چه حق به غالبه کيږی .او باطل به مغلوب کيږی. د(حق) نه مراد اسلام دې.يا قران.﴿وَمَا يُبْدِئُ الْبَاطِلُ﴾ باطل نه مراد کفر.شرک دې. داکنايه ده دَبالکل ختميدلونه.اوچې هيڅ رمق پکښې نشې پاتې .څکه چې ژوندې ځيز يا خوځه نوې کارکوی اويازوږ سرته رسوی.نو الله ﷻ فرمائی چې" مايبدئ" اوس به باطل نه څه نوې منصوبې جوړولې شی "ومايعيد" اونه به ئی زاړه خوبونه پورا شی يا مراد د باطل نه معبودان باطله دی او مطلب دا دې چه معبودان باطله نه اول څل پيدا کول کولې شی او نه دوباره پيدا کول کوليشی يا ﴿مايبدئ﴾ نه مراد دنيا کښې نفع ورکول دی او ﴿يعيد﴾نه مراد آخرت کښې نفع رسول دی. روح المعانی)

قُلْ إِنْ ضَلَلْتُ فَإِنَّمَآ أَضِلُّ عَلٰى نَفْسِيْ ۚ وَإِنِ اهْتَدَيْتُ
اووايه کچرې څه ګمراه يمه(بفرض محال) نوبيشکه څمادګمراه کيدلو نقصان به په ماوی.اوکچرې څه په هدايت يمه
فَبِمَا يُوْحِيْٓ إِلَيَّ رَبِّيْ ۭ إِنَّهٗ سَمِيْعٌ قَرِيْبٌ ۞ وَلَوْ تَرٰٓى إِذْ فَزِعُوْا
نوپه دې وجه چې وحي کوي ماته رب زما.بيشکه هغه اوريدونکې دې نژدې دې.اوکچرې اووينې ته کله چې دوئ ګبراوْتې.
فَلَا فَوْتَ وَأُخِذُوْا مِنْ مَّكَانٍ قَرِيْبٍ ۞ وَّقَالُوْٓا اٰمَنَّا بِهٖ ۚ
نونه به وي خلاصيدل ددوئ زمونږنه.اوابه نيولې شي دَځائ نژدې نه اوابه وائی دوئ ايمان راوړې دې مونږپه دې باندې.
وَأَنّٰى لَهُمُ التَّنَاوُشُ مِنْ مَّكَانٍ بَعِيْدٍ ۞ وَّقَدْ كَفَرُوْا بِهٖ مِنْ قَبْلُ ۚ
او چرته به دوئ ته په ګتو راتلی ايمان دَځائ لرې نه.اوپه تحقيق دوئ کفرکړې ووپدې باندې مخکښې په دنياکښې
وَيَقْذِفُوْنَ بِالْغَيْبِ مِنْ مَّكَانٍ بَعِيْدٍ ۞ وَحِيْلَ بَيْنَهُمْ
او اندازې ئي لګولې دَ غيب په باره کښې دَځائ لرې نه.اوحائل(رکاوټ)به واچولې شي په مينځ دَدوئ کښې
وَبَيْنَ مَا يَشْتَهُوْنَ كَمَا فُعِلَ بِأَشْيَاعِهِمْ مِّنْ قَبْلُ ۭ إِنَّهُمْ
اوپه مينځ دَهغه څه کښې چې دوئ ئی غواړي(ايمان)لکه داکاربه اوکړيشي دَهلودَدوئ سره چې مخکښې وې.بيشکه دوئ

كَانُوا۟ فِى شَكٍّ مُّرِيبٍۭ ﴿٥٤﴾
وو په داسې شك كښې چې ډير تردد كښې اوچونكې وو

﴿قُلْ إِن ضَلَلْتُ فَإِنَّمَآ أَضِلُّ عَلَىٰ نَفْسِى﴾ دااتمه (٨) طريقه دَتبليغ ده،دې كښې په مخاطبينو باندې تعريض دې.او پدې عنوان كښې تلطف دې لپاره د دې چه مخاطب كښې اشتعال رانشي،يعنې دا كفار مكه تاته وائې چې تاخپل آبائې دين پريخودو نوته گمراه شولې.نو ته ورته اوايه كچرته ځه گمراه يم نو ځمادګمراهي وبال به صرف په ماوي،ځمانه به ددې تپوس كولې كيږي.تاسوته ئې هيڅ نقصان نشته،اوكچرته ځه په هدايت يم دَالله ﷻ وحې په سبب نو بياتاسوله دهغې اتباع پكارده،كچرته حق طلب دركوي نو الله ﷻ سميع ذات دې هرڅه اوري.حق ته به خوراهنمائې اوكړي،اوكه حق طلب دركښې نه وي اوخاني لې عنادنه كار اخلئ نو بياواورئ چې الله ﷻ قريب ذات دې هلاك او برباد به موكړي

﴿وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذْ فَزِعُوا۟﴾ دا تخويف اخروي دې فزع نه مرادقبر نه پورته كيدو وختِ كښې خوف او هيبت دې يعنې دابه ډير خوفناك حالت وي چې دوئ به قبر نه‌خوف وهيبت كښې پورته شي اوالله ﷻ به ئ فورا خپل عذاب كښې گرفتار كړي ،مفعول د ﴿تَرَىٰٓ﴾ محذوف دې چه "الكفار" دې ، يا (فزعهم) دې .او جواب د (لو) هم محذوف دې چه لرايت امراً هائلاً (روح)﴿فَلَا فَوْتَ﴾ يعنې دَ تيختې ځائ به ورته نه ميلاويږي.چې ازتختې دَ الله ﷻ نه بچ شي﴿وَأُخِذُوا۟ مِن مَّكَانٍ قَرِيبٍ﴾اي من القبور. يعنې تختيدلې به نشي . قبرسره به بالكل نيزدې راونيولې شي داكنايه ده دَسرعت عذاب نه ﴿وَقَالُوٓا۟ ءَامَنَّا بِهِۦ﴾دې وخت كښې به بيا دوئ وائ چې مونږ ايمان راوړو،﴿به﴾هاضمير نبي ﷺ ته راجع دې ځكه چې ايمان په نبي ﷺ ،الله ﷻ ، قرآن اوآخرت ټولو باندې ايمان ته شامل دې ﴿وَأَنَّىٰ لَهُمُ ٱلتَّنَاوُشُ﴾دَايمان ځائې خودنياوه.اوس دلته آخرت كښې ايمان چرته معتبر دې ﴿انی﴾استبعاد لپاره دې.﴿ٱلتَّنَاوُشُ﴾ تناوش وئيلې كيږي،تناول الشئ باطراف الاصابع من بعد يعنې دَلرې يوشې دګتو په ځوكو رانيول [كذا في الكنزالثمين]اودايوځيز ته دَرسيدلو انتهائې درجه وي.نو مطلب دادې چې اوس دَ دوئ ايمان اعتبار بالكل ناممكن دې﴿مَّكَانٍۭ بَعِيدٍ﴾ نه مراد دنيا ده.يعنې د ايمان راوړلو ځائ خود

دنیا ده چه دارالعمل ده . هغی نه خو اوس دوئ اخرت ته راغلل . آخرت خو دارالجزاء ده. نو اوس به څرنګه دوئ د ایمان راوړی

﴿وَقَدْ كَفَرُوا بِهِ ﴾. ضمیر راجع دې هغې ته چه﴿ءَامَنَّا بِهِ﴾ ضمیر ورنه راجع دې﴿مِن قَبْلُ ﴾ یعنی په دنیا کښې.﴿وَيَقْذِفُونَ بِالْغَيْبِ﴾ څوک چه بلا دلیل محض ظنی.خیالی خبری کوی نو هغه ته د عربو په محاوره کښې قذف بالغیب او رجماً بالغیب وائی . دلته ورنه مراد دا دې چه دوئ به الله ﷻ ته د شریک نسبت کولو . قیامت او بعث بعدالموت نه منکر وو . حضور ﷺ باره کښې به یې وئیل چه ساحر . شاعر . کاهن . مجنون دې (نعوذ بالله) او د دې خبره ورسره هیڅ دلیل نه وو ﴿مِن مَّكَانٍ بَعِيدٍ﴾ای من جهة بعیدة، دې کښې تمثیل دې دحال ددوئ د حال د هغه کس سره چه د لرې نه یو څیزولی . وینی ئې نه.

﴿وَحِيلَ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ مَا يَشْتَهُونَ ﴾ حیل ماضی پمعنی د مضارع ده ای یُحال یعنی د دوئ او د دوئ د خواهش مینځ کښې به پرده حائله کړې شی یعنی خواهش به ئې پوره نه کړې شی . د خواهش نه مراد ابن عباس ﷺ فرمائی چه رجوع ده دنیا ته .بعض وائی ایمان قبلیدل دی .بعض وائی نجات میلاویدل دی د اور د جهنم نه ﴿كَمَا فُعِلَ بِأَشْيَاعِهِم ﴾ دلته هم صیغه دماضی پمعنی د مضارع ده﴿مِن قَبْلُ ﴾ متعلق دې د﴿ أَشْيَاعِهِم ﴾ سره یعنی لکه څرنګه چه د دوئ اشباه یعنی د مخکنی امتونو کافرانو خواهش به نشی پوره کولې کیدلې دغه شان به د دوئ خواهش نه شی پوره کیدلې.﴿إِنَّهُمْ كَانُوا فِي شَكٍّ مُّرِيبٍ﴾یعنی دوئ په باره د حضور ﷺکښې او دغه رنګه په باره د بعث کښې او جنت کښې په ډیر سخت شک کښې پراته وو.

ركوعاتها (٥)	سورة الفاطر مكية	آياتها (٤٥)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بيحده مهربان او ډير رحم كرنكي دي شروع كوم	

ترتيبها حسب التسلسل (٣٥) وحسب النزول (٤٣)

سورة الفاطرمكيّ دي،ترتيب قرآني لحاظ سره(٣٥)دي اوترتيب نزولِ اعتبار سره (٤٣) دي.نزلت بعد الفرقان.دې سورة ته سورة الملائكه هم وائي

ربط معنوي: ماقبل سورة سره ئې ربط معنوي دادې چې دعوه اومضمون دَدې سورة مرتب دې په ماقبل باندې.ماقبل سورة السباء كښې نفي دَشفاعت قهري يعني شفيع بلااذنه اوشوه نودې سورة كښې ترقي ده چې﴿ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ ۚ وَالَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِهِ مَا يَمْلِكُونَ مِن قِطْمِيرٍ﴾يعني شفاعت خو څه چې د كجهورې هډوكي دپټ مالكان هم نه دى

ربط اسمي په سورة السباء كښې ددې خبرې ذكروو چې قوم سبا دَ توحيد نه انكار په وجه هلاک شوى وواوس دې كښې په دې خبره دلائل ذكر كيږى چې فاطرالله ﷻ دى

دعوه دَسورت.داده چې دَټول كائناتو خالق.مالک متصرف الله ﷻ دې هغه سره بل څوک شريک نشته

دسورة دَمضامينومختصره خلاصه:

په مضمون دَتوحيدباندې دولس(١٢)دلائل بيانيږي چې په هغې كښې يولس(١١)دلائل عقليه دي اويوپكښې دليل وحې دې،ځائ په ځائ دَدلائلوثمره اجمالاًياتفصيلاً بيانيږي. اوبشارتونه اوزجرونه هم پكښې ذكركيږي،دَدې سورة ابتداء هم په﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ﴾ سره شويده څكه چې دامبداده لپاره دَحواميموسبعه ؤ.لكه څرنګه چې سورة السباء مبداده لپاره دَيسين، صفّت.ص(كمامرّ ف اول السباء).

تفصيلي خلاصه دعوه دَسورت...اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ

په دعوى باندې يولس(١١)دلائل عقليه.

(١)فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ (آيت ١)(٢)مَّا يَفْتَحِ اللّٰهُ لِلنَّاسِ (آيت ٢)(٣) هَلْ مِنْ خَالِقٍ غَيْرُ اللّٰهِ آيت ٣(

(۴) وَاللّٰهُ الَّذِیٓ اَرْسَلَ الرِّیٰحَ (آیت ۹) (۵) وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ مِّنْ تُرَابٍ (آیت ۱۱)

(۶) وَمَا یَسْتَوِی الْبَحْرٰنِ (آیت ۱۲) (۷) یُوْلِجُ الَّیْلَ فِی النَّهَارِ (آیت ۱۳)

(۸) یٰٓاَیُّهَا النَّاسُ اَنْتُمُ الْفُقَرَآءُ (آیت ۱۵) (۹) اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ اَنْزَلَ (آیت نمبر ۲۸، ۲۷)

(۱۰) اِنَّ اللّٰهَ عٰلِمُ غَیْبِ (آیت ۳۸) (۱۱) اِنَّ اللّٰهَ یُمْسِكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ (آیت ۴۱)

یو دلیل وحی ذکر کیږی. وَالَّذِیٓ اَوْحَیْنَآ اِلَیْكَ (آیت ۳۱)

دري خله ثمره دَ دلائلو ذکر کیږی. (۱) لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ (آیت ۳)

(۲) ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ (آیت ۳۱) (۳) قُلْ اَرَءَیْتُمْ شُرَكَآءَكُمْ (آیت ۴۰)

اته تخویفات دی.

(۱) یٰٓاَیُّهَا النَّاسُ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ (آیت ۵) (۲) اَلَّذِیْنَ كَفَرُوْا لَهُمْ عَذَابٌ شَدِیْدٌ (آیت ۸)

(۳) وَالَّذِیْنَ یَمْكُرُوْنَ السَّیِّاٰتِ (آیت ۱۰) (۴) وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰی (آیت ۱۸)

(۵) ثُمَّ اَخَذْتُ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا (آیت ۲۲) (۶) وَالَّذِیْنَ كَفَرُوْا لَهُمْ نَارُ جَهَنَّمَ (آیت ۳۶)

(۷) وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ اَیْمَانِهِمْ (آیت ۴۲) (۸) اَوَلَمْ یَسِیْرُوْا فِی الْاَرْضِ (آیت ۴۴)

خلور بشارتونه ذکر کیږی:

(۱) وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ (آیت ۷) (۲) اِنَّمَا تُنْذِرُ الَّذِیْنَ یَخْشَوْنَ (آیت نمبر ۱۸)

(۳) اِنَّ الَّذِیْنَ یَتْلُوْنَ كِتٰبَ اللّٰهِ (آیت نمبر ۲۹) (۴) جَنّٰتُ عَدْنٍ یَّدْخُلُوْنَهَا (آیت ۳۳)

دي علاوه څه زجرونه دی.

اَلْحَمْدُ	لِلّٰهِ	فَاطِرِ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	جَاعِلِ	الْمَلٰٓئِكَةِ

تول صفتونه دَخدائ توب خاص الله ﷻ لره دي چې پيداکونکې دَاسمانونو او دزمکې دي. ګرځونکې دي فرښتو لره

رُسُلًا	اُولِیْٓ	اَجْنِحَةٍ	مَّثْنٰی	وَثُلٰثَ	وَرُبٰعَ	یَزِیْدُ	فِی الْخَلْقِ	مَا	یَشَآءُ

استاذي قاصداني چه خاونداني دَوزرو دي دوه دوه او دري دري او خلور خلور. زياتول کوي په پيدائش کښ هغه قدرچې ئې خوښه دي

إِنَّ	اللّٰهَ	عَلٰى	كُلِّ	شَيْءٍ	قَدِيْرٌ	①
بيشكه	الله	تعالى	په	هرخه	باندي	قادردې.

﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ دادعوه دَتوحيدده چې تمام صفات دَالوهيت صرف الله ﷻ لره دي. ﴿فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ﴾ دااول دليل عقلي دي په توحيد فاطر دَفطرنه مأخوذدې. ابداع، اختراع ته وائی. يعني ابتداءً اول ځل يوڅيزپيداکول پغيردَنقشي نه. رئيس المفسرين حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما فرمائی: كنتُ لاادري مافاطرالسموات والارض، حتّىٰ اتاني اعربيان يختصمان في بئرفقال احدهما: انافطرتها يعني ابتدأتها.

فطرپه لغت کښ شق يعني شليدلوته هم وائی لکه: (اذاالسماء انفطرت اى انشقت) نومعنی داده چې الله ﷻ شلونکې دې اسمان لره لپاره دَنزول دَ ارواحواوشلونکې دَزمکي دې لپاره دَخروج دَاجسادوپه ورځ دَقيامت، دَاولې معنیٰ په اعتبارسره به مطلب داشي چې الله ﷻ بغيردَنقشي نه زمکي اواسمانونوپيداکونکې دې لهذامستحق دَعبادت هم هغه دې.

﴿جَاعِلِ الْمَلٰٓئِكَةِ رُسُلًا﴾ ديکښ نفي دَشفيع قهري ده دَفرشتونه. چې فرشتي نه متصرفي دي نه شفيع قهري بلکه دَالله ﷻ کارندې دي، په خدمت باندې مأمورې دي، چې په هغې کښ يوخدمت انبياؤته پيغامونه رسول دي، يادَ﴿رُسُلًا﴾نه مراددادې چه دوئ واسطی دي په مابين دَالله ﷻ اودَمخلوقاتوکښ، يعني دافرشتي دَالله ﷻ دَقدرت اثارلکه باران، هوا، وغيره خلقوته رارسوي. ﴿اُولِيْٓ اَجْنِحَةٍ﴾داصفت دې دَ﴿رُسُلًا﴾ اولو اسم جمع ده دَذواو﴿اجنحة﴾جمع دَ جناح ده. وزرته وائی. ليکن داحقيقت مونږته ندې معلوم چې آيادَملائكو دَ مارغانوپه شان وزري دي اوکه بل شان. البته ابن جريج نه منقول دی چې ورې ورې بنرې دي پرې (روح)

﴿مَّثْنٰى وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ﴾ داياصفت دې دَ﴿اَجْنِحَةٍ﴾يعنى دَبعضوفرشتودوه دوه وزري دي. دَ بعضودرې درې. اودَبعضوڅلورڅلور. اوعددصرف پدې کښ ندې منحصرلکه ورستو راځی. ياحال دې دَذوالحال محذوف نه. اى يُرسلون مثنىٰ وثلٰث وربٰع.

﴿يَزِيْدُ فِي الْخَلْقِ مَا يَشَآءُ﴾ دَاکثرو مفسرينوپه نيزددې تعلق دَ﴿اَجْنِحَةٍ﴾سره دې. اى يزيدفي خلق الاجنحة للملائكة مايشاء (روح) چې عدددَوزروپه دوه درې، څلورکښ ندې منحصر بلکه دَ بعضو

فرښتو وزرې زياتې دي. لكه دَ جبرئيل ﷺ په باره كښې په حديث كښې دي رأيت جبرئيل ﷺ عند سدرة المنتهیٰ وله ستة مائة جناح. اودَاسرافيل ﷺ باره كښې دي له اثناعشرالف جناح. بعض مفسرين لكه قتاده رحمه الله وائي چې دَ زيادت فى الخلق معنیٰ عامه ده. دفرښتووزروته هم شامله ده. اودَانسانانوپه تخليق كښې دَ خاص خاص صفتونوزياتوالي ته هم لكه ښه صورت، ښه سيرت. ښه اوازوغيره ته هم شامله ده (روح) ﴿إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾ تعليل دې دَماقبل لهذاخپل حاجتونه صرف دَ الله ﷻ نه غواړئ

مَا يَفْتَحِ ٱللَّهُ لِلنَّاسِ مِن رَّحْمَةٍ فَلَا مُمْسِكَ لَهَا ۖ وَمَا يُمْسِكْ
هغه چې كهلاؤ كړي الله تعالى دخلقودپاره څه رحمت نونشته څوك بندوونكې هغې لره. اوهغه چې بند كړي.
فَلَا مُرْسِلَ لَهُۥ مِنۢ بَعْدِهِۦ ۚ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ۝٢ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱذْكُرُوا۟ نِعْمَتَ ٱللَّهِ
بيانشته آزادوونكې هغې لره ماسوادَالله ﷻ نه. اوالله ﷻ غالب دې حكمت والادې اې خلقو ياد كړئ نعمت دَالله ﷻ
عَلَيْكُمْ ۚ هَلْ مِنْ خَٰلِقٍ غَيْرُ ٱللَّهِ يَرْزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ ۚ
په تاسوباندې. آياشته دې څوك خالق غيردَالله ﷻ نه چې رزق دركړي تاسوته دَاسمان نه اودَزمكې نه
لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ ۝٣
نيشته دې لايق دَعبادت بل څوك مگرالله ﷻ دې، نوكوم طرف ته اړولې كيږئ تاسو.

﴿مَّا يَفْتَحِ ٱللَّهُ لِلنَّاسِ مِن رَّحْمَةٍ﴾ دادويم عقلي دليل دې په توحيدباندې. چې ورنكې ذات هم هغه دې هغه كه په چا دَ نعمت او رحمت دروازې كولاوى كړې نو څوك يې بندونكې نشته او منع كونكې هم هغه دې نو كه په چاد رحمت دروازې بندې كړى. نو څوك ئې خلاصونكې نشته. وركونكې هم هغه دې، منع كونكې هم هغه دې، بل څوك نشته. هغه په هر څه قادراوهركار كښې حكمت او مصلحت پنهان دې.

﴿مِن رَّحْمَةٍ﴾ نكرې ذكركولوكښې اشارده ده عموم ته، چې پكښې دنياوي اخروي ټول نعمتونه داخل دي. لكه ارسال دَرُسل. ايمان. علم. عمل صالح كول. وغيره اودغه شان دنيوي نعمتونه لكه وسعت دَرزق. صحت. عافيت. امن. خوشحالي. وغيره اودغه شان په ﴿وَمَا يُمْسِكْ﴾ كښې هم

عموم دي ﴿فَلَا مُمْسِكَ لَهَا﴾ كښې ضمير راجع دي رَحمَة ته ﴿فَلَا مُرْسِلَ لَهُ﴾ كښې ضمير ما ته راجع دي ﴿مِن بَعْدِهِ﴾ اي من دونه ضمير مجرور الله ﷻ ته راجع دي. يعنې الله ﷻ نه ماسوا بل څوک دَ هغې په كولاولو قادر ندي. "بعد" دون په معنى كښې متعدد آيتونو كښې راغليدي. لكه فمن يهديه من بعد الله او يا ضمير مجرور امساک ته راجع دي چې فعل په ضمن كښې مذكوردي اي:بعد الامساك يعنې بندولونه نه ورستو څوک خلاصولو والا نشته. مغيرهؓ نه روايت دي چې حضورﷺ به چې كله دَمونځ نه فارغه شونوداكلمات به ئې وئيل اللّهم لامانع لمااعطيتَ ولامعطي لمامنعتَ ولاينفع ذاالجدّ منك الجد(ابن كثير). حضرت عامربن قيسؓ فرمائي چې كله زه سهارداخلورآياتونه تلاوت كړم نوماته دافكرنه وي چې سهاربه څه كيږي اونه مابنام دافكروي.(۱)مايفتح الله للنّاس من رحمةٍ(۲)ان يمسك الله بضرّ فلاكاشف له الاّ هو(يونس: ۱۰۷) (۳)سيجعل الله بعدَعسرٍيسراً(۴) ومامن دابةٍ في الارض الاّعلى الله رزقها (هود:۶) روح المعاني.

﴿وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ﴾ الله ﷻ غالب اوقادردې په هرڅه اوپه ارسال دَرحمة اوامساك باندې. ﴿ٱلْحَكِيمُ﴾ څه چې كوي په هغې كښې حكمت اومصلحت وي.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱذْكُرُواْ نِعْمَتَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ﴾ ماقبل كښې ټولو مخلوقاتو باندې عمومي رحمت ذكرلو نه پس اوس خصوصي رحمت ذكر كيږي او هرا نسان ته دعوت فكر دې چې الله ﷻ ورباندې كوم احسانات او نعمتونه كړي دي،هغې باندې دې لګ غوراوكړي،﴿ اذكروا﴾ذكر نه مراد مطلق ذكر دې،قلبا لسانا او اعضاوؤ جوارحو سره،يعنې غووفكر اوكړي، چې دا نعمتونه د كوم خائې نه راغليدي او دَ الله ﷻ په وحدانيت ايمان روارئ،په ژبه ئې اقرار اوكړئ اوبيا ئې په اعضاوجوارحو سره شكر ادا كړئ.

﴿هَلْ مِنْ خَٰلِقٍ غَيْرُ ٱللَّهِ﴾ توحيد طرف ته دعوت فكر نه بعد اوس دريم دليل عقلي ذكر كيږي په توحيد .من زائد دې لپاره دَتاكيد يعنې غور وفكر كولو نه بعد تاسو خپله په انصاف سره اووايئ چې آيا الله ﷻ نه ماسوا خو بل څوک خالق شته .چه چې ماده اوروح دواړه پيدا كړي؟ ﴿يَرْزُقُكُم﴾ آيا الله ﷻ نه ماسوابل څوک شته چه رزق دركړي؟ ﴿مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ﴾ دې كښې اشاره ده دَ رزق متعدد مصادروته،يعنې بعض سماويه دي.لكه باران .نمر. سپوږمۍ.

شو ، اوبعض زمينی دی لکه غله وغيره شوه

﴿لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ﴾ثمره اونتيجه ده دَماقبل يعنی کله چه فاطر صرف الله ﷻ دي خالق هم صرف هغي دي،رازق هم صرف هغه نودينه داثابته شوه چي دالله ﷻ نه علاوه بل څوك دَعبادت لائق نشته دي.کارسازحاجت رواهم صرف هغه دي﴿فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ﴾زجردي مشرکانوته چي دومره دلائلوباوجودولي دَتوحيدنه انکارکوي:ای من این تصرفون عن توحيده مع اقرارکم بانه الخالق الرازق(خطيب).

وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّن قَبْلِكَ ۚ وَإِلَى اللَّهِ
اوکه دویٔ تاته دروغژن وائی نومه خفه کيږه په تحقيق دروغژن وئيلی شويدي ډيررسولانوته ستانه مخکښې.اوخاص الله ﷻ ته
تُرْجَعُ الْأُمُورُ ﴿٤﴾ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ ۖ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا ۖ
ګرځولي شی ټول کارونه.اي خلقو!بيشکه وعده دَ الله ﷻ(دقيامت)حقه ده نودهوکه دي نکړي تاسو ژونددنيا.
وَلَا يَغُرَّنَّكُم بِاللَّهِ الْغَرُورُ ﴿٥﴾ إِنَّ الشَّيْطَانَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوهُ عَدُوًّا ۚ
اونه دي د هوکه کړي تاسو په الله ﷻ باندي دهوکه باز(شيطان).بيشکه شيطان ستاسودُشمن دي نوجوړ کړئ هغه دشمن.
إِنَّمَا يَدْعُو حِزْبَهُ لِيَكُونُوا مِنْ أَصْحَابِ السَّعِيرِ ﴿٦﴾
بيشکه دي دعوت ورکوي ډلي خپلي ته،چي شي دویٔ دَ اور والؤ نه.

﴿وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدْ كُذِّبَتْ﴾داتسلي ده حضورﷺ ته په عموم بلویٔ سره اووعده ده حضورﷺ سره اووعيددي دشمنانوته يعنی ته ددي کفارو په تکذيب مه پريشانه کيږه دا معامله صرف يواځي ستاسره نده،بلکه ستانه مخکښې چي څومره پيغمبران راغليدي نو دَ هغویٔ هم داحال وو،حتی چي بعضو باندي پوره قوم کښې صرف يو اودوه کسانو ايمان راوړي وو ﴿رُسُلٌ﴾ په نکرې سره د ذکرکولوکښې تعظيم اوکثرت ته اشاره ده.

﴿وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ﴾او دا کافران دي بی غمه کيږی نه،کائنات کښې چي څه کيږی او څوک چي څه کوی ټولو هغي رجعه الله ﷻ ته کيږی نو د ستاسو اعمالوخبرهم الله ﷻ ته رسی .الله ﷻ به درله دنيا اوآخرت دواړوکښې دَهغې سزادرکوی.﴿الامور﴾جمع دَ امردی اومرادتريئه

سؤون او چارې دی. دنيوي وي او که اخروي. تکويني وي او که تشريعي

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقٌّ﴾ دا تخويف اخروي دی. چې ټي خلقو ته ضرور متوجه کې دي. د دنيا په عارضي ژوندمه مغروره کيږئ. او خپل ازلي دښمن مو دهوکه نکړی نه څړه د الله جَلَّ جَلَالُهُ کښې د ﴿وَعۡدَ ٱللَّهِ﴾ نه مراد وعده د قيامت ده او د حساب کتاب ده.

﴿فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا﴾ دينه مراد د دنيا زندګی چمک دمک رنګ ورونق. د شهرت او مشرولی محبت وغيره دي. چې دا انسان پدې فاني ژوند دهوکه کړی او آخرت ورله برباد کړی ﴿وَلَا يَغُرَّنَّكُم بِٱللَّهِ ٱلۡغَرُورُ﴾ غرور بفتح الغين صيغه صفت ده اي البالغ في الغرور يعنی انتهائي دهوکه باز او بضم الميم مصدر دې. او ﴿بِاللهِ﴾ دې نه مراد هغه ټول احکام او افعال دی چې هغی حکم الله جَلَّ جَلَالُهُ انسان ته ورکړی دې او هغه ټول حقوق الهيه دي چې انسان سره متعلق دی. او دهوکه ورکول دا دی چې مختلفو حيلو او تدبيرونو سره ئې د الله جَلَّ جَلَالُهُ د اطاعت نه اوګرځوی. کله ورله د الله جَلَّ جَلَالُهُ رحمت او مغفرت ذريعه جوړی کړی. چې الله جَلَّ جَلَالُهُ غفوررحيم دی. خير دې عبادت مه کوه . معاف به دې کړی. اوکله ورله د الله جَلَّ جَلَالُهُ حلم او بردباري ذريعه جوړه کړی. او دا ورته وائی چې کچرته پدې کښې څه نقصان وي نو تراوسه پوري به درته رسيدلي وی. کله ريا کاري ،کله عجب ،کله تکبر غرض انتهائی دهوکه باز دې هزار دامونه دی ورسره. ډير په احتياط چليږئ.

﴿إِنَّ ٱلشَّيۡطَٰنَ لَكُمۡ عَدُوّٞ فَٱتَّخِذُوهُ عَدُوًّا﴾ ماقبل تفصيل ذکر کيږی لف نشر غير مرتب طريقې سره پديکښې د انسان سره د شيطان د دشمنئ بيان دې چې شيطان ستاسو ازلي قديمي دشمن دې. دې خپل دشمن اوګنړئ. مخالفت ئی کوئ اصل دشمن او مخالفت ورسره دا دې چې د توحيد او سنت لاره اختيار کړئ. ﴿لَكُمۡ عَدُوّٞ﴾ تقديم د ﴿لَكُمْ﴾ د اهتمام پوجه دي. ﴿إِنَّمَا يَدۡعُواْ حِزۡبَهُۥ لِيَكُونُواْ مِنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلسَّعِيرِ﴾ ديکښې د شيطان دشمنئ کيفيت بيان دې. چې دا نسان له معصيت دعوت ورکوی، تر دې چې ئې خپل ملګرې کړې، نو دخان سرئی جهنم ته بوځي،

ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدٞۖ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ
هغه خلق چې کفرئې کړيدې ددوئ دپاره عذاب سخت دې، اوهغه خلق چې ايمان ئې راوړی دې اوعملونه کوي نيک

لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ كَبِيْرٌ ۝ اَفَمَنْ زُيِّنَ لَهٗ سُوْٓءُ عَمَلِهٖ فَرَاٰهُ حَسَنًا ط

دوئ دپاره بخنه اوثواب لوئ دي آياهغه كس چي ښائسته كړي شوي وي ده ته بدعمل دده نودئ ګمان كوي به هغې د حه عمل

فَاِنَّ اللّٰهَ يُضِلُّ مَنْ يَّشَآءُ وَ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ ۖ فَلَا تَذْهَبْ نَفْسُكَ

پس بيشكه الله ﷻ ګمراه كوى هغه څوك چي ئې خوښه شي اوهدايت وركوي هغه چاته چي ئې خوښه شي، پس نه دې خي نفس ستا

عَلَيْهِمْ حَسَرٰتٍ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِمَا يَصْنَعُوْنَ ۝

په دوئ باندې دوجې دآفسوسونو نه، بيشكه الله ﷻ عالم دې په هغه كارونوچى دوئ ئې كوي

﴿اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ﴾ تخويف اخروي دي كافرانوته چي دوئ ته به دشيطان سره دوستئ پوجه په آخرت كښ سخت عذاب وركولې كيږي. ﴿وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا﴾ بشارت اخروې دى مؤمنانوته، چي دوئ دشيطان سره دشمني اوكړه نوپه آخرت كښ به ورنه اجروركولې كيږي ﴿مَّغْفِرَةٌ﴾ مرتب دي په ايمان او ﴿وَّاَجْرٌ كَبِيْرٌ﴾ مرتب دي په عمل صالح (كبير)

﴿اَفَمَنْ زُيِّنَ لَهٗ سُوْٓءُ عَمَلِهٖ﴾ دا تسلى ده نبى كريم ﷺ ته، چي شيطان دشمنى واضح كيدلونه بعد هم يوكس دشيطان په لاره ځي او خپل دهلاكت اسباب ځان لپاره دنجات ذريعه ګنړي او دهدايت ورسره هډو طلب نه وى، نوته داسې كس ته مه پريشانه كيږه. الله ﷻ ښه خبردي چي دې څه كوي ﴿من﴾ اسم موصول محلا مرفوع مبتدا دې ﴿زُيِّنَ لَهٗ﴾ جمله روله صله ده. خبرئې محذوف دې چي هغه افانت تهديه دې، استفهام انكارى دې، يعنى ته هغه له هدايت نشې وركولې، دا آيت د سورت الزمر دې آآيت په شان دې ﴿افمن حق عليه كلمة العذاب افانت تنقذ من في النار﴾ [الزمر ١٩] ﴿فَاِنَّ اللّٰهَ يُضِلُّ مَنْ يَّشَآءُ﴾ فاسببيه ده يعنى هدايت اوضلالت د الله ﷻ په لاس كښ دى چاكښ چي دهدايت طلب وى نو هدايت ورله وركړى او چاكښ چي طلب نه وى نو نه ئې وركوى اودوئ كښ د هدايت طلب نشته نو څنګه ورله هدايت وركړى. ﴿فَلَا تَذْهَبْ نَفْسُكَ عَلَيْهِمْ﴾ تفريع ده په ماقبل، چي يوكس دشيطان په لارځى اودهدايت طلبګار هم نه وى نو ته هم هغه ته مه پريشانه كيږه ﴿حَسَرٰتٍ﴾ مفعول له دې د "لاتذهب" فعل لپاره، جمع ده د "حسرة"، غم او افسوس ته ... كيږي ... ﷺ ... پريشانيو طرف

تہ اشارہ دہ او بل خوادې طرف تہ اشارہ دہ چې دوئ کښې شمیر افعال داسې دي چې هغه قابل
حسرت دی .نو تہ بہ پہ کوم کوم حسرت او افسوس کوې داسې خوپہ افسوسونو ځان هلاک
کړې﴿إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌۢ بِمَا يَصْنَعُونَ﴾دا زجر تخويف دې يعنی الله ﷻ ښہ خبر دې د دوئ پہ کارونہ.چې
شیطان ئې دشمن دې هغه سر ملګرتيا کوې او الله ﷻ ئې خالق رازق دې هدايت لپارہ ورتہ
رسولان او احکامات راليږی،دوئ دهغې تکذيب کوی.

وَاللَّهُ الَّذِيٓ أَرۡسَلَ الرِّيَٰحَ فَتُثِيرُ سَحَابٗا فَسُقۡنَٰهُ إِلَىٰ بَلَدٖ
اوالله ﷻ هغه ذات دې چې رالیږي هواګانې نوراپورته کړي وريځ نوروانہ کړومونږهغې لره په طرف ديوداسې کلي
مَّيِّتٖ فَأَحۡيَيۡنَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَاۚ كَذَٰلِكَ
چې مړہ وي خاورہ دهغې نوژوندئ کړومونږپدې سرہ زمکہ روستودهغې دمړېدو(اوچېدو)نہ.دغه شان(ستاسو)
ٱلنُّشُورُ ٩ مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلۡعِزَّةَ فَلِلَّهِ ٱلۡعِزَّةُ جَمِيعًاۚ إِلَيۡهِ يَصۡعَدُ ٱلۡكَلِمُ ٱلطَّيِّبُ
دوبارہ پيداکول دي. څوک چې غواړي عزت نوالله ﷻ سرہ دې عزت ټول.خاص الله ﷻ تہ خیژي کلمې پاکې
وَٱلۡعَمَلُ ٱلصَّٰلِحُ يَرۡفَعُهُۥۚ وَٱلَّذِينَ يَمۡكُرُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ لَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدٞۖ
اوعمل نيک . پورتہ کوي الله ﷻ هغه.اوهغه خلق چې پټ تدبيرونہ جوړوي دبدوکارونو ددوئ دپارہ عذاب سخت دې.
وَمَكۡرُ أُوْلَٰٓئِكَ هُوَ يَبُورُ ١٠
اوتدبيرددوئ هغه بہ ناکامہ کيږي.

﴿وَاللَّهُ الَّذِيٓ أَرۡسَلَ الرِّيَٰحَ﴾داخلورم دليل عقلي دې پہ توحيد،اوپہ بعث بعدالموت يعنی
شیطان پہ لمسون او دهوکہ کښې مہ راځې،او اوخوګورئ د الله ﷻ پہ وحدانيت او پہ بعث
بعدالموت څومرہ واضح دلائل موجود دی. چې د الله ﷻ پہ حکم سرہ هواراشي پدې سرہ
وريځې راشي،باران اووريږي،وچہ زمکہ ورسرہ شنہ شي نوداټول انقلابات دالله ﷻ پہ
اختيارسرہ کيږي نولائق دعبادت هم صرف هغه دې،اودغه رنګہ چې الله ﷻ لکہ څرنګہ پہ
باران سرہ مړہ ځمکہ راژوندئ کړي نومړہ انسانان بہ هم دقيامت پہ ورځ راژوندی کړي،
د﴿بَلَدٖ مَّيِّتٖ﴾نہ مراد شاړہ اووچہ زمکہ دہ،چې بوټي پکښې نہ وي،﴿فَأَحۡيَيۡنَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَا﴾د

ژوندي کولو نه مراد زرغونه کول او شنه کول دي.

﴿كَذَٰلِكَ ٱلنُّشُورُ﴾ په دیکښې اثبات دحشر او نشر دې.اووجه دتشبیه په څووجوهوسره ده (۱)لکه څنګه چې الله ﷻ اوچې زمکه په باران رحمت سره زرغونه کړي نو دغه شان به دقیامت په ورځ مړه بدنونه هم راژوندي کړي.(۲)لکه څنګه چې الله ﷻ دهواګانو په ذریعه د وریځو ټکړي راجمع کړي نو دغه شان به دانسانانو داعضاؤټکړي ټکړي هم راجمع کړي (۳)لکه څنګه چې الله ﷻ هواګاني اوچې زمکي ته راليږي نو دغه شان به الله ﷻ دقیامت په ورځ د انسانانو بدنونو ته روحونه دهغوئ رااولیږي اوژوندي به ئې کړي.(۴)څنګه چې زمکه په باران سره ژوندئ کیږی نو دهغه شان قیامت په روځ به هم الله ﷻ باران اوکړی او مړه به ژوندی شی دمسلم په حدیث مرفوع کښې دي چې الله ﷻ به دېرخي په شان باران اوکړي نو دخلقوبدنونه به ورنه پیداشي

﴿مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلْعِزَّةَ﴾د شیطان دشمنئ او دهوکې تفصیلی ذکر نه بعداوس ددنیا زندګئ دهوکې او دهغې نه بچ کیدلوبیان دې،ددنیا زندګئ دهوکې حاصل اوخلاصه حصول د عزت دي ځکه چې انسان ته مال کښې عزت ښکاری نوهغه د مال په باره کښې د الله ﷻ احکاماتو پرواه نه کوی،ریاست او سردارئ کښې ورته عزت ښکاری نو دهغې د وجهی نه اسلام نه مخ ګرځوی .دنیا چمک دمک اورنګ رنګینی کښې روته عزت ښکاري نو الله ﷻ او قیامت نه غافله شی او هغې کښې مشغوله وی.الحاصل چی څومره اسباب د دهوکې دی هغې رجعه عزت ته کیږی،چې انسان ته په هغې کښې عزت ښکاری اوهغې په مقابله کښې اسلام اوالله ﷻ احکاماتونه مخ ګرځوی،نو الله ﷻ فرمائی چې داهسې دنظر دهوکه ده،حقیقی عزت الله ﷻ سره دي دهغه نه طلب کړئ،اودهغې طریقه داده چې په الله ﷻ ایمان راوړي او نیک عملونه اوکړئ .﴿فَلِلَّهِ ٱلْعِزَّةُ﴾قائممقام دجزاء محذوفی.او علت ورله دي.أي فليطلبها عند الله ،لأن العزة كلها لله، ﴿جَمِيعًا﴾ نه مراد ددنیااوآخرت عزت دي،والمرادعزة الدنياوالاخرة(روح)ابن کثیر رحمه الله دانس رضی الله عنه نه روایت نقل کړیدې چې حضور ﷺ فرمائی چې:انّ ربّكم يقولُ كلّ يوم اناالعزيزُفمن ارادعزّالدارين فليطع العزيز.یعني الله ﷻ روزانه دافرمائی چې عزت ورکولوالاخه یمه نوڅوک چې ددنیااوداخرت دعزت طلب ګاروي نوځمادي اطاعت کوي.﴿إِلَيْهِ يَصْعَدُ ٱلْكَلِمُ ٱلطَّيِّبُ﴾دیکښې دعزت حصول طریقه بیانیږی چې اطاعت دې دالله ﷻ په ټولو طاعاتو کښې.او طاعات په دوه

قسمه دی (۱) قولیه (۲)فعلیه دطاعاتو قولیؤذکر په الیه یصعد کښې اوشو او فعلیؤ ذکر په والعمل الصالح یرفعه کښې اوشو. ﴿الیه﴾کښې ضمیر مجرور راجع دې الله ﷻ ته او ﴿ ٱلْكَلِمُ ٱلطَّيِّبُ﴾ نه مراد هغه ټول نیک اموردی چې هغې تعلق د قول سره وی لکه کلمه طیبه شوه.تسبیح او تحمید شو .ذکرواذکار شول،دعاګانې شوی،وعظ ونصیحت اودرس وتدریس شو .او﴿العمل الصالح﴾ نه مراد هغه ټول طاعات دی چې هغې تعلق د فعل سره دې ﴿یرفعه﴾کښې ضمیر مرفوع الله ﷻ ته او ضمیر منصوب عمل صالح ته راجع دې،یعنی الله ﷻ ته پورته خیږی پاکې کلمې او هغه اوچتوی نیک عمل .صعود:ونیلې کیږی "اذهاب في مکان عال"ته یعنی اوچت ځائ ته تلل، او "رفع"ونیلې کیږی"نقل الشئ من مکان الی اعلی منه"یعنی دیو ځائ نه بل اوچت ځائ ته نقل کول،نورفع او صعود دلته خپلې معنی کښې نشی اغستې کیدې،ځکه چې دادلالت کوی په جهت اومکان .او الله ﷻ د جهت اومکان نه منزه دې،نو دلته ترینه مراد یارفع اوصعود کما یلیق بشانه دې،اویا داکنایه د اعمالودقبولولو او په هغې رضاکیدلونه ځکه چې رضااو قبولیت دوه صورته دی،یوداچې ته خپله ځانه بادشاه ته لاړ شی او هغه خوښ شی اومقام ومرتبه درله درکړی،نو صعود کښې ددې صورت ذکر دې،اودویم صورت چې هغه داول نه زیات افضل دې دا دې چې بادشاه تاطلب کړی اومقام ومرتبه درله درکړی اویرفعه کښې ددې صورت ذکردې،نودینه معلومه شوه چې طاعات فعلیه من حیث المجموع افضل دی په طاعاتو قولیؤو باندې من حیث المجموع [التحریر والتنویر]

﴿وَٱلْعَمَلُ ٱلصَّـٰلِحُ يَرْفَعُهُۥ﴾کښې مفسرینو څو نور احتماله هم ذکر کړیدی:(۱)﴿یرفع﴾ کښې ضمیرد فاعل ﴿ٱلْكَلِمُ ٱلطَّيِّبُ﴾ته راجع دې اوضمیردمفعول عملِ صالح ته راجع دې ای الکلم الطیب برفع العمل الصالح(کبیر ،روح)یعنې اوچتوي داکلمې عملِ صالح لره،یعنې دایمان اود ذکرپه ذریعې سره نیک عمل قبلیږي (۲)ضمیردفاعل عملِ صالح ته راجع دې اوضمیردمفعول صاحب دعمل ته،اودرفعت نه مرادعزت دې،یعنې عمل صالح انسان ته عزت اواوچت والې ورکوي،

(۳) ضمیردفاعل عمل صالح ته راجع دی اوضمیردمفعول﴿الکلم الطیب ﴾ ته راجع دې ای والعمل الصالح یرفع الکلم الطیب(روح)نومطلب دادې چې دانسان عمل دده دګفتارلپاره میزان دې،که چرته ګفتاراوکردارکښې نی موافقت وؤنوبیابه دقبلیدولائق وي اوکه نه وؤ نو بیابه د ګفتار

هيڅ اعتبارنه وي(زادالمسير)

﴿وَٱلَّذِينَ يَمْكُرُونَ ٱلسَّيِّئَاتِ﴾تخويف اخروي اوزجردي.چې كوم خلق اسلام ته غاړه ايخودلو په خائې دَدين اواسلام ختمولواودَحضورﷺ خلاف منصوبې جوړه وي هغوئ دپاره سخته سزا مقرره.اودَدوئ هرمنصوبه به ناكامه وي.دَ﴿ٱلسَّيِّئَاتِ﴾مفعول مطلق دې موصوف محذوف اعتبارسره اي المكرات السيئات ﴿وَمَكْرُ أُوْلَٰٓئِكَ هُوَ يَبُورُ﴾"يبور"د "بوار" نه دې "بوار"كسادبازارى ته وئيلې كيږي يعنى يو انسان په كاروبار لويه سرمايه اولګوى.خوبيائى كاروبار اونه چليږي اوبالكل تپ شي نو ديته بوار وئيلى كيږي.نو الله جل جلاله فرمائي چې دَدوئ مثال به هم دَ دغه سې سړې وى دوئ څومره هم منصوبې جوړې كړې.اوڅومره هم مالونه پرې خرچ كړى.آخر به دا ټولې شنډې اوناكامه شي اخروى اوحقيقي عزت خو څه كوې ظاهرى عزت به ئې هم په لاس رانشي﴿اولئك﴾ مشاراليه كفار دى.اواسم اشاره بعيد دَنفرت اظهار دلپاره راوړلې شوې ده.

وَٱللَّهُ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ جَعَلَكُمْ أَزْوَٰجًا ۚ وَمَا تَحْمِلُ مِنْ أُنثَىٰ
اوالله پاك پيداكړي يئ تاسودَخاوري نه بيائى دَنطفې نه بيائى ګرځولې يئ تاسوجوړې.اونه حامله كيږي يوه ښځه
وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلْمِهِۦ ۚ وَمَا يُعَمَّرُ مِن مُّعَمَّرٍ وَلَا يُنقَصُ
اونه وضع دَحمل كوي مګرداپه علم دَالله سره وي. اوعمرنشي وركولې خاونددعمرته.اونه كموالي كيدې شي
مِنْ عُمُرِهِۦٓ إِلَّا فِى كِتَٰبٍ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٌ ۝
دَهغه دعمرنه مګرپه كتاب كښې ليكلى شوى دې.بيشكه داكار الله جل جلاله ته اسان دې

﴿وَٱللَّهُ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ﴾داپنځم دليل عقلي دې په توحيدچې الله جل جلاله ستاسوجداَعلىٰ حضرت ادم عليه السلام دَخاوري نه پيدا كړو،تاسوئى دَاوبودَيوې قطري نه پيدا كړئ بعض مذكربعض مؤنث. دَاستقرارحمل نه تروضع حمل پورې ټولومراحلوكښې ئى ستاسوساتنه اوكړه.بيائى دَخپل مشيت مطابق هريوانسان ته زيات ياكم عمرمقرركړو،غرض داچې ابتداء نه ترانتهاء پورې تاسومحتاج يئ اوزيرتصرف يئ دَالله جل جلاله طبعًا.نووضعًاورته هم محتاج شئ صرف دَهغه نه غواړئ دَهغه عبادت كړئ

﴿ثُمَّ جَعَلَكُمْ أَزْوَاجًا ﴾ای اصنافا،ذکرانا وانانا(روح)لکه بل ځای الله ﷻ فرمائی:اویزوجهم ذکرانا وانانا ﴿وَمَا تَحْمِلُ مِنْ أُنْثَىٰ وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلْمِهِ ﴾مراددحمل اووضع حمل نه ټول حالات دحمل اووضع دحمل دي،مثلاًمقداردحمل،اودوضع وخت،شکل صورت دبچي،نیک بخته،بدبخته وغیره ﴿وَمَا يُعَمَّرُ مِنْ مُعَمَّرٍ ﴾یعني نه اوږده وي الله ﷻ عمردیومعمرلره،﴿وَلَا يُنْقَصُ مِنْ عُمُرِهِ ﴾ دضمیر مرجع (۱)یابل معمردې،کقولهم،عندي درهم ونصفه ای نصف درهم آخرنومطلب دادي چې الله ﷻ چاته اوږدعمرورکوي نوهغه هم دمخکني نه لیکلي شوې وي،اوچې چاته کم عمرورکوي ابتداءًنوهغه هم لیکلې شوې وي،یعني دهرچاچې څومره عمروي هغه داول نه لیکلې شوې وي،دې صورت کښې د﴿وَمَا يُعَمَّرُ مِنْ مُعَمَّرٍ ﴾اود﴿وَلَا يُنْقَصُ مِنْ عُمُرِهِ ﴾مصداق جداجداکسان دي (۲)بعض حضرات وائی ددواړومصداق یوکس هم کیدې شي،دې صورت کښې د﴿مِنْ عُمُرِهِ ﴾ مرجع معمّرمذکوردې اومطلب دادې چې دهرچادمقرره عمرنه څومره ووخت کمیږي،داهم مکتوب کیږي،چې یوه ورځ تیریږي نودیوي ورځي کم والي،دوه ورځي تیریږي نودَ دوؤ ورځو کموالي لیکلې کیږي،بلکه دهرې ساه اغسنوسره کموالي راځي،لکه شاعر وائی:

حیاتك انفاسٌ تُعدّفکلمّا مضیٰ نفسٌ منهاانتقصت به جزء

(۳)بعض مفسرین وائی چې مصداق یو کس دې اوپه عمرکښې کمي اوبیشي د تقدیر معلق په اعتبارسره دي،لکه په بعضِ نیك عملونولکه صدقه،صله رحمي وغیره سره په عمرکښې زیات والې راځي،په یوحدیث کښې دي من سرّه ان یّبسطَ له فی رزقه وینساءَ فی اثره فلیصل رحمهٗ(بخاري،مسلم) یعني چې کوم سړې غواړي چې دده په رزق کښې فراخي اوپه عمرکښې زیاتوالي راشي نوهغه ته پکاردی چې صله رحمي داوکړي

فائده:په ظاهردې حدیث نه معلومیږي چې په صله رحمي وغیرد نیك عمل سره په عمرکښې زیاتوالي راځي،ددې وجې نه بعضِ علماؤداحدیث اودې په شان حدیثونوحمل په تقدیرمعلق باندې کړیدې،ددې تفصیل زمونږددې تفسیرپه دریم جلدصفحه(۴۴۴)کښې دسورة الرعد آیت (۳۹)لاندې تیرشویدې هلته ئې اوګورئ،بعضِ علماء وائی چې ددې مطلب په یوبل حدیث کښې واضح شویدې چې حضرت ابودرداء ؓ فرمائی چې مونږددې مذکورحدیث ذکر حضور ﷺته اوکړو،نوحضور ﷺاوفرمائیل چې عمرخوالله ﷻ په نیزمقرر،مقدردې،چې کله نیته پوره شي نوبیاهیڅ چاته ذره برابرهم مهلت نه ورکولې کیږي،بلکه په عمرکښې دزیاتوالي

نه مراد دادي چې الله جَلَّ جَلَالُهُ به هغه ته نيك اولاد وركړي چې هغوئ به ورته د مرګ نه پس دعاګانې كوي.نو د مرګ نه ورستو به هم ده ته هغه فائده ميلاويږي كومه چې په ژوندكښې ورته ميلاويدله.نو د عمر د زياتوالي نه مراد د عمر بركت زياتيدل دي والله اعلم.﴿ إِلَّا فِي كِتَٰبٍ ﴾ مراد ورنه لوح محفوظ دي﴿إِنَّ ذَٰلِكَ ﴾يعني دا زيادت او تنقيص د عمر او دغه شان پيدا كول د انسان د نطفي نه الله جَلَّ جَلَالُهُ ته ډير آسان دي

وَمَا يَسْتَوِي الْبَحْرَانِ ۖ هَٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ سَائِغٌ شَرَابُهُ وَهَٰذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ ۖ

اونه دي برابر دا دوه دريابونه.دا يو خوږدي تنده ماتونكي دي تيريدونكي دی په مرئ كښې اوبه دده.او دا بل تريؤدي تريخ دي

وَمِن كُلٍّ تَأْكُلُونَ لَحْمًا طَرِيًّا وَتَسْتَخْرِجُونَ حِلْيَةً تَلْبَسُونَهَا ۖ وَتَرَى الْفُلْكَ

اوداهريونه خورئ تاسو غوښه تازه(د مهي)او را اوباسئ تاسو ملغري چې اغوندئ ئې تاسو هغه.او وينې ته بيړئ

فِيهِ مَوَاخِرَ لِتَبْتَغُوا مِن فَضْلِهِ وَلَعَلَّكُمْ

به هغې كښې سيرونكي اوبو لره دپاره ددي چې طلب كړئ تاسو فضل د الله جَلَّ جَلَالُهُ نه.او دپاره ددی چې تاسو

تَشْكُرُونَ ۝١٢ يُولِجُ اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُولِجُ النَّهَارَ فِي اللَّيْلِ وَسَخَّرَ

شكر او كړئ داخلوي الله جَلَّ جَلَالُهُ شپه په ورځې كښې او داخلوي ورځ په شپه كښې.او په خدمت كښې ئې لګولي دي

الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ يَجْرِي لِأَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ ۚ

نمر او سپوږمئ. دا ټول ګرځي د نيټي مقررې پورې،دغه الله جَلَّ جَلَالُهُ رب دي ستاسو،ده لره بادشاهي ده.

وَالَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِهِ مَا يَمْلِكُونَ مِن قِطْمِيرٍ ۝١٣

اوهغه معبودان باطله چې تاسو ورنه سوالونه كوئ ماسوا د الله جَلَّ جَلَالُهُ نه نوندي مالكان دوئ د پټ د هدوكي د كجورې

إِن تَدْعُوهُمْ لَا يَسْمَعُوا دُعَاءَكُمْ وَلَوْ سَمِعُوا مَا اسْتَجَابُوا لَكُمْ ۖ وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ

كچرې تاسو ورنه سوالونه كوئ نه اوري سوال ستاسو .او بالفرض كه واوري نشي قبولې ستاسو سوال او په ورځ د قيامت

يَكْفُرُونَ	بِشِرْكِكُمْ ۚ	وَلَا	يُنَبِّئُكَ	مِثْلُ	خَبِيرٍ	﴿١٤﴾
به انكاروكړي	ستاسودشرك نه،اوخبر به		درنكړي	تاته په شان دَ	خبير ذات (چې الله ﷻ دي)	

﴿وَمَا يَسْتَوِي الْبَحْرَانِ﴾ داشپږم دليل عقلي دي په توحيد .چې داهم دَالله ﷻ دكمال قدرت دليل دي چې دَيوسمندراوبه ئی نهاية خوږي،تنده ماتونكي.هضميداره ګرخولي دي اودبل سمندراوبه ئی تروي،ترخي،ګرخولي دي،حالانكه ماده دَدواړويوه ده.دَدواړونه تاسوته تازه غوښه يعني ماهيان دركوي،جواهرات درته ميلاويږي،او داهغه سمندرې دی چې دې باندی ستاسو تجارت بنياد دي،نو تاسوله ئی په دې كښې كشتی اوجهازونو په ذريعی سره سفرآسان كړيدې ،نودامحض دَالله ﷻ فضل دې،نودهغه شكرادا كوئ اوخپل حاجتونه صرف دَهغه نه غواړئ.﴿هَٰذَا عَذْبٌ﴾ای طيبٌ،خوږاومزيدار.﴿فُرَاتٌ﴾ای كاسرالعطش يعني تنده ماتونكې، يا پمعنی•دَشديدالعذوبة يعني ډيرې زياتې خوږې او مزيدارې﴿سَائِغٌ شَرَابُهُ﴾ ای سهل انحداره يعني په مرئ كښې اسانئ سره تيريدونكی اوبه.﴿وَهَٰذَا مِلْحٌ﴾مالګينی اوبه.﴿أُجَاجٌ﴾أي مرّ يعنی تريخ ﴿وَمِن كُلٍّ تَأْكُلُونَ لَحْمًا طَرِيًّا﴾ مرادورنه دَمهي غوښه ده اونعبيرورنه په لحم سره اوشواوسه.كا اونه وئيلی شو.نړاره دَدې چې مقصوداًفائده اخستل دَماهي نه صرف اكل دي.بخلاف دَ نورو حيواناتو.او﴿لحما﴾ صفت ﴿طريا﴾ راوړلو كښې تنبيه ده پدې خبرې چې مهی غوښه تازه خوندكوی،غيرتازه كښې هغه خوند نه وی،چې كوم تازه كښې وی.

﴿وَتَسْتَخْرِجُونَ حِلْيَةً تَلْبَسُونَهَا﴾حلية نه مراد لؤلؤ اومرجان دې سورت الرحمن كښې دَ دې تصريح راغلې ده.يخرج منهما اللؤلؤ والمرجان او په صيغه دمذكرسره اشارده ده ديته چې دَملغرو استعمال سړي هم كوليشي په خلاف دَسروزرونه چې بطورزيورصرف دَښځولپاره جائزدي اودَ سړولپاره حرام دي،

دَدې آيت اوسورة رحمن ايت: (يخرج منهمااللؤلؤوالمرجان)نه معلوميږي چې زيورات اوملغرې دَدواړه قسمه سمندرونونه رااوځئ،حالانكه مشهوره داده چې ملغرې وغيره صرف دَمالګين سمندرنه راوځي.خوږواوبوالاسمندركښې ملغري نه وي.دَدې وجې نه بعضِ علماءدَدې دواړوآياتونوداسي تاويل كړيدې چې دلته﴿وَمِن كُلٍّ﴾ تعلق صرف دَ﴿تَأْكُلُونَ﴾ سره دي.تقديرې

عبارت دارنگه دي((ومن كلٍ تاكلون لحماً طرياً وتستخرجون من البحر الملح حليةً))ليكن محققينو ظاهر د قرآن ترجيح وركړيده چي دَ دواړه قسمه سمندرونونه رااوخي.البته دومره خبره ده چي مالګين نه زياتي اودَخوږنه كمي ﴿وَتَرَى ٱلْفُلْكَ فِيهِ﴾اى فى كلٍ منهما﴿مَوَاخِرَ﴾اى شواق الماء اوبولړه شلونكي. دا جمله سورت النحل آيت ۱۴ كښ هم تيره شويده.خو په دې او هغې دوه فرقه دى (۱) هلته ﴿فيه﴾ مؤخراو﴿مواخر﴾ مقدم دي.وترى الفلک مواخر فيه.اودلته برعكس دي. (۲) هلته ﴿ولتبتغوا﴾واؤ حرف عطف سره ذكر دي.ولتبتغوا من فضله.او دلته بغير دَ واؤ نه.دې فرق نكته مفسرينو دا ليكلي ده چي دَ دواړو آيتونو مقصود كښ فرق دي.هلته مقصود دالله ﷻ نعمتونو ذكر او اثبات دي او دلته مقصود دَ الله ﷻ قدرت اوعجيب صنعت اظهاردې. نو "مخر" چونكه مستقل نعمت دي او"فيه" كښ مستقل نعمت ذكر نشته نو دې وجهې نه هلته "مواخر" مقدم كړي شو.او دلته چونكه مقصود دَ الله ﷻ قدرت او صنعت ذكر دي.او دَهغې اندازه دَ ظرف نه لګي چي "بحر" دي. نودى وجهې نه "فيه" مقدم كړيشو يعنى دومره عظيم الشان دَ غرونو پشان لهرونه.اوهرطرف ته اوبه او بس اوبه پديكښ الله ﷻ ستاسوړه كشتئ روانه كړې وى.داهغه لهرونه شلئ.او مخكښ ځى.آيا داسې بل څوک كولې شي ؟؟ هم دې نكتې د وجهى نه هلته "لتبتغوا" واؤ سره ذكر شو ځكه چي ابتغاء دَ رزق مستقل يو نعمت دي.اودلته بغير دَ واؤ نه ذكر شو.(روح المعانى ،التحرير والتنوير)

﴿يُولِجُ ٱلَّيْلَ فِى ٱلنَّهَارِ﴾داووم(۷)دليل عقلي دې په توحيد.چي دَټولوكائناتونظام دَالله ﷻ په قبضه قدرت كښ دې.پدې كښ تصرف كونكې صرف هغه دې.لهذاخپل حاجتونه صرف دَهغه نه غواړئ﴿كُلٌّ يَجْرِى لِأَجَلٍ مُّسَمًّى﴾مقررې نيټې نه مرادورځ دَقيامت ده،يادَنورلپاره كال دې اودَسپوږمۍ لپاره مياشته.دغه مضمون مخكښې تيرشويدې مفصلاً

﴿ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ﴾ داپه تيرشوي دلائلوباندې تفريع اودويم ځل تفصيلي ثمره ذكركيږى ﴿ذَٰلِكُمْ﴾كښ اشاره محسوس بالبصر ته كيږې،نوذات دَالله ﷻ اګرچې پخپله محسوس بالبصرندې ليكن قدرتونه ئې چونكه واضح دي نوګوياچې الله ﷻ پخپله واضح اومحسوس دې ﴿وَٱلَّذِينَ تَدْعُونَ﴾اى تدعونهم﴿مَا يَمْلِكُونَ مِن قِطْمِيرٍ﴾دَ كجهورې هډوكى كښ درې څيزونه وى. فتيل. نقير. او قطمير.اودادرې واړه په قلت كښ مبالغې لپاره راځي.فتيل هغه تارنه

وائی چې دکجهورې هډوکی مینځ لاره کښ وی.نقیر هغه داغ ته وائی چې دَ هډوکی په ظاهر .بالکل مینځ باندې وی.او قطمیر هډوکی نه تاؤ لفافې ته وائی

﴿إِن تَدۡعُوهُمۡ﴾ضمیریاصرف بتانوته راجع دې یاټولومعبودانوته ملائکوته. جناتوته. عیسی ﷺ ته. ﴿لَا يَسۡمَعُواْ دُعَآءَكُمۡ﴾ عدمِ سماع یادوجي دَدینه ده چې دوئ کښ استعداد دَ اوریدلونشته ځکه چې جمادمحض دی،یاداچه دَخپلوعابدینودَعبادت نه اعراض کونکی اوبېرلري دی اویاداچه الله ﷻ دَهغوئ غوږونه محفوظ ساتلي دي دَشرکیؤ. قبیحو الفاظو آوریدلونه «روح»﴿وَلَوۡ سَمِعُواْ مَا ٱسۡتَجَابُواْ لَكُمۡ﴾یعني که بالفرض والتقدیرواوري هم نوقبلولې ئې نشي.عدمِ استجابت نه مرادیاعدم قبول دې،یاورنه حاجت پوره کول اونفع رسول دي﴿وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يَكۡفُرُونَ بِشِرۡكِكُمۡ﴾ شرککم مصدرمضاف دې فاعل ته،أی اشراککم ایاهم.یعني حاجت پوره کول اونفع رسول خولري خبره ده چې دَقیامت په ورځ به دوئ ستاسودَعبادت نه انکار کوي کقوله تعالیٰ:ماکنتم ایانا تعبدون(یونس:۲۸). ﴿وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثۡلُ خَبِيرٖ﴾ مرادورنه ذات دَ الله ﷻ دې. خطاب حضور ﷺ ته دې یاهرسامع ته.یعني څرنګه چې الله ﷻ دَبتانوحال بیان کړواودَهغوئ دَالوهیت نفي ئې اوکړه دغه شان ئې بل څوک نشي کولې.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ أَنتُمُ ٱلۡفُقَرَآءُ إِلَى ٱللَّهِۖ وَٱللَّهُ هُوَ ٱلۡغَنِيُّ ٱلۡحَمِيدُ ۝ إِن يَشَأۡ
اې خلقوتاسوټول ډیرمحتاجه یئ الله ﷻ ته.اوالله ﷻ هم دې غني دې ستائیلې شویدې.کچرې دَالله ﷻ خوښه شي
يُذۡهِبۡكُمۡ وَيَأۡتِ بِخَلۡقٖ جَدِيدٖ ۝ وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ بِعَزِيزٖ ۝ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٞ وِزۡرَ أُخۡرَىٰۚ
ختم به کړي تاسواورابه ولي بل مخلوق نوې.اونه دې داکاربه الله ﷻ باندې ګران.اونشي بارکولې باراچتونکې بوج دَ بل چا.
وَإِن تَدۡعُ مُثۡقَلَةٌ إِلَىٰ حِمۡلِهَا لَا يُحۡمَلۡ مِنۡهُ شَيۡءٞ وَلَوۡ كَانَ ذَا قُرۡبَىٰٓۗ
اوکچرې رااوبلی یودرروندبارې خپل بارته نه به شي اوچتولې څوک ددې نه څه څیز.اګر که وي ئې دې رشته دار.
إِنَّمَا تُنذِرُ ٱلَّذِينَ يَخۡشَوۡنَ رَبَّهُم بِٱلۡغَيۡبِ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَۚ وَمَن تَزَكَّىٰ
بیشکه ته یره وې هغه خلقوله چې یریږي دَرب خپل نه په غیبه اوپابندی کوی دَ مونځ.اوچاچه ځان پاک کړو«دګندګئ دشرک نه»

فَإِنَّمَا يَتَزَكَّىٰ لِنَفْسِهِۦ ۚ وَإِلَى ٱللَّهِ ٱلْمَصِيرُ ﴿١٨﴾

نو بیشکه دي خان پاکوي دفائدې دخپل خان دپاره.او خاص الله ﷻ ته گرځیدل دي

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ أَنتُمُ ٱلْفُقَرَآءُ إِلَى ٱللَّهِ﴾ دا اتم (۸) دلیل عقلي دې په توحید چې اې خلقو تاسو ټول په هرڅه کښې الله ﷻ ته محتاج یئ. الله ﷻ بې نیازه ذات دې. متصف دې په صفاتو د کمال سره. لهذا دغه نه علاوه ستاسو بل معبود نشته

سوال دلته (انتم) مبتدا او (الفقراء) ئې خبر دې. مبتدا خبر چې کله دواړه معرفه وي نو د تخصیص فائده ورکوي. نو مطلب به دا شي چې اې خلقو صرف هم تاسو بس الله ﷻ ته محتاجه یئ. حالانکه ټول مخلوقات الله ﷻ ته محتاجه دي **جواب** دلته (الفقراء) باندې الف لام د مبالغې دپاره دې. یعني تاسو ډیر زیات محتاجه یئ. ستاسو په مقابلې کښې د نورو مخلوقاتو احتیاج د نیش برابر دې. ځکه چې تاسو په پیدائش. وجود او بقاء سره سره مال و دولت. لباس خوراك ته هم محتاجه یئ. په خلاف د نورو مخلوقاتو نه چې مال دولت، لباس. کور وغیره ته ندي محتاج. او بل دا چې انسان چونکه اشرف المخلوقات دې نو هغه ته خطاب اوشو او ضمناً ټولو مخلوقاتو ته شامل دې.

﴿ٱلْغَنِيُّ﴾ مستغني ذات دې د هر چانه، ﴿ٱلْحَمِيدُ﴾ ستایلې شویدې، دیکښې اشاره ده دیته الله ﷻ صرف دانه چې مستغني دې او خلق ورته محتاج دي، بلکه د هغوئ حاجتونو پوره کونکې هم دې. ځکه چې حقیقي غنا داده چې حاجتونه ئې پوره کړي احسانات پرې اوکړي. لیکن محتاجه ورته نه وي

﴿إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ﴾ دا تخویف دنیوي دې، او دا الله ﷻ د بې نیازئ بیان دې چې کچرته اوغواړي تاسو به فنا کړي او ستاسو په ځائ به یو بل مخلوق پیدا کړي چې هغه به ئې اطاعت کونکې توحید منونکې وي. ﴿وَيَأْتِ بِخَلْقٍ جَدِيدٍ﴾ یعني نوې مخلوق به پیدا کړي چې ستاسو په شان سرکشه به نه وي. یا داچه نوې عالم او مخلوق به پیدا کړي تاسو به ورنه ناآشنایئ، ﴿وَمَا ذَٰلِكَ﴾ یعني دا ستاسو هلاکول او راتیان د خلق جدید الله ﷻ ته څه مشکل ندی.

﴿وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ﴾ دا تخویف اخروي دې، چې د قیامت په ورځ به د یو گناه گار د گناه

بوج بل څوك نه شي اغستي. بلكه هرسړي به دخپل خپل ګناه ذمه وارسزاواروي. ددي آيت كريمه او دسورة عنكبوت آيت ۱۳ وليحملنّ اثقالهم واثقالامع اثقالهم. په مينځ كښ منافات نشته. ځكه چې هلته دضالين اومضلين ذكردې. يعني دهغوخلقوذكردې چې پخپله هم ګمراه وي او نورخلق ئې هم ګمراه كړي ونوهغوئ به دخپل ضلالت بوج هم اوچتوي اوداضلال بوج هم. او دلته كښ صرف دضالين يعني دګمراهانوذكردې (روح) ﴿وَإِن تَدْعُ مُثْقَلَةٌ إِلَىٰ حِمْلِهَا﴾ مُثْقَلَةٌ صفت دي دمحذوف اى: نفسٌ مثقلة. يعني داسې سړې چې دګناهونوبوج پرې پروت وي هغه كه بوج اوچتولودپاره خپل قريبي رشته دار هم رااوغواړي لكه پلار، خوې، ښځه، خاوندخپل. ليكن هغه به ورنه انكاراوكړي. داپه ظاهركښ تكرارښكاري په حقيقت كښ تكرارنه دې، ځكه چې (۱) په اوله جمله كښ نفي دحمل وه اجباراً، اوپدې كښ نفي دحمل ده اختياراً يعني په منت اوزارئ سره هم به هم يوكس دچادګناه بوج پخپل سرنه اخلي. (۲) ياپه اوله جمله نفي دحمل ده دټولو ګناهونوچې محمول عنه بالكل برې شي اوپه دويمه كښ نفي دحمل ده دبعضې ګناهونو لپاره دتخفيف (روح المعاني) «ولو كان ذا قربى» ضمير په "كان" كښې يا "مدعو" ته راجع دې. يعني اګرچې هغه كس چې دې ئې رابلې . د ده ذ خپلوانو نه وي . بيا به ورله هم نيزدې نه راځي. او يا "داعي" ته راجع دې . يعني اګر كه دا رابلونكې د هغه رشته دار ولې نه وي خو بيا به ورله هم نيزدې نه رازي.

﴿إِنَّمَا تُنذِرُ ٱلَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُم﴾ داتسلي ده نبي كريم صلي الله عليه وسلم ته او بشارت اخرويه دې، چې ستا تبليغ به هغه چاته فائده وركوي چې دا مذكور صفات وي پكښ، ضدي او عنادي نه وي.

﴿يخشون ربهم﴾ اول صفت دې . صيغه د مضارع راوړلو كښې اشاره ده تجدد ته. چې هر وخت ئې د خشيت حالت وي او د خوف الهي ورسره استحضار وي. ﴿بِٱلْغَيْبِ﴾ نه مراد يابغيرد ليدلو نه، دې ياخلوت او يواځې والې ورنه مراد دې، يعني دالله ﷻ دعذاب نه يريږي حال داچې دوئ عذاب ليدلې نه دې.

﴿واقاموا الصلوة﴾ دا دويم صفت دې. او د خشيت ثمره ده، صيغه د ماضي د پاره د تحقق او تيقن ده . يعني خشيت كيفيت ئې دا وي چې دوئ د الله ﷻ هر عبادت او حكم تعميل ته داسې تيار وي لكه چې بس دوئ كړې وي، مونځ چونكه د ټولو نه اهم عبادت دې نو ځكه ئې

تخصيص اوشو ﴿وَمَن تَزَكَّىٰ فَإِنَّمَا يَتَزَكَّىٰ﴾ يعني چاچي دَشرک نه او دګناهونونه ځان پاک کړونو خپل ځان ته ئې فائده ورکړه، الله ﷻ ته به ئې رجوع کيږي نو په تزکيه به ورته بهتره بدله ورکړي

وَمَا يَسْتَوِي الْأَعْمَىٰ وَالْبَصِيرُ ۝ وَلَا الظُّلُمَاتُ وَلَا النُّورُ ۝ وَلَا الظِّلُّ وَلَا الْحَرُورُ ۝

اوندي برابرړوند اوليدونکي .اونه تياري اونه رڼا.اونه سوري اونه ګرمي

وَمَا يَسْتَوِي الْأَحْيَاءُ وَلَا الْأَمْوَاتُ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُسْمِعُ مَن يَشَاءُ ۖ وَمَا أَنتَ بِمُسْمِعٍ

اوندی برابرژوندي اونه مړي.بيشکه الله ﷻ اوروي چاته چي ئی خوښه شي.اوته نشي اورولې

مَّن فِي الْقُبُورِ ۝ إِنْ أَنتَ إِلَّا نَذِيرٌ ۝ إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ بِالْحَقِّ بَشِيرًا

هغه چاته چي په قبرونوکښې دي.نه يې ته مګرېره ونکي.بيشکه مونږليږلي ئی ته په حقه سره زيري ورکونکي

وَنَذِيرًا ۚ وَإِن مِّنْ أُمَّةٍ إِلَّا خَلَا فِيهَا نَذِيرٌ ۝ وَإِن يُكَذِّبُوكَ

اويره ونکي اونه وويوامت په مخکنوامتونوکښې مګرتيرشوي وو په هغې کښې يرونکي.اوکه دوئ تاته دروغژن وائي نوصبرکوه،

فَقَدْ كَذَّبَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ جَاءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِالْبَيِّنَاتِ

نوبه تحقيق دروغژن ونيلي ووهغه خلقوچي مخکښې ووددوئ نه.راغلي ووهغوئ ته رسولان دهغوئ په واضحومعجزوسره.

وَبِالزُّبُرِ وَبِالْكِتَابِ الْمُنِيرِ ۝ ثُمَّ أَخَذْتُ الَّذِينَ كَفَرُوا ۖ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ ۝

اوپه صحيفوسره اوپه کتاب روښانه سره(تورات)بيااونيول ماهغه خلق چي کفرئي کړيوؤنوڅنګه ووعذاب زما.

﴿وَمَا يَسْتَوِي الْأَعْمَىٰ وَالْبَصِيرُ﴾ دې کښ مثالونه بيانيږي لپاره دفرق په مابين دمشرک چه ضدي اوعنادي دې اومؤمن کښ چې اهل خشيت والؤو نه دې. چې لکه څرنګه دامذکوره ځيزونه برابرندي دغه رنګه کافراومؤمن هم برابرندې، ﴿الْأَعْمَىٰ﴾نه مرادکافردې چې دغيرالله عبادت کوي دلائل دتوحيداوقدرتونه دتوحيدورته نه ښکاري﴿وَالْبَصِيرُ﴾ نه مرادمؤمن دې.

﴿وَلَا الظُّلُمَاتُ وَلَا النُّورُ﴾دويم "لا" دتاکيدپاره مکررشو. ظلماتو نه مرادتياري دباطل يعني دکفر او شرک تياري دي، او نور نه مرادرڼا دحق يعني ايمان اوتوحيدده. ظلمات جمع او نور مفرد [illegible]

د يرې دي. او د هدايت او د حق لار يوه ده نو څکه نور مفرد ذکر شو. والله اعلم

﴿وَلَا ٱلظِّلُّ وَلَا ٱلۡحَرُورُ﴾ يعني نه ثواب او نه عقاب. يا ورنه مراد جنت او جهنم دی. حرور مبالغه د حر يعني شدة الحر. سموم هغه ګرمي ته وائ چې د ورځې وي او حرور عام دې ورځې وي که د شپې (کشاف)

﴿وَمَا يَسۡتَوِي ٱلۡأَحۡيَآءُ﴾ دا بل مثال دې چې لکه جوندي او مړي برابر ندی دغه شان مؤمن او کافر برابر ندي. احياء نه مراد مؤمنان دي څکه چې زړونه د دوئ ژوندي وی په ايمان. او د اموات نه مراد کافران دي څکه چې زړونه د دوئ مړه وي په کفر. يا ورنه علماء او جهلاء مراد دي. ﴿إِنَّ ٱللَّهَ يُسۡمِعُ مَن يَشَآءُ﴾ يعني چاته چې الله ﷻ هدايت ورکول غواړي نو هغه ته د خبري اوريدلو او د الله ﷻ د آياتونو قبلولو توفيق ورکړي د ﴿يُسۡمِعُ﴾ نه مراد سماع قبول ده. ﴿وَمَآ أَنتَ بِمُسۡمِعٖ مَّن فِي ٱلۡقُبُورِ﴾ بمسمع کښې باء زائده ده لپاره د تاکيد. دې کښې وضاحت د مثال دې او مراد د سماع نه دلته هم سماع قبول ده. څکه چې مطلق سماع خو کافرانو ته کيدله. نو مطلب دا دې لکه څرنګه ته اې پيغمبره! مړو ته په کلام حق اورولو سره هدايت نه شې کولې او هغوئ ته څه فائده نه شې ورکولې، څکه چې هغوئ د دار العمل نه تلي دي. نو دغه شان حال د ضد او عناد کونکي کافرانو دې چې د دوئ په زړونو باندې مهر د جباريت لګيدلې دې، زړونه ئې مړه دي. ازلي بدبختي ئې په قسمت کښې ليکلې شويده، نو د هدايت موندلو نه محرومه دي.

ددې بيان نه معلومه شوه چې د دې آيت د سماع الموتیٰ سره هيڅ تعلق نشته، سماع الموتیٰ خان له مستقله مسئله ده چې د هغې تفصيل په سورة روم، نمل کښې تيردې.

﴿إِنۡ أَنتَ إِلَّا نَذِيرٌ﴾ يعني اې پيغمبره! ستا کار صرف يره ول دي د عذاب د الله ﷻ نه. هدايت ورکول چاته. دا ستا ذمه واري نه ده، هغه د الله ﷻ کار دې.

﴿إِنَّآ أَرۡسَلۡنَٰكَ بِٱلۡحَقِّ بَشِيرٗا وَنَذِيرٗاۚ﴾ تسلي ده حضور ﷺ ته. ﴿وَإِن مِّنۡ أُمَّةٍ إِلَّا خَلَا فِيهَا نَذِيرٞ﴾ يعنی په تيرشوي خلقو کښې هم هرقوم ته نبي راليږلې شويدې د هغوئ ذمه واري هم صرف تبليغ کول وو د چا په اختيار کښې هم هدايت نه وو. نو دغه شان ته هم دې قوم ته راليږلې شوې يې. "نذير" نه مراد دلته عام دې چې رسول وي يا غير رسول.

﴿وَإِن يُكَذِّبُوكَ﴾ دا هم تسلي ده، جزاء د شرط محذوفه ده: اى فلاتحزن بتكذيبهم، يعني که دوئ

ـــ تکذیب کوي. ایمان نه راوړي نو ته مه خفه کیږه ځکه چې داسي سرکښه کفار د مخکنیو انبیاؤ په وخت کښ هم وو حالانکه چې انبیاؤ ورته واضح معجزات پیش کړي وو او هدایت والا کتابونه ئې ورته راوړي وو ﴿وَبِالزُّبُرِ﴾ وړې صحیفي لکه صحف ابراهیم علیه السلام. ﴿وَبِالْكِتَـٰبِ الْمُنِيرِ﴾ لکه توراة، انجیل. ﴿ثُمَّ أَخَذْتُ الَّذِينَ﴾ تخویف دنیاوي دې کافرانو ته

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ أَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجْنَا بِهِ ثَمَرَاتٍ مُّخْتَلِفًا
آیانه دي لیدلي تا چي بیشکه الله جل جلاله راورولی دي د آسمان نه اوبه. بیا رااوباسلي دی مونږ په دې سره میوی چي جداجدا دي
أَلْوَانُهَا ۚ وَمِنَ الْجِبَالِ جُدَدٌ بِيضٌ وَحُمْرٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَانُهَا وَغَرَابِيبُ سُودٌ ﴿٢٧﴾
رنګونه دهغو. او دغرونو څخه تکړې سپیني دي او څه سرې دي. مختلف دي رنګونه دهغي او څه تکي ډیر تورې دي
وَمِنَ النَّاسِ وَالدَّوَابِّ وَالْأَنْعَامِ مُخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ كَذَٰلِكَ ۗ إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ
او بعضي د انسانانو نه او د ژنده سرونه او د څناورونه مختلف دي رنګونه دهغوئ دغه شان. بیشکه یریږي د الله جل جلاله نه
مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ ۗ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ غَفُورٌ ﴿٢٨﴾
په بندګانو دهغه کښي عالمان. بیشکه الله جل جلاله زورآور او بخنه کونکي دی

﴿أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ أَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً﴾ دا په توحید نهم عقلی دلیل دي. چي الله جل جلاله له آسمان باران وروی او بیا ورسره مختلفي میوي پیدا کوی، د غرونو پشان مضبوط مخلوق ئی پیدا کړیدي بیا دهغي مختلفو حصو له ئی مختلف رنګونه ورکړي دی، دهغه شان انسانان او څناورئی پیدا کړیدی او مختلف رنګونه ئی ورته عطا کړی دی دا ټول د الله جل جلاله په وحدانیت او قدرت دلالت کوی. ﴿أَلَمْ تَرَ﴾ استفهام تقریري دي. یعني تا لیدلي دي ﴿مِنَ السَّمَاءِ﴾ نه مراد جهت د آسمان دي. ﴿فَأَخْرَجْنَا بِهِ﴾ التفات د غائب نه متکلم طرف ته لپاره د اظهار د کمال قدرت د الله جل جلاله دي. ﴿ثَمَرَاتٍ مُّخْتَلِفًا أَلْوَانُهَا﴾ ((الوانها)) نه مراد اقسام هم کیدي شی. ځکه چي د الوان اطلاق په انواعو او په اقسامو کیږی. یعنی بیا وزسره الله جل جلاله د میوؤ مختلف اقسام وانواع پیدا کړی دي لکه آم سیب، انذر، وغیره. او د مختلفو میوؤ رنګونه هم مراد کیدیشی چي هري میوې له ئې جدا رنګ ورکړی، او د یو نوع میوی مختلف اقسام او رنګونه

مرادکيدې شي.چې يوه ميوه وى خوږه هغې کښې مختلف رنګونه اوخوندونه وى.لکه سيب شو.ځنى شين وى ځنى سور وى.او ځنى زيړ وى او دهغه شان دهر يو خوند اوذائقه هم بدله وى

﴿وَمِنَ ٱلۡجِبَالِ جُدَدٌ﴾ «من الجبال» خبر مقدم دې «جدد» مبتدا مؤخر دې جُدَدٌ جمع جدةٌ ده.دَوضوح او امتياز معنى ورکوى.لارې ته وائى ځکه چې دادَزمکې نورې حصى نه ممتازه وى.لکيرې ته هم وائى ځکه چې داهم يوشي کښې ښه واضحه ښکارى اودلته ترينه مراد دَ غرونو هغه حصى دى چې هغه رنګونو اختلاف په وجه دَ يوبل نه جدااوممتاز ښکارى ﴿مُّخۡتَلِفٌ﴾ "مُختلفٌ"صفت دې دَ﴿بِيضٌ وَحُمۡرٌ﴾ يعني سپين هم مختلف رنګونه دي،بعض تك سپين لکه مرمر.بعض دَمالګې په شان سپين دي وغيره،دغه رنګه سورکښې هم مختلف رنګونه دي. يعني اللهﷻ تَنَ تنهاپخپل قدرت سره بعضې غرونه سپين پيداکړيدي.بعضې سره دي اوپدې کښې هم بعضې ډيرسپين دي.بعضې کم.بعضې ډيرسره دي.بعضې کم.او يا "مُختلفٌ" صفت دې دَ"جدد" يعنى مختلف رنګونو والا حصى دى چې ځنى سپينى دى ځنى سرې او ځنې تکې تورې ﴿وَغَرَابِيبُ سُودٌ﴾"غرابيب"جمع ده "غربيب" ده په تور والى کښې مبالغې اوتاکيد لپاره استعماليږى.قياس تقاضه داده چې "سود غرابيب" وئيلى شوي وې. لکه اسود حالک. خو رعايت دَ فواصلو دوجې نه مقدم کړې شو(التحرير والتنوير)

﴿وَمِنَ ٱلنَّاسِ وَٱلدَّوَآبِّ﴾دامتعلق دې دَماقبل دليل عقلي سره.چې لکه څرنګه چې اللهﷻ مختلف رنګونووالاميوې اومختلف رنګونووالاغرونه پيداکړيدي،دغه شان ئى انسانان هم مختلف رنګونو والا .ځناورهم مختلف رنګونووالاپيداکړيدي،﴿من الناس﴾ خبر مقدم دې.او ﴿مختلف الوانه﴾مبتدامؤخر دې.

فائده:ميوؤ اختلاف الوان کښې چونکه تجدد وى وقتا فوقتا تبديلى پکښې راځى نو ځکه هلته جمله فعليه «فاخرجنا به ثمرات مختلفا الوانها» راوړلې شوه،چې داهم په تجدد اوحدوث دلالت کوى او غرونو.ځناورو آو دَانسانانو رنګ کښې عام طورباندې تغير وتبديلې نه راځى نوځکه دلته جمله اسميه راوړلې شوه چې هغه په استمرار دلالت کوى.

﴿كَذَٰلِكَ﴾اي:مثل الاراضي والثمار، مفعول مطلق تشبيهي دې،اي:مختلف الوانه اختلافا كائنا

كذالک.او يادا جدا جمله ده اي:کذالک الامر.او مابعد لپاره تمهيد دي چې خبره هم دغه شان ده غور پرې اوکړه،

﴿إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ﴾يعنى الله جل جلاله داتفاوت صرف رنګونو پورې نه دې محدود کړې بلکه څنګه چې رنګونه کښې دوئ مختلف دي دغه شان په خوف وخشيت کښې هم مختلف درجات دي چاته دخوف اعلى درجه حاصله ده او چاته کمه او مدار ددې په علم باندې دې چې چا سره څومره درجه علم وي دومره به ورسره خوف هم وي.

دا آيت زجردې مشرکانو ته چې دومره واضحه واضحه دلائل دَ الله جل جلاله په واحدانيت او قدرت قائم دى دې باوجود دوئ په الله جل جلاله باندې ايمان نه راوړى او دهغه نه يريږى. صرف مؤمنان چې هغوئ ته دَ الله جل جلاله دَ ذات وصفات علم دې.هغه ايمان راوړى او هغه نه يريږى دې آيت کښې دَاهل خشيت تعيين هم اوشو چې دَ هغې اجمالا ذکر په ((انما تنذر الذين يخشون ربهم)) کښې راغلې وو

دې آيت کښې دهر مؤمن چې هغه دَ الله جل جلاله په ذات اوصفات جليله باندې ايمان راوړې فضيليت دې .خصوصا بيا په مؤمنانوکښې دعلماؤو فضيلت بيان دې.چې څومره لوئ عالم وى هومره به زيات دَ الله جل جلاله نه خشيت والا وى.لکه حديث شريف کښې راغليدي "اني لاعلمكم بالله عزوجل واخشاكم له "[مسند احمد]حسن بصري رحمه الله فرمائى چې عالم هغه څوک دې چې په خلوت جلوت دواړوکښې دَالله جل جلاله نه خوف کوي.اوچې دکوم څيزالله جل جلاله ترغيب بيان کړې وي.نوهغه څيزده ته مرغوب وي اوچې کوم څيزدَالله جل جلاله په نيزباندې مبغوض نودَهغې نه ده ته نفرت وي.حضرت ابن مسعود رضي الله عنه فرمائى:ليس العلم بكثرة الحديث ولكن العلم عن كثرة الخشية، يعني ډيرې خبرې کول علم نه دې.بلکه ډيره يره اوخشيت علم دې.يوصحابي ربيع بن انس رضي الله عنه فرمائى"من لم يخش فليس بعالمٍ"مجاهد رحمه الله فرمائى:انما العالم من خشى الله.دې رواياتونه معلومه شوه چې عالم هغه نه دې چې صرف په عربي لغت،ياپه علم النحو.علم الصرف اونورو فنونو کښې ماهروي،تقوى اوخوف خداپکښې نه وي(روح،ابن کثيروغيره).﴿إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ غَفُورٌ﴾علت دې دَوجوب دَخشية.

إِنَّ الَّذِينَ يَتْلُونَ كِتَابَ اللَّهِ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَأَنفَقُوا مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ سِرًّا

بيشکه هغه خلق چې لولي کتاب دَالله جل جلاله(قرآن)اوپاباندې کړې دَ... او خرچ کوى دَهغې نه چې ... هغوئ ته په پټه

وَعَلَانِيَةً يَرْجُونَ تِجَارَةً لَّنْ تَبُورَ ﴿٢٩﴾ لِيُوَفِّيَهُمْ أُجُورَهُمْ
او په ښکاره امید ساتي دداسې سودا چې چرته به هم زیان نه مومي خکه چې پوره به ورکوي الله دوئ ته اجرونه ددوئ
وَيَزِيدَهُمْ مِّنْ فَضْلِهِ ۚ إِنَّهُ غَفُورٌ شَكُورٌ ﴿٣٠﴾ وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ
اوزیات به ورکړي دوئ ته دفضل خپل نه.بیشکه الله ﷻ بخښونکي قدردان دي اوهغه چې وحي کړېده مونږ تاته
مِنَ الْكِتَابِ هُوَ الْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ
دکتاب نه هغه حق دې تصدیق کونکې دې دهغه کتابونه چې مخکښې دي دده نه. بیشکه الله ﷻ
بِعِبَادِهِ لَخَبِيرٌ بَصِيرٌ ﴿٣١﴾
په خپلو بندګانو یقینا چې خبرداردي لیدونکي دې

﴿إِنَّ الَّذِينَ يَتْلُونَ كِتَابَ اللَّهِ﴾دابشارة اخروي دې لپاره دمومنانواو دهغوئ بعض اوصاف بيانيږي چې دوئ دقرآن تلاوت کوي اودهغې په احکاموباندې عمل کوي.مونځ قائموي.مال خرچ کوي.نودوئ ته به الله ﷻ خامخادوئ دعملونوپوره پوره اجرورکوي

﴿الَّذِينَ﴾اسم موصول اسم دې د إِنَّ اوخبرورله «يرجون تجارة» ﴿يَتْلُونَ كِتَابَ اللَّهِ﴾ دالله ﷻ دکتاب نه مرادقرآن دې،تلاوت اونفس قرائت کښې فرق دې.تلاوت کښې اتباع معنی هم ملحوظه ده ،خکه چې ددا تلا يتلو پمعنی داتباع نه ماخوذ دې. نو دې لحاظ سره تلاوت په درې امورو باندې مشتمل دې:(١)صرف الفاظ لوستل(٢)په معنی خان پوهه کول.خکه چې اتباع بغيرفهم د معنی نه نشی کيدې(٣) بيا ورباندې عمل کول ﴿سِرًّا وَعَلَانِيَةً﴾يعني په پټه اوښکاره.یا﴿سِرًّا﴾دشپې ﴿علانية﴾دورځې،

﴿يَرْجُونَ تِجَارَةً﴾ يعنی پدې عبادتونو ناز او فخر نه کوی او نه پدې باندې اجروثواب خپل استحقاق ګنړې بلکه دې عبادتونو باوجود دالله ﷻ دعذاب يرود ورسره وی،اودې سره سره داسې سوداامید ئی هم وی چې هغې کښې چرته تاوان نشته،چې هغه دآخرت ثواب اوجنت دې ﴿لِيُوَفِّيَهُمْ أُجُورَهُمْ﴾دايامتعلق دې﴿لَنْ تَبُورَ﴾ پوري،يعني داتجارة دضائع کيدلونه خکه محفوظ دې چې الله ﷻ ددوئ دعملونوپوره پوره اجرورکوي،يامتعلق دې په محذوف پوري،اى فعلوا

ذلك ليوفيهم اجورهم(روح) يعني دوئ نيك عملونه پدې وجه کوي چې الله جل جلاله ورته اجرور کړي ﴿وَيَزِيدَهُم مِّن فَضْلِهِۦٓ﴾زيادت دَفضل نه مراديا ورله حسنات مضاعف کول دي.يا قبولول دَ شفاعت دَدوئ دي په حق دَهغه چاکښ چې چاورسره احسان کړې وي.بعضي وائي دينه مراد ديدار الهی دې.رزقنا الله بفضله.(روح). ﴿إِنَّهُۥ غَفُورٌ شَكُورٌ﴾تعليل دې دَماقبل.يعنې ډير مغفرت کونکې دې ددوئ نه چې کومې خطاګانې شوې دی هغه ورته معاف کوی.اوقدردان دی . عبادت ګزاروله دَهغوئ استحقاق نه زيات اجرونه ورکوی

﴿وَٱلَّذِىٓ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ مِنَ ٱلْكِتَٰبِ﴾دادليل وحی دې په توحيد او دقرآن حقانيت اثبات دې. يعنی کومې خبرې ته دوئ ته کوې داموږ تاته وحی کړيدی اوبالکل حق خبرې دی .مخکښ کتابونوکښ هم دهغه شان خبرې وې ﴿مِنَ﴾بيانيه دې.دَ﴿ٱلْكِتَٰبِ﴾ نه مرادقرآن دې.يا﴿مِنَ﴾ تبعيضيه دې.دَ﴿ٱلْكِتَٰبِ﴾نه مرادجنس کتاب دې.يعني خپلو کتابونوکښې چې کوم کتاب وحي تا ته کوو.او يا﴿مِنَ﴾ ابتدائيه دې او﴿ٱلْكِتَٰبِ﴾ نه مراد لوح محفوظ دې.يعني لوح محفوظ نه چې کومه وحي تاته کيږي(روح)﴿إِنَّ ٱللَّهَ بِعِبَادِهِۦ﴾دادَمشرکينو اشکال جواب دې. مشرکينو به وئيل چې ((لولا نزل هذالقرآن على رجل من القريتين عظيم)) کچرته دا قرآن حق دې نو يو غټ اوصاحب حيثيت کس باندې ولې ندې نازل شوې الله جل جلاله فرمائی چې دا دَ خمامرضی ده. خکه خپل بندګان ښه پيژنم.دَهغوئ احوالونه خبر اودهغوئی مسلسل نګرانی کوم. ماته ښه پته ده چې څوک دَ دې لائق او اهل دې اوڅوک نه .نو اې نبی! ماتاله داقرآن درکړيدې او ته مې دې شرف نه مشرف ګرځولې ئې

ثُمَّ أَوْرَثْنَا ٱلْكِتَٰبَ ٱلَّذِينَ ٱصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا ۖ
بيا په ميراث کښ ورکړوموږ کتاب هغه خلقوته چې غوره کړيدي موږ(په سبب دَايمان) دبندګانوخپلونه
فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهِۦ وَمِنْهُم مُّقْتَصِدٌ وَمِنْهُمْ سَابِقٌۢ بِٱلْخَيْرَٰتِ
نوبعضي دَدوئ نه ظلم کونکې دي په خپل ځان.اوبعضې ددوئ نه درميانه دي. اوبعضې ددوئ نه وړاندې کيدونکې دی نيکونه

بِإِذْنِ اللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ الْفَضْلُ الْكَبِيرُ ۝ جَنَّاتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا يُحَلَّوْنَ
په توفیق دالله ﷻ سره. .دا فضل لوئ دي.(ددوئ دپاره) جنتونه دي داقامت داخلیږي به دوئ هغې ته اغوستولي به شي
فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ وَلُؤْلُؤًا ۖ وَلِبَاسُهُمْ فِيهَا حَرِيرٌ ۝
دوئ ته په جنت کښې دباؤګانو(بنګړي) دسرو زرو او(وراغستولی کیږي به ورته) ملغري. اوجامې ددوئ به په جنت کښې ریښم وي

﴿ثُمَّ أَوْرَثْنَا ٱلْكِتَـٰبَ﴾ نبی کریم ﷺ باندې دقرآن ورکولواحسان واکرام نه بعداوس پدې امت باندې فضل واحسان ذکر کیږي چې دوئ الله ﷻ امت قرآن اوګرځولو.﴿ثُمَّ﴾تراخی لپاره دې یعنی غټ فضل خومې په تادااوکړو چې تاله مې قرآن درکړو اوبیا مې په دې امت اوکړو چې دوئ مې امت قرآن اوګرځولو.﴿أَوْرَثْنَا﴾پمعنیٰ دَ اعطینا دې ځکه میراث هم عطاوي،بعض وائی پمعنیٰ دِاخرنا دې.معنی داده چې مونږمؤخرکړوقرآن دَامم سابقونه او دې امت نه مو ورکړو لپاره دَاکرام او اعزاز(زادالمسیر،روح)﴿ٱلْكِتَـٰبَ﴾ مفعول ثاني دَ ﴿أَوْرَثْنَا﴾ دې او﴿ٱلَّذِينَ ٱصْطَفَيْنَا﴾ ورله مفعول اول دې.دینه مرادنبی کریم ﷺ امت دې.مفعول ثاني مقدم شویدې لپاره دَقصد دَتعظیم او تشریف. دَجمهوروپه نیزدَ﴿ٱلْكِتَـٰبَ﴾ نه مرادقرآن دې.

﴿فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهِۦ﴾دې کښې دَ الذین اصطفینا تقسیم دې دقرآن سره طرز.عمل په اعتبار سره. (۱)ظالم لنفسه: دینه مراد هغه خلق دې چې دَقرآن په احکاماتو عمل نه کوی دَفرائضو او واجباتو پابندي نه کوی اوحرامونه اجتناب نه کوی، دوئ ته الله ﷻ ظالمان ځکه اوئیل چې د ایمان اوقرآن دولت ورکولو تقاضه داده چې دوئی نه په جنت کښې دخول اولی نصیب شي . خو دوئ پرې عمل اونه کړونو ځان ئې دَسزا مستحق اوګرځوو او دالله ﷻ قانون مطابق به د هغې ګناهونو سزا میلاویږی او دهغې نه بعد به جنت ته ځې

(۲)مقتصد دینه مراد هغه خلق دی چې دَ فرائضواوواجباتو پابندې کوی اوحرام اومکروه تحریمی نه ځان ساتی خو د نفلواو مستحباتو اهتمام نه کوی.دهغه خلق به جهنم نه په سلامتیاکښې وی

(۳)سابق بالخیرات:دینه مراد هغه خلق دی چې دَفرائضو اوواجباتو پابندی اوحرامو او مکروه تحریمی نه اجتناب سره سره نفلی عبادتونو اومستحباتو هم پوره اهتمام کوی او

مکروه تنزیهي او بعض صورتونو کښې دخني مباحاتو نه هم ځان ساتي. سابقين خو سابقين دي او الله ﷻ په دخپل شان مطابق دوئ له اجرونه درکوي. كما قال تعالى والسابقون السابقون.

﴿سَابِقٌ بِالْخَيْرَاتِ﴾ سره ﴿بِإِذْنِ اللَّهِ﴾ دې لپاره ذکر شو چې څوک دا اونه واني چې دا دده ذاتي کمال دې بلکه دا صرف د الله ﷻ فضل دې او هغه ورله آسانه کړيده

فائده پدې درې واړو اصنافو کښې ﴿ظَالِمٌ لِّنَفْسِهِ﴾ مقدم شو. وجه ياداده چې ظالمين يعني نافرمانه ډيردي په نسبت سره اطاعت کونکوته. كما قال تعالى: وقليلٌ من عبادى الشكور (السباء) يا چا ويلي دي ظَالِمٌ ځکه مقدم شو چې د الله ﷻ د رحمت نه نااميده نه شي. او ﴿سَابِقٌ﴾ ځکه مؤخر شو چې په عمل باندې په خود پسندئ او عجب کښې واقع نه شي.

﴿ذَٰلِكَ﴾ مشاراليه ياوصف اخيردې. يعني د اسبقت نيکيانوته د الله ﷻ د طرفه لوئ فضل دې. يامشاراليه اصطفأده. يامشاراليه دکتاب الله وارث ګرځول دي. يعني څوک چې د الله ﷻ دکتاب وارث شي نو دا د الله ﷻ د طرفه لوئ فضل دې.

﴿جَنَّاتُ عَدْنٍ﴾ دا بشارت دې مؤ منانو ته ﴿جنت﴾ خبردې د مبتداء محذوف اى لهم جنت عدن. يامبتداء دې او ﴿يَدْخُلُونَهَا﴾ ئې خبراول دې ﴿يُحَلَّوْنَ فِيهَا﴾ ئې خبرثاني دې. ضمير د جمع په ﴿يَدْخُلُونَهَا﴾ کښې مذکوره درې واړو اصنافوته راجع دې. يعني دې درې واړو سره وعده د جنت ده. حضرت عمر ؓ يوځل دا آيت اولوستلو اوبيائې اوفرمائيل: قال رسول الله ﷺ: سابقنا سابق ومقتصدنا ناج، وظالمنا مغفورله يعنى سابقين خو هسې سابقين دى دهغوئ خبره مه كوه. مقتصد هم به الله ﷻ عذاب نه بچ کړي او ظالم به اګرچې جهنم ته ځي. خو بلآخر به ئې راوباسي او جنت کښې به ئې داخل کړي (قرطبي).

دغه شان حضرت ابودرداء ؓ فرمائي ما د حضور ﷺ نه واوريدل چې: قال الله تعالى ﴿ثُمَّ أَوْرَثْنَا الْكِتَابَ الَّذِينَ اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا ۖ فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهِ وَمِنْهُم مُّقْتَصِدٌ وَمِنْهُمْ سَابِقٌ بِالْخَيْرَاتِ بِإِذْنِ اللَّهِ﴾ فاماالذين سبقوافأولئك يدخلون الجنة بغيرحساب، يعني سابقين بالخيرات به بغيرحسابه جنت ته داخليږي، واماالذين اقتصدوافاولئك الذين يحاسبون حساباً يسيراً، يعني د مقتصدينو سره به اسان حساب کيږي اوهرچې دريم قسم دې يعني ظالم لنفسه نودوئ به اول په ميدان محشر کښې

حصارکړی شي بيابه نی الله ﷻ پخپل رحمت سره جنت ته داخل کړي نو دوئ به وائی الحمدلله الذي اذهب عناالحزن(ابن کثير) په روايت کښ دي چې دوئ به په شفاعت دنبي اکرم ﷺ سره جنت ته داخل کړې شي. نو ددې رواياتونه معلومه شوه چې وعده ددخول جنت ذکرشوي درې واړه قسمه خلقو لپاره ده

﴿يُحَلَّوْنَ فِيهَا﴾يعني دې درې واړوته به دسروزرو کالي وراغستولې کيږي. ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي چې مؤمن ته به ترهغه ځايه پورې کالي وراچولې کيږي ترکومه ځائ پورې چې داودس اوبه رسيږي.

﴿مِنْ أَسَاوِرَ﴾من تبعيضيه دي. اى يحلون بعض اساور(روح)ګوياکه دې بنګړوته به امتيازاوتفوق حاصل وي بعض وائی من زائده دې. ﴿مِن ذَهَبٍ﴾من بيانيه دي. ﴿وَلُؤْلُؤًا﴾عطف دې په محل د﴿مِنْ أَسَاوِرَ﴾اى ويحلون فيها لؤلؤا (روح) بعض وائی مفعول دې دفعل محذوف اى ويؤتون لؤلؤاً. په حديث کښ دي چې ددوئ په سرو باندې به دملغروتاجونه وي چې دټولونه ادنی ملغره به دمشرق اومغرب مابين روښانه کوي (ترمذي) ﴿وَلِبَاسُهُمْ فِيهَا حَرِيرٌ﴾يعني خالص ريښم به ددوئ لباس وي. په حديث کښ دي: من لبس الحرير فی الدنيالم يلبسهٔ فی الاخرة(ابن کثير)چاچه دنياکښ دريښمولباس واچولو اخرت کښ به نی نه اچوی، اوبل حديث کښ دي: هي لهم فی الدنياولکم فی الاخرة. داد کافرانو لپاره دنيا کښ دې او مؤمنانو له په آخرت کښ

وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ ۖ إِنَّ رَبَّنَا
اووائی به دوئ. ټول صفتونه دخدائ توب الله ﷻ لره دي هغه الله ﷻ چې لرې نی کړوزمونږنه غم. بيشکه رب زمونږ
لَغَفُورٌ شَكُورٌ ۝ الَّذِي أَحَلَّنَا دَارَ الْمُقَامَةِ مِن فَضْلِهِ
خامخابخنه کونکې قدردان دي. هغه الله ﷻ چې کوز نې کړومونږ کوردهميشه اوسانړ(اوسيدو) ته په خپل فضل سره.
لَا يَمَسُّنَا فِيهَا نَصَبٌ وَلَا يَمَسُّنَا فِيهَا لُغُوبٌ ۝ وَالَّذِينَ كَفَرُوا
نه به رسيږي مونږته پدې کښ تکليف اونه به رسيږي مونږته پدې کښ ستوماني. اوهغه خلق چې کفرنی کړيدي

لَهُمْ نَارُ جَهَنَّمَ لَا يُقْضٰى عَلَيْهِمْ فَيَمُوْتُوْا وَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ مِّنْ عَذَابِهَا

ددوئ دپاره اور دجهنم دي. فيصله به نشي كولې،پدوئ باندې چې مړه شي اونه به سي سپكدلې ددوئ نه دعذاب دجهنم نه.

كَذٰلِكَ نَجْزِيْ كُلَّ كَفُوْرٍ ۝ وَهُمْ يَصْطَرِخُوْنَ فِيْهَا ۚ رَبَّنَآ

دغه شان مونږسزاوركوؤهرناشكره ته(كافرته)اودوئ به چغې اوباسي په جهنم كښې،(وائى به) اې ربه زمونږه

اَخْرِجْنَا نَعْمَلْ صَالِحًا غَيْرَ الَّذِيْ كُنَّا نَعْمَلُ ؕ

اوباسه مونږه دجهنم نه،چې عمل اوكړومونږ نيك غير د هغې نه چې مونږ كولو،په دنياكښې

اَوَلَمْ نُعَمِّرْكُمْ مَّا يَتَذَكَّرُ فِيْهِ

(الله جل جلاله به ورته اوائى)آياعمرنه وو دركړې مونږتاسوته دومره چې نصيحت په كښې حاصلولى شو

مَنْ تَذَكَّرَ وَجَآءَكُمُ النَّذِيْرُ ؕ فَذُوْقُوْا فَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ نَّصِيْرٍ ۝

هغه چاچه نصيحت ئې قبولولو.اوراغلې وؤتاسوته يره ونكې نوځكئ(عذاب) نونيشته دي دپاره دظالمانوهيڅ مددګار

﴿وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ماضي پمعنى دمضارع ده.اى يقولون(روح)يعني اهلِ جنت به جنت نه داخليدلو وخت كښې وائى چې شكردې دالله جل جلاله چې دهرقسمه غم نه ئې مونږبې غمه كړو. تعبيرترينه په ماضي سره دوجې دتيقن نه اوشو﴿الْحَزَنَ﴾حزن نه مرادسختئ دقيامت دي.ابن عباس رضي الله عنه وائى حزن النارورنه مراددې.بعضِ وائى حزن الموت دي.نودابه په هغه وخت كښې وائى كله چې موت ذبح كړې شي،اولى داده چې هرقسمه حزن ددنيااوآخرت ورنه مراددى.په حديث كښې دي:ليسَ علىٰ اهلِ لااله الآالله وحشةٌ فى قبورهم ولافى نشورهم،وكانّي انظرُالى اهل لااله الآالله وهم ينفضون التراب عن رؤسهم ويقولون الحمدلله الذي اذهب عنّاالحزن(ابن كثير).ترجمه په لااله الا الله والو باندې به نه قبركښې وحشت وى او نه دقبر نه پورته كيدووخت كښې. ګوياځه هغه منظر وينم چې لا اله الا الله والا دخپلو سرونو نه خاورى څنډوئى اودا آيت به تلاوت كوى الحمد الله الذي اذهب عنا الحزن﴿إِنَّ رَبَّنَا لَغَفُوْرٌ﴾دا اول دوؤصنفينو لپاره، ﴿شَكُوْرٌ﴾دا دصنف ثالث لپاره

﴿دَارَ الْمُقَامَةِ﴾مصدرميمي دي،يعني دارالاقامة،هميشه لپاره دپاتې كيدوځاى.﴿لَا يَمَسُّنَا

فِيهَا نَصَبٌ ﴾ ای تعبٌ.نصبٌ ستړي والي او مشقت ته وائی او ﴿لُغُوبٌ﴾هغه فتور او ستوماني ته وائي چې دَتعب نه پيدا شي .نفي دَسبب اګرکه چې مستلزمه وي نفي دَمسبب لره مګر دَمبالغي دپاره صراحةً نفي اوکړی شوه﴿نَصَبٌ﴾جسماني ستړتياته او﴿لُغُوبٌ﴾روحاني نفساني ستړتياته وائی

﴿وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا ﴾دا تخويف اخروي دې کافرانوته چې دوئ به تول عمرپه جهنم کښې پراته وي نه به پرې موت راځي چې دَعذاب نه خلاص شي اونه به ورنه په عذاب کښې څه کمي کيږي.

﴿وَهُمْ يَصْطَرِخُونَ فِيهَا ﴾ای يستغيثون بشدةٍ وعويلٍ(جلالين)يعني داکافران به تيزي ناري سوري وهي په جهنم کښې فريادبه کوي په ژړاانګولاسره﴿رَبَّنَآ أَخْرِجْنَا ﴾يقولون ورنه مخکښې مقدر دې،يعني دوئ به غواړي چې مونږجهنم نه راوباسلی شودنياته واپس کړې شونوبيابه مونږ نيك عملونه اوکړو ﴿نَعْمَلْ صَٰلِحًا﴾جواب امردې ﴿غَيْرَ ٱلَّذِى كُنَّا نَعْمَلُ ﴾ يعني شرك به نه کوؤ.

﴿أَوَلَمْ نُعَمِّرْكُم ﴾ ددوئ درخواست جواب دې،فيقال لهم ورنه مخکښې مقدردې.بطورزجربه ورته دَاللهﷻ دَطرفه جواب ورکړې شي چې آيامونږتاسوته دومره عمرنه وؤدرکړې چې حق مو پکښې پيژندلې وې اوتوحيدموقبول کړې وې؟ دينه باوجود چې تاسو ايمان نه راوړو نوبيا مو هم ستاسو نه دَايمان راوړواميد نشته بس جهنم کښې اوسئ

((ما))ظرفيه ده يا موصوفه او يا موصوله ده،يعنی دومره زمانه او عمر راجح قول دَادې چې دينه څه مخصوص مدت اوعمر نه دې مراد بلکه هر مکلف انسان باندې ضروربضرور دومره وخت تيريږی چې پکښې غوروفکر اوکړی او حق ورته واضح شی او دهغه شان خامخا داسی څه سره واسطه راځی چې هغه دَده لپاره داعی دَحق وی او دَانسان عمرچې څومره زياتيږی دومره ورته دامواقع زياتې ميلاويږی، دې وجهی نه .په حديث کښې دې:اعذرالله تعالٰی الٰی امرئٍ اخرعمره حتٰی بلغ ستين سنةً(بخاري وغيره) ﴿وَجَآءَكُمُ ٱلنَّذِيرُ﴾نذيرنه مرادپيغمبران او دَهغوئ نائبان او وارثان دی چې هغه داعيان دحق وی دينه مراد هغه مختلف حالات هم کيديشی چې هغه دانسان پام آخرت طرف ته ګرځوی،لکه بيماریٔ شوې،عمر زياتيدل شو.دې وجهی نه بعض مفسرينو نذير نه مراد په ګيره کښې سپين ويخته لګيدل اغتسی دی او ځنو ترينه دنوسی پيدائش اغستې دې.خلاصه دا چې "نذير"هر هغه چاته وئيلی کيږی چې انسان آخرت طرف ته متوجه کړی.خواه هغه پيغمبر او دهغه نائبان وی يانورحالات دژوندوی

فِيهَا نَصَبٌ ﴾ ای نعبٌ،نصبٌ ستړي والي اومشقت ته وائی او﴿لُغُوب﴾هغه فتوراوستومانئ ته وائي چې دتعب نه پیداشي.نفي دسبب اګرکه چې مستلزمه وي نفي دمسبب لره مګردمبالغي دپاره صراحةً نفي اوکړی شوه﴿نَصَب﴾جسماني ستړتیاته او﴿لُغُوب﴾روحاني نفساني ستړتیاته وائی

﴿وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ﴾داتخويف اخروي دې کافرانوته چې دوئ به تول عمرپه جهنم کښ پراته وي نه به پرې موت راځي چې دعذاب نه خلاص شي اونه به ورنه په عذاب کښ څه کمي کيږي.

﴿وَهُمْ يَصْطَرِخُونَ فِيهَا ﴾ای يستغيثون بشدةٍ وعويلٍ(جلالین)يعني داکافران به تيزي ناري سوري وهي په جهنم کښ فريادبه کوي په ژړاانګولاسره﴿رَبَّنَآ أَخْرِجْنَا ﴾يقولون ورنه مخکښ مقدر دي،يعني دوئ به غواړي چې مونږجهنم نه راوباسلی شودنیاته واپس کړې شونوبیابه مونږ نیك عملونه اوکړو.﴿نَعْمَلْ صَٰلِحًا﴾جواب امردي ﴿غَيْرَ ٱلَّذِى كُنَّا نَعْمَلُ ﴾ يعني شرك به نه کوو.

﴿أَوَلَمْ نُعَمِّرْكُم ﴾ ددوئ درخواست جواب دي،فيقال لهم ورنه مخکښ مقدردي.بطوررجربه ورته دالله ﷻ دطرفه جواب ورکړې شي چې آیامونږتاسوته دومره عمرنه ووُدرکړې چې حق مو پکښ پيژندلې وې اوتوحیدموقبول کړې وې؟ دینه باوجود چې تاسو ایمان نه راوړو نوبیا مو هم ستاسو نه دایمان راوړوامید نشته بس جهنم کښ اوسئ

،،ما،،ظرفیه ده یا موصوفه او یا موصوله ده،یعنی دومره زمانه او عمر راجح قول دادې چې دینه څه مخصوص مدت اوعمر نه دې مراد بلکه هر مکلف انسان باندې ضروربضرور دومره وخت تیريږی چې پکښ غوروفکر اوکړی او حق ورته واضح شی او.دهغه شان خامخا داسی څه سره واسطه راځی چې هغه دده لپاره داعی دحق وی او دانسان عمرچې څومره زیاتيږی دومره ورته دامواقع زیاتې میلاېږی، دې وجهی نه .په حدیث کښ دي:اعذرالله تعالٰی الٰی امرئٍ اخرعمره حتّی بلغ ستین سنةً(بخاري وغيره) ﴿وَجَآءَكُمُ ٱلنَّذِيرُ﴾نذيرنه مرادپيغمبران او دهغوئ نائبان او وارثان دی چې هغه داعیان دحق وی دینه مراد هغه مختلف حالات هم کیدیشی چې هغه دانسان پام آخرت طرف ته ګرځوی،لکه بیماریٔ شوې،عمر زیاتیدل شو.دې وجهی نه بعض مفسرینو نذیر نه مراد په ګیره کښې سپین ویختنه لګیدل اغتسی دی او څنو ترینه دنوسی پیدائش اغستې دي،خلاصه دا چې "تذیر"هر هغه چاته وئیلی کیږی چې انسان آخرت طرف ته متوجه کړی.خواه هغه پیغمبر او دهغه نائبان وی یانورحالات دژوندوی

إِنَّ اللَّهَ عَٰلِمُ غَيْبِ السَّمَٰوَٰتِ وَالْأَرْضِ ۚ إِنَّهُۥ عَلِيمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُورِ ۝ هُوَ الَّذِي

بیشکه الله ﷻ عالم دې په غیب دآسمانونو اودزمکې.بیشکه الله ﷻ ښه پوهه دې په خبرو دسینو باندې.الله ﷻ هغه ذات دی

جَعَلَكُمْ خَلَٰٓئِفَ فِي الْأَرْضِ ۚ فَمَن كَفَرَ فَعَلَيْهِ كُفْرُهُۥ ۖ وَلَا يَزِيدُ الْكَٰفِرِينَ

چې ګرځولي يئ تاسو خليفه ګان په زمکه کښې.پس هغه څوك چې کفرئې وکړونو په هغه دې وبال دکفر دهغه.اونه زياتوي کافرانولره

كُفْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ إِلَّا مَقْتًا ۖ وَلَا يَزِيدُ الْكَٰفِرِينَ كُفْرُهُمْ إِلَّا خَسَارًا ۝ قُلْ أَرَءَيْتُمْ

کفرکول دهغوئ په نزدرب دهغوئ مګرغصه.اونه زياتوي کافرانولره کفر کول دهغوئ مګرتاوان.اووايه ته خبراکړئ

شُرَكَآءَكُمُ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ ۖ أَرُونِي

دشريکانوستاسو هغه چې سوالونه کوئ تاسودهغوئ نه ماسوادالله ﷻ نه. اوښائی ماته

مَاذَا خَلَقُوا مِنَ الْأَرْضِ أَمْ لَهُمْ شِرْكٌ فِي السَّمَٰوَٰتِ أَمْ ءَاتَيْنَٰهُمْ كِتَٰبًا

چې څه حصه پيداکړې ده دوئ دزمکې نه،يادوئ لره شرکت دې په اسمانونوکښې.ياورکړيدې مونږدوئ ته کتاب

فَهُمْ عَلَىٰ بَيِّنَتٍ مِّنْهُ ۚ بَلْ إِن يَعِدُ الظَّٰلِمُونَ بَعْضُهُم بَعْضًا إِلَّا غُرُورًا ۝

نودوئ په واضح دليل دی ددغه کتاب نه.بلکه نه کوي وعده ظالمان يو بل سره مګردهوکې

﴿إِنَّ اللَّهَ عَٰلِمُ غَيْبِ السَّمَٰوَٰتِ وَالْأَرْضِ﴾ دالسم(١٠)دليل عقلي دې په توحيد.دې کښې دالله ﷻ دغيب دانئ ذکردې چې صرف الله ﷻ دآسمانونو اودزمکې په هرپټ څيزباندې عالم دې.او دسينو په رازونو باندې خبر دې لهذا صرف الله ﷻ دهرچالپاره کارسازاوګنړئ اوپه وخت دمصائبوکښې صرف دهغه نه غواړئ،دغه شان داآيت تعليل دې ماقبل دپاره چې الله ﷻ په هرڅه عالم دې،کچرته دوزخيان دنياته واپس هم کړی شي بيابه هم نيك عمل نه کوي.

﴿هُوَ الَّذِي جَعَلَكُمْ﴾ داترغيب دې ايمان ته،چې مونږ په زمکه کښې تاسوخپل خليفه ګان ګرځولی يئ لهذا په خپله هم ايمان راوړئ او نوروته هم ددې دعوت ورکوئ کفرمه کوئ کفر کښې ستاسونقصان دې،﴿خَلَٰٓئِفَ﴾ دخليفة جمع ده نائب اوقائمقام ته وائی،يعنی زمکې او کائنات انتظام وانصرام مې درته حواله کړې دې او هغې کښې دتصرف اجازت مې درکړې

دي يا د خلاف معنی ده يوبل پسې راتلونکی. يعنی يو راشی څه وخته پورې په دنيا کښې وی بيا لاړشی بل راشی او هغه دده مال ومتاع مالک جوړ شی دچاسره هم دا دنيا هميشه لپاره نه ده لهذا ايمان راوړئ کفر مه کوئ.

﴿قُلْ أَرَءَيْتُمْ شُرَكَآءَكُمُ﴾ دا ثمره دَدلائلومذکورؤده دويم خل اودَمشرکانونه دَدليل عقلي مطالبه ده په شرک، چې په کوم دليل تاسوداخپل بتان دَالله ﷻ سره شريکوي. آيادَ ځمکي څه حصه دوئ پيداکړيده؟ يادآسمانونوپه نظام کښې دَالله ﷻ سره شريك دي؟ څه لږ دَعقل نه خوکاروا خلئ. ﴿أَرُونِي مَاذَا خَلَقُوا﴾ بدل اشتمال دي. دَ﴿أَرَءَيْتُمْ﴾ نه ﴿أَمْ ءَاتَيْنَٰهُمْ كِتَٰبًا﴾ دا دَنقلي دليل مطالبه ده. چې عقلي دليل خودرسره نشته، نوداسې يومعتبرنقلي دليل پيش کړئ چې دَهغې په اساس تاسوشرك کوئ. ﴿بَلْ إِن يَعِدُ ٱلظَّٰلِمُونَ﴾ اضراب دي دَماقبل نه چې نه ورسره دليل عقلي شته نه ورسره دليل نقلي بلکه هسې يوبل ئې دهوکه کښې غورخولي دي. ﴿إِن﴾ نافيه دي. ﴿بَعْضُهُم﴾ نه مرادمتبوعين اومشران دي، ﴿بَعْضًا﴾ نه مراداتباع دی. يعني متبوعين خپلو اتباعوته صرف دهوکه ورکوي اووعدي ورسره کوي چې: هؤلآء شفعاءنا عندالله. چې دا معبودان به زمونږ شفعاء وي. يا ﴿بَعْضُهُم﴾ نه مرادشياطين دي اودَ﴿بَعْضًا﴾ نه مشرکان مراددي

إِنَّ ٱللَّهَ يُمْسِكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ أَن تَزُولَا ۚ وَلَئِن زَالَتَآ إِنْ أَمْسَكَهُمَا
بيشکه الله ﷻ ټينګ ساتلی دی آسمانو نه اوزمکه ده بې ځايه کيدلونه. اوکچرې بې ځائ شي دادواړه نه به کړي راټينګ دوئ
مِنْ أَحَدٍ مِّنۢ بَعْدِهِۦٓ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا ﴿٤١﴾ وَأَقْسَمُوا۟ بِٱللَّهِ
هېڅ څوك ماسوئ دَالله ﷻ نه. بيشکه الله ﷻ ډيرصبرکونکې بخنه کونکې دی. اوقسمونه کوي دوئ په الله ﷻ باندې
جَهْدَ أَيْمَٰنِهِمْ لَئِن جَآءَهُمْ نَذِيرٌ لَّيَكُونُنَّ أَهْدَىٰ مِنْ إِحْدَى ٱلْأُمَمِ ۖ
پاخه قسمونه خپل کچرې راغې دوئ ته پيغمبرنوخامخا به وی دوئ يعني مونږ زيات په هدايت دَهرامت نه.
فَلَمَّا جَآءَهُمْ نَذِيرٌ مَّا زَادَهُمْ إِلَّا نُفُورًا ﴿٤٢﴾ ٱسْتِكْبَارًا فِى ٱلْأَرْضِ
نوکله چې راغې دوئ ته پيغمبر نو زيات ئې نه کړو د دوئ مګرنفرت. چې تکبرکول وو په زمکه کښې

وَمَكْرَ السَّيِّئِ ۚ وَلَا يَحِيقُ الْمَكْرُ السَّيِّئُ إِلَّا بِأَهْلِهِ ۚ فَهَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا سُنَّتَ الْأَوَّلِينَ ۚ

[illegible] وو د بدو . او به راحسره کيږي .مکربدمکرپه کونکی دهغه باندي.نو دوی انتظار نه کوي مګر د طریقي د اولینو.

فَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ اللَّهِ تَبْدِيلًا ۖ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ اللَّهِ تَحْوِيلًا ﴿٤٣﴾

نو هرګزاوبه نه مومي ته د طریقي د الله جل جلاله لره بدلیدل.او هرګزاوبه نه مومي ته د طریقي د الله جل جلاله لره ګرځیدل.

﴿إِنَّ ٱللَّهَ يُمْسِكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ﴾ دا يولسم(۱۱) دليل عقلي دي په توحيد .چې حفاظت کونکې د آسمانونو او زمکي صرف الله جل جلاله دي.الله جل جلاله نه ماسوی ئی بل څوک حفاظت نشي کولې.لهذا مبعود .حاجت رواهم صرف الله جل جلاله اوګنړئ.﴿يُمْسِكُ﴾ مراد د امساک نه حفاظت کول او ساتل دي ﴿أَن تَزُولَا﴾ مفعول له دي اى كراهة ان تزولايا لئلا تزولا، زوال نه مراد د هیئت موجوده نه بې ځایه کول اومنتقل کول دي.یاورنه مرادزلزلې راوستل دي ﴿وَلَئِن زَالَتَا﴾ لام موطئه للقسم دي.﴿إِنْ أَمْسَكَهُمَا﴾ ان نافيه دي.قربِ قيامت ته چې کله په اسمانونو او زمکې زلزلې راشي نوبیابه ئی بل څوک حصارولې نشي،﴿مِّنۢ بَعْدِهِۦٓ﴾ بعد دلته په معنی د سوی سره دي اى من سواه جل جلاله(جلالين).﴿إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا﴾ يعني بې شکه الله جل جلاله حلم والادې نود مشرکانوپه تعذيب کښې جلدي نه کوي اوچې څوک توبه اوباسي نوتوبه ئی قبلوي.حالانکه مقتضی د شرک داوه چې دانظام ئی ټول درهم برهم کړې وې.

﴿وَأَقْسَمُوا۟ بِٱللَّهِ﴾ دا زجردې قريش مکړوته اوتخويف اخروي دي.قريشوته چې کله معلومه شوه چې اهل کتابو يعني يهودواونصارى ،د خپلوانبياؤکراموتکذيب کړې وو نواونی وئيل چې په دوئ دې لعنت وي چې د خپلوانبياء کراموتکذيب ئې اوکړو.په الله مودې قسم وي کچرته مونږته رسول مبعوث شي نومونږبه د خپل نبي ډيرزيات اطاعت کوؤ .د مخکښې خلقوپه شان تکذيب به نې نه کوؤ .ليکن چې کله حضور ﷺ تشريف راؤړو .نبوت ورته ملاؤشو نو بيائی ورسره عداوت.نفرت شروع کړو.اود حضور ﷺ خلاف ئې منصوبې شروع کړې نودا آياتونه نازل شو ﴿مِنْ إِحْدَى ٱلْأُمَمِ﴾ الف لام د عهدلپاره دي،معهودې سره تکذيب کونکي امتونه دي.ياد استغراق لپاره دي،يعني د هرهرامت نه به زيات هدايت موندونکي او اطاعت

کونکي یو . ﴿فَلَمَّا جَاءَهُمْ نَذِيرٌ﴾ ضمیرراجع دي قریشوته. د نذیر نه مراد حضورﷺ دي.

﴿اسْتِكْبَارًا فِي الْأَرْضِ﴾ دي کښې درې احتماله دي (۱)بدل دې د نفورا نه(۲)مفعول له دي(۳)حال دي اي مستکبرین﴿وَمَكْرَ السَّيِّئِ﴾عطف دې په﴿اسْتِكْبَارًا﴾یا په﴿نُفُورًا﴾اضافت دموصوف دي صفت ته. یعني بدتدبیراومکر. مراد د حضورﷺ د قتل کولومنصوبې دي﴿وَلَا يَحِيقُ﴾ای لايحيط یا پمعنی دلایصیب دي یعني دوئ خود حضورﷺ خلاف منصوبې جوړه وي لیکن قانون د الله جل جلاله دادې چې منصوبه جوړه ونکي پکښې پخپله راګیزیږي. شعر

کوهي مه کنه د بل سرې په لارکښې هسې نه د کوهي په غاړه ستالارشي

په یوروایت کښې دي لاتمکروا ولاتعينوا ماكراً فانّ الله تعالى يقول:ولايحيق المكرالسيئ الاّ باهله. (روح المعاني) اوکفارمکئوته ددې منصوبوسزاپه ورځ دبدرورکړې شوه. که **سوال** اوکړې شي چې دآیت نه معلومیږي چې دچاخلاف منصوبه اوسازش کله هم کامیاب کیدلې نشي بلکه ماکرته نقصان رسي حالانکه ډیرخله سازش کامیاب شي مکرئی اوچلیږي

جواب (۱)مکرنه دلته مکرخاص مراددي چې نبيﷺ سره مکرکول دي اودهغه خلاف مصوبي جوړول دي. نوددې ناکامه کیدل ظاهردي(۲)یامکرنه مرادعام دې لیکن کوم ځائ چې کامیاب شي نوهغه ځائ ددې اهل اومستحق وي. اوآیت کښې ددې نفي نده بلکه اثبات دې(۳)یادلته مراددانجام په اعتبارسره دې. یعني اګرچې ظاهرااوفي الحال دده سازش کامیاب وي. لیکن انجام دده به خراب وي(البحرالمحيط).

﴿فَهَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا سُنَّتَ الْأَوَّلِينَ﴾یعني دوئ صرف داغواړي چې عذاب راباندې نازل شي لکه په مخکني خلقوچې نازل وو. بدې وجه دوئ تکذیب کوي. بس انتظاردی کوی د الله جل جلاله عادت کریمه نه بدلیږي عذاب به وربانديږ راځي.

أَوَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَيَنظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَكَانُوا
آیادوئ نه دي ګرځیدلي په زمکه کښې چې ئې لیدلې وې څنګه وو انجام دهغه خلقوچې ددوئ نه مخکښې وو اووو هغوئ
أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً ۚ وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُعْجِزَهُ مِن شَيْءٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ
ډیرسخت ددوئ نه په قوت کښې. اونه دي الله جل جلاله چې عاجزه کړي هغه لره هیڅ څیزپه اسمانونوکښې اونه په زمکه کښې.

إِنَّهُ كَانَ عَلِيمًا قَدِيرًا ۝ وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللَّهُ النَّاسَ بِمَا كَسَبُوا مَا تَرَكَ

بيشكه الله ﷻ دي عالم قادر او كچرې نيولې الله ﷻ خلق په سبب دهغه عملونو چې دوئ كوي پرىخى به نى نه وې

عَلَىٰ ظَهْرِهَا مِن دَابَّةٍ وَلَٰكِن يُؤَخِّرُهُمْ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى ۖ فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ

په شادزمكه باندې هيڅ زنده سر ،ليكن ورستو كوي دوئ لره ترېوې نيتې مقررې پورې .پس هركله چې راشي نيټه ددوئ

فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِعِبَادِهِ بَصِيرًا ۝

نو بدله به وركړي هرچاته ځكه چه، الله ﷻ دې په بندګانو خپلو ليدونكې

﴿أَوَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ﴾ داتخويف دنيوي دې اوماقبل دپاره استشهاددې.چې دوئ پخپلوسفرونو دتجارت كښ شام،يمن،عراق.ته دمكذبينُ دهلاكت مشاهده كړيده چې هغوئ ددوئ نه په هراعتبارسره ښه وو الله ﷻ دتكذيب پوجه هلاك كړيدي نودوئ به هم هلاك كړي دادالله ﷻ سنت دې.﴿مِن قَبْلِهِمْ﴾نه مرادقوم نوح،عاد،ثمود وغيره دي.﴿إِنَّهُ كَانَ عَلِيمًا قَدِيرًا﴾ تعليل دې دماقبل چې الله ﷻ لره څوك عاجزه كولې نشي دچادعذاب نه.ځكه چې الله ﷻ ډيرپوهه اوډيرقدرة طاقت والادې.

﴿وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللَّهُ النَّاسَ﴾دادالله ﷻ دحلم بيان دې چې الله ﷻ دچاګرفت نه كوي بلكه مهلت وركوي چې انسان توبه اوباسي او كه چرته مهلت ئې نه وركولې نوپه مخ دزمكه به هيڅ هم ژوندي پاتې نه شي،نه انسان،نه حيوان،باقي تشريح ددې آيت كريمه دسورة النحل آيت (۱) كښ تفصيلاًتيره شويده هلته ئې اوګورئ﴿إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى﴾مرادورنه ورځ دقيامت ده

﴿فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ فَإِنَّ اللَّهَ﴾يعني چې كله قيامت راشي نوبيابه الله ﷻ هرچاته خپل خپله بدله وركوي:ان خيراًفخيرٌوان شراًفشرٌ،ځكه چې الله ﷻ دهرچاپه عمل خبرداردې.د﴿فَإِذَا جَاءَ﴾جزاء محذوفه ده چې(يجازي)دې او﴿فَإِنَّ اللَّهَ﴾دهغې قائمقام دې.اوتعليل دې ددغې جزاء محذوفې(روح).

تمت سورة الفاطر

ركوعاتها (٥)	سورة يسين مكية	آياتها (٨٣)
	بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ	
خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکي دي شروع کوم		

ترتيبها حسب التسلسل (٣٦) وحسب النزول (٤١)

نزلت بعد الجنّ وقبل الفرقان.

ربط اسمي: ماقبل سورت سره ئی ربط اسمی دا دي چې هغې کښې د الله ﷻ د "فاطر" کیدلو اثبات اودهغې دلائل وؤ. اوس په دې سورت کښې ترغیب دې چې په توحید داسې مستقیم پاتې شئ لکه څنګه چې صاحب یسین "رجل مومن" د استقامت مظاهره کړې وه.

ربط معنوی: ماقبل سورة فاطرسره ئې ربط معنوی داسې دې، چه ماقبل کښې په نفي د شفیع قهري باندې دلائل بیان شول، دې سورة کښې ترقي ده چه شفیع قهري منونکی مونږهلاك کړل نوخپلو معبودانوولې بچ نکړل، کما قال تعالی: أَلَمۡ يَرَوۡا۟ كَمۡ أَهۡلَكۡنَا قَبۡلَهُم مِّنَ ٱلۡقُرُونِ أَنَّهُمۡ إِلَيۡهِمۡ لَا يَرۡجِعُونَ ﴿٣١﴾

خلاصه

تمهيد مع الترغيب: آیت: ۱ - ۱۲

دعوه د سورت: لَّا تُغۡنِ عَنِّي شَفَٰعَتُهُمۡ (آیت ۲۳)

اووه (٧) دلائل عقلیه ذکر کیږی په دعوې باندې

(١) وَءَايَةٌ لَّهُمُ ٱلۡأَرۡضُ ٱلۡمَيۡتَةُ (آیت ۳۲، ۳۳) (٢) وَءَايَةٌ لَّهُمُ ٱلَّيۡلُ نَسۡلَخُ مِنۡهُ (آیت ۳۷)

(٣) وَٱلشَّمۡسُ تَجۡرِي لِمُسۡتَقَرٍّ لَّهَا (آیت ۳۸) (٤) وَٱلۡقَمَرَ قَدَّرۡنَٰهُ مَنَازِلَ (آیت ۳۹)

(٥) لَا ٱلشَّمۡسُ يَنۢبَغِي لَهَآ (آیت ۴۰) (٦) وَءَايَةٌ لَّهُمۡ أَنَّا حَمَلۡنَا (آیت ۴۴.۴۱)

(٧) أَوَلَمۡ يَرَوۡا۟ أَنَّا خَلَقۡنَا لَهُم (آیت ۷۳.۷۱)

پنځه شکوې دکافرانونه ذکر کیږی

(١) يَـٰحَسْرَةً عَلَى ٱلْعِبَادِ (آيت ٣١) (٢) وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱتَّقُوا (آيت ۴۵. ۴۶)

(٣) وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ أَنفِقُوا (آيت ۴٧) (۴) وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَـٰذَا ٱلْوَعْدُ (۴٨. ۵٣)

(۵) أَوَلَمْ يَرَ ٱلْإِنسَـٰنُ أَنَّا خَلَقْنَـٰهُ (٧٧. ٨٣)

شپږ تخويفات ذکر کیږی

(١) إِنَّا نَحْنُ نُحْيِ ٱلْمَوْتَىٰ (آيت ١٢) (٢) لَهُم مَّثَلًا أَصْحَـٰبَ ٱلْقَرْيَةِ (آيت ١٣. ١٩)

(٣) مَا يَنظُرُونَ إِلَّا صَيْحَةً (آيت ۴٩. ۵٣) (۴) وَٱمْتَـٰزُوا ٱلْيَوْمَ أَيُّهَا ٱلْمُجْرِمُونَ (آيت ۵٩. ٦۵)

(۵) وَلَوْ نَشَآءُ لَطَمَسْنَا عَلَىٰٓ أَعْيُنِهِمْ (آيت ٦٦) (٦) وَلَوْ نَشَآءُ لَمَسَخْنَـٰهُمْ عَلَىٰ (آيت ٦٧)

دوه بشارتونه ذکر کیږی

(١) إِنَّا نَحْنُ نُحْيِ ٱلْمَوْتَىٰ آيت نمبر ١٢ (٢) إِنَّ أَصْحَـٰبَ ٱلْجَنَّةِ (۵۵. ۵٨)

دوه زجرونه ذکر کیږی

(١) أَلَمْ يَرَوْا كَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم (آيت ٣١) (٢) وَٱتَّخَذُوا مِن دُونِ ٱللَّهِ ءَالِهَةً (آيت ٧٣. ٧۴)

او په آخر کښې **دسورت لب لباب** ذکر کیږی چې فَسُبْحَـٰنَ ٱلَّذِى بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَىْءٍ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ

فضائل. په حديثونوکښې دسورة يٰسين ډيرفضائل راغلي دي.په يوروايت کښې دي دهرڅيزدپاره زړه وي.دقرآن شريف زړه سورة يٰسين دې.ځکه چې قرآن مقابل دشرك دې اودشرك بنياداوزړه شفاعت قهري دې اوددې سورة اصلي دعوه نفي دشرك اونفي دشفاعت قهري ده.

دعطاء ابن ابي رباح نه روايت دې چې حضورﷺ فرمائيلي دي من قرأيٰسين في صدر النهارقُضيتْ حوائجه.يعني چاچې دورځې په شروع کښې سورة يٰسين اولوستلودهغه ټولې ورځې حاجتونه پوره کړې شو.

په يوحديث کښې راغلي دي چې څوك سورة يٰسين خاص دالله جل جلاله درضاء لپاره اولولي

دهغه پوهیږي پوره کله څوک معلوم کیږي.پس دا سورة به خپلو مړو ته دې اولولئ.په یوروایت کښې دي د سورة يسين نوم په تورات کښې منعمه دي چې خپل لوستونکي دپاره ددنيااوآخرت په نیکړو شامل دی.ددنیا وآخرت مصیبت لري کوي.دآخرت ویره لري کوي

ددې سورة نوم رافعه،خافضه هم دې.دمؤمنانو مرتبې اوچتونکې اودکافرانو رټې خکته کونکې.یوروایت کښې دي چې حضورﷺ فرمائی چه خمازړه غوارې چه سورة یسین خما دهرامتي په زړه کښې وي

يٰسٓ ①	وَالْقُرْاٰنِ	الْحَكِيْمِ ②	اِنَّكَ	لَمِنَ	الْمُرْسَلِيْنَ ③	
الله جل جلاله ښه پوهیږي په مرادخپل ددینه.قسم دي په قرآن حکیم باندي.یقیناً ته خامخادرسولانو نی						
عَلٰى	صِرَاطٍ	مُّسْتَقِيْمٍ ④	تَنْزِيْلَ	الْعَزِيْزِ	الرَّحِيْمِ ⑤	لِتُنْذِرَ
اویقیناً ته نی په لارې سمې باندې. نازل کړې شوې دې دزورور ذات طرف نه چې رحم کونکې دې. چې اویرولې ته						
قَوْمًا	مَّآ	اُنْذِرَ	اٰبَآؤُهُمْ	فَهُمْ	غٰفِلُوْنَ ⑥	
دغه قوم چې نه وو یرولي شوي پلاران دهغوئ پس دوئ ناخبره دي.						

﴿يٰس﴾ دا دحروفِ مقطعاتونه دي.تفصیل ئ په ابتداء دسورة بقري کښې تیردی.ابن عباس رضي الله عنه فرمائی پمعنی د یاانسان دي.بعضِ وائی حبشي لفظ دي پمعنی دیارجل.بعضِ وائی دانوم دي دنومونو دالله جل جلاله نه.بعضِ وائی دنبي اکرمﷺ په نومونوکښې یونوم دي.لکه په حديث کښې دي انّ الله تعالیٰ سمّاني فی القرآن سبعة اسماء،محمّد،واحمد،وطٰه،ویٰسین، والمزّمل، والمدثر، وعبد الله(قرطبي) بعضِ وائ معنی ئ یاخیرالبشر ده،چاویلي دي دقرآن دنومونو نه یونوم دي

﴿وَالْقُرْاٰنِ الْحَكِيْمِ﴾ ای ذي حکمة.ددې ځائ نه ترآیت(۱۱) پورې تمهید دي.پدیکښې دحضورﷺ صداقت ذکرکیږي.واؤقسمیه دي.قسم برائ استشهاددي یعني مقسم به دلیل ګرځولې شوې دي په جواب قسم.اتصاف دقرآن په(الْحَكِيْمِ)سره اسنادمجازي دي.ځکه چه حقیقةً نسبت ئ الله جل جلاله ته کیږي(روح).

﴿اِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ﴾ دا جواب قسم دي ، دي کښې دکافرانو درې خبرو رد دی(۱) اوله خبره

داچې ته دَ الله ﷻ رسول نه ئی.اي لست مرسلا(۲) دويمه خبره داچې ته داخيل آباؤو اجداد دين خلاف روان ئی نوته ګمراه ئی.(۳) دريمه خبره دا چې دا قرآن د الله ﷻ کتاب نه دې.﴿لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ﴾دا داولې خبرې جواب دې.چې بالکل اويقينا دا الله ﷻ رسول ئی او دا قرآن حکيم پدې ګواه دې چې ته په حقه رسول ئي.اودې ستادَصداقت ګواهي ورکوي

﴿عَلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ﴾ ديکښ دَ دويمې خبرې جواب دې. چې ته بالکل په سمې لارې ئی دوی ګمراه دی. داياخبرثاني دې دَ﴿إِنَّكَ﴾ای انك على صراطٍ مستقيم .يامتعلق دې دَ﴿الْمُرْسَلِينَ﴾ ای لمن الّذين اُرسلوا على صراطٍ مستقيم(روح) يعني ته دَهغه رسولانو نه ئی چه په صراطِ مستقيم باندې ليږلی شوی وُو

﴿تَنزِيلَ الْعَزِيزِ الرَّحِيمِ﴾دريمې خبرې جواب دې. تنزيل مفعول مطلق دې دَفعل محذوف ای نزّل تنزيل. دا هم جواب قسم تحت راځی. يعنی دا قرآن پخپله ګواهی کوی چې دا دالله ﷻ حق کتاب دې.او هغه نازل کړيدې،نبی کريم ﷺ دځان نه نه دې جوړ کړی.﴿الْعَزِيزِ﴾ډير زورآور . چې هغې يومظهردا دې چې تاسودهغه کلام مقابله هم نشی کولې او دهغې مثال راوړلونه عاجز يئ﴿الرَّحِيمِ﴾کامل رحمت والا دې .دې دووصفاتو ذکر کولو کښ ترغيب دې ايمان ته

﴿لِتُنذِرَ قَوْمًا﴾ بعثت مقصد ذکر کيږی، متعلق دې يا﴿تَنزِيلَ﴾يادَ﴿الْمُرْسَلِينَ﴾سره. يعني ته راليږلې شوې ئی لپاره دَيرولو .﴿قَوْمًا﴾ نه مراداهل مکه دې.چه نيزدې زمانې کښې دوئ ته رسول نه وُو راغلې ﴿مَّا أُنذِرَ آبَاؤُهُمْ﴾ راجح قول دا دې چې(۱) ما نافيه ده. جمله صفت ده دَ﴿قَوْمًا﴾ يعني داسې قوم چه اباؤته ئي انذارنه ووشوې.اومراددَاباء نه قريب آباء دې. يعنی قوم حيثيت کښ وجود ته راتلونه بعد چې دَ دوئ کوم آباواجداد وو.هغه مراد دی.ځکه چه بعيدو ته اسماعيل ﷺ راغلې وو(۲)بعض وائی ما موصوله بمعنی الذي دې.مفعول ثاني دې دَ﴿لِتُنذِرَ﴾ ای لتنذرقومًا الّذى انذرهُ الرسُل اباءَهم الابعدين(روح)نومعنی دَآيت داده چې ته اويروې هغه قوم چې يرولی وُواباءِ بعيده دَدوئ رسولانو (۳)بعض وائی ما مصدريه دې نو جمله تول صفت دې لپاره دَمصدرمؤکد ای لتنذرَ قومًا انذاراً مثل انذارِالرسل اباءهم الابعدين

(روح)

﴿فَهُم غَٰفِلُونَ﴾ كه "ما" نافيه شي نو داتفريع ده په ﴿مَّآ أُنذِرَ﴾ باندې . نو مطلب دادې چې دَدوئ اباؤته انذارنه وؤشوې نودوئ پدې وجه غافله دي اودَهدايت نه بې خبره دي اوكه (ما) نافيه نشي بلكه موصوله يامصدريه شي نوبيادَدې جملې تعلق دَ ﴿لِتُنذِر﴾ سره دې .نومعنیٰ به داشي چې ته اويروې داسې قوم چې هغوئ غافله دي دَهغه عذاب نه چې هغې سره ئې اباؤته انذارشوې وؤ (روح وغيره) .

لَقَدْ حَقَّ الْقَوْلُ عَلَىٰٓ أَكْثَرِهِمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ۝ إِنَّا جَعَلْنَا
په تحقيق سره ثابته شوه داخبره په ډيرزودوئ باندې نو څکه دوئ ايمان نه راوړي،بيشكه مونږګرځولي دي
فِىٓ أَعْنَٰقِهِمْ أَغْلَٰلًا فَهِىَ إِلَى الْأَذْقَانِ فَهُم مُّقْمَحُونَ ۝ وَجَعَلْنَا
په ستونودوئ كښې طوقونه.نوهغه رسيدلي دي زنونه،پس دوئ سراوچت كړي شوي دي.اوګرځولې دي مونږ
مِنۢ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ سَدًّا وَمِنْ خَلْفِهِمْ سَدًّا فَأَغْشَيْنَٰهُمْ فَهُمْ لَا يُبْصِرُونَ ۝
مخې دَدوئ ته ديوال اوورستودَدوئ ته ديوال،پس پټ كړي دي مونږ دوئ نو دوئ هيڅ نه ويني،
وَسَوَآءٌ عَلَيْهِمْ ءَأَنذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ۝
اوبرابره ده په دوئ كه يروې ته دوئ اوكه نه يروې دوئ،ايمان نه راوړي دوئ.

﴿لَقَدْ حَقَّ ٱلْقَوْلُ﴾ دبعثتِ مقصدذكركولو نه بعد اوس دَ مبعوث اليهم يعنى دَخلقو حالت بيان دې،چې دوئ ته كله پيغمبر راغى نو دوئ په دوه حصو كښې تقسيم شو ، څنوئى تكذيب اوكړو اوځنوپرې ايمان راوړو ،دې آيتونو كښې مكذبينوحالت بيان اوهغوئ ته تخويف دې، چې دوئ ته ضدوعناد په وجه حق نه ښكارى اوايمان نه رواړى، لهذا دوئ دَ الله ﷻ عذاب مستحق ګرځيدلى دى ، دَ (ٱلْقَوْل)نه مراد(١)ياعذاب دې،يعني دَضداوعناد اختيارولو پوجه پدوئ دَعذاب الهي فيصله شويده،(٢)ياورنه مراددااقول دَالله ﷻ دې ابليس ته،لاملئنّ جهنّم منكم اجمعين (٣)ياورنه مرادفيصله دَتقديره يعني په علم دَالله ﷻ كښې داثابته ده چه دوئ

ايمان نه راوړي ﴿فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ﴾ فاء تعريفيه ده يعنې مسلسل ضد وعناد سره حجت تمام شوي ورته
په زړونو باندې مهرجباريت لګولې دی نو ځکه اوس دوئ ايمان نه راوړي
﴿إِنَّا جَعَلْنَا فِي أَعْنَاقِهِمْ أَغْلَالًا﴾ اعناق جمع دعنق ده .مرئ ته وائي. اغلالاجمع غل ده طوق ته
وائي ﴿فَهِيَ﴾ ضمير اغلالو(زنځيرونو)ته راجع دې بعض وائي لاسونوته راجع دی .يعني لاسونه
به ئې څنوته رسيدلي وي.اول مرجع اولی دې.ځکه چه د لاسونو ذکر مخکښې نه دې سوی
﴿إِلَى الْأَذْقَانِ﴾اي واصلة الى الاذقان يعنى داطوق ئی څنې پورې رسيدلي وی.﴿فَهُمْ مُقْمَحُونَ﴾
مشتق دې د الاقماح نه رفع الراس وغض البصر ته وائي. مُقمح هغه چاته وائي چه سرئې پورته ځکه
کولي.داپه پخوانوقيدخانوکښې قيدي ته دسزا ورکولويوه طريقه وه چې ددوی به مرئ کښې به
ئې زنځيرواچولونوتاؤراتاؤبه ئې کړاودځني لاندې به ئې ورته غوټه ورکړه وپه غوټه کښې به
ئې ورته ميخ ټك وهلوچې هغه به دقيدي څنې سره اولګيدلونوقيدي به سراوچت نيولي
وؤ .نوتختيدلي به نشو
اکثرمفسرينو په نيز دادواړه آيتونه ددوئ ضداوعناد تمثيل دې.لکه چې ديوسړی مرئ
کښې غټ طوق اچولي شوې وی.چې دهغې وجهې نه ئی سرپورته وی.نه سرلاندې کولی سی
اونه اخوديخوا مخ ګرځولې شی.مخکښې ورته هم ديوال وی او ورستو هم ديوال وی.نونه دې
مخکښې کتلې شی اونه تللي شی اونه ورستو.نو دهغه شان حالت ددوئ دې .دحق نه نفرت
اوباطل سره محبت دوئ دپاره طوق ګرځيدلي دې.دحق نه تکبر اوايمان نه اعراض دقمح
کيفيت ګرځيدلی دې.چې نه حق ته ټيټې دې شی.اونه ورته اوړيدې شی.او داخواهشات
ورله ديوالونه ګرځيدلی دی چې ددوئ نه چاپيره دی اودوئ ترينه رق نشی وهلې اوګمراهئ
کښې پراته دی.غرض داچه دوئ ضد وعناد په کفر کښې داسې راګير کړی دي چې دوئ نه
مخکښې تلې شی نه ورستو.نه اخوا کتې شی نه ديخوا
بعض مفسرين وائی چې داتمثيل نه دې بلکه حقيقت دې.اودا آيت نازل دې په سبب
ديوې خاص واقعې.چې حضورﷺ يوه ورځ په مسجدکښې مونځ کولو .قراءت ئې هم په جهر
سره کولو. نوکفاروته داډيربده اولږيده نوحضورﷺ ته دتکليف ورکولودپاره راپاسيدل. نو
لاسونه ئې د مرو سره اونختل.اوسترګې ئې ړندې سوې. مخکښې ورستو ورته هيڅ نشول
کتل.بيانبيﷺ نه راغلل.د نبيﷺ اودصله رحمي واسطه ئې ورکړه. معافي ئې ترينه او

خبر سره. دحضورﷺ په دعا سره ئې لاسونه کولاؤ شول.نظرئې هم صحيح شو.ليکن ايمان ئې رانه وړلو. نود ﴿يسٓ ۝ وَٱلۡقُرۡءَانِ ٱلۡحَكِيمِ﴾ نه تر﴿أَمۡ لَمۡ تُنذِرۡهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ﴾پورې آيانونه نازل شول.مفسرينوددې آيانونوپه شانِ نزول کښې نورې واقعې هم ذکرکړيدي ليکن هغه ټول روايات ضعيف دي.البته داروايت د هغوئ نه سندپه اعتبارسره قوي دې.وقال الشوكاني:وفى الباب رواياتٌ فى سبب ذلك،هذهِ الرّواية احسنهاواقربهاالى الصحة(فتح القدير).

بعض وائي چې داترِل دلاسونوحقيقة دي خوداددوئ په جهنم کښې دسزاکيفيت ذکر دې. لکه بل آيت کښې راغلي دي.اذالاغلال فى اعناقهم والسّلاسلُ يسحبون.تعبيرترينه په ماضي سره د وجې دتيقن نه شويدى.

﴿وَجَعَلۡنَا مِنۢ بَيۡنِ أَيۡدِيهِمۡ سَدّٗا﴾دا دماقبل تمثيل تتمه ده چې دخپل ضدپوجه داسې دهدايت نه محرومه دى لکه دديوانسان مخې اوروستوهرطرف ته ديوال راچاپيره وي.دې پکښې راګير وي.تللې هم نشي.ستر کې ئې هم ترلې وي کتل هم نشي کولې.﴿مِنۢ بَيۡنِ أَيۡدِيهِمۡ﴾او﴿وَمِنۡ خَلۡفِهِمۡ﴾ دټولوجهاتو نه کنايه ده

﴿وَسَوَآءٌ عَلَيۡهِمۡ﴾دماقبل توضيح اوتفريع ده،باقي تفسيرپکښې په تفصيل سره په ابتداء د سورة البقره کښې تيردې.

إِنَّمَا	تُنذِرُ	مَنِ	ٱتَّبَعَ	ٱلذِّكۡرَ	وَخَشِيَ	ٱلرَّحۡمَٰنَ	بِٱلۡغَيۡبِۖ
بيشکه ته يروې نفع اخلي دنصيحت ستانه هغه خوک چې تابع داري کوي دنصيحت اويريږي درحمٰن نه په پټه سره.							
فَبَشِّرۡهُ	بِمَغۡفِرَةٖ	وَأَجۡرٖ	كَرِيمٍ ۝	إِنَّا	نَحۡنُ	نُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰ	وَنَكۡتُبُ مَا
بس زيرې ورکړه ده ته د بخښنې اود اجر نيک. بيشکه مونږه به ژوندي کوؤمړي اوليکومونږهغه عملونه							
قَدَّمُواْ	وَءَاثَٰرَهُمۡۚ	وَكُلَّ	شَيۡءٍ	أَحۡصَيۡنَٰهُ	فِيٓ	إِمَامٖ	مُّبِينٖ ۝
چې مخکښې ليږلي دي دوئ اونښې دعملونودوئ اوهرڅيزمحفوظ کړيدې مونږهغه په کتاب ښکاره کښې لوح محفوظ.							

﴿إِنَّمَا تُنذِرُ مَنِ ٱتَّبَعَ ٱلذِّكۡرَ﴾ دمکذبينوردحالت بيان نه بعد اوس تصديق کونکواوايمان راوړونکو حالت بيان دې او هغوئ ته بشارت اخروي دې.يعني دوئ دقران اتباع کوى او الله

ﷻ نه يريږي .او دهغې نتيجه داده چې ته ورته كوم نصيحت كوې نو هغه پرې اثركوي.
.﴿ٱلذِّكۡرَ﴾ نه مراد قرآن دې.اواتباع نه مرادتامل كول اوعمل كول دي وربانديږ(روح
ياد﴿ٱلذِّكۡرَ﴾ نه مراد وعظ اونصيحت دې﴿فبشره﴾دا بشارت دې﴿وَأَجۡرٖ كَرِيمٍ﴾نه مرادجنت
دې اوجنت ته اجر كريم ځكه وائي چې دابدله په كرم باندې مبني ده ځكه چې جنت او دهغې
نعمتونو ابدي هم دي اوكامل هم دي،او دانسان اعمال محدود او ناقص دي دَ الله ﷻ شان
لائق نه دي نو دَ محدود اوناقص اعمالوبدله ابدي اوكامله وركول محض كرم اوفضل دې.

﴿إِنَّا نَحۡنُ نُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰ﴾تكذيب كونكو اوتصديق كونكو دَحالت بيان نه بعد اوس داآيت
بطور تتمه اونتيجه ذكر كيږي چې پديكښ مؤمنانو ته ترغيب اوبشارت دې اوكافرانوته
تخويفات اوزجر دې.چې تاسوڅه اعمال كوئ،مونږ هغه ليكلو.آخر به مرئ اوبياخو به مونږ
قيامت په ورځ ژوندي كوو .اوحساب كتاب به درنه اخلو .كه نيك عمل خوكړې وي نو هغې
بدله به درته ميلاويږي اوكه بدعمل خوكړې نو دَهغې بدله به درته ميلاويږي.

﴿وَنَكۡتُبُ﴾ مرادكتابت نه حفاظت دَاعمالودې،ځكه چې ليكل ذريعه دَحفاظت ده﴿مَا
قَدَّمُواْ﴾نه مرادهغه عملونه دي چې پخپله ئي كړي وي،اخرت ته ئي ليږلي وي﴿وَءَاثَٰرَهُمۡ﴾ پدې
كښ دوه قوله دي(١)يوداچه مراددَدينه اثرات اوثمرات دَعملونودي چې ورستوخلقوته ئي
پريدي.نوكه دَنيك عملونواثرات وي نودَهغې به انسان ته نيكه بدله وركولې كيږي اوكه
بدعملونه وي دَهغې ګناه به ورته ميلاويږي،په حديث كښ دي:من سنّ في الاسلام سنّة حسنة: فله
اجرها و اجرمن عمل بها بعده من غيران يُنقص من اجورهم شئ،ومن سنّ في الاسلام سنة سيئة: فله
وزرها و وزرُ من عمل بهامن بعدهِ من غيران ينقصَ من اوزارهم شئ(مسلم،كتاب الزكوٰة) يعني چاچه په
اسلام كښ يوه ښه طريقه رائجه كړه نوده ته به دَهغې اجرهم اوورستوعمل كونكواجربه ورته
هم وركولې كيږي،اودَعمل كونكوپه اجركښ به څه كمي نه كيږي.اوچاچه غلطه طريقه رائجه
كړه نودَهغې ګناه هم اوورستوعمل كونكوګنابه ورته هم ملاويږي،دَعمل كونكوپه ګناه كښ
به څه كمي نه كيږي،دغه شان بل حديث كښ دي چې انسان ته دَمرګ نه ورستوهم دَدرې قسمه
عملونوثواب ملاويږي:(١)دَصدقه جاريه، لكه جمات جوړه ول،كوهى كنستل.كتاب تصنيف
كول وغيره (٢)چاته دَعلم تدريس كول (٣) اولادصالحه دَځان نه ورستوپريښودل چې هغوئ

ورته دعا ګاني کوي

(٢)يامراددَ ﴿وَءَاثَٰرَهُمْ﴾ نه نقش قدم دَعملونودي،يعني انسان چه نيك عمل دپاره خي نو دَ عمل ثواب هم اودَتللوثواب هم ورته ملاويږي،مثلاًدَمونځ دپاره قدمونه اغستل لکه داپه حديث کښې راغلي دي کله چې بنوسلمه قبيلي مسجدنبوي ﷺ ته دَقريب منتقل کيدلواراده اوکړه نوحضور ﷺ ورته اوفرمائيل:ديارَکم تُکتب اثارَکم.پدي وجه بعضودَدي تفسيرپه(خُطاهم الى المساجد)سره کړيدی،يعني جمات ته قدمونه اغستل.﴿وَكُلَّ شَيْءٍ﴾ کلَ منصوب دی،په مااضمرعامله على شريطة التفسير،اى :واحصيناکل شئ.

﴿فِيٓ إِمَامٍ مُّبِينٍ﴾ يالوح محفوظ ورته مراددې،ياورته علم ازلي دَالله ﷻ مراددي،ياورته عمل نامه دَانسان مرادده اوامام ورته خکه اوئيلې شوچې دَقيامت په ورځ به پدې کښې دَليکلي شوي خبرواقتداء کيږي،مخالفت به ورنه نه کيږي(روح) بعض غالي شيعه ګان وائی دينه مرادحضرت علي رضي الله عنه دي اومطلب دادی چې الله ﷻ حضرت علي رضي الله عنه دَمعلوماتوخزانه ګرځولي ده په شان دَلوح محفوظ،ليکن دالوئ جهالت اوبې خبري ده دَقرآن نه،ولايخفي مافي ذلك من عظيم الجهل بالكتاب الجليل نسال الله تعالىٰ العفووالعافية(روح المعاني).

وَاضْرِبْ لَهُم مَّثَلًا أَصْحَٰبَ الْقَرْيَةِ إِذْ جَآءَهَا الْمُرْسَلُونَ ۝ إِذْ أَرْسَلْنَآ
اوبيان کړه دوئ ته مثال دَديو کلي والؤ،کله چې راغلل هغې ته رسولان،کله چې اوليږل مونږ
إِلَيْهِمُ اثْنَيْنِ فَكَذَّبُوهُمَا فَعَزَّزْنَا بِثَالِثٍ فَقَالُوٓا
دوئ ته دوه رسولان نوتکذيب اوکړو دوئ دَهغوئ دواړو،نومدد اوکړومونږپه دريم سره،نواوويل دوئ
إِنَّآ إِلَيْكُم مُّرْسَلُونَ ۝ قَالُوا مَآ أَنتُمْ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا وَمَآ أَنزَلَ الرَّحْمَٰنُ
چې بيشکه مونږتاسوته راليږلی شوي يو.دوئ اويل نه يئ تاسومګرسړي زمونږپه شان،اوندې نازل کړي رحمان
مِن شَيْءٍ إِنْ أَنتُمْ إِلَّا تَكْذِبُونَ ۝ قَالُوا رَبُّنَا يَعْلَمُ إِنَّآ إِلَيْكُمْ لَمُرْسَلُونَ ۝
هيڅ څيز،نه يئ تاسومګردروغ وايئ.اووئيل دوئ رب زمونږپوهيږي چې بيشکه مونږتاسوته خامخاليږلي شوي يو.

بنكاره	مكررسول	موټاندی	نه	اونشته
الْمُبِينُ	الْبَلٰغُ	إِلَّا	عَلَيْنَآ	وَمَا

﴿وَٱضْرِبْ لَهُم مَّثَلًا أَصْحَٰبَ ٱلْقَرْيَةِ﴾ دا د تخويف دنيوي يوه نمونه ذكركيږي دپاره دهغه خلقو چې من دون الله ئې دخان دپاره شفعاء ګرځولي دي﴿مَّثَلًا﴾ یا بمعنی دمثال دي يعنی دوئ ته ځقو مثال هغه كلي والا قصه بيان كړه چې هغوئ ضد وعناد كښ ددوئ په شان وو. مثلا مفعول ثاني دي د اضرب فعل لپاره او اصحاب القرية ورله مفعول اول دي.یاد مثلا نه حالت غريبه وي اشاقصه ده.يعني دي اهل مكۍوته ديوكلي والۍوعجيبه قصه بيانكړه نودی نندي باندی. ﴿أَصْحَٰبَ ٱلْقَرْيَةِ﴾بدل دي د﴿مَّثَلًا﴾نه.

دې ركوع كښ چې دكومې قصې ذكردې مفسرينوليكلي دي چې دې كلي نوم انطاكيه وو.دې خلق ټول بت پرست وو.عيسی ﷺ ورته دوه خپل قاصدان اوليږل دپاره د دعوت. : دوه كسان چې كله دې كلي ته نيزدې شول ، نويوشپونكې چه نوم ئې حبيب نجار وو.هغه سره ئې ملاقات اوشو.سلام نه ورستوئی دعوت ورته وركړو. چې مونږعيسی ﷺ راليږلي يودې دپاره چې تاسودبتانوعبادت مه كوئ اوصرف دیوالله ﷻ عبادت كوئ.هغه ورته معجزه د پاره دصداقت طلب كړه.نودوئ سره هغه كرامات وو چې كوم دعيسی ﷺ معجزې وي. نو ورته ئې اووئيل تشفی المريض،وتبرئ الاكمه،والابرص باذن الله يعني مونږدلاعلاج مرضونو علاج كوو،نابينااوابرص ته شفاء وركوو.نودهغه يوخوې وو چې ديوځوكالونه بيمار وو. دوئ لاړل اوهغه ئې مسح كړونوهغه فوراً راپاسيدلو اوتهيك ټاك شو.نودې حبيب نجار ورباندې ايمان راوړلو.ددوئ خبرپه كلي كښ خورشو.خلق به راتلل اوددوئ په بركت سره ورته شفاء ملاويدله.بادشاه خبرشونودوئ ئې رااوغوښتل تپوس ئې ورنه اوكړوچې تاسو څوك يئ او د څه مقصدلپاره راغلي يئ،نودوئ ورته اووئيل دعيسی ﷺ طرف نه رسولان يو. اودعوت وركوودعبادت دهغه ذات چې سميع بصيردې.اومنع كوو مونږ دهغه بتانونه چې نه آوري او نه څه ويني.بادشاه دوئ اونيول په جيل كښ ئې قيدكړل،عيسی ﷺ چه خبرشو. نودريم كس ئې دهغوئ دنصرت دپاره اوليږلو.دې كس خپل هيئت بدل كړوفی الحال ئې ځانته دعوت نه وركولو،دبادشاه درباريانوسره ئې تعلق جوړكړو. اودبادشاه معتمدخاص

اوکرخیدلو.یوه ورځ ئی بادشاه ته اووئیل چي ستاپه جیل کښ دوه کسان قیددي.هغه دواړه رااوغواړه چي څه وائی؟بادشاه رااوغوښتل.ده ورنه تپوس اوکړوچي تاسودلنه چاراليږلي يئ.دوئ ورته اووئیل:الله الّذي خلق كلّ شيئ وليس له شريك ،يفعل مايشاء ويحكم مايُريدُ.چي هغه الله ﷻ چي دَهرڅه خالق دې.شریك ئی نشته،څه چي غواړي هغه کوي.اودهغي فيصله کوي.نوده ورنه تپوس اوکړوچي آياتاسوسره څه معجزه شته.نودوئ ورته اووئیل بادشاه چي څه غواړي مونږبه هغه کوؤ.نوبادشاه یوهلك راوستلوچي مطموس العينين وؤ.دَسترګوځائ دتندي په شان وؤ.دوئ دعاګاني شروع کړي.دهغه هلك دسترګوځائ اوچاؤدلو.دوئ خټه راوغسته دَسترګوپه ځائ ورته کيخودله.سترګي ئی جوړي شوي.نظرپکښ راغي.بياورنه بادشاه دَیومړي ژوندي کولومطالبه اوکړه.جنانچه مړي ئی راژوندي کړو.مړي اووئیل چي:انی دخلتُ سبعة اودية من النار،و انا احذركم ما انتم فيه فامنوا بالله.يعني څه دَجهنم وومي(۷)طبقي ته داخل شوې ووم.څه ورنه تاسويره وم پس په الله ﷻ باندې ايمان راؤړئ.بادشاه اوبعضي نورخلق دَدې واقعي په ليدلوسره ايمان راؤړلو.بعضوايمان رانه وړلو.

ليکن دلته اهل انطاكيه مراد اغستل حووجهو نه صحيح نه ده

(۱)اول دا چي دا واقعه دَقرآن دسياق نه خلاف ده ځکه چي دقرآن نه دامعلوميږي چي دَ حبيب نجارنه ماسوئ.يوکس هم ايمان نه ووراوړي.بلکه ټول راجمع شول دَدې رسولانو دَقتلولو دپاره.حبيب نجارته چي پته اولګېده نوپه منډه راغي خلق ئي دَقتل نه منع کول. اود رسولانواتباع حکم ئی ورته اوکړو.ليکن خلقودي هم اونبولو شهيدئی کړو.الله ﷻ جبرئيل ﷺ رااوليږلواودَهغه کلي دَروازي ئی اونيولي اوهست ناکه چغه ئی اووهله.په هغي سره ټول مړه شول

(۲)دويم داچي الفاظ دَقرآن﴿إِذْ أَرْسَلْنَآ ،فَعَزَّزْنَا﴾نه متبادره داده چي داداَلله ﷻ طرف نه رسولان وؤ.عيسی ﷺ قاصدان نه وؤ ځکه چي نسبت ئی الله ﷻ طرف ته شويدې

(۳)دريم داچي کلي والؤوپه دوئ باندې دااعتراض اوکړوچي﴿مَآ أَنتُمْ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا﴾ يعنی تاسوخوزمونږپه شان انسانان يئ.نوکچرته دوئ دَعيسى ﷺ قاصدان وؤنودااعتراض به ئی وربانديِ نه وؤکړې.

(۴)څلورم داچي دلته مرسلون ذکر دي دَدي اطلاق اګرچه په قاصدانو هم کيږي خو

متبادر اوقرآن کښې اکثر اطلاق ئې رسولانو باندې شوې دی.

(۵)پنځم دا چې دلته پوره کلي هلاکيدلو ذکر دې او دا خبره مسلمه ده چې سورات نزول نه بعد الله ﷻ دَ تکذيب په وجه پوره کلي چرته نه دي هلاک کړي.بلکه دجهاد وفضل حکم راغلي دي ،صاحب دَروح المعاني اګرچې ځنې اشکالاتو جوابونه کړيدی خو هغه څه ډير قوي نه دی،صحيح خبره دحافظ ابن کثير ده.چې يا خودا انطاکيه کلي دي نه.اوکه انطاکيه شي نو بياترينه معروفه انطاکيه نه ده مراد .بلکه دې نوم باندې يوبل غير معروف کلي دی.ځکه چه معروفی انطاکيې دَهلاکت ذکراسلامی اوغير اسلامی مصادرو کښې چرته هم نه دې راغلی ﴿إِذْ جَآءَهَا﴾دا بدل اشتمال دې، اصحاب القرية نه

﴿إِذْ أَرْسَلْنَآ إِلَيْهِمُ ٱثْنَيْنِ﴾اول ورته الله ﷻ دوه پيغمبران اوليږل .هغوئ الله ﷻ توحيد طرف دعوت ورکړو .خوقوم دَهغوئ تکذيب اوکړو .﴿فَعَزَّزْنَا بِثَالِثٍ﴾تعزيز مدد کولو او قوت ورکولو ته وائی، يعنی الله ﷻ ورپسې دريم پيغمبر هم اوليږلو ،چې هغی سره اولنوته تقويت حاصل شو.دې درې پيغمبرانو نومونوباره کښې قوي روايت نشته .البته دابن عباس رضي الله عنهما نه منقول دی چې ديونوم صادق ،بل نوم صدوق او دريم نوم شلوم وؤ.﴿إِنَّآ إِلَيْكُم مُّرْسَلُونَ﴾ درې واړو پيغمبرانو ورله دعوت ورکړو چې مونږ دَ الله ﷻ پيغمبران يو تاسوته راليږلی شوی يو. زمونږ خبره اومنئ

﴿قَالُواْ مَآ أَنتُمْ﴾دادقوم طرف نه پيغمبرانو تکذيب دې چې مشتمل دې په دوؤ اعتراضاتو باندې،(۱)مالنتم الا بشر مثلنا يعنی منصب رسالت له خو فرشته پکار ده ،تاسو خوزمونږ په شان انسانان يئ.بياځنګه رسولان کيدیشئ(۲)ماانزل الرحمن رحمن په تاسو هيڅ هم ندی نازل کړی،رحمن ذکرکولو کښې ديته طرف ته اشاره ده چې دَرحم تقاضه مساوات ده.چې مونږ هم بشريو او تاسوهم بشرئې،چې په مونږ وحی نه نازليږی نو په تاسو به هم نه نازليږی.رحمن ذکر کولو نه داهم معلوميږی چې دې خلقو الله ﷻ منلو.خو شرک ئې ورسره کولو او دَرسالت نه انکار کولو ﴿إِنْ أَنتُمْ إِلَّا تَكْذِبُونَ﴾دادواړو اعتراضاتوخلاصه او نتيجه ده. يعنی دينه صفا معلومه شوه چې تاسو دروغ وايئ،نه ده الله ﷻ رسولان يئ او نه تاسو ته وحی کيږی

﴿قَالُواْ رَبُّنَا يَعْلَمُ﴾دا دَرسولان طرف نه جواب دې،چې الله ﷻ ګواه دې چې مونږ دهغه

رسولان يو. يو خو دې وجهې نه چې هغه مونږ له کوم معجزات راکړي دي دهغې نه انکار هيڅ
وجه تاسو سره نشته. اوبل دې وجهې نه هم چه که مونږ په الله ﷻ باندې دروغ وتيلي او دَ الله
ﷻ په نوم خوخلق ګمراه کولي نو دهغه عذاب به مونږ نازل شوي وي. ((ربنا يعلم)) تعبير کلام
عرب کښې د قسم په ځائ استعماليږي ، چونکه دا جواب دَ انکار په مقابله کښې دې . نو ځکه ئې
مزيدتاکيد په قسم او لام تاکيد سره راوړلې شو. ﴿وَمَا عَلَيْنَآ إِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ﴾ زمونږ ذمه داري خو
صرف صفا اوسپينه خبره کول دي چې حق ورسره واضح شي. باقي منل نه منل ستاسو کار دې.

قَالُوْٓا اِنَّا تَطَيَّرْنَا بِكُمْ ۚ لَئِنْ لَّمْ تَنْتَهُوْا لَنَرْجُمَنَّكُمْ

اوويل دوئ بيشکه مونږ سپيره شو تاسو د لاسه، قسم دې کچرې نه شوئ منع تاسو نو ضرور به سنګسار کړو مونږ تاسو

وَلَيَمَسَّنَّكُمْ مِّنَّا عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۱۸﴾ قَالُوْا طَآئِرُكُمْ مَّعَكُمْ ؕ

او خامخا او به رسيږي تاسو ته زمونږ طرف نه عذاب دردناک. اوويل دوئ چې سپيره والې ستاسو. تاسو سره دې.

اَئِنْ ذُكِّرْتُمْ ؕ بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُوْنَ ﴿۱۹﴾ وَجَآءَ مِنْ اَقْصَا الْمَدِيْنَةِ

آيا چه تاسو ته نصيحت وکړيشي نو تاسو بدفالي نيسئ بلکه تاسوئي قوم تيروندنکي دحدنه. او راغې دآخر سر دښار نه.

رَجُلٌ يَّسْعٰى قَالَ يٰقَوْمِ اتَّبِعُوا الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۲۰﴾ اتَّبِعُوْا مَنْ

يو سړې چې منډې ئې وهلې. اوئ ويل: اې قومه ځما تابعداري اوکړئ دپيغمبرانو. تابعداري اوکړئ دهغه چاچه

لَّا	يَسْئَلُكُمْ	اَجْرًا	وَّهُمْ	مُّهْتَدُوْنَ ﴿۲۱﴾
نه غواړي	ستاسو نه	هيڅ اجراو	دوئ په	سمه لار دي.

﴿قَالُوْٓا اِنَّا تَطَيَّرْنَا بِكُمْ﴾ کله چې قوم سره دَتکذيب هيڅ دليل پاتې نشو نوالزام تراشي او
دهمکيانې ئې شروع کړې، چې ستاسو دلاسه مونږ سپيره شو ،بيمارياني اوقحطونه راباندې
راغلل، کچرته تاسو منع نشولئ نو په کانړوويشتوويشتو خوبه مړه کړو اوسخته سزا به درله
درکړو ، رواياتو کښې راځي چې کله دوئ درسولانو تکذيب اوکړو ، نو په دوئ باندې بارانونه
بند شول. قحط اوبيمارياني پرې راغلې. نوپه پيغمبرانوئي بدفالي اونيوله چې ستاسو
دنحوست پوجه په مونږدا قحط اوبيمارياني راغلي. ﴿لَئِنْ لَّمْ تَنْتَهُوْا﴾ اي عن الدعوة يعني که

باسو دخپل دعوت دتوحيد نه منع نه شوئ نو مونږ به مو رجم کړو. ﴿لنرجمنكم﴾ مثل به کړو ستاسو
کانړوويشتلو. يادَرجم نه مراد ايذارسول. ياکنځل کول. بد رد ونيل مراد دي. ﴿عذاب أليم﴾ نه
مراد سوزول. يادَبدن اعضاء کټ کول دي.

﴿قَالُوا طَٰٓئِرُكُم مَّعَكُمْ﴾ داجواب دَرسولانودې چې سبب دبدبختۍ ستاسو سره دی. مونږ
يو. اوهغه ستاسو غلطه عقيده اوقبيح اعمال دی. ﴿أَئِن ذُكِّرْتُم﴾ يعنی عجيبه خبره ده. مونږ
خوخير او سعادت طرف ته رابللو او تاسو بدفالي نيسئ. شروع کښې همزه استفهام او إن شرطيه
دې. دواړه جواب غواړي. البته چې چرته دواړه جمع شي نو بيا به يو جواب راوړلې شي او هغه
به دبل دپاره قائم مقام ګرځي. امام سيبويه صاحب وائي چه دَاستفهام جواب به ذکر کيږي
جواب شرط ته بياضرورت نشته. يونس رحمه الله وائی جواب شرط به ذکر کيږي. نو دامام
سيبويه رحمه الله په نيز تقدير دا رنګه دي. (ائن ذُكّرتم تتطيّرون) "تتطيّرون" جواب استفهام دې مضارع
مرفوع ده ياماضي مقدرده. اى تطيّرتم. نومطلب دادې چې آياچې تاسوته چه نصيحت اوکړی
شي نوبيابدفالي نيسئ اوداسې خبري کوئ؟ او دَيونس رحمه الله په نيزبه تقدير دا رنګه دی ان
ذكرتُم تتطيّرو. مضارع مجزوم به جواب شرط وي ياماضي محلامجزوم اى تطيّرتم يعني چې
تاسوته نصيحت اوکړې شي نوبدفالي نيسئ (روح المعاني) ﴿بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُونَ﴾ بل لپاره د
اضراب انتقالی دې، يعنی نور مودَحدنه تجاوز اوکړو. ځکه چې يوخومودَرسولانو بلا دليل
تکذيب اوکړو. بل خوورسره بد فالی اونيوله حالانکه هغوئ تاسو خير او سعادت طرف ته
رابللی. او بيا ورله دهمکئ هم ورکوئ

﴿وَجَآءَ مِنْ أَقْصَا ٱلْمَدِينَةِ رَجُلٌ﴾ رجل نه مراد حبيب نجار دې او دې دَ ښار بالکل آخر کښې
اوسيدو. اومؤمن وو کله چې دَقوم او رسولانو مينځ کښې خبري تري اوشوي او قوم درسولانو
تکذيب اوکړو اوهغوئ له ئی دهمکی ورکړه. نوپوره علاقه کښې داخبرخور شو. کله چې دده
نه پته اولګيده نودقوم په ايمان نه راوړلو ډير خفه شواوپه منډه منډه راغي او قوم ته ئی د
توحيد او رسولانو اتباع او دعوت شروع کړو، چې بالآخر دهغې پاداش کښې شهيد کړې
شو. رجل کښې تنوين دَ تعظيم لپاره دی چې دې عند الله يولوئ سړئ وو.

﴿ٱتَّبِعُوا۟﴾ تکرار لپاره دَتاکيد دې ﴿مَن لَّا يَسْـَٔلُكُمْ أَجْرًا﴾ بدل دې المرسلين نه. يعنی څه دنيوی

مفادات حصلول نې مقصود نه دي چونکه دا ضروري نه ده چي چا صرف دنيوي مفادات حصلول مقصود نه وي نو هغه اتباع دي ضروري شي نو څکه ورسره ﴿وهم مهتدون﴾ هم ذکر کړو يعني دي سره سره دوئ په حق او په سمه لار هم دي. نو څکه تاسو له ئې اتباع کول ضروري ده

وَمَالِيَ لَآ اَعۡبُدُ الَّذِيۡ فَطَرَنِيۡ وَاِلَيۡهِ تُرۡجَعُوۡنَ ۝٢٢ ءَاَتَّخِذُ

اوحه دي مادره چي نه کوم عبادت دهغه ذات چي څه ئې پيداکړي يمه اوخاص هغه ته واپس کرخولي سئ تاسو. آيا ونيسم څه

مِنۡ دُوۡنِهٖۤ اٰلِهَةً اِنۡ يُّرِدۡنِ الرَّحۡمٰنُ بِضُرٍّ لَّا تُغۡنِ عَنِّيۡ شَفَاعَتُهُمۡ

ماسوي دالله نه نورمعبودان کچيري اراده وکړي مالره رحمان دڅه ضرر.فائده به رانکړي ماته شفاعت دهغوئ

شَيۡـًٔا وَّلَا يُنۡقِذُوۡنِ ۝٢٣ اِنِّيۡۤ اِذًا لَّفِيۡ ضَلٰلٍ مُّبِيۡنٍ ۝٢٤ اِنِّيۡۤ اٰمَنۡتُ

هيڅ قسمه اونه دوئ ماخلاصولي شي.بيشکه زه به دغه وخت کښ خامخا په ګمراهئ ښکاره کښ يم.بيشکه ما ايمان راوړي دي

بِرَبِّكُمۡ فَاسۡمَعُوۡنِ ۝٢٥ قِيۡلَ ادۡخُلِ الۡجَنَّةَ ؕ قَالَ يٰلَيۡتَ قَوۡمِيۡ يَعۡلَمُوۡنَ ۝٢٦

په رب ستاسوباندې پس واورئ زماخبره.اويلي شوده ته چي داخل شه جنت ته.اويل هغه هائې کاش چي قوم زماپوهيدلې.

بِمَا غَفَرَ لِيۡ رَبِّيۡ وَجَعَلَنِيۡ مِنَ الۡمُكۡرَمِيۡنَ ۝٢٧ وَمَاۤ اَنۡزَلۡنَا عَلٰى قَوۡمِهٖ مِنۢۡ بَعۡدِهٖ

په دې چي بخنه کړيده ماته رب زمااوګرځولې ئې زه دمعززونه.اونه وزراليږلي مونږپه قوم دده باندي ورستو دده مرګ کولو نه

مِنۡ جُنۡدٍ مِّنَ السَّمَآءِ وَمَا كُنَّا مُنۡزِلِيۡنَ ۝٢٨ اِنۡ كَانَتۡ اِلَّا صَيۡحَةً وَّاحِدَةً فَاِذَا هُمۡ

هيڅ لښکردآسمان نه اونه يومونږه نازلونکي دلښکرنه وزهلاکت ددوئ مګريوه چغه وه نوبيادوئ

خٰمِدُوۡنَ ۝٢٩ يٰحَسۡرَةً عَلَى الۡعِبَادِ ۚ مَا يَاۡتِيۡهِمۡ مِّنۡ رَّسُوۡلٍ اِلَّا كَانُوۡا بِهٖ يَسۡتَهۡزِءُوۡنَ ۝٣٠

مړه پرانه وو. هائي آفسوس په بندګانو.نه به راتلودوئ ته هيڅ رسول مګر دوئ به په هغه پورې ټوقې کولې

﴿وَمَا لِيَ لَآ اَعۡبُدُ الَّذِيۡ﴾ داهم دحبيب نجاردبيان حصه ده.پديکښ التفات دي د خطاب صيغي نه دمتکلم ته. دپاره ددې چه مخاطب په غصه کښ رانشي.اوتعريض دي چي دهغه ذات عبادت ولي نه کوئ چي هغه زمونږخالق دي.اوهغه ته به رجوع وي

﴿ءَاَتَّخِذُ مِنۡ دُوۡنِهٖۤ اٰلِهَةً﴾ دا دعوه دسورت ده.يعني نفي دشفيع قهري.يعني آياڅه دالله جل جلاله نه

ماسوى بل چاته هم اله اووایم. کچرته الله جل جلاله ماته عذاب راکول اوغواړي نوبیا د الله نه م سواماسوک نشي بچ کولې. اونه څماد بچ کولو شفاعت کولې شي. «إِنِّیٓ إِذًا» یعني که بل چا مې اله اووئیل نودابه ښکاره ګمراهي وي. ځکه چې کوم معبودانو په لاس نه نفع وي او نه ضرر هغه قادرمطلق ذات سره شریك کول ښکاره ګمراهي ده. «إِنِّیٓ ءَامَنتُ بِرَبِّكُمْ» ظاهر دادہ چې خطاب قوم ته دې. چې برسرمیدان ئ ورته دحقیقت اظهاراوکړو. دهغوئ دسزا پرواه ئې اونکړه. او«بربکم»وئیل هم دتحقیق دحق دی. اوتنبیه ده چې ستاسو خود ساخته معبودان باطل دي

«فَٱسْمَعُونِ»ای فاسمعوا قولي(روح)یعني څماداقول ښه واورئ چې ما ایمان راوړیدې په هغه رب چې ستاسوخالق دې اوتاسوورباندې کفرکړیدې څه ستاسوپرواه نه کوم. بعض وائی خطاب رسولانوته دې. دابن مسعود رضی الله عنه نه مروي ده چې کله حبیب نجاردااووئیل چې «یَٰقَوْمِ ٱتَّبِعُوا۟ ٱلْمُرْسَلِینَ» نودوئ دمرئ نه اونیولوچې مړیې کړي نوده رسولانوته اووئیل چې «إِنِّیٓ ءَامَنتُ بِرَبِّكُمْ فَٱسْمَعُونِ»ای فاشهدوا. یعني څماپه ایمان باندې ګواه شئ

«قِیلَ ٱدْخُلِ ٱلْجَنَّةَ» کله چې ده دخپل ایمان اظهاراوکړونوقوم پرې راجمع شوتوپونه ئې ورباندې اووهل. په کانړوئی اوویشتلو. اوده به وئیل اللّهم اهدِقومي. تردې چې په وهلو وهلو ئې مړ کړواوکولمي ئې بهرراوتلي. او بیا ئې کوهي ته اوغورځولو. بعض وائی چه اوئ سوزولو. بعض وائی په مرئ کښې ورته پړی واچول اودکلي په چوك کښې آویزان کړو. اوهغه درې واړه رسولان ئې هم شهیدان کړل بعض وائې چې کله قوم دده دقتل قصداوکړو. نو الله جل جلاله اسمان ته ژوندې اوچت کړو. لیکن دا قول کمزوری دي. «ٱدْخُلِ ٱلْجَنَّةَ»دینه مراد یا بشارت او زیری دې د دخول دجنت چې فرښتې ځنکدن په وخت کښې نیک انسان له ورکوی. اویا حقیقتا دخول مراددې. او خطاب نه مقصود روح دې. یعنی روح ته ئې اوئیلې شی چې جنت ته داخل شه. ځکه چې دې شهید وؤ. اوشهیدانو روحونه د مرغیو په قالب کښې ګرځئ راګرځی او بعضو په ظاهر باندی حمل کړیدی

«قَالَ یَٰلَیْتَ قَوْمِی یَعْلَمُونَ» یعني چې کله ده دجنت مشاهده اوکړه نوداتمنائی اوکړه چې آفسوس څماقوم څماپه حالت عالم وې نوتوبه به ئې کړې وه اوایمان به ئې راوړی

وو.دا د رسولانو او د ولیاؤ وعادت دي چي په هر وخت کښ د خپل قوم د اصلاح تمناکوي.په یو روایت کښ دي نصح قومه حیاومیتا(روح المعانی).

﴿وَمَآ أَنزَلۡنَا عَلَىٰ قَوۡمِهِۦ﴾ ضمیر رجلٌ ته راجع دي﴿مِنۢ بَعۡدِهِۦ﴾ای من بعدقتله﴿مِن جُندٍ﴾ من زائده برائ تاکید دي یعني هیڅ لښکر.دا دهغې قوم دهلاکت بیان دي او دهغوئ تحقیرشان طرف ته اشاره ده.چي د دوئ دهلاکت لپاره الله ﷻ هیڅ لښکري هم رااونه لیږلي﴿وَمَا كُنَّا مُنزِلِينَ﴾اونه دازمونږ دحکمت موافق ده چي د یوقوم دهلاکولودپاره ډیري لښکري رااولیږو.البته د بدر په ورځ او دخندق په جنګ کښ فرشتي رالیږل دپاره دفضیلت دحضورﷺ دي

﴿إِن كَانَتۡ إِلَّا صَيۡحَةً وَٰحِدَةً﴾یعني صرف یوه چغه دجبرئیل وه چي بس بیاهیڅ نه وؤباقي.ټول مړه پراته وؤ.لکه روایت دي چي الله ﷻ جبرئیل ﷺ رااولیږلو.دکلي دروازې ئی اونیولي اویوه سخته چغه ئی وربندې اووهله چي دهغې پوجه ټول مړه شول.(روح).﴿كَانَتۡ﴾ضمیر مرجع الوقعة یا الاخذة دي چي په دي سیاق دلالت کوي.﴿فَإِذَا هُمۡ خَٰمِدُونَ﴾ خمودنه مشتق دي.تپ ختلي اورته وائی.مرادورنه مړه کیدل اوهلاکیدل دي.

﴿يَٰحَسۡرَةً عَلَى ٱلۡعِبَادِ﴾حسرت وئیلی کیږی شدة الندم یعنی انتهائی پښیمانتیا ته.اوراجع قول دادي چي دا الله ﷻ قول دی اوګله ئی ده دخپلو بندګانو.نه او حسرت په اعتبار اونسبت دبندګانو سره دي یعنی بندګانو دپاره ډیر افسوس اوحسرت مقام دي چي الله ﷻ دوئ دهدایت لپاره خپل معززرسولان رالیږل.خو دوئ د یورسول هم احترام نه دي کړي بلکه استهزااو ټوقې مسخرې ئي ورپورې کړې دی.﴿مَا يَأۡتِيهِم﴾مضارع په معنی دماضي استمراري ده.یعني دوئ ته به چي کوم رسول هم راتللونودوئ ورپورې استهزاء کوله.دینه حال یا استقبال مرادنه دي.لکه قادیاني ملعون داستقبال معنی کوي اوخپل نبوت ورنه ثابتوي.دغه شان دلته دمکذبینو په هلاکت باندې افسوس کړې شویدي دقادیاني ملعون نه منکرخونه دي هلاك شوې بلکه قادیاني ملعون پخپله هلاك شوې اوذلیله شوې دي.

﴿أَلَمۡ يَرَوۡاْ كَمۡ أَهۡلَكۡنَا قَبۡلَهُم مِّنَ ٱلۡقُرُونِ أَنَّهُمۡ إِلَيۡهِمۡ لَا يَرۡجِعُونَ ۝﴾

آیا نه دي لیدلي دوئ چي څومره هلاك کړیدي مونږه مخکښ ددوئ نه ډلي بیشکه دا هلاك شوي دوئ ژوندو ته واپس نه راځي

وَإِنْ كُلٌّ لَّمَّا جَمِيعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُونَ ﴿٣٢﴾

او نه دي ټول مګر ټول به زموږ په وړاندې حاضره کړی شي

«أَلَمْ يَرَوْا كَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم» دا زجر دې يعنې آيا دوی دومره نه ګنل چې دوی نه مخکښې مونږ

څه انجام ووچې کله ئې د رسولانو تکذيب او کړو. ضمائر د غائب العباد ته راجع دی. حتی هغه

کفار مکه او نور و کفار و ټولو ته شامل دي. «أَنَّهُمْ» ای القرون المهلكين. «إِلَيْهِمْ» ای الی المکذبين. ان

سره اسم او خبره بدل اشتمال دي د «كَمْ أَهْلَكْنَا» نه

«وَإِن كُلٌّ» دا تخويف أخروي دي. چې دقيامت په ورځ به بيا ټول ژوندي کيږي او دحساب دپاره

به مونږ ته حاضريږي. «إِن» نافيه دي «كُلٌّ» مبتدا دي او «لَمَّا» بمعنی د إلا سره دی. «جَمِيعٌ» خبر

اول او «مُحْضَرُونَ» خبر ثانی دي او «لَّدَيْنَا» ظرف متعلق دي جميع سره او يا محضرون سره. د دې نه

مشهور اشکال دي چې «جَمِيعٌ» څنګه خبر جوړيدې شی د «كُلٌّ» دپاره؛ ځکه چې دواړو معنی يوه

ده «كُلٌّ» هم په احاطه او شمول باندې دلالت کوی او «جَمِيعٌ» هم کوی. نو د دې نه خو د خيل ذات سره

خبر ورکول لازميږی. او دا خو صحيح نه ده لکه الرجل رجل وئيلی صحيح نه دی. جواب د دې

چې «جَمِيعٌ» بمعنی مجموع سره دي يعنی داحاطې او شمول معنې سره سره داجتماع معنی هم

ورکوی. لهذا دواړو کښې فرق راغی او خبر واقع کيدل ئې صحيح دی

وَآيَةٌ لَّهُمُ الْأَرْضُ الْمَيْتَةُ ۚ أَحْيَيْنَاهَا

او نخه (د توحيد) دوی لره زمکه مړه (وچه) ده. ژوندۍ مونږ کړه هغې لره.

وَأَخْرَجْنَا مِنْهَا حَبًّا فَمِنْهُ يَأْكُلُونَ ﴿٣٣﴾ وَجَعَلْنَا فِيهَا جَنَّاتٍ مِّن نَّخِيلٍ وَأَعْنَابٍ

او را او باسودې نه دانې نو د هغې نه خوری دوی او پيدا کړيدی مونږ په دې کښې باغونه دکجورو او د انګورو نه.

وَفَجَّرْنَا فِيهَا مِنَ الْعُيُونِ ﴿٣٤﴾ لِيَأْكُلُوا مِن ثَمَرِهِ

او جاری کړيدی مونږ په دې کښې چينې. دپاره د دې چې او خوری دوی د ميوې د هغې نه.

وَمَا عَمِلَتْهُ اَيْدِيْهِمْ ؕ اَفَلَا يَشْكُرُوْنَ ﴿۳۵﴾ سُبْحٰنَ الَّذِيْ خَلَقَ الْاَزْوَاجَ

او ندي پيدا کړي دا ميوې لاسونو د دوئ نو آيا شکر نه اوباسي دوئ پاکي ده د هغه ذات لره چې پيدا کړي يې دي جوړې

كُلَّهَا مِمَّا تُنْۢبِتُ الْاَرْضُ وَمِنْ اَنْفُسِهِمْ وَمِمَّا لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳۶﴾

د ټولو څيزونو. د هغې پيداوار نه هم چې زرغونه وي ئې زمکه او د نفسونو د دوئ نه هم. او د هغه څيزونو نه هم چې دوئ يې نه پيژني

﴿وَاٰيَةٌ لَّهُمُ الْاَرْضُ الْمَيْتَةُ﴾ داول عقلي دليل دې په دعوى د سورة يعني نفي د شفيع قهري باندې.چې دى مشركانولپاره لوئ دليل وچه خمكه ده چې مونږئې په باران سره شنه كړواوفصل ورنه پيداكړوچې دوئ ئې خوري.داصرف زمونږكاردې ددوئ خودساخته معبودانوپديكښې هيڅ قسمه شركت نشته.نوچې په تخليق كښې شريك ندى نودعبادت لائق هم ندى اونه ورته شفاعتِ قهري حاصل دې﴿اَحْيَيْنٰهَا﴾ جمله صفت ده د﴿الْاَرْضُ﴾لپاره .اوالارض كښې الف لام عهدذهنى په حكم دنكره كښې دې او ياجمله ورنه حال ده او احياء دارض نه مراد زرغونه ول دى﴿وَاَخْرَجْنَا مِنْهَا حَبًّا﴾جنس داني لكه غنم.وريشې.روجې وغيره دى. ﴿وَجَعَلْنَا فِيْهَا جَنّٰتٍ﴾يعني صرف غله نه بلكه ددوئ لذت لپاره موورته قسمه قسمه باغونه دكجورانگوروهم پيداكړيدي.نخيل جمع د نخل ده كجهورې ته وائى او اعناب جمع د عنب ده انگوروته وائى جمع رواړلو كښې مختلف انواعه ته ئى اشاره ده صرف ددووميوو ذكراوښخكه چې دادواړه كثيرالمنافع هم دي.اوعربوته مرغوبې هم دي.دغه شان ددې پيداوارپه عربو كښې ډيردې﴿وَفَجَّرْنَا فِيْهَا﴾يعني پخپل قدرت سره موورته په زمكه كښې چيني هم پيداكړيدى چې په هغې سره دوئ باغونه.زمكې پانړه كوي.

﴿لِيَاْكُلُوْا﴾متعلق دې ﴿وَجَعَلْنَا﴾پورې.يعني باغونه دكجوروادانگوروموددې دپاره پيدا كړي دي چې دوئ دهغې ميوې اوخري.﴿مِنْ ثَمَرِهٖ﴾ضميريا﴿جَنّٰت﴾ته راجع دې په تاويل دمجعول يا ماذكر سره.نوځكه مفردمذكرذكرشو.ياضميرالله ﷻ ته راجع دې.اواضافت دثمرالله ﷻ ته ځكه اوشوچې هغه ئى خالق دې.يعني چې الله ﷻ دوئ له كومې ميوې

(۱) دويمه ترجمه او اوخرى هغه چه د دوئ لاسونو جوړ كړيدي

پیدا کړیدي هغه أوخري ﴿وَمَا عَمِلَتْهُ أَيْدِيهِمْ﴾ ضمیر بیولو مخلوقاتو ته ..یعني ... ته راجع دي ما یانافیه ده .ضمیرمنصوب په عملته کښی ثمرته راجع دي .جمله په موضع دحال کښی ده .یعني حال داچې دوئ دغه میوې نه دي پیدا کړي بلکه خالق ئی الله جَلَّ جَلَالُهُ دی .بیا هم دوئ دَدي نعمت شکرنه اداء کوي اوشرك کوي .یا ما موصوله ده .مجرورمحلا عطف ده په ﴿ثَمَرِهِ﴾ ای لیأکلوامن الذي عمله ایدیهم .یعني اوخري دوئ میوي هم اودهغی نه هم چې ددوئ لاسونوجوړکړیدي ،لکه جوس .مربه .چاټ .وغیره

﴿سُبْحَٰنَ ٱلَّذِى﴾ دادلیل تتمه ده .چې الله جَلَّ جَلَالُهُ دَهغه شفعاؤاوشرکاؤنه پاك دی چی دا مشرکین ئی ورسره شریك کوي. ﴿خَلَقَ ٱلْأَزْوَٰجَ﴾ ازواج جمع دزوج ده او داپه قرآن کښی دوه معنو کښی استعمال شوي دي .(١) ضد اوجوړه لکه ومن كل شئ خلقنا زوجين (الذاريات ٤٩)
(٢) قسم اوصنف لکه فانبتنا به ازواجا من نبات شئ (طه) ،دلته دواړه معنې اغستلې کیدې شی اولې معنې اعتبارسره به مطلب داوی چې الله جَلَّ جَلَالُهُ دَهرڅیز جوړه پیدا کړیده ﴿مِمَّا تُنۢبِتُ ٱلْأَرْضُ﴾ دَنباتاتو هم چې ښځې بوټی مذکر دی اوښځې مؤنث، ﴿وَمِنْ أَنفُسِهِمْ﴾ انسانانو کښی هم چې ښځې سړی دی اوښځې ښځې ﴿مما لايعلمون﴾ یعنی دینه علاوه نوهم ډیر داسې څیزونه دي چې دهغې جوړو علم الله جَلَّ جَلَالُهُ ته دي. تاسوته نشته ،خلاصه دا چې صرف الله جَلَّ جَلَالُهُ هغه ذات دي چې جوړه اوشریک ئی نشته نوردهر چارشریک شته .او دویمی معنی اعتبار سره مطلب دادي چې الله جَلَّ جَلَالُهُ هغه ذات دي چې مختلف قسم میوې او فصلونه ئی پیدا کړی دي بیا په هرې میوه کښی ځان له قسمونه دی رنګ اوخوند په اعتبار سره، داسی مختلف انسانان ئی پیدا کړی دی ښځې مذکر اوښځې مؤنث .اوبیا په دوئ کښې هم رنګ ونسل اور قوت وضعف اعتبار سره مختلف قسمونه دی اودهغه شان نورډیرڅیزونه دی چې هغې مونږ ته علم نشته . ازواج دی معنی اعتبار سره عام دي

وَءَايَةٌ لَّهُمُ ٱلَّيْلُ نَسْلَخُ مِنْهُ ٱلنَّهَارَ فَإِذَا هُم مُّظْلِمُونَ ﴿٣٧﴾ وَٱلشَّمْسُ تَجْرِى

اونخه دتوحید دَدوئ دپاره شپه ده چې اوباسومونږ دَهغې نه ورځ ،نودوئ بیاپه تیاروکښی وي اونورروان دی.

لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا ۚ ذٰلِكَ تَقْدِيرُ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ ۝ وَالْقَمَرَ

خائ دقرارئ خپل ته.داتلل دنوراندازه دهغه ذات ده چي غالب دي.عالم دي. اوسپوږمئ

قَدَّرْنٰهُ مَنَازِلَ حَتّٰى عَادَ كَالْعُرْجُوْنِ الْقَدِيْمِ ۝ لَا الشَّمْسُ

په اندازه کړي دي مونږرفتارددي په منزلوکښ تردي چه داواپس شي په شان دخنګي دکجوری زړی. نه د نمر

يَنْۢبَغِيْ لَهَآ اَنْ تُدْرِكَ الْقَمَرَ وَلَا الَّيْلُ سَابِقُ النَّهَارِ ۚ وَكُلٌّ

وس شته چي ورسيږي سپوږمئ ته اونه شپه مخکښ کيدونکي ده په ورځ باندي. اوهريو دنور.سپوږمئ نه

فِيْ فَلَكٍ يَّسْبَحُوْنَ ۝

پخپل مدار کښ لامبو ووهي

﴿وَاٰيَةٌ لَّهُمُ الَّيْلُ﴾دادويم دليل عقلي دې په توحيداوپه نفي دشفيع قهري.يعني داهم دالله ﷻ دواحدانيت دليل دې چې دشپي ورځي تلل راتلل دهغه په اختيارکښ دي. ددوئ خود ساخته معبودانو پکښ هيڅ قسم شرکت نشته ﴿ نَسْلَخُ﴾ د سلخ نه دي اوسلخ، نزع الجلد ته وائي.يعني دخاروي څرمن دهغه دبدن نه اوباسل،اودلته ئې معنى د جدا کولوده او﴿نَسْلَخُ﴾ ذکربطوراستعاره تبعيه شوې دې.اومقصود دورځې د شپې نه جداکولو کيفيت تشبيه ده دنزع الجلد سره . يعنى څرنګه چې څاوري نه څرمن ويستلې کيږی. نوڅاروی اصل وجود څرګند شی. دغه شان مونږ ورځ د شپې دمخ نه لرې کړو شپه راشی.اصل او حقيقی فعل راوړلو په ځائ ﴿ نَسْلَخُ﴾ فعل ذکر کولو کښ يو خو ديته طرف ته اشاره اوشوه چې جهان کښ اصل تياره ده او الله ﷻ پرې د رڼا پرده خوره کړيده،اوبل اشاره ده پکښ تدريج ته. يعنى څنګه چې دڅاروی نه پوستکی په ترتيب سره رورو ويستلې کيږی نو داسې الله ﷻ هم دورځې پرده د شپې له مخه رو رو لرې کوی،نو دا دالله ﷻ لوئ احسان دې چې تياره يودم نه روالی (الکنز الثمين)

﴿فَإِذَا هُم مُّظْلِمُوْنَ﴾اي بعد تكامل الانسلاخ يعنى چې کله پرده مکمل لرې شی او اثرات ئی ختم

شي نو بيا توره تياره راشي. "مظلمون" صيغه دَاسم فاعل ده باب افعال نه او خاصيت بلوغ دى يكښې اي داخلون في الظلام يعنى خلق بيا په تياره کښې داخل شي.

﴿وَالشَّمْسُ تَجْرِي﴾ دا دريم دليل عقلي دې عطف دې په ﴿اَلَّيْلُ﴾ اى واية لهم الشمس ... الخ يعني بل دليل دَتوحيد دَدَوئ دپاره نوردې. چې پخپل معين وخت طلوع کوي. پخپل مدار بندى حي کوم ورته الله جَلَّ جَلَالُهُ مقرر کړيدې منظم ځي. خپل مستقر ته سيدا روان وي. خپل اخري منزل ته اورسيږي او بيا دَ الله جَلَّ جَلَالُهُ په حکم سره په بلې دورې شروع شي. نودنور دغه دطلوع غروب وبول نظام دَهغه الله جَلَّ جَلَالُهُ په قبضه کښې دې چې غالب. عليم دې. بل څانته ددې قدرت نشته

﴿لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا﴾ لام په معنى دَ (الى) دې او (١) مُستقر يا ظرف مکان دې. مراد ورنه دنور هغه آخرى منزل دې چې هلته دَرسيدلو نه ورستو بيا هغه دوباره سفر شروع کوي. او هغه تحت العرش دى. په بخاري وغيره کښې دى چې ابوذر رضي الله عنه دَحضور صلى الله عليه وسلم نه ددې مستقر په باره کښې تپوس اوکړو. نو حضور صلى الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل مستقرّها تحت العرش. چې دَدې مستقر يعني جائى قرار تحت العرش دې. په يو روايت کښې دي. چې حضور صلى الله عليه وسلم دَنور غروب کيدلو په وخت کښې دَابوذر رضي الله عنه نه تپوس اوکړو چه آيا تاته پته ده چه دانور چرته غروب کيږي. ابوذر رضي الله عنه دلاعلمئ اظهار اوکړو. نو حضور صلى الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل: فانّها تذهبُ حتّى تسجد تحتَ العرشِ. او دا مراد دى دَقول دَ الله جَلَّ جَلَالُهُ و الشّمس تجري لمستقرلها ذلك تقدير العزيز العليم (بخاري کتاب التفسير). دې حديث باندې چې کوم اشکالات او دهغې جوابات دى دا يو اوګد بحث دې حضرت مولانا شبير احمد عثمانى رحمه الله په خپله رساله "سجود الشمس" کښې په دې محققانه بحث کړې دې. هلته ئى ملاحظه کړئ. دا رساله دَتاليفات عثمانى په ضمن کښې اداره اسلاميات نه شائع شوې ده.

(٢) يا مستقر ظرف زمان دې. مستقر زماني ورنه مراد دې. چې هغه ورځ دقيامت ده. او مطلب دادې چې دانور پخپل مدار کښې په يو محکم نظام سره حرکت کوي ليکن دا حرکت ده دائمي نه دې. دې دپاره يو خاص مستقر او وخت دَقرار متعين دې چې کله هغه وخت راشي نو دَ ده حرکت به ختم شي. ﴿ذٰلِكَ﴾ يعني دا ناآشنا او مضبوط او چليدل دنور. چې عقول ورته حيران دى الله جَلَّ جَلَالُهُ په حکم سره دى چې په هرڅه غالب دې او عليم دې

﴿وَالْقَمَرَ﴾ دا څلورم دليل عقلى دې چې سپوږمئ ته اوګورئ الله جَلَّ جَلَالُهُ ورله مختلف منزل

مقرر کړی دی هره ورځ به یومنزل کښ سفر کوی.او دمنزل په بدلیدلو سره دیکښ هم فرق راځی. دا میاشتې په سرکښ یوشان وی په مینځ کښ ترینه بدرکامل جوړ شی اوآخر کښ داسې شی لکه کجهورې زوړ ښاخ. دا تول الله ﷻ په خپل قدرت سره کوی.دبل چاپکښ هيڅ دخل نشته. القمر منصوب علی شريطه التفسیردي.ای: وقدرناالقمرقدرناهُ منازل.او منازل مفعول ثاني دي د قدرنه چي پمعنی د صیرنا دي. منازل دمنزل جمع ده.دطلوع اوغروب ځای ته وائی.منازل القمر دسپوږمئ درفتارديپاره چي کوم حدودومقرردي هغې ته وائی چي د تول اته ویشت(۲۸) دی چي تفصیل ئی په سورة یونس (۵) جلد۳صفحه۱۷۲ کښ تیردي

﴿حَتَّىٰ عَادَ كَٱلۡعُرۡجُونِ ٱلۡقَدِيمِ﴾ عرجون هغه ښاخ او څانګې ته وائې چي هغې پورې دکجهورې غونچه لګیدلي وی کله چي کجهورې پخې شی نوغونچه ترې کټ کړې شی او دا پاتې شی .وخت تیریدو سره دا وچ او زیړ شی.او نرې اوکوږ شی (ابن کثیر)

عرجون یا د فعلون په وزن دې او نون پکښ زائد دې.او انعراج بمعنی اعوجاج (کوږوالی)نه ماخوذ دې.او یانون اصل دکلمې نه دې او بروزن فعلول دې.اودلته سپوږمئ تشبیه عرجون سره په درې امورو کښ ورکول مقصود دې (۱)زیړ والی کښ(۲)نری والی کښ (۳)اوکوږ والی کښ

﴿لَا ٱلشَّمۡسُ يَنۢبَغِي لَهَآ﴾ دا پنځم عقلی دلیل دې مخکښ دنور او سپوږمئ ذات بطور دلیل ذکر وو.اوس دهغې نظام بطور دلیل ذکر کیږی.چي نوراوسپوږمئ نظام باندې غور اوکړئ څومره په ترتیب سره روان دې.دسپوږمئ اونور ځان ځان له رفتار دې چي په هغې سره چلیږی نوردورځې راخیژی.او سپوږمئ د شپې.داسې نشی کیدې چي په شپه کښ نور راوخیژی.اویا سپوږمئ دورځې راشی.او شپه ترینه جوړه کړی.او دهغه شان دهر یوجداجدا مدار دی چي په هغې کښ ګرځی. سپوږمئ دنور مدار ته نه راځی او نور دسپوږمئ مدار ته نه ځی.ینبغی لها .په معنی لایمکن سره دې او ینبغی فعل نفی په صورت کښ دناممکن اومحال په معنی کښ ډیر استعمالیږی لکه سورت مریم کښ راځی"وما ینبغي للرحمن ان يتخذ ولدا"او دهغه شان یوحدیث کښ راځی"ان الله لا ینام ولا ینبغی له ان ینام" نو دلته هم لاینبغی د ناممکن په معنی کښ دې﴿أَن تُدۡرِكَ ٱلۡقَمَرَ﴾ "ادراک" نه مراد ادراک په مسافت کښ دې یعنی کیدې نشې

چې نور خپل رفتار تیزکړي او سپوږمۍ ته اورسي .او په شپه کښې د سپوږمۍ سره اوخیژي
﴿وَلَا الَّيْلُ سَابِقُ النَّهَارِ﴾ الليل او النهارنه مخکښې اية مقدر دي اواية الليل نه مراد سپوږمۍ او اية النهار
نه مراد نور دي یعنی نه سپوږمۍ په نورمخکښې کیدې شي چې په ورځ کښې شپه جوړه کړي
﴿وَكُلٌّ فِي فَلَكٍ﴾ دهر یو لپاره خپل مدار دې هغې کښې لامبو وهي اوګرځي. نور د سپوږمۍ مدار
ته او سپوږمۍ د نور مدار ته نه راځي. فلک نه مراد آسمان نه دې .بلکه مدار مراد دې چې
د اسمانونو نه خکته دې ﴿يَسْبَحُونَ﴾ سبح. هرهغه ځاۍ کښې استعمالیږي چې پکښې سهولت
وي. نو مراد دا دې چې دواړه بالکل په سهولت سره خپل مدار کښې ګرځي رفتار کوي

وَآيَةٌ لَّهُمْ أَنَّا حَمَلْنَا ذُرِّيَّتَهُمْ فِي الْفُلْكِ الْمَشْحُونِ ﴿٤١﴾ وَخَلَقْنَا لَهُمْ

اوبله نخه ددوئ دپاره داده چې مونږ سواره کړيدي اولاددوئ په بیړئ ډکه کښې.اوپیدا کړیدي مونږدوئ ته

مِّن مِّثْلِهِ مَا يَرْكَبُونَ ﴿٤٢﴾ وَإِن نَّشَأْ نُغْرِقْهُمْ فَلَا صَرِيخَ

په شان د بیړئ هغه څناور چې دوئ پرې سورلي کوي.اوکچرې اوغواړو مونږنوغرق به کړودوئ نونه به وي خوک فریادرسان

لَهُمْ وَلَا هُمْ يُنقَذُونَ ﴿٤٣﴾ إِلَّا رَحْمَةً مِّنَّا وَمَتَاعًا إِلَىٰ حِينٍ ﴿٤٤﴾

دپاره ددوئ اونه به نې خوک بچ کولې شي. مګرنه نې غرقوو په مهرباني خپلې سره اودپاره د نفع ورکولو دیو وخت پورې

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّقُوا مَا بَيْنَ أَيْدِيكُمْ وَمَا خَلْفَكُمْ

اوکله چې اوویلې شي دوئ ته چې اوېریږئ د هغه عذاب نه چې ستاسو په مخکښې کښې دې اودهغه چې ستاسو ورسته دې

لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿٤٥﴾ وَمَا تَأْتِيهِم مِّنْ آيَةٍ مِّنْ آيَاتِ رَبِّهِمْ إِلَّا كَانُوا

دپاره ددې چې په تاسو باندې رحم اوکړیشي.اونه راځي دوئ ته هیڅ یوه نښه د نښودرب د دوئ نه مګروي دوئ

عَنْهَا مُعْرِضِينَ ﴿٤٦﴾

د هغې نه مخ ګرځونکي

﴿وَآيَةٌ لَّهُمْ أَنَّا حَمَلْنَا ذُرِّيَّتَهُمْ﴾ داشپږم دلیل عقلي دې په توحید اوپه دعوی د سورة .چې داهم
د الله ﷻ د واحدانیت دلیل دې چې مونږدوئ سره د اولادونه په ډکي کشتۍ کښې سواره کړو اوپه

دریابونو سندونو کښې ئې صحیح سلامت پورې کړو. که الله ﷻ اوغواړي چې دوئ غرق کړي نوبیائې دېچ کولو د پاره ددوئ خوساخته معبودان ددوئ مددنشي کولې. مګرصرف الله ﷻ ئې پخپل فضل اورحمت سره بچ کړي اومهلت ورته ورکړي ترڅه مودې پورې

(ذرية) نسل ته وائي. امام راغب رحمه الله په مفردات القرآن کښې لیکلي دي چې اصلاً اطلاق د ذرية په وړو بچو کیږي. خوعرف کښې ئې اطلاق په وړو او لويو دواړوباندې کيږي. ښځوته هم ذریه ویلی کیږي لکه په حدیث کښې دي لاتقتلن ذرية اى امراة. او د لغت مشهور کتاب تاج العروس کښې په دې تصريح شويده چې داد اضدادو نه دې. اولاد او آباء دواړوته وائی. دلته هم داټولې معنې احستل صحيح دي (۱) که ذرية نه مرادواړه بچي يا ښځې شي نو مطلب دادې چې هغه ښځې اوواړه بچي چې دوئ ځان سره روان کړي وي په سفر کښې. (۲) اوکه ورنه مرادکبار اولاد واغستې شي نو مطلب به دا شي چې دوئ ئې په سفر تجارت ليږي نو الله ﷻ ئې حفاظت کوي (۳) او که د ذرية نه مراد اباء وي نو بيا فلك نه مراد سفينه د نوح ده. چې په هغې کښې سوار کسان الله ﷻ د طوفان نه بچ کړل

﴿وَخَلَقْنَا لَهُم مِّن مِّثْلِهِ﴾ ضمير يا مطلق فلك (کشتئ) ته راجع دې. نود ﴿مَا يَرْكَبُونَ﴾ نه مراد اوښان دي. يعني دې اهلِ مکه ؤته مونږ د کشتئ په شان خاروي پيداکړيدي چې دوئ پرې رکوب کوي. عرب ددې وجې نه اوخ ته سفينه البروائی. دغه شان د نن صباغټ غټ ګاډي. ريل. جهاز وغيره ورنه هم مرادکيدې شي. ياضمير په (مثله) کښې فلك نوح ته راجع اى مثل فلك نوح نومرادورنه کشتئ دی.

﴿فَلَا صَرِيخَ لَهُمْ﴾ صريخ فعيل بمعنى فاعل دى. يعني مصرِخ. مصرخ مغيث اوامدادکولو والاته وائی. اى فلامغيث لهم (روح) يعني کچرته مونږاوغواړوچې غرق ئې کړونوبيابه ئې څوك امدادوالانه وي اونه به ئې څوك د غرق کيدلونه بچ کړي ﴿إِلَّا رَحْمَةً مِّنَّا﴾ مستثنى مفرغ ده. او مفعول له دې د پاره د ينقذون فعل.

﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّقُوا﴾ داشکوه ده د کفارمکؤ نه. داشرط دې جزا ورله مقدره ده چې (اعرضوا) دې پدليل د ورستوني آيت ﴿وَمَا تَأْتِيهِم مِّنْ آيَةٍ﴾ يعني چې کله دوئ ته اوونيل شي چې د قيامت د سزا او د خپلو بدو عملونو د شامت نه اوبيريږئ ايمان راوړئ چې الله ﷻ درباندې رحم اوکړي

يعني عذاب نه درته نجات درکړي. نودوئ ددې خبرې نه اعراض اوکړې

﴿مَا بَيْنَ أَيْدِيكُمْ﴾ مراد ورنه ددنیاعذاب دې چې دبدعملونوپوجه راځي. ﴿وما خلفکم﴾ نه مراد
د آخرت عذاب دې.قتاده رحمه الله او مقاتل رحمه الله وائي چې﴿مَا بَيْنَ أَيْدِيكُمْ﴾نه مراددتیرشوي
امتونوعذاب دې.یعني اوېریږئ دهغه عذاب نه چې په مخکنوقومونوباندې نازل ووځاو ﴿وما
خلفکم﴾نه مرادعذاب دآخرة دې(روح)

﴿وَمَا تَأْتِيهِم مِّنْ آيَةٍ﴾ ما نافیه دې.صیغه دمضارع دپاره ددلالت ده په استمرار باندې.
یعني دااعراض کول ددوئ زورعادت دې﴿مِّنْ آيَةٍ﴾من زائددې دپاره دتاکید

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ أَنفِقُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ قَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا

اوکله چې اویلې شي دوئ نه چې خرچ کړئ دهغې مال نه چې درکړیدې تاسونه الله ﷻ.نووائي کافران

لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنُطْعِمُ مَن لَّوْ يَشَاءُ اللَّهُ أَطْعَمَهُ إِنْ أَنتُمْ إِلَّا

استهزاءً مؤمنانوته چې آیامونږه طعام ورکړوهغه چاته چې که غوښتلې الله ﷻ نوخوراک به ئې ورته ورکړې وې.نه یئ تاسو مګر

فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٤٧﴾ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٤٨﴾ مَا يَنظُرُونَ إِلَّا

په ګمراهئ ښکاره کښې اووائي دوئ چې کله به وي داوعده دقیامت که یئ تاسورشتني.انتظارنه کوي دوئ مګر

صَيْحَةً وَاحِدَةً تَأْخُذُهُمْ وَهُمْ يَخِصِّمُونَ ﴿٤٩﴾ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ تَوْصِيَةً

دیوې چغې(داسرافیل)چې وبه نیسي دوئ اودوئ به جګړې کوي.پس طاقت به نه لري دوئ دوصیت کولو

وَلَا إِلَىٰ أَهْلِهِمْ يَرْجِعُونَ ﴿٥٠﴾

اونه به خپل اهل(کورته)واپس تلې شي

﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ أَنفِقُوا﴾ دابله شکوه ده دکفار مکه ؤ نه چې کله دوئ ته دانفاق او مسلمانانو
سره دصله رحمئ ترغیب ورکړې شي ، نووائي چې کومو کسانوته چې الله ﷻ رزق ندې
ورکړې. الله ﷻ غریب کړې وي نومونږبه ورته څه ورکړو

(۱)دوئ دا قول استهزا باندې مبني دې.یعنی کله چې دوئ ته دانفاق حکم اوشي نو دوئ

وړوکې مسخرې شروع کړی. (۲) یا استدلال دې د تقدیر نه. یعنی کوم کس چې الله ﷻ غریب پیدا کړې دې او خوراک ورله نه ورکوی نو زمونږ څه کار دې چې مونږ ورله څه ورکړو. (۳) دا به په تقدیر باندې اعتراض دې چې الله ﷻ دوئ پیدا کړې دی. او ورله رزق ورکولو باندې قادر هم دې خودې باوجود ورله رزق او مال نه ورکوی نو مونږ نه خله دا دې حکم کوی

﴿قَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا﴾ وضع داسم ظاهر په موضع دضمیر کښې اشاره ده علت دعوی مذکورته. چې دوئ دکفر په وجه دا خبره کوي.

﴿إِنْ أَنتُمْ إِلَّا فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ﴾ (۱) ظاهره داده چې دا قول دکافرانو دې مؤمنانو ته. چې تاسو په ښکاره ګمراهئ کښې یئ. ځکه چې یو کس الله ﷻ غریب پیدا کړیدې او مال ورله نه ورکوی حالانکه هغه په ورکولو قادر دې نو دینه باوجود دَ انفاق حکم کول او ددی ترغیب ورکول داخو الله ﷻ رضا اومشیت خلاف ده (۲) او یا دا دالله ﷻ قول دې او مشرکینو ته دهغوئ خبرې جواب دې چې دوئ دومره نه پوهیږی چې حقیقت کښې خو الله ﷻ دټولو مخلوقونو رازق دې خو بندګانو دپاره ئې د رزق مختلف ذرائع پیدا کړی دی. ځنې خلق ئې مالداره پیدا کړیدی او دهغوئ رزق ذریعه ئې تجارت ګرځولې دې او ځنې خلق ئې غریبان پیدا کړی دی. نو دهغوئ رزق ذریعه ئې دامالدار ګرځولې دې چې دوئ به خپل مال کښې دهغوئ حصه کوی. براه راست بغیر د ذریعې او سبب نه الله ﷻ نه مالدارانو له رزق ورکوی او نه غریبانانو له. نو دوئ له چې الله ﷻ کوم سبب او ذریعه د رزق ورکړې ده هغې نه خو دوئ څه فائده اوچتوی او دغریبانانو په سبب اعتراضات کوی او دانفاق حکم نه انکار کوی نو دا ښکاره ګمراهی ده نور هیڅ نه دی

﴿وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلْوَعْدُ﴾ دا هم شکوه ده په ضمن د تخویف کښې. چې د قیامت باره کښې دوئ استهزاء تپوس کوي چې کله به راځي. ﴿مَا يَنظُرُونَ﴾ دا د دوئ د سوال جواب دې. چې د قیامت د راتلو مقرر وخت چاته معلوم ندې. ناڅاپه به راځي. دوئ هم د دې ناڅاپه چغې انتظار کوي. ﴿إِلَّا صَيْحَةً وَٰحِدَةً﴾ مراد ورنه نفخهٔ اولی د اسرافیل علیه السلام ده چې په دې سره به ټول مخلوقات مړه شي. ﴿وَهُمْ يَخِصِّمُونَ﴾ په اصل کښې یختصمون دی تا په صاد بدل شوه او ادغام اوشو یعنې قیامت به داسې ناڅاپه راشي چې خلق به د دنیا په څیزونو. معاملاتو. تجارتونو کښې بحثونه او جګړې کوي. د قیامت متعلق به ئې په زړه کښې هډو څه خیال هم نه راځي. په حدیث کښې دی

چې قيامت به په داسې حال کښې قائمېږي چې دوه کسانو به يوه کپړه خوره کړې وي او لا به سره به ئې سودا کوي. کپړه به ئې رانغښتې نه وي چې ناڅاپه به قيامت شي. يو سړی به د حوض د پاره ابو خور ليؤکړې وي. څاروي به ورنه اوبه نه وي څکلي چې قيامت به راشي. يو سړی به تله کوزه نيولې وي اوچته کړ به ئې نه وي چې قيامت به راشي. يو سړي به د خوراك لقمه خولې ته اوچته کړې وي . تيره کړې به ئې نه وي چې قيامت به پرې راشي

﴿فَلَا يَسْتَطِيعُونَ تَوْصِيَةً﴾ يعني د توبې او د وصيت کولو د پاره به ورته مهلت ملاو نشي ﴿وَلَا إِلَىٰ أَهْلِهِمْ يَرْجِعُونَ﴾ يعني هر سړې به پخپل پخپل ځائ کښې مړشي اهل وعيال ته به لاړ نشي

وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَإِذَا هُم مِّنَ الْأَجْدَاثِ إِلَىٰ رَبِّهِمْ يَنسِلُونَ ۝ قَالُوا

او پوکې به وو هلې شي په شپيلئ کښې دويم ځل، پس دوئ به د قبرونو خپلونه خپل رب ته روان شي او به وائي دوئ

يَا وَيْلَنَا مَن بَعَثَنَا مِن مَّرْقَدِنَا ۜ هَٰذَا مَا وَعَدَ الرَّحْمَٰنُ وَصَدَقَ

هائ زمونږ تباهي چا را پورته کړومونږ د خپل خوب ځائ نه. دا خو هغه دي چې وعده ئې کړې وه رحمن او رښتيا وئيلي وو

الْمُرْسَلُونَ ۝ إِن كَانَتْ إِلَّا صَيْحَةً وَاحِدَةً فَإِذَا هُمْ جَمِيعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُونَ ۝ فَالْيَوْمَ

پيغمبرانو دې په باره کښې، نه ده دا مګر چغه يوه ده پس دوئ به په جمع زمونږ مخکښې حاضر کړې شوي وي. پس نن ورځ

لَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا وَلَا تُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ۝

ظلم به نه شي کولې په يو نفس د هيڅ ځيز او بدله به نشي درکولې تاسو ته مګر د هغې عملونو چې تاسو کول

﴿وَنُفِخَ فِي الصُّورِ﴾ د دينه نفخه ثانية مراد ده، د نفخهٔ اولی او ثانية په مينځ کښې به څلويښت کاله وي. کله چې دا شپيلئ او وهلې شي نو ټول خلق به ژوندي شي او الله ﷻ طرف ته منډې وهي ﴿فَإِذَا هُم مِّنَ الْأَجْدَاثِ﴾ اَلْأَجْدَاث دَ جَدَث جمع ده قبرونو ته وائی. ﴿يَنسِلُونَ﴾ ای يسرعون. يعني الله ﷻ طرف ته به. تيزئ سره ځي کقوله تعالی: يوم يخرجون من الاجداث سراعًا (معارج ۴۳) د دې آيت او د سورة زمر آية (۶۸) فاذاهم قيامٌ ينظرون، مينځ کښې منافاة نشته دې. ځکه ممکنه ده چې هلته داول وهلة بيان وي. چې د محشر هيبت ناکو مناظر ليدلو پوجه به حيران پريشان ولاړ وي. او بيا په ډير سرعت سره ئې فرشتي الله ﷻ مخې ته اوشړي.

﴿قَالُواْ يَـٰوَيْلَنَا مَنۢ بَعَثَنَا ﴾ يعني دقبرونونه پورته كيدلونه ورستوچي دميدان حشرسختئ اووني نووائي به چې هائ آفسوس مونږدقبرنونه چاراپاڅولو ﴿يوَيْلنا﴾ ب حرف ندا ده او ويلنا منادى مندوب دې، يعني فرياد به كوي چې هائ .دا خو زمونږ د تباهئ وخت دې. ﴿من مَّرْقدنا﴾ مرقد يا اسم مكان دې يعني ځائ د ارام. مراد ورنه قبردې.يامصدرميمي دې.يعني د رقادنا يعنى چامونږدارام نه راپاڅولو

سوال كيږي چې په قبر كښ خوبه په دوئ عذاب وى نو بيائ ورته څنګه مرقد اوئيلو ؟ځني مفسرينونې داجواب كړيدى چې قبرته ئ مرقدځكه اوونيل چې دنفخه اولى نه ترنفخة ثانية پوري به په اهلِ قبوروعذاب نه وي اكثرمفسرين وائى چې مرقدئى ورته پدې وجه اوونيل چې كله دوئ دَميدان حشرهيبتونه اووينې نودې په نسبت به ورته قبرځائ دَارام ښكاره شي.ځكه چې لوئ مصيبت راتلوسره وړكى مصيبت هيرشي

﴿هَـٰذَا مَا وَعَدَ ٱلرَّحۡمَـٰنُ﴾ ما ياموصوله ده.عائدئى محذوف دې ،اى هذاالذى وعده الرحمن والذي صدقه المرسلون(روح)يعني داهغه ورځ ده چې الله ﷻ ئى مونږسره وعده كوله. او رسولانورشتياويلي وو،(۱)داقول يادكافرانودې بطوراعتراف جرم.يعني چې كله دوئ د قيامت منظراووينې نوبيابه اعتراف اوكړي ليكن نفع به نه وركوي. او ماوعدالله په ځائى وعد الرحمن اوئيلواوصفت رحمت ئى ذكر كړو،پدې اميد چې كيديشى په دوئ هم څه رحمت اوكړيشى،(۲)ياداقول دَالله ﷻ دې كافرانوته،(۳)ياد فرشتو دطرفه دې ياد مؤمنانو . دې صورت كښ درحمن ذكر كفاروته زجراو توبيخ دپاره دې چې دالله ﷻ دصفت رحمن اصل اظهار ورځ خوقيامت ده خودوئ بدبخته دي چې ځان ئى ترينه محرومه كړي دې.

زجاج رحمه الله وائى چې﴿هَـٰذَا﴾صفت دې د﴿مَّرۡقَدِنَا﴾او﴿مَا وَعَدَ ٱلرَّحۡمَـٰنُ﴾مبتداء دې خبرئى محذوف دې چې حقٌ دې.

﴿إِن كَانَتۡ إِلَّا صَيۡحَةً وَٰحِدَةً﴾يعني دانفخه ثانية به دَاسرافيل عليه السلام صرف يوه چغه وي.چې دَشپيلئ نه به راوخي،بعض وائى اسرافيل عليه السلام به اووائى(ايتهاالعظام النّخرة.والاوصال المتقطّعة. و الشّعورالمتمزقة،انّ اللهَ يامركنّ ان تجتمعنَ لفصل القضاء)دې اوازاوريدلوسره به ټول خلق دالله ﷻ

حضورته حاضرکړې شي. الله ﷻ به هرکس سره حساب کوي نه څوك به هم ظلم نه کیږي څه
ښنګه ئې عمل وي هغه شان به ئې بدله وي

إِنَّ أَصْحٰبَ الْجَنَّةِ الْيَوْمَ فِي شُغُلٍ فٰكِهُوْنَ ﴿٥٥﴾ هُمْ وَأَزْوَاجُهُمْ فِي ظِلٰلٍ

بیشکه خاوندان دجنت به نن ورځ به شغل کښې وي .خوشحاله به وي .دوی او ښځې ددوی به سوريو کښې به وي

عَلَى الْأَرَآئِكِ مُتَّكِـُٔوْنَ ﴿٥٦﴾ لَهُمْ فِيهَا فَاكِهَةٌ وَّلَهُمْ مَّا يَدَّعُوْنَ ﴿٥٧﴾

په تختونو باندې تکیه لګولي وي. ددوی دپاره به په جنت کښې میوې وي او وي به دوی دپاره هغه څه چې دوی یې غواړي

سَلٰمٌ قَوْلًا مِّنْ رَّبٍّ رَّحِيْمٍ ﴿٥٨﴾

دوی دپره به سلام وي.چې اوبه ویلي شي ورته دطرفه درب مهربانه نه.

﴿إِنَّ أَصْحَـٰبَ ٱلْجَنَّةِ ٱلْيَوْمَ﴾ دابشارت أخروي دې چې مؤمنان به دقیامت په ورځ دجنت په مزوکښې وي.خوشحاله به وي،دخپلو بیبیانوسره به ښه په راحت اوارام کښې تکیه لګولي ناست وي،قسمه قسم میوې به ورته ورکولې کیږي،دالله ﷻ دطرفه به ورباندې "السلام عليكم" وئیلی کیږي ﴿فِى شُغُلٍ﴾ جار مجرور دمحذوف متعلق خبر دې دان . او "فکهون" ئې خبر ثانی دې،او "شغل" نه مراد هغه خوندونه او لذتونه دي چې هغه د بل هر څه نه سړي مشغوله کړي .په جنت کښې به داسې ډیر څیزونه وي چې هغه به بنده د بل هر څه نه مشغوله کوي ١ د الله ﷻ ضیافت چې هغې کښې به الله ﷻ په خپله هم تجلي کوي ٢. د حورو مشغولتیا. (٣) ملګرو ملاقات او زیارت وغیره. ((فکهون)) د فُکاهت نه دې . ګپ شپ ته وائي . او دا دلیل د هغوئ په خوشحالئ او نعمت یافته کیدلو باندې. دې وجهې نه ئې معني په "فرحون" او "متمتعون" سره هم شوې ده.

﴿هُمْ وَأَزْوَٰجُهُمْ﴾ بیان دکیفیت دشغل اودفرح دې. او دواړوتکمیل دې .چه دې سره به ئې نورهم په خوشحالئ کښې زیاتوالی اوشي،ظاهره داده چې مراددازواجونه ددنیاخپلې مؤمناني بیبیانې دي.بعض وائی حورې ورنه مراددي،لیکن اصح داده چې دواړه ورنه مراددي اودغه شان هغه ښځې چې خاوندان ئې کافران وو،نو چې دچاسره دالله پاك خوښه وي هغه ته به ئې ورکړې. لکه امراة دفرعون چې دابه دحضور ﷺ بي بي وي په جنت کښې

﴿فِي ظِلَٰلٍ﴾ جمع د ظِلٌ ده سوري ته وائی، کنایه ده د راحت او آرام نه. څکه سوري ته سړی په راحت کښې وي، یا جمع د ظُلَّةٌ ده، خیموته وائی. ﴿عَلَى ٱلْأَرَآئِكِ﴾ جمع د اریکةٌ پالنګوته وائی. یا تکیه ګانو تہ وائی، ((في ظلل)) او ((علی الارآئک)) دواړه متعلق دی په ((متکئون)) پوری. او یا ((في ظلل)) خبر دې د ((هم))، او ((علی الارآئک)) متعلق دې په ((متکئون)) پورې.

﴿وَلَهُم مَّا يَدَّعُونَ﴾ د دعا نه مأخوذ دې پمعنی د طلب، په اصل کښې يدتعيون دې. طلب یا پخپله معنیٰ یعنې غوښتلو سره دې، نو چونکه مطلوب منه او ورکونکې به الله ﷻ وي نو دی سره به لذت نور هم زیاتیږي، یا طلب پخپله معنی کښې ندې. بلکه پمعنیٰ د تمنی او اشتها سره دې، یعنې د کوم څیز چې زړه اشتهاکوي هغه به ورته ورکولې کیږي، یا د دعا نه معروفه معنیٰ مراد ده، یعنې دوئ چې په دنیا کښې کومې دعاګانې کولی هغه به ئی قبولې وي (روح)

﴿سَلَٰمٌ﴾ (۱) یا مبتدا دې خبر مقدم ئی محذوف دې ای لهم سلامٌ. او ﴿قَوْلًا﴾ مفعول مطلق دې د فعلِ محذوف. ﴿مِّن رَّبٍّ رَّحِيمٍ﴾ د ﴿قَوْلًا﴾ صفت دې ای سلام يقال لهم من جهة ربّ الرحيم (روح یعنې د الله ﷻ د طرفه به ورباندې بلاواسطه سلام کولې کیږي، په حدیث کښې دي چې حضور ﷺ فرمائی: بينااهلَ الجنة فی نعيمهم اذاسطع لهم نورٌفرفعوارؤسهم فاذاالرّب قداشرف عليهم من فوقهم فقال السلام عليكم يااهلَ الجنةِ، وذالك قول الله تعالىٰ ﴿سَلَٰمٌ قَوْلًا مِّن رَّبٍّ رَّحِيمٍ﴾ (روح بحواله ابن ماجه). ترجمه: دې دوران چې اهل جنت به د جنت په نعمتونو کښې وی چه یو نور به رااوچت شي، چې دوئ خپل سرونه اوچت کړی، نو الله تعالی به د دوئ د پاسه جلوه ګرشوی وی، او به وائی: السلام عليكم يااهل الجنة او هم د امراد دې د الله تعالی د دې قول نه: سلام قولاًمن ربّ رحیم.

بعض وائی د اسلام به په واسطه د ملائکو سره وي کمافی سورة النحل

وَٱمْتَٰزُوا۟ ٱلْيَوْمَ أَيُّهَا ٱلْمُجْرِمُونَ ﴿٥٩﴾ أَلَمْ أَعْهَدْ إِلَيْكُمْ يَٰبَنِىٓ ءَادَمَ أَن لَّا تَعْبُدُوا۟
و جداشئ نن ورځ اې مجرمانو. آیا ماحکم نه وو کړې تاسوته اې بني آدمو چې مه کوئ عبادت
ٱلشَّيْطَٰنَ ۖ إِنَّهُۥ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴿٦٠﴾ وَأَنِ ٱعْبُدُونِى ۚ هَٰذَا صِرَٰطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴿٦١﴾
د شیطان، بیشکه هغه ستاسو دښمن ښکاره دې، او چې صرف زما عبادت کوئ، دا لاره ده نیغه،

وَلَقَدْ اَضَلَّ مِنْكُمْ جِبِلًّا كَثِيْرًا ؕ اَفَلَمْ تَكُوْنُوْا تَعْقِلُوْنَ ۝ هٰذِهٖ جَهَنَّمُ الَّتِيْ

اوپه تحقيق سره چي گمراه كړي وزده ستاسونه مخلوق ډير. آيا تاسو نه پوهيدلئ؟ دا جهنم دى هغه چي

كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ۝ اِصْلَوْهَا الْيَوْمَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ۝ اَلْيَوْمَ نَخْتِمُ

تاسو ترينه يرولي كيدلئ. داخل شئ دينه نن ورځ په سبب د دي چي تاسوكفر كولو. نن ورځ به مهرونكوموږ

عَلٰٓى اَفْوَاهِهِمْ وَتُكَلِّمُنَآ اَيْدِيْهِمْ وَتَشْهَدُ اَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ۝

په خلوددوئ باندي اوخبري به كوي موږسره لاسونه ددوئ اوگواهي به كوي خپي ددوئ په هغي عملوچي دوئ به كول.

وَلَوْ نَشَآءُ لَطَمَسْنَا عَلٰٓى اَعْيُنِهِمْ فَاسْتَبَقُوا الصِّرَاطَ فَاَنّٰى يُبْصِرُوْنَ ۝

اوكه چري زموږه خوخه شي نوخاړه به كړوسترگي ددوئ نومنډي به كړي دوئ لاري ته خوځنگه به اووينې دوئ لار

وَلَوْ نَشَآءُ لَمَسَخْنٰهُمْ عَلٰى مَكَانَتِهِمْ فَمَا اسْتَطَاعُوْا مُضِيًّا وَّلَا يَرْجِعُوْنَ ۝

اوكه خوخه شي زموږمسخ به كړودوئ په خپلوخايونوكښ نوطاقت به نه لري دوئ دمخكښ تللو اونه به را واپس كيدى سي

﴿وَامْتَازُوا الْيَوْمَ﴾ دا تخويف اخروي دي مشركانومجرمانو ته يُقال ورنه مخكښ مقدردي. يعني قيامت كښ به دوئ ته حكم اوشي چي.نن تاسودنيكوخلقونه جدا شئ.دنياكښ ماتاسونه داپيغام دررسولي وؤچي شرك مه كوئ دشيطان اتباع مه كوئ ځكه هغه ستاسوښكاره .شمن دي، صرف زماعبادت كوئ داسمه لارده.ليكن تاسوانكاراوكړواوس چي دكوم جهنم چي تاسوسره وعده كولي شوه هغي ته داخل شئ.

﴿اَلَمْ اَعْهَدْ اِلَيْكُمْ﴾ دا په دوئ اتمام حجت بيان دي ، او د دوئ تبكيت دي . عهد پمعنى د وصيت اوحكم سره دي،دلته ورنه مراددالله ﷻ پيغامونه احكمات دى چي دوحي په ذريعه ئي راليږلى وؤ،لكه:يابني آدمَ لايفتننكم الشيطان كما اخرج... او دغه شان:و لاتتبعوا خطوات الشيطان... وغيره نورداقسم آياتونه.﴿اَنْ لَّا تَعْبُدُوا الشَّيْطٰنَ ﴾ دشيطان دعبادت نه مرادطاعت دي دهغه په گناهونوكښ،تعبيرترينه په عبادت سره دشدت نفرت اودبيزارئ داظهارد پاره اوشو.ياورنه مراددغيرالله عبادت دي خوشيطان چونكه امركونكي دي نوځكه ئي ورته

نسبت او شو. ﴿هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ﴾ اشاره عبادت د الله جَلَّ جَلَالُهُ ته ده. ب حکم مذکور نه.

﴿وَلَقَدْ أَضَلَّ مِنكُمْ جِبِلًّا﴾ يعني صرف احکامات راليږل نه وو. بلکه سابقو امتونو انجام هم ستاسو مخکښې وو. چې شيطان د اطاعت په ګمراه شوي وو او بيا الله جَلَّ جَلَالُهُ هلاک کړي وو. "جبلا" جماعت عظيمه ته وائی. ﴿أَفَلَمْ تَكُونُوا تَعْقِلُونَ﴾ همزه استفهام په معطوف عليه مقدر باندې داخله ده اې کنتم تشاهدون آثار عقوباتهم فلم تکونو تعقلون يعني د هلاک شده قومونو آثار مو او ليدل چې د شيطان د طاعت پوجه هلاک شوي وو نو تاسو ورنه عبرت نه اغستو؟

﴿الْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلَىٰ أَفْوَاهِهِمْ﴾ په خولو د دوئ باندې مهر لګيدل باکنايه ده د خبرو منع کولو نه. يعني دوئ نه به د خبرو کولو قوت سلب کړې شي بلکه لاسونه به ئې خبرې کوي او خپې به ئې تصديق کوي، د جرمونو اقرار به کوي. يا به حقيقةً د دوئ په خولو مهر اولګي. باقي تفصيل سورة نور آيت (۲۴) کښې تيرد ې ﴿وَتُكَلِّمُنَا أَيْدِيهِمْ﴾ لاسونو ته نسبت د تکلم او شوا و خپو ته د ګواهي ورکولو. وجه داده چې عملونه د لاسونو نه صادر يږي، او خپې صرف حاضرې وي نو پدې وجه لاسونو ته د تکلم نسبت او شوا و خپو ته د ګواهي (روح، قرطبي)

﴿وَلَوْ نَشَاءُ لَطَمَسْنَا عَلَىٰ أَعْيُنِهِمْ﴾ تخويف دنيوي دې کافرانو ته او مطلب دادې چې نن د دنيا کښې هم دوئ د عذاب مستحق دی، چې د دوئ مخونه بالکل مسخ کړو. سترګې ورته محو کړو. نظر به ئې هم ختم شي او سترګې به ئې هم ختم شي، ليکن الله جَلَّ جَلَالُهُ د خپل حکمت په بنا داسې نه دوي (طمس) خاره کولو ته وائی لکه په تختئ باندې ليکلې شوې خط چې په وينځلو بېرته خاره سي، نو دغه شان د دوئ مخونه به خاره شي.

﴿فَاسْتَبَقُوا الصِّرَاطَ﴾ صراط منصوب بنزع الخافض دې، اې فارادوا الاستباق الى الصراط (روح)

والصِّرَاطَ نه مراد معروفه لار ده چې روزانه پرې ځي راځي. يعني که بالفرض سترګې ئې خاره شي او بيا عذاب نه بچ کيدلو او کورته تختيدو د پاره لارې ته منډه کړی نو لاره به نه مومي. لکه څرنګه چې د خلقو عادت وي چې د څه پوجه ئې په سترګو تياره راشي نو پدغه وخت کښې لاره تلاش کولو د پاره يو خوا بل خوا منډې وهي ﴿فَأَنَّىٰ يُبْصِرُونَ﴾ يعني بيا به دوئ قدرت نه وي چې لاره او ويني.

﴿وَلَوْ نَشَآءُ لَمَسَخْنٰهُمْ﴾ داهم تخویف دې،چې دوئ ددې هم مستحق دی چې ټول جسم ئې مسخ شي اوبل څه قبیح څیزورنه جوړشي.مسخ صورت انساني غیر انساني صورت ته بدلولوته وائي یعنی دوئ ددې لائق دې چې ځناور،یاجمادات یا نباتات ترینه جوړ کړیشي.

﴿مَكَانَتِهِمْ﴾ مکان او مکانة دواړو یوه معنی ده،یعنی کوم ځائی کښې چې دوئ رسولان تکذیب کوی په هم دغه ځائی کښې مسخ کړې شي﴿مُضِيًّا﴾یعنی کوم کار دپاره راوتلي وی هغی له تللو اودهغی پوره کولو طاقت به نه لري.﴿وَلَا يَرْجِعُوْنَ﴾اونه به واپس کورونه ته تلې شي.ځکه چې شعور اوعقل به پکښې نه وی،یاخوجمادات وی په ځائی به پراته وی او یا به ترینه ځناور جوړ وی. اواخودیخوا به حیرانه سرگردانه گرځي

وَمَنْ نُّعَمِّرْهُ نُنَكِّسْهُ فِي الْخَلْقِ اَفَلَا يَعْقِلُوْنَ ﴿٦٨﴾ وَمَا

اوهغه څوک چې زیات کړوعمردهغه نوکمزوري راولومونږدده په تخلیق(اعضاؤ)کښې.آیانه لري دوئ عقل،اونه دی

عَلَّمْنٰهُ الشِّعْرَ وَمَا يَنْۢبَغِيْ لَهٗ اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ وَّقُرْاٰنٌ مُّبِيْنٌ ﴿٦٩﴾ لِّيُنْذِرَ مَنْ كَانَ

خودلې مونږده نبي ته شعر اونه مناسب دې ده لره،نه دې داکتاب مگرنصیحت اوقرآن ښکاره دې،چې اویره وې هغه څوک چې وي

حَيًّا وَّيَحِقَّ الْقَوْلُ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿٧٠﴾ اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّا خَلَقْنَا لَهُمْ مِّمَّا

ژوندي، اوچې ثابت شي قول(عذاب دجهنم)په کافرانو،آیادوئ نه دي لیدلي چې بیشکه مونږپیداکړي دی ددوئ دپاره دهغه نه

عَمِلَتْ اَيْدِيْنَاۤ اَنْعَامًا فَهُمْ لَهَا مٰلِكُوْنَ ﴿٧١﴾ وَذَلَّلْنٰهَا لَهُمْ فَمِنْهَا

چې جوړکړیدي لاسونوزمونږ،څاروي نودوئ دهغې مالکان دي،اوتابع کړیدي مونږ داڅاروي دوئ دپاره نوځنې څاروي

رَكُوْبُهُمْ وَمِنْهَا يَاْكُلُوْنَ ﴿٧٢﴾ وَلَهُمْ فِيْهَا مَنَافِعُ وَمَشَارِبُ اَفَلَا يَشْكُرُوْنَ ﴿٧٣﴾

سورلئ ددوئ دي اوځنې څاروي دوئ خوري،اودوئ دپاره پدیکښې نورې فائدې دي اوڅودرې دي،آیادوئ شکرنه کوي

﴿وَمَنْ نُّعَمِّرْهُ نُنَكِّسْهُ فِي الْخَلْقِ﴾ داد ماقبل تخویف دپاره دلیل دې،چې خپل طمس اومسخ مستبعدمه گڼرئ،آیاتاسونه گورئ چې یوروغ اوقوي انسان دډیروالي دعمرپوجه ورله مونږقوت ختم کړو،لیدلو،آوریدلو،گرځیدلونه معذوره شي،حالت ئې وړوماشومانوسره مشابه شي،نوهغه الله ﷻ چې پدې قادردې،نوستاسوپه طمس اومسخ هم قادردې

﴿نُنَكِّسۡهُ﴾د تنكيس نه دي،تنكيس وئيلى كيږى الرد من حاله كاملة الى حالة ناقصةنه.يعنى كامل حالت نه ناقص حالت طرف ته ګرځول ﴿فِي ٱلۡخَلۡقِ﴾نه مراد قُوى دى يعنى چې څومره عمر زياتيږى نو دومره په قواؤو كښې كمزورى راځى.

﴿وَمَا عَلَّمۡنَٰهُ ٱلشِّعۡرَ﴾دادَمشركانودَيوې شبهې جواب دې،اودحضورﷺ اودقرآن دصداقت بيان دې،مشركانوبه وئيل چې دامحمدﷺ شاعردې،اودده كلام شاعرانه دې اوشاعرانه كلام افتراء اودځان نه جوړشوې محض خيالي كلام وي نومونږځكه پده ايمان نه راوړو.نوالله جل جلاله دې آيت كښې دَشاعرئ نفي اوكړه چې نه حضورﷺ شاعردې اونه ئې كلام يعني قرآن دَشعركتاب دې،بلكه داخوصرف نصيحت دې،دَنبي اكرمﷺ نه دَشاعرئ نفي سره على سبيل الكنايه دَقرآن نه هم نفي دَشاعرئ اوشوه،﴿وَمَا يَنۢبَغِي لَهُۥٓ﴾يعني دَحضورﷺ دَشان سره شعروئيل مناسب ندي،پدې وجه حضورﷺ ته دَشعروئيلوقدرت نه وؤوركړې شوې.اودغه شان چې منكرينوباندې اتمام دَحجت اوشي اوشبهات ئى ختم شي.لكه څرنګه چې أُمّي كيدل هم دَحضورﷺ صفتِ كمال دې.

دَحضورﷺنه موزون اوپوره شعروئيل منقول ندي،ځكه چې شعروئيل دَمبالغي اودَ تكلف نه خالي نه وي،اواكثرپكښې تحسين دَ ماليس بحسنٍ وي اوتقبيح دَماليس بقبيحٍ وي،او دا دَ شان دَنبوت سره مناسب نده،دَدې وجه نه دَبعضوپه نيزتمامو انبياء كرامو ته دَاشعارو جوړولو قدرت نه وؤوركړې شوې،اوكچرته دَحضورﷺ دَبل شاعرشعرنقل كړې وي،نوهغه هم غير موزون نقل دې،لكه روايت دې چې حضورﷺ داشعراووئيلو:

ستُبدي لكَ الأيامُ ماكنتَ جاهلاً　ويأتيك من لم تزوّدبالأخبارِ

نوابوبكر رضي الله عنه عرض اوكړوداسي ندى بلكه،ويأتيك بالأخبارمن لَم تزودِ دې،نوحضورﷺ ورته اوفرمائيل:نه څه شاعريم اونه ماسره مناسب دى،اوهرچې دَغزوهٔ خندق ياغزوهٔ حنين په موقعه باندې چې حضورﷺ وئيلي وؤچې:

أنا النبيّ لا كذب　أنا ابن عبد المطلب

نوداصرف اتفاقيه مقفىٰ كلام دې،بغيردَقصدنه،اودېته شعرنه وئيلى كيږي نه ئى قائل ته شاعروئيلى كيږي(روح وغيره)﴿عَلَّمۡنَٰهُ﴾او په ﴿له﴾كښې ضمير غائب نبى كريم ﷺ ته راجع دى

او ﴿إِنْ هُوَ﴾ كښ ضمير غائب قرآن ته راجع دې ﴿وَقُرْءَانٌ مُّبِينٌ﴾ يعني ددې الله كلام كيدل ب‌كل ظاهردی ځكه چې څوک دې په شان كلام راوړلي نشي

﴿لِّيُنذِرَ﴾ مقاصد دبعثت اونزول وقرآن ذكر كيږی اودا اول مقصد دې. ضميرقرآن ب حضور ﷺ ته راجع دې. ﴿مَن كَانَ حَيًّا﴾ حيا نه مراد عاقل دې يا ورنه مؤمن مراد دې په قرينې د على الكافرين. يعني چې زړه ئې ژوندې وي او خپل نفع نقصان پيژنی. ځكه كافرپه شان دمړي دې.

﴿وَيَحِقَّ ٱلْقَوْلُ عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ﴾ يعني چې فيصله دعذاب په كافرانو واجبه شي. ځكه چې پدې كښ شك پاتې نه شوچې داقرآن حق كلام دې. نوصرف عنادپوجه ورنه دوئ انكاركوي نوپدوئ فيصله دجهنم ثابته شوه

﴿أَوَلَمْ يَرَوْا۟ أَنَّا خَلَقْنَا لَهُم﴾ دااووم دليل عقلي دې په دعوی دسورة باندې. چې آيادوئ دافكر نه كوي چې ددوئ دفائدې دپاره مونږه مختلف قسمه څناورپيداكړيدي چې دوئ ته ورنه ډيرې فائدې رسيږي. داصرف مونږپخپل قدرت پيداكړيدی ددوئ خودساخته معبودان مونږ سره شريك ندي نودوئ ته شفاعت قهري هم ندې حاصل ﴿مِّمَّا عَمِلَتْ أَيْدِينَآ﴾ مبالغه ده په اختصاص كښ. يعني صرف مونږپيداكړيدي، لكه يوسړی وائی چې داڅيزماپخپل لاس جوړ كړيدې، يعني داڅناورصرف مونږپيداكړيدی، اود يد اضافت الله جل جلاله ته دمتشابهاتونه دې چې حقيقي معنی ترينه نشي مرادكيدلې، يا مرادورنه قدرت دې. دمتشابهاتوباره كښ مكمل تفصيل ددې تفسيردسورة آلِ عمران ابتداء كښ تيردې

﴿وَذَلَّلْنَٰهَا لَهُمْ﴾ دادڅناوريوڅوفائدې ذكركيږي. اول داچې داڅناورمودددوئ تابع كړيدی يوعظيم الجثه حيوان دانسان په مقابله كښ ضعيف وي. داوښانوپه زرهاؤواوښانو قطارپه يوماشوم هلك وي. په يوپړې سره ئې چې چرته غواړي بوځي ﴿فَمِنْهَا رَكُوبُهُمْ﴾ دادويمه فائده ده. يعني دوئ پرې سورلي كوي. ﴿وَمِنْهَا يَأْكُلُونَ﴾ دادريمه فائده ده. چې بعض څناورحلاله وي اوغوښه ئې خوري.

﴿وَلَهُمْ فِيهَا مَنَٰفِعُ﴾ يعني دركوب اواكل نه علاوه نورې هم ډيرې فائدې دې پكښ. څرمنې ئې

استعماله وي. کرونده پرې کوي. وغيره ﴿وَمَشَارِبُ﴾ دانې بله فائده ذکر کېږي چې انسان ته ترينه دڅکلو ډېر څيزونه ميلاويږي لکه پئ، شوملې، غوړي وغيره. مشارب جمع د مشرب ده. او دا يا دَ ظرف صيغه ده يعني ځايونه دڅکلو، يعني گوياکه الله ﷻ داځناور دانسان دپاره يو گودر پيدا کړيدی چې څکل ورنه کوي، يا مصدر دې پمعنی دمشروب. جمع ئې ځکه ذکرکړه چې ددې اقسام ډېر دي، لکه پيئ، شوملې، لسي، وغيره ﴿أَفَلَا يَشْكُرُونَ﴾ يعني دوئ ددې نعمتونو مشاهده کوي نوشکرولې نه اوباسي چې صرف دَالله ﷻ عبادت اوکړي

﴿وَاتَّخَذُوا مِن دُونِ اللَّهِ آلِهَةً لَّعَلَّهُمْ يُنصَرُونَ ۝ لَا يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَهُمْ

اونيولي دي دوئ ماسوی دَالله نه نور خدايان. ددې دپاره چې دوئ امداداوکړسي. نه شي طاقت هغوئ دمددکولو ددوئ

وَهُمْ لَهُمْ جُندٌ مُّحْضَرُونَ ۝ فَلَا يَحْزُنكَ

او دامعبودين دپاره دمشرکينو يو داسې لښکر دي چې حاضرولي به شي، قيامت په ورځ دوئ خلاف گو هې دپاره. نو غمژن دې نه کړي تاله

قَوْلُهُمْ إِنَّا نَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ ۝ أَوَلَمْ يَرَ الْإِنسَانُ

خبرې ددوئ. بيشکه مونږه پوهيږو په هغه څه چې دوئ ئې پټوي اوهغه چې دوئ ئې ښکاره کوي. آيانه وينې انسان

أَنَّا خَلَقْنَاهُ مِن نُّطْفَةٍ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٌ مُّبِينٌ ۝ وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا

داچې بيشکه مونږ پيداکړيدي دې دنطفې نه نوشو اوس دې جگړه کونکې ښکاره. اوکوي په مونږه يوعجيبه اعتراض

وَنَسِيَ خَلْقَهُ ۖ قَالَ مَنْ يُحْيِي الْعِظَامَ وَهِيَ رَمِيمٌ ۝﴾

او هير دې ترينه خپل پيدائش. وائي څوک به ژوندي کړي هډوکې اوحال داچې دابه زاړه وراسه وي

﴿وَاتَّخَذُوا مِن دُونِ اللَّهِ﴾ دازجردې مشرکانوته. چې دَالله ﷻ ددومره انعاماتوباوجودددوئ دالله ﷻ نه ماسوی. نورڅوک معبودان نيولي دي. پدې گمان چې په وخت دضرورت کښې به زمونږ مددکوي. حالانکه هيڅ مددورسره نشي کولې.

﴿وَهُمْ لَهُمْ جُندٌ مُّحْضَرُونَ﴾ هم ضمير مرفوع او لهم ضمير مجرور کښې دوه احتماله دي

اول احتمال دادې چې ضميرمرفوع "هم" راجع دې مشرکانو ته. اودلهم ضميرراجع دي

معبودانوته،دې احتمال په بنیاد دآیت دوه توجیهات کیدی شي (۱) به داچې دامعبودان به دذوئ په وخت دَضرورت کښ څنګه مدداوکړي چې دخپل ځان حفاظت نشي کولی بلکه دامشرکان ورته هروخت کښ دَحفاظت اوڅوکیدارئ دپاره ورته حاضرولاړوي.نودا څنګه معبودان شول چې دوئ ئې حفاظت کوي.(۲)یا دا چې دا معبودان به د مشرکانو څخه مدد اوکړی دوئ خو به اول جهنم ته غورزلې کیږی او بیا ورته دا عابدین لښکرو په صورت کښ ورپسې حاضرولې کیږی

دویم احتمال دا دې چې ضمیردَهم' معبودانوته راجع دې.اودَهم'مشرکانو ته.دې تقدیر باندې هم دآیت دوه مطلبه کیدیشي:(۱)دا مشرکین ګمان کوی چې زمونږ معبودین به زمونږ مدد اوکړی،مددخو پریږده،بلکه دوئ به دَ قیامت په ورځ خپلو عابدینو خلاف ګواهي ورکولو دَپاره حاضرولې کیږی لکه سورت الفرقان اوسورت سباکښ تیر شو .قالوا سبحانک ماکان ینبغی لنا... الایة(۲)دامعبودین به مشرکینو سره جهنم ته حاضرولې کیږی.لپاره ددې دَجهنم خس وخشاک اوګرځي، کما قال الله: انکم وما تعبدون من دون الله حصب جهنم... الآیة

﴿فَلَا يَحْزُنكَ قَوْلُهُمْ﴾داتسلي ده حضورﷺ ته.اوتخویف دې مشرکانوته.چې دوئ چې تاته ساحروغیره وائی پدې مه غمژن کیږه،مونږدَدوئ دَشرارتونونه خبریو.سزابه ورکوؤ

﴿أَوَلَمْ يَرَ الْإِنسَانُ أَنَّا خَلَقْنَاهُ﴾دازجردې اوشکوه ده دکافرنه﴿الْإِنسَانُ﴾نه مرادجنس انسان دې، او﴿خَصِيمٌ مُّبِينٌ﴾نه مرادکافردې،چې دَبعث بعدالموت نه منکردې.یعني دا کافر دا فکر نه کوي چې مونږدې دَحقیرې نطفې نه پیداکړیدی، بلکه په ځائ دَفکر کولو مونږسره بنکاره مقابلې ته راﺍوتلو،اودَبعث بعدالموت نه دَانکارکولودَپاره یوه عجیبه مثال ورکوي.روایت کښ دي چې داآیاتونه دَعاص بن وائل باره کښ نازل دي،چې حضورﷺ ته راغې ، او یو زوړ روست هډوکې ورسره په لاس کښ وؤ،په لاس کښ ریزه ریزه کړو. اوحضورﷺ ته ئې اوونیل آیا ستا دا ګمان دې چې اللهﷻ به داهډوکې بیاراژوندی کړي حال داچې روست شویدی؟ حضورﷺ ورته اوفرمائیل:هاؤ،دابه هم اوتابه هم راژوندې کړي بیابه تاجهنم ته داخل کړي. بعضِ وائی ویونکې دَخبروابی بن خلف وؤبعضِ وائی ابوجهل وؤ

قُلْ يُحْيِيهَا الَّذِي أَنشَأَهَا أَوَّلَ مَرَّةٍ ۖ وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيمٌ ﴿٧٩﴾

ته او اوايه چې ژوندي به کړي دي لره هغه ذات چې پيدا کړي ئې دي دا اول ځل. او هغه په ټول مخلوق باندې ښه عالم دی.

الَّذِي جَعَلَ لَكُم مِّنَ الشَّجَرِ الْأَخْضَرِ نَارًا فَإِذَا أَنتُم مِّنْهُ تُوقِدُونَ ﴿٨٠﴾ أَوَلَيْسَ الَّذِي

الله ﷻ هغه ذات دي چې پيدا کړي ئې دي ستاسو دپاره د شنې ونې نه اور، نو تاسو د هغې نه اور بلوئ. آيا ولې نه دی هغه ذات

خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِقَادِرٍ عَلَىٰ أَن يَخْلُقَ مِثْلَهُم ۚ بَلَىٰ وَهُوَ الْخَلَّاقُ

چې پيدا کړي ئې دی اسمانونه او زمکه قادر پيدې چې پيدا کړي پشان ددوئ. خامخا قادر دي. او صرف هغه خالق دي

الْعَلِيمُ ﴿٨١﴾ إِنَّمَا أَمْرُهُ إِذَا أَرَادَ شَيْئًا أَن يَقُولَ لَهُ كُن فَيَكُونُ ﴿٨٢﴾

عليم دي، بيشکه امر د ده چې کله اراده وکړي د يو شي صرف دومره وئيل دي هغې ته چې شه موجود نو هغه شي موجود

فَسُبْحَانَ الَّذِي بِيَدِهِ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيْءٍ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٨٣﴾

نو پاکي ده هغه ذات لره چې د هغه په قدرت کښې ده بادشاهي د هر څيز او خاص هغه ته به کرځولی شئ تاسو

﴿قُلْ يُحْيِيهَا الَّذِي أَنشَأَهَا﴾ دا جواب شکوی او دليل عقلي دې په بعث بعد الموت باندې. چې دوباره ژوندي کول څکه ممکن دي چې الله ﷻ اول ځل ئې هم دوئ پخپل قدرت سره پيدا کړيدي حالانکه نه ئې وجود و او نه ئې څه ماده وه، او قيامت په ورځ دوباره ژوندي کولو دپاره خو ماده هم شته دې. ﴿وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيمٌ﴾ يعني دا سوال نشي کيدلې چې انسان خاوري هيرې شي نو دده ذرې راجمع کول به څنګه ممکن وي؟ څکه چې الله ﷻ د کائناتو په ذرو ذرو علم دې، کومه ذره چې کوم ځائ هم وي ټولې به راجمع کړي، ﴿الَّذِي جَعَلَ لَكُم﴾ بدل دې د اول اسم موصول نه ﴿مِّنَ الشَّجَرِ الْأَخْضَرِ نَارًا﴾ په عربو کښې دوه اوني وي د يوې نوم مرخ او د بلې نوم عفار وو چې کله به د دواړو شاخونه يو بل پورې او مګلې شو پشان د ماچس نو اور به ورنه پيدا شو نو اور به ئې ورنه بلولو. نو کوم الله ﷻ چې د شنې اوني نه اور پيدا کوي نو آيا هغه د زمکې نه انسان نشي پيدا کولې.

﴿أَوَلَيْسَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ﴾ دا بل دليل عقلي دې په بعث بعد الموت چې آيا هغه الله ﷻ

چې لوئ لوئ اسمانونه اوزمکې ئې پخپل قدرت سره پيدا کړيدی چې انسان دهغې په نسبت ډيرکمزوري دې نوپه دوباره پيدا کولوپطريق اولی قادردې.دی کښې الله ﷻ ته هيڅ مسکل نشته دې،ځکه چې الله ﷻ کله دَيوکار اراده اوکړي نوهغې ته کن ونيلوسره بياهغه سوي وی

﴿فَسُبْحَانَ الَّذِي بِيَدِهِ﴾ دادَسورة خلاصه اولب لباب دې.چې الله ﷻ دشريك نه پاك دی دَهغه په درباركښې چاته شفاعت قهري ندې حاصل،لهذاصرف دهغه عبادت کوئ.دهغه په قبضه کښې دنيااواخرت بادشاهي ده،هغه ته به دَمرګ نه ورستوټول خلق ورځي.

﴿مَلَكُوتُ﴾ دمبالغې صيغه ده،دَ ملكٌ مبالغه ده،بعض وائی ملك وملكوت دواړويومعنی ده.

ركوعاتها (٥)	سورة الصّفّٰت مكية	اياتها ١٨٢
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بيحده مهربان او ډېر رحم کونکی دی شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (٣٧) وحسب النزول (٥٦)

ربط اسمي: سورة يٰسين کښې دصاحب يسين دعوت په ضمن کښې داخبره تېره شوه. چې ان يردن الرحمن بضر لاتغن عني شفاعتهم شيئا يعني که الله ﷻ چاته عذاب ورکول غواړي نو بيا د مزعومه خدايان او شفعائی نشي بچ کولې، اوس په الصفت کښې دې خبرې بيان دې چې بچ کول خولرې خبره ده، هغوئ خپله الله ﷻ عاجزه صف بسته اولاړ دی

ربط معنوي : ماقبل سورة يٰسين کښې نفي دشفاعت قهري وه. دې سورة کښې دامسئله على سبيل الترقي بيانيږي او عجزدرسولانو، ملائکو، جناتو ثابتوي. چې شفاع قهري خودرکنار بلکه دوئ مونږته په وخت دتکليف کښې فرياد کونکی دي

دعوه دسورت: إِنَّ إِلَٰهَكُمْ لَوَاحِدٌ

خلاصه ابتداء نه ترآيت (٥) پورې حال دملائکودي چې ددوئ دغه صفات دي نو شفعاء نه دي بياترآيت (١٠) پورې دجناتو حال دې، چې دوئ حين الاستماع په شهاب ثاقب سره ويشتلې کيږي نو دوئ شفعاء نشي کيدی، بياترآيت (١٤) پورې زجردې. او آيت ١٥ نه آيت ٢١ پورې شکوی او جواب شکوی ذکر ده چې ضمنا پکښې تخويف اخروي دې، بياترآيت (٤٠) پورې تخويفات دي، بياترآيت (٢١) پورې بشارت اخروي دې، بياترآيت ٧٤ پورې تخويف دې. وَلَقَدْ نَادَىٰنَا نُوحٌ فَلَنِعْمَ ٱلْمُجِيبُونَ آيت (٧٥) نه ترآيت (١٤٨) پورې داوؤد (٧) رسولانو واقعات دي، ددې دپاره چې دهرنبي واقعه پدې دلالت کوي چې دوئ ته شفاعت قهري نه دې حاصل. خکه چې هريو دتکليف په وخت کښې مونږ ته اوازاوفرياد کړې دې، دې نه بعدبيا دفرشتو اودجناتو. او درسولانو دحالاتو اعاده ده، اوتخويفات دي، آخر کښې سُبْحَٰنَ رَبِّكَ رَبِّ ٱلْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿١٨٠﴾ دټول سورة خلاصه ده چې الله ﷻ دشريك نه منزه دی. وَسَلَٰمٌ عَلَى ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٨١﴾ يعني رسولان

نى دَشرك نه سالم ساتلي دي وَٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ (١٨٢) تصرفات ټول الله لره دي

وَالصّٰٓفّٰتِ	صَفًّا ①	فَالزّٰجِرٰتِ	زَجْرًا ②	
قسم دى په هغه ملائكوچې صف تړونكي دي په قطار كښې،قسم په هغه ملائكوچې شړونكي دي شيطانانولره په شړلو سره .				
فَالتّٰلِيٰتِ	ذِكْرًا ③	اِنَّ	اِلٰهَكُمْ	لَوَاحِدٌ ④
قسم په هغه ملائكوچې لوستونكي دي ذكر دَالله ﷻ، چې بيشكه ستاسو اله يو دى				
رَبُّ السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	وَمَا بَيْنَهُمَا	وَرَبُّ الْمَشَارِقِ ⑤	
چې رب دَاسمانونو دي اوزمكې دي اودهغه څه چې په مينځ ددوئ كښ دى اورب دمشرقونو دي				

﴿وَٱلصَّٰٓفَّٰتِ صَفًّا﴾ دې آيـاتونو كښ دالله ﷻ الوهيـت او توحيـد اثبـات دې او رد دې د ملائكو شفيع قهرى كيدلو باندې چې معبود صرف الله ﷻ دې ملائک آلهه او شفعاء قهري نه دي ځكه چې دوئ پخپله الله ﷻ تـه دعبـادت دپـاره پـه صف كښ ولاړي وي.دَالله ﷻ دَحكم تابعداري دي دَالله پاكې بيانونكي دى.

﴿وَٱلصَّٰٓفَّٰتِ ،فَٱلزَّٰجِرَٰتِ،فَٱلتَّٰلِيَٰتِ﴾ دړې واړه صفات دي دَموصوف محذوف چې اكثرو پـه نيزملائك دي، ﴿وَٱلصَّٰٓفَّٰتِ﴾ يعني قسم په هغه ملائكوچې دَالله ﷻ دَعبادت لپاره صفونه جوړه وي،لكه په حديث كښ دي:الا تصـفّون كما تصـفّ الملائكة، يعني تاسو دَملائكو پشـان صفونه ولـې نـه جوړه وئ،صحابه وُعرض اوكړو ملائكې څنګه صفونه جوړه وي،نونبي كريمﷺ اوفرمائيـل يتمّون الصّفوف الاولَ،يادامطلب دې چې غوږونكې دې خپلې وزرې پـه هـوا كښ او دَ الله ﷻ حكم تعميل ته تيارې انتظار كښ وى (جلالين).

﴿فَٱلزَّٰجِرَٰتِ﴾ يعني شړونكې دي. څنې شيطانان دآسمان نه شړى. څنې هـو اګـانې يوخوا بل خواه شړى ،او څنې وريځې شړى.﴿فَٱلتَّٰلِيَٰتِ ذِكْرًا﴾ يعني تلاوت كونكى دي دَذكر ،ذكر نـه مراد يا قرآن دي اويا مطلق تسبيح وتحميد ده .

﴿إِنَّ إِلَٰهَكُمْ لَوَٰحِدٌ﴾ جـواب قسـم دې،قسـم بـراۍ استشـهاد دې.يعني دَفرشتو حال اوصفات پدې ګواه دي چې ستاسو معبود صرف يو دې،چې هغه رب دې دَاسمانونو اودَځمكې او څه چې

په مینځ دَدوئ کښې دي، اودَمشرقونومغربونورب دې. حلف علی غیر الله تفصیلی بحث جلد ۳ صفحه ۵۳۳ کښې تیر شویدې.

بعضِ وائی دَدې صفاتوموصوف نفوس دي، نفوس دَانبیاؤیاعلماؤ. نودا الصفت مطلب دادې چې صف تړونکی په مونځ کښې، الزاجرات مطلب دا دې چې خلق منع کوی داتباع دَ شیطان نه په وعدو وعیدونواوپه مواعظوسره، او التلیت ذکراتلاوت کونکی دي دقرآن او درس کونکي دَشرائعواواحکامو، یانفوس دَمجاهدینومراددي. نو الصفت مطلب دا دې چې صف تړونکي دي په میدان جهادکښې، الزاجرات مطلب داچې شړونکي دي دشمنانولره اویااسونولره، او التلیت مطلب دادې چې دَالله ﷻ ذکرکونکي دي یعني نعرهٔ تکبیروهونکی دي په وخت دَقتال کښې.

﴿رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ﴾ خبربعد خبردې، دَ﴿إِنَّ﴾، بدل دې دَ لواحد نه، نومقصودبالنسبة دې ﴿وَرَبُّ ٱلۡمَشَٰرِقِ﴾ دَمشرق جمع ده، د مشرق صیغه په قرآن کښې مفرد، تثنیه او جمع درې واړه قسمه استعمال شوې ده، سورت الشعرا(آیت ۲۸)اوسورت المزمل کښې مفرد استعمال شوې ده، رب المشرق والمغرب سورت الرحمن کښې تثنیه استعمال شویده. رب المشرقین ورب المغربین او دلته جمع صیغه راوړلې شوې ده دې کښې نکته دا ده چې چونکه جهت یو دې نوځکه صیغه دمفرد استعمال شوې ده ، اوکه دې ته اوکتلې شي چې نور هره ورځ جداجدا مطلع نه راخیژی نو دې اعتبار سره بیا مشرق یو نه شو ډیر شو نوځکه جمع صیغه هم استعمال شوې ده، او جونکه روزانه اعتبار سره دمطلع فرق پوره واضح نه وی، ددې فرق پوره پته په ګرمئ اویخنئ کښې لګي نو دې دوه موسمو اعتبارسره صیغه د تثنیه استعمالیږی، دَمشارق په ذکرکولو سره نی اکتفاء اوکړه دَذکرکولودَمغاربونه، ځکه چې مشرق سره مغرب لازم دی(روح، قرطبي).

إِنَّا زَيَّنَّا ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنۡيَا بِزِينَةٍ ٱلۡكَوَاكِبِ ۝ وَحِفۡظٗا مِّن كُلِّ شَيۡطَٰنٖ مَّارِدٖ ۝
بیشکه مونږه ښائسته کړیدې اسمان دَدنیاپه یوزینت سره چې ستوری دی، اومونږ محفوظ ساتلې دې دهر شیطان سرکش نه،
لَّا يَسَّمَّعُونَ إِلَى ٱلۡمَلَإِ ٱلۡأَعۡلَىٰ وَيُقۡذَفُونَ مِن كُلِّ جَانِبٖ ۝ دُحُورٗاۖ وَلَهُمۡ عَذَابٞ
غوږنشي کیخودلي تولګي(مجلس)د عالم بالا ته اوویشتلې شي دهرطرف نه، دپاره دَشړلواودوئ دپاره عذاب دې

وَّاصِبٌ ۝٩ اِلَّا مَنْ خَطِفَ الْخَطْفَةَ فَاَتْبَعَهٗ شِهَابٌ ثَاقِبٌ ۝١٠

دائمي همیشه مګر هغه چې اوتختوي په غلاسره ناڅاپه نو پسې شي لمبه چې سوزن کوکبې وي

﴿إِنَّا زَيَّنَّا ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنْيَا﴾ دې آیاتونو کښ دجناتو احوال بیانیږي او دهغوئ آلهه او شفیع قهري کیدلو باندې رددې چې هغوئ آلهه او شفیع قهري څنګه کیدې شي .هغوئ باندې خو ملااعلی ته تلل بند دی،او ده هغې خبرې اوریدې نشي که ورشي نو دائمي عذاب کښ به ګرفتار شي،او کچرته یو نیمه خبره په غلاسره نا څاپه را او تختوی نو شهاب ثاقب وریسې شي او هلاک ئې کړي.

په آیت کریمه کښ دکواکبو دوه فائدې ذکردې،(١)یوه فائده تزیین دآسمان،(٢)اوبله حفاظت دآسمان دَ شیطانانو نه ﴿بِزِينَةٍ ٱلْكَوَاكِبِ﴾ بدل مبدل منه دي،دیکښې دَ اولې فائدې بیان دې ،یعني مونږاسمان په کواکبو سره ښائسته کړیدي، ﴿وَحِفْظًا﴾ مفعول مطلق دي دَفعل محذوف ای وحفظناها حفظاً دیکښې دَ دویمې فائدې ذکردې،چې په ستورو سره مونږ دآسمان حفاظت کوو دسرکشو شیطانانو نه ﴿مارد﴾ اي الخارج عن الطاعة یعنی نافرمان او سرکش، یا المعترى عن الخير یعنی خیرنه خالي او میم،را،دال،ماده په معنی دتجرد اوخالي کیدو دلالت کوي

﴿لَّا يَسَّمَّعُونَ﴾ دیکښ دهغه امرسماوي ذکر کیږي چې دهغې حفاظت مقصود دې په ستورو سره، او طریقه دَحفاظت هم ذکر کیږي چې شیطان عالم بالا ته رسائي او معزز فرشتود مجلس خبرې اوریدل غواړي نو الله ﷻ دَهغې مجلس حفاظت دستورو په ذریعه سره کوي چې کله دوئ رانیزدې شي نو هرطرف نه پرې دستورو باران شي،یاخو اوتختي او یا هلاک شي، لا یسمعون په اصل کښ لایتسمعون دي،تاء په سین بدله شوه اوادغام اوشو ﴿إِلَى ٱلْمَلَإِ ٱلْأَعْلَىٰ﴾ الملأ وئیلې کیږي معزز او بارعب جماعت ته او دلته ترینه مرادجماعت دَملائک دې، او الاعلی نه مرادیا علو حسي یعنی جهت علو دې چې په آسمان کښ دې او یا ورنه مراد علو معنوي دې یعنی اوچتو مرتبو والا فرشتو جماعت.

﴿وَيُقْذَفُونَ مِن كُلِّ جَانِبٍ﴾ یعني کله چې شیاطین دااراده اوکړي اوپاس اسمانونه ته دَورنیزدې کیدلو کوشش اوکړي نوفرشتې ئې ولي، ﴿مِن كُلِّ جَانِبٍ﴾ اي من آفاق السماء یعنی

هرطرف نه په ستورو ويشتلې کيږي. او ځنې مفسرين فرمائي چې دې مطلب دا دی ... کل جانب يقصدون الصعود الى السماء يعني دآسمان کوم طرف نه هم ځئي غواړي نو هغه طرف نه په ستورو ويشتلې کيږي. ﴿دُحُورًا﴾مفعول له دې علت دې دقذف. شړلو ته ... کيږي ﴿ولهم عَذَابٌ وَاصِبٌ﴾يعني دنيادَدې عذاب نه علاوه ورته په آخرت کښې هم دائمي عذاب ورکولې کيږي. ﴿وَاصِبٌ﴾ اي دائم دَ وصب يصب نه دې پمعنی د دوام. او ځنې مفسرينو ئې معنی شديد سره کړې ده. ابوحيان رحمه الله وائی دينه مراددنياوي عذاب دې. چې دائم به ويستلې کيږي او ځپل مقصدته به نشي رسيدلې

﴿إِلَّا مَنْ خَطِفَ﴾دَضميردَ﴿لَا يَسَّمَّعُونَ﴾نه استثناء متصله ده. خطف اختلاس ته وائی يعني تختولو او په تونګه لړولو سره يو ځيز اخستل، او دلته ترينه مراد په پټه راغستل دې. مطلب دادې چې دوئ دَفرشتو خبرې نشي اوريدلې مګرداچې دوئ په پټه يوتونګه اولړه وي، دَفرشتو نه يوه خبره واوري. ﴿فَأَتْبَعَهُ شِهَابٌ ثَاقِبٌ﴾شهاب داور سپينې پړه قيدونکې شعلې ته وائی ﴿ثَاقِبٌ﴾اسم فاعل دې دثقب يثقب نه ، سوری کولوته وائی. اوديته ثاقب ځکه وائی چې دا فضا ځپل چمک اونورسره سورئ کوی یاورته ددې وجهې نه وائی چې شيطان سورې کوي، حتّی که دَبل جانب نه ورنه اوځي بعض وائی دَ(ثاقب)معنی محرق ده نودې سره شيطان سوزي

فائده: اختلاف دې چې داقذف يعني دَجناتو ويشتل په شهاب ثاقب سره، دَحضور ﷺ دبعثت نه قبل هم وؤ ، اوکنه بعددَبعثت نه شروع شو ، نوبعضِ وائی چې قبل دَبعثت نه هم وؤ ، بعض وائی نه وؤ ، راجحه داده چې قبل دَبعثت نه هم وؤليکن ديراهتمام سره نه وؤ کله به وؤکله به نه وؤ ، دَحضور ﷺ دَبعثت نه ورستو پکښې اهتمام راغې. ددې بحث تفصيل اودارنګه دايت متعلق بعضِ نوراهم مباحث دَدې تفسيرپه دريم جلد سورة الحجرآيت(١٨) کښې تيردې، هلته ئې اوګورئ.

﴿فَاسْتَفْتِهِمْ أَهُمْ أَشَدُّ خَلْقًا أَمْ مَّنْ خَلَقْنَا ۚ إِنَّا خَلَقْنَاهُم مِّن طِينٍ﴾

نوتپوس وکړه دوئ نه آيادوئ زيات ګران دې په پيدا کولو کښې ياهغه چې مونږپيدا کړي دي. بيشکه مونږ پيدا کړي دي دوئ دَ ځي

لَّازِبٍ ﴿١١﴾ بَلْ عَجِبْتَ وَيَسْخَرُوْنَ ﴿١٢﴾ وَإِذَا ذُكِّرُوْا لَا يَذْكُرُوْنَ ﴿١٣﴾

سليخناکي نه‌يا ټينګيدونکي نه‌بلکه ته تعجب کوي او دوی مسخری کوي او کله چی نصیحت ورکړیشي دوی نه نصیحت نه قبلوي

وَإِذَا رَأَوْا اٰيَةً يَّسْتَسْخِرُوْنَ ﴿١٤﴾ وَقَالُوْا إِنْ هٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿١٥﴾

او کله چې اووینې یوه معجزه نو خه مسخرې وربورې شروع کړي.او وائی دوی نه دي دا قرآن مګرجادوښکاره دی

ءَإِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا ءَإِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ ﴿١٦﴾ أَوَاٰبَآؤُنَا الْأَوَّلُوْنَ ﴿١٧﴾ قُلْ نَعَمْ

آیاکله چې مونږه مړه شواوشوخاورې او هډوکي آیامونږ به بیاپیداکیږواوآیاپلاران زمونږ رومبی به هم بیا پیداکړی.ته او به هو

وَأَنْتُمْ دَاخِرُوْنَ ﴿١٨﴾ فَإِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَّاحِدَةٌ فَإِذَا هُمْ يَنْظُرُوْنَ ﴿١٩﴾ وَقَالُوْا

اوتاسوبه ذلیله يئ، نو دا خو بس یوه زورداره چغه ده چې دوی به بیا ګوري.اووائی به دوی

يٰوَيْلَنَا هٰذَا يَوْمُ الدِّيْنِ ﴿٢٠﴾ هٰذَا يَوْمُ الْفَصْلِ الَّذِيْ كُنْتُمْ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ ﴿٢١﴾

هائ تباهي مونږلره دا د ورځ دقیامت ده، فرشتي به ورته اووائی دا ورځ دفیصلي ده هغه ورځ چې تاسوېدي تکذیب کونو

﴿فَاسْتَفْتِهِمْ أَهُمْ أَشَدُّ خَلْقًا﴾ زجردې اهل مکې ته خصوصاً او هر منکر د بعث ته عموماً یعني د بعث د منکرینو نه پوښتنه او کړه چې آیا د اسمان، زمکې، ستورو، فرشتو و غیره مخلوقاتو پیدا کول، زیات مشکل کار دې یا دوی پیدا کول، نو چې الله ﷻ زمکه، اسمان و غیره مخلوقات پخپل قدرت پیدا کړیدي نو د دوی دوباره پیدا ء کول خو څه مشکل ندي، کقوله تعالی: لخلق السمٰوات والارض اکبرمن خلق النّاس، "من" اسم موصول عهد خارجي دې او دینه مراد فرشتې جنات زمکه آسمانونه وغیره دی، چې مخکښې آیاتونو کښې تیر شو ﴿مِّنْ طِيْنٍ لَّازِبٍ﴾ لازب پمعنیٰ د لازم سره دې "با" او "میم" قریب المخرج کیدلو د وجې نه د یوبل په ځائ استعمالیږي سلیخ ناکه یعني یوبل پورې انختونکې ختې ته وئیلې کیږي، بعضو د ﴿لَّازِبٍ﴾ معنی جِنْد کړې ده، بعضې وائی ټینګیدونکې خاورې ته وائی، بهرحال مقصود ورنه دې خبرې باندې پوهه کول دي چې کومې خاورې نه الله ﷻ انسان په ضمن د آدم ﷺ کښې پیدا کړیدې نو هغه ته دهغې خاورې نه دوباره پیدا کول څه مشکل دي؟

﴿بَلۡ عَجِبۡتَ﴾ بل دپاره داضراب دي، او تعجب په درې قسمه دې
(۱) **تعجب استفهام**: دا هغه تعجب دې چې په غير متوقع الحصول شي په وجود باندې كيږي، قالوا اتعجبين من امر الله كښې دَدغې تعجب ذكر دې،
(۲) **تعجب استحسان**: دا هغه تعجب دې چې يوشئ دخوخيدلو اوښه لگيدلو په وجه باندې كيږي، لكه حديث كې راځي: يعجب ربک من الشاب ليس له صبوة يعنى ستارب تعجب كوى په هغه ځوان چې ځوانئ ميلانات ئې نه وى(مسند احمد)
(۳) **تعجب انكار**: هغه تعجب چې ديوشى انكار باندې مبنى وى لكه وعجبوا ان جاءهم منذر منهم كښې او ان هذا لشئ عجاب كښې دغه تعجب ذكر دې.

اودلته مراد دَتعجب نه يا تعجب استحسان دې، نو بيا دااضراب دې دَ﴿فَٱسۡتَفۡتِهِمۡ﴾نه. يعني دوئ نه تپوس مه كوه په دوئ دا خبرې خې نه لگي داخو په تاخې لگي. دوئ خو وربورې مسخرې كوي، بل عجبت من صنائع قدرة الله وهم يسخرون، اويا تعجب نه مراد تعجب انكارى دې اومعنى داده چې ته تعجب كوي دَدوئ په انكاردَبعث بعدالموت اودوئ وربورې مسخرې كوي چې داخوعجيبه خبره ده چې مونږبه بياژوندي كيږواې. بل عجبت من انكارهم البعث وهم يسخرون من امر البعث (روح المعاني).

﴿وَإِذَا ذُكِّرُواْ﴾ دمشركينو ضد او عناد بيان دې چې كله دوئ ته نصيحت اوكړې شى نو ـيحت نه قبولوى نصيحت نه مراد دلته دليل نقلي دې چې دَدليل نقلي نه هم انكاركوي

﴿وَإِذَا رَأَوۡاْ ءَايَةٗ﴾ دليل عقلي اومعجزه وغيره هم نه مني﴿يَسۡتَسۡخِرُونَ﴾ باب استفعال دې خاصيت پكښې يا مبالغه ده يعنى خه مسخرې وربسې شروع كړى اوضد وعنادئې نورهم ـيات شى، او يا خاصيت طلب ماخذ دې پكښې يعنى يوبل نه طلب دَمسخرې كوى، يعنى يوبل ته دټوقواو مسخرو كولو دعوت وركوى،

﴿وَقَالُوٓاْ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا سِحۡرٞ مُّبِينٌ﴾ دا شكوه ده يعنى كله چې معجزه اووينى نو ايمان راوړلو په ځائى دا وائى چې داخو صفاجادو دې﴿أَءِذَا مِتۡنَا﴾ يعنى چې مونږ خاورې او هډوكى شونو

بیابه څنګه پورته کیږو ﴿أَوَءَابَآؤُنَا ٱلۡأَوَّلُونَ﴾ زمونږ تیرشوي مخکنی آباواجداد په څنګه پورته
کولې کیږي، ءَابَآؤُنَا مبتدا دې ٱلۡأَوَّلُونَ ئې صفت دې او خبرئې محذوف دې چې مبعوثون دې.

﴿قُلۡ نَعَمۡ وَأَنتُمۡ﴾ داجواب شکوه ده، چې هاؤضروربه بیاتول ژوندي کیږي ﴿دَٰخِرُونَ﴾ دخور
نه دې ذلت اورسوائی ته وائی یعنی اوبیابه په ډیرذلت اورسوایئ سره دَدَغې تکذیب او انکار
سزامومئ

﴿فَإِنَّمَا هِيَ زَجۡرَةٞ﴾ هی ضمیر بعثت ته راجع دې یعنی زبردست او زوردار آوزبه وی. ﴿فَإِذَا
هُمۡ يَنظُرُونَ﴾ یعنی چې کله دغه چغه اووهلې شي نوفوراًبه دَقبرونونه راپاسیدلي وي،ګوري به.
کنایه ده دَژوندي کیدلونه، یادَانتظارنه دې،یعنی انتظاربه کوي دالله پاك حکم ته چې اوس به
مونږسره څه معامله کیږي او افسوس به کوي چې مونږدکومي ورځې نه انکارکولوهغه ورځ
خوراباندې راغله،

﴿هَٰذَا يَوۡمُ ٱلۡفَصۡلِ ٱلَّذِي﴾ دایاکلام دَملائکودې، توبیخاًبه ورتـه داوائی، یـاداهم کـلام
دَمنکرینودې یوبل ته.

احۡشُرُوا ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا وَأَزۡوَٰجَهُمۡ وَمَا كَانُوا يَعۡبُدُونَ ﴿٢٢﴾
(الله ﷻ به حکم وکړي)راجمع کړئ هغه کسان چې شرك ئې کړیدې اوجوړئ دَدوئ اوهغه چې دوئ ئې عبادت کولو.
مِن دُونِ ٱللَّهِ فَٱهۡدُوهُمۡ إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلۡجَحِيمِ ﴿٢٣﴾ وَقِفُوهُمۡ إِنَّهُم مَّسۡـُٔولُونَ ﴿٢٤﴾
ماسوا دَالله ﷻ نه،پس اوښایئ دوئ ته لاردَجهنم(الله ﷻ به اووائی)اواودروئ دوئ بیشکه دوئ نه تپوس کولې شي،
مَا لَكُمۡ لَا تَنَاصَرُونَ ﴿٢٥﴾ بَلۡ هُمُ ٱلۡيَوۡمَ مُسۡتَسۡلِمُونَ ﴿٢٦﴾ وَأَقۡبَلَ بَعۡضُهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖ
څه چل دې تاسوله چې نه کوئ مدددیوبل ،بلکه دوئ نن ورځ تسلیم دي،اومخ به کړي بعض دَدوئ نه بعض ته
يَتَسَآءَلُونَ ﴿٢٧﴾ قَالُوٓا إِنَّكُمۡ كُنتُمۡ تَأۡتُونَنَا عَنِ ٱلۡيَمِينِ ﴿٢٨﴾
تپوس به کوي دیوبل نه،اوبه وائی(کشران)چې بیشکه تاسوبه راتلئ مونږ ته، منع کولوخوبه د ایمان نه،

قَالُوْا بَلْ لَّمْ تَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ ۞ وَمَا كَانَ لَنَا عَلَيْكُمْ مِّنْ سُلْطٰنٍ
اوبه وائي مشران بلكه نه وئ تاسو پخپله ايمان راوړنكي.اونه ووزموږ به تاسوباندي څه زور،غلبه،
بَلْ كُنْتُمْ قَوْمًا طٰغِيْنَ ۞ فَحَقَّ عَلَيْنَا قَوْلُ رَبِّنَآ ۖ إِنَّا لَذَآئِقُوْنَ ۞
بلكه وئ تاسو يو قوم سركشه ، پس ثابت شو په موږباندي حكم درب زموږه.بيشكه موږه څكونكي دعذاب يو.
فَاَغْوَيْنٰكُمْ اِنَّا كُنَّا غٰوِيْنَ ۞
پس گمراه كړي وئ تاسوموږه . په ديكښې هيڅ شك نشته چې موږ هم گمراهان وو.

﴿اُحْشُرُوا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا﴾ دا تخويــــف اخـــروي دي او اول حكـــم دي دطرفـــه دالله تعالى نـــه ملائكوته،چې مشركان اودهغوئ باطل معبودان ټول راجمع كړئ.دظلم نه مراد شرك دي،بدليل قوله تعالى:انّ الشّرك لظلم عظيم،﴿وَاَزْوَاجَهُمْ﴾ازواج نه مراد(١)ياكافراني ښځې دي(٢)ياورنه مراد اشباه او امثال دي پـه عمـل كښې،لكه سودوالوؤبه دسودخوروسره حشر كيږي،زناكارانوبه زناكارانوسره،شـراب څكـونكي بـه دشـراب والؤسـره(٣)ياورنـه مرادد مشـركانوملگري او شيطانان دي چې دهركافربه دخپل شـيطان سره حشركيږي بيابه دواړه په يوزنځيركښې تړلي كيږي

﴿وَمَا كَانُوْا يَعْبُدُوْنَ﴾ مرادورنه هغه كاڼري بوتي دي چې دوئ ورنه خدايان جوړكړي وو،دوئ به ورسره جهنم تـه دتخجيـل اوتحسيرد پاره غورځولي كيږي،دغـه شان شيطانان اوسركشه جنات ورنـه مـراددي چـې دوئ بـه ورتـه دشـرك تعليم وركولـو اوهرچې دي انبيـاء اوصـلحا اوملائك چې دوئ ورنه معبودان جوړكړي وو،نوهغوئ ورنه مستثنى دي په آيت:انّ الّذين سبقت لهم منّا الحسنٰى اولئك عنها مُبعدون(انبياء:١٠١).

﴿فَاهْدُوْهُمْ اِلٰى صِرَاطِ الْجَحِيْمِ﴾ دا دويم حكم دي فرشتو ته چه بيا به ورته اوائي چې اوس ئې جهنم ته روان كړئ.

﴿وَقِفُوْهُمْ اِنَّهُمْ مَّسْئُوْلُوْنَ﴾ دا دريم حكم دي يعني چې دحكم موافق فرشتي كله دامشركان جهنم تـه روان كـړي نـو داحكم بـه ورتـه اوشـي چـې لږغونتـه ئـې اودره وئ يوبـل تپـوس ورنـه

کوڅې دوئ نن ورځ دَیوبل نصرت ولې نشي کولې چې دَالله ﷻ دعذاب نه بچ شي. ظاهر دَ آیت نه دا معلومیږي فرشتې په دوئ روان کړی نو بیا به ورته دَاودرولو حکم اوشی بعض وائي چې قبل دَبوتلونه به وي، ای قفوهم للحساب ثم سوّقوهم الی النار (قرطبي)

﴿مَا لَكُمْ لَا تَنَاصَرُونَ﴾ په اصل کښ تتناصرون دي، تخفیفًا یوه تا حذف شویده. او دا خطاب یامشرکانو اودَهغوئ معبودانو دواړوته دي، یاصرف مشرکانوته دي. یعني تاسو نن ورځ دَیوبل نصرت ولې نشئ کولې، روایت دي چې ابوجهل دَبدرپه ورځ وئیلي وؤ، نحنُ جمیعٌ منتصرٌ. نو دَ قیامت په ورځ به ورنه دغه تپوس اوکړي شي.

﴿بَلْ هُمُ الْيَوْمَ مُسْتَسْلِمُونَ﴾ اضراب دي دَ تناصرون نه، یعنی یوبل مدد به څه اوکړی بلکه نن خوبه الله ﷻ ته به منقاد او تسلیم شوی وی رپ ترینه نشی وهلې، بقول والد محترم رحمه الله چې حضرت شیخ القرآن به دا سې ترجمه کوله(آج سونی بن گے)بعضو دَ﴿ مُسْتَسْلِمُونَ ﴾معنی دا کړیده چې ذلیله اورسوا به وي﴿وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ﴾ مرادورنه اتباع اومتبوعین دي او ﴿يَتَسَاءَلُونَ﴾نه مراد یخاصمون وي یعني یوبل نه به په طریقې دَخصومت اوجدال سره سوالونه شروع کړی.

﴿قَالُوا﴾ دادَ اتباعو اعتراض دي په رؤساؤو باندې چې زمونږ دَ ایمان نه رواړو لو سبب تاسویئ ځکه چې قوت او طاقت درسره وو، مونږ خوپه زور منع کولو

﴿تَأْتُونَنَا عَنِ الْيَمِينِ﴾ ددې جملې ډیر توجیهات شوی دی:(۱) تَأْتُونَنَا متضمن دې معنی تصدوننا ته، ځکه چې په صله کښ عن راغلیدې، او اتیان فعل په صله کښ من راځي، عن نه راځي. او اَلْيَمِين نه مراد اسلام او یمان دې، أي کنتم تصدوننا عن الایمان یعني تاسو به مونږ دایمان نه منع کولو. (۲)بعضو اتیان په معنی دَ قطع سره اغستې دې، اواَلْيَمِين نه مراد هر نیک کار دې، أي تقطعوننا عن الیمین یعني هر نیک کار نه خو مونږه لرې کولو. (۳)اوځنو مفسرینو اتیان خپله معنی کښ اغستې دې، واَلْيَمِين نه معنی ځنو په قسم سر کړیده، چې قسمونه خوبه خوړل چې مونږ په حق یو. او ځنوئی معنی قوت او طاقت کړې ده، یعنی په زور اوطاقت سره خو مونږ گمراه کولو. اوځنو ترینه مراد جهت دخیر وسعادت اغستې دې أي تأتوننا من جهة الخیر والسعادة، یعنی مونږ ته خو دا گمراهی ډیره برکتې او سعادت لار باور کوله، اوس هغه برکت او سعادت چرته دې؟

﴿قَالُوا﴾ دا دږوساؤو جواب دې، چې مشتمل دې په څلورو مقدمو باندې. چې حاصل ئې دا دې چې مونږ تاسو ته صرف دعوت درکړیدې باقي تاسو خپل اختیار سره کفر کړیدې

﴿بَل لَّمْ تَكُونُوا مُؤْمِنِينَ﴾ دا **اوله مقدمه** ده، چې په مونږ د زور او جبر الزام غلط دې ایمان تاسو پخپله نه راوړلو ﴿سُلْطَٰنٍ﴾ نه مراد زور او غلبه ده.

﴿بَلْ كُنتُمْ قَوْمًا طَٰغِينَ﴾ **دویمه مقدمه** ده چې څنګه چه مونږ سرکشه وو. کفر مو اختیار کړې وو، داسې تاسو هم سرکشه وئ او کفر مو اختیار کړې وو. نو دیکښې زمونږ د زور او جبر څه دخل شو

﴿فَحَقَّ عَلَيْنَا قَوْلُ رَبِّنَآ﴾ دا **دریمه مقدمه** ده، الله ﷻ چې خپل ازلي علم مطابق کوم کسان د جهنم دپاره خاص کړې دي او دهغوئ په باره کښې ئې د لأملئن جهنم من الجنة والناس اجمعین فیصله ئې نږیده د حقیقت هغه فیصله په مونږ ثابته شوې ده، ﴿إِنَّا لَذَآئِقُونَ﴾ بیان دې د ﴿قَوْلُ رَبِّنَآ﴾. مراد ورنه دا قول د الله ﷻ دې لأملئن جهنم

﴿فَأَغْوَيْنَٰكُمْ﴾ **څلورمه مقدمه** ده چې زمونږ قصور صرف دا دې چې مونږ پخپله ګمراه وو او تاسو ته هم دګمراهۍ دعوت درکړو، نو تاسو په خپل اختیار سره کفر قبول کړو. مجبوره کړې مونه یئ چې اوس تاسو د کفر ګناه په بچ شئ ﴿إِنَّا كُنَّا غَٰوِينَ﴾ ماقبل دپاره علت دې مونږ ګمراه وو نو ځکه مو تاسو ته هم ددې دعوت درکړو.

فَإِنَّهُمْ	يَوْمَئِذٍ	فِي	الْعَذَابِ	مُشْتَرِكُونَ	﴿٣٣﴾
پس بیشکه	دوئ کښران، مشران	دواړه په	دغه ورځ په	عذاب کښې	شریك وي.

إِنَّا كَذَٰلِكَ نَفْعَلُ بِالْمُجْرِمِينَ ﴿٣٤﴾ إِنَّهُمْ كَانُوا إِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا إِلَٰهَ

بیشکه مونږ دغسې کار کوؤ د مجرمانو سره، بیشکه دوئ وؤ چې کله به ورنیلې شو دوئ ته چې نیشته دې لائق د عبادت

إِلَّا اللَّهُ يَسْتَكْبِرُونَ ﴿٣٥﴾ وَيَقُولُونَ أَئِنَّا لَتَارِكُوا آلِهَتِنَا لِشَاعِرٍ مَّجْنُونٍ ﴿٣٦﴾

سوا د الله ﷻ نه، نو دوئ به تکبر کولو. او دوئ به ویل آیا مونږ پریږدو خپل خدایان د پاره د یو شاعر مجنون.

بَلْ جَآءَ بِالْحَقِّ وَصَدَّقَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿٣٧﴾ اِنَّكُمْ لَذَآئِقُوا الْعَذَابِ الْاَلِيْمِ ﴿٣٨﴾

بلکه راوړې ئي دي حق اوتصديق ئی کړې دي د رسولانو. بيشکه تاسو څکونکي يئ دعذاب دردناک

وَمَا تُجْزَوْنَ اِلَّا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٣٩﴾

اوتاسوته به سزانشي درکولې مګردهغه عملونو چې تاسو به کول

﴿فَاِنَّهُمْ يَوْمَئِذٍ﴾ دا دَالله ﷻ قول دې، چې کله دَ دواړو فريقينو اتباع او متبوعين اشتراک ثابت شو په کفر اختيارې کښ، نو نن دَقيامت په ورځ به عذاب کښ هم شريک وي. نو دينه معلومه شوه چې دَبل چاپوجه ګناه کول دَقيامت په ورځ دَعذاب نه دبچ کيدلو عذر نشي کيدلی

﴿اِنَّا كَذٰلِكَ﴾ کاف لپاره دبيان کمال دې، يعنی داسې سخته سزا مونږ مجرمانوته ورکو، ياکاف لپاره دَتشبيه دې. اومراد ترينه تابع اومتبوع دواړوله سزا ورکول دی. يعنی مجرمان خواه که تابع وی يا متبوع، مونږ به ئی جهنم ته غورځوو

﴿اِنَّهُمْ كَانُوْٓا اِذَا قِيْلَ لَهُمْ﴾ دازجردې په انکاردَتوحيد اوشکوه دَه دَمشرکانو نه. په انکار د توحيد باندې چې کله دوئ ته دَ لا اله الاّ الله يعني دَتوحيد دعوت ورکولې شونودوئ به ورنه انکار اوتکبر کولو،

﴿وَيَقُوْلُوْنَ اَئِنَّا لَتَارِكُوْٓا﴾ دا اورته زجردې، په انکاردَرسالت باندې. استفهام په کښ انکاري دې، يعني مونږدَخپلو معبودانو عبادت دَحضورﷺ دَدعوت په وجه نه پريګدو. ﴿لِشَاعِرٍ مَّجْنُوْنٍ﴾ مرادئی ورنه نعوذبالله حضورﷺ دي،

﴿بَلْ جَآءَ بِالْحَقِّ﴾ چې ليونيان خو ګډې وډې وائي او شاعران هم هسې فضول بکواس اودروغ وائی، دهغې برعکس دابالکل حق اوربښتيا کلام دې. اوټولو رسولانو دغه بيان کړيدي، نو څنګه تاسو نبی کريم ﷺ ته مجنون اوشاعروايئ؟

﴿اِنَّكُمْ لَذَآئِقُوا الْعَذَابِ الْاَلِيْمِ﴾تخويف اخروي دې مشرکانوته چې دَشرك اوتکذيب په وجه به دوئ ته دردناك عذاب ورکولې کيږي، ﴿لَذَآئِقُوا﴾په اصل کښ لذائقون دې. د اضافت په وجه تخفيفاًنون ساقط شويدې.

إِلَّا عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ ﴿٤٠﴾ أُولَٰئِكَ لَهُمْ رِزْقٌ مَّعْلُومٌ ﴿٤١﴾ فَوَاكِهُ ۖ وَهُم مُّكْرَمُونَ ﴿٤٢﴾

مګر بندګان د الله ﷻ چې مخلصين دي، داهغه خلق دي چې دوئ دپاره رزق يقيني دې چې معلوم به وي. او دوئ به عزت کولې شي.

فِي جَنَّاتِ النَّعِيمِ ﴿٤٣﴾ عَلَىٰ سُرُرٍ مُّتَقَابِلِينَ ﴿٤٤﴾ يُطَافُ عَلَيْهِم بِكَأْسٍ مِّن مَّعِينٍ ﴿٤٥﴾

په جنتو دَنعمتونو کښې، په تختونوبه ناست وي يوبل ته مخامخ ګرځولې به شي په دوئ پيالې دجارې بهيدونکي شرابو.

بَيْضَاءَ لَذَّةٍ لِّلشَّارِبِينَ ﴿٤٦﴾ لَا فِيهَا غَوْلٌ وَلَا هُمْ عَنْهَا يُنزَفُونَ ﴿٤٧﴾

تك سپين به وي خوندبه ورکوي څکونکوته.نه به وي پديکښې سردردي اونه به دوئ دهغې نه بې هوشه کيږي

وَعِندَهُمْ قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ عِينٌ ﴿٤٨﴾ كَأَنَّهُنَّ بَيْضٌ مَّكْنُونٌ ﴿٤٩﴾

اووي به دوئ په څنګ کښې ناز کتونکې،غټو سترګو والا حورې .لکه دوئ اګۍ وي پټې ساتلې شوې

﴿إِلَّا عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ﴾ دې آياتونو کښې بشارت دې مؤمنانو ته. استثناء منقطع ده دَضمير دَ ذائقوا نه پمعنیٰ دلکنّ عبادَالله المخلصين ﴿أُولَٰئِكَ لَهُمْ رِزْقٌ مَّعْلُومٌ﴾ دې کښې دَ جنتيانو خوراک حالت بيانيږی چې ډير عمده خوراک به ئی وی، **سوال**: دې آيت کښې دی چې په جنت کښې دَ صالحينو دپاره کوم رزق او اجر دې هغه معلوم دې او بل آيت فلا تعلم نفس ما اخفي لهم من قرة اعين[السجده] نه او دهغه شان دې حديث"اعددت لعبادي الصالحين ما لا عين رأت و لا اذن سمعت و لا خطر على قلب بشر" نه معلوميږی چې صالحينو رزق او اجر معلوم نه دې؟**جواب**:دلته مراد دمعلوم والی نه معلوم بالاسماء والمعنی دې،يعنی دهغې رزق نوم او معنی معلومه ده.او چرته چې دَمعلوم والې نفي راغلې ده نو هلته مراد معلوم بالکنه والحقيقت دې،يعنی دَهغې نعمت کنه او حقيقت معلوم نه دې،لکه سورت البقره کښې دی کلما رزقوا منها من ثمرة رزقا قالوا هذا الذي رزقنا من قبل واوتو به متشابها او حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه: ليس في الجنة شئ مما في الدنيا الا الاسماء(الطبري)او ورته معلوم دَ څو وجوهو اعتبار سره اوئيلې شو:(۱)دا به دائمی اويقينی وی،نوکوم شي چې يقينی او دائمی وې نوهغې وجود هم معلوم وی(۲) دوئم داچې صفتونه به ئې معلوم وي،چې غيرمقطوع به وي،ممنوع به نه وي کمافي سورة الواقعه،

حسن المنظر، لذيذ الطعم، خوشبوداره به وي(۳) دريم دا چې وختونه به ئې معلوم متعين وي. كقوله تعالى: وهم فيها بكرةً وعشيًا (مريم: ۶۲).

﴿فَوَٰكِهُ﴾ بدل دي ﴿رِزْقٌ﴾ نه، دا په دي دلالت كوي چې دَجنت خوراك به صرف دلذت او تفكه دپاره وي، ځكه چې جنت كښې به انسان خوراك محتاج نه وي (روح) ﴿وَهُم مُّكْرَمُونَ﴾ يعني عند الله به عزت مندوي، او دا په ټولو نعمتونو كښې لوئ نعمت دي. بعض وائي معنى دا ده چې په حصول دَرزق كښې به مكرمين وي چې بغير دكسب او ځان ستړي كولو نه به ورته ميلا ويږي، دَدنيا دَرزق په شان حال به ئې نه وي. ﴿فِي جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ﴾ جار مجرور دَمكرمون سره متعلق دي

﴿مُّتَقَٰبِلِينَ﴾ ديكښې دَجنتيانو دَ ناستې ځائې او داحبابو مجلس وصف بيانيږي. چې دوئ به تختونو باندې يو بل ته مخامخ ناست وي، يو بل سره به ئې مينه محبت وي او ګپ شپ به لګوي او دَشرابو دور به چليږي ﴿على سرر﴾ متعلق دي دكائنين سره او حال دي دَمكرمون ضميرنه، او متقابلين حال دي دَكائنين ضمير مستترنه ﴿يُطَافُ عَلَيْهِم﴾ طواف كونكي به وارِه اولاد دَمشركانووي، چې خادمان دَجنت به وي (روح) ﴿بِكَأْسٍ﴾ دَشرابو نه ډكې پيالې ته وائې، او يې اطلاق المحل على الحال دي او مراد ترينه شراب دى ﴿مِّن مَّعِينٍ﴾ دَجنت دَشرابو وصف بيانيږي، دائې اول صفت دي، أي كائنة من شراب معين. معين يا دمعن نه دي په معنى دَ جوروالي سره، يعني ژورو شرابو نه به ورله جامونه ورکولې کيږي ديکښې دَجنت شرابو كثرت او عمده ګى طرف ته اشاره ده، ځكه چې او به ځومره ژورې وي نو هومره ډيرې او عمده وي، او يا معين دَ عين نه ماخوذ دي په معنى د چينې سره دي او مقصود ترينه معنى دبهيدلو ده، يعني جارى شرابو جامونه به وركولې كيږي، ديكښې اشاره ده دهغې شرابو پاكوالى تازه والى او شفاف والى ته، ﴿بَيْضَآءَ﴾ بل صفت دي دَشرابو، چې تك سپين به وي، حتى چې دَپيونه به هم سپين وي، صفت مؤنث راوړي شو، ځكه چې موصوف كاس مؤنث سماعى دي ﴿لَذَّةٍ لِّلشَّٰرِبِينَ﴾ دائې بل صفت دي، مصدر صفت راوړل دپاره دمبالغې دي

﴿لَا فِيهَا غَوْلٌ﴾دا ئی بل صفت دې.﴿غَوْل﴾دغال يغـول نه دې پـمعنـی دفساد سره. او راغب وائی "الغول اهلاك الشیئ من حيث لا يحسّ بـه" يعـين پټ اوخفيه ضرر رسولو ته وائی. دلته ورنه مرادنفي دَضرر ده اصلاً، يعني هيڅ ضرربه پدې شرابو کښ نه وي. نه ورنه سر خوږيږی اونه به ورسره خيټې تکليف پيدا کيږی او نه څه بل نقصان. (روح المعاني) ﴿وَلَا هُمْ عَنْهَا يُنزَفُونَ﴾ای يسکرون (نزف) نزع الشیئ واذهابه بالتدريج، يعني تدريجًا يو څيز ختميدل. دلته ورنه مراد عقل ختميدل دي، او بې هوشه کيدل دي، يعني دَشرابو پوجه به ئې عقل نه ختميږي اونه به بې هوشه کيږي.

﴿وَعِندَهُمْ قَـٰصِرَٰتُ ٱلطَّرْفِ﴾ ديکښ هم دجنتيانو مجلس حالاتو بيان دې چې دوئ سره په څنګ کښ خائسته حياناکې حورې ناستې وی "قصرات" صفت دې موصوف مقدر ای ازواجٌ قاصرات الطرف، او دَقصرات الطرف معنی: (۱) يا داده چې قصرن ابصارهنّ علیٰ ازواجهنّ. يعني بندونکې به وي نظرونه خپل لره په خاوندانو خپلو پورې، بل چاته به نه ګوري. دا دښځې کمال اوعفت دې چې صرف خپل خاوندته ګوري. نووصف يامبني دې په ظاهريا کنايه ده دَفرط محبت نه دَخپلو خاوندانو سره. (۲) يامعنیٰ داده چې دکمالِ حياء پوجه به سترګې خکته ساتي (۳) يامعنیٰ داده چې دوئ به دَخاوندانو نظرونه خکته کونکې وي خپل ځان پورې، دَډيرحسن په وجه به خاوندان ئی بل چا ته نه ګوري (۴) او بعض مفسرينو ئی معنی ذابلات الطرف تدللا کړې ده، يعنی ډير ناز نه سترګې به پټوی را پټوی.﴿عِينٌ﴾جمع دَعيناء ده غټو سترګوته وائی

﴿كَأَنَّهُنَّ بَيْضٌ مَّكْنُونٌ﴾ بيض جمع دبيضةٌ ده، اګئ ته وايې، دلته ورنه مراد دَشترمرغ اګئ ده، ځکه چې عرب په حسن کښ تشبيه دَشترمرغ اګئ سره ورکوي. دَشترمرغ داګوسره تشبيه ورکول ياپه صفائی اوحفاظت کښ ده، شترمرغ خپلې اګئ دوزرولاندې پټې کړې وي نودګردوغبار اودَلاس لګولونه محفوظې وي نودغه شان دَجنت حورې به هم محفوظې وي، کقوله تعالیٰ: (لم يطمثهنّ انسٌ ولا جانٌّ) اوياپه ښکلې والې اوپه برابروالې دَاعضاؤ کښ ده، بعض وائی تشبيه دَهغه ايشولې اګئ سره ده چې پټ ورنه لرې کړې شي، نودلته تشبيه په نرم والې اونازك والې کښ ده.

فَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَاءَلُونَ ۞ قَالَ قَائِلٌ مِّنْهُمْ

پس مخ به کړي بعض ذوئ نه بعض نوروته چې يوبل نه به تپوسونه کوئ اوبه وائي يويونکي ددوئ نه

إِنِّي كَانَ لِي قَرِينٌ ۞ يَقُولُ أَئِنَّكَ لَمِنَ الْمُصَدِّقِينَ ۞ أَإِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَامًا

بيشکه وو په دنياکښ زمايوملګرې،ويل به ئې چې آياته منونکې ئې د قيامت،آياچې کله مونږمړه شواوشوخاورې اوهډوکې

أَإِنَّا لَمَدِينُونَ ۞ قَالَ هَلْ أَنتُم مُّطَّلِعُونَ ۞ فَاطَّلَعَ فَرَآهُ

آيامونږته به بدله ميلاويږي،اوبه وائي دې آياتاسوځان نه خبروئ دهغه نه پس دجنت نه به سربنکاره کړي نواوبه وينې هغه

فِي سَوَاءِ الْجَحِيمِ ۞ قَالَ تَاللَّهِ إِن كِدتَّ لَتُرْدِينِ ۞

په مينځ دجهنم کښ.اوبه وائي ورته چې قسم دې په الله ﷻ چې نزدې وې نه چې هلاك کړې دې وې ځه

وَلَوْلَا نِعْمَةُ رَبِّي لَكُنتُ مِنَ الْمُحْضَرِينَ ۞ أَفَمَا نَحْنُ بِمَيِّتِينَ ۞ إِلَّا

اوکه نه وې فضل دَرب ځما نو وې به ځه په جهنم کښ دَحاضرکړې شوُونه،آيانه يومونږ(جنتيان) بيا مړه کيدونکې سو

مَوْتَتَنَا الْأُولَىٰ وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ ۞

د مرګ زمونږه ړومبني(په دنيا کښې) اومونږ له به عذاب نه راکولې کيږي

إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ۞ لِمِثْلِ هَٰذَا فَلْيَعْمَلِ الْعَامِلُونَ ۞

بيشکه هم داکاميابي ده لويه،دَدغه شان کاميابئ دَپاره دې عمل وکړي عمل کونکې

﴿فَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَاءَلُونَ﴾يعني جنتيان به دې مجلس کښې دَدنياحالاتو کارګزارې يوبل ته آوروي،يوجنتي به اووائی چې ځمايوملګرې وؤدنياکښ ځه به ئې ملامته کوله په تصديق دَبعث الموت اوپه قيامت،اووئيل به ئې چې آيامونږمړوشوخاورې خاورې شونوآيابيابه دوباره مونږژوندي کيږو اودَخپلوعملونوبدله اوجزابه راکولې کيږي ﴿قَرِينٌ﴾ مرادورنه مطلق مصاحب دې چې بعث بعدالمنکر وی جنی وی اوکه انسی،

﴿قَالَ هَلۡ أَنتُم﴾ ضمیر پکښې (۱) یا مذکورجنتي ته راجع دي چې خپلو ملګرو نه به اووائي چې راځئ چې دغه منکر دحال نه ځان خبرکړو. چې په کوم حال کښې دي. دې ښې اووینې چې دجهنم په منیځ کښې به پروت وي، ورته به اووائي چې عنقریبه وه چې ته هم تاسره هلاك کړي وې، اوکچرته په ما د الله ﷻ فضل نه وي نو زه به هم تاسره جهنم کښې موجود ووم، (۲) یا قائل د دې قول فرشتې دي، (۳) بعض وائي قائل الله ﷻ دي چې جنتیانو ته به اووائي چې آیا تاسو غواړئ چې دغه منکربدحال اوګورئ، د اهل النار دحال نه اهل جنت مطلع کیدل سره د دینه چې دواړو مابین کښې تباعد دې، د الله ﷻ دقدرت نه بعید نه دي چې اهلِ جنت ته به الله ﷻ د دې طاقت ورکړي (روح).

﴿أَفَمَا نَحۡنُ بِمَيِّتِينَ﴾ دا هم دجنتیانو یو بل سره محاوره ده چې اوس به دینه ورستو مونږ نه مره کیږو، نه به راته عذاب راکولې کیږي، استفهام پخپله معنی کښې نه دې بلکه په طریقې دتحدیث بالنعمة دې، بعضِ وائي دا قول د مومن دې، قرین کافرته دپاره دتوبیخ اوزجر

﴿إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ﴾ دا د الله ﷻ طرفه ترغیب دې اعمال صالحوته. چې حقیقي کامیابي اولویه کامیابي هم داده، دې لپاره دې محنت کونکي محنت اوکړي. یا دا قول هم دمذکورجنتي دې.

أَذَٰلِكَ خَيۡرٌ نُّزُلًا أَمۡ شَجَرَةُ ٱلزَّقُّومِ ۝ إِنَّا جَعَلۡنَٰهَا فِتۡنَةً لِّلظَّٰلِمِينَ ۝ إِنَّهَا
آیا دا نعمتونه غوره دي په میلمستیا کښې او که ونه دزقوم بیشکه مونږ دا ګرځولې ده ازمائش د ظالمانو دپاره، بیشکه دا
شَجَرَةٌ تَخۡرُجُ فِيٓ أَصۡلِ ٱلۡجَحِيمِ ۝ طَلۡعُهَا كَأَنَّهُۥ رُءُوسُ ٱلشَّيَٰطِينِ ۝ فَإِنَّهُمۡ لَأٓكِلُونَ
ونه ده چې پیدا کیږي په بیخ د جهنم کښې، میوې ئې داسې وي لکه سرونه د شیطانانو، پس بیشکه دوئ به خوري
مِنۡهَا فَمَالِـُٔونَ مِنۡهَا ٱلۡبُطُونَ ۝ ثُمَّ إِنَّ لَهُمۡ عَلَيۡهَا لَشَوۡبًا مِّنۡ حَمِيمٍ ۝ ثُمَّ
دهغې نه نو ډکه وي به دهغې نه خیټې، بیابه بیشکه دوئ لپاره دهغې دپاسه ګډ وي ګرمو اوبه، بیا
إِنَّ مَرۡجِعَهُمۡ لَإِلَى ٱلۡجَحِيمِ ۝ إِنَّهُمۡ أَلۡفَوۡاْ ءَابَآءَهُمۡ ضَآلِّينَ ۝ فَهُمۡ عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِمۡ
بیشکه راواپس کیدل به وي ددوئ خامخا جهنم ته بیشکه دوئ موندلي وو پلاران خپل ګمراهان نو دوئ په نقش قدم دهغوئ

يُهْرَعُوْنَ ۝ وَلَقَدْ ضَلَّ قَبْلَهُمْ اَكْثَرُ الْاَوَّلِيْنَ ۝ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا فِيْهِمْ مُّنْذِرِيْنَ ۝

تیزروان وو، اوپه تحقيق گمراه شوي وو مخکښې د دوئ نه ډيرداولونه، اوپه تحقيق سره چې لېږلي وو موږ په دوئ کښې يره ورکوونکي

فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُنْذَرِيْنَ ۝ اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ ۝

اوگوره چې څرنګه وو انجام ډيرولوشو مگربندگان دالله چې مخلص وو

﴿أَذَٰلِكَ خَيْرٌ نُّزُلًا﴾ دا تخويف اخروي دې، ﴿أَذَٰلِكَ﴾ کښې اشاره رزق معلوم مذکور لاهل الجنة ته ده، چې آيا دَجنت دا مزې غوره دي او که اونه دَزقوم خوړل غوره دي. چې جهنميان به ئې خوري. ﴿ٱلزَّقُّومِ﴾ مشهور ازغي دار بوټي دې، چې بدصورته او ډير تريخ وي. خو دجهنم زقوم اودَدنيا زقوم کښې صرف د نوم کښې اشتراک دې، باقي دَهغې پوره کيفيت نه الله ﷻ عالم دې، لکه څنګه چې دنيا نعمتونو او جنت نعمتونو کښې صرف دنوم اشتراک دې باقي دجنت نعمتونه هغه دَدنيا نعمتونو نه بدرجها افضل دی دهغه شان عذاب ورکولو ذرائعو کښې هم صرف دَنومونو اشتراک دې، کنې دَ جهنم عذاب ذرائع به ددَنيا ذرائعو نه ډير سخت وی [اعاذنا الله بفضله]

﴿إِنَّا جَعَلْنَٰهَا فِتْنَةً﴾ فتنه يا پمعنی دَعذاب دې، يعني دازقوم مونږ دکافرانو دپاره عذاب گرځولې دې، چې ئې اوخوری نو گرمې تانبې او ابو په شان به ئې خيټه کښې خوټيږي لکه په سورة الدخان کښې دي، ان شجرة الزقوم طعام الاثيم کالمهل يغلي في البطون....الخ. يا پمعنی دَامتحان اوازمائش دې، ځکه چې کافرانو کله داواؤريدل چې دازقوم په جهنم کښې يوه اونه ده، نو ابوجهل وغيره کافرانو او وئيل چې داڅنګه ممکنه ده چې په اورکښې اونه پيدا شي حالانکه اور خو اوني سوزه وي.

﴿إِنَّهَا شَجَرَةٌ تَخْرُجُ﴾ يعني جرړي ئې دَجهنم په ويخ کښې دي، ﴿طَلْعُهَا كَأَنَّهُۥ رُءُوسُ ٱلشَّيَٰطِينِ﴾ يعني غونچلې اوميوي به ئې دَشيطانانو دَسرونو په شان وي، دَشياطينو سره تشبيه ورکول په بدصورتئ اوقباحت کښې ده، عرب تشبيه دَقبيح صورة دَشيطان سره ورکوي. لکه دَښه صورت تشبيه دَفرشتې سره ورکوي، اگرچه شيطان چاليدلې نه دې ليکن اعتقاد دَخلقو دا دې چې هغه

شر محض دي نو په تصور او خیال کښې ئې اقبح صورت راسخ دي نو دا تشبیه بالمتخیل ده (روح. ابن کثیر) یا ﴿ٱلشَّيَٰطِينِ﴾نه مراد ماران دي یعني د مارانو د سرونو په شان غونچې به ئې وي

﴿فَإِنَّهُمْ لَآكِلُونَ مِنْهَا﴾د شدت جوع په وجه به ئې پخپله خوری بابه ورله فرښتې په زوره ورکوي. ﴿ثُمَّ إِنَّ لَهُمْ عَلَيْهَا لَشَوْبًا مِّنْ حَمِيمٍ﴾یعني چې د زقوم نه خیټې ډکې کړي نو ګکي به شي او به به اوغواړي نو د وینو زوو سره مخلوطې ایشیدلې اوبه به ورباندې څکولې شي چې د هغې په وجه به ئې کولمې او شلیږي، کقوله تعالی: فقطّع امعاءهم(محمد: ۱۵)

﴿ثُمَّ إِنَّ مَرْجِعَهُمْ﴾یعني د زقوم خوړلو او حمیم څکلو نه ورستو به جهنم ته واپس کولې کیږي، د دینه معلومه شوه چې د حمیم څکلو په وخت کښې به دوئ په جحیم کښې نه وي. او حمیم د ابو څکلو او خوراک ورکولو جدا طبقه ده، نو دوئ به د اوبو څکلو د پاره هلته راوستلې کیږي لکه خناورچې ورشو او ګودر ته راوستلې کیږي(کبیر) کقوله تعالی: یطوفون بینها وبین حمیم آنٍ(رحمن)

﴿إِنَّهُمْ أَلْفَوْا ءَابَآءَهُمْ ضَآلِّينَ﴾ دا تعلیل دې د ما قبل عذاب، یعني دې اهلِ مکو د خپلو ګمراهانو آباؤ د نقش قدم پیروي اوکړه، سره د دینه چې دوئ ته د هغوئ د ګمراهئ علم وؤ، نو او س ئې انجام ته اوګورئ.

وَلَقَدْ نَادَىٰنَا نُوحٌ فَلَنِعْمَ ٱلْمُجِيبُونَ ۞ وَنَجَّيْنَٰهُ وَأَهْلَهُۥ مِنَ ٱلْكَرْبِ ٱلْعَظِيمِ ۞
او په تحقیق سره اواز کړیو وو مونږ ته نوح ﷺ نو ښه جواب ورکونکي وو مونږ. او نجات ورکړو مونږ ده ته او اهل د ده ته د غم لوئ نه.
وَجَعَلْنَا ذُرِّيَّتَهُۥ هُمُ ٱلْبَاقِينَ ۞ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِى ٱلْءَاخِرِينَ ۞
او او ګرځول مونږ او لاد د ده هم دوئ باقي پاتې کیدونکي. او پریښودلې وه مونږ په ده باندې ثناء حسن په روستنو خلقو کښې
سَلَٰمٌ عَلَىٰ نُوحٍ فِى ٱلْعَٰلَمِينَ ۞ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُحْسِنِينَ ۞ إِنَّهُۥ
هغه دا چې سلام دې په نوح ﷺ په عالمونو کښې. بیشکه مونږ د غه شان بدله ورکوو نیکي کونکو ته. بیشکه دې وؤ
مِنْ عِبَادِنَا ٱلْمُؤْمِنِينَ ۞ ثُمَّ أَغْرَقْنَا ٱلْءَاخَرِينَ ۞
د بندګانو زمونږ مؤمنانو نه ، بیا غرق کړل مونږ نور خلق .

﴿وَلَقَدْ نَادَىٰنَا نُوحٌ﴾ دا په اووه (۷) قصو کښي اوله قصه دنوح عليه السلام ده چي هغه په وخت د
تکليف کښ مونږته فرياد کړيدې، نو دا په دې دلالت کوي چي انبياء عليهم السلام هم د الله تعالى په دربار
کښ شفيع غالب نشي کيدلې، مراد (نداء) نه امداد طلب کول او عاجزي ده. کقوله تعالى رب اني مغلوب
فانتصر. يا ورنه مراد هغه بد دعاګاني دي چې په سورة نوح کښ مذکورې دي

﴿وَنَجَّيْنَٰهُ وَأَهْلَهُۥ﴾ دَاهل نه مراد اهلِ دين دي، يعني کومو کسانو چي ورباندې ايمان راوړې
وؤچي په هغې کښ شپږ يا اته (۸) کسان دَده دَاهل نه وؤ او (۷۲) کسان دَده دَقوم نه وؤ نو نجات
موندونکي کسان دوه کم اتيا او يا (۸۰) وؤ. ﴿مِنَ ٱلْكَرْبِ ٱلْعَظِيمِ﴾ مراد ورنه غرقيدل دي. يعني
دَغرقيدلو نه موبچ کړل يا ورنه دَقوم تکليفونه مراددي،

﴿وَجَعَلْنَا ذُرِّيَّتَهُۥ هُمُ ٱلْبَاقِينَ﴾ ابن عباس رضي الله عنه وغيره فرمائي چي کله سيلاب ختم شو او نوح عليه السلام
دَبيړئ نه راووتلو نو دَده دَاولادنه ماسوئ ټول خلق وفات شول نو په دې وجه مفسرين وائي چي
دَټولې دنيانسل دَنوح عليه السلام دَدرې ځامنو، حام، سام، يافث نه خورشويدې، دَحام په اولاد کښ
حبش وغيره دي او دَسام په اولاد کښ اهل عرب، فارس وغيره دي، دَيافث په اولاد کښ ترک
ياجوج ماجوج وغيره دي، او دَدې وجي نه نوح عليه السلام ته ادم ثاني وئيلې کيږي.

﴿وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ﴾ ترکنا پمعنیٰ دَ(ابقينا) دې ﴿فِى ٱلْءَاخِرِينَ﴾ نه مراد ترقيامته پورې امتونه دي، مفعول
دَ﴿وَتَرَكْنَا﴾ يا "ثناءً حسناً" دې، چي محذوف دې، نو دا مستقل جمله ده. او ﴿سَلَٰمٌ عَلَىٰ نُوحٍ﴾ مستقل
جمله دعائيه ده يا ﴿سَلَٰمٌ عَلَىٰ نُوحٍ﴾ مفعول دې دَ﴿وَتَرَكْنَا﴾ دپاره په اعتبار دَمضمون، نو مطلب
دادې چي ترقيامته به نوح عليه السلام باندې خلق سلام وائي.

﴿إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُحْسِنِينَ﴾ ذلك کښ اشاره مذکورو انعاماتو ته ده، يعني لکه څنګه موچي
دَنوح عليه السلام دعاقبوله کړه، ذريت موورله باقي اوګرځوؤ، ذکرِ خير مو ورلره باقي او ساتلو نو دغه
شان مونږه هرمحسن سره معامله کوؤ.

وَإِنَّ مِن شِيعَتِهِۦ لَإِبْرَٰهِيمَ ۝ إِذْ جَآءَ رَبَّهُۥ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ ۝ إِذْ قَالَ

او بيشکه دَاتباع دَده نه خامخا ابراهيم دې، کله چي راغې دې رب خپل ته په زړه روغ سره (دشرک نه)، کله چي او ويل ده

لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖ مَاذَا تَعْبُدُوْنَ ﴿٨٥﴾ اَىِٕفْكًا اٰلِهَةً دُوْنَ اللّٰهِ تُرِيْدُوْنَ ﴿٨٦﴾

خپل پلار ته او قوم خپل ته د څه عبادت کوئ تاسو، آیا په دروغه د داسې آلهۆ چه ماسوا د الله نه دي تاسو اراده کوئ.

فَمَا ظَنُّكُمْ بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٨٧﴾ فَنَظَرَ نَظْرَةً فِى النُّجُوْمِ ﴿٨٨﴾ فَقَالَ اِنِّىْ سَقِيْمٌ ﴿٨٩﴾

نو څه دي ګمان ستاسو په رب العالمین باندې، نو اوکتل کړو یو نظر په ستورو کښې، نو اوئې ویل چې بیشکه زه ناجوړه یم.

فَتَوَلَّوْا عَنْهُ مُدْبِرِيْنَ ﴿٩٠﴾ فَرَاغَ اِلٰٓى اٰلِهَتِهِمْ فَقَالَ اَلَا تَاْكُلُوْنَ ﴿٩١﴾

نو واپس شول هغوئ دده نه شاکونکي، نو په پټه راغې معبودانو د دوئ ته نو اوئې ویل ورته تاسو ولې نه خورئ.

مَا لَكُمْ لَا تَنْطِقُوْنَ ﴿٩٢﴾ فَرَاغَ عَلَيْهِمْ ضَرْبًا بِالْيَمِيْنِ ﴿٩٣﴾

څه چل دي تاسو له چې خبرې نه کوئ نو رااوګرځیدو هغه بتانو ته (او) اوئې وهل په ښي لاس ډیر کلک.

﴿وَاِنَّ مِنْ شِيْعَتِهٖ لَاِبْرٰهِيْمَ﴾ دا دویمه قصه ده چې ابراهیم علیه السلام باندې سخت تکلیف راغې نو د تکلیف په وخت ئې زمونږ نه د نجات سوال اوکړو، نو دینه هم معلومیږي چې انبیاء کرام شفیع قهري ندي، په "شیعته" کښې ضمیر نوح علیه السلام ته راجع دي د ﴿شِيْعَتِهٖ﴾ نه مراد نسله واتباعه دي یعنې دده نسل نه وو او ده په شان پیغمبرو او په اصولُ دَدِین کښې ئې اتباع کونکي وو.

﴿اِذْ جَآءَ رَبَّهٗ﴾ راتلو نه مراد الله تعالیٰ ته رجوع کول او زړه الله تعالیٰ ته خالص کول دي، معناه: انّه اخلص لله قلبه (کشاف) ﴿بِقَلْبٍ سَلِيْمٍ﴾ یعنې روغ او محفوظ وو د هر فساد نه، د عقیدې فساد نه، د اتباع هوی نه، او د حسد او عناد نه.

﴿اِذْ قَالَ لِاَبِيْهِ﴾ بدل دي د ﴿اِذْ جَآءَ﴾ نه. ﴿مَاذَا تَعْبُدُوْنَ﴾ استفهام توبیخي دي، یعنې په عبادت د غیر الله ورته توبیخ کوي. ﴿اَىِٕفْكًا﴾ افک سخت دروغو ته وائي دا یا مفعول له دي، مقدم د ﴿تُرِيْدُوْنَ﴾ یا ئې مفعول به دي، او ﴿ءَالِهَةً﴾ ورنه بدل دي یعنې آیا د باطل یعنې معبودان من دون الله لره غوښتونکي یئ.

﴿فما ظَنُّكُم بِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ﴾ ستاسو درب العالمين په باره کښې څه ګمان دې؟ يعني باوجود د دينه چه چې هغه ستاسو د ټولو عالمونو پروردګار دې، آياتاسو نه دهغه په ربوبيت کښې شک دې؟ آياتاسو دهغه عذاب او انتقام نه مطمئن او په امن کښې يئ؟ باهغه به ستاسو نه په شرک راضي شي، آخر څه وجه ده چې صرف دهغه عبادت نه کوئ.

﴿فَنَظَرَ نَظْرَةً فِى ٱلنُّجُومِ﴾ ديکښې دهغې واقعې ذکر دې چې دقوم ميلې ورځ وه، ټول روان وو نو ابراهيم ﷺ ته ئې دَ شرکت دعوت ورکړو چې مونږ سره لاړ شه خو ابراهيم ﷺ ورته د بيمارئ بهانه اوکړه او ورسره نه لاړو. او ﴿فَنَظَرَ نَظْرَةً﴾ (۱) محاوره ده په معنی دفکر کولو او سوچ سره، څکه چې انسان په وخت دَفکر کښې بې اختياره او اتفاقا اسمان طرف ته ګوري. نو مشرکانو چې کله ابراهيم ﷺ دعوت ورکړو چې زمونږ سره ميلې ته لاړ شه نو ده سوچ اوکړو او اتفاقاً ئې نجومو ته نظر اوکړو چې دَدوئ نه څنګه پاتې شم، نو جواب ئې ورکړو چې څه بيماريم، نشم تلې (۲) تهانوي رحمه الله او نورو مفسرينو ليکلي دي چې دَابراهيم ﷺ ستوروباندې په نظر کولو کښې يو خاص مصلحت او حکمت وؤ، هغه داچې علم نجوم به دَ حضرت ابراهيم ﷺ په زمانه کښې استعماليدلو خلقو به دَخپلو کارونو تعين په نجومو سره کولو نو حضرت ابراهيم ﷺ هم بطور توريه او ايهام په ستوروباندې نظر اوکړو، چې خلق دا ګمان اوکړي چې ده دَستورو په حساب سره مونږ ته جواب راکړيدې، نو يقين به ئې راشي، اګرچه حضرت ابراهيم ﷺ بذات خود دَ علم نجوم قائل نه وؤ، صرف دَهغوئ نه دَخلاصيدلو دپاره ئې دا طريقه اختيار کړه، نو دا "توريه بالفعل" ده چې عمل نه دې خلق ظاهری مطلب اخلی او مقصود ترينه ستابل څه وی.

﴿فَقَالَ إِنِّى سَقِيمٌ﴾ او دا "توريه بالقول" ده چې خبرې نه دې خلق يو مطلب واخلی او ستاترينه غير ظاهری مطلب مراد وی، دَ﴿سَقِيم﴾ دوه معنې دي: (۱) سقيم النفس، يعني بې زاره کيدل او طبعيت باندې بوج راتلل، يعني ستاسو دکفر او شرک پوجه ځماپه طبعيت باندې بوج دې (۲) مريض اوبيمار، نو دَابراهيم ﷺ مراداوله معنی وه، او مشرکانو ورنه دويمه معنیٰ مرادواغسته. او ديته توريه وئيلې کيږي، په حديث کښې چې "ثلاث کذبات" راغلي دي نو هلته هم ورنه درې توريې مراددي، بعض وائی ﴿إِنِّى سَقِيمٌ﴾ نه مراددَابراهيم ﷺ سقم مآلاً وو او قوم ترينه مراد سقم حالاً واغستو. يعني په مستقبل کښې بيمار کيدونکې يم، او داحقيقت دې څکه چې هر انسان

د مخا بیماریږي، کم ازکم مرض الموت خو یقیني دي.نو قوم کمان اوکړو چې دي او س بیمار دي مونږ سره نشي تللې. ﴿فَتَوَلَّوۡا۟ عَنۡهُ﴾ یعنی قوم ئې عذر قبول کړو او دې ئې پریخودو او لاړنو ترینه

﴿فَرَاغَ﴾راغ،یروغ پټ والی معنی ورکوی ،اوکله چې صله کښې "الی" راشی تو بیا د "ذهاب" د تللو معنی ته متضمن شی ،یعنی پټه تللو معنی ورکوی.اوکله چې صله کښې "علی" راشی او یا "ضرب" ماده راشی نو بیا دمتوجه کیدلو معنی ورکوی نو فراغ الی الهتهم معنی دا شوه چې کله قوم ترینه لاړو ،نو دې پټه پټه بتانو ته راغې

﴿فَقَالَ أَلَا تَأۡكُلُونَ﴾ مشرکانو به دبتانو مخې ته دتبرک لپاره خوراکونه ایخې وو،نو دائی ورته په طور استهزاء اووئیل.

﴿فَرَاغَ عَلَیۡهِمۡ ضَرۡبَۢا﴾دلته راغ په معنی د اقبل او متوجه کیدلو سره دې،یعنی بیا ورته راوګرځیدو اوخه مضبوط وارونه ئی پرې اوکړو،او مات ئی کړل."ضربا"مفعول مطلق دې د "یضرب"فعل مقدر دپاره،او پوره جمله بیاحال واقع کیږی د"راغ"فعل دپاره. ﴿بِٱلۡیَمِینِ﴾یاورنه خې لاس مراددې نوکنایه ده دقوة نه ځکه چې په خې لاس سره وهل سخت وي،یاورنه مراد هغه قسم پوره کول دي چې وئیلې وو ،تالله لاکیدنّ اصنامکم(الانبیاء:۵۷).او باسببیه ده أي بسبب الحلف

فَأَقۡبَلُوٓا۟ إِلَیۡهِ یَزِفُّونَ ۝ قَالَ أَتَعۡبُدُونَ مَا تَنۡحِتُونَ ۝ وَٱللَّهُ
نو راغلل مشرکان ابراهیم ته په منډه منډه .اوویل ده آیاعبادت کوئ تاسو د هغه چې تاسوئی توګئ،حال داچه الله
خَلَقَكُمۡ وَمَا تَعۡمَلُونَ ۝ قَالُوا۟ ٱبۡنُوا۟ لَهُۥ بُنۡیَٰنࣰا فَأَلۡقُوهُ فِی ٱلۡجَحِیمِ ۝
پیدا کړي یئ تاسو او هغه چې تاسوئی کوئ،اووئیل هغوئ چې جوړ کړئ ددپاره یو عمارت بیا او غورځوئ دې په ګرم اور کښې
فَأَرَادُوا۟ بِهِۦ كَیۡدࣰا فَجَعَلۡنَٰهُمُ ٱلۡأَسۡفَلِینَ ۝ وَقَالَ إِنِّی ذَاهِبٌ إِلَىٰ رَبِّی
نو اراده وکړه دوئ دهغه سره دمکرنو وګرځول مونږ دوئ ذلیله اوویل ابراهیم بیشکه څه تلونکې یم،رب خپل ته

سَيَهْدِيْنِ ۞ رَبِّ هَبْ لِيْ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ۞ فَبَشَّرْنٰهُ بِغُلٰمٍ حَلِيْمٍ ۞

ضرور به هغه لار اوښائي ماته، او دعا ئي اوکړه اې ربه خمار اکړه ماته اولاد د نيکانو نه. نو زيري ورکړو مونږ هغه ته د هلك صبرناك

﴿فَأَقْبَلُوٓا إِلَيْهِ يَزِفُّونَ﴾ اى يسرعون، دَزفيف نه مشتق دې. تيزتللو ته وائى. يعني چې کله مشرکان دَخپلې ميلې نه راواپس شول او اوئې ليدل چې معبودان ئې کنډې کپرپراته دي نو په هغه شول چې داکار ابراهيم ﷺ کړيدې، نو فوراً په ابراهيم ﷺ پسې په منډه راغلل. اوئې نيولو راې وستلو، اوخپل بتانو باره کښې ترينه تپوس اوکړو. ابراهيم ﷺ او قوم تفصيلي خبرې ترې اوشوې چې سورت الانبياء کښې دهغې تفصيل تيرذي. هغې نه بعد ابراهيم ﷺ ورته به طورتوبيخ اووئيل چې آيا تاسو هغه څيزونه خپل معبودان ګرځولي دي چې پخپلو لاسونو ئې جوړه وئ حالانکه خالق الله ﷻ دې،

﴿وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ﴾ جمله حاليه ده دَضمير دَ تعبدون نه ما يا مصدريه ده. اى والله خلقكم وعملكم، يعني ستاسو او ستاسو دَعملونو خالق الله پاك دې. اهل السنة والجماعة ددې آيت نه استدلال کوي چې خالق دَعبادو اودَاعمالو دَعبادو الله ﷻ دې. يا ما موصوله دې پمعنیٰ دَ (الذي) اى خلقكم وخلق الذين تعملونه، يعني الله ﷻ ستاسو هم خالق دې اودَهغې هم خالق دې چې تاسوئې جوړه وئ چې بتان دي.

﴿قَالُوا ابْنُوْا لَهٗ بُنْيَانًا﴾ يعني يو عمارت جوړ کړئ او اور پکښې بل کړئ. او بيا اورته ئې اوغورځوئ، چنانچه اورئ بل کړو ابراهيم ﷺ ئ پکښې اوغورځولو ليکن الله ﷻ دوئ ذليله کړل او ابراهيم ﷺ ته ئې سلامتي ورکړه، روايات کښې دي چې کله ئې غورځولو نو ابراهيم ﷺ دا کلمات وئيل، حسبنا الله ونعم الوكيل.

﴿وَقَالَ إِنِّيْ ذَاهِبٌ﴾ دا په ابراهيم ﷺ باندې دويم تکليف او ازمائش وؤ چې خپلې علاقې نه اوويستلې شو او الله ﷻ ورته بيت المقدس اوشام طرف ته دَهجرت حکم اوکړو، دَ (ذهاب) نه مراد دَاکثرو په نيز هجرت کول دي، ﴿إِلٰى رَبِّيْ﴾ الى يا پمعنیٰ دَ "لام" دې، يعني د پاره دَرضادَرب هجرت کوم يا پخپله معنیٰ کښې دې خو مطلب دادې چې هغه ځائ ته هجرت کوم چې امر کوې خمارب ماته، چنانچه دَحکم الهي موافق ابراهيم ﷺ دَمصر په لارې شام ته روان شو، ورسره خپله بي بي ساره ﷺ وه اووراره حضرت لوط ﷺ هم وؤ، په لاره کښې شرق اردن په علاقې کښې

بحرمیت اوسدوم علاقي ته چې اورسیدل نولوط ﷺ ته نبوت ملاؤ شو ... کښې پاتې شو، ابراهیم ﷺ او ساره ﷺ مخکښې روان شول ... مصروا قعه اوشوه. دَمصر بادشاه حضرت ساره ﷺ ته بوه وینزه ورکړه چې دهغې ... وۀ، هغې داوینزه ابراهیم ﷺ ته ورکړه. ابراهیم ﷺ ورسره نکاح وکړه. دابراهیم ﷺ اولاد نه وۀنو دعائې اوکړه ﴿رَبِّ هَبۡ لِي مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ﴾ ای ولداصالحامن الصالحین. الله ﷻ ئې دعا قبوله کړه دَحضرت هاجرې ﷺ دَبطن نه ئې ورته بچې ورکړو

﴿فَبَشَّرۡنَٰهُ بِغُلَٰمٍ حَلِيمٖ﴾ یعني حلیم الطبع اودصبرخاوند. نوم ئې اسماعیل کیخودلې شو. د اسماعیل ﷺ معنیٰ ده، واؤریدل الله ﷻ. ددوؤلفظونو نه جوړدې (سمع) او (ایل) یعني الله ﷻ دابراهیم ﷺ دعاواؤریدله

﴿فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ ٱلسَّعۡيَ قَالَ يَٰبُنَيَّ إِنِّيٓ أَرَىٰ فِي ٱلۡمَنَامِ أَنِّيٓ﴾

پس هرکله چې اورسیدلو داهلک دَ ابراهیم ﷺ سره عمر دَکارکولو نه، نواوېل ده اې خما بچویه ستکه زۀ وینم په خوب کښې داچې

﴿أَذۡبَحُكَ فَٱنظُرۡ مَاذَا تَرَىٰۚ قَالَ يَٰٓأَبَتِ ٱفۡعَلۡ مَا تُؤۡمَرُۖ﴾

خۀ ذبح کومه تا، نوته سوچ وکړه چې ستاڅه رائی ده، اوېل (اسماعیل) ای پلاره خما اوکړه هغه چې حکم ئې کیږي تاته.

﴿سَتَجِدُنِيٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلصَّٰبِرِينَ ۝﴾

زرده چې اوبه مومي ته ما لره که دَالله خوښه وی د صبر کونکو نه

﴿فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ ٱلسَّعۡيَ﴾ داپه ابراهیم ﷺ دریم امتحان دې چې دَخپل خوږ اسماعیل ﷺ دَالله ﷻ په لاره کښې قرباني کول دي، دَ﴿ٱلسَّعۡيَ﴾ نه مراد هغه عمرته رسیدل دي چې دَخپل پلارسره په حوائجو کښې مدد کولیشي، بعض وائي چې پدغه وخت کښې دَاسماعیل ﷺ عمردیارلس کاله وۀچې دې عمرکښې بچې پلارته ډیرمحبوب وي. ، بعض وائي چې سعی نه مراد منډې وهلو عمر دې، ﴿قَالَ يَٰبُنَيَّ إِنِّيٓ أَرَىٰ فِي ٱلۡمَنَامِ﴾ دلته دو احتماله دی : (۱) یوداچې خوب کښې ئې بعینه دخوی ذبح کول نه وی لیدلی بلکه بل څه ئې لیدلی وی خو دهغې تعبیر داوو چې بچې ذبح کړه، (۲) او دویم احتمال دادې چې خوب کښې بعینه دَبچې ذبح کول لیدلی وی لکه بعض روایاتو کښې دي چې ابراهیم ﷺ په لیلة الترویه یعني (۸) ذي الحجه شپې خوب

اوليدلوچې يو سرې ورته وائي(انّ الله يـامرك بـذبح ابـنـك)يعني الله ﷻ تاته دخپل بچي دذبح كولوامركوي،چې سهارشونودده په زړه كښې شك وؤ چې آيا دالله ﷻ طرفه دې اوكه دشيطان،پدې وجه (٨)ذي الحجه ته يوم الترويه يعني دشك والاورځ وائي.په دويمه شپه ئې بيادغه شان خوب اوليدلونودده يقين راغې چې داخوب دالله ﷻ دطرفه دې.پدې وجه(٩)ذي الحجه ته يوم العرفه وائي.په دريمه شپه ئې بيادغه شان خوب اوليدلونودنحريعني ذبح كولواراده ئې اوكړه نوپدې وجه ورته يوم النحروائي.

﴿فَانظُرْ مَاذَا تَرَىٰ﴾درائ نه ماخوذدې،يعني دې خوب باره كښې ستاخه رائ اومشوره ده،مقصوددابراهيم ﷺ داسماعيل ﷺ جذبات اودهغه صبرمعلومول وؤ.دالله ﷻ په حكم كښې ئې شك اوترددلپاره ورنه مشوره نه اغستله.

﴿قَالَ يَا أَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ﴾په اصل كښې ماتؤمربه دې جارمجرورمعاحذف شويدي.يعني څما دذبح كولوامرچې درته شوې دې نوهغه پوره كړه او اِفعَل صيغه راوړلو كښې ترغيب دې حكم پوراكولو ته،يعنى خه رضا يمه اوته دالله ﷻ حكم زرزر تعميل اوكړه.﴿سَتَجِدُنِي إِن شَاءَ اللَّهُ مِنَ الصَّابِرِينَ﴾يعني په حكم دذبح اونوروراحكاماتوباندې به صبركونكې يم.﴿مِنَ الصَّابِرِينَ﴾ په ځائ ئې(صابراً)اونه وئيل،دپاره داظهاردتواضع اوعاجزئ.

فَلَمَّا أَسْلَمَا وَتَلَّهُ لِلْجَبِينِ ﴿١٠٣﴾ وَنَادَيْنَاهُ أَن يَا إِبْرَاهِيمُ ﴿١٠٤﴾
پس كله چې دواړه تابع شواوراخملونې اسماعيل په خنګ(دده)،نو(دحكم تعميل اوشو)،اواوازوكړومونږه ده ته چې اې ابراهيم،
قَدْ صَدَّقْتَ الرُّؤْيَا ۚ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿١٠٥﴾ إِنَّ هَٰذَا
په تحقيق چې رشتياكړوتاخوب، بيشكه مونږه دغه شان بدله وركوونيكي كونكوته،بيشكه دا(امتحان
لَهُوَ الْبَلَاءُ الْمُبِينُ ﴿١٠٦﴾ وَفَدَيْنَاهُ بِذِبْحٍ عَظِيمٍ ﴿١٠٧﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ
هم دا(امتحان وؤ ښكاره،او مونږ په بدله كښې وركړه د اسماعيل عليه السلام لويه ذبيحه،اوپريښودلې وه مونږپه ده باندې ثناء حسن
فِي الْآخِرِينَ ﴿١٠٨﴾ سَلَامٌ عَلَىٰ إِبْرَاهِيمَ ﴿١٠٩﴾ كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿١١٠﴾
په ورستنوخلقوكښې(هغه داچې)سلام دې په ابراهيم باندې،دغه شان بدله وركوومونږه نيكي كونكوته

نه	مؤمنانو	زمونږ	دبندګانو	وږدي	شکه	بې
⑪	الْمُؤْمِنِيْنَ		عِبَادِنَا	مِنْ		اِنَّهٗ

﴿فَلَمَّآ أَسْلَمَا﴾ای استسلما، یعني دواړه د الله ﷻ د حکم منقاد شول. دیکښ د استسلام بالقلب ذکر دي. ﴿وَتَلَّهٗ لِلْجَبِيْنِ﴾ دیکښ د استسلام بالجوارح ذکر دي یعنی عملا ئی هم دحکم تعمیل تیاریانې شروع کړې، "التل" په زمکې باندې راویشتلو او غورځولو ته وائی ﴿للجبین﴾ دتندي طرف ته وائی، تندي مینځنئ حصې ته جبهة وائی دَدې وجه نه حکیم الامت رحمه الله ددې ترجمه په "کروٹ پر لٹانا" سره کړیده یعني لکه څرنګه چې دَذبح کولو دپاره خلق څاروي سملوي نو دغه شان ئی اسماعیل علیه السلام سملولو، فَلَمَّا دپاره شرط دې او ﴿وَنَادَيْنٰهُ أَنْ يّٰٓاِبْرٰهِيْمُ﴾ ئی جواب دې. البته په جواب شرط باندې "واؤ" حرف عطف داخلیدل قابل اشکال دي، دې وجهی نه بعضو مفسرینو وئیلي دي چې "وَنَادَيْنٰهُ" جواب شرط نه دې بلکه جدا جمله ده. او جواب شرط محذوف دی چې هغه "قبلنا منه" دي او څنې مفسرینو لکلی دی چې "وَنَادَيْنٰهُ" جواب شرط دې خو واؤ دلته زائد دي، راجحه خبره داده چې "وَنَادَيْنٰهُ" جواب شرط دې بلحاظ معطوف علیه محذوف او "واؤ" زائد نه دې، تقدیر دعبارت به داسی شی، فلما اسلما...تحقق تنفیذ امر الله ونادیناه یعنی کله چې دوئ زړه سره هم الله ﷻ حکم اومنلو او عملا ئی هم پوره کولو تیارئ شروع کړې نو بس د الله ﷻ حکم تعمیل اوشو اوندا ورته اوکړه "ان" مفسره دې پمعنی د "اي"

﴿قَدْ صَدَّقْتَ الرُّءْيَا﴾ یعني تاخپل خوب ریشتنې کړو، دَریشتني کولو نه مراد سم عزم کول او تیاري کول دي،

فائده: آیا ابراهیم علیه السلام د اسماعیل علیه السلام په مرئ چاړه تیره کړي وه او کنه؟ نو دې کښ دوه قوله دي اکثر وائی چې نه ئی وه تیره کړي، لکه ابن عباس رضی الله عنه مجاهد رحمه الله وغیره نه منقول دي چې کله ابراهیم علیه السلام دَذبح اراده اوکړه چاړه ئی راواخسته نو آواز ورته اوشو چې ﴿قَدْ صَدَّقْتَ﴾ نو لاس ئی ورستو کړو سرئی اوچت کړو نو ګډئی اولیدلو چې ده طرف ته راکوزیدلو نو ذبح ئی کړو، بعض وائی چې چاړه ئی ورباندې تیره کړې وه لیکن کارئ اونکړو (روح المعاني).

﴿إِنَّ هَٰذَا﴾ يعني داحكم دَذبح دَولد دَالله ﷻ دَطرفه يو لوئ امتحان وو. ﴿وَفَدَيْنَٰهُ بِذِبْحٍ﴾ يعني حيوان چې دَده په بدل كښې ذبح شو ﴿عَظِيمٍ﴾مرادورنه عظيم القدر دي. يعني لوئ قدروالاوو، ځكه چې دَالله ﷻ دَطرفه دَجنت نه راليږلې شوې وو. اوپه قبوليت كښې ئې شك نه وو، بعض وائي چې دَ﴿عَظِيمٍ﴾نه مرادعظيم الجثه دې، يعني غټ جسم والاوو. ابن عباس رضي الله عنه وائي چې داهغه ګډووچې دآدم عليه السلام ځوي هابيل ورنه قرباني كړې وه اودې دهغه وخت نه تراوسه پورې په جنت كښې څريدلو حتّٰى چې ابراهيم عليه السلام ته دَاسماعيل عليه السلام په بدله كښې وركړې شو.

وَبَشَّرْنَٰهُ	بِإِسْحَٰقَ	نَبِيًّا	مِّنَ	الصَّٰلِحِينَ ۝	وَبَٰرَكْنَا	عَلَيْهِ
اوزيرې وركړومونږ ابراهيم ته د اسحٰق چې نبي به وي، دَنيكانونه به وي.اوبركت اچولې ووَمونږيده باندې						
وَعَلَىٰٓ إِسْحَٰقَ	وَمِن	ذُرِّيَّتِهِمَا	مُحْسِنٌ	وَظَالِمٌ	لِّنَفْسِهِۦ	مُبِينٌ ۝
اوپه اسحٰق عليه السلام باندې،اوپه اولاددَدوكښې بعض نيكوكاروؤاوبعض ظلم كونكي وؤپه خپل ځان باندې ښكاره						

﴿وَبَشَّرْنَٰهُ بِإِسْحَٰقَ نَبِيًّا﴾دیکښې په ابراهيم عليه السلام باندې دَانعاماتو ذكر دې اودا آيت درې خوشخبريانوته متضمن دې،يوداسحاق عليه السلام خوشخبرى،بل دهغه نيک كيدلو خوشخبرى اوبل دهغه نبى كيدلوخوشخبرى چې الله ﷻ به ورله نبوت وركوى.﴿نَبِيًّا﴾او﴿مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ﴾ دواړه حال مقدره دى،د﴿اسحٰق﴾نه، نبوت مقدم كړې شو په صلاح باندې،حالانكه اول صلاح وى بيا نبوت وى، يوخو دَدې وجهې نه چې دَ فواصلو رعايت راشى او بل انتهاء د آيت كښې راوړلو كښې په دې تنبيه ده چې دې تولو فضيلتونو منتهى او غايت صلاح او نيک جوړيدل دي.

﴿وَبَٰرَكْنَا عَلَيْهِ وَعَلَىٰٓ إِسْحَٰقَ﴾بركت نه مراد دنيوى اخروى دواړه بركات دى يعني دَدنيوي اخروي بركات موورباندې نازل كړل،چې اولادموورته زيات كړواودَدوئ په اولادكښې موډيررسولان اوانبياء جوړكړل،دَحضورﷺ پورې تمام انبياء دَبني اسرائيلويعني دَاسحاق عليه السلام او يعقوب عليه السلام دَنسل نه وؤاوحضورﷺ دَ اسماعيل عليه السلام دَ نسب نه وؤ. ﴿وَمِن ذُرِّيَّتِهِمَا مُحْسِنٌ﴾ يعني په عمل كښې ياپخپل ځان احسان كونكى وؤپه ايمان اوطاعة سره، ﴿وَظَالِمٌ لِّنَفْسِهِۦ﴾ يعني په

كفرا ومعاصيؤسره، پخپل ځان ښکاره ظلم کونکي وؤ. صاحب د روح المعاني وائي وفي ذلك تنبيهٌ على ان النسب لااثرله فى الهدىٰ والضلال.

فائده: د مفسرينو اختلاف دې چې ذبيح څوک وؤ. اسحاق عليه السلام وؤکه اسماعيل عليه السلام. نوبعضِ مفسرينو لکه ابن جرير وغيره ديته ترجيح ورکړيده چې اسحاق عليه السلام وؤ. ليکن ابن کثير رحمه الله وغيره ترجيح ديته ورکړيده چې اسماعيل عليه السلام وؤ. او هم داقول اصح دې. او د جمهورمفسرينو او محدثينو مذهب دې، ابن کثير رحمه الله وائي چې اسحاق عليه السلام ته ذبيح وئيل ديهودو افتراء اوتحريف دې ځکه چې يهود د اسحاق عليه السلام د نسل نه دي. د دې آياتونو اونورو آياتونونه هم دامعلوميږي چې ذبيح اسماعيل عليه السلام دې ځکه چې:

(۱) د ذبح قصې ختميدلو نه ورستو د حضرت اسحاق عليه السلام بشارت جدا ورکړې شوې دې، چې ﴿وَبَشَّرۡنَٰهُ بِإِسۡحَٰقَ نَبِيّٗا﴾ معلومه شوه چې ﴿فَبَشَّرۡنَٰهُ بِغُلَٰمٍ حَلِيمٖ﴾ کښې د اسحاق عليه السلام نه علاوه د بل غلام (هلك) زيرې ورکړې شويدې.

(۲) د اسحاق عليه السلام او د يعقوب عليه السلام دواړو بشارت الله تعالىٰ په يوځائې ورکړې وؤ لکه سورت هود کښې دى فبشرناه باسحاق ومن وراء اسحاق يعقوب[هود : ۷۱]يعنى د ځوې بشارت موهم ورکړو او د نوسى هم، نودې مطلب داشو چې دې اسحاق عليه السلام به ژوندې پاتې کيږي اودومره عمرته به رسى چې واده به کوى اوکم ازکم يوبچې به ئې پيدا کيږي نو اوس که ذبحې حکم هم د اسحاق عليه السلام په باره کښې شوې وى نوصريح تضاد به راشى. ځکه چې يوطرف ته ورته د طول عمر بشارت ورکولې کيږي اوبل طرف ته عين ماشوم والى کښې د ذبح کولو حکم کيږي، نو ياخو امتحان امتحان پاتې نه شو، اويابشارت بشارت نه شو.

(۳) قرآن مجيد کښې الله تعالىٰ د اسماعيل عليه السلام صفت په صبرناك سره ذکرکړيدې سورة الانبياء (۸۵) کښې دى، واسماعيل وادريس وذا الكفل كلٌّ من الصّابرين، په سورة مريم (۵۴) کښې ورته صادق الوعدوئيلې شويدې، نود خپل قول چې ﴿سَتَجِدُنِيٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلصَّٰبِرِينَ﴾ تصديق ئې پخپل فعل سره اوکړو

(۴) بله داچې واقعه د ذبح د مکې په علاقې منىٰ کښې شويده ، دغه شان ښکرې د ګډه په خانه کعبه پورې زوړندې وې اوهلته صرف اسماعيل عليه السلام وؤ

(۵) دغه شان په یو روایت کښ دي چې یو اعرابي حضور ﷺ ته یا ابن الذبیحین او وئیل حضور ﷺ تبسم او کړو، مراد ئې ورنه عبد الله بن عبد المطلب وو. او اسماعیل علیه السلام (روح المعاني. تفسیر کبیر وغیره).

وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلٰى مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ﴿۱۱۴﴾ وَنَجَّيْنٰهُمَا وَقَوْمَهُمَا مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ ﴿۱۱۵﴾
او خامخا په تحقیق سره مونږه احسان کړې وو په موسى علیه السلام او په هارون علیه السلام باندې او نجات ورکړو مونږ دوئ ته او قوم ددوئ ته
وَنَصَرْنٰهُمْ فَكَانُوْا هُمُ الْغٰلِبِيْنَ ﴿۱۱۶﴾ وَاٰتَيْنٰهُمَا الْكِتٰبَ الْمُسْتَبِيْنَ ﴿۱۱۷﴾
دغم لوئ نه، او مدد او کړو مونږ ددوئ نو شول هم دوئ غالبه. او ورکړې وو مونږ دوئ دواړو ته کتاب ښکاره
وَهَدَيْنٰهُمَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ﴿۱۱۸﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِمَا فِي الْاٰخِرِيْنَ ﴿۱۱۹﴾
او هدایت کړې وو مونږ دوئ ته دلارې سمې، او پریښې وه مونږه پدوئ دواړو باندې ثناء حسن په ورستو خلقو کښې
سَلٰمٌ عَلٰى مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ﴿۱۲۰﴾ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۲۱﴾
هغه داچې سلام وی په موسى علیه السلام او په هارون علیه السلام باندې بیشکه مونږه دغه شان بدله ورکوو نیکي کونکوته.

اِنَّهُمَا	مِنْ	عِبَادِنَا	الْمُؤْمِنِيْنَ	﴿۱۲۲﴾
بیشکه	دوئ	وږدبندګانو	زمونږه	مومنانو نه

﴿وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلٰى مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ﴾ دا دریمه قصه ذکر کیږي ددې لپاره چې انبیاء کرام چې مقربین دي هغوئ په وخت دمصیبت کښ دالله ﷻ محتاج دي، او څوک چې محتاج وي هغه اله نشي کیدلې، او انبیاء کرام چې الهه ندي نو نور مخلوق خو په طریقې اولى سره الهه ندي، نو ثابته شوه چې (انّ الٰهکم لواحدٌ).

﴿وَلَقَدْ مَنَنَّا﴾ داحسان کولو نه مراد نبوت او نور دیني دنیوي منافع ورکول دي، چې داورته زمونږ د طرفه په طور احسان ملاوو. ﴿وَنَجَّيْنٰهُمَا وَقَوْمَهُمَا﴾ داحسان اجمالا ذکر نه بعد اوس د یو څو انعاماتو صراحتا ذکر کیږي. ﴿مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ﴾ دغټ تکلیف نه مراد دفرعون غلامي

او عبادت دي. يا ورته غرق کيدل مراد دي. ﴿وَنَصَرْنَٰهُمْ﴾ دا بل احسان دي. چې زمونږ د نصرت په سبب ورته په فرعونيانو غلبه ميلاؤ شوه.

﴿وَءَاتَيْنَٰهُمَا ٱلْكِتَٰبَ﴾ دا بل احسان دي. چې نبوت او کتاب يعني تورات موورته ورکړو. چې تورات د هر خيز او د هر حکم ښکاره کونکي وؤ. **سوال** کيږي چې تورات ورکړو نسبت موسی او هارون ﷺ دواړو ته او شو حالانکه دا خو صرف موسی ﷺ له ورکړې شوې وؤ. **جواب** ئې دادي چې موسی ﷺ ته د ورکولو نسبت حقيقي دي، ځکه چې تورات په هغه نازل شوي دي. او هارون ﷺ چونکه د موسی ﷺ سره معاون نبي وؤ. نو ځکه ده ته هم د تورات ورکولو نسبت مجازا او شو. ﴿ٱلْمُسْتَبِينَ﴾ بيان نه دي، سين او تاء پکښې د پاره د مبالغې دی يعني د الله ﷻ احکامات پکښې خه وضاحت سره موجود وو ﴿وَهَدَيْنَٰهُمَا﴾ دا بل احسان ذکر دي چې په صراط مستقيم باندې مې قائم او ساتل

وَإِنَّ إِلْيَاسَ لَمِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٢٣﴾ إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٢٤﴾ أَتَدْعُونَ
او بيشکه الياس ﷺ خامخا د رسولانو نه وؤ، کله چې او ويل ده خپل قوم ته آيا نه يريږئ تاسو (د الله تعالی نه)، آيا عبادت کوئ تاسو
بَعْلًا وَتَذَرُونَ أَحْسَنَ ٱلْخَٰلِقِينَ ﴿١٢٥﴾ ٱللَّهَ رَبَّكُمْ وَرَبَّ ءَابَآئِكُمُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٢٦﴾
د بعل بت، او پريږدئ تاسو (عبادت د) ښائسته پيدا کونکي ذات، چې الله ﷻ دي رب ستاسو او رب د پلارانو ستاسو پخوانو ،
فَكَذَّبُوهُ فَإِنَّهُمْ لَمُحْضَرُونَ ﴿١٢٧﴾ إِلَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلْمُخْلَصِينَ ﴿١٢٨﴾
نو دوئ د هغه تکذيب او کړو، نو ځکه دوئ به خامخا حاضره ولې شي (جهنم ته)، مګر بندګان د الله ﷻ چې مخلصين وؤ،
وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِى ٱلْءَاخِرِينَ ﴿١٢٩﴾ سَلَٰمٌ عَلَىٰٓ إِلْ يَاسِينَ ﴿١٣٠﴾ إِنَّا كَذَٰلِكَ
او پريښي وه مونږ په ده باندې (ثناء حسن) په ورستنو کښې (هغه داچې) سلام دې په الياس باندې، بيشکه مونږ دغه شان
نَجْزِى ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٣١﴾ إِنَّهُۥ مِنْ عِبَادِنَا ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٣٢﴾
بدله ورکوؤ نيکي کونکوته، بيشکه وؤ دي د بندګانو زمونږ مؤمنانو نه ،

﴿وَإِنَّ إِلْيَاسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ﴾ داخلورمه قصه ده داهم په نفي د الوهية دغيرالله باندې دلالت كوي، چې الياس ﷺ خپل قوم دبت پرستئ نه منع كړل. صرف د الله ﷻ دعبادت دعوت ئې ورته وركړو.

حضرت الياس ﷺ په باره كښې مستند معلومات صرف دومره دى چې دې هم دبنې اسرائيلو مستقل نبي وؤ، دنسل دهارون ﷺ نه، بعلبک علاقې ته مبعوث شوې وؤ. چې هغوئ دبعل بت عبادت كولو، نو ده هغوئ ته ددې بت عبادت نه كولو او د توحيد منولو دعوت وركړو، دينه علاوه چې نورې كومې خبرې دحضرت الياس ﷺ باره كښې راغلى دى نو هغه روايات يا موضوعى دى يا اسرائيلى دى چې اعتماد پرې نشى كيدلې.

﴿بَعْلًا﴾ بعل ددوئ ديوبت نوم وؤ.

﴿وَتَذَرُونَ أَحْسَنَ الْخَالِقِينَ﴾ اى: وتذرون عبادة احسن الخالقين. او ﴿أَحْسَنَ الْخَالِقِينَ﴾ بمعنى د احسن الصانعين دې، ځكه چې په صفت دخالقيت كښې د الله ﷻ سره ، څوك شريك نشته دې چې هغه معاذالله حسن شي باقى تفصيل ئې په څلورم جلد ص ۷۰۶ كښې تير دې.

فائده يَدَعُ او يَذَرُ دواړه فعله د پريخودلو په معنى كښې استعماليږى فرق پكښې دادې چې يدع قبل العلم پريخودلو ته وائى او يذر بعد العلم پريخودلو ته وائى، دې متعلق يو واقعه ده چې امام رازى ﷫ نه چاتپوس اوكړو چې داسې ولې اونه وئيلې شو چې اَتَدْعُوْنَ بَعْلاً وَتَدَعُوْنَ اَحْسَنَ الْخَالِقِيْنَ، دې سره خوبه كلام كښې زيات حسن راغلې وې او معنى مقصود به حاصل شوې وه، نو امام رازى ﷫ اوفرمائيل چې دوئ توحيد نه انكار ورستو د علم نه وو، نو ځكه تَذَرُوْنَ راوړې شو، او تَدَعُوْنَ هغه وخت رواړې شى چې كله انكار اوترک مخكښې د علم نه وى. [اعراب القرآن وبيانه]

نكته: دلته نوم د الله ذكركولو په ځائى اَحْسَنَ الْخَالِقِيْنَ صفت راوړولو كښې لطيف اشاره د ده دهغوئ بې وقوف تيا او كم عقلى ته، چې يو طرف ته بعل بت دې چې دوئ جوړ كړې دې خپله هغه هيڅ نشى كولې، اوبل طرف الله ﷻ دې چې د ټول جهان خالق دې، ټول جهان ورته محتاج او هغه مستغنى دې نو دوئ بې وقوف تياته اوګورئ چې جماد او محتاج "اله" ګرځوى او خالق اومستغنى ذات ئې پريخيدې.

﴿اَللَّهَ ﴾بدل دي د ﴿أَحْسَنَ الْخَالِقِينَ ﴾نه ﴿ربكم﴾ صفت دي يا بدل دي د ﴿اَللَّهَ ﴾ نه

﴿إِلَّا عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ ﴾استثناء متصل ده دضمير فاعل د فكذبوه نه نو دلالت كوي پدې

چې په قوم دَده كښې مخلصين وو چې ايمان ئې پرې راوړلي وو. «سَلَامٌ عَلَىٰ إِلْ يَاسِين ﴾الياسين

يالغت دي په الياس كښې، لكه طورسنين لغت دې په طورسيناكښې ياجمع ده الياس ده

اومرادورنه الياس عليه السلام او دَهغه مخلصين اتباع دي.

وَإِنَّ لُوطًا لَّمِنَ الْمُرْسَلِينَ ﴿١٣٣﴾ إِذْ نَجَّيْنَاهُ وَأَهْلَهُ أَجْمَعِينَ ﴿١٣٤﴾ إِلَّا عَجُوزًا
اوبيشكه لوط عليه السلام وو خامخادرسولانو نه. كله چې نجات وركړومونږده ته او اهل دده ټولوته.مگربوډۍ وه
فِي الْغَابِرِينَ ﴿١٣٥﴾ ثُمَّ دَمَّرْنَا الْآخَرِينَ ﴿١٣٦﴾ وَإِنَّكُمْ لَتَمُرُّونَ عَلَيْهِم مُّصْبِحِينَ ﴿١٣٧﴾
په پاتې كيدونكوكښې،بياهلاك كړل مونږه نورخلق،اوبيشكه تاسو اې اهل مكه ،تيريږئ به دوئ باندې دصباپه وخت كښې
وَبِاللَّيْلِ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿١٣٨﴾
او دَ شپې آيا نو تاسو «دومره» عقل نه لرئ

﴿وَإِنَّ لُوطًا لَّمِنَ الْمُرْسَلِينَ ﴾دا پنځمه واقعه ده لپاره دَنفي دَالوهيت دَغير الله ذكر كيږي، ﴿إِذْ

نَجَّيْنَاهُ ﴾اذمتعلق دې فعل محذوف پورې چې هغه اذكر دې او دَ المرسلين سره نه دې متعلق چې

اشكال او كړې شي چې دينه خو معلوميږي چې لوط عليه السلام خاص په وخت دنجات كښې ده

رسولانو نه وو. ﴿إِلَّا عَجُوزًا ﴾مرادورنه بي بي دَلوط عليه السلام ده،باقي تفصيل ئې تيرشويدې،

﴿وَإِنَّكُمْ﴾ خطاب اهلِ مكې ته دې،چې تاسو دَقوم لوط په كلي يعني سدوم باندې دَشام په

تجارتي سفر كښې هر وخت تيريږئ راتيريږئ نو دَهغوئ دَهلاكت نه عبرت واخلئ.

﴿مُّصْبِحِينَ. وَبِاللَّيْلِ ﴾ياورنه مراد دَسهر وخت او دَشپې وخت دې، او تخصيص ددې دواړو

وختونو ځكه اوشو چې اهلِ مكې وبه دگرمئ په وجه يا دَشپې سفر كولو يا سهر وختي، او بعضې

وائي چې شام طرف ته به تلل، نو سهر ته نيزدې وخت كښې به پدې علاقې تيريدل او چې واپس

به راتلل نو دَشپې به پرې تيريدل.

﴿أَفَلَا تَعْقِلُونَ﴾ يعني مشاهده ئې کوئ نوولې نه پوهيږئ چې هسې نه ستاسو باندې هم دغه شان عذاب راشي، ځکه چې منشاء دعذاب قدر مشترك دې چې هغه مخالفت دې د رسول

وَإِنَّ يُونُسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ ﴿١٣٩﴾ إِذْ أَبَقَ إِلَى الْفُلْكِ الْمَشْحُونِ ﴿١٤٠﴾ فَسَاهَمَ
اوبيشکه يونس ﷺ وو خامخا د رسولانو نه، کله چې دې وتښتيدلو بيړئ ډکې ته. پس خسړئ ئې اوکړو.
فَكَانَ مِنَ الْمُدْحَضِينَ ﴿١٤١﴾ فَالْتَقَمَهُ الْحُوتُ وَهُوَ مُلِيمٌ ﴿١٤٢﴾ فَلَوْلَا أَنَّهُ كَانَ
نو شو دې د خسړئ بيلونکو نه، نو تير کړو ده لره مهي او دې ملامته کونکي وو خپل ځان لره. پس که چرې نه وې دې
مِنَ الْمُسَبِّحِينَ ﴿١٤٣﴾ لَلَبِثَ فِي بَطْنِهِ إِلَى يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴿١٤٤﴾ فَنَبَذْنَاهُ
د تسبيح ويونکو نه . نو پروت به وو په خيټه دهغه مهي کښې ترورځې دقيامت پورې. پس اوغورځولو مونږه دې.
بِالْعَرَاءِ وَهُوَ سَقِيمٌ ﴿١٤٥﴾ وَأَنْبَتْنَا عَلَيْهِ شَجَرَةً مِنْ يَقْطِينٍ ﴿١٤٦﴾ وَأَرْسَلْنَاهُ إِلَى مِائَةِ أَلْفٍ
په ډاګه باندې او دې بيمار وو. اومونږه پيداکړه په ده باندې يوه ونه دکدو. او اوليږلو مونږ دې يولاک خلقو ته.
أَوْ يَزِيدُونَ ﴿١٤٧﴾ فَآمَنُوا فَمَتَّعْنَاهُمْ إِلَى حِينٍ ﴿١٤٨﴾
بلکه دې نه هم زياتو ته، پس ايمان راوړو هغوئ نونفعه موورکړه هغوئ ته ترپوخته پورې

﴿وَإِنَّ يُونُسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ﴾ دا آخري شپږمه قصه ده، چې يونس ﷺ هم په وخت د تکليف کښې زمونږنه مدد اوغوښتلو، مونږورته نجات ورکړو.

د يونس ﷺ او د ده د قوم واقعه په سورة يونس کښې تيره ده. ﴿إِذْ أَبَقَ﴾ اباق په اصل کښې د آقانه تختيدلو ته وائي، چونکه د حضرت يونس ﷺ اول ځل هجرت اګرچه باذن الله وو، ليکن دويم ځل هجرت ئې پخپل اجتهاد سره وو (لکه په سورة يونس کښې تفصيل ذکر شويدې) او د الله ﷻ د طرفه صريحي اذن نه وو نو ځکه ورته تعبير په اباق سره شويدې، ﴿فَسَاهَمَ﴾ تختيدو نه بعد بحيره روم کنارې ته راغې اوهلته کشتئ کښې سور شو، کله چې کشتئ درياب مينځ ته شوه نو په غرقيدو شوه، ملاح اوئيل چې تاسو کښې يو کس د خپل آقا اجازت نه بغير راغلې دې ، هغه دې خپل ځان ظاهر کړي؟ چې مونږ ئې درياب ته اوغورزو نو ټول خلق به بچ شي. يونس ﷺ و . . . ئيل چې هغه څه يم کشتئ والو يونس ﷺ پيژندلو، نوهغوئ ديته تيار نه

شو. بالآخر فیصله په دې اوشوه چې خسنړې به اچوو. نو دوی خسنړې واچولو. پدې سره استدلال شوې دې په مشروعیت دقرعې. ﴿فَكَانَ مِنَ الْمُدْحَضِينَ﴾ اي المغلوبين "ادحاض" خوېدلو ته وائی اوناکامې او بیللو باندې هم اطلاق کیږي. او دلته ترینه دغه معنی مراد ده. یعني دقرعې په ذریعه سره دمغلوبینو نه اودبیلونکواو ګرځیدلو. دریې خلې قرعه اوشوه اودرې خله په یونس ﷺ رااوتله، نوده خپل ځان دریاب ته اوغورځولو. مقصود غرقول نه وو بلکه دلامبو په ذریعه ځان کنارې ته رسول وو. اوکیفیت دقرعې داوو چې دوئ دهریو کس په نوم باندې قرعه جوړه کړه اودریاب ته ئې ټول خسنړې واچول اواونی ونیل چې دچا خسنړې په دریاب کښې ډوب نه شونوهغه به دریاب ته غورځوو. اودچا چې ډوب شونوهغه به بچ وي. ﴿فَالْتَقَمَهُ الْحُوتُ﴾ دلقمه نه دې یعني مهي یولقمه کړواوتیرئې کړو. روایت دې چې کله یونس ﷺ دریاب ته دټوپ کولواراده اوکړه نویولوئ مهي ئې اولیدلوسرئې اوچت کړې وؤاوده ته ئې خوله وازه کړې وه، نودې بل طرف ته لاړونومهي ورپسې هم بل طرف ته راغې حتٰی چې دبیړئ څلوروارو طرفونوته دغه حال وؤنودې پوهه شوچې دالله ﷻ دطرفه امردې، نوچې ټوپ ئې کړونواوبوته رسیدلونه مخکښې هغه لقمه کړو (روح المعاني).

﴿وَهُوَ مُلِيمٌ﴾ یعني خپل ځان ملامته کونکې وؤ، په دې لغزش باندې ملیم معنی ده (آت بمایُلام علیه) یعنی په خپل فعل باندې مستحق دملامت وؤ.

﴿فَلَوْلَا أَنَّهُ كَانَ مِنَ الْمُسَبِّحِينَ﴾ بعض وائی دمهي په ګیډه کښې تسبیح مراده اوکوم ذکرچې یونس ﷺ کولونوهغه لااله الاأنتَ سبحانك اني كنتُ من الظالمين دې. چې دې دعاته دعاء المطلوبین اودعاء المضطرین وائی چې دهرمشکل لرې کولودپاره مجربه دعاده. بعض وائی دتکلیف نازلیدلوته مخکښې تسبیح مراد ده لیکن عموم پکښې اولی دې.

﴿لَلَبِثَ فِي بَطْنِهِ إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ﴾ مطلب دادې چې دمهي ګیډه به دده لپاره قبرجوړشوې وؤ تر قیامته، بعض وائی چې مطلب دادې چې دمهي په ګیډه کښې به ترقیامته ژوندې وؤ، نو مراد ئې مبالغه ده په طول کښې.

فائده: اختلاف دي چې یونس ﷺ دَمهي په ګیډه کښې څومره وخت تیر کړې وو. دې باره کښې مختلف اقوال دي، بعض وائی یوه ورځ، بعض وائی درې ورځې. بعض وائی یوه جمعه بعض وائی لس (۱۰) ورځې، بعض وائی څلویښت ورځې. صحیح مده نبی الله ﷺ ته معلومه ده

﴿فَنَبَذْنَٰهُ﴾ یعني څه موده ئې د مهي خیټه کښې وویاموبیا مونږ مهي ته حکم اوکړو نو هغه په خالي میدان کښې په غاړې دَدجلې اوغورځولو ﴿بِٱلْعَرَآءِ﴾ خالي میدان ته وائې چې ونې بوټی پکښې نه وی. ﴿سَقِيمٌ﴾ یعني بیمار وو او بیمارئ دلاسه ئې بدن داسې نرم شوې وو لکه دهغه ماشوم په شان چې اوس پیدا شوې وي. ﴿وَأَنۢبَتْنَا عَلَيْهِ شَجَرَةً مِّن يَقْطِينٍ﴾ یقطین هغه ځیلې دارې اونې ته وائی چې تنه ئی نه وي، صرف ځیلې اوسورې ئی وي. دلته ورنه مراد داکثروپه نیزدکدوبوټې دې، په یونس ﷺ خورشوې وو. ځکه چې دیکښې ډیرې فائدې دي. سورې ئی یخ وي، پاڼې ئی غټې وي، اووائی چې مچان وغیره حشرات الارض وربانددې نه کیني، اویونس ﷺ دې تولو څیزونوته ضرورت وو. دَ﴿شَجَرَةً﴾ نه معلومیږي چې الله ﷻ خرق عادت به طور معجزه دکدوبوټې تنه دارجوړکړې وو ورنه دکدوتنه نه وي، بعض وائی عرب هرهغه بوټې ته چې دهغې جرړې وي شجرة وائی، چې جرړې ئې نه وي نو هغې ته نجم وائی، بعض وائی اونه دبل څه وه اودکدوځیلې وربانددې خورې شوې وې، اصح قول اولنې دي، په روایاتو کښې داهم دي چې یوه ځنګلې بیزه به راتله اویونس ﷺ ته به ئې پئ ورکول تردې چې قوي شو (جلالین).

﴿وَأَرْسَلْنَٰهُ﴾ بعض مفسرینو دلته دارسال نه مراد ارسال اول اغستې دې او دا جمله عطف ده په وان یونس لمن المرسلین ځکه چې دلته دارسال نه بعد ایمان راوړلو ذکر دې چه فامنوا دا اول ارسال صورت کښې وو، دویم ارسال کښې قوم دده دَ راتلو نه مخکښې ایمان راوړې وو، لیکن اصح قول دادې چې دلته ارسال نه مراد اعاده ارسال ده یعنی مونږ دوباره خپل قوم ته اولیږو، او ایمان راوړلو نه مراد تجدید ایمان اونبی په لاس عهد او بیعت کول دی. ﴿أَوْ يَزِيدُونَ﴾ اَوْ په معنیٰ دَ بَلْ کښې دې یعنی دَلاکهونه څه پورته خلق وو، اودتحقیق دَپاره دې چې دیکښې دَماقبل عدد تاکید مقصود دې، لکه څوک ستا نه تپوس اوکړی چې څومره روپئ دی درسره، نه ورته اوائی مائة الف او اکثر لاک یا دینه زیاتې، مقصد داوی چې کم ازکم لاک

روپئ دي که زياتي نه وي نو کمې هم نه دي .نو دلته هم د مطلب دی. حی هغه لاک
خووږ ، کچرته لاک نه زيات نه وو نو کم ترينه هم نه وو ﴿إِلَىٰ حِينٍ﴾ مرګ ترينه مراد دي

فَاسْتَفْتِهِمْ أَلِرَبِّكَ الْبَنَاتُ وَلَهُمُ الْبَنُونَ ۝١٤٩ أَمْ خَلَقْنَا الْمَلَائِكَةَ إِنَاثًا وَهُمْ

بس تپوس وکړه د دوئ نه .آيا رب ستا لره لونړه دي او دوئ لره خامن دي. ايا پيدا کړيدي موږه فرښتي ښځي او دوئ

شَاهِدُونَ ۝١٥٠ أَلَا إِنَّهُم مِّنْ إِفْكِهِمْ لَيَقُولُونَ ۝١٥١ وَلَدَ اللَّهُ وَإِنَّهُمْ

حاضر وو په هغه موقع، خبردار بيشکه دوئ له دروغ خپلونه داسي وائي حي اولاد دي د الله ﷻ او بيشکه دوئ

لَكَاذِبُونَ ۝١٥٢ أَصْطَفَى الْبَنَاتِ عَلَى الْبَنِينَ ۝١٥٣ مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ ۝١٥٤

يقينا دروغ ژن دي، آيا غوره کړيدي الله ﷻ لونړه په خامنو باندې. څه شويدي تاسو لره، څنګه فيصلي کوئ تاسو.

أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ۝١٥٥ أَمْ لَكُمْ سُلْطَانٌ مُّبِينٌ ۝١٥٦ فَأْتُوا بِكِتَابِكُمْ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ۝١٥٧

آيا نو نصيحت نه اخلئ تاسو .يا شته دي تاسو د پاره دليل ښکاره .نو راوړئ کتاب خپل کچري يئ تاسو رښتني.

وَجَعَلُوا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجِنَّةِ نَسَبًا ۚ وَلَقَدْ عَلِمَتِ الْجِنَّةُ إِنَّهُمْ

اودوئ ګرځولي دي په مينځ د الله ﷻ کښ او په مينځ د پيريانو کښ نسب ،او يقيناپوهه دي پيريان چي بيشکه دوئ به

لَمُحْضَرُونَ ۝١٥٨ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ ۝١٥٩ إِلَّا عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ ۝١٦٠

خامخا حاضرولي شي .پاکي ده الله ﷻ لره د هغې نه چي دوئ ئې بيانوي، مګر بندګان د الله ﷻ چي مخلصين دي.

فَإِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ ۝١٦١ مَا أَنتُمْ عَلَيْهِ بِفَاتِنِينَ ۝١٦٢ إِلَّا

پس بيشکه تاسو او هغه چي تاسوئې عبادت کوئ، نه شئ تاسو په دې باندې ګمراه کونکي چا لره ،مګر

مَنْ هُوَ صَالِ الْجَحِيمِ ۝١٦٣

هغه څوک چي وي داخليدونکي جهنم ته.

﴿فَاسْتَفْتِهِمْ أَلِرَبِّكَ الْبَنَاتُ﴾ د ملائکو او جناتو احوال ابتدا د سورت کښ بيان شوي وو او س
بيا د دوئ احوالو اعاده ده او د دوئ متعلق د مشرکانو د دوو غلطو عقيدو رد دي:

(۱)**اوله عقیده** دا چې ملائک دَ الله ﷻ لونړه دي دوئ دې عقیدې کښې درې خبرې دکفر کوئ

۱- تجسیم یعنی الله ﷻ له جسم ثابتول ځکه چې توالد تناسل داجسامو خواص او احوال دي.

۲- دَ اخس نسبت الله ﷻ ته کول او افضل نسبت ځان کول

۳- ملائکو توهین چې هغوئی په انوثت سره متصف کوی او خپله دیو مونث پلار جوړیدو باندې هم عار محسوس وی.

(۲)**دویمه عقیده** دا چې الله ﷻ جناتو سردارانو لونړو سره نکاح کړې دې او هغې نه ملائک پیدا شوې دي،نو دې عقیدې مطابق دوئ دَ الله ﷻ ملائکو سره نسبي او جناتو سره صهري یعني دَسخرګنئ تعلق قائم کړو

﴿فَٱسْتَفْتِهِمْ﴾دا دهغوئ اولې عقیدې رد دې او زجر دې مشرکانو ته.او استفهام دلته تعجبی اوانکاری دې،یعنی عجیبه خبره ده چې ځان له لونړه نه خوخوئ او الله ﷻ له ددې اثبات کوئ؟نو الله ﷻ دې فاسدې عقیدې باندې ددوئ نه درې قسمه دلائل طلب کوی:(۱)مشاهده (۲)عقلی دلیل(۳)نقلی دلیل

﴿أَمْ خَلَقْنَا ٱلْمَلَٰٓئِكَةَ إِنَٰثًا﴾دیکښې د مشاهدې مطالبه ده ،چې دداسې خبروپته خو په مشاهدې سره لګی نو آیا کله چې مونږ ملائک پیدا کول نو دوئ هغه موقع باندې حاضر وؤ.

﴿أَلَآ إِنَّهُم مِّنْ إِفْكِهِمْ﴾دیکښې نفی دَ مشاهدې ده،یعنی مشاهده هیڅ نشته بلکه څنګه ددوئ نورې خبرې دورغ دی دهغه شان داخبره ئی هم په دروغو باندې مبنی ده

﴿أَصْطَفَى ٱلْبَنَاتِ﴾عقلی دلیل مطالبه ده یعنی څه عقلی توجیه خوددې عقیدې پیش کړئ عقلی اعتبار سره هم ډیر کمزورې خبره ده. چې دومره لوئ عظمت اوقدرت والاذات دې دَخپل ځان دپاره لونړه غوره کړي،چې دَمشرکانو دَخیال مطابق هغه دَشرم څیزدې،﴿مالکم کیف تحکمون﴾یعنی څومره بې بنیاده فیصله خوده.﴿ افلا تذکرون﴾نو دومره هم سوچ نه کوئ اوعقل نه لرې خبرې کوئ﴿أَمْ لَكُمْ سُلْطَٰنٌ مُّبِينٌ﴾داد دلیل نقلي مطالبه ده.

﴿وَجَعَلُوا۟ بَيْنَهُۥ وَبَيْنَ ٱلْجِنَّةِ نَسَبًا﴾دیکښې د مشرکینو دویمې فاسدې عقیدې ذکر دې،روایاتو کښې راځی چې کله کفار مکه دا اوئیل چې ملائک دَ الله ﷻ لونړه دي نو حضرت ابوبکر

صدیق ﷺ ترینه تپوس اوکړو چې ملائک د الله ﷻ لونړه دی نو بیا ددوئ میندې څوک شوې؟ نو دوئ ورته اوئیل د جناتو سردارانې ښځې

سوال: دلته دا اشکال کیږی چې مشرکین خو د جناتو الله ﷻ سره صهری تعلق قائل وؤ نسبی تعلق ئې نه وؤ قائم کړې، هغه خوئې صرف فرشتو سره قائم کړې وؤ نو بیا ولې نَسَبًا اووئیلې شو؟

جواب: مفسرینو ترینه مختلف جوابونه کړی دی:

(۱) یو دا چې الجن نه مراد دلته جنات نه دی بلکه ملائک دی. او جن اطلاق په ملائکو صحیح دې. ځکه چې دا خفا او پټ والې معنی ورکوی او ملائک هم زمونږ د سترګو نه پټ دی (جلالین)

(۲) ځنې مفسرین فرمائی چې الجن نه مراد جنات دی او "نَسَبًا" ځکه اوئیلی شو چې بعض زنادقوو دا عقیده وه نعوذ بالله چې الله ﷻ او ابلیس رونړه دی نو دې اعتبار سره ئې دا الله ﷻ جناتو سره تعلق پیدا کولو.

(۳) صحیح جواب دا دې چې "الجن" نه مراد جنات دی او "نَسَبًا" نه مراد مطلق تعلق دې خواه که هغه صهری وی یا نسبی

﴿وَلَقَدْ عَلِمَتِ الْجِنَّةُ﴾ دې کښ د دوئ مذکورې فاسدې عقیدې رد دې، یعنی جنات ددې قائل او هغوئ ته پته ده چې الله ﷻ به دوئ (بحیثیت جنس) جهنم ته بوځی، کچرته د دوئ الله ﷻ سره څه خپلولی وې او یا دوئ آلهه او شفیع قهری وې نو هیڅ څوک به ترینه جهنم ته نه تللې،

﴿إِلَّا عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ﴾ استثناء منقطع ده، د ﴿لَمُحْضَرُونَ﴾ نه، ای ولکن المخلصین ناجون، یعنی ځمانیکان بندګان هغه به جهنم نه په امن کښ وی، یا د ضمیر د ﴿يَصِفُونَ﴾ نه، ای فهم بریئون من ان یصفوه تعالی بذلك یعني مخلصان مؤمنان د دغه نسبت کولو نه منزه دي

﴿فَإِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ﴾ دا زجر دې مشرکینو ته، دیکښ الْتفات دې غائب نه خطاب ته، او د مشرکانو آلهوؤ عجز ذکر دې، یعنی که تاسو شئ او ستاسو سره ستا سو آلهه هم شی نو بیا هم تاسو څوک د الله ﷻ دعبادت نه نشئ اړولې، سوی دهغه کس نه چې هغه مخکښ نه په علم د الله ﷻ کښ ګمراه وی نو هغه خپل ملګرې کړئ.

﴿مَآ أَنتُمْ عَلَيْهِ﴾ "عليه" (١) ضمير يا راجع دي الله ﷻ ته. جار مجرور متعلق دي ﴿بفتنين﴾ پورې. "باء" پکښې زائده ده. يعني تاسو او ستاسو معبودان باطله د الله باره کښې څوك ګمراه کولې نه شئ، بغير د جهنم ته داخليدونکو نه (٢) بعض وائي ضمير راجع دې ﴿وما تعبُدُون﴾ ته او "على" پمعنی د "باء" سببيه دې، يعني اګرکه تاسو پخپلې بت پرستئ سره خلق ګمراه کوئ ليکن ګمراه کيږي به در سره صرف هغه چې جهنم ته داخليدونکي دي ﴿صَالِ﴾ صيغه واحد د اسم فاعل ده اصل کښې صالِ وؤ. تنوين د اضافت دوجهې نه غورځيدلې دې

وَمَا مِنَّآ إِلَّا لَهُۥ مَقَامٌ مَّعْلُومٌ ﴿١٦٤﴾ وَإِنَّا لَنَحْنُ
اونيشته په مونږه کښې هيڅ څوك مګر دهغه دپاره ځائ معلوم دې اوبيشکه مونږه خامخا
الصَّآفُّونَ ﴿١٦٥﴾ وَإِنَّا لَنَحْنُ الْمُسَبِّحُونَ ﴿١٦٦﴾ وَإِن كَانُوا لَيَقُولُونَ ﴿١٦٧﴾
صفونه تړونکي يو (الله ﷻ ته) اوبيشکه مونږه خامخا تسبيح وئيونکي يو. اوپه تحقيق سره دي کافرانو به ونيل
لَوْ أَنَّ عِندَنَا ذِكْرًا مِّنَ الْأَوَّلِينَ ﴿١٦٨﴾ لَكُنَّا عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ ﴿١٦٩﴾
کچرې وې زمونږ سره نصيحت (کتاب) په شان مخکنو خلقو نو خامخا به وو مونږه بندګان د الله ﷻ مخلصين.
فَكَفَرُوا بِهِۦ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿١٧٠﴾ وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا
نو کفر (انکار) او کړو دوئ په کتاب (قرآن) نو زر ده چې دوئ به پوهه شي او خامخا په تحقيق سره شويدې حکم زمونږه
لِعِبَادِنَا الْمُرْسَلِينَ ﴿١٧١﴾ إِنَّهُمْ لَهُمُ الْمَنصُورُونَ ﴿١٧٢﴾ وَإِنَّ جُندَنَا
په حق د بندګانو زمونږ کښې چې رسولان دي، چې بيشکه د دوئ به خامخا مدد کوليشي اوبيشکه لښکرې زمونږه
لَهُمُ الْغَالِبُونَ ﴿١٧٣﴾
خامخا دوئ به غالبې وي،

﴿وَمَا مِنَّآ إِلَّا لَهُۥ﴾ دا دريم ځل د فرشتو د حال اعاده ده او دينه مخکښې "يقولون" مقدر دې، چې فرشتي پخپله د خپل عبديت، اعتراف کوي چې مونږ کښې دهرې يوې فرشتو لپاره عند الله په اسمان کښې مکانِ مخصوص دې چې عبادت د الله ﷻ پکښې کوؤ، مونږ کښې هيڅ څوك هم

داطاقت نه لرى چې دالله جل جلاله داحکامونه دېوې زرې برابرپه اندازه هم تجاوزاوکړي او هريو د الله جل جلاله تسبيح بيانوى چې الله جل جلاله دولد او شريک نه پاک دې مقامٌ مَّعْلُومٌ ﴾ نه مراددعبادت دپاره معلوم مقام دې. حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائى چې حضور ﷺ فرمائى چې په اسمان کښې دېوقدم اندازې برابرخائ نشته دې مګرچې هلته فرښتې وي سجده کوي ياقيام کوي. اودامطلب دې دقول دملائکوچې﴿وَمَا مِنَّآ إِلَّا لَهُۥ مَقَامٌ مَّعْلُومٌ ﴾روح بعض وائى د﴿مَقامٌ مَّعْلُومٌ ﴾ نه مرادپه قرب اومشاهده کښې دې، يعني هرې فرښتې دپاره په قربت اومشاهده کښې خاص خائ مقرردې چې ددغه حدنه وړاندې کېدلې نه شي.

﴿ وَإِنَّا لَنَحْنُ ٱلصَّآفُّونَ ﴾يعني دالله جل جلاله دعبادت اودادا طاعت لپاره په صفونوکښې ولاړيو. ياحول العرش صف تړونکي يودامرالهي دانتظارلپاره. ياپه هواکښې وزرې خورونکي يو، چې کوم امرراته کېږي دهغې پوره کولولپاره. ﴿وَإِنَّا لَنَحْنُ ٱلْمُسَبِّحُونَ ﴾يعني دالله جل جلاله پاکي بيانونکي يودهغه عيبونونه چې کافران ئې ورته نسبت کوي.

﴿وَإِن كَانُوا۟ لَيَقُولُونَ ﴾داشکوه مع تخويف دنيوي دې. چې مشرکانوبه قبل دبعثت دحضور ﷺ نه داوئيل چې کچرته مونږسره هم ديهودونصارىٰ وپه شان کتاب وې نومونږبه دهغې په احکاماتوعمل کولو اودالله جل جلاله مخلصان بندګان به وو. ليکن کله قرآن نازل شونودوئ ورنه انکاراوکړو. نودوئ ته به دخپل انکاربدانجام معلوم شي. ﴿ ذِكْرًا ﴾نه مرادکتاب دې. ﴿مِّنَ ٱلْأَوَّلِينَ ﴾اى مثل کتب الاولين او من جنس کتبهم يعنى بعينه سابقو کتابوتو تمنا به ئې نه کوله بلکه دهغې په شان او دهغې کتابونو هم جنس کتاب چې منزل من الله وى هغې تمنا به ئې کوله او "اولين" نه مراد يهودنصارىٰ دي،

﴿ وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا ﴾دابشارت دنيوي دې اودانبياؤدحال اعاده ده چې دانبياؤپاره کښې زمونږدافيصله اووعده صادره شويده چې دمنکرينوپه مقابل کښې به ددوئ مدداومعاونت کېږي اولښکرزمونږبه غالب وي﴿إِنَّهُمْ لَهُمُ ٱلْمَنصُورُونَ ﴾داتفسيردې د﴿كَلِمَتُنَا﴾.

﴿وَإِنَّ جُندَنَا ﴾مرادورنه اتباع درسولانودي، ياورنه مرادانبياء دي نوتعميم بعدالتخصيص دي لپاره دتاکيد﴿لَهُمُ ٱلْغَٰلِبُونَ ﴾غلبې نه مرادغلبه ده په حجت اودليل کښې، ياورنه په جنګ کښې نصرت اوغلبه مراده ده، ياورنه اخروى غلبه مراد ده چه هغه لويه کاميابى ده.

سوال: لیکن که څوك اشکال او کړي چې بعضِ انبیاؤته خو غلبه نه وه حاصله لکه نوح علیه السلام فرمائي: ربّ اني مغلوب فانتصر .دغه رنګه بعضِ انبیاء قتل شوي وو.

جواب: ددې مختلف جوابونه شوي دي:(۱)دادې چې دبعض انبیاؤ سره اګرکه په دنیا کښې نصرت نه وؤشوې غلبه ورته نه وه میلاوه شوې لیکن دوئ به غالب وي په آخرت کښې نودَنصرت وعده حقه ده دنیوي غلبه وي که اخروي(۲)بعض انبیاء اګرکه پخپله نه وؤغالبه شوي لیکن دَدوئ اتباع غالبه شوي وؤنوداتباعوغلبه ددوئ غلبه ده(۳)بعض واړه دواړه وعدې په اعتبارِدَاغلب دي(۴)حضرت حسن بصری رحمه الله نه مروی دی چې رسل نه مراد اصحاب الشرائع دی،یعنی دا آیت شو ،دهغه شان انا لننصر رسلناشو او کتب الله لاغلبن انا ورسلي شو ،دیکښې مراد هغه رسولان دی چې هغوئ ته مستقل شریعت ورکړې شوې وؤ غلبې نه مراد انجام او مآل اعتبار سره غلبه ده،نو اصحاب الشرائع رسولانو کښې څوک هم نه دي قتل شوي.

فَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتّٰى حِيْنٍ ۙ وَّاَبْصِرْهُمْ فَسَوْفَ يُبْصِرُوْنَ ۞ اَفَبِعَذَابِنَا
پس مخ واړه وه ته دَدوئ نه تریووختَ پورې اوګوره دوئ ته نو زردې چې اوبه ویني دوئ انجام خپل،آیاپه عذاب زمونږبلندې
يَسْتَعْجِلُوْنَ ۞ فَاِذَا نَزَلَ بِسَاحَتِهِمْ فَسَآءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِيْنَ ۞ وَتَوَلَّ عَنْهُمْ
تادې جلدې کوي،نوکله چې نازل شي عذاب په غولي ددوئ کښې نوډېربدبه وي سحر ډېره ولوشوؤ.اومخ واړه وه ته دَدوئ نه
حَتّٰى حِيْنٍ ۙ وَّاَبْصِرْ فَسَوْفَ يُبْصِرُوْنَ ۞ سُبْحٰنَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا
تریووخته پورې،اواوګوره زردې چې اوبه ویني دوئ انجام خپل،پاکي ده رب ستالره چې رب دَعزت دي دَهغې نه
يَصِفُوْنَ ۞ وَسَلٰمٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ ۞ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۞
چې دوئ تې بیانوي اوسلام دې په رسولانواوټول صفتونه د الوهیت الله تعالیٰ لره دي چې رب دَعالمینودې

﴿فَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتّٰى حِيْنٍ﴾یعنی ستا مدد به ضرور کیږي خوته لګ وخت پورې صبر کوه،حین نه مراد دَقتال حکم راتلو وخت دي،یا غزوه بدر مراد ده،او یاترینه مرګ ورځ یا قیامت ورځ مراد ده.

﴿وَأَبْصِرْهُمْ﴾ يعني تماشه ئې کوه چې کله وربانديې عذاب راشي چې څومره بدحال به ئې وي، ﴿فَسَوْفَ يُبْصِرُونَ﴾ يعني دوئ به هم ستا نصرت اوتائيد الهي اووينې

﴿أَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُونَ﴾ کله به چې دَ مسلمانانو دَ نصرت او غلبې او په کفارو دَعذاب آياتونه نازل شو نو مشرکانو به مسلمانانو ته وئيل چې تاسو نصرت او فتح به کله راځي زرکوئ، (كما في قوله تعالى ويقولون متى هذا الفتح ،ويقولون متى هذا الوعد) دلته هم چې کله مخکښې آياتونو کښې دَمؤمنانو دَغلبې اوپه کفارو دعذاب ذکر راغې نو مشرکانو دامطالبه اوکړه نو الله ﷻ ورته فرمائې چې عجيبه خبره ده پکار خوداده چې دوئ ترينه يريدلې تيارې ئې ورله کولې او پناه ئې ترينه غوختلې ليکن دوئ دې برعکس هغه ضد وعناد باندې قائم دی او هغه عذاب په تادئ سره غواړی.

﴿فَإِذَا نَزَلَ بِسَاحَتِهِمْ﴾ دا تمثيل دې د دوئ حالت دهغه قوم سره چې هغوئ باندې دشمن حملې اراده اوکړی او يو يرونکې راشی او دوئ ته ددې خطرې خبرورکړی چې باصباحاه ياصباحاه خو دوئ دَهغه خبرې له هيڅ اهميت ورنکړی بلکه توقې وړپورې شروع کړی،پديکښې اچانک دشمن لښکر راشی او دوئ دکلی او غولی ته رادننده شی،هغه وخت ددوئ سترګې کلاؤ شی خو بيا هيڅ نشی کولې نه ئې مقابله کولې شی او نه ترينه تختيدې شی نو هغوئ دوئ روانيسی اوقتل ئې کړی ،او کلې ورله کنډې کپر واچوی.دهغه شان دوئ هم دی نبی کريم ﷺ دَ الله ﷻ عذاب نه يروی دوئ ورپورې استهزا کوی،خو چې کله دَ الله ﷻ عذاب راشی نو بيابه ئې ډير بدحال وی.﴿فَسَاءَ صَبَاحُ الْمُنذَرِينَ﴾مراد ورنه مطلق وخت دَنزول دَعذاب دې،چې کوم وخت هم وي،نودَ﴿فَسَاءَ صَبَاحُ﴾معنی ده فساء وقتهم،تخصيص دَصباح ځکه اوشوچې اعم اغلب عذاب په وخت دَصباکښې وي(روح)

﴿وَتَوَلَّ عَنْهُمْ﴾تکرارياد پاره دَتاکيد دې،يااول نه مراددنيوي عذاب دې اودينه مراداخروي عذاب دې

﴿سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ﴾دا په آخرکښې دَټول سورة دَمضامينوخلاصه ده،سبحان کښې صفات تنزيهه وؤ طرف ته اشاره ده، چې الله ﷻ هغه ذات دې چې دَهرقسمه عيب اونقص نه پاک دې،﴿رَبِّ الْعِزَّةِ﴾ بدل دې دَ﴿رَبِّكَ﴾نه، اي صاحب العزة او دې صفت راوړلو کښې اشاره ده دې

طرف ته چې خصوصیت سره دي عیب نه پاک دې چې کافرانو په مقابله کښې خپل ملګري بې یار ومدد ګار پریګدي بلکه صاحب عزت دې ضرور به غلبه ورکوي

﴿وَسَلَٰمٌ عَلَى ٱلْمُرْسَلِينَ﴾ دا دَانبیاؤدَحال اعاده ده، چې الله تعالیٰ خپل رسولان دَشرك نه سالمه ساتلي دي، پدوئ سلامتیاده دَهرتکلیف نه

﴿وَٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ﴾ دیکښې صفات کمالیه طرف ته اشاره ده دعوه دَتوحید ده چې څرنګه الله تعالیٰ په صفاتو سلبیؤ سره متصف دي نو دغه شان په صفاتو ثبوتیؤ سره هم متصف دي.

په احادیثو کښې دَدې آخري دري آیاتونو ډیر فضائل راغلي دي. یو روایت کښې دي چې حضورﷺ به دَمونځ نه ورستو دَغه آیاتونه لوستل، یو روایت کښې دي چې څوك داغواړي او پدې خوشحالیږي چې دَقیامت په ورځ هغه ته پوره پیمانه باندې اجراوثواب میلاؤشي نو هغه دي دَخپل هرمجلس په اختتام کښې دغه درې آیاتونه اووائي.

دَدې اجرپه امید به مونږهم دَدې سورة تفسیراختتام په دې آیاتونو سره اوکړو "سبحٰن ربك ربّ العزة عمّا یصفون وسلام علی المرسلین والحمدلله ربّ العالمین"

آیاتها (۸۸)	سورة ص مكية	رکوعاتها (۵)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکي دي شروع کوم	

ترتیبها حسب التسلسل (۳۸) وحسب النزول (۳۸)

نزلت بعدالقمروقبل الاعراف.

ربط: ماقبل سورة کښ نفي دَشفاعت قهري اوشوه ،دې سورة کښ دغه مسئله علی سبیل الترقي بیانیږي چې دَ کائنات ټولونه عظیمې هستئ انبیاء کرام دی.هغوئ باندې تکلیفونه اوازمائشونه راغلی دی دَدینه معلومیږی چې هغوئ معبودان اوشفیع قهری نشی کیدې نو چې هغوئ نشی کیدې نو نور څوک په طریقه اولی نشی کیدې.

دعوه دَ سورت: قُلْ إِنَّمَآ أَنَا۠ مُنذِرٌ ۖ وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّا ٱللَّهُ ٱلْوَٰحِدُ ٱلْقَهَّارُ ﴿٦٥﴾

اجمالي خلاصه: اول کښ تمهید دې،دوه تخویف دنیویه دې.دوه اخرویه،دوه شکوې دې دمشرکانونه،دوه زجرونه،تسلي ده حضور ﷺ ته،(۵)پنځه دلائل نقلیه دې په توحید .یودلیل عقلي دې،یودلیل وحي دې، درمیان کښ دَدلائلونه ورستودعوه دَسورة ده به طورثمره،اوپه آخرکښ دَملائکواوجناتوحال.

تفصیلي خلاصه: اول دوه ایتونو کښ تمهید دې .

پنځه دلائل نقلیه ذکر کیږی په دعوی باندې:

﴿وَٱذْكُرْ عَبْدَنَا دَاوُۥدَ﴾ اول دلیل نقلی دې، ﴿وَوَهَبْنَا لِدَاوُۥدَ سُلَيْمَٰنَ﴾ دویم دلیل نقلی دې

﴿وَٱذْكُرْ عَبْدَنَآ أَيُّوبَ﴾ دریم دلیل نقلی دې، ﴿وَٱذْكُرْ عِبَٰدَنَآ إِبْرَٰهِيمَ﴾ څلورم دلیل نقلی

﴿وَٱذْكُرْ إِسْمَٰعِيلَ﴾ پنځم دلیل نقلی دې،

﴿مَا خَلَقْنَا ٱلسَّمَآءَ وَٱلْأَرْضَ﴾ دلیل عقلي دې، او ﴿كِتَٰبٌ أَنزَلْنَٰهُ إِلَيْكَ﴾ دلیل وحی دې

څلور تخویفات ذکر کیږی:

﴿كَمْ أَهْلَكْنَا مِن قَبْلِهِم مِّن قَرْنٍ﴾ (آیت نمبر۳) اول تخویف دې

﴿كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ﴾ (آیت نمبر ۱۲)دویم تخویف دې

﴿فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ كَفَرُوا مِنَ النَّارِ﴾ ،آيت نمبر ۲۷ دريم تخويف

﴿وَإِنَّ لِلطَّاغِينَ لَشَرَّ مَآبٍ﴾ آيت نمبر ۵۵،څلورم تخويف دي

دوه شكوې ذكر كيږي:

(۱)﴿وَعَجِبُوا أَن جَاءَهُم مُّنذِرٌ مِّنْهُمْ﴾ (آيت نمبر ۴) (۲)﴿وَقَالُوا رَبَّنَا عَجِّل لَّنَا﴾ آيت نمبر ۱۶

يو بشارت ذكر كيږي ﴿وَإِنَّ لِلْمُتَّقِينَ لَحُسْنَ مَآبٍ﴾ آيت نمبر ۴۹

درې آداب د تبليغ ذكر كيږي:

(۱)صبر نه كار اخله اودلائلو سره خبره كوه اَصْبِرْ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ

(۲)اجرت مه غواړه قُلْ مَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ

(۳)تصنع او تكلف پريګدئ وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلْمُتَكَلِّفِينَ

آخر كښې ملائكو اوجناتو احوال بيانيږي(آيت ۷۱) اوآخري درې آياتونه دَسورت خاتمه ده چې ديكښې دَسورت ابتدا اوالا مضمون ذكر دي

صٓ وَالْقُرْاٰنِ ذِی الذِّكْرِ ۝۱ بَلِ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا فِیْ عِزَّةٍ وَّشِقَاقٍ ۝۲

الله ﷻ پوهيږي په مرادخپل دَدينه،قسم دې په قرآن چه خاونددنصيحت دي.بلكه كافران په تكبراوپه ضدكښې دي

كَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنْ قَرْنٍ فَنَادَوْا وَّلَاتَ حِیْنَ مَنَاصٍ ۝۳

ډيرهلاك كړيدي مونږمخكښې دَدوئ نه ډلې دكافرانو،نوچغې ئې وهلې اونه وؤدغه وخت دَخلاصيدو

﴿صٓ﴾،دادَمقطعاتوقرآنيؤونه دي،چې تفصيل ئې دَسورة بقره وغيره په ابتداء كښې تير دي،راجح قول دادي چې دادَ پاره دَ تحدي دې چې دَا قرآن هم دې رائجو او معروفو حروفو نه جوړ دې خو بيا هم تاسو داسې كتاب نشئ پيش كولې، بعضِ وائی چې دَدې معنی ده صدق الله يا صدق محمّد بعضِ وائي چې اسم دَالله ﷻ صمد طرف ته اشاره ده،بعضِ وائی پدې كښې حضور ﷺ ته دَصبرتلقين دې،دينه علاوه نورې هم معنې ئې بيان شويدي.

﴿وَالْقُرْاٰنِ﴾واؤقسميه دې،قسم براي استشهاددې،غوره قول دا دې چې جواب قسم ئې محذوف دې چې هغې باندې ابتدادَ سورت يعني صٓ دلالت كوي،څكه دا دَ پاره د تحدي

دي. چې ته من عند الله يې معجزه عن الاتيان بمثله. او د جواب قسم نه ذکر دی چې دی
سياق دلالت کوي يعني دا او قسم د نصيحت کتاب دی. دا دی مضمون چې په دې کې هم
ورکوي. ﴿ذِي الذِّكْرِ﴾ صفت دي د ﴿وَالْقُرْآنِ﴾ معنی ئې ده ذي الشرف ذا. يعني د قرآن
خوند د شرافت دي. څوک چې ورباندې ايمان راوړي نو هغه ته به د زړونکي شرافت
دي. بيا ئې معنی ذي الموعظة ده يعني نصيحت والا قرآن.

﴿بَلِ الَّذِينَ كَفَرُوا﴾ بل د پاره د اضراب انتقالي دي د قسم او مقسم به نه. يعني دې کښې خو
هيڅ شک نشته چې قرآن د الله ﷻ کتاب دی او مجسم نصيحت دی. نو بيا ئې شو د خبره چې
د کافرانو پرې ايمان ولې نه راوړي نو د دې کښې د قرآن څه قصور نه دی بلکه د دې سبب د
دوی تکبر او عناد دي ﴿فِي عِزَّةٍ﴾ د عزت نه مراد خان لوی ګڼل او تکبر کول دي د قبول حق
نه. کقوله تعالى: اخذته العزة بالاثم (بقره: ۲۰۶) ﴿وَشِقَاقٍ﴾ او د دوی ضد او عناد په وجه د حق
قبولونه انکار او مخالفت دي.

﴿كَمْ أَهْلَكْنَا مِنْ قَبْلِهِمْ﴾ دا تخويف دنيوي دي کافرانو ته د هغوی په کفر او استکبار باندې.
چې مونږ ستاسو نه مخکښې هم ډير خلق د کفر په وجه هلاک کړيدي. د دې رسول ﷺ زارۍ په وجود هم
يې خلاص نه شول. ﴿كَمْ﴾ خبريه دي. ﴿فَنَادَوْا﴾ د دې نه مخکښې عبارت مقدر دي. اي حين جاءهم العذاب.
يعني چې کله په دوی عذاب راغي نو بيا ئې مونږ ته چغې او بسلې. قتادة رحمه الله وائي: چغې ئې
وهلې چې زمونږ توبه ده. دا دې لپاره چې نجات راته ميلاو شي. ليکن نه وو دغه
وخت. وخت د خلاصۍ او فرار.

﴿وَلَاتَ حِينَ مَنَاصٍ﴾ لات حرف مشبه بليس دي، اسم له رفع او خبر له نصب ورکوي. اصل
کښې صرف لا دي. ته په کښې زائده ده د پاره د تانيث في اللفظ، د پاره د مبالغه في النفي.
په دوه شرطونو سره عمل کوي: (۱) يو دا چې اسم او خبر ئې د وخت زمان وي. (۲) دويم دا
چې يو پکښې حذف شوي وي او اکثر ئې اسم حذف وي، او دلته ئې هم اسم محذوف دي او
﴿حِينَ مَنَاصٍ﴾ خبر دي. اي: لات الحين حين مناص ﴿مَنَاصٍ﴾ مصدر دي دي د ناص ينوص. نجات
او فرار ته وائي. يعني بيا ئې د نجات او بچ کيدلو د پاره ډير فريادونه کول خو هغه وخت د
نجات وخت نه وو.

وَعَجِبُوٓا اَنۡ جَآءَهُمۡ مُّنۡذِرٌ مِّنۡهُمۡ وَقَالَ الۡكٰفِرُوۡنَ هٰذَا سٰحِرٌ
اوتعجب اوکړودوئ ددې نه چې راغې دوئ ته يره ونکې پيغمبر ددوئ دجنس نه. اوو انې کافران چې دا پيغمبر ساحردی
كَذَّابٌ ۝ اَجَعَلَ الۡاٰلِهَةَ اِلٰهًا وَّاحِدًا ۖ اِنَّ هٰذَا لَشَیۡءٌ عُجَابٌ ۝ وَانۡطَلَقَ الۡمَلَاُ
ډيردروغژن دې آيا وګرځول ده دا ټول خدايان .خدای يو .بيشکه دا خامخا يو قصه عجيبه ده. اوروانه شوه ډله دمشرانو
مِنۡهُمۡ اَنِ امۡشُوۡا وَ اصۡبِرُوۡا عَلٰۤى اٰلِهَتِكُمۡ ۖ اِنَّ هٰذَا
ددوئ نه ويل ئې يوبل ته چې ځئ ددې پيغمبرنه اوکلک شئ په عبادت دمعبودانو خپلو .بيشکه دا توحيد
لَشَیۡءٌ يُّرَادُ ۝
خامخا يو څيزدې چې اراده کړې شويدې.

﴿وَعَجِبُوٓا أَن جَآءَهُم﴾ دا دَ كافرانو ضد او عناد باندې مبني څو اعتراضات به طور شكوې ذكر كيږي او دائې اول اعتراض دې چې كچرته دا پيغمبر فرشته وې .او دَ عالم بالا خبرې ئې كولې نو بيا خودَده خبره منلواو په ده ايمان راوړلو څه وجه وه .دې خو زمونږ جنس نه دې او راپاسدلې دې مونږ ته دَ آسمانونو خبرې كوي او دَالله عذاب نه مونږ بيروي. خلاصه ددې اعتراض دا ده چې نبي بشر نشي كيدې ﴿وَعَجِبُوٓا﴾تعجب انكاري دي﴿وَقَالَ ٱلۡكَٰفِرُونَ ﴾ قالوا ويل پكار وو ،ځكه چې محل د اسم ضمير دې خو اسم ظاهر الكافرون راوړلو كښې دَ دوئ دې وينا علت او باعث طرف ته اشاره ده ﴿ هَٰذَا سَٰحِرٌ﴾ يعني ساحر دې دخپل الفاظو په جادو خلق ځان سره كوي ﴿كَذَّابٌ﴾ دې په هغه څه كښې چې الله ﷻ ته ئې نسبت كوي

﴿أَجَعَلَ ٱلۡأٓلِهَةَ ﴾ آلهة مفعول اول دې او﴿إِلَٰهًا وَٰحِدًا ﴾مفعول ثاني دې،دائې دويم اشكال دې يعني بله ئې واورئ چې اله هم يو دې،دا څنګه كيدې شي چې دومره لوئ عالم وي ، دهغې مختلفې شعبې وي، شپه او ورځ راوستو شعبه ده ، صحت او مرض شعبه ده،اولاد اودَمرګ شعبه ده،بارانونو او هواګانو چلولو شعبه ده وغيره وغيره،او ددې انتظامات دې يو ذات په لاس كښې وي او هغه په يواځې ځان دا ټولې شعبې چلوي،داخو ډيره عجيبه غونډې خبره ده هذا كښې اشاره ده مسئله توحيد ته عجاب بروزن فعال صيغه دَمبالغې ده يعني ډيره

عجيبه خبره

دَدي آياتونوشان نزول دادي چې ترمذي،نسائي وغيره د ابن عباس ﷺ نقل کړيدي چې دَحضور ﷺ مشفق تره ابوطالب بيمارشونودقريشوسردارانومشوره اوکړه چې ابوطالب بيمارشويدې کچرې وفات شي اوبيامونږمحمد ﷺ دخپل دين نه منع کوؤنوخلق به مونږته پيغورراکوي،لهذاداابوطالب دَوفات کيدلونه مخکښې دې منع کول پکاردي.چنانچه دوئ ابوطالب ته راغلل ورته ئې اووئيل چې ستاوراره زمونږمعبودانونه منې بدردورته وائي.نوته ئې منع کړه،ابوطالب حضور ﷺ رااوغوښتلواوورته ئې اووئيل ستاقوم ستانه گله کوئ چې دې زمونږمعبودانوته بدردوائې،خلق ئې دعبادت نه منع کوي.حضور ﷺ ورته اوفرمائيل چې اې تره څه غواړم چې دوئ داسې کلمه اووائي چې په هغې سره به ټول عرب ددوئ غلامان شي اوټول عمرعجم به ورته جزيه ورکوي نودوئ ورته اووئيل چې اوښايه مونږته هغه کومه کلمه ده؟ يوځل نه بلکه مونږبه ئې لس ځله اووايو،نوحضور ﷺ ورته اوفرمائيل لا اله الا الله.نوحې داواوريدل نوغصّه شول اوروان شول اواوئې وئيل چې﴿أَجَعَلَ ٱلْآلِهَةَ إِلَٰهًا وَاحِدًا﴾

﴿وَٱنطَلَقَ ٱلْمَلَأُ مِنْهُمْ﴾ انطلاق نه مراد ياحسي انطلاق يعني روانيدل دي.اي: انطلق الملأ منهم متحاورين يعني دائې اوئيل او روان شو يا انطلاق دلته د افعال شروع په طور استعمال شوې دې، اي : انطلقوا يقولون، يعني دا وئيل ئې شروع کړو﴿ٱلْمَلَأُ﴾ نه مراد دَ قريش سرداران دي

﴿أَنِ ٱمْشُوا۟﴾ "ان"تفسيريه دې،ځکه چې "انطلق" په هردوه تقديره د قول معنې ته متضمن دې،او ظاهره داده چې "مشي" نه مرادتلل دي دَمجلس نه،بعض وائي مراددادې چې پخپل دين يعني شرك باندې تلل يعني عمل کوئ.﴿وَٱصْبِرُوا۟ عَلَىٰٓ ءَالِهَتِكُمْ﴾اى اثبتوا على عبادتها(روح)يعني دَخپلومعبودانوپه عبادت کلك شئ،﴿إِنَّ هَٰذَا﴾اشاره ده دعوت الي التوحيدته.﴿لَشَىْءٌ يُرَادُ﴾دَ دې جملې څو مطلبه بيان کړې شوي دي:(۱)يو دا چې دې دعوې کښې دَ ده څه مقاصد دي چې سرداري او شرف غواړي(۲)يا دا چې دا خبره اوس د تږقو نه وتې ده . دې خوسنجيده او پُر عزم دې.خپل دعوت کښې(۳)يا دا چې تکويني طور باندې ددې دين تنفيذ اراده شوې ده لهذا تاسو خپلې طمعې قطع کړئ(۴)يا ئې دا به طور تحقير وئيلې دي. چې دا خو دَ دوئ ارادې او تمناګانې دي،څه ضروري نه ده چه تکميل ته به هم اورسي.(روح)

مَا سَمِعْنَا بِهٰذَا فِى الْمِلَّةِ الْاٰخِرَةِ ۚ إِنْ هٰذَآ إِلَّا اخْتِلَاقٌ ۝ ءَأُنْزِلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ

نه ده اوریدلي مونږ دا خبره په ملت(دین)روستني کښې،نه دي دامګر دروغ .آیا نازل کړې شوېدې په ده باندې قرآن

مِنْۢ بَيْنِنَا ۚ بَلْ هُمْ فِى شَكٍّ مِّنْ ذِكْرِىْ ۚ بَلْ لَّمَّا يَذُوقُوا عَذَابِ ۝ أَمْ عِنْدَهُمْ

په مینځ زمونږ کښې،بلکه دوئ په شک کښې دي،دځماذکر نه،بلکه تراوسه پورې نه دي څکلي دوئ عذاب ځما .آیادوئ سره دي

خَزَآئِنُ رَحْمَةِ رَبِّكَ الْعَزِيزِ الْوَهَّابِ ۝ أَمْ لَهُمْ مُّلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۖ

خزانې د رحمت د رب ستاچې غالب دې،بخښونکې دې،آیادوئ لره ده بادشاهي د اسمانو او د زمکې او څه چې په مینځ د دوئ کښې دي

فَلْيَرْتَقُوا فِى الْأَسْبَابِ ۝ جُنْدٌ مَّا هُنَالِكَ مَهْزُومٌ مِّنَ الْأَحْزَابِ ۝

نو او دې خیژي دوئ په پوړو کښې اسمانونوته.لښکرګوټې غونډې دې. هلته کښې.شکست خوړلې،دډلونه

﴿مَا سَمِعْنَا بِهٰذَا﴾ دا ئې دریم اعتراض دې یعني عقلي استبعاد خو ئې پرېګدئ نقلاً هم دا مسئله ثابته نه ده ځکه چې مونږ دَ دینه مخکښې دا خبره دا چا نه نه ده اوریدلې،دادې دَ ځان نه دروغ وائي﴿بِهٰذَا﴾کښې اشاره ده مسئله توحید ته﴿الْمِلَّةِ الْاٰخِرَةِ﴾ ددې نه مراد نصرانیت دې، او ﴿الْاٰخِرَةِ﴾ صفت ئې ورله ځکه راوړو چې داقبل از اسلام ملتونو کښې آخري ملت دې او یا دَ دوئ اعتقاد په اعتبار سره ورته﴿الْاٰخِرَةِ﴾اونیلې شوسره،ځکه چې دوئ په نبوت دَ حضورﷺ باندې ایمان نه راوړې،او ګمراه عیسائیانو چونکه د توحید قائل نه وونو ځکه دوئ دا خبره اوکړه او یا د ﴿الْمِلَّةِ الْاٰخِرَةِ﴾ نه مراد آباؤ واجداد دې لکه په دې قول د الله تعالی کښې: ما سمعنا بهذا في آبائنا الاولين(المؤمنون)﴿إِلَّا اخْتِلَاقٌ﴾اختلاق هغه دروغو ته وئیلې کیږي چې مثل ئې نوي.

﴿ءَأُنْزِلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ﴾ دا ئې څلورم اعتراض دې چې په مونږ کښې مالداره اوسرداران موجود دي نو آیا دَهغوئ په موجودګئ کښې په ده قرآن نازلیږي،په هغوئ ولې نه نازلیږي، کقوله تعالی: لولا نزّل هذاالقرآن على رجلٍ من القريتين عظيم. ﴿الذِّكْرُ﴾ نه مراد قرآن دې، کقوله تعالی:وهذا ذكرٌمباركٌ،و انه لذكرٌ لك،﴿بَلْ هُمْ فِى شَكٍّ مِّنْ ذِكْرِىْ﴾اضراب دې دَماقبل نه او اضراب یاابطالي دې چې هغه د

ماقبل کلام ابطال تقاضه کوي.یعني د دوئ دا اعتراض د سر نه غلط دي خکه چې دوئ خو قرآن په نزول کښې شک مند دي کله وائي چې سحر دې او کله ورته دروغ وائي نو بیا ئې ولې دَ ځان دَ پاره اثبات غواړي اویااضراب انتقالي دې چې هغه ماقبل کلام حکم په خپل حال پرېګدي او بل کلام طرف ته ترینه منتقل شي.یعني دوئ سره ستا په تکذیب باندې څه واضحه دلیل او یقیني خبره نشته بلکه هځې شک او تذبذب کښې دي کله درته شاعر وائي .کله ساحر او کله څه او کله څه.﴿بَل لَّمَّا یَذُوقُوا عَذَابِ﴾دااضراب انتقالي دې د ماقبل دواړو خبرو نه حسد نه ،چې هغې ذکر په "اانزل علیه الذکر" کښې اوشو.اوشک نه چې هغې ذکر په " هم في شک" کښې اوشو.یعني دوئ دا حسد او شک ځکه کوي چې دوئ لاتر اوسه څما عذاب څکلې نه دې، چې اوڅکي نو بیا به نه شک پاتې وي او نه حسد.'عذابِ' اصل کښې عذابې وو، 'یاء' تخفیفاً حذف شوې ده.

﴿أَمْ عِندَهُمْ خَزَائِنُ﴾داهم رددي دَهغوئ دَ څلورم اعتراض. چې نبوت ورکول او رسالت منصب نه سرفرازکول دا دالله ﷻ رحمت دې چې چا ته ئې خوښه شي ورکړي .څوک ئې ترینه په زور اغستې نه شي،نو آیا دوئ دالله ﷻخزانو مالکان دي او هغې کښې دخپلې مرضئ موافق تصرف کونکي دي چې چا ته خوښه شي ورکړي او چاته ئې خوښه شي ترینه ئې محرومه کړي چې اوس دَ نبوت په باره کښې هم دا خبره کوي!!؟ وَ﴿ٱلْعَزِيزِ﴾غالب ذات دې ،دَ هغه په کارونو کښې څوک تصرف او دخل اندازي نشي کولې ﴿ٱلْوَهَّابِ﴾ ورکونکې ذات دې درحمت چې چاته ئې خوښه شي،لهذا تا له ئې نبوت په خپل فضل سره درکړې دې، دې کښې دَ بل چا څه کار نشته

﴿أَمْ لَهُم مُّلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ﴾دا هم رد دې دَ څلورم اعتراض،چې دوئ دا خبره کوي چې دا کتاب په نبي کریم صلی الله علیه وسلم ولې نازل شوې دې او دې ولې رسول ګرځولې شوې دې؟ نو دَ دې جواب دادې چې دا هر څه الله کړي دي او هغه قادر مطلق ذات دې،ځمکې، آسمانونو او څه چې دې په مینځ کښې دي دهغې بادشاه دې،چې څه کول غواړي هغه کوي ،نو که دَ دوئ څه وس وي او علویاتو ، سفلیاتو اوفضا بادشاهي ورسره وي نو او دې خیژي آسمانونو ته او خپل مرضئ مطابق احکامات دې هلته نه جاري کړي، دا جواب په تهکم باندې مبني دې،

﴿فَلْيَرْتَقُوا فِي ٱلْأَسْبَابِ﴾جواب دي دشرط محذوف چي هغه ان كان لهم ملک في السموات والارض وما بينهما دي. ﴿ٱلْأَسْبَابِ﴾ جمع دسبب ده . هر هغه سي نه ونيلي كيږي چي مقصود نه پري رسائي كيږي او دلته ترينه مراد پوړئ او رسئ ده.چي په هغی سره اسمانونو ته ختل كيږی اود باء په ځائ في راوړلو كښې اشاره ده كثرت داسبابو ته او په هغې مكمل اقتدار ته ،يعني دا اسباب دومره ډير وي چي دوئ نه گير چاپيره وي او دوئ د پاره په منزله د ظرف اوگرځي بعض وائ مراد ورنه پخپله آسمانونه دی

﴿جُندٌ مَّا هُنَالِكَ﴾داتسلي ده نبي كريمﷺ ته چي څنگه ستا نه مخکښې انبياؤو خلاف ډلې را اوچتې شوې وې او دهغوئ دعوت په لار كښې ئې خنډونه اچولي وو.خو بالآخر د انبياؤو په مقابله کښې مغلوب شول،نو دغه شان دا هم يوه ډله ده .دوئ به هم شكست خوري، ﴿جُند﴾خبردَمبتدامحذوف دي اى هم جندٌاو"ما"صفتيه ده . تحقير د پاره هم راځي او تعظيم دپاره هم ، خو دلته د پاره دَ تحقير ده، اي:جند حقير، ﴿هُنَالِكَ﴾ اسم اشاره ده دپاره د مكان . صفت ثاني دې د پاره د جند او راجع قول دادې چې دا اشاره ده مكان حسي ته .چې هغه بدر، خندق ، مكه دې ،چې هلته دوئ شكست خوړلې وو، او يا﴿هُنَالِكَ﴾ كښې اشاره ده مكان معنوي ته ، يعني وړكې غوندې لښكر گوتې چې ځان ډير لوئ حسابوي. ﴿مَهْزُومٌ﴾ صفت ثالث دې،او﴿مِّنَ ٱلْأَحْزَابِ﴾صفت رابع دې يعني دوئ دَ هغو ډلو نه دي چې انبياؤو مخالفت ئې كړې وو.

كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَعَادٌ وَفِرْعَوْنُ ذُو ٱلْأَوْتَادِ ۝ وَثَمُودُ وَقَوْمُ لُوطٍ
تكذيب كړې وو مخكښې ددوئ نه قوم دنوحﷺ اوعاديانو،اوفرعون دَ ميخونو والا.اوثموديانواوقوم دلوطﷺ
وَأَصْحَـٰبُ لْـَٔيْكَةِ ۚ أُو۟لَـٰٓئِكَ ٱلْأَحْزَابُ ۝ إِن كُلٌّ إِلَّا كَذَّبَ ٱلرُّسُلَ فَحَقَّ عِقَابِ ۝
اوخاوندانو دَ ځنګل بيرته دا هغه ډلې دي،نه وو يدوئ كښې هريومګرتكذيب ئې كړې وو دَرسولانو ،نوثابت شويدوئ عذاب زما
وَمَا يَنظُرُ هَـٰٓؤُلَآءِ إِلَّا صَيْحَةً وَٰحِدَةً مَّا لَهَا مِن فَوَاقٍ ۝ وَقَالُوا۟ رَبَّنَا عَجِّل لَّنَا
اونه كوي انتظار دا خلق مګر دَچيغې يوې چې نه به وي هغې لره هيڅ انتظار.اووائی دوئ اې ربه زمونږه ،زرراكړه مونږته

قِطَّنَا	قَبۡلَ	يَوۡمِ	الۡحِسَابِ ⑯
برخه دعذاب	زمونږه.	مخکښې	دورځې دحسب نه.

﴿كَذَّبَتۡ قَبۡلَهُمۡ﴾ دادتخويف دنيوي نمونه ده.اود من الاحزاب بيان دې﴿ذو الۡأَوۡتَادِ﴾جمع دَ وتد ده ميخ ته وائي. او دا صفت دي دفرعون.اوفرعون ته ذوالاوتادځکه وائي(١)چې دده به کله چاته سزاورکوله نوپرمخ به ئې سملاؤاوپه لاسونوخپوبه ئې ورته ميخونه ټک وهل پدې حالت کښې به مړشو.بعض وائي څلورميخونه به ئې پرې ټک وهل اوماران لړمانان به ئې پرې پريخودل.(٢)بعض وائي چې اوتادنه مرادعمارتونه دي.يعني دې دبنګلوو الاوؤ(٣)بعض وائي چې﴿الۡأَوۡتَادِ﴾ نه مرادلښکرې دي،يعني خاونددډيرولښکروؤ.(۴)بعض وائي چې پدې سره دهغه دبادشاهئ قوت اومضبوط والي ته اشاره ده﴿وَأَصۡحَٰبُ لۡـَٔيۡكَةِ﴾قوم شعيب عليه السلام ورنه مراددې،چې تفصيل ئې شعراء وغيره کښې تيردې.﴿أُوْلَٰٓئِكَ الۡأَحۡزَابُ﴾ داهغهٔ لښکرې دی چې رسولانو تکذيب ئې کړې وؤ،نو مونږ هلاک کړل. أُوْلَٰٓئِكَ کښې اشاره ده مکذبينو ته چې آيت کښې ئې تذکره اوشوه.او دوئ چونکه کفراو بغض کښې انتها ته رسيدلی وؤ نوځکه ورته اشاره دبعيد اوشوه.﴿الۡأَحۡزَابُ﴾ نه مراد شکست خورده ډلې دی چې مهزوم من الاحزاب کښې ورته اشاره شوې ده.

﴿وَمَا يَنظُرُ هَٰٓؤُلَآءِ﴾اشاره اهلِ مکه ؤته ده.زجردې ورته چې دوئ وائي چې قيامت دې راشي،دقيامت انتظارکوي.قيامت چې کله راشي نوبيابه په هغې کښې هيڅ قسمه تاخيرنه کيږي.﴿صَيۡحَةً وَٰحِدَةً﴾نه مرادنفخهٔ ثانيه ده، ځکه چې داصيحة واحدة ده دې نه بعد بله صيح نشته،﴿مَّا لَهَا مِن فَوَاقٍ﴾﴾فواقدوه معنې شوې دی:(١) يو مهلت (٢)او بل رجوع ،که مهلت معنی ئې اوکړی شی نو بيا به داماخوذ وی فواق الناقة نه اودامابين الحلبتين من الوقت ته وائی يعني اوښه يابل څاروې يوځل الوشي اوبيائی لګه پريدې چې نورپئ راپريدې نوبيائی الوشي نودې وقفې ته فَوَاق وائی يعني چې داصيحه چې راشي نوبيابه په مقداردفواق ناقه هم نه ورستوکيږي.اوکه دَ رجوع معنی ئې واغستلې شي نوبياداماخوذ دې دفاق يفيق نه ، او دا

ونيلي کيږي هوش کښ راتلواوعقل واپس کيدو ته. دامعنی دحضرت ابن عباس ﷺاو قتاده ﷫ نه هم منقوله ده يعني اوس خودوئ قيامت غواړي خو چې کله قيامت راشي بيا به دنيا ته واپس کيدل نه وي.

﴿وَقَالُوا رَبَّنَا عَجِّل لَّنَا﴾دا هم شکوه ده او ديکښ دهغوئ پنځم اعتراض ذکر دې چې کچرته مونږ واقعی په نا حقه يو ،اوته په حق ئې اومونږ دعاد وثمود پشان دمکذبينو ډلې نه يو .نو بيا څنګه چې په هغوئ باندې په دنيا کښ عذاب راغلې وۀ .نو په مونږ دې هم راشي. [الکنز الثمين] لکه بل ځائی کښ ددوئ وينا داسې نقل ده: اللهم ان كان هذا هوالحق من عندك فامطر علينا حجارة من السماء او ائتنا بعذاب اليم [الانفال:٣٢]﴿قِطَّنَا﴾ اى نصيبنا ،،قط،،وئيلي کيږي ټکړې او حصې ته،يعني عذاب نه چې زمونږ کومه حصه رسی هغه مونږ ته دقيامت نه مخکښ دينا کښ راکړه. (روح).

اِصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ وَاذْكُرْ عَبْدَنَا دَاوٗدَ ذَا الْاَيْدِ ۚ اِنَّهٗ
صبرکوه ته اى پيغمبره! په هغه چې دوئ ئې وائی اويادکړه بنده زمونږداؤد﷤خاونددقوت،بيشکه دې
اَوَّابٌ ۝ اِنَّا سَخَّرْنَا الْجِبَالَ مَعَهٗ يُسَبِّحْنَ بِالْعَشِيِّ وَالْاِشْرَاقِ ۝
ډيررجوع کونکې ؤ، بيشکه مونږه تابع کړي وؤغرونه دده سره تسبيح به ئې کوله بيګائی اوپه سهارکښ،
وَالطَّيْرَ مَحْشُوْرَةً ؕ كُلٌّ لَّهٗ اَوَّابٌ ۝ وَشَدَدْنَا مُلْكَهٗ
اومارغان چې راجمع کړې شوي به وؤ،ټول دده اطاعت ګزاروؤ،اوقوي کړې وؤمونږه حکومت دده،
وَاٰتَيْنٰهُ الْحِكْمَةَ وَفَصْلَ الْخِطَابِ ۝
اوورکړې ووؤمونږده ته حکمت اوفيصله کول دجګړو.

﴿اَصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ﴾ دکفارو دشبهاتو نه بعد اوس باقاعده دتوحيد په اثبات اوپه نفی د شفاعت قهري دلائلو سلسله شروع کيږي،﴿اَصْبِرْ﴾ديکښ تسلی ده نبی ﷺ ته او طريقه دتبليغ ده چې دوئ که هر څومره بې هوده او ضدوعناد باندې مبنی خبرې کوي خوته پرې دصبر نه کار اخله جاهلانو سره دجهالت طريقه مه اختياره وه،بلکه دلائلو سره ورسره خبره کوه

﴿وَٱذۡكُرۡ عَبۡدَنَا دَاوُۥدَ﴾ دا اول دليل نقلي دې په نفي دشفيع قهري باندې. چې دداؤد ﷺ په شان جليل القدر پيغمبر باندې ابتلاء راغليده اودخپل رب نه ئې بخنه غوښتې ده. نوچې نبي شفيع قهري نشي جوړيدې نوبل به څوك وي. "ذكر" نه مراد يا ذكر لساني دې يعنى دوئ ته د داؤد ﷺ قصه بيان كړه، اوياذكر قلبي دې. يعنى داؤد ﷺ يادكړه يعني دوئ ته ئې قصه ذكركړه. ﴿ذَا ٱلۡأَيۡدِ﴾ صفت دې دداؤد ﷺ. د "ايد" معنى قوت دې آد يئيد نه ماخوذ دې. اومراد دقوت نه قوت دې په طاعاتو كښې او په امورسلطنت كښې. ﴿إِنَّهُۥٓ أَوَّابٌ﴾ ديكښې دطاعاتو قوت تفصيل دې. "اواب" صيغه دمبالغه ده "آب يئوب" نه پمعنى د رجوع سره اي رجاع. يعنى ډير زيات الله ﷻ ته رجوع كونكې وؤ، په حديث كښې دداؤد ﷺ دعبادت داصفت ذكرشويدې چې "احبّ الصيام الى الله تعالى صيام داؤد ﷺ واحبّ الصّلاة الى الله تعالى صلاة داؤد ﷺ كانَ يصومُ يوماً ويفطريوماً وكان ينامُ نصف الليل ويقوم ثلثهُ، و ينام سدسه" يعني ډيره خوښه طريقه الله ﷻ ته په روژه كښې روژې دداؤد ﷺ دې، اوډيره خوښه طريقه په (نفل) مونځ كښې دداؤد ﷺ ده، چې ده به يوه ورځ روژه نيوله اويوه ورځ به ئې افطاركولو، اوده به ترنيمې شپې پورې خوب كولو او بيا به ئې دريمه حصه دشپې مونځ كولواوبيابه ئې دشپې آخرې شپږمې حصه كښې خوب كولو.

﴿إِنَّا سَخَّرۡنَا ٱلۡجِبَالَ مَعَهُۥ﴾ دې آياتونوكښې په داؤد ﷺ دې وخونعمتونوچې به طورِمعجزه ورته وركړې شوې وؤ، دهغې تذكره ده، چې دې سره صفت اوابيت ښه واضحه كيږي، چې داؤد ﷺ به كله په تسبيح كښې مشغوله وؤنوغرونوبه ورسره هم تسبيح كوله، داكثروپه نيز د غرونو تسبيح به په زبانِ قال سره وه، لكه تسبيح دكانړوپه كف دحضور ﷺ كښې، بعضِ وائى تسبيح حقيقي نه وه بلكه انگازې وې د اواز د داؤد ﷺ، ليكن اول قول راجح دې ﴿بِٱلۡعَشِيِّ وَٱلۡإِشۡرَاقِ﴾ داپه دې دليل دې چې تسبيح دغرونوپه زبانِ قال سره وه ځكه چې په زبانِ حال سره تسبيح پدې دواړووختونوپورې خاص نده.

﴿وَٱلطَّيۡرَ مَحۡشُورَةٗ﴾ عطف دې په ﴿ٱلۡجِبَالَ﴾ باندې ﴿مَحۡشُورَةٗ﴾ ورنه حال دې، يعني مونږورته مارغان مسخركړې وؤچې داود ﷺ به كله تسبيح كوله نوټول به ورته راجمع شوي وؤ، تسبيح به ئې ورسره كوله، ابن كثير رحمه الله وائي چې مارغان به په هواكښې روان وؤ، داؤد ﷺ به دزبورتلاوت كولونودوئ به ودريدل تسبيح به ئې ورسره كوله ﴿كُلّٞ لَّهُۥٓ أَوَّابٞ﴾ ضمير داؤد ﷺ ته راجع دې، لام

تعليليه دي.يعني غرونو اومارغانوبه دوجي ددا ؤد ﷺ نه تسبيح كوله او اواب معنى تسبيح ويونكى ده،او په ځائى دتسبيح "اواب" لفظ ذكر كولو كښې كثرت ذكر طرف ته اشاره ده،چې بار بار به دوئ ذكر كولو.اويا اواب معنى رجاع ده اولام تعليليه نه دې.يعنى داټول د داؤد ﷺ اطاعت ګزار وؤ چې كله به ئى هم تسبيح له راغوختلو نو راتلوبه او ياضميرد لَهُ راجع دې الله ﷻ ته،يعني دوئ ټول الله ﷻ ته رجوع كونكي وؤ.

﴿وَشَدَدْنَا مُلْكَهُ﴾ اي قوينا ديكښې دامورِ سلطنت كښې دهغه قوت بيان دې، چې الله ﷻ ورله رعب او دبدبه وركړې وه ورسره غټې لښكرې اوجنګى ساز وسامان وؤ چې دشمن به ترينه يريدلو او بل طرف ته ورسره علم وفهم وؤ چې امور سلطنت انتظام ئى ډيرې محكمې طريقې او حكمت سره سنبهال كړې وؤ.اومضبوطئ اسباب دوه وؤ.يو باطنى رعب وهيبت،چې چابه ئى نوم اوريدلو نو مرعوب كيدلوبه،اوبل ظاهرى اسباب رعب .لكه غټې لښكرې او نور جنګى سازوسامان ورسره وؤ. ﴿وَءَاتَيْنَٰهُ ٱلْحِكْمَةَ﴾ حكمت نه مراد نبوت دې چې لازم دې كمال علم ته هم اوكمال عقل ته هم.﴿وَفَصْلَ ٱلْخِطَابِ﴾ ددې لفظ ډير **توجيهات** شوى دى:

(١)يوداچې "فَصْلَ" خپلې مصدري معنى كښې دې،او"ٱلْخِطَابِ"نه مراد الخصومات دى اوخصومات باندې دخطاب اطلاق ځكه اوشو چې دا مشتمل وى په خطاب باندې نومعنى به داشى چې مونږ ورله جګړو فيصله كولوصلاحيت وركړې وؤ

(٢)دويم داچې "فَصْلَ" مصدر پمعنى داسم فاعل سره دې او"ٱلْخِطَابِ"نه مراد كلام دې او دا داضافة الصفة الى الموصوف دقبيلى نه دې:أي الكلام الفاصل يعنى داسى كلام خووركړى وؤ چې هغه حق وباطل كښې فاصل او هغوئ فرق راوستونكې وؤ.

(٣)دريم دا چې "فَصْلَ"پمعنى داسم مفعول سره واغستې شى اي الكلام المفصول اومراد ترينه فصيح وبليغ كلام دې چې هغې كښې مقصود دغير مقصود نه جدا كړې شوى وى.

وَهَلْ أَتَىٰكَ نَبَؤُا۟ ٱلْخَصْمِ إِذْ تَسَوَّرُوا۟ ٱلْمِحْرَابَ ﴿٢١﴾ إِذْ دَخَلُوا۟ عَلَىٰ دَاوُۥدَ
اوآياراغلې دې تاته خبردجګړه كونكو،كله چې په ديوال راوختل دوئ محراب ته،كله چې دوئ داخل شول په داؤد ﷺ باندې

فَفَزِعَ مِنْهُمْ قَالُوْا لَا تَخَفْ خَصْمٰنِ بَغٰى بَعْضُنَا عَلٰى بَعْضٍ

نو ويرېدلو دوئ نه اوويل دوئ مه ويرېږه، مونږه دوه فريقه يو چې ظلم کړيدې يو زمونږ نه په بل باندې،

فَاحْكُمْ بَيْنَنَا بِالْحَقِّ وَلَا تُشْطِطْ وَاهْدِنَآ اِلٰى سَوَآءِ الصِّرَاطِ ﴿٢٢﴾ اِنَّ هٰذَآ اَخِیْ

نو فيصله اوکړه زمونږه مينځ کښې په حق سره او زياتي مه کوه او اوښايه مونږ ته سمه لاره، بيشکه دا خما ورور دې،

لَهٗ تِسْعٌ وَّتِسْعُوْنَ نَعْجَةً وَّلِیَ نَعْجَةٌ وَّاحِدَةٌ فَقَالَ اَكْفِلْنِیْهَا وَعَزَّنِیْ

ده لره دی نهۀ اونوي يو کم سل ګډې او خما يوه ګډه ده ،نو وائی دې چې راکړه ماته دا ګډه او غالب راغلې دې په ما باندې

فِی الْخِطَابِ ﴿٢٣﴾ قَالَ لَقَدْ ظَلَمَكَ بِسُؤَالِ نَعْجَتِكَ اِلٰى نِعَاجِهٖ

په خبرو کښې، اوو ئيل داؤد ﷺ چې خامخا په تحقيق سره ظلم کړيدې ده په تا باندې په غوښتلو د ګډې ستا، سره د خپلو ګډو نه،

وَاِنَّ كَثِیْرًا مِّنَ الْخُلَطَآءِ لَیَبْغِیْ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ اِلَّا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا

او بيشکه ډير دملګرونه داسې وي چې خامخا ظلم کوي بعضِ د دوئ په بعضُ باندې، مګر هغه خلق چې ايمان ئې راوړې وي

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَقَلِیْلٌ مَّا هُمْ وَظَنَّ دَاوٗدُ اَنَّمَا فَتَنّٰهُ فَاسْتَغْفَرَ

او کوي نيک عملونه (ليکن) ډير لږ دی دوئ، او ګمان وکړو داؤد ﷺ چې بيشکه مونږ امتحان وکړو په ده، نو بخنه ئې اوغوختله

رَبَّهٗ وَخَرَّ رَاكِعًا وَّاَنَابَ ﴿٢٤﴾ فَغَفَرْنَا لَهٗ ذٰلِكَ وَاِنَّ لَهٗ

د رب خپل نه او راپرېوتلو په رکوع کښې، او رجوع ئې وکړه الله ﷻ ته پس بخنه اوکړه مونږه ده ته د دغه کار، او بيشکه ده لره

عِنْدَنَا لَزُلْفٰى وَحُسْنَ مَاٰبٍ ﴿٢٥﴾

زمونږ سره خامخا نزديکت دې او خائسته ځائ د راتلو دې

﴿وَهَلْ اَتٰىكَ نَبَؤُا الْخَصْمِ﴾ دا ذکر د ابتلاء د داؤد ﷺ دې چې په ازمائش کښې واقع شويدې، چې خلاصه ئې دا ده چې داؤد ﷺ خپلې عبادت خانې کښې عبادت کولو. دروازې بندې وې اچانک د هغې کښې دوه کسان په ديوال را واوختل، داؤد ﷺ اوويريدو چې دا څنګه اوپدې وخت کښې راغلو؟ هغوئ ورته اوئيل پريشانه کيږه مه، زمونږ يوه مسئله ده هغه په تا حل کول غوارو،

هغه داچي مونږ شريكان يو، خمادي ملګري يو كم سل ګډې دي و خما صرف يوه ګډه ده. دې غواړي چې دا هم خمانه واخلي نو كه زه ورسره خبروته كينم نو دې خبرو كښې ډير تيز دې ما چړ كړي.لهذا ته زمونږ په مينځ كښې فيصله اوكه. داؤد ﷺ ورته اوئيل چې دې ظلم كوي چې ستانه داغواړي او خبره داده چې په شريكانو كښې ډير كم سم خلك رااوخي اكثر يكښې يو بل باندې ظلم كوي.دومره خبره كول وو چې داؤد ﷺ پوهه شو چې دا خو خما امتحان وو او خه تير وتم،نوفورا ئې توبه استغفار اوكړو او الله ﷻ ته په ركوع پريوتو.الله ﷻ ورله خطا معاف كړه.

ددې واقعې صرف دومره ذكر قرآن كښې دې اصل واقعه څه ده .او داؤد ﷺ نه څه خطا شوې وه؟دې باره كښې ځنې مفسرينو يوه مشهوره قصه ذكر كړيده چې دهغې څه سند نشته او دَانبياؤ دَعصمت هم منافي ده نودلته دوه خبرو پيژندل ضروري دي (۱)دآيت قابل قبول تفسير او حل.(۲) غلطې قصې ذكر او دَهغې رد.

امراول: مفسرينو ددې آيت متعدد قابل قبول تفسيرونه ذكركړي دي.

(۱)يو داچې دَ داؤد ﷺ په شريعت كښې دبل چانه دښځې پريخيدو مطالبه كول او دهغه په وينا خپله ښځه پريخودل،جائز وه(لكه صدر اسلام كښې چې دمؤاخات صورت كښې جائزوو) داؤد ﷺ خپلې يوكم سل ۹۹ ښځې وې او بيا هم دَ خپل امتى نه ددې مطالبه اوكړه نو دا مطالبه اګر چې شرعا جائز وه خو دَانبياؤو شان موافق نه وه نوځكه ورته الله ﷻ دپاره دَتنبيه دا دوه فرشتې رااوليږلې او بطور تمثيل ئې ورته دا قصه بيان كړه.داؤد ﷺ خپلې خطا باندې متنبه شو اوفورا ئې استغفاراوكړو(التحرير والتنوير)

(۲)دويمه دحضرت تهانوى ﷫ توجيه ده ،هغه فرمائي چې حضرت داؤد ﷺ ته الله ﷻ سلطنت او نبوت دواړه وركړي وو.او دې واقعې سره الله ﷻ د هغه امتحان اغستل مقصود وو،چې ده باندې دنبوت مزاج غالب دې اوكه دَبادشاهئ.ځكه چې نبوت مزاج كښې صبر و تحمل وى اوبادشاهئ مزاج كښې انتظام او جبروې.نودا دوه كسان ئې رااوليږل چې دوئ ډيره بې ترتيبى اوبې اصولى اوكړه،**اول**:داچې دروازه ئې پريخوده اوپه ديوال رواوختل،**دويم** داچې لب ولهجه ئې سخته وه.**دريم** دا چې خبرې ئې هم بې ادبئ سره شروع كړې،چې حقه فيصله اوكړه،زياتې مه كوه وغيره،نوداؤد ﷺ دَ نبوت مزاج مطابق داهرڅه برداشت كړو او ډير په تسلئ سره اودَقضا آدابو او اصولو سره ئې دهغوئ خبره واوريدله،دهغې مطابق مدعى

علیه پر ووُ نو دهغه خلاف ئی فیصله اوکړه.دا هر څه بالکل صحیح وو .هرکله چې ده دافیصله واوروله نو هغې کښې ترینه لګ غوندې خطااوشوه.فیصله داسې اورول پکارو چې مدعی علیه ئی مخاطب کړې وې او هغه ته ئی وئیلی وې چه "لَقَدْ ظَلَمْتَ" تاظلم کړې دې لیکن داؤد ﷺ مدعی علیه په ځائی مدعی مخاطب کړو چې "لَقَدْ ظَلَمَكَ" تاسره ظلم شوې دې.نو دیکښې یو قسم تسلی وه مدعی ته.دَقضا تولٰه کاروائی پوره.کیدلونه بعد مدعی له داسې تسلی ورکول اګر چه شرعاجائز ده خو په مجلس دقضا کښې داسې کول خلاف اولی ده دَ انبیاؤو شان موافق نه ده،نو ځکه داؤد ﷺ استغفار اوکړو.

(۳)دریمه توجیه دحضرت شبیر احمد عثمانی ﷫ ده ،هغه فرمائی چې ځماپه نیزاصلي خبره هغه ده چې دَابن عباس﷠ نه منقوله ده چې داامتحان په داؤد ﷺ دَیوشان اعجاب په بناء راغلې وو ،هغه داچې داؤد ﷺدَخپل کورنظام داسې جوړکړې وو چې شپه ورځ به خامخا دَده دَاهلِ بیت نه یوجماعت دَالله ﷻ په ذکرکښې مشغول وو .یوه ورځ ئی الله ﷻ ته عرض اوکړوچې په شپه ورځ کښې داسې یووخت نشته چې په هغې کښې ځماکورستادذکرنه خالي وي،الله ﷻ ته دغه خبره خوښه نه وه نوورته ئی اوفرمائیل چې داهرڅه ځماپه توفیق سره کیږي که ځمامدددرسره نه وي نودِاستادَوس خبره نده اوځه به یوه ورځ خامخاستانه داتوفیق سلب کوم،نوکله چې داواقعه اوشوه نوپدغه وخت کښې داؤد ﷺ په عبادت کښې مصروف وو ،عبادت ئی پریخودلواوپه فیصلې کښې مشغوله شو،نوچې کله فارغ شونوپوهه شوچې داراته عتاب وو ،نوپخپل اِعجاب ئی استغفاراوکړو:اخرج هذا الاثر الحاكم فی المستدرك وقال صحیح الاسناد،واقرهُ الذهبي فی التلخیص.

(۴)څلورمه توجیه چې اکثر مفسرینو اختیار کړې ده اوحضرت شیخ غلام الله خان ﷫ ورله هم ترجیح ورکړې ده دا ده: چې دادوه کسان فرشتي وي اوکومه مقدمه یی چې راوړې وه هغه نفس الامري نه وه بلکه یوه مفروضه وه،نوحضرت داؤد ﷺچې کله دَمدَعي دعوه واؤریدله،نوجلدي ئی وکړه چې مدّعي علیه ته ئی دَصفائی اوجواب موقع ورنکړه اوفیصله ئی اوکړه داؤد ﷺګمان داووچې داخوانسانان دي،لیکن چې کله دده په مخکښې لاړل اسمان ته اوختلٌ نودې پوهه شوچې داپه ماامتحان ووچې مانه پکښې خطااوشوه نوبخنه ئی اوغوښته.

امردوم: هغه منکرته واقعه چې په اسرائیلې او ضعیف اوبې سنده روایتونو کښې ذکر ده ،د

هغې خلاصه دا ده چې يوورځ داؤد ﷺ دَخپل يو امتي ښځه اوليدله نوهغه ئې ډېر خوښه شوه،دهغې قابوکولو دَپاره ئې دا تدبير جوړ کړو چې دهغې ښځې خاوندي ئې جهاد ته اوليږو او دَصف اول کسانو کښې ئې ورله نوم اوليکلو چې هغوئ به د لښکر نه مخکښې وو او تابوت به ئې اوچت کړې وؤ.ادې تابوت ذکر په دويمې سپاري آخر کښې تېر شوې دې.انو هغه کس په جهاد کښې شهيد شواو داؤد ﷺ دهغه ښځې سره نکاح اوکړو

داواقعه بې سنده اوضعيف کيدلو سره سره دانبياؤ شان او عصمت سره هم منافي ده.حافظ ابن کثير رحمه الله دې متعلق ليکلي دي:وقد ذکر المفسّرون ههنا قصة اکثرهاماخوذٌ من الاسرائيليات و لم يثبت فيها عن المعصوم حديثٌ يجبُ اتباعُه.

دغه شان ابوحيان رحمه الله هم ورنه اعراض کړيدې،امام رازي رحمه الله وربانديې په تفسيرکبيرکښې په لسو (۱۰) وجوهوسره ردکړيدې،دَحضرت علي رضي الله عنه منقول دي چې کوم سړي دداؤد عليه السلام باره کښې دغه واقعه بيانوي څه به ئې(۱۴۰)دُرې وهم،چې دادَپه انبياؤباندې دَبهتان سزاده.

﴿إِذْ تَسَوَّرُوا﴾ تسور په ديوال راختلو ته وائي،﴿المحراب﴾نه مراد داؤد ﷺ عبادت کمره ده.﴿إِذْ دَخَلُوا﴾ بدل دې "اذ تسوروا"نه ﴿فَفَزِعَ مِنْهُمْ﴾اويريدو ځکه چې دپهريدارانو او چوکيدارانو موجودګئ کښې دا کسان څنګه راغلو،اوبيائې سمه لار پريخودله او په ديوال راواريدو، داسې نه چې په غلطه اراده راغلي وي ﴿خَصْمَانِ﴾خبر دې دمبتدا محذوف اي نحن خصمان "خصمان" په معنی د طائفتان متخاصمتان سره دې،يعنی دوه ډلې دی مراد چې يوبل سره ئې تنازع راغلې وه،دوه سړي نه دی مراد،ددې توجيه تائيد په قصه کښې مذکور ضمائر دجمعو سره کيږي،لکه :تسوروا، دخلوا، بغی بعضنا علی بعض،او ياترينه مراد دوه کسان دی،او دې تائيد په ان هذا اخي سره کيږي،﴿وَلَا تُشْطِطْ﴾شطط نه ماخوذ دې حدنه تجاوز ته وئيلی کيږي،يعنی ظلم مه کوه.﴿سَوَآءِ ٱلصِّرَٰطِ﴾مراد ترينه عدل اوانصاف دې.

﴿إِنَّ هَـٰذَآ أَخِى﴾دَمسئلې او قضيې بيان دې،"اخي" نه مراد يا ديني ورور دې،او ياترينه ملګرې اوکاروبارکښې شريک مراد دې﴿نَعْجَةٌ﴾ګډې ته وائي او مراد ترينه هم ګډه ده﴿أَكْفِلْنِيهَا﴾اجعلهافي کفالتي يعنی داهم ماته حواله کړه.﴿وَعَزَّنِى فِى ٱلْخِطَابِ﴾يعنی کله چې څه دَورکولو نه انکاراوکړم

نو دې بيا ماته سختې خبرې کوی او دهمکئ راکوی اي: اظهر في الكلام عزة وتطاولا. (التحرير والتنوير) يا عَزَّ پمعنی دغلبې سره دې. یعنی که څه ورسره خبروترونه کینم. نودې څمانه فصیح دې خپله خبره مضبوط اندازکښ پيش کړی نو خلک دده په حق کښ فيصله اوکړی.

﴿قَالَ لَقَدْ ظَلَمَكَ﴾ دا دَداؤد ﷺ فیصله ده. دَحضرت تهانوی او عثمانی رحمه الله رائ مطابق دا فيصله ئی دا قضاء اصولو مطابق کړې وه ددې کښې څه خطا نه وه بلکه خطا بله وه چې تفصيل ئې مخکښې تير شو اوحضرت شيخ رحمه الله رائ مطابق دا فيصله دقضا اوصولو مطابق نه وه. ځکه چې کله ورته مدعی خپله قصه بيان کړه اوخپلې بې وسئ اظهار اوکړو نو دې ډير خفه شو او دمدعی نه ئی په خبره گواه طلب کولو يا مدعی عليه باندې يمين (قسم) پيش کولو طرف ته ئې ذهن نه لاړو او فورا ئی دافیصله اوکړه.

﴿بِسُؤَالِ نَعْجَتِكَ إِلَىٰ نِعَاجِهِۦ﴾ (سؤال) مصدر دې او ضم معنې لره متضمن دې. ځکه چه ئی په صله کښې "الی" راغلې دې. اي بسؤال نعجتک ضاما الی نعجاجه یعنی خپلو گډو سره ستا گډه هم ځان ته کولو په وجه. ﴿إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا﴾ یعنی اکثر شرکاء اګر چې ظلم کوی خو دصالحينو داشعار نه دې دې کښې هغوئ ته ترغيب دې نيکئ طرف ته. ﴿وَقَلِيلٌ مَّا هُمْ﴾ قليل خبر مقدم دې او "هم" مبتدا دې "ما" زائده ده دَپاره دَتاکيد. ﴿وَظَنَّ دَاوُۥدُ﴾ ظن پمعنی دَيقين سره دې. یعنی کله چې داؤد ﷺ دا فیصله اوکړه نوفورا پوهه شو چې داخو په ده يوامتحان وو او دې پکښې تيروتو. ﴿وَخَرَّ رَاكِعًا﴾ اي ساجدا رکوع نه مراد سجده ده. امام ابوحنيفه رحمه الله دې آيت نه استدلال کوی چې رکوع دَسجده تلاوت قائم کرځی. ځکه چې دلته دَسجدې نه تعبيرپه رکوع سره شوې دې.

﴿وَإِنَّ لَهُۥ عِندَنَا لَزُلْفَىٰ﴾ دنيوی اجر ذکر دې. يعنې استغفار نه ورستو ورله الله ﷻ مزيد مقام ومرتبه او قربت نصيب کړو ﴿وَحُسْنَ مَـَٔابٍ﴾ اخروې اجر ذکر دې. ديکښې اشاره ده دیته چې داؤد ﷺ باوجود دَدينه چې يولوئ بادشاه اوعبادت گزار وو، خو ددې په وجه تکبر کښې نه وو مبتلا شوې معمولی غوندې کوتاهی باندې ئی الله ﷻ ته رجوع اوکړه، نو الله ﷻ ورله ددې دنيوی واخروی دواړه بدلې ورکړې، په خلاف ددې کافرانو چې لوئ لوئ جرمونه کوی خو الله ﷻ ته رجوع نه کوی بلکه تکبر کوی، نو الله ﷻ ورله دنيا اوآخرت دواړو برباد کړل.

يٰدَاوٗدُ اِنَّا جَعَلۡنٰكَ خَلِيۡفَةً فِى الۡاَرۡضِ فَاحۡكُمۡ بَيۡنَ النَّاسِ بِالۡحَقِّ
اې داوده بیشکه ګرځولې مونږ ته خلیفه په زمکه کښې نوفیصله کوه ـه مینځ دخلقوکښې په حق سره
وَلَا تَتَّبِعِ الۡهَوٰى فَيُضِلَّكَ عَنۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ الَّذِيۡنَ يَضِلُّوۡنَ
اومه کوه اتباع دخواهشاتو کښې ګمراه به کړي تا د لارې دالله ﷻ نه. بیشکه هغه خلق چې ګمراه دي
عَنۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ لَهُمۡ عَذَابٌ شَدِيۡدٌ ۢ بِمَا نَسُوۡا يَوۡمَ الۡحِسَابِ ۞
دلارې دالله ﷻ نه،دوئ لره عذاب سخت دې پدې وجه چې هیره کړیده دوئ ورځ دحساب

﴿يٰدَاوٗدُ اِنَّا جَعَلۡنٰكَ خَلِيۡفَةً﴾ دابیان دې د﴿وَاِنَّ لَهٗ عِنۡدَنَا لَزُلۡفٰى﴾او﴿خَلِيۡفَة﴾معنى یاقائم مقام ده یعنې دانبیاؤوسابقوؤچې قائم وؤپه حق، دهغوئ قائمقام مواوګرځولې،او یا﴿خَلِيۡفَة﴾ پمعنې د حاکم او بادشاه سره دې یعنې دزمکې حاکم موګرځولې ئې چې دخلقومینځ کښې به فیصلې کوې.﴿فَاحۡكُمۡ بَيۡنَ النَّاسِ بِالۡحَقِّ﴾ دا دوه حکمونه دی چې په خلافت باندې متفرع دی یعنی خلافت مو درکړونو اوس ددې حق دا دې چې: (۱)حق مطابق فیصله کوه.(۲)اوپه فیصله کولو کښې دنفس خواهشاتو اتباع مه کوه،اومرادپه امر اونهی سره دوام دې ځکه چې انبیاء د ګناهونو نه معصوم وی ﴿فَيُضِلَّكَ﴾جواب نهي دې.یعنی کچرته دې یوحکم کښې هم دخواهش نفس اتباع اوکړه، نو بیا به درته ټول شریعت قائم پاتې کیدل ګران شی.﴿اِنَّ الَّذِيۡنَ يَضِلُّوۡنَ﴾دې کښې اتباع نفس سبب بیانیږی چې هغه قیامت روځ اوحساب کتاب هیرول دی.

فائده: دې آیت نه دوه خبرې ثابتیږی:

(۱)یوداچې خواهش نفس اتباع سبب دګمراهئ دې،انسان اګرچې صرف یوحکم کښې دنفس اومنی اودشریعت اونه منی خوداداسې بلا ده چې دې اثرات اوجراثیم نوروااحکاماتو ته منتقل شی اودنورو احکاماتو بې وقعتی هم په زړه کښې اوغورزیږی،چې هغې د وجهی نه پرې بیا عمل کول مشکل شی

(۲)دویم دا چې اتباع نفس بنیادی سبب دآخرت ورځ هیرول دی،کچرته یوسړې دآخرت ورځ مستحضر ساتی اوحساب کتاب مراقبه کوی نو چرته به هم دنفس په دام ومکر کښې راګیرنشی.

وَمَا خَلَقْنَا السَّمَآءَ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا بَاطِلًا ۚ ذٰلِكَ ظَنُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

اونديږ پيدا كړيدي مونږه اسمان او زمكه او هغه چې په مينځ ددې دواړو كښې دي عبث. دا گمان دكافرانو دې.

فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنَ النَّارِ ﴿٢٧﴾ اَمْ نَجْعَلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

نو هلاكت دې هغه خلقو لره چې كفرئې كړې دې، چې اور دې، آيا مونږ گرځوو هغه كسان چې ايمان ئې راوړې وي

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ كَالْمُفْسِدِيْنَ فِي الْاَرْضِ ۘ اَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِيْنَ كَالْفُجَّارِ ﴿٢٨﴾

او كړي ئې دي نيك عملونه، پشان دَفساد(شرك) كونكو په زمكه كښې. آيا مونږ گرځوو پرهيزگاران پشان دَ فاجرانو

كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَيْكَ مُبٰرَكٌ لِّيَدَّبَّرُوْٓا اٰيٰتِهٖ

«داقرآن»يو كتاب دې، چې نازل كړيدې مونږ تاته بركتونو والا دې، دَپاره ددې چې دوئ سوچ وكړي په آياتونو ددې كښې.

وَ لِيَتَذَكَّرَ اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴿٢٩﴾

او دَپاره ددې چې نصيحت قبول كړي خاوندان دَعقل

﴿وَمَا خَلَقْنَا ٱلسَّمَآءَ وَٱلْأَرْضَ﴾ دا اول دليل عقلي دې په توحيد او په نفي دَشفيع قهري، چې زمكه او آسمان او دا ټول كائنات بيكاره او بې مقصده ندی پيدا شوي بلكه دكائناتو ذره ذره دَ الله ﷻ په وحدانيت او قدرتِ كامله باندې دليل دې، ﴿بَٰطِلًا﴾ معنى او مراد عبث او لوبى دي يعني عبث او بې حكمته ئې ندي پيدا كړي، كقوله تعالى: وماخلقنا السّموات و الارض و ما بينهما لاعبين. ﴿ذَٰلِكَ ظَنُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟﴾ يعني كائناتو ته بې مقصده وئيل گمان دكافرانو دې، ځكه چې پدې سره انكار دې دَمعاد او جزاء نه او نفي دَقدرة دَالله ﷻ ده، ﴿فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ كَفَرُوا۟﴾ تخويف دې كافرانو ته، چې داسې نظريه ساتلو باندې دوئ لره تباهي ده چې اور دَجهنم ته به داخليږي. ﴿مِنَ ٱلنَّارِ﴾ مِن بيانيه دې يعنى هغه هلاكت چې اور دې او يا مِن ابتدائيه دې يعنى هلاكت دې دَدوئ دَپاره دَاور نه

﴿أَمْ نَجْعَلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟﴾ دا زجر دې او دليل دې په وقوع دَقيامت يعنى قيامت به خامخا راځى ځكه كچرته قيامت نه وي نو دې مطلب به داشي چې مؤمن او كافر، مفسد او رمتقى يو شان

دي، اوداخو كيدئ نشي بلكه دوئ كښې خولوئ فرق دي، نو ددې فرق ورځ هغه قيامت ده. چې مؤمن ته خپله بدله جنت ميلاؤشي اوكافرته خپله بدله جهنم ميلاؤشي. ﴿ام﴾ منقطعه دې په معنى د بل اواستفهام انكاري دې، ﴿كَٱلْمُفْسِدِينَ﴾ دفسادنه مرادكفراوشرك دې. چې دقانون دشريعت نه دبغاوت ارتكاب كوي چې ددي پوجه فسادفى الارض خوريږي ﴿أَمْ نَجْعَلُ ٱلْمُتَّقِينَ كَٱلْفُجَّارِ﴾ تاكيددې دماقبل، يعنى داسى خو هر گز نشي كيدې ځكه چې بياخو به متقى اوفاجر دواړه برابر شي، او دا دواړه چرته هم نشي برابر كيدې

﴿كِتَٰبٌ أَنزَلْنَٰهُ﴾ دا دليل وحى دې، يعنى مونږ دينى ودنيوى بركاتو حامل كتاب په تانازل كړې دې، او ددې مقصد دادې چې دوئ ددې په آياتونو باندې غوراوكړي چې پكښې خه واضح اومدلل انداز كښې دتوحيد مسئلى بيان دې اونصيحت حاصل كړي چې الله ﷻ نه ماسوا . نه څوک معبود شته، اونه شفيع قهرى﴿كتب﴾ خبردمبتدامحذوف دې اى هذاكتابٌ، تنوين دتعظيم لپاره دې، او﴿أَنزَلْنَٰهُ﴾صفت دې د﴿كِتَٰبٌ﴾. ﴿مُبَٰرَكٌ﴾ خبرثاني دې ياصفت ثاني دې، معنى ئې كثير المنافع الدينية و الدنيوية ده، به قولِ والدمحترم رحمه الله چې حضرت شاه منصورباباجي رحمه الله به فرمائيل: مباركٌ قارئه ، مباركٌ عامله ، مباركٌ سامعُه ، ﴿لِّيَدَّبَّرُوٓا۟﴾ متعلق دې د﴿أَنزَلْنَٰهُ﴾سره ، مقصد د نزول قراني ذكركيږي چې ددې په آياتونوكښې غوراوكړي شي چې څنگه دتوحيد بيان كوي، نو ايمان پري راوړې شي اونصحيت ورنه واغستلې شي، حسن بصري رحمه الله وائى: والله ماتدبُّره بحفظِ حروفه واضاعةِ حدودِه، حتّى اِنّ احدهم ليقول والله لقدقراتُ القرآن كلّه، وقد اسقطه والله كله، مايُرى للقرآن عليه اثرٌ فى خلقٍ ولاعملٍ. يعنى قسم دې په الله ﷻ چه په قرآن كښې داتدبرنه دې چه حروف ئې صحيح اووئيلې شى اواحكامات ئې ضائع كړې شى حتّى چه يوكس وائى چه ماټول قرآن اولوستلوليكن والله هغه ټول اوغورځولوځكه چه پده دقرآن هيڅ اثرنه ښكاري نه په صورت كښې اونه په سيرت كښې.

﴿وَوَهَبْنَا لِدَاوُۥدَ سُلَيْمَٰنَ ۚ نِعْمَ ٱلْعَبْدُ ۖ إِنَّهُۥٓ أَوَّابٌ ۞ إِذْ عُرِضَ عَلَيْهِ﴾

اوورکړې وږمونږداؤد ته سليمان ،ښه ښه بنده ووډې،بيشکه دې ديرجوع كونكې ووالله ﷻ ته، كله چې پيش كړې شوده ته

بِالْعَشِيِّ الصّٰفِنٰتُ الْجِيَادُ ﴿۳۱﴾ فَقَالَ اِنِّيْٓ اَحْبَبْتُ حُبَّ الْخَيْرِ
په وخت دَ بيګاه کښې اسونه کره عمده تيزرفتار،نواويل ده بيشکه زه محبت کوم محبت دَ اسونو سره.
عَنْ ذِكْرِ رَبِّيْ ۚ حَتّٰى تَوَارَتْ بِالْحِجَابِ ﴿۳۲﴾ رُدُّوْهَا عَلَيَّ ۖ فَطَفِقَ
دَپاره دَ ذکر دَخپل رب،تردې چې پټ شواسونه په پرده کښې،واپس ئې کړئ داماته،نوشروع ئې کړو
مَسْحًۢا بِالسُّوْقِ وَ الْاَعْنَاقِ ﴿۳۳﴾
لاس راکاږل په پندواوپه ستونو«دَ اسونو»،

﴿وَوَهَبْنَا لِدَاوٗدَ سُلَيْمٰنَ﴾دادويم دليلِ نقلي دې په موضوع دَسورة،چې سليمان عليه السلام دَجليل القدرپيغمبرخوې وو پخپله جليل القدروو خوپه ابتلاء کښې واقع شوې وو،دَالله تعالىٰ نه ئې بښنه غوښتلې وه،په چاچه ابتلاراشي نوهغه نه معبودوي نه شفيع قهري،مراددهبه کولونه په حيثت دَنبي هبه کول دي﴿نِعْمَ الْعَبْدُ﴾مخصوص بالمدح محذوف دې،چې هوَ دې،يعني دې ډيرښه بنده وو الله تعالىٰ ته ډيررجوع کونکې وو.

﴿اِذْ عُرِضَ عَلَيْهِ﴾متعلق دې دَ اذکر سره صيغه دَمجهول دپاره دَ تفخيم ده يعنى دومره ډير آسونه وو چې پيش کونکو تعداد ئې هم پوره نه وو معلوم﴿بالعشي﴾ماسپخين يا ماذديگر نه ترمابنام پورې وخت ته وائي.﴿اَلصّٰفِنٰتُ﴾نائب فاعل دې دَ عُرِضَ فعل اوجمع ده دَ الصافن،هغه اس ته وائی چې ولاړوي نودرې واړه خپې ئې مضبوطې اودره ولي وي اودَڅلورمې خپې حافر(سوه) ئې سسته لږه ولي وي،دادَعمده اس علامت وي(جلالين)او﴿اَلْجِيَادُ﴾جمع دَجواد ده،عمده اوتيز رفتار اس ته وائي، نومراددادي چې کله به دغه اسونه ولاړوونواطمينان سره به ولاړووا وچې رفتاربه ئي کولونوتيزبه تلل،

﴿فَقَالَ اِنِّيْٓ اَحْبَبْتُ حُبَّ الْخَيْرِ﴾ الخير نه مراداسونه دي،په حديث کښې دي،الخيل معقودفي نواصيهاالخير،**اشکال**: دلته مشهور اشکال دې چې احببت حب الخيرمعنى ده چې څه دَآسونو محبت سره محبت کوم،نو دمحبت سره محبت څنګه کيږي،

جواب: مفسرينو متعدد جوابونه کړي دي:

(۱) چا وئیلی دی چې احببت په معنی د اردت سره دې.

(۲) چاوئیلی دی چې په معنی د آثرت سره دې

(۳) او چا وئیلی دی چې حب الخیر مفعول مطلق تشبیهی دې

(۴) خوراجح قول دادې چې احببت خپله معنی کښې دې او حب الخیر مفعول به دې او ذکر د حبّ دپاره دتاکید دې یعنی دخیر محبت سره محبت کوم.نو خیر سره خو به خود کوم (الکنز الثمین)

دَدې آیت کریمه دوه تفسیرونه شویدي:**یوتفسیر**دادې چې حضرت سلیمان ﷺ دجهاد دَپاره ډیر شې آسونه ساتلی وو، او وقتا فوقتا به ئی دهغوئ معائنه کوله.یوه ورځ ماذیګر د اسونه معائنې دپاره پیش کړې شول نوسلیمان ﷺ ورله منډې وزکړی هغې آسونو ډیر ښه او تیزه منډه اوهله،او دوړې ئی اوچتې کړې حتی چې هغه دوړو کښې پټ شول حضرت سلیمان ﷺ چې دااولیدل نو ډیر خوشحاله شواو اوئی فرمائیل چې دې اسونه سره زما مینه محبت دنیا دَپاره نه دې بلکه دَ الله ﷻ رضادَپاره دې اوجهاد او اعلاء کلمة الله دَپاره مې ساتلی دې، بیائې هغه آسونه واپس را اوغوختلو او دَمینې نه ئی دهغوئ په پنډواو ستونو لاس وهل شروع کړو.دې تفسیر مطابق "عن" په "عن ذکر ربي" کښې پمعنیٰ دَلام اجلیه سره دې ای لاجلِ اعلاءِ ذکرربي،یعني څه دَدې اسونوسره محبت دپاره دَاعلاء کلمة الله کوم یعني جهادلپاره مې ساتلي دي.نودې تفسیربناء باندی دَ﴿حَتّىٰ تَوَارَتْ﴾ضمیراسونوته راجع دې،حجاب نه مرادګردې اودوړې دي،﴿مَسْحًا﴾ مفعول مطلق دې ای یمسح مسحًا،﴿بِالسُّوقِ وَالْأَعْنَاقِ﴾یعني سلیمان ﷺ دهغوئ ستونو اوپنډو دوړی اوګردونه لری کول شروع کړه.

دویم تفسیر دادې چې یوه ورځ ماذیګرسلیمان ﷺ دآسونو معائنه کوله او په دیکښې دومره مشغوله شو چې نور ترینه ډوب شو او دده نه ماذیګر مونځ اونور ذکر اذکار پاتې شو،نوسلیمان ﷺ ډیر افسوس اوکړو،چې دآسونومحبت دَوجهې نه څما ماذیګر مونځ اواذکارپاتې شول،نوهغه ټول آسونه را اوغوختل اوقربانی ئی کړل. او دې توجیه مطابق "عن" په "عن ذکرربي" کښې خپله معنی کښې دې،او "احببت" فعل په صله کښې اګر چې "عن" نه راځی خو دلته دا معنی د "عوض" او "بدل" ته متضمن دې نو ځکه "عن" راغلې دې اې عوضا عن ذکر ربي او

ذکر نه مراد مونځ اونور اذکار وظائف دي او ضمير په ځينې تواريخ کښې راجع دي. نور نه.
يعني تردې چه نور ډوب شو. دنور ذکر اګرچه صراحتاً نشته دي ليکن ضمناً د معنى نه
معلوميږي، ﴿رُدُّوهَا﴾ ضمير اسونوته راجع دي. يعني دا اسونه ما ته راولئ. اسونه چې ورته
راوستل شول نو ذبح کول ئې شروع کړو ﴿مَسْحًا بِالسُّوقِ﴾ مسح کښې نه دده ذبح نه. يعني بيول ئې
ذبح کړو او قرباني ئې ورنه اوکړه، او دا اسونو قرباني ددوی نه شريعت کښې جائزه وه. نو ددې
قربانۍ بدله کښې ورته الله (جل جلاله) هوا مسخره کړه. چې ورستو آياتونو کښې ذکر دي

وَلَقَدْ فَتَنَّا سُلَيْمٰنَ وَاَلْقَيْنَا عَلٰى كُرْسِيِّهٖ جَسَدًا ثُمَّ

اوخامخا په تحقيق سره امتحان وکړو مونږ په سليمان (عليه السلام) باندې او اوغورزولو مونږ په کرسئ دده باندې جسه. بيائې

اَنَابَ ﴿٣٤﴾ قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِيْ وَهَبْ لِيْ مُلْكًا لَّا يَنْۢبَغِيْ لِاَحَدٍ

رجوع وکړه الله (جل جلاله) ته، اوويل هغه اې ربه زما ! بخنه وکړه ماته او راکړه ماته داسې بادشاهي چې نه وي مناسب هيڅ چا لره

مِّنْۢ بَعْدِيْ اِنَّكَ اَنْتَ الْوَهَّابُ ﴿٣٥﴾ فَسَخَّرْنَا لَهُ الرِّيْحَ تَجْرِيْ بِاَمْرِهٖ رُخَآءً

وروستو زمانه، بيشکه هم ته ورکونکې ئې، نو تابع کړه مونږ دده لره هوا چې حليده به په حکم دده سره نرمه.

حَيْثُ اَصَابَ ﴿٣٦﴾ وَالشَّيٰطِيْنَ كُلَّ بَنَّآءٍ وَّغَوَّاصٍ ﴿٣٧﴾

کوم خوا ته به چې ده اراده وه، او (تابع کړل مونږ دده) شيطانان (پيريان) هر يو جوړه ونکي (مستري) او غوپې وهونکې وو.

وَّاٰخَرِيْنَ مُقَرَّنِيْنَ فِي الْاَصْفَادِ ﴿٣٨﴾ هٰذَا عَطَآؤُنَا فَامْنُنْ اَوْ اَمْسِكْ

او نور پيريان تړلي شوي په زنځيرونو کښې (دا موورته اوونيل) دا زمونږ ورکړه ده نو احسان کوه (ورکوه ئې) يائې ساته (مه ورکوه).

بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٣٩﴾ وَاِنَّ لَهُ عِنْدَنَا لَزُلْفٰى وَحُسْنَ مَاٰبٍ ﴿٤٠﴾

بغير د حساب نه، او بيشکه دده لره زمونږ سره خامخا نزديکت دي او وخانسته ځاى د راتلو دي

﴿وَلَقَدْ فَتَنَّا سُلَيْمٰنَ﴾ دا په سليمان (عليه السلام) باندې د ابتلاء ذکر دې. چې سليمان (عليه السلام) څومره لوئ.
پيغمبر وو او څومره لويه بادشاهي وه ورسره، دهغې نه باوجود په هغه ابتلا او ازمائش
راغلې. نو هغه الله (جل جلاله) ته رجوع اوکړه، نو کله چې دومره عظيم انسان پيغمبر او بادشاه الله

ﷺ نه محتاج دې او شفيع قهري نشي کيدې نو نور څوک په طريق اولى نشي کيدې

دا ابتلاء د څه وه؟ مستند رواياتو کښ ددې هيڅ وضاحت نشته.دمفسر وظيفه هم داده چې قرآن کوم واقعات مبهم ذکر کړې دی هغه مبهم پريگدى اودکومو واقعاتو تفصيل بيان کړې دې هغې وضاحت اوکړې،لهذاتپولونه غوره خبره داده چې دا واقعه خپل ابهام باندې پريخودلې شى ،البته څنې مفسرينو ددې تعيين کوشش کړې دې چې هغې کښ دوه اقوال قابل ذکر دی:

(۱)څنو مفسرينو ددې مصداق هغه واقعه گرځولې ده چې بخاري ومسلم کښ راغلې ده چې سليمان يوځل قسم اوکړوچې"لاطوفنّ الليلةَ على سبعين امراءةً كلهنّ تاتي بفارس يُجاهدُ فى سبيل الله(بخاري كتاب الانبياء)يعني څه به نن شپه دَخپلوتپولوبيبيانوسره صحبت کوم او دَهغوئ نه چې اولاد پيداشي هغوئ به تپول مجاهدين وي،دائى اوونيل ليکن انشاء الله ئى او نه ونيل.نوپه هغه تپولوبيبيانوکښ دَيوي نه ماسوىٰ يوه هم نشوه حامله.اودَهغې يوي نه چې بچې اوشونوهغه هم ناقص الخلقت وؤ،وينزې ئى راوړواوده ته ئى په تخت واچولو.دَ﴿جَسَدًا﴾ نه دغه جسد مراددې،او ﴿وَأَلْقَيْنَا﴾معنىٰ دَوينزې کيخودل دي په تخت باندې،په حديث کښ دي که چرته ئى انشاء الله ويلې وې نوبچي به ئى پيداشوي وؤتپول به مجاهدين وؤ.

(۲)امام رازي رحمه الله فرمائى چې په آيت کښ ابتلاء نه مراددَهغه بدن په ابتلاکښ اچول دي چې دومره بيمارشوچې دَبدن نه ئى صرف يوجُسه جوړه شوه،په تخت به چې ناست وؤنويوبي روحه جُسه به معلوميده،دَ﴿ثُمَّ أَنَابَ﴾معنىٰ داده چې صحت ورته ميلاؤشو.

بعض مفسرينو دې ابتلا په تعيين کښ دَسليمان ﷺ دگوتې او يوجنى واقعه ذکر کړيده چې سليمان ﷺ بادشاهى دهغه په گوتئ کښ منحصر وه، يوه روځ دَ جني په لاس ورغله نو هغه په سلطنت باندې قبضه اوکړه اوبيا دې واقعې په ضمن کښ هغه خبرې ليکلى دي چې قلم دهغې ذکرکولو نه عاجز دې،دَدې واقعې هيڅ حقيقت نشته،بلکه دا دَيهودوافترا او وضع ده، دوئ دحضرت سليمان ﷺ اوداؤد ﷺ دنبوت قائله نه وؤ.نو دهغوئ دَبدنامئ دپاره ئې دَځان نه داسې واقعات جوړول چې دې سره دهغوئ نبوت مشکوک شى قاتلهم الله.

﴿قَالَ رَبِّ ٱغْفِرْ لِى﴾استغفارنه مقصوددَخپلې عاجزئ اودَخشوع اظهاردي،دادليل ندې پدې چې دَسليمان ﷺ نه څه گناه شوي وه،ځکه چې دَاستغفارلپاره تقدم دَذنب ضروري

ندي، ﴿وَهَبۡ لِي مُلۡكٗا﴾ بادشاهت غوښتلو مقصد ئې د دين حفاظت او اعلاء كلمة الله وو،صرف طلب د اقتدار نه وو، ﴿لَّا يَنۢبَغِي لِأَحَدٖ مِّنۢ بَعۡدِيٓ﴾ بَعْدِي په معنى د غيري دي. كقوله تعالى: فمن يهديه من بعدِالله، اى غيرالله، مراد د سليمان عليه السلام پدې خصوصيت سره طلب د حكومت دې بطور معجزه په نبوت باندې نه بخل په حكومت باندې (خطيب شربيني). ﴿إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡوَهَّابُ﴾ علت دې د ما قبل.

﴿فَسَخَّرۡنَا لَهُ ٱلرِّيحَ﴾ د هوا مسخر كيدلو بيان په سورة سبا كښې تيرشويدې. ﴿رُخَآءً﴾ د رخاوة نه دې نرمئ ته وائى يعنى دا هوا به په نرمئ سره چليده. په دې دا اشكال كيږى چې سورت الانبياء كښې ددې هوا وصف "عاصفة" راغلې دې او عاصفة تيزې هوا ته وائى نوجواب دادې (۱) چې د "رخاوة" او "عصف" كښې هيڅ تضاد نشته. (رُخَآء) نرم چليدو ته وائى چې طوفانى كيفيت او دهچكې پكښې نه وى برابره خبره ده هواكه تيزه وى اويارو وى او "عاصفة" صرف تيز تلونكى ته وائى، نو ددې هوا دوه وصفه بيان شو، يوداچې دا "عاصفة" وه تيزه به تله چې "غدوها شهر ورواحها شهر" چې سحر به روانه شوه نو يو مياشتې مسافت به ئې د زوال نه مخكښې مخكښې پوره كړو. او چې ماښام به راوانه شونوغروب نه مخكښې به ئې د يو مياشت مسافت طې كړو. دويم صفت ئې داوؤ چې "رخاوة" وؤ پكښې د تيز رفتارئ باوجود سفرئې آرام ده وؤ عرش او تخت به ورسره دهچكې نه خوړلې، (۲) يا "عاصفة" معني "سخته هوا" ده، خو "عاصفة" ورته د ذات په اعتبار سره وئيلې شوى دى، او "رخاء" يعنى نرمه ورته په اعتبار د سليمان عليه السلام سره وئيلې شوى دى، يعنى دا ډيره سخته او سركشه هوا وه، خو مؤثر د سليمان عليه السلام منقاد كړې وه. ﴿حَيۡثُ أَصَابَ﴾ اى حيث اراد.

﴿وَٱلشَّيَٰطِينَ﴾ عطف دې په ﴿ٱلرِّيحَ﴾ باندې، مراد ورنه جنات دي چې د ده حكم تابع وو ﴿كُلَّ بَنَّآءٖ﴾ بدل دې د ﴿وَٱلشَّيَٰطِينَ﴾ نه يعني هريو پكښې معمار او مستري وؤ چې ابادئ به ئې ورله كولې لكه تفصيل ئې سورة سبأ كښې تيردې، ﴿وَغَوَّاصٖ﴾ يعني درياب كښې غوپې وهونكي وؤ د سليمان عليه السلام لپاره به ئې د درياب نه ملغلرې راوباسلې، سليمان عليه السلام اول هغه كس دې چې د درياب نه ورله ملغلرې راوباسلې شوې وې (قرطبي).

﴿وَءَاخَرِينَ مُقَرَّنِينَ فِي ٱلۡأَصۡفَادِ﴾ "اصفاد" جمع د "صفد" ده، زنځيرته وائى، يعني بعضې سركشه او

کافران جنات به ئی په زنځیرونو کښې تړلي وو،چې دکفراوسرکشۍ پوجه ورانې اونکړی. ﴿هٰذَا عَطَآؤُنَا﴾ قلنا ورنه مخکښې مقدردې اواشاره ماقبل انعاماتونه ده.یعنې لوبه بادشاهې او مالداري مونږدرکړیده نوچې چاته دې خوښه وي ورکوه اوچاته دې نه وي خوښه مه ورکوه.څه حساب اوتپوس درسره نشته دې،نه آخرة کښې نه دنیاکښې.بعض والې اشاره تسخیردجناتوده اود﴿فَامۡنُنۡ اَوۡ اَمۡسِكۡ﴾نه مراددادې چې ازادول دهغوئ دقیدنه اویاقیدکښې ساتل ستاخوښه ده،ستانه څوك دتپوس کولوو الانشته(روح).

﴿وَاِنَّ لَهٗ عِنۡدَنَا لَزُلۡفٰى﴾یعنې سره دبادشاهۍ اومالدارئ نه ئی زمونږسره دنیااخرت کښې مقام دې،اشاره ده دیته چې دده بادشاهي اومالداري دده لپاره مضرنه وه اونه ئی ورله په مقام مرتبه کښې څه کمي راوسته.اونه ئی په غرور تکبر کښې اچولې وو.په خلاف ددې کافرانو. چې معمولي غونډې سرداری دوئ تکبر اوعناد کښې مبتلا کړل.او دنیا اوآخرت دواړه ئی خپل تباه کړل.

وَاذۡكُرۡ عَبۡدَنَاۤ اَيُّوۡبَ ۘ اِذۡ نَادٰى رَبَّهٗۤ اَنِّىۡ مَسَّنِىَ الشَّيۡطٰنُ بِنُصۡبٍ
اویادکړه بنده زمونږایوب ﷺ،کله چې ده اوازوکړورب خپل ته چې بیشکه رارسولې دې ماته شیطان تکلیف
وَّعَذَابٍ ۞ اُرۡكُضۡ بِرِجۡلِكَ ۚ هٰذَا مُغۡتَسَلٌۢ بَارِدٌ وَّشَرَابٌ ۞
اودرد، (نومونږورته اوئیل)چې اووهه په خپلې خپې (زمکه)دا اوبه دي دلامبلو یخې او د څکلو .
وَوَهَبۡنَا لَهٗۤ اَهۡلَهٗ وَمِثۡلَهُمۡ مَّعَهُمۡ رَحۡمَةً مِّنَّا وَذِكۡرٰى لِاُولِى الۡاَلۡبَابِ ۞
اوورکړو مونږه ده ته اهل دده،اوپیشان دهغوئ هم ورسره نور،په مهربانئ خپلې سره.اولپاره دنصیحت دخاوندانودعقل
وَخُذۡ بِيَدِكَ ضِغۡثًا فَاضۡرِبْ بِّهٖ وَلَا تَحۡنَثۡ ؕ اِنَّا وَجَدۡنٰهُ
اواونیسه په لاس خپل کښې قوده دوخونواووهه په هغې (بي بي خپله) اوقسم مه ماتوه،بیشکه مونږه موندلې وو دې
صَابِرًا ؕ نِعۡمَ الۡعَبۡدُ ؕ اِنَّهٗۤ اَوَّابٌ ۞
صبرکونکې ، څه ښه بنده ووډې، بیشکه دې ډیررجوع کونکې ووالله تعالٰی ته،

﴿وَٱذۡكُرۡ عَبۡدَنَآ أَيُّوبَ﴾ دا دریم نقلي ليل دي په توحيد او په نفي د شفيع قهري چې ايوب ﷺ پیغمبر وو چې کله تکليف کښې واقع شونو الله ﷻ ته ئې سوال اوکړو. او څوك چې بل چاته سوال کوي هغه شفيع قهري نشي جوړيدلې. ﴿أَنِّي مَسَّنِيَ ٱلشَّيۡطَٰنُ﴾ شيطان ته په نسبت کولو کښې د مفسرينو مختلف اقوال دي:

(١) بعضِ فرمائی چې د ایوب ﷺ د بیمارئ په دوران کښې شيطان يوځل دده بي بي ته په شکل د يو حکيم کښې متشکل شو، بي بي ورنه د علاج درخواست اوکړو. نو شيطان ورته اووئيل چې زه ئې علاج کوم خو په دې شرط چې کله ورته شفاء ميلاؤشي نو ته به د غير الله په نوم باندې قرباني کوي، نو چونکه دا د خپل خاوند په بيمارئ باندې ډيرغمژنه وه نو په زړه کښې ئې دې خبرې ته ميلان پيداشو، راغله او حضرت ايوب ﷺ ته ئې د دې ذکر اوکړو نو هغه نو ز اُپوهه شو چې دا شيطان وو په دې خبره ورته ډيرتکليف اورسيدلو ډيرپه عاجزئ سره ئې الله ﷻ ته سوال اوکړو چې ياربه څما د طويل مرض په وجه او س شيطان هم مونږ ته د شرك دعوت راکوي، ياربه شيطان ماته په دې خبره تکليف رسولې دې، او ته ارحم الرّاحمين ذات ئې په ما رحم اوکړه.

(٢) بعضِ حضرات وائی چې د بيمارئ په حالت کښې به ورته شيطان قسمه قسم وسوسې اچولې په هغې سره ده ته ډيرتکليف رسيدلو نو د دغه تکليف نسبت ئې شيطان ته اوکړو

(٣) راجح قول دادې چې دي نسبت کښې ئې د الله ﷻ د ادب رعايت ئې ساتلې دې څکه ادب دادې چې د تکليف او شر نسبت الله ﷻ ته اونه شي، كقوله تعالى: وماانسٰنيهُ الاّالشيطان (كهف) په حديث کښې دي "والخيرفی يديك والشرّ ليس اليك".

﴿بِنُصۡبٖ﴾ مشقت او تکليف ته وئيلې کيږی او اکثر هغه تکليف د پاره استعماليږی چې ستړتيا د وجهې نه انسان ته لاحق شوې وی ﴿وَعَذَابٍ﴾ عذاب نه مراد درد او الم دې يعنی اې ربه: څه نې ستړې واچولم او اوئی دردولم، يو قول دادې چې د "نصب" نه بدني مرضونه او تکليفونه مراددي، او ﴿عَذَابٍ﴾ نه مالي تکليفونه او د اولاد تکليفونه.

﴿ٱرۡكُضۡ بِرِجۡلِكَ﴾ فقلناله ورنه مخکښې مقدردې، "رکض" پونده وهلو ته وائی، يعني دعائی قبوله شوه د علاج د پاره موورته حکم اوکړو چې خپله خپه څمکې ته راپريکده، نو ايوب ﷺ په پونده باندې څمکه اووهله نو د يخواوبو چينه پيداشوه الله ﷻ ورته حکم اوکړو چې

پدېکښې اولامبه او اوبه ترینه هم اوڅکه، نو لامبلو سره ئې دبدن ظاهری بیماریانې ختم شوې او اوبه څکلو سره ئې دَبدن اندرونی بیماریٔ ختم شوې ﴿هَٰذَا مُغْتَسَلٌ﴾ دینه مخکښې هم "قلنا" مقدردې، او دادا اسم مفعول صیغه ده، اي مایغتسل به یعنی دغسل اوبه دی ﴿شَرَابٌ﴾ دا هم اسم مفعول په معنی کښې دې اي مشروب یعنی دادَغسل ځائ دې اودڅکلواوبه. دظاهر دَقرآن نه دامعلومیږي چې داچینه یوه وه چې ایوب ﷺ ورنه غسل هم اوکړواواوبه ئې ترینه هم اوڅکلې، بعض وائی چې دادوه چینې وې یوې نه ئې غسل اوکړوبلې نه ئې اوبه اوڅکلې.

﴿وَوَهَبْنَا لَهُ أَهْلَهُ﴾ دابل انعام دې، چې کوم اولادئ مړه شوي وؤنوالله ﷻ ورته دوباره هغه راژوندي کړل اوهغوهومره ئې ورته نورهم ورکړل نودادَهغه معجزه وه. اوځنې مفسرین وائی چې اولاد ئې وفات شوي نه وؤ بلکه دده نه لرې تختیدلی وؤخواره شوی ؤو نو الله ﷻ ورله هغه دوباره راوستل. ﴿وَمِثْلَهُم مَّعَهُمْ﴾ یعني دې نه علاوه نوردغه اومره اولادئی هُم ورته ورکړل دوه چنده شول، ﴿رَحْمَةً مِّنَّا﴾ مفعول له دې دَ "وهبنا" فعل، یعنی دا صحت ورکول. اولاد ورله واپس راوستل اونسل کښې ورله برکت اچول دزمونږ خصوصی اولویه مهربانی وه، په ایوب ﷺ، یعني دَده دَ صبراواخلاص په وجه اوزمونږطرف نه وربانديې مهربانئ پوجه دغه ورکړې شول، ﴿وَذِكْرَىٰ لِأُولِي الْأَلْبَابِ﴾ دا عطف دې په "رحمة منا" باندې، یعنی دَپاره دَ نصیحت دعقلمندو، اونصیحت دادې چې حالات اوتکلیفات څنګه په انبیاؤ راتلې شی نو دهغه شان په عامو خلقو هم راتلې شی نو په دې بې صبري نه ده پکار، بلکه هرحالت کښې دَ الله ﷻ شکر کول پکاردی، دویم داچې مصیبت او تکلیف څومره لوئ او اوګد وئ خوهغې نه بعد بیا فراخی اوخوشحالی راځی دایوب ﷺ دَمرض قصه پوره تفصیل سره په سورت الانبیاء کښې تیره شوې ده.

﴿وَخُذْ بِيَدِكَ ضِغْثًا﴾ دې کښې حیله ده دَقسم پوره کولوچې ایوب علیه السلام قسم خوړلې وؤچې ځه به خپله بي بي(۱۰۰)دُرې وهم چې کله دَمرض نه ښه شم، سبب دَقسم کولوئی یاداوؤچې دَده بي بي یوځل په راتلوکښې ناوخته کړونوده دغه قسم اوکړو، یاشیطان چې ورته په کوم شرط علاج کولوهغې منلوته میلان باندې ئې داقسم اوکړولکه مخکښې تیرشو، نوچونکه دابې ګناه وه عقیده ئې دَشرك نه وه خوصرف داخبره ئې ایوب ﷺ ته رارسولې وه، او(بناء په اول توجیه)

ډيرښه خادمه وه په خدمت کښې ئې څه کوتاهي نه وه کړې نو الله جل جلاله دايوب عليه السلام تحليل لپاره دغه حيله ورته بيانکړه .نو ايوب عليه السلام سل ۱۰۰ ډکي د سرکړې د دبل څه زاو خسل او يو تزارئ او وهله .نو دې حانث نه شو .بې بي ئې هم بچ شوه .

﴿ضِغْثًا﴾ضغث هغه څانګه يادوخوقوده چې سل ۱۰۰ ډکي پکښې وي په شان دجارو.

وهوالحزمةُ الصغيرة من حشيشٍ اوريحانٍ اوقضبانٍ(روح)﴿فَاضْرِب بِّهِۦ﴾ به ضمير ضغث ته راجع دي

فائده:دفقهاؤ په مابين کښې دامسئله مختلف فيه ده چې آيا داحيله په ايوب عليه السلام پورې خاص وه اوکه بل چاد پاره هم داکيديشي؟ امام مالک رحمه الله فرمائي چې داحيله صرف په ايوب عليه السلام پورې خاص وه بل چادپاره نشي کيدلې اودې قول نسبت حضرت ابن عباس رضي الله عنه او مجاهد رحمه الله ته هم شويدې .امام ابوحنيفه رحمه الله اوامام زفر رحمه الله اوامام شافعي رحمه الله مذهب دادې چې داحيله عامه ده هرچاته ئې حکم شامل دې .باقي دحيلې تعريف اواقسام اودهرې يوې حکم تفصيلاً حضرت والدمحترم نور الله مرقده وبرّد مضجعه په تفسيردسورة اعراف آيت ۱۲۳ جلدنمبر (۲) کښې کړيدې هلته دې اوکتلې شي .

﴿إِنَّا وَجَدْنَٰهُ صَابِرًا﴾يعني امتحانات مووربانديې راوستل نوصبرکونکې مواوموندلو.

هرچې ده داخبره چې دحضرت ايوب عليه السلام دمرض څه نوعيت وؤاوکوم مرض ورته لاحق شوې وؤنوقرآن پاک اوپه احاديثوکښې ددې تفصيل نشته دې .صرف دومره قدرې خبره کافي ده چې دايومرض وؤچې په هغې سره ئې ابتلاشوې وه .ليکن دامرض دومره حدته نه وؤرسيدلې چې هغه باعث دنفرت اوګرځي د خلقوپاره څکه چې انبياء عليهم السلام دداسې قسمه مرضونونه محفوظ دي(کبيروغيره).

وَاذْكُرْ	عِبَٰدَنَآ	إِبْرَٰهِيمَ	وَإِسْحَٰقَ	وَيَعْقُوبَ	أُوْلِي	ٱلْأَيْدِي

اوياد کړه بندګان زمونږه ابراهيم عليه السلام اواسحاق عليه السلام اويعقوب عليه السلام چې خاوندان دقوة وؤپه طاعت کښې

وَٱلْأَبْصَٰرِ	إِنَّآ	أَخْلَصْنَٰهُم	بِخَالِصَةٍ	ذِكْرَى	ٱلدَّارِ	۝	وَإِنَّهُمْ

اودبصيرت وؤ. بيشکه مونږه خالص کړي وؤدوئ په يوخصلت سره چې يادول د آخرت وؤ او بيشکه دوئ

عِنْدَنَا لَمِنَ الْمُصْطَفَيْنَ الْأَخْيَارِ ۝ وَاذْكُرْ إِسْمٰعِيلَ وَالْيَسَعَ وَذَا الْكِفْلِ
په نيز زمونږه خامخا دغوره كړي شوؤبهتروخلقونه وؤ . اويادكړه اسماعيل اواليسع اوذوالكفل
وَكُلٌّ مِّنَ الْأَخْيَارِ ۝
اوداټول دغوره خلقونه وؤ

﴿وَاذْكُرْ عِبَادَنَا إِبْرٰهِيمَ﴾ داڅلورم دليلِ نقلي دې په توحيد .اوپدې كښ اثبات دعبديت دې دانبياؤ .اودهغوئ صفات بيان دي چې دهريوصفت نه دامعلوميږى چې دوئ شفيع قهري نه وؤ ، ﴿أُولِي الْأَيْدِي﴾ دائې اول صفت دې، "ايدي" جمع ديدده پمعنىٰ دقوة،اى اولى القوة فى الطاعة والبصيرة فى الدين(روح) ﴿وَالْأَبْصَارِ﴾ دائې دويم صفت دې، "ابصار" جمع د"بصر" ده پمعنى د بصيرة، نومعنىٰ داده چې دوئ خاوندان دقوة وؤ په طاعت دالله ﷻ كښ اودين كښ ورته بصيرة حاصل وؤ ،بعضِ وائى (ايدي) نه مراد نيك عملونه دي ذكرِ دسبب دې مرادورنه مسبّب دې، يعني دوئ نيك عملونو والاوؤ(روح ،قرطبي).

﴿إِنَّا أَخْلَصْنٰهُم﴾ دائى دريم صفت ي چې ددوئ ژوند مقصد صرف اوصرف آخرت جوړول اودهغې تيارى وه، (اخلصناهم) اي جعلنا هم خالصين لنايعني مونږ ځان دپاره خاص كړى وؤ ،اونور خلقو باندې خورورله امتياز وركړې وؤ. ﴿بِخَالِصَةٍ﴾ صفت دې دموصوف محذوف دپاره .اي: بخصلة خالصة باء سببيه ده اوتنوين دپاره دتفخيم دې يعنى امتياز موورله وركړې وؤ ديو ډير لوئ صفت دوجهې نه،چې هغه په دوئ كښ خصوصيت سره موجود وؤ په نسبت د عامو خلقو. ﴿ذِكْرَى الدَّارِ﴾ بدل يا عطف بيان دې د "خالصة" نه يعنى هغه صفت دآخرت يادول او دهغې تذكري دى "الدار" بغير دصفت "الاخرة" نه راوړلو كښ اشاره ديته چې حقيقى دار آخرت دې دنيا فانى او مجازى دار دې

﴿وَإِنَّهُمْ عِنْدَنَا﴾ دا بل وصف دانبياؤو بيانيږى چې دوئ د الله ﷻ چنيده او برگزيده بندگان وؤ ﴿الْمُصْطَفَيْنَ﴾ جمع مذكر سالم صيغه ده،حالت جرى كښ ده،اصل كښ "المصطفيِنَ" وؤ اوله "ياء" متحركه وه ماقبل ئى مفتوح وؤ نو يا په الف سره بدل شوه.اوبيا جمع د ساكنينو راغله

نو الف مو اوغورځو نو اَلْمُصْطَفَيْنَ شو ﴿الْأَخْيَارِ﴾ جمع د خَيِّرٌ [بتشديد الباء] بروزن فَيْعِل ده. غوره او برګزيده ته وئيلې کيږي او يا جمع د خير اسم تفضيل ده داسم تفضيل جمع مکسر اګر چې افعال په وزن نه راځي خودلته تخفيفا راوړلې شوې ده لکه څنګه چې ئې مفرد تخفيفا خير راوړلې شوي دې په ځائې د اخير.

﴿وَاذْكُرْ إِسْمَاعِيلَ﴾ دا پنځم دليلِ نقلي دې په توحيدباندې، چې دا انبياء هم الله ﷻ په نيز خواص وؤ دعبادت په وجه، ﴿وَالْيَسَعَ﴾ يسع ﷺ دبني اسرائيلو دانبياؤنه يونبي وؤ، الياس ﷺ نه ورستوورته نبوت ميلاؤشوې وؤ، يسع لفظ عجمي دې، لام پکښ زائد دې، عجمي لفظ کښ هم لام راتللې شي لکه الاسكندروغيره، بعضِ وائي عربي لفظ دې د وسع يسعُ نه منقول دې(روح المعاني). ﴿وَذَا الْكِفْلِ﴾ حالات اووجه تسميه ددې پيغمبرپه سورة انبياء آيت(۸۲)کښ تيره شويده.

هٰذَا ذِكْرٌ ۚ وَإِنَّ لِلْمُتَّقِينَ لَحُسْنَ مَآبٍ ﴿٤٩﴾ جَنَّاتِ عَدْنٍ

دا(امتحانات)يو نصيحت دې، او بيشکه دپاره دپرهيزګارانو خامخا ښه ځائ دورتلو دې چې جنتونه دي د هميشه اوسائ

مُفَتَّحَةً لَهُمُ الْأَبْوَابُ ﴿٥٠﴾ مُتَّكِئِينَ فِيهَا يَدْعُونَ فِيهَا بِفَاكِهَةٍ كَثِيرَةٍ

پرانستلې شوي به وي دوئ ته دروازې دهغې، تکيه وهونکې به وي په هغې کښ غواړي به دوئ پدې کښ ميوې ډيرې

وَشَرَابٍ ﴿٥١﴾ وَعِنْدَهُمْ قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ أَتْرَابٌ ﴿٥٢﴾

اومشريات، او وي به دوئ سره حوري په ناز کتونکې همزولې،

هٰذَا مَا تُوعَدُونَ لِيَوْمِ الْحِسَابِ ﴿٥٣﴾ إِنَّ هٰذَا لَرِزْقُنَا مَا لَهُ مِنْ نَفَادٍ ﴿٥٤﴾

دا هغه بدله ده چې وعده ئې کيږي تاسو سره د درکولو په ورځ دحساب، بيشکه دا خامخا رزق زمونږه دې، نيشته دې لره خلاصيدل

هٰذَا ۚ وَإِنَّ لِلطَّاغِينَ لَشَرَّ مَآبٍ ﴿٥٥﴾ جَهَنَّمَ يَصْلَوْنَهَا ۚ

دا مذكور د متقيانو دپاره وؤ او بيشکه دسرکشو دپاره يقيناً چې بد ځائ دورتلو دې، چې دوزخ دې، ورننوځي به دوئ هغې ته،

فَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿٥٦﴾ هٰذَا فَلْيَذُوقُوهُ حَمِيمٌ وَّغَسَّاقٌ ﴿٥٧﴾ وَّاٰخَرُ مِنْ شَكْلِهٖٓ

دیریده تهکانه ده دادوزخ ، دا دي - نواو دې څکي دوئ دا- ګرمی اوبه او زوی ...

اَزْوَاجٌ ﴿٥٨﴾ هٰذَا فَوْجٌ مُّقْتَحِمٌ مَّعَكُمْ ۚ لَا مَرْحَبًا بِهِمْ

قسمونه دعذاب،داراتباع یوه ډله ده چې ننوتونکي ده تاسوسره. ...

اِنَّهُمْ صَالُوا النَّارِ ﴿٥٩﴾ قَالُوْا بَلْ اَنْتُمْ ۚ لَا مَرْحَبًا بِكُمْ ۖ اَنْتُمْ قَدَّمْتُمُوهُ لَنَا

بیشکه داتول ننوتونکي دي اورته.اوبه وائي کشران بلکه تاسو .نه دي وي مرحبا په تاسو ...

فَبِئْسَ الْقَرَارُ ﴿٦٠﴾ قَالُوْا رَبَّنَا مَنْ قَدَّمَ لَنَا هٰذَا

نوډیریدځائ دقرارئ دي «داوربه وائي دوئ ای ربه زمونږ چاچه ... دی زمونږمخی ...

فَزِدْهُ عَذَابًا ضِعْفًا فِي النَّارِ ﴿٦١﴾ وَقَالُوْا مَا لَنَا لَا نَرٰى

نوزیات کړه هغه لره عذاب دوه چنده په اورکښې اوبه وائي جهنمیان څه دي مونږلره چې نه وینو

رِجَالًا كُنَّا نَعُدُّهُمْ مِّنَ الْاَشْرَارِ ﴿٦٢﴾ اَتَّخَذْنٰهُمْ سِخْرِيًّا اَمْ زَاغَتْ

هغه خلق چې وو مونږه شمارل به موهغوئ دشریرانو نه. آیانیولي وو مونږهغوی ... اوکه ... سوی

عَنْهُمُ الْاَبْصَارُ ﴿٦٣﴾ اِنَّ ذٰلِكَ لَحَقٌّ تَخَاصُمُ اَهْلِ النَّارِ ﴿٦٤﴾

دهغوي نه سترګي زمونږ بیشکه داجګړه‌خامخاحقه ده جګړه ددوزخیانو

﴿هٰذَا ذِكْرٌ﴾ اشاره تیرشوي واقعاتو او ابتلاګانو دانبیاؤته ده او ذکرنه مراد یانصیحت دي.یعني داواقعات لپاره دنصیحت بیان شول چې خلق ورسره نصیحت قبول کړي.یاورنه مرادشرف او ذکرجمیل دي،یعني دادوئ ښائسته تذکره ده په دنیاکښې او شرف دي چې همیشه به په ښو اوصافو سره ذکرکیږي.

﴿وَاِنَّ لِلْمُتَّقِيْنَ لَحُسْنَ مَاٰبٍ﴾ دابشارت دي متقیانوته،چې الله جلجلاله دوئ لپاره دمرګ نه ورستو ښائسته ټکانه تیاره کړیده﴿جَنّٰتِ عَدْنٍ﴾ بدل دي د﴿لَحُسْنَ مَاٰبٍ﴾ نه.﴿مُّفَتَّحَةً لَّهُمُ الْاَبْوَابُ﴾

باصفت دي دَ ﴿جَنَّٰتِ عَدۡنٍ﴾ يعني داسې جنتونه چې دروازې به ئې دجنتيانو دراتلو نه مخکښې کولاوې وي، دَدوئ دَراتلو انتظاربه کوي. ياحال دې دمحذوف نه. اي: يدخلونها مفتحةً لهم الابواب.

﴿مُتَّكِـِٔينَ فِيهَا﴾ او ﴿يَدۡعُونَ فِيهَا﴾ دواړه حالين دي دضميردَ لهم نه ياد (متقين) نه

﴿وَعِندَهُمۡ قَٰصِرَٰتُ ٱلطَّرۡفِ﴾ يعني داسې حورې به ورته ورکولې شي چې دَخاوندانونه ماسوئ به بل چاته نه ګورې، يادامطلب چې دَډيرښائست پوجه به خاوندان دوئ نه بغيربل چاته نه ګورې، اويا داچې ډير ده نازنه به سترګې پټه وی اوکولاوِوی لکه سورة الصّٰفّٰت کښې تفصيلاً تيرديٍ. ﴿أَتۡرَابٌ﴾جمع دَ ترب ده، همزولې ته وائی. يعنی داحورې به ديوبل همزولې هم وی اودخاوندانو همزولې به هم وی. اوديکښې اشاره ده باهم مينه محبت ته. چې نه به ددوئ خپله کښې څه بعض وحسدوی او نه به ئې خاوند نه څه نفرت وی

﴿هَٰذَا مَا تُوعَدُونَ﴾اشاره ماقبل نعمتونه ته ده. ﴿لِيَوۡمِ ٱلۡحِسَابِ﴾ لام په ليوم الحساب کښې دپاره د توقيت دې اي في يوم الحساب يعنی داهغه نعمتونه دې چې قيامت په ورځ ئې درکولو وعده تاسو سره کيږی. اويالام اجليه دې، ای لاجل يوم الحساب. يعني دې نعمتونو وعده تاسو سره کيږي د قيامت په وجه، نسبت يوم الحساب ته مجازاً شويدې، ځکه چې وعده دَطاعت اونيك اعمالوپه وجه کيږي خوچونکه اظهارئی پدغه ورځ کيږي نوځکه داورځ علت اوګرځولې شوه(روح).

﴿إِنَّ هَٰذَا لَرِزۡقُنَا﴾ هذا کښې اشاره ده نعمتونو دَجنت ده، يعنی دا داسې رزق دې چې دَدې څه انتها او ختميدل نشته کقوله تعالی:عطاءً غيرمجذوذٍ(هود:۱۰۸)،

﴿هَٰذَاۚ وَإِنَّ لِلطَّٰغِينَ﴾ "هذا" دلته پمنزله دَفصل دې، چې مابعد دَ ماقبل نه جداکوی او دَ ما بعداهميت احساس هم ورکوی، يعنی داخبره خوتيره شوه اوس دابله خبره راروانه ده، دې ته غوږ کيږده. "هذا" يا خبر دې دَمبتدا محذوف دَپاره، اي الامر هذا اويامبتدا دې او خبرئی محذوف دې. اي هذا للمؤمنين او يافاعل دې فعل محذوف اي مضى هذااو يا مفعول دې دَفعل محذوف اي خذ هذا. ﴿وَإِنَّ لِلطَّٰغِينَ﴾ دوئ لپاره ډيربدځائ دَورتلودې چې جهنم ته به داخليږي، ﴿جهنم﴾بدل دې د لشرمآب نه

﴿هَٰذَا فَلۡيَذُوقُوهُ﴾ هذا مبتدا ده اوحميم ورله خبر دې، اوغساق عطف دې په خبر باندې

فليذوقوه جمله معترضه ده. قدمت على الخبر لاجل المبادرة باهانتهم. يا هذا خبر دي مبتدا محذوف ده
اي العذاب هذا ﴿حَمِيمٌ﴾ دَجهنم گرمي اوبه چې جهنميان ئې اوڅكي نوكولمي به ئې بهرراووځي (اعاذنا الله). ﴿وَغَسَّاقٌ﴾ دَ دوزخيانو وينې زوې (پيپ) چې دَ زخمونو نه به ئې بهيږي
﴿وَءَاخَرُ مِن شَكْلِهِۦٓ﴾ صرف دا عذاب ئې نه دې، بلكه دې په شان به نورهم قسمه قسمه عذابونه دي ﴿آخر﴾ اي: وعذاب آخر لفظ (آخر) اگرچې مفرد دې خو معنا جمع دې معنى به ئې دَ جمع صيغې كوؤ. يعنې نورعذابونه ﴿مِن شَكْلِهِۦٓ﴾ ضمير مجرور حيم او غساق ته راجع دې په تاويل دَ "ماذكر" سره او "شكل" په معنى دَ "مثل" سره دې او مراد ورنه مماثلت دې په شدت كښې ﴿ازواج﴾ اي اصناف، قسمه قسم يعنې دهغه شان به ورته نورهم قسمه قسم سخت عذابونه ميلاويږي، "اخر" خبر دې دَ "هذا" مبتدا محذوف دپاره اويا مبتدا دې او خبر ئې محذوف دې چې "منه" دې، "من شكله" ورله صفت اول او "ازواج" ورله صفت ثانى دې. يا "اخر" مبتدا دې او "ازواج" ورله خبر دې "من شكله" صفت دې دمبتدا.

﴿هَٰذَا فَوْجٌ مُّقْتَحِمٌ مَّعَكُمْ﴾ دا خطاب دې دَدارغو دَجهنم دگمراهانو متبوعينو سره، يعنې فرشتې به دَدوئ اتباع راولي اوورته به اُوائي چې داهم ستاسوډله ده چې اوس ئې مونږ تاسو سره جهنم ته درغورځوؤ، يا دا متبوعينو قول دې چې كله دوئ اوينى چې دَدوئ اتباع فرشتو نيولى جهنم ته ئې روان كړي وي نو يوبل ته به اوائى چې دوئ هم مونږ سره جهنم ته راځي "مقتحم" ده "اقتحام" نه دې، په زور داخلولو ته وائى ﴿لَا مَرْحَبًۢا بِهِمْ﴾ بددعاء ده يعنى كله چې اتباع ئې جهنم ته راشي نودوئ به ورته هر كلې نه وائى او نه به ورسره پخير راغلې كوى لكه څنگه چې دنيا كښې يوبل سره معامله وه، بلكه بدعاء به ورته شروع كړى، "مرحبا" مفعول مطلق دې دَ فعل محذوف او يامفعول به دې اي لا اتيتم مرحبا ﴿إِنَّهُمْ صَالُوا۟ ٱلنَّارِ﴾ جمله ياخبر ثانى دې "هذا" اسم اشاره دَپاره، نو معنى به داشي چې دوئ دې خداىٔ روك كړى دوئ هم جهنم ته راځي، او يا داځان له مستقله جمله ده اوتعليل دې دَ ﴿لَا مَرْحَبًۢا بِهِمْ﴾ يعنې مرحبانه وئيلوعلت دادې چې مونږاو دَ دوئ مينځ كښې امتيازنشته دې، دوئ هم مونږسره جهنم ته داخل شويدي، څنگه چې مونږ مستحق دَعذاب يودغه شان دوئ هم دي، مونږته ورنه څه فائده نشته.

﴿قَالُوا بَلْ أَنتُمْ﴾دا جواب دي دَ اتباعو ،یعني اتباع به متبوعینوته اووائی چې تاسو مونږته کوم بدردوایئ دَدي لائق تاسو یئ.﴿أَنتُمْ قَدَّمْتُمُوهُ لَنَا﴾تعلیل دي د «لَا مَرْحَبًا بِكُمْ»یعني ستاسو د اطاعت پوجه نن مونږته هم عذاب راکولې کیږي نوپه تاسودې مرحبا نه وي. ضمیر په ﴿قَدَّمْتُمُوهُ﴾کښې عذاب ته راجع دې،اونسبت دَعذاب ئی ورته ځکه اوکړوچې دوئ ذریعه او سبب وو دَعذاب.

﴿قَالُوا رَبَّنَا﴾ضمیراَتباعوته راجع دې،یعني اتباع به اووائی چې اې ربه څوك چې زمونږ دَ عذاب ذریعه ګرځیدلي ده نوهغه ته دوه چنده عذاب ورکړه،داپه شان دَدې آیت دې"ربنا هؤلاءِ اضلّونا فاتهم عذاباً ضعفاً من النّار"(اعراف).

﴿وَقَالُوا مَا لَنَا﴾یعني کفران به اوائی به طورِتعجب اوآفسوس،چې مونږه دنیاکښې کومو خلقو ته شریان وثیل اوسپک اوذلیل موګڼړل هغه څه شو.ځکه کچرته واقعی هغه شریان وو اوسپک خلک وونو هغوئ خو ددې زیات مستحق وو دینه مراد دوئ فقرا صحابه کرام دی.

﴿أَتَّخَذْنَاهُمْ سِخْرِيًّا﴾همزه دَاستفهام ده چې دَدې په وجه همزه وصلي حذف شویده.په اصل کښې"اَاِتخذناهم"دي او دا کنایه ده دغلط موقف اختیارولونه ،یعنی آیا چې دوئ پورې مو توقې مسخرې کولې او دوئ موحقیر ګڼړل نو دا موقف زمونږ غلط وو. ﴿أَمْ زَاغَتْ عَنْهُمُ الْأَبْصَارُ﴾(ام) یا متصله دې،نومطلب دادې چې مونږ غلط شوی وو چې دوئ موسپک او حقیر ګڼړل اویا که واقعی دوئ حقیر وو او په جهنم کښې دی خو مونږ ته نه ښکاری یعنی دې کښې صحیح خبره کومه ده؟،یا"ام"منقطعه دې.اضراب دې دَماقبل کلام نه چې نا،نا، زمونږ موقف اوخبره بالکل صحیح وه،دوئ دلته په جهنم کښې چرته دی خو مونږ ئی نه وینو[التحریر والتنویر]

﴿إِنَّ ذَٰلِكَ﴾یعني دامذکوره جګړه دَجهنمیانوخامخاواقع کیدونکي ده.﴿تَخَاصُمُ أَهْلِ النَّارِ﴾ خبردې دَمبتدامحذوف ای هوتخاصم،یابدل دې ورنه.

قُلْ إِنَّمَا أَنَا مُنذِرٌ ۖ وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّا اللَّهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ﴿٦٥﴾

ته اووایه(اې پیغمبره)بیشکه څه یره ونکې یم اونشته هیڅ معبود مګر الله ﷻ چې یو دې، غالب دې .

رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا الْعَزِيْزُ الْغَفَّارُ ﴿۶۶﴾ قُلْ هُوَ نَبَؤٌا عَظِيْمٌ ﴿۶۷﴾

رب دآسمانونواودزمکې دې اودهغې چې په مینځ ددې دواړوکښې دې.غالب دې،بخونکی دی.نه اووایه دا نو حند خبره لوبه ده.

اَنْتُمْ عَنْهُ مُعْرِضُوْنَ ﴿۶۸﴾ مَا كَانَ لِيَ مِنْ عِلْمٍ بِالْمَلَاِ الْاَعْلٰى اِذْ

تاسود دې نه مخ ګرځونکې يئ. نشته مالره هيڅ علم دهغې ډلې چې عالم کښې ده کله

يَخْتَصِمُوْنَ ﴿۶۹﴾ اِنْ يُّوْحٰى اِلَيَّ اِلَّآ اَنَّمَآ اَنَا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۷۰﴾

چې جګړه کوله دوئ په پيدائش دآدم کښې، نه کيږي وحي ماته مګرددې وجهې چې بيشکه يم زه يره ونکي ښکاره

﴿قُلْ إِنَّمَآ أَنَاْ مُنذِرٌ﴾ ددلائلوعقليؤو،نقليؤونه ورستوصراحتا دسورة ددعوې ذکردې.چې دسابقودلائلونه ثابته شوه چې دالله ﷻ نه ماسوی بل څوك معبودنشته.تن تنهادې.په هرڅه غالب دې

﴿هُوَ نَبَؤٌاْ عَظِيمٌ﴾ هو ضمیرمضمون دتوحيداورسالت ته راجع دې،تکراردې دماقبل امر لپاره دتاکيد،يعني څه چې تاسوته دتوحيداودخپل رسالت خبردرکوم نودايولوئ خبردې اعراض اوبې توجهي ورنه نده پکار،ياضميردهو قرآن ته راجع دې

﴿مَا كَانَ لِيَ مِنْ عِلْمٍ﴾ دا په آخر کښې دآدم ﷺ تخليق واقعه ذکر کيږي چې پدې کښې يوطرف ته حسن اختتام دې اوبل طرف ته دليل دې په رسالت دنبی ﷺ حسن اختتام داسې دې چې په ابتدا کښې دکفارو ايمان نه راوړلو سبب الله ﷻ حسد او تکبر ذکر کړو (في عزة وشقاق)اوس په آخر کښې دآدم ﷺ واقعې په ضمن کښې دابليس تکبر او حسد ذکر دې،چې هغې په وجه الله ﷻ مردود ګرځولې دې،او دليل په حقانيت درسالت نبی پاك ﷺ داسې دې چې دکوم عالم بالا خبرې تاسو ته کوی نو نبی کريم ﷺ خو څه هلته موجود نه وؤ چې ورته پته وی،بلکه الله ﷻ ورته وحی کوی.﴿بِالْمَلَإِ الْأَعْلَىٰ﴾نه د فرشتومجلس مراددې ﴿إِذْ يَخْتَصِمُونَ﴾داختصام نه مرادبحث اوسوال جواب دې دملائکو د الله ﷻ سره په وخت دتخليق دآدم ﷺ،چې ورستوآياتونو کښې ذکردې،اودغه شان داواقعه په سورة البقره،الاعراف وغيره کښې تيره شويده.

﴿إِن يُوحَىٰ إِلَيَّ﴾يعني ددې واقعي اودغه شان دنوروخبروؤوحې ماته څکه کيږي چې څه دالله ﷻ دطرف ښکاره رسول يم.

اِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلٰٓئِكَةِ اِنِّيْ خَالِقٌۢ بَشَرًا مِّنْ طِيْنٍ ﴿71﴾ فَاِذَا سَوَّيْتُهٗ

کله چې اوونيل رب ستا ملائکو ته چې بيشکه زه پيدا کوونکي يم يو بشر لره د خټې نه نو کله چې برابر کړم زه دغه

وَنَفَخْتُ فِيْهِ مِنْ رُّوْحِيْ فَقَعُوْا لَهٗ سٰجِدِيْنَ ﴿72﴾ فَسَجَدَ الْمَلٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ ﴿73﴾

او پو کړم زه په هغې کښې د روح خپل نه نو پريوځئ ټول هغه ته سجده کوونکي. نو سجده وکړه ملائکو ټولو ټولو په يو ځاى

اِلَّآ اِبْلِيْسَ ۭ اِسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿74﴾ قَالَ يٰٓاِبْلِيْسُ مَا مَنَعَكَ اَنْ تَسْجُدَ

مګر ابليس اونه کړه. تکبر ئې اوکړو او شو دې د کافرانو نه، اوونيل الله ﷻ اې ابليس څه څيز منع کړې ته د دې نه چې سجده دې کړې وې

لِمَا خَلَقْتُ بِيَدَيَّ ۭ اَسْتَكْبَرْتَ اَمْ كُنْتَ مِنَ الْعَالِيْنَ ﴿75﴾ قَالَ اَنَا خَيْرٌ

هغه چاته چې پيدا کړى دې ما په خپلو دواړو لاسونو سره، آيا هسې دې ځان لوى اوکړو او که واقعي [illegible] اوونيل شيطان زه غوره يم

مِّنْهُ ۭ خَلَقْتَنِيْ مِنْ نَّارٍ وَّخَلَقْتَهٗ مِنْ طِيْنٍ ﴿76﴾ قَالَ فَاخْرُجْ مِنْهَا فَاِنَّكَ

د ده نه. پيدا کړې دې يم زه د اور نه او پيدا کړې دې دې آدم د خټې نه. اوونيل الله تعالىٰ ووځه د دې جنت نه. پس بيشکه ته

رَجِيْمٌ ﴿77﴾ وَّاِنَّ عَلَيْكَ لَعْنَتِيْٓ اِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ ﴿78﴾ قَالَ رَبِّ فَاَنْظِرْنِيْٓ اِلٰى يَوْمِ

رټلې شوې ئې او بيشکه په تا باندې ځما لعنت دې تر ورځې د قيامت پورې. اوونيل شيطان [illegible] ځما نو ما ته مهلت راکړه ما ته تر ورځې

يُبْعَثُوْنَ ﴿79﴾ قَالَ فَاِنَّكَ مِنَ الْمُنْظَرِيْنَ ﴿80﴾ اِلٰى يَوْمِ الْوَقْتِ الْمَعْلُوْمِ ﴿81﴾

د قيامت پورې. الله ﷻ ورته اوونيل پس بيشکه ته ئې د مهلت ورکړې شوو نه. تر ورځې د وخت معلوم مقرر پورې.

قَالَ فَبِعِزَّتِكَ لَاُغْوِيَنَّهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿82﴾ اِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِيْنَ ﴿83﴾

اوونيل شيطان پس ستا په عزت دې مې قسم وي خامخا به زه ګمراه کوم دا ټول. مګر بندګان ستا په دوى کښې چې مخلص دي

﴿اِذْ قَالَ رَبُّكَ﴾ دا تفصيل دې د اختصام، او د ملائکو حال دې چې دوئ ته د سجدې امر شوې

و او وا چاته چې د سجدې امر کيږي هغه معبود نه وي نه ورته شفاعت قهري حاصل وي. ﴿اِنِّيْ خَالِقٌۢ

بَشَرًا﴾ انسان ته بشر ځکه وائي چې دې بادي البشرة دې، مراد ورنه آدم عليه السلام دې. ﴿مِّنْ طِيْنٍ﴾ د دې

آيت او د سورة آل عمران آيت خلقه من تراب او د سورة الحجر آيت ولقد خلقنا الانسان من صلصال

من حما)به مينځ کښ منافات نشته دي ځکه چې تخليق دادم تدريجاً شويدي نوپه بعضوځا ,رنوکښ ماده قريبه ذکرشويده اوبعضِ ځايونوکښ ماده بعيده

﴿وَنَفَخۡتُ فِيهِ مِن رُّوحِي﴾دَروح اضافت الله ته يادوجه دَشرافت دَادم نه شويدې. ياچونکه روح صرف دَالله ملکيت دې نودَدې خصوصيت دَوجي نه ئې الله ته اضافت شويدې﴿فَقَعُواْ لَهُۥ سَٰجِدِينَ﴾اى فاسقطوا (روح)يعني سجده کښ ورته پريوځئ﴿إِلَّآ إِبۡلِيسَ﴾دا دَ جناتوحال دې،چې دوئ مطروداوشړلي شويدي اوځوك چې مطرود وي نوهغه معبوداوشفيع قهري نشي جوړيدلې.﴿وَكَانَ مِنَ ٱلۡكَٰفِرِينَ﴾کان يابمعنىٰ دَصارَدې ياپخپله معنىٰ دې اومطلب دادې چې په علم الهي کښ کافروؤ،لکه سورة بقره کښ تيردي

﴿أَن تَسۡجُدَ﴾دا قرينه ده پدې چې په سورة اعراف کښ"لا"زائده دې.﴿لِمَا خَلَقۡتُ بِيَدَيَّ﴾ دلته هم اضافت دَوجي دَشرافت دَادم نه شويدې،ورنه دَهرڅه خالق بذات خودالله دې او﴿بِيَدَيَّ﴾دمتشابهاتونه دې چې معنىٰ حقيقي ئې نشي مرادکيدلې دَمتشابهاتوبيان دَسورة آل عمران په شروع کښ شويدې﴿أَسۡتَكۡبَرۡتَ﴾ په اصل کښ"أَاِستکبرتَ"دې،همزه دَاستفهام په وجه همزه وصلي حذف شويده،استفهام دَ توبيخ اوعارورکولوله پاره دې،يعني دَلويئ استحقاق نه لرتوباوجود ځان لوئ ګنړې.﴿أَمۡ كُنتَ مِنَ ٱلۡعَالِينَ﴾ ياکه په واقع کښ لوئ مقام او مرتبه درته حاصله ده چې ځکه آدم ته سجده نه کوى

﴿قَالَ أَنَا۠ خَيۡرٞ مِّنۡهُ﴾يعني حقيقت کښ ځه لوئ يم،﴿خَلَقۡتَنِي﴾دا ئې دليل دې چې بهتر يم ځکه چې ځه دَاورنه پيدا يم فاضل يم،مفضول ته ولې سجده اوکړم

﴿قَالَ فَٱخۡرُجۡ مِنۡهَا﴾ضميرياجنت ته راجع دې اګرچې مخکښ ندې ذکرليکن مضمون دکلام نه معلوميږي،ياجماعت دَملائکوته راجع دې،اى من زمرة الملائكة المعززين(روح)يعني دَمعززو ملائکودَجماعت نه خارج شه ته لعين مطرودئى،ياضمير اسمانونوته راجع دې.

﴿وَإِنَّ عَلَيۡكَ لَعۡنَتِيٓ﴾په سورة حجرکښ(اللعنة)ذکردې په الف لام سره ځکه هغه عام دې اودلته خاص دې ځکه چې دَلعنت اضافت الله ته شويدې،اګرچې معنى اعتبارسره عموم راتللې شي،چې په چاباندې دَالله لعنت وي نوپه هغه دَهرچالعنت وي(البحرالمحيط).

﴿قَالَ فَبِعِزَّتِكَ﴾ دا قرينه ده پدې چې په سورة الحجر كښې رَبّ بما اغويتني، كښې باء قسميه ده

تنبيه: دآياتونو سره متعلق تفسير په سورة البقره، سورة الاعراف. سورة الحجر كښې تفصيلا شويدې ،نوهلته دې اوكتلې شي.

قَالَ فَالْحَقُّ وَالْحَقَّ أَقُولُ ﴿٨٤﴾ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنْكَ وَمِمَّنْ تَبِعَكَ
اوئيل الله تعالى، پس حق دې زما قسم وې، اوحق وايم زه، خامخا به ډك كړم دوزخ ستانه او د هغه چانه چې اتباع ئې كړې وې د ستا
مِنْهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٨٥﴾ قُلْ مَا أَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ وَمَا أَنَا
په دوئ كښې ،دَ ټولو نه، ته اووايه اې پيغمبره نه غواړم څه ستاسونه پدې قرآن باندې څه اجرت مزدوري او نه يم څه
مِنَ الْمُتَكَلِّفِينَ ﴿٨٦﴾ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِلْعٰلَمِينَ ﴿٨٧﴾ وَلَتَعْلَمُنَّ نَبَأَهُ بَعْدَ حِينٍ ﴿٨٨﴾
دخان نه جوړونكونه نه دې داقرآن مګر نصيحت دې دټولو خلقو دپاره، او خامخا خبربه شئ تاسو په خبر دقرآن ورستو دلګ وخت نه

﴿قَالَ فَالْحَقُّ﴾ دا قسم دې دَ الله جل جلاله دَ طرفه شيطان ته ﴿فالحقُّ﴾ مبتدا دې، متضمن دې معنې قسم لره .خبرئې محذوف دې چې "قسمې" دې اى فالحقّ قسمي ﴿لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ﴾ ئې جواب قسم دې، يعنې خما قسم حق دې اورشتيادې چې څه به ستانه اوستا دَمتبعينونه جهنم ډكوم. ﴿وَالْحَقَّ أَقُولُ﴾ دا په مينځ دَقسم اوجواب قسم كښې جمله معترضه ده لپاره دَتاكيد ﴿وَالْحَقَّ﴾ منصوب دې په مابعدفعل سره چې ﴿أَقُولُ﴾ دې، ﴿مِنكَ﴾ اى مِن جنسك، يعنې دَجنس دَستانه چې ذريت ئې دې ﴿منهم﴾ مراد ذريت دَ آدم عليه السلام دې

﴿قُلْ﴾ داخاتمه ده سورت ده چې ابتد سره متعلق ده لكه څنګه چې ابتدا كښې دقرآن وصف بيان وو ﴿وَالْقُرْءَانِ ذِى الذِّكْرِ﴾ نو اوس خاتمه كښې هم ددې خبرې بيان دې، چې دا دَ الله جل جلاله طرفه نصيحت دې، نه مادَخان نه، جوړكړيدې او نه پرې ستاسونه څه مفاداتو طلب ګاريم چې اجرت درنه غواړم.

﴿ مَا أَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ ﴾ دا طريقه دَتبليغ بيانيږي اول دا چې څه ستاسو نه څه اجرت او معاوضه نه طلب كوم، نو داعى له هم پكار ده چې هغه په تبليغ باندې اجرت نه طلب كوى ﴿عَلَيْهِ﴾ ضمير يا

قرآن ته راجع دي او دعوت الى التوحيد ته ﴿وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلْمُتَكَلِّفِينَ﴾ دا دويمه طريقه دتبليغ چي خه متکلفینونه یم دتکلیف نه ماخوذدي.دداسي څیزدعود کول چي هغه په کښ نه وي يعنى څه داسي خبره نه ده چي داقرآن ماځان نه جوړ کړې دې او الله ﷻ ته ئې منسوب کوم بلکه دا کتاب د الله ﷻ دطرفه دي او نصيحت دي جهان والو دپاره

نوداعى له هم پکارده چي هغه دعوت کښ دتصنع اوتکلف نه کار نه اخلى بلکه سیدها ساده انداز کښ دي خبره کوی

تکلّف اوتصنع شرعًا مذموم دي.په صحيحينوکښ دحضرت عبدالله بن مسعود ﷺ نه ارشادمنقول دي چي اي خلقو!څوك چي په تاسوکښ په يوه مسئله عالم وي نوهغه خودي خلقوته بيانوي ليکن څوك چي دَيوې مسئلې علم نه لري نوهغه دي والله اعلم اووائى ځکه چي داهم علم دي.الله ﷻ خپل پيغمبر ﷺ ته حکم کړيدی چي دااوفرمايه﴿وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلْمُتَكَلِّفِينَ﴾

﴿وَلَتَعْلَمُنَّ نَبَأَهُۥ بَعْدَ حِينٍۭ﴾دازجراوتهديددي منکرانودقرآن ته.ه ضميرقرآن ته راجع دي.

﴿نَبَأَهُۥ﴾ نه مرادوعدي وعيدونه دي،﴿ بَعْدَ حِينٍۭ﴾نه مرادوخت دمرګ دي ياقيامت. يعني اوس خوئ نه منئ خوچي کله درته مرګ راشي نوبيابه يقين اوکړئ چي قرآن مونږته رشتيا ونيلي وو،خوبيابه دغه وخت دَدي يقين هيڅ فائده نه وي.

ركوعاتها (٨)	سورة الزُمر مكية	آياتها (٧٥)
	بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بېحده مهربان او ډېر رحم کونکې دې شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (٣٩) وحسب النزول (٥٩)

وجه تسميه: ئي داده چې دالفظ ددې سورة په آيت نمبر (٧١) او (٧٣) کښې ذکر شويدې.

ربط اسمي: ماقبل سورة سره ئې ربط اسمي دادې چې په ماقبل سورة کښې ددې بيان وشوچې څوک تاسوشفعاء ګڼرئ نوهغه په ابتلاء اوازمائش کښې واقع شوي وؤاوڅوک چې په ابتلاء کښې واقع شي نوهغه شفيع قهري نشي کيدې، اوس په دې سورة کښې ددې بيان دې چې څوک غيرالله شفيع ګڼري نوهغه به ډلې ډلې جهنم ته ځي اوچې څوک غيرالله شفيع قهري نه مني نوهغه به ډلې ډلې جنت ته ځي.

ربط معنوي: دادې چې په ماقبل سورتونوکښې نفي دَشفيع قهري اوشوه نودې سورة کښې ددې بيان دې چې الله ﷻ نه ماسوابل څوک معبوداوشفيع قهري نشته دې نو (فَاعْبُدِ اللّٰهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّيْنَ).

دسورة دَمضامينو اجمالي خلاصه: په اول کښې تمهيدمع الترغيب دې، درې ځله دعوى دَسورة ذکردې، بياتفريع ده په دعوىٰ باندې، اوه (٧) دلائل عقليه على سبيل الترقي ذکر کيږي، څلور (٤) ځله ثمره دَدلائلو، شپږ (٦) دلائل وحي، يودَليل نقلي ضمناً. څلورزجرونه تقابل دَمؤمنانواوکافرانودرې ځله، ترغيب الى الهجرت.

تفصيلي خلاصه: داسورة ذاتِ سلاسل دې، په شپږوسلسوباندې تقسيم دې.

اوله سلسله: دَسورة دَدعوې ذکر: دعوه دَسورة درې ځله ذکرشويده، **اول**: فَاعْبُدِ اللّٰهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّيْنَ آية (٢)، أَلَا لِلّٰهِ الدِّيْنُ الْخَالِصُ آية (٣) **دويم**: قُلِ اللّٰهَ أَعْبُدُ مُخْلِصًا لَّهُ دِيْنِي آية (١٤)، **دريم**: قُلْ أَفَغَيْرَ اللّٰهِ تَأْمُرُوْنِّيْ أَعْبُدُ أَيُّهَا الْجٰهِلُوْنَ آية (٦٤).

دويمه سلسله: اوه (٧) دلائل عقليه علي سبيل الترقي: **اول دليل عقلي**: خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ

بِٱلْحَقِّ ۚ آية(٥)، **دويم دليل عقلي:** خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَٰحِدَةٍ ۚ آية(٦)، **دريم دليل عقلي:** ۚ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ ۚ آية(٢١)، **څلورم دليل عقلي:** وَلَئِن سَأَلْتَهُم ۚ آية(٣٨)**پنځم دليل عقلي:** ٱللَّهُ يَتَوَفَّى ٱلْأَنفُسَ ۚ آية(٤٢)**شپږم دليل عقلي:** أَوَلَمْ يَعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ ۚ آية(٥٢)، **اووم دليل عقلي:** ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَىْءٍ ۚ آية(٦٢)،

دريمه سلسله: شپږدلائل وحي: **اول دليل:** ۚ إِنَّآ أَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ۚ آية. **دويم دليل:** ۚ قُلْ إِنِّىٓ أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ ٱللَّهَ ۚ آية(١٢)**دريم دليل:** ٱللَّهُ نَزَّلَ أَحْسَنَ ٱلْحَدِيثِ ۚ آية(٢٣)، **څلورم دليل:** إِنَّآ أَنزَلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ لِلنَّاسِ بِٱلْحَقِّ ۚ آية(٤١)، **پنځم دليل:** ۚ وَٱتَّبِعُوٓا۟ أَحْسَنَ مَآ أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُم ۚ آية (٥٥)، **شپږم دليل:** ۚ وَلَقَدْ أُوحِىَ إِلَيْكَ وَإِلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكَ ۚ آية(٦٥، ٦٦)،

څلورمه سلسله: دَدلائلو څلور ثمرات: **اوله ثمره:** ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ لَهُ ٱلْمُلْكُ ۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ آية(٦)داثمره داول دوؤ دلائل عقليه ؤنه بعد ذكرده، **دويمه ثمره:** ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ۚ آية(٢٩)، دريم دليل عقلي نه ورستوذكرده، **دريمه ثمره:** قُلْ أَفَرَءَيْتُم مَّا تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ ۚ آية(٣٨)، **څلورمه ثمره:** قُلِ ٱللَّهُمَّ فَاطِرَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ **پنځمه ثمره:** سُبْحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٦٧﴾

پنځمه سلسله دزجراتو بيان:

ۚ وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُوا۟ مِن دُونِهِۦٓ أَوْلِيَآءَ ۚ آية(٣)اول زجردي

ۚ وَإِذَا مَسَّ ٱلْإِنسَٰنَ ضُرٌّ ۚ آية(٨)، دويم زجردي

ۚ أَمِ ٱتَّخَذُوا۟ مِن دُونِ ٱللَّهِ شُفَعَآءَ ۚ نه تر ۚ إِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُونَ ۚ آية(٤٣، ٤٤، ٤٥)، دريم زجردي

ۚ فَإِذَا مَسَّ ٱلْإِنسَٰنَ ضُرٌّ ۚ آية(٤٩)څلورم زجردي.

شپږمه سلسله دمؤمنانو او كافرانو په مينځ كښې تقابل:

(١)، ۚ أَمَّنْ هُوَ قَٰنِتٌ ءَانَآءَ ٱلَّيْلِ ۚ آية(٩) (٢)أَفَمَنْ حَقَّ عَلَيْهِ كَلِمَةُ ٱلْعَذَابِ آيت: ١٩

(۳) أَفَمَن شَرَحَ ٱللَّهُ صَدۡرَهُۥ آیه(۲۲)، (۴) أَفَمَن يَتَّقِى بِوَجۡهِهِۦ سُوٓءَ ٱلۡعَذَابِ

(۵) ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلاً رَّجُلاً آیت :۲۹

وَأَرۡضُ ٱللَّهِ وَٰسِعَةٌ په درمیان کښې ترغیب دی، هجرت ته.

تمت خلاصة السورة اجمالاً وتفصيلاً

تَنۡزِيۡلُ الۡكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الۡعَزِيۡزِ الۡحَكِيۡمِ ① اِنَّآ اَنۡزَلۡنَآ اِلَيۡكَ

نازلیدل د دې کتاب دي دَ الله ﷻ دَطرفه چې غالب دې حکمتونو والادې. بیشکه مونږه نازل کړېدې تاته

الۡكِتٰبَ بِالۡحَقِّ فَاعۡبُدِ اللّٰهَ مُخۡلِصًا لَّهُ

داکتاب په حقه سره نو ته عبادت کوه دَالله ﷻ په داسې حال کښې چې خالص کونکې ئې الله ﷻ لره

الدِّيۡنَ ② اَلَا لِلّٰهِ الدِّيۡنُ الۡخَالِصُ ؕ وَ الَّذِيۡنَ اتَّخَذُوۡا مِنۡ دُوۡنِهٖٓ

خپل عبادت، واوره! الله ﷻ لره دې صرف خالص عبادت. اوهغه خلق چې نیولي ئې دې ماسوا دَ الله نه

اَوۡلِيَآءَ ۘ مَا نَعۡبُدُهُمۡ اِلَّا لِيُقَرِّبُوۡنَآ اِلَى اللّٰهِ

نورخدایان «وائي» نه کوؤ مونږ عبادت دَدوئ مګردې پاره چې نزدې کړي دوئ مونږ الله ته

زُلۡفٰى ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَحۡكُمُ بَيۡنَهُمۡ فِيۡ مَا هُمۡ فِيۡهِ

په نزدې کولو سره، بیشکه الله تعالى به فیصله کوي په مینځ دَدوئ کښې په هغې کښې چې دوئ په هغې کښې

يَخۡتَلِفُوۡنَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهۡدِيۡ مَنۡ هُوَ كٰذِبٌ كَفَّارٌ ③

اختلاف کوي، بیشکه الله ﷻ نه کوي هدایت هغه چاته چې هغه دروغژن وی ډیرناشکره وي.

﴿تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ﴾ داتمهید دې اوترغیب دې اِتباع دَقرآن نه، ځکه چې اتباع دَپاره دو صفته ضروری وی(۱) یوقوت عملیه. چې دې سره دَ انسان جسم تابع شی اوداعبارت دې دَاقتدار او غلبې نه، (۲) دویم قوت علمیه چې دې سره انسان ذره اوروح هم تابع اوګرځي اودې مطلب

دادي چې متکلم ته دحالاتو پوره پوره اندازه وی. مخاطبینو استعداد اومزاج نه واقف وی.
اوديے نه بعد بیا خبره داسې انداز سره اوکړی چې هغې کښې ددې امورورعایت ئی ساتلې وی.
او داسې مضبوطه اومدلل اوکړی چې په شکوک وشبهات سره پکښې هیڅ تزلزل اوضعف نه
راځی، نو﴿ٱلْعَزِيزِ﴾کښې اقتدار او غلبې ته اشاره ده او﴿ٱلْحَكِيمِ﴾کښې قوت علمیه ته اشاره ده.
دلته ورته اشاره په وصف حکمت سره اوشوه.اوځنې ځایونو کښې ترینه تعبیر په" العلیم"سره
شوې دې لکه سورت الغافر کښې تنزیل الکتب من الله العزیز العلیم اوځنې ځاینو کښې ورته الرحمن
الرحیم سره اشاره شوې ده،لکه سورت حم السجده کښې تنزیل من الرحمن الرحیم.نوحکمت ،علم .
رحمت دا ټول دَ الله ﷻ قوت علمیه مظاهر دی، خلاصه دا ده چې داقرآن دَهغه بادشاه طرفه
نازل دې چې غالب اوحکیم ذات دې،نودَې غالب اوحکیم ذات دَطرفه نازل کتاب اومنئ او
ایمان پرې راوړئ.

﴿تَنزِيلُ ٱلْكِتَٰبِ﴾یامبتدادې، اوخبرئی﴿مِنَ ٱللَّهِ ٱلْعَزِيزِ ٱلْحَكِيمِ﴾دې اودَ ﴿ٱلْكِتَٰبِ﴾ نه ټول
قرآن مراددې،یاخبردَمبتدامحذوف دې چې(هذا)دې،"ای هذا المذکور تنزیل" اودَ﴿ٱلْكِتَٰبِ﴾ نه
داسورة مراددې،او﴿مِنَ ٱللَّهِ﴾متعلق دې په﴿تَنزِيلُ﴾ پورې.والوجه الاول اوجه کما فی
الکشاف(روح).

﴿إِنَّآ أَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ﴾دااول دلیل وحي دې په توحیدباندې چې دامسئله دَ
توحید ستاطرف نه خودساخته نده بلکه دادَالله ﷻ دَطرفه ده،﴿بِٱلْحَقِّ﴾باء دَملابست دپاره ده
ای متلبساًبالحق یعنې داقرآن په حق اوصدق باندې مشتمل دې دکذب اوبطلان شائبه پکښې
نشته دې.

﴿فَٱعْبُدِ ٱللَّهَ﴾دادعوه دَسورة ده چې په ماقبل سورتونوباندې متفرع ده،چې ماقبل نه
معلومه شوه چې دَالله ﷻ نه ماسوئ بل څوک اِله نشته اونه شفیع قهرې،نوخالصةً صرف دَهغه
عبادت کوه،خلق هم دې طرف ته راغواړه.﴿مُخْلِصًا﴾منصوب بنابرحالیت دې،اودَاخلاص نه
مرادخالص کول دَعمل دې الله ﷻ ته دَشرك اودَشوائبُ دَشرك نه،اودَریانه.﴿ٱلدِّينَ﴾دین

دلته پمعنیٰ دَطاعت یاعبادة سره دي

﴿أَلَا لِلَّهِ الدِّينُ الْخَالِصُ﴾ د ماقبل تاكيد دې. چې خه په غور سره واورئ. الله ﷻ صرف هغه عبادت قبلوی چې هغه بالكل خالص وی كچرته په عبادت كښې شرك وی یا دشرك معمولی اثرات او آمیزش وی یاریاكاری وی نو داعبادت بیاد الله ﷻ په نیز عبادت نه دې، اونه ئې الله ﷻ قبلوی. دَحضرت ابوهریرهؓ نه روایت دې، چې یو كس دَحضور ﷺ په خدمت كښې حاضرشو، اوعرض ئې وكړوچې یارسول الله ﷺ خه یو څیزصدقه كومه یادَچاسره احسان كومه چې په هغې كښې ځما نیت دَالله ﷻ رضاهم وي. اوداهم وي چې خلق ځما تعریف وكړي نو حضور ﷺ ورته اوفرمایل: والذي نفسُ محمّدٍ بيده لايقبل شيئاًشورِكَ فيه (قرطبي) چې په هغه ذات مې دِقسم وي چې دَهغه په قبضه كښې دَمحمّد ﷺ روح دې چې الله ﷻ داسې عمل نه قبلوي چې په هغې كښې بل څوك شريك كړې شوې وي.

﴿وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا﴾ دا اول زجردې مشركانوته په شرك باندې. یعنی دوئ شرك كوی خو چې كله ورته اوئیلې شی چې تاسو دغیر الله عبادت ولې كوئ حالانكه الله ﷻ دَستاسو خالق. رزق مالک دې ، نو دوئ سره خه جواب نه وی، بس داوائی چې مونږ خو دَالله ﷻ قرب حاصلولو دَ پاره دَدوئ عبادت كوؤ، الله ﷻ فرمائی چې دروغ ژن دی. داسې قرب نه حاصلیږی، اوناشكره دی دومره انعاماتو باوجود دَالله ﷻ خبره نه منی، ددوئ بل علاج نشته سوا د دینه چې قیامت په ورځ ئی الله ﷻ عملی فیصله اوكړی او جهنم ته ئی اوغورځوی.

﴿مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا﴾ دې نه مخكښې، يقولون، مقدردې، پديكښې دَدوئ دَشرك كيفيت بيان شويدې، حضرت قتادهؒ فرمائی چې كله به دوئ ته اووئیلې شوچې ستاسورب اوستاسوخالق څوك دې؟ اوڅوك دې هغه ذات چې اسمانونه اوزمكې ئی پیداكړیدي اودَاسمان نه باران راوریٔ؟ نو دوئ به وې، الله ﷻ، نوچې به ورته اوویلې شوچې تاسوبیاولې دَبتانوعبادت كوئ؟ نودوئ به وئیل ﴿لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ زُلْفَىٰ﴾ یعني دَدې پاره ئی عبادت كوؤچې دَدوئ په ذریعه مونږته دَ الله ﷻ قرب حاصل شي یابه دوئ زمونږشفعاء وي، لكه یونس (۱۸) كښې دي: هؤلاء شفعاءناعندالله.

اوابن كثيرؒ ليكلي دي چې دتقرب دا مطلب نه دی چې مونږته په آخرت كښې عند الله

لویه درجه حاصله شي څکه چي دوئ دآخرت نه منکروؤ .بلکه مقصد ىې دا دي چي دنيوي امورو کښې زمونږ سفارش الله ﷻ ته اوکي ﴿زُلْفَى﴾مفعول مطلق من غیرلفظه دي دليقربونا . د زُلفیٰ معنی قربة ده ای لیقربوناالیه تقریبا

﴿إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ﴾داتخویف اخروي دي﴿بَيْنَهُمْ﴾ضمیر مؤمنانو او مشرکانو ته راجع دي .دهغه شان په﴿ فِي مَا هُمْ ﴾کښې هم مشرکانو او مؤمنانو ته راجع دي او دَما نه مراد توحید او شرک دي،او دَفیصلی نه مراد عملی فیصله ده نو مطلب دا دي چي مومنان به جنت ته داخل کړي او مشرکان به جهنم ته ،نو په مینځ کښې فیصله دغه ده چي توحید حق او شرک باطل دي. بعضو ویلي دي چي ضمیردَ هم په دا وارو ځايونوکښې معبودانو اوعابدانو ته راجع دي.نومطلب دادي چي الله ﷻ به دَدوئ په مینځ کښې فیصله اوکړي چي معبودان او مزعومه شفعاء به ورنه دبرآت اوعلان اوکړي او دَخپل عجز اظهار به الله ﷻ ته اوکړي.﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي ﴾ توفیق دَهدایت ورته نه ورکوي،﴿مَنْ هُوَ كَاذِبٌ﴾چي دَوجي دَضداوعنادنه دروغ وائي او الله ﷻ نه ماسوا شفیع قهري ثابتوي اودعوه دَتقرّب الی الله ئې کوي،﴿كَفَّارٌ﴾ ډیر ناشکره چي دَ الله ﷻ دومره احساناتو باوجود هغه سره شریک ګرځوي اویاورنه مراد کافر دي چي کفرئې عناداً اختیارکړي وي،

لَوْ أَرَادَ اللَّهُ أَنْ يَتَّخِذَ وَلَدًا لَّاصْطَفَىٰ مِمَّا يَخْلُقُ مَا
کچرې غوختلې الله ﷻ چي ونیسي اولادنو په خپله خوښه به ئې نیولې وې دَخپل مخلوق نه،هغه چي ئې
يَشَاءُ سُبْحَانَهُ هُوَ اللَّهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ۝٤ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ
خوښ وي،پاکي ده الله ﷻ لره دَولدنه،هم دي الله ﷻ دي ، يو دي، غالب دي، پيداکړي ئې دي اسمانونه اوزمکه
بِالْحَقِّ يُكَوِّرُ اللَّيْلَ عَلَى النَّهَارِ وَيُكَوِّرُ النَّهَارَ عَلَى اللَّيْلِ وَ سَخَّرَ
په حق سره، چاپیره وي شپه په ورځې باندې، اوچاپیره وي ورځ په شپې باندې،اوپه خدمت ئې لګولې دي

الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ؕ كُلٌّ يَّجْرِيْ لِاَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ اَلَا هُوَ الْعَزِيْزُ الْغَفَّارُ ۝

نور او سپوږمئ　چې هریو دَدوئ نه چلیږي ترېوې نیټې مقررې پورې خبردار شه الله ﷻ غالب بخوونکی دی.

﴿لَّوْ أَرَادَ اللَّهُ أَن يَتَّخِذَ وَلَدًا﴾ په دیکښې د شرک یو بل صورت بیان او دهغې رد دي . چې هغه الله ﷻ لره اولاد ثابتول دي ، مشرکان وائي چې فرشتې د الله ﷻ لونړې دي . عیسایان وائي چې عیسی علیه السلام د الله ﷻ څوي دې ، او یهود عزیر علیه السلام ته ابن الله وئیلو. نو الله ﷻ دَدوئ ددې قول رد کوي،حاصل دادې چه الله ﷻ لره اتخاذ دَولد محال دې مطلقا څکه چې دا دَالوهیت سره منافی دې ،او بالفرض که ولدنې نیولې نو پخپله خوښه به نې نیولې وؤ،غیر دَهغی نه چه دوئ وائی چه ملائکی بنات الله دی یا عزیر ابن الله یا عیسی ابن الله دې، کماقال تعالی لو اردنا ان نتخذ لهوا لاتخذناه من لدنا(الانبیاء :۱۷)

بعض وائی معنی دا ده چه کچرې اراده وې دَالله ﷻ دَولددنیولو(مقدَم). نو مخلوق به نې ولدنیولې وې(تالي)،څکه دِ دَذات نه ماسوا نورکل اشیاء مخلوقات دي.لیکن تالي باطل دې. وجه دَ بطلان ئی داده چې دَخالق اوَمخلوق په مینځ کښې خومبائنت تامه دې اودوالد اوولد په مینځ کښې مجانست لازم وې،نومقدَم مثلهُ.

﴿لَّاصْطَفَىٰ﴾ په معنی دَ لاتخذهُ ابناً سره دې علی سبیل الکنایة (روح)﴿سُبْحَانَهُ﴾ تاکید دې دَ ما قبل،﴿هُوَ اللَّهُ الْوَاحِدُ﴾ وجه دَبطلان دَتالي ده چې اتخاذ دَ ولد تقاضاکوي دَتبعض او دَ انفصال،اودغه شان دَمماثلة اومجانست دَوالد خپل سره اوالله ﷻ خوواحد دې چې وحدت ئی ثابت دې په براهینوقاطعه وُسره،اودَوحدت سره خو تبعَض اوانفصال منافي دې نومعلومه شوه چې الله ﷻ هیڅ چالره ولدندې نیولې، ﴿الْقَهَّارُ﴾ دویمه وجه دَبطلان ده،چې اتخاذ دَ ولد خو هغه څوک کوي چې نائب ته ئی ضرورت وي دَوجه دَ کمزورئ نه لیکن الله ﷻ خو زور آور او قهارذات دې چې دلائل ئی پدې ورستو آیاتونو کښې بیانیږي.

﴿خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ﴾ دااول دلیلِ عقلي دې چې مستحق دَالوهیت صرف الله ﷻ دې اودَهغه په دربارکښې څوک شفیع قهري نشته دې،حاصل دَدلیل دادې چې الله ﷻ تن تنهادَاسمانونواودَزمکې پیداکونکې دې.اوتن تنهاتصرَف کونکې دې په شپه اوورځ کښې او

په اسبابو دَشپې او ورځې کښې چې نوراوسپوږمۍ دي،ټول دده دَحکم تابع دي نوځوك چې د داسې صفاتومالك وي نوهم هغه مُستحق دَالوهیت وي. ﴿بِالْحَقِّ﴾متعلق دې دَ "خلق" سره. او "باء" دَ ملابست دپاره ده،اى متلبّسًابالحق،اودَ حق مطلب دادې چې داپیداکول دَاسمانونو او زمکې عبث ندي بلکه دلیل دې په صانع باندې.اومشتمل دې په ډیرومصالحو باندې. غیر عابث بل لیکونّ دلیلاًعلى الصّانع(مظهري)مشتملاًعلى الحکَم والمصالح(روح).

﴿يُكَوِّرُ الَّيْلَ عَلَى النَّهَارِ﴾ دابیان دَتصرُّف دې، "یکوّر" دَتکویرنه مشتق دې،یوڅیزپه بل څیز باندې چاپیره کولوته وئیلې کیږي"في الاصل هواللّف"(روح)دَ "اللّیل"نه مخکښې"ظلمة"مقدردې اى یکوّرظلمة اللّیل یعني چاپیره وي تیاره دَشپې په رنړادَورځې باندې،اودغه رنګ دَ "النهار"نه مخکښې "ضیاء"مقدردې اى علىٰ ضیاء النهار.لکه بل آیت کښې دى یغشى اللیل النهار

ځنو مفسرینو دَتکویر مطلب دلته ادخال اوایلاج بیان کړې دې یعني داخلوي الله ﷻ شپې لره په ورځې کښې نوشپه زیاته شي اواوګده شي،اوورځ لنډه شي(لکه دژمي په موسم کښې) اوداخلوي ورځې لره په شپه کښې نوورځ اوګده شي اوشپه لنډه شي(لکه دګرمۍ په موسم کښې).لکه سورت ال عمران کښې دى: تولج اللیل في النهار وتولج النهار..لیکن اول تفسیر غوره دې.

فائده:په آیت کریمه کښې دَ لیل(شپې)تقدیم اوشویه نهارباندې پدې کښې اشاره ده چې حسابِ شرعي دَشپې نه شروع کیږي،

﴿كُلٌّ يَجْرِي لِأَجَلٍ مُّسَمًّى﴾بیان دې دَ﴿وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ﴾،﴿لِأَجَلٍ مُّسَمًّى﴾لام بمعنى د "الى"سره دې اي الى اجل مسمى او"اجل مسمى" تفصیل په سورت لقمان او سورت یس کښې تیر دې.

خَلَقَكُمْ	مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ	ثُمَّ جَعَلَ مِنْهَا	زَوْجَهَا	وَ	اَنْزَلَ
پیداکړي ئې یئ تاسو	دَ نفس(ادم ﷺ) یونه	بیا ئې پیداکړه دَ ده نه	بي بي دَده،	او	پیدا کړي ئې دي

لَكُمْ مِّنَ الْاَنْعَامِ ثَمٰنِيَةَ اَزْوَاجٍ ؕ يَخْلُقُكُمْ فِيْ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ خَلْقًا

تاسو د پاره دَ څاروُنه اته (۸) قسمه، پيدا کوي تاسو په خيټو دَ ميندو ستاسو کښې يو مرحله دَ تخليق وي

مِّنْۢ بَعْدِ خَلْقٍ فِيْ ظُلُمٰتٍ ثَلٰثٍ ؕ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ ؕ لَاۤ

ورستو دَ بلې مرحلې نه په تيارو دريو کښې. دغه الله دې، رب دې ستاسو، هم ده لره بادشاهي ده. نيشته

اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ فَاَنّٰى تُصْرَفُوْنَ ۞ اِنْ تَكْفُرُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ

دې لائق دَ عبادت مګر هم دې دې. نو کوم طرف ته تاسو اړه ولې کيږئ. کچرې کفر کوئ تاسو نو بيشکه الله تعالیٰ

غَنِيٌّ عَنْكُمْ ۟ وَلَا يَرْضٰى لِعِبَادِهِ الْكُفْرَ ۚ وَاِنْ تَشْكُرُوْا يَرْضَهُ

بې پرواه دې ستاسو دَ ايمان نه او نه خوښوي دَ پاره دَ خپلو بندګانو کفر. او کچرې شکر او کړئ تاسو نو خوښوي هغه

لَكُمْ ؕ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى ؕ ثُمَّ اِلٰى رَبِّكُمْ مَّرْجِعُكُمْ

تاسو لره، او نه اچتوي يو بار اچتونکي بوج دَ بل چا، بيا به په طرف دَ رب ستاسو ورتلل ستاسو وي

فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ؕ اِنَّهٗ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ۞

نو خبر به کړي تاسو په هغې چې تاسو به کول، بيشکه الله تعالیٰ پوهه دې په خبرو دَ سينو باندې

﴿خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ﴾ دويم دليل عقلي دې على سبيل الترقي، يعني الله تعالیٰ صرف دَ اسمانو او دَ زمکې خالق ندې بلکه ستاسو خالق هم دې، او هغه داسې چې اول ئې آدم عليه السلام پيدا کړو هغې نه بعد ئې ورله بي بي پيدا کړه، او دې نه بعد ئې بيا دوئ نسل خور کړو.

دَ ﴿نَفْسٍ وَّاحِدَةٍ﴾ نه آدم عليه السلام مراد دې ﴿زَوْجَهَا﴾ نه مراد بي بي حواء ده. ﴿جَعَلَ﴾ بمعنیٰ دَ ﴿خَلَقَ﴾ سره دې، او دَ ﴿مِنْهَا﴾ ضمير ﴿نَفْسٍ وَّاحِدَةٍ﴾ ته راجع دې، او معنیٰ دَ دې يا من عينها ده، يعني حوا دَ آدم عليه السلام نه پيداشوه لکه حديث کښې راځي بي بي حواء عليها السلام په جنت کښې دَ حضرت آدم عليه السلام دَ جيب پښتي نه پيدا شوې ده، او يا ورته مضاف مقدر دې اې من جنسها، يعني زوجه ئې

هم د هغه جنس نه پیدا کړه ،چې دواړه بشر دي ، دغه شان آیت په سورت الاعراف کښې هم تیر دي، خو هلته دَ "ثم" په ځای "واو" دي"خلقكم من نفس واحدة وجعل منها زوجها" . دېکښې نکته داده چې دلته دَ الله ﷻ دَ قدرت دلائلو ذکر دې،نوبني آدم تخليق ځان له دليل دې اودَ آدم ﷺ نه دهغه بی بی پیدا کول ځان له غټ دلیل دې، نوځکه "ثم" راوړلې شو چې تراخي رتبی دپاره دې ، چې یوخو داپته اولګی چې دَبی بی پیدا کول ځان له مستقل دې، او بل داچې دا دَ بنی آدم دَتخليق نه غټ دليل دې؛ ځکه چې دې پیدائش بالکل خلاف عادت وو دې سره یو بل اشکال هم حل شو،چې هغه دادې چې دلته عطف دَ"جعل منها زوجها"په"خلقكم"باندې په "ثم" سره شوې دې، او"ثم"تراخی دپاره راځی،نو دې تقاضه داده چې تخليق دا بی بی حواورستو دې تخليق دانسانيت نه،او داخو بالکل غلط خبره ده،نوجواب اوشو چې "ثم" دلته زمانی تراخی دپاره نه دې،بلکه تراخی رتبی دَپاره دې اوکه"ثم"تراخی زمانی دَپاره شی نو بیا دا جمله عطف په"خلقكم"باندې نه ده بلکه دَدې معطوف عليه محذوف دې چې"خلقها"دې او صفت دې د نفس واحدة، أي:نفس واحدة خلقها ثم جعلها منها، يعنی اول ئی آدم ﷺ پیدا کړو د هغه نه ورستوئی ورله بی بی پیدا کړه دهغه نه.

﴿وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ ٱلۡأَنۡعَٰمِ﴾دا جمله معترضه ده ، په مابين دَ «خلقكم من نفس واحدة....» او «يخلقكم في بطون....» کښې ،او په دیکښې په انسان باندې د احساناتو ذکر دې چې مختلف قسم ځاروې ئې هم د ده فائدې د پاره نازل کړي دي.

"انزال" نه دلته یا **حقيقي معنى** راکوزول مرادده،او د دې مفسرينو دوه توجيهات بيان کړی دی: (۱)یو داچې داټول ځاروی جنت کښې وو.او الله ﷻ جنت نه بیا راکوزکړل،نو ځکه انزل ئی اوفرمائیل(۲)دویم داچې دا ورته دَنوح ﷺ کشتئ اعتبار سره اوئیلې شو ځکه چې داټول ځاروی هغه دَ الله ﷻ په حکم کشتئ کښې سواره کړی بیا چې کله طوفان ختم شو نوراکوزئی کړل،

اویاد "انزال"نه **مجازى معنى** مراد ده مفسرينو ددې متعدد مجازی معنې بيان کړی دی:(۱)یوا داچې دې نه مراد تذلیل وتسخير دې،يعنی الله ﷻ داځاروی تاسوله مسخر کړی دی اوستاسو منقاد ئی کرځولی دی او "انزال"دَ تذليل په معنی کښې ډیر استعماليږی.لکه نزل

على حكم فلان، انزلني الدهر على حكمه وغيره(۲)اويا انزال نه مراد د الله ﷻ تكويني فيصله وقضاده،چونکه داپه لوح محفوظ کښ ثبت وى او فرشتې ئى دتعميل دپاره هلته نه راکوزوى نوځکه انزال سره ترينه تعبير اوشو.(۳)اويا انزال پمعنى د خَلَقَ سره دې،او آنزَلَ سره ئى تعبير ځکه اوشو چې څاروي په بوټوسره ژوندي پاتې کيږي،اوبوټي په اوبوسره پيدا کيږي او اوبه دبرې نه راځي

﴿ثَمَٰنِيَةَ أَزْوَٰجٍ﴾دينه مرادهغه پالتوحلال مذکرمؤنث څناورمراددي چې بيان ئى سه سورة الانعام آيت(۱۴۳ ، ۱۴۴)کښ تيرشويدې من الضأن اثنين ومن المعز اثنين ومن الابل اثنين ومن البقر اثنين.

﴿يَخْلُقُكُمْ فِى بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمْ﴾دا د«خلقكم من نفس واحدة» د کيفيت بيان او تفصيل دې، يعنى الله ﷻ ستاسوتخليق مختلف مراحلو کښ تقسيم کړې دې،او ددې مراحلو تذکره په سورت المؤمنون آيت ۱۴ کښ تيره ده،ثم خلقنا النطفة علقة فخلقنا العلقة مضغة او (يخلقكم) کښ خطاب انسانانو اوځناورو دواړو اومذکر اومؤنث هر يوته دې. کم ضمير چې دپاره مذکر ذوى العقول دې تغليبا راوړلې شوې دې﴿خَلْقًا﴾مفعول مطلق نوعې دې ﴿مِّنۢ بَعْدِ خَلْقٍ﴾جار مجرور سره د متعلق نه وړله صفت جوړيږى يعنى هر مرحلې نه بعد جدا مرحله راځى.

﴿فِى ظُلُمَٰتٍ ثَلَٰثٍ﴾دا اظهاردعجائبُ دقدرت دې،چې مخلوق په يوه تياره کښ هيڅ څيز نشي جوړه ولې،او الله ﷻ انسان په درې تيارو کښ جوړه وي،يوه تياره دبطن(خيټې دمور)، بله تياره درحم(بچه داني)، بله تياره دمشيمة،داهغه باريکه پرده ده چې دبچې نه چاپيره وي اوبچې پکښ محفوظ وي ، پښتوکښ ورته پريوان وئيلې کيږي،﴿ذَٰلِكُمُ﴾اشاره ده هغه ذات ته چې متصف دې په اوصافِ مذکوره سابقه وُسره،﴿لَهُ ٱلْمُلْكُ﴾تقديم د له د حصرمعنى فائده کوي يعني بادشاهي صرف ده لره ده بل چالره نشته دې،﴿لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ﴾دا ثمره اونتيجه ده دماقبل دلائلو.

﴿إِن تَكْفُرُوا﴾دا تخويف اخروى دى چې دومره واضحو دلائلو باوجود تاسو کفرکوئ نو

بې شکه الله ﷻ ته هم ستاداَیمان راوړوضرورت نشته دي ﴿وَلَا يَرْضَىٰ لِعِبَادِهِ ٱلْكُفْرَ﴾ البته الله ﷻ نه خوښه وي دَخپلوتولوبندګانودپاره کفرکول.داآیت داهل سنت والجماعت دپاره صریح دلیل دي،دَاهلِ سنت والجماعت عقیده داده چې دَهرخیراوشرخالق الله ﷻ دې د الله ﷻ دَارادې نه بغیرهیڅ څیزوجودته نه راځي خواکه خیروي اوکه شر.البته رضااوخوښه ئې د بندګانودَپاره صرف خیراواسلام دي،دَمعتزلوعقیده داده چې دَخیرخالق الله ﷻ دې او دَ شر خالق شیطان دې نو الله ﷻ نه دَشردَوجودارادِه کوي اونه ئې خوښه وي.دې وجه نه هغویٔ دَلته درضامعنیٰ اراده کوي لیکن دامعنیٰ کول دَظاهرنه خلاف ده،(۱)ځکه چې رضاء ویلې کیږي د یو څیز تعریف اوثناکول،لکه لقدرضي الله عن المؤمنين(الفتح:۱۸)ای یُمدحهم ویثنی علیهم(کبیر

(۲)او کچرې بالفرض دَرضانه مراد،ارده شي نو﴿لِعِبَادِهِ ٱلْكُفْرَ﴾کښې دَعبادونه مرادمؤمنان دي،لکه نوروځایونوکښې دَعبادلفظ دَمؤمنانودپاره راغلي دي."انّ عبادي لیس لك علیهم سلطانٌ"(الحجر:۴۲)وعبادُ الرّحمن الذّين (فرقان:۶۳)عیناًیشرب بهاعبادُ الله(الدهر:۶)(۳)اوکه بالفرض عبادنه مرادعام اوټول عبادشي نوبیاهم داآیت دَمعتزله وُدپاره استدلال نه ګرځي ځکه ددې آیت تخصیص په هغه آیاتونوسره شویدي چې هغه نص دي په دې چې کفردکافریه ارادې دَالله ﷻ سره دي،وَمَاتَشَآؤُونَ اِلاّ اَن يَّشَآءَ اللهُ،دامسئله نوروځاینوکښې هم تیره شویده.

﴿وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ﴾یعنی دَقیامت په ورځ به څوک دَبل چا دګناه بوج نشي اوچتولې تو دا مه ګنړئ چه څمونږه دکفر بوج به بل څوک واخلی او مونږ به بری شو.دَدې آیت دَولیحملنّ اثقالهم و اثقالاً مع اثقالهم سره ئې تعارض نشته دي،ځکه دینه مراددا سې بوج اوچتول دي چې په هغې سره دَبل نه تخفیف راشي، یعَني ستاسودکفراوناشکرئ سزابه صرف تاسوته میلاویږي بل څوك به درسره مددنشي کولي.﴿فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ﴾زجردې کافراوګنهګارته اوبشارت دې مؤمن اومطیع ته ﴿إِنَّهُۥ عَلِيمٌۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ﴾علت دې دَماقبل

وَ	اِذَا مَسَّ	الْاِنْسَانَ	ضُرٌّ	دَعَا	رَبَّهٗ	مُنِيْبًا
او	کله چې اورسیږي	انسان ته	تکلیف	نودې سوال کوي	خپل رب ته	په دې حال کښې چې رجوع کونکي وي

اِلَيۡهِ ثُمَّ اِذَا خَوَّلَهٗ نِعۡمَةً مِّنۡهُ نَسِيَ مَا كَانَ يَدۡعُوۡۤا
هغه ته، بیاچې کله ورکړي ده ته الله ﷻ نعمت د خپل طرفه، نوهېر کړي دې هغه تکلیف چې دوئ به سوال کولو
اِلَيۡهِ مِنۡ قَبۡلُ وَ جَعَلَ لِلّٰهِ اَنۡدَادًا لِّيُضِلَّ
الله تعالیٰ ته د لرې کولو د هغې تکلیف مخکښې د دینه، او اوګرځوي الله ﷻ لره شریکان، د پاره د دې چې ګمراه کړي
عَنۡ سَبِيۡلِهٖ ؕ قُلۡ تَمَتَّعۡ بِكُفۡرِكَ قَلِيۡلًا ۖۗ اِنَّكَ مِنۡ اَصۡحٰبِ النَّارِ ⑧
خلق، د لارې د الله ﷻ نه، ته او وایه فائده واخله په خپل کفر سره لګه زمانه. بیشکه ته د خاوندانو د اُور نه ئې،

﴿وَاِذَا مَسَّ الۡاِنۡسَانَ ضُرٌّ﴾ دا بل زجر دې بطور شکوه، د "الانسان" نه مراد یا جنس انسان دې، یا انسان کافر دې، یعنې چې کله کافر انسان باندې څه مصیبت راشي او د خپلو مزعومه معبودانو نه نا امیده شي نو بیا ډیر عاجزئ سره الله ﷻ ته سوالونه کوي د هغې ضرر د ازالې لپاره خو کله چې تکلیف ورنه لرې شي نو بیا شرک شروع کړي او نجات دهنده خپل معبود باطل ګڼړي د خلقو د ګمراه کولو لپاره. او خلقو ته وائي چه فلانی بت، قبر، ذیارت پوجه ماته نجات میلاؤ شو. ﴿ضُرٌّ﴾ هر قسمه تکلیف خواه که بدني وي او که مالي وي او که په اهل اولاد کښې ئې وي. ﴿مُنِيۡبًا اِلَيۡهِ﴾ رجوع کونکې وي الله ﷻ ته د پاره د ازاله د دغه ضرر ﴿ثُمَّ اِذَا خَوَّلَهٗ﴾ مشتق دې د "خَوَلَ" نه دیو څیز نعمت دوباره واپس کیدو ته وئیلې کیږي، ای الرّجوع الیه مرةً اخرىٰ (روح) اطلاق ئې دلته په مطلقِ اعطاء (ورکولو) باندې شویدې یا د "خَوَّلَه" معنی اعطاء الخول ده او "خول" خدمت ګارانو او غلامانو ته وائي، یعنې افرادی نعمت سره ئې مالامال کړي او الله ﷻ طرف نه غلامان وینزې او اولاد ورته میلاؤ شي. ﴿نِعۡمَةً مِّنۡهُ﴾ اي: من جانب الله تعالى و تبارك. ﴿نَسِيَ مَا كَانَ﴾ "ما" یا موصوله ده په معنیٰ د "الّذي" سره، مراد ورنه ضرر او تکلیف دې ای نسیَ الضر الّذي كان يدعوا الله تعالى الى ازالته وكشفه (روح) یعنې هیر کړي هغه ضرر چې ده به بلنه کوله الله ﷻ ته د هغې د ازاله او د ختمیدلو، ﴿اليه﴾ په معنیٰ د "الى ازالته" دې، یا "ما" په معنیٰ د "من" سره دې

مرادورنه الله ﷻ دي، كقوله تعالى،وماخلق الذكر و الانثیٰ(الليل:۳)ولا انتم عابدون ما اعبد، فانكحوا ما طاب لكم(النسآء:۳)والمعنى:نسِي ربّه الذي كان يتضرع اليه،هيركړي هغه رب چې ده به ورته بلنه اوعاجزي كوله.

﴿وَجَعَلَ لِلّٰهِ أَندَادًا﴾جمع دَنِد ده شريك فى العبادة ته ويلې كيږي، ﴿لِيُضِلَّ﴾لام دعاقبت دي لكه فالتقطه ال فرعون ليكون لهم عدوا وحزنايعنى كله ورته دمصيبت نه نجات ميلاؤشي نو د بتانو عبادت شروع كړي،او خلقو ته ذا تاثر وركوي چې زمانه داتكليف دې بتانو لرې كړې دې ،چې دهغې په نتيجه كښې خلق دَ الله ﷻ دلارې نه واړوي اوهغوئ هم شرك شروع كړي ﴿سَبِيلِهِۦ﴾ نه مراد توحيد دې.﴿قُلْ تَمَتَّعْ﴾امردتهديدد پاره دې،يعني چې دومره واضح دلائلو باوجود كفرباندې قائم ئې اودې كښې خپله فائده گنړې نويو څوورځې فائده واخله آخر كار ستا ټكانه جهنم دې، ﴿قَلِيلًا﴾اى تمتعاًقليلاً(لګه فائده)ځكه چې متاع الدنياقليل،يازماناًقليلاً،لګه زمانه يعني ترمرګ پورې

أَمَّنْ هُوَ قَانِتٌ آنَاءَ الَّيْلِ سَاجِدًا وَّقَآئِمًا يَّحْذَرُ الْاٰخِرَةَ
آياهغه څوك چې هغه اطاعت ګزاروي په وختونودشپې كښې كله سجده كونكې كله اولاړ ،يرېږي دآخرت نه
وَيَرْجُوْا رَحْمَةَ رَبِّهٖ قُلْ هَلْ يَسْتَوِى الَّذِيْنَ يَعْلَمُوْنَ وَالَّذِيْنَ
اواميدساتي دَرحمت دَرب خپل، ته اووايه آيا برابردي هغه كسان چې علم دين لري اوهغه چې
لَا يَعْلَمُوْنَ اِنَّمَا يَتَذَكَّرُ اُولُوا الْاَلْبَابِ ۹
علم دين نه لري ، بيشكه نصيحت قبلوي صرف خاوندان دَعقل

﴿أَمَّنْ هُوَ قَٰنِتٌ ءَانَآءَ ٱلَّيْلِ﴾دااول څل دَمؤمنانواودَمشركانودَصفاتوپه مينځ كښې دَتقابُل ذكردې،چې يوكافراومشرك دې،چې دهغه حال دغه دې چې روستو آيت كښې ذكرشواوبل مؤمن دې چې هرحالت كښې الله ﷻ ته قائم وي،خوف خدائی زړه كښې وي،اودَرحمت اميدوار ئې هم وي نوآيادادواړه برابركيديشي؟ظاهره ده چه دواړه هرګز نشی برابر كيدلې (امّن)،په

اصل کښې "امْ" حرف استفهام او "مَنْ" موصوله نه مرکب دې،یومیم بل میم کښې مدغم شویدې، "مَنْ" مبتدا دې او خبر ئې محذوف دې چې "کمن هُولیس کذلك" دې.یعني هغه مومن چې دهغه دا صفات وي آیاکیدیشي دده په شان هغه کافرچې هغه کښې داصفات نه وي،نوپدې آیت کریمه کښې دمؤمن درې صفات ذکرشویدي:**اول صفت** قانتٌ ذکر شوې دې،ددې ډیر تفسیرونه شویدي(۱)مُطیع یعني اطاعت گزار،دامعنیٰ دَحضرت ابن مسعودﷺ نه نقل ده،(۲)خاشعٌ في صلاتِه،په مونځ کښې خشوع کونکې،لکه په قوموا لله قانتين کښې ئې دامعنی ده (۳)دائم علی الطاعة: یعنی مستقل مزاجی سره عبادت کول،لکه په وصدقت بکلمات ربها وکتبه وکانت من القانتين کښې دا معنی مراد ده، راجح دا ده چې داټولې معنې ترینه مراد دی،یعنی دَ الله ﷻ اطاعت خه په خشوع او مستقل مزاجئ سره کونکې.﴿ءَانَآءَ ٱلَّيۡلِ﴾ اي: ساعات الليل، (آناء) جمع اَنیٰ ده لکه "امعاء" جمع ده دَ "مَعًی"یعنی دَ شپې مختلف اوقاتو کښې دَ الله ﷻ عبادت کوی چې دا بې ریا او نفس باندې ډیر شاق (گران)وی، او مراد دلته دا اناء الليل نه مطلق ساعات دَ لیل دی چې کوم وخت هم وی دَشپې که ماسخوتن وی اوکه جوف اللیل وی یا تهجد وی او یا ټوله شپه عبادت وی څه مخصوص وخت نه دې مراد.

﴿يَحۡذَرُ ٱلۡأٓخِرَةَ﴾دادویم **صفت** دې،هرکله چې انسان په عبادت کښې مواظبة کوي نوپه هغه کښې صفت دخوف هم پیداکیږي اوصفت دَرجا(امید)هم اودادواړه صفتونه دَایمان دي،الایمانُ بین الرّجاء والخوف،نودویم صفت دَخوف دې ای یحذرعذاب الآخرة.﴿وَيَرۡجُواْ رَحۡمَةَ رَبِّهِۦ﴾دا **دریم صفت** صفت دَرجاء دې، یعنی بل طرف ته دا اِمیدئې هم وی چې الله ﷻ به دده سره رحم معامله اوکړی او جنت به ئې داخل کړی

﴿قُلۡ هَلۡ يَسۡتَوِي ٱلَّذِينَ يَعۡلَمُونَ﴾دادَماقبل تائیددې په صِورت دَمثال کښې یعني لکه څنګه چې عالم اوجاهل برابرندي دغه شان قانت اوعاصي برابرندې(بیضاوي)یاپه ماقبل کښې عملي تقابل وؤاودا علمي تقابل دې،یعني مؤمن اوکافرعلم کښې هم ندی یوشان لکه عمل کښې چې یوشانته ندی.﴿يَعۡلَمُونَ﴾فعل متعدي دي ای یعلمونَ الدّین والّذین لایعلمون الدّین،نودافعل

متعدي نه مفعول حذف شو اوفعل لازمي ئى دَهغې په منزله اوګرځوو .نو بد يکښې اشاره ده چې
چاسره دَدين علم نه وي اګرکه نوردنياوي علوم ورسره وي ليکن دې لايعلم دې .يعني ده ته
عالم نه ويلې کيږي اوده سره هيڅ نښته اوکوم عالم دين کښې چې دادرې صفتونه نه وي نودى
هم عندالله جاهل دې(قرطبي).امام رازي رحمه الله فرمائي چې ﴿الَّذِينَ يَعْلَمُونَ﴾ نه مرادهغه دي چې
دَهغوئ صفات مخکښې ذکرشول يعني پخپل علم ئي عمل وي اودَوالّذين لايعلمون. نه مرادهغه
دي چې په هغوئ کښې داصفات نه وي.يعني پخپل علم ئي عمل نه وي.نودا دعامل او غير
عامل مثال دې.

﴿إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُوا الْأَلْبَابِ﴾ يعني دَعالم اودَجاهل په مينځ کښې فرق باندې هغه څوك
پوهيږي چې "اولو الالباب" وي ، دَ" اولو الالباب "(خاوندان دَعقل) نه مراد مؤمنان دي . ځکه چې
کافرونو ته اګرکه آله دَعلم(عقل)ملاؤ شويده ليکن هغوئ پدې سره خپل خالق اونه پيژندو او
دَغيرُالله په عبادت اومحبت کښې مبتلاشواوتحصيل دَعلم دنيانه ئي اعراض وکړو.نوپدې
وجه سره ګوياکه هغوئ اولوالالباب نه دي،امام رازي فرمائي: دې ايت کښې يوعجيبه
سر(راز)دادې چې ابتداء دَدې په ذکردَعمل سره شويده چې قنوت دې،سجود.قيام دې
اوانتهائې په علم سره شويده نوداپدې دلالت کوي چې کمال دَانسان پدې دواړومقصدنو علم
مع العمل ياعمل العلم کښې محصوردې.

قُلْ يٰعِبَادِ الَّذِينَ اٰمَنُوا اتَّقُوْا رَبَّكُمْ ۚ لِلَّذِينَ
ته اووايه اې بندګانوځما هغه کسانوچې ايمان موراوړې دې،اوويريږئ دَخپل رب نه. دَپاره دَهغه کسانوچې
اَحْسَنُوْا فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ ۚ وَاَرْضُ اللّٰهِ وَاسِعَةٌ ۚ اِنَّمَا
نيك عملونه ئي کړي وي په دې دنيا کښې حسنه ده ، او زمکه دَ الله تعالى فراخه(ارته)ده،بيشکه
يُوَفَّى الصّٰبِرُوْنَ اَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ ۝
ورکوليشي صبرکونکو ته اجردَ دوئ بې حسابه

﴿قُلْ يَـٰعِبَادِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟﴾ دادنیوي او اُخروي بشارت دي مؤمنانوته. الله ﷻ ایمان والوته دتقوىٰ امرکوي، چې تقوى اختيارکړئ دنیاکښ به هم درته هرقسمه انعامات درکړي آآخرت کښ به هم درته بې حسابه اجردرکړي ﴿لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا۟﴾ داتعليل دي ماقبل امر یعنی تقوى څکه اختيار کړئ چې متقیانو او نیکانوډپاره به حسنه وی ﴿فِى هَـٰذِهِ ٱلدُّنْيَا﴾ دجارمجرورپه متعلق کښ دوه احتماله دي:یو دا چې په (احسنوا)پورې متعلق شي.بل داچې په (حسنةٌ) پورې متعلق شي، کچرته په (احسنوا)پورې متعلق شي نومطلب به داشي للّذين احسنوافي هذه الدنياحسنةٌ في الاخرة" یعني هغه کسان چې نیک عملونه ئي کړيدي پدې دنیاکښ دوئ دپاره به حسنه وي په آخرت کښ چې دخول دې جنت ته،اوتنوين په حسنةٌ کښ دتعظیم دپاره دي.اوکه متعلق شي په حسنةٌ پورې نومطلب به داشي للّذين احسنوالهم حسنةٌ في هذه الدنيا دپاره دهغه کسانوچې نیک عملونه کوي هغوئ دپاره به په دنیاکښ حسنه وي چې صحت عافيت.کفاية دې لکه په سورة بقره کښ ذکردي.

﴿وَأَرْضُ ٱللَّهِ وَٰسِعَةٌ﴾ داترغيب دي هجرت ته، چې کچرې دغلبهٔ کفاریادماحول پوجه تاته په یوه علاقه کښ تقوىٰ اواعمال صالحه مشکل وي نودهغې نه هجرت اوکړه بلې داسې علاقې ته لاړشه چې هلته ته په اطمینان سره ته تقوىٰ اواعمال صالحه اختیارکړې څکه زمکه دالله ﷻ فراخه ده.(مُلكِ خدا تنگ نیست،پائی گدا لنگ نیست)لیکن چونکه په هجرت کولوکښ او د خپلې علاقې پریخودلوکښ انسان ته ډیرتکلیف رسیږي نوورپسې جمله کښ دصبرفضیلت دي ﴿إِنَّمَا يُوَفَّى ٱلصَّـٰبِرُونَ أَجْرَهُم﴾ دصابرینو نه دلته مرادمطلقا صبرکونکی دی او.علی الخصوص هغه صبر کونکی چې دهجرت اودمحبوب اشياؤو پریخودلو په تکلیف باندې ئي صبرکړې وي ﴿بِغَيْرِ حِسَابٍ﴾ ای بغیرتقدیر(قرطبي)یعني صبرکونکوته به بې اندازه ثواب ملاویږي په وزن اوکیل سره به نه وي،لکه حدیث شریف کښې راځي، چې قیامت په ورځ به شهيدراشي او الله تعالى به ورله میزان عدل قائم کړي،بيا به صدقه کونکې راشي او هغه دپاره به هم میزان عدل قائم کړې شي ، بيا به مصيبت زده خلق راوستې شي نو هغوئ د پاره به نه میزان قائم کیږي او نه به ئي د نیکیو دفتر خلاصولې کیږي . بلکه الله به ورله بې حسابه اجر

ورکړي. نو اهل عافيت چې کله دا معامله اوګوري نو تمنا به اوکړي چې کاش دوئ دجسم ټکړې ټکړې کړې شوې وې .څکه چې دومره لوئ اجر دې ددې خلقو .معجم طبراني بعض د ﴿بِغَيْرِ حِسَابٍ﴾ معنىٰ بغيرمتابعة ولامطالبة کړيده چې الله ﷻ به صبر کونکوته دهغوئ درخواست اومطالبه نه بغيراجراوثواب ورکوي

قُلْ اِنِّيْٓ اُمِرْتُ اَنْ اَعْبُدَ اللّٰهَ مُخْلِصًا لَّهُ

ته اووايه بيشکه حکم کړې شوې دې ماته ددې چې څه عبادت کوم دَالله بدې حال کښې چې خالص کونکې يم دده لره

الدِّيْنَ ۙ وَاُمِرْتُ لِاَنْ اَكُوْنَ اَوَّلَ الْمُسْلِمِيْنَ ⑫ قُلْ اِنِّيْٓ اَخَافُ

عبادت او حکم کړې شوې دې ماته چې شم څه اول دَ مسلمانانو نه. ته اووايه بيشکه څه يريږم کچرې

اِنْ عَصَيْتُ رَبِّيْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ⑬ قُلِ اللّٰهَ اَعْبُدُ

څه نافرماني وکړم دَرب خپل، دَ عذاب دَ ورځې لوئې نه. ته اووايه چې خاص دَالله عبادت کوم څه

مُخْلِصًا لَّهُ دِيْنِيْ ۙ ⑭ فَاعْبُدُوْا مَا

حال دا دې چې خالص کونکې يم ده لره دَ خپل عبادت. نو عبادت کوئ تاسو دَهغې چې

شِئْتُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ ۭ قُلْ اِنَّ الْخٰسِرِيْنَ الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا

خوښ وي ستاسو ماسوا دَالله نه اووايه بيشکه نقصان مندهغه دي چې په نقصان کښې ئې اچولي دي

اَنْفُسَهُمْ وَاَهْلِيْهِمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ اَلَا ذٰلِكَ هُوَ الْخُسْرَانُ الْمُبِيْنُ ⑮

خانونه خپل او اهل خپل په ورځ دَقيامت ، خبردار، هم دا نقصان ښکاره دې

لَهُمْ مِّنْ فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ مِّنَ النَّارِ وَ مِنْ تَحْتِهِمْ ظُلَلٌ ۭ

وي به دوئ لره دَ پاسه طرفه ددوئ نه سائبانونه دَ اور او دَ لاندې دَ دوئ به سائبانو نه وي،

فَاتَّقُوْنِ ⑯	يُعِبَادِ	عِبَادَهٗ	بِهٖ	اللّٰهُ	يُخَوِّفُ	ذٰلِكَ
خمانه	اي بندګانو خمانواويريږئ	خپل بندګان.	سره	پدې	الله	(اور دجهنم)يره وي	دا

﴿قُلْ إِنِّيٓ أُمِرْتُ﴾ دادويم دليل وحي دي په توحيد باندې چې ماته الله جَلَّ جَلَالُهٗ حکم کړيدې چې ځه خالصةً دَ الله جَلَّ جَلَالُهٗ عبادت کومه، چونکه دَعبادت دپاره دوه ارکان دي. دَزړه عبادت اودَجوارحو عبادت، نودَزړه عبادت اشرف دې نوذکرئ اولاً اوشوچې ﴿مُخْلِصًا لَّهُ ٱلدِّينَ﴾ اووروسې دَجوارحو دَ عبادت ذکرديې چې ﴿وَأُمِرْتُ﴾ دې ، نواوّل اُمِرْتُ کښ دزړه عبادت ته اشاره اودويم اُمِرْتُ کښ دَجوارحو عبادت ته ، نوتکرارلازم نشو. ﴿لِأَنْ أَكُونَ﴾ بعض مفسرين وائي چې لام زائده دې، ځکه چې قرينه ورباندې قول دَ الله جَلَّ جَلَالُهٗ دې، "وامرتُ ان اکونَ اوّل من اسلمَ" (انعام: ۱۴) او ځنې وائي چې زائده ندې بلکه لام اجليه تعليليه دې اوپه عبارت کښ حذف دې اى امرتُ بالعبادة لان اکونَ،

﴿أَوَّلَ ٱلْمُسْلِمِينَ﴾ اوليت نه مراد اوليت دې په رتبه کښ، يعنى چې ځه په مسلمينو کښ دَ صفِ اول (اول نمبر) نه شم، ياپدې امت کښ اول مسلم، ځکه چې هرنبي دَامت نه اول مسلمان وي.

﴿قُلْ إِنِّيٓ أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّى﴾ پدې دواړوخايونوکښ نسبت دَفعل خپل ځان ته شويدې اومرادورنه مخاطبين دي چې نبي معصوم چې خوف لري دَعذاب نه نوتاسوخامخاولرئ.

﴿عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ﴾ مراد يوم نه يوم القيامة دې، يعني که عصيان اوشرك اوكفروكړئ نودَقيامت عذاب عظيم به درته ميلاؤشي،

﴿قُلِ ٱللَّهَ أَعْبُدُ﴾ دادويم ځل دعوه دَسورت ذکرکيږي، لفظ دَ الله مفعول دې دَ (اعبدُ) په تقديم سره ئې حصرفائده کړيدې يعني صرف اوصرف دَالله جَلَّ جَلَالُهٗ عبادت کومه، اوداتکرارندې دَماقبل سره ځکه په ماقبل قل انّي امرتُ کښ امرشوې وؤپه توحيدفى العبادت باندې اودلته امتثال اوعمل كول دي په امرباندې.

﴿فَٱعْبُدُواْ مَا شِئْتُم﴾امردَاجازت دپاره نه دي بلکه دَتوبيخ اوزورنې دپاره دي.يعني تاسوته اختياردې چې دَالله ﷻ نه ماسوئ دَچاهم عبادت کوئ نوکوئ تاسوبه دخپل کفر عاقبت اوګورئ،چې دَقيامت په ورځ به خسارې کښې يئ.﴿وَأَهْلِيهِمْ﴾ مراددَاهل نه(۱)يادَګمراه متبوعينو اوپيرانوګمراه اتباع اومريدان دي چې شرك ته ني رابلل.(۲)ياورنه مراداهل وعيال(بال بچ)دي،يعني کامل اوپوره نقصان اوخسارې والاهغه دي چې دشرك په وجه ني خپل ځان هم اوخپل اتباع اواولادئ هم دَقيامت په ورځ په خسارې کښې واچوي(۳)ياورنه مراداهل دَجنت دي چې هغه الله ﷻ هر انسان دَپاره په جنت کښې اهل پيدا کړې دی. که چرته ايمان راوړی نو ورته ميلاوْشی، اوکه ايمان نه راوړی خو هغه اهل او نعمتونه اوبائيلی. ابن عباس رضي الله عنه فرمائي:انّ لکلّ رجل منزلاً واهلاً وخدماً فی الجنّة،فان اطاع اُعطيَ ذلك،وان کان من اهل النّارحرم ذلك فخسر(کبيروغيره)چې دَهرچادپاره يومقام اواهل اوخادمان وغيره دي په جنت کښې نوکچرته ايمان راوړي نوهغه به ورته ورکړيشي اوکچرته ايمان رانه وړي اودَاهلِ جهنم نه وګرځي نوده خپل ځان،اهل اوخپل مقام ضائع کړل.

﴿أَلَا ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْخُسْرَانُ ٱلْمُبِينُ﴾تکراردَتاکيددَپاره دي،پدې آيت کښې دَخُسران په باره کښې شپږ(۶)تاکيدات ذکرشول:(۱)تکراردَخُسران(۲)حرفِ تنبيه چې"الا"دي(۳)کلمه دَ"هُو"چې په حصرباندې دلالت کوي(۴)توصيف دَخسران په"المبينُ"سره.(۵)صيغه دَمبالغه خسران راوړل(۶)خبر معرفه راوړل الخسران المبين

﴿لَهُم مِّن فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ مِّنَ ٱلنَّارِ وَمِن تَحْتِهِمْ ظُلَلٌ﴾دا تفصيل دَخُسران دي،داکنايه ده دَاحاطې دَعذاب نه پدوئ باندې چې دې جهنم به په دوئ باندې دَهرطرف نه احاطه کړې وي،"ظلل"جمع دَظُلَّةٌ ده سائبان ته ويلې کيږي،

که څوك اشکال وکړي چې سائبان خودَپاسه وي نو﴿تَحْتِهِم﴾ته ظلل څنګه اوويلې شو؟

جواب: (۱)اطلاق دَ"ظُلل" په" تحتهم" باندې دَقبيلې دَاطلاق دَاحدُالضدين دي په آخرباندې لکه وجزاءُ سيئةٍ سيئةٌ(شوریٰ: ۴۰)

(۲)چونکه په جهنم کښې لاندې باندې طبقات دي نودَبرې طبقې والابه دَلاندې والادپاره

ـ ـ ئبان وي نو ځکه ﴿تَحْتِهِمْ ظُلَلٌ﴾ او وئيلې شو

(۳) اطلاق دَ ظُلل په تحتهم باندې مشاكلة او مشابهة شويدې ځکه چې لاندې به هم په حرارت او په سوزولو کښې مشابه وي دَ برہ سره (والله اعلم) (حاشية الجمل)

﴿لَهُم﴾ خبر مقدم دے، ﴿ظُلَل﴾ مبتداء ده ﴿مِّن فَوْقِهِمْ﴾ په اعتبار دَ متعلق سره حال دې دَ ﴿ظُلَل﴾ نه اى كائنةٌ من فوقهم او ﴿مِّنَ ٱلنَّارِ﴾ صفت دې دَ ﴿ظُلَل﴾ اى كائنةٌ من النّار. ﴿وَمِن تَحْتِهِمْ﴾ په اعتبار دَ متعلق سره حال دے دَ مابعد ﴿ظُلَل﴾ نه.

﴿ذَٰلِكَ﴾ يعنى دا عذاب دَ جهنم ﴿يُخَوِّفُ ٱللَّهُ بِهِۦ عِبَادَهُۥ﴾ يعنى دا عذاب الله ﷻ په آياتونو کښې ذکر کوی چه بندګان ئې اوويريږی او دَ ګناهونو نه لرې شی

وَالَّذِيْنَ اجْتَنَبُوا الطَّاغُوْتَ اَنْ يَّعْبُدُوْهَا وَاَنَابُوْٓا اِلَى اللهِ لَهُمُ

او هغه خلق چې ځان ئې ساتلې وي دَ بُتانو نه چې عبادت او کړي دهغوئ او متوجه وي الله ته دَدوئ دپاره

الْبُشْرٰى فَبَشِّرْ عِبَادِ ﴿۱۷﴾ الَّذِيْنَ يَسْتَمِعُوْنَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُوْنَ اَحْسَنَهٗ

زيرى دې، نو زيرې ورکړه ځما بندګانو ته. هغه چې غوږ کيدې خبرې ته نو اتباع کوي دوئ د ټولو نه دَ ښې خبرې

اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ هَدٰىهُمُ اللهُ وَاُولٰٓئِكَ هُمْ اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴿۱۸﴾

دا هغه خلق دي چې هدايت ورته کړيدې الله ﷻ او دغه خلق صرف هم دوئ خاوندان د عقل دي

﴿وَٱلَّذِينَ ٱجْتَنَبُوا﴾ دا بشارتِ اُخروي دې مؤمنانو ته چې الله ﷻ سره شرك نه کوي، دوئ ته به په وخت دَ زنکدن کښې، قبر کښې فرشتې دَجنت زيرې ورکړې، پدې اياتونو کښې دَ مؤمنانو يو خو صفتونه ذکر کيږي، اول صفت دا چې ﴿ٱجْتَنَبُوا ٱلطَّٰغُوتَ﴾ چې دَ الله ﷻ نه ماسوا دَ هر معبود دَ عبادت نه اعراض او ځان ساتي، دَ طاغوت ډيرې معنى دي چې تفصيل ئې په سورة بقره ايت ج ۱ ص ۴۰۴ کښې تير شويدې (فراجعه). ﴿أَن يَعْبُدُوهَا﴾ بدلِ اشتمال دې دَ ﴿ٱلطَّٰغُوتَ﴾ نه ﴿وَأَنَابُوٓا إِلَى ٱللَّهِ﴾ دا دويم صفت دې دَ مؤمنانو. واوتفسيريه دې نو دا دَ ماقبل

تفسيردي،يعني چې دَغيرالله نه ئي اجتناب کړي وي اوصرف الله ﷻ ته ئي مکمله رجوع اوتوبه ئي کړي وي.

﴿لَهُمُ ٱلۡبُشۡرَىٰ﴾دلته يوځوامورددي(۱)دابشارت اوزيرې به ورته په کوم وخت کښې ملاويږي؟ نودې باره کښې يوڅواقوال دي:(۱)په وخت دَزنګدن کښې(۲)په قبرکښې(۳)په وخت دَبعث بعدالموت اوميدانِ حشرکښې(۴)په جنت کښې،خواَصحه داده چې دې ټولوته عام دې يعني دې ټولومواقف کښې به ورته بشارت ملاويږي

(۲)دابشارت اوزيرې به دَڅه وي؟ نودابشارت به دَتکليفونو دَ ختميدلو او دَ مقصود او مطلوب دَحاصليدلوبه وي کقوله تعالیٰ: الاّ تخافوا ولاتحزنواوابشرواباالجنّة التي (فصّلت:۳۰) بُشراکم اليوم جناتٌ تجري(الحديد:۱۲).

(۳)زيرې ورکونکې به څوك وي؟ نوزيرې ورکونکي به يا(۱)ملائکه به وي کقوله تعالیٰ:الّذين تتوفّاهُم الملائکةُ طيّبينَ يقولون سلام عليکم(النحل:۳۲) والملائکةُ يدخُلونَ عليهم من کلّ باب ﴿الرعد: ۲۳) (۲)يابه الله ﷻ پخپله زيرې ورکوي،لکه: تحيّتهم يومَ يلقونه سلام(الاحزاب:۴۴).

﴿فَبَشِّرۡ عِبَادِ﴾په اصل کښې "عبادي" دې،نومعلومه شوه چې عبديت سبب دَبشارت دې

﴿ٱلَّذِينَ يَسۡتَمِعُونَ ٱلۡقَوۡلَ﴾دادريم صفت دې دَمؤمنانو،ددې آيت په تفسيرکښې دَمفسرينو متعدداقوال دي،بعضِ حضرات فرمائي چې"القَول" خاص دې،مرادورنه دَالله ﷻ کلام(قرآن) اواحاديث دي،يعني دَالله ﷻ قرآن اوحديث اوري نو﴿فَيَتَّبِعُونَ أَحۡسَنَهُۥٓ﴾دَاحسن اتباع کوي،دَاحسن نه مراديادَپوره قرآن اتباع ده لکه موسیٰ ﷺ ته الله ﷻ حکم کړيدې،دَتورات متعلق وامرقومَكَ يأخذوابأحسنها(اعراف:۱۴۵) چې تفصيل ئي هلته تيرشويدې،ياداحسن نه مرادمُقابل دَحسن دې،ځکه چې په قرآن کښې بعضِ احکامات حسن دي،اوبعضِ احسن دي،مثلاًدَچانه خپل انتقام اوبدله اخستل هم جائزدي اوهغه معاف کول ئي هم جائزدي ليکن انتقام حسن دې اومعافي کول احسن دي"وَاَن تعفوا اقرب للتقویٰ"اودغه شان په څنې احکاماتوکښې رخصت،هم وي اوعزيمت هم وي ليکن عزيمت باندې عمل کول احسن وي اورخصت باندې حسن وي،نومطلب دَآيت داشوچې دامؤمنان هغه دی چې رُخصت هم اوري

او عزيمت هم آوري ليکن اتباع د احسن کوي چې هغه حسن دي. يعني احسن اختيار وي

بعضې حضرات فرمائي چې ﴿ٱلۡقَوۡلَ﴾ عام دي هر قسم اقوالو ته شامل دي چې په هغې کښې د توحيد او شرک، حق او باطل، اقوال داخل دي. نو مطلب د آيت دا شو چې دا مؤمنان هغه دي چې خبرې تولې آوري ليکن اتباع صرف د احسن کوي. يعني په توحيد او شرک کښې اتباع د توحيد کوي او شرک نه مني.

﴿أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ هَدَىٰهُمُ ٱللَّهُ﴾ دا څلورم صفت دي د مؤمنانو چې دوئ د الله ﷻ د طرف نه هدايت موندونکي دي مختلفې خبرې آوري ليکن ګمراه کيږي نه. ﴿وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمۡ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ﴾ دا ئي پنځم صفت دي. الباب د لُب جمع ده هغه عقل ته وائي چې مخلوط د وهم سره نه وي. او په دې کښې حصر دي، يعني صرف هم دوئ خاوندان د عقل دي، چې د عقل په ذريعه سره د حق او باطل، حسن او احسن په مينځ کښې فرق کوي.

أَفَمَنۡ حَقَّ عَلَيۡهِ كَلِمَةُ ٱلۡعَذَابِ أَفَأَنتَ تُنقِذُ مَن فِي ٱلنَّارِ ۝١٩

آيا هغه څوک چې ثابته شوي وي په هغه باندې فيصله د عذاب، آيا نو ته به خلاص کړې هغه څوک چې په اور کښې وي.

لَٰكِنِ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ رَبَّهُمۡ لَهُمۡ غُرَفٞ مِّن فَوۡقِهَا غُرَفٞ مَّبۡنِيَّةٞ

ليکن هغه خلق چې يريږي د رب خپل نه، وي به دوئ لره بالاخانې د پاسه د هغې به نورې بالاخانې جوړې کړې شوي

تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ وَعۡدَ ٱللَّهِۖ لَا يُخۡلِفُ ٱللَّهُ ٱلۡمِيعَادَ ۝٢٠

بهيږي به د لاندې د هغې نه ولې، وعده کړيده الله ﷻ يقيني وعده، خلاف نه کوي الله ﷻ د وعدې.

أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَسَلَكَهُۥ يَنَٰبِيعَ فِي ٱلۡأَرۡضِ

آيا تا نه دي ليدلي چې بيشکه الله تعالى او ورَوي د آسمان نه اوبه، بيا رواني کړي هغې لره چينې په زمکه کښې

ثُمَّ يُخۡرِجُ بِهِۦ زَرۡعٗا مُّخۡتَلِفًا أَلۡوَٰنُهُۥ ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَىٰهُ مُصۡفَرّٗا

بيا را اوباسي په دې سره فصل چې مختلف وي رنګونه د هغې، بيا وچ شي دغه فصل نو وينې ته هغه تک زيړ

ثُمَّ يَجْعَلُهُ حُطَامًا إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ لِأُولِي الْأَلْبَابِ ﴿٢١﴾

بیااوگرځوي الله ﷻ هغه زرې زرې، بیشکه پدې کښې خامخانصیحت دي دپاره دخاوندانو د عقل .

﴿أَفَمَنْ حَقَّ عَلَيْهِ كَلِمَةُ الْعَذَابِ﴾ داتخویف اخروي دي اودويم تقابُل دې په مابين د صفاتو دمؤمنانو اودکافرانو کښې،چې یوطرف ته دا ضدی کافران دی چې د وعید تولو آیاتونو مستحق گرځیدلی دی او بل طرف مؤمنان چې هغه الله ﷻ احکامات منی نو آیا دا دواړه یوشان کیدې شی؟همزه داستفهام انکار دپاره دې ﴿من﴾موصوله مبتدا ده اوخبرئی محذوف دې چې هغه کمن نجا یا کمن لیس کذلک دې او﴿افانت تنقذ﴾جدا جمله ده چې دماقبل مضمون تقریر او تاکید کوی.یا خبر د مبتدا﴿افانت تنقذ﴾جمله ده،دې صورت کښې همزه استفهام او ف، په افانت کښې زائده دی دپاره دتاکید د ماقبل همزې اوفاء. او یا﴿من﴾ موصوله نه دې بلکه شرطیه مبتدا دې حق علیه شرط دې افانت تنقذ جزا ده اوهمزه استفهام په افانت کښې زائده دې دپاره دتاکید او فاء جزائیه ده.

﴿كَلِمَةُ الْعَذَابِ﴾ غوره قول دا دې چه کلمة العذاب نه مراد وعید الهی دې چې د قرآن په مختلف ځائیونو کښې مختلفواسالیبو سره مذکور دې﴿أَفَأَنتَ تُنقِذُ﴾دلته هم استفهام دپاره انکار دې یعنی کومو خلقو باندې د الله ﷻ دعذاب فیصله شوې ده هغه ته جهنم نه نشې بچ کولې هغه پکښې ضرور داخلیږی﴿مَن فِي النَّارِ﴾پدې کښې وضع داسم ظاهرده په ځائ د ضمیر، حق دعبارت داسې وو((فانت تُنقذه)) نوپدې کښې هم تاکید دې.

﴿لَٰكِنِ الَّذِينَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ﴾دابشارت اخروي دې مؤمنانوته،لکن دلته فارقه دې یعني ماقبل او مابعد احوالو کښې فرق کوي چې کافرانو حال خوذا ووچې جهنم کښې به وي لیکن مؤمنانو ته به دایمان او تقوی په وجه ښوښو چهته بنګلې ملاویږي

﴿لَهُمْ غُرَفٌ﴾دامقابل دي د﴿لَهُم مِّن فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ﴾ غُرَف جمع د غرفةٌ ده بالاخانې ته وئیلې کیږي﴿مَّبْنِيَّةٌ﴾ بناء نه دې یعنی جوړې کړې شوې مفسرینو ددې لفظ متعدد توجیهات لیکی

دی چې بالاخاڼې خولازمې دی بناء لره، داسې کیدې نشی چې بالاخاڼې وی اوعمارت ئی نه وی نو بیا ولې مَّبۡنِیَّةٞ صفت راوړلې شو(۱)بعضو وئیلی دې چې داتمهید دې دَمابعد. تجری من تحتها الانهاردپاره، یعنی دابالاخانی به په داسې انداز جوړې کړې شوې دی چې دیکښې به هم نهرو بهیږی، په خلاف دَدنیا بالاخانو نه.(۲)بعض وائی چې دیکښې اشاره ده چې دا بالاخانې اوسه نه الله ﷻ تیارې کړې اوجوړې کړی دی،(۳)څنې فرمائی چې دیکښې،پختګی او مضبوطی طرف ته اشاره ده. چې بالاخاڼې دَجنت دَدُنیادَبالاخانوپه شان ندې، دَدنیادَبنګلودپاسه چې بل چهت وي نو فوقاني(برنې)چهت دَلاندني نه کمزورې وي، نودَ﴿مَّبۡنِیَّةٞ﴾مطلب دادې چې اګرکه دَجنت بالاخانې به دَيوبل دَپاسه وي ليکن په مضبوط والي اوپوخ والي کښې به يوشان وي (۴)او څنې مفسرين فرمائي چې پدې صفت سره رفعتِ شان دَدوئ ته اشاره ده چې بانې ئي اللهﷻ دې.﴿وَعۡدَ ٱللَّهِ﴾ای وعدالله وعدا یعنی الله ﷻ دا یقینی وعده کړیده الله ﷻ خپلې وعدې خلاف نه کوی،

﴿أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ﴾دادریم دلیلِ عقلي دې په توحیدباندې،او مثال دې دَژوند دَدنیا چې اللهﷻ دَآسمان نه اوبه دَباران نازلې کړي نودَمحفوظولودپاره ئي په زمکه کښې داخلې کړي،نوخلق ورنه تردیره وخته پورې فائده اخلي چې ځپل فصلونه باغونه پرې اوبه کړی بیادغه شین فصل زیړشی،بیا زرې زرې شی،نو عقل والا پوهیږی چه داټول تصرفات دَ الله ﷻ دی نو مستحق دَعبادت هم صرف هغه دې.﴿فَسَلَكَهُۥ يَنَٰبِيعَ﴾اي في ينابيع منصوب بنا بر نزع خافض دې ينابيع جمع دَ ينبوع ده چینې ته وائی،مطلب دادې چې زمکه کښې دننه الله ﷻ دَچینو یوجال خورکړې دې چې کله باران اوشی نودَهغې اوبه محفوظولو دَپاره الله ﷻ اوبه په چینو کښې اچلوی نوفائده عامه هم شی او تامه هم شی او داچینې دَزمکې دَپاره داسې حیثیت لرې لکه دَانسان په جسم کښې درګونو حیثیت دې چې پوره بدن کښې خواره وی او هر ځائی ته غذا اوطاقت رسوی.

﴿زَرۡعٗا مُّخۡتَلِفًا أَلۡوَٰنُهُۥ﴾ دادبوټی مختلف مراحلو بیان دې چې باران سره ئی الله ﷻ راوخیژوی نو خپل اصل رنګ کښې وی څه خائسته خکاری څه مده پس بیا وچ شی نو تک

زیرہ ښکاری اوبیا خه وچ شی نو اوریږی او چور چور شی. "مختلفاً الوانه" نه مراد مختلف رنګونو والا فصل دی،چی ځنې شنه وي،ځنې سره،ځنې زیړاوبعض سپین.وغیره وي.یاد "مختلفاً الوانه" نه "مختلفاً اصنافُه وانواعه"مراددي،یعني مختلف قسمه فصل.غنم.جوار.ساګ وغیره.

﴿يَهِيجُ﴾اي ييبس یعنی اوچ شی﴿حُطَٰمًا﴾ای فتاتا،ټکړې ټکړې.﴿إِنَّ فِي ذَٰلِكَ﴾اشاره ده ماقبل ذکرشوي تفصیل ته،﴿لَذِكْرَىٰ لِأُولِي ٱلْأَلْبَٰبِ﴾ای تذکیرا عظیمًا(روح) یعني پدې کښې لوئ نصیحت دې اوعبرت دې په فناء کیدودَدُنیاباندې، اوپه حال دَدُنیاباندې،چې﴿أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً﴾ مثال دَقطرې دَمني دې،چې په رحم دَمادرکښې داخله شي،﴿ثُمَّ يُخْرِجُ بِهِۦ زَرْعًا مُّخْتَلِفًا أَلْوَٰنُهُۥ﴾مختلف قسمه خلق ورسره پیداشو﴿ثُمَّ يَهِيجُ﴾بیاځوان اوقوي شو﴿فَتَرَىٰهُ مُصْفَرًّا﴾ بیابوډاشو،﴿ثُمَّ يَجْعَلُهُۥ حُطَٰمًا﴾ بیامړشواوپه قبرکښې زرې زرې شو.نوپدې سره انسان دَخپل تخلیق حقیقت پیژندلې شي،چې داذریعه ده دَمعرفت الهي.

اَفَمَنْ شَرَحَ اللّٰهُ صَدْرَهٗ لِلْاِسْلَامِ فَهُوَ عَلٰى نُوْرٍ مِّنْ رَّبِّهٖ
آیاهغه څوک چې پرانستې وي الله ﷻ سینه دَهغه دَاسلام دَپاره،نووي دې په یولوئ نوردَطرفه دَرب خپل نه،
فَوَيْلٌ لِّلْقٰسِيَةِ قُلُوْبُهُمْ مِّنْ ذِكْرِ اللّٰهِ اُولٰٓئِكَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿٢٢﴾
نوهلاکت دې هغه خلقو لره چې سخت وي زړونه دَهغوئ دَذکردَالله نه،دغه خلق په ګمراهئ ښکاره کښې دي.
اَللّٰهُ نَزَّلَ اَحْسَنَ الْحَدِيْثِ كِتٰبًا مُّتَشَابِهًا مَّثَانِيَ ۖ
الله نازل کړېدې ډیرښائسته کلام،چې عظیم الشان کتاب دې،یوبل پشان دې په مضمون کښې مکرر دې،
تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُوْدُ الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ۚ ثُمَّ تَلِيْنُ جُلُوْدُهُمْ
ترېکي دَددې دَوعیدنه څرمنې دَهغه خلقو چې یریږي دَخپل رب نه،بیانرمې په سکون شي څرمني دهغوئ

وَقُلُوبُهُمْ إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ ذَٰلِكَ هُدَى اللَّهِ يَهْدِي بِهِ مَنْ

او زړونه د هغوئ د الله جَلَّجَلَالُهُ ذکر (بشارت) ته دا (کتاب) هدايت دې د الله جَلَّجَلَالُهُ. هدايت ورکوي پدې سره چاته چې

يَشَاءُ وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِنْ هَادٍ ﴿٢٣﴾

ئې خوښه شي او هغه څوک چې ګمراه ئې کړي الله جَلَّجَلَالُهُ، نو نه وي هغه لره هيڅ څوک هدايت ورکونکې

﴿أَفَمَن شَرَحَ اللَّهُ صَدْرَهُ﴾ دا دريم خل ذکر د تقابل د اوصافو د مؤمنانو او کافرانو دې، دلته هم استفهام انکاري دې، "من" موصوله مبتدا ده او خبرئې محذوف دې چې "کمن هوليس کذلک" دې. يعني هغه مؤمن چې هغه د توحيد په دلائلو کښې غور او فکر وکړو او الله جَلَّجَلَالُهُ د هغه سينه د قبول اسلام د پاره کولاوه کړله، او د الله جَلَّجَلَالُهُ په توفيق سره ئې سينه د قرآن او د اسلام په نور سره منوره شوه، نو آيا دې کيديشي په شان د هغه سنګدل کوم چې د ضد او د عناد په وجه ئې زړه سخت شوې وي او د قبول اسلام نه محرومه شوي وي؟ هرګزنشي کيدی. ﴿شَرَحَ اللَّهُ صَدْرَهُ﴾ د شرح صدر نه مراد د قبول ايمان او د نور ايمان صلاحيت دې، ددې په مقابل کښې قساوت قلب دې چې ورستوئي ذکر راځي، د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دې چې نبي اکرم ﷺ دا آيت کريمه تلاوت کړو ﴿أَفَمَن شَرَحَ اللَّهُ صَدْرَهُ لِلْإِسْلَامِ فَهُوَ عَلَىٰ نُورٍ مِّن رَّبِّهِ﴾ نو مونږ ورنه د شرح صدر مطلب تپوس وکړو، نو حضور ﷺ اوفرمايل چې: دا يو نور دې چې الله جَلَّجَلَالُهُ ئې د مؤمن په زړه کښې واچوي، نو دده زړه کلاؤ او ارت شي، د احکام الهيه باندې د عمل کولو د پاره، نو صحابه رضي الله عنهم عرض وکړو چې ددې څه علامه ده؟ نو نبي اکرم ﷺ اوفرمايل: الانابةُ الى دارِ الخلود ، والتّجافي عن دارالغرور ، والتأهبُ للموت قبل نزوله (روح بحواله بيهقي، حاکم) يعني د شرح صدر علامه داده چې د آخرت شوق پيدا شي دنيا نه بې رغبتی پيدا شی، او مرګ د راتلو نه مخکښې د هغې د پاره تيارى شروع کړی. ﴿فَهُوَ عَلَىٰ نُورٍ﴾ تنوين د تعظيم د پاره دې، د نور مراد نور د هدايت او د معرفت دې. ﴿فَوَيْلٌ لِّلْقَاسِيَةِ قُلُوبُهُم مِّن ذِكْرِ اللَّهِ﴾ "من" اجليه دې، اى من اجلِ ذکره سبحانه (روح) يعني د الله تعالى د ذکر د وجهې نه د دوئ په زړونو کښې قساوت (سنګدلي) پيدا شي.

که څوک اشکال وکړي چې دَالله تعالى ذکرخودَشرح صدراواطمينان قلبي سبب دي لکه الله ﷻ فرمائي"الا بذکرالله تطمئنّ القلوب" نوپدې آيت کښ ورته سبب دقسوة قلبي ولې وونيلى شو؟

جواب دادې(۱) چې "ذکرالله"اصل خاصيت خودادې چې زړونو ته ورسره اطمينان نصيب کيږي،ليکن بيادَزړونو فرق دې ځنې سليم وی نو هغوئ ته ورسره اطمينان حاصل شی اوځنې غيرسليم وی نوهغې ته اطمينان نه حاصليږی بلکه قساوت پکښ پيدا کيږی لکه ديوکس معده خرابه ده اودَبل صحيح کار کوی.دواړه خه مقوی غذا استعمال کړی نو چې کوم کس معده صحيح وی هغه له فائده ورکړی اوچاچې کمزوری وی نوهغه له الټا نقصان ورکړی

(۲) دويم داچې دانسبت تسببًادې،يعني دَدوئ اعراض دَذکراودَقرآن نه سبب دې دَقساوة قلبي دَدوئ.

﴿اَللّٰهُ نَزَّلَ أَحْسَنَ ٱلْحَدِيثِ﴾ دادريم(۳)دليل وحې دې په توحيدباندې،چې څه دځپل ځان نه هيڅ هم نه وايم بلکه دَالله ﷻ طرفه په ماقرآن نازليږي،پدی آيت کښ دَقرآن مجيديوصفات ذکرشويدي(۱)أَحْسَنَ ٱلْحَدِيثِ حديث لفظي معنی هغه کلام ياقصه چې بيانيږي،قرآن ته احسن الحديث پدې وجه ويلي شويدي چې دې په ټولوکلامونوکښ احسن دې،لکه په﴿ٱلَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ ٱلْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُۥٓ﴾کښ تيرشو،اوقرآن مجيدهم لفظاً احسن دې، ځکه چې ډيرفصيح کلام دې،اومعناًهم احسن دې،ځکه چې دَهرقسمه تناقض اواختلاف نه منزّه دې،کقوله تعالیٰ:ولوکانَ من عند غيرالله لوجدوا فيه اختلافاً کثيراً(نساء:۸۲).

(۲)﴿كِتَٰبًا﴾بدل دې دَاحسن الحديث نه،تنوين پکښ دَتعظيم دپاره دې،دائي دويم صفت دې،کتاب په لغت کښ جمع ته وائي،قرآن ته کتاب ځکه ويلې کيږي چې دې جمع کونکې دې ټولوخيرونولره

(۳)﴿مُّتَشَٰبِهًا﴾دائی دريم وصف دې،په معنیٰ دَمتماثلاً سره دې،يعني يوبل سره يوشان دې په مضمون کښ يوبل سره ئی تضاد نشته

(۴)﴿مَّثَانِيَ﴾جمع دَمثنیٰ ده پمعنی دَمکررکيدوسره،يعني دده مضامين اواحکام او

مواعظ باربارذکرشويدي.اودارنګه تلاوت ئي باربارکيږي.وقيل يثنى في التلاوة. نور وجوهات ئي په سورة الحجر(٨٧)کښې تيرشويدي

(۵)﴿تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُودُ ٱلَّذِينَ﴾دا پنځم صفت دې يعنى ددې وعيد ونه اوتخويفاتو سره په زړه کښې خوف راځي اوبشارتونو اووعدو سره اطمينان اورجا راځي اقشعرار:موئ برتن خاستن:يعني په وخت دَخوف اويره کښې په بدن باندې ويخته زيګيدوته وائي. او ﴿مِنْهُ﴾ ضميردَقرآن مجيدوعيدونو اوتخويفاتو ته راجع دې.يعني دَمؤمن شان دادې چې کله دَقرآن وعيدونه واوري،نوويرېږي اوويخته ئي په بدن باندې زيګ شي.﴿ثُمَّ تَلِينُ﴾ اي تطمئن وتسکن،دا دَ تقشعر منه جلود الذين په مقابله کښې دې يعنى کله چې دقرآن بشارتونه او وعدې واورې نو دَمؤمنانوزړونو کښې اطمينان پيدا شي.لين الجلود نه مراد په بدن کښې د اقشعرار کيفيت ختميدل دې او دَ "قلوبهم" اضافى کښې ورسره اشاره اوشوه ديته چې د اقشعرار او دخوف کيفيت ختميدلو سبب غفلت نه وي،بلکه قرآن دهغوئ په زړونو اثر کړې وي.اصل سبب ئى هغه اطمينان وى چې قرآن په برکت ورته نصيب شوې وى.﴿إِلَىٰ ذِكْرِ ٱللَّهِ﴾دَذکرالله نه وعدې اوبشارتونه مراددي،يعني په مؤمن باندې دَقرآن اثرداوي چې کله دې دَقرآن وعيدونه واوري نواويرېږي اوچې کله بشارتونه،وعدې واوري نوزړه ئي خوشحاله شي اومطمئن شي.
نو دادَمؤمن صفت دې اوچې په چاکښې داصفت کمزورې وي نودا ايماني کمزوري ده

فائده:حضرت عثمانى رحمه الله فرمائى دا حال داقوياؤو کاملينو دې کچرته په ضعفاؤ او ناقصينو څه نور قسم احوال طارى شى لکه صعقه بې هوشى وغيره،نوددې آيت نه ددې نفى نه کيږي،اونه د داسې خلقو فضيلت ورسره لازميږي بلکه داسې بې قابول کيدل عموما دليل وى دَ"وارد" دَ قوت، او "مورود" دَ ضعف. جامع ترمذى کښې په حضرت ابوهريره رضي الله عنه باندې دَ يوحديث په بيان په وخت کښې داسې احوالو طاري کيدلو تصريح راغلې ده.

﴿ذَٰلِكَ﴾مشارٌاليه ياقرآن دې چې داقرآن دَالله تعالى دَطرفه هدايت دې هدايت کوي په دې سره هغه چاته چې ئي اوغواړي هدايت،يامشار اليه اقشعرار،اولين دې،يعني خوف اوخوشحالي پيداکيدل په قرآن سره اثردَهدايت دَالله تعالى دې.﴿وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ﴾اودَچاپه زړه کښې چې دَقسوة

قلبي اوپه ګناهونوباندې اصرارکولودوجه نه دقرآن دااثرپيدانشي نو ﴿فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ﴾ بل مؤثربياده لره نشته دې، اللّهم اعذنامن الضلالة.

اَفَمَنْ يَّتَّقِيْ بِوَجْهِهٖ سُوْٓءَ الْعَذَابِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ
آياهغه څوك چې ځان بچ کوي په مخ خپل سره دسخت عذاب نه په ورځ دقيامت، کيدلې شي په شان د مؤمن،
وَ قِيْلَ لِلظّٰلِمِيْنَ ذُوْقُوْا مَا كُنْتُمْ تَكْسِبُوْنَ ﴿۲۴﴾ كَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ
اواوبه ويلې شي ظالمانو ته، چې اوڅکئ سزادهغه عملونوچې تاسو کسب کول. تکذيب کړې وو هغه خلقوچې
قَبْلِهِمْ فَاَتٰىهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۲۵﴾ فَاَذَاقَهُمُ اللّٰهُ
مخکښې وودوئ نه نوراغلې ووهغوئ ته عذاب دداسې ځائ نه چې نه پوهيدل دوئ. نواوڅکوله دوئ ته الله
الْخِزْيَ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَكْبَرُ ۘ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿۲۶﴾
رسوائي په ژوند د دنيا کښې ، او يقيناً چې عذاب دآخرت ډيرلوئ دې، کچرې دوئ پوهيدلې
وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ لَّعَلَّهُمْ
اوخامخاپه تحقيق سره بيان کړيدې مونږخلقوته پدې قرآن کښې هر قسم مثال ، ددې پاره چې دوئ
يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۲۷﴾ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا غَيْرَ ذِيْ عِوَجٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿۲۸﴾
نصيحت قبول کړي. قرآن دې په عربئ ژبه کښې، نه دې خاوندد کوږوالي، ددې دپاره چې دوئ اوبيريږي

﴿أَفَمَنْ يَتَّقِي بِوَجْهِهِ﴾ دا اخلورم خل تقابل ذکرکيږي په مابين دصفاتو دمؤمنانو او کافرانو کښې، دلته هم استفهام انکاري دې، "من" اسم موصول مبتدا ده او خبرئې محذوف دې چې "کمن هو ليس کذلك" دې، ياکمن هوآمن من العذاب دې، يعني هغه کافرچې لاس ترلې پرمخې جهنم ته اوغورځولې شي، نودې په مخ خپل سره ځان دجهنم داورنه بچ کوي، ليکن نه به شي بچ کولې . نوآيادې کيديشي په شان دهغه مؤمن چې ددې عذاب نه محفوظ وي؟هرګزنشي

کيدي، مفسرين وائي چې داکنايه ده ددينه چې کافربه دجهنم داورنه دخان بچ کولونه عاجزه وي ځکه چې مخ اشرف الاعضاء دي.انسان خپل مخ په لاس سره بچ کوي اولاسونه ددوئ خوبه په ستونوپورې ترلې وي نوچې جهنم ته غورځيږي نوپه مخ به ځان بچ کوي.اوپه مخ خوځوک ځان نشي بچ کولې نودوئ به دخان بچ کولونه عاجزه وي

﴿وَقِيلَ لِلظَّالِمِينَ﴾داتخويف اخروي دي. ﴿مَا كُنتُمْ تَكْسِبُونَ﴾اي وباله يعني کافرانوته به قيامت کښې اووئيلى شي چې دنياکښې موکوم مشرکانه افعال کول نن دهغې عذاب اوڅکئ.

﴿كَذَّبَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ﴾داتخويف دنيوي دي.چې ستاسونه مخکښې دتوحيداورسالت نه انکارکونکوباندې مونږداسې عذاب راوستلوچې دوئ پوهه هم نه شول دنيااوآخرت کښې رسواشول،تاسودافضل الانبياء تکذيب کوئ ددې دانجام نه اويريږئ.﴿فَأَتَاهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ﴾حيث مکانيه دي،يعني دداسې طرفه اومقام نه ورباندې عذاب راغې چې ددوئ په وهم اوگمان کښې هم نه وو.

﴿وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ﴾داتمهيددې ورستوراتلونکي مثال ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا رَّجُلًا دپاره.چې په قرآن کښې مونږه نصحيت حاصلولو دپاره خلقوته هرقسمه مثال بيانوو،﴿قُرْآنًا﴾حال مؤکده دي د ﴿هَذَا﴾،اويامنصوب على المدح دي،﴿غَيْرَ ذِي عِوَجٍ﴾ عِوَج بالکسر هغه نقصان اوکوږ والى ته وائ چه مدرک بالعقل او بالبصيرت وى، او عَوَج بالفتح هغې ته وائى چه مدرک بالحس وى،نو دلته داول ذکر شونو اشاره ده چه قرآن داسې مرتبه کښې دې چه عقل هم پکښې کوږ والې نشى پيدا کولې نو په حس سره خو پکښې په طريق اولى کوږ والى اونقصان نشى موندلې ، بعض وائى مراددعوج(کوږ والې)نه خلافِ واقع خبره ده،اودغه رنگه هرقسم نقصان اوتعارض تناقض پکښې نشته دې.

ضَرَبَ	اللَّهُ	مَثَلًا	رَّجُلًا	فِيهِ	شُرَكَاءُ	مُتَشَاكِسُونَ
بيانوي	الله تعالى	يومثال،	دېوسړي(غلام)چې په هغه کښې شريکان وي،بدخويه(جګړه کونکي)			

وَ رَجُلًا سَلَمًا لِّرَجُلٍ هَلْ يَسْتَوِيٰنِ مَثَلًا ؕ اَلْحَمْدُ

او د يو بل سړي (غلام) چې صرف د يو سړي وي آيا برابر كيديشي دا دواړه په مثال كښې. ټول صفتونه د خداى تو ب

لِلّٰهِ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٢٩﴾ اِنَّكَ مَيِّتٌ وَّاِنَّهُمْ

الله ﷻ لره دي. بلكه ډير د دوئ نه ، نه پوهيږي. بيشكه ته مړكيدونكې ئې او بيشكه دوئ هم

مَّيِّتُوْنَ ﴿٣٠﴾ ثُمَّ اِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عِنْدَ رَبِّكُمْ تَخْتَصِمُوْنَ ﴿٣١﴾

مړي دونك دي بيا به بيشكه تاسو په ورځ د قيامت په حضور د خپل رب كښې جګړه كوئ

﴿ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا ﴾ پنځم تقابل دې د مؤمن او د مشرك او مثال په ذريعه واضحه كيږي .
چې يو غلام دې چې هغه د دوؤ ياد ډيرو بداخلاقو مالكانو شريك دې. يو ئي مشرق ته ليږي نو بل ئي مغرب ته ليږي، نو دې پريشانه او حيرانه وي چې د كوم يو د حكم تعميل وكړي. او بل هغه غلام دې چې صرف يو مالك ئي دې، نو آيا دا دواړه برابر كيديشي؟ هر ګز نشي كيدې نو دغه شان اول غلام د مشرك مثال دې، چې كله يو درګاه ته منډه ،كله بل درګاه ته منډه كله يو بت نه غواړه كله بل بت نه غواړه او دويم مثال د مؤمن دې چې صرف الله ﷻ ته سجده ريز وي

﴿مَثَلًا﴾ مفعول ثاني د ضرب دې او ﴿رَّجُلًا﴾ مفعول اول دې چونكه دا د تمثيل (چې فيه متشاكون دې) يو جز دې نو دې وجهې نه روستې ذكر كړې شو، چې دې سره اتصال راشي ﴿فِيهِ﴾ خبر مقدم دې، او ﴿شُرَكَآءُ﴾ مبتدا مؤخر دې ﴿مُتَشٰكِسُونَ﴾ صفت دې، مأخوذ دې د تشاكس نه تشاكس: تخالف مع سوء الخلق ته وائي، يعنې دا سې شركاء وي چې خپل مينځ كښې ئي اختلاف هم وي او بداخلاقه هم وي، ﴿وَرَجُلًا﴾ دا د مؤحد او د مومن مثال دې ﴿سَلَمًا﴾ اى خالصًا.

﴿هَلْ يَسْتَوِيٰنِ مَثَلًا ﴾ "مثلاً" تميز عن النسبة دې، تقدير دا رنګه دې هل يستوي مثلهما و حالهما يعني آيا ددوئ دواړو برابرى كيديشي په حالت او په مثال كښې. ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ﴾ ثمره ده د ماقبل دلائلو او مثالونو چې د ماقبل دلائلو نه معلومه شوه چې مستحق د الوهيت صرف د الله ﷻ ذات دې

﴿إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُم مَّيِّتُونَ﴾ داجواب دې يو دقول دَمشركانوچې دوئ به داخبرې كولې چې دامحمدﷺ به مړشي نوموږاوزمونږه بتان به ورنه خلاص شي.لكه بل ځائ كښې الله ﷻ فرمائي:ام يقولونَ شاعرٌنتربّصُ به ريبَ المنونِ(طور: ٢٠)نو الله ﷻ ددې جواب وركوي چې دَمرګ نه خوهيڅ څوك هم نشي خلاصيدلې كه تاسودَحضورﷺ دَمرګ انتظاركوئ نو تاسوباندې به هم مرګ راځي، اودَغه شان په مرګ سره هم خبره نه ختميږي بلكه ورستودَمرګ نه به په دوباره ژونددَقيامت كښې به فيصله كيږي،ضمناًپدې كښې ددې تنبيه هم ده چې افضلُ الخلائق اوسيّدالرسل كيدوباوجودحضورﷺهم دَمرګ دَفيصلې نه مستثنىٰ ندې.لپاره دَ دى چه دَ حضور ﷺ وفات نه روستو خلك پديكښې اختلاف اونكړي او دغه شان ټولوخلقوته دَ فكر آخرت اودنيك عمل كولوترغيب دې،باقي په عالم برزخ كښې دَانبياء عليهم السّلام حيات، نو پدې باندې دَټولو اهل سنت والجماعت اتفاق دې چې انبياء عليهم السّلام ته په قبوروكښې په نهايت اعلىٰ درجه سره حيات حاصل دې،چې په بعضِ اعتباراتوسره دَدنيوي حيات نه هم قوي دې،حيات انبياء عليهم السّلام باندې تحقيق حضرت والدمحترم نوّرالله مرقده په تفسير دَسورة بقره آيت(١٥٤)كښې په تفصيل سره كړيدې(اللّهم تقبّل منه).

ددې آيتِ كريمه تعلق دَدغه مسئله سره نشته دې ځكه چې پدې آيت كښې صرف وعده وفات كيدِو ده،ځكه چې مَيِّت"بتشديدالياء"اطلاق په هغې چاكيږي چې په زمانه مستقبل كښې به هغه باندې مرګ طاري كيږي نو"انّكَ ميِّت "پمعنىٰ دَستموت سره اوميت(بسكون الياء) هغه چاته وائي چې مړوي.

﴿ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عِندَ رَبِّكُمْ﴾خطاب عام دې،چې تاسوټول به دَقيامت په ورځ دَالله ﷻ په درباركښې جګړه كوئ،كافربه وائي"ما جاءنا من بشيرٍ و لا نذيرٍ"پيغمبربه وائي چې ماتاسوته دَالله ﷻ پيغام رارسولې وؤليكن تاسونه وؤمنلې،اودغه شان مظلوم به دَظالم سره مخاصمه كوي خواه كه ظالم مسلمان وي اوكه كافرلكه حديث كښې راځي چې په كوم سړي باندې دَبل ورورحق اوذمه باقي وي نوهغه لره پكاردي چې نن په دنياكښې ئې ادايامعاف كړي ځكه چې په آخرت كښې به دينارا ودرهم نه وي،نوكه ظالم سره څه اعمالِ صالحه وي نوبقدرِظلم به مظلوم ته وركولې شي،اوكه اعمالِ صالحه ورسره نه وي نودَمظلوم ګناهونه به په ده.باندې اچولې كيږي.

فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ كَذَبَ عَلَى اللّٰهِ وَكَذَّبَ بِالصِّدْقِ اِذْ جَآءَهٗ

نو څوك دي زيات ظالم دهغه كس نه چي دروغ تړي په الله او تكذيب ني اوكړو د رښتياوو چي كله راغي ده ته

اَلَيْسَ فِيْ جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْكٰفِرِيْنَ ﴿٣٢﴾ وَالَّذِيْ جَآءَ بِالصِّدْقِ

آيا نده په جهنم كښي تهكانه دپاره د كافرانو او هغه سړي چي راوړي ني وي رښتيا

وَصَدَّقَ بِهٖٓ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُتَّقُوْنَ ﴿٣٣﴾ لَهُمْ مَّا يَشَآءُوْنَ

او ايمان ئي پرې هم راوړې وي، دغه كسان هم دوئ پرهيزګاران دي ددوئ دپاره هغه نعمتونه دي چي ددوئ خوښ وي

عِنْدَ رَبِّهِمْ ۭ ذٰلِكَ جَزَآءُ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٣٤﴾ لِيُكَفِّرَ اللّٰهُ عَنْهُمْ اَسْوَاَ

په نزد رب ددوئ، دا بدله ده دخايسته عمل كونكو ددي دپاره چي معاف كړي الله تعالى دوئ ته بدترين هغه

الَّذِيْ عَمِلُوْا وَيَجْزِيَهُمْ اَجْرَهُمْ بِاَحْسَنِ الَّذِيْ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٣٥﴾

عملونه چي دوئ كړي وؤ او وركړي الله دوئ ته اجر ددوئ دهغه ښائسته عملونو چي دوئ كولو

﴿فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن كَذَبَ﴾ دا زجر او تخويفِ اخروي دي، استفهام انكاري دي، يعني دهغي كس نه زيات ظالم بل څوك نشته دي چي په الله ﷻ دروغ وائي او په الله ﷻ دروغ وئيل دا دي چي نسبت دولد ورته كوي، شريک ورسره ګرځوي حلال حرام، حرام حلال ګڼړي وغيره، ﴿وَكَذَّبَ بِالصِّدْقِ﴾ او بل دا چي رښتياوؤ ته دروغ وائي "صدق" نه مراد قرآن، نبی كريم ﷺ او د اسلام ټول احكامات دي، ﴿إِذْ جَآءَهُۥٓ﴾ اذ مفاجاتيه دي، يعني څنګه دا رښتيا ورته راورسيدلو نو ده ئي فورا تكذيب اوكړو، څه غور وفكر ئي اونكړو ﴿أَلَيْسَ فِى جَهَنَّمَ﴾ استفهام تقريري دي يعني ضرور به جهنم تهكانه د كافرانو ده.

﴿وَالَّذِى جَآءَ﴾ دا بشارت اخروي دي مؤمنانو ته، راجح قول دا دي چي "جاء" او "صدق به"

د دواړو مصداق يو كس دې او د يو كس دوؤصفتونو بيان دې.يودا چې كله خبره كوي نو رښتيا وصحيح خبره كوي،دې كښې ئې صفت علم او عدل ته اشاره ده.دويم دا چې كله دليل سره يو خبره رېښتونې ثابته شي نو بيا دهغې تصديق هم كوي.تكبر ترينه نه كوي ديكښې صفت تو اضع ته اشاره ده،دې قول مطابق آيت عام دې.نبي ﷺ ته هم شامل دې صحابه كرامو ﷺ ته هم او هغه چاته هم چې هغه كښې دا دواړه صفات وي.

ځنې مفسرينو ددې دواړو مصداق جدا جدا كسان ګرځولي دي او په بيان د مصداق كښې هغوئ نه متعدد اقوال نقل دي:

(١)د"الّذي جآء"نه مرادحضورﷺ دې.او"بالصّدق"نه مراديا قرآن دې.يا كلمه دتوحيد يعني "لااله الاالله" اودغه شان نورتعليمات،﴿وَصَدَّقَ بِهِۦٓ﴾ نه مراد ابوبكر﷛ دې،يعني حضورﷺ قرآن پېش كړو او ابوبكر﷛ ئې تصديق وكړو.

(٢)﴿وَٱلَّذِى جَآءَ﴾نه مرادجبرائيلؑ دې،د﴿بِٱلصِّدْقِ﴾نه مرادقرآن دې،﴿وَصَدَّقَ بِهِۦٓ﴾ نه مرادحضورﷺ دې،يعني جبرائيلؑ قرآن راوړواوحضورﷺ ئې تصديق اوكړو،اوپه﴿أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُتَّقُونَ﴾ كښې ضميرونه اګرچه دجمعې دي خوتثنيه ته هم دجمعې ضميرراجع كيږي.

(٣)د﴿وَٱلَّذِى جَآءَ﴾نه مرادانبياء عليهم السّلام دي،د﴿بِٱلصِّدْقِ﴾نه مرادتوحيداودغه شان نورتعليمات دي،و﴿وَصَدَّقَ بِهِۦٓ﴾نه مراد،أتباع اوأمتيان دي،

﴿لَهُم مَّا يَشَآءُونَ عِندَ رَبِّهِمْ﴾دا ئې د انعاماتو تذكره ده، او دا **اول انعام** دې چې په جنت كښې به دوئ دخواهشاتومطابق پدوئ باندې دنعمتونووسعت وي﴿ذَٰلِكَ﴾داوسعت دنعمتونودادنيكوعملونوكونكوبدله ده،

﴿لِيُكَفِّرَ ٱللَّهُ عَنْهُمْ﴾دا**بل انعام** دې،اولام دپاره دعاقبت دې،يعنى تقوى اختيارولو نتيجه به داوى چې الله ﷻ به ورته ګناهونه اوقصورات معاف كړي،﴿أَسْوَأَ ٱلَّذِى عَمِلُوا۟﴾ددې **دوه تفسيرونه** شوي دي(١)"اسوأ"اسم تفضيل دې يعني ډيربدګناهونه چې كبيره ګناهونه دي هغه به ورته الله ﷻ معاف كړي،نوداكنايه ده دمعاف كيدلودټولوګناهونونه كه صيغره وي

اوكه كبيره وي خكه چې "اسوَء" گناه كبيره معاف شي نو (سوء) گناه صغيره خو بطريق اولى معاف كيږي، (۲) بعض وائي چې ﴿أَسْوَأَ﴾ اسم تفضيل ندې بلكه دَ "السيئ" پمعنى سره دې گناه ته وائي كبيره وي اوكه صغيره وي.

﴿وَيَجْزِيَهُمْ أَجْرَهُمْ بِأَحْسَنِ الَّذِي﴾ دا دريم انعام دې چې دَدوئ په نيكو عملونو باندې به ورته اجراوثواب ملاويږي، ﴿بِأَحْسَن﴾ دَ احسن هم **دوه تفسيره** شوى دى: يو داچې دا پمعنى دَ "الحسن" سره دې يعنى دَنيكو اعمالو بدله به ورله الله ﷻ وركړى، دويم داچې اسم تفضيل په خپلې معنى كښ استعمال دې، دې اعتبارسره دَآيت **خو مطلبه** بيان كړې شوي دي: (۱) يو داچې دَعمل نه بهترينه بدله، به وركوى، هغه داده چې يوې نيكئ په عوض كښ به لس نيكئ وركوى (۲) دويم دا چې هرنيک عمل باندې به ورله بدله دَ "احسن" عمل وركولې كيږى خواه كه في نفسه احسن وى اوكه نه (۳) دريم دا چې "باحسن" كښ باء سببيه ده اوجار مجرور صفت جوړيږى دَ "اجرهم" دپاره يعنى الله ﷻ به ورله دَ احسن اعمالوپه وجه بدله وركوى. [التحرير و التنوير]

أَلَيْسَ اللَّهُ بِكَافٍ عَبْدَهُ وَيُخَوِّفُونَكَ بِالَّذِينَ مِنْ دُونِهِ
آيا نه دې الله تعالى كافي دَخپل بنده دپاره، اودوئ تايره وي دَهغه معبودانوباطله ؤنه چې ماسوا دَالله نه دي،
وَمَنْ يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِنْ هَادٍ ﴿٣٦﴾
اوهغه څوک چې گمراه كړي ده لره الله ﷻ، نونه وي هغه ته هيڅ څوک هدايت كونكې،
وَمَنْ يَهْدِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِنْ مُضِلٍّ أَلَيْسَ اللَّهُ بِعَزِيزٍ
اوهغه څوک چې هدايت وركړي هغه ته الله ﷻ نونه وي هغه لره هيڅ څوک گمراه كونكې، آيا نه دې الله غالب،
ذِي انْتِقَامٍ ﴿٣٧﴾ وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ
خاوند دَبدلې اخستلو. اوكه چرې تپوس وكړې ته دَدوئ نه چه چاپيدا كړيدي اسمانونه، او زمكه،

لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ قُلْ اَفَرَءَيْتُمْ مَّا

نوخامخابه دوئ وائي چي الله ﷻ پيداکړيدي، ته اوايه چي خبراکړئ ما ته دهغه معبودانونه

تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ اَرَادَنِيَ اللّٰهُ بِضُرٍّ هَلْ هُنَّ

چي تاسوورنه سوالونه کوئ ماسوا دالله ﷻ نه، که اراده وکړي ماته الله ﷻ دتکليف رسولو آيادي دوئ

كٰشِفٰتُ ضُرِّهٖٓ اَوْ اَرَادَنِيْ بِرَحْمَةٍ هَلْ هُنَّ مُمْسِكٰتُ رَحْمَتِهٖ

لري کونکي دتکليف دهغه ياکه اراده وکړي ماته درحمت رسولو، آيادي دوئ بنده ونکي د رحمت دهغه،

قُلْ حَسْبِيَ اللّٰهُ عَلَيْهِ يَتَوَكَّلُ الْمُتَوَكِّلُوْنَ ﴿٣٨﴾

ته اوايه چي پوره دي مالره الله تعالى، خاص په هغه توکل کوي توکل کونکي

﴿اَلَيْسَ اللّٰهُ بِكَافٍ عَبْدَهٗ﴾ پديکښ تسلي ده حضور ﷺ ته اوزجردي مشرکانوته، ددې آيت په شانِ نزول کښ مفسرينوليکلي دي چي مشرکانوحضور ﷺ ته اووې چي دې زمونږبتانوته بد ،رد مه وايه ورنه دوئ به تاته ازار اوکړي، ليوني يابه ناجوړه شې، نو الله ﷻ ددې په جواب کښ داآيت نازل کړو، چي څه ستا دپاره کافي يم ،يوطرف ته څه يم په هر څاغالب په هر څابرتر، چي څاله پناه ورکړم څوک ورته څه وئيلې نشي اوڅوک چي نيول غواړم نو څوک ئې بچ کولې نشي زبردست انتقام والا يم، اوبل طرف ته دابې بسه اوعاجزه خدايان چي خپل ځايه هم نشي خوځيدې نو دوئ دومره نه پوهيږي چي څوک دداسې ذات بنده وي هغه ته به دوئ څه اوائي؟

﴿عَبْدَهٗ﴾ نه مراد حضور ﷺ دي او مضمون دآيت عام دې چي الله تعالى دخپل هربنده دحفاظت دپاره کافي دې ﴿وَمَن يُضْلِلِ اللّٰهُ﴾ يعنى داډيره واضحه خبره ده چي هغه الله نه يريدل پکار دى چي هغه په هر څا قادر دې او هغه ته څوک هم څه نشي وئيلې خوداخبره ددوئ په فهم کښ نه راځي، ځکه چي ضداوعناد په وجه الله ﷻ گمراه کړي دي.

﴿اَلَيْسَ اللّٰهُ بِعَزِيْزٍ ذِى انْتِقَامٍ﴾ استفهام انكاري دي اوپديکښ تخويف دې مشرکانو ته،

اوتسلي ده حضورﷺ ته،چه الله ﷻ په خپلو دښمنانو غالب دې او انتقام اخستلو باندې قادر دې نوكه دا خلق دكفر اوعناد نه منع نه شول نو الله ﷻ به ورته عبرتناكه سزا وركړي.

﴿وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ﴾داخلورم دليل عقلي دې على سبيل الاعتراف من الخصم. يعنى كه ته ترينه سوال اوكړې چې آسمانونو اوزمكى خالق څوک دې؟نودوئ به په خپله اعتراف اوكړي چې الله ﷻ دې.

﴿قُلْ أَفَرَءَيْتُم مَّا تَدْعُونَ﴾دا بل سوال دې چې اول سوال په جواب باندې متفرع دې يعنى كله چې تاسو دا اقرار اوكړو چې د آسمانونو اوزمكې خالق صرف الله ﷻ دې نو اوس دا راته اوايئ چې متصرف پكښې څوک دې؟مثلا كه الله ﷻ ماته تكليف راكول غواړي اوياڅه راحت رارسول غواړي نو دامعبودان دالله ﷻ ارادې خلاف كولې شى اوكه نه؟ كه هاؤ كښې جواب وركوى نو خبرو كښې ئى تضاد راځى،ځكه چې اوس خوئى خپله اقرار اوكړو چې خالق صرف الله ﷻ دې اودې سره لازمه ده چې متصرف ئى هم الله دې،اوكه نا كښې جواب وركوى نو عقيده اومذهب ئى باطليږى ﴿فبهت الذين كفر﴾كله هيڅ جواب ورسره نه وؤ،نو الله ﷻ خپل حبيب ﷺ ته حكم كوى چې ته ورته حسبي الله... 'فاء' په 'افرأيتم' كښې دپاره دتفريع ده اويا 'فاء' فصيحيه ده چې شرط مقدر باندې دلالت كوى،اي اذا اقررتم بهذا فاخبروني...

﴿هَلْ هُنَّ كَٰشِفَٰتُ﴾معبودان باطلو ته ضميردمؤنث راجع شويدې،اودغه شان' كاشفات، ممسكات' دمونث صيغې اختياركړې شويدې ددې وجه نه(۱)چې پديكښې تنبيه ده په ضعف اوكمزورئ دمعبودانو باندې،(۲)اوبل ددې وجهې چې ځنې معبودانو ته دوئ اناث(ښځې)ويل لكه لات،عزى،مناة(خطيب،كبير)

﴿قُلْ حَسْبِىَ ٱللَّهُ﴾ثمره ده دماقبل دلائلو يعنى دوئ خولاجوابه شول،نو اې حبيبه ته ورته اووايه چې متصرف صرف الله ﷻ دې او ټولومصائبواوتكليفونولرې كولوكښې اوپه خير رسولوكښې الله تعالى كافي دې.اومؤمنان هم په هغه باندې توكل او اعتماد كوى ځكه چه دالله ﷻ نه ماسوى دچاپه اختيار كښې څه شته دې هم نه.

قُلْ يٰقَوْمِ اعْمَلُوْا عَلٰى مَكَانَتِكُمْ اِنِّيْ عَامِلٌ

ته اوايه، اې قومه زما عمل کوئ تاسو په خپله طريقه، بيشکه زه عمل کونکي يم پخپله طريقه

فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿۳۹﴾ مَنْ يَّاْتِيْهِ عَذَابٌ يُّخْزِيْهِ وَيَحِلُّ عَلَيْهِ

نوزرده چې تاسو به اوپيژنئ، هغه څوك چې راځي هغه ته عذاب چې رسوا به کړي هغه لره او نازل به شي په هغه

عَذَابٌ مُّقِيْمٌ ﴿۴۰﴾ اِنَّآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ لِلنَّاسِ بِالْحَقِّ فَمَنِ

عذاب دائم(هميشه) بيشکه مونږ نازل کړيدي په تا باندې کتاب دپاره دخلقو په حقه سره، پس څوك

اهْتَدٰى فَلِنَفْسِهٖ وَمَنْ ضَلَّ فَاِنَّمَا يَضِلُّ

چې هدايت قبول کړي نو فائده ئې د خپل ځان ده، او څوك چې ګمراه شي نو بيشکه وبال د ګمراهي ئې

عَلَيْهَا وَمَآ اَنْتَ عَلَيْهِمْ بِوَكِيْلٍ ﴿۴۱﴾

په خپل ځان دې او نه ئې ته په دوئ باندې وکيل(ذمه وار).

﴿قُلْ يٰقَوْمِ اعْمَلُوْا عَلٰى مَكَانَتِكُمْ﴾ دا تخويف اُخروي دې يعنی دومره دلائلو باوجود چې کله تاسو څاخبره نه منئ نو لګيا اوسئ چې څه کول غواړئ خو عنقريب يورسوا کن عذاب درباندې را راوان دې، امر د تهديد او وَزورنې دپاره دې، او د﴿مَكَانَتِكُمْ﴾ نه مراد حالتکم او عادتکم دې، يعني تاسو پخپل عادت چې څاسره عداوة کول او ماته ضرر رسول دې په هغې باندې عمل کوئ، او ﴿اِنِّيْ عَامِلٌ﴾ علىٰ مکانتي پکښ مقدر دې يعني څه به پخپل حالت او عادت چې په دين او توحيد باندې کلك پاتې کيدل دي، عمل کوم ﴿مَنْ يَّاْتِيْهِ عَذَابٌ يُّخْزِيْهِ﴾ يعنی دير زر به تاسو ته پته اولګی چه په حقه څوک دي او باطل څوک دې من مفعول به دې د تعلمون دپاره. پديکښې اشاره ده عذاب دنيوي ته چې په ورځ دبدر ورته ملاؤ شو، او دوئ رسوا اوذليله شول، ﴿وَيَحِلُّ عَلَيْهِ عَذَابٌ مُّقِيْمٌ﴾ مقيم نه مراد دائم(هميشه) دې، پديکښې دآخرت عذاب

طرف ته اشاره ده، څکه عذابِ دائم عذاب دآخرت دي (اعاذنالله).

﴿إِنَّآ أَنزَلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ﴾ دا خلورم دليل وحي دي په توحيد باندې، (للناس) اي لاجلهم قرآن دَخلقو دَمعاش اومعاد مصلحتونو لپاره مناط دي ﴿بِٱلْحَقِّ﴾ اى انزلنا الكتاب متلبساً بالحق، دَ حق مراد توحيد دې، يعني دا كتاب (قرآن) شامل دې په توحيد باندې، نو مسئله دَ توحيد ستا دَ طرفه خودساخته نه ده. ﴿فَمَنِ ٱهْتَدَىٰ فَلِنَفْسِهِۦ﴾ دا تسلي ده حضورﷺ ته چه ستا كار صرف ددې قرآن بيانول دى دَدوئ دَهدايت ته مكلف نه ئى كه هدايت ئى قبول كړو نو خپله فائده ئى ده اوكه نه ئى كړو قبول نو خپل نقصان ئى دې ﴿وكيل﴾ پمعنى دَ مكلف سره دې يعنى ته ئى ذمه وار نه ئى.

اَللّٰهُ	يَتَوَفَّى	الْاَنْفُسَ	حِيْنَ	مَوْتِهَا	وَالَّتِيْ	لَمْ	تَمُتْ
الله تعالى	قبض كوي	رُوحونه	په وخت دَ	مرگ كښې، او	هغه	رُوحونه چې	نه مړكيږي
فِيْ	مَنَامِهَا		فَيُمْسِكُ	الَّتِيْ	قَضٰى	عَلَيْهَا	
قبض كوي هغه په وخت	دخوب كښې،		نوو ساتي خپل خان سره	هغه چې	فيصله ئي كړي	وي په هغه	
الْمَوْتَ	وَيُرْسِلُ	الْاُخْرٰى	اِلٰى	اَجَلٍ	مُّسَمًّى		
دَمرگ	اوراواليږي	هغه بل نفس	تر	يوې نيټې	مقررې پورې،		

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿٤٢﴾

بيشكه په دېكښې دَبعث بعدالموت دلائل دي دَهغې قوم دپاره چې فكر كوي.

﴿ٱللَّهُ يَتَوَفَّى ٱلْأَنفُسَ حِينَ مَوْتِهَا﴾ دا پنځم دليل عقلي دي په توحيد باندې، ددې حاصل دادي چې دَانسانانو رُوحونه په هرحال كښې دَالله تعالى په تصرّف اواختيار كښې دي، كله ئي چې اوغواړي نوپه قبض كولو باندې ئي قادردې. اوددې قدرت مظاهره تاسو روزانه گورئ، چې دَخوب په وخت كښې ستاسو روحونه په يوحيثيت سره قبض كړي (چې تفصيل ئي ورستو

راروان دي،اوبيائي درته په وخت دَبيدارئ کښ واپس کړي،اوپه وخت دمرګ کښ ئي هم قبض کړي، نوبيادرته په دنياکښ نه واپس کوي،نوپدې تصرفاتو کښ اختيارصرف الله تعالى ته دي،بل چاته پکښ دخل نشته دي،نوپدې کښ غوروفکرکونکوډپاره دَالله تعالى دَواحدانيت اودَقدرت کامله لوئ لوئ نشانات دي.

په آيت کريمه کښ"يتوفّى"په عموم مجازباندې محمول دې،يعني مطلقِ قبض کول،که صرف ظاهراًوي لکه دَخوب په حالت کښ چې صرف ظاهراًروح قبض وي اوباطناًنه وي قبض بلکه دَبدن سره ئي تعلق وي،اوکه ظاهراًباطنادواړه وي لکه دَ مرګ په حالت کښ.نودلته دالفظ په موت اوحيات دواړوکښ مستعمل شويدې. لکه عيسى ﷺ ته الله ﷻ فرمائى انى متوفيک يعنى څه تا اوچتوم سره دَبدن اوروح ستا.

• ددې آيت کريمه په تفسيرکښ يو څواهم بحثونه دي:

(۱)اول بحث:آيانفس يودې اوکه دوه دي؟ بعضِ حضرات وائي چې نفسونه دوه دي(۱)نفس حيواني،چې پدې سره ساه اغستلې کيږي(۲)نفس تميز:چې پدې سره علم حاصليږي،نوپه﴿اَللّٰهُ يَتَوَفَّى الْاَنْفُسَ حِيْنَ مَوْتِهَا﴾کښ دَنفس حيواني ذکردې،يعني په وخت دَمرګ کښ الله تعالى نفسِ حيواني قبض کوي،﴿وَالَّتِيْ لَمْ تَمُتْ فِيْ مَنَامِهَا﴾کښې دَ نفس تميز ذکر دې. چې الله تعالى ئي په وخت دَخوب کښ قبض کوي څکه"النوم اخ الموت"او جارومجرورمتعلق دي دَمحذوف سره"اى يتوفاها في وقت موتها"يعني الله ﷻ هغه روحونه په خوب کښ قبض کوى چه لا تر اوسه ئى دمرګ نيټه نه ده راغلې﴿فَيُمْسِكُ الَّتِيْ قَضٰى عَلَيْهَا الْمَوْتَ﴾نفسِ حيواني ورنه مراددې چې قبض ئي کړي نوبيائې وساتي اودنياته ئي نه واپس کوي﴿وَيُرْسِلُ الْاُخْرٰى﴾ نفسِ تميزورنه مراددې،چې په وخت دَنوم کښ قبض وي اوپه وخت دَبيدارئ کښ دوباره راواپس شي.

بعض حضرات وائي چې يونفس دې چې نفسِ حيواني دې،دَنوم په وخت کښ هم دې قبض کيږي ليکن تعلق ئي دَبدن سره وي چې په وخت دَبيدارئ کښ فوراًپه شان دَ نظر را واپس کيږي،اوپه وخت دَمرګ کښ هم دې قبض کيږي هم ظاهرا هم باطنا چه بدن بلاحيات پاتى شي.

(۲)**دویم بحث**:آیانفس (ساه)اوروح دواړه یوشیزدې اوکه جداجداشیزونه دي؟ پديکښې دوه قوله دي:

(۱)دَمحققینواودَاکثرعلماء قول دادې چې نفس اوروح یوشیزدې،دَانسان په بدن کښې یوروح دې،لیکن صفات ئې چونکه متعدددې نوځکه ئې نومونه هم متعدددي.

(۲) بعضِ وائي چې روح اونفس دواړه جداجداشیزونه دي،اودَهریوجداجداصفات دي،دَرُوح صفت تمیز اوپوهیدل دي،اودَنفس صفت ساه اغستل خبرې کول،حرکت کول وغیره دي، استدلال نیولې دې دوئ په قول دَابن عباس ﷺ چې انّ فی ابن ادم نفساًوروحاً بینهمامثل شعاع الشمس(روح المعانی)

لیکن قول اول راجح دې په یوڅووجوهوسره:(۱)داآیت کریمه دلالت پدې کوي چې نفس اوروح شئ واحددې(۲)په متعددواحادیثوکښې دَنفس اودَروح استعمال دَیوبل په ځائ راغلې دې لکه په حدیث دَامّ سلمه کښې،چې دافرمائي چې کله ابوسلمه ﷺ وفات شو، حضور ﷺ تشریف راوړو،اودَابوسلمه ﷺ سترګې کهلاوې پاتې شوې وې،نوحضور ﷺ ورله سترګې پټې کړې اووئې فرمایل: انّ الّروح اذاقُبضَ تبعه البصر کله چې روح قبض شي نوسترګې ورته ګوري،نوپه دې حدیث پاك کښې دَ روح لفظ راغلې دې،اودغه شان مضمون چې په بل حدیث کښې راغلې دې،نوهلته دَ نفس لفظ راغلې دې:فذلكَ حین یتبعُ بصره نفسَه(مسلم فی الجنائز)دغه رنګه په حدیث کښې دي چې په وخت دَمرګ کښې ملائك حاضریږي نوکچرې دامړې رجلِ صالح وي نوفرشتې ورته وائي اُخرجي ایّتها النّفس المطمئنة اودغه شان مضمون په بل حدیث کښې راغلې دې نوهلته دَنفس په ځائ روح راغلې دې:اذا اخرجت روح المؤمن تلقها ملکان یصعدانِ بها(قرطبی) نوددینه معلومیږي چې نفس اوروح یوشیزدې.

(۳)**دریم بحث**: آیامړې ته پس دمرګ نه په قبرکښې اعاده(واپس کیدل)دَروح کیږي اوکه نه؟ جمهورعلماء اواهل سنت ددې قائل دي چې اعاده دَروح بدن دَانسان ته په قبرکښې کیږي امام ابوحنیفه رحمه الله هم تصریح کړیده په فقه اکبرکښې چې:واعادة الرّوح الی العبد في قبره حق،اوفقه اکبر دامام صاحب خپل تصنیف دې،بعض حضراتونه دامغالطه شوې ده چې فقه اکبردَامام صاحب خپل تصنیف نه دې،حالانکه تاریخ اومسلمانان پدې شاهد دي چې داامام صاحب خپل تصنیف دې.ددې اعادې ثبوت (۱)حدیث دَحضرت براء بن عازب دې چې هغه فرمائي چې

مونږ دحضور ﷺ سره دَيو انصاري صحابي په جنازي کښې دشرکت دپاره راووتلو .قبرستان ته راورسيدلو ليکن لا تراوسه قبرنه وو تيارشوي،حضورﷺهلته تشريف فرماشو مونږهم ورسره کيناستو،حضورﷺپه يوطويل حديث کښې دمؤمن اودکافرد مړيدو دکيفيت تذکره اوکړه.په هغې کښې دمومن په باره کښې دا ارشادهم مذکوردې :حتّیٰ يُنتهیٰ بها الی السّماء السّابعة فيقول الله تعالی:اکتبوا کتاب عبدي في عليّين و اعيدوهُ الی الارض فانّي منهاخلقتُهم و فيها اُعيدُهم ومنها اُخرجهم تارةً اخریٰ فتعادُروحُه فی جسدهِ فياتيه ملکانِ فيُجلسانِه،فيقولان له مَن ربّکَ... (ابن کثير،احمد).

(۲) مسند احمد يو روايت کښې دي :فترسل من السماء، ثم تصير الی القبر ، فيجلس الرجل الصالح، يعني "روح د آسمان نه واپس راوليږلې شي ، بيا قبر ته لاړ شي او بيا بنده صالح کينولې شي" . د دې روايت نه هم معلوميږي چې د روح اعاده کيږي ، حافظ ابن تيميه رحمه الله دې روايت متعلق په حواله حافظ ابو نعيم اصفهاني ليکي: هذا الحديث متفق علی عدالة ناقليه(شرح حديث النزول ، بحواله تسکين الصدور)

(۳)امام قرطبي رحمه الله په (التذکره کښې) حوالي دَحافظ ابونعيم سره دحضرت جابر رضي الله عنه روايت نقل کړيدي چې دهغې په آخرکښې دادي"وتردّ الروح الی جسدهِ"نوددې رواياتونه معلومه شوه چې په قبر کښې اعاده دَروح کيږي اودادَاکثراهل سنت والجماعت عقيده ده.

بعضِ حضرات فرمائي چې داآيت مذکوره"فيمسکُ الّتي قضی عليهاالموتَ"دليل دې په دې چه اعاده دَروح نه کيږي،کچرې اعاده دروح اومنلې شي نودَددې آيت سره به ئې منافات اومخالفت راشي،اودغه شان"ربّنا امتّنا اثنتين و احييتنا اثنتين(مؤمن:۱۱)هم په عدم اعادې باندې دلالت کوي،ځکه کچرې اعاده دَروح اوشي نوبياژوندې کيدل به دوځله نشي بلکه درې به شي.

جواب: دادې چې دايوه عظيمه مغالطه ده،ځکه چې اعاده دَروح په دوه قسمه ده،يوه هغه اعاده ده لکه نائم ته چې کيږي په وخت دَبيدارئ کښې چې په هغې سره حياتِ دنيوي راځي لکه"ويُرسِلُ الاخریٰ" کښې چې ذکرشو،دويمه هغه اعاده ده چې عارضي اوخفيةً وي په طريقه دَحلول دبدن سره نه وي،بلکه يوضعيف حيات وي چې په زوال سره ئې تعبيرپه مرګ سره نه کيږي،نوپه ايت کريمه کښې چې دکوم عدم اعادې ذکردې ياپه "احييتَنا اثنتينِ" کښې چې کوم ذکر دې،نوددينه قسم اول مرادې اوداخومسلّمه ده چې دغه شان اعاده مړي ته نه کيږي بلکه

دادويم قسم اعاده ده،نوددې وجه نه دَاعادې دَروح ددې آيت سره هيڅ منافات اومخالفت نشته دې

اَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ شُفَعَآءَ قُلْ اَوَلَوْ كَانُوْا لَا يَمْلِكُوْنَ

آيادوئ نيولي دي ماسوىٰ دَاللہ تعالىٰ نه نور سفارشيان، ته اووايه آيا اگر كه دوئ نه وي مالكان

شَيْـًٔا وَّلَا يَعْقِلُوْنَ ۝٤٣ قُلْ لِّلّٰهِ الشَّفَاعَةُ جَمِيْعًا لَهٗ مُلْكُ

دَهيڅ خيزاو نه په څه پوهيږي . ته اُوايه الله ﷻ لره دي اختيار دَشفاعت ټول ، هغه لره ده بادشاهي

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ثُمَّ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ۝٤٤ وَاِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَحْدَهُ

دَ آسمانونو او دَ زمكې ، بيابه هغه طرف ته تاسو واپس بوتلي شئ،اوكله چې يادكړې شي الله تعالىٰ تن تنها

اشْمَاَزَّتْ قُلُوْبُ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ وَاِذَا ذُكِرَ

نونفرت وكړي اوتريږي زړونه دَ هغه كسانو چې ايمان نه راوړي په آخرت باندې ، اوكله چې يادكړې شي

الَّذِيْنَ مِنْ دُوْنِهٖٓ اِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُوْنَ ۝٤٥ قُلِ اللّٰهُمَّ فَاطِرَ

هغه چې ماسوىٰ دَالله ﷻ نه دي نودغه وخت دوئ ډيرخوشحاله وي. ته اُوايه ياالله! چې پيداكوونكې ئې

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ عٰلِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ اَنْتَ تَحْكُمُ

دَاسمانونواودَزمكې عالم ئې په غيب اوپه ښكاره، ته فيصله كوې

بَيْنَ عِبَادِكَ فِيْ مَا كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ۝٤٦

په مينځ دَبندگانو خپلو كښې په هغې كښې چې وُودوئ په هغې كښې اختلاف به ئې كولو

﴿اَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ شُفَعَآءَ﴾ ام منقطعه ده دَپاره دَاضراب دې ، او اضراب يا ابطالى دې چې ابطال كوى دَمضمون دَ"يتفكرون" يعنى دوئ فكر چرته كوى!! دوئ خو من دون الله شفعاء گنړي، او يا اضراب انتقالى دې ،ماقبل كښې د مشركينو شركيه عقائدو بطلان وو

اوس دَهغوئ اعذاروبطلان دې اوزجر دې ورته، چې دوئ وائی مونږ خپل معبودان الهه نه گنړو، بلکه صرف شفعاء ئې گنړو. الله ﷻ فرمائی چې شفیع گرځیدلو دَپاره خوهم څه حیثیت اوصلاحیت پکاردې، اودابتان خو نه دڅه شی مالکان دی چې په هغې سره ئې سره رعب اودبدبه وی اونه پکښې څه عقل شته، چې دَهغې وجهې نه ورته څه مقام مرتبه میلاؤشی.

﴿قُلْ أَوَلَوْ كَانُوا﴾ همزه استفهام مدخول باره کښې دَنحویانو دوه رائې دي (۱)یوداچې دې مدخول لوكانوا دې اصل کښې داسې وؤ "و أ لو كانوا" چونکه همزه استفهام دَصدارت کلام تقاضه کوی نودې وجهې نه واؤ مقدم کړې شو(۲)دویمه، ائې داده چې دې مدخول محذوف دې: اي ايشفعون ولو كانوا ، اول قول زیات غوره دې.

﴿قُل لِّلَّهِ الشَّفَاعَةُ جَمِيعًا﴾دا دَدوئ یو بل عذر جواب دې چې دوئ وائی زمونږ شفعاء بُتان نه دی چې تاسو وائې چې لایملکون شیئاولایعقلون، بلکه هغه مقرب اشخاص هم دي چې دهغوئ په شکلونو دوئ بتان جوړکړي وؤ، نوجواب ترینه اوشو چې دشفاعت واک اختیار صرف الله ﷻ سره دې، دهغه مرضئ نه بغیر څوک نه سفارش کولې شی اونه داچا سفارش قبلیدې شې او هغه مرضئ په دوه شرطه سره مشروط ده(۱)شفیع اهل وی دَشفاعت. چې هغه انبیاء او صلحاء د امت دي (۲)مشفوع له اهل وی دشفاعت، اوهغه مؤمنان ... نوکه دوئ خپل شفعاء شیطانان اوجنات گنړی نودواړه شرطونه نشته، اوکه انبیا او صلحاء امت گنړی نودویم شرط نشته.

﴿لَّهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ﴾تعلیل دې دَماقبل چې اختیارمنددَشفاعت صرف الله تعالی څکه دې چې دَټول کائناتوحکومت اوبادشاهي صرف دَالله تعالی دپاره ده، پخپلې مرضئ سره پکښې تصرف کوي نودَشفاعت اختیارهم صرف الله تعالی سره دې، ﴿ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ﴾عطف دې په لله الشفاعة جمیعایعنی صرف الله ﷻ ته به ستاسورجوع کیږی، بیا به درسره هلته دا معبودان اوشفعا نه وی. (روح).

﴿وَإِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَحْدَهُ﴾داشکوه ده دَحال دَمشرکانونه، چې دَدوئ عجیبه حال دې چې کله دوئ ته اوویلې شي چې صرف دَیوالله ﷻ عبادت کوئ اوصرف دَیوالله ﷻ نه هرڅه کیږي مخلوق نه هیڅ نه کیږی، نودَدوئ زړونه خفه اومتنفرشي، اوچې کله دَغیرالله دَعبادت اجازت

ورکړيشي اودزيارتونوتذکرې وکړيشي نوبيادوئ خوشحاله وي. ﴿ذُكِرَ ٱللَّهُ وَحْدَهُ﴾يعنى يواځې الله ﷻ ذکر شى او دَدوئ آلهه ورسره ذکر نشى يادا وئيلې شى چه الله يو دې اوهغه سره څوک شريک نشته.(کبير)﴿ٱشْمَأَزَّتْ﴾اى انقبضت ونفرتْ،مشتق دې دَ اشمئزاز نه چې زړه دَغيظ اودَغيم نه داسې ډك شي چې دَهغې دَوجه نه په مخ کښې ګونړونه پيداشي،ان يمتلئ غيظًا وغمًّا ينقبض عنه اديم الوجه کما يُشاهدفى وجه العابس المحزون(روح المعاني).

﴿وَإِذَا ذُكِرَ ٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦٓ﴾يعني چې دَالله تعالىٰ نه ماسوادَدوئ دَمعبودانوباطلې تذکرې اوکړيشي يادَالله تعالى دقدرت سره سره ددوئ دَمعبودانوتذکره هم اوکړيشي، نو بيا دوئ ډيرخوشحاله شي.﴿يَسْتَبْشِرُونَ﴾ استبشار،نه مشتق دې،مقابل دې دَ اشمئزاز چې دَ خوشحالئ اثرات ئې په مخ کښې ښکاره شي.

﴿قُلِ ٱللَّهُمَّ فَاطِرَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ﴾دادويمه تفصيلي ثمره ده دَماقبل دلائلو،يعني چې ددومره دلائلوباوجودوئ نه مني نو اى پيغمبره بياته دادُعاکوه،اې دَآسمانونو اوزمکې پيداکونکې ذاته اې په پټ اوښکاره هر څه باندې باخبر ذاته،ته مونږ په هدايت قائم اوساتى اوزمونږ او دَمشرکينو په مينځ کښې عملى فيصله اوکړى.اللّهم منادىٰ موصوف ده اوفاطرالسمٰوٰت،ئې صفت دې،انت تحکم مقصود بالندا ده لفظاً خبر دې خو معناً انشاء دې،اې احکم بين عبادک او يا مقصودبالنداء په اخرکښې مقدره ده چې اقضِ حاجتي يااهدني لمااختُلف فيه من الحقّ،دې،اوداپه حديث دَمسلم کښې دَحضرت عبدالرحمٰن بن عوف رضي الله عنه نه مروي دي چې ما دَ حضرت عائشه رضي الله عنها تپوس وکړوچې حضور ﷺ به دَشپې مونځ(يعني دَتهجدمونځ)دَڅه نه شروع کولو، نو هغې اوفرمايل چې کله به حضور ﷺ دَتهجدمونځ دپاره پاسيدونودادُعابه ئې ويله، اللّهمّ ربّ جبرئيل و ميکائيلَ و اسرافيل ، فاطر السّموات و الارضِ عالم الغيب وَ الشّهادةِ انتَ تحکم بين عبادكَ فيما کانوا فيه يختلفونَ ، اهدني لما اختُلف فيه من الحقّ باذنكَ انّكَ تهدي من تشاءُ الى صراط مستقيم (قرطبي) او سعيد بن جبير رضي الله عنه نه فرمائي چې څوك داايات تلاوت کړي اودهغې نه بعد دُعا اوکړي اقضِ حاجتي اووائي نوالله تعالى به ئې سوال قبوله وي(قرطبي).

وَلَوۡ أَنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ مَا فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا وَمِثۡلَهُۥ

او کچرې شي دَهغه خلقو د پاره چې ظلم (شرک) ئې کړيدې هغه څیزونه چې په زمکه کښې دي ټول او په مثل دَهغې

مَعَهُۥ لَٱفۡتَدَوۡا۟ بِهِۦ مِن سُوٓءِ ٱلۡعَذَابِ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۚ وَبَدَا

نور دور سره شي خامخا به فديه ورکړي په هغې سره دَناکاره عذاب نه په ورځ دَقيامت، او راښکاره به شي

لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ مَا لَمۡ يَكُونُوا۟ يَحۡتَسِبُونَ ۝٤٧ وَبَدَا لَهُمۡ سَيِّـَٔاتُ

دوئ ته دَطرفه دَالله تعالی نه هغه عذاب چې دوئ به ئې ګمان نه کولو. او راښکاره بهٔ شي دوئ ته سزاګانې

مَا كَسَبُوا۟ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ۝٤٨

دَهغه بدعملونو چې دوئ کړي وۀ، او نازل به شي په دوئ هغه عذاب چې دوئ به په هغې پورې توقې کولې.

فَإِذَا مَسَّ ٱلۡإِنسَٰنَ ضُرّٞ دَعَانَا ثُمَّ إِذَا خَوَّلۡنَٰهُ

پس هرکله چې ورسيږي انسان ته څه تکليف نو په دغه وخت کښې سوال کوي زمونږ نه، بيا چه کله ورکړو مونږ ده ته

نِعۡمَةٗ مِّنَّا قَالَ إِنَّمَآ أُوتِيتُهُۥ عَلَىٰ عِلۡمِۭۚ بَلۡ هِيَ فِتۡنَةٞ

نعمت دَخپل طرف نه، نو وائي چې بيشکه راکړې شويدې ما ته دِا نعمت زما په علم باندې، بلکه دا امتحان دي

وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ۝٤٩ قَدۡ قَالَهَا ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ

خو ليکن اکثر دَدوئ نه نه پوهيږي. په تحقيق سره کړې وې دغه شان خبرې هغه کسانو چې مخکښې وۀ دَدوئ نه،

فَمَآ أَغۡنَىٰ عَنۡهُم مَّا كَانُوا۟ يَكۡسِبُونَ ۝٥٠ فَأَصَابَهُمۡ سَيِّـَٔاتُ مَا

نو فائده ورنکړه دوئ ته هغې عملونو چې دوئ کول، نو اورسيدې هغوئ ته سزاګانې دَ هغه

كَسَبُوْا ط وَالَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْ هٰٓؤُلَآءِ

عملونوچې دوئ کړي وؤ، اوهغه کسان چې ظلم(شرک)ئې کړيدې دَدوئ (اهل مکؤ) نه

سَيُصِيْبُهُمْ سَيِّاٰتُ مَا كَسَبُوْا ۙ وَ مَا هُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ۝٥١ ۱۰

زرده چې اوبه رسيږي دوئ ته هم سزاګانې دَهغه عملونوچې دوئ کړيدي، اونه دي دوئ عاجزه کونکې الله ﷻ لره.

﴿وَلَوْ أَنَّ لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا﴾ داتخويف اخروي دې،مشرکانو ته،چه دَقيامت په ورځ کله دَمشرکانو جهنم ته دَتلو فيصله اوشي نو دوئ به دومره بدحاله وی چه فرض کړه کچرته دَزمکې ټولې خزانې بلکه دَدې هومره نورې ورسره وی او دغه ټولی دَخپل ځان دَ خلاصولو لپاره ورکوی ليکن بيا به ترې هم نه قبليږی،دَخپل شرک سزا به ورته خامخا ميلاويږی.﴿وَبَدَا لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مَا لَمْ يَكُوْنُوْا﴾ "ما"نه مرادعقوبات دې،يعنی دکومو سزاګانو نه ئی انکار کولو هغه به ورته ښکاره شی حضرت سفيان ثوري رحمه الله فرمائي داآيت دَرياکارانو متعلق دې،چې دَقيامت په ورځ به دوئ ته دَدوئ ګمان نه خلاف سزاملاؤشي.

﴿وَبَدَا لَهُمْ سَيِّاٰتُ مَا كَسَبُوْا﴾ دَسيئاتونه مراداثاردَسئيّاتودي"ما"مصدريه دې او اضافت دَسيئات بياني دې،يعني ښکاره به شي دوئ ته آثاردګناهونودَدوئ.

﴿فَإِذَا مَسَّ الْإِنْسَانَ ضُرٌّ﴾ دابل زجردې بطورِشکوه،دَ"الانسان"مراديا جنسِ انسان دې، او مقصوداخباردَ صفتِ غالبه دَانسان دې چې داصفت اکثرپه مشرکانوکښې پيداکيږي،ياورنه انسانِ کافرمراد دې،﴿قَالَ إِنَّمَآ أُوْتِيْتُهٗ﴾ انّمادَحصردپاره دې،يعني ندې راکړې شوې ماته هيڅ نعمت نعمتونونه مګر﴿عَلٰى عِلْمٍ﴾ ای علی علمٍ منّي بوجوهِ کسبهٖ(روح) يعني ددې نعمت نسبت خپل کسب اوهنرته کوي چې داماته دَهنرپوجه ملاؤشويدې،اوعلیٰ علمٍ من الله تعالی بي وباستيجابي ،يعني دَالله تعالیٰ عالم وؤپه ماچې ځه لائق اواهل ووم ددې نعمت،﴿أُوْتِيْتُهٗ﴾ کښې ضميردَمذکرراجع دې نعمت ته په اعتبار دَمعنی ځکه نعمت په معنی دَ انعام دې اويا په تاويل

دنيا" سره ورته راجع شوې دې ﴿بَلْ هِىَ فِتْنَةٌ﴾ رددې دماقبل قول دانسان، چه داما ل ورته مونږ به طور امتحان ورکړيدې چه شکرادا کوي او که ناشکري، داسې نه ده لکه دې چه ګنړی ضميرد"هي"راجع دې نعمت ته باعتباراللفظ، ﴿وَلَـٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ﴾نه پوهيږي پدې چې د"ملاويدل دمال اودنعمتونو امتحان دې.

﴿قَدْ قَالَهَا﴾داتخويف دنيوي دې، ضميرمنصوب د﴿قَالَهَا﴾راجع دې، انماأوتيته على علم،ته ﴿ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ﴾نه مراد قارون اوقوم، هغه دې چې وئيلي وو، انماأوتيته على علم عندي (القصص: ۷۸)﴿فَمَآ أَغْنَىٰ عَنْهُم﴾"ما"يانافيه ده، او﴿مَّا كَانُوا۟ يَكْسِبُونَ﴾ نه مرادمالونه اواولادونه دې ياورنه کفراوغلط عقائدمراددې، يعني هغوئ هم دغه شان خبره کړې وه ليکن ددوئ مالونوغيره اودغه شان ددوئ کفردوئ لره دعذاب دالله تعالى نه بچ نه کړل بلکه:فخسفنابه وبداره الارض،اويا"ما"استفهاميه ده"اي:فما الذي اغنىٰ اموالهم"يعني ددوئ مالونودوئ ته څه فائده ورکړه؟.

﴿وَٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ مِنْ هَـٰٓؤُلَآءِ﴾اشاره مشرکانودمکه ته ده، اوتنبيه ده ورته﴿سَيُصِيبُهُمْ سَيِّـَٔاتُ مَا كَسَبُوا۟﴾دې نه ياعذاب دنيوي مراد دې، چنانچه دقحط په صورت کښې په دوئ باندې، وه(۷)کاله راغلې وو اودغه شان په بدرکښې ورنه اويا (۷۰)کسان قتل شوي وو ياعام دې دنيوي اواخروي دواړه ورنه مراددې.

اَوَلَمْ يَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ ۭ اِنَّ
آيادوئ نه پوهيږي چې بيشکه الله تعالى فراخه ورکوي رزق هغه چاته چې ئې خوښه شي اوتنګوي ئې، بيشکه
فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ۝ قُلْ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ
پدې کښې خامخا دلائل دتوحيددې هغه قوم دپاره چې ايمان راوړي. ته اُوايه اې بندګانو څما هغه چې

اَسْرَفُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَغْفِرُ

زياتي موكړيدي په خانونو خپلو . مه نااُميده كيږئ د رحمت دَالله تعالى نه. بيشكه الله تعالى مُعاف كوي

الذُّنُوْبَ جَمِيْعًا ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴿۵۳﴾

گناهونه ټول بيشكه هم هغه بخښونكي مهربانه دي،

﴿أَوَلَمْ يَعْلَمُوٓا أَنَّ ٱللَّهَ يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ﴾ داشپږم دليلِ عقلي دې، چې دَرزق تنگي اوفراخي دَالله تعالى په اختيار كښې ده چاته ئې چې خوښه شي فراخه كوي ئې ورته اوچاته ئې چې خوښه شي تنگي ورباندې راولي، نوپديكښې دَهرمؤمن دپاره واضح اوښكاره نښانات دي پدې چې الله تعالى واحدلاشريك ذات دې اودَهرڅه اختيارصرف الله تعالى سره دې، ﴿قُلْ يَٰعِبَادِىَ ٱلَّذِينَ أَسْرَفُوا﴾ داترغيب دې راوړلودَايمان ته.ددې آياتونوپه شان نزول كښې مفسرينُ ډيراقوال ذكركړيدي چې هغې خلاصه دَاده چې اسلامَ ته ترقى اواستحكام ميلاويدلونه ورستو، ډير مشركين داسې وؤ چې هغوئ باندې داسلام حقانيت واضح شو او اسلام ئې راوړل غوختل خوداخدشه وه ورسره چې مونږ خوډير گناهونه كړى دى اسلام خلاف خو جنگونه اومسلمان خوقتل كړى دى نوآيا زمونږ دَاسلام راوړلو اعتبار به اوكړې شي اوكنه؟نو الله ﷻ ورته په دې آيت كښې ترغيب وركوى چې ايمان راوړئ په ايمان راوړلو سره، څومره هم لوئ گناه وى هغه الله ﷻ معاف كړى. دَسعيدبن جبيراودَابن عباس رضي الله عنه روايت دې چې څه خلق داسې وؤدَمشركانونه چې ناحق قتلونه ئې كړي وؤاوډيرئې كړي وؤاوزناگانې ئې كړې وې اوډيرې ئې كړې وې، دَحضور ﷺ په خدمت كښې حاضرشولِ اوعرض ئې وكړو، چې كوم طرف ته چې ته دعوت وركوې نوهغه خوډيرښه دې ،ليكن ته مونږته خبرراكړه چې كچرې مونږمسلمانان شونوآيازمونږتوبه به قبليږي؟ نوالله تعالى داآياتونه نازل كړل (بخارى في التفسير).

دَابن عباس رضي الله عنه نه داهم روايت نقل دې چې دِاآياتونه دوحشي قاتل دَحضرت حمزه رضي الله عنه په باره كښې نازل دي چې حضور ﷺ هغه ته دَاسلام راوړلودعوت وركړونو ده ورته راواوليگل چې څه به څنگه اسلام رلوړم چې الله تعالى فرمائي: والّذين لايدعونَ مع الله (فرقان:٦٨) نوالله تعالى آيت نازل كړوچې "الاّمن تاب وآمن" (فرقان:٧٢)نووحشي اووي چې داخوسخت شرط دې

کيديشي چې څه ددې په پوره کولوباندې قادرنه شم،نوالله تعالی آيت نازل کړوچې﴿انّ الله لايغفران يّشرکَ به﴾(نساء:۴۸)نو وحشي اووي چې اوس هم ماته شك دې چې آياځمامغفرت به الله تعالی اوغواړي اوکنه؟ نوالله تعالی داآياتونه نازل کړل نووحشي ايمان راوړو،(قرطبي)
شان نزول ددې آيت اګرچې خاص دې ليکن حکم ئې عام دې تولومسلمانانوته شامل دې.

﴿يٰعِبَادِىَ﴾ دعباد لفظ اکثر دمؤمنانوپه باره کښې استعماليږي،لکه وعبادُ الرحمن الّذين ..... عيناً يّشرب بهاعبادُالرحمن(الدهر)خودلته ترينه مؤمنان اوکافران دواړه مراد دی،﴿أَسْرَفُوا۟ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ﴾اسراف معنی دحد نه تجاوز کول دي په هرکارکښې چه انسان ئې کوی، اګرچه مال خرچ کولوکښې داالفظ مشهور دې، نومطلب دادې چه هغه کسان چې افراط اوزياتې ئې کړې وي په ګناهونوکښې.

﴿لَا تَقْنَطُوا۟﴾دااول خطاب دې بندګانوته چې دَ الله ﷻ رحمت بې انتهاء وسيع دې دګناهونو په وجه مايوسه کيږئ مه.﴿إِنَّ ٱللَّهَ يَغْفِرُ ٱلذُّنُوبَ جَمِيعًا﴾ظاهره داده چې مغفرت دذنوبومقيداومشروط نه دې په شرط دتوبې سره،دګناهونو معافی دوه صورته دی: **يوداچې** انسان توبه اوباسی نودې صورت کښې آيت په خپل عموم باندې دې چې الله ﷻ هرقسم ګناه په توبې سره معاف کوی خواه هغه شرک وی اوکه غير شرک،**دويم داچې** بلاتوبه معاف شی،نودې صورت کښې دشرک نه ماسوا نور ګناهونه مراد دی،ځکه چې شرک الله ﷻ نه معاف کوی.ان الله لايغفر ان يشرک او دينه ماسوا ګناهونه دا دَالله ﷻ په مشيت باندې موقوف دی که اوغواړی نو بلاتوبه ئی معاف کړی اوکه اوغواړی نوسزا به ورله ورکړی اوداجمله علت ده لاتقنطوا. ددې بحث حضرت والدمحترم نورالله مرقده وبرّدمضجعه دسورة نساء ايت(۳۵)"ان تجتنبوا کبائر ما تنهون"کښې په تفصيل سره کړيدې نو رجوع دې ورته وشي رشد القرآن ج۲ صفحه۵۳ ﴿هُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ﴾تعليل دې د"ان الله يغفر الذنوب جميعا".

﴿وَأَنِيبُوٓا۟ إِلَىٰ رَبِّكُمْ وَأَسْلِمُوا۟ لَهُۥ مِن قَبْلِ أَن يَأْتِيَكُمُ ٱلْعَذَابُ ثُمَّ﴾

اورجوع وکړئ خپل رب طرف ته اوتابع شئ دَهغه مخکښې ددې نه چې راشي تاسوته عذاب بيابه

لَا تُنْصَرُوْنَ ﴿٥٤﴾ وَاتَّبِعُوْٓا اَحْسَنَ مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ

ستاسو مدد او نکړې شي اواتباع کوئ دښکلي هغه کتاب چې نازل شویدي تاسو ته دطرفه درب ستاسو نه

مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَكُمُ الْعَذَابُ بَغْتَةً وَّاَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ ﴿٥٥﴾ اَنْ تَقُوْلَ

مخکښې ددينه چې راشي تاسو ته عذاب ناڅاپه اوتاسو به نه پوهيږئ. دپاره ددې چې اونه وائي

نَفْسٌ يّٰحَسْرَتٰى عَلٰى مَا فَرَّطْتُّ فِيْ جَنْبِ اللّٰهِ وَاِنْ كُنْتُ لَمِنَ السّٰخِرِيْنَ ﴿٥٦﴾

يو نفس هائي آفسوس! په کوتاهئ زما په حق دالله تعالى کښې او بيشکه چې وؤم خه دمسخرې کونکو نه

اَوْ تَقُوْلَ لَوْ اَنَّ اللّٰهَ هَدٰىنِيْ لَكُنْتُ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿٥٧﴾ اَوْ تَقُوْلَ

يا دا اُونه وائي که چرې الله تعالى هدايت کړې وې ما ته نوخامخا به وومه خه د متقيانو نه. يا دا اُو نه وائي

حِيْنَ تَرَى الْعَذَابَ لَوْ اَنَّ لِيْ كَرَّةً فَاَكُوْنَ

په هغه وخت کښې چې اُووينې عذاب ، هائي آفسوس چې وې ماله واپسي دنياته نوشم به زه د

مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٥٨﴾ بَلٰى قَدْ جَآءَتْكَ اٰيٰتِيْ فَكَذَّبْتَ بِهَا

نيکوکارانو نه بلکه ثابته ده داخبره چې راغلي وؤتاته آياتونه زما نو تکذيب وکړوتا په هغې

وَاسْتَكْبَرْتَ وَكُنْتَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٥٩﴾

. اوتکبر دې وکړو او وې ته د کافرانو نه .

﴿وَأَنِيبُوٓا إِلَىٰ رَبِّكُمْ﴾ دويم خطاب دې او په دې کښې ترغيب او امر دې توبې طرف ته، چې الله ﷻ ته رجوع اوکړئ دمعاصيونه اعراض اوکړئ او خپل عبادت الله ﷻ لپاره خاص کړئ توبه کول دګناهونونه واجبه ده، ليکن ددې حکم منافات نشته دې ددې سره چې حصول دمغفرت بغير دتوبې نه هم کيږي. انابت رجوع بالکلية ته وائى چې انسان دهر قسم ګناه نه ځان بالکل پاک کړى او ځان خالص الله ﷻ ته پيش کړى. فرق په مابين دتائب اود منيب کښې دادې چې

تائب رجوع کوي دَوجه دَخوف دَعقوبة نه، اومنيب رجوع کوي دَوجه دَمحبت دَالله ﷻ نه.

﴿ وَأَسْلِمُواْ ﴾ **دريم خطاب** دې، چې اطاعت اوکړئ دالله ﷻ او احکامات ئې اومنئ، **انابت** او **اسلام** کښې دوه فرقه بيان کړې شوې دي: (۱)انابت کښې تخليه ده، چې ځان دکفر وشرک او ګناهونو نه پاک کړئ، او اسلام کښې تحليه ده چې تصديق او نيک اعمالو سره ځان مزين کړئ، (۲)انابت تعلق زړه سره دې اواسلام تعلق اعضاؤو سره دې، ﴿مِن قَبْلِ أَن يَأْتِيَكُمُ ﴾تنبيه ده په سرعت اوپه جلدئ کولوپه توبه کښې، چې دَمرګ نه مخکښې دشرک اومعاصيؤنه توبه اوباسئ.

﴿وَٱتَّبِعُوٓاْ أَحْسَنَ مَآ أُنزِلَ ﴾دا **څلورم خطاب** دې چې قرآن دَخپلې زندګئ منشور جوړکړئ او دهغې په تعليماتو باندې عمل کوئ. **پنځم دليل وحې** دې، دَ﴿أَحْسَنَ مَآ أُنزِلَ ﴾ نه مرادقرآن دې، اوقرآن ته﴿أَحْسَنَ مَآ أُنزِلَ ﴾پدې اعتبارسره اووئيلې شوچې څومره کتابونه، تورات، زبور، انجيل چې دَالله تعالى دَطرفه نازل دي په هغه ټولوکښې قرآن احسن دې.

﴿أَن تَقُولَ ﴾دا دَماقبل خطاباتو «انيبو، اسلموا، اتبعوا»علت بيان دې يعنى انابت او قرآن اتباع ځکه اوکئ چې داسې نه صبا بيا دَافسوس نه لاسونه مروړئ اوڅه درله په لاس نه درځى "ان تقول" مفعول له دې په تقديردَ مضاف سره دَ"انيبوا"دپاره، اي انيبوا الى ربكم كراهة ان تقول...اودلته اګرچې مفعول له او فعل معلل به فاعل يو نه دې ، ځکه چې فعل معلل به فاعل جمع مخاطب دې او د مفعول له فاعل الله ﷻ دې خو د محقيقونو په نيز دا اتحادشرط نه دې اوکوم نحويانو په نيزچې دا شرط دې نو هغوئ دامفعول له ګرځوليدې دَفعل محذوف دَپاره اي آمركم باتباع هذه الامور كراهة أن تقول يعنى دا احكامات مې ځکه درکړل چې څه نه خوخوم چې سبا بيا څوک افسوس کوی. ﴿عَلَىٰ مَا فَرَّطتُ ﴾ "على" تعليليه دې او "ما" مصدريه ده، اي: بسبب تفريطي، تفريط کوتاهي اونقصان ته وئيلې کيږي، مرادورنه شرک اونورګناهونه دي. ﴿فِى جَنۢبِ ٱللَّهِ ﴾ "جنب" تشي ته وئيلې کيږي، دلته حقيقي معنیٰ مراداغستل متعذردي نو ددی وجهې نه مفسرينو مختلف معنې بيان کړيدي چې په هغې کښې دوه قوله زيات صحيح

دي : (۱)یو داچې جنب نه مرادجانب دي اوددې نه پس طاعة لفظ حذف دې،ای فی جانب طاعة الله،یعني افسوس دې چې ماکومه کوتاهي دَالله تعالی داطاعت په طرف تللو اودهغې اختیاره ولوکښ کړیده، نو ځکه نفي دَجانب اطاعت اوشوه نونفي اطاعت په طریق اولی سره ثابتیږي.

(۲)دویم داچې جنب پمعنیٰ دَحقّ کښ دې،اوجنب کله کله دَحقّ پمعنیٰ کښ استعمالیږي لکه شاعروایي:

اما تتّقین الله فی جنب عاشقٍ

ای فی حقّ عاشقٍ نو معنیٰ به داشي چې افسوس دې په کوتاهئ چې مادَالله تعالی په حق کښ کړیده .

﴿وَإِن كُنتُ﴾ ان مخففه من المثقله دې،یعني بیشکه څه ووم دَمسخره کونکونه په دین دَالله تعالی اوپه اهل الله اواولیاء الله پوري،﴿أَوْ تَقُولَ لَوْ أَنَّ﴾یعنی چه بیا داسې اونه وائی چه کچرته الله ﷻ ماته هدایت کړې وې نوځه به دَشرک نه بچ شوې وم لکه بل ځائ ارشاد دې لوشاء الله ماالشر کنا،دادواړه تمناګانې قبل دَمشاهدې دَعذاب نه دي،

﴿أَوْ تَقُولَ حِينَ تَرَى الْعَذَابَ﴾داتمنّاورستودَمشاهدې دعذاب نه ده،ددې وجه نه بعضِ مفسرین فرمائي: چې دادرې واړه تمناګانې دَیوجماعت دي چه دَقیامت سختو لیدلو وخت کښ به اووینی چی خلقوته دَخپلو نیکو عملونو بدلی ورکولې کیږی نو اول به پخپل تقصیر باندی حسرت کوی بیابه عذر کوی چه تقصیر ځما دَطرفه نه وؤ،بیا چه پخپل تقصیر ئی علم راشی نوبیا به تمنا کوی دَرجوع دنیا ته،بعضِ فرمائي چې دادرې واړه تمناګانې دَمختلفو جماعتونودي.

﴿بَلَىٰ قَدْ جَاءَتْكَ آيَاتِي﴾داجواب دې دَ لوانّ الله هدانِ چې دَهدایت دپاره الله تعالی تاته خپل کتابونه اوآیاتونه رالیږلي وؤ لیکن تاپه هغې تکذیب اوکړواوتکبرپوجه دی ورنه انکار اوکړو.

وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ تَرَى الَّذِيْنَ كَذَبُوْا عَلَى اللّٰهِ وُجُوْهُهُمْ مُّسْوَدَّةٌ
او په ورځ دَ قيامت به ته وينې هغه خلق چې دروغ ئې ويلي دي په الله ﷻ مخونه به ئي تک توروي،
اَلَيْسَ فِيْ جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْمُتَكَبِّرِيْنَ ﴿٦٠﴾ وَ يُنَجِّي اللّٰهُ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا
آيا نه ده په جهنم كښې ټهكانه دَتكبر كونكو. او نجات به وركړي الله ﷻ هغه كسانو ته چې تقوىٰ ئې اختيار كړيوي
بِمَفَازَتِهِمْ لَا يَمَسُّهُمُ السُّوْٓءُ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٦١﴾ اَللّٰهُ خَالِقُ
سره د كاميابئ د دوئ، نه به رسيږي دوئ ته تكليف او نه به دوئ غمژن وي. الله تعالىٰ خالق دې
كُلِّ شَيْءٍ وَّهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ وَّكِيْلٌ ﴿٦٢﴾ لَهٗ مَقَالِيْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ
دَ هر خيز ، او هغه د هر خيز ساتونكې دې. الله سره دي كنجياني دَ خزانو دَ آسمانونو او دَ زمكې،
وَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿٦٣﴾
او هغه كسان چې كفر ئې كړيدې په آياتونو دَ الله تعالىٰ دَغه كسان هم دوئ تاوانيان دي

﴿وَيَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ تَرَى ٱلَّذِينَ﴾ دا تخويف اخروي دي، دَ﴿كَذَبُوا۟ عَلَى ٱللَّهِ﴾ نه مراد نسبت دشريك اودَولد كول دي الله تعالىٰ ته، حرامو ته حلال او حلالو ته حرام وئيل دى ﴿وُجُوهُهُم مُّسْوَدَّةٌ﴾ مخونه به ئې توروي، يا حقيقةً چې دا به علامه وي دَدوئ يا مجازاً كنايه ده دَذلت او رسوائي نه.

﴿وَيُنَجِّى ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ﴾ بشارت أخروي دي مؤمنانو ته، ﴿بِمَفَازَتِهِمْ﴾ مفازة (١) يا مصدر ميمى دي دَ فاز، يفوز، فوزا او باء دپاره دَملابست ده اي متلبسين بمفازتهم يعنى كاميابئ سره به ورله الله ﷻ نجات وركړى، او يا "باء" سببيه ده اي بسبب فوزهم يعنى كاميابيدلو دَوجهې نه به ورله الله ﷻ نجات وركړى. (٢) يا مفازة اسم ظرف دي يعنى ځائى دكاميابئ چې هغه جنت دي، او باء بمعنى دَ"في" سره ده. يعنى الله ﷻ به ئى په جنت كښې داخل كړي او دي ذلت اورسوائى نه

به ورله نجات ورکړی. ﴿لَا يَمَسُّهُمُ ٱلسُّوٓءُ﴾تفسيردي دَ بمفازتهم يعنى كاميابى ئى داده چه دوئ ته به داسې مقام ورکړی چه دَهر قسمه تكليف او دَغم نه به محفوظ وی.السوء نه مراد جسمانی تكليف اوعذاب دې،اوجمله فعليه راوړلو کښ اشاره ده دې ته چې په کافرانو به دامتجدد وی ﴿ولاهم يحزنون﴾دينه روحانى تكليف اوعذاب مراد دې اوجمله اسميه راوړلو کښ اشاره ده ديته چې داعذاب به کافرانو دائمى وي.

﴿ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٍ﴾داووم(۷)دليلِ عقلي دې په توحيد ،دې کښ دَدرې امورو ذكر دې : (۱)(خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٍ) چې الله ﷻ دَهر څيز پيداكونكې دې لهذا صرف دهغه عبادت كوئ. (۲)(وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٍ وَكِيلٌ) الله ﷻ دَهرڅيز ساتونكې اومحافظ دې لهذا صرف هغه ته رجوع كوئ.(۳)(لَّهُۥ مَقَالِيدُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ) الله ﷻ په څيز کښ متصرف دې اودَزمكى او آسمانونو خزانو كنجيانې هغه سره دى لهذا صرف دهغه نه غواړئ."مقاليد"كنجيانو ته وائى دا لفظ عربى دې اوجمع دَمقليدده،اويامعرب دې اوجمع دَ اقليد ده چې معرب دې دكليد نه ، په فارسئ کښ كنجى ته وائى.

﴿وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ﴾داجمله په ماقبل درې واړو امورو باندې متفرع ده يعنى خالق هم الله ﷻ دې محافظ هم الله ﷻ دې اومتصرف هم الله ﷻ دې دې باوجود چې څوك ايمان نه راوړی اوتوحيد نه اختياروی نوهغه به ډيرې غټې خساره کښ دې (بيان القرآن)

قُلۡ	أَفَغَيۡرَ	ٱللَّهِ	تَأۡمُرُوٓنِّيٓ	أَعۡبُدُ	أَيُّهَا	ٱلۡجَٰهِلُونَ ٦٤
ته اوايه(اې پيغمبره)آيابيا هم غير دَالله تعالى نه امركوئ تاسوماته چې زه ئې عبادت اوكړم اى جاهلانو.						
وَلَقَدۡ	أُوحِيَ	إِلَيۡكَ	وَ	إِلَى	ٱلَّذِينَ	مِن	قَبۡلِكَ
او په تحقيق سره وحي كړې شويده تا ته او هغه كسانو ته چې مخکښ وو ستانه،							

لَئِنْ اَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۶۵﴾ بَلِ

قسم دې كه بفرضِ محال تا هم شرك وكړونو خامخا برباد به شي عمل ستا او خامخا شې به ته د تاوانيانو نه بلكه

اللّٰهَ فَاعْبُدْ وَكُنْ مِّنَ الشّٰكِرِيْنَ ﴿۶۶﴾ وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖ

د يو الله عبادت كوه او اوسه ته د شكر كونكونه. او دوئ قدر او نكړو د الله تعالى څنګه چې دهغه قدر كولو حق وو

وَالْاَرْضُ جَمِيْعًا قَبْضَتُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَالسَّمٰوٰتُ مَطْوِيّٰتٌ

او زمكه ټوله به يو موټې وي د اللهﷻ په ورځ د قيامت او اسمانونه رانغښتلي شوي به وي

بِيَمِيْنِهٖ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۶۷﴾

په ښي لاس د اللهﷻ كښ، پاكي ده هغه لره او لوئ دې د هغې نه چې دوئ ورسره شريكوي.

﴿قُلْ اَفَغَيْرَ اللّٰهِ﴾ دا دريم خل دعوه د سورة ذكر كيږي، مشركانو نبي كريمﷺ ته اووې چې اسلم ببعضِ آلهتنا ونؤمن بآلهتك(كبير وغيره) ته زمونږ په بعض آلهه وباندې ايمان راوړه مونږ به ستا په اله باندې ايمان راوړو، نو الله تعالى حضورﷺ ته حكم اوكړو چې ته ورته اووايه چې(دومره دلائلونه بعد بيا هم)تاسو ماته د غير الله د عبادت امر كوئ، دا خو ډير لوئ جهل دې، نو ځكه ئې ورته په ﴿اَيُّهَا الْجٰهِلُوْنَ﴾ سره نداء اوكړه، "فاء" په "افغير" كښ د پاره د تفريع ده يعنى دومره دلائلو باوجود تاسو ماته دا حكم كوئ "غيرَ الله" مفعول به دې د "اَعبد" د پاره، او "تامروني" په مينځ كښ جمله معترضه ده او يا مفعول به دې د "تامروني" او "اعبد" ورنه بدل اشتمال دې.

﴿وَلَقَدْ اُوْحِيَ اِلَيْكَ﴾ دا شپږم دليل وحي دې، ﴿وَاِلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكَ﴾ دليل نقلي دې تقدير د عبارت داسې دې چې "اوحي اليك والى الذين من قبلك بالتوحيد" ﴿لَئِنْ اَشْرَكْتَ﴾ لام په كښ موطئه للقسم دې او خطاب يا صرف حضورﷺ ته دې، يا هر نبي ته دې باعتبار كل واحد، ليكن دا كلام على سبيل الفرض والتقدير دې، يعني دا شرك كول داسې ناقابل معافي جرم دې چې كچرې بالفرض د محال ... نو معافي ورته نشي كيدې ... عملونه به ئې

برباد شي، نودَبل چاځه حیثیت دې، داسې په﴿ و لو اشركوا لحبط عنهم، انعام:۸۸﴾ کښې هم تیر شویدي. ﴿لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ﴾ایت مستدَل دې دَاحنافودپاره پدې چې په ارتداد سره اعمالِ سابقه باطلیږي، داحنافواودَشوافعو په مینځ کښې دامسئله مختلف فیه ده اوتفصیل ئې حضرت والدمحترم نورالله مرقده په تفسیردَسورة بقره آیت(۲۱۸)ج۱ صفحه ۳۵۵کښې کړیدې.

﴿بَلِ اللَّهَ فَاعْبُدْ﴾جواب دې دَمطالبې دَمشرکانونه چې حضورﷺته وئیلي وو"اسلم ببعضِ آلهتنا"، "بل"دَپاره دَاضراب ابطال دې یعنی شرک پریګده. صرف خُماعبادت کوه، او خُما شکر ګزاربنده جوړه شه.

﴿وَمَا قَدَرُوا اللَّهَ﴾داشکوه ده،یعنی څنګه چې دَالله ﷻ تعظیم حق وو، دې مشرکانو هغه شان تعظیم اونکړو،بلکه مخلوقات ئې وسره شریک اوګرځول﴿ قَدَرُوا اللَّهَ﴾پمعنیٰ دَ"ماعظموا الله"سره دې،یعنې دوئ دَ الله تعالی قدراوتعظیم نه دې کړې په حق قدراوتعظیم سره،﴿حَقَّ قَدْرِهِ﴾مفعول مطلق دې،په اصل کښې قدره الحقّ دې،اضافت دَصفت شوې دې موصوف ته.

﴿وَالْأَرْضُ جَمِيعًا قَبْضَتُهُ﴾ دې کښې دَ الله ﷻ **عظمت شان بیان دې**،چې قیامت په ورځ به ټوله زمکه دَ الله ﷻ په موټی کښې پرته وی اودآسمانونه دانظام به نه وی،بلکه داټول به راټول کړې شوی وی،اودَالله ﷻ دلاس نه به راتاؤوی.هیڅ څوک به ترینه رپ نشی وهلې.

فائده۱:زمکه چونکه وړه ده او وړکې څیز خلق په موټې کښې رابندکړی نوځکه دې سره دَ "قبضة" ذکر اوشو ،اوآسمانونه چونکه لوئ دی اولوئ څیز په موټی کښې نه راځی،بلکه خلق ئی لاس کښې اخلی اولاس نه ئی رانغاړی نو ځکه دې سره"مطویات بیمینه"ذکر اوشو.نو دې کښې دمخلوق محاورې اعتبار شوې دې اګر چه الله ﷻ ته هیڅ هم لوئ نه دی.

فائده۲: قبضة،یمین وغیره الفاظ دَمتشابهاتو نه دې چې معنی ئې الله ﷻ نه سوا بل چاته نه ده معلومه،متقدمینو مسلک دې متعلق تفویض دې في اول وهله اومتاخرینو اومتکلمینو مسلک تاویل دې.

﴿سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ﴾دادَمخکښې تیرشوؤدلائلوثمره ده،دَتیرشوې دلائلونه دامعلومه شوه

چې الله تعالی واحد لاشريك ذات دي، دَهر قسم شريك نه منزه دي

وَنُفِخَ فِي الصُّوْرِ فَصَعِقَ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ
اوپو کل به او کړيشي په شپيلئ کښې نو بې هوشه به شي هغه خوك چې په اسمانونو کښې دي او هغه خوك چې
فِي الْاَرْضِ اِلَّا مَنْ شَآءَ اللّٰهُ ثُمَّ نُفِخَ فِيْهِ
په زمکه کښې دي مګر هغه خوك چې خوښه وي دَ الله ﷻ بيا به پو کړيشي په هغې کښې
اُخْرٰى فَاِذَا هُمْ قِيَامٌ يَّنْظُرُوْنَ ﴿٦٨﴾ وَ اَشْرَقَتِ الْاَرْضُ
دويم ځل پس بيا به ټول خلق ولاړوي ګوري به او روښانه به شي زمکه دَ محشر
بِنُوْرِ رَبِّهَا وَوُضِعَ الْكِتٰبُ وَجِايْٓءَ بِالنَّبِيّٖنَ وَالشُّهَدَآءِ
په نور رب خپل سره، او کيخودلي به شي عملنامې، او را به وستلې شي نبيان او ګواهان
وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْحَقِّ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿٦٩﴾ وَوُفِّيَتْ
او فيصله به وکړيشي په مينځ دَدوئ کښې په عدل سره او په دوئ به ظلم نه کيږي، او پوره به ورکړيشي
كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ وَ هُوَ اَعْلَمُ بِمَا يَفْعَلُوْنَ ﴿٧٠﴾
هر نفس ته بدله دَهغه عملونو چې ده کړي وي او الله تعالی ښه پوهيږي په هغې عملونو چې دوئ ئې کوي.

﴿وَنُفِخَ فِي الصُّوْرِ﴾ ديکښې دَ الله ﷻ **عظمت شان يو بل مظهر** ذکر کيږی نفخی نه مراد نفخه اولی ده، چې هغې سره به ټولو ژوندو ته مرګ راشی، **البته دا اشکال قابل غوردې**، چې حديث کښې د دې صعقې په مرو باندې طاری کيدل هم ثابت دی، نو په مړو باندې مرګ څنګه راځي، لکه مسلم شريف «رقم الحديث ۲۳۷۳» کښې دي: چې يو يهودی دې الفاظو سره قسم اوخوړو: والذي اصطفى موسى على البشر قسم په هغه ذات چې موسی ﷺ له ئی په ټولو انسانانو فضيلت ورکړې دې، صحابی اولاړ وو، نو هغه ورله سپيړه ورکړه او ورته او وئيل: چې نبی کريم ﷺ موجود دي او ته داسې خبرې کوې، هغه يهودی نبی ﷺ ته شکايت اوکړو، نو

نبی ﷺ په دې ډير خفه شو او اوئې فرمائيل: چې صور په پوه کړې شي او زمکه آسمانونه کښې ځومره مخلوقات دي هغوئ باندې به صعقه طاري شي سوا دَهغه کسانو نه چې هغوئ باندې الله ﷻ طاري کول نه غواړي، بيا به دوباره "صور" اوهلې شي نو تولو نه اول به څه راپورته شم چې اوګورم نو موسی ﷺ به عرش نيولې اولاړوي، ماته داپته نشته چې په موسی ﷺ دا بالکل طاري شوې نده ده کوه طور صعقې په بدله کښې اوکه طاري شوې ده خو ځمانه مخکښې را اوچت شوې دې.

نو دينه معلوميږي چې دا صعقه به په انبياؤ طاري کيږي خو موسی ﷺ باره کښې ورته تردد اوشو چې دې به ترينه مستثنی وی اوکه ده باندې به هم طاري کيږي، نو انبياء خووفات شوی دی، نوهغوئ باندې دوباره مرګ مطلب څه شو؟

مفسرينواومحدثينو ددې اشکال متعدد جوابونه کړي دي:

(۱) علامه عيني ﷫ په شرح بخاري عمدة القاري کښې ترينه دا جواب کړې دې چې انبياؤ مرګ دعاموخلقو مرګ په شان نه دې، حقيقت کښې هغوئ ژوندی وی. صرف انتقال شوی وي ديو دارنه بل دارته. جسمونه دَهغوئ بالکل محفوظ وي، نو دې وجهې نه دا صعقه به هغوئ باندې هم اثر کوی، نوکوم خلق چې په مخ ده زمکه ژوندی وی نوهغه به ورسره مړه شی او چې کوم انبياء دی په قبرونوکښې هغوئ باندې بې هوشی طاري شی.

(۲) بعضوترينه په دې سره ځان خلاصولو کوشش کړې دې چې نفخې درې دی: (۱) نفخه اماتت (۲) نفخه بعث (۳) نفخه فزع، چه دابه دَژوندې کيدلونه روستې وی، نودلته مراد دَ نفخې نه نفخهٔ فزع ده ليکن دا قول انتهائي ضعيف دې.

(۳) دريم قول چې هغه زمونږ اکابرواختيار کړې دې دادې چې آيت کښې دَنفخه اولی ذکر دې، چې داکله اووهلې شي نو اول به ورسره ګبراهټ طاري شی، هغې نه بعد چې کوم څيزونو کښې دفنا او مرګ قبولو صلاحيت شته، هغوئ باندې به مرګ طاري شی، نو دې سره به دنيا کښې ځومره ژوندی وی هغه به مړه شی، اوکومو کښې چې مرګ قبولو صلاحيت نشته بلکه روح، هغې باندې به بې هوشی طاري شی، اودَمرګ ساعت نه واخله تردې وخته پورې چې کوم احساس اوشعور ورته کيدلو دَعذاب او نعيم هغه به دې موده کښې ورته نه کيږي. (فيض الباري، تفسير عثمانی، تکملة فتح الملهم)

﴿إِلَّا مَن شَآءَ ٱللَّهُ﴾ يعنی څنې کسان به داسې وی چې هغوئ به الله ﷻ دَدې صعقې نه محفوظ

ساتی،قرآن وحدیث کښې ددوئ هیڅ تعیین نه دي راغلي لهذا راجحه خبره داده چې دادې په خپل ابهام پريخودلې شی البته څنې مفسرینو نه ددې تعیین باره کښې اقوال منقول دي (۱)دینه مراد دجنت حوری اوولدان دی(۲)دینه مراد شهدا دی وغیرهما من الاقوال

﴿ثُمَّ نُفِخَ فِيهِ أُخْرَىٰ﴾نفخه ئي ثانيه ورنه مراده ده﴿فَإِذَا هُمْ قِيَامٌ﴾قيامٌ جمع تکسیردقائمٌ ده لکه "نصارٌ" جمع تکسیرد" ناصر"ده،یعني ټول خلق به راژوندي شي اوراپابه سي ﴿يَنظُرُونَ﴾ اي:ينتظرون امرالله،دالله تعالى دامرانتظاربه کوي،یاپمعنیٰ دنظرسره دې یعني یوطرف ته بل طرف ته به ګوري.

﴿وَأَشْرَقَتِ الْأَرْضُ بِنُورِ رَبِّهَا﴾ دیکښې دَ الله تعالي **عظمت شان يو بل مظهر**ذکر کيږي، د "الارض" نه زمکه دمحشرمراده ده،یعني کله چې به الله تعالی میدانِ حشرته دحساب کتاب دپاره تجلي وکړي،کمایليق بشانه،نوزمکه دمحشربه ټوله روښانه شي په نوردالله تعالی سره،یا﴿بِنُورِ رَبِّهَا﴾کنایه ده دعدل وانصاف نه، اي:بعدلِ ربِّها(قرطبي،کبیروغیره)یعني دالله تعالی په عدل سره به روښانه شي اوتیارې دظلم به ختمې شي لانّ الظلم ظلماتٌ

﴿وَوُضِعَ الْكِتَابُ﴾ "الکتب" نه مراداعمال نامې دي،یعني اعمال نامې به دَ خلقو په لاسونوکښې کیخودلې شي،چاته په ښي لاس کښې اوچاته په چپ لاس کښې،نوداکنایه ده دشروع کیدودحساب نه،

﴿وَجِيءَ بِالنَّبِيِّينَ﴾انبياء کرام به دګواهئ دپاره راوستلې شي،کقوله تعالی: يومَ يجمع الله الرّسلَ فيقول ماذا اجبتم(المائده:۱۰۹)فکيف اذا جئنا مِن کلِّ امةٍ بشهيدٍ و جئنا بك (النساء:۴۱) .

﴿وَالشُّهَدَاءِ﴾جمع دَشاهد"ده ګواه ته وائي یعني ګواهي کونکي به راوستلې شي اوقيامت په ورځ ډیرګواهان وی:(۱)**انبياءکرام** : کمافي قوله تعالى: فکيف اذا جئنا من کل امة شهيدا وجئنا بك على هؤلاء شهيدا (۲)**فرشتي**:کما في قوله تعالى: وجاءت کل نفس معها سائق وشهيد(۳)**امت محمديه**: کما في قوله تعالى: لتکونوا شهداء على الناس (۴)**اعضاء و اندامونه**: کمافي قوله تعالى:اليوم نختم على افواههم

وتكلمنا ايديهم وتشهد ارجلهم.(۵)زمکه : کما في قوله تعالى: يومئذ تحدث اخبارها

﴿وَقُضِيَ بَيْنَهُم بِالْحَقِّ﴾اى بالعدل﴿وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ﴾په چابه ظلم نه کيږي چې ثواب ورته کم ملاؤشي،يا ورته سزازياته ملاؤشي،بلکه هريوکس ته به دَخپلوعملونوپوره پوره بدله ورکولې کيږي،﴿وَهُوَ أَعْلَمُ بِمَا يَفْعَلُونَ﴾تعليل دې دَماقبل چې دَخلقوپه مينځ کښې په عدل سره فيصله کيږي ، په چابانديې به ظلم نه کيږي،اوهريوکښې ته به پوره اجرځکه ملاويږي چې الله تعالى په هرڅه باندې عالم اوپوهه دې(اللّهم لاتخزنا يومَ جمع بالنبيّن والشهداء،آمين).

وَسِيقَ الَّذِينَ كَفَرُوا إِلَى جَهَنَّمَ زُمَرًا حَتَّى إِذَا جَاءُوهَا فُتِحَتْ
اوروان به کړيشي کافران جهنم طرف ته ډلې ډلې،تردې چې کله راشي دوئ جهنم ته پرابه نستلې شي
أَبْوَابُهَا وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا أَلَمْ يَأْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنكُمْ يَتْلُونَ
دروازې دَجهنم اوأوبه وائي دوئ ته څوکيداران دَجهنم،آيانه وؤراغلي تاسوته رسولان ستاسونه چې لوستل
عَلَيْكُمْ آيَاتِ رَبِّكُمْ وَيُنذِرُونَكُمْ لِقَاءَ يَوْمِكُمْ هَٰذَا قَالُوا
ئې په تاسوآياتونه دَرب ستاسو اوچې يره ولې ئې تاسودَملاقات ددې ورځې ستاسونه،وابه وائي دوئ
بَلَىٰ وَلَٰكِنْ حَقَّتْ كَلِمَةُ الْعَذَابِ عَلَى الْكَافِرِينَ ﴿٧١﴾ قِيلَ
چې ولې نه ليکن لازم شو حکم دَعذاب په کافرانوباندې،اوبه ويلې شي
ادْخُلُوا أَبْوَابَ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا ۖ فَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِينَ ﴿٧٢﴾
چې ننوځئ دروازو دَجهنم‌ته هميشه به ئې‌پديکښې، نو ډيره بده ټهکانه ده دَ تکبر کونکو.

﴿وَسِيقَ الَّذِينَ كَفَرُوا﴾دا تخويف اخروي دې اوتفصيل دې دَ"وفيت کلّ نفس" چې دَ خلقوپه مينځ کښې به فيصله اوشي نوکافران به جهنم طرف ته روان کړيشي اومؤمنان به جنت طرف ته روان کړيشي،﴿زُمَرًا﴾جمع دَ"زُمرةٌ" ده،جماعت اوډلې ته وائي،په کافرانوکښې هم ډلې

ني وي، بعض سيكان، بعض هندوان، بعض عيسايان وغيره

﴿حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُوهَا فُتِحَتۡ أَبۡوَٰبُهَا﴾دلته لفظ دَ فُتحت بغيردواؤنه ذكرشو، نوپديكښ
اره ده، چې جهنميانوته، به دَجهنم دروازې دَجيل پشان به بندې وي اوچې دوئ راشي
ورته به پرانستلې شي، نوپديكښ دوه حكمتونودي، يوداچه پديكښ دَدوئ توهين اوتذليل
، اوبل ذاچې دَجهنم دروازې بندې وي اوچې دوئ راشي نوورته به پرانستلې شي، نودوئ
ناڅاپه جهنم اووينې نوښه به ګبراؤشي

﴿وَقَالَ لَهُمۡ خَزَنَتُهَآ﴾داخبره به ورته على سبيل التوبيخ كوي، يعني ملامته كوي به ني
پديكښ هم دَدوئ تذليل دې، ﴿أَلَمۡ يَأۡتِكُمۡ رُسُلٞ مِّنكُمۡ﴾ اى من جنسكم، ستاسو دَجنس نه
سوته رسولان نه وۇ راغلي چې تاسودَهغوئ په خبروباندې پوهيدلئ؟ اوهغوئ ته رجوع
ول تاسودپاره اسان وۇ. ﴿لِقَآءَ يَوۡمِكُمۡ هَٰذَا﴾يوم پمعنىٰ دَوقت سره دې، اى لقاء وقتكم هذا
وح،كبير)يعني تاسوئى ددې وخت نه يره ولئ، چې وخت دَدخول دَنارډې، نوكافران به ورته
ووائي﴿قَالُواْ بَلَىٰ وَلَٰكِنۡ حَقَّتۡ كَلِمَةُ ٱلۡعَذَابِ﴾مراددَ "كلمة العذاب" نه فيصله دَبدبختئ اودَشقاوة
ه په حق ددوئ كښ دَوجه دَبدعملونونه، يعنى مونږ له ازله بدبخته وۇ كنې هدايت تول سامان
اته ميلاؤ وۇ. (روح)یاورنه مرادقول دَالله تعالى دې ابليس ته: لاملئنّ جهنّم منك وممن تبعكَ (ص:
٨٥) ﴿عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ﴾ وضع دَاسم ظاهرده په موضع دَضميرباندې، اشاره ده علت دَعذاب ته
چې كفردې، ﴿قِيلَ ٱدۡخُلُوٓاْ﴾قائل ددې قول هم خزنه دَجهنم دي ليكن ذكرئي نه كړو ځكه چې
مخكښ دَ﴿وَقَالَ لَهُمۡ خَزَنَتُهَآ﴾نه معلوميږي چې قائل ددې خزنه دي، يادَوجه دَتشديدددې قول
ه ني قائل مجهول اوګرځولو يا مجهول صيغه عموم دپاره ده او دې ذكر كولو كښ اشاره
دېته چې دافيصله به په عين انصاف باندې مبنى وي ګويا هر هر څيز به داوائى چې دوئ
دَجهنم مستحق دى. ﴿فَبِئۡسَ مَثۡوَى ٱلۡمُتَكَبِّرِينَ﴾ د تكبريوقسم اعراض كول دي دحق نه
اوعدم انقيادوې دَرسولانواوداكفرډې نوپدې كښ هم علت دَعذاب ته اشاره ده.

وَسِيْقَ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ اِلَى الْجَنَّةِ زُمَرًا ؕ حَتّٰۤى اِذَا جَآءُوْهَا

اوروان به کړېشي هغه کسان چې پرېدلي دي دَخپل رب نه جنت ته ډلې ډلې، تردې چې کله راشي دوئ جنت ته

وَفُتِحَتْ اَبْوَابُهَا وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا سَلٰمٌ

اوحال داچه پرانستلې شوي به وي دروازې دَهغې اواوبه وائي دوئ ته چوکيداران دَهغې سلام دې وي

عَلَيْكُمْ طِبْتُمْ فَادْخُلُوْهَا خٰلِدِيْنَ ﴿٧٣﴾ وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ

په تاسو خوشحاله وسيږئ داخل شي دېته هميشه به يئ پدېکښې. اواُوبه وائي دوئ تول تعريفونه الله لره دي

الَّذِيْ صَدَقَنَا وَعْدَهٗ وَاَوْرَثَنَا الْاَرْضَ نَتَبَوَّاُ مِنَ

هغه چې پوره ئي کړه مونږسره وعد خپله اوپه ميراث کښې ئي راکړه مونږته زمکه دَجنت، تهکانه نيسو مونږ په

الْجَنَّةِ حَيْثُ نَشَآءُ ۚ فَنِعْمَ اَجْرُ الْعٰمِلِيْنَ ﴿٧٤﴾ وَتَرَى الْمَلٰٓئِكَةَ

جنت کښې چې کوم ځائ زمونږخوښ وي، نو ډېر ښه دې اجر دَ عمل کونکو. او ته به وينې فرشتې

حَآفِّيْنَ مِنْ حَوْلِ الْعَرْشِ يُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ ۚ وَ قُضِيَ

حلقه به ئي جوړه کړې وي چاپېره دَعرش نه، تسبيح به وائي سره د حمددَ رب خپل، او فيصله به

بَيْنَهُمْ بِالْحَقِّ وَ قِيْلَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٧٥﴾

اوکړېشي په مينځ دَدوئ کښې په حقه سره اواوبه ويلې شي چې تول تعريفونه الله لره دي چې ربّ العالمين دي

﴿وَسِيْقَ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ﴾ دابشارتِ اخروي دې مؤمنانو ته، مراددَسوق نه په جلدئ سره بوتلل دي انعامونودَجنت ته نوپديکښې دَجنتيانو يواکرام دې. ياورنه مراد مراکب (سورلئ) د جنتيانو دي، يعني دَدوئ مراکب بهٔ شړلئ کيږي جنت طرف ته "والمرادُ بسوق اهل الجنة سوق مراكبهم (كبير، روح وطبره)" ﴿زُمَرًا﴾ مؤمنان به هم ډلې ډلې وي، دَهرپيغمبرامت به جدا جدا وي، او

دغه رنګه پاعتبار دَعملونو سره به هم ډلې ډلې وي،بعضِ به صحابه ﷺ وي،بعضِ به فقهاء وي،بعضِ به ائمه مجتهدين وي،بعضِ علماء وي،بعضِ طلباء،بعضِ شهيدان،بعضِ غازيان وغيره.

﴿حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُوهَا﴾ حتىٰ د پاره دغايت دې ،او اذا متضمن دې معنى شرط لره (يعني كله چې دوئ جنت ته را اورسي) جزاء په باره كښې ډير اقوال دي .

(١) دَ دې جزاء وفتحت ابوابها ده او ،واؤ زائد دې خو دا قول ضعيف دې ، ځكه چې دَ واؤ د زيادت قول تائيد دَ كلام عرب نه ، نه كيږي.

(٢)دويم قول دادې چې جزاء محذوفه ده چې هغه هُذِّبُوا وَ نُقُّوا ده ،او وفتحت ابوابها په جزاء محذوفه باندې عطف دې،او دَ دې تائيد د حديث نه هم كيږي چې جنتيان كله حساب كتاب نه فارغ شي او جنت دروازو ته راشي نو اول به كومې لرې ډيرې خطاګانې شوې وي هغې نه به پاک کړې شي او بيا به جنت ته داخل کړې شي (صحيح بخاري ، رقم الحديث: ٢۴۴٠)

(٣) دريم قول دا دې چې واؤ په وفتحت ابوابها كښې د پاره دَ حال دې او جمله حال واقع ده په تقدير دَ قد سره دَ جاؤواها ضمير مرفوع نه ، او جزاء محذوفه ده ،اي : دخلوها، مطلب به د آيت دا شي چې كله دوئ جنت طرف ته راشي نو دَ هغې دروازې به ورته د مخكښې نه كولاو وې نو دوئ به ورته بنه په عزت او اكرام سره داخل شي،

فائده : دې آيت او د جنت عدن مفتحة لهم الابواب تحت اكثر مفسرينو دا نكته ليكلې ده چې د جنتيانو دَ راتلو نه به مخكښې دَ دوئ اعزاز او اكرام دَ پاره به د جنت دروازې كولاو وې، خو په دې اشكال كيږي چې احاديثو نه خو معلوميږي چې جنت دروازې به بندې وې، دَ جنتيانو راتلو نه ورستې به كولاويږي ، لكه مسلم شريف حديث كښې راځي:انا اول من يقرع باب الجنة،چې دَ ټولو نه اول به ځه د جنت دروازه ټكوم، بل حديث كښې راځي: انا اول من ياخذ بحلقة باب الجنة فاقعقعها (صحيح ابن حبان: ٥١، مسند ابي يعلي: ٣٩٨٩) ټولو نه اول به ځه د جنت دروازې ،كنډه نيسم او هغه به ټكوم، او بل روايت كښې دي: انا اول من يفتح له باب الجنة(مسند ابي يعلي ۶۶٥١ مسند البزار: ٩٥٢٧)

دې كيفيت كتابونو كښې داسې مذكور دي چې جنتيان به د حساب كتاب نه فرغيدلو نه ورستو جنت طرف ته راشي، نو دهغې دروازې به بندې وي، نو دوئ به جنت دروازه كولاوولو دپاره الله تعالى ته به سفارش كښې نبى كريم صلى الله عليه وسلم پيش كړي ، الله جل جلاله به دا سفارش قبول كړي او جنت دروازې به ورته خلاصې كړي،(البعث والنشور للبيهقي: ۴۰۹)

نو دې ټولو احاديثو نه معلوميږي چې جنت دروازې به اول بندې وي ، ورستو به كولاويږي ،امام سخاوي رحمه الله په فتح القدير شرح الجامع الصغير (۱:۳۷)كښې په دې تفصيلي بحث كړې دې چې په هغې كښې دا درې جوابونه قابل ذكر دي:

(۱)فتح اواغلاق على الاطلاق نه دې بلكه بعضو دپاره به بندې وى او بعضو دپاره به خلاصې وى چه كوم جنتيان ئى چې به اول جنت ته داخليږى نوهغه وخت به دابندې وى اوكله چې دهغوئ دپاره خلاصى شى نو بيابه نه بنديږى اونورو راتلونكو جنتيانو دپاره به كولاو وى،چونكه نبى ﷺ اوفقراء مؤمنان به اول جنت ته داخليږى نوځكه په حديث كښې ددروازو بندې دلو ذكر دې،او آيت كښې ددوئ نه علاوه نورمؤمنان دى.

(۲)آيت كښې دروازو نه مراد دَجنت منازلو دروازى دى چې هغه به مخكښې نه كولاؤ وى،اواحاديث كښې دَجنت مركزى دروازو ذكر دې چې هغه به بندې وى.

(۳)بعضو علماؤ دې له ترجيح وركړې ده چې آيت نه دَدروازو مخكښې نه كولاوليدل بالكل نه معلوميږى ځكه چې"مفتحة" اسم مفعول صيغه ده حال يا استقبال معنى وركوى،او استقبال په صورت كښې خومعنى بالكل واضح ده چې آئنده به ورله كولاويږى،اوكه حال معنى واغستې شى نومطلب به داوى چې داخليدلو په وخت كښې به ورله دروازې كولاوى،دهغه شان "وفتحت ابوابها"نه هم دا ثابتيږى،ځكه چې واؤ حاليه نه دې بلكه عاطفه دې او "فتحت ابوابها"جزاء محذوفه باندې عطف دې،نو تقدير به داسې شى:حتى اذا جاؤها هلوبوا ونقوا و فتحت ابوابها،اومعنى به داسې شى چې كله دوئ جنت ته راورسيږى نو كومې لږې ډيرې خطاګانې دى هغې نه به پاک كړې شى اوجنت دروازې به ورته كولاؤ كړيشى (فيض القديرج۱ص۳۷،الكنزالثمين ج۱۲ص۳۲۳)

﴿وَقَالُوا ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى صَدَقَنَا وَعْدَهُۥ﴾مراددَوعدې نه دَبعث اودَاجروثواب وعده

ده، ﴿وَأَوْرَثَنَا ٱلْأَرْضَ﴾ الارض نه مراد زمكه دَجنت ده، او تعبير. ورنه په ميراث سره ځكه وشوچې ارث سبب قوي دَملك وي، ياپه ميراث كښ به ملاؤشوي وي دَاهلِ نارنه ﴿فَنِعْمَ أَجْرُ ٱلْعَـٰمِلِينَ﴾ ظاهره داده چې داكلام هم دَجنيانودې اومخصوص بالمدح محذوف دې چې الاجر يا الجنة دې، اى هذا الاجر (روح). بعضِ وائي چې داكلام دَالله تعالى دې،

﴿وَتَرَى ٱلْمَلَـٰٓئِكَةَ حَآفِّينَ﴾ پديكښ دَالله تعالى دَعظمت شان بل مظهر بيان دې چې قيامت په ورځ به فرشتي عرش الهى نه چاپيره وى اوتسبيح وتحميد كښ به مصروفه وى. ﴿حَآفِّينَ﴾ دحفَّ يحفّ حفًا نه مشتق دې پمعنىٰ دطواف كولو سره (كبير) ﴿مِنْ حَوْلِ ٱلْعَرْشِ﴾ من پكښ زائددې (روح) ﴿وَقُضِىَ بَيْنَهُم﴾ ضميرټولوبندګانوته راجع دې اى بين العباد كلّهم بادخال بعضهم الجنة وبعضهم النّار (روح) ﴿وَقِيلَ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَـٰلَمِينَ﴾ قائل مومنان دي، په ﴿وَقَالُوا۟ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى﴾ كښ حمدپه پوره كولودوعدي باندې وؤاودلته حمدپه حقِ فيصلې باندې دي نو تكرار نه راغې (روح).

ركوعاتها (۹)	سورة المومن مكية	آياتها (۸۵)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بيحده مهربان او ډير رحم كونكي دي شروع كوم	

ترتيبها حسب التسلسل (۴۰) وحسب النزول (۶۰)

نزلت بعدالزمر

دې سورة ته سورة غافرهم وئيلې كيږي،تسميه ددې سورة په مومن سره او په غافرسره ظاهره ده چې دا په آيت(۳)او په(۲۸)كښ ذكردى.

ددې سورة نه دَ حواميمُ سبعه ؤ(اوه حواميم)شروع كيږي.اودَحواميم سبعه فضائل په ډيرو رواياتو كښ راغلى دى:

په يوروايت كښ راغلي دي چې حواميم اوه(۷)دي اودَجهنم دروازې (طبقات) اوه(۷) دي: (۱)جهنم (۲)حطمة(۳)لظىٰ(۴)سعير(۵)سقر(۶)هاويه(۷)جحيم،څوك چې دااوواړه اوايمان پرې لري،نودَجهنم په هره دروازه به يو يو سورت دَ حواميمو نه ولاړ وي اوداسې به جهنم ته نه پريدى،(رواه البيهقي في شعب الايمان رقم ۲۲۵۰، واسناده منقطع)

دَابن عباس رضي الله عنه نه روايت دې چې،لكلّ شيءٍ لُبابٌ ولُبابُ القرآن الحواميم،چې دَهرڅه يوه خلاصه وي اودَقرآن خلاصه داوه(۷)سورتونه دى،

حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دې چې الحواميم ديباج القرآن ، حواميم د قرآن ديباچه ده(مستدرک حاكم: ۳۲۳۴) او حضرت سعد بن ابراهيم تابعي نه روايت دې چې حواميم عرائس القرآن دي

مفسرين فرمائي چې داسورة مومن دَحواميمُ لباب اوخلاصه ده،يعني داسورة لُبّ لُباب دې،اوددې سورة لباب اوخلاصه﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُوْنِيْٓ اَسْتَجِبْ لَكُمْ﴾ آيت: ۶۰دې،نودَټول قرآن خلاصه داده چې﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُوْنِيْٓ اَسْتَجِبْ لَكُمْ﴾ يعني تِن تنهاځمانه حاجتونه مرادونه غواړئ حاجتونومرادونوپوره كولوولاصرف څه يم.

ربط: ماقبل سورة زمرسره ئې ربط دوه طريقوسره دې.

ربط نامی اسمی په سورة زمرپه آخركښ ددوؤډلوذكراوشو .چې يوه ډله دجنت ده اوبله دجهنم ده.پدې سورة كښ دَدغه دوؤفرقوبيان كيږی په ذكركولودَرجل مؤمن چې دې جنتی وؤ .اودَالِ فرعون چې جهنمی وؤ يعني مسئله دَتوحيدئی چې اومنله نوهغه جنتی وؤاومسئله دَتوحيدئی چې اونه منله نوهغه جهنمي وؤ

ربط معنوی: په سورة زمركښ ذكرشوچې "فاعبدالله مخلصاله الدين"صرف دَالله تعالیٰ عبادت كوئ.نوپدې سورة كښ دَعبادت اهم فردچې دُعاء ده دَهغې ذكراوتفصيل دې چې﴿ وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي ﴾ دې.

دَسورة دَمضامينواجمالي خلاصه: دَسورة دوه حصې دی.اوله حصه دَابتداء نه تر ﴿هُوَ الْحَيُّ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَادْعُوهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ ۗ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴾آيت(۶۵)پورې،دويمه حصه دَ﴿قُلْ إِنِّي نُهِيتُ أَنْ ﴾آيت(۶۶)نه ترآخردسورة پورې،اوله حصه كښ اول تمهيدچې په ديكښ ترغيب ذكركيږ دعوة توحيدمنلوته په څلورو عنواناتوسره،بيادعوه دَسورة ذكركيږي درځلې.دعوة توحيد اودَهغې دَاثبات دپاره،يودليل وحي دوه نقلي دليلونه يونقلي تفصيلا.اوبل اجمالاًاودوه عقلي دليلونه.تخويفِ دنيوي تفصيلي نمونه ذكركيږي چې هلاكِ فرعون دې.دَثبوت قيامت دپاره يودليل انّي اوبل لمّي، حضورﷺ ته دوه ځلې تسلّي.دويمه حصّه كښ دَاولي حصې دَمضامينواعاده كيږي.

تفصيلي خلاصه:

اوله حصه:﴿ حمٓ ﴾ آيت(۱)نه تر﴿ فَالْحُكْمُ لِلَّهِ الْعَلِيِّ الْكَبِيرِ ﴾آيت (۱۲) پورې تمهيددې چې په څلوروعنواناتوباندې مشتمل دې:

(۱)﴿ تَنزِيلُ الْكِتَابِ ﴾ آيت(۲)نه تر﴿ إِلَيْهِ الْمَصِيرُ ﴿٣﴾ ﴾ آيت(۳)پورې

(۲)﴿ مَا يُجَادِلُ فِي آيَاتِ اللَّهِ ﴾ آيت:۴ نه تر﴿ أَنَّهُمْ أَصْحَابُ النَّارِ ﴾ آيت:۶ پورې

(۳) ﴿ الَّذِينَ يَحْمِلُونَ ﴾آيت:۷ نه تر﴿ وَذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿٩﴾ ﴾ آيت:۹

(۴)﴿ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا يُنَادَوْنَ ﴾ آيت: ۱۰ نه تر﴿ فَالْحُكْمُ لِلَّهِ الْعَلِيِّ الْكَبِيرِ ﴾ آيت:۱۲ پورې.

درې ځلې دعوه دسورة:

(۱)﴿ فَادْعُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ ﴾ آيت:۱۴

(۲) ﴿ وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِيٓ أَسْتَجِبْ ﴾ آيت: ۶۰

(۳) ﴿ هُوَ الْحَيُّ لَآ إِلٰهَ إِلَّا هُوَ ﴾ آيت: ۶۵

﴿ تَنزِيلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ ﴾ آيت: ۲ مسئله توحيد باندې دليل وحي دې

﴿ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوسَى الْهُدٰى ﴾ آيت: ۵۳ دليل نقلي دې تفصيلاً ازموسى عليه السلام.

﴿ وَبِمَآ اَرْسَلْنَا بِهٖ رُسُلَنَا ﴾ آيت: ۷۰ دليل نقلي اجمالاً.

﴿ اَللّٰهُ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الَّيْلَ ﴾ آيت: ۶۱ اول دليل عقلي دې

﴿ اَللّٰهُ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ ﴾ آيت: ۶۴ دويم دليل عقلي دې.

دويمه حصه:

﴿ قُلْ اِنِّيْ نُهِيْتُ اَنْ اَعْبُدَ ﴾ آيت: ۶۶ دليل وحي اعاده ده،

﴿ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِالْكِتٰبِ ﴾ آيت: ۷۰ دليل نقلي اعاده ده

﴿ هُوَ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِّنْ تُرَابٍ ﴾ آيت: ۶۷ اول دليلِ عقلي اعاده ده.

﴿ اَللّٰهُ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْاَنْعَامَ ﴾ آيت: ۷۹ دويم دليل عقلي اعاده ده.

﴿ اَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوا ﴾ آيت: ۸۲ دتخويف دنيوي اعاده ده

حٰمٓ ① تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ② غَافِرِ الذَّنْبِ

الله تعالى عالم دې په مراد د دې، دا كتاب نازل كړې شويدې دطرفه دالله تعالى نه چه غالب دې عالم دې، بخښونكې دې دگناه

وَقَابِلِ التَّوْبِ شَدِيْدِ الْعِقَابِ ذِي الطَّوْلِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ اِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ③

او قبلونكې دتوبې دې، سخت عذاب وركونكې دې، طاقت والا دې، نشته دې بل معبود سوا د ده نه. هم ده طرف ته دې واپس كيدل

﴿ حم ﴾ دا حروفِ مقطعات دى، علم ئى مفوض دې الله تعالى ته. نه ئى معنى لغوي معلومه ده اونه ترينه مراد معلوم دې جزمًا، لكه دسورة بقره په شروع كښې تير شويدې (ج ۱ ص ۸۲) بعض حضرات مفسرين فرمائى چې دا نوم دې دنومونو دالله تعالى نه، ابن عباس رضي الله عنه فرمائى: حمٓ اسم الله الاعظم (قرطبي) چې حم اسم اعظم دالله تعالى دې، چاويلي دى چې اسمٌ من اسماء القرآن بعض فرمائى چې ح كښې نومونو دالله تعالى: حميدٌ، حليم، حكيمٌ ته اشاره ده او په ميم كښې، مالكٌ، مجيدٌ.

مثانٌ وغيره ته اشاره ده راجع قول دا دې چې دا حروف د پاره د تحدي دي چې قرآن دې حروفو نه جوړ دي او دې باوجود تاسو داسې كلام راوړلو نه عاجز يئ نو پوهه شئ چې دا د الله جل جلاله له طرفه دې

﴿تَنزِيلُ ٱلْكِتَٰبِ مِنَ ٱللَّهِ﴾ **دا تمهيد مع ترغيب دي** مسئله دتوحيد منلو ته.چې په څلورو عنواناتو مشتمل دې.دا اول عنوان دې.او دا دليل وحي هم دې،چې دا قرآن دعزيزاوعليم ذات دطرفه دې نو پديكښې مسئله دتوحيد هم دالله ﷻ طرفه ده نو دا اومنئ.

پدې عنوان كښې ترغيب دې په قرآنٔ باندې د ايمان راوړلو د الله جل جلاله **شپږو صفاتو** بيان سره ﴿ٱلْعَزِيزِ﴾دا **اول صفت دې** چې الله جل جلاله عزت والا دې او عزت په درې **قسمه دې**. (۱)عزة القهر: چې په هر څه غالب دې (۲)عزة القدر : يعني جاه وشرافت والا ذي (۳) عزة الامتناع: چې هر عيب او نقصان نه پاك دې يعني داسې عزت والا ذات دا قرآن نازل كړې دې نو دا اومنئ او ديكښې چې كومه مسئله توحيد ذكر ده هغې باندې ايمان راوړئ.

﴿ٱلْعَلِيمِ﴾ **دويم صفت دې** . العليم مبالغه ده په علم كښې،يعني داسې ذات چې هغه سره ماضي ، حال او استقبال دَ هرې زمانې علم دې ، دَ هغه علم ازلي هم دې او ابدي هم دې. نه وربانډې نسيان راځي او نه وربانډې ذهول طاري كيږي ، نو هغه دا قرآن نازل كړې دې **لهذا** په دې ايمان راوړئ. ﴿غَافِرِ ٱلذَّنۢبِ﴾ **دريم صفت دې** چې الله جل جلاله ګناه بخونكې ذات دې ، ايمان راوړئ الله جل جلاله به درله ګناهونه معاف كړي﴿وَقَابِلِ ٱلتَّوْبِ﴾ **څلورم صفت دې** چې الله جل جلاله توبه قبلونكې ذات دې چې انسان ورته يو ځل په ندامت سره متوجه شي نو هغه ورله ګناهونه معاف كړي ، **لهذا** كه هر څومره ګناهونه خو كړي وي الله جل جلاله ته متوجه شئ ، هغه به درله معاف كړي ﴿ٱلتَّوْبِ﴾مصدر دې،پمعنىٔ دَرجوع سره،شپږو اوصافو كښې صرف دې دوّو صفاتو په مينځ كښې واؤ حرف عطف ذكر شو نورو كښې نشته ، دَ دې مفسرينو څو توجيهات بيان كړي دي.

(۱) پديكښې اشاره ده ديته چې الله تعالى توبه كونكى دپاره دَدوؤرحمتونوجمع كونكې دي.يو ورله ګناه محو كول ، ګويا چې ده بالكل ګناه نه ده كړې. كقوله عليه السلام: التائب من الذنب كمن لا ذنب له ،او بل ورله توبې په وجه نيكي ليكل.

(۲)یا چونکه به ظاهر دا دواړه صفتونه متحد ښکاري نو دې سوهم ازالې دَ پاره په مینځ کښې "واؤ" ذکر شو چې دې دواړو صفتونو کښې فرق او تغائر دې. او مفسرینو یو څو فرقونه دې دواړو صفتونو کښې ظاهر کړي دي :**یودا** چې غافر الذنب کښې بغیر د توبې نه گناه معاف کولو ته اشاره ده او قابل التوب کښې توبې په ذریعې گناه معاف کولو ته اشاره ده، **دویم دا** چې غافر الذنب معني دا ده چې تیرشوی گناهونو لره بخونکې دې اودَ ﴿وَقَابِلِ ٱلتَّوۡبِ﴾ معنیٰ داده چې په آئنده کښې هم توبه قبلونکې دې(ابن کثیر)**دریم دا** چې غافردبقاء الذنب په صورت کښې وي اگرچه بخنه شوي وي،اودَقبول دَتوبې په صورت کښې بقاء الذنب نه وي کما في الحديث:التائبُ من الذنبِ كمن لاذنبَ له.

﴿شَدِيدِ ٱلۡعِقَابِ﴾ دا **پنځم صفت** دې،یعني څوک ئې چې احکاماتو نه اعراض کوي هغه له سخت عذاب ورکونکې دې ، لهذا په دې قرآن او مسئله توحید باندې ایمان راوړئ او د عذاب نه ځان بچ کړئ،

فائده:غافرالذنب، قابل التّوب، شدیدُالعقاب،دریې واړه صیغې دَصفت دی اوپه دریې واړو کښې اضافت دَصفت شویدې معمول ته اواضافت دَصفت چې معمول خپل ته اوشي نو دا اضافتِ لفظیه او اضافتِ غیرِمحضه وي،اوداسې اضافت تعریف نه فائده کوي(یعني دمعرفي صفت نشي جوړیدې)نودلته د اسم جلاله په﴿تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ مِنَ ٱللَّهِ﴾کښې چې اعراف المعارف دې،دپاره دادرې واړه صفات څرنگه گرځي؟

دکوفیانوپه مذهب کښې پدیکښې هیڅ اشکال نشته دې ځکه چې دَدوئ په نزداضافتِ غیرمحضه دَمعرفې صفت واقع کیدیشی لکه: مررت بزید حسن الوجه،البته د بصریانو په مذهب دا مسئله قابل اشکال ده ؛ځکه چې د هغوئ په نیز اضافتِ لفظیه په صورت کښې مضاف د معرفې صفت نشي واقع کیدې ، دَ دوئ مذهب مطابق هم د غافر او قابل نه جواب کول آسان دي، ځکه چې دا دواړه صیغې د اسم فاعل دي او اسم فاعل چې کله حال یا استقبال په معني کښې وي او اضافت ئې خپل معمول طرف ته شوې وي نو بیا اضافت ، اضافتِ لفظیه وي لیکن که حال او استقبال په معني کښې نه وي نو بیا اضافتِ غیر لفظیه وي او تعریف فائده ورکوي، نو دلته هم اسم فاعل پمعنی دَ حال او استقبال سره ندې اغستې شوې بلکه دَثبوت اواستمرارپه معنی سره دې،لهذا دَ دې صفت واقع کیدل بالکل صحیح

دي. البته د شديد العقاب صفت واقع کيدل قابل غور دي د دوئ مذهب مطابق ،ځکه چې شديد صيغه د صفت مشبه ده او دَ دې اضافت چې کله خپل معمول ته اوشي نو دا بيا علي الاطلاق اضافت لفظيه وي او تعريف فائده بالکل نه ورکوي، زجاج رحمه الله دَ دې حل دا پيش کړې دې چې شديد بدل دې او صفت نه دې ، خو چې ديته اوکتلې شي چې دينه مخکښې او ورستو ټول صفات دي نو دَ دې جواب صفاکمزوئ واضحه شي .بعضو چې ديته کتلي دي نو هغوئ دې شپږو واړو صفاتو باندې د بدل اطلاق کولو ته مجبوره شوي دي ليکن يو مبدل منه دپاره متعدد بدل واقع کيدل دا هم چرته کلام کښې معروف نه دي لهذا آخري کوشش دَ حل دَ بصريانو په مذهب مطابق دا شوې دې چې شديد پمعني د مشدد اسم فاعل سره دې ، او اسم فاعل د پاره د ثبوت او استمرار دې . نو دا هم اضافت معنويه محضه اوګرځيدو لهذا صفت ئي واقع کيدل صحيح دي (وکلام الكوفيين خال عن هذه التكلفات و التاويلات البعيدة)

﴿ذِى ٱلطَّوۡلِۖ﴾ دا شپږم صفت دې چې الله جل جلاله زبردست قدرت او طاقت والادې که نافرماني ئي کوئ نو بيا ترينه بچ کيدې نشئ(الطول)قدرت ته وئيلې کيږي او ځنې مفسرينو ترينه دلته مالي قدرت او وسعت مراد اغستې دې چې هغه غنا ده يعني الله جل جلاله غني ذات دې ،په تاسو فضل واحسان کوي نو دَ دې تقاضه هم دا ده چې تاسو پرې ايمان راوړئ،

﴿لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ﴾ دا هم ترغيب دې چې الله جل جلاله هغه ذات دې چې هغه نه ما سوا بل ځوک اله او معبود نشته چې تاسو دهغه حکم نامه اومنئ ، لهذا په قرآن باندې ايمان راوړئ او مسئله توحيد اومنئ ، دَ حضرت شيخ حسين علي رحمه الله په نيز دا جمله هم صفت ده د پاره اسم جلاله ، خو په دې اشکال کيږي چې جمله خو نکره په حکم کښې وي نو بيا دا ځنګه د اعرف المعارف دپاره صفت ګرځيدې شي؟هغوئ د دې جواب دا کړې دې چې کله د جملې مضمون منحصر وي په موصوف معرفه کښې نو بيا جمله د معرفې صفت واقع کيدې شي ، نو د «لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ» مضمون هم منحصر دې په اسم جلاله کښې ، نو دې وجهې نه ورله صفت واقع کيدې شي، نورو مفسرينو دا جمله مستانفه يا حاليه ګرځولې ده

﴿إِلَيۡهِ ٱلۡمَصِيرُ﴾ حضرت شيخ حسين علي رحمه الله په نيز دا جمله هم صفت ده د پاره د اسم جلاله ، او ترغيب دې قرآن منلو ته، چې ستاسو پيشي به صرف او صرف الله جل جلاله ته کيږي ، د الله جل جلاله نه ما سوا بل داسې ذات نشته چې هغه ته تاسو رجوع اوکړئ ، يا هغه تاسو د عذاب نه بچ کړي [illegible] حکم نامه اومنئ [illegible]

مَا يُجَادِلُ فِيٓ اٰيٰتِ اللّٰهِ إِلَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَلَا يَغْرُرْكَ

جګړه نه کوي په آياتونودالله تعالى کښې مګرهغه کسان چې کفر ئي کړې دې عناداً .نونه دې کړي دهوکه تالره

تَقَلُّبُهُمْ فِي الْبِلَادِ ۞ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوْحٍ وَّالْأَحْزَابُ مِنْۢ بَعْدِهِمْ

ګرځيدل دَدوئ په ښارونوکښې.تکذيب کړې وؤمخکښې دَدوئ نه قوم دَنوح عليه السلام اونوروقومونو ورستودَدوئ نه.

وَهَمَّتْ كُلُّ أُمَّةٍ بِرَسُوْلِهِمْ لِيَأْخُذُوْهُ وَجٰدَلُوْا بِالْبَاطِلِ

اوقصدکړې وؤهريواُمَت په پيغمبرخپل پورې چې اونيسي هغه اوجګړه کوله دوئ پيغمبرسره په باطله سره.

لِيُدْحِضُوْا بِهِ الْحَقَّ فَأَخَذْتُهُمْ فَكَيْفَ كَانَ عِقَابِ ۞

دَپاره ددې چې مغلوبه کړي پدې سره حق.نوونيول ماهغوئ.نوڅنګه وؤعذاب زما.

﴿مَا يُجَادِلُ﴾ داپه دويم عنوان سره ترغيب ذکرکيږي قرآن اومسئله توحيد منلو ته،چې الله جل جلاله آياتونه بالکل واضحه دي، ديکښې هيڅ قسم ابهام او شبه نشته .لهذا تاسو ديکښې بحث مباحثه او ضد وعناد دوجهې نه ترې انکار مه کوئ . کچرې ضد کوئ نو بيا انجام اوګورئ دَ هغه قومونو چې دَ خپل رسولانو مخالفت ئي ضد وعناد دَ وجهې نه کړې وو .﴿فِيٓ اٰيٰتِ اللّٰهِ﴾ مجادله في الايات نه مراد هر هغه کار دې چې هغه په قرآن کريم کښې د شکوکو او شبهاتو پيدا کولو باعث ګرځي، لکه دا وئيل چې دا سحر دې . شعر و شاعري ده ، دَ دې مضامينو تعارض دې ، دې احکامات عدل باندې مبني نه دي، يا لکه نن صبا مزاج مطابق دا وئيل چې دې دير احکامات سائنسي تحقيقاتو خلاف دي، په آيت کريمه کښې هم ديته کفراوويلې شواوپه حديث مرفوع کښې هم ديته کفرويلې شويدى،انّ جدالاً في القرآن كفرٌ(کبير،روح وغيره)اوهرچه دې دَمبهم کلام تحقيق کول يادَيوآيت نه دَ حضراتو مجتهدينو استنباط اوپه هغې کښې بحث وتحقيق کول، نو داپديکښې ندى داخل بلکه هغه خوکارثواب اواعظم جهادفى سبيل الله دې (روح، قرطبي وغيره).

﴿إِلَّا الَّذِينَ كَفَرُوا﴾ دکفر نه مراد دلته کفر عنادي دي . يعني دې احکام دومره او دلائل دومره مضبوط دی چې څوک پکښې بحث مباحثه نه کوي سوا د هغه کسانو نه چې د ضد د وجهې نه حق نه انکار کوي.

داپه شروع کښې په دوؤوجهوسره ترغيب ذکرشوتوحيدطرف ته،اوپه دوؤوجهوسره به ورستوذکرکيږي،په درميان کښې دَاصلاح منکرينُ دپاره درې طريقې ذکرکيږي

﴿فَلَا يَغْرُرْكَ تَقَلُّبُهُمْ فِي الْبِلَادِ﴾ دا اوله طريقه ده دَاصلاحِ منکرينو .يعني منکرينو سره کوم مال و دولت او کر و فر دي . کله يو ځائ ته دروميي کله بل ځائ ته . دا د دنيا زندګئ حقير سامان دې . نه ئي څه پائيداري شته او نه به په آخرت کښې پکار راځي. چرته دا رنګ رنګينئ تاسو د الله جل جلاله نه غافله نه کړي . «فلا يغررک» کښې خطاب عام دې هر مخاطب ته . «تقلّب» بدليدو رابدليدو او اړيدو رااړيدو ته وائي . او «تقلب في البلاد» کنايه ده د عيش وعشرت نه چې نن په يو عيش کښې سی صباپه بل کښې .

﴿كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ﴾ دادويمه طريقه ده دَاصلاح چې عذاب دنيادې چې کچرته دا مشرکين مکه د نبي کريم صلي الله عليه وسلم مخالفت نه منع نشول نو دوئ باندې به هغه شان عذاب راشي لکه چې دوئ نه مخکښې کومو امتونو تکذيب کړې وو په هغوئ راغلې وو، او دعذاب دنيوي درې اسباب دي:اول: تکذيب رسل ، دويم : توهين رسل او دريم : جدال بالباطل ﴿كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ﴾ دا اول سبب دې ﴿وَالْأَحْزَابُ﴾ جمع دَحزب ده،ډلې ته وائي . او مراد ترينه قوم ثمود او عاد وغيره دي ،﴿وَهَمَّتْ كُلُّ أُمَّةٍ﴾ دا دويم سبب دې چې توهين رسل دې ، ﴿بِرَسُولِهِمْ﴾ ضمير مجرور "هم" راجع دې امت ته باعتبار معني ﴿لِيَأْخُذُوهُ﴾ "اخذ" دلته کنايه ده د تمکن يعني قابو کښې راوستلو نه ، يعني دا ئي اوغوختلو چې رسولان خپل ګرفت کښې راولو چې بيا ورسره څه کول غواړو هغه اوکړو ، که قتل کول ئي اوغواړو نو قتل ئي کړو ، که قيد کول ئي اوغواړو نو قيد ئي کړو او که نور څه تکليف ورته رسول غواړو هغه ورته اورسو. نوددې نه معلوميږي چې اهلُ الله اواولياء الله ته تکليف رسول اودَهغوئ بې ادبي کول سبب دَعذاب الهی ګرځي، کقوله ﷺ:من اذاني ولیّافقداذنته بالحرب.

شعر:

بې ادب تنها نه خود را داشت بد بلکه آتش در همه آفاق زد

از خدا خوا هی توفیق ادب بی ادب محروم گشت ازفضل رب

﴿وَجَٰدَلُوا۟ بِٱلْبَٰطِلِ﴾دا دريم سبب دي . دَ عذاب دنيا راتلو باء په «بِٱلْبَٰطِلِ» كښې د پاره د ملابست ده ، اي : متلبسين بالباطل ، يعني باوجود د دينه چې دوئ په ناحقه وو خو بيا د رسولانو سره بحث مباحثه كوله.﴿لِيُدْحِضُوا۟ بِهِ ٱلْحَقَّ﴾ ديكښې د مجادلې مقصد بيانيږي ، چې دوئ مقصد د مجادلې نه حق طلب كول نه وو بلكه حق نه انكار او د هغې ختمول وو. «يدحضوا» مشتق دي د "دحض" نه ، خوئيدلو ته وائي او "ادحاض" بل خوئيولو ته وائي او دلته ترينه مراد د حق خاتمه او ازاله ده، ﴿فَكَيْفَ كَانَ عِقَابِ﴾په اصل كښې عقابي دي.

وَكَذَٰلِكَ حَقَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ أَنَّهُمْ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ۝٦

اودغه شان ثابت(پوره)شويدې حكم دَرب ستاپه هغه كسانوچه كافران دى.چې بيشكه دوئ خاوندان دَاُوردى.

ٱلَّذِينَ يَحْمِلُونَ ٱلْعَرْشَ وَمَنْ حَوْلَهُۥ يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ

هغه فرشتې چه پورته كونكى دَعرشِ الهى دى اوهغه چه چاپيره دى دَعرش نه.تسبيح كوى دَحمددَرب خپل سره،

وَيُؤْمِنُونَ بِهِۦ وَيَسْتَغْفِرُونَ لِلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ رَبَّنَا

اوايمان راوړى په الله،اوبخښنه غواړي دَپاره دَهغه كسانوچه ايمان ئې راوړې دې،(وائې)اې ربه زمونږه

وَسِعْتَ كُلَّ شَىْءٍ رَّحْمَةً وَعِلْمًا فَٱغْفِرْ لِلَّذِينَ تَابُوا۟

وسيع(رسيدلي)دې هرخيزته ستارحمت اوعلم،نومغفرت وكړه هغه خلقوته چه توبه ئې كړى وى دَشرك نه،

وَٱتَّبَعُوا۟ سَبِيلَكَ وَقِهِمْ عَذَابَ ٱلْجَحِيمِ ۝٧ رَبَّنَا وَأَدْخِلْهُمْ

اواِتباع ئې كړې وى ستادَ لارې اووساتې دوئ عذاب دَجهنم نداي ربه زمونږه! اوداخل كړې دوئ

جَنَّٰتِ عَدْنٍ ٱلَّتِى وَعَدتَّهُمْ وَمَن صَلَحَ مِنْ ءَابَآئِهِمْ وَأَزْوَٰجِهِمْ

هغه جنّتِ عدن ته چې وعده كړيده تادَدوئ سره،اوهغه څوك چې ايمان ئې راوړې دې دَپلارانودَدوئ اودَبيبيانودَدوئ نه

وَذُرِّيَّتِهِمْ إِنَّكَ أَنتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٨﴾ وَقِهِمُ السَّيِّئَاتِ وَمَن تَقِ

او د اولاد ددوئ نه. بیشکه صرف ته غالب ئې حکمتونو والائې او وساتې دوئ د عذابونو نه. او هغه څوك چه ته ئې وساتې

السَّيِّئَاتِ يَوْمَئِذٍ فَقَدْ رَحِمْتَهُ وَذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿٩﴾

د عذابونو نه په دغه ورځ نو په تحقيق سره تا په هغه رحم وكړو. او صرف دا كاميابي لويه ده

﴿وَكَذَٰلِكَ حَقَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ﴾ دا دريمه طريقه د اصلاح ده چې منكرينو ته صرف دنيوي عذاب باندې اكتفا نه كيږي بلكه آخرت كښې به هم دوئ ته عذاب ميلاويږي او هميشه د پاره به جهنم كښې وي، ﴿وَكَذَٰلِكَ﴾ په باره كښې مشهور درې قوله دي : (١) حضرت شيخ حسين علي رحمه الله په نيز "كاف" په معنې د لام تعليليه سره دې ، اي لذلك او مشاراليه ئې جدال بالباطل ده ،يعني ناحقه مجادلې په وجه الله جل جلاله د ابدي عذاب فيصله په دوئ ثابته شوه چې دوئ به هميشه په جهنم كښې وي. (٢) "كاف" د پاره د تشبيه دې او مشبه به ورله استحقاق د عذاب دنيوي دې ، يعني څنګه چې دوئ د دنيوي عذاب مستحق اوګرځيدو نو دغه شان د اخروي عذاب مستحق هم اوګرځيدو ، (٣) "كاف" د پاره د تشبيه دې ، خو مشبه به ورله په خپله د "حقت كلمة ربك" مضمون دې او مقصود ترينه مبالغه ده ، يعني دومره لوئ سزا كچرې تشبيه وركول غواړو نو د خپل ذات نه ماسوا بل څه سره ورله تشبيه هم نشو وركولې.

﴿أَنَّهُمْ أَصْحَابُ النَّارِ﴾ بدل دې د «كَلِمَتُ رَبِّكَ» نه، يا علت دې د ماقبل حكم ، او لام تعليليه محذوف دې اى لانهم اصحابُ النّار.

﴿الَّذِينَ يَحْمِلُونَ الْعَرْشَ﴾ دا په دريم عنوان سره ترغيب دې توحيدته. چې دامسئله د توحيد اومنئ كه دامُوا ومنله نو حملة العرش چې د الله ﷻ مقرّب فرشتې دى هغه درته دامذكوره دعاګانې كوي. ﴿يَحْمِلُونَ الْعَرْشَ﴾ نه مراد هغه فرشتې دى چې حاملان(پورته كونكى) د عرش الهى دى چې تعداد ئى اوس څلور دې او په ورځ د قيامت به اته(٨) وي، لقوله تعالى "ويحمل عرشَ ربّك فوقهم يومئذٍ ثمانية" او تخصيص د دې فرشتو څكه اوشو چې دوئ مقربّ او لوئ شان والا دى.

﴿وَمَنْ حَوْلَهُ﴾ عطف دې په "الذين" باندې اى والّذين حوله.ددې نه مرادهم فرشتې دى چې حتماً تعداد ئې چاته نه دې معلوم الاّالله،﴿يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ﴾ خبر دې د پاره د مبتدا او جمله فعليه د پاره د تجدد او تكرار ده،

﴿وَيُؤْمِنُونَ بِهِ﴾ اى بالله،يعني دافرشتې ايمان راوړي په الله ﷻ باندې كه څوك اشكال وكړي چې څه فائده ده په قول دَالله تعالى كښې چې﴿وَيُؤْمِنُونَ بِهِ﴾ ځكه چې حملة العرش اوحول العرش فرشتې چې تسبيح دَالله ﷻ كوي ظاهره ده چې مؤمنانى دى؟ جواب(١)صاحب دروح المعانى وائى چې پدې باندې ئى تصريح اوكړه دپاره دَاظهاردفضيلت دايمان اوداهل ايمان(٢)صاحب دكشاف علامه زمخشري رحمه الله پديكښې ډيره احسنه نكته ذكركړيده.امام رازي رحمه الله ددې باره كښې فرمائى چې رحم الله صاحب كشافٍ فلولم يحصل فى كتابه الاّهذه النكتة لكفاهُ فخراً وشرفاً هغه داچې پديكښې اشعاردې پدې چې حملة العرش اوسكان الفرش برابردى په ايمان بالغيب كښې ځكه چې ايمان تصديق قلبى ته وئيلى كيږي بغير دَ رؤية نه.نوكچرې «وَيُؤْمِنُونَ »ئى نه وي نوداوهم به كيدلي چې تسبيح دَدوئ په مشاهدې دَالله تعالى سره ده،اوداكمالِ مدحه نده،بلكه كمالِ مدحه داده چې بغيردَمشاهدي نه اطاعت،عبادت اوشي.

﴿وَيَسْتَغْفِرُونَ﴾دا جمله عطف ده په خبر «يسبحون» باندې ، اصل مقصود د خبر نه دا جمله ده او ماقبل دوه جملې «يسبحون» او« يؤمنون» بطور تمهيد ذكر شوې، چې دا استغفار دوئ د پاره داسې فرشتې كوي چې هغوئ په الله جل جلاله ايمان راوړي او هر وخت د هغه حمد وثنا كښې لګياوي او داسې شان والا فرشتو دعاګانې زياتې قبوليږي.او څلور دعاګانې دي : (١) فاغفر للذين تابوا، (٢) قهم عذاب الجحيم ، (٣) ربنا وادخلهم ، (۴) قهم السيئات،

﴿رَبَّنَا وَسِعْتَ كُلَّ شَيْءٍ﴾دا تفسير دې د ماقبل ﴿وَيَسْتَغْفِرُونَ﴾.او تمهيد دې دپاره د مابعد او تعليم دې د دې خبرې چې دعا نه مخكښې د الله جل جلاله صفاتو سره وسيله نيول پكار ده

﴿رَحْمَةً وَعِلْمًا﴾منصوب دى بناء برتميزاصل دَعبارة داسې دې چې وسعت رحمتكَ وعلمكَ كلَّ شيئٍ يعني وسيع دې رحم ستاوعلم ستا هرڅيزته، تحويل اوشوذات دَالله ﷻ ته،دپاره دَ

مُبالغي په وسعت دَرحم اودَعلم داللهﷻکښې ګويا چې ذات د الله جل جلاله عين رحمت او علم اوګرځولې شو.

﴿ فَاغْفِرْ لِلَّذِينَ تَابُوا ﴾ دااوله دعا ده دالله جل جلاله په دؤو صفاتو وسعت رحمت اووسعت علم باندې . وسعت رحمت باندې متفرع کول بالکل ظاهره خبره ده ځکه چې رحمت الهي سبب او وسيله ده د مغفرت . البته وسعت علم خو سبب د مغفرت نه دې نو بيا پرې څنګه مغفرت متفرع کړې شو ؟نو مفسرينو د دې متعدد توجيهات ليکلي دي:

(۱) شيخ عبد الحق حقاني رحمه الله فرمائي چې دا محض د عاجزئ او حاجت مندئ اظهار د پاره ذکر دې چې اې الله ! ته زمونږ په ضعف او حوائجو باندې ښه خبر ئې مونږ د مغفرت ډير محتاجه يو ستا د عذاب برداشت طاقت نه لرو ته مونږ معاف کړې.(تفسيرحقاني بتغيير)

(۲)ابن عاشور رحمه الله په خپل تفسير التحرير والتنوير کښې دا توجيه ليکلې ده چې وسعت علم تعلق توبې او ايمان سره دې او وسعت رحمت تعلق مغفرت سره دې . نو ګويا دا فرښتې په دې شان دعا غواړي : اې الله ! ستا علم وسيع دې ،تا ته د هغوئ ايمان او توبې علم دې او ستا رحمت وسيع دې ته د توبه کونکو او مؤمنانو مغفرت کوې لهذا دَ دوئ مغفرت اوکړه . ﴿وَاتَّبَعُوا سَبِيلَكَ﴾ اى دين الاسلام(قرطبى)

﴿ وَقِهِمْ عَذَابَ الْجَحِيمِ ﴾دادويمه دُعا ده تاکيداومبالغه ده دَيستغفرون يعني داسې مغفرت ورته اوکړه چې دَجهنم نه محفوظ شي

﴿ رَبَّنَا وَأَدْخِلْهُمْ ﴾دريمه دُعا ده مؤمنانودپاره چې اې الله ! ته دوئ هم جنت ته داخل کړې او د دوئ مؤمنان مور ، پلار ، بيبيانې او او اولاد ورسره هم جنت ته داخل کړې ﴿وَعَدْتَهُمْ﴾ اى دخولها، يعني چې تاورسره دَجنت ته دَداخليدلووعده کړيده. ﴿وَمَنْ صَلَحَ﴾ عطف دې په ضمير منصوب دَ ﴿وَأَدْخِلْهُمْ﴾ اى و ادخِل معهم هؤلاء،دا دُعا ورته دَسرور کامل دپاره کوي. مراد دَ ﴿ وَمَنْ صَلَحَ ﴾نه اهل ايمان دى﴿ مِنْ آبَائِهِمْ ﴾اباء ذکرتغليباً شويدي امّهات هم پکښې داخل دى . لکه په سورة الرعد (آيت:۲۲) کښې تير شويدي.

﴿اِنَّكَ اَنۡتَ الۡعَزِيۡزُ الۡحَكِيۡمُ﴾ تعليل دي دَماقبل، چې ته قادرئې په مغفرت ددوئ باندې. او حكيم ئې نو هريوته مناسب درجه وركوي دَخپل حكمت او مصلحت په بناء باندې.

﴿ وَقِهِمُ السَّيِّاٰتِ﴾ دا څلورمه دُعا ده، ﴿السَّيِّاٰتِ﴾ نه مراد معاصي دي . يعني اې الله ! ته ئې د ګناهونو نه اوساته ، ځکه چې عذاب سبب خو دغه ګناهونه دي. نو څوک چې دينه ستا په فضل سره بچ شو نو هغه حقيقت كښې ستا د رحمت مورد او ګرځيدو او لويه كاميابي ورته حاصله شوه او «يَوۡمَئِذٍ» نه مراد دې دنيا زندګي ده او يا ﴿السَّيِّاٰتِ﴾ نه مراد مطلقاً عقوبت او عذاب دي خواه هغه دنيوي وي او كه اخروي ، نو تعميم بعد التخصيص شو . په ﴿وَقِهِمۡ عَذَابَ الۡجَحِيۡمِ﴾ كښې صرف د اخروي عذاب نه پناه غوختلو ذكر وو او په ديكښې ورله دنيوي او اخروي دواړه قسم عذابونو نه پناه غوختلو ذكر دې.

اِنَّ	الَّذِيۡنَ	كَفَرُوۡا	يُنَادَوۡنَ	لَمَقۡتُ	اللّٰهِ	اَكۡبَرُ	
بيشكه هغه كسان چه كفرئې كړيدې دوئ ته به دقيامت په ورځ آوازكيديشي چې غصه دالله تعالى تاسوته زياته ده							
مِنۡ	مَّقۡتِكُمۡ	اَنۡفُسَكُمۡ	اِذۡ	تُدۡعَوۡنَ	اِلَى	الۡاِيۡمَانِ	فَتَكۡفُرُوۡنَ ۝
دَغصې	ستاسونه	خپل	ځانونوته ځكه	چه تاسو	رابللى كيدئ	ايمان ته	نوتاسوبه كفركوئ
قَالُوۡا	رَبَّنَاۤ	اَمَتَّنَا	اثۡنَتَيۡنِ	وَاَحۡيَيۡتَنَا	اثۡنَتَيۡنِ	فَاعۡتَرَفۡنَا	بِذُنُوۡبِنَا
وائي به دوئ اې ربه زمونږمړه دې كړمونږدوه ځله اوژوندى دې كړو دوه ځله نواقراركوومونږبه ګناهونوخپلو							
فَهَلۡ اِلٰى خُرُوۡجٍ	مِّنۡ سَبِيۡلٍ ۝	ذٰلِكُمۡ بِاَنَّهٗۤ	اِذَا دُعِىَ اللّٰهُ	وَحۡدَهٗ	كَفَرۡتُمۡ		
نوآياشته دې وتلو ځه لاره.داددې وجه نه چه هركله به چې بللې شوالله ﷻ يواځې نوتاسوبه كفركوئ،							
وَاِنۡ	يُّشۡرَكۡ	بِهٖ	تُؤۡمِنُوۡا	فَالۡحُكۡمُ	لِلّٰهِ	الۡعَلِيِّ	الۡكَبِيۡرِ ۝
اوكچرې شرك به كيدوشودالله ﷻ سره نوتاسوبه په هغې يقين كولو ،نوحكم الله لره دې چې دير برتر او لوئ ذات دې							

﴿اِنَّ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا يُنَادَوۡنَ﴾ دا په څلورم عنوان سره ترهيب دې توحيد ته،چې دامسئله دَتوحيداومنئ كچرې داموا ونه منله نوپه آخرت كښې به دَغضب الهي موردينئ.﴿ لَمَقۡتُ اللّٰهِ ﴾

مقت سخت بغض ته وئيلې کيږي . نسبت چې ئې الله جل جلاله ته اوشي نو مراد ورنه ډير ناراضګي وي﴿ إِذْ تُدْعَوْنَ ﴾ ”اذ“ تعليليه دې علت دې د ﴿ أَكْبَرُ مِن مَّقْتِكُمْ أَنفُسَكُمْ ﴾ او زمانه د ”مقت“ آخرت ده، نو مطلب دا دې چې قيامت په ورځ په کافرنو ته اووئيلې شي چې نن ورځ تاسو له په ځان ځومره غصه درځي نو د الله جل جلاله ناراضګي او غصه په تاسو دَ دينه زياته ده، ځکه چې تاسو دينا کښې بار بار ايمان طرف ته بللې کيدلئ خو تاسو ايمان نه راوړلو . او يا ”اذ“ تعليل دې دَ﴿ مَّقْتِكُمْ أَنفُسَكُمْ ﴾ يعني نن ورځ تاسو ځکه ځان ته غصه يئ چې دنيا کښې تاسو بار بار ايمان طرف بللې کيدلئ خو ايمان مو نه راوړلو . او يا اذ ظرفيه دې متعلق دې د لمقت الله سره ، او د مقت الله زمانه جدا او مقتکم انفسکم زمانه جدا ده ، ﴿ لَمَقْتُ اللَّهِ ﴾ نه مراد په د نيا کښې په احکاماتو نه منلو د الله جل جلاله ناراضګي او غصه ده او ﴿ مَّقْتِكُمْ أَنفُسَكُمْ ﴾ نه مراد په آخرت کښې د کافرانو په خپلو ځانونو غصه ده،حاصل دادې چې دَقيامت په ورځ چې کله کافران دَجهنم دَعذابونومشاهده اوکړي نوډيربه غصه وي نوفرشتې به ورته اووائی چې نن چې تاسوځومره غصه يئ نوددې نه زيات الله ﷻ تاسوته په دنياکښې غصه وؤکله به چې تاسوته دعوت درکړې شود توحيد اوتاسوبه انکارکولو ،بعضِ حضرات فرمائی چې دَ﴿ مَّقْتِكُمْ أَنفُسَكُمْ ﴾ نه مرادمقتُ بعضهم بعضًادې لکه يلعن بعضکم بعضًا (عنکبوت) کښې تيرشويدي،يعني نن چې تاسويوبل ته غصه يئ.اواتباع په متبوعينو باندې الزام لګوي اومتبوعين په اتباعوباندې نوالله تعالی ددې نه زيات غصه وؤتاسوته.

﴿قَالُوا رَبَّنَا ﴾پدې آيت کښې دکافرانودَاعتراف جرم بيان دې په ورځ دَ قيامت، دَ دوئ جرم دَ آخرت دَژوندنه انکاروؤيعني بعث بعدالموت نه منکروؤ،چې کله دوئ دآخرت دَ عذابونو مشاهده وکړي ، اوجهنم ته داخل شي، نوالله تعالی ته به عرض کوي چې مونږچې دَدوباره ژوندي کيدلونه انکارکولواوس مونږته خپله غلطي معلومه شوه،نوآيااوس دَجهنم نه دَوتلوځه لاره اوصورت شته دې؟ الله تعالی به ورته اوفرمائی چې ”مالکم من سبيلٍ“يعني هيڅ لاره دَوتلونشته دې.

- ﴿أَمَتَّنَا اثْنَتَيْنِ ﴾ ”اثنتين“صفت دې دپاره دَمصدرمحذوف چې”اماتتين“دې تقديرداسې دې (ربّنا امتّنا اماتتين اثنتين)يعني اې ربه تامونږه دوه ځله مړه کړو ،دَدوؤ ځلونه مراديودَعدم والاموت

دي، چي انسان په صلب دآباؤوكښ په شكل دنطفې كښ وؤ .نو دا په منزله دموت شو .ځكه چي دامامت معنى يوځيز نه حيات صفت لرې كول دي او داعام دې چي ابتداء كښ وي يابعد كښ وي اودويم موت نه مراد موتِ عرفي دې چي ورسره دحيات دنيوي خاتمه كيږي

﴿وَأَحْيَيْتَنَا اثْنَتَيْنِ﴾ دلته هم "اثنتين" دمصدرِ محذوف دپاره صفت دې اى احييتنااحيائين اثنتين. اول حيات نه مراددنياواله، حيات دې اودويم نه مرادبعث بعد الموت دې.هرچي دې حيات دعالم برزخ نو دهغې شمارنې ځكه اونه كړوچي:(١)هغه حيات حقيقي نه دې. (٢)ياهغه چونكه مختصر وؤ نو ځكه ذكر نشو او د دنيا ژوند هم اګركه مختصروؤ خو هغه مبنى عليه وؤنوځكه ذكرشو(٣)دويم حيات نه مراد د آخرت والاحيات دې چي ابتداء ئې دقبرنه كيږي اوانتهاء ئې نشته دي (حقاني). نوددې قول په بناء حيات دعالم برزخ هم پكښ راغى. دامضمون حضرت والدمحترم نوّرالله مرقده وبرّدمضجعه.په بقرة آيت:٢٨(ج١ ص١٢٣)كښ په تفصيل سره ذكركړيدي.لهذارجوع ورته اوكړئ.

﴿فَهَلْ إِلَىٰ خُرُوجٍ مِّن سَبِيلٍ﴾ يعني دې عذاب نه د وتلو څه لار شته چي مونږ ترينه اوخو . جواب د سوال محذوف دې چي هغه لا سبيل الى الخروج دې ،

﴿ذَٰلِكُم بِأَنَّهُ﴾ دا جواب محذوف علت دې ، چي تاسو اوس دي عذاب نه هيڅ صورت كښې خلاصيدلې نشئ ځكه چي نجات موندلو دوه لارې دي (١) يو دا چي نيک اعمال ئې كړي وي او ايمان ئې راوړې وي (٢) دويم دا چي خپل څه اعمال خو ئې نه وي خو بل څوک دومره صاحب حيثيت وي هغه دې بچ كړي ،او دلته دواړه سببونه نشته .﴿ذَٰلِكُم﴾كښې اشاره ده ابدي عذاب ته ﴿إِذَا دُعِيَ اللَّهُ وَحْدَهُ﴾دادَ نجات اول سبب نفي ده چي اعمال مو هم د دې قابل نه دي چي خلاص خو كړي ، ځكه چي توحيد خو نه منلو او شرک خو كولو ،

﴿فَالْحُكْمُ لِلَّهِ﴾دويمې وجهې او سبب د نجات نفي ده چي بل څوک هم نشته چي تاسو له نجات دركړي ځكه چي دا د الله جل جلاله فيصله او حكم دې . دهغې خلاف څوک كولې نشي. ﴿الْعَلِيِّ الْكَبِيرِ﴾ يعني دا دهغه ذات فيصله ده چي ډير برتر او لوئ دې ،نه ورسره څوک ذات كښې برابر شته او نه ورسره صفاتو كښې ،څه چي كول غواړي هغه كوي نو څوک داسې نشته چي د هغه فيصلې مخالفت اوكړي او تاسو له نجات دركړي.

هُوَ الَّذِي يُرِيكُمْ ءَايَٰتِهِۦ وَيُنَزِّلُ لَكُم مِّنَ السَّمَآءِ رِزْقًا ۚ وَمَا يَتَذَكَّرُ
الله تعالى هغه ذات دي چه ښائی تاسو ته آياتونه خپل اونازلوي تاسولره د آسمان نه رزق باران، اونه قبلوي نصيحت
إِلَّا مَن يُنِيبُ ۝ فَادْعُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَٰفِرُونَ ۝
مگر هغه څوك چه انابت كوي نوغواړئ د الله نه په داسې حال كښې چې خالص كونكي وئ هغه لره د خپل عبادت اگركه بدگڼري كافران.
رَفِيعُ الدَّرَجَٰتِ ذُو الْعَرْشِ يُلْقِي الرُّوحَ مِنْ أَمْرِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ
الله ﷻ لوئ درجاتو والا دې،خاوند دعرش دې،نازلوي وحې د خپل امر په هغه چاچه خوښ ئي شي د بندگانو خپلو نه
لِيُنذِرَ يَوْمَ التَّلَاقِ ۝ يَوْمَ هُم بَٰرِزُونَ ۖ لَا يَخْفَىٰ عَلَى اللَّهِ
ددې پاره چې اُويرَوي خلق دورځې د ملاقات نه ، هغه ورځ چې دوئ به ښكاره وي نه به وي پټ په الله تعالى باندې
مِنْهُمْ شَيْءٌ ۚ لِّمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ ۖ لِلَّهِ الْوَٰحِدِ الْقَهَّارِ ۝ الْيَوْمَ تُجْزَىٰ
دَدوئ هيڅ څيز،دَ چا ده بادشاهي نن ورځ؟ دالله تعالى ده چې يودې غالب دې،نن ورځ بدله به وركولېشي
كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ ۚ لَا ظُلْمَ الْيَوْمَ ۚ إِنَّ اللَّهَ سَرِيعُ الْحِسَابِ ۝
هرنفس ته دَهغه عملونوچه ده كړي وي،نشته څه ظلم نن ورځ بيشكه الله تعالى زرحساب كونكې دې

﴿ هُوَ الَّذِي يُرِيكُمْ ءَايَٰتِهِۦ ﴾ دې آيت كښې توهيب دې توحيدته،چې الله جل جلاله تاسو ته دَ خپل عظمت او وحدانيت دلائل او نخې په هر څيز كښې ظاهره وي او ستاسو د رزق لپاره د آسمان نه باران نازلوي ،خو ددغې دلائلو د قدرت نه صرف هغه كسان نصيحت حاصلوي چې الله جل جلاله ته رجوع كونكي وي «رِزْقًا» نه مراد سبب د رزق يعني باران دې ، او دا تخصيص بعد التعميم دې او دې تخصيص كښې څو فائدو طرف ته اشاره ده :

(۱) يو څو ديكښې اشاره ده دې خبرې ته چې څنگه باران او رزق ستاسو بدن او حيات دنيوي د پاره ضروري دې او تاسو ترينه بغير د څه اختلافه فائده اخلئ نو دغه شان دا آياتونه هم ستاسو روح او اخروي د پاره ضروري او فائده مند دې نو ضد او عناد پريگدئ او تول ترينه فائده واخلئ،

(۲) باران د الله جل جلاله رحمت مظهر دي نو ديكښې هم ترغيب دې چې داسې رحيم پروردګار پاندې ايمان راوړئ ،

(۳) دا دليل ډير ظاهر ، عظيم او كثير المنفعت وو ، نو دې وجهې نه ئي هم تخصيص اوشو ،

﴿ فَادْعُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ ﴾ دَتمهيد او ترغيب نه بعد **اول ځل دعوه دَسورت** ذكر كيږي او تفريع ده په ماقبل څلورو ترغيبونو ،يعني دَماقبل ترغيبونوخلاصه داده چې خالص د الله جل جلاله عبادت كوئ ﴿وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ ﴾ ' لو 'وصليه دې متعلق دې دَ﴿ فَادْعُوا اللَّهَ ﴾ سره يعني خپل هر قسمه حاجت صرف دَالله ﷻ نه غواړئ او الله تعالى سره څوك په دُعا او عبادت كښې مه شريك كوئ اګر كه كافران داخبره ډيره بده ګڼړي

﴿ رَفِيعُ الدَّرَجَاتِ ﴾ دې آياتونو كښې هم **ترغيب** دې دعوې منلو او په توحيد باندې ايمان راوړلو ته ، چې دا كتاب څه معمولي كتاب نه دې بلكه د ډير لوئ ذات او دعرش مالک طرف نه نازل شوې دې او دې سره ستاسو دنيوي او اخروي دواړه فائدې وابسته دي 'او« رَفِيعُ الدَّرَجَاتِ » **اول صفت دې د پاره د ترغيب** ، 'رفيع' صيغه د صفت مشبه ده او اضافت ئي فاعل ته شوې دې ، اي: رفيعة درجاته ، او دا كنايه ده د عظمت شان نه ، يعني دا كتاب **هغه** ذات نازل كړې دې چې ډير لوئ شان والا دې لهذا دا اومنئ او ديكښې چې كوم احكامات دي هغې باندې ايمان راوړئ ، يا 'رفيع' صيغه د مبالغې ده ،اي:كثير رفع الدرجات، يعني دا كتاب د هغه ذات له طرفه دې چې هغه د خپلو مؤمنانو بندګانو درجات اچتونكې دې ، نو تاسو هم ايمان راوړئ ، الله جل جلاله به ستاسو درجات هم اوچت كړي، كما في قوله تعالى: يرفع الله الذين امنوا منكم و الذين اوتوا العلم درجات(المجادلة:) نرفع به درجات من نشآء(يوسف:) ﴿ذُو الْعَرْشِ ﴾ **دويم صفت** دې د پاره د ترغيب يعني الله جل جلاله عرش والا او په عرش باندې مستوي ذات دې ، او دا كنايه ده د الله جل جلاله د بادشاهت نه ، يعني الله جل جلاله د كائنات تن تنها بادشاه دې ، او دا د هغه حكم نامه ده ،نو تاسو دا اومنئ او د دې په احكاماتو باندې ايمان راوړئ، ﴿يُلْقِي الرُّوحَ مِنْ أَمْرِهِ ﴾**دريم صفت** دې دَ پاره د ترغيب ، يعني الله جل جلاله چې كوم احكامات تاسو ته راليږلي دي دې كښې د ستاسو دنيوي او اخروي فائدې دي لهذا دې باندې ايمان راوړئ ﴿ الرُّوحَ ﴾

کښې د قرآن دنیوي فائدو طرف ته اشاره ده ، څکه چې "روح" نه مراددلته وحي ده او وحي ته روح څکه وئیلې شي چې لکه څنګه چې روح سره بدن ته حیات میلاویږي او دانسان سترګې ، غوګونه او ټول حواس کار شروع کړي نو دغه شان وحي سره زړونه ته حیات میلاؤ شي او د انسان زړه سترګې او غوګونه کولاؤ شي او بصیرت ورته حاصل شي ﴿مِنْ أَمْرِهِ﴾ جار مجرور حال دې د ﴿الرُّوحَ﴾ نه ،او "امر" خپلې ظاهري معنې کښې دې یعني د خپل امر او قول وحي کوي ، ﴿عَلَىٰ مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ﴾ نه مراد انبیاء او رسولان دي.

﴿لِيُنذِرَ يَوْمَ التَّلَاقِ﴾ دیکښې د قرآن اخروي فائدې بیان دي چې دیکښې د آخرت زندګئ متعلق هدایات او راهنمائي ده چې هغې باندې عمل انسان همیشه ژوند خائسته کیدې شي او دسختو سختو عذابونو نه پرې بچ کیدې شي، ضمیرمستتر په "لینذر" کښې راجع دې یا "من" ته چې مصداق ئي پیغمبران دي څکه چې د دوئ وظیفه انذار وه ،یا الله جل جلاله ته او یا " امر" ته ،﴿يَوْمَ التَّلَاقِ﴾نه مراد قیامت ورځ ده ، "التلاق" اصل کښې التلاقي وو ، "یا" تخفیفاً حذف شوې ده ، ملاقات ته وائي او قیامت ورځ ته د ملاقات ورځ څو وجهو نه وئیلې کیږي : (۱) دیکښې د خالق او مخلوق ملاقات کیږي (۲) دَ ټولو انسانانو یو بل سره ملاقات کیږي (۳) اهل ارض او اهل سما یو بل سره ملاقات کیږي (۴) د خپلو اعمالو سره ملاقات کیږي

فائده : رَفِيعُ الدَّرَجَاتِ ، ذُو الْعَرْشِ او يُلْقِي الرُّوحَ مِنْ أَمْرِهِ دري واړه صفات خبر واقع کیږي دپاره د مبتدا محذوف ، چې "هو" دې ،

﴿يَوْمَ هُم بَارِزُونَ﴾ بدل دې دَیوم التلاق نه اوتخویف اخروي دې ،او (۱)بارزون یاپمعنیٰ دَظاهرون سره دې،یعني دَمیدانِ حشرزمکه به چونکه هموار وي،غر،ونه،وغیره به پکښې نه وي کقوله تعالی:فیذرهاقاعاًصفصفالاتریٰ فیهاعوجًاولاامتا،نو دې وجه نه به ټول خلق په ډاګه باندې ولاړوي (۲)یاپمعنی دَ:خارجون من قبورهم،سره دې،یعني دَقیامت په ورځ به ټول دَ خپلو قبرونو نه رااوزي(۳) بعضِ فرمائي چې داکنایه ده دَظهوردَاعمالواوانکشاف دَ اسرارونه،کقوله تعالی:یوم تبلی السّرائر،یعني دقیامت په ورځ به دَهیڅ چاحال اواعمال دَالله ﷻ نه پټ نوي،اللّهم استرنابسترك الجمیل(۴)یا پمعني د عراة سره دې یعني ټول به بر بنډ ولاړ وي لکه

صحيح حديث کښې راغلي دي : انكم ملاقوا الله حفاة ،عراة ، غرلاً. يعني تاسو به الله جل جلاله سره ملاقات کوئ په داسې حال کښې چې خپې ابله به وئ، بر بنډ به وئ ، او غير مختون به وئ ﴿ مِنْهُمْ ﴾اى من اعيانهم واعمالهم واحوالهم ، يعني د دوئ هيڅ څيز به د الله نه پټ نه وي ، نه د دوئ ذوات ، نه د دوئ احوال او نه د دوئ اعمال (روح)

﴿لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ﴾دا حکايت دې دهغې ندا چې قيامت په ورځ به د الله جل جلاله د طرفه کيږي چې نن ورځ بادشاهي دَچاده؟حقيقي بادشاهت خو الله جل جلاله لره دې په دنيا کښې هم او په آخرت کښې هم ، خو دنيا کښې مجازاً بادشاهت انسان ته هم حواله کړې دې ، دې وجهې نه څه نه څه درجه کښې د انسان سره واک او تصرف اختيار شته خو آخرت کښې به دا مجازي بادشاهي هم ختمه شي او الله جل جلاله به دا اعلان اوکړي چې لمن الملک اليوم ، رواياتو نه معلوميږي چې دا ندا به دوه کرته کيږي : (١) يو به هغه وخت کښ چې دَنفخهٔ اولی نه ورستوټول مخلوقات فناشي اوبيامقربوفرشتوباندې هم مرګ طاري شي،اودَالله تعالی دَذات نه ماسواهيڅ څوک هم نه وي،نو الله جل جلاله به دا ندا اوکړي ، چونکه يدغه وخت کښ به جواب ورکولووالا بل څوک نه وي نوجواب به هم اللهﷻپخپله اوکړي چې﴿لِلَّهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ﴾ نوداسوال اوجواب دواړه دَالله تعالی دَطرفه دي،دَنفخهٔ اولی نه بعد

(٢)او دويم ځل به د حشر په ميدان کښې دا ندا کيږي چې ټول مخلوقات به الله را جمع کړي نو تپوس به ترينه اوکړي (په خپله يا په واسطه د ملائکو) چې لمن الملک اليوم ؟ نو څوک به د هيبته جواب نشي ورکولې نو الله جل جلاله به خپله اوفرمائي چې﴿لِلَّهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ﴾(طبری)

اوځنې رواياتو کښې راځي چې اهل محشر به دا جواب ورکړي مؤمنان به خوشحالئ او خوند سره ورکړي او کافران به په غم او حسرت په وجه ورکړي ، مسلم او ابو داؤد شريف حديث کښې راځي چې کله دقيامت ورځ شي نو الله جل جلاله به د زمکې او آسمان موجوده ټول نظام ختم کړي او اوبه فرمائي : انا الملک ، اين الجبارون ، اين المتكبرون ، او د آيت سياق نه معلوميږي چې دلته دا دويمه ندا مراد ده .

حکيم الامت مولانااشرف علي تهانويؒ فرمائی چې لمن الملک اليوم حکايت دې د هغې ندا نه،نه دې چې احاديثو کښې ذکر راغلې دې ، بلکهٔ مشرکينوته خطاب دې چې هغه ورځ به حکومت داچاوي؟ اواِستفهام تقريري دې،يعني هغه ورځ به ستاسو هيڅ مددګاراوهيڅ

معبودونه وي ماسوى الله جلّ شانه نه،لهذا هغه باندې ايمان روا نه دې او احکامات ئې او منئ .
ليکن په دې توجيه دااشکال کيديشي چې بياخو"يومئذٍ"پکاروو د"اليوم"په ځائ،ځکه چې که داچرې حکايت نه وي نوبياخوداورځ غائبه ده او"اليوم"خودحاضرې ورځې ده پاره رازي ؟ نو جواب ترينه دا کيږي چې قرآن کښې ډيرځائ الله تعالى دااسلوب اختيارکړيدې چې يوغائب شې لپاره دَمبالغې په منزله دَحاضراوګرځوي،اودَحاضرپشان اندازتخاطب ورسره اختيار کړې لکه"فاليوم الذين آمنوا من الکفار"کښې نودلته هم ددې"يومئذ"په ځائ اليوم ذکراوشو ﴿لِلّٰهِ الْوَاحِدِ﴾ نن ورځ بادشاهي صرف دَ الله جل جلاله ده ، مجازي بادشاهتونه ټول ختم دي ﴿الْقَهَّارِ﴾نن ورځ صرف هغه غالب دې او نور ټول خلق د هغه زير نګين دي ،نور د مجازي قاهر مقهور، غالب مغلوب ، او حاکم محکوم نظام ختم دې بس صرف د الله بادشاهي اوغلبه ده ،
﴿الْيَوْمَ تُجْزٰى كُلُّ نَفْسٍ﴾اى يقال لهم اليوم...يعني به ورځ دَقيامت به محشروالوته اوئيلى شي چې نن ورځ به هريو کس ته دَهغه دَعملونوپوره پوره بدله ورکولې کيږي اوپه هيڅ چابه ظلم نه کيږي چې ثواب ورته کم ملاؤشي ياورته سزازياته ملاؤشي﴿إِنَّ اللّٰهَ سَرِيعُ الْحِسَابِ﴾ازاله دَيووهم ده چې دَهرکس سره پوره پوره حساب کول اوبدله ورکول خوپه ظاهره کښې مشکل دي،ليکن الله تعالى فرمائى چې ماته هيڅ مشکل ندي ځکه څه ډيرزرحساب اغستونکې يم،لکه په روايت کښې دي چې په مقداردَنصف النهاربه دَټول مخلوقاتوسره حساب ختم شي.

وَأَنذِرْهُمْ يَوْمَ الْآزِفَةِ إِذِ الْقُلُوبُ لَدَى الْحَنَاجِرِ كَاظِمِينَ ۚ
او اويره وه دوئ دَعذاب دَهغې ورځې نه چې نزدې راتلونکې ده،کله چه به زړونه دَمروسره وې ډک دَغم به وی نه.
مَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ حَمِيمٍ وَلَا شَفِيعٍ يُطَاعُ ⑱ يَعْلَمُ خَائِنَةَ الْأَعْيُنِ
نه به وي دَپاره دَظالمانو هيڅ غم خواردوست اونه شفاعت کونکې چه خبره ئې أومنلې شي پوهه دې الله تعالى په خيانت دَسترګو
وَمَا تُخْفِي الصُّدُورُ ⑲ وَاللَّهُ يَقْضِي بِالْحَقِّ ۖ وَالَّذِينَ يَدْعُونَ
اوپه هغه چه پټه وي ني سينې،اوالله تعالى به فيصله کوي په حقه سره،اوهغه معبودان چه دوئ ورته سوالونه کوی

مِنْ دُوْنِهٖ لَا يَقْضُوْنَ بِشَيْءٍ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ۝
ماسوی د الله ﷻ نه، نه شي کولې فيصله د هيڅ څيز،بيشکه الله صرف هغه اوريدونکې دې ليدونکې دې
اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ كَانُوْا مِنْ قَبْلِهِمْ
آيانه گرځي دوئ په زمکه کښې،پس چه اوگوري دوئ چه څنگه وو انجام دهغه خلقوچه وو هغوئ مخکښې د دوئ نه،
كَانُوْا هُمْ اَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَّاٰثَارًا فِي الْاَرْضِ فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ
وو هغوئ ډير سخت د دوئ نه په قوت کښې اوپه آبادئ کښې چې په زمکه کښې ئې پريخي دي نو اونيول هغوئ الله تعالى
بِذُنُوْبِهِمْ وَمَا كَانَ لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ وَّاقٍ ۝ ذٰلِكَ
په سبب دگناهونو دهغوی،اونه وو هغوئ دپاره دعذاب د الله ﷻ نه هيڅ څوک بچ کونکې،داعذاب
بِاَنَّهُمْ كَانَتْ تَّاْتِيْهِمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَكَفَرُوْا
په سبب ددې وو چې بيشکه راتلل به هغوئ ته رسولان دهغوئ په ښکاره معجزوسره،نودوئ ترينه انکاراوکړو،
فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ ؕ اِنَّهٗ قَوِيٌّ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ۝
نواونيول هغوئ الله ﷻ،بيشکه الله قوي دې سخت عذاب ورکونکې دې

﴿ وَاَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الْاٰزِفَةِ ﴾پدې آياتونو کښې هم دقيامت دوړخې حالت او شدت بيانيږي په څلورو صفاتوسره دپاره دتخويف، "الازفة"دقيامت دوړخې نوم دې،ازف،يازف،ازفا په معنی دقريب سره اوقيامت ته يوم الازفه ځکه وائی چې داهم قريبه ده ځکه چې هرراتلونکې قريب وي،بعض وائی چې دیَومُ الازفة نه مرادورځ دمرگ ده صاحب دروح المعاني اوامام رازي رحمه الله هم دې قول ته ترجيح ورکړيده.﴿يَوْمَ الْاٰزِفَةِ﴾مبدل منه دې او﴿اِذِ الْقُلُوْبُ لَدَى الْحَنَاجِرِ﴾ ورنه بدل دې،او دا اول صفت دې د قيامت ، يعني داخلق دهغه قريبې ورځې نه اويره وه هغه ورځ چې دخلقوزړونه به دډيرغم اوسختئ دوجه نه مرئ ته رارسيدلي وي،نو﴿لَدَى الْحَنَاجِرِ﴾ يا کنايه ده دشدت غم نه لکه په سورة احزاب"وبلغت القلوب الحناجر"کښې تيرشويدي،او يا دا محمول دې په حقيقت باندې اوالقلوب نه مرادزړونه دکافرانودي يعني پدغه ورځ به د

کافرانو زړونه مرئ ته رارسيدلي وي نه به خپل ځائ ته واپس ځي اونه به ئی ساه اوځي چې مره شي﴿ كَظِمِينَ ﴾دا دويم صفت دې دشدتِ قيامت ، او" کاظمين" جمع دَ کاظم ده ، مأخوذدې دَ کظم القربه،نه چې مشکيزه دَ ابونه ډکه کړې شي اوخوله ئی بنده کړيشي چې اوبه ورنه توئی نشي،او حال دې داصحاب القلوب نه ، چې هغه کافران دي، نومعنیٰ دا شوه چې ډير دخوف د وجهې نه به ئي ساګانې خپلې په زړونو کښې بندې کړې وي چې د ساه سره زړونه او نه اوزي،«روح» نو پديکښې مبالغه ده په شدت غم کښې﴿مَا لِلظَّلِمِينَ مِنْ حَمِيمٍ ﴾دريم صفت دې د شدت د قيامت ، چې دنيا کښې په چا څه مصيبت راشي نو ملګري دوستان ئې وي ،هغه ورسره غم کښې شريک شي او تسلي ورله ورکړي ، خو آخرت کښې به دا هم نه وي چې ورسره همدردئ اظهار اوکړي ، مراددَظالمين نه کافران اومشرکان دي.﴿حَمِيمٍ ﴾نه مراد غم خوار او غم شريک ملګرې دي ﴿وَلَا شَفِيعٍ يُطَاعُ ﴾دا څلورم وصف دې د شدتَ قيامت ، چې دنيا کښې که څوک څه مصيبت کښې ګرفتار شي نو جاه او حشمت والا پسې لاړ شي ،دهغه منت زارئ اوکړي ، هغه ورله سفارش اوکړي نو دې د هغې مصيبت نه بچ شي خو آخرت کښې خو به داسې هم څوک نه وي چې د دوئ سفارش اوکړي،﴿ يُطَاعُ ﴾ صفت دې د" شفيع" ، او آيت کښې نفي د صفت او موصوف دواړو ده ، يعني بالکل به ورله څوک سفارش کونکې نه وي نه مطاع او نه غير مطاع.

﴿يَعْلَمُ خَائِنَةَ الْأَعْيُنِ﴾ دا دويم ترغيب دې توحيد او دعوې منلو ته ،په څلورو صفاتو سره ، او دا اول صفت دې د پاره د ترغيب ، يعني الله جل جلاله هغه ذات دې چې ستاسو هر قسم اعمالو باندې خبر دې ،ظاهري وي او که باطني ، لوئ وي او که واړه ،نو دهغه ذات نه اويريږئ او حکم نامه ئي او منئ ، اواضافت دَ خائنة، الاعين ته اضافت دَصفت دې موصوف ته، ای يعلم الاعين الخائنة،يعني الله تعالی خيانت کونکي سترګې پيژني،يا﴿خَائِنَةَ﴾ مصدر دې په وزن دَاسم فاعل لکه عاقبة ای يعلم خيانة الاعين،يعني دَسترګوخيانت پيژني، خيانت دَ سترګو نامحرمه زنانه ؤ کتل دي په نظردَشهوت سره،ياپه اشارې سره دَ چا غيبت کول، يا استهزاء کول،﴿ وَمَا تُخْفِي الصُّدُورُ ﴾ دَزړونوپه پټو څيزنو هم الله تعالی باخبره دې،غلطې عقيدې، غلط نيتونه،غلط جذبات ټول باطني اعمال پکښې داخل دي،نوګوياکه په ﴿يَعْلَمُ

خَآئِنَةَ الْأَعْيُنِ ﴾ اوپه﴿ وَمَا تُخْفِي الصُّدُورُ ﴾ كښې اشاره ده ديته چې الله تعالى په ظاهري اوباطني ټولو عملونو باندې خبرداردې،امّ معبدﷺ فرمائى چې حضورﷺ به دادعاكوله اللّهم طهّرقلبي من النّفاق وعملى من الرّياء ولساني من الكذب وعيني من الخيانة فانك تعلمُ خائنة الاعين وماتخفي الصّدور(مشكواة).

﴿ وَاللَّهُ يَقْضِي بِالْحَقِّ ﴾دويم صفت دې د پاره د ترغيب ، يعني الله جل جلاله عدل باندې مبني احكامات رالېږي او په انصاف سره فيصله كوي لهذا د داسې رب حكمنامه اومنئ او مخالفت ئې مه كوئ ،﴿ وَالَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِهِ ﴾دالله نه ماسوا چې دكوم معبودانو دوئ عبادت كوي هغوئ كښې دا صلاحيت نشته ، نه چا سره ښه كولې شي او نه بد ، نو د دوئ عبادت پرېږدئ ،صرف الله جل جلاله ته متوجه شئ ،﴿ هُوَ السَّمِيعُ ﴾دريم صفت دې دپاره د ترغيب . چې صرف الله جل جلاله هغه ذات دې چې د هر چا ندا اوري ،د هغه نه ماسوا بل څوک داسې نشته ، لهذا صرف هغه ته بلنه كوئ او د هغه احكامات منئ ،﴿ الْبَصِيرُ ﴾څلورم صفت دې دپاره د ترغيب ، يعني صرف الله جل جلاله هغه ذات دې چې هر وخت كښې په تاسو نظر وي ستاسو حوائج ګوري او هغه پوره كوي ،نو صرف په هغه ايمان راوړئ او احكام ئې اومنئ .

﴿أَوَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ ﴾داتخويف دنيوي دې مشركانوته آيادوئ چې تجارت وغيره دپاره شام ته سفر نه كوى اودوئ دعاداوثمود بستئ نه دي ليدلي چې هغوئ ددوئ نه په طاقت اوپه مال كښې ډيرزيات سخت وو ،خوچې دخپلورسولانوتكذيب ئى اوكړونوبيائى انجام څنګه وو؟ چې دخپلوګناهونوپوجه داسې هلاك شوچې بيائى څوك بچ كولو والانه وو ،﴿وَآثَارًا فِي الْأَرْضِ ﴾ مراد ورنه هغه يادګارتعميرونه اومضبوطې قلعې دي چې تراوسه پورې ئى كندرات موجودي ﴿بِذُنُوبِهِمْ ﴾باء سببيه ده اى بسبب ذنوبهم،يعني پدوئ باندې عذابونه ددوئ دګناهونودوجه نه راغلل نوددې حالاتوواقعاتونه دهرې زمانې خلقودپاره عبرت اخستل پكاردي، ﴿وَمَا كَانَ لَهُم مِّنَ اللَّهِ مِن وَاقٍ ﴾يعني دوئ لره دعذاب دالله ﷻ نه بچ كولوالاهيڅ څوك نه وو لكه چې ددوئ توقع وه چې زمونږمعبودان به مونږبچ كوي،لكه په سورة هودكښې تيرشوي چې فما اغنت عنهم الهتهم الخ... ﴿ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ ﴾داعلت دې دعذاب په تيرشوي قومونوباندې،چې تكذيب اونافرماني د خپلو خپلورسولانودي.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ بِآيَاتِنَا وَسُلْطَانٍ مُّبِينٍ ﴿٢٣﴾ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ

اوخامخاپه تحقيق سره ليږلي وو مونږ موسیٰ عليه السلام په آياتونو خپلو سره اوپه دليل ښکاره سره فرعون ته اوهامن ته

وَقَارُونَ فَقَالُوا سَاحِرٌ كَذَّابٌ ﴿٢٤﴾ فَلَمَّا جَاءَهُم بِالْحَقِّ مِنْ عِندِنَا

اوقارون ته، نواُووېل دوئ چه دې ساحردې، ډيردروغجن دې، پس هرکله چه راغلوموسیٰ عليه السلام دوئ ته په حق سره دطرفه زمونږنه

قَالُوا اقْتُلُوا أَبْنَاءَ الَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ وَاسْتَحْيُوا نِسَاءَهُمْ

اوويل دوئ چه قتل کړئ ځامن دهغه خلقوچه ايمان ئې راوړيدې دده سره اوژوندی پرېدئ ښځې ددوئ.

وَمَا كَيْدُ الْكَافِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَالٍ ﴿٢٥﴾ وَقَالَ فِرْعَوْنُ ذَرُونِي أَقْتُلْ مُوسَىٰ وَلْيَدْعُ رَبَّهُ

اوندې مکردکافرانو مگرضائع دې اوويل فرعون پرېږدئ ماچه قتل کړم موسیٰ اوراوُدې غواړي دې رب خپل،

إِنِّي أَخَافُ أَن يُبَدِّلَ دِينَكُمْ أَوْ أَن يُظْهِرَ فِي الْأَرْضِ الْفَسَادَ ﴿٢٦﴾ وَقَالَ مُوسَىٰ

بيشکه زه ېرېږم ددې نه چې بدل به کړی دې دين ستاسو ياداچه ښکاره«جوړ»به کړی په زمکه کښې فساد. اواُويل موسیٰ عليه السلام

إِنِّي عُذْتُ بِرَبِّي وَرَبِّكُم مِّن كُلِّ مُتَكَبِّرٍ لَّا يُؤْمِنُ بِيَوْمِ الْحِسَابِ ﴿٢٧﴾

چه بيشکه زه پناه نيسم په رب خپل سره اوپه رب ستاسودهرمتکبرنه چه نه راوړي ايمان په ورځ دحساب.

﴿وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ﴾ دادتخويف دنيوي تفصيلي نمونه ذکرکيږي چې هلاکت دفرعون دې، چې فرعون سره دلوئ بادشاهئ نه چې هرکله ئې تکذيب وکړونوځکه مونږهغه هلاك کړو، ﴿بِآيَاتِنَا﴾ عام معجزات ورنه مراددي، چې په سورة اعراف اوسورة اسراء کښې تفصيل ذکر شويدي، ﴿وَسُلْطَانٍ مُّبِينٍ﴾ ددينه خاص معجزه مرادده چې عصاده، ياترينه مرادهغه رُعب اوجلاليت دي چې الله تعالى موسیٰ عليه السلام ته ورکړي ووچې فرعون اونورجبابره به ترينه ېرېدل، ياورنه مرادتورات دي«قرطبي».

﴿إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَقَارُونَ﴾ چونکه دادرې واړه مداراوسبب د دشمنئ وو د موسیٰ عليه السلام سره، اودغه رنګه دوئ اشد وو په بادشاهئ او مال دولت کښې، نوځکه ئې دادرې واړه خاص کړل په ذکر سره، فرعون خو هر سړې پيژني چې څومره قدردرجه کافروؤ، اوهامان دهغه دوزير

نوم دې اوقارون دَ ده معتمد خاص وو،دَهامان اودَقارون ذکرپهٔ سورة قصص کښې تیرشویدې،موسیٰ ﷺ دوئ ته دَدوئ په مطالبه باندې معجزات ښکاره کړل نودوئ اوویل چې﴿ سَـٰحِرٌ كَذَّابٌ ﴾دا معجزې ندي بلکه دا سحردې اوپه خپله دعوه کښې دروغ ژن دې.

﴿ فَلَمَّا جَآءَهُم بِٱلْحَقِّ ﴾مراددَحق نه نبوت پیش کول اوتوحیدبیانول دي،اوبقولِ حضرت تهانوي ﷫ دادویم ځل دعوت عاموخلقوته وؤاواول ځل خواصوته وؤ(کمامرّ)یادویم ځل هم خواصوته وؤ نوپدیکښې استقلال دَموسیٰ ﷺته اشاره ده،اوهدایت دې داعي ته.﴿ قَالُوا ٱقْتُلُوٓا أَبْنَآءَ ﴾ فرعون امر دَ قتل او دَ استحیاء دوه ځلې کړې وؤ، یودَموسیٰ ﷺ دَ پیدائش نه مخکښې چې نجومیانوورته خبر ورکړې وو چې داسې یو بچې به پیدا کیږي چې ستا د بادشاهئ ختمیدو سبب به وې نو ده د بني اسرائیلو نارینه بچو قتل حکم اوکړو ،بیا ورته چا اوئیل چې پدې قتل سره خوبه ټول نسل دَبني اسرائیلوختم شي اوخدمت والا به پاتې نشي،نو دې منع شو،لکه داپه سورة بقره وغیره سورتونوکښې تیرشویدې،بیاچې کله موسیٰ ﷺ دعوه دَ نبوت اوکړه اوخلقو پرې ایمان راوړو نودې ګبراؤشوچې بني اسرائیل ځما د حکومت د پاره خطره جوړیدلې شي ، نو دموسي علیه السلام سره ئې مدداو تعاون نه ئې منع کولو دپاره ئې دا حربه اختیار کړه او دوباره ئې دَقتل اودَاستحیاء حکم اوکړوچې کوم دلته ذکردې، چې بني اسرائیل د موسي علیه السلام وجود ځان دپاره باعث عذاب او نحوست اوګرځوي او د ده مدد نه به لاس پورته کړي ،لکه سوره الاعراف کښې د دوئ داسې قَوْل منقول دې : قالوا اوذینا من قبل ان تاتینا ومن بعد ماجئتنا(الاعراف:) ۱۱۱۱۰

﴿وَمَا كَيْدُ ٱلْكَـٰفِرِينَ ﴾ دا سوال مقدر جواب دې چې فرعون د دې تَدْبیرونه څه نتیجه رااوتله او دې منصوبو ورته څه نفع اورسوله ؟نو الله جل جلاله ورنه جواب اوکړو چې هیڅ فائده ئې ورنکړه بلکه دحق په مقابله کښې د کفارو تدبیر همیشه ضائع وي اوانجام اوغلبهٔ مؤمنانو وي ﴿إِلَّا فِى ضَلَـٰلٍ ﴾اى فى ضياع(روح)

﴿وَقَالَ فِرْعَوْنُ ذَرُونِىٓ ﴾ فرعون چې په یوې منصوبې کښې ناکامه شونواوس بله منصوبه جوړه وي اووائی ماپریدئ چې څه موسیٰ ﷺ قتل کړم ځکه چې هم دې دَ دې بنیاد دې، کچرې دې قتل نشي نوخطره ده چې زمونږدین اوحکومت به ختم کړي،بعض وائی چې دا قول دَفرعون چې﴿ذَرُونِىٓ ﴾ماپریدئ په حقیقت باندې محمول دې ځکه دې خپلووزیرانو دَ قتل

دموسیٰ علیه السلام نه منع کړې وو، یاددې وجه نه چې هغوئ دموسیٰ علیه السلام معجزې لیدې وې اویقین ئې شوې وو چې دې په حق پیغمبردې، هسې نه چې دالله تعالیٰ په ګرفت کښې راشو یا ئې دملکی مصلحت خلاف ګنړله چې خلق به وائی فرعون دکمزورۍ سرې سره مقابله نشوه کولې نوقتل ئې کړو، یاد بعضِ کسانوپه زړونو کښې دموسیٰ علیه السلام سره محبت وو لکه ښځه دفرعون چې فرعون ته ویلې وو، لاتقتلوه عسی ان ینفعنا(قصص:۹)بعض وائی چې ﴿ذَرُونِيٓ﴾په حقیقت ندې محمول بلکه صرف هسې یوه دهمکي ده، اوخلقوباندې دخپل شان وشوکت اظهاردې، چانیولې نه وو، هسې وئیل چې ماپریدئ چې دې قتل کړمه، اودې څما نه هیڅ څوک نشي بچ کولې﴿وَلۡيَدۡعُ رَبَّهُۥٓ﴾ددې نه اندازِ کلام دفرعون معلومیږي چې دې دهری وو.

﴿إِنِّيٓ أَخَافُ﴾وجه دقتل ئې بیانوي چې څکه چې ما سره یره ده چې دې به ستاسودین چې هغه څماعبادت دې اوشرکیه رسم رواج دې هغه به ختم کړی اوکه دین بدل نه کړی نوکم ازکم داخوبه اوکړی چې اقتدار او حکومت به درنه قبضه کړي ﴿أَوۡ أَن يُظۡهِرَ فِي ٱلۡأَرۡضِ ٱلۡفَسَادَ﴾ مراد دفساد نه په حکومت باندې قبضه کول دی، لکه په سورة اعراف کښې دی"یریدان یخرجکم من ارضکم"(۱۱۰)قتادة رحمه الله وائی چې مراددفسادنه دالله تعالیٰ اطاعت دې، یعنې دالله تعالیٰ اطاعت اوعبادت په زمکه کښې خورکړی اوڅماعبادت به خلق پریدی، هم دغه وینا د نن صبا د فرعونیانو هم ده چې هغوئ د اسلام نظام خلافت او د هغې احیا د پاره سعي او کوششونه ته دهشت ګردي وائي او د الله جل جلاله په څمکه د الله نظام او احکامات نافذول سبب د فساد ګنړي.

﴿وَقَالَ مُوسَىٰٓ إِنِّي عُذۡتُ بِرَبِّي﴾داخطاب دې دموسیٰ علیه السلام خپل قوم ته اوهغوئ ته تسلی ورکول دی، نوپه ﴿وَرَبِّكُم﴾کښې خطاب خپل قوم ته دې لکه په سورة اعراف کښې دی، وقال موسیٰ لقومه استعینوابالله....فرعونیانوته ندې څکه چې هغوئ الله تعالیٰ نه منلو. ﴿مِّن كُلِّ مُتَكَبِّرٖ﴾ای من شرِّ کلِّ متکبرٍ.

وَقَالَ رَجُلٞ مُّؤۡمِنٞ مِّنۡ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ يَكۡتُمُ إِيمَٰنَهُۥٓ أَتَقۡتُلُونَ رَجُلًا أَن يَقُولَ

اوویل یوسړي مومن، چه دآلِ فرعون نه وو پټولوئی ایمان خپل، آیاقتل کوئ تاسویوسړی(موسیٰ)ددې وجه نه چه وائي

رَبِّيَ اللّٰهُ وَقَدْ جَآءَكُمْ بِالْبَيِّنٰتِ مِنْ رَّبِّكُمْ ۖ وَإِنْ يَّكُ كَاذِبًا
رب زما الله ﷻ دي، او په تحقيق چې راغلي دي تاسو ته په ښکاره معجزوسره د طرفه درب ستاسو نه، او كه وي دې دروغژن
فَعَلَيْهِ كَذِبُهٗ ۖ وَإِنْ يَّكُ صَادِقًا يُّصِبْكُمْ بَعْضُ الَّذِيْ يَعِدُكُمْ
نو په ده دې ضرر د دروغو د ده، او كچېرې وى دې رښتوني نو اوبه رسي تاسو ته څه نه څه هغه عذاب چه وعده ئي كوى تاسو سره،
إِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِيْ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ كَذَّابٌ ﴿٢٨﴾ يٰقَوْمِ لَكُمُ الْمُلْكُ الْيَوْمَ
بيشكه الله ﷻ نه كوي هدايت هغه چاته چه هغه اسراف كونكي وي دروغژن وي اى قومه زماتاسولره ده بادشاهي نن ورځ
ظٰهِرِيْنَ فِي الْأَرْضِ ۖ فَمَنْ يَّنْصُرُنَا مِنْۢ بَأْسِ اللّٰهِ إِنْ جَآءَنَا ۚ قَالَ فِرْعَوْنُ
چه غالب يئ په زمكه كښې، پس څوك به مدد او كړي زمونږ د عذاب د الله ﷻ نه كچېرې راشي په مونږ، اُوويل فرعون
مَآ أُرِيْكُمْ إِلَّا مَآ أَرٰى وَمَآ أَهْدِيْكُمْ إِلَّا سَبِيْلَ الرَّشَادِ ﴿٢٩﴾
چه نه ښايم زه تاسو ته مگرهم هغه مصلحت چه وينم زه (چه په هغې كښې خيردې) اونه خايم ستاسو ته مگرلاره سمه

﴿وَقَالَ رَجُلٌ مُّؤْمِنٌ﴾ كله چې فرعون د موسى ﷺ قتلولو فيصله او اراده اوكړه نو ده په دربار كښې يو سړې وو چې هغه ايمان راوړې وو خو خپل ايمان ئي پټ ساتلې وو دا سړې قبطي او د فرعون د كورنئ كس او د خپلوانو نه ئي وو، څنې مفسرينو ليكي چې دې ئي تره خوې وو ، نو د ده دغې فيصلې په مخالفت او د حضرت موسى ﷺ په حمايت كښې جرآت مندانه موقف اختيار كړو او په ډك دربار كښې ئي دا فيصله مدلل انداز سره رد كړه، الله جل جلاله د ده دا موقف اوتقرير دومره خوښ شو چې دا قرآن كريم حصه ئي اوگرځوله چې تر قيامته به لوستې شى، ﴿رَجُلٌ﴾ موصوف دې، ﴿مُّؤْمِنٌ﴾ صفت اول دې، ﴿مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ﴾ دا صفت ثاني دې دَ ﴿رَجُلٌ﴾ اوجارمجرورمتعلق دي په "كائن" محذوف سره، ﴿يَكْتُمُ إِيْمَانَهٗ﴾ دريم صفت دې، كتمان حق يعني حق او ايمان پټول صرف هغه صورت كښې جائز دي چې انسان ته د دنيوي يا ايماني ضرر خطره وي ، دنيوي ضرر دا دې چې د ځان تللو خطره وي او ايماني ضرر دا دې چې ايمان تللو خطره وي ، برابره خبره ده چې دا خطره د مسلمان نه وي يا د كافر نه ، البته اطمينان قلبي او په تنهائئ او عدم خوف حالت كښې اقرار باللسان ورله شرط دې ،

شیعه ګانو عقیده " تقیه " خالص منافقت او دروغ دي ، هغې د دې آیت سره هیڅ تعلق نشته او د دې آیت نه د هغې ثابتول سعي لاحاصل ده.

﴿ أَتَقْتُلُونَ رَجُلًا ﴾ دا د رجل مؤمن موقف او تقرير اوله مرحله ده چې ديكښې دې خپل قوم د موسى عليه السلام د قتل نه منع كوي او ډير په حكمت او لطافت سره دَ خپل ايمان او د موسى عليه السلام حقانيت اظهار او قوم ته په ده باندې ايمان راوړلو دعوت وركوي، همزه په « أَتَقْتُلُونَ » كښې كښې د پاره د استفهام انكاري ده يعني دا سړې مه قتلوئ ، د ده د قتل تاسو سره هيڅ جواز نشته ، دینه مخکښې دَ دې څو وجوهات بيانوي: ﴿ أَن يَقُولَ ﴾ دا اوله وجه ده ، چې تاسو ته ده ونيلي څه دي شې تاسو ئي قتلوئ ؟ دې خو بس صرف دومره خبره كوي چې څما رب صرف يو الله دې، نو دا څه موجبِ قتل وينا خو نه ده . ﴿ وَقَدْ جَاءَكُم بِالْبَيِّنَاتِ ﴾ دويمه وجه ده (كما في التحرير والتنوير) يعني د ده دا وينا تشه دعوه نه ده بلكه په دې باندې ئي تاسو ته واضح دلائل او براهين رراوړي دي چې هغې ستاسو سره هيڅ جواب نشته ، پكار خو دا وه چې تاسو پرې ايمان راوړې وې ، خو كه ايمان نه راوړئ نو كم از كم قتلوئ خو ئي مه

﴿ وَإِن يَكُ كَاذِبًا فَعَلَيْهِ كَذِبُهُ ﴾ دريمې وجهې بيان دې يعني لګ د ده په خبرى انصاف سره غور اوكړئ تاسو ته به دوُو خبرو كښې خامخا يوه خبره مخې ته راشي ، يا به دې دروغ ژن ظاهر شي او يا به رېښتوني ، او دواړونو صورتونو كښې د ده قتل جواز نه پيدا كيږي ، څكه چې كه دروغ ژن وي نو تاسو ته ئي هيڅ نقصان نشته ،دعوت باندې پرې پابندي اولګوئ او پريګدئ ئي ، خپله به ورته د خپلو دروغو انجام معلوم شي ، او كه هغه رېښتوني وي (او يقيناً چې رېښتوني دې كما في قوله تعالي : و جحدوا بها واستيقنتها انفسهم ظلماً وعلوا) نو بيا خو د هغه مخالفت او قتل كوشش كولو كښې د ستاسو سراسر نقصان دې

فائده (۱): " ان " د پاره دَشک راځي او رجل مؤمن دَموسى عليه السلام په صداقت كښې شک نه وو خو دعوت كښې تلطف اونرمي راوستلو او د خپل ايمان پټ ساتلو د پاره ئي داسې تعبير اختيار كړو ، هم دې وجهې نه ئي " كاذباً " مخكښې او " صادقاً " ئي ورستو ذكر كړو ،

فائده (۲): د دې آيت نه دا استدلال كول صحيح نه دي چې د چا څه رائ او موقف وي حتي چې د نبوت دعوه ولې نه كوي خو هغه ته څه ونيل نه دي پكار ،څكه چې وَإِن يَكُ كَاذِبًا فَعَلَيْهِ كَذِبُهُ » يو خو د دې وجهې نه چې دا هغه صورت كښې دې چې حق او باطل كښې اشتباه

راشي ، خو كله حق او باطل واضحه وي نو بيا حق منل او باطل ختمول ضروري دي ، او **بل د دي وجهي** نه چي دا د دعوت د تلطف يو انداز دې چې مخالفت ضداو عناد نه راكوز شي او په انصاف آماده شي

فائده۳:داخبره دَهروخت دَحكمران دپاره ده.چې په اسلامي نظام نافذكولوكښې ستاسوكرسئ اوحكومت ته هيڅ خطره نشته دې،اوپه نه نافذكولوكښې ستاسوكرسئ اوحكومت ته خطره ده ‹ازوالدمحترم نورالله مرقده›.

﴿يُصِبْكُم بَعْضُ الَّذِي﴾هر كله چې موسى عليه السلام د الله جل جلاله صادق پيغمبر دې نو د ده ټولې وعدې او وعيدونه حق او رښتيا دي ، خو بيا "بعض الذي" راوړلو كښې اشاره د **تلطف** في الدعوه ته، چې مخاطب په وحشت كښې مبتلا نشي او ضد او عناد شروع نه كړي ، مزيد دا چې ديكښې مبالغه في التحذير ده چې بعض عذاب نه ځان اوساتئ چې هغه هم ډير لوئ ده او ټول خو څه اندازه نشته ‹روح›

﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ كَذَّابٌ﴾ دا جمله ذو وجهين ده ،يعني موسى عليه السلام ته په كښې هم اشاره ده او فرعون ته هم ، موسى عليه السلام ته اشاره داسې ده چې دې څومره عجيب معجزات دوئ ته پيش كوي او څنګه عجيب دلائل په توحيد د الله جل جلاله بيانوي ، كچرته دې دروغژن او حد نه تجاوز كونكې وې نو هرګز به ورله الله جل جلاله د دې توفيق او طاقت نه وې وركړې

او فرعون ته اشاره داسې ده چې كچرته باوجود ده دينه چې ده ته د موسى عليه السلام حقانيت او صداقت يقين شوې وې ، بغاوت كوي او موسى عليه السلام قتلول غواړي نو الله جل جلاله به چرې هم دې په خپل عزائمو او مقاصدو كښې كامياب نه كړي ځكه چې دې مسرف دې ، دشمنۍ كښې د حد نه وتونكې دې او كذاب دې ،قوم ته دروغ وائي چې ځما نه سوا بل اله نشته او موسى عليه السلام پيغمبر نه دې .‹حاشيه الجمل›

﴿يَٰقَوْمِ﴾دادرجل مؤمن دَبيان دويمه حصه ده چې د موسى عليه السلام د قتل نه قوم منع كولونه ورستو اوس ډير په لطيف انداز سره ترغيب وركوي قوم ته په موسى عليه السلام باندې د ايمان راوړلو او د پيروۍ ئې د مخالفت نه ،﴿لَكُمُ الْمُلْكُ الْيَوْمَ﴾دا ترغيب دې چې نن ورځ ستاسو ته بادشاهۍ ميلاو ده په دې مغروره كيږئ مه ، ديكښې ستاسو څه ذاتي كمال نشته ، بلكه دا د الله جل جلاله طرف نه عطيه او نعمت دې كه د دې بقا غواړئ نو قدرداني ئې اوكړئ او قدر داني هم دا ده چې الله جل جلاله احكامات اومنئ چې موسى عليه السلام تاسو ته راوړي دي ‹ظَٰهِرِينَ

» حال دې دَ « لَكُمْ » ضمير مجرور نه، « الْأَرْضِ » كښې الف لام عهد خارجي دې او مراد ترينه زمكه د مصر ده ﴿فَمَن يَنصُرُنَا مِنۢ بَأْسِ اللَّهِ﴾ دا ترهيب دې يعني كه تاسو د دې نعمت قدرداني نه كوئ بلكه دنيوي مفاداتو حصول او حكومت بچ كولو په خاطر د موسى ﷺ مخالفت كوئ نو الله جل جلاله به درنه دا هر څه واخلي ، نو به بيا تاسو وئ او نه به مو دا حكومت وي او د الله جل جلاله سره څوک مقابله نشي كولې ، "فاء" په "فَمَن يَنصُرُنَا" كښې د پاره د تفريع ده ، يعني كه ناشكرئ په نتجه كښې راباندې د الله جل جلاله عذاب راغي نو بيا به مو څوک بچ كوي ؟

«قَالَ فِرْعَوْنُ »كله چې فرعن اوليدل چې د رجل مؤمن مدللو او نصيحت آموزو خبرو په مخاطبينو باندې اثر اوكړو نو هغې اثر زائلو كولو دپاره ئې فوراً دهغه كلام قطع كړو او قوم ته ئې اوئيل ،چې اې څما قومه! دې هسې فضولې خبرې كوي ، كومه خبره چې څه درته كوم هغې كښې ستاسو مصلحت دې او كوم كار حكم چې څه درته كوم هغې كښې ستاسو كاميابي ده ،

﴿مَآ أُرِيكُمْ﴾رؤيت نه مراد رؤيت علمي دې ،اې: ما اعلمكم ولا اشير عليكم ،يعني نه خايم تاسو ته او نه دركوم مشوره تاسو ته مگر د هغې چې څه پكښې خير وينم ﴿إِلَّا مَآ أَرَىٰ﴾دلته د رؤيت نه مراد رؤيت بصري دې

﴿ وَمَآ أَهْدِيكُمْ إِلَّا سَبِيلَ الرَّشَادِ ﴾ "رشاد "ضد "غى" دې حق او كاميابئ لار ته وئيلې كيږي ، يعني كومه مشوره چې څه دركوم دې باندې عمل كولو كښې ستاسو كاميابي ده ، مفسرين فرمائي "چې دې كلام نه د فرعون مقصود خپل خلوص قلبي اظهار دې ، چې بس تاسو كاميابي غواړم نور څه مقصد مې نشته ، «روح»او څنې مفسرين فرمائي چې ديكښې فرعون د خپل د عمل تصويب مقصود دې ، چې څنگه څما قول او رائ صحيح ده دغه شان چې څه تاسو دكوم عمل حكم كوم هغه صحيح دې ،چې هغه قتل د موسي عليه السلام دې ،دې تقدير باندې د سبيل نه مراد عمل دې په قرينې د الرشاد سره .«التحرير والتنوير »

وَقَالَ الَّذِيٓ ءَامَنَ يَٰقَوْمِ إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيْكُم مِّثْلَ يَوْمِ الْأَحْزَابِ ۝ مِثْلَ دَأْبِ

او اويل هغه كس چه مؤمن وؤ ،اې قومه زما بيشكه زه يريږم په تاسو باندې په شان دَعذاب دَورځو دَډلو .په شان دَحال

قَوۡمِ نُوۡحٍ وَّعَادٍ وَّثَمُوۡدَ وَالَّذِيۡنَ مِنۡۢ بَعۡدِهِمۡ ؕ وَمَا اللّٰهُ يُرِيۡدُ ظُلۡمًا
دقوم دنوح ﷺ اودعاديانو اوثموديانو اودهغې خلقوچه ورستووؤددوئ نه.اوالله تعالى اراده نه کوي دظلم
لِّلۡعِبَادِ ۞ وَيٰقَوۡمِ اِنِّىۡۤ اَخَافُ عَلَيۡكُمۡ يَوۡمَ التَّنَادِ ۞ يَوۡمَ
دبندګانوډپاره.اواې قومه زمابيشکه زه ويريږم په تاسوباندې دعذاب دورځې دچغووهلونه،هغه ورځ
تُوَلُّوۡنَ مُدۡبِرِيۡنَ ۚ مَا لَكُمۡ مِّنَ اللّٰهِ مِنۡ عَاصِمٍ ۚ وَمَنۡ
چه اوبه ګرځئ تاسو شاکونکي،نه به وي تاسولره دعذاب دالله ﷻ هيڅ څوك بچ کونکې.اوهغه څوك
يُّضۡلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنۡ هَادٍ ۞
چې ګمراه ئې کړي الله تعالى نونشته دې هغه لره هيڅ څوك هدايت ورکونکې

﴿ وَقَالَ الَّذِىۡۤ اٰمَنَ ﴾ دې ځاۍ نه د رجل مؤمن د تقرير دريمه مرحله شروع کيږي ،چې کله ده اوليدلو چې قوم په نرمئ او اشارو سره نه پوهيږي نو په ښکاره ئې د الله جل جلاله د عذاب نه يرول شروع کړو.«اِنِّىۡۤ اَخَافُ عَلَيۡكُمۡ » دا تخويف دنيوي دې ﴿ مِّثۡلَ يَوۡمِ الۡاَحۡزَابِ ﴾مرادورنه هغه عذابونه دي چې مخکښې امتونوباندې نازل شوي وو.يوم يا پخپله معنى حقيقي دې،يعني ورځ،نوپدې صورت کښې مضاف محذوف دې اى مثل حادِث يوم الاحزاب(روح)يعني پشان دعذابونودَاحزاب يا يوم په معنى دعذاب الهي سره دې،دامعنى مجازي ئې هم معروفه ده،حتّى چې حقيقت عرفيه ګرځيدلې دې،نوپدې صورت کښې حذف دمضاف ته ضرورت نشته دې،البته په دوارو صورتونو کښې دااشکال دې چې مثل ايّام الاحزاب ويل پکاروو،ځکه چې ورځې دعذابونوډيرې وې،نول قومونه په يوه ورځ نه وؤهلاك کړې شوى،جواب دادې: چې يوم نه مراد يوه ورځ نه ده بلکه ايام دي او په دې قرينه «الاحزاب»ده ، ځکه چې دې تفسير ورستو په قوم عاد وثمود سره شوې دې او دا بديهي خبره ده چې دا ډلې خو په يوه ورځې نه وې هلاکې شوې بلکه دوئ د هلاکت په مينځ کښې د يو بل نه ډيره فاصله ده ، نو دې وجهې نه يوم او ايام راوړل دواړه برابر وو.او دوارو صورتونو کښې ئې معنى د جمعې وه نو د تخفيف د پاره صيغې د مفرد له ترجيح ورکړې شوه ﴿ مِّثۡلَ دَاۡبِ قَوۡمِ نُوۡحٍ وَّعَادٍ وَّثَمُوۡدَ ﴾بدل دې يا عطف

بیان دي د ﴿مِثْلَ يَوْمِ الْأَحْزَابِ﴾ نه ﴿وَالَّذِينَ مِنْ بَعْدِهِمْ﴾ قوم دلوط عليه السلام مراد دي ﴿وَمَا اللَّهُ يُرِيدُ ظُلْمًا لِّلْعِبَادِ﴾ دا کلام یادرجل مؤمن دي،یاجمله مستانفه ده کلام الهي دي،دپاره دازالې دشبهي یعني دا دومره قومونه هلاکول ظلم ندي بلکه دقانون مکافات یوه لازمي نتیجه ده،چې دهغې نه هیڅ څوك مستثنی ندي،(لایظلم) په ځاې (لایرید ظلماً) تعبیر راوړلو نه مبالغه في النفي مقصود ده چې الله جل جلاله ظلم کول خو څه چې د ظلم اراده هم نه کوي .

﴿وَيَا قَوْمِ إِنِّي أَخَافُ﴾ پدې کښې تخویف اخروي ذکرکوي،﴿يَوْمَ التَّنَادِ﴾ التناد مصدر دې او په اصل کښې التنادي دې یا حذف شویده دپاره دحُسن اودقافیه.﴿يَوْمَ التَّنَادِ﴾ یوبل ته داوازونو والاورځ،دانوم دې دورځې دقیامت،قیامت ورځ ته یوم التنادځکه وائی چې پدغه ورځ به ډیري نداګانې وي،لکه مثلا:(۱)اوله ندابه دنفخ صورپه وخت کښې وي،چې په یوم یُنادالمنادِ من مکانٍ قریب کښې ئی ذکردې،(۲)هرمسلك والابه خپله خپل مقتدااوپیشوا سره رابللې کیږي چې په یوم ندعواکلّ اناسٍ بامامهم کښې ئی ذکردې.(۳)اهل جنت به اهل نارته اوازونه کوي اواهل ناربه اهل جنت ته اوازونه کوي،چې په ونادیٰ اصحاب الجنة ....ونایٰ اصحابُ النّار سورة اعراف کښې یې ذکردې.

(۴)مؤمن ته چې خپله عمل نامه په خي لاس کښې ملاؤشي نواوازونه به کوي هاؤمُ اقرءوکتابیه.کافربه وائی یٰلیتني لم اوت کتابیه،اودغه شان وائی به:یویلتٰی،یحسرتیٰ،دهلاکت اودافسوس اوازونه به کوي(اللّهم اعذنابفضلك)(۵)یوه ندا به په آخرکښې اوکړیشي چې یااهل الجنة خلودٌ لاموتٌ ویااهل النّارخلودٌ لاموت(الحدیث).

﴿يَوْمَ تُوَلُّونَ﴾ بدل دي د﴿يَوْمَ التَّنَادِ﴾ نه یعني په هغه ورځ چې اوبه ګرځئ تاسوشاکونکي،مطلب دادې چې کله داندا ګانې اوکړیشي چې دکوموذکرپه﴿يَوْمَ التَّنَادِ﴾ کښې اوشو،نومجرمان به د موقف دحساب نه شاکونکي جهنم طرف ته به روان کړیشي،قاله قتادة(کبیروغیره)اونه به وي دوئ لره دعذاب دالله جل جلاله نه هیڅ څوك بچ کونکې،ضحاك رحمه الله،وائي چې مطلب دادې چې کله مجرمان دجهنم خوف ناك اوازونه واوري نو ورنه منډې به کړي ، نوچې کوم طرف ته ځي فرشتو به ورته لارې بندې کړې وي او خپلو خپلو ځایونو ته به ئي واپس کوي.

﴿وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِنْ هَادٍ﴾ دا یا کلام الهي دي چې په جواب د سوال کښې راغلې دې. چې آیا د رجل مؤمن په بیان سره فرعونیانو ته څه فائده او هدایت ملاؤ شو؟ نو جواب او شو چې چا له چې الله ﷻ د ضد او عناد په وجه ګمراه کړي، نو هغه ته بیا څوک هدایت نشي کولې. یا دا کلام د رجلِ مؤمن دې چې دې خبرو کښې د هدایت لوئ سامان پروت دې خو چې څوک الله جل جلاله د ضد او عناد د وجهې نه ګمراه کړي نو دې بیا هیڅ څوک هم په راه راست نشي راوستې.

وَلَقَدْ جَآءَكُمْ يُوسُفُ مِنْ قَبْلُ بِالْبَيِّنٰتِ فَمَا زِلْتُمْ فِي شَكٍّ
او خامخا په تحقیق سره راغلې وؤ تاسو ته یوسف ﷺ مخکښې ددې نه په واضحو معجزو سره، نو همیشه وئ تاسو په شک کښې
مِّمَّا جَآءَكُم بِهِ ۖ حَتّٰىٓ إِذَا هَلَكَ قُلْتُمْ لَنْ يَّبْعَثَ اللّٰهُ
د هغې نه چې راغلې وو تاسو ته په هغې سره تردې پورې چه کله هغه وفات شو نو او ویل تاسو چه هرګز به راؤنه لیږي الله
مِنْۢ بَعْدِهٖ رَسُوْلًا ۚ كَذٰلِكَ يُضِلُّ اللّٰهُ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ مُّرْتَابٌ ﴿٣٤﴾
ورستو د ده نه هیڅ څوک رسول، هم ددې وجه نه ګمراه کوي الله تعالی هغه څوک چه دی اسراف کونکې. شك کونکي وي
الَّذِيْنَ يُجَادِلُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِ اللّٰهِ بِغَيْرِ سُلْطٰنٍ اَتٰىهُمْ ۖ كَبُرَ مَقْتًا
هغه خلق چه جګړې کوی په آیاتونو د الله کښې، بې د دلیل نه چه راغلې وي دوئ ته، څومره لوئ سبب دې دا جدال، د ناراضګئ
عِنْدَ اللّٰهِ وَعِنْدَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۚ كَذٰلِكَ يَطْبَعُ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ قَلْبِ مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ ﴿٣٥﴾
په نیز د الله ﷻ او په نزد د مؤمنانو. هم دغه شان مهرلګوي الله تعالی په ټول زړه د متکبر ظالم باندې

﴿وَلَقَدْ جَآءَكُمْ يُوسُفُ﴾ دا د رجل مؤمن د تقریر څلورمه حصه ده چې دیکښې قوم ته په ایمان نه راوړلو توبیخ او ملامتیا ده چې تاسو د هغه آباؤو اجداد اولاد یئ چې هغوئ ته یوسف علیه السلام الله جل جلاله رالیږلې وو او هغه ورته د الله جل جلاله د وحدانیت واضحه دلائل پیش کړي وو خو هغوئ بیا هم ایمان نه راوړو ، نو اوس تاسو هم د هغوئ په نقش قدم روان یئ. ﴿وَلَقَدْ جَآءَكُمْ﴾ ای جاء الی آبائکم، نسبت د احوال د آباؤدې اولاد ته، ځکه چې یوسف ﷺ دوئ ته نه وؤ مبعوث بلکه د دوئ پلارانو ته مبعوث وؤ. یا کید ایشي چې بعضِ هغه

خلق چې يوسف ﷺ ورته مبعوث وؤ پدغه وخت کښې ژوندي وؤ .لکه په بعض تاريخونو کښې دي چې يوسف ﷺ دَموسى ﷺ نه څلورشپيته(۶۴)کاله مخکښې تيرشوي وؤ .نوپدې کښې نسبت احوالودَبعضو دې کُل ته(روح) ﴿بِالْبَيِّنٰتِ﴾دې نه مرادواضح اومدلل بيان دَتوحيددې چې وئيلې وؤ "آارباب متفرقون خيرٌ"(يوسف) ياورنه معجزات مراددی. اوس دې ورستوني آياتونو کښې د دوئ دَ ګمراهئ څلوردرجات ذکر کيږي : (۱)شک (۲)ضلالت (۳)مجادله (۴)طبع يعني مهر جباريت ،

﴿فَمَا زِلْتُمْ فِي شَكٍّ﴾اى آبائکم، دا دَ ګمراهئ اوله درجه ده چې ستاسوآباء هميشه دَيوسف د رسالت په باره کښې په شک کښې وؤ،او ايمان ئې پرې نه وو راوړې،

﴿حَتّٰى إِذَا هَلَكَ﴾ديکښې د ګمراهئ دويمې درجې بيان دې چې هغه ضلالت دې ، يعني باوجود د دينه چې يوسف عليه السلام تاسو ته واضحه نشانياني راوړې وې خو تاسو ايمان راوړلو په ځائ د هغه رسالت په باره کښې په شک کښې مبتلا شوئ، د هغې نتيجه دا وه چې يوسف عليه السلام حيات پورې خو شک وو خو چې څنګه هغه وفات شو نو خه ګمراه شوئ او صفا خو دا وئيل شروع کړو چې بس دا سلسله اوس ختمه شوه . دينه بعد به يو رسول هم نه راځي، دې تفسير نه دا واضحه شوه چې دوئ دا وينا د تکذيب په بنياد وه ، او څنې مفسرين فرمائي چې دوئ دا خبره بطورِحسرت اوآفسوس کړيده،حضرت شاه صاحب رحمه الله فرمائي چې:دَيوسف ﷺ په ژوند کښې دَ مصر والا دَ ده دَنبوت قائله نه وؤ .ليکن چې دې وفات شو او دَ مصر نظام سلطنت اوخزائن ګډ وډ شو نو بيا دوئ آرمان کولو چې ارمان دې چې داسې به بل رسول الله مبعوث نه کړې ! او غرض د رجل مؤمن دا وو چې اوس دَموسى ﷺ نه انکارمه کوئ څکه چې بيابه ورپسې ارمانونه کوئ،څکه چې دَنعمت قدردَزوال نه بعد وي.

﴿كَذٰلِكَ يُضِلُّ اللّٰهُ﴾ کاف په ﴿كَذٰلِكَ﴾کښې ياکاف تشبيه دې،اومقصددادې چې لکه څرنګه چې اهل مصردَشک په وجه ګمراه شول نودغه شان الله تعالى هرمسرِف مرتاب ګمراه کوي،ياکاف پمعنىٰ دَلامِ تعليليه سره دې اى لذلكَ اومشارٌاليه شکِ دې يعني دَالله تعالى په توحيداودين کښې دَشک پوجه مسرف مرتاب ته الله ﷻ هدايت نه کوي اوګمراه کوي ځي، ﴿مُسْرِفٌ﴾ کثرت سره ګناه کونکې او مشرك ورنه مراد دي﴿ مُرْتَابٌ ﴾ډيرشک کونکې چې په درجه دَانکارکښې اوګرځي

﴿ اَلَّذِیْنَ یُجَادِلُوْنَ ﴾دا هم د رجل مؤمن د بيان حصه ده او ديكښې التفات دې خطاب نه ،غائب ته د پاره د تلطف ، چې ګورئ د الله جل جلاله احكامات او آيات بغير د څه دليل نه مه ، رد كوئ او خامخا مخالفت ئې مه كوئ ، دا صفت د الله جل جلاله ډير ناخوښه دې ، او ديكښې دګمراهئ دريمې درجې بيان هم اوشو چې هغه مجادله ده ، چې انسان ضلالت نه ورستو كه چرته د الله جل جلاله په آيتونو باندې غور اونكړي نو هغه كښې د مجادلې صفت پيدا شي اودا د الله په نيز مبغوض ترين صفت دې ،«اَلَّذِیْنَ »مبتدا دې او «كَبُرَ مَقْتًا» ورله خبر دې ، "كَبُرَ" فعل تعجب دې او ضمير مستتر پكښې راجع دې مجادلې ته ، چې په هغې "يُجَادِلُوْنَ" فعل دلالت كوي ،او "مَقْتًا" تمييز محول عن الفاعل دې . اي: كبر مقت جدالهم عند الله ،

﴿ وَعِنْدَ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا ﴾ دا عطف دې په عند الله باندې او ديكښې د مؤمنانو فضيلت اظهار مقصود دې چې د هغوئ صفت دا دې چې جدال او جهګړې نه كوي بلكه كوم شې چې الله جل جلاله ته خوښ وي هغه دوئ ته هم خوښ وي او كوم شې چې الله جل جلاله ته ناخوښ وي هغه دوئ ته هم ناخوښ وي . او دغه شان دې كښې ديته هم اشاره ده چې د الله جل جلاله د ناخوښئ يو مظهر دا هم دې چې مؤمنان مجموعي طور باندې يو شې رد كړي . كقول ابن مسعود رضي الله عنه :ما رأئ المسلمون حسناً فهو عند الله حسن ، وما راوا سيئاً فهو عند الله سيئ (مسند احمد: ۳۶۰۰)

﴿كَذٰلِكَ يَطْبَعُ اللّٰهُ﴾ داخلورمه درجه ده دګمراهئ ، چې د مجادلې په نتيجه آخر كار په انسان مهر جباريت اولګي ، بيا ورته هدايت نه ملاويږي،كاف په﴿كَذٰلِكَ ﴾كښې ياتشبيهيه دې يعني لكه څرنګه چې پدې مذكوره وجوهاتوسره دَفرعون اوهامان په زړونوباندې مهرجباريت لګيدلې وؤنودغه شان الله تعالى دَهرمتكبراوجبارپه زړه مهرلګوي،ياكاف پمعنى دَلام تعليليه دې "اى لذالك" اومشاراليه.جدال دې يعنيددې جدال پوجه الله تعالى مُهردَجباريت لګوي ﴿ عَلٰى كُلِّ قَلْبِ ﴾ كلّ افرادي ندي چې معنىٰ داشي چې الله تعالى دَ هر هر فرد دَ متكبر باندې مُهردَطبع لګوي.ځكه بعضِ متكبرته كله هدايت هم اوشي بلكه كلّ مجموعي دې، يعني الله تعالى دَمتكبراودَجبارپه ټول زړه مهرلګوي،يعني دې مهراحاطه كړې وي اوټول زړه ئې ورته بند كړې وي﴿مُتَكَبِّرٍ﴾چې مُعانداونه منونكې وي دَالله تعالى دَاحكاماتو﴿جَبَّارٍ﴾چې ظلم كونكې وي په مخلوقاتودَالله تعالى باندې يعني ظالم وي.

وَقَالَ فِرْعَوْنُ يٰهَامٰنُ ابْنِ لِيْ صَرْحًا لَّعَلِّيْٓ اَبْلُغُ الْاَسْبَابَ ﴿۳۶﴾ اَسْبَابَ السَّمٰوٰتِ

اوويل فرعون اې هامانه! جوړکړه ماله اوچت عمارت،دپاره ددې چه اورسم زه لارونه.لاروداسمانونوته

فَاَطَّلِعَ اِلٰٓى اِلٰهِ مُوْسٰى وَاِنِّيْ لَاَظُنُّهٗ كَاذِبًا ؕ وَكَذٰلِكَ زُيِّنَ لِفِرْعَوْنَ

پس چه اوخيژمه زه اله دموسی ته.اوبيشکه زه ګمان کوم په ده د دروغژن.دغه شان ښائسته کړې شوۇفرعون ته

سُوْٓءُ عَمَلِهٖ وَصُدَّ عَنِ السَّبِيْلِ ؕ وَمَا كَيْدُ فِرْعَوْنَ اِلَّا فِيْ تَبَابٍ ﴿۳۷﴾

ناکاره عمل دهغه اومنع کړې شوي ووُدسمې لارې نه.اونه ووُمکردفرعون مګرپه تباهی کښې

﴿ وَقَالَ فِرْعَوْنُ يٰهَامٰنُ ﴾ د " رجل مؤمن " مدلل او متاثر کن تقرير اوريدلو نه ورستو فرعون لعين سره دا خوف پيدا شو چې قوم چرته ايمان رانه وړي " نو فوراً ئي د دې اثر ختمولو او خلقو توجه بدلولو د پاره ډير مکاره او عياره طريقه اختيار کړه او خپل وزير "هامان" ته ئي او ئيلوچې کچرته واقعي څما نه علاوه بل اله وي او موسي د هغه پيغمبر وي نو ته ماله يو دنګ عمارت جوړ کړه چې څه ورسره آسمان لارو ته اورسيږم او بيا آسمان ته اوخيژم او د موسي اله اووينم . او دا خو ظاهر خبره ده چې څومره دنګ عمارت او سيړۍ ولې نه وي خو آسمان ته رسائي ورسره نشي کيدې ، نو دې نه ئي دا نتيجه اخذ کړه چې دې دروغ ژن دې ، ځکه که څما نه ما سوا بل اله وې نو هغه ته به رسائي ممکن وه او دهغه ليدل کتل به ممکن وو ، دهغه به يو قصر سلطاني او تخت سلطنت وو لکه څنګه چې د دنيا بادشاهانو وي . او دا خو شته نه ،نو معلومه شوه چې څما نه ماسوا بل اله هم نشته ، او چې اله نشته نو دې رسول د کوم ځايه راغې ؟!

هرچه ده داخبره چې هامان آيادې حکم تعميل کړې وؤاوکه نه وؤکړې دغه رنګه نور تفصيل په سورة قصص:فاوقدلي ياهامٰنُ على الطِّينِ(آيت:۳۸)کښې تيرشويدې ، ﴿ صَرْحًا ﴾ښکاره اواوچت تعميرته وائي﴿ الْاَسْبَابَ ﴾جمع دسبب ده اسباب دختلولکه رسئ وغيره ياورنه مراد لارې دې يادروازې دی.﴿ اَسْبَابَ السَّمٰوٰتِ ﴾بيان دې د﴿ الْاَسْبَابَ ﴾ ، ﴿ فَاَطَّلِعَ ﴾جواب دلعلّ دې، چې په﴿ لَّعَلِّيْٓ ﴾کښې ذکردې،ياجواب دامردې چې﴿ابْنِ لِيْ ﴾دې اود فا نه بعد "ان" مقدردې:اى فان اطلع.﴿ وَاِنِّيْ لَاَظُنُّهٗ كَاذِبًا ﴾يعني څمايقين دادې چې موسى عليه السلام په دعوه دخپل رسالب کښې

یا په بیان دَتوحید کښې دروغژن دې(نعوذبالله) ﴿ وَكَذٰلِكَ زُيِّنَ ﴾ یعني څنګه فرعون ته دا دلیل مزین کړې شوې وو حالانکه د دې هیڅ علمي او عقلي بنیاد نه وو: څکه چې یو څیز عدم رؤیت یا عدم علم د هغې عدم وجود دلیل نه وي . خو ده ته شیطان دا دلیل ډیر مضبوط ښکاره کړې وونو دغه شان دَ ده هر عمل بد ده ته مزین کړې شوې وو او د خیر اوکامیابۍ د لارې نه منع کړې شوې وو

﴿وَمَا كَيْدُ فِرْعَوْنَ اِلَّا فِيْ تَبَابٍ ﴾ تباب ای هلاک وخسران. دا ادخال الهي دې چې دَفرعون هرتدبیرناکامه وؤ، اوپه هیڅ تدبیرسره ئې خپل ځان دَالله تعالی دَګرفت نه بچ نه کړوتردې چې سره دَخپل لښکرنه په دریاب کښې غرق شو او موسی علیه السلام ته ئې هیڅ نقصان او نه رسولو.

وَقَالَ الَّذِيْٓ اٰمَنَ يٰقَوْمِ اتَّبِعُوْنِ اَهْدِكُمْ سَبِيْلَ الرَّشَادِ ۝٣٨ يٰقَوْمِ

اواُویل هغه کس چه مومن وؤ،ای قومه زما تابعداري وکړئ زما اوبه ښایم تاسوته لاره سمه،ای قومه زما

إِنَّمَا هٰذِهِ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا مَتَاعٌ ۡ وَّاِنَّ الْاٰخِرَةَ هِيَ دَارُ الْقَرَارِ ۝ مَنْ عَمِلَ سَيِّئَةً

بیشکه دَاژوندددُنیا لږه نفعه ده اوبیشکه آخرت صرف هغه کوردقرارئ دې،څوك چې عمل وکړی بد

فَلَا يُجْزٰٓى اِلَّا مِثْلَهَا ۚ وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ

نوهغه ته بدله نشي ورکولې مګرپه شان دَهغې،اوڅوك چه عمل وکړي نیك سړي وي اوکه ښځه اودې مومن وي

فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ يُرْزَقُوْنَ فِيْهَا بِغَيْرِ حِسَابٍ ۝ وَيٰقَوْمِ مَا لِيْٓ

نودغه خلق داخلیږي به جنت ته رزق به ورکولیشي به دوئ ته په هغې کښې بې حسابه.اواې زماقومه! څه دی ماله

اَدْعُوْكُمْ اِلَى النَّجٰوةِ وَتَدْعُوْنَنِيْٓ اِلَى النَّارِ ۝٤١ تَدْعُوْنَنِيْ لِاَكْفُرَ بِاللّٰهِ

چه دعوت درکوم زه تاسوته نجات طرف ته اوتاسودعوت راکوئ ماته اُورطرف ته.دعوت راکوئ ماته چه زه کفروکړم په الله ﷻ

وَاُشْرِكَ بِهٖ مَا لَيْسَ لِيْ بِهٖ عِلْمٌ ۡ وَّاَنَا اَدْعُوْكُمْ

اوشریك اوګرځوم دَالله سره هغه چه نیشته دې ماسره دَهغه په معبودوالي باندې هیڅ دلیل،اوځه دعوت درکوم تاسوته

إِلَى الْعَزِيزِ الْغَفَّارِ ﴿٤٢﴾ لَا جَرَمَ أَنَّمَا تَدْعُونَنِي إِلَيْهِ

هغه ذات طرف ته چه غالب دي بخښونكي دي يقيني ده داخبره چه بيشكه هغه معبود چې راغواړئ تاسو ما عبادت دهغه ته

لَيْسَ لَهُ دَعْوَةٌ فِي الدُّنْيَا وَلَا فِي الْآخِرَةِ وَأَنَّ مَرَدَّنَا إِلَى اللَّهِ

نيشته دي هغه دپاره طاقت دقبولو دعانه په دنياكښ اونه په آخرت كښ اوبيشكه پيشي زمونږه الله تعالى ته ده

وَأَنَّ الْمُسْرِفِينَ هُمْ أَصْحَابُ النَّارِ ﴿٤٣﴾ فَسَتَذْكُرُونَ مَا أَقُولُ لَكُمْ

اوبيشكه اسراف كونكي هم دوئ خاوندان داُوردي،نوزرده چه بيابه ياده وئ تاسوهغه خبره چه زه ئي كوم تاسوته،

وَأُفَوِّضُ أَمْرِي إِلَى اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ بَصِيرٌ بِالْعِبَادِ ﴿٤٤﴾ فَوَقَاهُ اللَّهُ سَيِّئَاتِ

اوزه حواله كوم خپل كارالله تعالى ته،بيشكه الله تعالى ليدونكې دي دهغه بندگانولره.نوبچ كړوده لزه الله دسختو

مَا مَكَرُوا وَحَاقَ بِآلِ فِرْعَوْنَ سُوءُ الْعَذَابِ ﴿٤٥﴾

تدبيرونونه چې دوئ جوړې كړې وو او گيركړل آلِ فرعون ناكاره عذاب

﴿ وَقَالَ الَّذِي آمَنَ يَا قَوْمِ اتَّبِعُونِ ﴾داهم درجل مؤمن دبيان حصه ده چې پدې كښ دي خپل ايمان ظاهره وي اوقوم ته دخپلې اتباع دعوت وركوى چې ماپه حضرت موسى ﷺ باندې ايمان راوړې دې تاسوهم پدې كښ څماموافقت وكړئ،﴿ أَهْدِكُمْ سَبِيلَ الرَّشَادِ ﴾اشاره ده چې فرعون دعوه د خدائي كوي خو دا لاره دهدايت نده بلكه دگمراهئ لاره ده.چې ونيلې ووچې،﴿ أَهْدِكُمْ سَبِيلَ الرَّشَادِ ﴾،

﴿ يَا قَوْمِ إِنَّمَا هَٰذِهِ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا ﴾تزهيد من الدنيادې،چې ددنيامال دولت، عهدې،لذتونه وغيره ټول دهوكه ده،نوپدې اعتبارمه كوئ بلكه اعتبارپه اخرت پكاردې څكه چې آخرت،﴿ دَارُ الْقَرَارِ ﴾كوردهميشه والي دې،چې فناكيدل پكښ نشته دې،

﴿ مَنْ عَمِلَ سَيِّئَةً ﴾تخويف اخروي دې،چې چاڅومره گناه وكړو نودهغې په قدربه ورته بدله اوسزاملاويږي،داآيت اصل كبيردې په شريعت كښ چې په جناياتوكښ سزاوركول په مثل سره مشروع دى اوزائدعلى المثل مشروع ندې،﴿ وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا ﴾بشارت أخروي دې چې.

اصلاح دآخرت په ایمان اونیك عمل سره کیږي، اوداهم ظاهره شوه چې دَالله تعالی رحمت په غضب دَهغه باندې غالب دې ځکه چې دګناه بدله بقدرمثل ورکوي اودَایمان اونیك عمل بدله داده چې ﴿بِغَيْرِ حِسَابٍ﴾ ای بغیرعدد یعني بې شماره، کنایه ده دکثرت نه، یعني دَعمل په مقدار به ورته اجرنه ورکوي بلکه څوڅوچنده زیات به ورکوي.

﴿وَيَٰقَوْمِ مَا لِيٓ أَدْعُوكُمْ﴾ داهم دَرجلِ مؤمن دَبیان حصه ده چې پدې کښې دې نورهم وضاحت کوي چې داعجیبه خبره ده چې څه تاسوته دَایمان دعوت درکوم اودا چې د الله جل جلاله عبادت کوئ او موسي علیه السلام تصدیق اوکړئ چې پدې سره نجات ملاویږي اوتاسوماکفرته راغواړئ چې هغه دَجهنم لارده، ځما د جانبه دوستئ او خیر خواهئ غوښتنه او ستاسو د جانبه دشمنئ او بدو غوښتنه!

﴿تَدْعُونَنِي لِأَكْفُرَ بِاللَّهِ﴾ تفسیردې دَماقبل په طریقه دَ لَف نشرغیرمرتب سره، یعني تاسومادوزخ طرف ته راغواړئ هغه داچې څه کفروکړم دَالله تعالی په ذات باندې، ﴿وَأُشْرِكَ بِهِ﴾ او شریك اوګرځوم الله تعالی سره ﴿مَا لَيْسَ لِي بِهِ عِلْمٌ﴾ ای بمعبودیته، هغه بُتان چې دَهغې په معبودیة او الوهیة باندې ماسره هیڅ دلیل نشته دې. ﴿مَا لَيْسَ لِي بِهِ عِلْمٌ﴾ نفي دَعلم کنایه ده دَنفي دَمعلوم نه یعني دَالله ﷻ نه ماسویٰ بل معبودبرحق نشته دې، اوځه تاسونجات طرف ته راغواړم هغه داچې ﴿الْعَزِيزِ﴾ غالب دې په انتقام کچرې تاسوموسیٰ ﷺ یاما ته مو تکلیف راکړو ﴿الْغَفَّارِ﴾ بخونکې دې کچرې توبه موو کړه،

﴿لَا جَرَمَ أَنَّمَا تَدْعُونَنِي إِلَيْهِ﴾ یعني حقه ده داخبره چې تاسوماکوموممعبودانو طرف ته راغواړئ نوهغوئ دَچاهیڅ حاجت نه شي پوره کولې نه دنیاوي نه اُخروي. دَ ﴿لَا جَرَمَ﴾ په اصل معنیٰ کښې مختلف اقوال دی چې حضرت والدمحترم نورالله مرقده وبرّدمضجعه ، په سورة هودآیت(۲۲) کښې ذکرکړیدی هغورجوع ورته اوکړئ. ﴿أَنَّمَا تَدْعُونَنِي إِلَيْهِ﴾ "ان" حرف مشبه بالفعل دې، "ما" موصوله ورله اسم دې، " تدعونني اليه " جمله ورله صله ده ،او " ليس له دعوة " جمله خبر ده د " ان "

﴿لَيْسَ لَهُ دَعْوَةٌ فِي الدُّنْيَا﴾ عبارة(۱) یاپه حذف دَمضاف سره دې، ای ليس له استجابةُ دعوةٍ، یعني دااصنام چې تاسوهغې طرف ته ماته دعوة راکوئ په هغوئ کښې طاقت

د دُعاقبلولونشته دي او دَ چاحاجت اودعانشي قبلولې (۲) يايه حذف دموصوف سره دې اى لي س له دعوةٌ مستجابةٌ، مطلب دادې چې دااصنام نه مستحق دغوختني دى اوكه بالفرض والمحال دَدوئ نه غوښتنه اوكړيشي نودوئ جواب نشي وركولې. لكه په سورة فاطر (۱۴) كښې دي: ان تدعوهم لايسمعوادُعاءكم ولوسمعواما استجابوالكم. نودَداسې قسمه معبودانوعبادت كول خوډيره بې وقوفي اوناداني اوګمراهى ده، كقوله تعالى: ومن اضل ممن يَدعوامن دُون الله من لآيستجيب له الى يومِ القيامة وهم عن دُعائهم غفلون (احقاف: ۵) (۳) كلبي رحمه الله وائى چې دوئ ستاسوشفاعت نشي كولې نه په دنياكښې (يعني دَالله تعالى دَعذاب نه مونشي بچ كولې) اونه په آخرت كښې (۴) بعضِ وائي چې مراددادې چې دوئ دَخپل ځان عبادت كولوته څوك نشي رابللې اومعبودبرحق خوهغه وي چې دعوت دعبادت وركړي خلقوته. لكه الله تعالى معبودبرحق دې نوخپل عبادت طرف ته خلق راغواړي، ﴿وَلَا فِى ٱلْـَٔاخِرَةِ﴾ اوپه آخرت كښې به هم ستاسو دَعبادت نه انكاراوكړي، كقوله تعالى: ويومَ القيامة يكفرون بشركِكم (فاطر: ۱۴).

﴿وَأَنَّ مَرَدَّنَآ إِلَى ٱللَّهِ﴾ عطف دې په ﴿أَنَّمَا تَدْعُونَنِىٓ إِلَيْهِ﴾ يعني خامخازمونږ مرجَع الله تعالى دې دَهغه په عدالت كښې به حاضريږو، نو ﴿وَأَنَّ ٱلْمُسْرِفِينَ﴾ چاچې زياتي كړې وي نودوزخ ته به ځي، مراددَ ﴿ٱلْمُسْرِفِينَ﴾ نه يامشركين دى، ځكه چې شرك په ګمراهئ كښې اسراف دې او د هُمْ أَصْحَـٰبُ ٱلنَّارِ مطلب دا دې چې دوئ به هميشه په اور كښې وي او يا ٱلْمُسْرِفِينَ نه مراد ګناه كښې اسراف كونكي دي نو مؤمن ګناه ګار پكښې هم داخل دې او أَصْحَـٰبُ ٱلنَّارِ ورته په اعتبار دمكث طويل وئيلي شوي دي ،

﴿فَسَتَذْكُرُونَ مَآ أَقُولُ لَكُمْ﴾ دا دَ رجل مؤمن تقرير آخري حصه او د بيان خاتمه ده په لطيف انداز كښې. چې زمانصيحت خواوس نه منئ خوچې كله عذابِ الهي راشي نوبيابه زمادَخبرو ارمان وكړئ. ما په ﴿مَآ أَقُولُ لَكُمْ﴾ كښې يامصدريه دي اى فستذكرون قولي لكم اذا حلّ بكم العذاب (قرطبي) يعني چې كله درباندې عذاب راشي نوبيابه درته زماخبره ياده شي لكه صوفي عبدالرحمان بابا رحمه الله وائي شعر:

دَرحمان ويل به هله درته يادشي	چې دى يوكمرته مخ بل ته دې شاشي

یا "ما" موصوله دې ای الّذی اقولُ لکم(قرطبي)کله چې رجلِ مؤمن پوره تفصیلي بیان اوکړو اوزړه ئی په حق ویناباندې خه یخ کړو. ازوالد علیه السلام نوفرعون دده دقتل اراده وکړه نورجلِ مومن دااووې، ﴿ وَأُفَوِّضُ أَمْرِي ﴾یعني ځما مقصد دعوت رسول او نصیحت کول وو . هغه ما تاسو ته اوکړو اوس ستاسو خوښه ده ایمان راوړئ او که نه راوړئ ؟ ما خپل ځان او خپله معامله الله جل جلاله ته سپارلې ده ، هغه خپلو بندګانو ته ګوري او هغه ځماحامي او ناصر دې ،

﴿ فَوَقَاهُ اللَّهُ سَيِّئَاتِ مَا مَكَرُوا ﴾دې آیاتونو کښې د حق وباطل معرکې آخري انجام بیان دې چې هغې خلاصه دا ده : (۱) چې فرعون په دې دنیا هم ناکام شو او سره د لښکرو غرق شو. (۲) په قبر او برزخ کښې ورته هم عذاب میلاویږي (۳) او آخرت کښې به ورته د دینه سخت عذاب میلاویږي ، نو دې آیت کښې د فرعون اول انجام ذکر دې چې موسي علیه السلام او د هغه ملګري الله جل جلاله کامیاب کړو او فرعون سره دَ لښکرو نه غرق شو ((فَوَقَاهُ اللَّهُ)) کښې ضمیر منصوب رجل مؤمن ته راجع دې ،اي: نجاه الله مع موسی ((سَيِّئَاتِ مَا مَكَرُوا))دینه مراد د فرعون مختلف تدابیر او عذابونه دي ((وَحَاقَ بِآلِ فِرْعَوْنَ))دینه مراد فرعون متبعین دي او فرعون پکښې بطریق اولی داخل دې ؛ ځکه چې متبعینو ته ئې دا سزا میلاو شوه نو دې خو سردار وو نو دې خو ئې خامخا مستحق وو ، ((سُوءُ الْعَذَابِ)) نه مراد غرقیدل په بحیره قلزم کښې ، ځنې مفسرینو ددې آیت تفسیر د حضرت ابن عبا س رضي الله عنهما دا قول ګرځولې دې چې کله رجل مؤمن دا تقریر اوکړو نو فرعون ورله د قتل دهمکي ورکړه او د نیولو حکم ئې جاري کړو نو دې د دغه ځائ نه اوتختیدو او غر ته لاړو، فرعون دده په تالاش کښ زر (۱۰۰۰)کسان اولیږل چې دې راولئ،لیکن داکسان چې غره ته لاړل نودې رجلِ مؤمن مونځ کولو اودَده نه ګیر چاپیره لیوګان شرمخان ولاړ وؤ،بعضِ کسانو دَ هغه دَ نیولو اراده وکړه نو لیوګانو اوخوړل، بعضِ کسان دَتندې په وجه مړه شول،اوبعضِ کسان واپس راوتختیدل، نو چې دوئ فرعون خوا ته ناکامَ واپس شول نوفرعون ددې ټولوقتل کولوحکم اوکړو ،نوپهانسي ئې کړل اوقتل ئې کړل (روح المعاني)اوالله تعالیٰ رجلِ مؤمن ته دَدوئ دَتدبیربدنه حفاظت ورکړو، دې تقدیر باندې د ((فَوَقَاهُ اللَّهُ)) نه صرف د رجل مؤمن نجات مراد دې ،((بِآلِ فِرْعَوْنَ)) فوجیان د فرعون دي

چې د ده نیولو د پاره تللي وو او ((سُوْٓءُ الْعَذَابِ)) نه مراد شرمخانو خوړل . تندي نه مړیدل او قتل کیدل دي . خو اول تفسیر راجح دې .

اَلنَّارُ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَّعَشِيًّا ۚ وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ ۫ اَدْخِلُوْٓا
اور د جهنم، دوئ پیش کولیشي په هغې باندې صبااوبیګا اوپه کومه ورځ چه قائم شي قیامت.فرشتوته به اوئیلې شي داخل کړئ
اٰلَ فِرْعَوْنَ اَشَدَّ الْعَذَابِ ۝ وَاِذْ يَتَحَآجُّوْنَ فِي النَّارِ فَيَقُوْلُ الضُّعَفٰٓؤُا لِلَّذِيْنَ
آل دفرعون ډیرسخت عذاب ته.اوکله چې داجهنمیان جګړه کوي په اورکښ نووائي به کمزوري(اتباع)هغه خلقوته
اسْتَكْبَرُوْٓا اِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ اَنْتُمْ مُّغْنُوْنَ عَنَّا نَصِيْبًا مِّنَ النَّارِ ۝
چه تکبرئي کړي وو چه بیشکه وږمونږه ستاسوتابع.نوآیاتاسولرې کولیشئ زمونږنه څه حصه دأور
قَالَ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْٓا اِنَّا كُلٌّ فِيْهَآ اِنَّ اللّٰهَ قَدْ حَكَمَ
اوبه وائي هغه خلق چه تکبر ئي کړي وو(متبوعین)بیشکه مونږټول پدیکښ یو ،بیشکه الله تعالی کلکه فیصله کړیده
بَيْنَ الْعِبَادِ ۝ وَقَالَ الَّذِيْنَ فِي النَّارِ لِخَزَنَةِ جَهَنَّمَ ادْعُوْا رَبَّكُمْ
په مینځ دبندګانوکښ. اواوبه وائي هغه خلق چه په جهنم کښ دي،چوکیدارانودجهنم ته سوال وکړئ خپل رب ته
يُخَفِّفْ عَنَّا يَوْمًا مِّنَ الْعَذَابِ ۝ قَالُوْٓا اَوَلَمْ تَكُ تَاْتِيْكُمْ رُسُلُكُمْ
چه سپک کړي زمونږنه یوه ورځ دعذاب.هغوئ به ورته اووائي،آیاولې نه وړاغلی تاسوته رسولان ستاسو
بِالْبَيِّنٰتِ ۭ قَالُوْا بَلٰى ۭ قَالُوْا فَادْعُوْا ۚ وَمَا دُعٰٓؤُا
په واضحه معجزوسره، دوئ به اووائي: ولې نه ! ،اوبه وائي ورته فرشتې چه تاسوسوال وکړئ،اونده دعا
الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ ۝
دکافرانوپه جهنم کښ مګرضائع ده.

﴿ اَلنَّارُ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا ﴾ دى آياتونو كښې دَفرعونيانو د دويم انجام ذكر دې چې د قبر زندګي نې د عذاب زندګي ده .((اَلنَّارُ)) مبتدا دې او ((يُعْرَضُوْنَ)) ورله خبر دې او دا پورا جمله بدل الاشتمال دې د ((وَحَاقَ بِاٰلِ فِرْعَوْنَ)) جملې نه څکه چې ((سُوْٓءُ الْعَذَابِ)) نه مراد غرقيدل دې .او غرق مشتمل دې په موت، اوموت د دوئ مشتمل دې په عذاب .او يا ((اَلنَّارُ)) بدل كل دې د ((سُوْٓءُ الْعَذَابِ)) نه او ((يُعْرَضُوْنَ)) جمله ورله حال ده خو دې تقدير باندې ضروري ده چې ((سُوْٓءُ الْعَذَابِ)) نه مراد عذابِ قبر شي او پاتې شول غرقيدل نو د هغې ذكر دلته نشته .(كذا في التحرير والتنوير)

﴿ غُدُوًّا وَّعَشِيًّا ﴾ ياكنايه ده دَدوام نه يعني هروخت پدوئ اورپيش كولې كيږي.لكه د جنتيانوباره كښې الله تعالى فرمائي:ولهم رزقهم فيهابكرةً وعشيًا (مريم ٦٢)ياورنه مرادخپله معنى يعني صباوبيګادې دَدُنيادَورځوپه حساب باندې.يعني څه وخت په اول دَورځې كښې ورته عذاب وركړې شي بياورنه چې لږ كړيشي نودوئ به داګمان اوكړي چې بيابه نه را واپس كيږي نوپه آخردَورځې كښې ورباندې بياراشي كقوله تعالى:كلّماارادواان يّخرجوا منها أُعيدوا فيها: (سجده ٢٠)اوددې عرض النار په آل فرعون باندې تفسيرپه روايت دَابن مسعودﷺ كښې راغلې دې چې:انّ ارواحهم فى اجوافِ طيرٍسودٍتغدوعلى جهنّم وتروحُ كلّ يومٍ مرتين فذلك عرضها:(ابن كثير،قرطبي)يعني لكه څرنګه چې دَشهيدانوارواح دَطيورخضرپه حواصلو كښې داخل شي اودَجنت سيلونه كوي نودغه شان دَ فرعونيانو روحونه، طيور سود (تورو مرغانو)په حواصلوكښې داخل دى او هر صبا او بيګاه جهنم طرف ته ليږلې كيږي،اودغه شان حال دَهركافروي:انّ الكافراذامات عُرض على النّاربالغداة والعشيّ(بخاري)يعني كافرچې مړشي نو روزانه صباوبيګادې په اور پيش كيږي ، اودَمومن په باره كښې دي:وانّ المومن اذامات عُرض رُوحه على الجنّة بالغداة و العشيّ،مؤمن چې كله وفات شي نودده روح سهار او بيګا جنت باندې پيش كولې كيږي،په صحيحينوكښې دَابن عمرﷺ روايت راغلې دې چې حضورﷺ فرمائي:انّ احدكم اذامات عُرض عليه مقعده بالغداة والعشيّ ان كان من اهلِ الجنة فمن اهلِ الجنّة وان كان من اهلِ النارفمن اهل النّار فيقال:هذا مقعدك حتّى يبعثك الله تعالى(رواه البخاري فى الجنائز)

﴿وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ أَدْخِلُوا﴾ دې کښې د آخري انجام ذکر دې ، دَادخلوا نه مخکښې يُقال للملائکة مقدردې،يعني دَقيامت په ورځ به ملائکوته اووئيلی شي چې داخل کړئ آل فرعون سخت عذاب ته،په يوقرائت کښې "اُدخلوا"راغلې دې امردې دَ دخلَ يَدخُل دخولأنه او آل منصوب دې په تقدير دَحرف ندا سره اى اُدخلوايآآل فرعونَ نوبناپه دې قرأت همزه په ادخلوا کښې وصلي ده، او دَاول قرأت په بناهمزه قطعي ده دَادخال نه ﴿أَشَدَّ الْعَذَابِ﴾ اشد په نسبت سره عذاب دَ قبر ته، يااشدعذاب دَجهنم ته ئې داخل کړئ.

فائده:داآيت په اثبات د عذاب قبر باندې واضح دليل دې ځکه چې دلته اول د ﴿النَّارُ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا﴾ ذکر دې چې سحر او بيګا په دوئ اور پيش کولې شي او بيا د ﴿وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ أَدْخِلُوا﴾ ذکر دې ،چې قيامت په ورځ به ورله د دينه سخت عذاب ورکولې کيږي ، نو دينه دوه خبرې ثابتې شوې : (۱) يو دا چې دا اول عذاب د دويم عذاب نه غير دې ؛ ځکه چې په مينځ کښې ئې حرف عطف راغلې دې او دا د مغائرت فائده ورکوي .(۲) دويم دا چې ﴿وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ﴾ نه معلوميږي چې ﴿النَّارُ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا﴾ عذاب د قيامت عذاب نه مخکښې دې ، او دا سوا د قبر عذاب نه بل عذاب نشي کيدې ، دې نه علاوه نور آياتونه او کنړ شمير احاديث په اثبات د عذاب قبر دلالت کوي او ددينه انکار لوئ ضلالت او قريب کيدل دې کفر ته .

﴿وَإِذْ يَتَحَاجُّونَ فِي النَّارِ﴾ داتخويف اُخروي دې هغوخلقوته چې دَباطل اتباع کوي.لکه څرنګه چې آل فرعون دَفرعون اتباع وکړه نوپه عذاب کښې مبتلاشول نودغه شان چې څوک دَباطل اتباع کوي نودَخپلو متبوعينو سره به په جهنم کښې وي اوجګړې به ورسره کوي، دَ اذ عامل په نزد دَ بعضو مقدردې چې اذکر دې اى اذکروقت تخاصمهم فى النار(روح) ﴿فَيَقُولُ الضُّعَفَاءُ﴾ تفصيل دې دَمخاصمې.دَضعفاء نه مراداتباع دى چې په عقل اوفهم رائ کښې ضعيف وو. ﴿لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا﴾ نه مراد متبوعين دي چې اعراض اوتکبرئ کړيدې دَايمان اواطاعت درسول ﷺ نه.﴿إِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا﴾ تبعًايإجمع دَتابع ده،يعني مونږستاسوتابع وُو په تکذيب دَرسولانو کښې،يامصدردې اواسنادئې مبالغةً شويدې په اتباع کښې.

﴿فَهَلْ أَنتُم مُّغْنُونَ﴾ استفهام يا حقيقت باندې محمول دې چې مونږ خو ستاسو خدمت ګاران وو که څه طريقه وي د عذاب نه د بچ کيدلو نو بچ مو کړئ ؟ او يا د پاره د توبيخ او ملامتيا دې او د متبوعينو تعجيز مقصود دې چې دنيا کښې مو ځان پسې راکاږلو . اوس مو د عذاب نه بچ کړئ کنه !

﴿قَالَ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا﴾ دا جواب دې د متبوعينو ، که استفهام خپلې حقيقي معنې کښې واغستلې شي نو بيا تقرير داسې دې چې ګورئ نه مونږ خپله په عذاب کښې اخته يو . که مونږ چرته عذاب لرې کولې شوې نو اول به مو د ځان نه لرې کړې وې . او که استفهام د توبيخ د پاره وي نو بيا ئې تقرير داسې دې چې مونږ مه ملامته کوئ . مونږ هم درسره عذاب کښې مبتلا يو ، داسې نه ده چې تاسو مو مخکښې کړي يئ او ځان مو ترينه بچ کړې دې ، ﴿إِنَّا كُلٌّ فِيهَا﴾ ((كُلٌّ)) مبتدا دې ،((فِيهَا)) ورله خبر دې او پوره جمله خبر ده د "ان" ﴿إِنَّ اللَّهَ قَدْ حَكَمَ بَيْنَ الْعِبَادِ﴾ يعني دغه دِ الله جل جلاله حتمي فيصله ده چې اهل جنت به جنت او اهل جهنم به جهنم ته ځي ، اوس د دې بدلولو طاقت څوک نه لري .

﴿وَقَالَ الَّذِينَ فِي النَّارِ﴾ هر کله چې دااتباع اومتبوعين دَيوبل دَامدادنه مايوسه شي نو دَجهنم خزنه ؤته به رجوع وکړي اوسوال به ورته اوکړي چې دَخپل رب نه درخواست وکړئ چې زمونږ نه عذاب څه وخت د پاره کم کړې شي.﴿يُخَفِّفْ عَنَّا يَوْمًا﴾ای مقداريوم من ايام الدنيا،دَيوې ورځې په مقداردې زمونږنه عذاب لرې کړي،يوه ورځ دې چهټي راکړي لکه چې په دُنياکښې به يوه ورځ چهټي وه،﴿مِّنَ الْعَذَابِ﴾ من يابيانيه دې ياتبعيضيه دې ای شيئامن العذاب. يعني يوې ورځې د پاره دې زمونږ نه څه عذاب کم کړي،

﴿قَالُوا أَوَلَمْ تَكُ﴾فرشتې به ورنه تپوس اوکړي چې آياتاسوته رسولان نه وؤراغلي چې ددې ورځې نه ئې يره ولئ؟ ((قَالُوا بَلَىٰ)) جواب دې د جهنميانو ، چې ولې نه وو راغلي ،خو مونږ ئې خبره نه وه منلې ، كما في قوله تعالى: قالوا بلى قد جآئنا نذير (الملك:٩) ((قَالُوا فَادْعُوا)) دا ورته د فرشتو جواب دې ، "فا" فصيحيه ده ، يعني هر کله چې رسولان تاسو ته راغلي وو او تاسو د هغوئ تکذيب کړې وو نو اوس مونږ ستاسو سفارش نشو کولې ، ځکه چې سفارش دَپاره دوه شرطه دی ،يو ايمان او بل اجازت ، او دلته دا دواړه نشته لهذا تاسوخپله دَخپل رب نه دعا

اوغواړئ خوداخبره يقيني ده چې دعا موخه فائده نشته.نوعذاب نشي كميدلې.(۲) يا ﴿فَادْعُوا﴾ مطلب دادې چې كله مو تكذيب كړې دې نو اوس وهئ چغې سورې . دا به درله هيڅ فائده نه دركوي .(۳) يا فَادْعُوا مطلب فادعواالرسل دې يعني سفارش زمونږ كار نه دې .رسولانو كار دې ، لاړ شئ هغوئ پسې او هغوئ ته اووايئ. خو هغوئ نه به چرته وئيلې شي ځكه چې دوئ خوئي تكذيب كړې وو ، (تفسير عثماني)

﴿وَمَا دُعَٰٓؤُا۟ ٱلْكَٰفِرِينَ إِلَّا فِى ضَلَٰلٍ﴾اى ضياع وبطلان لايجاب(روح)داجمله ياكلام دَخزنه و د جهنم دې،ياكلام الهي دې،استدلال كړيدې بعضُ پدې آيت سره چې دكافردُعانه قبليږي، ليكن جمهوروائي چې په دنياكښ دكافراودَمؤمن دواړودعاقبليږي،دابليس دعاچې د دوئ مشردې دعا ئې قبوله شويده نودَدوئ دُعاخوبطريقِ اولي قبليدى شي،اومراددَدې آيت نه دا دې چې په جهنم كښ به ئې دُعااودرخواست نه قبليږي.

إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُومُ
بيشكه مونږه خامخاامدادكوؤدَخپلورسولانواودَهغه كسانو چې ايمان ئې راوړې دې په ژوندددنياكښ اوپه هغه ورځ كښ چه قائم شي
ٱلْأَشْهَٰدُ ۝٥١ يَوْمَ لَا يَنفَعُ ٱلظَّٰلِمِينَ مَعْذِرَتُهُمْ ۖ وَلَهُمُ ٱللَّعْنَةُ وَلَهُمْ سُوٓءُ ٱلدَّارِ ۝٥٢
گواهي كونكي.هغه ورځ چه نفع به نه وركوي ظالمانوته عُذردَهغوئ اودَپاره ددوئ لعنت دې اودوئ دپاره بدكوردې،
وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْهُدَىٰ وَأَوْرَثْنَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱلْكِتَٰبَ ۝٥٣
اوبه تحقيق سره وركړې وؤمونږموسى عليه السلام ته هدايت اومونږبه ميراث سره وركړې وؤبني اسرائيلو ته كتاب.
هُدًى وَذِكْرَىٰ لِأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ ۝٥٤ فَٱصْبِرْ إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ
چه هدايت وؤاونصيحت وؤدَپاره دَخاوندانودَعقل نوصبركوه(اى زماحبيبه صلى الله عليه وسلم)بيشكه وعده دَالله حقه ده
وَٱسْتَغْفِرْ لِذَنۢبِكَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ بِٱلْعَشِىِّ وَٱلْإِبْكَٰرِ ۝٥٥
اوبخنه غواړه دَخپل گناه دپاره،اوپاكي بيانوه پيوست دَحمددَرب خپل سره بيگااوصبا.

﴿إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟﴾ما قبل كښې د حق وباطل معركې كښې د باطل آخري انجام ذكر وو ، اوس دې آياتونو كښې د حق او اهل حق نتيجه ذكر كيږي چې (۱) دنيا كښې ورسره

هم د الله جل جلاله مدد او نصرت وي او غلبه ورله ورکوي (۲) او آخرت کښې به ئې هم مدد کوي او کاميابي به ورله ورکوي، ﴿ فِي الْحَيَوٰةِ الدُّنْيَا ﴾ دنيوي غلبه مشروط ده په څو شرطونو سره.

(۱) ايمان کامل او حقيقي : كما في قوله جل في علاه : وانتم الاعلون ان كنتم مؤمنين ،

(۲) اعمال صالحه : كما في قوله جل في علاه : وعد الله الذين آمنوا منكم وعملوا الصلحت ليستخلفنهم

(۳) نصرت دين الهي : كما في قوله جل في علاه : ياايها الذين آمنوا ان تنصروا الله ينصركم ويثبت اقدامكم

(۴) اتفاق و اتحاد : كما في قوله جل في علاه ،ولاتنازعوا فتفشلوا و تذهب ريحكم

(۵) د وس مطابق اسباب او آلات تيارول كما في قوله جل في علاه : واعدوا لهم مااستطعتم من قوة ، کله چې دا شرطونه پورا شي بيا د الله نصرت ضرور اخي اګرچې بيا هم بطورِ ابتلا وقتي يا فردي مغلوبيت او تکليف راتللې شي خو هغې د دې سره څه منافات نشته.

﴿ وَيَوْمَ يَقُومُ الْأَشْهَادُ ﴾ مراد ورنه دقيامت ورځ ده، داد، علفتهاتبناً وماءًبارداً. دقبيلې نه دې تقدير دعبارة دارنګه دي، ونجزيهم جزاءً حسناًيومَ يقوم الاشهاد. يامطلب دادې چې په ورځ دقيامت به ئې هم نصرت کوؤ چې نجات دې دعذاب دجهنم نه او داخلول دی جنت ته، ﴿ الْأَشْهَادُ ﴾ ياجمع دشهيد (ګواه) ده لکه دشريف جمع اشراف راځي، ياجمع د شاهد ده په ورځ دقيامت به ډير ګواهان وی، فرشتې، چې دانبياؤ په تبليغ باندې به ګواهي کوي. پيغمبران ، امت د محمد ﷺ ، اعضااوجوارح دانسان، اوزمکه وغيره، ﴿ يَوْمَ لَا يَنفَعُ ﴾ بدل دې د ﴿ وَيَوْمَ يَقُومُ الْأَشْهَادُ ﴾ نه او د ظالمينُ نه مراد کافران دی، لقوله تعالى والكافرون هم الظلمون (بقره) يعني دقيامت په ورځ کافرانو ته ددوئ عُذرنفع نه ورکوی، که چاته دااشکال اوشي چې ددې آيت نه معلوميږي، چې دوئ به عذرکوي خوعُذربه ورته فائده نه ورکوی، اودمرسلت آيت (۳۵، ۳۲) هذايومُ لاينطقُون، ولايؤذنُ لهم فيعتذرونَ. نه معلوميږي چې دوئ ته به دعذرکولو اجازت نه وي، فكيف التطبيق، جواب (۱) ددې آيت دامطلب نه دې چې دوئ به عذرنه کوي. بلکه مطلب دادې چې ددوئ دپاره به عذرنافع نه وي، قطع نظرددې نه چې دوئ کوی او که نه کوي (۲) چونکه ورځ دقيامت به طويله وي په مقدارد خمسون الف سنة نوپه دې کښې به احوال هم متغيروي يوحال کښې به عذرونه کوي خونافع به نه وي اويوحالت کښې به ورته د عذر کولو اجازت هم نه

وي (كبير، شربيني وغيره) ﴿وَلَهُمُ اللَّعْنَةُ﴾ يعني د الله تعالى د رحمت نه به لري وي، ﴿وَلَهُمْ سُوءُ الدَّارِ﴾ مراد ورنه جهنم دې چې په دې كښې ناكاره عذابونه دي نو څكه ورته ناكاره كور او وئيلې شو.

﴿وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى﴾ دا په دعوىٰ د سورة باندې دليلِ نقلي دې د موسىٰ ﷺ نه، چې مونږ موسىٰ ﷺ ته تورات وركړې وؤ او د تورات خلاصه هم داوه چې ان لاتتخذوا من دُوني وكيلاً د الله تعالى نه ماسوا بل څوك كارسازمه جوړه وئ، او دغه شان په دې آيت كښې په نصرت د رسولانو دليلِ نقلي دې د موسىٰ ﷺ نه حاصل ئى دادې چې لكه څرنګه مونږ د موسىٰ ﷺ نصرت اوكړو او د هغه د مخالفينو نه مو انتقام واخستو دغه شان ته هم صاحب رسالت ئې ستا نصرت به هم كوؤ، او مخالفونه به انتقام اخلو، د ﴿الْهُدَىٰ﴾ نه مراد يا تورات دې، يا نبوت دې، يا معجزات، يا شرائع دي، ﴿وَأَوْرَثْنَا بَنِي إِسْرَائِيلَ الْكِتَابَ﴾ اورثنا مجاز دې د تركنا نه، مطلب دادې چې دا بني اسرائيل د وفات د موسىٰ ﷺ نه بعد ترنزول د انجيل پورې د دې تورات په احكاماتو باندې عمل كولو سره مكلف وؤ، او د الكتاب نه مراد يا توراة دې، يا هغه تمام كتابونه دى چې د بني اسرائيلو په انبياؤ باندې نازل وؤ، يعني توراة، زبور، انجيل، ﴿هُدًى وَذِكْرَىٰ﴾ دواړه منصوب دى نو يا مفعول له د وجه نه اى لاجل الهدى والذكر، يا په موضع د حال كښې دى مصدر دى يعني د اسم فاعل سره ﴿هُدًى﴾ اى هاديًا ﴿وَذِكْرَىٰ﴾ اى مذكراً، يعني هدايت كونكې او نصيحت كونكې دې د پاره د عقل سليم والؤ.

﴿فَاصْبِرْ﴾ دا تسلي ده حضور ﷺ ته او په دې كښې د داعي د پاره څلور اداب بيانيږي: (۱) صبر كول په ايذا او مخالفت باندې (۲) استغفار په كوتاهۍ (۳) دوام په دعوت (۴) د الله تعالى د حفاظت سوال. ﴿فَاصْبِرْ﴾ دا داول ادب بيان دې يعني دعوت د توحيد په سلسله كښې چې د مشركينو د طرفه تاته كوم تكليفونه رسيږي نو په هغې باندې صبر كوه، الله ﷻ به تاته غلبه او كاميابي دركوي څكه چې ﴿إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ﴾ وعده د الله تعالى چې په انا لننصر رسلنا كښې ذكر شوه، حقه ده، تا سره به خامخا پوره كيږي، او كه بالفرض ستا نه په صبر كښې كمې راشي چې دا ستا د عالي شان سره لائقه نده، نو د دې وجه نه په قانون د حسنات الابرار سيئات المقربين.

﴿وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْبِكَ﴾ استغفار كوه د ذنب خپل، او دا د دويم ادب بيان دې پيغمبر ﷺ خو معصوم او محفوظ وي د ګناه نه نو د دې وجه نه (۱) مجازاً نسبت شويدې د ذنب حضور ﷺ ته او مراد ورنه

خلاف اولى اوترك دَافضل،احسن دي(۲)استغفارهم يوعبادت دي.ارتكاب دَگناه ورسره لازم نه دي،نوحضورﷺته حكم دَاستغفارتعبدأدي.حضورﷺفرمائي "اني لاستغفرالله كل يوم مائة مرة او كماقال ﷺ"څه په ورځ كښې روزانه سل(۱۰۰)كرته استغفاركوم(۳)حكم حضورﷺ ته دې ليكن پدې كښې تعليم دې اُمت ته اوتحريض دې په استغفاركولوباندې(۴) چاويلي دی چې دلته مضاف حذف دې اى لذنبِ امّتكَ،يعني دَخپل امت دَذنوبودپاره استغفاركوه.(والله اعلم) ﴿وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ ﴾مراددَالله تعالى پاكې اولوئي بيانول دی او﴿ بِالْعَشِيِّ وَالْإِبْكَارِ ﴾ نه مرادجميع الاوقات دی اوداد دريم ادب بيان دې.يعني هروخت دَالله پاكي بيانه وه. يا دَ تسبيح نه مرادمونځ دې او"ابكار"عبارت دې دَاول النّهارنه ترنصف النّهار پورې. او "بالعشي" عبارة دې دَنصف النهارترآخرالنهارپورې،نوصلوٰات خمسه ته شامل دې(كبير،روح وغيره).

اِنَّ الَّذِيْنَ يُجَادِلُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِ اللّٰهِ بِغَيْرِ سُلْطٰنٍ اَتٰىهُمْ ۙ اِنْ فِيْ صُدُوْرِهِمْ

بيشكه هغه خلق چه جګړې كوي په آياتونودَالله كښې بغيردَدليل نه چې راغلې وي دوئ ته،ندې په زړونودَدوئ كښې

اِلَّا كِبْرٌ مَّا هُمْ بِبَالِغِيْهِ ۚ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ ۭ

مګركبر دې، چې نه دی دوئ رسيدونكي دَغې ته،نوته پناه نيسه په اللهﷻ سره،

اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ﴿۵۶﴾ لَخَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ اَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ النَّاسِ

بيشكه الله صرف هغه اوريدونكې دې ليدونكې دې،خامخاپيداكول دَاسمانونواودَزمكې زيات لوئ دی دَپيداكولودَخلقونه

وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۵۷﴾ وَمَا يَسْتَوِي الْاَعْمٰى وَالْبَصِيْرُ ۙ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

ليكن اكثرخلق نه پوهيږي. اونه دي برابر ړوند او بينا، او هغه چه ايمان ئې راوړيدې اوعملونه كوي

الصّٰلِحٰتِ وَلَا الْمُسِيْٓءُ ۭ قَلِيْلًا مَّا تَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۵۸﴾ اِنَّ السَّاعَةَ لَاٰتِيَةٌ لَّا رَيْبَ

نيك اونه ګناه ګار. ډير لږ غوندې نصيحت قبلوئ تاسو . بيشكه قيامت خامخاراتلونكې دې،نيشته دې هيڅ شك

فِيْهَا وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۵۹﴾

په هغې كښې ليكن اكثر خلق ايمان نه راوړي

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ أَتَىٰهُمْ﴾زجر دي مجادله کونکوته،﴿فِيٓ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ﴾عام دي شامل دي دلائلو دَ توحيدته،اسماني کتابونوته او معجزاتوته.﴿بِغَيْرِ سُلْطَٰنٍ﴾بغير دَڅه حجة نه چې الله تعالى ورته ورکړې وی،﴿إِن فِي صُدُورِهِمْ إِلَّا كِبْرٌ﴾ خبر دَي﴿إِنَّ﴾.او﴿إِن﴾نافيه دي يعني مافی صدورهم الا کبرٌ،دَ "كِبْرٌ"نه مراد خواهش دَلوئ جوړيدودي يعني دوئ دحق سره مجادله صرف دَنامداره جوړيدو دپاره کوي،بڑابننے کی خواہش ہے۔ ځکه چې حق لوئ دي اولوئ کس سره مقابله کول سړې مشهوره وي،اوهم دادوئ مقصد دې،يا كِبْرٌ معنى تکبردده.مطلب دادې چې دوئ دَحق سره مجادله اوستامخالفت صرف تکبر په وجه کوي کچرې دوئ ستانبوت تسليم کړي نوبيابه خوستادَحکم ماتحت وي، نو دَدوئ په زړونوکښ تکبردې ماتحتي نه برداشت کوي.ليکن الله تعالى ورباندې ردکوي،چې﴿مَّا هُم بِبَٰلِغِيهِ﴾ضمير دَمفردکبرته راجع دي يعني دوئ دې مقصدته نشي رسيدلې،ځکه الله تعالى به دوئ ذليله وي،بعضِ مفسرين فرمائي چې داآيت کريمه دَيهوديانوباره کښ نازل شويدې،چې دوئ حضورﷺ ته اووې چې په اخره زمانه کښ به زمونږمسيح دجال راځي،دَهغه به داسې داسې بادشاهي وي،هغه به مونږته زمونږبادشاهي راواپس کوي اومونږته به غلبه حاصليږي،نوالله ﷻ داآياتونه نازل کړل(روح وغيره) نو دې روايت مطابق "کبر" نه مراد تمنا ده چې دا دَ دوئ زړونو تمنا ګاڼي دي چې دجال به راځي او مونږ له زمونږ بادشاهي واپس راکوي ﴿فَٱسْتَعِذْ بِٱللَّهِ﴾دا د ځلورم ادب بيان دې، مُعاندينو، حاسدينو دَ شرنه،دَالله ﷻ نه دَحفاظت سوال کوه،پديکښ دَدجال دَشرنه دَحفاظت سوال کولوحکم هم شامل دې،﴿إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْبَصِيرُ﴾علت دي دَماقبل،چې دَالله تعالى نه ځکه سوال کوه چې هغه هرڅه اوريدونکې اوهرڅه ليدونکې دې.

﴿لَخَلْقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ﴾دليلِ انّي دي دَثبوت دَقيامت دپاره، ما قبل سره ئې ربط دا دې چې مخکښې تخويف اخروي او بشارت اخروي ذکر شو چې حقيقي کاميابي او ناکامي د آخرت ده ، کافران به په دې ورځې جهنم ته او مؤمنان به جنت ته ځي ، دې دپاره چونکه وقوع د قيامت ضروري دې نو اوس د هغې په وقوع دلائل بيانيږي ، دا اول دليل دې چې حاصل ئې دادې چې دَقيامت نه انکارکونکی داوائي چې دَقبرونونه دوباره راژوندی کيدل محال اونامکن دی کقوله تعالى قال من يُحي العظام وهي رميم(يسين)۔ الله ﷻ ورته ارشاداوفرمايه

چې د آسمان او زمکې د عظمت په مقابله کښې د انسان څه حیثیت دې. مشرکین خود اتسلیمه وي چې خالق د آسمانونو، زمکې صرف الله ﷻ دې، نو چې کوم ذات دومره لوئ مخلوقات پیدا کړیدي دا دلیل دې پدې خبره چې هغه ته دوباره د انسان پیدا کول څه مشکل نه دې. نو دا استدلال د معلول نه دې په علت باندې نو دا دلیل انّي دې (کدلالة الدّخان على النّار) چې قطعي الدلالت دې چې په مجرد نظرسره ورته عاقل استدلال کولیشي. لیکن چې مشرکین بیا هم د بعث بعد الموت نه منکر دی، نو ددې وجه داده چې ﴿وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ﴾ اى لاعلم لهم اصلابل هم كالبهائم لغلبة الغفلة عليهم (شربيني).

﴿وَمَا يَسْتَوِى﴾ دا دلیل لمّي دې په ثبوت د قیامت، حاصل ددې دلیل دا دې چې د قیامت قائم کیدل ضروری دی، ځکه چې که قیامت رانشي نو بیا خو به د مومن صالح چې منونکې دې او د کافر بدکاره چې نه منونکې دې، په مینځ کښې فرق رانشي، حالانکه لکه څرنګه چې اعمی او بصیر ندې برابر، نو دغه شان مومن صالح او کافر بدکاره ندې برابر، نو لامحالة دا سې یو ورځ ضرور پکار ده چې د دواړو مینځ کښې فرق او هریو ته خپله خپله بدله میلاؤشي، او دا ورځ نده مګر د قیامت ورځ ده. مراد د ﴿الْأَعْمَىٰ﴾ نه کافر مشرك دې، "اعمی" ورته ځکه ویلې شویدی چې دې دلائلو د توحید ته په نظر عبرت سره نه ګوري چې توحید اومني، او د «وَالْبَصِيرُ» نه مراد مؤمن دې چې دلائل د توحید ته او ګوري او توحید اومني،

﴿قَلِيلًا مَّا تَتَذَكَّرُونَ﴾ زجر دې اعمیٰ او مسیئ ته بطور التفات د غائب نه حاضر ته، ﴿إِنَّ ٱلسَّاعَةَ لَءَاتِيَةٌ﴾ دعوه ده د ثبوت د قیامت.

وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِيٓ أَسْتَجِبْ لَكُمْ ۚ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ
او واني رب ستاسو سوال کوئ صرف ځما نه، ځه به ئې قبولوم درله. بیشکه هغه خلق چې تکبر کوي (انکار کوي)
عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ ۞ اللَّهُ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ اللَّيْلَ
ځما د عبادت نه، زرده چه داخل به شي جهنم ته ذلیله. الله هغه ذات دې چې ګرځولې ده ستاسو دپاره شپه (تیاره)
لِتَسْكُنُوا فِيهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا ۚ إِنَّ اللَّهَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ
ددې دپاره چې تاسو ارام وکړئ په هغې کښې، او ګرځولې ئې ده ورځ رڼا بیشکه الله تعالی خاوند د فضل دې په خلقو باندې

وَلٰكِنَّ	اَكْثَرَ	النَّاسِ	لَا	يَشْكُرُوْنَ ۝
ليكن	اكثرخلق		شكرنه	كوي

﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِيٓ سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ﴾ دادَ دعوى دَ سورة ذكردي دويم ځل، چې حاجتونه مرادونه صرف ځمانه غواړئ څه ئي پوره كوم، «ادْعُونِيٓ» نه څه مراد دې ، دعا او كه عبادت ؟ دواړه تفسيره منقول دي : ځنې مفسرينو ئي تفسير په دعا سره كړې دې او «إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي» كښې ئي عبادت نه مراد دعا اغستې ده ، او د عبادت اطلاق كله كله په دعا هم كيږي لكه حضرت ابن عباس رضي الله عنهما قول دې : افضل العبادة الدعاء، او معني د «أَسْتَجِبْ لَكُمْ» په دې تقدير باندې قبولول د سوال دي .او ځنې مفسرينو ئي تفسير په عبادت سره كړې دې ؛ ځكه چې دعا اطلاق كله كله په عبادت هم كيږي ،لكه حديث شريف كښې راځي: الدعا هو العباده (الترمذي:٢٩٢٩) او «إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي» هم په دې قرينه ده چې دلته د «ادْعُونِيٓ» نه مراد عبادت دې ، او معني د «أَسْتَجِبْ لَكُمْ» په دې تقدير باندې اجر وثواب وركول دي په عبادت باندې.

او دا هم كيدې شي چې په آيت كښې صنعتِ احتباك وي ، دعا او عبادت دواړه مراد وي، خو په «ادْعُونِيٓ» صرف ذكر د دعا شوې دې او عبادت حذف شوې دې او په «إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي» كښې صرف دعبادت ذكر شوې دې او دعا حذف شوې ده ، نو تقدير به داسې شي: ادعوني واعبدوني استجب لكم ، ان الذين يستكبرون عن عبادتي و دعائي .

«أَسْتَجِبْ لَكُمْ» جوابِ امر دې ځكه مجزوم دې ، البته دلته دا اشكال كيږي چې څوك دعا غواړي نو الله جل جلاله به ورله ضرور قبلوي ، حالانكه ډيرې داسې دعاگاني وي چې بنده غوښتې وى او هغه قبولې شوې نه وي؟ علماؤ د دې مختلف جوابونه كړي دى چې حاصل ئي دا دې چې د دعا خپل آداب او شرائط دي چې كله هغه ملحوظ اوساتلې شي نو بيا هغه دعا ضرور قبليږي ، مثلاً: (١) حضورِ قلب سره دعا اوغواړي (٢) د قبوليت اميد سره ئي او غواړي (٣) قطع رحمي او گناه ذكر پكښې او نكړي (۴) رزق ئي حلال وي ، وغيره ، نو داسې دعا الله جل جلاله ضرور قبولوي اگر كه د قبلوليت مختلف صورتونه دي : كله ورله الله جل

جلاله مطلوب شي ورکړي ، کله ورنه د هغې په بدله کښې شر او تکليف نرې کړي او کله ورله د آخرت د پاره ذخيره کړي .

﴿إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي ﴾زجردې دعانه غوښتونکوته دوجه دتکبرنه،په حديث دترمذي وغيره کښې دی،من لم يسأل الله يغضب عليه،اود الله تعالى دعبادت نه دانکار او تکبر کولو مطلب دادې چې دالله ﷻ په رابلنې باندې اکتفاء نه کوي بلکه نورورسره شريکه وي

﴿اللَّهُ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ اللَّيْلَ ﴾دااول دليلِ عقلي دې په توحيد ،چې د کائنات ټول نظام په شپې او ورځې روان دې دورځې کار او ستړتيا او د شپې آرام او سکون ، د ورځې رڼا اود شپې تياره ، او بيا دې رڼا او تيارې سره وابسته د انسان زرګاوو فائدې ، نو په دې غور اوکړئ چې دا نظام چا روان کړې دې ؟ دا شپه او ورځ چا پيدا کړې ده ؟ صرف په دې کښې ستاسو څومره فائدې دي ؟ يقيناً چې الله جل جلاله په خلقو ډير احسانات دي خو خلق ئې بيا هم شکر نه ادا کوي او ورسره نور شريکان ګرځوي ﴿اللَّيْلَ ﴾ مفعول اول دې دجعل او مفعول ثاني مقدر دې چې مظلماً دې، دلته هم صنعتِ احتباک دې ، چې په جانب معطوف عليه کښې مفعول ثاني مقدر دې او غايت چې هغه لِتَسْكُنُوا فِيهِ دې ، ذکر دې ، او جانب معطوف کښې مفعول ثاني ذکر دې چې مُبْصِرًا دې او غايت حذف دې چې هغه لتنشروا و لتبتغوا من فضله دې .

﴿إِنَّ اللَّهَ لَذُو فَضْلٍ﴾دري تاکيدات دی پکښې(۱)انَّ (۲)لام تاکيديه(۳)ذُو،يعني الله تعالى ډيرزيات مهربانه دې په ټولو انسانانو باندې،نوددې مهربانۍ په بدله کښې پکاروه چې ټول خلق دالله ﷻ دنعمتونوشکرکونکی اوپه الله تعالى باندې ايمان راوړونکی وي ليکن اکثر خلق نا شکري کوي يا د کفر په وجه او يا د غفلت په وجه .

ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ ﴿٦٢﴾

دغه ذات الله تعالى دې چې رب دې ستاسو خالق دې دهرڅيز،نيشته دې بل معبود مګرالله دې،نوکوم طرف ته تاسو اړه ولې کيږئ

كَذَٰلِكَ يُؤْفَكُ الَّذِينَ كَانُوا بِآيَاتِ اللَّهِ يَجْحَدُونَ ﴿٦٣﴾ اللَّهُ الَّذِي

دغه شان به اړولې کيږي هغه خلق چې دَ آياتونو د الله نه انکار کوي الله تعالى هغه ذات دې

جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ قَرَارًا وَّالسَّمَآءَ بِنَآءً وَّصَوَّرَكُمْ فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ
چې گرځولې ده ستاسو دپاره زمکه قرار «ولاړه» او اسمان چهت او صورتونه ئې درکړيدي تاسو ته نو ښکلي صورتونه ئې درکړيدي،
وَرَزَقَكُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ
او رزق ئې درکړيدې تاسو ته دپاکو څيزونو نه. دغه ذات الله دې چې رب دې ستاسو. نو برکت ورکونکې دې الله تعالى
رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۶۴﴾ هُوَ الْحَيُّ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ فَادْعُوْهُ
چې رب دې دعالمينو. الله تعالى ژوندې په حياة دائمي ذاتي سره، نيشته دې بل معبود مګر الله دې، نو سوال کوئ دهغه نه
مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ؕ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۶۵﴾
په داسې حال کښې چې خالص ساتونکې وئ هغه لره دخپلې عقيدې تمام صفات دالوهية الله ﷻ لره دي چې رب دې دعالمينو.

﴿ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ ﴾ دانتيجه اوثمره ده دماقبل دليل ،دماقبل صفاتو ذكركولو سره دالله تعالى دذات داسې تميزراغى لكه چې محسوس بالبصر او مشاهد وي نوځكه په ﴿ ذٰلِكُمُ ﴾ سره ورته اشاره اوشوه، «ذٰلِكُمُ» مبتدا دې او مخكښې ورله څلور خبرونه ذكر كيږي «اَللّٰهُ» دا ئې خبر اول دې يعني دغه ذات الله دې چې د الوهيت او دكمال تولو صفاتو سره متصف دې ، «رَبُّكُمْ» خبر ثاني دې ، يعني رب دې ، تربيت كوي او د ضرورياتو انتظام درله كوي ،«خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ» دريم خبر دې يعني صرف مربي نه ، بلكه د تول كائنات خالق هم دې ، «لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ» څلورم خبر دې به طور نتيجه ذكر شوې دې ، چې دغه ذات الله هم دې ، رب هم دې ، خالق هم دې نو دينه معلومه شوه چې اله هم صرف دې دې بل څوک نشته ، «فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ» استفهام د پاره د تعجب دې ، يعني عجيبه خبره چې بيا هم تاسو په بله روان يئ، ﴿ كَذٰلِكَ يُؤْفَكُ ﴾ كاف د پاره د تشبيه دې او مشبه به ورله اعراض دې دحق نه بلا دليل ، يعني څوک چې هم محض عناد په وجه د الله جل جلاله د آياتونو نه اعراض كوي نو هغه نه هم دغه شان د حق قبولو استعداد سلب كړې شي.

﴿ اَللّٰهُ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ ﴾ دادويم دليل عقلي دې،چې مشتمل دې په درې قسم دليلونو: (۱) آفاقي سفلي،(۲)افاقي علوي (۳)اودليل عقلي انفسي،﴿جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ ﴾

دليلِ عقلي افاقي سفلي دي، ﴿قَرَارًا﴾ مفعول ثانی دي یا پمعنی دَ ذات قرارِ سره دي يعني ساكنه ده حركتِ اضطراريه نه كوی چې يو طرف ته بل طرف ته ككه شي او استوګنه پکښې نشي كيدي، كقوله تعالی: والقىٰ في الارض رواسي ان تميد بكم (النحل: ۱۵) يا پمعنی دَ مستقرٍ سره دي، يعني الله ﷻ ستاسو دَاوسيدلو د پاره زمكه جائی قرار، ګرځولې ده، ﴿وَالسَّمَآءَ بِنَآءً﴾ دليلِ عقلي افاقي علوي دي چې آسمان ئي درله چهت ګرځولې دې ، ﴿وَصَوَّرَكُمْ﴾ دليل انفسي دې تصوير په معنی د تخليق سره دې ، ليكن ديكښې د تخليق په نسبت اهتمام او او خصوصيت معني زياته وي نو معني به ئي داسې شي چې انسان ئي يو خصوصي او امتيازي شان سره پيدا كړي دي «فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ» تفسير دې د ماقبل ، چې تولو مخلوقاتو كښې ئي تاسو خائسته ګرځولي يئ، قد وقامت اعتبار سره ، شكل وصورت اعتبار سره ، اعضاؤو او جوارح اعتبار سره ، علم وعقل او عاداتو او اطوارو اعتبار سره.

﴿وَرَزَقَكُم مِّنَ الطَّيِّبَاتِ﴾ ديكښې د بل نعمت ذكر دې په انسان، چې صرف تخليق ئي احسن نه دې بلكه دې سره سره ئي خوراک هم احسن دې ، په نورو مخلوقاتو كښې د چا رزق ګندګي ده ، دچا بوتي ، د چا هډوكي وغيره ، خو د انسان رزق دې برعكس ډير لذيذ او عمده دې ، ﴿ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ﴾ ديكښې د ما قبل دليل ثمراتو بيان دې او دا اوله ثمره ده ، چې هم دغه ذات صرف اله دې او هم دغه صرف رب دې ، «فَتَبَارَكَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ» دا دويمه ثمره ده چې دی نه دا هم معلومه شوه چې بركات دهنده او بركتونو والا ذات صرف الله جل جلاله دې بل څوک نشته «هُوَ الْحَيُّ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ» دا ئي دريمه ثمره ده ، چې دينه دا هم معلومه شوه چې حقيقي حيات الله جل جلاله ته حاصل دې چې حيات كامله او دائمه دې ، باقي تول د عدم نه وجود ته راغلي او وجود نه بعد به پرې بيا فنا راځي ، ، نو كوم ذات چې داسې صفاتو والا دې نو " اله " هم صرف هغه كيدې شي ، بل څوک ورسره نشي كيدې «فَادْعُوهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ» دريم ځل دعوي د سورت ذكر دې «الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ» علت دې د پاره د دعوي ، يعني صرف د الله جل جلاله عبادت ځكه كوئ چې صفات د حمد او الوهيت هغه لره دي.

قُلْ	إِنِّيْ	نُهِيتُ	أَنْ	أَعْبُدَ	الَّذِيْنَ	تَدْعُوْنَ

(اې پیغمبره) ته اوايه چې بیشکه زه منع کړې شوې یم ددې نه چې زه عبادت وکړم دهغه معبودانو چه تاسوورته سوالونه کوئ

مِنْ	دُوْنِ	اللّٰهِ	لَمَّا	جَآءَنِيَ	الْبَيِّنٰتُ	مِنْ	رَّبِّيْ	وَأُمِرْتُ	أَنْ أُسْلِمَ

چه ماسوی دالله نه دی،هرکله چې راغلل ماته واضح دلیلونه دطرفه درب زمانه،اوامرکړې شویدې ماته چې څه تابع شم

لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٦٦﴾	هُوَ الَّذِيْ	خَلَقَكُمْ	مِّنْ تُرَابٍ	ثُمَّ	مِنْ نُّطْفَةٍ	ثُمَّ	مِنْ عَلَقَةٍ

درب العالمین. الله تعالی هغه ذات دې چې پیداکړی ئی یئ تاسود خاورېنه بیائي دنطفې نه بیائي دعلقې نه

ثُمَّ	يُخْرِجُكُمْ	طِفْلًا	ثُمَّ	لِتَبْلُغُوْٓا	أَشُدَّكُمْ

بیائي راوباسلې یئ تاسوچه واړه وئ،بیائي (ستاسوتربیت کولوچه تاسواورسیدلئ خپلې خوانئ ته.

ثُمَّ	لِتَكُوْنُوْا	شُيُوْخًا	وَمِنْكُمْ	مَّنْ	يُّتَوَفّٰى	مِنْ	قَبْلُ

بیائي باقي پریخودلئ) چې شوئ تاسوبوډاګان،اوبعض په تاسوکښ هغه دی چې وفات شي مخکښ ددېنه

وَلِتَبْلُغُوْٓا	أَجَلًا	مُّسَمًّى	وَّلَعَلَّكُمْ	تَعْقِلُوْنَ ﴿٦٧﴾	هُوَ الَّذِيْ	يُحْيٖ

اودپاره ددې چې ورسیږئ تاسو نیټې مقررې ته،اوددې پاره چه تاسوپوهه شئ.الله هغه ذات دې چې ژوندي کول کوی

وَيُمِيْتُ	فَإِذَا	قَضٰٓى	أَمْرًا	فَإِنَّمَا	يَقُوْلُ	لَهٗ	كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿٦٨﴾

او مره کول کوي،نوکله چه فیصله وکړي دیوکارنواووائي هغه ته چې شه نوهغه اوشي.

﴿ قُلْ إِنِّيْ نُهِيتُ ﴾ ددې ځائ نه دسورة دویمه حصه شروع کیږي،چې پدیکښ داولنئ حصې دمضامینو اعاده ده اواعاده دتاکید اواهتمام شان دوجه نه کیږي،پدې آیت کښ ددلیل وحي اعاده ده.﴿لَمَّا جَآءَنِيَ الْبَيِّنٰتُ ﴾ "لَمّا" ظرف دې پمعنی دحین سره ای حین جاءني البینات."بینات"نه مرادواضح دلائل عقلیه دی چې بعض دهغې نه په ماقبل آیت کښ ذکرشو،یعني په ذریعه دوحې ماته دلائل عقلیه راغلي دی اوڅه منع کړې شوې یم چې څه دهغه معبودان باطله ؤعبادت وکړم چې تاسوئي کوئ،اوماته امرکړیدې الله تعالی چې څه درب العالمین تابع دارشم،اوپه ﴿ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴾کښ ګویاچې علت ته اشاره ده.

﴿هُوَ الَّذِي خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ﴾دادليل عقلي اعاده ده،چې پديكښې دتخليق انساني مختلف ادواربيان شويدى،چې دادقدرة دالله تعالى اودهغه دواحدانيت واضح دلائل دى.نوصرف دهغه عبادت كوئ اودهغه نه غواړئ،«خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ»دا د انسانيت د تخليق نقطه آغاز بيان دې چې هغه د خاورې نه شوې دې ، د ټولو انسانانو جد امجد حضرت آدم عليه السلام الله ﷻ د خاور نه پيدا كړې دې ، نو خلقكم ورته په اعتبار د اصل سره وئيلې شوې دې ،اي : خلق اباكم «ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ»د آدم عليه السلام نه ورستو د هغه سلسله نسل تخليق او د هغې مراحلو بيان دې چې ده نه بعد الله جل جلاله د مني او جامدې وينې نه دده نسل خور كړو ، او ديكښې اولې مرحلې ته اشاره ده چې هغه جنين حالت دې ، «ثُمَّ يُخْرِجُكُمْ طِفْلًا» جنين نه بعد دويمه مرحله ده چې بالكل ماشوم ئې د مور خيټې نه رااوباسي ،«طِفْلًا » حال دې د كم ضمير منصوب نه . او اطلاق د طفل په مذكر مؤنث او واحد تثنيه او جمع ټولو باندې كيږي .«ثُمَّ لِتَبْلُغُوا أَشُدَّكُمْ » دريمه مرحله ده چې بيا ورله عمر وركړې تردې چې ځوانئ ته اورسي .لام حرف جر د پاره د تعليل دې او جمله ورله په تاويل د مصدر مجرور ګرځي او جر مجرور متعلق كيږي په فعل محذوف پورې ،اي : ثم يربيكم و يعمر كم لتبلغوا اشدكم ، « أَشُدَّكُمْ » نه د ځوانئ او قوت عمر مراد دې ، «ثُمَّ لِتَكُونُوا شُيُوخًا»څلورمه مرحله ده ،چې بيا ورله مزيد عمر وركړې تردې چې بوډا والي ته اورسي ، دلته هم جار مجرور په فعل محذوف سره متعلق كيږي ،اي: ثم يبقيكم لتكونوا شيوخا «وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ مِن قَبْلُ»قبل د پاره مضاف اليه محذوف ده چې هغه مذكوره احوال دي يعني الله جل جلاله نظام خو دې مراحلو جوړ كړې دې خو دا څه ضروري نه ده چې هر انسان به دې مراحلو نه خامخا تيريږي ، بلكه ځنې د طفولت مرحلې نه مخكښې وفات شي چې هغې ته سقط وائي ، ځنې د ځوانئ مرحلې نه مخكښې وفات شي ،ځنې د شيخوخت مرحلې نه مخكښې په ځوانئ كښې وفات شي او ځنې د بوډا والي مرحلې ته اورسيږي ، بس په دې باندې بيا د تخليق مراحلو انتها اوشي ،دې نه پس بيامرګ لازمي دې بله مرحله د تخليق نشته ،هم دا مراد دې د «وَلِتَبْلُغُوا أَجَلًا مُّسَمًّى» نه ، چې په دې مرحله كښې انسان خپل اجل مسمي ته اورسيږي او دتخليق مراحل پوره شي، دې تفسير مطابق « وَلِتَبْلُغُوا » عطف دې په

«لِتَكُونُوا» باندې ، او لِّأَجَلًا مُّسَمًّى نه مراد مرګ دې، اي : يبقيكم لتكونوا شيوخاً و لتبلغوا اجلاً مسمي، څنې مفسرين فرمائي چې « وَلِتَبْلُغُوٓا » كښې جار مجرور متعلق كيږي په · يفعل · فعل مقدر سره، او لِّأَجَلًا مُّسَمًّى نه مراد ورځ د قيامت ده او دا عطف دې په «خلقكم» باندې يعني ستاسو تخليق او دهغې مختلف مراحل هڅې عبث نه دي بلكه دقيامت په ورځ به ستاسو پيشي وي او تپوس به درنه كيږي ، « وَلَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ »يعني دې مراحلو مقصد دا هم دې چې تاسو د الله جل جلاله عجيبو قدرتونو باندې پوهه شئ او دهغه وحدانيت استدلال ترينه اونيسئ او دغه شان په بعث بعد الموت باندې ترينه هم استدلال اوكړئ چې كوم الله مونږ عدم نه وجود ته راوستلې شي او بيا زندګئ مختلفو مراحلو كښې اړولې راړولې شي نو هغه دَ مرګ نه بعد دوباره هم را اوچتولې شي.

﴿ هُوَ الَّذِي يُحْيِي وَيُمِيتُ ﴾ دا بل دليل دې چې احياء او اماتت صرف دَهغه په قبضه قدرت كښې دې.

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يُجَادِلُونَ فِي آيَاتِ اللَّهِ أَنَّى يُصْرَفُونَ ۞ الَّذِينَ
آيا نه ګورې ته هغه كسانو ته چې جګړې كوي په آياتونو دَ الله تعالى كښې،كوم طرف ته دوئ اړولې كيږي هغه كسان
كَذَّبُوا بِالْكِتَابِ وَبِمَا أَرْسَلْنَا بِهِ رُسُلَنَا فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ۞
چې تكذيب ئې كړې دې په كتاب او په هغه څه چې مونږ راليږلې دي په هغې سره خپل رسولان،نو زر ده چې دوئ به پوهه شي
إِذِ الْأَغْلَالُ فِي أَعْنَاقِهِمْ وَالسَّلَاسِلُ يُسْحَبُونَ ۞ فِي الْحَمِيمِ ثُمَّ فِي النَّارِ
كله چې طوقونه به ستونو دَدوئ كښې وي او زنځيرونه،ئې به خپوكښې وي،راښكلې كيږي به ،په ګرمو اوبو كښې بيابه په اور كښې
يُسْجَرُونَ ۞ ثُمَّ قِيلَ لَهُمْ أَيْنَ مَا كُنْتُمْ تُشْرِكُونَ ۞ مِنْ دُونِ اللَّهِ
سيزلې شي.بيابه اوويلې شي دوئ ته چرته دی هغه معبودان چې تاسو شريكول دَالله سره،ماسوئ دَالله نه،
قَالُوا ضَلُّوا عَنَّا بَلْ لَمْ نَكُنْ نَدْعُوا مِنْ قَبْلُ شَيْئًا كَذَلِكَ
اوبه وائي دوئ ورك شول زمونږ نه بلكه مونږه عبادت نه كولو دَدې نه مخكښې دَهيڅ څيز،دغه شان

يُضِلُّ اللّٰهُ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٧٤﴾ ذٰلِكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَفْرَحُوْنَ فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ
گمراه کوي الله تعالی کافران.داعذاب په سبب ددې سره دي چې تاسوخوشحالي کوله په زمکه کښې په ناحقه سره
وَبِمَا كُنْتُمْ تَمْرَحُوْنَ ﴿٧٥﴾ اُدْخُلُوْٓا اَبْوَابَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ فَبِئْسَ مَثْوَى
اوپه سبب ددې چه تاسو تکبر کولو،داخل شئ دروازودجهنم ته همیشه به ني پدیکښې،نوډیره بده ټهکانه ده
الْمُتَكَبِّرِيْنَ ﴿٧٦﴾ فَاصْبِرْ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ ۚ فَاِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِيْ
دتکبرکونکو.پس صبرکوه ته اې پیغمبره،بیشکه وعده دالله حقه ده،پس کچرې مونږه اوښایوتاته بعضې هغه عذاب
نَعِدُهُمْ اَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَاِلَيْنَا يُرْجَعُوْنَ ﴿٧٧﴾
چه وعده ئې کوو مونږدَدوئ سره یا وفات کړو مونږ تا (مخکښې دعذاب ددوئ نه) نومونږته به دوئ راوستلې شي

﴿ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ يُجَادِلُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِ اللّٰهِ ﴾ دا اعاده دزجر ده ، یعني څومره دتعجب خبره ده چې دومره واضحه دلائل بیان شو ، دینه باوجود دوئ هغې کښې بحث ومباحثه کوي او ایمان نه راوړي، «اَنّٰى يُصْرَفُوْنَ » «اَنّٰى» په معنی د کیف سره دې یعني څنګه اړولې کیږي یا په معنی "این" سره دې یعني په کوم طرف دوئ روان دي ؟!

« اَلَّذِيْنَ كَذَّبُوْا » اعاده ده د تخویف اخروي چې د قرآن او سنت منکرین به جهنم ته څې او هلته به ورته قسم قسم عذابونه میلاویږي ، « اَلَّذِيْنَ » یا مبتدا دې او « فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ » ورله خبر دې اویا بدل دې د« اَلَّذِيْنَ يُجَادِلُوْنَ» نه، « بِالْكِتٰبِ » دینه مراد جنس کتاب سماوي دې او« وَبِمَآ اَرْسَلْنَا بِهٖ رُسُلَنَا »نه احکام شرعیه مراد دي او یا «بِالْكِتٰبِ» نه مراد قرآن دې او « وَبِمَآ اَرْسَلْنَا بِهٖ رُسُلَنَا »نه مراد نور کتب سماویه دي « فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ » تهدید دې او مفعول د« يَعْلَمُوْنَ »حذف شوې دې د پاره د تهویل یعني ډیر زر به دوئ ته پته اولږي چې څنګه انجام دې او څنګه عذاب دې ؟ مخکښې آیاتونو کښې دَ تخویف اخروي تفصیل بیان دې او مختلف قسم عذابونو تذکره کیږي :

« اِذِ الْاَغْلٰلُ فِيْٓ اَعْنَاقِهِمْ » دا اول عذاب دې چې ستونو کښې به ورله طوقونه اچولې شوي وي، « اِذِ» متعلق دې په « فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ» سره ، خو دلته اشکال کیږي چې « اِذِ» ماضي د پاره

راځي او سوف د استقبال د پاره ، نو دلته دا دواړه څنګه جمع کیدې شي ؟ جواب دا دې چې دلته « إِذِ » په معنی د "اذا" سره دې خو چونکه مستقبل خبر ورکول داسې یقیني دې لکه ماضي ، نو ځکه ترینه تعبیر د پاره "اذ" راوړلې شو ، او یا "اذ" په معنی "حین" سره دې چې مطلق زمان د پاره راځي،«وَالسَّلَٰسِلُ» دا دویم عذاب دې ،چې زنځیرونه به وي . «وَالسَّلَٰسِلُ» جمع "سلسلة" زنځیر ته وئیلي کیږي، دا یا عطف دې په«الْأَغْلَٰلُ» باندې ، او مطلب دا دې چې د دوئ په ستونو کښې، طوقونه وي او زنځیرونه به ورته اچولي شوي وي او په جهنم کښې به راښکلې کیږي ، یا « الْأَغْلَٰلُ » مبتدا دې او خبر ورله محذوف دې چې " في ارجلهم " دي ،« يُسْحَبُونَ ﴿٧١﴾ فِي الْحَمِيمِ» دا دریم عذاب ذکر دې ، چې جهنم کښې به دوئ تړلي راښکلي کیږي ، او جمله مستانفه ده ،کما في الروح، یا حالیه ده د ضمیر د «يَحْمِلُونَ» نه یا د « فِي أَعْنَاقِهِمْ » نه ، « ثُمَّ فِي النَّارِ يُسْجَرُونَ » دَ څلورم عذاب ذکر دې ،یعني صرف دا نه ده چې جهنم کښې به اور وي ،دوئ به پکښې ګرځولې شي او د جسم باهر حصه به ئې سوزي ، بلکه دوئ کښې د ننه به هم اور لګولې کیږي او باطناً به سوزي لکه ظاهراً چې سوزي،"سجر" وئیلې کیږي خس وخاشاک او لرګو نه تنور ډکولو او بیا ډک تنور اور بلولو ته، او دلته تشبیه د دوئ تنورونو سره داسې ده لکه څنګه چې تنور کښې د ننه اور بلیږي نو دغه شان به دوئ کښې هم د ننه اور بلیږي اللهم اجرنا من النار بفضلک(روح ، التحریر والتنویر)

« ثُمَّ قِيلَ لَهُمْ » دا پنځم عذاب ذکر دې چې روحاني عذاب دې . یعني دې عذابونو سره سره به ورته پیغور ورکولې کیږي چې چرته دي هغه بتان او خدایان چې تاسو دالله جل جلاله سره شریک ګرځولو ؟را اوغواړئ چې مدد خو اوکړي؟ «مِن دُونِ اللَّهِ» حال دې ، یعني هغه خدایان چې د الله نه ماسوا دي ، «قَالُوا ضَلُّوا عَنَّا» دوئ به جواب ورکړي چې هغوئ زمونږ نه روک شو ، یا خو به حقیقتاً روک شوي وي او دې موقع کښې به ورسره نه وي موجود ، بلکه د جهنم بلې طبقې کښې به پراته وي ،دا نه چې جهنم کښې به بالکل وي نه ، او یا به حقیقتاً نه وي ورک ، بلکه ورسره به وي خو څه مدد به ئې نشي کولې نو وجود او عدمِ وجود به ئې برابر وي نو ځکه به دا وائي چې هغه ورک دي « بَل لَّمْ نَكُن نَّدْعُوا مِن قَبْلُ شَيْئًا » "بل" اضراب انتقالي د پاره دې ، یعني دوئ به وائي چې نن مونږ ته معلومه شوه چې مونږ د چا عبادت کولو هغه په هیڅ کښې نه دي

«شَيْئًا» نه مراد شيئا يعتد به دې يعني هيڅ دكار څيزونه نه دي .څكه دومره سخت ضرورت په وخت كښې نن زمونږ نه غائب دي او پكار خو رانغلل. يا "بَل" د پاره د اضراب ابطالي دې يعني كله چې دوئ اوګوري چې د دوئ الهه د دوئ هيڅ پكار رانغلل نو دوئ به د عبادت نه انكار اوكړي چې مونږ د چا عبادت نه دې كړې، كما في قوله جل في علاه : ((ثم لم تكن فتنتهم الا ان قالوا والله ربنا ما كنا مشركين))

«كَذَٰلِكَ يُضِلُّ اللَّهُ الْكَافِرِينَ» (١) مشار اليه د "ذلك" مجادلين او دهغوئ اضلال دې . او « الْكَافِرِينَ» نه مراد عام كفار دي ،يعني څنګه چې الله جل جلاله دوئ ګمراه كړل دغه شان هر كافر ګمراه كوي، (٢) يا مشار اليه ضلال مذكور دې چې ذكر ئې په لم نكن ندعو من قبل شيئا كښې اوشو، يعني الله جل جلاله دوئ نن په دنيا كښې داسې ګمراهئ كښې اخته كړي دي چې صبا قيامت په ورځ به دوئ ته په خپله واضحه شي او اقرار به اوكړي چې لم نكن ندعو من قبل شيئا، (٣) او يا مشار اليه ضلال د الهؤو دې ،يعني څنګه چې د دوئ الهه د دوئ نه غائب شي ،دوئ به هم الله جل جلاله د دوئ آلهه نه غائب كړي او يو بل سره ملاقات به ئې نشي كيدې

﴿ذَٰلِكُم بِمَا كُنتُمْ﴾ علت دَعذاب ذكر كوي،﴿تَفْرَحُونَ فِي الْأَرْضِ﴾فرح خوشحاله كيدل او مسرور كيدلو ته وائي،او"مرح"شدت فى الفرح چې مستلزمه وي تكبر،فخر،غروراوظلم لره،په آيت كريمه كښې دَ مطلق فرح مذمت نه دې مقصود بلكه مذمت صرف په هغې فرح وارد دې چې دَ آخرت فراموشي اوخدافراموشي نتيجه وي نوددې وجه نه ورسره﴿بِغَيْرِ الْحَقِّ﴾ قيد ذكر شو، او "مرح" مطلقًا مذمومه اوحرامه ده نوځكه ورسره قيدذكرنشو.

﴿ادْخُلُوا أَبْوَابَ جَهَنَّمَ﴾دا شپږم عذاب دې چې هغه جهنم كښې د هميشه هميشه اوسيدلو اعلان دې ، په دې سره به د كفارو تكليف كښې نور هم اضافه اوشي ځكه چې د تكليف ختميدو اميد سره سړي ته تسلي او راحت ميلاويږي نو اوس خو به هغه اميد هم قطع شي ، دې تفسير نه واضحه شوه چې دلته «ادْخُلُوا» نه داخليدل نه دي مراد ځكه چې دې اعلان په وخت كښې به خو دوئ جهنم كښې وي بلكه دينه مراد خلود دې په جهنم كښې .«أَبْوَابَ جَهَنَّمَ» كنايه ده داوسيدلونه ځكه چې كور ته راتلل او بيا هلنه اوسيدل په دروازې سره كيږي (التحرير والتنوير) يا أبواب خپلې حقيقي معنې كښې دې او دينه مراد دجهنم مختلف طبقاتو

دروازې دي ، چې هر مجرم به د خپل جرم موافق طبقه کښې پاتې کیږي ،یعني خلود اعلان به اوشي او هر مجرم ته به اوئیلې شي خپلې خپلې طبقې ته لاړ شئ

« فَاصْبِرْ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ » دا اعاده ده دَ تسلي ، یعني الله جل جلاله وعده حق ده. ضرور به دَ خپلو رسولانو ، دَ هغوئ دین او د هغوئ منونکو مدد به کوي او دهغوئ دشمنان به هلاک کوي خو ته لګ صبر اوکه ، « فَإِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِي » یعني ستا په ژوند کښې به پرې عذاب نازل کړم ، ته به ئې اوګورې او سترګې به دې پرې یخې شي «اما»اصل کښې اصل کښې "اِنْ" او "ما" وو ،"انْ" شرطیه دې او "ما" زائده ده او جوابِ شرط محذوف دې چې " فتقر عیناک " دې«أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ »دا شرطِ ثاني دې او عطف دې په " نرینک" باندې او جواب شرط ئې «فَإِلَيْنَا يُرْجَعُونَ» دې ، او د دې جملې دوه مطلبه کیدې شي : (۱)یو دا چې کچرته مونږ تا وفات کړو او ته خپل حیات کښې په دوئ باندې عذاب اونه ګورې (بیا عام ده که ستا وفات نه ورستو په دنیا کښې پرې عذاب راغلې وي او که نه) خو آخرت کښ به د دوئ رجوع مونږ ته کیږي هلته به ترینه سخت انتقام اخلو ، (۲) ابن عاشور رحمه الله « فَإِلَيْنَا يُرْجَعُونَ» نه دنیوي عذاب مراد اغستې دې ،یعني ستا نه ورستو به هم په دوئ زمونږ عذاب وقتاً فوقتاً راځي او دوئ زمونږ طرف ته راځي ، خلاصه دا چې دنیوي عذاب به خامخا په دوئ نازلوو ، څه ستا په موجودګئ کښې او څه ستا د وفات نه ورستو،

څنې مفسرین « فَإِلَيْنَا يُرْجَعُونَ» دواړو شرطونو دَ پاره جزا ګرځولې ده نو دی تقدیر باندې مطلب دا دې چې کچرته ستا په ژوند کښې مونږ دوئ ته سزا ورکړو او ته ئې او وینې یا ستا په ژوند کښې ورته سزا ورنکړو (برابره خبره ده چې ستا وفات نه ورستو ورله سزا ورکړو او که نه) خو په هر حال کښې به د دوئ رجوع مونږ ته.کیږي او آخرت کښې به ورته سزا میلاویږي

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّن قَبْلِكَ مِنْهُم مَّن قَصَصْنَا عَلَيْكَ
او خامخا په تحقیق سره لیږلي وو مونږه رسولان مخکښې دَستانه بعضِ دَدوئ نه هغه دي چې قصې بیان کړیدي مونږ تاته
وَمِنْهُم مَّن لَّمْ نَقْصُصْ عَلَيْكَ وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ أَن يَأْتِيَ
او بعضِ دَدوئ نه هغه دي چه ندي بیان کړي مونږقصې دَهغوئ تاته،او نیشته دې په اختیار دَیو رسول کښ دا چه راوړي

بِاٰيَةٍ	اِلَّا	بِاِذْنِ	اللّٰهِ	فَاِذَا	جَآءَ	اَمْرُ	اللّٰهِ	قُضِيَ	بِالْحَقِّ وَخَسِرَ

يوه معجزه مگر په اجازت د الله تعالی سره ،نو کله چې راشي حکم د الله تعالی فیصله به او کړېشي په حقه سره او نقصان مند به شي

هُنَالِكَ	الْمُبْطِلُوْنَ ۝	اَللّٰهُ	الَّذِيْ	جَعَلَ	لَكُمُ	الْاَنْعَامَ

په دغه وخت کښې منکلی لګونکي په باطل پورې،الله تعالی هغه ذات دې چه پیدا کړیدي ستاسو دپاره څاروي

لِتَرْكَبُوْا	مِنْهَا	وَمِنْهَا	تَاْكُلُوْنَ ۝	وَلَكُمْ	فِيْهَا	مَنَافِعُ وَلِتَبْلُغُوْا

چې سورېږئ په څنو او بعض د دوئ نه خورئ تاسو .او ستاسو دپاره پدیکښې فائدې دي، او ددې دپاره چې تاسو اورسئ

عَلَيْهَا	حَاجَةً	فِيْ	صُدُوْرِكُمْ	وَعَلَيْهَا	وَعَلَى	الْفُلْكِ

هغې باندې هغې حاجت ته چه ستاسو په سینوکښې دې او په دی څناور باندې ،په اوچه کښې، او په بیړو باندې

تُحْمَلُوْنَ ۝	وَيُرِيْكُمْ	اٰيٰتِهٖ	فَاَيَّ	اٰيٰتِ	اللّٰهِ	تُنْكِرُوْنَ ۝

تاسو سوره ولې شئ.او الله تعالی ښائي تاسو ته دلائل د توحید خپل،نو د الله په دلیلونو کښې دکوم یو نه تاسو انکار کولشئ

﴿وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلًا﴾ دا اعاده ده د دلیل نقلي او تسلي ده نبي کريم صلي الله عليه وسلم ته ، مشرکينو به عناداً په نبي عليه الصلاة والسلام باندې دا سوال کولو چې کچرته دې د الله جل جلاله حقيقي رسول وي نو پکار ده چې مونږ ته زمونږ مطلوبه او فرمائشي معجزې راوړې ، نو الله جل جلاله جواب ورکوي چې اې پيغمبره! يواځې ته خو پيغمبر نه يې، بلکه ستا نه مخکښې هم ما ډير پيغمبران رالیږلي دي، هغوئ نه قوم دغه شان سوالات کړي وو لکه دوئ چې ستا نه کوي ، خو چونکه معجزه پيش کول د نبي په اختيار کښې نه وي نو دې وجهې نه . هغوئ د خپلو رسولان تکذيب اوکړو ،نو دغه شان دوئ هم ستا تکذيب کوي ، نو ته دې ته مه پريشانه کېږه کله چې الله عذاب راشي بيا به نقصان او خساره موندونکي صرف اهل باطل وي .

﴿اَللّٰهُ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَنْعَامَ﴾ دا د دليل عقلي اعاده ده چې الله جل جلاله تاسو دپاره څناور پيدا کړي دي چې هغې سره ستاسو ډير منافع وابسته دي لهذا صرف هغه اله اومنئ ، بل څوک ورسره مه شريک گرځوئ ، «لَكُمْ»اي: لمصلحتكم ومنفعتكم ستاسو منفعت دپاره ئې پيدا

کړي دي ، دا اجمال دې ، « اَلۡاَنۡعَامَ » نه مراد يا صرف اوښان دي او يا هغه اته «۸» قسمه څناور دي چې ذکر ئي په سورهٔ انعام کښې تير دې : ومن الابل اثنين ومن البقر اثنين الخ « لِتَرۡكَبُوۡا مِنۡهَا » دا دماقبل اجمال تفصيل دې او دا ئي اوله فائده ده چې رکوب او سواري وربانديې کيږي « وَمِنۡهَا تَاۡكُلُوۡنَ » دا ئي دويمه فائدې ذکر دې چې خوراک بندوبست ترينه هم کيږي

« وَلَكُمۡ فِيۡهَا مَنَافِعُ » دا ئي دريمې فائدې ذکر دې چې رکوب او خوراک نه علاوه نورې فائدې پکښې هم دي لکه شودې شوې ، څرمن شوه وغيره « وَلِتَبۡلُغُوۡا عَلَيۡهَا حَاجَةً » څلورمې فائدې ذکر دې ، دينه مراد لرې اوتجارتي سفر او نقل حمل دې « وَعَلَيۡهَا وَعَلَى الۡفُلۡكِ تُحۡمَلُوۡنَ » ديکښې د الله جل جلاله يو بل نعمت د کشتئ ذکر دې چې الله جل جلاله درله سمند مسخر کړې دې او دا پکښې روانه وي او تاسو پکښې خپل سامان اچولي روان يئ ، « عَلَيۡهَا » ضمير راجع دې انعام ته او د دې ذکر به طورِ تمهيد شوې دې ،اصل مقصود دکشتئ فائدې بيان دې،يعنې لکه څرنګه چې تاسو په څناوربانديې سفر کوئ نودغه شان ئې ورله کشتئ هم مسخر کړيدې « تُحۡمَلُوۡنَ » کښې نسبت انسانانو ته تغليباً شوې دې ګني انسانان او د هغوئ سامان او اثقال دواړه مراد دي،

﴿ وَيُرِيۡكُمۡ اٰيٰتِهٖ ﴾يعني دلائل دَقدرت اودَتوحيد،﴿فَاَيَّ اٰيٰتِ اللّٰهِ ﴾ایَّ منصوب دې په ﴿تُنۡكِرُوۡنَ ﴾ سره،مقدم شويدې په خپل عامل بانديې دَوجه دَتقاضي دَصدارت نه،اوپدې استفهام کښې توبيخ دې.

اَفَلَمۡ يَسِيۡرُوۡا فِى الۡاَرۡضِ فَيَنۡظُرُوۡا كَيۡفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِهِمۡ
آيا دوئ نه دی ګرځيد لي په زمکه کښې چې ليدلې وې دوئ څنګه وۀ انجام دهغه کسانوچې دَدوئ نه مخکښې وۀ،
كَانُوۡۤا اَكۡثَرَ مِنۡهُمۡ وَاَشَدَّ قُوَّةً وَّاٰثَارًا فِى الۡاَرۡضِ فَمَاۤ اَغۡنٰى عَنۡهُمۡ
وۀهغوئ زيات دَدوئ نه او سخت وۀ په قوة کښې اوپه آباد کښې چې زمکه کښې ئې پريخې دي،پس فائده ورنکړه دوئ ته
مَّا كَانُوۡا يَكۡسِبُوۡنَ ۞ فَلَمَّا جَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُمۡ بِالۡبَيِّنٰتِ فَرِحُوۡا
هغه عملونو چه دوئ کولو ،پس هرکله چه راغلل دوئ ته رسولان دَدوئ په واضحه معجزوسره نوخوشحاله شول دوئ

بِمَا عِنْدَهُمْ مِّنَ الْعِلْمِ وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿٨٣﴾
په هغه سره چې دوئ سره به.کوم علم‌شرکي‌وو،اوگیر کړل دوئ هغې عذاب چې دوئ به ور پورې استهزاء کوله.
فَلَمَّا رَاَوْا بَاْسَنَا قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَحْدَهٗ
پس هرکله چې اولیدلو دوئ زمونږعذاب نواوئې وئیل چه مونږایمان راوړې دې په الله ﷻ یو باندې
وَكَفَرْنَا بِمَا كُنَّا بِهٖ مُشْرِكِيْنَ ﴿٨٤﴾ فَلَمْ يَكُ يَنْفَعُهُمْ اِيْمَانُهُمْ
اوانکارکوؤمونږدهغې چه وؤمونږچه الله سره موشریکول،پس بیانه وؤداچه نفع ورکړې وې دوئ ته ایمان دَدوئ
لَمَّا رَاَوْا بَاْسَنَا ؕ سُنَّتَ اللّٰهِ الَّتِيْ قَدْ خَلَتْ فِيْ عِبَادِهٖ ۚ
کله چې ئې ولیدلو عذاب زمونږ،دا طریقه ده دَالله تعالیٰ هغه چه په تحقیق سره تیرشویده په بندگانودَده کښې
وَخَسِرَ هُنَالِكَ الْكٰفِرُوْنَ ﴿٨٥﴾
اونقصان‌مندشول‌په‌دغه‌وخت‌کښې‌کافران.

﴿ اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ ﴾ دادَتخویف دنیوي اعاده ده چې تفسیرئې مخکښې تیر شویدې،﴿ فَمَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ ﴾ "ما"نافیه ده ای لم یُغن عنهم،فائده ورنه کړه دوئ ته کسب دَدوئ یااستفهامیه ده ای ایُّ شیئٍ اغنیٰ عنهم الذی کسبوه(روح)یعني کوم څیزدوئ ته فائده ورکړه چې دوئ کسب کړی وؤ؟

﴿ فَلَمَّا جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ ﴾ یعني واضحې معجزې اوښکاره دلائل﴿ فَرِحُوْا بِمَا عِنْدَهُمْ مِّنَ الْعِلْمِ ﴾ د دې په تفسیرکښې یوخواقوال دی:

(۱) "اَلْعِلْم" نه مراد دوئ توهمات او باطل عقائد دي ،او اطلاق د علم پرې تهکماً او استهزاء شوې دې ، او یا دهغوئ اعتقاد مطابق شوې دې ، او د ((فَرِحُوْا)) او ((عِنْدَهُمْ)) دواړو ضمیر راجع دې کفارو ته ؛ او مطلب دا دې چې علوم الهیه او نبویه په مقابله کښې دوئ خپلو توهماتو او رسوماتو له ترجیح ورکړه او په هغې راضي شو ،

(۲) "ٱلۡعِلۡمِ" نه مراد دنيوي علوم دي ، لکه صنعت ، تجارت وغيره شو . كما في قوله جل و علاه : يعلمون ظاهراً من الحيوة الدنيا (الروم:۷) وقوله جل جلاله : لم يرد الا الحيوة الدنيا ـ ذلک مبلغهم من العلم (النجم ،۳۴ ، ۳۵) او مطلب دادي چې علوم دينيه باندې ئې علوم دنيويه له ترجيح ورکړه ،او افسوس صد افسوس نن په مسلمانانو کښې د کافرانو دا مزاج ډير په تيزئ سره را روان دې ، اعتقاداً اگر که نه وي خو عملاً او صورتاً نن د اکثر مسلمانانو دا طرزِ عمل دې چې دنيوي علومو او د هغې په ډگرو باندې خوشحاليږي او بل طرف ته ئې دين برباد روان دې هغې ورسره هډو څه غم او پرواه نشته !

(۳) "ٱلۡعِلۡمِ" نه مراد علوم دَ انبياؤو دي او ضمير دَ ﴿فَرِحُواْ﴾ راجع دې کافرانو ته او ﴿عِندَهُم﴾ ضمير رسولانو ته راجع دې،او دَ فرحَ نه مراد استهزاء کول دی،نومطلب دادې چه دې کافرانو استهزاء وکړه په هغې علم چې انبياؤ سره وؤ ، ددې نه علاوه نورهم متعدد اقوال ښکښ شته دي،

﴿فَلَمَّا رَأَوۡاْ بَأۡسَنَا﴾ «باس» نه مراد سخت عذاب دې ،ومنه قوله تعالى:عذاب بئيس، ﴿وَكَفَرۡنَا بِمَا كُنَّا﴾ "باء" يا سببيه ده يعني دَهغوئ دَعبادت کولو په وجه مونږ مشرکان وؤ ،يا متعلقه ده دَ «مشرکين» سره ،يعني چې مونږ به الله تعالى سره شريک کول،

﴿فَلَمۡ يَكُ يَنفَعُهُمۡ إِيمَٰنُهُمۡ﴾ "يَكُ" اصل کښې "يکن" وؤ او دا د نفي معني کښې دپاره راوړلې شوې دي «إِيمَٰنُهُمۡ» اسم دې د "يَكُ" دپاره او ينفعهم کښې ضمير مستتر فاعل دې او او يا «إِيمَٰنُهُمۡ» فاعل دې د «يَنفَعُهُمۡ» او "يَكُ" فاعل ضمير شان مستتر دې ، «سُنَّتَ ٱللَّهِ» منصوب بنا بر نزع خافض دې ، اي : كسنت الله او يا مفعول مطلق دې د فعلِ محذوف دپاره ، اي: سن سنت الله ، يعني کله چې الله ايمان اوليدلو نو بيا ئې ايمان راوړل غوختل خو دې وخت بيا ايمان چرته قبليږي ، دا خو د الله جل جلاله سنت جاريه دې چې نزول دعذاب په وخت کښې د چا عذاب نه قبلوي.

﴿وَخَسِرَ هُنَالِكَ ٱلۡكَٰفِرُونَ﴾ "هنالك" دَظرف زمان دپاره مستعار دې اى وخسروا وقت رؤية البأس (کبير،زجاج رحمه الله) واني چې کافر په هروخت کښ خاسروي ليکن په وخت دَعذاب کښ ورته خپل خسران ظاهر شي.

آیاتها (۵۴)	سورة حم سجده مکية	رکوعاتها (۶)
	بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکي دي شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (۴۱) وحسب النزول (۶۱)

سورة حم سجده مکي سورة دي، دَسورة مؤمن نه بعد نازل شويدي،

ربط: په حواميم سبعه ؤکښ ربط دادي چي مابعدحم به جواب دَيوسوال کوي چي په ماقبل حم باندي واردوي، داحم سجده هم دَيوسوال جواب کوي چي په ماقبل حم دعوي ﴿فَادْعُوا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ﴾ باندي وارد دي ، چي مشرکان وائي چي ډير کرته ليدلي شويدي چي يو سړي په مصيبت کښ گرفتار وي چي کله دَغير الله ﷻ نه مدد اوغواړي دَهغه په نوم نذر نياز اومني نونجات ورته ميلاؤشي ياداسي خوبونه اووينی چي دَشرک تائيد ورسره کيږي. نوجواب اوشوچي﴿وَقَيَّضْنَا لَهُمْ قُرَنَآءَ﴾چي داشيطاني اثرات او وساوس وی او انسان په دي سره گمراه کوي.

دعوه دَسورت

دعوه دَسورت توحيد ده، چي« اَنَّمَآ اِلٰـهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ »(آيت:6) کښ ذکر ده

دَسورة دَمضامينواجمالي خُلاصَه

تمهيدمع ترغيب، پنځه عقلي دلائل، دَهردليل نه ورستوتخويف دنيوي، اُخروي، څلور شکوىٰ هره شکوه على سبيل الترقي، اودَهغي جوابونه، دَطريقودَتبليغ بيان، دَدري(۳) شبهاتو جوابونه اوضمنًا دليل وحي.

تفصيلي خُلاصه: ﴿حٰمٓ ① تَنْزِيْلٌ مِّنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ﴾(۱)آيت نه تر﴿ بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا ﴾آيت(۴)پوري تمهيدمع ترغيب دي، ﴿قُلْ اِنَّمَآ اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ﴾آيت(۲) دليل وحي دي ضمنًااوصراحتًادعوى دَ سورة ذکردي. ﴿وَوَيْلٌ لِّلْمُشْرِكِيْنَ ⑥﴾ نه تر﴿وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ هُمْ كٰفِرُوْنَ ⑦﴾پوري تخويف اخروي دي.

﴿اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا﴾ آيت:۸ بشارت اُخروي دي،

پنځه دلائل عقليه :

﴿قُلْ أَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُونَ﴾ تر آيت ۱۰ پورې اول دليل عقلي دی،

﴿وَمِنْ آيَاتِهِ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ﴾ آيت ۳۷ دويم دليل عقلي دی،

(وَمِنْ آيَاتِهِ أَنَّكَ تَرَى الْأَرْضَ)(آيت نمبر ۳۹) دريم دليل عقلی دی.

﴿إِلَيْهِ يُرَدُّ عِلْمُ السَّاعَةِ﴾ آيت ۴۷ څلورم دليل عقلي دی،

﴿أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ﴾ آيت ۵۳ پنځم دليل عقلي دی.

څلور شکوې :

﴿فَأَعْرَضَ أَكْثَرُهُمْ فَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ﴾ آيت ۴، ۵ اوله شکوه ده،

﴿وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَا تَسْمَعُوا﴾ آيت ۲۶ دويمه شکوه ده،

﴿مَا يُقَالُ لَكَ إِلَّا مَا قَدْ قِيلَ لِلرُّسُلِ﴾ آيت ۴۳ دريمه شکوه ده،

﴿لَا يَسْأَمُ الْإِنْسَانُ مِنْ دُعَاءِ الْخَيْرِ﴾ آيت ۴۹ نه تر ﴿فَذُو دُعَاءٍ عَرِيضٍ ۝﴾ پورې څلورمه شکوه ده،

درې شبهاتو جوابونه:

﴿وَلَوْ جَعَلْنَاهُ قُرْآنًا أَعْجَمِيًّا﴾ آيت ۴۴ داولې شبهې جواب دی،

﴿وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ فَاخْتُلِفَ فِيهِ﴾ آيت ۴۵ دويمې شبهې جواب دی

﴿وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَبِّكَ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ﴾ آيت ۴۵ دريمې شبهې جواب دی.

تمت خلاصة السورة اجمالاً وتفصيلاً.

حٰمٓ	۝ تَنْزِيلٌ	مِنَ	الرَّحْمٰنِ	الرَّحِيمِ	۝ كِتٰبٌ
الله عالم دی په معنیٰ ددې،داقرآن نازل دی د طرفه هغه ذات نه چه بیحده مهربانه رحم کونکي دی، داسې کتاب دی					
فُصِّلَتْ	اٰيٰتُهٗ	قُرْاٰنًا	عَرَبِيًّا	لِّقَوْمٍ	يَّعْلَمُوْنَ ۝ بَشِيْرًا
چه واضح بيان کړې شويدي آياتونه ددې،قرآن دی په عربئ ژبه کښې دپاره دهغې قوم چه پوهيږي،زيرې ورکونکې دی					
وَّنَذِيْرًا ۚ	فَاَعْرَضَ	اَكْثَرُهُمْ	فَهُمْ لَا يَسْمَعُوْنَ ۝	وَقَالُوْا	قُلُوْبُنَا فِيْٓ اَكِنَّةٍ
اويره ونکې دی،نواعراض اوکړو اکثرو د دوئ پس دوئ نه آورې. اووائي دوئ زړونه زمونږ په پردوکښې دی					

مِمَّا تَدْعُوْنَآ اِلَيْهِ وَفِيْٓ اٰذَانِنَا وَقْرٌ وَّمِنْۢ بَيْنِنَا وَبَيْنِكَ حِجَابٌ

دهغې نه چه ته راغواړې مونږ هغې ته اوپه غوږونوزمونږکښې دروند والې دې اوزمونږاوستاپه مينځ کښې پرده ده

فَاعْمَلْ اِنَّنَا عٰمِلُوْنَ ۞

پس ته په خپل دين عمل کوه بيشکه مونږه په خپل دين عمل کونکي يو.

﴿حٰمٓ ۞ تَنْزِيْلٌ مِّنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ﴾ تمهيد مع الترغيب دې چې دا قرآن رحيم ذات له طرف نه نازل شوې دې،دې کښې دستاسو دنيوى او اخروى فائدې دى لهذا په دې ايمان راوړئ. ددې تفسير اوترکيب په ابتدا دَسورة زمرکښې تيرشويدې،﴿كِتٰبٌ﴾ تنوين د پاره د تعظيم دې ، او بدل دې د «تَنْزِيْلٌ» نه خبر بعد خبر دې ،﴿فُصِّلَتْ اٰيٰتُهٗ﴾ صفت دې دکتب تفصيل هغه بيان نه وائى چې پکښې ابهام ،التباس او تشنگى نه وى،نو قرآن لفظا هم مفصل دې چې دآيت آيت سره اودَسورت سورت سره هيڅ التباس نشته،آيت دآيت نه جدا اوسورت دَ سورت نه جدادې،دَسورت ابتدا هم معلومه ده چې دکوم ځائ نه شروع کيږى او انتهائى هم معلومه ده چې په کوم ځائى ختميږى،او معنا هم مفصل دې،چې په دې کښې هر قسم وضاحت موجود دې،عقائدو بيان هم دې او احکاماتو بيان هم،وعد وعيد پکښې هم دي اوبشارات وتخويفات پکښې هم شته.اوداټول په داسى واضح انداز کښې دى که څوک دَهدايت اوحق طلب گار وى نو هغه ته پکښې هيڅ دشوارى نه راځى،(قُرْاٰنًا) منصوب بنا بر مدح دې. اي:امدح قرآنايا حال دې دَ«كِتٰبٌ»،دې کښې دکتاب بل وصف بيان دې چې دا هغه کتاب دې چې لوستلې کيږى اولوستل ئى آسان هم دي(عَرَبِيًّا) صفت دې.دَ(قُرْاٰنًا). ﴿لِّقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ﴾دَقرآن مخاطب خوټول عالم انساني دې،ليکن ددې نه نفع صرف هغه اخلي چې دَعلم اوفهم نه کاراخلي اوڅوک چې ورنه نفع نه اخلي نودَهغه هوش حواس صحيح ندي،نو﴿يَعْلَمُوْنَ﴾په معنىٰ لازمي کښې مستعمل دې اي لقوم ذي علم،نودې کښې اشاره ده ديته چې کوم خلق دقرآن نه انکار کوى او دې په مضامينو ايمان نه راوړي هغه جاهل دى

ددې سورة دَابتدائي آياتونو په باره کښې راغلي دي چې ابو الوليد (عُتبه بن ربيع)يوخل دَخپل قوم په مشورې سره دَحضورﷺ په خدمت کښې راغې،په عربو کښې اوخاص کرپه قريشوکښې

دانتشاراودتفريق الزام ئي په حضورﷺ باندې عائدکړو،اوبيائي ورته اووې چې ستاددې تحريك څه مقصددې؟ که ستامقصدمال جمع کول وي نومونږبه ستادپاره دومره مال جمع کړوچې ته به په ټول قوم کښې مالداره شې اوکه ستامقصداقتداراوحکومت وي نو مونږ تا د ټولو قريشوسردارتسليمه وو،اوکه په تاجنون ياجنات وي(نعوذبالله) نووددې علاج هم مونږ پخپله خرچه کوو اوکه ته دېوې حسينې جميلې ښځې سره دنکاح خواهشمندئې نومونږبه تاته (۱۰)لس ښځې حاضرې کړو،ابولوليددغه طويل تقريرکولواوحضورﷺ ورته خاموش وو،دې نه بعدورته حضورﷺ اووئيل چې اى ابوالوليد! تاخپله خبره پوره کړه نوهغه اووې، هاؤ،نوحضورﷺ ورته اووې چې أوس زماخبره واوره،بيائي ورته دجواب ورکولوپه ځائ ددې سورة تلاوت شروع کړو،چې کله حضورﷺ دې آيت﴿فَإِنْ أَعْرَضُوا فَقُلْ أَنذَرْتُكُمْ صَاعِقَةً﴾ته اورسيدو نو ابوالوليدراپاسې دلو،اوحضورﷺ په خلې مبارکې باندې ئي لاس کيخودلو،وئي ويل: نور بس کړه،نوربس کړه،اودحضورﷺدمجلس نه لاړواوپه کورکښې خاموشه کيناست، چا ورنه تپوس وکړوچې څه درباندې اوشو،وئي ويل "اني سمعتُ قولاً والله ماسمعتُ مثله"(ابن کثير) چې مادا سې کلام واوريدلوچه نه سحردې،نه شعردې،نه دکاهنانوکلام دې،نواقرارئي وکړو، ليکن ايمان ئي رانه وړو.

﴿بَشِيرًا وَنَذِيرًا﴾دواړه صفات دى د﴿قُرْآنًا﴾يعنى داقرآن او اعمال صالحه حاملينو لپاره دجنت زيرى ورکونکې دې او مشرکانو لپاره دعذاب دجهنم نه يره ونکې دې﴿فَأَعْرَضَ أَكْثَرُهُمْ﴾دااوله شکوه ده،او(فاء)دپاره دتفريع ده يعنى قرآن دې صفاتوتقاضه خواداده چې دوئ ټولو پرې ايمان راوړې وى خو دوئ د ضد وعناد په بنياد ترينه اعراض اوکړو،﴿فَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ﴾ "فاء" دلته هم تفريع دپاره ده،او داتفريع ده په اعراض، يعنى دباربارا عراض اودضدعنادپوجه ورنه دسماع قبول استعداد سلب شويدې،

﴿وَقَالُوا قُلُوبُنَا فِي أَكِنَّةٍ﴾دا دهغوئ اعراض تفصيل دې چې په درې تعبيراتو مشتمل دې:

(۱)مونږ ستاپه خبره هډو سره پوهيږونه.

(۲)مونږ ستاخبره نه اورو

(۳) مونږ اوستا په مينځ کښې حجاب دې،دېوبل نه ډير لرې اوفنا يو،لهذا ليدل کتل پوهيدل او پوهول او اوريدل اورل هيڅ نه کيږى،بس ته خپل عمل کوه مونږ په خپل عمل کوو.

﴿ قُلُوْبُنَا فِيْٓ أَكِنَّةٍ ﴾ دااول تعبير دي "اكنه" جمع دَ كنان ده، پردي ته وائي يعنى په پردو كښې رانغختې شوې دي ستاخبره راته هډو سر ه رسي نه ﴿ مِّمَّا تَدْعُوْنَآ إِلَيْهِ ﴾دي نه مراد مسئله توحيد ده ﴿ وَفِيْٓ اٰذَانِنَا وَقْرٌ ﴾دا دويم تعبير دي "وقر" بوج ته وائي او دلته ترينه مراد كوڼ والي دي، يعنى زموږ غوږونه دحق اوريدلونه كاڼه دي. ﴿وَمِنْۢ بَيْنِنَا وَبَيْنِكَ حِجَابٌ ﴾دا دريم تعبير دي ، حجاب نه مراد نظرياتي بعد او اختلاف دي چې هغه مو يوبل ته نيزدې نه پريګدي.

﴿فَاعْمَلْ إِنَّنَا عٰمِلُوْنَ ﴾اى اعمل على دينكَ انّاعاملون على ديننا،نوته پخپل دين عمل كوه موږبه پخپل دين عمل كوؤ.يا دا مطلب دي چې ته زموږ دَدين په ابطال كښې كوشش كوه،موږ به ستا دَدين باطلولو كوشش كوؤ.

قُلْ	إِنَّمَآ	اَنَا	بَشَرٌ	مِّثْلُكُمْ	يُوْحٰٓى	إِلَيَّ	اَنَّمَآ	اِلٰهُكُمْ	اِلٰهٌ وَّاحِدٌ
ته اوايه بيشكه ځه خو بس بشر يم ستاسو په شان وحي كوليشي ماته داچه بيشكه معبود ستاسوصرف معبود يودې									
فَاسْتَقِيْمُوْٓا	اِلَيْهِ	وَاسْتَغْفِرُوْهُ	وَوَيْلٌ	لِّلْمُشْرِكِيْنَ ۙ﴿٦﴾	الَّذِيْنَ	لَا	يُؤْتُوْنَ		
پس سيدهاځئ مخ كرئ هغه ته اوبخنه اوغوارئ دَهغه نه،اوهلاكت دې مشركانولره،هغه چه نه وركوي									
الزَّكٰوةَ	وَهُمْ	بِالْاٰخِرَةِ	هُمْ	كٰفِرُوْنَ ﴿٧﴾	إِنَّ	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا		
زكوة اودوئ په آخرت باندې انكاركونكي دي،بيشكه هغه كسان چه ايمان ئي راوړيدي									
وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ	لَهُمْ	اَجْرٌ	غَيْرُ	مَمْنُوْنٍ ﴿٨﴾				
او كوي نيك عملونه،دوئ دپاره اجردي نه ختميدونكې،									

﴿قُلْ إِنَّمَآ اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ﴾دا جواب شكوې او دعوې دَسورت ده چې هركله تاسو ضد اوعناد په وجه ځما خبره ردكوئ او دلائلو ته غوږ نه كيدئ، نو ځه خو هم تاسو په شان انسان يم خپل دعوت درباندې خوځه زبردستى نشم منلې شم ،خودا ده چې منصب رسالت راته راكړې شوې دې،او دَالله ﷻ طرف نه راته وحي كيږي نو دهغې دعوت به دركوم چې خالص الله ﷻ باندې ايمان راوړئ او هغه ته توبه او رجوع اوكړی

﴿ فَاسْتَقِيْمُوْٓا اِلَيْهِ ﴾اى فاستووا اليه تعالى بالتوحيد(روح)﴿وَوَيْلٌ لِّلْمُشْرِكِيْنَ ﴾دا عطف دي په "انما انا

بشر"او تخويف دي يعني ته اووايه چې هلاکت اوتباهي دې وي مشرکينو دپاره چې ضد وعناد او حسد دَدوئ دې درجې ته رسيدلې دی.

﴿الَّذِينَ لَا يُؤْتُونَ الزَّكَوٰةَ﴾ دمشرکينو مذموم وصف بيان دې چې کنجوسان دی، مستحقينو ، او فقراؤو له مال نه ورکوی،دَزکات باقاعده فرضيت مقادير ،مصارف او تفصيلات اگر چې مدينه کښې راغليدی خو په مکه کښې هم مطلقا مالی صدقه بغير ددې تفصيلاتونه فرض وه او پدې اطلاق دَزکات کيدلو. ﴿إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا﴾ بشارت اخروي دې، ﴿غَيْرُ مَمْنُونٍ﴾ ای غيرمقطوع،

قُلْ أَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُونَ بِالَّذِي خَلَقَ

ته اووايه آياتاسوکفرکوئ په هغه الله چه پيداکړې ئې دَه

الْأَرْضَ فِي يَوْمَيْنِ وَتَجْعَلُونَ لَهُ أَندَادًا ذَٰلِكَ رَبُّ الْعَالَمِينَ ⑨

زمکه په مقداردَدوؤورځوکښې،او گرځوئ تاسوهغه لره شريکان،دغه ذات(چه خالق دې) رب العالمين هم دې.

وَجَعَلَ فِيهَا رَوَاسِيَ مِن فَوْقِهَا وَبَارَكَ فِيهَا وَقَدَّرَ فِيهَا

اوپيدا کړی ئې دی پدې زمکه کښې پاخه غرونه دَپاسه دَهغې نه،اوبرکتونه ئې پکښې ايخي دی اوپه اندازه ئې ايخيدې پديکښې

أَقْوَاتَهَا فِي أَرْبَعَةِ أَيَّامٍ سَوَاءً لِّلسَّائِلِينَ ⑩ ثُمَّ اسْتَوَىٰ إِلَى السَّمَاءِ

رزقونه دَدې په څلورو ورځوکښې پوره دَپاره دَسوال کونکو(اهل کتاب)بيائې قصداوکړواسمان ته

وَهِيَ دُخَانٌ فَقَالَ لَهَا وَلِلْأَرْضِ ائْتِيَا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا

اودااسمان په شکل دَيولوگې وؤنووې ويل دَه ته اوزمکې ته راشئ دواړه په خوښې سره ياپه زبردستئ سره،

قَالَتَا أَتَيْنَا طَائِعِينَ ⑪ فَقَضَاهُنَّ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ فِي يَوْمَيْنِ وَأَوْحَىٰ

اوئيل دواړورازو مونږ په خوښې سره،نوپوره ئې کړل هغه اوه اسمانونه،په دوؤ ورځوکښې او اوئې ليږلو

فِي كُلِّ سَمَاءٍ أَمْرَهَا وَزَيَّنَّا السَّمَاءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيحَ

په هر يو اسمان کښې دَ هغې(مناسب)حکم،اوخايسته کړيدې مونږآسمان دَ دُنيا په ستورو سره،

وَحِفْظًا	ط	ذٰلِكَ	تَقْدِيْرُ	الْعَزِيْزِ	الْعَلِيْمِ	۝
اوموږ ئي بندوبست کړي دي د حفاظت،		دا	اندازه	دَ	هغه ذات ده چې غالب دي	پوهه دي

﴿قُلْ اَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُوْنَ﴾ دا اول دليل عقلي دي په توحيد ،حاصل ئي دا دي چې آيا تاسو په داسې قادرمطلق ذات باندي کفر کوئ اوغيرورسره شريکوئ چه هغه خپل قدرت سره دا ټول کارونه کړيدي،اوڅوك چه تاسومتصرف اوکارسازګڼرئ دَالله ﷻ نه ماسوىٰ نوهغوئ ته پدې کارونوکښ په هيڅ کارباندې قدرت ندي حاصل،نوداڅومره دَتعجب مقام دي چې دَ،ربُ العالمين،دَوحدانيت نه انکارکوئ.

﴿خَلَقَ الْاَرْضَ فِيْ يَوْمَيْنِ﴾تخليق دارض وسما په دري مرحلو او په شپږ ورځو کښ شويدي (١)دوه ورځو کښ دَزمکي ماده پيدا کړي شوه.(٢)بيا دوه ورځو کښ هغه اوغوړلې شوه او زمکې انتظامات ئي مکمل کړي شو.(٣)او نورو دوه ورځو کښ دَ آسمانونو تخليق اوشو. داټول کارونه شپږو روځو مقدار کښ شويدي باقي دي ترتيب متعلق مباحث په تفصيل سره حضرت والدمحترم رحمه الله په جلد اول ثم استوى الى السماء فسوهن سبع سماوات تحت درج کړيدى،هلته ملاحظه کړئ.

﴿فِيْ يَوْمَيْنِ﴾ يوم مخصوص دورانيي ته وائي چې په څلوريشت ساعاتو مشتمله وى دآسمان او زمکي تخليق نه مخکښ ورځ اوشپه نه وه،ځکه چې داخو دزمکي انتظاماتو کښ راځي.اوزمکى انتظامات الله ﷻ دَزمکي تخليق نه ورستو راليږى دي نومراد ترينه دلته اندازه او مقدار دَدوؤ ورځو دي،رواياتوکښ چې راغليدي چې دا د اتوار او پير ورځ وه نو(په تقدير د صحت دَرواياتو)مراد دادې چې موجوده هفته وار ترتيب اعتبار سره دا دَاتوار او پير ورځ راتله،والله اعلم

﴿وَتَجْعَلُوْنَ لَهٗٓ اَنْدَادًا﴾واو تفسيريه دي اوجمله ټوله تفسير ده دَ﴿لَتَكْفُرُوْنَ﴾. ﴿ذٰلِكَ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ﴾دادويم مظهر دي يعني صرف دَزمکې خالق ندي بلکه دَټولو موجوداتورب دي،

﴿وَجَعَلَ فِيْهَا﴾عطف دي په خلق، او دا تخليق دويمه مرحله ده چې هغه انتظامات دَزمکې دى

﴿رَوَاسِيَ﴾ اى جبالاًثوابتَ،يعنى دَزمکى يو انتظام دادي چې په هغې دَپاسه ئي غرونه ايښي دى چې هغې سره زمکه خوځى راخوځى نه ،بلکه په ځائى ولاړه ده او خلق پرې ستوګنه کولې

شی﴿مِن فَوْقِهَا﴾ضمير مجرور "الارض" ته راجع دي او جار مجرور صفت گرځی دپاره دَ "رواسي" او دي کښې دَغرونو منظر کشی طرف ته اشاره ده چې دازمکې دپاسه وی او هر چاته ښکاری

﴿وَبَارَكَ فِيهَا﴾دائی دویم انتظام ذکر دې چې زمکه ئی دَخیر وبرکت منبع اوگرځوله، د انسان دَنفعې خیزونه ئی پکښې واچول، نهرونه ئی پکښې جاری کړل،فصلونه ترینه راخیژی، معدنیات ترینه رااوځی وغیره وغیره،

﴿ وَقَدَّرَ فِيهَآ أَقْوَاتَهَا ﴾ اي القوات اهلهادائی دَبل انتظام ذکر دې چې دزمکې باشندگانو ضروریاتو بندوبست ئی هم ددینه اوکړو.اوداداسې چې (۱) دَکوم مخلوق کوم خوراک او غذا ده هغه ئی ورله په زمکه کښې پیدا کړې ده،(۲) دکومې علاقې او دهغې خلقو دپاره مناسب خوراک دې هغه ئی ورله هلته پیدا کړی دي(۳)هرې علاقې ته یو خصوصیت او امتیاز ورکړې دي چې هغې کښې یو پیداوار داسې وی چې هغه بلې علاقه کښې نه وی ،چې ددې په بنیاد دَتجارت سلسله قائم ده او دَخلقو معاش پرې روان دي(۴) او دهغه شان خومره مخلوقات ترقیامت پورې راروان دی دَهغوئ ټولو ضروریات ئی په زمکه کښې ودیعت ایخیدي،دیته پریشانه کیدلو ضرورت نشته چې آبادی به زیاته شی نو بیا به ورله ضروریات له کومه ځایه او څنگه پوره کیږی، ﴿فِىٓ أَرْبَعَةِ أَيَّامٍ﴾مجموعی اعتبار سره څلور روځې مراد دي،یعنې دوه ورځو کښې ئی زمکه پیدا کړه او بیائی ورله په دوه ورځو کښې ټول انتظامات مکمل کړو نودا ټولې څلور روځې شوې،دا مراد نه دي چې صرف انتظامات ئی په څلورو ورځو کښې مکمل شو.

﴿سَوَآءً﴾ مفعول مطلق دي فعل محذوف استوت دپاره،او جمله تاکید واقع کیږی اربعة" دپاره یعنی داکارونه مکمل څلورو ورځو مقدار کښې شویدي نه دینه کم کښې شویدي اونه زیات کښې ﴿لِّلسَّآئِلِينَ﴾ جارمجرور یا خبر واقع کیږی دَمبتدا محذوف دَپاره اي هذا الحصر في اربعة كائن للسائلين او یا جارمجرور سواءسره متعلق کیږی او "سائلین" نه مراد دي دواړو تقدیرونو باندې دَزمکې تخلیق مدت باره کښې تپوس کونکی دی او یاجار مجرور متعلق کیږی دَ"قدر" سره او "سائلین" نه مراد رزق طلب کونکی دی.

﴿ثُمَّ ٱسْتَوَىٰٓ إِلَى ٱلسَّمَآءِ﴾دې کښې دریمې مرحلې یعنی دا آسمانو تخلیق بیان دي چې بیائې مزید دو ورځو مقدار کښې اووه آسمانونه پیدا کړل او دهغې ئی مکمل انتظام اوکړو. ﴿ٱسْتَوَىٰٓ﴾دلته یا

پمعنی د علو او ارتفاع سره ده کما یلیق بشانه او یا پمعنی دَ قصد او توجه سره دي او تفصیل ددي په سورت البقره کښ ثم استوي الي السماء آیت نمبر ۲۹ کښ تیر شویدي. نوکه څوك سوال اوکړي چې آسمان خوموجود نه وؤنوهغه ته ئي څنګه استویٰ اوکړه؟نوددي جواب اوشوچې ماده دآسمان موجوده وه په شکل دَ بُخارکښ،چې په﴿ وَهِيَ دُخَانٌ ﴾ کښ دهغې ذکر راغلیدي او "دخان"نه مراد دلته حقیقي لوګي نه دي،چې اور نه پیدا کیږی،بلکه بخارات اوګیس دي یعنی آسمانونوتخلیق نه مخکښ هیڅ نه وؤ محض یو خلا وه،تیاره وه اوګیس وؤ نو الله ﷻ ترینه آسمانونه پیدا کړل.

﴿ فَقَالَ لَهَا وَلِلْأَرْضِ ﴾دا عهد دي دا آسمانونو او زمکې نه دَتکوینی احکاماتو منلو او اطاعت کولو ،چې څه تاسو خپل تکوینی احکاماتو محل ګرځوم نو تاسو به هغه منئ او کنه،او په خپلې رضا سره دَهغې منلوته آماده کیږئ او که زبردستئ سره؟ نو هغوئ اووئیل چې مونږ په خپلې رضا سره اوخوشحالئ سره دا احکامات منواو قبلوؤ﴿ اِئْتِيَا ﴾ امر دي دَ "اتیان" نه راتلوته وائی،او دلته حقیقی معنی اغستل ممکنه دی بلکه مراد ترینه مجازی معنی اطاعت او قبلول دَاحکاماتو ده ﴿ طَوْعًا أَوْ كَرْهًا ﴾داکنایه ده دَلزوم نه،چې تاسو به ضرور څما دَتکوینی احکاماتو محل ګرځئ حقیقتا طوع او کراهت اثبات ندي مقصود ،بلکه تمثیلا ذکر شوي دي،لکه څنګه چې دلزوم په موقع باندې داسې وئیلې کیږی،چې خامخا به داکار کوی،که زړه دي غواړي او که نه غواړی ﴿قَالَتَا أَتَيْنَا طَائِعِينَ ﴾ د « قالتا » دوه مطلبه کیدي شی(۱) یوداچی دائی بلسان حال وئیلي وی یعنی فورا ئی سر تسلیم خم کړو او دَ الله ﷻ احکامات ئی قبول کړو.(۲)دویم داچی کیدي شی بلسان قال ئی وئیلی وی .ځکه چی الله ﷻ هر مخلوق له څه نه څه شعور او ادراک ورکړي دي،او دهغه تخلیق مطابق ئی ورله قوت ګویائی ورکړي ده،چې هغه پري دَ الله ﷻ تسبیح کوی او هغه سره همکلامی کوی.

﴿فَقَضَاهُنَّ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ فِي يَوْمَيْنِ ﴾ دي کښې دآسمانونه تخلیق او دهغې انتظاماتو کیفیت بیانیږی چې الله ﷻ صرف په دوه ورځو کښ مکمل اووه (۷)آسمانونه پیدا کړل او دَهغې ټول انتظامات ئی مکمل کړل ﴿فَقَضَاهُنَّ ﴾قضاء معنی دلته اتمام اوفارغیدل دی یعنی صرف دوه ورځو مقدار کښ ئی اووه اسمانونونه پوره کړل،﴿سَبْعَ سَمَاوَاتٍ ﴾تمیز دي دَ "هن"ضمیر مبهم

نه،دی تقدیر باندې "هن"ضمیرمرجع نشته.

﴿وَأَوْحَىٰ فِي كُلِّ سَمَاءٍ أَمْرَهَا﴾دې کښ دانتظاماتو بیان دې چې آسمانونه ئې پیدا کړل او هر آسمان ته ئې حکم اوسپارلو،او هغه داسې چې فرشتې ئې پکښ پیدا کړې او هغه ئې په مختلف کارونه اولګولې،نور،ستورې ئې پیدا کړل،او هغه ئې په خپل کار مامور کړل، وغیره وغیره ﴿وَحِفْظًا﴾ای حفظنٰهاحفظاً،یعني اسمانِ دنیامونږه دَهرقسمه حادثاتو او دَ شیاطینو دَ شر نه محفوظ کړیدې. ﴿ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ﴾دا هغه ذات کاریګری ده چې هغه سره یوطرف ته کمال قدرت دې او بل طرف ته ورسره کمال علم دې.

فَإِنْ أَعْرَضُوا فَقُلْ أَنذَرْتُكُمْ صَاعِقَةً مِّثْلَ صَاعِقَةِ عَادٍ وَثَمُودَ ﴿١٣﴾

پس که دوئ اعراض اوکړي دَتوحید نه نوته ورته اُوایه چې ما یرولې یئ تاسو دَ سخت عذاب نه چې پشان د عذاب د عادیانو او ثمودیانو دې .

إِذْ جَاءَتْهُمُ الرُّسُلُ مِن بَيْنِ أَيْدِيهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا اللَّهَ ۖ

کله چه راغلل دوئ ته رسولان دَمخکې دَدوئ نه اودورستودَدوئ نهاو ورته ئې اوئیل چه عبادت مه کوئ تاسومګردَیو اللهﷻ،کوئ

قَالُوا لَوْ شَاءَ رَبُّنَا لَأَنزَلَ مَلَائِكَةً فَإِنَّا بِمَا

دوئ اُوئ که چرې غوښتلې رب زمونږ رسولان رالیږل نو رالیږلي به ئي وې فرشتې پس بیشکه مونږه په هغه څیز

أُرْسِلْتُم بِهِ كَافِرُونَ ﴿١٤﴾ فَأَمَّا عَادٌ فَاسْتَكْبَرُوا فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَقَالُوا

چه تاسو ورسره رالیږلې شوي یئ،انکارکوؤ،هرچه عادیان وؤنودوئ تکبراوکړو په زمکه کښ په ناحقه سره،اودوئ اُوئیل

مَنْ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً ۖ أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّ اللَّهَ الَّذِي خَلَقَهُمْ هُوَ

چې څوک دې زیات سخت زمونږنه په طاقت کښ،آیادوئ نه ګورې‌نه پوهیږي‌چه بیشکه هغه الله چې پیداکړي ئي دی دوئ هغه

أَشَدُّ مِنْهُمْ قُوَّةً ۖ وَكَانُوا بِآيَاتِنَا يَجْحَدُونَ ﴿١٥﴾ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا صَرْصَرًا

زیات دې دَدوئ نه په طاقت کښ،اووؤدوئ چه زمونږدآیاتونونه ئي انکارکوؤ.نوراؤلیږله مونږبه دوئ هوا تیزه

فِيْٓ	اَيَّامٍ	نَّحِسَاتٍ	لِّنُذِيْقَهُمْ	عَذَابَ	الْخِزْيِ	فِي	الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

په هغه ورځوكښې چه سپيرې وې،په حق دَدوئ كښې، چه وڅكوؤ په دوئ عذاب دَرسوائۍ په ژوندِدُنياكښې

وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَخْزٰى وَهُمْ لَا يُنْصَرُوْنَ ۝ وَاَمَّا ثَمُوْدُ فَهَدَيْنٰهُمْ

اوخامخاعذاب دَآخرت ډيررسواكونكې دې اودَدوئ سره به مددداونكړېشي.اوهرچې ثموديان وُو نو سمه لار اوښودله مونږهغوئ ته

فَاسْتَحَبُّوا الْعَمٰى عَلَى الْهُدٰى فَاَخَذَتْهُمْ صٰعِقَةُ الْعَذَابِ الْهُوْنِ بِمَا

نوغوره كړودوئ ړوندوالې(گمراهي)په هدايت باندې نونيول دوئ تندردَذلت آميزعذاب په سبب دَهغې عملونو

كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ۝ وَنَجَّيْنَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ۝

چه وُودوئ چې كول به ئې اونجات موورکړوهغه كسانوته چه ايمان ئې راوړې وُواووؤپرهيزګاره

﴿فَاِنْ اَعْرَضُوْا فَقُلْ اَنْذَرْتُكُمْ﴾دا تخويف دنيوى دې يعنى دومره واضحه بيان او دلائلو نه بعد هم كه دوئ ايمان نه راوړى او په كفر باندې قائم پاتې كيږى نو په دوئ هم داسې سخت عذاب راتلو خطره ده لكه څنګه چې په عاديانو او ثمود يانو راغلې وؤ.(صٰعِقَةً)تندر ته وئيلې كيږى،خو كله ئې اطلاق بطور عموم مجاز په سخت عذاب باندې هم كيږى،خواه تندر پكښې وى او كه نه وى او دلته ترينه مراد عموم مجاز دى،څكه چې په عاديانو دَ تندر عذاب نه وو راغلې او په ثمود يانو راغلې وؤ.

﴿اِذْ جَآءَتْهُمُ الرُّسُلُ﴾اطلاق دَجمع(الرُّسُلُ) په تشنيه باندې شويدې څكه چې دوئ ته دوه پيغمبران،هود ﷺ اوصالح ﷺ مبعوث وؤ(روح).يادا هم محتمله ده چې دوئ ته ډيرپيغمبران مبعوث دى خوپه لم نقصص عليك كښې داخل دى نو څكه ئې﴿الرُّسُلُ﴾جمع راوړه،﴿مِنْۢ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ﴾ دا يا كنايه ده دَډيركوشش نه په دعوت وركولوكښې،چې دَطرفو دَدعوت نه ئې هيڅ طريقه ترك نه كړه بلكه دَافهام تفهيم تولې طريقې ئې استعمال كړې،يادَ﴿مِنْۢ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ﴾نه مراددادې چې دې پيغمبرانوورته تيرشوى واقعات بيان كړل،اودَ﴿وَمِنْ خَلْفِهِمْ﴾نه مراددادې چه ورستو راتلونكى عذابونه،اودغه شان دَقبر،حشر،نشرحالات ئې ورته بيان كړل نوتقديردَعبارت دارنګه دې،ناصحين من بين ايديهم ومن خلفهم.اودائې.ورته اووې چې﴿اَلَّا

تَعْبُدُوٓا۟ إِلَّا ٱللَّهَ ﴾

﴿ قَالُوا۟ لَوْ شَآءَ رَبُّنَا ﴾مفعول دَ﴿ شَآءَ ﴾محذوف دې اى لوشاء ربُنا ارسالَ الرّسلِ، ﴿لَأَنزَلَ مَلَٰٓئِكَةً ﴾يعني كچرې الله تعالى رسولان راليږل غوښتلې نوفرشتې به ئې راليږلې وې،نوګوياكه دَدوئ په نيزبشريت دَرسالت سره منافي دې، ﴿فَإِنَّا بِمَآ أُرْسِلْتُم بِهِۦ﴾مسئله دَتوحيدورنه مرادده.

﴿ فَأَمَّا عَادٌ فَٱسْتَكْبَرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ ﴾اجمالا د دواړو قومونو تكذيب اوعذاب ذكر كولو نه بَعد اوس دَهر يوقوم جداجدا تفصيلي تذكره كيږى،او دا دَ قوم عاد تكذيب تفصيل دې چې قوم عاد ته چې حضرت هود ﷺ دَايمان دعوت وركړو،نودوئ انكاروكړواودَهغه تكذيب ئې وكړو:وانَّالَنظُنُّك منَ الكٰذبين(اعراف: ۶۶) كله چې دوئ دَعذاب الهي نه ويره ولې شول كقوله تعالى:قَال قدوقع عليكم مّن ربّكم رجسٌ وّغضب(اعراف: ۷۱) نودوئ په خپل قوت اوشوكت باندې ناز اوتكبرشروع كړواووئ ويل: ﴿وَقَالُوا۟ مَنْ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً ﴾ زمونږ نه سخت قوة اوطاقت والابل څوک دې؟ مطلب ئې داؤچې مونږدعذاب په دفع كولوباندې قادريو. ﴿أَوَلَمْ يَرَوْا۟ أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِى ﴾ داردې دَدوئ دقول اواستفهام دَتوبيخ دپاره دې،يعني آيادوئ پدې نه پوهيږي چه كوم ذات چې دوئ پيدا كړيدي هغه زيات قوة اوطاقت والادې.

﴿ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا صَرْصَرًا ﴾دېكښې عذاب تفصيل بيانيږى چې الله ﷻ پرې تيزه هوا راوسته او ټول ئې هلاک كړل.«صَرْصَرًا»(۱)دَ صرةٌ نه مشتق دې،صيحة(اواز)ته وايې كقوله تعالى:فاقبلتِ امرته فى صرّةٍ،يعني داسې هواوه چې پكښې سخت آوازو.

(۲)بعضِ وائي چې صرصرتيزې هواته وائي چې دَډيرې تيزوالې دَوجه نه صرصر اوازونه كوي،

(۳) او څنې حضرات فرمائي چې صِر بكسر الصادنه ماخوذ دې ،او دا يخې هوا ته وائي ، يعني ديخ والي په وجه ئې دوئ هلاک كړل ، امام ابن كثير رحمه الله فرمائي:والحقّ انّهامتّصفةٌ بجميع ذلك يعنى حقه داده چې دا هواپدې ټولو صفتونوسره موصوفه وه.ترمذى شريف روايت(رقم: ۳۲۷۳)كښې دى چې الله ﷻ پرې صرف دَخاتم (ګوتې)حلقې قدر هوا كهلاؤ كړې وه.

﴿فِىٓ أَيَّامٍ نَّحِسَاتٍ ﴾جمع دَنحِسةٌ(بكسرالحاء)ده(۱)مشؤومات يعني سپرې ورځې،ورځې خوسهيرې

نري خوسپيرې ورته پدې اعتبارسره اوويلې شوې چې داورځې سپيرې وې،ف حقّهم نه فی ذاته.يعني دَدوئ دَشامت اعمال دَوجې نه پدوئ سپيرې شوې(۲)چاويلي دي متابعاتٍ يعني پرله پسې وې،ځکه داهواوه(۷)شپې اواته(۸)ورځې مسلسل په دوئ مسلطه وه،كقوله تعالى سخرهاعليهم سبعَ ليالٍ وثمانية ايّام حسومًا(الحاقة:۷).

(۳)بعضِ وائي ذواتِ غبارِ،يعني غُباراودوړو والاورځې وې (۴)يوه معنی ئی په ذوات برد سره هم شوی ده چې يخې ورځې وې.

(لِّنُذِيقَهُمْ عَذَابَ الْخِزْيِ)ده تکبر انجام ئی دا شو چې الله ﷻ رسوا کړل او کمزوری مخلوق سره ئی هلاک کړل(كذا في تفسير العثمانی نقلا عن الشاه عبد القادر

﴿ وَأَمَّا ثَمُودُ فَهَدَيْنَاهُمْ ﴾دي کښ دثموديانو تکذيب او عذاب تفصيل بيان دې.او دائی دَ تکذيب تفصيل دې چې اسباب دَهدايت موورته ورکړل،ليکن دوئ هغه اختيارنکړل بلکه دَ گمراهئ لاره ئي خوښه کړه،﴿ فَأَخَذَتْهُمْ صَاعِقَةُ الْعَذَابِ الْهُونِ ﴾دائی دَ عذاب تفصيل دې صعقة نه مراد دلته حقيقی معنی يعنی تندر ده چې الله ﷻ پرې تندر نازل کړو،او اضافت د«صَاعِقَةُ» ، «الْعَذَابِ الْهُونِ» طرف ته ځکه شوی دې چې معلومه شی دا عام او معتاد تندر نه وؤ بلکه خارق عادت تندر وؤ چې الله ﷻ په دوئ باندې بطور عذاب نازل کړې وؤ(الْهُونِ)بدل يا صفت دې دَ العذاب دپاره .

فائده:قوم ثمود باندې درې قسم عذابونه نازل شوي دی: (۱)صاعقة(تندر)لکه دې آياتونو کښ ئی ذکر اوشو.(۲) رجفة(زلزله)لکه سورت اعراف کښ دی: فاخذهم الرجفة(الاعراف :۷۸) (۰) الصيحة:دجبرئيل ؑ چغه،لکه سورت هود کښ دی: واخذ الذين ظلموا الصيحة (هود:۶۷)

﴿وَنَجَّيْنَا الَّذِينَ آمَنُوا﴾حضرت صالح ؑ اوچاچه درباندې ايمان راوړې وؤ،هغه ورنه مراددي.

تنبيه : دَقومِ عاداودَثموددَهلاکت تفصيل حضرت والد محترم نوّرالله مرقده،په دويم جلد سورة اعراف کښ کړيدې

وَيَوْمَ يُحْشَرُ اَعْدَآءُ اللّٰهِ اِلَى النَّارِ فَهُمْ يُوْزَعُوْنَ ۝ حَتّٰۤى اِذَا مَا جَآءُوْهَا

اوبه هغه ورځ چه جمع کولې به شي دُشمنان دَالله اورته نو دوئ به راحصار کړېشي، تردې چه کله راشي دوئ دوزخ ته

شَهِدَ عَلَيْهِمْ سَمْعُهُمْ وَاَبْصَارُهُمْ وَجُلُوْدُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝ وَقَالُوْا

ګواهي به اوکړي په دوئ غوږونه دَدوئ اوسترګې دَدوئ اوخرمنې دَدوئ په سبب هغه عملونو چه دوئ کول او اوبه وائي دوئ

لِجُلُوْدِهِمْ لِمَ شَهِدْتُّمْ عَلَيْنَا ؕ قَالُوْۤا اَنْطَقَنَا اللّٰهُ الَّذِيْۤ اَنْطَقَ

خرمنو خپلو ته ولې ګواهي اوکړه تاسو په مونږباندې، اوبه وائي اندامونه دَدوئ ګویاکړي يو مونږ هغه الله چه ګويائي ورکړي ده

كُلَّ شَيْءٍ وَّهُوَ خَلَقَكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ وَّاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ۝ وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُوْنَ

هرڅيزته اوهغه پيداکړي يئ تاسو اول ځل اوهغه ته به تاسو دوباره واپس کولېشئ اوتاسونه شوئ پټيدلې

اَنْ يَّشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَاۤ اَبْصَارُكُمْ وَلَا جُلُوْدُكُمْ

دَدې نه چه ګواهي ورکړي په تاسو(په قيامت کښې)غوږونه ستاسواونه سترګې ستاسواونه خرمنې ستاسو

وَلٰكِنْ ظَنَنْتُمْ اَنَّ اللّٰهَ لَا يَعْلَمُ كَثِيْرًا مِّمَّا تَعْمَلُوْنَ ۝ وَذٰلِكُمْ ظَنُّكُمُ الَّذِيْ

ليکن(تاسوګناهونه ځکه کول چه) ستاسو داګمان وو چه الله ﷻ نه دې عالم په ډيرودَهغې چه کولو به تاسو. او دغه وو ګمان ستاسو

ظَنَنْتُمْ بِرَبِّكُمْ اَرْدٰىكُمْ فَاَصْبَحْتُمْ مِّنَ الْخٰسِرِيْنَ ۝ فَاِنْ يَّصْبِرُوْا

چه ګمان موکړې وو په رب خپل باندې نو تاسوئې هلاک کړئ نو اوګرځيدئ تاسو دَتاوانيانو نه نوکه دوئ صبر کوي(اوکه نه کوي)

فَالنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ ۚ وَاِنْ يَّسْتَعْتِبُوْا فَمَا هُمْ مِّنَ الْمُعْتَبِيْنَ ۝

بس اُور ټهکانه ده دَدوئ، اوکه دوئ عذرکول غواړي نونه دي دوئ چه عذر ئې قبول شي.

﴿ وَيَوْمَ يُحْشَرُ اَعْدَآءُ اللّٰهِ اِلَى النَّارِ ﴾ تخويف دنيوي نه بعد تخويف اخروي ذکر کيږي او دَ محشر منظر کشي ده، چې الله ﷻ دشمنان به ټول قيامت په ورځ جمع کړې شي او جهنم طرف ته به روان کړې شي ﴿ فَهُمْ يُوْزَعُوْنَ ﴾ "وزع" حصارولو ته وائي، خو هغه حصارول چې دَپاره دَ صف بندئ او. ترتيب وي يعني به په ترتيب سره ډلو ډلو کښې تقسيم کړېشي او جهنم ته به اوغورځولې

شی.او داکنایه ده کثرت عدد نه څکه چې لګ عدد کښې ددې ضرورت نه رازی،

﴿ حَتّٰٓى إِذَا مَا جَآءُوهَا ﴾ ضمیر منصوب نار ته راجع دې یعنی کله چې جهنم ته اوغورځولې شی نو دوئ نه به جرم تپوس اوکړې شی چه کوم جرم په وجه تاسو دلته حاضر کړې شوئ؟دوئ به جرم نه انکار اوکړی،نو دَدوئ اندامونه به دَدوئ خلاف ګواهی شروع کړی.ګواهی به ټول اندامونه دَخپلو ګناهونو ورکوی، خو ددې درې اعضاؤ(غوږونه، سترګې او څرمن) تخصیص څکه اوشو چې دلته ئې مقام سره خصوصی مناسبت دې څکه چې غوږونو قرآن او نبی دعوت اوریدلې وؤ خو قبول کړې ئې نه وؤ،او سترګو دَ الله ﷻ دالوهیت او وحدانیت دلائلو مشاهده کړې وه خو انکارئې ترینه کړې وؤ اور څرمنه چونکه ټول بدن باندې حاوی وه نو دا دَ نور اعضاؤ قائم مقام اوګرځولې شوه. په حدیث دَمسلم کښې(رقم الروایه:۲۹۲۹) دَانس ؓ نه روایت دې،دې فرمائي چه مونږه دَحضور ﷺ سره ناست وؤ،نوحضور ﷺ مُسکې شواوبیائي او فرمایل:هل تدرونَ ممّ اضحكُ،آیاتاسو پوهه شوئ چه ماولې اوخاندل،قُلنا الله ورسوله اعلم، حضور ﷺ اوفرمایل: چې بنده د خپل رب سره هم کلامئ د وجهې نه مې او خاندل،چه بنده به دَ خپلو ګناهونونه انکارکوي اووائي به اې ربه! تاماته دَظلم نه پناه نه وه راکړې؟ الله ﷻ به فرمائي بیشکه درکړې مې وه،نودې به عرض کوي چې نن ورځ څه پخپل ځان باندې بل څوک ګواه نه تسلیمه وم ماسوادَخپل ذات نه،الله ﷻ به ورته اوفرمائي:کفیٰ بنفسكَ الیومَ علیك حسیبًا، وبالکرام الکاتبین علیكَ شهوداً،دې نه بعدبه دَهغه په خوله مهراولګولې شي اودَده اندامونوته به أوویلې شي،چې تاسودَده عملونه اوښایئ،نوهریواندام به خبرې شروع کړې اوده چه څه کړې وي دَهغې ګواهي به شروع کړي،نوبیابه دې خپلو اندامونوته اووائي:بُعداً لکُنّ و سُحقًا فعنکنّ اُضِلُ،یعني تاسوبربادشئ ماخوبه ستاسودَخاطره جدال اومدافعت کولو،اوأس تاسوزماخلاف ګواهي ورکوئ،

﴿وَقَالُوا لِجُلُودِهِمْ ﴾کله چې اندامونه دَدوئ خلاف ګواهی اوکړی نو دوئ به خپل اندامونه ملامته کول شروع کړی،چې مونږ تاسو بچ کولو خاطر دَجرم نه انکار اوکړو،اور دروغ خو اوئیل،تاسو خودیر عجیبه یئ چې زمونږ خلاف ګواهی ورکړه،جلود نه مراد دلته ټول اعضاء دې خو څرمن چونکه دوئ ټولو باندې حاوی ده نو څکه ئې دا دَ هغوئ قائم مقام اوګرځوله، او یا ترینه صرف څرمن مراد ده څکه چې دوئ دا قول ملامتیا او توبیخ باندې مبنی دې اور دې د پاره مواجهه ضروری وی او دا صرف څرمنې کښې کیدې شی نو څکه دَدې تخصیص اوشو.

﴿قَالُوٓا أَنطَقَنَا اللَّهُ﴾ دا داعضاوؤ عذربيان دې،چې مونږ خپل اختيار سره داسې ندي كړي او نه مونږ كښې دَدې استعداد وو بلكه الله ﷻ خرق عادت مونږ گويا كړو.

﴿وَهُوَ خَلَقَكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ﴾ راجحه خبره دا ده چې داهم داعضاوؤ قول دې چې دوئ په خپلې غلطئ باندې متنبه كولو اودَندامت وحسرت اضافي دپاره به ورته اوائى چې دَقيامت انكار تاسو ډيره لويه غلطي وه ،هغه الله ﷻ تاسو اول ځل پيدا كړى وئ او نن ورته بيا تاسو حاضر يئ.

﴿وَمَا كُنتُمْ تَسْتَتِرُونَ﴾ اصح قول دادې چې دا دَ الله ﷻ قول دې او ديكښې كفاروته توبيخ دې چې تاسو خپل اعضاء ولې ملامته كوئ ؛ دنيا كښې مودې رسوايئ نه ځان بچ كولو او پټ ساتلو كوشش ولې نه كوؤ چې حق خو اختيار كړې وې.هلته خو تاسو كفر كولو؟دنيا كښې خو تاسو دَخلقو دَشرمه پټه پټه گناهونه كول،خودا سوچ خو نه وؤ چې اندامونه موجود دى صبا به دازمونږ خلاف گواهي وركوى﴿أَن يَشْهَدَ عَلَيْكُمْ﴾ اي مِن ان يشهد، اويا كراهيةَ ان يشهد ﴿وَلَٰكِن ظَنَنتُمْ﴾ اصل خبره دا ده چې خوف خدا ستاسو په زړه كښې نه وؤ،ستاسو گمان داوؤ چې ستاسو ډيرو كرتوتونو نه الله ﷻ بې خبره دې.

﴿وَذَٰلِكُمْ﴾ مبتداده او«ظَنُّكُمْ» ورنه بدل دې او﴿أَرْدَاكُمْ﴾ ئي خبردې،يعني ستاسودې ظنّ فاسد تاسو په هلاكت كښې واچولئ.

﴿فَإِن يَصْبِرُوا﴾ په كلام كښې حذف دې تقديردارنگه دې اولايصبروا يعني كه دوئ أوس صبر كوي اوكه نه كوي خودأورنه ورته خلاصيدې نشته دې،كقوله تعالى: اصبروا او لاتصبروا سواءٌ عليكم.﴿وَإِن يَسْتَعْتِبُوا﴾ دَعتبىٰ نه مأخوذدې،په معنى دَرجوع سره،يعني كه دوئ دنياته رجوع او واپسي طلب كوي نونه به واپس كيږي،ياعتبىٰ پمعنىٰ دَرضاء سره دې يعني كه دوئ دالله ﷻ رضاطلب كوي اوعذركوي دَخپلوجرمونه،نوعذربه ئي نه قبليږي.

وَقَيَّضْنَا	لَهُمْ	قُرَنَاءَ	فَزَيَّنُوا	لَهُم	مَّا	بَيْنَ	أَيْدِيهِمْ

اومسلط كړيدي مونږپيدوئ ملگري(شيطانان)نوهغوئ ښائسته كړيدي دوئ ته هغه عملونه چه دَدوئ مخكښې دى

وَمَا خَلْفَهُمْ وَحَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ فِيٓ أُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِمْ

او هغه چه دَدوئ نه ورستودی او ثابت شویدې په دوئ تول فیصله دَعذاب سره دَهغه ډلونه چه تیر شویدی مخکښ دَدوئ نه

مِّنَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا خٰسِرِيْنَ ۝٢٥ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَا تَسْمَعُوْا لِهٰذَا الْقُرْاٰنِ

دَپیریانو او دَانسانانو نه، بیشکه دوئ وو دَتاوان والا. او وائی کافران غوږمه نیسئ دې قرآن ته

وَالْغَوْا فِيْهِ لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُوْنَ ۝٢٦ فَلَنُذِيْقَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا عَذَابًا شَدِيْدًا

او شور کوئ په وخت دَتلاوت دَده کښ دې دَپاره چې تاسو غالب شئ. نو خامخا او به څکوؤ مونږ کافرانو ته عذاب سخت،

وَّلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَسْوَأَ الَّذِيْ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝٢٧ ذٰلِكَ جَزَآءُ أَعْدَآءِ اللّٰهِ النَّارُ ۚ

او خامخا به سزا ورکړو مونږ دُوئ ته ډیره بده سزا دَهغه عملونو چه دوئ کولو، دا سزا بدله دَدشمنانو دَالله ده چې اُور دې،

لَهُمْ فِيْهَا دَارُ الْخُلْدِ ۚ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا بِاٰيٰتِنَا يَجْحَدُوْنَ ۝٢٨

دوئ لره په هغې کښ کور دَهمیش والی دې، بدله ورکیدیشي په سبب دَدې چه دوئ په آیاتونو زمونږ انکار کولو.

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا رَبَّنَآ أَرِنَا الَّذَيْنِ أَضَلّٰنَا مِنَ الْجِنِّ

او اوبه وائي کافران اتباع اې ربه زمونږه او ښایه مونږ ته هغه دوه فرقې چه گمراه کړې ئي وؤمونږه، دَپیریانونه

وَالْإِنْسِ نَجْعَلْهُمَا تَحْتَ أَقْدَامِنَا لِيَكُوْنَا مِنَ الْأَسْفَلِيْنَ ۝٢٩

او دَانسانانونه چه اوگرځوؤ مونږ هغوئ لاندې دَقدمونو خپلو چه شي دوئ دَذلیلانونه

﴿وَقَيَّضْنَا لَهُمْ﴾ ای سلطنا علیهم، دا جواب دَشبهې دې چې دَسورة مومن په دعوي باندې وارد ده، حاصل ئي دا دې چې مشرکان وائی چې ډیر ځله مونږ لیدلې دی چې څوک په څه مصیبت کښ گرفتاره شی ، کله چې هغه دَغیر الله نه مدد اوغواړی او دهغه په نوم نذراومنی نو هغه ته نجات حاصل شی. حاصل دَجواب دادې چې الله ﷻ په دوئ شیطانان مسلط کړی دې او هغوئ هر ممکنه ذریعه دَدوئ گمراه کولو دَپاره اختیاره وی کله ئی مدد اوکړی، کله ورله حاجتونه پوره کړی ، کله ورته دَبزرگ په شکل کښ راځی وغیره، نو دا شیطان دوئ ته دوئ اعمال دغه شان مزین کړی او دَدوئ گمان دا وی چې مونږ په حق یو، حالانکه په غټه خساره

کښې پراته وی، ﴿قُرَنَآءَ﴾جمع دَقرين ده،شياطين ورنه مراددي،چې مشرکانو ته ئې شرک او معاصي مزين کړي وي﴿فَزَيَّنُوا لَهُم مَّا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ﴾داياکنايه ده د"کلّ جانب"نه يعني شياطين دامشرکان په هرې ممکنې طريقې سره گمراه کوي،يا﴿مَّا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ﴾نه مرادمشغوله کول دې په دنياکښې او ﴿وَمَا خَلْفَهُمْ﴾نه مرادانکاردې دَقيامت نه،يا ﴿مَّا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ﴾نه مراد آخرت دې چه دا خبره ئې ورته مزينه کړې ده چې نه جنت شته او نه جهنم اوبعث شته .او ﴿وَمَا خَلْفَهُمْ﴾ نه مراد دنياده چې په ضلالت اور کفر او اتباع دَخواهشاتو په دلدل کښې ئې انخولې دي.

﴿وَحَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ فِي أُمَمٍ﴾ "في"بمعنیٰ"دَ"مع"دې ای مع امم،ياحال دې دَضمير مجرور نه اي کائنين فی جملةِ امم، يعني په دې مشرکين مکه ؤباندې اودغه شان په تيرشوي امم کافرؤباندې دَالله تعالی دافيصله شوې چې"لاملئنّ جهنمّ منك".

﴿وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَا تَسْمَعُوا﴾دادويمه شکوه ده،داولې نه علی سبيل الترقي ده،چې دا مشرکان قرآن منل خو درکناربلکه نورخلق هم ددې منع کوي چې قرآن واوري،اويوبل ته وائي چې کله داپيغمبردَقرآن تلاوت کوي نوغوږونه ورته مه نيسئ اوپدغه وخت کښې شور کوئ، چغې، شپيلئ وهئ،چه دَحاضرينو په زړونوباندې اثراونکړي، ﴿لِهَٰذَا الْقُرْآنِ﴾ مقصدئې په اشارې سره تحقير دې دَقرآن"قاتلهم الله".

﴿فَلَنُذِيقَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا﴾تخويف أخروي دې ﴿عَذَابًا شَدِيدًا﴾دُنيوي عذاب ورنه مراددي،چې په غزوۀ بدرکښې ورته ملاؤشو،اودَ﴿أَسْوَأَ الَّذِي كَانُوا﴾نه مرادآخرت عذاب دې،«أَسْوَأَ»اسم تفضيل په معنی"سيئ"دې ، يعنی مطلقا دَ بدو اعمالو بدله به ورله الله ﷻ ورکوی. حاصل دادې چې دوئ ته به په دنياوآخرت دواړوکښې دَخپلوجرمونوسزاملاويږي،

﴿ذَٰلِكَ﴾مبتدادې،﴿جَزَاءُ أَعْدَاءِ اللَّهِ﴾ئې خبردې،او﴿النَّارُ﴾يابدل دې ياعطف بيان دې،داهم متحمله ده چې﴿النَّارُ﴾ميتدادې او﴿لَهُمْ فِيهَا دَارُ الْخُلْدِ﴾ئې خبردې،يعني داجهنم به دوئ به دوئ دپاره داراِقامت وي،﴿جَزَاءً﴾ای يُجزونَ جزاءً.

﴿وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا رَبَّنَا﴾هغه أتباع چې دگمراه خلقواِتباع ئې کړې وي چې دَهغوئ دَوجهې نه دوئ جهنم ته تلي وي نودخپلې غصې يخولو دپاره به الله ﷻ ته أووائي چې کومو خلقو

چې مونږه گمراه کړي يو او دهغوئ په وجه مونږ په دې عذاب کښې مبتلا يو. هغه مونږ ته اوښايه چه مونږه ئې دخپولاندې کړو.او خپل انتقام ورنه واخلو

﴿مِنَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ﴾ مراد ورنه هغه دو فرقې دَ مطلق جن،انس دي،چې دَدوئ دگمراه کيدوسبب گرځيدلي وؤ.

إِنَّ الَّذِيْنَ قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوْا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلٰٓئِكَةُ
بيشکه هغه کسان چه وائي رب زمونږ الله ﷻ دې بياکلك ولاړ وي پدې خبره،راکوزيږي به په دوئ په وخت دَمرګ کښې فرښتې
أَلَّا تَخَافُوْا وَلَا تَحْزَنُوْا وَأَبْشِرُوْا بِالْجَنَّةِ الَّتِيْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ۝
«ورته وائي به»چه مه يريږئ اومه خفه کيږئ اوزيرې قبول کړئ دَهغې جنت چه تاسوسره به ئې وعده کولې شوه
نَحْنُ أَوْلِيٰٓؤُكُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِي الْاٰخِرَةِ ۚ وَلَكُمْ فِيْهَا مَا
مونږ ستاسودوستان وؤ په ژوندَ دنياکښې هم اوأوس په آخرت کښې هم يو،اوستاسودَپاره پدې جنت کښې هغه څيزونه دی
تَشْتَهِيْٓ أَنْفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيْهَا مَا تَدَّعُوْنَ ۝ نُزُلًا مِّنْ
چه ستاسوزړونه ئې غواړي اوستاسودَپاره دي په دې کښې هغه څه چې غواړئ تاسو «په ژبو» ، ميلمستياده دَهغه ذات طرف نه
غَفُوْرٍ رَّحِيْمٍ ۝
چه بخونکې رحم کونکې دې.

﴿إِنَّ الَّذِيْنَ قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ﴾ مخکښې آياتونو کښې اعداالله ﷻ ته تخويف اخروي وؤ، دې اياتونو کښې مؤمنانوته بشارت اخروي دي،﴿ثُمَّ اسْتَقَامُوْا﴾ اى ثم ثبتوا على الاقرارولم يرجعوا الى الشرك «روح» يعني هغه کسان چې ربناالله ئې ويلي وي اوبيا په خپل اقرارباندې کلك وي اوشرك ته نه وي واپس شوي.دَاتفسيردَابوبکر ﷺ نه منقول دي،اوحضرت عمر ﷺ نه نقل دي چې "استقاموا لله تعالى بطاعته لم يروغوا روغان الثعالب" دَالله تعالى په اطاعت باندې کلك وي او دَ لومبړو په شان يوخوابل خوانه تختي،دَحضرت عثمان ﷺ نه نقل دي چې "اخلصوا العمل" دَ حضرت علي ﷺ نه نقل دي چې"ادّوا الفرائض" ددې نه علاوه نوراقوال هم دَ تابعينو او دَ سلفو صالحينو پديکښې ذکردی چې ټولو حاصل دا دي چې بيا ئې په عقائد او اعمالو کښې تزلزل

اخلاص وللهیت کښې فرق او جذبه وهمت کښې ئې ضعف رانشي.(روح).

﴿تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَٰٓئِكَةُ﴾ دادَبشارت تفصیل دې،چې په دوئ به فرشتې نازلیږلي او بشارتونه به ورته ورکوي چې تاسو خوف اوغم مه کوئ اوچې دکوم جنت وعده چې تاسوسره دَ الله ﷺ نبي اودَالله تعالی کتاب کړې وه،دَهغې دَملاویدوخوشخبري واورئ. اهل استقامت باندې دَفرشتونزول اوبشارت(کوم چې پدې آیت کښې ذکردې)دَدې وقوع کله کیږي؟ (۱)بعضِ وائي چې دانزول به په وخت دَمرګ کښې وي(۲)بعضِ وائي چې په وخت دَبعث کښې وي(۳)بعضِ وائي چې په وخت دَمرګ اوپه قبراوپه وخت دَبعث کښې به وي(۴)بعض حضرات فرمائي چې دامذکوره بشارت،مذکوره درې واړوحالتونوسره خاص ندې بلکه عام حالات کښې هم دَالله تعالی دَنیك بندګانوسره داسې معامله کیږي چې فرشتې په طریقې دَالهام دَدوئ په زړونوکښې دَسکون اواطمینان القاء کوي،چې په هغې سره دوئ نورهم خیرکارونوطرف ته سبقیت کوي لکه څنګه چې کافرانو باندې شیاطین مسلط دی او قبائح ورته مزین کوي(روح).

﴿أَلَّا تَخَافُوا﴾ دَآئنده حالاتودَقبرحشرنشروغیره نه خوف مه کوئ﴿وَلَا تَحْزَنُوا﴾ اوغم،اوخفه کیږئ مه په اهلُ عیال وغیره پسې،بعضِ وائي چې﴿أَلَّا تَخَافُوا﴾ مطلب دادې چې په رد دَحسناتوباندې خوف مه کوئ څکه ستاسوحسنات مقبول عندالله دي او﴿وَلَا تَحْزَنُوا﴾ علی ذنوبکم، خپلو ګناهونو باره کښې غم مه کوئ څکه چه هغه مغفوردي،بعضِ وائي چې مراد نهي ده دَمطلقِ غموم نه،چې الله تعالی تاسوته دَهرغم نه امن درکړیدې. هیڅ کله به هم تاسو ته غم نه رسیږي

﴿نَحْنُ أَوْلِيَآؤُكُمْ فِي الْحَيَوٰةِ الدُّنْيَا﴾ دابل بشارت دې او د فرشتو قول دې،چې مونږه دنیا کښې هم ستاسو اعوان اومددګاران ووچې تاسوته به مو دَ خیراو دَ حق الهام کولو، ﴿وَفِي الْآخِرَةِ﴾ اوپه آخرت کښې به هم ستاسورفیقان یو چې ستاسو شفاعت او دَ اعزاز اکرام انتظام کوو.

﴿وَلَكُمْ فِيهَا﴾ ای في الآخرة، ﴿مَا تَشْتَهِيٓ أَنفُسُكُمْ﴾ یعني دکوم څیزونوخواهش چې ستاسو په زړونوکښې راشي اودغه رنګه ﴿وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ﴾ چه کوم څیزونه تاسوپه ژبه طلب کوئ تول به ملاویږي،یعني ستاسوهرخواهش به پوره کیږي،خواه که تاسوئې غواړئ اوکنه غواړئ،لکه دَیوحدیث مفهوم دې چې په جنت کښې به تاسویوه مرغئ په الوتلواووینئ نوستاسوزړونوکښې به دَهغې دَخوراك خواهش پیداشي،نوپدغه وخت کښې به هغه وریته شوې ستاسومخکښې رااوغورزیږي﴿نُزُلًا﴾ منصوب دې،حال دې دَعائدمحذوفه نه چې راجع

دي «مَا تَدَّعُوْنَ» اى تدعونه نزلاً،ياحال دي دَضميرفاعل دَ﴿مَا تَدَّعُوْنَ﴾ نه،نُزل هغه خوراك، څكاك، مكان ته ويلې كيږي چه دَميلمه دَاكرام دپاره تيارشوي وي،نوپدې كښې اشاره ده دَديته چه په جنت كښې به ډيرهغه نعمتونه هم وي چه دَهغې تمنااوتصوردَجنتي په زړه كښې نه وي لكه څرنګه چه دَميلمه مخې ته ډيرهغه څيزونه هم راوړې شي چې هغه ئې تصورنه وي كړې.

وَمَنْ اَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّنْ دَعَآ اِلَى اللّٰهِ وَعَمِلَ صَالِحًا وَّقَالَ اِنَّنِيْ
اوخوك دې ډيرښائسته په خبروكښې دَهغه چانه چه راغواړي خلق الله ته اوعمل كوي نيك اووايي چه بيشكه څه
مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ۝ وَلَا تَسْتَوِى الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ ؕ اِدْفَعْ بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ
دَمسلمانانونه يم،اوندى برابرښه خصلت اوبدخصلت دفع كوه ته بدولره په هغې سره چه ډيرښه دي
فَاِذَا الَّذِيْ بَيْنَكَ وَبَيْنَهٗ عَدَاوَةٌ كَاَنَّهٗ وَلِيٌّ حَمِيْمٌ ۝
نوبيابه هغه سړې چه په مينځ ستااوپه مينځ دَهغه كښې دشمن وي «داسې به شي»ګوياكه دې دوست غم خوارد‌ې،
وَمَا يُلَقّٰىهَآ اِلَّا الَّذِيْنَ صَبَرُوْا ۚ وَمَا يُلَقّٰىهَآ اِلَّا ذُوْ حَظٍّ عَظِيْمٍ ۝
اونشي وركيدلې داخه خصلت مګرهغه كسانو ته چه صبر كوي،اونشي وركيدلې داخه خصلت مګرخاوند دګوټې برخې ته
وَاِمَّا يَنْزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطٰنِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۝
اوكه چرې اورسيږي تاته دَطرفه دَشيطان نه وسوسه نوپناه نيسه په الله تعالى سره ،بيشكه هغه صرف هغه اوريدونكې دې عالم دې.

﴿وَمَنْ اَحْسَنُ قَوْلًا﴾ دَ دې تعلق "وقال الذين كفروا لاتسمعوا"سره دې يعنى كفارودَ دې حركت په مقابله كښې تاسو مه همت غورزوئ چې دعوت نه منع شئ څكه چې دعوت الى الله نه بله غوره خبره نشته،اومه په اشتعال كښې راځئ چې تاسو ورته هم بدى ردى شروع كړئ بلكه سنجيده اوسئ اوخه انداز كښې جواب وركوئ.

فائده نمبر١: امام جصاص اوامام رازى رحمه الله تعالى فرمائى چې دې آيت نه ثابتيږي چې دعوت الى الله فرض دې،څكه چې ديته"احسن الاقوال"ونيلى شوى دى،او احسن الاقوال كيدلو دَپاره داضرورى ده چې دا فرض اوواجب وى كه چرته دا فرض اوواجب نوى نو بيا.

احسن الاقوال هم نشی کیدي،ځکه چې کوم قول واجب وی هغه به احسن وی دُدینه، ځکه چې دا خو کیدي نشی چې نفل افضل شی دَ واجباتو اوفرائضو نه، نوصریح مخالفت راځی دَ قرآن سره، لهذا ثابته شو چې دعوت الی الله فرض دي،اګر چې په کومې طریقې سره هم وی(احکام القرآن،تفسیرکبیر)

فائده نمبر۲:دَدې آیت نه دَدعوت درې اصول او آداب معلومیږی:

(۱)«مِّمَّن دَعَآ إِلَى ٱللَّهِ» نه دا معلومیږی چې دَ دعوت مرکز او محور داسلام بنیادي او اصولي مسائل ګرځول پکار دی ، فروعی مسائل او مسلک دَدعوت بنیاد نه دي ګرځول پکار.

(۲) «وَعَمِلَ صَٰلِحًا» نه دااصل معلومیږی چې داعی باعمله کس پکار دې، چې دې څومره عامل بالشریعت او متقی وي نو دومره به دده په خبره کښې اثر اوقوت وی،

(۳)او «وَقَالَ إِنَّنِى مِنَ ٱلْمُسْلِمِينَ» نه.دا ادب او اصل معلومیږی چې دادعی دې په خپل اسلام او د هغې په شعائرو او مظاهرو باندې عار نه محسوسه وی بلکه په هغې دې فخر کوی او په ډاکه دې دا اعلان کوی چې مسلمان یم.

﴿وَلَا تَسْتَوِى﴾ په دې کښې بل اصول اوادب دَتبلیغ ذکرکیږي اوتلقین دَصبردې نبي اکرمﷺ ته،حاصل دادې چه ای پیغمبره!کله چه ته خلقوته قرآن اوروي،اومشرکان شور او شرارتونه کوي نوته دَدوئ دَشرارتونوجواب په سختئ سره مه ورکوه بلکه نرمي ورسره کوه ځکه چه بدی دَ نیکی سره اونیکی دَ بدئ سره قطعا نشی برابریدې، دَ دواړو تاثیر جدا دې نو دَ بدی بدله په نیکی سره ورکولو سره به ستا دشمنانان ستا کلك ملګري اوګرځي،مراد دَ ﴿ٱلْحَسَنَةُ﴾ نه خصلت حسنه دي او﴿ٱلسَّيِّئَةُ﴾ نه مراد خصلتِ سیئه دي"لا"ثانیه زائددي دَتاکیددَنفي دپاره،

﴿ٱدْفَعْ بِٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ﴾ای اِدفع السیئة بالّتي هي احسن، یعني دَبدخصلت بدله په ښه خصلت سره ورکوه،دَغضب بدله په صبرسره، اودَ مکروهاتوبدله په حِلم سره ورکوه،نوددې ثمره اونتیجه به داشي چې﴿فَإِذَا ٱلَّذِى بَيْنَكَ وَبَيْنَهُۥ﴾ چه ستاجاني دشمنان به ستادَزړه ملګري اوګرځي،لکه څرنګه چې دَحضورﷺ په دې تعامل مسلسل سره ابوسفیان په شان سخت دشمن حلقه بګوش شولو.

﴿ وَمَا يُلَقّٰهَآ ﴾ضمیرراجع دي خصلتِ حسنه ته.یعني ددې سلوك توفیق هرچانه ملاویږي بلکه صبرکونکي ته ددې توفیق ملاویږي، او دَ دویم﴿ وَمَا يُلَقّٰهَآ ﴾ هاضمیر هم راجع دې خصلت حسنه ته.﴿ ذُو حَظٍّ عَظِيمٍ ﴾ حظ عربئ کښ بخت او قسمت ته وائی حظ عظیم نه مراد عظیم صفات کمال ،خیر وبرکت او ثواب او اجر دې یعنی داسی لوئ بخت والا کس ته الله ﷻ ددې توفیق ورکوی،

﴿ وَإِمَّا يَنْزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطٰنِ ﴾دا دبل هدایت تلقین دې یعنی دَدعوت په لار کښ که تاسو ته بتقضائی بشریت دَمخالفت په څه خبره غصه درشی نو پوهه شئ چې دا دَشیطان دخل اندازی ده ، هغه نه غواړي چې تاسو په خه اخلاقوسره متصف او په دعوت الی الله کښ کامیاب شئ نو په دغه وخت کښ فورا الله ﷻ ته متوجه کیږئ،او اعوذ بالله سره دَ الله ﷻ پناه طلب کوئ، الله ﷻ به درله ضرور دَ شیطان او د هغه وسوسو نه پناه در کړی. ﴿نَزْغٌ﴾په کوته سره سکونډل یا څه تیره شی داخلولو ته وائی چې هغې سره بل کس رابیدار شی،او دلته مراد ترینه دَشیطان وسوسه ده ،چې هغه انسان په شر اوګناه باندی آماده کړی. پیغمبران دَشیطانی تسلط نه مُبرااومعصوم وي نوپدې وجه علماء وائي چه دادَباب دَلئن اشرکتَ لیحبطنّ عملك دَقبیلي نه دې،یعني خطاب رسول پاكﷺ دې اومرادورنه غیردی،یاداچه داتعلیق بالشرط دې نوپه وقوع باندې دلالت نه کوي.﴿إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴾دادَماقبل علت دې،چې دَالله ﷻ نه پناه څکه غواړه چه هغه سمیع دې په قول دَهغه چاچه تاته تکلیف رسَوي او په استعاذی ستا، اوعَلیم دې په فعل دَهغه او په نیت او مقصد ستا نوانتقام به ورنه اخلي.

وَمِنْ اٰيٰتِهِ الَّيْلُ وَالنَّهَارُ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ لَا تَسْجُدُوْا لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ
اوبعضِ دَدلائلو دَتوحیددَالله نه شپه اوورځ اونُوراوسپوږمئ دی،سجده مه کوئ تاسو نوَر ته اونه سپوږمئ ته
وَاسْجُدُوْا لِلّٰهِ الَّذِيْ خَلَقَهُنَّ اِنْ كُنْتُمْ اِيَّاهُ تَعْبُدُوْنَ ۝ فَاِنِ اسْتَكْبَرُوْا فَالَّذِيْنَ
اوسجده کوئ هغه الله ﷻ ته چه پیداکړي ئي دی دا،که یئ تاسوچه خاص دَهغه عبادت کوئ،نوکچرې دوئ تکبراوکړي،
عِنْدَ رَبِّكَ يُسَبِّحُوْنَ لَهٗ بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَهُمْ لَا يَسْـَٔمُوْنَ ۝
نو هغه فرشتې چه دَستارب سره دی،تسبیح وایئ الله ﷻ لره دَشپې اودَورځې اوهغوئ نه ستړي کیږي

وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنَّكَ تَرَى الْاَرْضَ خَاشِعَةً فَاِذَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْهَا الْمَآءَ اهْتَزَّتْ

او بعضِ دَ دلائلو (دَ توحید دَ الله) نه داده چه ته وینې زمکه وچه کلکه نوچه کله مونږ راوورَوُ په هغې باندې اوبه(باران) تازه شي

وَرَبَتْ اِنَّ الَّذِيْٓ اَحْيَاهَا لَمُحْيِ الْمَوْتٰى اِنَّهٗ

او پرسیږي(زیاته شي) بیشکه هغه ذات چه دازمکه ئې ژوندئ کړیده، خامخا ژوندي کونکې دَمړوهم دې، بیشکه هغه

عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ يُلْحِدُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِنَا لَا يَخْفَوْنَ عَلَيْنَا ط

په هرڅیزباندې قادردې بیشکه هغه خلق چه هغوئ الحاد کوي په آیاتونوزمونږ،کښ ندي پټ په مونږباندې،

اَفَمَنْ يُّلْقٰى فِي النَّارِ خَيْرٌ اَمْ مَّنْ يَّاْتِيْٓ اٰمِنًا يَّوْمَ الْقِيٰمَةِ

آیاهغه سړې چه غورزولې به شي په اُورکښ غوره دې یاهغه چه رابه شي(الله ﷻ ته)په امن کښ په ورځ دَقیامت،

اِعْمَلُوْا مَا شِئْتُمْ اِنَّهٗ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ۝

کوئ هغه څه چه خوښ وي ستاسو،بیشکه الله ﷻ په هغه عملونوچه تاسوئې کوئ لیدونکې دې

﴿وَمِنْ اٰيٰتِهِ الَّيْلُ وَالنَّهَارُ﴾ دادویم دلیل عقلي دې په توحید، علی سبیل الترقي دَاوّل نه، او ((وَمَنْ اَحْسَنُ قَوْلًا)) نه بعد راوړلو سره ئې لطیف مناسبت دا هم دې چې پدیکښ تنبیه ده په دې خبرې چې لکه څرنګه چه یوطرف ته دَالله تعالی مخصوص بندګان خلق الله تعالی طرف ته رابلي نودغه شان نورَ، سپوږمئ، اودَاسمان عظیم الشان نظم ونسق دَالله ﷻ دَواحدانیت طرف ته دعوت ورکوي لکه شپه اوورځ، سپوږمئ اونورَداتول دَالله تعالی په توحیدباندې دلائل دی نولهذامعبودِ برحق صرف یوالله تعالی اوګڼئ اودې نوروڅیزونوته معبودان مه وایئ، ﴿لَا تَسْجُدُوْا لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ﴾ یعني نوراوسپوږمئ ته سجده مه کوئ ځکه داخومخلوقات دی بلکه سجده هغه ذات کوئ چې دَدې خالق دې، ﴿خَلَقَهُنَّ﴾ (۱) ضمیرِ دَجمع مؤنث ورستو څلورو څیزونو ته راجع دې، نوهغه غیرعاقل دی نوځکه ورته دَجمع مؤنث ضمیرراجع دې، (۲) یا شمس وقمرته راجع دې خواطلاق دَجمع په تثنیه باندې هم کیږي (۳) یاآیاتوته راجع دې، چې په ﴿وَمِنْ اٰيٰتِهِ﴾ کښ ذکردی، ﴿اِنْ كُنْتُمْ اِيَّاهُ تَعْبُدُوْنَ﴾ رَد دې په بعضِ قومونودَمشرکانو چه کله

به دوئ ته اوويلې شوچه دَشمس وقمرعبادت مه کوئ نودوئ به ويل چه په دې واسطې سره مونږ دَالله تعالى عبادت کوو ،نو الله ﷻ ددې واسطې نه منع کړل،

﴿ فَإِنِ اسْتَكْبَرُوا ﴾ زجردې معاندينوته،چې کچرې دوئ دَالله ﷻ دَعبادت نه تکبر کوي، اودَغيرالله دَعبادت اودَسجدې نه نه منع کيږي نوپدې کښې دَدوئ خپل تاوان دې ځکه چې دَالله ﷻ دَعبادت دپاره داسې فرشتې دی چه شپه اوورځ دَالله تعالى عبادت کوي اوستړې کيږي نه، جواب دَشرط محذوف دې چه فلا يعبأ بهم يا فلا يخل ذالک بعظمه ربک يعنی که دوئ تکبر کوی نو ستاد رب عظمت ته دا ضرر نه رسوي او﴿فَالَّذِينَ ﴾ دَ محذوفی جزاء قائم مقام دې.

فائده: پدې کښې اتفاق دې دَعلماؤچې داآيت دَسجدې دې،ليکن په مقام دَسجدې کښې اختلاف دې حضرت علي ؓ اوابن مسعود ؓ به داوَلني آيت په اختتام باندې يعني، ﴿ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ ﴾ باندې سجده کوله،اوابنِ عباس ؓ اوجمهورفقهاء دَدويم آيت ﴿وَهُمْ لَا يَسْأَمُونَ ﴾ په اختتام باندې سجده کوي،اودامذهب دَاحنافوهم دې،اوپديکښې احتياط هم دې (احکام القرآن).

﴿وَمِنْ آيَاتِهِ أَنَّكَ تَرَى الْأَرْضَ ﴾دا دريم دليل عقلي دې په توحيد ،چې الله ﷻ دَ الوهيت دليل دا هم دې،چې زمکه بالکل خشکه پرته وی کله چې الله ﷻ پرې باران اووروی نو هغه تروتازه او را ژوندئ شی او فصلونه پرې زرغون شی.﴿أَنَّكَ ﴾خطاب عام دې هر مخاطب ته ﴿خَاشِعَةً ﴾ دَ خشوع نه دې ذلت او عاجزئ ته وائی،دلته ترينه مراد خشک والې دې ، ﴿اهْتَزَّتْ ﴾اهتزاز حرکت ته وائی،يعنی باران چې اووريږی نو بوټې پرې رازغون شی،او په هواګانو سره يوطرف ته بل طرف ته اوړی رااوړی﴿وَرَبَتْ ﴾ربو نه دی ارتفاع او اچتوالی ته وائی کله چې بوټې راخيژی نو زمکه اوپړسيږی او عامې زمکې نه اوچته شی ،او ديکښې تمثيل دې دزمکې دَ باران وريدلو نه مخکښې حالت او باران وريدلو نه ورستو حالت دَهغه سړی حالت سره چې غريب اوپراګنده حال وی عاجزه عاجزه ګرځی بياورله الله ﷻ مال ودولت ورکړی زندګئ فراخه شی نو بيا اوچت سر او اوګې وهی ګرځی. ﴿إِنَّ الَّذِي أَحْيَاهَا ﴾داجمله معترضه ده او استدلال دې په بعث بعدالموت ،چې کوم ذات پدې قادر دې چې وچه زمکه ژوندئ کړی هغه پدې هم قادر دې چې قيامت په روځ ټول مړی بيا راژوندی کړی.

﴿ إِنَّ الَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِي آيَاتِنَا ﴾ددې تعلق هم لاتسمعوا لهذ القرآن سره دې او تخويف اخروی دې دقرآن په لار کښې رکاوټ اچونکوته،چې مشتمل دې په **درې مقدماتو** باندې،او دا **اوله مقدمه** ده ،چې کوم کسان الحاد کوی دَ الله ﷻ دَ آياتونو تکذيب او دَهغې په لار کښې رکاوټونه پيدا کوی دا الله ﷻ ته معلوم دی پټې دې ترينه نشی قيامت په ورځ به ورله سزاورکوی.«الحاد» الميل عن الجادة المستقيمة ته وائی،يعنی سمه لارپريخودل او په غلطه روانيدل،دې په ضمن کښې (۱) تکذيب دَ قرآن هم راځی(۲)دقرآن دعوت په لار کښې رکاوټونه اچول (چې کومې طريقې سره هم وی)پکښې راځی(۳)او قرآن کښې تحريف کول هم راځی

﴿أَفَمَن يُلْقَىٰ فِي النَّارِ ﴾ دا **دويمه مقدمه** ده او استفهام دَپاره دَتقرير دې چې دا خوتاسو په خپله هم تسليمه وی، چې کوم سړې دَ الله ﷻ په عذاب کښې گرفتار وی دَهغه نه هغه سړې غوره دې چې هغه دَ دې نه په امن کښې وی .

﴿اعْمَلُوا مَا شِئْتُمْ ﴾ **دريمه مقدمه** ده او امر دپاره دَتهديد دې چې اوس خو خپله مرضی ده که تکذيب کوئ او ځان دَ فی النار والو نه گرځوئ يا تصديق کوئ او ځان دامن والوو نه گرځوئ، الله ﷻ درته گوری.

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بِالذِّكْرِ لَمَّا جَاءَهُمْ وَإِنَّهُ لَكِتَابٌ عَزِيزٌ ۝
بيشکه هغه کسان چه کفرئې کړيدې په قرآن کله چه راغې دوئ ته او حال دا چه بيشکه داخامخاکتاب عزت مندې
لَّا يَأْتِيهِ الْبَاطِلُ مِن بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِ تَنزِيلٌ مِّنْ حَكِيمٍ حَمِيدٍ ۝
نه شي راتلې ده ته باطل دَمخکښې دَده نه اونه ورستودَده نه،نازل دې(دا قرآن)دَهغه ذات د طرف نه چه حکيم،ستائيلې شويدې،
مَّا يُقَالُ لَكَ إِلَّا مَا قَدْ قِيلَ لِلرُّسُلِ مِن قَبْلِكَ إِنَّ رَبَّكَ لَذُو مَغْفِرَةٍ
نه ويلې کيږې تاته مگرهغه چه وئيلې شوې وو رسولانوته مخکښې دَستانه،بيشکه رب ستاخامخاخاونددَبخښنې دې
وَذُو عِقَابٍ أَلِيمٍ ۝ وَلَوْ جَعَلْنَاهُ قُرْآنًا أَعْجَمِيًّا لَّقَالُوا
اوخاونددَعذاب دردناک دې،اوکچرې گرځولې وې مونږده لره قرآن په عجمي ژبه کښې،خامخادوئ به ويل،

لَوْلَا	فُصِّلَتْ	اٰيٰتُهٗ	ءَاَعْجَمِيٌّ	وَّعَرَبِيٌّ	قُلْ	هُوَ	لِلَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا		
ولې ندي واضح بيان شوي آياتونه دَدې،آياعجمي (قرآن) او عربي (پيغمبر) ؟ ته اُوايه داقرآن دَمؤمنانودپاره										
هُدًى	وَّشِفَآءٌ	وَالَّذِيْنَ	لَا	يُؤْمِنُوْنَ	فِيْٓ	اٰذَانِهِمْ	وَقْرٌ	وَّهُوَ	عَلَيْهِمْ	
هدايت اوشفاء دې،اوهغه كسان چه ايمان نه راوړي په غوږونه دَدوئ كښ دَرندوالې دې،اوداقرآن په دوئ باندې										
عَمًى	اُولٰٓئِكَ	يُنَادَوْنَ	مِنْ	مَّكَانٍۢ	بَعِيْدٍ	﴿٤٤﴾				
سبب دې دَروندوالي،دغه كسان (په شان دَهغه چادې چه) اوازورته كيديشي دَخائ لرې نه،										

﴿اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِالذِّكْرِ لَمَّا جَآءَهُمْ﴾دا منكرين قرآن ته زجر وتوبيخ دې چې دوئ ډير ضديان او عناديان خلق دى چې دومره عظيم الشان صفاتو والا قرآن دوئ ته راغې اودوئ ترينه اعراض اوكړو،((اَلَّذِيْنَ)) اسم موصول اسم دې دَپاره((اِنَّ)) او خبرئې محذوف دې چې "هم في عناد"دي.او الله ﷻ دَ قرآن پنځوو صفاتو سره دَ مشركينو دا عدوات اوعناد ظاهر كړيدى:

(1) ﴿بِالذِّكْرِ﴾چې دا قرآن مجسم نصيحت دې او دوئ دَپاره سراسر خير خواهى ده دوئ ئې دَضد وعنا په وجه نه منى

(2) ﴿وَاِنَّهٗ لَكِتٰبٌ﴾داقرآن داسې كتاب دې چې جامع دې هر صفت كمال لره خودوئ صرف دَخپلې كج روى او ضد دَ وجهى نه پرې ايمان نه رواوړى

(3) ﴿عَزِيْزٌ﴾دَعزيز ډيرې معنې بيان كړې شوي دى(١)غالب:چې په ټولو كتابونه غالب دې، هغه ئې منسوخ كړى دى، دغه شان دلائلو اعتبار سره هم غالب دې ددې دلائلو په مقابله كښ بل دليل نشې راتلې (٢)عديم النظير:داسى كتاب دې چې دَدې نظير هم نشته (٣)كريم: يعنى ډير عزت مند كتاب دې، دلته دا ټولې معنې مراد دى چې دا بى نظير،عزت مند او غالب كتاب دې،خو دوئ ئې دَ ضد وعناد دَوجهى احكامات نه قبولى،

(4) ﴿لَا يَاْتِيْهِ الْبَاطِلُ﴾داڅلورم صفت دې دَ قرآن،چې تحريف او باطل نه پاک او محفوظ كلام دې،خودوئ ضد وعنا دَ وجهې نه په باطل ايمان راوړى او حق پريګدى،﴿مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهٖ﴾ (١)ياكنايه ده دَ"من كلّ جانبٍ"نه يعني باطل پديكښ دَهيڅ جهت نه تلبيس اوتحريف

نشي کولې، (۲) دَ ﴿ بَيْنِ يَدَيْهِ ﴾ نه مراد نقصان او کمي کول دي او ﴿مِنْ خَلْفِهِ﴾ نه مراد زيات کول دي يعني باطل پکښې هيڅ قسمه کمې يا زياتې نشي کولې (۳) ﴿بَيْنِ يَدَيْهِ﴾ نه مراد ښکاره راتلل دی او ﴿مِنْ خَلْفِهِ ﴾ نه مراد په پټه راتلل دی، يعني پدې قرآن کښې باطل نه په ښکاره تحريف کوليشي او نه په پټه (بحر) يؤيده هذا القول، انّانحن نزلناالذكر وانّاله لحافظون،

(5) ﴿ تَنْزِيلٌ مِّنْ حَكِيمٍ حَمِيدٍ ﴾ دا پنځم صفت دې دقرآن چې دا دَحکيم او حميد ذات کلام دې نو څرنګه چې الله ﷻ حکيم دې دغه شان کلام ئې هم دَ حکمت نه ډک او محکم دې او څرنګه چې هغه حميد دې دغه شان کلام ئی هم مستحق دَحمد دې خو دوئ ترينه ضد وعناد پوجه اعراض کوی

﴿ مَا يُقَالُ لَكَ إِلَّا مَا قَدْ قِيلَ لِلرُّسُلِ ﴾ دا دريمه شکوه ده او ضمنًا پکښې حضور ﷺ ته تسلي ده، چې کله ته دوئ سره نرمي کوې او په حسنِ اخلاق سره ورته قرآن اوروې نو په ځاني دَمتاثرکيدو، دوئ الحاد کوی په قرآن اعتراضونه کوي، او تاته نسبت دَساحِر، مجنون، کاذب کوي، نو دا نوې خبره نده بلکه ستانه مخکښې دَهرپيغمبر سره داسې سلوک شويدې، لهذا ته پدې باندې مه غمژن کيږه، بعضِ مفسرينو ددې بل مطلب بيان کړې چې ﴿ مَا يُقَالُ لَكَ ﴾ پمعنیٰ دَمااقولُ لك الاّ ما قد قلتُ، دې يعني ای پيغمبره! څه چې تاته چې کوم هدايات دَتبليغ بيانوم نو داهغه دی چې ستانه مخکښې رسولانوته مې هم بيان کړي وو، ﴿إِنَّ رَبَّكَ لَذُو مَغْفِرَةٍ ﴾ دا تعليل دې دَماقبل امربالصّبر، چې ته صبرکوه څکه چې رب ستاخاوند دَلوئ مغفرت دې مؤمنانو دپاره، او کافرانو او معاندانوته سخت عذاب ورکونکې، نو هغه به ورنه انتقام اخلي، دې نه بعد دَمشرکانو دَ درې شبهاتو جوابونه ذکرکيږي.

﴿وَلَوْ جَعَلْنَاهُ قُرْآنًا أَعْجَمِيًّا ﴾ دا جواب دَاولې شبهې دې، شبهه دا ده چې دوئ وائي چې داقرآن کچرې په عجمي ژبه کښې وې نو مونږته به دا يقين وې چې دا کلام حق دې څکه دانبي عربي دې په ژبه باندې ئې قدرت نشته دې، نو لامحاله دا وحې غيب ده، ليکن داخودې (حضور ﷺ) پخپله په عربي ژبه کښې جوړه وې او مونږته ئې اوروَي، الله ﷻ جواب ارشاد فرمائي چه کچرته مونږ داقرآن په عجمي ژبه کښې نازل کړې وې، نو بيابه هم دوئ دااعتراض کولوچې (۱) ددې قرآن آياتونه واضح او په عربئ ژبه کښې ولې ندي نازل؟ چې مونږورباندې پوهه شو. (۲) او دا

څنګه چل دې چې نبي عربي دې او کتاب ئې په عجمي ژبه کښې دې. ﴿ءَاَعْجَمِیٌّ﴾ نسبت دې د "اعجم" او ديکښې زيادت دې په نسبت د "عجم" نه ځکه "عجم" هغه چاته وائي چې ژبه ئې عربي نه وي، او دا کيديشي چې ژبه ئې عربي نه وي خو فصيح وي او "اعجم" هغه چاته وائي چې په خبروئې بالکل څوک نه پوهيږي. (قرطبي)

﴿قُلْ هُوَ لِلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا هُدًی﴾ دا په دوئ رد دې چې قرآن هدايت دې دحق طلب ګارانو ته سيدها لار خائي، شفا ده جسماني وروحاني، ظاهري اوباطني امراضو او دهر قسم شکوکو او شبهاتو دفعيه کوي خودا تاسوته چې ترينه هدايت او شفا نه ميلاويږي نوهغه دَدې څه نقص نه دې تاسو دَضد وعناد نتيجه ده تاسو په غوږونو کښې دَضد بوجونه پراته دې څنګه به قرآن واورئ، په سترګو مو دَ عناد پردې پرتې دی څنګه به درته دَدې حقانيت ښکاره شي اوپه تعصب کښې دومره انتها ته راسيدلی يئ چې اوس تاسو پوهه کولو څه ذريعه نشته،

﴿اُولٰٓئِکَ یُنَادَوْنَ مِنْ مَّکَانٍۭ بَعِیْدٍ﴾ دا ده دوئ عدم فهم تمثيل دې يعنی دوئ پشان دَهغه سړی دی چې دَلرې نه ورته څوک آوازونه کوي، نو هغه اول آوانه آوري، او که څه آوازئې په غوږونو کښې پريوځي نو پوهيږي پرې نه، چې څه وائي او څه غواړي.

وَلَقَدْ	اٰتَیْنَا	مُوْسَی	الْکِتٰبَ	فَاخْتُلِفَ	فِیْهِ	وَلَوْلَا	کَلِمَةٌ
اوپه تحقيق سره ورکړې وؤمونږموسیٰ عليه السلام ته کتاب تورات نواختلاف اوکړې شو په هغې کښې، اوکچرته نه وې خبره							
سَبَقَتْ	مِنْ	رَّبِّکَ	لَقُضِیَ	بَیْنَهُمْ	وَاِنَّهُمْ		
چه مخکښې ليکلې شويده دَرب ستانه په تاخيردَعذاب کښې نوفي الحال به فيصله شوې وې په مينځ دَدوئ کښې، اوبيشکه دوئ							
لَفِیْ	شَکٍّ	مِّنْهُ	مُرِیْبٍ	مَنْ	عَمِلَ	صَالِحًا	فَلِنَفْسِهٖ	وَمَنْ
خامخاپه داسې شک کښې دي دَدې قرآن نه چې په تردد کښې اچونکې دې، چاچه عمل اوکړو نيک نودَپاره دَخپل ځان ئې دې اوچاچه							
اَسَآءَ	فَعَلَیْهَا	وَمَا	رَبُّکَ	بِظَلَّامٍ	لِّلْعَبِیْدِ ﴿۴۶﴾		
بدعمل اوکړو نوتاوان په هغه دې، اوندې رب ستاظلم کونکې په بندګانوباندې							

إِلَيْهِ يُرَدُّ عِلْمُ السَّاعَةِ ۚ وَمَا تَخْرُجُ مِنْ ثَمَرَاتٍ مِنْ أَكْمَامِهَا وَمَا تَحْمِلُ مِنْ أُنْثَىٰ

صرف الله ته حواله کولیشي علم دقیامت، اونه رااوځي.هیڅ میوې دغلافونوخپلونه اونه حامله کیږي هیڅ ښځه

وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلْمِهِ ۚ وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ أَيْنَ شُرَكَائِي

اونه زیګوي بچې مګربه علم دالله ﷻ کښې وي،اوپه هغه ورځ چه اوازبه اوکړي دوئ ته الله ﷻ.چه څه شول شریکان څما،

قَالُوا آذَنَّاكَ مَا مِنَّا مِنْ شَهِيدٍ ﴿٤٧﴾ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَا

دوئ به وائي مونږ خبردرکوؤتاته.چه نشته دې په مونږکښې هیڅ اقرارکونکې په شریك اوورك به شي ددوئ نه هغه معبودان

كَانُوا يَدْعُونَ مِنْ قَبْلُ ۖ وَظَنُّوا مَا لَهُمْ مِنْ مَحِيصٍ ﴿٤٨﴾

چه دوئ ئې عبادت کولومخکښې ددینه(په دنیاکښې)اودوئ به یقین اوکړي چه نشته دې دوئ لره هیڅ ځائې د خلاصې،

لَا يَسْأَمُ الْإِنْسَانُ مِنْ دُعَاءِ الْخَيْرِ وَإِنْ مَسَّهُ الشَّرُّ فَيَئُوسٌ قَنُوطٌ ﴿٤٩﴾

نه ستړې کیږي انسان دغوښتلودخیرنه .اوکه ورسیږي ده ته څه تکلیف نوبیا ډیر مایوسه ناامیده وي ،

وَلَئِنْ أَذَقْنَاهُ رَحْمَةً مِنَّا مِنْ بَعْدِ ضَرَّاءَ مَسَّتْهُ لَيَقُولَنَّ هَٰذَا لِي

اوکه وڅکوؤمونږده ته رحمت دخپل طرف نه ورستو دهغه تکلیف نه چه رسیدلې ووده ته،خامخادې داوائي چې داخماحق وؤ.

وَمَا أَظُنُّ السَّاعَةَ قَائِمَةً وَلَئِنْ رُجِعْتُ إِلَىٰ رَبِّي إِنَّ لِي عِنْدَهُ

اونه کوم څه ګمان چه قیامت راتلونکي دې اوکچرې څه واپس کړې شوم خپل رب ته نوبیشکه ماله پاره هغه سره

لَلْحُسْنَىٰ ۚ فَلَنُنَبِّئَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بِمَا عَمِلُوا

خیر(جنت)دې ، نوخامخاخبربه ورکړومونږهغه کسانو ته چه کفرئې کړیدې په عملونودهغوئ،

وَلَنُذِيقَنَّهُمْ مِنْ عَذَابٍ غَلِيظٍ ﴿٥٠﴾ وَإِذَا أَنْعَمْنَا عَلَى الْإِنْسَانِ

اوخامخا به وڅکوؤ مونږ په دوئ سخت قسم عذاب ، اوکله چې انعام اوکړومونږپه انسان باندې

اَعْرَضَ وَنَاٰ بِجَانِبِهٖ ۚ وَاِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ فَذُوْ دُعَآءٍ عَرِيْضٍ ۝
اعراض اوکړي دې اوتاؤکړي ډډه خپله.اوکله چه ورسيږي ده ته بد نوخاونددعاء اوږدې وي

﴿وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ﴾دادَويمې شبهې جواب دې،شبهه داده چې مشرکين وائي چې داقرآن کچرته حق وې نودفعةً واحدةً به نازل شوې وؤداچه لږلږئي مونږته محمّد ﷺ بيانوي نودې نه معلوميږي چې دادې پخپله جوړه وي،جواب اوشوچې مونږموسیٰ ﷺ ته توراة دفعةً واحدةً ورکړې وؤ،بياهم په هغې کښې اختلاف شوې وؤ بعضُ ئي تصديق کړې وؤبعضُ تکذيب کړې وؤ،نوستاسوداانکارمحضِ عناداً دې.

﴿وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ﴾دادريمې شبهې جواب دې چې داقرآن که چرته حق وې نوزمونږ دَ انکار پوجه به په مونږعذاب نازل شوې وؤ،جواب اوشوچې دَعذاب دَپاره وخت مقرر دې،ورنه دوئ ته به اوس رسيدلې وؤ ﴿وَاِنَّهُمْ لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيْبٍ﴾دويم ضميرراجع دې قرآن ته اواول ضمير دَجمع کفارِمکه ؤته،يااول ضميريهودوته اودويم توراة ته په قرينې دَسياق سره،

﴿مَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفْسِهٖ﴾بشارت دې،﴿وَمَنْ اَسَآءَ فَعَلَيْهَا﴾تخويف دې،﴿وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّامٍ﴾ددې پوره تشريح ئي په اول جلددې تفسيرکښې په سورة آل عمران کښې تيره شويده نوهغه ځائ ته رجوع وکړئ.

﴿اِلَيْهِ يُرَدُّ عِلْمُ السَّاعَةِ﴾دا څلورم دليل عقلي دې په توحيد ، او دا دليل د الله ﷻ عموم علم باندې مبني دې چې قيامت علم صرف الله سره دې،بل چاسره نشته ،عالم نباتات کښې څومره تصرفات کيږي هغه ټول دَ الله ﷻ په علم کښې دی ، عالم انسانيت ټولو احوالو نه هغه خبر دې، بل چاسره داسې علم نشته لهذا مستحق دَالوهيت هم صرف الله ﷻ دې بل څوک نشته،

تقديم دَ﴿اِلَيْهِ﴾دحصردَپاره دې او﴿يُرَدُّ﴾ صيغه د مجهول راوړلو کښې تعميم طرف ته اشاره ده چې دَهرچانه چه تپوس وکړې شي چې قيامت به کله راځي،نوهغه به وايئ چې ددې علم الله ﷻ ته حواله دې،لکه په حديث دَجبرئيل کښې حضور ﷺ اوفرمايل چې"ماالمسؤل عنهاباعلم من السّائل"﴿وَمَا تَخْرُجُ﴾"ما"نافيه ده،﴿مِنْ ثَمَرٰتٍ﴾"من"زائده دې،دَ تاکيد دَاستغراق دپاره،﴿مِّنْ اَكْمَامِهَا﴾ "من"دَابتداء دَغايه دپاره دې،اکمام جمع دَ"کم"بکسرالکاف ده، دَ ميوؤ غلافونو او پوستکو ته وائي چې ميوې ورنه راأوزي،يعني په ونه کښې چې کله ميوه راځي نواولاً دَ بو

غلاف صورت وی،بیاپکښ میوه پیداشي او رُو رُو غتيږي غتيږي دَخپل غلافونونه بهر را اُوځي،نوپدې ټولو مراحلوباندې الله ﷻ خبر دې اودغه رنګه دَیوې زنانه په رحم کښ نطفه قرار اخلی بیاپه هغې مختلف مراحل تیریږی،بیادهغې نه یوروغ انسان جوړیږی،او بیا ددې حمل وضع کيږی دې ټولو مراحلو باندې الله ﷻ عالم دې.

﴿ وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ ﴾تخویف أخروي دې،چې کوم خلق شرک کوي،اودَدلائلودَتوحیداوقدرت لیدلوباوجود دَتوحید قائله کیږي نه،نودَقیامت په ورځ به ورنه الله ﷻ تپوس کوي چې﴿أَيْنَ شُرَكَائِي ﴾پدیکښ دوئ ته زورنه اوتهکم دې،چې ستاسودَزعم مطابق چه څماشریکان وؤ نو اوس هغه کم دي؟﴿قَالُوا آذَنَّاكَ ﴾اي اعلمناك'اعلام پمعنی دَ اخبار دې یعنی دوئ به ورته اُووائي چې اې الله ﷻ مونږتاته خبردرکوؤچې په مونږکښ هيڅ څوک هم دَشرک مدّعي اوګواهي کونکې نشته دې،﴿مَا مِنَّا مِن شَهِيدٍ ﴾شهید په وزن دَ فعیل دَ شهادت نه مشتق دې پمعنی دَ مدّعي اوګواهي کونکې.اونفی شهادت کنایه ده دَبرات نه یعني دوئ به پدغه وخت کښ دَاثبات دَشریك نه براءت وکړي،یاشهید دَ شهود نه مشتق دې پمعنی دَ حضور اي'مامنّااحدهم یُشاهدهم لانّهم ضلّوا'یعني مونږدَهغوئ مشاهده نشوکولې(قرطبي)څکه چه ورک شول زمونږنه ،داځکه چې دَ دوئ مواقف به جدا وی،بعض وائی داکنایه ده دَ نفی دَشریک نه الله ﷻ لره

﴿ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَدْعُونَ مِن قَبْلُ ﴾'ما'موصوله عبارت دې دَشرکاءُ نه،او((ضلال)) مجاز دې، دَعدم نفع نه یعني دَدوئ شرکاء به دوئ ته هيڅ نفع ورنکړي،یا ((ضلال)) پمعني د نسیان سره دې ،یعني دوئ نه به خپل معبودان باطله او هغوئ ته نداکول هیر شي ، یا ضلال پخپله حقیقی معنی دې یعنی دوئ چی دکومو خدایانو عبادت کولو هغه به ورنه ورک او غائب شی

﴿وَظَنُّوا ﴾ظن دلته پمعنیٰ دَیقین سره دې ای ایقنوا،دوئ ته به یقین اوشي چې مونږلره ځائ دَ خلاصیدو او د تیختې نشته دې،

﴿ لَّا يَسْأَمُ الْإِنسَانُ مِن دُعَاءِ ﴾داخلورمه شکوه ده دکافرانونه او دَهغوئ طرزعمل نه چې الله ﷻ پرې مختلف حالات راولی دپاره دَدې چې دوئ الله ﷻ ته متوجه شی خودوئ په هيڅ حال کښ الله ﷻ طرف ته نه متوجه کیږی،

ددې درې آیتونومشهور دوه۲ توجیهات بیان شوی دی چې بنیاد ئې'دعا'په تفسیر

باندې دي:

(۱)اول دا چې دعا نه مراد دلته معبودان باطلؤو نه غوختل دي ، او په دیکښې دمشرک حالت بیانیږي چې مشرک انسان خپلو معبودان باطلؤو نه په غوختلو نه ستړې کیږی، مسلسل ترینه غواړی خو کله چې ترینه مراد پوره نشی نو بیا ﴿فَيَئُوسٌ قَنُوطٌ﴾حالت ئی شی او بالکل نا امیده ترینه شی ،او الله ﷻ نه غوختل شروع کړی﴿ وَلَئِنْ أَذَقْنَاهُ رَحْمَةً ﴾خو کله چې الله ﷻ رحم ورباندې اوکړی نو دې شکر اوایمان راوړلو په ځائ ناشکری او کفر اوکړی او درې غلطو عقیدو شکار شی:

(۱)چې دا نعمت ماته ځما صلاحیت دوجهې نه میلاؤ شوې دې او څه ددې مستحق وم.

(۲)قیامت او آخرت نه انکار اوکړی چې وما اظن الساعة قائمة

(۳)کچرته بالفرض قیامت راهم شی نو هلته به هم ځما یوشان وی اوځماد پاره یو بهترینه ټهکانه وی لکه څنګه دنیوی حالت مې دې﴿وَإِذَآ أَنْعَمْنَا عَلَى ٱلْإِنسَٰنِ ﴾ دیکښې هم دمشرک حالت بیان دې چې "نعمت" په حالت کښې دې دالله ﷻ احکاماتو پروانکوی،او حق نه اعراض کوی،خو کله چې دنقمت حالت پرې راشی نو﴿فَذُو دُعَآءٍ عَرِيضٍ ﴾ بیاورته الله ﷻ یادشی او الله ﷻ نه دعاګانی غوختل شروع کړی، کمافي قوله تعالی، و اذا غشيهم موج كالظلل عواالله مخلصين له الدين(لقمان ۳۲)(جواهر القرآن)

(۲)دویم قول دادې چې ((دعاء))نه مرا دالله ﷻ نه غوختل دی او((لَّا يَسْـَٔمُ ٱلْإِنسَٰنُ)) کښې د مشرک انسان عام خرابئ ذکر دې چې هغه کمال حرص دې چې دې ډیر حریص وی ،نعمت او نقمت دواړو حالاتو کښې دده حرص نه ختمیږی ،او په څه نعمت باندې ورته قناعت نه نصیب کیږی او هروخت ئی هل من مزیدکیفیت وی.دینه ورستو اوس دوه خرابیانی خاص دحالت نقمت سره او دوه خرابیانې خاص دحالت نعمت سره ذکر کیږی﴿ وَإِن مَّسَّهُ ٱلشَّرُّ ﴾دیکښې د مشرک نقمت اوله خرابی بیانیږی چې ددې تعلق احوالو سره دې چې دنعمت او سختئ حالت کښې دې مایوسه اونا امیده وی "يؤس"او"قنوط"کښې فرق دادې چې یؤس دزړه کیفیت ته وائی او د دې کوم آثار په جسم باندې ظاهریږی قنوط هغې ته وائی ﴿وَلَئِنْ أَذَقْنَاهُ ﴾دیکښې د مشرک حالت نعمت اوله خرابی بیانیږی چې دې تعلق اعتقاد سره چې تفصیل ئی مخکښې تیر شوچې

دومره تکبر کښې مبتلا شي چې آخرت نه انکار هم اوکړی ﴿وَإِذَآ أَنْعَمْنَا عَلَى ٱلْإِنسَٰنِ﴾ دیکښې ئې دَحالت نعمت دویمه خرابي ذکر کیږی چې تعلق اعمالو سره دې چې دې په داسې حالت کښې دَ الله ﷻ احکاماتو هډو سره پرواه هم نه کوي. ﴿وَإِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ فَذُو دُعَآءٍ﴾ دیکښې دَ مشرک حالت نقمت دویمه خرابي بیانیږی چې دې تعلق اقوالو سره دې چې کله ورته تکلیف اورسی نو بیا چغې اوجزع فزع شروع کړی، ﴿فَذُو دُعَآءٍ عَرِيضٍ﴾ نه مراد دې تفسیر مطابق جزع فزع ده(بیان القرآن)

خلاصه دا چې ټول خلور احوال بیان شو:دوه د نعمت اودوه دنقمت ، احوال نعمت دَ مشرک دادې چې(۱)عقیده ئې خرابه شی(۲)اواعمال ئې هم خراب شی ، احوال نقمت دَ مشرک دادې چې (۱)چې زړه کښې پریشانه ناامیدئ شکار وي(۲)او په ژبه ئې هم چغې فریادونه جوړ وی.

قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِن كَانَ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ ثُمَّ كَفَرْتُم بِهِۦ
نه اوایه خبراکړئ ماته کچرې وي داقرآن دَطرفه دَالله ﷻ نه بیاهم کفرکوئ تاسوپدې،
مَنْ أَضَلُّ مِمَّنْ هُوَ فِى شِقَاقٍۭ بَعِيدٍ ۞ سَنُرِيهِمْ ءَايَٰتِنَا فِى ٱلْءَافَاقِ
نوخوك زيات گمراه دې دَهغه چانه چه وي هغه په مخالفت لرې کښې،زرده چه اوبه ښايو مونږدوئ ته دليلونه خپل په اطرافو کښې
وَفِىٓ أَنفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ ۗ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ
اوپه نفسونودَدوئ کښې تردې چې ښکاره شي دوئ ته چه بیشکه داقرآن حق دې،آیاکافي نده په توحید دَرب ستاکښې،
أَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدٌ ۞ أَلَآ إِنَّهُمْ فِى مِرْيَةٍ مِّن لِّقَآءِ رَبِّهِمْ ۗ
داخبره چه بیشکه هغه په هرڅيز باندې حاضرناظر دې،خبردارچه بیشکه دوئ په شك کښې دی دَملاقات دَرب خپل نه،
أَلَآ إِنَّهُۥ بِكُلِّ شَىْءٍ مُّحِيطٌۢ ۞
خبردار ابیشکه الله ﷻ هرڅيزلره گیره ونکې دې په اعتباردَعلم اوقدرت سره.

﴿قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِن كَانَ﴾ دا زجر دې او خلور و واړو شکوو باندې مرتب دې چې تاسو په خپله هم قرآن نه آورئ بل هم اوریدلو ته نه پریګدئ، التا پدی قرآن اونبی باندې اعتراضونو هم

کویٔ او دالله ﷻ دَ وحدانیت اودَقرآن حقانیت باندې دومره دلائلو باجود تاسو شرک او کفر هم کویٔ نو په درجه دَاحتمال کښ خو دیته لګ سوچ اوکړئ چې کچرته دا قرآن دَ الله ﷻ طرف نه وی اوتاسو ورسره دا معامله وی نو دا څومره لوئی درجې ګمراهی او بدبختی ده. ﴿إِن كَانَ﴾ جمله شرط ده اوجواب شرط محذوف دې چې فاخبروني من اضل منكم دې﴿مَنْ أَضَلُّ﴾ دا جدا جمله دَه جواب شرط محذوف قائم مقام ده.

﴿سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا فِي الْآفَاقِ وَفِي أَنفُسِهِمْ﴾ تخويف دنيوي دې ، يعني زر ده چې الله ﷻ به دوئ ته خپل قدرتْ نشانیانې اوخائی په عرب کښ هم اودعربو نه باهر هم او هغه داسې چې اسلام له به فتحه ورکړی اوکفر او انصار دَ کفر به ذلیل او رسوا اوهلاک کړی﴿فِي الْآفَاقِ﴾آفاق نه مراد غیر عرب بلاد اوعلاقې دی او ﴿وَفِي أَنفُسِهِمْ﴾نه بلاد عرب مراد دي،او﴿آيَاتِنَا﴾ نه دَقدرت نشانیانې مراد دي چې هغه دلته فتح دَ مسلمانانو او شکست د کفارو دې،

ځنی مفسرینو دَ﴿آيَاتِنَا﴾ مراد مطلقا نشانیانې اغستې دی چې دَ الله ﷻ په الوهیت باندې دلالت کوی، ﴿وَفِي أَنفُسِهِمْ﴾نه مراد دلائل انفسیه دی چې په ذات دانسان کښ وی او ﴿فِي الْآفَاقِ﴾ نه مراد دلائل آفاقیه دی چې ذات دَانسان نه خارج عالم کښ به وي، مطلب داآیت دا دې چې الله ﷻ به ورو ورو دَ دویٔ ذات اودَعالم اوآفاق متعلق دویٔ ته داسې حقائق څرګند وی چې دویٔ ته به خپله پته اولګی چې هغه برحق ذات دې اونن صبا تجرباتی سائنس کوم تحقیقات رااوان دی هغه بزبان حال دا ګویان دي:

فيا عجبا كيف يعصى الإله　　　ام كيف يجحده الجاحد

وفي كـــــل شئ له اية　　　تـــــدل على انه واحد

﴿أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ﴾داپنځم دلیل عقلې دې په توحید،چې الله تعالی اوپه هرځایٔ کښ حاضر ناظر دې،لهذا خپل حاجتونه صرف دَهغه نه غواړئ،

﴿بِرَبِّكَ﴾کښ باء یازائده ده ځکه چې په فاعل دکفیٰ باندې باء زائده وي لکه كفى الله اى كفى الله یاپمعنیٰ دَ في سره ده ای اولم یکفو في توحید ربك یعنی ستا درب وحدانیت په

باره کښې صرف دا دليل کافي نه دی چې هغه په هر څه حاضر ناظر دې.

﴿أَلَآ إِنَّهُمْ فِى مِرْيَةٍ مِّن لِّقَآءِ رَبِّهِمْ﴾ تخويف أخروي دې، ﴿أَلَآ إِنَّهُۥ بِكُلِّ شَىْءٍ مُّحِيطٌۢ﴾ علم او قدرت دَالله تعالى هر څيز لره مُحيط دې.

رکوعاتها (۵)	سورة الشوریٰ مکیة	آیاتها (۵۳)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکي دې شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (۴۲) وحسب النزول (۶۲)

نزلت بعدحمٓ السجدة وقبل سورة الزخرف

ربط: دیکښې دَدویم اعتراض جواب دې، چې په سابقه کتابونوکښې لیکلی دي چې منسوب دي انبیاؤته، چې دَغیرالله بلنه کوئ خپل حاجتونه ورنه غواړئ.

جواب داد باغیانو اودگمراه مشرانوتحریف دې اودهغوئ خودساخته کتابونه دي ځکه چې تولو انبیاؤ ته صرف دَتوحیدوحی شوې وه، کقوله: ﴿شَرَعَ لَكُم مِّنَ الدِّينِ مَا وَصَّىٰ بِهِ نُوحًا﴾ آیت (۱۳).

دسورة دَمضامینواجمالی خلاصه:

دې سورت دوه حصې دي: اوله حصه تر آیت ۱۹ پورې ده ، او دیکښې سورت دوه دعوې او دَ هغې سره متعلقه امورو بیان دې ،اوله دعوه دا ده چې دَتوحیدوحی تمامو انبیاؤته شویده چې صرف دَیو الله ﷻ عبادت کوئ، ﴿كَذَٰلِكَ يُوحِي إِلَيْكَ وَإِلَى الَّذِينَ...﴾ آیت (۳). او دویمه دعوه دا ده چې دَ دې خلاف دَباغیانو کاردې، ﴿وَمَا تَفَرَّقُوا إِلَّا مِن بَعْدِ مَا﴾

او دویمه حصه آیت ۲۰ نه تر آخره پورې ده ، او دیکښې ماقبل دواړو دعوو باندې تنویرات ذکر کیږي ، او په منځ مینځ کښې تخویفات ، بشارات او زجرونه هم ذکر کیږي.

دسورة دَمضامینو تفصیلي خلاصه:

د اولې حصې تفصیلي خلاصه:

آیت (۳،۴) کښې اوله دعوه ده،

آیت (۵) دَالله ﷻ دَعظمت او دَ فرشتو د حالت بیان دې

آیت (۶) زجراوتخویف دې مشرکانو ته .

آیت (۷) ترغیب دې قرآن ته اوبشارت اوتخویف اخروی دې.

آیت(۱۳) داولي دعوی تفصيل دي.

آیت(۱۴) دويمه دعوه ده. ﴿وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ﴾

آیت(۱۵) کښي په دويمي دعوې شپږ تفريعات دي

آيت (۱۷، ۱۲) د دويمي دعوې متعلق يوې شبهې جواب دې، او تخويف اخروي دي

آيت(۱۸) زجر دي

د سورت دويمي حصې تفصيلي خلاصه:

اولي دٓعوې باندې **شپږ تنويرات** ذكر كيږي:

(۱) آيت نمبر ۱۹ اول تنوير دي.

(۲) آيت نمبر ۲۵ دويم تنوير دي.

(۳) آيت نمبر ۲۸ دريم تنوير دي.

(۴) آيت نمبر ۲۹ څلورم تنوير دي.

(۵) آيت نمبر ۳۲ پنځم تنوير دي.

(۲) آيت نمبر ۴۹، ۵۰ شپږم تنوير دي.

څلور تنويرات په دويمې دعوې باندې ذكر كيږي:

(۱) آيت نمبر ۲۱ اول تنوير دي.

(۲) آيت نمبر ۴۴ دويم تنوير دي.

(۳) آيت نمبر ۴۷ دريم تنوير دي.

(۴) آيت نمبر ۵۱ څلورم تنوير دي.

دينه علاوه په مينځ مينځ کښي تخويفات، بشارات، شبهاتو جوابات او زجرونه هم ذكر كيږي.

حٰمٓ	عٓسٓقٓ ②	كَذٰلِكَ	يُوْحِيْٓ	اِلَيْكَ	وَاِلَى	الَّذِيْنَ
الله ﷻ عالم دی په معنی دَدې، دغه شان وحی کوی تاته الله تعالی اووحی کړی وه الله ﷻ هغه پيغمبرانوته						
مِنْ	قَبْلِكَ	اللّٰهُ	الْعَزِيْزُ	الْحَكِيْمُ ③	لَهٗ	مَا
چه ستانه مخکښ وو الله ﷻ چه غالب دی خاونددَحکمت دی، الله ﷻ لره دی اختياردَهغه څيزونو						

فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۭ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ ۝ تَكَادُ السَّمٰوٰتُ

چه په اسمانونو کښې دي اوڅه چه په زمکه کښې دي. اوهغه لوئ دي ذات دده لوئ دي صفات دده. نزدې دي اسمانونه

يَتَفَطَّرْنَ مِنْ فَوْقِهِنَّ وَالْمَلٰۗىِٕكَةُ يُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيَسْتَغْفِرُوْنَ لِمَنْ

چه اوچوي دپاسه ددوئ نه اوفرشتې تسبيح کوي سره دحمددرب خپل اوبخنه غواړي دپاره دهغه چا

فِي الْاَرْضِ ۭ اَلَآ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ۝

چه زمکه کښې دي، خبردار بيشکه الله صرف هغه بخنه کونکې رحم کونکې دې

﴿حٰمٓ ۝ عٓسٓقٓ﴾ دا حروف مقطعات دي چې جزمي اوحقيقي معنى ئې الله ﷻ ته معلومه ده، دادواړه ياجداجدانومونه دي ددې سورة نوځکه جداجدا اليکلې شويدي، يادواړه يونوم دې ليکن جداجدا ځکه ليکلې شويدي چې دنوروحواميموسره ئې مطابقت راشي.

﴿كَذٰلِكَ يُوْحِيْٓ اِلَيْكَ﴾ دا د دې سورة اوله دعوه اومرکزي مضمون دې چې تمام جهان مالک او متصرف الله ﷻ دې، اوهم د دې خبرې وحي تمام انبياؤوته شوې، کاف په ﴿كَذٰلِكَ﴾ کښې اوپه محل ده نصب کښې دی، پمعنی ده «مثل» دې، «ذلک» دپاره مشار اليه مضامين دسورت دې ياوحي او ايحاء دي چې د «يوحي» په ضمن کښې دې، ﴿اللّٰهُ﴾ لفظ جلاله فاعل ده «يوحي» ﴿الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ﴾ دواړه صفات دي د لفظ جلاله، معني دايت داده چي څنګه چه مضامين د دې سورت دی، دغه شان مضامينو وحي الله ﷻ تاته د دينه مخکښې سورتونو.کښې او ستانه علاوه نورو پيغمبرانوته کړيده ،يا څنګه چه وحي پدې سورت کښې تاته کوي هم دغه شان تاته دينه مخکښې سورتونو او نورو پيغمبرانو ته هم الله ﷻ کړيده، هغه الله چه په هر څه غالب او هر کار ده حکمت نه ډک دي.

﴿لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ﴾ عام مفسرينون په نيز دَ ﴿الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ﴾ بيان دې ، او دحضرت حسين علي رحمه الله په نيز دا دَ وحي بيان دې، يعني هغه وحي داده چه: له مافي ...... ، نو دلته ﴿لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ﴾ نه مخکښې «قولوا» مقدر دي.

﴿تَكَادُ السَّمٰوٰتُ يَتَفَطَّرْنَ﴾ د دې ايت دوه تفسيرونه شوي دي:

(۱) دیکښې د ﴿ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ ﴾ یعني دَ الله ﷻ دَعظمت شان اودَهیبت بیان دی، چې الله ﷻ دومره عظیم ذات دې چې قریبه ده چې اسمان به دَالله ﷻ دَعظمت او جلال دَ زوره وچوی، تکړې شی،لکه یو حدیث کښې راځي :أطت السماء،وحق لها أن تئط، ما فیها موضع أربعة أصابع إلا وملك واضع جبهة ساجدا لله(رواه الترمذي) یعني آسمان نه د کرچې کرچې کیدلو آواز راغې او پکار هم دا وه چې د ینه داسې آوازونه راوزي،(ځکه) چه څلور ګوتوبرابر ځائ په کښې هم داسې نشته چه هلته فرښتې تندې نه وي تیټ کړي، او الله ﷻ ته په سجده کښې نوي پرته.

او دې صورت کښې د ﴿وَالْمَلَائِكَةُ يُسَبِّحُونَ﴾ مناسبت دَ ماقبل سره داسې دې چې صرف آسمان د الله ﷻ هیبت نه لرزان او ترسان نه دې ، بلکه آسمان کښې اوسیدونکې فرښتې هم د هغه نه ریږیږي ، او خوف دَ وجهې د الله ﷻ تسبیح وائي (کما في قوله تعالى: يسبح الرعد بحمده والملائكة من خيفته)، او صرف خپل ذات باره کښې نه ریږیږي بلکه زمکه والؤو باندې هم ریږیږي، نو دې وجهې نه د هغوئ د پاره هم د استغفار د عاګانې کوي.

(۲) بعضِ وائی آیت مطلب دادې چی کله مشرکین الله ﷻ ته نسبت دَ شریک اوولدکوی نو داویناددومره بې ادبی اوګستاخې ده چی قریبه ده چی اسمان دَدې به وجه تکړې تکړې شی لکه سورة مریم کښې دي:تكاد السموات يتفطرن منه وتنشق الارض وتخرّ الجبال هداً، ان دعوا للرحمن ولدا. ﴿وَالْمَلَائِكَةُ يُسَبِّحُونَ﴾دې کښې دَفرښتوحال بیانیږی چې کافران خونسبت دَولد او شریک کوي الله ﷻ ته لیکن فرښتی ئی دَهرقسمه شریک نه پاکی بیانوي،

﴿مِن فَوْقِهِنَّ﴾ضمیریااسمانونوته راجع دی او مِن ابتدائیه دی،یعنی داانفطاریه دَتولونه اوچت اسمان نه شروع شی،یاراجع دې فرقواوجماعتونودَمشرکانوته چې دوئ دا پاسه را اوغورزیږي

﴿وَيَسْتَغْفِرُونَ لِمَن فِي الْأَرْضِ﴾دلته سوال کیږي چه من في الارض خو عام دي ،مسلمانانو او کفارو دواړوته شامل دي،تو دوی کفارودپاره استغفار څنګه کوي؟ دینه دوه جوابونه شویدي:

(۱) من في الارض اګر چه عام دی لیکن دلته یې معنی خاص ده ،او صرف مؤمنان مراد دي لکه پدې آیت کښې دي فاغفر للذين امنوا

(۲)من في الارض عام دى خو دلته استغفار نه خپله معني "طلب د مغفرت" نده مراده ، بلکه ،دينه مراد خه کارونه مثلا رفاهي او سماجي خدماتو الهام او تاخير دعذاب طلب دي. او دا باعث دا ايمان او ايمان سبب ده مغفرت کرخي

﴿اَلَاۤ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الۡغَفُوۡرُ الرَّحِيۡمُ﴾ اول تفسير مطابق دى كښ دالله ﷻ مزيد عظمت بيان دى او اشاره ده قبوليت د استغفار د ملائکوته. او دويم تفسير مطابق يه دې كښ اشاره ده په دنيا کښ په مشرکينو عذاب نه راتلو ته،چې مشرکان پدې وبناسره مستحق دعذاب دي، ليکن چونکه الله ﷻ غفور رحيم ذات دى سبقيت درحمت پوجه دعذاب نه بچ دي.

وَالَّذِيۡنَ اتَّخَذُوۡا مِنۡ دُوۡنِهٖۤ اَوۡلِيَآءَ اللّٰهُ حَفِيۡظٌ عَلَيۡهِمۡ ۖ وَمَاۤ اَنۡتَ
اوهغه کسان چه نيولى ئى دى ماسوى دالله نه نورخدايان،الله ﷻ ساتونکې دى په دوئ.اونه ئى ته
عَلَيۡهِمۡ بِوَكِيۡلٍ ۞ وَكَذٰلِكَ اَوۡحَيۡنَاۤ اِلَيۡكَ قُرۡاٰنًا عَرَبِيًّا لِّتُنۡذِرَ اُمَّ الۡقُرٰى
پدوئ باندې نګهبان.اودغه شان مونږه وحى كړيده تاته قرآن په عربئ ژبه کښ دپاره ددى چه ته اويره وى خلق دمکې
وَمَنۡ حَوۡلَهَا وَتُنۡذِرَ يَوۡمَ الۡجَمۡعِ لَا رَيۡبَ فِيۡهِ ؕ فَرِيۡقٌ
اوهغه چه چاپيره دى ورنه،اوته ويره وى خلق دورځى دقيامت نه چه نشتى هيڅ شک په هغې کښ،يوه ډله به
فِى الۡجَـنَّةِ وَفَرِيۡقٌ فِى السَّعِيۡرِ ۞ وَلَوۡ شَآءَ اللّٰهُ لَجَـعَلَهُمۡ
په جنت کښ وى اوبله ډله په جهنم کښ،اوکچرې(جبراًمسلمانول)اراده وې دالله ﷻ نوخامخاګرځولى به ئى وى ټول مخلوق
اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلٰـكِنۡ يُّدۡخِلُ مَنۡ يَّشَآءُ فِىۡ رَحۡمَتِهٖ ؕ وَالظّٰلِمُوۡنَ مَا لَهُمۡ
يوامت ليکن داخلوى الله ﷻ چاته ئى چه خوښه شى په خپل رحمت کښ،اوظالمان چه دى.نشته دوئ لره
مِّنۡ وَّلِىٍّ وَّلَا نَصِيۡرٍ ۞ اَمِ اتَّخَذُوۡا مِنۡ دُوۡنِهٖۤ اَوۡلِيَآءَ ۚ فَاللّٰهُ هُوَ الۡوَلِىُّ
هيڅ څوک دوست اونه مددګار.آيانيولى دى دوئ ماسوى دالله ﷻ نه نورخدايان،پس الله صرف هغه دوست دى
وَهُوَ يُحۡىِ الۡمَوۡتٰى وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ قَدِيۡرٌ ۞
اوهغه ژوندى کوى مړى،اوهغه په هرڅيز باندې قادردى

﴿ وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مِن دُونِهِ أَوْلِيَاءَ ﴾ دازجراوتخويف دى مشركانوته، يعني الله ﷻ وحدانيت په واضحه دلائلو سره ښكاره شوي دي ، اوس د دې باوجود چې كوموخلقوداَلله ﷻ نه ما سِوىٰ نورخدايان نيولي دي، الله ﷻ ته د دوئ عملونه معلوم دي دَدى شرك به ورته سزا وركوى، ته په دوئ نګهبان او نګران نه ئي، ستا فريضه تبليغ وه او هغه تا پوره كړه. ﴿ وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا ﴾ مبتداء دى او ﴿ اللَّهُ حَفِيظٌ عَلَيْهِمْ ﴾ئى خبردى

﴿ وَكَذَٰلِكَ أَوْحَيْنَا ﴾ ديكښې ترغيب دې قرآن باندې ايمان راوړلوته ، او د قرآن نزول مقاصد بيانيږي ، كاف د پاره د كمال دې ، او مشار اليه داسم اشاره مضامين د توحيد دي ،يعنى مونږ دا مضمون په قرآن كښې ډير په وضاحت سره په عربئ ژبه كښې بيان كړې ،چې دوئ پرې پوهه شي او ايمان پرې راوړي او د جهنم عذاب نه بچ شي.

﴿ لِّتُنذِرَ أُمَّ الْقُرَىٰ ﴾ مقصد د وحي بيانيږي چې هغه انذار دې، دلته مجاز في النسبه دې او مراد د ام القرى نه اهل دام القرى دي ، او «امّ القرى» نه مرادمكه ده، "ام" مورته وائي او دلته ترينه مراد اصل دې، القرى جمع ده او مراد ترينه ټوله دنياده، مكي ته ام القرى څكه وائي(١) چه ټوله دنيادهٔ دينه لاندې غوړولي شويده، (٢)يادشرافت او فضيلت د دجهې نه ورته وائي.(٣)يا القري نه مراد مكې ته نيزدې علاقې دى، چونكه دى ځائيونه په اعتبار سره مكه ټوله نه زره خاريه ده نو څكه ورته ام القرى اوئيلې شو. ام القرى مفعول اول دې د تنذر فعل د پاره او مفعول ثاني ئي حذف دې ،چې هغه العذاب دې ، ﴿ وَمَنْ حَوْلَهَا ﴾مكى نه علاوه نورعرب ورنه مراد دې، يا دَ ټولى دنياخلق ورنه مراددې،

﴿ وَتُنذِرَ يَوْمَ الْجَمْعِ ﴾ دا تخصيص بعد التعميم دي ، ﴿ يَوْمَ الْجَمْعِ ﴾ قيامت ورځى ته وائى، او دا مفعول به ثانى دې د پاره د «وَتُنذِرَ »،اول مفعول ئي حذف دې چه الناس دې، يعني مقصد د نزول د قرآن دا دې چې ته په دې سره اهل مكه د الله ﷻ د عذاب نه اويروي، او خاص كر عذاب د قيامت او آخرت نه.

جمع يوځائي ته راټولولوته وائي چونكه پدى ورځ به الله ﷻ ټول مخلوقات زميني او او اسماني يو ميدان ته را ټولوى روحونه او دهغوئي جسمونه به جمع كوئى او عمل كونكى او دهغوئي عملونه به جمع كوى نو څكه ورته يو الجمع ويلي كيږي.

﴿ فَرِيقٌ فِي الْجَنَّةِ ﴾ دا نتيجه د انذار بيانيږي ، چې كومو خلقو انذار قبول كړو نو د هغوئ دپاره

جنت دي،او كومو ترينه انكار اوکړو نو د هغوئ دپاره جهنم دي،﴿فَرِيقٌ﴾په دواړه ځائيونو کښ مبتدا دي ، « فِي الْجَنَّةِ » او « فِي السَّعِيرِ » جار مجرور سره دمتعلق نه ورله خبر دي ،او محققينو په نيز نکره بغير د تخصيص نه هم مبتدا واقع کيديشي چې کله فائده ورکوی، يا في الجنة أو في السعير جار مجرور سره متعلق نه صفت دي فريق دپاره او خبر محذوف دي،چه "منهم"دي ،يعنی ورستو دَ جمع کيدلونه په موقف دَحساب کښ بعضِ به جنت لاړشی او بعض جهنم ته،

﴿وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ﴾ دا نبي کريم ﷺ ته تسلي ده، چې کوم خلق انذار نه قبلوي ، نو ته هغوئ ته پريشانه کيږه مه ، ځکه چې مقصد د تخليق د انسانيت ابتلاء ده ، څوک به ايمان راوړي او څوک به نه ، کنې الله ﷻ په دې هم قادر دې چې ټول خلق ئي په ايمان مجبوره کړې وې ، او ټول به جنتيان وې، ليکن جبري ايمان مطلوب نه دې ، ځکه چې دا د ابتلاء مقصد سره منافي دې، او سزا او جزا حکمت بيا نه پاتې کيږي .

﴿ وَلَكِن يُدْخِلُ مَن يَشَاءُ﴾ استدراک دې د ماقبل نه ، يعني د الله ﷻ مشيئت تقاضه ايمان او هدايت باندې مجبوره کول نه دي ، بلکه ابتلا ده ، لهذا اوس به څوک ايمان راوړي او الله ﷻ به ئي جنت کښې داخل کړي او څوک به ايمان نه راوړي ، نو الله ﷻ به ئي جهنم ته داخل کړي،او د ودئ به بيا هلته څوک مددګار نه وي، چې جهنم ئي رااوباسي او عذاب نه ئي بچ کړي .

﴿أَمِ اتَّخَذُوا مِن دُونِهِ﴾دَمخکنی زجراعاده ده،يعني دوئ د الله ﷻنه ما سوی نور معبودان نيولی دي د دې دپاره په سخته کښ ددوئ پکار راشی او مدد به اوکړی؟هر ګز داسي نشې کيدې، دالله ﷻ نه ماسوی هيڅ څوک هم دَدوئ مدد نشی کولی او نه ئي پکار راتلې شی، ځکه چه کارساز، مړه ژوندي کونکې او په څه قادر الله ﷻ دي.

﴿فَاللَّهُ هُوَ الْوَلِيُّ﴾تعليل دی د ماقبل ،چې الله ﷻ نه ماسوا څوک دَ دوئ پکار نشي راتلې ، ځکه چې ولی اوکارسازصرف الله ﷻ دی اوهغه په هرڅه باندی قادردی.

وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ مِن شَيْءٍ فَحُكْمُهُ إِلَى اللَّهِ ۚ ذَٰلِكُمُ اللَّهُ

اوهغه چه اختلاف کوئ تاسوپه هغې کښ هرشې چه وی نوحکم دَهغی حواله دی الله ته،دغه ذات الله دی

رَبِّيْ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ ۖ وَإِلَيْهِ أُنِيْبُ ⑩ فَاطِرُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ
رب خمادی صرف په هغه ماتوکل کړیدی،اوهغه ته به څه واپس کیږم.پیداکونکې دې داسمانونواودزمکې،
جَعَلَ لَكُمْ مِّنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا وَّمِنَ الْأَنْعَامِ أَزْوَاجًا ۚ يَذْرَؤُكُمْ فِيْهِ ۚ
گرځولې ئې دی ستاسو دپاره ستاسو دجنس نه ،ښیانې،اوګرځولې ئې دی دڅاروونه هم جوړې،خوره وی تاسو لره پدغه طریقه،
لَيْسَ كَمِثْلِهٖ شَيْءٌ ۚ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ⑪ لَهٗ مَقَالِيْدُ
نیشتی په شان دهغه هیڅ څیز،اوهغه اوریدونکی دی لیدونکې دې.صرف الله سره دی کنجیانې
السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۚ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ ۚ إِنَّهٗ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ⑫
داسمانونواودزمکې.زیاتوی رزق هغه چالره چه ئې خوښه شی اوکمه وی،بیشکه هغه په هرڅه باندې ښه پوهه دی.

﴿ وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيْهِ مِنْ شَيْءٍ ﴾ داتسلي ده نبي کريم ﷺ ته ، چې دومره دلائلو باوجود دوئ تا سره اختلاف کوي نو ورته اوايه چې زمونږ او ستاسو اختلاف فيصله به الله ﷻ کوي ، چې څوک په حقه دي او څوک په باطله ، په دنيا کښې هم، خاص کر معجزات، دلائلو او حجت او برهان اعتبار سره ، او په آخرت کښې هم ، چې مونږ به جنت داخل کړي او تاسو به جهنم ته ، دلته د «ومااختلفتم فيه » نه مخکښې "قل" فعل امر مقدر دې. او خطاب په «اختلفتم» کښې عام دې ، مؤمنانو او کافرانو دواړو ته ،

﴿ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ ﴾علت دې دماقبل چه هره فيصله څکه الله ﷻ ته حواله ده چه هغه څمارب دې، «عليه توکلت» په هغه باندې څمابهروسه ده،تاسو چې څومره سازشونه کوئ ، هغه به ئې درله ناکامه کوي ، «واليه انيب» اوپه هره معامله کښې څه هغه طرف ته رجوع کوم.

څنو مفسرينو دا آيت د تقليد او قياس په مذمت کښې پيش کړې دې ، ليکن دا آيت دې تفسير نه معلومه شوه چې د دې تعلق د تقليداو قياس سره هيڅ نشته دې ، ابن عاشور رحمه الله ليکي: وَلَا عَلَاقَةَ لِهٰذِهِ الْآيَةِ بِاخْتِلَافِ عُلَمَاءِ الْأُمَّةِ فِي أُصُولِ الدِّيْنِ وَفُرُوعِهِ لِأَنَّ ذٰلِكَ الِاخْتِلَافَ حُكْمُهُ مَنُوطٌ بِالنَّظَرِ فِي الْأَدِلَّةِ وَالْأَقْيِسَةِ صِحَّةً وَفَسَادًا فَإِصْدَارُ الْحُكْمِ بَيْنَ الْمُصِيبِ وَالْمُخْطِئِ فِيهَا يَسِيرٌ إِنْ شَاءَ النَّاسُ التَّنَاوُلَ وَالْإِنْصَافَ. وَبِذٰلِكَ تَوَصَّلَ أَهْلُ الْحَقِّ إِلَى التَّمْيِيزِ بَيْنَ الْمُصِيبِ وَالْمُخْطِئِ، وَمَرَاتِبُ الْخَطَإِ فِي ذٰلِكَ،

عَلَى أَنَّهُ لَا يُنَاسِبُ سِيَاقَ الْآيَاتِ سَابِقَهَا وَتَالِيَهَا وَلَا أَغْرَاضَ السُّوَرِ الْمَكِّيَّةِ. وَقَدِ احْتَجَّ بِهٰذِهِ الْآيَةِ نُفَاةُ الْقِيَاسِ. وَهُوَ احْتِجَاجٌ لَا يَرْتَضِيهِ نَطَّاسٌ.

او كه بالفرض دلته د امت اجتهادي اختلاف شي هم ، نو بيا هم دينه د تقليد نفي نشي كيدي : (۱) يو خو د دې وجهې نه چې دلته زيات نه زيات د تقليد حكم نه سكوت راغلې دې ، نفي نه ده راغلې ، (لكه د رسول متعلق حكم باره كښې سكوت دې) او سكوت په نفي د حكم باندې دلالت نه كوي.

(۲) او دويم دا چې ((حكمه الى الله)) داعنوان دې، او دې تحت الله ﷻ اتباع ، رسول ﷺ اتباع او مجتهدينو اتباع ټول راځي ،ځكه چه رسول ﷺ كومه فيصله كوى نو هغه هم دَالله ﷻ فيصله وى،دغه شان چه مجتهد په خپل اجتهادسره يوفيصله كوى نوچونكه دَ اجتهاد دارو مدار هم په نصوصودَقرآن اوسنت وى، نوهغه هم په يوحيثيت سره دَ الله ﷻ حكم دې، نودَائمه مجتهدينواجتهاد هم په دې حيثيت سره په احكامِ الهيه كښې داخل دې، نودَدې وجهې نه علما فرمائي چه عام سړې چې دَقرآن اودَسنت دَفهم صلاحيت نه لرى، نو دَ هغه په حق كښې دَمفتى اودَخيرالقرون دَ زمانې دَمجتهدتقليداوفيصله حكم شرعى دې، په دومره قدرې حقيقت باندې پوهه كيدوسره دَتقليددَمنكرينواودَهغوئ دَضداوتعصب دَمرض دَ ازالې دَپاره ډيره لويه شفاءده،داسې مضمون په تفصيل سره دَسورة نساء آيت(فان تنازعتم فى شئ فردوه الى الله ورسوله)كښې تيرشويدې.

﴿فَاطِرُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ﴾دا متعلق دې دَ﴿لَهُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ﴾ سره، عام مفسرينو په نيز د((العزيز الحكيم)) بيان دې يعني دَ زمكې او اسمانونه پيدا كول ،انسانان اوځاروى جوړه جوړه پيدا كول اوجوړو نه د دوئ نسل خورول دَ الله ﷻ د قوت او حكمت مظاهر دى،او د حضرت حسين علي رحمه الله په نيز د ﴿يَذْرَؤُكُمْ﴾بيان دې،يعني ده دې خبرې وحى شوې وه چې اسمانونه او زمكې ،انسانان او ځارو جوړه جوړه پيدا كولو او بيا پدې طريقې سره دنيا كښې د هغوئ نسل خورولو والا ذات صرف الله ﷻ دې ، نو كارساز او اله هم هغه دې ، نو دَ مضمون په اعتبارسره دَ ﴿يَذْرَؤُكُمْ﴾ دَ پاره مفعول به دې،

﴿وَمِنَ الْأَنْعَامِ أَزْوَاجًا﴾يعنى په ځاروكښې ئې جوړى جوړى پيدا كړيدى،مرادورنه هغه اته(۸) قسمه دى چه په سورة انعام كښې ذكردى،

﴿يَذۡرَؤُكُمۡ فِيهِۚ﴾ ضمیر په "فيه" کښې راجع دی "جعل" ته، چه مفهوم دې دَجعل لکم من انفسکم نه، او "في" پمعنی د "باء" سببیه سره دې، یعني الله تعالی دا زوجیت سبب دَنسل او دَ خورولو ستاسو، گرځولې دې (ابن کثیر).

﴿لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞۖ﴾ دابل صفت دې دَالله ﷻ چه الله ﷻ په تصرفاتو مذکوره وُکښې پشان دَ مخلوق اسبابوته محتاج نه دې، اوپه ذات اوپه صفاتوکښې ورسره څوک مماثل نشته، پدې آیت کښې دَالله ﷻ نه دَمماثلت نفی مبالغةً شویده په دوؤ وجهوسره:

یو دا چې دَ مثل لفظ دَ مشابهت دَپاره استعمالیدو ټولو الفاظونه عام دې، ځکه چه "ند" **مشارک فی الجوهر** یعني ذات کښې شریک ته ویلی کیږی او "شبه" **مشارک فی الکیفیة** یعني صفاتو کښې شریک ته ویلې کیږی او "**مساوی**" **مشابه فی الکمیة** یعني مقدار کښې برابروالی ته ویلې کیږی او "**شکل**" **مشارک فی القدر و المساحة** ته ویلې شی او "**مثل**" **عام دې** دَدې ټولودپاره استعمالیږی، نو مطلب دا دې چه دَالله تعالی هیڅ مماثل نشته دی، نه ذاتاً اونه صفتاً اگرچه مخلوق سره په بعضو صفاتو کښې صرف لفظی اشتراک دې (مفردات القرآن).

دویم دا چه دلته کاف حرف جر زائد دې دپاره د تاکید. اودا په کلام د نفي تکرار فائده ورکوي، نو گویا داسې شو چې دلته دوه ځله د حکم نفي شوې وي (التحریر والتنویر)

او بعض مفسرینو دا هم وئیلي دي چې ﴿لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞۖ﴾ دَ (مثلک لایبخل) دَقبیلې نه دې، اودا دَ مبالغې دَپاره استعمالیږی، نو داپه شان دَلیس کالله شئ دې، خوفرق صرف دادې چه دلته دَمماثلت نفی په طریقې دَمبالغې سره شویده،

البته دلته اشکال دی چه دلته کاف اودَمثل جمع راغلی ده نوداخونفی دَمماثل المماثل راغله، (یعنی دَالله تعالی دَمثل مثل نشته دی) اونفی دَمماثل رانغله، حالانکه مقصودنفی دَمماثل ده؟

جواب دادې چه په کلام عرب کښې داسې ډیرتعبیرات واقع دی چه په هغې کښې غور اوکړیشی نوداترینه معلومیږی چه واقعةً دې کښې نفی دَمماثل المماثل ده، اوهرچه مماثل دې نودَهغه وجودفقط دَمفروض په درجه کښې دې. اودَ دې نه دانه لازمیږی چه حقیقةً دې مماثل وجودهم وی.

اوکه څوک سوال اوکړی چه دَمماثل ثبوت په فرض درجې ته څه ضرورت وؤ؟ نوجواب دادی چه کلام کښې مبالغه راوړودپاره لکه شاعروائی:

ليس كمثل الفتى زُهير خلق يوازيه في الفضائل

دلته پدی شعرکښ اول دَزهيردَپاره فرضادَيومماثل ثبوت اوشو .بيادَهغی مماثل مماثل نفی اوشوه، دَدی دَپاره چه دَزهيردَمماثل نفی مبالغةً اوشی يعنی دزهيرمماثل بالکل نشته دی، نودلته په آيت کښ هم پدی تعبيرسره نفی دَمماثل اوشوه مبالغةً چه دَالله تعالی مماثل بالکل نشته دی(والله اعلم).

تنبيه:پدی آيت کښ لکه څرنګه چه صريح رددی په مشبهؤاومجسمؤباندی چه دَالله تعالی دَ پاره استواعلی العرش،نزول،يد وغيره صفتونه بالکل دَمخلوق دَصفتونوپه شان ثابتوی او دَ تشبيه او دَ تجسيم قائل دی،نوهمدارنګه پدی آيت کښ دَموجوده زمانی په غيرمقلدينو باندې هم رد دې چې دَاستواء علی العرش،نزول،يد اوساق وغيره نه متعارفه اوحقيقی معنی مرادکوی څکه چه داهم تشبيه اوتجسيم دی.

دجمهورومحدثينواودَسلفوصالحينو مذهب په صفاتودَالله تعالی کښ دا دې چې نزول، استواء، يد وغيره ثبوت الله تعالی لره حق اوثابت دې کمايليق بشانه اوداتشريع ئی بالکل نه کوی چه حقيقی معنی مرادده يامجازی،کنائی معنی مرادده اوکه حقيقی ، او هم دا مقصد دې دَ قول دَامام مالک رحمه الله چه الاستواء معلوم ای معلوم اطلاقه علی الله،وکونه صفةً لله... دَ دی مضمون تفصيل اودَجمهورومحدثينواودَسلفومذهب په باره دَ متشابهاتو او صفاتو کښ،حضرت والدمحترم نوّرالله مرقده وبرّدمضجعه په اول جلد صفحه(۴۴۲)کښ دَ"اُخَرُ مُتَشَابِهَاتٌ" په تفسيرکښ کړيدې نورجوع ورته اوکړئ.﴿وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ﴾رد دې په جهميؤ باندې چه اهل تعطيل دی.

﴿لَهُ مَقَالِيدُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ﴾داهم متعلق دی د﴿لَهُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ﴾ سره،عام مفسرين په نيز دَ«العزيز الحكيم» بيان دې او حضرت حسين علی رحمه الله په نيز دَ﴿يُوحِيْ﴾بيان دې،"مقاليد"کنجيانو ته وائی، دا لفظ عربی دې اوجمع دَ"مقليد"ده،او يا معرب دې او جمع دَ "اقليد" ده، چې معرب دې دَ کليد نه ،په فارسئ کښ کنجی ته وائی. يعنی دَتولوخزانو چابيانې صرف دَالله تعالیٰ په قبضه قدرت کښ دې، تولوذوی الارواحوته هم دې رزق ورکوی، چاته کم چاته زيات چاته نه ورکول دَخپل حکمت مطابق کوي.

شَرَعَ	لَكُم	مِّنَ	الدِّيْنِ	مَا	وَصّٰى	بِهٖ	نُوْحًا	وَّالَّذِيْٓ
مقرر کړې ئی	دي	ستاسو دپاره دين		هغه چه	وصيت ئی کړې وؤ	د هغې	نوح عليه السلام	ته او هغه

اَوْحَيْنَآ	اِلَيْكَ	وَمَا	وَصَّيْنَا	بِهٖٓ	اِبْرٰهِيْمَ	وَمُوْسٰى	وَعِيْسٰٓى
چه مونږ وحی کړیدی تا ته		او هغه چې وصيت کړې وؤ مونږ		د هغې	ابراهيم عليه السلام ته	او موسی عليه السلام ته	او عيسی عليه السلام ته

اَنْ	اَقِيْمُوا	الدِّيْنَ	وَلَا	تَتَفَرَّقُوْا	فِيْهِ	كَبُرَ	عَلَى	الْمُشْرِكِيْنَ مَا
چه کلک شئ په دين اسلام (توحيد) او جدا جدا مه کيږئ په دې دين کښې، گران دې په مشرکانو باندې هغه دين (توحيد)								

تَدْعُوْهُمْ	اِلَيْهِ ؕ	اَللّٰهُ	يَجْتَبِيْٓ	اِلَيْهِ	مَنْ	يَّشَآءُ	وَيَهْدِيْٓ	اِلَيْهِ	مَنْ يُّنِيْبُ ⑬
چه تاسو ئی ورته راغواړئ، الله جل جلاله راکاږی خان ته هغه خوک چه ئی اوغواړی او رسوی خان ته هغه خوک چه رجوع کوی									

﴿شَرَعَ لَكُم مِّنَ الدِّيْنِ﴾ دا اعاده ده د دعوې او د هغې تفصيل دې، چه د تمامو انبياؤو دين يو دې چه دا امر ورته شوې وؤ چې دين قائم کړئ، او په توحيد باندې متفق شئ، پدې کښې اختلاف مه کوئ، ﴿شَرَعَ﴾ په معنی د مقرر کولو او بيانولو سره دې، او په ﴿لَكُم﴾ کښې خطاب د نبی اکرم ﷺ اُمت ته دې، يعنی الله پاک ستاسو دپاره هغه دين مقرر کړيدې چه د کوم حکم ئی دې مذکوره اولو العزم انبياؤ ته کړې وؤ، ﴿مِّنَ الدِّيْنِ﴾ بيان مقدم دې او ﴿مَا وَصّٰى بِهٖ نُوْحًا﴾ مبين مؤخر دې ای شرع لکم ماوصّی به ای بالدين، او تخصيص د دې پنځه ؤ انبياؤ او شو، اګرچه هر نبی ته دغه مذکوره حکم شوې وؤ، ځکه چه دا پنځه اولو العزم انبياء دی لکه په سورة احزاب "واذاخذنامن النبيّن ميثاقهم ومنک ومن نوح وابراهيم..." آيت کښې ذکر شوی وؤ، او بله دا چه نوح عليه السلام هغه نبی دې چه بُت پرستی او شرک د ده وخت نه شروع شوې وؤ، او د ابراهيم عليه السلام ذکر ئی ځکه او کړو چه هغه ابو الانبياء دې، او د موسی عليه السلام او د عيسی عليه السلام ذکر ئی پدې وجه او کړو چه د نزول قرآن په زمانه کښې د دې دواړو مننونکی يهود او نصاریٰ موجود وؤ «روح» نو هغوئ ته توبيخ دې چه ستاسو انبياؤ ته خو هم د توحيد حکم شوې وؤ نو تاسو ولې شرک کوئ؟

﴿وَالَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ﴾ خطاب دې رسول ﷺ ته دی، او دا وحي نبي ﷺ ته د دې سورت په ابتدا کښې هم شويده او په نورو سورتونو کښې هم شويده. «روح»

فائده: دلته اسلوب ده کلام ماقبل او مابعد نه بدل دې :

(۱) يو داچې ماقبل او مابعد کښې وصيت لفظ راوړلې شوې دې، او دلته لفظ وحي راوړلې شوې دې، يوه نکته په ديکښې دا ده چه د دې مضمون نورو الفاظو سره مطابقت راشي ،لکه دې سورت په ابتدا کښې تير شو ، ((کذلک يوحي اليک...))او په سورة النحل کښې دي: ((ثم اوحينا اليک ان اتبع...)) بلکه دا چې مشرکينو باندې ردکښې تاکيد راشي چه نبي کريم ﷺ دالله تعالى نبى دې او الله تعالى وحي مطابق توحيد طرف ته دعوت ورکوى.

(۲) دويم داچه ماقبل او مابعد کښې اسم موصول "ما" راوړلې شوې دې ،او دلته ((الذي)) روارلې شويدې چه اصل الموصولات دې ،نو ديکښې اشاره ده دې طرف ته چه اصل او غوره مذهب الله تعالى ته اسلام دې اګرچې زمانې اعتبار سره تولو کښې ورستې دې.

(۳) ماقبل کښې صيغه د واحد ،او دلته صيغه د جمع راوړې شوه،ديکښې نبى ﷺ او د اسلام عظمت او شرف ته اشاره ده

﴿أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ﴾ "ان" يامصدريه يا مخففه من المثقله دې،بهر دواړو صورتونو کښې ان سره د ((اقيمو)) بدل دې د ((ما وصى)) نه،او دا هم کيديشي چې "ان" تفسيريه وي پمعنى د"اى" سره، تفسير کوى د﴿مَا وَصَّىٰ بِهِ﴾ (البحرالمحيط)

د"دين" نه مراداصول ددين دى، يعنى توحيد ، رسالت، بعث بعدالموت وغيره،اوقائم ساتلومطلب دادې چه دې احکاماتو باندې دوام اوکړئ اوترک کوئ ئې مه، اومه ورکښې څه تبديلي وتغيرکوئ.

﴿وَلَا تَتَفَرَّقُوا فِيهِ﴾ضميرد"فيه" راجع دې دين ته اى ولاتتفرقوا في الدين(روح) اومراد دتفريق نه دادې چه په څنو احکاماتو عمل اوکړي او کوم چې د خواهشاتو خلاف وي هغه پريګدي ، او دغه شان څنې کسان خو پرې ايمان راوړي او څنې نه ،او تفرقه بازي جوړه شي.

﴿كَبُرَ عَلَى الْمُشْرِكِينَ﴾ کبر په معنى عظم او اشتد دى،﴿مَا تَدْعُوهُمْ إِلَيْهِ﴾ اليه ها ضمير "ما"ته راجع دى او"ما" مصداق دين اسلام او د وحي اتباع دعوت دې،يعني مشرکينو ته ستا دعوت ډير عجيبه لګى او ډير سخت او ګرانورباندې تيريږى،او د ددې څو وجوهات دي:

(۱) الله تعالى نبى ﷺ ته رسالت منصب ولى ورکړيدې،بل چاله يې ولي نه ورکوو،لکه سورت الزخرف کښې دي. لولانزل القران علي رجل من القريتين عظيم

(۲)د دوئ خيال وو چه نبي ﷺ ته تيار کتاب ميلاويدل ضروري دى،او قران خو وقفه

وقفه سره نازليږي لكه سورت الاسرا كښې دي لن نؤمن لرقيك حتى تنزل علينا كتابا نقرأه او په سورت الفرقان كښې دى. لولا نزل هذ ا القران جملة واحدة

(۳) دريم سبب هغه احكامات وو چې هغه د دوئ خود ساخته عقائد خلاف وو. لكه توحيد شو، دې باره كښې به ئې وئيل: اجعل الالهة الها واحدا قيامت او بعث بعد الموت باره كښې به ئې وې: هل ننبكم اذا فرقتم كل ممزق انكم لفي خلق جديد بهر حال دا ټول هغه وجوهات وو چې دې وجهې به د دين او وحي دعوت دوئ ته عجيبه لګيدو او دې لا ركښې ركاوټونه پيدا كول.

﴿اللَّهُ يَجْتَبِيٓ إِلَيْهِ مَن يَشَآءُ وَيَهْدِيٓ إِلَيْهِ﴾ ديكښې نبي ﷺ ته تسلي ده چه دې هر قسم ركاوټونو باوجود الله ﷻ دې دين متبعين پيدا كوي، او چې چاله ئې خوخه شي دين طرف به ئې راخكي او هدايت به ورله وركړي. «يَجْتَبِيٓ» د اجتباء نه ماخوذ دې. اجتباء دلته بمعنى جلب او جذب يعني راخلو سرة دى، اجتباء او هدايت كښې مفسرينو څو فرقونه ذكر كړي دى:

(۱) اجتباء نه مراد غير ارادي او غير اختياري طور باندې ايمان توفيق وركول دى او هدايت كسبي دې، دې د پاره انابت شرط دې، يعني ځنې كسان به ايمان راوړل نه غواړى هغې باوجود به يې الله ﷻ دين طرف ته راولي، او ځنې كسان به لګياوى ايمان ته به لاره همواره وى، نو الله ﷻ به ورله ايمان توفيق وركړي.

(۲) اجتباء نه مراد تصديق بالقلب دې او هدايت نه عمل توفيق مراد دې.

(۳) اجتباء نه مراد پيدائشي مسلمان كيدل دى او هدايت نه مراد كفر نه بعد ايمان راوړلو توفيق وركول دى.

وَمَا تَفَرَّقُوٓا إِلَّا مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًۢا بَيْنَهُمْ
او اختلاف ندې كړې اهلِ كتابو مګر وروستو دهغې نه چه راغلې وو هغوئ ته علم دوجه دحسد نه په خپل مينځ كښې،
وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى لَّقُضِيَ
او كچرته نه وې خبره چه مخكښې ليكلې شويده درب ستانه دتاخير دعذاب تريوې نيټې مقررې پورې نو اوس به فيصله شوې وه
بَيْنَهُمْ وَإِنَّ الَّذِينَ أُورِثُوا الْكِتَٰبَ مِنۢ بَعْدِهِمْ لَفِى شَكٍّ
په مينځ ددوئ كښې، او بيشكه هغه كسان چه په ميراث كښې وركړې شويدې ورته كتاب، وروستو ددوئ خامخا په شك كښې دى

مِّنْهُ	مُرِيْبٍ ⑭	فَلِذٰلِكَ	فَادْعُ ۚ	وَاسْتَقِمْ	كَمَآ	اُمِرْتَ ۚ	

دَدې قرآن نه ډیرشک کښې نو هم دې طرف ته ، ته بار بار رابله اوقائم شه څنګه چه حکم کړې شویدی تاته،

وَلَا	تَتَّبِعْ	اَهْوَآءَهُمْ ۚ	وَقُلْ	اٰمَنْتُ	بِمَآ	اَنْزَلَ	اللّٰهُ

اومه کوه اتباع دَهغوئ مشرکانو دَخواهشاتو،اووایه چه ایمان راوړی دې ماپه هغی چه نازل کړې وی الله ﷻ

مِنْ	كِتٰبٍ ۚ	وَاُمِرْتُ	لِاَعْدِلَ	بَيْنَكُمْ ۚ	اَللّٰهُ	رَبُّنَا	وَرَبُّكُمْ ۚ

هرکتاب چه وی،اوماته حکم شویدی چه انصاف اوکړم ستاسوپه مینځ کښې،الله رب زمونږدی اورب ستاسودی،

لَنَآ	اَعْمَالُنَا	وَلَكُمْ	اَعْمَالُكُمْ ۚ لَا	حُجَّةَ	بَيْنَنَا

زمونږدپاره زمونږعملونه دی اوستاسودپاره ستاسوعملونه دی،نشته دی هیڅ جګړه په مینځ زمونږکښې

وَبَيْنَكُمْ ۚ	اَللّٰهُ	يَجْمَعُ	بَيْنَنَا ۚ	وَاِلَيْهِ	الْمَصِيْرُ ⑮	وَالَّذِيْنَ	يُحَآجُّوْنَ

اوپه مینځ ستاسوکښې،الله به جمع کوی مونږټول اوصرف هغه ته واپس کیدل دی،اوهغه کسان چه جګړه کوی

فِي اللّٰهِ	مِنْ	بَعْدِ	مَا	اسْتُجِيْبَ	لَهٗ	حُجَّتُهُمْ	دَاحِضَةٌ	عِنْدَ رَبِّهِمْ	وَعَلَيْهِمْ

په توحیددَالله کښې روستودَ دینه چه اومنلې شو حکم دَالله،دلیل ددوئ باطل دې په نزدرب دَدوئ اوپدوئ باندې

غَضَبٌ	وَّلَهُمْ	عَذَابٌ	شَدِيْدٌ ⑯	اَللّٰهُ	الَّذِيْٓ	اَنْزَلَ	الْكِتٰبَ	بِالْحَقِّ

غضب دی اودوئ دپاره عذاب سخت دی،الله تعالی هغه ذات دی چه نازل کړې ئی دی کتاب په حقه سره

وَالْمِيْزَانَ ۭ	وَمَا	يُدْرِيْكَ	لَعَلَّ	السَّاعَةَ	قَرِيْبٌ ⑰

اومیزان	هم	اوڅه	خبرئی	ته	چه	کیدیشی	قیامت	نزدی	وی.

﴿وَمَا تَفَرَّقُوْٓا﴾دادَسورت دویمه دعوه ده او د یوې شبه جواب دې چه په ماقبل باندې واردیږی، چه هرکله دَ تمامو انبیاؤ دین یووؤاوټول په مسئله توحیدباندې متفق وؤ،نوپه مخکښنی صحیفو اوکتابونوکښې دَ توحیدخلاف مضمون ولې لیکلې شویدې؟ حاصل دَ جواب دا دې چه بیشکه سابقه انبیاء ټول په توحیدمتفق وؤ، لیکن ورستوبعض دنیا پرستو،

باغیانو په کتب سابقو کښې تحریف اوکړو او دخپل طرف نه ئې پکښې دتوحید خلاف عبارتونه درج کړل،نودلته درې اموردي:(۱)اختلاف چا اوکړو؟ **جواب**:باغیانو او گمراه علماؤ،(۲)کله ئې اوکړو؟ **جواب**﴿مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلْعِلْمُ﴾ بعد دَ علم نه ئې اوکړو یعنی دیده ودانسته،(۳)ولې ئې اوکړو؟**جواب**: ﴿بَغْيًۢا بَيْنَهُمْ﴾دَضد اودَحسد دَوجه نه ئې اوکړو. **بیا شبه وه** چه پدې باغیانو باندې فوراً عذاب ولې رانه راغې،نو**جواب** اوشو چه﴿ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ ﴾چه کچرته ستارب دافیصله نه وه کړی چې دوئ ته به زر عذاب نه ورکوم نوعذاب به وریاندی راغلی وو،لیکن دَدوئ دَعذاب دَپاره یو وخت مقرردې چه وخت دَمرگ دې یاقیامت دې.

﴿وَإِنَّ ٱلَّذِينَ أُورِثُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ﴾یعني دنیا ترست او باغیانو علماء تحریفات ورستونو خلقو ته هم منتقل شو او دوئ هم توحید متعلق په شکوک وشبهاتو کښې پریوتل.«وَإِنَّ ٱلَّذِينَ أُورِثُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ» نه مراد نبي کریم ﷺزمانې یهود نصاری دی ،«بَعْدِهِمْ» ضمیر سابقه اهل کتابو ته راجع دې

﴿فَلِذَٰلِكَ فَٱدْعُ﴾دلته شپږ اموره په ماقبل شرع لکم من الدین باندی متفرع کیږی، یعني کله چې تاسو له الله ﷻ دین مقرر کړې دې ، او هغې باندې د قائم اوسیدلو حکم ئې درکړې دې او تفرقه بازي نه ئې پکښې منع کړې ده نو اوس دا دا کارونه اوکړئ ، ذا **اوله تفریع ده** ، یعني هر کله چه ټولو انبیاؤ وته د توحید وحي شوی وه نو ته هم دی طرف ته دری رابله.

«لذلک» کښې لام جاره کښې دوه احتماله دی: (۱) لا م اجلیه دې،دې صورت کښې مطلب به داسي وی :هر کله چه ټولو انبیاؤو ته وحي صرف د توحید شویده اوتفرق د دنیا پرست علماؤو نتیجه ده، نو د دې دجهې نه ته خلق توحیدته رابله.

(۲)لا م صله ده دَ«ادع» شي او«ذلک» ورله مدعو شی ،پدې صورت کښې به معني داسې ده : دی توحید طرف خلق رابله . بهر دوړو صورتونو کښې جار مجرور دپاره متعلق محذوف دې،او هغه "ادع" دې، او دَ«ادع» مذکور دَپاره متعلق (جار مجرور) محذوف دی چه هغه "لذلک" دې ، نو تقدیر عبارت داسې شو : فللذلک ادع فادع لذلک ، یعني باربار توحید طرف خلق رابله ،نو تکرار د معنې راغې بغیر د تکرار د لفظ نه.

﴿وَٱسْتَقِمْ كَمَآ أُمِرْتَ﴾دا **دویمه تفریع** ده، کله چه ټولو انبیاؤو ته وحي د توحید شوې ده نو ته پدی باندې داسې مستقیم اوسه څنګه چه ئې تا ته حکم شوې دې، ای واستقم استقامة

مثل الاستقامة التی امرتَ،مراد دَ دي نه ثابت والي دي په دعوت باندي،یعني تاته چه دکوم دعوت ورکولو حکم شویدي نوپه هغې باندي ثابت اودائم اوسیږه، دا الفاظ په سورة هود (۱۱۲) کښ هم تیر شویدی،هلته دَدې په تفسیرکښ دَاستقامت معنی اواهمیت باندی حضرت والد محترم رحمه الله تفصیل کړیدي هلته ئی اوګورئ.

﴿وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ﴾ دا دریمه تفریع ده، یعني کله چه ټولو انبیاؤ ته وحي د صرف توحید شوي ده ، نو ته د محرف احکاماتو اتباع مه کوه ځکه چه دا خواهشاتو باندی مبني دي. اهواء نه محرف احکامات دي، ځکه چې د واقعي احکامات نه دي ، بلکه د دوئ خواهشات دي.

﴿وَقُلْ آمَنتُ بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ﴾دا څلورمه تفریع ده، یعني کله چې ټولو انبیاؤو ته وحي صرف د توحید شویده او دینه برعکس احکامات د دنیا پرست علماؤو تحریفات دي، نو ته اعلان اوکړه چه څه ایمان راوړم د الله تعالیٰ نازل کړي کتابونه باندې ،دا محرف احکامات نشم منلې په(مِن كِتَابٍ)) کښ من دَاستغراق دَپاره دې،یعني ته دااعلان وکړه چه الله تعالی څومره اسمان کتابونه نازل کړیدی په هغوټولوباندې ځما ایمان دې،مراددایمان نه ایمان دې پدې چه دامنزل من الله دی،هرچه اتباع ده نو هغه منسوخه ده.

﴿وَأُمِرْتُ لِأَعْدِلَ بَيْنَكُمُ﴾ داپنځم امر متفرع دې ،یعني اصل احکامات د وحي دی،دینه برعکس احکامات تحریفات دی،نو لهذا ماته حکم شویدې چه تاسو مینځ کښ عدل اوکړم، او هغه دا چه وحي مطابق احکامات تاسو ته بیان کړم ،توحید درته بیان کړم ،شرک نه خو منع کړم ،او څومره تنازعات او فیصلې دی هغه دَقران په رڼرا کښ اوکړم ، نه دمحرف احکامات مطابق.

((الله ربنا وربکم))دا شپږم امر متفرع دې ، یعني کله چې توحید د الله تعالیٰ حق دین دې ، نو زه سر عام د الله تعالیٰ ربوبیت اعلان کوم. چې هغه زمونږه هم رب او کار ساز دې او ستاسو هم رب او کار ساز دې

﴿لَنَا أَعْمَالُنَا وَلَكُمْ أَعْمَالُكُمْ﴾یعنی که حق واضح کیدلو باوجود تاسو مذکوره خبرې نه منئ او د الله تعالیٰ د حکم تعمیل نه کوئ ، نو بیا خپل کار کوئ ، مونږ به خپل کار جاري ساتو او تاسو خپل کار جاري ساتئ ، ﴿لَا حُجَّةَ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ﴾ مراد دَ حجة نه بحث مباحثه ده،مراد دا

دي چه حق واضحه شوې دې .اوس دې نه ورستو که تاسو ایمان نه راوړئ ، نو عناداً به نه راوړئ ، بحث مباحثه ته ضرورت نشته دې، الله ﷻ به دمحشرپه میدان کښې مونږ ټول جمع کوی نو هغه به فیصله اوکړی

﴿وَالَّذِينَ يُحَاجُّونَ فِي اللَّهِ﴾ دا د يوې شبهې جواب دې .شبه دا ده چې دورستنو خلقو ګمراهي سبب هغه تعليمات او تحريرات دي، چه کومو کښې مخکښني خلقو تحريف او تبديلي کړيوه ، او د دې دوجهې نه دوئ په شرک کښې مبتلا شوې دي.نو پکار داچه د دوئ دا عذر او حجت اومنلې شی او عذاب ورته ورنکړې شي، الله ﷻ ترينه جواب کوي چه د دوئ دې حجت او عذر الله په نيز هيڅ اعتبار او وزن نشته ،ځکه چه څنګه اهل باطل او محرف احکامات موجود وؤ ، اهل حق هم موجود وؤ ،چې هغوئ توحيد او صحيح احکاماتو باندې عمل کولو ،داسې کسان اهل مکه کښې هم وؤاو په اهل کتابو کښې هم وؤ ،خو دوئ اتباع نه کوله بلکه بغض او عناد د وجهې نه دالله ﷻ توحيد په باره کښې حجت بازي او مناظرې کولې ،نوالله ﷻ به دوئ ته په دنيا کښې هم عذاب ورکوي او آخرت کښې هم.

﴿مِنْ بَعْدِ مَا اسْتُجِيبَ لَهُ﴾ اى من بعدمااسلم النّاس .له، ضمير الله تعالي ته راجع دې يعنى لکه څرنګه چه اهل باطل موجود وؤ او دوئ دهغوئ اتباع کوله، نودغه شان اهل حق هم موجود وواوتوحيدئى قبول کړې وو ، او دَ وجه دَ ظهور دَحجت نه الله تعالى ته منقادشوي وو ، نودوئ دَ هغوئ اتباع ولى نه کوله کقوله تعالى:اولم يكن آية ان يعلمه علماءُ بنى اسرائيل (شعراء: ١٩٧)

«وَالَّذِينَ» اسم موصول مبتدا اول دې «يُحَاجُّونَ فِي اللَّهِ» صله ده .«مِنْ بَعْدِ مَا اسْتُجِيبَ لَهُ» ورسره متعلق دى« حُجَّتُهُمْ » مبتدا ثاني ،«دَاحِضَةٌ » اى زائلةٌ باطلةٌ، ورله خبر دى دا پوره جمله خبر ده د مبتدا اول دپاره ،«وَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ » ديکښې اشاره دينوي عذاب ته ،«وَعَلَيْهِمْ » خبر مقدم او«غَضَبٌ » مبتدا مؤخر دى ،او جمله عطف ده په« حُجَّتُهُمْ دَاحِضَةٌ » باندى ،«وَلَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ» پديکښې اشاره ده اخروي عذاب ته ،او داهم عطف ده په حُجَّتُهُمْ دَاحِضَةٌ باندي

﴿اللَّهُ الَّذِي أَنْزَلَ الْكِتَابَ﴾ دا ده عذر نه قبليدلو دويمه وجه بيانيږي. دَالكتاب نه مراديا جنس كتاب دې ياورنه قرآن مراددې،يعنى الله تعالى داسې عظيم الشان كتاب نازل کړيدې چه په هغې کښې ئې مسئله دَتوحيداوحق ئې واضح اومدلل بيان کړيدې، نودوئ هغې طرف ته ولې توجه نه کوى چه په هغې پوهه شي اوتوحيد اومنى. ﴿بِالْحَقِّ﴾ يعنى متلبس دى په حق اولرى دې

دَ باطل نه ، اودې کتاب چه کومه مسئله بیان کړیده نو هغه حق ده، ﴿وَالْمِيزَانَ﴾ميزان نه یاآله معروفه مراد ده، اونسبت دَانزال ورته حقيقة دى ، يعنى الله ﷻ ميزان (تله،ترازو)پيدا کړيده چه په هغې سره دَ مادى اشياؤوزن(ثقل اوخفت)معلوميږى،نوچه دَمادى اشياؤدَپاره ئې ميزان پيدا کړې دې ، نوچه کومه اصل مسئله ده چه توحيداودينِ حق دې نودهغى دَپاره ئى خو ئې خامخا ميزان پيدا کړيدى چه هغه قرآن دې،نوچه ميزان(تله)موجوددې اوبياهم وربانديې دوئ خپل عقائداواعمال نه تلى، اوپه ګمراه خلقوپسى روان دى، نودوئ معذور نه دى، اوعذاب به ورته ورکولى کيږى. يا ميزان نه مراد شرع ده چې حقوق پرى وزن کيږى اوخلقومابين کښې تسويه کيږى، نونسبت دَانزال ورته مجازاً دې.

﴿وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّ السَّاعَةَ قَرِيبٌ﴾داتخويف اخروى دې،چه قيامت به ناګهانه راځي اوبيابه چاته مهلت نه ورکولى کيږى،نودَقيامت راتلونه مخکښې دَ خپلو اعمالو اواحوالو اصلاح اوکړئ،د قران او دَ دين په تله ئې اوتلې.

﴿قَرِيبٌ﴾ قريبةٌ نى اونه وې ځکه(١) "الساعة" په تاويل د "البعث" کښې دې ، او يا "اتيان الساعة" کښې دې . (٢) بې تکلفه قول د فراء ﷫ دې ، دې وائي چې قريب او بعيد چې کله نسب کښې استعماليږي، نو په دې صورت کښې ئې موصوف سره تذکير او تانيث کښې موافقت ضروري وي، خو کله چې ظرف زمان يا مکان په طور استعمال شې نو بيا ئې مطابقت ضروري نه دې ، لکه: وماهي من الظالمين ببعيد، و ما يدريک لعل الساعه تکون قريباً ،انّ رحمة الله قريبٌ من المحسنين.

يَسْتَعْجِلُ بِهَا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِهَا ۚ وَالَّذِينَ آمَنُوا مُشْفِقُونَ
زرغوارى قيامت هغه کسان چه ايمان نه راوړى وربانديې،اوهغه کسان چه ايمان ئى راوړيدى نوهغوئ يريدونکې دى
مِنْهَا ۙ وَيَعْلَمُونَ أَنَّهَا الْحَقُّ ۗ أَلَا إِنَّ الَّذِينَ يُمَارُونَ فِي السَّاعَةِ لَفِي
دَقيامت نه،اوپوهيږى چه قيامت حق دې،خبردار! بيشکه هغه کسان چه جګړه کوى په باره دَقيامت کښې خامخاپه
ضَلَالٍ بَعِيدٍ ⑱ اللَّهُ لَطِيفٌ بِعِبَادِهِ يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ ۖ وَهُوَ الْقَوِيُّ الْعَزِيزُ ⑲
ګمراهئ لرې کښې دى،الله مهربانه دى په خپلوبندګانو،رزق ورکوى چاته ئى چه خوښه شى،اوهغه طاقت والادى غالب دى

﴿ يَسْتَعْجِلُ بِهَا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ ﴾ زجر دې منکرينو دقيامت ته چه کله دوئ ته دقيامت باره کښې اوويلې شی، نو دوئ بطورِ استهزاء او تکذيب وائی چه دا قيامت به کله راځی زر دې راشی، ﴿ أَلَا إِنَّ الَّذِينَ يُمَارُونَ ﴾ يمارون دَ مُمارَاة نه مأخوذ دې، مخاصمه او جګړې ته وائی، يا دَ مرية نه ماخوذ دې، او مريه شک ته وائي يعنی کوم کسان چه دقيامت په واقع کيدو کښې شک کوی، نو دوئ دَسمې لارې نه ډيرلرې پراته دی، په نقصان کښې دي، اوچه کوم کسان ورباندې يقين کوی نو په هدايت او په فلاح کښې دی.

﴿ اللَّهُ لَطِيفٌ بِعِبَادِهِ ﴾ ددې ځائ نه دسورة اخرپورې پدې دعوؤباندې تنويرات ذکرکيږي. دا دَ اولې دعوې سره متعلق دې اوپه هغې تنويردې، چه الله تعالی په خپلو بندګانو باندې ډيرمهربان دې، دَمصلحت موافق چاته رزق فراخ ورکوی اوچاته کم، په هرڅيز باندې قادراوغالب دې سره دَتکذيبه اوانکاره دَهيڅ چاروزي نه بنده وي بلکه په نهايته نرمئ او لطيف تدبيرسره دَبندګانو تربيت کوي، نولهذا صرف دَهغه عبادت کوئ اوصرف دَهغه نه خپل حاجتونه غواړئ.

مَنْ كَانَ يُرِيدُ حَرْثَ الْآخِرَةِ نَزِدْ لَهُ فِي حَرْثِهِ ۖ وَمَنْ كَانَ يُرِيدُ حَرْثَ الدُّنْيَا
څوک چه غواړی فصل دآخرت مونږ به اضافه اوکروده لره په فصل دَده کښې، اوڅوک چه غواړې فصل دَدنيا
نُؤْتِهِ مِنْهَا وَمَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ مِنْ نَصِيبٍ ﴿٢٠﴾ أَمْ لَهُمْ شُرَكَاءُ
نو ور به کړومونږده ته ددُنيانه (څه حصه) اونه به وی ده لره په آخرت کښې هيڅ حصه، آياشته دی، دوئ لره شريکان
شَرَعُوا لَهُمْ مِنَ الدِّينِ مَا لَمْ يَأْذَنْ بِهِ اللَّهُ ۚ وَلَوْلَا كَلِمَةُ
چه مقررکړې ئې وی دوئ لره دَدين نه هغه چه ندې ورکړې اجازت دَهغې الله اوکه نه وې خبره
الْفَصْلِ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ۗ وَإِنَّ الظَّالِمِينَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٢١﴾
دَفيصلې کولو(دَتاخيردعذاب)نو اوس به فيصله شوې وی په مينځ دَدوئ کښې اوبيشکه ظالمان دوئ دپاره عذاب دردناک دی.

﴿ مَنْ كَانَ يُرِيدُ ﴾ پدې کښې ترغيب دې دآخرت اوتزهيدفی الدنيادی، چه قابل دَطلب صرف آخرت دې. نه دنياچه حسبِ تمنّانه نصيب کيږی، اودامقصدګرځول ذريعه ده د آخرت دَ

حرمان، ﴿حَرۡثَ ٱلۡأٓخِرَةِ﴾ حرث پہ لُغت کښې کسب کولو ته وائی.یُقال یحرث لاھله ویحترث ای : یکتسبُ، او اصل معنی ئی القاء البذرفی الارض.ده، یعنی په زمکه کښې تخم ریزی کول دلته دَ دې اطلاق بطوراِستعاره دَاعمالوپه ثمراتو اواجرونوباندې شویدې.ځکه چه حدیث کښې راځی "الدنیا مزرعة الاخرة" دنیا ده آخرت پټې دې،دې کښې د اعمالو ځنګه تخم اوکرلو، آخرت کښې به درته د هغې پیداوار میلاویږی. یعنی څوک چه په خپلوعملونواوکړکسب سره دَآخرت ثواب اراده کوی،اودآخرت دَجوړیدوفکرورسره وی،نو﴿نَزِدۡ لَهُۥ فِي حَرۡثِهِۦۖ﴾یعنی الله تعالٰی به ورته نیکی مضاعف کوی،دَیوې نیکی اجربه ورته دَلس ګنانه تر اوؤ سوو(۷۰۰)پورې بلکه ددی نه هم زیات ورکوی.کقوله تعالٰی:والله یضاعف لمن یشآء.

﴿وَمَن كَانَ يُرِيدُ حَرۡثَ ٱلدُّنۡيَا﴾یعنی دَچاچه مطمح نظراوهروخت ئی فکردَ دنیا وی. او دَآخرت دَ پاره هیڅ تدبیراوسعی نه کوی،مرادورنه په غفلت اوپه انکاردآخرت سره دنیاحاصلول دی. چه ظاهره ده چه دَداسې کس نه ایمان مفقود وی ، او دَآخرت کامیابی او برخه خو دَ مؤمنانو دَ پاره ده نوځکه داسې کس دَپاره به هیڅ حصه نه وی،په خلاف دَاهلِ ایمان نه چه کسب د معاش په حلال طورسره کوی، اودَخپل ځان اواهلِ عیال دَپرورش دَپاره کوی چه داضروری دې بقدر ضرورت ﴿نُؤۡتِهِۦ مِنۡهَا﴾ من دَتبعیض دَپاره دې،نومعنی داده چه ټول مطلوب به ورته نه ورکوؤ، بلکه څومره چه زمونږخوښه وی هغه به ورته ورکوؤ،قتادهرحمه الله وائی چه دَ﴿نُؤۡتِهِۦ مِنۡهَا﴾ معنی، نقدّر له ماقُسم له ده،یعنی دنیابه ورته بقدرقسمت اومشیت ملاویږی نه بقدر طلب، کقوله تعالٰی:من کان یریدالعاجلة عجّلناله فیهامانشآء(اسرا:۱۸). ﴿وَمَا لَهُۥ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِن نَّصِيبٍ﴾په آخرت کښې به ئی هیڅ حصه نه وی.

﴿أَمۡ لَهُمۡ شُرَكَٰٓؤُاْ شَرَعُواْ لَهُم مِّنَ ٱلدِّينِ﴾دادَویمې دعوې سره متعلق دې،چه حاصل ئی دادې چه شریعتِ حقه صرف هغه دې چه الله تعالی ئی ټولوانبیاؤته وحی کړیده،دَدې خلاف ئی هیڅ چاته دَخودساخته شریعت ایجاداواختراع اجازت نه دې ورکړې،په﴿أَمۡ لَهُمۡ شُرَكَٰٓؤُاْ﴾ کښې "ام" استفهامیه دې اواستفهام انکاری دې، نومطلب دادی چه دَاللهﷻ نه ماسوا داسې هیڅ څوک نشته دې چه دَمخلوق دَپاره دین مقرراومشروع کړی(البته دَتشریع اجازت شته دې)، یا "ام" منقطعه دې پمعنی دَ "بل" سره اواضراب دی دَماقبل قول،شرع لکم من الدین الخ،نه یعنی دَ

دوئ شرکاءچې شیاطین دي دوئ لپاره ئې دالله تعالی ددین خلاف بل دین مقررکړیدی چه الله تعالی ئې اجازت نه ورکوی ﴿مَا لَمْ يَأْذَنْ بِهِ اللَّهُ﴾لکه شرک اوانکاردبعث نه وغیره،حضرت تهانوی رحمه الله فرمائی چه پدې آیت کښ لکه څرنګه چه دشرک ابطال دې، نودغه رنګه د بدعاتو رَد هم دې، ځکه چه تمام بدعات خودساخته وی ، چه ثبوت ئې نه په قرآن نه په حدیث کښ وی، او نه په عمل دصحابه رضی الله عنهم کښ وی ، اونه په قیاس د مجتهدینوفقهاؤوکښ وی(چه دوئ تشریح کوی اوتشریع نه کوی) مثلاً د مرګ رسمونه لکه دریمه،څلوېښتمه،عروسونه وغیره کول ، ټول خود ساخته دی اوداهم دشرک په شان ددین خلاف یوبغاوت دې.

﴿وَلَوْلَا كَلِمَةُ الْفَصْلِ﴾د"کلمة الفصل"نه مرادحکم دفیصلې دې یعنی الله تعالی دافیصله کړیده چه اصل عذاب به ورته په قیامت کښ میلاویږی،ورنه﴿لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ﴾نودنیاکښ به ئې د مؤمنانو او کافرانو مینځ کښ فیصله کړی وه په ثواب اوعذاب سره﴿وَإِنَّ الظَّالِمِينَ﴾ مراد ورنه مشرکان دی.

تَرَى الظَّالِمِينَ مُشْفِقِينَ مِمَّا كَسَبُوا وَهُوَ وَاقِعٌ بِهِمْ

ته به وینې ظالمان یریږی به دوبال دهغې عملونو چه دوئ کړیدی،اودهغه (عذاب) به واقع کیدونکې وی پدوئ،

وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فِي رَوْضَاتِ الْجَنَّاتِ لَهُمْ

اوهغه کسان چه ایمان ئې راوړې دې اونیک عملونه ئې کړیدی په باغیچودجنتونوکښ به وی،وی به دوئ لره

مَا يَشَاءُونَ عِنْدَ رَبِّهِمْ ذَٰلِكَ هُوَ الْفَضْلُ الْكَبِيرُ ﴿٢٢﴾ ذَٰلِكَ الَّذِي يُبَشِّرُ اللَّهُ

هغه څه چه دوئ غواړې په نزد د رب د دوئ،دافضل دې لوئ،داثوب هغه دې چه زیرې ورکوی الله تعالی

عِبَادَهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ قُلْ لَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا

بندګانوخپلوته هغه بندګان چه ایمان ئې راوړیدې اونیک عملونه ئې کړیدی ووایه ته نه غواړم څه ستاسونه پدې تبلیغ مزدوری

إِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبَىٰ وَمَنْ يَقْتَرِفْ حَسَنَةً نَزِدْ لَهُ فِيهَا حُسْنًا

مګرداچه تاسودوستی اوکړئ ماسره دوجه دخپلولئ نه، اوڅوک چه اوکړی نیکی نوزیاتوومونږ هغه لره په هغې نیکئ کښ حُسن،

إِنَّ	اللَّهَ	غَفُورٌ	شَكُورٌ ⓐ
بیشکه	الله	بخونکي دی	قدردان دي.

﴿ تَرَى الظَّالِمِينَ مُشْفِقِينَ ﴾ دا تخويف اخروی دې مشرکانو ته . چې دنیاکښې دوئ کوم سیئات کسب کړیدی دقیامت په ورځ به دهغې دعذاب نه خوف کونکی وی. ﴿وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ ﴾دا ایمان اواعمال صالحه ؤوالاته بشارت اخروي دی،چی دوئ به په ډیربنه اوپاکوباغونودجنت کښې وي اوهرقسم راحتونه به ورته میسر وي،اودا په حقیقت کښې ډیرلوئ فضل دی.

﴿قُل لَّا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا ﴾دا د دعوت منلو ته ترغیب دې،یعني ای پیغمبره ته ورته اوایه چه ځما خبره اومنئ، او آخرت زندګي له په دنیا باندی ترجیح ورکړئ،ځکه چه ځما دعوت بې غرضه او بې لوثه دې ،څه ذاتي مفادات پکښې نشته ،نو دااندازِ دَ ترغیب ډیر مؤثر دې ،ځکه کوم دعوت او نصیحت باندې اجرت نه اخیستې کیږی،هغې اثر زیات وې .

﴿إِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبَىٰ ﴾ دَدې جملې مختلف معنې بیان شویدي:

(۱)المودة في القربى معنی دا ده چه څه خپل دعوت باندې ستاسو ته اجرت نه طلب کوم، خو دومره خبره ده چه ځما کومه خپلولي او رشته داري ده ستاسو سره،دهغې لګ خیال اوساتئ، او دهغې په بنیاد څل لګ رحمدلي او محبت ځماسره په زړونو کښې پیدا کړئ او ځما په لار کښې رکاوټ مه جوړه وئ. دې صورت کښې استثنا منقطع ده ،«الْمَوَدَّةَ» په معنی « تودّوني » سره دې،« فِي» سببیه دې، «الْقُرْبَىٰ»په معنی قرابت دې ،تقدیر به داسي شي:إلا أن تودوني لأجل قرابتي منكم، یعني سوائ دینه چه خپلولئ وجهي نه ځما سره محبت اوساتئ.

د آیت دا تفسیر دحضرت ابن عباس ﷛نه په بخاري شریف کښې منقول دې چې دوئ نه چا د دې جملې " إلا المودة في القربى "تفسیر تپوس اوکړو، خواه کښې ورسره سیعد بن جبیر ناست وؤ ،هغه سائل ته جواب ورکړه چه دینه آل محمد قرابت مراد دې ، نوابن عباس ورته او فرمائیل: چه تا جواب ورکولو کښې تیزي اوکړه، ددې تفسیر دا دې چه نبي ﷺ د قریش هر خاندان کښې رشته داري وه،نو دې وجه نه یې ورته او فرمائیل چه ځما او ستاسو مابین کښې ۲ کومه رشته ده ،د هغې لحاظ اوساتئ.

(۲) بعضِ مفسرینو د کلبی رحمه الله نه دابن عباس رضی الله عنه قول دَدې آیت په باره کښې داسې نقل کړیدې، چه مدینې ته دَراتلو نه بعد انصارو حضور ﷺ دَپاره څه مال او اسباب دَ امداد په طور دَ ورکولو اراده اوکړه، او حضور ﷺ ته ئې پیش کړو، نو حضور ﷺ قبول نه کړو او دا آیت نازل شو چې: قل لااسئلکم...، چه څه ستاسو نه هیڅ نه غواړم مګر څما اقاربو سره محبت ساتئ (چه فی الحقیقه دا اجر نه دې)، دې صورت کښې "القربی" په معنی دَ "اقارب" سره دې (تفسیر کبیر) لیکن دا روایت ضعیف دې او بل دا چه آیت مکی دې.

(۳) بعض حضرات دا مطلب بیان کړیدې چه څه په تبلیغ باندې هیڅ اجر نه غواړم بلکه څما مطالبه داده چه تاسو دین قبول کړئ او دَاطاعت او عمل صالح سره قربِ الٰهی حاصل کړئ، دې صورت القربی په معنی ده تقرب سره دې، اې: الاّ ان تودوا الی الله فیمایقربکم الیه من التوددِ الیه بالعمل الصالح (کبیر وغیره). بهر حال درې واړو صورتونو کښې مستثنی منقطع ده.

تنبیه: دَاهل بیتو او دَ اقاربو دَروحی فداه ﷺ سره محبت او تعظیم دَامت په هرهر فرد باندې لازم دې، او دَدوئ سره محبت کول درحقیقت دَحضور ﷺ سره محبت کول دی، دَدې وجه نه دا مسئله په اُمت کښې تردې وخته پورې اتفاقي مسئله ده، او چا هم پکښې اختلاف نه دې کړې، لیکن دې آیت سره دَاهل بیتو سره محبت کول دَ رسالت اجر (مزدوری) ګرځول دا په قرآن مجید کښې تحریف کول او دَ انبیاؤ په نبوت او ارتفاع شان باندې لویه حمله ده، لکه دَشیعه ګانو عقیده ده چه محبت اهل بیت اجرت رسالت دی (نعوذبالله) او دَآیت مطلب داسې بیانوی چه، الله تعالی خپل نبی ﷺ ته حکم کوی چه ته خلقوته اووایه، چه څه پخپل تعلیم او تبلیغ نور څه اجرت نه غواړم، بس صرف دا چه څما قرابت والاسره محبت کوئ او څما قرابت والا څلور دی:
(۱) فاطمه (۲) علی (۳) حسن (۴) حسین. (رضي الله عنهم)

داسې تفسیر کول دَروایاتِ صحیحه نه خلاف او دَ حضور ﷺ دَشانِ رفیع نه خلاف دی، لکه تفصیل سره ئې ذکر اوشو، والله اعلم وهو یهدي الی سواء السبیل.

﴿وَمَن يَقْتَرِفْ حَسَنَةً﴾ "اقتراف" اکتساب ته وائی، ای ومن یکتسب، پدیکښې تاکید دې په مودة فی القربی، کښې یعنی کم ازکم قرابت مطلوب دې، اوکه څوک دَدې نه زیاته نیکی اوخیګړه کوی نو الله ﷻ به ورته په هغې نیکئ کښې اضافه کوی.

﴿نَّزِدْ لَهُ فِيهَا حُسْنًا﴾ یعنی دَنیکئ په اجراوثواب کښې اضافه اوکړو، څکه پدې سره دَنیکئ

حُسن زياتيرى، يا مطلب دادې چه مزيد دَنيكو كارونو توفيق به ورته وركړو.

﴿اِنَّ اللّٰهَ غَفُوۡرٌ﴾ بخښونكې دې ذنوب دَعبادو لره، ﴿شَكُوۡرٌ﴾ قدردان دې چه دَلګ عمل به اجر كښې اضافه كوى.

اَمۡ يَقُوۡلُوۡنَ افۡتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا ۚ فَاِنۡ يَّشَاِ اللّٰهُ يَخۡتِمۡ عَلٰى قَلۡبِكَ ؕ

آياوائى دوئ چه دهٔ (محمد ﷺ) جوړكړيدى په الله باندې دَروغ، نو كه خوښه شى دَالله تعالى نومُهر به اولګوى په زړه ستا،

وَيَمۡحُ اللّٰهُ الۡبَاطِلَ وَيُحِقُّ الۡحَقَّ بِكَلِمٰتِهٖ ؕ اِنَّهٗ عَلِيۡمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوۡرِ ﴿٢٤﴾

اوورانوى الله باطل (دروغ) اوثابتوى حق (رشتيا) په خپلووعدوسره، بيشكه الله عالم دى په خبرودَسينوباندې،

وَهُوَ الَّذِىۡ يَقۡبَلُ التَّوۡبَةَ عَنۡ عِبَادِهٖ وَيَعۡفُوۡا عَنِ السَّيِّاٰتِ وَيَعۡلَمُ

اوالله تعالى هغه ذات دى چه قبلوى توبه دَبندګانوخپلونه اومعافى كوى دګناهونونه اوعالم دې

مَا تَفۡعَلُوۡنَ ﴿٢٥﴾ وَيَسۡتَجِيۡبُ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

په هغه څه چه تاسوئى كوئ، اودعاګانې قبلوى دَهغه كسانوچه ايمان ئى راوړې دې اوعملونه كوى نيک

وَيَزِيۡدُهُمۡ مِّنۡ فَضۡلِهٖ ؕ وَالۡكٰفِرُوۡنَ لَهُمۡ عَذَابٌ شَدِيۡدٌ ﴿٢٦﴾

اوزيات وركوى دوئ ته دَخپل فضل نه، اوكافران دَهغوئ دَپاره عذاب سخت دې،

﴿اَمۡ يَقُوۡلُوۡنَ افۡتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا﴾ دا شكوه ده چه مشركانو به عناداً وئيل چه حضور ﷺ په الله ﷻ باندې (نعوذبالله) افترىٰ كوى اوداقرآن دَخان نه جوړه وى ﴿فَاِنۡ يَّشَاِ اللّٰهُ﴾ جواب دَشكوې دې، دا شرط دې او ﴿يَخۡتِمۡ عَلٰى قَلۡبِكَ﴾ ئى جزا ده، نوپه ديكښې تسلې ده حضور ﷺ ته اوتصديق درسالت دې، حاصل ئى دادې چه داقرآن دَالله تعالى دَطرفه دې، كچرته داحضور ﷺ دَخان نه جوړكړې وې او په الله تعالى باندې ئى افتراې كړې وې، نو الله تعالى به ئى په زړه مهرلګولى وې نوپه زړه كښې به ئى مضمون دَقرآن نه وې راغلې اونه به ئى په ژبه الفاظ دَقرآن راغلې وې، كقوله تعالى ·ولو تقوّل علينابعض الاقاويل لاخذنامنه باليمين· قتادة رحمه الله دَ ﴿يَخۡتِمۡ عَلٰى قَلۡبِكَ﴾ معنى: يطبع على قلبك فينسيکَ القرآن، سره كوى (شربينى) يعنى داقرآن به درنه هيركړى، كقوله تعالى: ولئن

شئنا لنذهبنّ بالّذی اوحینا الیک(اسراء).

﴿وَيَمْحُ اللَّهُ الْبَاطِلَ﴾ داجمله مستانفه ده، پدې کښې تاکیددې دَمفهوم سابق،چه حضورﷺ افتراء نه ده کړې، ځکه چه عادت دَالله تعالی داسې جاری دې چه ابطال دَباطل او احقاق دَحق کوې نو کچرته دا قرآن باطل او افتراء وې، نو دا به ئی هم محو کړې وو.

یمح مرفوع دې او مجزوم نه دې چه عطف شی په﴿ يَخْتِمْ عَلَىٰ قَلْبِكَ﴾ باندې، چونکه واو دَ التقاء ساکنینو پو جه لفظاً ساقط شوېدې، نو تبعاً په کتابت کښې هم ساقط شوېدې(روح المعانی) کما فی قوله تعالی:ویدعُ الانسانُ بالشّرّ (اسراء: ١١) سندعُ الزّبانية(العلق:١٨)

حضرت شاه صاحب رحمه الله دَ﴿وَيَمْحُ اللَّهُ الْبَاطِلَ﴾عطف په﴿ يَخْتِمْ عَلَىٰ قَلْبِكَ﴾باندې کوی، چنانچه هغوئ آیت تفسیر داسی کوې: الله تعالی ولی پخپل ځان باندې افتراء پریدی«﴿فَإِن يَشَإِ اللَّهُ يَخْتِمْ عَلَىٰ قَلْبِكَ﴾» که اوغواړی په زړه به ئی مهر اولګوی نو مضمون به پکښې نه راځي«﴿وَيَمْحُ اللَّهُ الْبَاطِلَ﴾»او که اوغواړی نو کفر به محوا و ختم کړی بغیر دَارسال دَرسول نه،لیکن الله تعالی په خپلو کلماتو سره دین ثابتوی، نو پدې وجه نبیﷺ باندې وحی رالیږی﴿إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ﴾چه په سینو کښې څه دی په هغې عالم دې نو په حق او باطل باندې خو په طریقٓ اولی عالم دې.

﴿وَهُوَ الَّذِي يَقْبَلُ التَّوْبَةَ﴾دا آیت دَاولې دعوې سره متعلق دې،چه دصرف دَالله تعالی عبادت ځکه کوئ چه هغه داسې ذات دې چې دبندګانو توبه قبوله وی اګرچه دَشرک نه وی،او دَبندګانو په هرحالت باندې عالم دې، نو دَعبادت لائق هم صرف هغه دې.

توبه دیته وائی چه دَصادرشوی معصیت نه رجوع اوکړی او دَندامت اظهار اوکړی او دَ آئنده دَپاره دَنه کولو عزم وی،کچرته دا معصیت دَحقوق العباد سره متعلق وی، نو که صاحب حق ژوندې وی نو ورته دې واپس کړی، یا دې ورباندې معاف کړی،او که ژوندې نه وی نو ورثاء ته ئی حواله کړی،او که ورثاء نه وی موجود نو بیت المال ته دې ورکړی، کچرته افسر امانت دار او پرهیزګار وی، ورنه هغه مال دی دَصاحب حق طرف نه صدقه کړی او دُعا او استغفار دې ورته کوی(روح)نو دَدې نه معلومه شوه چه محض،توبه،توبه وئیل او معصیت نه پرېنخودل توبه نه ده بلکه مذاق او استهزاء ده.

تفاسیرو یوه قصه ذکر کړې ده چه یو اعرابی مسجد نبویﷺ ته راغې او په جلدئ جلدئ سره ئی،استغفرالله،استغفرالله،او وئیل نو حضرت علی رضی الله عنه را او غوښتلو او ورته ئی او وئیل چه

دَاستغفارداطريقه نه ده، دا خودَ منافقانوتوبه ده،نوهغه ورته عرض اوكړوچه ماته صحيح طريقه اوښايه، نوحضرت علىؓ اوفرمايل:چه دَريښتنى توبي دَپاره شپږ(۲)شرطونه دي.
يواعرابى زر زروئيل: اللّهمّ انّى استغفرك واتوبُ اليكَ،نوحضرت علىؓ ورته اوفرمائيل: داسى زر زرتوبه اوباسل دَ كاذبينو توبه ده،هغه ورته عرض اوكړو ،صحيح توبه څنګه وي،ده ورته اوفرمائيل:چه په هغى كښ شپږ(۲)خبرې وى:

(۱)تيرشوى ګناهونوباندى ندامت

(۲)چه كوم فرائض واجبات درنه پاتى وى دَهغى اعاده

(۳)دَ بل چامال واپس كول

(۴)معاف كول دَتكليف

(۵)عزم كول په عدم عودباندى

(۲)اوداچه ته به ويلى(كمزورى)كړې نفس خپل په طاعة دَاللهﷻ كښ ، لكه چه غټ كړې دې دې په معصيت كښ(كشاف)،

اودَيوبزرګ نه چاتپوس اوكړوچه دَتوبې دَقبليدوڅه علامت دې نوهغه اوفرمايل چه كله تاته ګناه رايادشى نوحلاوت نه وى بلكه ندامت وى(شربينى).

﴿وَيَعۡفُوا۟ عَنِ ٱلسَّيِّـَٔاتِ﴾پديكښ اشاره ده ديته چه بعضِ ګناهونه الله تعالى بغيردَتوبې نه هم معاف كوى يعنى كله په توبې سره ګناه معاف كړى اوكله بغيردَتوبى نه محض په خپل رحمت سره،﴿وَيَعۡلَمُ مَا تَفۡعَلُونَ﴾يعنى په هرخيراوشرباندې عالم دې، نوكله جزاء وركړى اوكله دګناه نه معافى اوكړى.

﴿وَيَسۡتَجِيبُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟﴾دابشارت دنيويه اواخرويه دې. "استجاب"او"اجاب"يوه معنى ده، اوپه كلام كښ مضاف مقدردې،اى ويجيبُ الله دُعاءَهم اذا دعوا،يعنى الله تعالى دَمؤمنانودعاګانى قبوله وى كله چې ورنه دعا غواړى،اويا"عبادَتهم" مقدردې،او"يستجيب"پمعنى دَ"يُثيب"سره دې، يعنى الله تعالى مؤمنانوته دَهغوئ په عبادت باندې ثواب وركوى،﴿وَيَزِيدُهُم مِّن فَضۡلِهِۦ﴾يعنى دَمطلوب نه ورته زيات وركوى،اودَعبادت دَاجراستحقاق نه زيات اجروركوى،﴿وَٱلۡكَـٰفِرُونَ لَهُمۡ عَذَابٌ شَدِيدٌ﴾كافرانوته تخويف اخروى دې په بدل دَمؤمنانو كښ دَاجابت اوتفضل نه.

وَلَوْ	بَسَطَ	اللَّهُ	الرِّزْقَ	لِعِبَادِهِ	لَبَغَوْا	فِي	الْأَرْضِ	وَلَٰكِن

اوکچرته فراخه کړي وي الله رزق بندګانوخپلودَپاره نوخامخابه سرکشی کړی وی دوئ په زمکه کښ،لیکن

يُنَزِّلُ	بِقَدَرٍ	مَّا	يَشَاءُ	إِنَّهُ	بِعِبَادِهِ	خَبِيرٌ	بَصِيرٌ ﴿٢٧﴾ وَهُوَ	الَّذِي

نازلوی الله رزق په هغه اندازه چه ئې خوښه شي،بیشکه هغه پخپلوبندګانوخبرداردي لیدونکي دي،اوالله هغه ذات دي

يُنَزِّلُ الْغَيْثَ مِن بَعْدِ مَا قَنَطُوا وَيَنشُرُ رَحْمَتَهُ ۚ وَهُوَ الْوَلِيُّ الْحَمِيدُ ﴿٢٨﴾

چه نازلوی باران ورستودَي نه چه نااُمیده شي،دوئ اوخوروی رحمت خپل،اوالله کارسازدی.ستائیلي شویدي

﴿وَلَوْ بَسَطَ اللَّهُ الرِّزْقَ لِعِبَادِهِ﴾ دادَسوال مقدرجواب دي چه په ماقبل باندي وارددي،چه هرکله چه الله ﷻ دَمؤمنانودعاګانی قبوله وی نومشاهده ده چه ډیرکرته دَرزق دَفراخی اودنیاوی مقصددَپاره یومؤمن دعاکوی لیکن نه قبلیږي؟ حاصل دَجواب دادي چه کله کله فراخی دَرزق اوخواهش پوره کیدل دَبغاوت اودَنافرمانۍ سبب اوګرځی،نوکچرته په یووخت کښ دَانسان دعاپه ظاهرکښ قبوله نشی نوپدیکښ دَالله ﷻ یوعظیم مصلحت وی،اودَروزۍ ورکولوئی ورسره وعده ده نودَمصلحت مطابق ئې ورته ورکوی.

﴿لَبَغَوْا فِي الْأَرْضِ﴾ بیان دَمصلحت دي،یعنی په یوبل به ظلم شروع کړی،حال دَقارون دَعبرت دپاره کافی دي،اوپه حدیث کښ دی:أَخْوَفُ مَا أَخَافُ عَلَيْكُمْ مَا يُخْرِجُ اللهُ لَكُمْ مِنْ زَهْرَةِ الدُّنْيَا(مسلم).او په بل روایت کښي دي : لو الله ما الفقر اخشی عليكم ولكن اخشى عليكم أن تبسط عليكم الدنيا كما بسطت على من قبلكم فتنافسوها كما تنافسوها وتهلككم كما أهلكتهم(بخاري)

بعضو دَ ﴿لَبَغَوْا فِي الْأَرْضِ﴾ معنی"لتكبروافيها"کړیده، یعنی تکبربه اوکړی اوتجاوزبه اوکړی دَشان دَ عبدیت نه . حضرت شفیق رحمه الله ددې آیت په تفسیرکښ فرمائی چه که الله ﷻ خپلو بندګانو ته بغیرد کسب نه رزق ورکړی، نودوئ به هرفرصت موندلوسره پخپل مینځ کښ فسادا وکړی.

﴿وَلَٰكِن يُنَزِّلُ بِقَدَرٍ مَّا يَشَاءُ﴾ یعنی دَحکمت مطابق چاته اوغواړی غنی جوړکړی اوڅوک فقیر،په حدیث قدسی کښ دی:انّ من عبادی من لواغنيته لافسده الفنیٰ وانّ من عبادِی من لوافقرته لافسده الفقر(ترمذی). ﴿إِنَّهُ بِعِبَادِهِ خَبِيرٌ بَصِيرٌ﴾ په پټ اوښکاره حالتونودَ بندګانو باندي عالم دي نو

دَ هريودَ شان مطابق ورته روزي ورکوي.

﴿وَهُوَ الَّذِي يُنَزِّلُ الْغَيْثَ﴾ دا دَاولي دعوې سره متعلق دي، اوپه توحيد باندې دليل عقلي دي، چه کله خلق دَباران نه نااميده شي اوقحط خطره وي، نوصرف الله ﷻ هغه ذات دي چه باران اووروئ اوخپل رحمت عام کړي، نوصفاتودَالوهيت مالک صرف هغه دي لهذاصرف دَهغه عبادت کوئ. "غيث" هغه باران ته وائي چه دَ سوکړې نه پس اووريږي. وسمّي الغيثُ غيثًالانّه يُغيثُ الخلق او مطرعام دي.

﴿مِنۢ بَعۡدِ مَا قَنَطُوا﴾ دا قيد دَپاره دَتذکيردکمال نعمت دي ﴿وَيَنشُرُ رَحۡمَتَهُ﴾ دلته تقدير دي "اى اثار رحمته" مراد ورنه برکات اومنافع دَباران دي چه قحط ختم شي، زمکه شنه شي، اوپه ونوکښې ميوې راشي، وغيرذلک ﴿وَهُوَ الْوَلِيُّ الْحَمِيدُ﴾ علت دي دَماقبل.

وَمِنۡ اٰيٰتِهٖ خَلۡقُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ وَمَا بَثَّ فِيۡهِمَا
اوبعضِ دَدلائلودَقدرت دالله نه پيداکول دَاسمانونواودَزمکې دي اوهغه چه خواره کړي ئي دي پدې دواړوکښې
مِنۡ دَآبَّةٍ ؕ وَهُوَ عَلٰى جَمۡعِهِمۡ اِذَا يَشَآءُ قَدِيۡرٌ ۞ وَمَآ اَصَابَكُمۡ مِّنۡ مُّصِيۡبَةٍ
هرقسمه جاندار، اوالله تعالى په جمع کولودَدوئ باندې چه کله اوغواړي قادردي، اوهغه چه اورسي تاسوته څه تکليف
فَبِمَا كَسَبَتۡ اَيۡدِيۡكُمۡ وَيَعۡفُوۡا عَنۡ كَثِيۡرٍ ۞ وَمَآ اَنۡتُمۡ
نوپه سبب دَهغې گناه دي چه کړې وي لاسونوستاسواوالله معافي کوي دَډيروگناهونو، اونه يئ تاسو
بِمُعۡجِزِيۡنَ فِى الۡاَرۡضِ ۖۚ وَمَا لَكُمۡ مِّنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ مِنۡ وَّلِىٍّ وَّلَا نَصِيۡرٍ ۞
عاجزه کونکي الله لره په زمکه کښې اونشته دې تاسولره دَالله تعالى نه ماسوئ هيڅ څوک دوست اونه مددګار،

﴿وَمِنۡ اٰيٰتِهٖ خَلۡقُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ﴾ دا بل دليلِ عقلي دي په توحيد، چه دَاسمانونو اودَزمکې اوپدې کښې چه څومره مخلوقات دي دَټولوپيداکونکي صرف الله تعالى دي، اودادې هم څوک نه ګڼړي چه دَدې دومره مخلوقاتوجمع کول به څنګه کيږي؟ دَدوئ جمع کول الله تعالى ته ډيرآسان دي، په دې ئي قدرت شته دي چه دَقيامت په ورځ به ټول يوځائ جمع کړي.

﴿وَمَا بَثَّ فِيۡهِمَا مِنۡ دَآبَّةٍ﴾ که څوک اشکال اوکړي چه په اسمانونوکښې خوملائک دي نوپه هغوئ

باندي دَ«مَلَٰٓئِكَةُ» اطلاق څنګه شویدي؟

جواب دا دي: ﴿۱﴾چه﴿ فِيهِمَا ﴾تغلیباً وئیلي شویدي لکه قمرین،ابوین،ومنه قوله تعالی:یخرج منهما اللؤلؤ والمرجان.

﴿۲﴾دابة مشتق دي دَ دبیب نه، دبیب حرکة ته وائی،نوملائک هم حرکة کوی نوځکه ورباندي اطلاق اوشو.

﴿ وَمَآ أَصَٰبَكُم مِّن مُّصِيبَةٖ ﴾جواب دَیوي شبهې دي چه هرکله الله تعالی حمید﴿خیرمحض﴾ دي، نوبیاخلق ولی په تکلیفونواومصائبو کښې مبتلاکوی؟ کله قحط وي،بارانونه نه وریږي ، کله بیمارایانې او نور تکلیفونه وي ؟ حاصل دَجواب دادي چه انسان ته چه تکلیف رسیږی نو دادَهغه دَخپلوعملونونتیجه وی. په﴿مِّن مُّصِيبَةٖ ﴾کښې عموم والی دَ مصیبت ته اشاره ده، مصیبت عام دي ورکې وی که غټ وی، خودګناهونوکفاره ګرځی،لکه په روایت کښې دی چه کله داآیت نازل شو نوحضورﷺ اوفرمایل:والّذی نفسی بیده مامن خدش عودٍ و لا اختلاج عرقٍ و لا نکبة حجر ولاعثرة قدمٍ الاّ بذنب و ما یعفوالله تعالی عنه اکثر﴿روح بحواله ابن المنذر﴾.

﴿ وَيَعۡفُواْ عَن كَثِيرٖ ﴾کثیر نه مراد ګناهونو هم کیدیشي او انسانان هم،ای کثیراًمن الذنوب، یا کثیراً من النّاس یعنی ډیرګناهونه خوالله تعالی هسی معاف کوی،

داخبره ذهن کښې ساتل پکار دی چه آیت کریمه مخصوص دی عامو ګناهګارانو مسلمانانو پوری، ځکه انبیاء کرام چی هغوئ ته هم مصائب رسی ، لکه حدیث کښې دي، اشد النّاس بلاءً الانبیاء ثم الامثل فالامثل،نودادَهغوئ رفع درجات لپاره.وي، اوهرچی ماشومان او لیونی دي، نو هغوئ هم داخل نه دی پدی خطاب کښې، ځکه چی مکلف نه دي،بعضِ وائی ماشومانو ته چه کوم تکلیف رسیږی نودَمورپلار دَرفع درجات سبب ګرځی.

حضرت علیؓ فرمائی چه داآیت "ارجیٰ آیة فی کتاب الله" دي، ډیر دَ طمع والا آیات دي، ځکه چه بعضِ ګناهونودَپاره مصائب کفاره شی،اوبعضِ ګناهونه الله تعالی محضِ په خپل مهربانئ سره معاف کړی نو "فمابقیٰ بعدکفارته وعفوهٖ هیڅ ګناه باقی نشو ،

فائده:دَبعضوعلماؤپه نیزمصائب دَ ګناهونو عقوبت اوجزا ګرځی پدی شان چی آخرت

کښې به پرې عذاب نه ورکولی کیږي، حضور ﷺ دَ دې آیت په تفسیر کښې حضرت علي رضي الله عنه ته فرمائي چې ای علي! دنیا کښې تاسو ته کوم مرض یا تکلیف ورسي نو دا ستاسو دَ عمل پوجه وي، او الله تعالیٰ دَ دینه مبرأ دی چې په آخرة کښې درته دوباره عقوبت درکړي او چې کوم ګناه الله تعالیٰ معاف کړي دنیا کښې نو بیا وربانډې سزا نه ورکوي.(ابن کثیر بحواله ابن ابي حاتم او مسند احمد)

بعض وائي مصائب جزا نه ګرځي ځکه چې دنیا دارالتکلیف دی او که جزا په کښې میلاوه شي نو دارالجزا به شي، نو مصائب به طور امتحان وي.

﴿وَمَآ أَنتُم بِمُعْجِزِينَ فِى ٱلْأَرْضِ﴾ یعنې تاسو الله تعالیٰ دَ دینه نشی عاجزه کولی چې مصائب دربانډې راولی اګرچه په زمکه کښې هر طرف ته اوتختئ، دَ مصیبت نه دَ بچ کیدو دَ پاره درې طریقې وي(۱) چه انسان په خپل قوت سره ځان بچ کړي، نو پدې جمله کښې ددې نفي اوشوه(۲) دَ ملګرې په ذریعه سره ځان بچ کړي(۳) څوک ئې مدد او کړي نو ددې دواړو نفي پدې سره اوشوه چه ﴿وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِىٍّ وَلَا نَصِيرٍ﴾.

وَمِنْ ءَايَٰتِهِ ٱلْجَوَارِ فِى ٱلْبَحْرِ كَٱلْأَعْلَٰمِ ﴿٣٢﴾ إِن يَشَأْ يُسْكِنِ
او بعض دَ دلائلو دَ قدرت دَ الله نه بیړۍ دي چلیدونکې په دریاب کښې په شان دَ غرونو، که چرې او غواړي الله نو او به دروی
ٱلرِّيحَ فَيَظْلَلْنَ رَوَاكِدَ عَلَىٰ ظَهْرِهِۦٓ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ ﴿٣٣﴾
هوا نو شی به ولاړې پاتې په مینځ دَ دریاب کښې، بیشکه پدیکښې خامخا دلائل دَ توحید دي دَ هر صبر کونکي شکر کونکي دَ پاره،
أَوْ يُوبِقْهُنَّ بِمَا كَسَبُوا۟ وَيَعْفُ عَن كَثِيرٍ ﴿٣٤﴾ وَيَعْلَمَ
یا به هلاکې ئې کړي په سبب دَ عملونو دَ دوئ او معافي اوکې ډیرو ته ، او پوهه شي
ٱلَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ فِىٓ ءَايَٰتِنَا مَا لَهُم مِّن مَّحِيصٍ ﴿٣٥﴾
هغه کسان چه جګړې کوي په آیاتونو زمونږ کښې، چه نشته دې دوئ لره هیڅ ځائې دَ خلاصیدو

﴿وَمِنْ ءَايَٰتِهِ ٱلْجَوَارِ فِى ٱلْبَحْرِ كَٱلْأَعْلَٰمِ﴾ دا بل دلیل عقلي دې په توحید او دَ دې په ضمن کښې تخویف دنیوی هم دې، یعنې دا دَ الله تعالیٰ دَ توحید او دَ قدرت دلیل دې چه په سمندرونو کښې دَ غرونو په شان لوئې لوئې کشتئ دَ هغه په حکم سره چلیږي، کچرته الله تعالی او غواړي نو هوا به اودروي

وی، نوکشتئ به هم اودریږی، یابه هواتیزه کړی نوخلق به پکښ ډوب شی،مقصود دَالله تعالی عظمت اوقدرت،او دَ خلقو دَ احتیاج بیان دې،نوپټرول یاګیس وغیره چه نن صبا وربانديې جهازونه اوګاړی چلیږی داهم الله تعالی پیداکړیدی اودَالله ﷻ په قبضه قدرت کښ دی «الْجَوَارِ» په اصل کښ "الجواری" دې ي تخفیفًاحذف شویده،اوداصفت دَموصوف محذوف دې ای السّفن الجواری.

﴿إِنَّ فِي ذَٰلِكَ﴾یعنی پدې مسخرکولواوچلیدلودکشتوپه سمندرکښ﴿لَآيَاتٍ﴾ډیرې نشانې او دلائل دَقدرت اوتوحید دی﴿لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ﴾کنایه ده دَمؤمن کامل نه،چونکه سمندري سفر د خطرې او د نفع په مینځ مینځ کښې وي ، یو طرف دجان هلاکیدو خطره وي ، بل طرف ته د نجات امید وي ، یو طرف ته د مال ډوبیدو په صورت کښې د نقصان خطره وي ، بلکه طرف د بچ کیدو په صورت د نفع امید وي، نو ځکه د بندهٔ مؤمن دا دوه صفتونه به طور خاص ذکر شو.

﴿أَوْ يُوبِقْهُنَّ﴾ای اهلُهُنَّ، "ایباق" هلاکت ته وائي ، او دلته ترینه مراد "اغراق" دې ، او دا عطف دې په «یسکن» باندې ، یعني که اوغواړي په خلقو به تیزه هوا راولي، او ځنې ډوب کړي دهغوئ د ګناهونو په سبب .﴿وَيَعْفُ عَن كَثِيرٍ﴾او ځنې بچ کړي په خپل فضل وکرم سره ، یعفُ یمعنی دَ ینج سره دې،مجزوم دې عطف دې په یوبق باندې .

بعضِ وائی چه "یعفُ"عطف دې په﴿يُسْكِنِ﴾باندې،ای وان یشایعفُ عن کثیرٍ،دی صورت کښ به دآیت مطلب داشي که الله تعالی خوخه شي ، نو داخلق به هلاک کړي یا هواګانوادرولو سره او یاپه تیز هواګانو چلو لو سره ،اوکه خوخه یي شي نو عفو ودرګزر به ترینه اوکړی.

﴿وَيَعْلَمَ الَّذِينَ يُجَادِلُونَ﴾ "واو"عاطفه دی،یعلم،منصوب دې عطف دې په تعلیل محذوف باندې ، ای لینتقم منهم ولیعلم الذّین... یعنی الله ﷻ به داکشتئ په مینځ دَدریاب کښ اودَروی یا به ئی غرقه کړی دَدې لپاره چی انتقام ورنه واخلی، نومشرکان به بیاپوهه شی چه مونږلره دَالله تعالی دَعذاب نه اوس خلاصي نشته دې، یاتقدیری عبارت داسی دی "لیظهرعظیم قدرته تعالی ویعلم الذین".

فَمَآ اُوْتِيْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ فَمَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ

پس هغه چه تاسوته درکړې شوی دی هرڅیزچه وی نوهغه معمولی نفع دژوندددنیاده،اوهغه څه چه دالله سره وی

خَيْرٌ وَّاَبْقٰى لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ﴿٣٦﴾ وَالَّذِيْنَ

ډیرغوره دی اوهمیشه دی دپاره دهغه کسانوچه ایمان ئی راوړې دې اوپه رب خپل باندې اعتمادکوی.اودا هغه کسان دی

يَجْتَنِبُوْنَ كَبٰٓئِرَ الْاِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ وَاِذَا مَا غَضِبُوْا هُمْ يَغْفِرُوْنَ ﴿٣٧﴾ وَالَّذِيْنَ

چه ځان ساتی دلویوګناهونونه اودبې حیایئ کارونونه،اوچه کله دوئ ته غصه ورشی نودوئ بخنه کوی اوهغه کسان

اسْتَجَابُوْا لِرَبِّهِمْ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ ۪ وَاَمْرُهُمْ شُوْرٰى بَيْنَهُمْ ۪

چه قبول کړې ئی دې حکم درب خپل اوپابندئ سره مونځونه کوی.اوکاردوئ په مشورې سره وی په مینځ ددوئ کښی

وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ﴿٣٨﴾ وَالَّذِيْنَ اِذَآ اَصَابَهُمُ الْبَغْيُ هُمْ يَنْتَصِرُوْنَ ﴿٣٩﴾

اودهغې مال نه چه مونږورته ورکړیدې خیرات کوی.اودا هغه کسان دی چه کله ورسیږی دوئ ته ظلم نودوئ صرف بدله اخلی.

وَجَزٰٓؤُا سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِّثْلُهَا ۚ فَمَنْ عَفَا وَاَصْلَحَ فَاَجْرُهٗ عَلَى اللّٰهِ ؕ

اوبدله دبدئ بدې ده په شان دهغې،نوڅوک چه عفوه اوکړی اوصلح اوکړې نواجردده په الله ﷻ دې،

اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٤٠﴾ وَلَمَنِ انْتَصَرَ بَعْدَ ظُلْمِهٖ فَاُولٰٓئِكَ مَا

بیشکه الله ﷻ نه خوښوی ظالمان.اوهغه څوک چه بدله واخلی ورستودظلم نه په هغه باندې،نودغه کسان نشته دې

عَلَيْهِمْ مِّنْ سَبِيْلٍ ﴿٤١﴾ اِنَّمَا السَّبِيْلُ عَلَى الَّذِيْنَ يَظْلِمُوْنَ النَّاسَ وَيَبْغُوْنَ

په دوئ باندې هیڅ ګناه. (بلکه) بیشکه ګناه په هغه کسانو ده چه ظلم کوی په خلقو او سرکشی کوی

فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ ؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٤٢﴾ وَلَمَنْ صَبَرَ وَغَفَرَ

په ناحقه سره ، دغه خلق دوئ دپاره عذاب دردناک دې ، او خامخا چا چه صبر اوکړو او معافی ئی اوکړه

إِنَّ	ذَٰلِكَ	لَمِنْ	عَزْمِ	الْأُمُورِ	۝٤٣
بيشكه	دا دَ		همت	كارونونه	دي

﴿فَمَا أُوتِيتُم مِّن شَيْءٍ﴾ دَتخويف نه ورستوترغيب دي ايمان اواعمال صالحه ته﴿فَمَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا﴾ حيات دنياسره دَمتاع لفظ دَذلت اوحقارت دَپاره دي، يعنې دَدنياچه څومره سازوسامان دي نوداديوڅوورځوتيرولواسباب دی چه ناقص اوفانی دی،نودَمطلوب اومقصود جوړه ولوقابل نه دی، اونه پدې فخركول پكاردی،اودَدې په مقابل كښې﴿وَمَا عِندَ اللَّهِ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰ﴾ايمان اودَعمل صالح ثواب اوجنت اودَهغې نعمتونه ابدی اوبهتردی،نومقصود اومطلوب ئې جوړكړئ چه دابه هغه چاته ملاويږی چه دا يو څو صفات پكښې موجودوی:

﴿لِلَّذِينَ آمَنُوا﴾خبردی دَمبتدامحذوف ای ذلك للّذين...،اول صفت دې چه شرك نه كوی صرف په الله تعالی ايمان راوړی.

﴿وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ﴾دويم صفت دې ، چې په هركاراوحال كښې په خپل رب بهروسه كوی بل چاته حاجت روا او كار ساز نه وائي

﴿وَالَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ كَبَائِرَ الْإِثْمِ﴾دريم صفت دې ، يعنې دكبيره ګناهونواودَبې حيايئ كارونونه ځان بچ ساتی، كبيره هغه دی چې وعيدپری راغلې وی ياهغه چې حدپری واجب وي،دكبيره ګناهونو تفصيل په سورة نساء كښې بيان شويدې هلته ئې ملاحظه كړئ،چاويلي دی چه﴿كَبَائِرَ الْإِثْمِ﴾ نه مراد اعتقادی ګناهونه دی چه دَقوت نظريه سره تعلق ساتی،او"فواحش" نه مراد هغه ګناهونه دی چه دَ قوت شهوانيه سره تعلق ساتی اودَهغې دَبې اعتدالئ نه پيداكيږئ، اوپه ﴿وَإِذَا مَا غَضِبُوا هُمْ يَغْفِرُونَ﴾ كښې هغه مراددی چه قوت غضبيه سره تعلق ساتی﴿هُمْ﴾مبتدادی او﴿يَغْفِرُونَ﴾ ئې خبر دې ، او دا څلورم صفت دې، چه كله دوئ په غصه كښې شی نومعافی كوی، دا مطلب نه دې چه غصه ورته نه ورځی ، ځكه غصه په خپل موقع اومحل كښې نه راتلل دليل دَحلم اودَ عفوې نه دې، بلكه دليل دَجُبن دې ، بلكه مطلب دادې چه كله بې محله غصه ورشی نو په مقتضائی عمل نه كوی بلكه خپل طبعيت په قابو كښې كړی.

﴿وَالَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِرَبِّهِمْ﴾پنځم صفت دې، استجابت نه مراددادې چه دَالله ﷻ دَطرف نه ورته كوم حكم اوشی نودَصميم القلب نه هغې ته منقاداوتابع داروی

﴿وَأَقَامُوا الصَّلَوٰةَ ﴾ شپږم صفت دې ،یعنی دَمونځ پابندی کوی، په احکاماتوکښ ټولونه اهم حکم دَمونځ دې نوځکه ئې مستقل ذکرکړو

﴿وَأَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ ﴾اووم صفت دې ،یعنی دَدوئ کارونه پخپل مابین کښ په مشورې سره وی، "شوری" مصدردې مبالغةً حمل شویدې،یاتقدیردَعبارت"ذوشوری"دې،مشوره کول په دینی یادنیاوی کارکښ سنت نبوی ﷺ دې او الله ﷻ ته محبوب عمل دې،دَټولونه لوئ اهمیت ئې دَدې نه ظاهردې چه دَمونځ،اودَزکوٰة سره ئې ذکرکړو.

﴿وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ ﴾اتم صفت دې ، یعنی دَخیرپه کارونوکښ انفاق کوی،پدیکښ زکوٰة، واجب اونفلی صدقات ټول شامل دی

﴿ وَالَّذِينَ إِذَا أَصَابَهُمُ الْبَغْيُ﴾ دا نهم صفت دې ، یعنی چه کله په دوئ باندې څوک ظلم اوکړی نو دوئ په بدله اغستلو کښ تجاوزاوزیاتې نه کوی،بلکه صرف بدله اخلی اودامطلب نه دې چه بدله اخلی او عفونه کوی، ځکه چه بیابه دَدې صفت اودَعفودَصفت په مابین کښ منافات راشی، چا ویلی دی چه عفوه"معافی کول" اوبدله اخستل "دواړه په خپل خپل موقع کښ محمود دی، نو عاجز اوهغه کس ته چه دَجرم معترف وی عفوه کول محموددی،اوهغه کس چه په خپل جرم اصرارکونکې وی،یادَدین اهانت وی نوبدله اخستل محموددی،خوداهم بقدرِجرم ځکه چه ﴿وَجَزَاءُ سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِّثْلُهَا ﴾یعنی دَسیئه جزاء دَهغی برابرسیئه کول دی،په جزاء دَسیئه باندې اطلاق دَسیِّئةٌ مشاکلةً شویدې ورنه جزاء(بدله اخستل)سیئه نه وی حقیقةً.﴿ فَمَنْ عَفَا وَأَصْلَحَ﴾ یعنی دَبدلې اغستلو اجازت شته دې لیکن معاف کول زیات بهتر دی، نو څوک عفو اوکړې او اصلاح روالي، نو اجر ئې د الله ﷻ په ذمه باندې دې،﴿إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الظَّالِمِينَ ﴾ای المتجاوزین الحد في الانتقام(روح المعانی).

﴿ وَلَمَنِ انتَصَرَ بَعْدَ ظُلْمِهِ ﴾دادَمخکنی آیت دَمضمون تنویردې،یعنی که مظلوم دَظالم نه بدله اخلی نوپه هغه څه عقاب اوملامتی نشته دې﴿ظُلْمِهِ﴾مصدرمبنی للمفعول دې ای بعدماظُلم،

﴿إِنَّمَا السَّبِيلُ عَلَى الَّذِينَ يَظْلِمُونَ ﴾بلکه عقاب اوملامتی په هغه خلقوده چه ظلم کوی،یاابتداءً ظلم کونکی وی یاپه بدله اغستلوکښ حدِاستحقاق نه تجاوزکوی اوتکبرکونکی اوفساد کونکی وی

﴿وَلَمَن صَبَرَ وَغَفَرَ﴾ په دیکښې دَصبراو دعفوی دوباره ترغیب دې. دَاهتمام شان دَوجه نه ﴿ لَمِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ﴾ اضافت دَصفت دې موصوف ته او مصدر په معنی دَمفعول سره دی، ای الامور المعزومة علیها، یعنی صبر دَهغه امورونه دې چه دَهغې پوخ قصد کول پکاردی، صبرتلخ است ولیکن برشیرین دارد.

وَمَنْ يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِنْ وَلِيٍّ مِنْ بَعْدِهِ ۗ وَتَرَى الظَّالِمِينَ
اوهغه څوک چه ګمراه ئې کړی الله نونیشته دې هغه لره هیڅ دوست وروستودَالله ﷻ نه، اووینې به ته ظالمانولره،
لَمَّا رَأَوُا الْعَذَابَ يَقُولُونَ هَلْ إِلَىٰ مَرَدٍّ مِنْ سَبِيلٍ ۝ وَتَرَاهُمْ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا
مرکله چه اووینې دوئ عذاب وائي به آیاشته دې دَواپسئ څه لاره. اووینې به ته دوئ چه پیش کولې به شی جهنم باندې
خَاشِعِينَ مِنَ الذُّلِّ يَنْظُرُونَ مِنْ طَرْفٍ خَفِيٍّ ۗ وَقَالَ الَّذِينَ
سرونه به ئې خکته کړی وی دَوجه دَذلت نه، ګوری به جهنم ته په پټ نظرکولوسره، اووائې به هغه کسان
آمَنُوا إِنَّ الْخَاسِرِينَ الَّذِينَ خَسِرُوا أَنْفُسَهُمْ وَأَهْلِيهِمْ
چه ایمان ئې راوړې دې چه بیشکه تاوانیاز هغه کسان دی چه تاوان کښې ئې اچولی دی خپل ځانونه، اوبال بچ خپل،
يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۗ أَلَا إِنَّ الظَّالِمِينَ فِي عَذَابٍ مُقِيمٍ ۝ وَمَا كَانَ لَهُمْ مِنْ أَوْلِيَاءَ
په ورځ دَقیامت، خبردار! بیشکه ظالمان(کافران) به په عذاب همیشه کښې وی، اونه به وی دوئ دپاره هیڅ مددګاران
يَنْصُرُونَهُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ ۗ وَمَنْ يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِنْ سَبِيلٍ ۝
چه مددئې وکړی ماسوادَالله ﷻ نه اوهغه څوک چه ګمراه ئې کړی الله ﷻ نونیشته دې هغه لره هیڅ لار(دَهدایت).

﴿وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ﴾ دا دَدویمې دعوې "ومالفرقوا الامن بعد..... " سره متعلق دی، چه هرهغه کس چه ضداوعنادوجه نه ئې الله تعالی ګمراه کړی، اودَباغیانوتحریفات اوګوری، اوپه شرک کښې مبتلاشی ، نو بیاهغه ته څوک هدایت نشی ورکولې ﴿مِّنۢ بَعْدِهِۦ﴾ ضمیرالله ﷻ ته راجع دې په

حذف دمضاف سره ای من بعد خذلان الله،یا راجع دی ضلال ته﴿ وَتَرَى الظّٰلِمِيْنَ ﴾تخویف اخروی دي، دَظالمين نه مرادکافران دی،لقوله تعالى(والکافرون هم الظّالمون)او'لَمّا' په معنی دَ'حین'سره دي ای حین یرون العذاب،مرادورنه یاوخت دَمرګ دي یاجهنم دي.یعنی کافران چه دَعذاب مشاهده اوکړی نوبیابه درخواست کوی چه آیادنیاته دَواپس کیدلوڅه لاره اوذریعه شته دي چه مونږلاړشو اونیک عمل اوکړو.

﴿خٰشِعِيْنَ مِنَ الذُّلِّ﴾'من'سببیه دي،ای بسبب الذل یعنی دذلت دَوجه به ئی سرونه خکته کړی وی، ﴿طَرْفٍ خَفِيٍّ﴾نه مرادپټ نظراوپه غلاغلا کتل دی،یعنی دوئ به جهنم ته نبکاره اوپوخ نظرنشی کولی دَوجه دَهیبت اورُعب نه،'من'پمعنی دَ'باء' سره دي ای بطرف خفي.

﴿وَقَالَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّ الْخٰسِرِيْنَ﴾یعنی مؤمنان به اووائی چه په دنیاکښ دوئ مونږه بی وقوفه او په خسارې کښ مبتلاګنړلو،لیکن نن معلومه شوه چه دراصل په خساره کښ هغه دی چه په آخرت کښ په خساره کښ دی﴿خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ﴾په شرک،معاصیوسره ئی ځان په خساره کښ کړو، ﴿وَاَهْلِيْهِمْ﴾خسران دَاهل تابع کول دی دَخپل ځان په کفراوشرک کښ اودَغه شان خپل اهل دَدینی تعلیماتونه محرومه کول لوئ خسران دي، ﴿اَلَآ اِنَّ الظّٰلِمِيْنَ﴾مرادورنه کافران دی په قرینی دَمابعدسره چه﴿فِيْ عَذَابٍ مُّقِيْمٍ﴾ای دائم.

﴿وَمَا كَانَ لَهُمْ مِّنْ اَوْلِيَآءَ﴾ یعنی مشرکانولره به دَجهنم دَعذاب نه هیڅ بچ کونکی نه وی.

اِسْتَجِيْبُوْا لِرَبِّكُمْ مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ يَوْمٌ لَّا مَرَدَّ لَهٗ مِنَ اللّٰهِ
اومنئ حکمونه دَرب خپل مخکښ دَدې نه چه راشی هغه ورځ چه نه وی ممکن دَهغې واپس کیدل،دَالله جل جلاله،
مَا لَكُمْ مِّنْ مَّلْجَاٍ يَّوْمَئِذٍ وَّمَا لَكُمْ مِّنْ نَّكِيْرٍ ﴿٤٧﴾ فَاِنْ اَعْرَضُوْا
نه به وی تاسولره هیڅ ځائ دَپناه پدغه ورځ اونه به وی تاسولره هیڅ انکارنافع.نوکچرته دوئ اعراض کوی
فَمَآ اَرْسَلْنٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا ؕ اِنْ عَلَيْكَ اِلَّا الْبَلٰغُ ؕ وَاِنَّآ اِذَآ اَذَقْنَا
نونه ئی لیږلې مونږته پدوئ باندې ذمه وار،ندی ستاپه ذمه مګررسول دی،اوبیشکه مونږه چه کله اوڅکوؤ

الْإِنْسَانَ	مِنَّا	رَحْمَةً	فَرِحَ	بِهَا	وَإِنْ	تُصِبْهُمْ	سَيِّئَةٌ
په انسان باندې دخپل طرف نه څه رحمت نودې خوشحاله(تکبراوکړي)په هغې.اوکه ورسيږي دوئ ته څه تکليف							
بِمَا	قَدَّمَتْ	أَيْدِيهِمْ	فَإِنَّ	الْإِنْسَانَ	كَفُورٌ ۞		
پوجه	دهغې	عملونوچه	مخکښې	ليږلي	دی	لاسونودوئ،نوبيشکه انسان	ناشکره دې

﴿اسْتَجِيبُوا لِرَبِّكُمْ﴾داهم ددويمې دعوې سره متعلق دې، اوډماقبل ثمره ده اوتخويف اخروی هم دې، يعني کله چه دا ثابت شوه چې توحيد نه خلاف احکامات د باغيانو کارنامه ده اوتحريفات دی،نو هغه قابل قبول نشو،لهذا تاسو ده وحې اتباع اوکړې، او توحيد قائل شئ، ورنه داسې ورځ دربان‍دې راوانه ده چه هغې نه واپس کيدل نشته او نه بچ کيدل شته.

﴿اسْتَجِيبُوا﴾ پمعنی د"اجيبوا"سره دې، ای اجيبوه الی مادعاکم اليه من الايمان والطاعة(قرطبي)
يعنی دخپل رب حکم اومنئ اوايمان راوړئ. ﴿يَوْمٌ﴾نه مراددياورځ دمرګ ده،ياورځ دقيامت« مِنَ اللَّهِ» جار ومجرور يا په ﴿يَأْتِيَ﴾ پورې متعلق دې،ای ان يأتی من الله يومٌ لايمکن ردّه،ياپه﴿ لَا مَرَدَّ لَهُ ﴾ پوری متعلق دې،يعنی داسې ورځ چه الله تعالی به ئی نه واپس کوی،ای لايرده الله تعالی بعدماحکم به(روح المعانی). ﴿مِنْ نَكِيرٍ﴾ مصدردې د "انکر، ينکر" خلاف قياس ، او مراد ترينه انکارنافع،يعنی د داسې انکارګنجائش به نه وی چه فائده ورته ورکړی، اګر چه نفس انکار د دوئ ثابت دې چې «والله ربنا ما کنامشرکين»، مجاهد رحمه الله ئی معنی کړيده چه مالکم من ناصرٍ ينصرکم،يعنی ستاسو امداد والابه څوک نه وی چه ستاسو امداد اوکړی، بعضُ ئی معنی پټيدل کړيده،يعنی تاسوبه دالله ﷻ دعذاب نه نشئ پټې دې.

﴿فَإِنْ أَعْرَضُوا﴾زجردې مشرکانوته اوتسلی ده نبی اکرم ﷺ ته،چې ته د دوئ په اعراض مه خفه کيږه ، ځکه چې دوئ رب نه هم اعراض کوي ، باوجود دينه چې هغه ورته مختلف حالاتو بدلولو رابدلولو سره تنبيه کوي.﴿ وَإِنَّا إِذَا أَذَقْنَا الْإِنْسَانَ ﴾دانسان نه مرادجنس انسان دی،﴿ رَحْمَةً﴾ د رزق فراخ والې،صحت عافيت،کثرت داولادوغيره،﴿فَرِحَ بِهَا﴾ ای بطر لاجلها، د تکبر او د غرورااظهارکوی،﴿ وَإِنْ تُصِبْهُمْ ﴾کښې ضميردجمع راجع شو او حکم په اعتبار د اکثريت دې.﴿سَيِّئَةٌ﴾د مال کمی، بيماری، اولاد نه محرومی وغيره﴿إِنَّ الْإِنْسَانَ كَفُورٌ﴾ دير

ناشکره ، چه په وخت دَتکلیف کښ ټول نعمتونه هیر کړي،اوپه سبب دَتکلیف باندې فکرنه کوي چه داګناهونو دَوجی نه دي.

لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۗ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ۗ يَهَبُ لِمَنْ يَّشَآءُ
خاص الله لره ده بادشاهی دَاسمانونواودزمکې ،پیداکوی هغه څه چه اوئ غواړي،ورکوی چاته ئی چه خوښه شی
اِنَاثًا وَّيَهَبُ لِمَنْ يَّشَآءُ الذُّكُوْرَ ۝ اَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَّاِنَاثًا ۚ وَيَجْعَلُ
صرف لونړه اوورکوی چاته ئی چه خوښه شی صرف خامن،یاجوړه ورکوی ورته خامن اولونړه«دواړه»اوګرځوی
مَنْ يَّشَآءُ عَقِيْمًا ۚ اِنَّهٗ عَلِيْمٌ قَدِيْرٌ ۝
چاته ئی چه خوښه شی شنډ،بیشکه الله په هرڅه عالم قادردې

﴿لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ﴾داد لیل عقلی دې په توحید اودَاولې دعوې سره متعلق دې، حاصل ئی دادې چه تمام کائنات کښ تصرف کونکې اومختارصرف الله تعالی دې، دَهر څیز خالق دې،اولادورکول،نه ورکول،صرف نارینه اولادورکول،یاصرف جینکئ ورکول یادواړه ورکول دَهغه په مشیت اواختیارکښ دی،بل چاپه اختیارکښ نشته دې، نولهذاصرف دهغه عبادت کوئ اوخپل حاجتونه ورنه غواړئ.

﴿يَهَبُ لِمَنْ يَّشَآءُ﴾هبة: تبرع بالشئ مجاناً ته وائی،نوپدیکښ اشاره ده دیته چه دَانسان پیدا کیدل محض په قدرت دَالله تعالی سره کیږی،بل چاته پکښ دخل نشته دې،په آیتِ کریمه کښ چه کوم تقسیم دَاولادو شویدې، نو بعض مفسرینو دا تقسیم په انبیاؤ علیهم السلام کښ ذکر کړیدې، نو﴿اِنَاثًا﴾لکه لوط اوشعیب علیهما السّلام چه صرف جینکئ ئی وې ، نارینه اولاد ئی نه وؤ ،﴿وَيَهَبُ لِمَنْ يَّشَآءُ الذُّكُوْرَ﴾لکه ابراهیم علیه السلام چه اته«۸»خامن ئی وؤجینکئ ئی نه وې،﴿اَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَّاِنَاثًا﴾ بلکه خاتم النبیین ﷺ چه نارینه اولاد لې هم وؤ ،اوڅلورئی زنانه اولاد وؤ زینب، ام کلثوم،رقیه،فاطمه.

﴿وَيَجْعَلُ مَنْ يَّشَآءُ عَقِيْمًا﴾لکه حضرت یحیی علیه السلام اوعیسی علیه السلام، چه اولادئی نه وؤ،البته دَحضرت عیسی علیه السلام په باره کښ دی چه قرب قیامت ته به راکوزیږی، واده به کوی ، او اولاد به ئی هم وی،نوپه انبیاؤ علیهم السلام کښ تفاوت«چه مقربین بندګان دی»اختیار الله تعالی سره دې،

او د عامو خلقو اختيار خو په طريقه اولى الله تعالى سره دي﴿إِنَّهُ عَلِيمٌ﴾نو د تقسيم د اولادو په مصلحت اوحكمت باندې هم عالم دې﴿قَدِيرٌ﴾قدرت لرونكې دې په اسبابو د ذكورت او انوثت، نو خپل حكمت او اختيار سره تاسوته اولاددركوى.

وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَنْ يُكَلِّمَهُ اللَّهُ إِلَّا وَحْيًا أَوْ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ أَوْ يُرْسِلَ رَسُولًا

اوندى ممكن هيڅ انسان لره داچه خبرې وكړى ده سره الله مګرپه وحى ياورستودپردې نه يااوليږى فرشته

فَيُوحِيَ بِإِذْنِهِ مَا يَشَاءُ ۚ إِنَّهُ عَلِيٌّ حَكِيمٌ ﴿51﴾

نووحى ورته اوكړى په اجازت دالله ﷻ سره دهغه څه چه دالله ﷻ خوښه وى،بيشكه الله ﷻ لوئ شان والا،حكمتونه والادې

وَكَذَٰلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ رُوحًا مِنْ أَمْرِنَا ۚ مَا كُنْتَ تَدْرِي مَا الْكِتَابُ وَلَا الْإِيمَانُ

اودغه شان وحى كړيده مونږتاته دقرآن په حكم خپل سره،نه پيژندلو تا چه څه دې كتاب اونه ايمان

وَلَٰكِنْ جَعَلْنَاهُ نُورًا نَهْدِي بِهِ مَنْ نَشَاءُ

ليكن مونږ ګرځولې دې داقرآن رڼاچه هدايت كوومونږپيدې سره هغه چاته چه زمونږخوښه شى

مِنْ عِبَادِنَا ۚ وَإِنَّكَ لَتَهْدِي إِلَىٰ صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ ﴿52﴾ صِرَاطِ اللَّهِ الَّذِي لَهُ

دبندګانوخپلونه،اوبيشكه تداى پيغمبره؛خامخالاره ښانى خلقوته لار سمه،لاره دهغه الله ﷻ چه دهغه په قبضه كښ دى

مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۗ أَلَا إِلَى اللَّهِ تَصِيرُ الْأُمُورُ ﴿53﴾

څه چه په اسمانونوكښ دى اوڅه چه په زمكه كښ دى،خبردارا صرف الله ته ورګرځى ټول كارونه

﴿وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَنْ يُكَلِّمَهُ اللَّهُ﴾دا دليل نقلى دى په توحيد اود دويمې دعوې سره متعلق دې،چه الله تعالى تماموانبياؤته دوحى په ذريعه دتوحيدحكم كړيدې،نوددې خلاف چه دباغيانوكوم تحريفات دى هغه باطل اومردود دى،په آيت كريمه كښ د وحى درې قسمه بيان شويدى، مفسرينوددې آيت په تفسيركښ ليكلى دى چه يهوديانوحضورﷺ ته اوونيل چه كچرې ته برحق نبى ئې نوته الله تعالى سره بالمشافه خبرې ولى نه كوې اوته ولى الله تعالى نه وينې؟

لکه څرنګه چه حضرت موسی علیه السلام دَالله تعالی سره بالمشافه(مخامخ)خبرې کولی، او الله تعالی به ئی لیدلو،حضورﷺورته اوفرمایل چه انّ موسی لن یّنظر الیه (قرطبی ، روح وغیره) یعنی موسی علیه السلام الله تعالی نه دې لیدلې،نودَدې په تائید کښې دا آیت نازل شو﴿وَمَا كَانَ﴾ کله دَنفی دَامکان دَپاره وی لکه ماکان لکم ان تنبتوا شجرها، اوکله پمعنی دلاینبغی،لایناسبُ سره وی،دلته نفی دَامکان دَپاره دې،یعنی دَهیڅ یوبشردَپاره نه ده ممکنه، چه دَاللهﷻ سره کلام اوکړی مګرپه دَدې درې طریقوکښې:

(۱)﴿إِلَّا وَحْيًا﴾مرادورنه وحی قلبی ده، چه په حالت دَ بیدارئ کښې ورته الهام ویلې کیږی، لکه"واوحیناالی امّ موسیٰ"اوپه حالت دَخوب کښې ورته "رؤیاصادقه" ویلې کیږی،لکه ابراهیم علیه السلام خپل ځوی ته اووئیل"انی اریٰ فی المنام انّی اذبحک" یا په حدیث کښې دی"اوّل مابدئ به رسول اللهﷺ من الوحی الرؤیاالصالحة فی النوم.

(۲)﴿أَوْ مِن وَرَاءِ حِجَابٍ﴾یعنی بغیردَواسطې دَفرشتې نه،اودَالله تعالی کلام دَحجاب نورانی دَ ورستو نه وی،لکه موسی علیه السلام سره الله تعالی مشافهة کلام نه وؤکړې، بلکه من وراء حجاب وؤ، دَحجاب(پردی)نه مرادحجاب دَعظمت اوحجاب دَنوردې،چه دَمشاهدې دَتجلیاتونه بشر منع کوی، ذات دَالله تعالی محجوب نه دی،بلکه په روایت دَمسلم کښې دی،حجابُه النور لو کشفه لاحرقت سبحات وجهه ما انتهی الیه بصره من خلقه(حجاب دَالله تعالی نوردې ،کچرې الله تعالی هغه پرده لرې کړې نو دَ وجه کریم انوارات به منتهی ئی نظرپورې مخلوق اوسوزوی).

حضرت تهانوی رحمه الله فرمائی چه داحجاب څه جسم حائل نه دې، اونه داحجاب دَحق تعالی ذات مخفی کولی شی، بلکه حقیقت دَ دې دَ بشرضعف ادراک دې، چه دَدې په وجه دَ زیارت حق نه حجاب واقع کیږی،چنانچه په جنت کښې چه بصارت قوی شی نوهلته به هرجنتی ته زیارت نصیب کیږی(اللّٰهم ارزقنا)لکه په ډیروصحیح احادیثو کښې دې تصریح ده اودامذهب دَاهل سنت والجماعت دې.

(۳)﴿أَوْ يُرْسِلَ رَسُولًا﴾دَ"رسولاً"نه مرادجبرئیل امین علیه السلام دې،یعنی دریم قسم دادې چه په واسطې دَفرشتې سره وحی اوشی،دَوحې حقیقت اومعنی،اقسام اوبعضِ نوراهم اموردَدې تفسیرپه مقدمه کښې په تفصیل سره بیان شویدی هلته ئی ملاحظه کړئ.

﴿عَلِيٌّ﴾الله تعالى بلند شان والادې نو دَعلوّشان تقاضاداده چه هيڅ بشرورسره دَهمکلامئ طاقت نه لرى ﴿حَكِيمٌ﴾نو دخپل حکمت اومصلحت په بنيادئ دَبندګانو دَپاره دخپلې همکلامئ طريقې مقرر کړې دي.

﴿وَكَذَٰلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ﴾دادليلِ وحى طرف ته اشاره ده،اودَ﴿وَكَذَٰلِكَ﴾مشاراليه مذکوره درې طريقې دى،يعنى لکه څرنګه چه مونږه تيرشوى تماموانبياؤته په دغه طريقوسره وحى کوله، نودغه شان تاته هم کوؤ ﴿رُوحًا﴾نه مرادتوحيدياقرآن دې،قرآن ته روح ځکه اوويلې شوچه په دې سره دَزړونوحيات ابدى راځى،لکه په رُوح سره چه حيات دَبدن راځى،وسمّاه روحًالانّه يُفيدالحياة من موتِ الجهل اوالكفر(کبير)ياورنه مرادنبوت دې ياورنه جبرئيل عليه السلام مراددى او﴿أَوْحَيْنَا﴾ پمعنى دَ"ارسلنا"دې.

﴿مَا كُنتَ تَدْرِي مَا الْكِتَابُ﴾داماقبل دَپاره علت دې اوتکميل دې چه دَيهوديانومطالبه او سوال (کوم چه ذکرشو)محض جاهلانه اومعاندانه دې،ځکه تاته چه کوم کمالات ميلاؤ دى، نو دا قبل دَنبوت نه، نه وؤ ، نه دَقرآن علم او واقفيت،اونه دَايمان تفصيلات،نوچه تاته نبوت ميلاؤ شو ، نو دا کمالات هم درته ميلاؤ شو،نوداواضح دليل دې ستاپه نبوت باندې.

﴿مَا الْكِتَابُ﴾دکتاب نه مرادقرآن دې،﴿وَلَا الْإِيمَانُ﴾دَمطلق ايمان نفى نه ده،ځکه انبياء کرام عليهم السلام قبل دَنبوت نه هم دَشرک نه معصوم وى،بلکه: (۱)مرادتفصيلات دَايمان دى. (۲)بعضِ فرمائى چه مرادايمان نه مجموعه دَتصديق،اقراراواعمالوده،دَايمان اطلاق لکه څرنګه چې په مجردتصديق باندى کيږى، نودغه شان ئى په مجموعه باندى هم کيږى ، لکه"وماكان الله ليضيع ايمانكم"اى صلوٰتكم الى البيت المقدس(۳)بعضِ فرمائى چه کلام په حذف دَمضاف سره دى،تقديردارنګه دى،دعوة الايمان،يعنى ته نه پوهيدلى چى څنګه به خلق ايمان ته راغواړى. ﴿وَلَٰكِن جَعَلْنَاهُ﴾ يعني ته بالكل امي وې ، کتاب او قرآن دې نه پيژندو ، او دايمان تفصيلات دې نه پيژندلو ،بلکه الله ﷻ دا کتاب نازل کړو ، چې په دې سره خلقو ته هدايت او ايمان توفيق ورکوي ، ضمير منصوب په «جعلنه» کښې ياراجع دې قرآن ته،ياايمان ته، يا دواړو ته راجع دى په اعتبار دَ مقصود واحد سره، لکه پدې قول دَالله تعالى کښې"والله ورسوله احقّ ان يّرضوه" يعنى دَايمان اوقرآن مقصود دا دې،

﴿وَاِنَّكَ لَتَهۡدِیۡۤ اِلٰی صِرَاطٍ مُّسۡتَقِیۡمٍ﴾ او اې پیغمبره! ته هم دَدې په ذریعه خلق صراط مستقیم طرف ته راغواړې، نوستاپه رسالت باندې هیڅ قدحه او اعتراض نشی کیدې، صراط مستقیم نه مراددینِ اسلام دې، دَدې اضافت الله تعالی خپل طرف ته کړیدې چه ﴿صِرَاطِ اللّٰهِ الَّذِیۡ﴾ نوپدیکښې دَدې عظمت شان طرف ته اشاره ده، چه داد هغې ذات لاره ده چه دَزمکې او اسمان اودټول کائناتو مالِک اومتصرف او اختیارمند دې، نوداقبول کړئ چه دنیااوآخرت کښې درته نجات ملاؤشی. ﴿اَلَاۤ اِلَی اللّٰهِ تَصِیۡرُ الۡاُمُوۡرُ﴾ پدیکښې وعده دَثواب ده ایمان اوهدایت موندونکوته او زجر دې گمراهانو ته.

ركوعاتها (٧)	سورة حم زُخْرُفْ مكية	آياتها (٨٩)
	بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بيحده مهربان او ډير رحم كونكي دي شروع كوم	

ترتيبها حسب التسلسل (٤٣) وحسب النزول (٦٣)

سورة زخرف مكى سورة دي،ترتيب قرآنى په لحاظ سره (۴۳) دي او ترتيب نزولى په لحاظ سره (۶۳) دي، دَمخكنى سورة نه وروستو نازل شويدي.

ربط : (ددي خبرې وضاحت مخكې شويدي چه په حواميم سبعه ؤكښې هرمابعدحميم دَماقبل حميم باندې دَوارِدشوى اعتراض جواب وى)پديكښې دَدريم اعتراض اودَسوال جواب دي،سوال داوؤچه مشركينواويل چه زمونږمعبودان اگرچه حاجت رواندى(لكه په مخكنى سورة كښې ئې الوهية باطل شو)بلكه حاجت رواصرف الله تعالى دي،البته مونږدَدوئ عبادت ځكه كوؤچه دوئ نازولى اوزوره وردى نوزمونږشفارش به الله تعالى ته كوى،اوزمونږكارونه به وربانديې كوى،نوپدى سورة كښې ئې جواب اوشوچه﴿وَلَا يَمْلِكُ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِهِ ٱلشَّفَٰعَةَ﴾ آيت(۸۶)يعنى دَالله تعالى په بارگاه كښې هيڅ څوک شفيع قهرى نشته دي.

دسورة دَمضامينواجمالى خلاصه:

دَسورت مركزى دعوه توحيداو نفى دَنائب ده،چه آسمانونو او زمكه كښې صرف يو معبود دى او هغه متصرف اور كار ساز دي.اوهغه لره هيڅ څوک نائب نشته نه په صورتِ د زوى ،نه پصورت دلور ،اور نه په صورت دَسفارشي،ددينه علاوه توحيد باندى دلائل عقليه،نقليه،او وحى ذكر كيږي،او په ځائى په ځائى تخويفات ،بشارتونه اور زجرونه ذكر كيږى.

تفصيلي خلاصه:ده دى سورت څلور حصى دى.

اوله حصه آيت ۱ــ۸پورى ده ،پديكښې ترغيب الي التوحيد اور ترهيب دي.

دويمه حصه آيت ۹ــ۵۲پورى ده،پديكښې مركزي مضمون اثبات د توحيد رد شرک او نفي د نائب په صورت دَلور ده ،او په دى كښې دلائل عقليه او نقليه ذكر كيږي،اور په مينځ مينځ كښې تخويفات اور زجرونه هم ذكر كيږي.

دریمه حصه آیت۵۷ـ۸۵پوری ده ،پدیکښ نفی دنائب په صورت ده زوړ کیږي،اوبیا تخویفات بشارتونه اور زجرونه ذکرکیږی،اود دې حصه کښ دعوه د سورت هم ذکر کیږی،چه هو الذي في السماء اله وفي الارض اله

څلورمه حصه آیت ۸۲ـ۸۹پوری ده ،پدیکښې نفي دغائب په صورت د شفیع قهري ده،او دلیل عقلي اور تخویف ذکر کیږی.

تمت خلاصة السورة اجمالاًو تفصيلاً

حٰمٓ	①وَالْكِتٰبِ	الْمُبِيْنِ	②اِنَّا	جَعَلْنٰهُ	قُرْءٰنًا

الله تعالی ښه پوهیږی په معنی ددې،قسم دې په کتاب واضحه،بیشکه مونږ گرځولې دې ده لره قرآن

عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ③وَاِنَّهٗ فِيْٓ اُمِّ الْكِتٰبِ لَدَيْنَا لَعَلِيٌّ

په عربيږ ژبه کښ،دپاره ددې چه تاسو پدې پوهه شئ.اوبیشکه دا قرآن په لوح محفوظ کښ زمونږ سره دې.ډیر اوچت دې

حَكِيْمٌ ④اَفَنَضْرِبُ عَنْكُمُ الذِّكْرَ صَفْحًا اَنْ كُنْتُمْ قَوْمًا مُّسْرِفِيْنَ ⑤

دحکمتونونه ډک دې،آیا نوواړه وو ستاسونه قرآن په منع کولوسره د وجه ددې نه چه یئ تاسو قوم (حد نه) تجاوز کونکي

وَكَمْ اَرْسَلْنَا مِنْ نَّبِيٍّ فِي الْاَوَّلِيْنَ ⑥وَمَا يَاْتِيْهِمْ مِّنْ نَّبِيٍّ اِلَّا كَانُوْا بِهٖ

او ډیرلیږلی وو مونږه نبیان په مخکښني خلقوکښ،اونه به راتلودوئ ته هیڅ یونبی مگردوئ به په هغه پورې

يَسْتَهْزِءُوْنَ ⑦فَاَهْلَكْنَآ اَشَدَّ مِنْهُمْ بَطْشًا وَّمَضٰى مَثَلُ الْاَوَّلِيْنَ ⑧

توقې کولې،نومونږهلاک کړی وو هغه چه زیات سخت وو ددوئ نه په قوت کښ اوتیرشویدی حالات داولنی خلقو.

﴿حٰمٓ﴾دا د مقطعاتونه دې چه معنی حقیقی اومرادئی الله تعالی ته معلوم دې.﴿ وَالْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ﴾ ددې ځائ نه د سورت اوله حصه ذکر کیږی چې پدیکښ توحید منلوته ترغیب دې چه دا په عربی ژبه کښ واضح کتاب دې او ډیراوچت او عظيم الشان کتاب دې. نوپدی ځان پوهه کړئ او د دې په احکاماتو باندې عمل اوکړئ."واو"په ﴿وَالْكِتٰبِ﴾کښ قسمیه دې، او مراد د کتاب نه قرآن دې ﴿الْمُبِيْنِ﴾صفت دې د﴿وَالْكِتٰبِ﴾،لازمی هم رازی اومتعدی هم،نوکه لازمی شی نومعنی ئی داده چه واضحه اوظاهره ده په عربوباندې ددې معانی،اومشتبه ندی

پدوئ باندي، ځکه چه دَدوئ په مادري ژبه کښې نازل شوېدې، اوچه متعدی شی نومعنی ئې داده چه ظاهره ونکې اوواضحه کونکې دې حق لره دَباطل نه، اولارې دَهدایت لره، دګمراهئ نه.

﴿إِنَّا جَعَلْنَٰهُ قُرْءَٰنًا عَرَبِيًّا﴾ جواب قسم دې، او قسم برائ استشهاد دې ، یعنی دا واضحه قرآن بذات خود پخپله حقانیت باندې ګواه دې، (آفتاب آمد دلیل آفتاب)
معتزله وئیلې دې آیت سره استدلال کړیدې چه قرآن مخلوق اوحادث دې، ځکه چه دلته ﴿جَعَلْنَٰهُ﴾ اووئیلې شو ، نو قرآن مجعول شو اوهرمجعول حادث اومخلوق وی نو قرآن هم حادث او مخلوق شو ،تمام اهل سنت والجماعت،سلف اوخلف پدې باندې متفق دی چه دَقرآن دوه حیثیتونه دی، یو معنوی چه کلام نفسی ورته وئیلې کیږی، نو دا صفت دَالله تعالی دې، قدیم دې، القرآن كلام الله تعالى ليس بمخلوق ومن قال انه مخلوق فقد كفر (شرح عقائد) اودویم تعبیری حیثیت چه کلام لفظی ورته وئیلې کیږی اوپه صحائفو باندې لیکلې شویدې نو ظاهره ده چه دا مخلوق اوحادث دې، اوپه آیت کښې دَ﴿جَعَلْنَٰهُ﴾ تعلق هم ددې قسم سره دې ﴿قُرْءَٰنًا﴾ پمعنی دَمقروٌ سره مصدر دې، حال دې او ﴿عَرَبِيًّا﴾ ورله صفت مادحه دې. ﴿لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ﴾ دَ نزول دَ قرآن فائده ده. او لعل دَتعلیل د پاره دې ، یعنی دا قرآن دَ دې د پاره نازل شویدې چه تاسو دَدې په معانیو او حکمتونو اودَدې په حقانیت ځان پوهه کړئ.

﴿وَإِنَّهُۥ فِىٓ أُمِّ ٱلْكِتَٰبِ﴾ دا جمله هم د جواب قسم تحت داخله ده او د قرآن مزید عظمت شان پکښې بیان دې، او ترغیب دې قرآن منلو ته چې په علم الهي او ملا اعلی کښې ورته دومره لوئ د عزت او شرافت والا مقام حاصل دې، نو زمکې والا ته هم پکار ده چې دوئ دې هم د دې شرافت او عزت خیال اوساتي او په مضامینو باندې دې ایمان راوړي ، ام الکتاب نه مراد لوح محفوظ دې، لوح محفوظ ته ام الکتاب ځکه وائي چه ټول اسماني کتابونه نازلیدلو نه مخکښې دیکښې پراته وو او بیا دینه نقل کړې شوی دی، نو ګویا دا هر کتاب دپاره اصل دې نو دې وجهې نه ورته ام الکتاب اوئیلې شو. اویا ترینه علم الهي ازلي مراد دې یعني دا کتاب د الله ﷻ په علم کښې له ازل نه اوچت مقام او مرتبې والا دې، ﴿لَعَلِىٌّ﴾ بلند او برتر دې ﴿حَكِيمٌ﴾ (۱) یا پمعنی دَذی حکمة، حکمتونه والا، سره دې (۲) یا پمعنی دَمحکم سره دې یعنی لفظ

اومعنوی اعتبارسره محکم دی. منسوخ ندی په بل کتاب سره(۳)یاصفت بحال متعلقه دی،ای حکیمٌ منزّله یعنی داکتاب دَحکیم ذات طرف نه نازل دی (۴)پمعنی دَحاکم سره،

﴿ أَفَنَضْرِبُ عَنكُمُ الذِّكْرَ صَفْحًا ﴾دازجردی دَقرآن نه اعراض کونکودپاره.دَ "الذِّكْرَ" نه مراد قرآن دی اوپه کلام کښ تقدیردی ای انزال الذکر﴿ صَفْحًا ﴾مفعول مطلق من غیرلفظه دی دَ «نضربُ» دپاره،﴿أَن كُنتُمْ قَوْمًا مُّسْرِفِينَ ﴾"لام" پکښ مقدردی ای لأن کنتم...الخ دَ دی ایت څو مطلبونه بیان شویدی:

(۱)دادی چه آیاواړه وؤمونږستاسونه قرآن، اودَدی نزول بندکړومحض دَدی وجه نه چه تاسوپه ګناهونواوپه شرک کښ دیرزیات منهمک یئ،استفهام انکاری دی،یعنی مونږسلسله دَانزال نه بنده وؤکه تاسوورته التفات کوئ یانه کوئ، مفتی شفیع رحمه الله فرمائی چه دَدی نه معلومه شوه چه کوم سړی دَتبلیغ کارکوی نوهغه دی هرسړی ته دعوت ورکوی،اګرچه فاسق اواعراض کونکی وی،محض دَاعراض پوجه تبلیغ ترک کول ندی پکار.پدی صورت کښ لام مقدره"اجلیه"دی.

(۲)اوچاویلی دی چه پدیکښ وسعت دَرحمت الهی ته اشاره ده،یعنی ستاسودَحال او دَ شان تقاضاخوداده چه تاسوپدی حال پریدواونزول دَقرآن بندکړوچه حتی که دکفراودَضلالت په حالت کښ مړه شئ اوهمیشه دَپاره په عذاب کښ مبتلاشئ،لیکن دَوسْعتِ رحمت دَوجه نه مونږ داسلسله دَ رشد او هدایت نه بنده وؤ،نوکه ایمان موراوړونو فبها ونعمت ورنه حجت خو به دربانده قائم شي،دي صورت کښي لام مقدره د پاره د "تعلیل" دی،

(۳)مجاهد رحمه الله فرمائی چه دَ﴿الذِّكْرَ﴾نه مرادعذاب دی،ای افنضربُ عنکم العذاب و لا نعاقبکم علی اسرافکم وکفرکم(قرطبی)یعنی آیاستاسوداګمان دی چه مونږبه ستاسونه عذاب واړه وؤاوستاسوپه ګناهونواوشرک به عذاب نه درکوؤ.

﴿ وَكَمْ أَرْسَلْنَا مِن نَّبِيٍّ فِي الْأَوَّلِينَ ﴾"کم"خبریه دَپاره دَتکثیردی،پدیکښ دَماقبل مضمون تنویر او تاکید دی،چه امم سابقه ؤته الله تعالی دَارسالُ دَرسولانوسلسله نه وه بنده کړی اګرچه هرنبی پوری استهزاء اوتکذیب ئی شوی وؤ،اوپدیکښ حضورﷺ ته تسلّی هم ده،ځکه چه"البليّة اذا عمّت طابت" ﴿فَأَهْلَكْنَا أَشَدَّ مِنْهُم ﴾تخویف دنیوی دی ضمیردَ﴿مِنْهُم﴾مشرکینِ مکه ته راجع دی

﴿مَثَلًا﴾منصوب بناء برتميزدي﴿وَمَضٰى مَثَلُ الْاَوَّلِيْنَ ﴾يعنی دعبرت دپاره دمخکنی قومونو د تباهئ مثالونه موجوددی.

وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ لَيَقُوْلُنَّ خَلَقَهُنَّ
اوکه ته تپوس اوکړې ددوئ نه چه چاپیدا کړیدی اسمانونه اوزمکې نوخامخابه دوئ وائی چه پیدا کړی دی دا هغه الله
الْعَزِيْزُ الْعَلِيْمُ ۝ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ مَهْدًا وَّجَعَلَ لَكُمْ فِيْهَا سُبُلًا
چه غالب دې عالم دې هغه ذات چه ګرځولې ده ستاسودپاره زمکه بستر اوګرځولی دی ستاسودپاره په هغې کښې لارې
لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ۝ وَالَّذِيْ نَزَّلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءًۢ بِقَدَرٍ
دپاره ددې چه تاسولاره معلومه کړئ.اوهغه ذات چه نازلې کړی دطرفه داسمان نه اوبه باران په اندازې سره،
فَاَنْشَرْنَا بِهٖ بَلْدَةً مَّيْتًا ۚ كَذٰلِكَ تُخْرَجُوْنَ ۝ وَالَّذِيْ
نوبيا ژوندی کړومونږ په هغې سره کلی مړ«وچه خمکه»هم دغه شان به تاسوراوباسلې شئ.اوهغه ذات چه
خَلَقَ الْاَزْوَاجَ كُلَّهَا وَجَعَلَ لَكُمْ مِّنَ الْفُلْكِ وَالْاَنْعَامِ
پیدا کړی ئی دی جوړه جوړه ټول مخلوقات اوګرځولی ئی دی تاسولره دبیړونه په دریابونوکښې اودڅاروونه «په وچه»
مَا تَرْكَبُوْنَ ۝ لِتَسْتَوٗا عَلٰى ظُهُوْرِهٖ ثُمَّ تَذْكُرُوْا نِعْمَةَ رَبِّكُمْ
هغه، چه تاسوپرې سوريږئ د پاره د دې چې اوخيژئ «کینئ»تاسوپه شاګانودهغې بيایادکړئ تاسونعمت درب خپل
اِذَا اسْتَوَيْتُمْ عَلَيْهِ وَتَقُوْلُوْا سُبْحٰنَ الَّذِيْ سَخَّرَ لَنَا
په هغه وخت کښې چه تاسوبرابرکینئ په هغې اووايئ تاسوپاکی ده« دشرکاؤنه» هغه ذات لره چه مسخرکړی ئی دی زمونږدپاره
هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهٗ مُقْرِنِيْنَ ۝ وَاِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ ۝
دا.اونه وومونږدی لره په خپل قابوکښې راوستونکی.اوبیشکه چه مونږخپل رب طرف ته خامخاتلونکی یو.

وَجَعَلُوْا لَهٗ مِنْ عِبَادِهٖ جُزْءًاؕ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَكَفُوْرٌ مُّبِيْنٌؕ ﴿۱۵﴾

اوګرځولي دي دوئ الله ﷻ لره د بندګانو ده نه جزء ، بيشکه انسان(مشرک)يقينا چې ناشکره دې ښکاره.

﴿وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ﴾ دلته نه دَ **سورت دويمه حصه** ذکر کيږي،چې په دې کښې نفي دَ نائب ده په صورت ولد مؤنث،اوپه دې باندې دلائل دي.مشرکينو دَا عقيده وه چې ملائک دالله ﷻ لونړه دي.ددې عقيده تحليل چې اوشي نودرې خبرې ترينه رااوځي:

(۱)الله ﷻ لره دَ جزء اثبات

(۲)ملائک دَالله ﷻ لونړه دي

(۳)ملائک مونث دي،

الله ﷻ په دې کښې دَ دوئ عقيدې هر هر جزء مدلل رد کوي،دې ځائ نه تر وجعلوا له من عباده جزءا پورې **دَاولې عقيدې ذکر او دَ هغې رد** باندې دلائل ذکر کيږي چې الله ﷻ لره جزءثابتول صحيح ندي ،ځکه چه دَ دينه خو احتياج لازميږي،حالانکه دالله ﷻ صمديت او بې نيازي په مختلفو دلائلو سره ثابت ده او دوئ يې خپله هم اعتراف کوي. نو دا اول دليل عقلي دې په توحيد او په نفي د جزء او نائب علی سبيل الاعتراف من الخصم چې دا مشرکين دَالله ﷻ خالقيت هم قائل دي ،دهغه اقتدار هم معترف دي،په هر څه باندې د هغه علم منی نو بيا څرنګه ورله جزء ثابتوي،دا خو د دې صفاتو منافي دې. نوپدې آيت کښ پدغه اعتراف استدلال دې،چه په پيدا کولودکائناتوکښ هغه يکتادې نوپه تصرف اواختيارکښ هم دَهغه سره څوک شريک نشته دې،حاجت روا ، مشکل کشا ،دَسجدې مستحق هم صرف هغه دې.

﴿الَّذِیْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ مَهْدًا﴾دا دويم دليل عقلي دې او په اول دليل عقلي علي سبيل التنوير ذکر کيږي،يعني کله چه تاسو الله ﷻ خالق او قادر منئ نو دا صفات به هم منئ ځکه چې دا دَ هغې مظاهردي ،چه الله تعالی هغه ذات دې چه ستاسودَپاره ئې زمکه فرش کرځولې ده چه تاسوته پکښ آرام راحت کول،مکانات جوړه ول،کرونده کول وغيره اسان دي،اوپدې زمکه کښ ئې لارې جوړې کړيدی چه دَهغې په وجه تاسوتجارتی وغيره مقاصدو دَ پاره سفرکولې شئ﴿لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ﴾ای لکي تهتدوا بسلوکی الی مقاصدکم،يا معنی داده چه تاسو په دې انعاماتوکښ فکراوکړئ اوهدايت درته ملاؤشی دَتوحيد،چه هغه مقصداصلی دې(روح المعانی).

﴿ وَالَّذِي نَزَّلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً ﴾دا دریم دلیل دی او په اول علی سبیل التنویر ذکر کیږي،چي الله ﷻ دَخالقیت او قدرت یومظهر داهم دي چه آسمان نه په اندازې اوبه راوره وی،او په هغې سره مړه زمکه ژوندئ کوی او بوټی راخیژوی. ﴿ مَاءً بِقَدَرٍ ﴾ یعني نه کم چې فائده ئي نه وي او نه زیات چې طوفان نوح شکل اختیار کړي﴿ كَذَٰلِكَ تُخْرَجُونَ ﴾ په دیکښې د بعث بعد الموت بیان دې چې لکه څنګه الله ﷻ آسمان نه باران وروي او هغې په وچه زمکه ژوندئ شي او وچ بوټي را زرغون شي نو دغه شان به تاسو هم قیامت په ورځ راژوندي کړي او راپاسوي ،

﴿ وَالَّذِي خَلَقَ الْأَزْوَاجَ ﴾ دا څلورم دلیل دې او په اول علی سبیل التنویر ذکر کیږی ،چه دَالله ﷻ دَخالقیت او قدرت یو مظهر دا دې چې د مخلوقاتو مختلف اقسام وانواع ئې پیدا کړیدی، تاسو زمیني «زمکي» او بحري سفر دپاره ئي سورلئ مهیا کړي او تاسوته یې مسخر کړیدی.«الْأَزْوَاجَ » مراددَازواج نه(۱)اصناف او اقسام دَمخلوقاتو دی یعنی الله ﷻ هغه ذات دې چه دَ تمامو اقسامو دَ مخلوقاتو خالق دي،فالزّوج هنابمعنی الصنف لابمعناه المشهور(روح) (۲)یا ورنه مراد دا دې چه هرخیزئی جوړه جوړه پیداکړیدې، دَمذکر مؤنث سلسله ئی په نباتاتو،حیو اناتوکښې هم ګرخولې ده(۳)بعضِ محققین وائی چه مرادورنه دَیوبل مقابل څیزونه دی، لکه شپه ورځ،اسمان زمکه،مشرق مغرب،وغیرذلک، نودَهرڅیز جوړه اومقابل موجود دې صرف ذات دَواجب الوجودفردِ مطلق دې منزه دې دَتمامو صفاتو دَمخلوق نه (کبیر وغیره).

﴿وَجَعَلَ لَكُم مِّنَ الْفُلْكِ وَالْأَنْعَامِ﴾من بیانیه دې اودابیان مقدم دې او﴿مَا تَرْكَبُونَ ﴾مبین مؤخر دې، یعنی الله ﷻ هغه ذات دې چه ستاسودَرکوب دَپاره ئی په دریابونوکښې بیړئ اوپه وچه کښې څاروی پیدا کړیدی

﴿ لِتَسْتَوُوا عَلَىٰ ظُهُورِهِ ﴾ اغراض د سوارلیؤو بیانیږي ، دا اول غرض دې ، استواء په معني د استقرار او اعتلاء سره دې ، اي:لتستقرّوا یاپمعنی دَلتعتلوا سره دې اوپه ﴿ عَلَىٰ ظُهُورِهِ ﴾ کښې واحد ضمیر راجع "ما" ته دې چې هغې مصداق انعام او او فلک دواړه دې ،

﴿ ثُمَّ تَذْكُرُوا نِعْمَةَ رَبِّكُمْ ﴾ دویم غرض دې ، چې هغه زړه کښې د الله شکر دې او د هغه په وحدانیت ایمان او د جز او نائب نه هغه منزه کڼل دي ﴿وَتَقُولُوا سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا ﴾ دا دریم غرض دې چې چې هغه په ژبه د الله ﷻ شکر ادا کول او ظاهر اعتبار سره هم هغه ته تسلیم

کیدل دي،او تکبر او شرکشي نه کول دي ((مُقْرِنِيْنَ)) يمعنى دَمطيقين دي،يعنى کچرته الله ﷻ دا ځناور زمونږ دَ پاره نه وې تابع کړي نومونږته دَهغوئ قابو کول اوپه هغې سوارلى کول مشکل وؤ.

داخبره په نن صبامشيني سورلوباندي هم صادقه کيږى ځکه کچرته الله ﷻ دَدې موادنه وې پيدا کړې يائى انسانى دماغوته دَدې دَجوړه ولو ،چلولو طاقت نه وې ورکړې نوهيڅ څوک پدې قادرنه وؤ،

﴿وَإِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا لَمُنقَلِبُونَ﴾يعنى دَرکوب په وخت کښ تکبريافخرمه کوئ په خپلو ګاډو باندې بلکه دَدې دنياپه سفرسره دآخرت سفرراياد کړئ.

دَ دې آيت مخکنى سره آيت سره مناسبت دا دې چه سوارلئ دَ الله ﷻ اګر چه لوئي نعمت دې خو بياهم يوسبب دَهلاکت دې،څومره خلک وى چه دَ خپل انجام نه نا خبره سفر شروع کړى،خولارکښ حادثى دَ وجهى نه مرګ سره مخامخ شي،نو دَدې وجهې نه الله ﷻ ورسره دا آيت ذکر کړوچه هلاکت پدې اسبابو مينځ کښ انسان غافله پاتې نشى،اوخپل مرګ او ورځ دَ جزاء ورته مستحضر وى.

فائده:په ځناوريا په ګاډى کښ دَسوريدلوپه وخت کښ دَدې دُعااهتمام پکاردي، دَ حضور ﷺ نه په متعددورواياتوکښ منقول دى چه حضورﷺ به په سورلئ باندې دکيناستلو په وخت کښ دغه دعاوئيله،اودَسوريدلومستحبه طريقه هغه ده چه دَحضرت علىؓ نه منقوله ده چه دده په خدمت کښ دَسورلئ دَپاره يوځناورراوستلې شوکله ئى چه په رکاب کښ خپه کيخودله نو(بسم الله)ئى اوېله،بياچه کله سورشولونو"الحمدلله"ئى اووې،اوبيائى دغه مذکوره دعاووئيله،بيائى درې ځله(الحمدلله)اودرې ځله"الله اکبر"اوې،بيائى دادعاوئيله، سبحانک انى ظلمتُ نفسى فاغفرلى فانه لايغفرالذّنوب الاّانت،بيائى اوخاندل، چاورته عرض اوکړو چه اميرالمومنين تاسوولې اوخاندل،اوئى فرمايل:چه حضورﷺ هم داسې کړي وؤ څنګه چه مااوکړل،دَحضورﷺپه خدمت کښ عرض اوکړې شوچه يارسول الله!تاسوپه کومه خبره اوخاندل؟ نو اوئى فرمايل چه اللهﷻ پدې خوشحاله کيږى چه بنده"رب اغفرلى"وائى او الله تعالى فرمائى چه ځمابنده ته معلومه ده چه ځمانه علاوه بل څوک بخنه کونکې نشته دې. (روح بحواله ابوداؤد ،ترمذى).

﴿ وَجَعَلُوا لَهُ مِنْ عِبَادِهِ جُزْءًا ﴾ دا دَ مشركانو دَمكې عقيدې بيان دې او شكوه ده ورنه چې دَ خپل اعتراف باوجود الله ﷻ لره ولد او نائب ثابتوی ﴿مِنْ عِبَادِهِ ﴾ نه مراد فرشتې دی ﴿جُزْءًا﴾ (۱) ای ولدا، یعنی دوئ فرشتو ته بنات الله (دَالله لونړه) وائی، دَولدنه تعبیر په "جزء" سره او شو پدیکښ دَدوئ دَدې باطلې عقیدې عقلی تردیدته اشاره ده، چه دَهغې خلاصه داده چه کچرته الله ﷻ لره اولاد وې نوهغه به ئې جزءوی ځکه چه ولدجزءوی دَوالدنه (کقوله ﷺ: فاطمة بضعة مني) اوهرکل جزء ته محتاج وی په وجود دخپل کښ. نو معاذالله دالازمه شوه چه الله تعالیٰ هم محتاج دې، حالانکه داخوبار بار ثابته شویده چه الله تعالیٰ صمد او بې نیازه ذات دې دَهرقسمه احتیاج نه مبرأ دې.

(۲) قتاده رحمه الله دَ ﴿جُزْءًا ﴾ معنی کوی ای عدلاً، یعنی دوئ الله ﷻ سره شریکان اومعبودان گرځوی (۳) بعضُ ورنه دَنذرلغیرالله هغه ځناورمرادکړیدی چه دَهغې یوه حصه به مشرکانو دَ الله ﷻ په نوم اویوه حصه دَبتانو په نوم مقررکړې وه، دَدې ذکرپه سورة انعام "وجعلوا لله مما ذرأمن الحرث والانعام نصيبا" آیت (۱۳۲) کښ تیرشویدې، ﴿إِنَّ الْإِنسَانَ ﴾ مراد ورنه انسان مشرک دې ﴿لَكَفُورٌ مُّبِينٌ ﴾ ښکاره ناشکره دې اوداواضحه ده ځکه چه نسبت دَ ولد الله تعالیٰ ته کفردې او اصل ناشکری کفرکول دی.

أَمِ	اتَّخَذَ	مِمَّا	يَخْلُقُ	بَنَاتٍ	وَأَصْفَاكُم	بِالْبَنِينَ ⑯	وَإِذَا
آیانیولی دی الله ﷻ دَهغې مخلوق نه چه پیدا کړی ئې دی لونړه اوغوره کړی یې یئ تاسو په ځامنو سره. اوحال داچه کله							

بُشِّرَ	أَحَدُهُم	بِمَا	ضَرَبَ	لِلرَّحْمَٰنِ	مَثَلًا	ظَلَّ	وَجْهُهُ مُسْوَدًّا
خبرور کړیشی یو دَدوئ ته په پیدا کیدلو دَهغه څیز (لور) چه گرځولی ئې دې الله ﷻ لره مشابه نو اوگرځی مخ دَده تک تور							

وَهُوَ	كَظِيمٌ ⑰	أَوَمَن	يُنَشَّأُ	فِي الْحِلْيَةِ	وَهُوَ	فِي الْخِصَامِ	غَيْرُ	مُبِينٍ ⑱
او دې ډک وی دَ غصې نه، آیا هغه څوک چه لوئیولې شی په زیوراتوکښ اوهغه په گفتگوکښ نشی ښکاره کولې خپل مقصد،								

وَجَعَلُوا	الْمَلَائِكَةَ	الَّذِينَ	هُمْ	عِبَادُ الرَّحْمَٰنِ	إِنَاثًا	أَشَهِدُوا	خَلْقَهُمْ
اوگرځولی دی کافرانو هغه فرښتې چه هغوئ بندگانې دَرحمن دی ښځې، آیا حاضروو دوئ په وخت دَپیدائش دَهغوئ کښ،							

کیږي	ورنه	به	اوتپوس	دَدوئ	گواهي	کیږي	خامخالیکلې
⑲	وَيُسْـَٔلُوْنَ			شَهَادَتُهُمْ			سَتُكْتَبُ

﴿ أَمِ اتَّخَذَ مِمَّا يَخْلُقُ بَنَاتٍ ﴾ دَ دې ځائ نه دهغوئ دَ **عقیدې دویم جزء** رد دې، چې ملائک دَالله ﷻ ونړه دی. استفهام انکاری دې دَپاره دَتوبیخ، پدیکښې دَمشرکانوپه جهالت او په ړوندوالی دَعقل باندی تعجب دې، چه الله ﷻ طرف ته ئی دَداسې څیزنسبت کړیدې چه پخپله ئی هم دوئ حقیره اوذلیله گڼړی، ﴿وَأَصْفَاكُم بِالْبَنِينَ ﴾داعطف دې په "اتخذ" باندې، پدیکښې هم تعجب دې دَ دوئ په حال باندې، یعنی الله ﷻ چه خالق دې دَ مخلوقاتو، نو پخپلو مخلوقاتو کښې ئی دَخپل ځان دَپاره، اخسّ الصنفین، اوستاسودَپاره ئی "افضل" منتخب کړیدې نو دا ندې مگربې انتهاجهل اوحماقة دې.

﴿ وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم ﴾پدیکښې دَماقبل مضمون تاکید دې چه دالونړه دَدوئ په نزددومره حقیره دی چه کله دوئ ته دَلورپه پیدائش سره خبر ورکړیشی نورنگ ئی بدل شی دَغم پوجه. اودَغصې نه دومره ډک شی چه خبرې هم نشی کولې، اودَبعض مشرکینوپه باره کښې راځی چه کله به دوئ دَلوردَپیدائش خبرو اوریدلونودکورنه به اوتختیدو ،لکه مفسرینو دلته دَیوې ښځې اشعارذکرکړیدی چه لورئی شوې وه اوخاوندئی کورته نه راتللو.

شعر:

مالابی حمزة لا یأتینـــا — یبیتُ فی بیتِ الـــذّی یلینـــا
غضـــبان ان لاّنلـــد البنینا — لیس لنـــامن امـــرنامَـــاشینا
ونحـــن کالارض لزارعیـــنا — نـــخرجُ مَاقـــدبذُوره فینـــا

﴿بِمَا ضَرَبَ لِلرَّحْمَٰنِ ﴾ای بالجنس الذی جعله للرحمن﴿مَثَلًا ﴾ای شبیهًا.دَدې آیت تفصیلی تشریح په سورة نحل آیت ۵۸کښې هم تیره شویده،

﴿ أَوَمَن يُنَشَّأُ فِي الْحِلْيَةِ ﴾پدیکښې هم دَمذکورې عقیدې "الملائکة بنات الله" مزیدقباحت دې، یعنی آیادوئ الله ﷻ ته دَهغونسبت کوی چه دَهغوئ دَعقل دکمزورئ نتیجه اواثردادې چه نشوونمائی په زیوراتو اوزینت کښې کیږي، یعنی توله ورځ پدغه فکراوغم کښې مبتلاوی او دَ خپل ذاتی معاملاتوصحیح کولو استعدادنه لری.

﴿وَهُوَ فِي الْخِصَامِ﴾ يعنى دعقل دَ نقصان او ضعف رائي پوجه خپلی دعوی ثابتولو او اقامت حجت باندی قادر نه وی په خصومت يعنی په بحث اوتکرارکښ خپل اصلی مقصد هم نشی بيانولې،قوت استدلال ئی ضعيف وی،يامراددَخصام نه جنگ دې يعنی جنگ اوجهادته نشی تللې پوجه دَ صنف نازک نوداسې ضعيف مخلوق ته بنات الله ويل لوئ حماقة دې،

﴿ وَجَعَلُوا الْمَلٰٓئِكَةَ الَّذِيْنَ هُمْ عِبٰدُ الرَّحْمٰنِ اِنَاثًا ﴾دادَمشرکينو عقيدې درېم جزء رد دې چه دوئ ملائکوته ښځې وائی حالانکه ملائکه لايوصف بذکورة ولابانوثة دی،اونه دې مشرکانوسره پخپل دعوې باندې څه دليل شته دې ځکه چه ذکورة انوثة معلومېږی په مشاهدې سره، نو آيا دوئ مشاهده کړيده،

﴿اَشَهِدُوْا خَلْقَهُمْ﴾ ای أحضرواخلق الله تعالى،يعنی آيادوئ دَفرشتودَپيدائش په وخت کښ موجود وو؟ روح المعانی کښ دی چه حضورﷺدَمشرکانونه سوال اوکړوچه تاسوته څه معلومه ده چه فرشتې ښځې دی نودوئ ورته اووې چه دامونږه دخپلوآباؤنه اوريدلی دی، او مونږ گواهی ورکوو،پدې چه دوئ دروغ ندی وئيلی،نو اللهﷻورته فرمائی﴿سَتُكْتَبُ شَهَادَتُهُمْ ﴾ سينْ دَ تاکيددَپاره دې،يعنی دوئ داگواهی خامخادَدوئ په اعمالناموکښ ليکلې کيږی او بيا به دَقيامت په ورځ دَدوئ نه پوختنه کيږی.يا شهادت نه مراد دَ دوئ مشاهدی گواهې ده او بطور وعيد ذکر کيږې چه آخرت کښ به دَ دوئ نه دَ دې خبرو تپوس کيږی.

په درميان کښ﴿هُمْ عِبٰدُ الرَّحْمٰنِ ﴾دفرشتومدحه ده چه فرشتې دَالله تعالى فرمانبردار، عبادت گزاربندگان دی،اولادندی.

وَقَالُوْا	لَوْ	شَآءَ	الرَّحْمٰنُ	مَا	عَبَدْنٰهُمْ	مَا	لَهُمْ	بِذٰلِكَ

اووائي دوئ کچرته رضاوې دَالله نونه به وې کړې مونږعبادت دَدې معبودانو،نيشته دوئ لره پدغې وينا

مِنْ عِلْمٍ	اِنْ	هُمْ	اِلَّا	يَخْرُصُوْنَ ۞	اَمْ	اٰتَيْنٰهُمْ	كِتٰبًا	مِّنْ	قَبْلِهٖ	فَهُمْ	بِهٖ

هيڅ څه دليل،ندی دوئ مگردروغ وائی.آياورکړې دې مونږدوئ ته څه کتاب مخکښ دَدې قرآن نه،نودوئ په هغې

مُسْتَمْسِكُوْنَ ۞	بَلْ	قَالُوْٓا	اِنَّا	وَجَدْنَآ	اٰبَآءَنَا	عَلٰٓى	اُمَّةٍ	وَّ	اِنَّا

دليل نيوونکی دی،بلکه وائی دوئ بېشکه مونږه موندلی وو خپل مشران په يودين اوبيشکه مونږه

عَلَىٰٓ اٰثٰرِهِمۡ مُّهۡتَدُوۡنَ ﴿٢٢﴾

په نقشِ قدم دَهغوئ سمه لارموندونکی يو.

﴿ وَقَالُوۡا لَوۡ شَآءَ الرَّحۡمٰنُ مَا عَبَدۡنٰهُمۡ ﴾دی خائي نه په شرک باندی دَ مشرکانو دليل او دهغې جواب ذکر کيږی،دوئ به استدلال په مشيت دَباری تعالی سره کولو. اوويل به ئی کچرته دَ الله ﷻ توحيدخوښ وې اوشرک ئی نه وې خوښ نومونږبه شرک نه وې کړې ځکه چه ستاسو هم داعقيده ده چه هرکارپه ارادې دَالله ﷻ سره کيږی،نوکه دَالله ﷻ اراده وې نومونږبه ئی په زورمنع کړې وې اوعذاب به ئی راکړې وې نوچه مونږته عذاب نه راکوی نومعلوميږی چه الله ﷻ په شرک رضادې.

﴿ مَا لَهُمۡ بِذٰلِكَ مِنۡ عِلۡمٍ ﴾داجوب دې دَمشرکانودَمذکوره قول،حاصل دادې چه دَيوفعل جواز يا په دليلِ عقلی سره ثابتيږی يانقلی سره،دَدوئ سره پدې مذکوره دعوې باندې نه دليل عقلی شته اونه دليل نقلی،هرچه ده نفی دَدليل عقلی نوپه﴿ مَا لَهُمۡ بِذٰلِكَ مِنۡ عِلۡمٍ ﴾ کښې ورته اشاره ده،يعنی دَدوئ سره څه دليل عقلی په اثبات دَرضادَالله ﷻ په شرک دَدوئ باندې نشته دې،ځکه دوئ استدلال په مشيت اوارادې دَالله ﷻ سره کوی،حالانکه پدې نه پوهيږی چه په مشيت اوپه رضاکښې فرق دې،مشيت اواراده دَالله ﷻ دَهرکارسره متعلقه ده، چه دَالله تعالی دَارادې نه بغيرهيڅ کارهم نه کيږی،ليکن رضائی صرف دَمأموراتوسره متعلقه ده،دَدې وجه نه علماءوائی چه معصيت اوکفر دَ بنده، په ارادې دَالله ﷻ سره دې.ليکن په رضادَالله سره ندې،داسې تشريح دَدې مضمون په انعام(۱۴۸)اونحل کښې هم تيره شويده﴿اِنۡ هُمۡ اِلَّا يَخۡرُصُوۡنَ ﴾ ای يکذبون(روح المعانی).

﴿ اَمۡ اٰتَيۡنٰهُمۡ كِتٰبًا مِّنۡ قَبۡلِهٖ ﴾پديکښې دَدليل نقلی نفی ده،په﴿مِّنۡ قَبۡلِهٖ ﴾کښې ضميرياقرآن ته راجع دې يانبي اکرم ﷺ ته او استفهامِ انکاری دې،يعنی دوئ سره پدې خپلې دعوې باندې څه نقلی دليل دکتب سابقهٔ وَهم نشته دې چه دوئ په هغې تمسک اوکړی،نودوئ سره نه دليل عقلی اونه دليل نقلی شته دې

﴿ بَلۡ قَالُوۡۤا اِنَّا وَجَدۡنَاۤ اٰبَآءَنَا ﴾ دا دَ مشرکينو دويم دليل ذکيږی په شرک باندې، چې هغه تقليد دې د آباؤو،چې زمونږ اباؤو اجداد په شرک باندی قائم روان دی،لهذا مونږ هم هغوئي په

نقش قدم دا شرک نشو پریخودلې. ﴿عَلَىٰٓ أُمَّةٍ﴾ ای علی دينٍ وطريقة،يعنى مونږه دغه عقيده دَخپلو اباؤنه اخذكړيده اوپدغه دين باندې مونږه هغوئ مونږه هغوئ مونږه هغوئ

وَكَذَٰلِكَ مَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ فِي قَرۡيَةٖ مِّن نَّذِيرٍ إِلَّا قَالَ مُتۡرَفُوهَآ
اوهم دغه شان نه وؤلیږلی مونږمخکښ ستانه په هیڅ یوکلی کښ یره ونکې(پیغمبر)مګراوبه ویل مشرانو :هغې کلی،
إِنَّا وَجَدۡنَآ ءَابَآءَنَا عَلَىٰٓ أُمَّةٖ وَإِنَّا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم مُّقۡتَدُونَ ۝٢٣ قَٰلَ
بیشکه مونږه موندلی دی مشران خپل په یودین باندې،اوبیشکه مونږپه نقش قدم دهغوئ روان یو .اوبه ویل پیغمبر،
أَوَلَوۡ جِئۡتُكُم بِأَهۡدَىٰ مِمَّا وَجَدتُّمۡ عَلَيۡهِ
آیااګرکه راوړې وي ما تاسو ته داسې دین چې هغه زیات په هدایت وي دهغې نه چه موندلی دی تاسوپه هغې
ءَابَآءَكُمۡۖ قَالُوٓاْ إِنَّا بِمَآ أُرۡسِلۡتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ۝٢٤
مشران خپل،اوبه ویل دوئ چه بیشکه مونږپه هغه څه چه رالیږلی شوی یئ تاسوپه هغې سره، انکارکوؤ،
فَٱنتَقَمۡنَا مِنۡهُمۡۖ فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُكَذِّبِينَ ۝٢٥ ع
نوانتقام واخستو مونږ ددوئ نه نواوګوره چه څرنګه وؤآخری انجام دتکذیب کونکو.

﴿وَكَذَٰلِكَ مَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ﴾دیکښې تسلي ده نبی کريم ﷺ ته چې دا وينا مخکنی کفاروهم وه،هغوی په هم خپل نبی ته وې: چه مونږ خپل آباؤواجداد مخالفت نشوکولې او شرک نشوپريخودلې ﴿وَكَذَٰلِكَ﴾مشار اليه مذكوره وينا دَ مشركانو ده ﴿إِلَّا قَالَ مُتۡرَفُوهَآ﴾دَتْرفه نه مأخوذ دې نعمة ته وائی ای اهل النعمة(شربيني)مالداره اومشران قوم ورنه مراددی

﴿قَٰلَ أَوَلَوۡ جِئۡتُكُم﴾ داد مشركينو دليل جواب ذكر كيږى چه اتباع دَ هدايت او حق ضرورى دہ، خواه هغه د آباؤو اجداد طرز عمل خلاف ولې نوی،دَ حق او هدايت واضح كيدلو نو ورستې هم په باطل باندی قائم پاتې كيدل دَا ضد او عناد دې،نور څه ندی «قَٰلَ»كښې ضمير راجع دې پيغمبر دَ هرقوم ته ای قال كل نذير لامته(روح)﴿أَوَلَوۡ جِئۡتُكُم﴾ای اتقتدون بآبائكم و لو

جنتکم، يعني هرپيغمبربه خپل قوم ته داويلچه څه تاسوته دآباؤدَدين نه زيات صحيح دين پيش کوم نو آيابياهم تاسودَخپلوآباؤگمراه تقليداواتباع کوئ؟ نوقوم به ورته عناداً اوويل چه تاسوپه کوم دين راليږلی شوی يئ مونږه هغه دين بالکل نه منو﴿بِأَهْدَىٰ مِمَّا وَجَدتُّمْ عَلَيْهِ﴾**سوال** کيږی چه اهدیصيغه دَ اسم تفضيل ده،او اسم تفضيل دَ معنی مصدری په زيادتې باندې دلالت کوی په نسبت دَبل سره.نو دينه لازميږی چه انبياؤو دين اهدیاو دَ مخالفينو دين هدايت وؤ، حالانکه هغه خو سراسر ضلالت دې. **جواب:**دلته اسم تفضيل کښې معنی نسبتی ملحوظ نده، بلکه دا دَدعوت يو اندازدې چې مخاطب ته داسې کلام راوړلې شی،چه هغه ورسره ابتداءنه منتفر نشی او خبری ته لګ غوږکيږدی،نو مطلب دلته ترينه دا دې چه تاسو سوچ اوکئ که بالفرض والتقدير څما دين اهدی او تاسو آباؤو دين هدايت وي نو انصاف تقاضه څه ده چې په کوم عمل اوکړې شي،چه جائيکه تاسوآباوؤ دين سراسر ضلالت دې!!!

﴿فَانتَقَمْنَا مِنْهُمْ﴾داتخويف دنيوی دې اوپديکښې ترديددې دَقول دَمشرکانوچه﴿وَقَالُوا لَوْ شَاءَ الرَّحْمَٰنُ﴾ يعني دَالله دَشرک ندې خوښ څکه ئی مخکښی قومونوته عذابونه ورکړل،نوتاسوهم ورنه عبرت حاصل کړئ.

وَإِذْ	قَالَ	إِبْرَاهِيمُ	لِأَبِيهِ	وَقَوْمِهِ	إِنَّنِي	بَرَاءٌ	مِّمَّا
اوريادکړه هغه وخت چه اووې ابراهيم عليه السلام خپل پلارته اوقوم خپل ته چه بيشکه څه بيزاره يمه دَهغومعبودانونه چه							
تَعْبُدُونَ ﴿٢٦﴾	إِلَّا	الَّذِي	فَطَرَنِي	فَإِنَّهُ	سَيَهْدِينِ ﴿٢٧﴾	وَجَعَلَهَا	
تاسوئی عبادت کوئ مګردَهغه ذات نه چه څه ئی پيداکړې يم،نوبيشکه هغه ماته يقينا چې هدايت کوی.اوپرې ئی خودله دغه،							
كَلِمَةً	بَاقِيَةً	فِي	عَقِبِهِ	لَعَلَّهُمْ	يَرْجِعُونَ ﴿٢٨﴾	بَلْ	مَتَّعْتُ هَٰؤُلَاءِ
کلمه باقی پاتې کيدونکی په خپل اولادکښې دَدې دپاره چه دوئ واپس شی دَشرک نه،بلکه مانفعه ورکړې ده دوئ ته							
وَآبَاءَهُمْ	حَتَّىٰ	جَاءَهُمُ	الْحَقُّ	وَرَسُولٌ	مُّبِينٌ ﴿٢٩﴾	وَلَمَّا	جَاءَهُمُ الْحَقُّ
اومشرانوپلارانودَدوئ ته حتٰی چه راغې دوئ ته حق(قرآن،توحيد)اورسول بيانونکې،اوهرکله چه راغې دوئ ته حق							

قَالُوْا هٰذَا سِحْرٌ وَّاِنَّا بِهٖ كٰفِرُوْنَ ⑳

اوويل دوئ داجادو دې، او مونږ پدې انكاركوؤ.

﴿ وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖٓ ﴾ دا دَ ماقبل سره متعلق دي او توحيد باندې اول دليل نقلي دې، يعني مشركينو ته ويلې كيږى چه تاسو دَ آباوؤ اتباع او تقليد نعرې وهئ نو دَ ابراهيم عليه السلام اتباع او تقليد اوكړئ ،هغه تاسو جد اعلى دې، ابراهيم عليه السلام پخپله هم دَ توحيد قائله وؤ او خپلو اولادته ئې هم دَ توحيد وصيت كړې وؤ (كمافي البقرة، ووصّى بها ابراهيم بنيه.....الخ) او دا رنگه ئې دَ خپل گمراه اباؤاجدادونه اودَ قوم نه برملا دَ بيزارئ اعلان كړې وؤ چه ﴿ اِنَّنِيْ بَرَآءٌ مِّمَّا تَعْبُدُوْنَ ﴾.

فائده: دَدې نه دامعلومه شوه چه دَ اسلام اودَ دلائل سماويه ؤپه مقابله كښې دَ اباؤ اجدادو تقليد كول مذموم اوشرک اوگمراهي ده اودَ سلف صالحينو (لكه شربيني، كبيروغيره په تفسيرونو) كښې چه دَدې آيت لاندې دكوم تقليد ذم ذكردې نومرادورنه هم دغه تقليد دې، ليكن دَ ائمه مجتهدينو په فتوؤباندې عمل كول چه دَ ادلهٔ اربعه ؤنه يعنى چه په استنباط د نصوص باندې مبنى دى، اودغه رنگه دَ هغوئ تقليد كول چه دَ موارد نصوص په تخصيص، تعميم، په احاديثو كښې صحيح، ضعيف پيژندل او په محاوراتو دَ عربو اودَ هغوئ په رسم رواج باندې ښه واقف وؤ، دا تقليد نه مذموم دې اونه پدې باندې دَ شرک اوبدعت حكم جائزدې بلكه دا مقصود او مأجوردې.

﴿ اِلَّا الَّذِيْ فَطَرَنِيْ ﴾ استثناء يامتصله ده ځكه چه مشركانو به دَ الله تعالىٰ عبادت هم كولو، او الله تعالىٰ ته به ئې هم معبود وئيلو، نومطلب دا شوچه ځه ستاسو په معبودانو كښې صرف دَ هغه ذات عبادت كوم چه په حقيقت كښې دَ عبادت لائق دې، يااستثناء منقطعه ده په معنى دَ لكن سره بناء پدې چه دَ دوئ عبادت دالله تعالىٰ سره شرک نه په حكم دَ عدم كښې دې. او "س" په ﴿ سَيَهْدِيْنِ ﴾ كښې دَ تاكيد دَ پاره دې نه دَ استقبال دَ پاره، او "يهدين" په معنى دَ «يثبتنى على الهداية» سره دې.

﴿ وَجَعَلَهَا كَلِمَةًۢ بَاقِيَةً فِيْ عَقِبِهٖ ﴾ "ها" ضمير راجع دې كلمات مذكوره اِنَّنِيْ بَرَآءٌ مِّمَّا تَعْبُدُوْنَ ته، چه كنايه ده دَ "لااله الاالله" نه، اوضمير دَ فاعل يا راجع دې ابراهيم عليه السلام ته، يعنى ابراهيم عليه السلام دا كلمه دَ توحيد په خپل اولاد كښې باقى اوگرځوله يعنى هغوئ ته ئې دَدې توحيد وصيت اوكړو، كما

مرّ، يا راجع دي الله ﷻ ته، يعني الله دا كلمه دتوحيد دَابراهيم علیہ السلام په ذريت كښې باقي او ساتله چه ډيرپيغمبران ئې دَده په نسل كښې پدې كلمې سره مبعوث كړل ﴿لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ﴾ ضمير راجع دي اولاد دَ ابراهيم علیہ السلام دا ماقبل دَ پاره علت دي، چي الله ﷻ دا كلمه باقي اوساتله ابراهيم علیہ السلام په اولاد كښې، دَ دي پاره چي دوئ شرك نه بچ پاتې شي. ﴿يَرْجِعُونَ﴾ اى من الشرك الى التوحيد،

﴿بَلْ مَتَّعْتُ هَٰؤُلَاءِ وَآبَاءَهُمْ﴾ پديكښې دَيو سوال جواب دي، چي هركله دَحضرت ابراهيم علیہ السلام په اولاد كښې الله ﷻ توحيد قائم اودائم اوساتلويا الله ﷻ كلمه توحيد دَ ده اولاد كښې باقي اوساتله ،اومقصود ترينه هم داوو چه دوئ شرك نه بچ شي، نودامشركينِ مكه خوهم دَهغه په اولاد كښې دي نودوئ ولې مشرك شول؟ آيادَتوحيد په باره كښې دَدوئ په زړونو كښې څه شكوك و شبهات پاتې دي؟ نوجواب اوشوچه هيڅ شبه نه ده پاتې بلكه مونږه دوئ لره اودَدوئ اباؤلره دَ دنيا په مال متاع سره مالامال كړل نوپه عيش عشرت كښې محوه شول اودَتوحيد نه منحرف شول، بل دَپاره اضراب دى لعلهم يرجعون نه((هَٰؤُلَاءِ))نه مراد اهل مكه دى.((حَتَّىٰ جَاءَهُمُ الْحَقُّ)) اى دعوة التوحيدوالقرآن،﴿وَرَسُولٌ مُبِينٌ﴾حضوراكرم ﷺ ورنه مراددي،

﴿وَلَمَّا جَاءَهُمُ الْحَقُّ﴾ديكښې د مشركينو ضد وعناد ذكر دي ، يعني كله چه دوئ ته قرآن راغې .دَپاره دَدې چه دوئ دَدې غفلت دَخوب نه رابيداركړي اوتوحيدطرف ته ئې رهنمائ اوكړي نو ﴿قَالُوا هَٰذَا سِحْرٌ﴾عناداوضدئې ورسره اوكړواوسحرجادوئې ورته اووې، او انكار ئې ورنه اوكړو.

وَقَالُوا لَوْلَا نُزِّلَ هَٰذَا الْقُرْآنُ عَلَىٰ رَجُلٍ مِّنَ الْقَرْيَتَيْنِ عَظِيمٍ ﴿٣١﴾ أَهُمْ يَقْسِمُونَ
اوائى دوئ ولې نه دي نازل شوې دا قرآن په يو داسې سړى په دې دوو كلو كښې چې لوئ وي. آيادوئ تقسيموى
رَحْمَتَ رَبِّكَ ۚ نَحْنُ قَسَمْنَا بَيْنَهُم مَّعِيشَتَهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا
رحمت‌نبوت‌دَرب ستا،مونږتقسيم كړيدې په مينځ دَدوئ كښې معيشت دَدوئ په ژونددَدنياكښې
وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَاتٍ لِّيَتَّخِذَ بَعْضُهُم بَعْضًا سُخْرِيًّا ۗ
اواوچت كړيدى مونږ: څنې‌دَدوئ نه دَپاسه دَ نورو په مرتبوكښې چه اونيسى بعض دَدوئ نه بعضولره خدمتگاران،

وَرَحْمَتُ		رَبِّكَ		خَيْرٌ		مِّمَّا		يَجْمَعُونَ		۳۲
اورحمت	دَرب	ستابهتردي	دهغې	نه	چه	دوئ	ئې	جمع	کوي.	

﴿وَقَالُوا لَوْلَا نُزِّلَ هَذَا الْقُرْآنُ﴾ دا د مشرکینو ضد او عناد باندې مبني يو بل سوال بطور شکوې ذکر کيږي چه کله دَ قرآن حقانيت توحيد اثبات نبي کريم ﷺ نبوت او شرک په رد باندې دوئ ته ناقبل انکار دلائل مخکښ ته راغلل نو دوئ حسد اوعناد شروع کړو او دا ئې اويل چه که خامخا دَ قرآن نزول دَ الله ﷻ مقصود ووْ نو دمکې يادَطائف په يو مالداره کس باندې ئې ولې نه نازله ولو؟ ځکه چه عوام دَمالدارو او رؤساؤ په نقش قدم باندې ځي، نو دَدوئ په زعم کښ مالداري اومشري دَمقبوليت علامه ده، ﴿رَجُلٍ﴾ موصوف دې، او ﴿عَظِيمٍ﴾ ئې صفت دې اوپه ﴿مِّنَ الْقَرْيَتَيْنِ﴾ کښ مضاف مقدردې اي من احدى القريتين، نوعبارة دارنګه شو، على رجل عظيم من احدى القريتين، او دَ قريتينو نه مراد مکه اوطائف دي.

﴿أَهُمْ يَقْسِمُونَ رَحْمَتَ رَبِّكَ﴾ دې ځائ نه دَ مشرکينو اعتراض دوه جوابونه ذکر کيږي، او دا اول جواب دې چه حاصل ئې دادې چه دوئ ته داحق ندې ملاؤ چه ستادَرب نعمتونه بالخصوص دَ نبوت نعمت پخپلې مرضئ سره تقسيم کړي، بلکه داتقسيم کلية دَالله ﷻ په مرضئ سره کيږي، ځکه چه الله ﷻ ته دَهرڅه علم اودَهرسړي په حالتو باندې واقف دې، نو دَ خپل عظيم مصلحتونو مطابق چه چاته اوغواړي دَنبوت تاج ورته ورپه سره وي. رحمت پمعنى دَنعمت دي، دلته ورنه مراد دَتولونه لوئ نعمت دَنبوت دې، اواستفهام انکاري دې.

﴿نَحْنُ قَسَمْنَا بَيْنَهُم مَّعِيشَتَهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا﴾ يعنى دَنبوت تقسيم خو، خود ستاسو په مرضئ سره ندې شوې بلکه ستاسو په مينځ کښ ستاسو دَرزق اواسباب معيشت تقسيم هم زمونږ په مرضئ سره شويدې، نو چه يوادنى کارتاسو ته ندې حواله نو دَنبوت تقسيم په شان عظيم کار څنګه تاسو ته حواله دې، ﴿وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَاتٍ﴾ يعنى مونږ دَخپل حکمت مطابق په درجاتو دَ انسانانو کښ، او دَدوئ په رزق کښ فرق اوتفاوت کړيدې، بعضِ قوي دي نو بعضِ ضعيف، بعضِ غنى نو بعضِ فقير، څوک خادم نو څوک مخدوم، څوک حاکم نو څوک محکوم.

﴿لِّيَتَّخِذَ بَعْضُهُم بَعْضًا سُخْرِيًّا﴾ سُخرياً خدمتګارته وائي، منسوب دې سخرة ته پمعنى دَتذليل او ديکښ دَدې تفاوت او فرق وجه او حکمت بيانيږي، يعنى په درجاتو اورزق اوعقل وفهم

کښې مونږه داتفاوت ځکه کړیدې چه هر اعلی دَادنی نه کارواخلی اوهریو په خپلې ذمه داریٔ کښې مشغوله شی ،نودَالله ﷻ پدې حکمت بالغه سره دکائناتونظام په احسن طریقې سره روان دې، ورنه کچرته ټول خلق ئې په منصب کښې،علم عقل کښې،اوپه نوروا سبابو کښې برابرکړې وې نو دَ دنیانظام به بربادشوې وې﴿وَرَحْمَتُ رَبِّكَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُونَ﴾مراددَرحمة نه نبوت دې چې د دنیا یو ادنې منصب د دوئ په اختیار کښې نشته نو نبوت خو ډیر لوئ منصب دې دا به څنګه د دوئ په واک او اختیار کښې وي.

وَلَوْلَآ اَنْ يَّكُوْنَ النَّاسُ اُمَّةً وَّاحِدَةً لَّجَعَلْنَا لِمَنْ يَّكْفُرُ
اوکه نه وې داخطره چه شی به اکثرخلق ډله یو«متفق په کفرېنوخامخابه مونږګرځولې وې دَهغه چالپاره چه کفرکوی
بِالرَّحْمٰنِ لِبُيُوْتِهِمْ سُقُفًا مِّنْ فِضَّةٍ وَّمَعَارِجَ عَلَيْهَا يَظْهَرُوْنَ ﴿٣٣﴾
په رحمن ﷻ باندې،دَپاره دکورونودَهغوئ چتونه دَسپینوزرو اوپوړې هم« دَسپینوزرو»چه په هغې دوئ خیژی
وَلِبُيُوْتِهِمْ اَبْوَابًا وَّسُرُرًا عَلَيْهَا يَتَّكِـُٔوْنَ ﴿٣٤﴾ وَزُخْرُفًا ؕ
اودَپاره دکورونودَهغوئ دروازې«هم دَ سپینوزرو» اوکټونه هم چه په هغې دوئ تکیه وهی. او د سرو زرو «به موکړی وی ،
وَاِنْ كُلُّ ذٰلِكَ لَمَّا مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ؕ وَالْاٰخِرَةُ عِنْدَ رَبِّكَ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿٣٥﴾
اوندی ټول داخیزونه مګرمعمولی نفعه ده دَ ژوند دَ دُنیا،اوآخرت په نزد دَرب ستادَپاره دَپرهیزګارانودې

﴿وَلَوْلَآ اَنْ يَّكُوْنَ النَّاسُ اُمَّةً وَّاحِدَةً﴾پدې کښې دَمشرکانودَاعتراض دویم جواب دې، او دَ دنیا دَ حقارت بیان دې حاصل ئې دادې چه مالداری دَنبوت دَپاره شرط نه ده ځکه چه دَالله ﷻ په نزد دنیاوی مال اودولت هیڅ قدراواهمیت نه لری اونه دَدنیوی مال اعطاء دَقرب اودَوجاهت عند الله دلیل دې،داخوداسې بې قدره اوحقیرخیزدې چه کچرته داخطره نه وې چه اکثرخلق به کفر اختیار کړی نوالله ﷻ به دکافرانودکورنوچتونه،پوړئ،دروازې،پالنګونه اونوردکورسامان ټول به ئې دَسپینوزرو اودَسروزرو جوړکړی وې،نودَمسلمان دَحفاظت پوجه الله ﷻ کافرته دنیا نه ورکوی چه دکفرنه ئې حفاظت اوشی ورنه دَالله ﷻ په نزددنیاقدردَماشې دَ وزر برابر هم نه دې،کما فی الحدیث،لوکانت الدنیا تزنُ عندالله جناحَ بَعوضةٍ ماسقیٰ کافرمنها شربة ماءٍ

(ترمذی) دَ ﴿أُمَّةً وَاحِدَةً﴾ نه مراد امت کافره دي، ﴿لِبُيُوتِهِمْ﴾ بدل اشتمال دي دَ ﴿لِمَن يَكْفُرُ بِالرَّحْمَٰنِ﴾ نه، ﴿وَمَعَارِجَ﴾ ای معارج من فضة، ﴿وَلِبُيُوتِهِمْ﴾ تکرار دَ بيوتهم دَ تاکيد دپاره دي، ﴿أَبْوَابًا وَسُرُرًا﴾ ای من فضة، ﴿عَلَيْهَا يَتَّكِئُونَ﴾ پديکښې اشاره ده ديته چه هيڅ غم به ورسره نه وی بې غمه به ئې تکيه وهلې وی ﴿وَزُخْرُفًا﴾ مراد ترينه سره زر دی، او عطف دې په محل د ((من فضة)) أي: لجعلناه زخرفا او منصوب بنزع الخافض دي او 'من' تبعيضيه دي او ديکښې تنوع طرف ته اشاره ده يعنی بعضِ څيزونه دَ سپينو او بعضِ دَ سروزرو، ځکه چه په تنوع کښې حُسن زيات بنکاره وی، زُخرف، په معنی دَ زينت سره هم دې، کقوله تعالی حتی اذا اخذت الارض زخرفها و ازينت (يونس) نو معنی دا ده چه په هر څيز کښې به مو ورته زينت ورکړې وو.

﴿وَإِن كُلُّ ذَٰلِكَ لَمَّا مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا﴾ 'ان' نافيه دې او 'لمّا' په معنی دَ الا سره دې، ای ماذلک الا متاع، نو دا دَ ماقبل ثمره او نتيجه ده، يعنی که دنيا ټوله په ټوله چاته ملاؤشی نو بهرحال فانی ده، دَ دې وجه نه دا نا قابل قدره او حقيره ده ﴿وَالْآخِرَةُ عِندَ رَبِّكَ﴾ يعنی قابل قدر، قابل طلب صرف آخرت دې، او هغه په تقوىٰ يعنی ايمان او اطاعت سره حاصليږي.

وَمَن يَعْشُ عَن ذِكْرِ الرَّحْمَٰنِ نُقَيِّضْ لَهُ شَيْطَانًا فَهُوَ لَهُ قَرِينٌ ۝
او څوک چه ځان روندکړی دَ ذکر دَ رحمٰن ﷻ (قرآن) نه مونږ مسلط کړو به ده له يو شيطان نو دا شيطان دَ ده ملګرې وی.
وَإِنَّهُمْ لَيَصُدُّونَهُمْ عَنِ السَّبِيلِ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُم مُّهْتَدُونَ ۝ حَتَّىٰ
او بيشکه دا شيطانان منع کوی دوئ لره دَ سمې لارې نه او دوئ ګمان کوی دا چه بيشکه په مونږ په سمې لار روان يو. تر دې پورې
إِذَا جَاءَنَا قَالَ يَا لَيْتَ بَيْنِي وَبَيْنَكَ بُعْدَ الْمَشْرِقَيْنِ فَبِئْسَ الْقَرِينُ ۝
چه کله دوئ راشی مونږته وائی به ورته چه افسوس ځما او ستا په مينځ کښې لرې والې دَ مشرق مغرب وې، پس ډير بد ملګرې ئې ته ،
وَلَن يَنفَعَكُمُ الْيَوْمَ إِذ ظَّلَمْتُمْ أَنَّكُمْ فِي الْعَذَابِ مُشْتَرِكُونَ ۝
او هرګز نفع نه درکوی تاسوته نن ورځ دَ دې وجه نه چه ظلم کړيدې تاسو، دا چه تاسو به عذاب کښې شريک يئ.

﴿ وَمَن يَعْشُ عَن ذِكْرِ الرَّحْمَٰنِ ﴾دازجرمع تخويف اخروی دي، يعنی څوک چی حق او هدايت دلائلو سره واضح کيدلو نه بعد هم دی نه محض حسد او عناد په بنياد اعراض کوی نو الله ﷻ دَ ده نه حق قبولولوتولې لاري بندکړي او شيطان ئي هم سفر شي تردې چی جهنم ته يې داخل کړي او بيا به ډير افسوس کوی او لاسونه به مروړی خو هيڅ نفع به ورته نه ورکوی.

﴿يعش﴾عَشَی، يعشو باب نصر او عَشِيَ باب سمع داوړونه استعماليږی، سمع نه حقيقي ړوند والې او د شب کور په معنی کښې استعماليږي ،او نصر نه هغه وخت استعماليږي چې حقيقتا شب کور نه وي خو دَ هغوئ پشان طرز کوي او شي ته په غور سره نه ګوري ، او دلته د نصر نه استعمال دي او دويمه معنی مراد ده، يعني څوک قرآن واوري او هغې کښې نظر تامل اونکړي بلکه اعراض ترينه اوکړي. ﴿ذِكْرِ الرَّحْمَٰنِ﴾قرآن ورنه مراددي، ﴿ نُقَيِّضْ لَهُ شَيْطَانًا ﴾ نقيضدَ قيض نه مشتق دي.قيض دَاګئ پوستکی ته ويلې کيږی،دې کښې اشاره ده چی څنګه دَ اګئ پوستکی دَاګئ نه چار چاپيره وی نو دغه شان مونږ به هم په دَه دَ هدايت لاري بندې کړو او مکمل دَ شيطان قابو کښې ورکړو،هرطرف ته ، هر ځائ کښې او هر وخت به ده سره شيطان ملګرې وی، اونسبت دَتقييض الله ﷻ ته محض تکوينی مسبب الاسباب په حيثيت سره دې، کقوله تعالی:فلمّازاغوا ازاغ الله قلوبهم. ﴿فَهُوَ﴾ ضمير شيطان ته راجع دې﴿لَهُ ﴾ضميرانسان ته راجع دي، يابالعکس،

﴿ وَإِنَّهُمْ لَيَصُدُّونَهُمْ عَنِ السَّبِيلِ ﴾ د شيطانانو تسلط صورت ذکر کيږي چې شيطانان ورباندې دومره تسلط اوقبضه اوکړی چه ګمراهی ورته هم هدايت ښکاری،د«وَإِنَّهُمْ »ضمير منصوب «شَيْطَانًا»ته او د«لَيَصُدُّونَهُمْ» ضمير منصوب «من» ته راجع دې په «وَمَن يَعْشُ »کښې ، او د «من» او «شَيْطَانًا» دواړو دوه دوه حيثيته دي ، لفظي حيثيت سره مفرد او معنوي حيثيت سره جمع دي ،نو مخکښني آيت «فَهُوَ لَهُ قَرِينٌ»کښې او دغه شان ورستوني آيت « حَتَّىٰ إِذَا جَاءَنَا »کښې لفظي حيثيت اعتبار شوې دي نو ځکه صيغه دمفرد راوړلې شوې ده او او دې آيت کښې معنوي حيثيت اعتبار شوې دې او «شَيْطَانًا» جنس مراد دې نو دې اعتبار سره ورته ضمير دجمع راجع کړې شوې دې.

﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَنَا ﴾ دا دَ شيطان دوستئ انجام بيانيږي ، چې د دوئ دا دوستي صرف د دنيا حد پورې ده ، کله چې سترګې ئې پټې شي او حساب کتاب د پاره زمونږ دربار ته راشي نو بيا به په دوستئ پښيمانه شي ﴿ بُعْدَ ٱلْمَشْرِقَيْنِ ﴾ مشرقين تغليبًا ويلې شويدی مرادورنه لرې والې دَمشرق اودَمغرب دې، ﴿ فَبِئْسَ ٱلْقَرِينُ ﴾ مخصوص بالذّم محذوف دې اى، فبئس القرين انتَ

﴿ وَلَن يَنفَعَكُمُ ٱلْيَوْمَ ﴾ دا جمله عطف ده په «قَالَ يَٰلَيْتَ بَيْنِى وَبَيْنَكَ» باندې ، او دينه مخکښې يقال لهم يوم القيامة مقدر دې، يعني کله چې زمونږ دربار کښې حاضر شي نو ورته اوبه وئيلې شي چې تاسو ټول تابع او متبوع دواړه به جهنم کښې وي او په عذاب کښې اشتراک به درله هيڅ فائده درنکړي په تخفيف د عذاب کښې ، «أَنَّكُمْ فِى ٱلْعَذَابِ مُشْتَرِكُونَ» پوره جمله فاعل ده د « وَلَن يَنفَعَكُمُ » يعني د دنيا قانون دا دې چې "مرگِ انبوه جشنې باشد" د ټولو غم اختر وي ، خو دلته به داقانون نه چليږي او د جهنم عذاب کښې اشتراک به وجه به په تکليف کښې څه تخفيف نه راځي ، او «إِذ ظَّلَمْتُمْ» علت دې دَ « وَلَن يَنفَعَكُمُ » او "اذ" تعليليه دې ،

او دا هم کيدې شې چې « وَلَن يَنفَعَكُمُ » فاعل ضمير مستتر وي چې هغه راجع دې «قَالَ يَٰلَيْتَ بَيْنِى وَبَيْنَكَ » ته په تاويل د "القول المذكور" يا "الندم" سره ، «إِذ» ظرفيه دې ، د ماضي د پاره راځي خو دلته مطلق ظرف يا د حال دپاره دې ، او بدل دې د «ٱلْيَوْمَ» نه او «ظَّلَمْتُمْ » پوره جمله ورله مضاف اليه ده او مراد د «ظَّلَمْتُمْ» نه ثابت کيدل د ظلم دې يعني دا تمناګاني او افسوسونه به درله هيڅ فائده نه درکوي نن ورځ کله چې ستاسو کفر او شرک الله ﷻ په دربار کښې ثابت شو «أَنَّكُمْ فِى ٱلْعَذَابِ مُشْتَرِكُونَ » دا علت دې د « وَلَن يَنفَعَكُمُ » او لام تعليليه دې نه مخکښې مقدر دې ، اي: لانكم في العذاب مشتركون، او «فِى ٱلْعَذَابِ» نه مرا د سبب د عذاب دې چې هغه کفر او شرک دې.

أَفَأَنتَ تُسْمِعُ ٱلصُّمَّ أَوْ تَهْدِى ٱلْعُمْىَ وَمَن كَانَ فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ۝

آيا نو ته اې پيغمبره! اوررول هدايت کولیشی کوڼو ته ياته لاره ښودلې شي ړوندو ته او هغه چاته چه وی په ګمراهۍ ښکاره کښې.

فَإِمَّا نَذْهَبَنَّ بِكَ فَإِنَّا مِنْهُم مُّنتَقِمُونَ ﴿٤١﴾ أَوْ نُرِيَنَّكَ الَّذِي
پس که چرې مونږبوخوتالره نوبیشکه مونږ به دَدوئ نه بیاهم انتقام اخلو،اویااوښایوتاته هغه عذاب
وَعَدْنَاهُمْ فَإِنَّا عَلَيْهِم مُّقْتَدِرُونَ ﴿٤٢﴾ فَاسْتَمْسِكْ بِالَّذِي
چه وعده ئی کړیده مونږ دوئ سره، پس بیشکه مونږپدوئ قادریو،پس خه کلک اونسیه ته هغه کتاب
أُوحِيَ إِلَيْكَ إِنَّكَ عَلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٤٣﴾ وَإِنَّهُ لَذِكْرٌ لَّكَ
چه وحی کړې شویدې تاته،بیشکه ته په لاره سمه باندې ئی.اوبیشکه داقرآن نصیحت دې ستادپاره
وَلِقَوْمِكَ وَسَوْفَ تُسْأَلُونَ ﴿٤٤﴾ وَاسْأَلْ مَنْ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ
اودقوم ستادپاره،اوزرده چه ستاسونه به تپوس اوکړیشی.اوتپوس اوکړه دهغه چانه چه لیږلی وؤمونږمخکښې دستانه
مِن رُّسُلِنَا أَجَعَلْنَا مِن دُونِ الرَّحْمَٰنِ آلِهَةً يُعْبَدُونَ ﴿٤٥﴾
درسولانوزمونږنه آیاگرځولی دی مونږماسویٰ دَ رحمن ﷻ نه نورمعبودان چه عبادت به ئی کولیشو.

﴿أَفَأَنتَ تُسْمِعُ الصُّمَّ﴾تسلی ده حضورﷺ ته،چه څوک په زورځان کونږکړی یاړوندکړی چه حق نه آوری اونه ئي وینی اواعراض کوی نوهغوئ ته هدایت کول ستاپه اختیارکښې ندی،نوته داسې غم فکرمه کوه چه دوئ ایمان ولې نه راوړی،﴿فَإِمَّا نَذْهَبَنَّ بِكَ﴾ ماقبل تسلي سره متعلق دې ، یعني ته ئي پرواه مه کوه مونږ به ضرور د دوئ نه انتقام اخلو ستا په موجودګئ کښې وي او که ته وفات شوې وې، او مونږ په دوئ خه قادر یو ، او الله ﷻ دواړه قسمه عذابونه مسلمانو ته اوخودل ، بدر وحنین واحزاب د نبي ﷺ په حیات کښې او یرموک و قادسیه وغیره د نبي ﷺ د وفات نه ورستو ، «نَذْهَبَنَّ بِكَ» اذهاب نه نه مراد وفات کول دي ،

﴿فَاسْتَمْسِكْ بِالَّذِي أُوحِيَ إِلَيْكَ﴾دلیل وحی دې په توحیدچه ای پیغمبره استاکارهم دادې چه تاته کومه وحي راغلې ده اوچه دکوم څیزحکم چه تاته شویدې په هغې باندې مضبوط اوکلک اوسیږه،اودمشرکانودَاعراض پرواه مه کوه،مراددَ﴿فَاسْتَمْسِكْ﴾نه دوام دې په تمسک

باندي، ﴿بِالَّذِيٓ أُوحِيَ إِلَيۡكَ﴾ مرادورنه قرآن اوتوحيد دي، ﴿إِنَّكَ عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ۝٤٣﴾ تعليل دي دَ تمسک

﴿وَإِنَّهُۥ لَذِكۡرٞ لَّكَ وَلِقَوۡمِكَ﴾ اى لشرفٌ عظيمٌ ديکښې ترغيب دې وحي او دقرآن اتباع ته ، چې به دې باندې مضبوط او کلک اوسيږئ دا ستاسو دپاره د دنيا او آخرت عزت او شرافت ذريعه ده ، قوم نه مراد يا قريش دى يعنى دا قرآن ستااوستادَقوم دَپاره ډيرلوئ شرف اوعزت دې، ظاهره خبره ده چه دَدې نه به لوئ عزت اوشرافت څه وى چه دَالله ﷻ کلام،اودَټولې دنيا دَ نجات ابدى دستورالعمل دَدوئ په ژبه کښې نازل شو،اودَدې مقدس کلام رومبنى مخاطبين هم دوئ اوګرځيدل،يادقوم نه مرادامت اوآتباع دَنبى اکرم ﷺ دې چې د دى په اتباع او عمل سره دوئ ته د دنيا سيادت ميلاووې دې شي.﴿وَسَوۡفَ تُسۡـَٔلُونَ﴾ يعنى په قيامت کښې به ستاسونه تپوس کيږى چه تاسودَدې لوئ نعمت څه قدرکړې وؤ؟اودغه رنګه دَدې په احکاماتوباندې موخومره عمل کړې وؤ

﴿وَسۡـَٔلۡ مَنۡ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ﴾ پديکښې استشهاددې په اجماع دَانبياؤکرامو په توحيدباندې يعنى دليل نقلى اجمالى ازانبياء سابقين دې په دعوى باندى،اوتنبيه ده پدې خبره باندې چه توحيد څه نوې څيزندې چه حضور ﷺ دَخان جوړکړيدې،اوتاسودَدې پوجه دَنبي اکرم ﷺ سره عداوت کوئ،بلکه الله ﷻ هرنبي ته دَتوحيدحکم کړيدې،اوهيڅ يونبي ته ئى دَشرک تعليم او اجازت ندې ورکړې چه ماسوى الله نه دې دَبل چاعبادت هم اوکړيشى،په آيت کښې دَ رسولانونه سوال کول(١) ياحقيقة دى لکه په قرطبى وغيره کښې دى چه دَمعراج په شپه چه حضور ﷺ تماموانبياؤته امامت اوکړونوحضرت جبرئيل عليه السلام ورته اووئيل سل يا محمد من ارسلنا من قبلک..." فقال رسول الله ﷺ لااسأل قداکتفيتُ،اوپه يوروايت کښې دى چه حضور ﷺ ترينه سوال اوکړوچه انّ ربّى اوحىٰ اليّ ان اسألکم هل اُرسل احدٌ منکم يدعوالى عبادة غير الله؟ فقالوا يا محمد، انا نشهد انا ارسلنا اجمعين بدعوةٍ واحدة انّ لااله الاّالله وانّ مايدعون من دونه باطل... (قرطبى) .

(٢)ليکن چونکه دازوايات سندأضعيف دى نودَدې وجه نه اکثرمفسرين فرمائى چه سوال کول حقيقة نه دى بلکه مجازا دى،نوپه عبارة کښې حذف دې،اى واسئل امم من ارسلنا....الخ ۱۲

وسئل مومني اهل الكتاب اى اهل التوراة والانجيل (كبيروغيره) يعنى دَ انبياؤ سابقينو دَ امتونو او دَ اهل كتاب مؤمنانونه سوال اوكړه.

(۳) بعضِ وائى چه مراد دَسوال نه دَهغوئ په دين كښې نظركول او استدلال كول دى. (روح المعانى).

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مُوْسٰى بِاٰيٰتِنَآ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهٖ فَقَالَ
اوپه تحقيق سره ليږلى وؤمونږموسى عليه السلام په معجزوخپلوسره فرعون ته اودَهغه سردارانوته،نواوويل موسى عليه السلام
اِنِّيْ رَسُوْلُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٤٦﴾ فَلَمَّا جَآءَهُمْ بِاٰيٰتِنَآ اِذَا هُمْ
بيشكه څه رسول يم دَربّ العالمين.نوهركله چه راغى موسى عليه السلام دوئ ته په معجزوزمونږسره،نودوئ به
مِّنْهَا يَضْحَكُوْنَ ﴿٤٧﴾ وَمَا نُرِيْهِمْ مِّنْ اٰيَةٍ اِلَّا هِيَ اَكْبَرُ مِنْ اُخْتِهَا ۡ وَاَخَذْنٰهُمْ
په هغې معجزاتوپورې خندل.اونه موښودله دوئ ته هيڅ معجزه مگرهغه به لويه وه د بلې (مخكښې) نه . او اونيول مونږدوئ
بِالْعَذَابِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿٤٨﴾ وَقَالُوْا يٰٓاَيُّهَ السّٰحِرُ ادْعُ لَنَا رَبَّكَ
په عذاب سره چه كيديشى دوئ راواپس شى دَشرك نه اوويل دوئ اې ساحره! سوال اوكړه زمونږدپاره دَخپل رب نه
بِمَا عَهِدَ عِنْدَكَ اِنَّنَا لَمُهْتَدُوْنَ ﴿٤٩﴾ فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ
په سبب دَهغه وعدې چه تاسره ئى كړيده بيشكه بيابه مونږخامخاهدايت قبول كړو.نوهركله چه لرې كړومونږدَدوئ نه
الْعَذَابَ اِذَا هُمْ يَنْكُثُوْنَ ﴿٥٠﴾
عذاب نودوئ به ماته كړله وعده.

﴿ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مُوْسٰى بِاٰيٰتِنَآ ﴾ دادويم دليل نقلى تفصيلى دې په دعوې باندې دَ موسى عليه السلام نه اودَمشركانودَشبهې "لولانزّل هذاالقرآن"سره متعلق دې چه حضرت موسى عليه السلام ته الله تعالى نبوت وركړې وؤحالانكه فرعون دَهغه نه زيات مالداره اوجابربادشاه وؤ،نودَدې نه دا خبرا معلوميږى چه نبوت مالدارئ ته ندې محتاج،دارنگه پدې كښې تسلّى ده نبى اكرم ﷺ ته چه دا كفارمكه په تاسوباندې كوم اعتراض اوشبه كوى نودغه اعتراض فرعون په موسى عليه السلام

باندې هم کړي ورڅه "اليس لى ملک مصر و هذه الانهار..." اودموسى عليه السلام باره کښې ئې اويل چه "هو مهين و لا يكاد يبين" نوفقيراوغريب سړي څرنګه څماپه شان مالداره بادشاه ته رسول راليږلې شويدې، نوکفارهميشه پداسې رنګه ضعيفوشبهاتوسره استدلال کوی نولهذادې طرف ته التفات مه کوه، اولکه څرنګه چه دفرعونيانونه مونږه انتقام واخستواوغرق موکړل نو ستا دا اعداء به هم هلاک کړو، دموسى عليه السلام اودفرعون کومه واقعه چه دلته ذکرده نوپه تفصيل سره په سورة اعراف وغيره کښې ذکرشويده نودلته ئې ذکرلوته حاجت نشته دې.

﴿وَمَا نُرِيهِم مِّنْ ءَايَةٍ﴾ مراددينه هغه تسع ايات بينات چه په سورة اسراء آيت(۱۰۱)کښې تير شويدی﴿إِلَّا هِىَ أَكْبَرُ مِنْ أُخْتِهَا﴾اى من اُختها السابقة عليها(روح المعانى)يعنى هره معجزه به د مخکښې معجزې نه لويه وه، ياپديکښې دهرې معجزې لوئ والې مقصوددې، لکه څرنګه چه په محاوره کښې هم چه دډيروڅيزونوکمال بيانيږی نود، يوبل نه ښه دې، ويلې کيږی. ﴿وَأَخَذْنَٰهُم بِٱلْعَذَابِ﴾ مراددعذاب نه قحط، طوفان وغيرذالک دی چه په سورة اعراف(۱۳۳)کښې مذکور دی، و لقد اخذنا آل فرعون بالسنين...الخ.﴿لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ﴾يعنى داعذابونه مى وربانددې څکه راوستل چه دکفراوشرک نه راواپس شى اوتوبه اوکړی، ليکن دوئ راواپس نه شول،

نوچه په عذاب کښې مبتلاشول نوبيائى موسى عليه السلام ته فرياد کولوچه﴿وَقَالُواْ يَٰٓأَيُّهَ ٱلسَّاحِرُ﴾ ساحر ئى يا ادبًا او تعظيما وئيلى دى، څکه چه ددوئ په محاوراتوکښې دالفظ مذموم نه وو بلکه لوئ عالم ته به ئى ساحرويل، څکه چه ددوئ په نزدسحرلوئ علم وو، يائى توهينا او استهزاءً وئيلې دې دوجه دخبث باطن نه چه ګوياکه مونږتراوسه پورې تاته نبى نه وايوبلکه تا يو ماهر ساحر ګڼړو. ﴿ٱدْعُ لَنَا رَبَّكَ﴾يعنى زمونږدپاره دخپل رب نه دعااوغواړه چه زمونږنه عذاب لرې کړي، ﴿بِمَا عَهِدَ عِندَكَ﴾دعهدنه مراد(۱)نبوت دې، اى بعهده عندک من النبوة، يعنى دخپل نبوت په وسيلې دعا اوکړه (۲)ياورنه مراد د دعا قبولو عهد دې يعنى الله جل جلاله تاسوسره د دعا قبولو عهدکريدې نوزمونږدپاره ورنه دعااوغواړه، (روح المعانى).(۳)ياورنه مرادطريقه ددعاده، يعنى په هغه طريقه دعااوغواړه چه کومه تاته رب ستا ښودلې ده. ﴿إِنَّنَا لَمُهْتَدُونَ﴾يعنى کچرته زمونږنه داعذاب لرې کړيشى نومونږبه خامخاهدايت قبول کړواوايمان به راوړو.

﴿فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ ٱلْعَذَابَ﴾يعنى چه دموسى عليه السلام په دعاسره به ورنه عذاب لرې کړى شو نو بيا به دوئ خپله وعده ماته کړله.

وَنَادٰى فِرْعَوْنُ فِىْ قَوْمِهٖ قَالَ يٰقَوْمِ اَلَيْسَ لِىْ مُلْكُ مِصْرَ وَهٰذِهِ الْاَنْهٰرُ

اوآواز اوکړوفرعون په قوم خپل کښ وئ ویل اې قومه څما آیانده زما په قبضه کښ بادشاهي دمصراودانهرونه

تَجْرِىْ مِنْ تَحْتِىْ ۚ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ ﴿٥١﴾ اَمْ اَنَا خَيْرٌ مِّنْ هٰذَا الَّذِىْ هُوَ مَهِيْنٌ ۙ

بهیږی څما دلاندې، آیاتاسو نه وینئ(قوت څما)بلکه څه بهتریم د ددې سړی(موسی علیه السلام)نه چه دې خوارېږي قدره دې،

وَّلَا يَكَادُ يُبِيْنُ ﴿٥٢﴾ فَلَوْلَآ اُلْقِىَ عَلَيْهِ اَسْوِرَةٌ مِّنْ ذَهَبٍ اَوْ جَآءَ مَعَهُ

اونه لری طاقت چه بیان ئې کړی، پس ولې نه دې اچولې شوې په ده باندې بنګړی دسروزرو اویاولې ندی راغلی دده سره

الْمَلٰٓئِكَةُ مُقْتَرِنِيْنَ ﴿٥٣﴾ فَاسْتَخَفَّ قَوْمَهٗ فَاَطَاعُوْهُ ۚ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ﴿٥٤﴾

فرشتې صف ترلی.پس بې عقله ئې اوموندوقوم خپل نوهغوئ اطاعت اوکړو د ده ، بیشکه دوئ وؤقوم فاسقان

فَلَمَّآ اٰسَفُوْنَا انْتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَاَغْرَقْنٰهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿٥٥﴾ فَجَعَلْنٰهُمْ

پس هرکله چه ئې غصه کړومونږ،نوانتقام واخستومونږ د دوئ نه نومونږ غرق کړل دوئ ټول نو اوګرځول مونږ دوئ

سَلَفًا وَّمَثَلًا لِّلْاٰخِرِيْنَ ﴿٥٦﴾

پیشوایان اونمونه دعبرت دپاره دورستنو.

﴿وَنَادٰى فِرْعَوْنُ فِىْ قَوْمِهٖ﴾ په یکښ دفرعون دغروراواستکباربیان دې،فرعون چه اولیدل چه بار بار د موسی علیه السلام په دعاسره عذاب دفع کیږی نوخطره ورسره پیداشوه چه دده دقوم په زړونو کښ دموسی علیه السلام عظمت پیدانشي اوایمان ورباندې رانه وړی،نودخپل سلطنت او اقتدار نه د مرعوب کولواوموسي علیه السلام نبوت مشکوکه کولودپاره ئې درې اعتراضه په موسي علیه السلام اوکړو﴿ اَلَيْسَ لِىْ مُلْكُ مِصْرَ ﴾ دا اول اعتراض دې چې دنیا کر وفر ماسره دې ، نهرونه څما ماتحت چلیږي ، نو څما موجودګئ کښې څنګه کیدیشي چې دې دې نبي وي ؟ او د دومره سامانونو او وسائلو د موجودیت باوجود او زمونږ د دغه حیثیت سره دانه ده مناسبه چه دموسی علیه السلام په شان د یو معمولی حیثیت والاسړی ته تسلیم شو او ایمان پرې راوړو۔ کیدیشی چه فرعون پخپله په قوم کښ دغه اوازکړې وی،اوداهم کیدیشی چه اسناد

دَ ندا فرعون ته مجازأ شوې وي ، مراد ورنه امرکول دی په نداء.﴿وَهَٰذِهِ الْأَنْهَارُ﴾ دَ دینه مراد هغه څلور نهرونه دی چه دَدریائی نیل نه جداکړې شوی وۀ.(۱)نهر الملک(۲)نهر دمیاط (۳) نهر تنیس (۴) نهر طولون ﴿تَجْرِي مِن تَحْتِي﴾ای تحت قصری،یا من تحت امری،یعنی څما دَ احکامو مطابق بهیږی

﴿أَمْ أَنَا خَيْرٌ﴾ ام پمعنی دَ بل سره دې ای بل اناخیرٌ،اوبعض استفهامیه ګرځولې دې،﴿الَّذِي هُوَ مَهِينٌ﴾ فقیرضعیف الحال،خواربې قدره دې،﴿وَلَا يَكَادُ يُبِينُ﴾پدیکښې ئې اشاره ده دَموسی علیه السلام دَ ژبې لکنت ته لکه په سورة طه کښې تیرډی،اودغه لکنت اګرچه الله تعالیٰ دَموسی علیه السلام په دعا و احلل عقدة من لسانی سره ختم کړې وۀ لیکن فرعون ور باندې دَ مخکنی وخت په بناء عیب او لګولو.

﴿فَلَوْلَا أُلْقِيَ عَلَيْهِ أَسْوِرَةٌ مِّن ذَهَبٍ﴾اسورة جمع دَسوارده سروزرو بنګړی ته وائی ، دا ئې **دویم اعتراض دې** ، پخوا دا رواج ووچه کوم سړې بادشاه،سردار،یا مشر به ئې جوړ ؤو نو هغه ته به ئې سروزرو بنګړی واچول ،نو فرعون په موسی علیه السلام دا اعتراض کوی که چرته دې پیغمبر وې او دومره عظیم منصب ورته میلاووی نو بیا ورته بنګړی ولې ندی اچولی شوي. او یا کنایه ده مالک کیدلو دَسروزرونه،یعنی دې دَسروزرومالک ولې ندې یعنی مالداره ولې ندې څکه چه پیغمبرخومالداره وی،لکه څنګه چه کفارمکه ؤهم دا اعتراض کولو

﴿جَاءَ مَعَهُ الْمَلَائِكَةُ﴾دا **دریم اعتراض دې،** چې کچرته دې واقعي دالله تعالیٰ نبي او پیغمبر وې نو ده سره به څنګ کښې اخوا دیخوا ملائک روان وې ، قتاده رحمه الله دَ﴿مُقْتَرِنِينَ﴾ معنی متتابعین کوی،نوداهم کنایه ده دَمعاونت اوامدادنه یعنی دَ ده سره ملائکه بطور بادی ګاډ ولې نه ګرځی،چه څوک ورته نقصان اونه رسوی.

﴿فَاسْتَخَفَّ قَوْمَهُ فَأَطَاعُوهُ﴾ استخف صیغه د باب استفعال ده،(۱)او دیکښې یاخاصه دَ "وجدان" دې.نو دې صورت کښې به معنی دا وي: وجدهم خفیفة أحلامهم یعنی خپل قوم یې بې وقوف اومند.(۲)یا پکښې خاصه دَاتخاذ ده،او پدې صورت کښې به دا معنی وي:خپل قوم نه ئې بیوقوف جوړ کړو،بقول والد حضرت شیخ به ئې داسې ترجمه کوله: "پس بے وقوف بنادیا اپنے قوم کو" یعني پدغه دروغو نعرو سره ئې خپل قوم بې وقوفه اوغلط کړو نو هغوئ تابعدادري اوکړه. لکه نن صبا سیاسي فرعونیانو طرز دې،(۳)یا پکښې خاصه دَ طلب ده ،دې صورت کښې معنی

به داوی: طلب منهم الخفة:أي السرعة يعنی هغوي نه ني خپل اطاعت او فرمانبرداری کښ جلدي طلب کړه،چه زر څما اتباع اوکئ.

﴿فَلَمَّآ ءَاسَفُونَا﴾ دا دنتقام الهي بيان دې ، ((ءَاسَفُونَا))پمعنی دَ اغضبونا سره دې،اوغضب مجاز دې دَ ارادې دَعقوبة نه،يعنی کله چه هغوئ داسې کارونه اوکړل چه په هغې سره عادتًا سړې په غضب کښ کيږی نو الله ورباندې عذاب راوستلو اوټول ئی غرق کړل

﴿فَجَعَلْنَٰهُمْ سَلَفًا﴾حضرت ابن عباس‌رضی الله عنه اوقتاده‌رحمه الله دَ((سَلَفًا)) معنی متقدمين الی النار کوی(۲) څنې نور مفسرين دَ((سَلَفًا)) معنی قدوةً للكفار الذين بعدهم کوی يعنی دَدوئ اقتداء کونکوته به هم دغه شان عذاب ملاويږی(۳)اوڅوک ئی اخبارًا لامة محمدﷺ کوی، اودَ﴿وَمَثَلًا لِّلْءَاخِرِينَ﴾ معنی:(۱) عبرة لهم کوی(۲)او بعض ئي معنیعظةً لمن ياتي بعدهم،کوی ، يعنی ورستو راتلونکو دَ پاره وعظ دې پکښ، (۳)او بعض ورنه قصه عجيبه مرادکوی ، يعنی ورستو راتلونکو نورو نسلونو ته دَدوئ قصه دَيوې عبرتناکې واقعې اونمونې په شان بيانيږی (روح المعانی).

وَلَمَّا ضُرِبَ ابْنُ مَرْيَمَ مَثَلًا إِذَا قَوْمُكَ مِنْهُ يَصِدُّونَ ﴿٥٧﴾ وَقَالُوٓا۟ ءَأَٰلِهَتُنَا
اوکله چه بيان شی ابن مريم په مثال کښ نوبياقوم ستادَهغې نه چغې اُوباسی اودوئ وائی چه آيامعبودان زمونږ
خَيْرٌ أَمْ هُوَ ۚ مَا ضَرَبُوهُ لَكَ إِلَّا جَدَلًۢا ۚ بَلْ هُمْ قَوْمٌ خَصِمُونَ ﴿٥٨﴾
بنه دی اوکه عيسیٰ،نه بيانوی دوئ دامثال تاته مګردَپاره دَجګړې،بلکه دوئ قوم دې جګړې کونکی.
إِنْ هُوَ إِلَّا عَبْدٌ أَنْعَمْنَا عَلَيْهِ وَجَعَلْنَٰهُ مَثَلًا لِّبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿٥٩﴾
نه دې داعيسیٰ‌عليه السلام مګريوبنده دې چه انعام کړې مونږپه هغه اوګرخولې مو وۀ دې نمونه دَخپل قدرت دَپاره دَبنی اسرائيلو.
وَلَوْ نَشَآءُ لَجَعَلْنَا مِنكُم مَّلَٰٓئِكَةً فِى ٱلْأَرْضِ يَخْلُفُونَ ﴿٦٠﴾ وَإِنَّهُۥ
اوکچرته مونږغوښتلی نوګرخولی به موونږستاسوپه بدل کښ فرشتې په زمکه کښ چه خلافت به ئې کولې.اوبيشکه عيسیٰ‌عليه السلام
لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ فَلَا تَمْتَرُنَّ بِهَا وَٱتَّبِعُونِ ۚ هَٰذَا صِرَٰطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴿٦١﴾
دليل دې دَقيامت نومه کوئ تاسوشک په راتلودَقيامت کښ اوڅمااتباع اوکړئ،دالاره ده سمه

وَلَا	يَصُدَّنَّكُمُ	الشَّيْطٰنُ	إِنَّهُ	لَكُمْ	عَدُوٌّ	مُّبِينٌ ⑥٢

اومنع دې نه کړي تاسولره شيطان، دَدې سمی لارې نه بیشکه داشیطان ستاسودشمن دې ښکاره.

﴿وَلَمَّا ضُرِبَ ابْنُ مَرْيَمَ مَثَلًا﴾ دلته نه دَ **سورت دريمه حصه** ذکر کيږي او دَحضرت عيسی علیہ السلام تذکره کيږي،دا دريم دليل نقلي تفصيلی دې په دعوې باندې او دې په ضمن کښې نفی دَ نائب کيږي بصورت ولد مذکر، يعنی حضرت عيسي علیہ السلام د الله ﷻ خوي نه دې بلکه معزز بنده او پيغمبر وو چې بني اسرائيل ئي توحيد طرف ته رابللو.دَدې آيتونو څلور تفسيرونه شويدي:

اول تفسير: دَ آيتونه د عبدالله بن زبعری اعتراض او مجادلی په تناظر کښې نازل شويدی، روايت کښې راغلی دی چه رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت کړوچه"انکم وماتعبدون من دون الله حصب جهنم" (انبياء:۹۸)يعني بيشکه اې مشرکانوتاسواوستاسومن دون الله معبودان دَجهنم خشاک يئ داخليږئ به ورته،نوابن الزبعری اعتراض اوکړوچه عيسی علیہ السلام خوهم معبودګرځولې شويدې نوآياهغه به هم جهنم ته ځی(معاذالله)نوکچرې عيسی علیہ السلام په جهنم کښې وی نو زمونږ معبودان اومونږ دې هم ورسره يوپه جهنم کښې ، مونږ په دې راضی يو،نو مشرکانو چه دا واوريدلو نو ډير خوشحاله شو ، چغې اوشورِ شغب ئی جوړکړو،دامعنی ده دَدې قول﴿إِذَا قَوْمُكَ مِنْهُ يَصِدُّونَ﴾ نودَدې په جواب کښې الله ﷻ يوخوداآيت نازل کړوچه"انّ الذين سبقت لهم (انبياء:۱۰۱)يعني دَ دينه مراد بتان دَ دوئ دی ،دَدې مکمل تفصيل سورت الانبياءکښې ان الذين سبقت لاندی ملاحظه کړئ. ﴿وَقَالُوا ءَأَلِهَتُنَا خَيْرٌ أَمْ هُوَ﴾ دا الزام دې د مشرکينو ، ضمير دَ "هو" راجع دې عيسی علیہ السلام ته، يعنی ظاهره ده چه ستاپه نزد عيسی علیہ السلام بهتردې،نوچه هغه به په جهنم کښې وی (معاذ الله) نو پرواه نشته پدې چه زمونږمعبودان او مونږ هم پکښې يوو.

دويم تفسير: بعض رواياتو کښې راغلی دی چه يوورځ نبی کريم ﷺقريشوته اوې: الله ليس احد يعبد من دون الله فيه خير چه الله ﷻ نه ماسوادَ چاهم عبادت کيږی هغه کښې هيڅ خير نشته،نو مشرکينو په دې شور جوړکړو او اوئي وېل چې بيا خو د عيسی علیہ السلام هم عبادت کيدلو،ظاهره خبره ده چې هغه زمونږ بتانونه بهتر وو.چې هغه کښې خير نشته نو هيڅ پرواه نشته چي زمونږ مونږ اله کښې نوی،

دريم تفسير: دَ دې نه مراد ان مثل عيسى عندالله كمثل أدم دې، چه مشركينو كله دا آيت واوريدلو نو چغې او شور ئې جوړ كړو چه أالهتنا خيرأم هويعني مونږ دَ عيسايانونه زيات غوره يو ځكه چې زمونږآلهة دهغوئ آلهة نه بهتر دې، مونږ د فرشتو عبادت كوو ،او هغوئ دَ انسان يعني عيسي عليه السلام .لهذا چې عيسى عليه السلام معبود جوړيدې شې نوفرشتې بطريق اولى معبود جوړيدې شي.

خلورم تفسير:حضرت شاه ولى الله فرمائي چه دا دَ يوى شبهى جواب دې چه ماقبل «واسئل» نه پيدا كيږي چه دالله تعالى نه ماسوا بل څوک معبود جوړولواو دشرک كولو اجازت هيڅ مذهب كښې نشته نو مشركينو چه كله دا واريدو نو شورئې جوړ كړو ،چه څنګه نشته، نصارى عيسې عليه السلام معبود كرځولې وو ،هغوئ عيسې عليه السلام معبود ګرځولې وو نو مونږ فرشتې معبودان ګرځول زيات غوره دى دَعيسى عليه السلام نه ،بهر حال دى ټولو تفسير خلاصه او قدر مشترک دادى چه (۱)دلته مشركينو يو شبه او اعتراض ذكر كيږي ،(۲)اعتراض هدف عيسى عليه السلام دې (۳)اودَعيسى عليه السلام معبوديت نه خپل آلهؤو معبوديت باندې استدلال كوى.

﴿مَثَلًا﴾ دريم تفسير مطابق خپلې حقيقي معنې يعني مثال كښې دې ، نورو توجيهاتو مطابق دې نه مراد مشبه به دې ، ځكه چې دوئ حضرت عيسي عليه السلام د خپلو الهؤو د پاره بطور تشبيه پيش كړې دې ،

﴿مَاضَرَبُوهُ لَكَ إِلَّا جَدَلًا﴾ دلته نه الله تعالى مشركينو اعتراض او شبهې دو جوابونه ذكر كوى ، يو اجمالا بل تفصيلاً ، دا دَ مذكورې شبهې اجمالى جواب دې،چې مشركين دا اعتراض څه د حق احقاق او اظهار د پاره نه كوي بلكه صرف بحث مباحثه او بل خاموشه كول غواړي ، «جدال» ديته وائي چې سوال جواب نه مقصد صرف بحث مباحثه او خپله غلبه وي ، احقاق د حق او ابطال د باطل نه وي مقصود «بَلْ هُمْ قَوْمٌ خَصِمُونَ» ديكښې ترقي ده د مشركينو د حالت چې جدال ئې پريګده، دوئ خصم او جهګړماران دي ، خه ورته پته ده چې مونږ په ناحق يو خو بيا هم خپله دفاع كوي ، د«خصام» مطلب دادې چه جګړه كونكې پدې پوهيږى چه څه په ناحقه يم ،او ما سره هيڅ دليل نشته دې، محض دَخپلې خبرې پوره كولودَپاره بحث او تكرار كوى ، (التحرير والتنوير) نودوئ ته هم معلومه وه چه عيسى عليه السلام خپل قوم دَشرک نه منع كړې وؤ ،كقوله تعالى:((وقال المسيحُ يٰبنى اسرائيلَ اعبدوا الله ربّى و ربّكم انه من يّشرک بالله فقد حرّم الله

عليه الجنة›› او دغه رنګه دلته هم فرمائي چه﴿إِنَّ اللَّهَ هُوَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ﴾نو عيسى عليه السلام دَخپلې بېزارئ اعلان پوجه په نوروباطلو معبودانوکښې ندې شمار،اونه پدې سره دَشرک په جوازباندې استدلال صحيح دې.

﴿إِنْ هُوَ إِلَّا عَبْدٌ أَنْعَمْنَا عَلَيْهِ﴾ دادَمذکورې شبهې تفصيلې جواب دې چې عيسى عليه السلام دَ الله ﷻ معزز او انعام يافته بنده وؤ.ليکن بنى اسرائيلو کښې دَ ده معامله او امر يوځو اعتبار سره عجيب وؤ: (۱)پيدائش اعتبار سره، چه بغيرده پلار نه پيدا شوې وؤ،(۲)ورکوالئ کښې خبرې کول. (۳)خلاف عادت زر زرلوئيدل.(۴)مادر زاد ړاندو ته بينائي ورکول او برص بيماران خه کول، ليکن دا تعجب خيز خلقت او احوال دَده په معبوديت باندې خو دلالت نه کوى بلکه دا خو د الله ﷻ قدرت باهره باندې دلالت کوى،لهذا دې نه ابن الله او معبود کيديشى ځکه چه بنده او مخلوق دې او نه معذب کيديشى ځکه چه دَ الله ﷻ انعام يافته او نبى دې نو ديکښې نفى دَ نائب بصورت ولد مذکر اوشو. ﴿أَنْعَمْنَا عَلَيْهِ﴾ انعام نه مراد نبوت دې يعنى نبوت موورته ورکړې وؤ،اوچاته چه الله ﷻ نبوت ورکړى نوهغه جهنمى نه وى،﴿وَجَعَلْنَاهُ مَثَلًا﴾مثلاً پمعنى دَ آية و امرا عجيبا يستدلّ بها على قدرة الله تعالى،دې يعنى عيسى عليه السلام زمونږ په قدرت اومعبودوالى باندې د بنې اسرائيلو د پاره نشانى وه.

﴿وَلَوْ نَشَاءُ لَجَعَلْنَا مِنْكُمْ مَلَائِكَةً﴾د دې آيت دوه توجيه کيديشي:

(۱)يو داچې دا تخويف دينوى دې او الله ﷻ فرمائى چه کچرته مونږ او غواړو نو تاسو به هلاک کړو،او تاسو بدله کښې فرشتې راولو.دزمکې خلافت به ستاسو نه واخلم او هغوئ ته به ورکړم او هغوئ به ځما اطاعت او فرمانبردارى کوى،دې صورت کښې ‹‹مِنكُمْ›› کښې ‹‹مِن›› دَ بدل دَپاره دې. أي:بدلكم، لکه په بل آيت کښې هم د بدل د پاره راغلې دې:ارضيتم بالحيوة الدنيا من الاخرة

(۲)دويم دا چې دا نفي د نائب ده په صورت د ولد مذکر او رد دې په هغه خلقو چې هغوئ د عيسى عليه السلام عجيب وغريب خلقت او احوالو نه ئې د هغه په معبوديت او ابنيت استدلال کولو، چې دا خو زمونګ دَ قدرت محض يو مظهر وو که مونږ او غواړو نو دينه عجيب و غريب امر باندې هم قادر يو چه تاسو نه فرشتې پيدا کړو،او تاسو نسل د فرشتو شي. ليکن که هر څومره عجيب امر وې خوبيا هم دَ الله ﷻ مخلوق وى،او مخلوق معبود

نشي کيدی . ﴿ لَجَعَلْنَا مِنكُم ﴾اي:لولدنا منكم ملائكة يعنى تاسو نسل كښ به فرشتى پيدا كړو،او دا هم كيديشى «لَجَعَلْنَا» په معنى د «حوّلنا» سره شي، او«مِنكُم» كښ "مِنْ" ابتدائيه ياتبعيضيه شي، يعني بعينه تاسو ټولو يا څه خلقو نه فرشتې جوړې كړم او نسل در نسل داسې روان وئ.

﴿وَإِنَّهُ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ ﴾يعنى عيسى عليه السلام بغيرد پلاره پيداكيدل دليل دې په ثبوت دَ قيامت، پدې شان سره چه په قيامت كښ دوباره پيداكيدل خلاف عادت دی اودَعيسى عليه السلام دَ بغير پلاره پيداكولونه داثابته شوه چه الله تعالى په خلاف عادت كارونوپه صادره كولوباندې قادر دې،

په يوقرأت كښ"وانه لعَلَمٌ"راغلې دې نوبيامطلب دادې چه دَعيسى عليه السلام دوباره دَاسمان نه نازليدل دَقيامت آخرى نشانه ده،دَده دَنزول نه به خلق معلوم كړى چه قيامت بالكل نژدې را رسيدلې دې،چنانچه دَ صحيح اومتواترواحاديثونه دا ثابته ده،﴿فَلَا تَمْتَرُنَّ بِهَا ﴾ اى فى وقوعها ﴿وَاتَّبِعُونِ ﴾داامرياداَلله تعالى دَطرفه دې،يعنى الله تعالى فرمائى چه څمادَرسولانواتباع اوكړئ دا صحيح لاره ده اودَشيطان اتباع مه كوئ چه هغه ستاسودشمن دې،ياپه تقدير دَ "قل" سره امر دې دَ نبى اكرم ﷺ دَطرفه،﴿هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ﴾مشاراليه دعوت دَتوحيداوقرآن دې.

وَلَمَّا جَاءَ عِيسَىٰ بِالْبَيِّنَاتِ قَالَ قَدْ جِئْتُكُم بِالْحِكْمَةِ
اوهركله چه راغې عيسى عليه السلام په واضحه معجزوسره،وئى ويل چه بيشكه څه راغلې يم تاسوته په حكمت(انجيل)سره
وَلِأُبَيِّنَ لَكُم بَعْضَ الَّذِي تَخْتَلِفُونَ فِيهِ ۖ فَاتَّقُوا اللَّهَ
اوچه بيان كړم تاسوته بعض هغه احكامات دَتورات چه اختلاف كوئ تاسوپه هغى كښ،نواويريږئ دَالله تعالى نه
وَأَطِيعُونِ ﴿٦٣﴾ إِنَّ اللَّهَ هُوَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ ۚ هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴿٦٤﴾
اوڅمااطاعت اوكړئ بيشكه الله تعالى صرف هغه رب څمااورب ستاسودې نودَهغه عبادت كوئ،دالاره ده سمه

﴿ وَلَمَّا جَاءَ عِيسَىٰ بِالْبَيِّنَاتِ ﴾دا دليل نقلى تفصيلى دې په توحيد ،ازعيسى عليه السلام،چه عيسى عليه السلام هم خپل قوم ته دَتوحيدتعليم وركړې وۀاوتوحيدته ئې صراط مستقيم وئيلى دى ﴿ بِالْبَيِّنَاتِ ﴾معجزات لكه احياء الموتى،ابراء الاكمه،مائده وغيره ورنه مراددى،اودَ« بِالْحِكْمَةِ» نه

مراد انجيل او نبوت دي،یاورنه مرادمواعظ دی، ﴿وَلِأُبَيِّنَ لَكُم﴾ متعلق دي په مقدرپوري ای و جتکم لابيّن لکم، ﴿بَعْضَ الَّذِي تَخْتَلِفُونَ فِيهِ﴾ مراددبعض الّذی نه(۱)هغه احکام شرعيه دتورات دی چه دوئ پکښې تحريف کړي وو،لکه څرنګه چه بعضِ احبارودبعضو اشياؤحرمت دځان نه کړي وو،نوعیسی علیه السلام دهغې حرمت رداوکړو(۲)یاورنه مرادامورمکلفه دی ځکه چه خالص دنياوی امورودپاره انبياؤعليهم السّلام نه مبعوث کيږی(۳)چاويلی دی چه داپشان ددی قول د الله تعالی:ولاحلّ لکم بعض الذی حرّم علیکم(آل عمران: ۵۰)دي،یعنی مرادورنه نسخ دحرمت د هغه بعض اشياؤده چه په بنی اسرائيلوحرام شوی وو،لکه لحم الابل،وازګه د هر حیوان، وغيرهما چه په:وعلى الذين هادواحرمناکلّ ذی ظفر(اعراف:)کښې تیردی(۴)یابعض الذی پمعنی د کلّ الذی سره دي، کمافی قوله تعالی:یُصبکم بعضَ الّذی یعدکم(غافر:۲۸).

﴿إِنَّ اللَّهَ هُوَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ﴾ يعنی ځمامعجزات ځماداُلوهيت دليل ندی،رب ځمااوستاسوصرف الله تعالی دي، ﴿هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ﴾ توحيدصراط مستقيم دي.

فَاخْتَلَفَ الْأَحْزَابُ مِنْ بَيْنِهِمْ ۖ فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْ عَذَابِ يَوْمٍ
پس اختلاف اوکړو ډلود نصاریٰ وو په خپل مينځ کښې،نوهلاکت دي دپاره دهغه خلقوچه شرک ئی کړيدي دعذاب د ورځې
أَلِيمٍ ﴿۶۵﴾ هَلْ يَنْظُرُونَ إِلَّا السَّاعَةَ أَنْ تَأْتِيَهُمْ بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿۶۶﴾ الْأَخِلَّاءُ
دردناکې نه،نه کوی دوئ انتظارمګردقيامت چه راشی دوئ ته ناڅاپه اودوئ به نه پوهيږی.تول دوستان به
يَوْمَئِذٍ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ إِلَّا الْمُتَّقِينَ ﴿۶۷﴾
پدغه ورځ بعضِ ددوئ نه بعضونورو لره دشمنان به وی مګرپرهيزګاران.

﴿فَاخْتَلَفَ الْأَحْزَابُ مِنْ بَيْنِهِمْ﴾ داديوسوال مقدرجواب دي چه هرکله چه عيسى علیه السلام دتوحيدتعظيم اوحکم کړيدې نوبياهغه ولې معبودګرځولې شوې دي،حاصل دجواب دادې چه دعيسى علیه السلام درفع نه ورستودده په اتباعوکښې اِختلاف واقع شواوپه مختلفوفرقوکښې تقسيم شول نوبعضودده لره معبوداوګرځوو،نود﴿الْأَحْزَابُ﴾ نه مراددنصاریٰ ؤمختلفې فرقې دی چه دعيسى علیه السلام په باره کښې ئې ديوبل سره شديداختلافات وو،بعضوبه ورته ابن الله وي، بعضوبه ورته ثالث ثلاثه،وي،بعضُ به ورته الله وي،یامرادد﴿الْأَحْزَابُ﴾ نه يهود، نصاریٰ

دواړه دي،چه يهودودعيسى عليه السلام ډيرزيات تنقيص كولواونصارىٰ يعنى عيسايانوپكښې دومره غلواوكړه چه معبودئې اوګرځولو ﴿فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ ظَلَمُوا﴾اى اشركوا،

﴿هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا السَّاعَةَ﴾داتخويف اُخروى دې، هل دَاستفهام انكارى دَپاره دې پمعنى دَنفى سره او﴿يَنظُرُونَ﴾دَانتظارنه مأخوذدې،او﴿أَن تَأْتِيَهُم﴾بدل دې دَ﴿السَّاعَةَ﴾ نه اى ماينتظرون الااتيان الساعة بغتة(روح،كبير)يعنى ددې كفارمكه ؤحالت نه دامعلوميږى چه كه قيامت ناڅاپه دَدوئ په سرونواودريږى نوهلته به ئې اومنى،ليكن بيادغه وخت منل بالكل فائده نه وركوى،كقوله تعالى:فانى لهم اذاجاءتهم ذكرىٰ هم(محمد:١٨).

﴿الْأَخِلَّاءُ يَوْمَئِذٍ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ﴾يعنىٰ دَقيامت په ورځ به دَدنياټولې دوستۍ اومحبتونه منقطع شى،په دغه ورځ به ډيرخوږاومين محبوب هم دَخپلې خوږى اومحبوبې دشمن اوګرځى،ځكه چه دكافرانودَدوستۍ بنياداودغه شان دَغلطومحبتونوبنيادكفراوفسق دې او هم دغه كفراوفسق به دَدوئ دَعذاب اوجهنم ته دَداخليدلوباعث وى.﴿إِلَّا الْمُتَّقِينَ﴾استثناء متصله ده پمعنى دَلكن يعنى دَقيامت په ورځ به ټولې دوستۍ اوتعلقات ختم شى ليكن دَ مؤمنانو تعلق اومحبت به نه منقطع كيږى،ځكه چه دَاهل ايمانُ محبت اوتعلق دَدين او دَ رضاء الهى په بنيادوى اودغه ايمان اورضاء الهى دَخيراوثواب باعث دې،نوپدې كښې به هيڅ انقطاع نه راځى.

يَا عِبَادِ لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ وَلَا أَنتُمْ تَحْزَنُونَ ﴿٦٨﴾ الَّذِينَ
اې بندګانوځمانشته دې هيڅ يره په تاسونن ورځ اونه به تاسوغمجن يئ،هغه كسان
آمَنُوا بِآيَاتِنَا وَكَانُوا مُسْلِمِينَ ﴿٦٩﴾ ادْخُلُوا الْجَنَّةَ أَنتُمْ وَأَزْوَاجُكُمْ
چه ايمان ئې راوړې دې په آياتوزمونږاووؤدوئ مسلمانان.داخل شئ جنت ته تاسوهم اوبيبيانې ستاسوهم
تُحْبَرُونَ ﴿٧٠﴾ يُطَافُ عَلَيْهِم بِصِحَافٍ مِّن ذَهَبٍ وَأَكْوَابٍ وَفِيهَا
تاسوبه خوشحاله ولې شئ،ګرځولې به شى په دوئ پليټونه دَسروزرواوګلاسونه،اوپدې (جنت) كښې به وى

مَا تَشْتَهِيهِ الْأَنْفُسُ وَتَلَذُّ الْأَعْيُنُ وَأَنْتُمْ فِيهَا خٰلِدُونَ ۞ وَتِلْكَ الْجَنَّةُ
هغه چه غواړی ئی زړونه اولذت پرې موندی سترګې،اوتاسوبه پدې جنت کښې همیشه یئ.اوداجنت دې
الَّتِي أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ۞ لَكُمْ فِيهَا
هغه چه تاسوته په میراث کښې درکړې شویدې په سبب دهغو عملونوچه تاسو کول ،ستاسودپاره پدې کښې
فَاكِهَةٌ كَثِيرَةٌ مِّنْهَا تَأْكُلُونَ ۞
میوې دی ډیرې چه دهغې نه به تاسوخورئ،

﴿ يٰعِبَادِ لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمُ ﴾ دابشارت اخرویه دې مومنانواوهغه کسانوته چه دهغوئ تعلق او محبت صرف د الله ﷻ دپاره وی.فیقال لهم ورنه مخکښې مقدردې،یعنی دوئ ته به قیامت په ورځ الله ﷻ داندء اوکړی شی چه په تاسوبه هیڅ خوف اوحزن نه وی﴿ الَّذِينَ آمَنُوا بِآيَاتِنَا ﴾ صفت دې د عبادی دپاره یاورنه بدل دې(روح)یعنی څماښدګان هغه دی چه په دنیاکښې ظاهراًباطناڅماتابع داروؤ.﴿ ادْخُلُوا الْجَنَّةَ أَنْتُمْ وَأَزْوَاجُكُمْ ﴾ازواج نه مرادمؤمنانی بیبانې دی،بعض ورنه مؤمنان ملګری مرادکړیدی،یاورنه مرادحورې دجنت دی،﴿ تُحْبَرُونَ ﴾ ای تُنعمون وتسرون،﴿ بِصِحَافٍ ﴾صحاف دصفحة جمع ده پلیټ ته وائی﴿ وَأَكْوَابٍ ﴾جمع دکوبٌ ده،وهوکوزٌ لاعروة له(روح) ګلاس یا کنډول پیاله چې لاسکې یې نوې ﴿ وَتَلَذُّ الْأَعْيُنُ ﴾ یعنی په جنت کښې به هغه څیزونه وی چه دهغې په لیدلوسره سترګې خوشحالیږی اولذت مومی،بعض علماء فرمائی چه په﴿ يُطَافُ عَلَيْهِمْ بِصِحَافٍ مِّن ذَهَبٍ ﴾کښې دخوراک نعمتونوته اشاره ده او﴿ وَأَكْوَابٍ ﴾کښې دڅکاک نعمتونوته اشاره ته اوپه﴿ وَفِيهَا مَا تَشْتَهِيهِ الْأَنْفُسُ ﴾کښې،نکاح،لباس وغیره نعمتونوته اشاره ده اودټولونعمتونونه لوئ نعمت چه سترګې ئی په لیدلولذت مومی هغه دیدارالهی دې رزقناالله بفضله ومنه نوپه﴿ وَتَلَذُّ الْأَعْيُنُ ﴾کښې ورته اشاره ده،﴿ وَأَنْتُمْ فِيهَا خٰلِدُونَ ﴾پدې اعلان سره به اتمام دټولونعمتونو راشی،په ﴿ أُورِثْتُمُوهَا ﴾کښې اشاره ده دېته چه داجنت تاسوته مفت ملاؤ شولکه څرنګه چه وارث ته مال موروثه مفت اوبغیردڅه عوض نه ملاویږی،بعض حضرات وائی چه داکنایه ده دملکیت نه یعنی داجنت تاسوته په ملکیت کښې در

کړيشو ،چونکه چه ميراث په اسبابوډملک کښې قوی سبب دې،نوځکه ورنه تعبيرپه ميراث سره اوشو ،يامطلب دادې چه دکافرانوبرخه جنت هم تاسوته درکړشو کمافی الحديث،مامن احدٍ الاّ و له منزل فی الجنة ومنزل فی النار فالکافرُ يرثُ المؤمن منزله فی النار و المؤمن يرث الکافر منزله فی الجنة، و ذلک قوله تعالی:وتلک الجنّت الّتی اورثتموهابماکنتم تعملون. "باء"په ﴿بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ﴾کښې سببيه ده، نو چونکه نيک عمل سبب ظاهری دې دپاره دخول جنت نو ځکه سبب اوګرځولې شو ،اوسبب حقيقی ئې دالله ﷻ فضل دې،نوپه حديث پاک کښې"لن يدخل احدکم الجنةعمله ...."ورنه مراد سبب حقيقی دې،نودآيت اودحديث په مابين کښې تعارض نشته دې،بعض حضرات وائی چه نيک عمل سبب ددرجاتو دې،اونفس دخول جنت ته سبب دفضل اورحمت الٰهی دې.

﴿لَكُمْ فِيهَا فَاكِهَةٌ كَثِيرَةٌ﴾ ډيرې ميوې به وی بحسب الانواع والاصناف،﴿مِنْهَا تَأْكُلُونَ﴾ "من" تبعيضيه دې،اشاره ده پکښې دېته چه دجنت ميوې به ختميږی نه،په شان ددنيا ،په حديث کښې دی "لاينزع رجل فی الجنة من ثمرهاالاّنبت مکانهامثلها".

إِنَّ الْمُجْرِمِينَ فِي عَذَابِ جَهَنَّمَ خَالِدُونَ ﴿٧٤﴾ لَا يُفَتَّرُ عَنْهُمْ وَهُمْ فِيهِ
بيشکه مجرمان به په عذاب دجهنم کښې وی هميشه نه به شی لرې کيدې عذاب ددوئ نه اووی به دوئ په هغې کښې
مُبْلِسُونَ ﴿٧٥﴾ وَمَا ظَلَمْنَاهُمْ وَلَٰكِن كَانُوا هُمُ الظَّالِمِينَ ﴿٧٦﴾ وَنَادَوْا
نااُميده،اوندې کړې مونږظلم په دوئ ليکن هم دوئ ظلم کونکی پخپل ځانونوؤ.اوآوازبه اوکړی دوئ داروغې دجهنم ته، چه
يَا مَالِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ ۖ قَالَ إِنَّكُم مَّاكِثُونَ ﴿٧٧﴾
اې مالکه فيصله دې وکړی په مونږرب ستا،هغه به اووائی چه بيشکه تاسوهميشه پاتې کيدونکی ئې پدې کښې
لَقَدْ جِئْنَاكُم بِالْحَقِّ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَكُمْ لِلْحَقِّ كَارِهُونَ ﴿٧٨﴾ أَمْ أَبْرَمُوا أَمْرًا
بيشکه راوړې وؤمونږتاسوته حق ليکن اکثرپه تاسوکښې دحق نه نفرت کونکی وؤ بلکه دوئ پخه فيصله کړيده ديو کار
فَإِنَّا مُبْرِمُونَ ﴿٧٩﴾ أَمْ يَحْسَبُونَ أَنَّا لَا نَسْمَعُ سِرَّهُمْ وَنَجْوَاهُم ۚ
پس بيشکه مونږه هم پخه فيصله کونکی يو.آيادوئ ګمان کوی داچه بيشکه مونږنه آوروپټې خبرې ددوئ اوجرګې ددوئ

بَلٰى	وَرُسُلُنَا	لَدَيْهِمْ	يَكْتُبُوْنَ ﴿٨٠﴾
ولې نه (اورو) او فرشتې	زمونږه	هم ددوئ سره دي	ليکې عملونه ددوئ

﴿اِنَّ الْمُجْرِمِيْنَ فِيْ عَذَابِ جَهَنَّمَ خٰلِدُوْنَ﴾ تخويف اخروي دې مشرکانو ته، مراد د مجرمانو نه کافران دي، ﴿لَا يُفَتَّرُ عَنْهُمْ﴾ د فترت نه مأخوذ دې يعنې عذاب به ورنه لګ غونډې وخت د پاره هم نه لرې کيږي، يا د فتور نه ماخوذ دی، فتور ويلې کيږي سست والې او کموالې ته، يعني عذاب کښې هيڅ تخفيف او کمی نه رازی ﴿وَهُمْ فِيْهِ مُبْلِسُوْنَ﴾ يعنې کافران به نا اُميده شي چه اوس هيڅ صورت د نجات نشته دې، بعض حضراتو د ﴿مُبْلِسُوْنَ﴾ معنی کړيده حزينون من شدة الباس (روح) يعنې د سخت عذاب پوجه به غمجن وی

﴿وَنَادَوْا يٰمٰلِكُ﴾ مالک د هغې فرشتې نوم دې چه د جهنم چوکيدار ده چه داروغه ورته ويلې شي ﴿لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ﴾ مراد ورنه فيصله د مرګ ده، يعنې کافران به د دوام او د شدت د عذاب پوجه نا اُميده شي د نجات نه نو او به وائی چه مونږ دې مړه شو چه عذاب نه را ته نجات ملاؤ شي.

﴿قَالَ اِنَّكُمْ مّٰكِثُوْنَ﴾ يعنې مالک به ورته او وائی چه د لته مرګ نشته دې، تاسو به هميشه په عذاب کښې يئ، حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمائی چه کافرانو ته به د جواب زر (۱۰۰۰) کاله پس ملاؤ شي د آخرت د کالونو په حساب، تر زرو کالونو پورې به هغوئ د غه چغې وهي.

﴿لَقَدْ جِئْنٰكُمْ بِالْحَقِّ﴾ د اخطاب يا جهنميانو ته دې، پخپله د طرفه د الله تعالیٰ نه يا د طرفه د فرشتو نه بطور نيابت، نو په دې کښې سبب د مکث ذکر کيږي، يا التفات دې بسوئ اهل مکه، د حق نه مراد توحيد او ټول هغه احکامات دی چه ايمان راوړل ورباندې واجب دی، ﴿وَلٰكِنَّ اَكْثَرَكُمْ لِلْحَقِّ كٰرِهُوْنَ﴾ اکثر يا په معنی د کل دې يا ورنه مراد رؤسا او ليډران دی (قرطبی) چه د حق نه انکار او نفرت په حقيقت کښې مشران کوی او هرچه وی اتباع نو محض تقليد اکفر کوی.

﴿اَمْ اَبْرَمُوْا اَمْرًا﴾ د ازجر دې مشرکانو ته، او د هغوئ د قباحت بيان دې ام د اضراب د پاره دې په معنی د بل سره او د ﴿اَمْرًا﴾ نه مراد تدبيرونه د قتلولو د نبی کريم صلی الله عليه وسلم دی او اسلام ترقی په لار کښې قسم قسم رکاوټونه جوړول دی، ، يعنې دوئ صرف دا نه چه د حق نه انکار کوی او خه يې نه ګڼرې بلکه د دين او د پيغمبر خلاف منظم تدبيرونه او سازشونه هم کوی (لکه د دې تفصيل په

انفال: ۳۰ کښې تیردئ ﴿فَإِنَّا مُبْرِمُونَ﴾ یعنی مونږ هم دوئ خذلان اورسوائی اوخپل دین او پیغمبر
ته ترقی اودَهغه نصرت پخه فیصله کړیده.

﴿أَمْ يَحْسَبُونَ أَنَّا لَا نَسْمَعُ سِرَّهُمْ﴾ سر دَخان سره یادَبل سره په خالی ځائ کښې خبروکولوته
وائی، اونجوی په خپل مینځ کښې جرګې اومشورې ته وائی. یعنی دوئ چه دَنبی اکرم ﷺ خلاف
اودَین خلاف تدبیرونه کوی نوآیادَدوئ داګمان دې چه مونږ دَدوئ دَزړونوپه اسرارونه
پوهیږواودَدوئ دَجرګونه نه یوخبر؟ بلکه مونږپوهیږواوزمونږ فرشتې کرام کاتبین هروخت
دَدوئ سره وی دَدوئ ټول اعمال لیکی.

قُلْ إِنْ كَانَ لِلرَّحْمَٰنِ وَلَدٌ فَأَنَا أَوَّلُ الْعَابِدِينَ ﴿٨١﴾ سُبْحَانَ رَبِّ
اووایه اې پیغمبره! کچرته وې دَپاره دَرحمن ﷻ ولد، نوځه به اول عبادت کونکې ومه. پاکی ده دَشرکاوو نه رب
السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿٨٢﴾ فَذَرْهُمْ يَخُوضُوا
دَاسمانونولره اودَزمکې لره رب دَعرش لره دَهغې نه چه دوئ ئی بیانوی الله ﷻ لره، پس پرېږده دوئ چه مشغوله وی
وَيَلْعَبُوا حَتَّىٰ يُلَاقُوا يَوْمَهُمُ الَّذِي يُوعَدُونَ ﴿٨٣﴾
اولوبې کوی تردې چه ملاقات اوکړی دَورځې خپلې سره هغه چه دَدوئ سره ئی وعده کولیشی.

﴿قُلْ إِنْ كَانَ لِلرَّحْمَٰنِ وَلَدٌ﴾ دامخکښې دواړه حصو سره متعلق دې، پدې کښې نفی دَ ولد (برابره ده
که مذکر وی او که مؤنث) او دَ نائب ده دَالله ﷻ نه، بطورمبالغه، دَآیت کریمه په تفسیرکښې
مفسرینو ډیر احتمالات ذکرکړیدی (۱) (إن) شرطیه دې ﴿كَانَ لِلرَّحْمَٰنِ وَلَدٌ﴾ شرط دې ﴿فَأَنَا أَوَّلُ الْعَابِدِينَ﴾
ئی جزاء ده، اواستدلال په نفی دَولد اونائب باندې پطریقې دَقیاس استثنائی سره شویدې، نو
معنی داده چه که په فرض محال دَالله ﷻ ولدوې (مقدم) نوړومبنې سړې به ځه ووم چه دَده دَ
ولدعبادت به می کولې (تالی) لکن التالی باطل فالمقدم مثله، وجه دَبطلان تالی ظاهره ده، وجه دَ
ملازمې داده چه کچرته دَالله ﷻ ولد وې نودَهغه عبادت به ضروری اوفرض وؤ اوځه خودَټولې
دنیا نه زیات دَالله ﷻ عبادت کونکې یم، نومابه ئی اول عبادت کړې وې، .

(۲) بعض دَ عابد معنی جاحد اومنکرکړیده، یعنی دَدې فاسدې عقیدې نه انکارکونکې او
تردیدکونکې دَټولونه اول ځه یمه (۳) بعضو ویلی دی چه ان په ﴿إِنْ كَانَ لِلرَّحْمَٰنِ وَلَدٌ﴾ کښې نافیه

دي،يعني الله ﷻ لره ولدنشته دي او﴿فَأَنَا أَوَّلُ الْعَابِدِينَ﴾وربانـدي تفريع ده،اى انااول العابدين لله،نوځه هغه اول كس يم چه صرف.دالله ﷻ عبادت كوم. نورتفصيل ددې مضمون په سورة انبياء:لوكان فيهما آلهة....الخ آيت(۲۲)كښ تيردي.

﴿فَذَرْهُمْ يَخُوضُوا وَيَلْعَبُوا﴾د امشركانوته زجراوتخويف دي،﴿حَتَّىٰ يُلَاقُوا يَوْمَهُمُ الَّذِي﴾مراددَيوم نه يايوم القيامة ده،دَاكثروپه نزد،ياورنه مراديوم بدرده ياورځ دَمرګ ده.

وَهُوَ الَّذِي فِي السَّمَاءِ إِلَٰهٌ وَفِي الْأَرْضِ إِلَٰهٌ
اوالله هغه ذات دي چه دي په اسمان كښ هم المتصرف دي اوپه زمكي كښ هم المتصرف دي.
وَهُوَ الْحَكِيمُ الْعَلِيمُ ﴿٨٤﴾ وَتَبَارَكَ الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ
اودي حكمتونو والادي پوهه دي په هرڅيز.اومبارک دي هغه ذات چه هغه لره ده بادشاهي داسمانونواودزمكي
وَمَا بَيْنَهُمَا وَعِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٨٥﴾
اوپه مينځ ددې دواړوكښ.اوصرف هغه ته دي علم دَراتلودقيامت.اوهم هغه ته به تاسوواپس كيږئ

﴿وَهُوَ الَّذِي فِي السَّمَاءِ إِلَٰهٌ وَفِي الْأَرْضِ إِلَٰهٌ﴾دا دعوه د سورت ده،چې آسمانونو او په زمکی کښ اله او معبود صرف او صرف الله ﷻ دی او هغه ټول کائناتوخالق او متصرف ذات دی،هر کار يي محکم او دحکمت نه ډک دی او په هر څه واقف دی،نو هغه ته ولد او نائب څه ضرورت شو.

﴿وَتَبَارَكَ الَّذِي﴾يعنى برکت دهنده هم صرف الله ﷻ دي چه په قبضه کښ ئی اسمانونه اوزمکه ومابينهمادی﴿وَعِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ﴾يعنى دَقيامت علم،چه کله به راځی داهم صرف الله ﷻ ته دي،﴿وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ﴾يعنى دَټولوخلقومرجَع هم صرف الله دي،نومذکوره صفات ټول دَالوهيت صفات دی چه خاص دی په الله ﷻ پوري،نوهغه حقيقى اله اومعبوددي.

وَلَا يَمْلِكُ الَّذِينَ يَدْعُونَ مِنْ دُونِهِ الشَّفَاعَةَ إِلَّا مَنْ
اونه مالكان هغه معبودان باطله چه دوئ ئې عبادت كوي ماسوئ دالله ﷻ نه دشفاعت مگرهغه څوک چه شفاعت كوي

شَهِدَ	بِالْحَقِّ	وَهُمْ	يَعْلَمُوْنَ	۝٨٦ وَلَئِنْ	سَاَلْتَهُمْ
چه گواهي(اقرار)دَ حق	كوى	اودوئ	پوهيږي	اوكچرته	ته تپوس اوكړې ددوئ نه
مَّنْ	خَلَقَهُمْ	لَيَقُوْلُنَّ	اللّٰهُ	فَاَنّٰى	يُؤْفَكُوْنَ ۝٨٧
چه چا پيدا كړيدى دوئ	نو خامخا به وائي	چه الله ﷻ پيدا كړي		يو نوكوم طرف ته دوئ	اړه و لې شي.
وَقِيْلِهٖ يٰرَبِّ	اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ	قَوْمٌ	لَّا يُؤْمِنُوْنَ ۝٨٨	فَاصْفَحْ	عَنْهُمْ
او(علم دې ورته)دخپل د پيغمبر دَ دې قول چه اې ربه	خمابيشكه دا	قوم	ايمان نه راوړي،	پس اعراض اوكړه	ته ددوئ نه

وَقُلْ سَلٰمٌ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ۝٨٩

اواوايه چه خماتاسوته سلام دې، پس زر ده چه دوئ به پوهه شي.

﴿ وَلَا يَمْلِكُ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهِ الشَّفَاعَةَ ﴾دلته نه سورت **خلورمه حصه** شروع كيږي او پدې كښې نفي د نائب ده بصورت شفيع، كله چه مشركانو ته شرك په رداو دَ توحيد په اثبات باندې ناقابل انكار دلائل او شواهد مخكې ته راغلل چې دوئ سره د هغې هيڅ جواب نوؤ، نو دوئ دا ويل شروع كړو چه زمونږ معبودان اګرچه حاجت روا مشكل كشاندى ليكن مونږئې عبادت ځكه كوؤ چه دوئ به زمونږ سفارش كوى دَ الله ﷻ په دربار كښې، دې ايت كښې الله ﷻ مشركينو د عقيدې رد او شبهې جواب كوى حاصل دَ جواب دادې چه دَ الله ﷻ په دربار كښې دَ سفارش كولو دَپاره درې شرطونه دى(١)شفيع به مؤمن وى(٢)مشفوع له به مؤمن وى(٣)اذن الهى به وى، نو دَ مشركانو دَپاره دَدوئ معبودان باطله شفاعت نشى كولې، اختيار دَ شفاعت ورسره نشته دې، مفسرينو پدې آيت كښې دوه قوله ذكر كړيدى(١)مراد دَ ﴿ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهِ ﴾نه تول معبودان من دون الله دى او﴿ اِلَّا مَنْ شَهِدَ بِالْحَقِّ ﴾استثناء متصله ده، عيسى عليه السلام، عزير عليه السلام، ملائكه ورنه مستثنى دى، او دَ﴿ شَهِدَ بِالْحَقِّ ﴾نه مراد گواهى دَلااله الاالله ده، يعنى شفاعت به هغه كوى چه مؤمن وى دكلمه توحيد گواهى وركونكې وى﴿ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴾كښې تصديق قلبى ته اشاره ده.

(۲) دَ ﴿ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِهِ ﴾ نه مراد عیسی علیه السلام، عزیر، ملائکه دی، او دَ من نه مراد مشفوع له دي پمعنی دَ لمن ای الّلمن شهدبالحق، یعنی شفاعت به دَهغه چاد پاره وی چه دَلااله الاالله گواهی ورکوی، هرچه دي دریم شرط چه شفاعت به په اذن الهی سره وی نو پدې قول دَالله جَلَّ جَلَالُهُ کښې ذکر دې من ذی الذی یشفع عنده الاباذنه (آیت الکرسی).

﴿ وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَهُمْ ﴾ دا دلیل عقلی دې په توحید علی سبیل الاعتراف من الخصم، او په دی کښې نفیٔ دَ نائب هم کیږی، یعني کچرته ته دَ دوئ نه تپوس اوکړی چه تاسو او ستاسو معبودان چا پیدا کړیدی، نو دوئ به دَدی اقرار اوکړی چه تول الله جَلَّ جَلَالُهُ پیدا کړیدی، نو کله چه دوئ هم مخلوق او هغوئ هم مخلوق شو، نو بیاهغه څرنگه معبودان شول، خلقهم کښې ضمیر منصوب عابدین او معبودین دواړوته راجع دې، یا ضمیر صرف عابدینونه راجع دې. ضمیر دَ هم عابدانو (مشرکانو) ته راجع دې یاعابدانو او معبودانو دواړوته راجع دې، یعنی کچرته ته دَ دوئ نه تپوس اوکړی چه تاسو چاپیدا کړی یئ نو خامخابه دوئ اقرارکوی چه زمونږ خالق الله جَلَّ جَلَالُهُ دې، نو چه خالق صرف الله جَلَّ جَلَالُهُ دې نو دبندگئ او دَعبادت مستحق هم صرف هم هغه دې.

﴿ وَقِيلِهِۦ يَٰرَبِّ ﴾ پدې کښې تخویف دې مشرکانو ته او تسلی ده نبی اکرم ﷺ ته، قیل مصدر دې د قال یقول ضمیر یې نبی کریم ﷺ ته راجع دې، پدیکښې دوه متواتر قراءت دی:

(۱) وقیله بالجر (په جر سره) او وجهې د جر دوه کیدیشي: (۱) عطف دی په السَّاعَةِ باندې، تقدیر عبارت به داسی شي، وعنده علم الساعة وعلم قیله یعنی الله جَلَّ جَلَالُهُ ته دَقیامت علم هم شته دی او دَخپل نبی دَ دی وینا علم هم شته دی، چی ای خما ربه، خماقوم ایمان نه راوړي (۲) او دویمه وجه دا ده چی واؤ حرف جر قسمیه دې، او «قیله» مقسم به دې، او «یٰرَبِّ» مقوله ده د «قیله»، او مقصود ورنه فریاد او التجا د پیغمبر ده، او «ان هؤلاء...» ورله جواب قسم دې، یعنې خما د پیغمبر په التجاء او فریاد قسم چې نور دوئ ایمان نه راوړي، او یا «یرب ان هؤلاء قوم لایؤمنون» ټول ورله مقسم به دې او جواب قسم محذوف دې چې هغه لأعذبنهم دې.

(۲) دویم متواتر قراءت قیله بالنصب دې. دَنصب ویلو ۸ احتماله دی، لیکن غوره احتمالات پکښې یو څو دی: (۱) مفعول مطلق محذوف قال دپاره اي: قال قوله یعنی پیغمبر خپله وینا او شکوه اوکړه چی ای رب! خما قوم ایمان نه راوړی. (۲) عطف دې په «سِرَّهُمْ» باندی،

أي : أيحسبون انا لانسمع قيله آيا دوئ گمان دا دي چه مونږ دَ خپل نبی وینا نه اورو، (۳)عطف دي په محل د ((ٱلسَّاعَةِ)) ، چه هغه محل نصب دي ځه که چه((عِلْمُ ٱلسَّاعَةِ)) اضافت دَمصدر مفعول ته شویدی.

﴿فَٱصْفَحْ عَنْهُمْ وَقُلْ سَلَٰمٌ﴾يعنی اي پيغمبره! دَدوئ نه اعراض اوکره اودَدوئ نه دَايمان طمع مه کړه﴿وَقُلْ سَلَٰمٌ﴾ سلام متارکه ورنه مراددي چه دَتعلق ترک کولو اوقطع کولودَپاره وی، لکه "واذا خاطبهم الجاهلون قالوا سلامًا(فرقان: ۳۰)".

فائده:سلام په پنځه قسمه دي(۱)سلام متارکه،کوم چه پدي آيت کښ ذکردی(۲)سلام برائ دُعا،کوم چه اهلِ قبوروته ویلي کيږی چه السلام عليکم اهل دارقومِ مؤمنين(۳)سلام ستيذان(۴)سلام تحيّه،چه په وخت دَملاقات کښ وی(۵)سلام عندالوداع.

ركوعاتها (۷)	سورة حم دُخان مكية	آياتها (۸۹)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بيحده مهربان او ډير رحم کونکي دي شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (۴۴) وحسب النزول (۶۴)

سورة دُخان مكى دي، زمانه دَنزول ئى دورآخر دَمكې دي، ترتيب قرآني په لحاظ سره (۴۴) دي او ترتيب نزولي په اعتبار سره (۶۴) دي، دَتيرشوى سورة، سورة الزخرف نه وروستو نازل دي.

ربط اسمي: ربط اسمي ماقبل سره دادي چې ماقبل كښ دې خبرى ذكر وۀ چې شرک او باطل باندې خومره دلائل دى دهغې هڅې يو ظاهرى چمک دمک (زخرف) دې او انسان پرې دهوكه شى چه دلائل دى، اوس دې سورت كښ دا ذكر كيږى كه چې حق اوتوحيد دلائلو په مقابله كښ ددې هيڅ حيثيت نشته، بلكه دَلوګى (دخان) پشان هوا كښ والوزى.

ربط معنوى: ربط معنوى ماقبل سره په څوو جوهو سره دې.

(۱) مخکښې سورت په شروع كښ ترغيب الى القرآن ذكر وۀ دې سورت په شروع كښ هم ترغيب الى القرآن ذكر كيږى،

(۲) مخکښې سورت كښ دَموسى ﷺ واقعې ذكر وۀ. دې سورت كښ دَموسى ﷺ واقعى بله حصه ذكر كيږى،

(۳) مخکښې سورت كښ دَمشركينو دى عقيدى ابطال وۀ چې هغوئ وائى چې زمونږ معبودان دَ الله ﷻ نائبان او سفارشيان دى، دى سورت كښ دهغوئ بلې عقيدې چې على سبيل التنزل ده ابطال او جواب دې، دوئ وائى چه مونږ دا منو چې زمونږ معبودان دَخدائ تعالى نائبان نه دى او دهغه اذن بغير شفاعت نشى كولى، ليكن زمونږ ندا اورى، زمونږ په حالاتو باندې خبر دى، او الله ﷻ ته ئى مخکښې وړاندى كوى، نود دى سورت كښ دهغې رد اوشو چې «انه هو السميع العليم» يعنى الله ﷻ صرف دَدوئ آوازونه اورى او ودوئ په حالاتو باندې خبر دې.

دسورة دَمضامينو اجمالى خلاصه:

په ابتداء كښ تمهيد مع ترغيب دې مسئلې دَتوحيد او قرآن منلو ته، دوه بنيادي دعوې ذكر كيږي: (۱) اوله دعوه حقانيت د قرآن ده ، (۲) او دويمه دعوه اثبات د توحيد دې ، او دا

دعوه د مشركينو يو اعتراض په ضمن كښې ذكر ده . چې دوئ ونيل چې زمونږ الهه زمونږ ندا اوري او زمونږ په حالاتو باندې خبر دي ، دې نه علاوه تخويف دنيوى نمونې. بشارت دنيوى نمونه،دليل عقلى په توحيد ،تخويفات بشارات پكښې هم دى.په آخره كښې دټول سورة سره متعلق آيت.

تفصيلي خلاصه: آيت نمبر ۱ ،تر ۹ پورې تمهيد مع الترغيب دې، دې كښې سورت دواړه دعوى مذكور دى (۱)حقانيت قرآن«والكتاب المبين» (۲)اثبات دتوحيد په ضمن دجواب دمشركينو شبهې «انه هو السميع العليم»

آيت نمبر ۱۰ تر ۱۲ پورې تخويف دنيوى ذكر كيږي

آيت نمبر ۱۷نه تر۳۳ پورې دَ موسى ﷺ واقعه ذكر كيږي.دېكښې آيت نمبر ۲۹ پورې تخويف دنيوى اوآيت نمبر ۳۰ نه تر ۳۳پورې بشارت دنيوى دې.

آيت نمبر ۳۴نه تر۳۶ پورې شكوه ذكر كيږي.

آيت نمبر ۳۷ كښې بيا تخويف دنيوى ذكر دې.

آيت نمبر ۳۹،۳۸ تعلق دويمې دعوې سره دې.

آيت ۴۰ نه تر ۵۰ پورې تخويف اخروى دې.

آيت نمبر ۵۱ نه تر۵۷ پورې بشارت اخروى ذكر كيږي،

آيت ۵۸ تعلق پوره سورت سره اوخصوصا اول دعوې يعنى حقانيت قرآن سره دې

آيت نمبر ۵۹ تعلق ،آيت ۱۵ سره دې.

حٰمٓ ﴿۱﴾ وَالْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ﴿۲﴾ اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ فِيْ لَيْلَةٍ مُّبٰرَكَةٍ اِنَّا كُنَّا مُنْذِرِيْنَ ﴿۳﴾

حم،قسم دې په كتاب واضحه،بيشكه مونږنازل كړيدې داكتاب په شپې مباركې كښې بيشكه مونږه يرونكى يوخلقولره.

فِيْهَا يُفْرَقُ كُلُّ اَمْرٍ حَكِيْمٍ ﴿۴﴾ اَمْرًا مِّنْ عِنْدِنَا ؕ اِنَّا

پدې شپه كښې ليكلې كيږي هر كار محكم ، امر دې زمونږ دَ طرفه بيشكه مونږه

كُنَّا مُرْسِلِيْنَ ﴿۵﴾ رَحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ ؕ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ

ليږونكې يوپيغمبرانولره.دَوجه دَرحمت نه دَطرفه دَرب ستانه،بيشكه الله ﷻ صرف هغه اوريدونكې دې دَهرآواز

الْعَلِيْمُ ۙ ﴿٦﴾ رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۘ اِنْ كُنْتُمْ مُّوْقِنِيْنَ ﴿٧﴾								
عالم دي په هرحال چه رب د اسمانونو دي اودزمکي دي اوڅه چه په مينځ ددواړوکښ دی، کچرته يئ تاسويقين کونکي.								
لَآ	اِلٰهَ	اِلَّا	هُوَ	يُحْيٖ	وَيُمِيْتُ	ؕ	رَبُّكُمْ	
نشته دي لائق دعبادت بل څوک مګرالله ﷻ دي ژوندی کول کوی اومړه کول کوی رب دي ستاسو								
وَرَبُّ	اٰبَآئِكُمُ	الْاَوَّلِيْنَ ﴿٨﴾	بَلْ	هُمْ	فِيْ	شَكٍّ	يَّلْعَبُوْنَ ﴿٩﴾	
اورب	دپلارانوستاسو	پخوانودي،	بلکه	دوئ	په	شک	کښ	دي توقی کوی،

﴿حٰمٓ ﴿١﴾ وَالْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ﴾ دا تمهيد مع الترغيب دي او دسورت د دعوي اوله حصه يعنی حقانيت دقرآن ذکر کيږی،چي حق پخپله خپل ځان ځائی نو دقرآن مضامين اواحکام دومره واضحه دی چي دي په حقانيت کښ هيڅ شک وشبه نشی کيدی، نوره تشريح او تفسير دسورة الزخرف په ابتداء کښ تيرشويدي

﴿اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ فِيْ لَيْلَةٍ مُّبٰرَكَةٍ﴾ داجواب قسم دي يعنی باوجود ددينه چي قرآن او دي مضامين پخپله دومره واضحه دی چی هغې نه دقرآن حقانيت ثابتيږی،خوڅه قسم خورم چي دا کتاب مونږ نازل کړی دي، او«في ليلة مباركة» کښ ترغيب ذکر کيږی،يعنی دادومره عظيم الشان کتاب دي چي داموڅه عامو شپو ورځو کښ نه دي نازل کړي بلکه ددي نزول دپاره مو مبارکي شپې انتخاب کړيدی اوهغې کښ خونازل کړيدي لهذا دي قرآن او د دي احکاماتو باندي ايمان راوړئ،«ليلة مباركة» کومه شپه مراده ده ديکښ مفسرينو دوه قوله دی:

(١) اکثرومفسرينوپه نزد ليلة القدر(شب قدر)ده،چه درمضان المبارک په آخره عشره کښ په طاق شپو کښ وی.په دليل د(١)قول د الله ﷻ انا انزلناه في ليلة القدر نوکچرته ورنه ليلة القدر مراد نشی نود آياتونوپه مينځ کښ به تناقض لازم شی(٢)شهر رمضان الذی انزل فيه القرآن (بقره ٨٥) يعنی قرآن په رمضان کښ نازل دي،او ليلة القدرپه رمضان کښي وي (٣)دلته چي کوم صفات «ليلة مباركة» ذکر دی سورت القدر کښ داصفات د ليلة القدر ذکر دي نو دينه معلوميږی چي دادواړه يوه شپه ده (۴)په تفسيرمظهری وغيره کښ دقتادة رحمه الله نه نقل دی چه صحف ابراهيم عليه السلام،اوتوراة په ابتداء د رمضان کښ نازل دی،اوزبور،انجيل په درميان د

رمضان كښې، اوقرآن په آخردَرمضان كښې نازل دې، اوپه آخركښې دى چه والليلة المباركة هي ليلة القدر.

(۲) حضرت عكرمه رحمه الله فرمائي چه په آيت مذكوره كښې د ليلة مباركة نه مراددَ پنځلسم شعبان شپه ده. ځكه چې آيت كښې «ليلة مباركة» كوم صفات راغلي دي داپه رواياتو كښې دَپنځلسم شعبان شپې هم راغلي دي.

فائده (۱): پنځسلم شعبان شپې فضائل او احكام په ډيرو رواياتو كښې راغلي دي، په هغې كښې دې شپې عبادت ،قبرستان ته تللو ثبوت دې ، دا روايات اگرچه كمزور اوضعيف دي ليكن كافى تعداد كښې دى،لهذا "يقوي بعضها بعضا" اصول تحت فضائلو باب كښې پدې عمل كول صحيح دي ليكن شريعت كوم حدود دى ، د هغې رعايت ساتل انتهائى ضرورى دي، لهذا مخصوص انداز اوتعداد كښې مونځ كول په جماتونو كښې اجتماع صورت جوړول يا قبرستان ته تللو التزام كول لكه څرنگه چې دَفرض اولازمى عبادت كولې كيږي حدود شريعت نه تجاوز او بدعت دې ورنه كم ازكم مفضى الى البدعة ضرور دې.

فائده (۲): بعض مفسرينو دې آيت تحت دَ عكرمه رحمه الله قول باندې سخت رد كړيدى او ديته ئې باطل ويلى دى او د رد بنياد دادې چه د آيت دا تفسير دَ هغو صريح نصوصو خلاف دې چې په هغې كښې ليلة القدر كښې نزول قرآن تصريح ده.زمونږ اكابرو د دې قول كوم مطلب بيان كړيدې هغي مطابق ددې نصوصو سره تطبيق ممكن دې اوهيڅ تعارض نشى راتلې.

(۱) حضرت مدنى رحمه الله فرمائي چه دلته نزول نه مراد "نزول تقديرى" دې نزول تقديرى مطلب دادې چه پدى شپه كښې دَ قرآن نزول اجازت ميلاوشى؟

(۲) شبير احمد عثمانى رحمه الله بله توجيه پيش كړيده چې ليلة البراءة كښې نزول نه مراد ابتدادَ نزول ده او ليلة القدر كښې نزول نه مراد انتهاء ده.

فائده (۳): قرآن درې نزوله دي:

(۱) **نزول تقديرى** : چه پديكښې دَقرآن نازليدلو اجازت ملاؤ شو او په لوح محفوظ كښې كيخودلى شو ،او دا ۱۵ شعبان شپه وه.(معارف مدنى)

(۲) **دويم نزول** لوح محفوظ نه آسمان دنياته وؤ.او دليلة القدر شپه او رمضان المبارك مياشت وه. !

(۳) **دریم نزول** آسمان دنیا نه زمکه ته وړ چه ۲۳ کاله کښې تدریجا تدریجا مکمل شو .او ددې ابتدا هم رمضان المبارک اولیلة القدر کښې شوې وه (تفسیر عثمانی)

﴿إِنَّا كُنَّا مُنذِرِينَ﴾ جواب قسم کښې دَدوه خبرو ذکر اوشو . (۱) انزال دَقرآن، (۲) انزال په لیله مبارکه کښې اوس دلته نه بطور لف نشر مرتب دهر یوحکمت ذکر کیږي دا حکمت دَنزول قرآن دې، چه زمونږ شان دادې چه خپل بندګان دَعذاب او عقاب نه اویروو، نودې دپاره مو داقرآن نازل کړو.

﴿فِيهَا يُفْرَقُ﴾ دا په (لیلة مبارکة) کښې دانزال حکمت وجه بیانیږي چه دا قرآن دَحکمتونو ډک او عظیم الشان کتاب دې، او دې شپه کښې عظیم الشان اوحکمت نه ډک امورو فیصله کیږي ،نو ځکه خو دیکښې نازل کړو. (يُفْرَقُ) یا پمعنی دَیکتب سره دې، ای فیها یُکتبُ، یا پمعنی دَیفصلُ سره دې، یعنی فیصله کیږي په دې شپې کښې د هر امر محکم. (كُلُّ أَمْرٍ) امر نه مراد دَ امور تکوینیه فیصلې دی، یعنی پوره کال دقضا وقدر کومې فیصلی کیږي ،څوک به مری څوک به پیدا کیږي ،څوک به نکاح کوی،چاته څومره رزق ورکولې شی وغیره،دا ټولې فیصلې اولیکلې شی او په امورتکوینیه باندی مقرر فرشتو ته حواله کړیشی.دغه صفات شب برات او شب قدر دواړو کښې راغلی دی.تطبیق یې ممکن دې چه دې امورو حواله کولو ابتداء شب برات کښې اوشي او انتهاء یې په شب قدر کښې اوشی . ﴿حَكِيمٍ﴾ یا پمعنی دَ ذی حکمة سره دې ، یعنی حکمت والا احکامات ،دې صورت کښې اسناد مجازی دې، ځکه چې احکامات خو حکمت والا نه وی ، بلکه دَحکمت تقاضې موافق وی ،حکمت والا حاکم وی، یا پمعنی دَمحکم سره دې یعنی محکم حکم چې په هغې کښې نسخ تبدیلي اوتغیر نه رازی. یا په معنی محکوم به کښې دې ،یعني دَ کوم امورو حکم کیدل دی، هغه جدا کړیشی او فرشتوته حواله کړیشی (کشاف، تفسیر عثمانی)

﴿أَمْرًا مِّنْ عِندِنَا﴾ امرأمنصوب دې بنا پر اختصاص اي نخص امرا من عندنا اودیکښې مزید اهمیت ددې شپې اوتفخیم دامر ذکر کیږي،یعنی یوخو دا چې دې شپه کښې حکمت نه ډک احکامات فرشتو له ورکړې شی،بله دا چه دَ الله ﷻ هر حکم اوامر دحکمت نه ډک دې، خو دیکښې خاص طور باندی دهغه عظیم الشان امورو فیصله کیږي چه هغه خاص دَ الله ﷻ علم،

تدبیر اوحکمت سره شایان شان وی.((من عندنا))جار مجرور ورله صفت واقع شویدی او دې نه مراد دادې چه هغه زمونږ دعلم تدبیر اوحکمت تقاضی عین موافق وی یا((امرا)) مفعول مطلق من غیر لفظه دې ،دَ((یفرق)) دپاره،ځکه چې ((یفرق)) معنی جدا کیدل دی اوکوم حکم چې جدا شی هغه "امر"جوړ شی،یاحال دې ((انزلناه)) ضمیر فاعل نه په تاویل"آمرین" سره ،یعنی مونږ دا کتاب نازل کړو اوحال داوؤ چې مونږ حکم کونکی وؤ،یاضمیر منصوب نه حال واقع دی ، یعنی مونږ نازل کړیدی دا کتاب حال دادی چې دازمونږ طرف نه یو امر دې.

﴿ إِنَّا كُنَّا مُرْسِلِينَ ۝ رَحْمَةً ﴾ دې تعلق(۱) یا((انا انزلناه))سره دې،او هغې د پاره علت دې، دې صورت کښ ﴿رَحْمَةً﴾ ((مرسلین)) دپاره مفعول له دې،((من ربک))جارمجرو صفت واقع کیږی د((رحمة)) دپاره ، مطلب به دا شی چې مونږ دا کتاب نازل کړیدې ځکه چې زمونږ عادت دا دې چې مونږ رسولان خپلو بندګانو ته رالیږو اوهغوئ ته کتابونه ورکوو دَ وجه دَ رحمت دَ رب ستا نه،یعنی دامحض فضل اومهربانی دَرب ده،(۲)او یا د دې تعلق((فیها یفرق)) سره دې او دې دپاره علت دې. دې صورت کښ ((رحمة)) دَ((مرسلین)) د پاره مفعول به دې .نو مطلب به دا شی چې مونږ په دې شپه کښ هر حکمت نه ډک اومحکم کار جدا کوو اوفرشتو ته یې حواله کوو،ځکه چې زمونږ کریمانه شان تقاضه داده چه مونږ خپلو بندګانو ته رحمت لیږونکی یو.

﴿ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴾دا دَ سورة مقصودی دعوه ده او دَ مشرکانو دَ شبهې جواب دې چه زمونږ آلهه زمونږ آوازونه نه آوری او زمونږ په حالتونو باندې خبر دی.

﴿رَبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ﴾بدل دې دَ((رَبِّکَ)) نه یابیان یانعت دې،﴿إِن كُنتُم مُّوقِنِينَ﴾ یعنی یقین نوم څه څیز تاسو پیژندلې نو تاسو ته به ددې خبرې څه پته وی چه زمکې او آسمانو نورب العالمین الله ﷻ دې ځکه چې دا اظهر الیقینیات دې.﴿لا اله الا هو﴾دَماقبل مضمون مزید تاکید دې.

﴿ بَلْ هُمْ فِي شَكٍّ يَلْعَبُونَ ﴾اضراب دې د ((ان کنتم موقنین)) نه ، چې یقین چرته کوې دوئ ، بلکه شک کښې پراته دې اوایمان چرته راوړې بلکه ستا دعوت پورې توقې او مسخرې کوې.

فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِي السَّمَآءُ بِدُخَانٍ مُّبِينٍ ⑩ يَّغْشَى النَّاسَ ۖ هٰذَا
انتظاراوکړه دهغه ورځې چه راتله اوکړی اسمان په یولوګی ښکاره سره.پټ به کړي دا لوګې خلق(وائی به دوئ)دا
عَذَابٌ اَلِيْمٌ ⑪ رَبَّنَا اكْشِفْ عَنَّا الْعَذَابَ اِنَّا مُؤْمِنُوْنَ ⑫ اَنّٰى لَهُمُ
عذاب دې دردناک.اې ربه زمونږلرې کړه زمونږنه دغه عذاب بیشکه مونږایمان راوړونکې یو،چرته دي دوئ لره
الذِّكْرٰى وَقَدْ جَآءَهُمْ رَسُوْلٌ مُّبِيْنٌ ⑬ ثُمَّ تَوَلَّوْا عَنْهُ
نصیحت قبولول حالانکه په تحقیق سره راغلي دي دوئ ته رسول بیانونکې.بیادوئ اعراض اوکړودهغه داطاعت نه
وَقَالُوْا مُعَلَّمٌ مَّجْنُوْنٌ ⑭ اِنَّا كَاشِفُوا الْعَذَابِ قَلِيْلًا
اووائی چه دا پیغمبر د بل چا شاګرد دې ، لیوني دې ، بیشکه مونږ لرې کونکی یو عذاب لره لږ وخت دپاره،
اِنَّكُمْ عَآئِدُوْنَ ⑮ يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ الْكُبْرٰى ۚ اِنَّا مُنْتَقِمُوْنَ ⑯
بیشکه تاسوبیاواپس کیدونکی یئ کفرته،په هغه ورځ چه مونږحمله اوکړوحمله لویه.بیشکه مونږبدله اخستونکی یو.

﴿فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِي السَّمَآءُ بِدُخَانٍ مُّبِيْنٍ﴾داتخویف دنیوی دې.دخان مبین:ښکاره لوګې،ددې په مصداق کښې دوه مشهورقوله دی:

(۱)حضرت ابن عباس رضي الله عنهمااو دبعض سلفوصالحینو نه مروی ده چه ددې نه مراد هغه لوګې دې چه قیامت ته قریب به پورته کیږی چه ټول خلق به پټ کړی، مؤمنانوته به د ده دیر لږ خفیف اثر په شان د زکام ورسیږی، او د کافرانو ، منافقانو په مرو او دماغو کښې به ننوځی اوبې هوشه کوی به ئی (ازکشاف، قرطبی، کبیر وغیره) نودلته هم دغه لوګې مراددې او دا د قیامت په لسو(۱۰)نزدې علاموکښې یوه علامه ده،لکه په صحیح مسلم کښې دحذیفه بن اسید ﷜نه روایت دې چه یوځل نبی اکرم ﷺ زمونږخواته راغي،مونږ د یو بل سره د قیامت تذکره کوله، نو نبی اکرم ﷺ اوفرمایل چه،تاسو د څه څیز تذکره کوئ نو مونږ عرض اوکړوچه د قیامت تذکره کوؤ، نوحضور ﷺ اوفرمایل: إِنَّهَا لَنْ تَقُومَ حَتَّى تَرَوْنَ قَبْلَهَا عَشْرَ آيَاتٍ – فَذَكَرَ – الدُّخَانَ، وَالدَّجَّالَ، وَالدَّابَّةَ، وَطُلُوعَ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا، وَنُزُولَ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَيَأْجُوجَ

وَمَأْجُوجَ، وَثَلَاثَةُ خُسُوفٍ: خَسْفٌ بِالْمَشْرِقِ، وَخَسْفٌ بِالْمَغْرِبِ، وَخَسْفٌ بِجَزِيرَةِ الْعَرَبِ، وَآخِرُ ذَلِكَ نَارٌ تَخْرُجُ مِنَ الْيَمَنِ، تَطْرُدُ النَّاسَ إِلَى مَحْشَرِهِمْ (صحيح مسلم : ۲۹۰۱)

(۲) حضرت ابن مسعود ﷺ په ډيرې سختئ سره دغه مذکوره قول ردکوی اوفرمائی چه مزاد دَ دې نه هغه قحط دې چه په کفارمکه ؤ باندې راغلې وؤ پوجه دَبد دُعا دَ پیغمبر ﷺ، حضور ﷺ چه کله دَقریشودَمخالفت اودَسرکشئ تنگ شونودعائی ورته اوکړه "اللهم اشدد وطاتک علی مضر، و اجعلها علیهم سنین کسنی یوسف" نوالله ﷻ په دوئ قحط راوستلوحتّی چه دوئ به مردارې خوړلې، هډوکی اودَخاروځرمنې به ئی خوړلې، اوداقحط ترڅه وخته پورې جاری وؤحتّی چه ابو سفیان (چه لاتراوسه مسلمان شوې نه وؤ) راغې اووئیل چه اې محمد ﷺ ته خو فرمائی چه څه رحمةً للعالمین یم او مونږ ته، ته د صله رحمئ حکم کوې، مونږ تا ته دَ صله رحمئ واسطه وړاندې کوؤ څکه اې محمد ﷺ ستاقوم دَلوګې دَوجه نه هلاکت ته قریب شو، نو دَ الله ﷻ نه دعااوغواړه چه باران اوشی، نو حضور ﷺ دعا اوکړه نوباران اوشواو دَ یمامه رئیس چه دَحضور ﷺ په حکم ئی په دوئ غلې بندې کړې وې هغه ئی هم جاری کړی، ابن مسعود ﷺ داهم فرمائی چه پنځه څیزونه تیرشویدی: (۱) دخان (۲) روم (یعنی دَرومیانودَغلبې متعلق دَ قرآن پیشنګوئي)، (۳) بطشة، یعنی په غزوه بدر کښ دکفارمکوو انجام (۴) انشقاق القمر (۵) لزام، چه په سوف یکون لزاما سورت الشعراکښ تیر دې

دابن مسعود ﷺ تفسیرمطابق دَقحط نه تعبیرپه دُخان سره یاڅکه شویدې چه په زمانې دَ قحط کښ دَباران دَ نه وریدلوپه وجه دَزمکې نه دوړې اوچتیږی اوفضاء توله دَدوړو نه ډکه وی، یاپه زمانې دَقحط کښ دَشدت الجوع اوضعف بصر په وجه هرطرف ته دَلوګی په شان دوړې په نظر راځی، یاچونکه بعضِ عرب دَداسې لوئي واقعه نه تعبیر په «دُخان» سره کوی نوځکه ورنه دلته تعبیرپه «دخانٍ مبینٍ» سره اوشو: قال بعض العرب نسمی الشرالغالب دُخاناً (روح المعانی)

﴿ رَبَّنَا اكْشِفْ عَنَّا الْعَذَابَ ﴾ دې نه مخکښ یقولون مقدر دې، یعنی دوئ به وائ چه مونږته دَدغه عذاب نه نجات راکړه نو مونږه به ایمان راوړو، لکه څرنګه چه تیرشوچه ابو سفیان سره دَ ملګرو راغې اودَحضور ﷺ سره ئی وعده اوکړه چه کچرته دغه تکلیف زائل شی نو مونږ به ایمان راوړو. ﴿ أَنَّىٰ لَهُمُ الذِّكْرَىٰ ﴾ یعنی دوئ پخپلې وعدې کښ ندی ریشتنی بلکه دَدوئ غرض کشف عذاب دې، یعنی دوئ به څرنګه نصیحت قبول کړی پدې سره اوڅرنګه به

دوئ وفاداري اوكړي څكه چه حال دادي، ﴿وَقَدْ جَآءَهُمْ رَسُولٌ مُّبِينٌ ﴾يعنى دَنوَرپه شان عيان اوروښان رسول دوئ ته راغي، دَهغه نه دوئ انكاراوكړواو ﴿مُعَلَّمٌ مَّجْنُونٌ ﴾ئي ورته اوويل،كله وائي چې ده ته دا قرآن بل چا خودلې دې او كله وائي چې دې نعوذ بالله ليوني دې ،نودوئ نه دَ نصيحت قبولو توقع نشته.

﴿إِنَّا كَاشِفُوا الْعَذَابِ قَلِيلًا ﴾يعنى مونږدَدوئ نه څه لږمدت دَپاره دغه عذاب لرې كوؤ خو بيا هم دوئ ايمان نه راوړي،بلكه خپلوشركى اعمالوته رجوع كوي.ليكن يادا وساتئ چه﴿يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ الْكُبْرَىٰ ﴾يعنى كه ايمان مورانه وړلونوپدغه ورځ به بيانشئ خلاصيدلې، البطشة الكبرى په مصداق كښې هم دوه قوله دي:

(١) دَابن مسعود ﷺ دَتفسيرمطابق دَ﴿ الْبَطْشَةَ الْكُبْرَىٰ ﴾ د لوئي نيونې نه مرادغزو بدر ده، چه پدغه غزوه كښې دكفارونه بدل،انتقام واخيستوشواواويا(٧٠)تنه سرداران ئې قتل شول

(٢)او دَقول اول اودَابن عباس ﷺ دَتفسيرمطابق دَ الْبَطْشَةَ الْكُبْرَىٰ نه مرادورځ دَقيامت ده، يعنى دوئ به دَ آخرت دَعذاب نه نشي خلاصيدونكې،چونكه دَابن مسعود ﷺ قول په دُخان مبين كښې موافق دې دَسباق سياق دَ عبارت سره نوپدې وجه اكثرومفسرينو ديته اصح وئيلې دي،والله اعلم.

وَلَقَدْ فَتَنَّا قَبْلَهُمْ قَوْمَ فِرْعَوْنَ وَجَآءَهُمْ رَسُولٌ كَرِيمٌ ﴿١٧﴾
اوبه تحقيق سره مونږامتحان كړې وؤمخكښې دَدوئ نه په قوم دَفرعون اوراغلې وؤدوئ ته رسول عزت مند.
أَنْ أَدُّوٓا۟ إِلَىَّ عِبَادَ ٱللَّهِ ۖ إِنِّى لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٨﴾ وَأَن لَّا تَعْلُوا۟
داچه حواله ماته بندگان دَالله ﷻ(بنى اسرائيل)بيشكه څه ستاسودَپاره رسول امانت داريم،اوداچه تكبرمه كوئ
عَلَى ٱللَّهِ ۖ إِنِّىٓ ءَاتِيكُم بِسُلْطَٰنٍ مُّبِينٍ ﴿١٩﴾ وَإِنِّى عُذْتُ بِرَبِّى
په الله ﷻ باندې،بيشكه څه راتله كوم تاسوته په دَليل ښكاره سره،اوبيشكه څه پناه نيسم په رب خپل سره

وَرَبِّكُمْ أَنْ تَرْجُمُونِ ۝ وَإِنْ لَّمْ تُؤْمِنُوا لِي فَاعْتَزِلُونِ ۝ فَدَعَا رَبَّهٗ

اوپه رب ستاسو سره دَدینه چه سنگسار کړئ ما، اوکه ایمان نه راوړئ په ما نولرې شئ څما نه نوسوال ئی اوکړو خپل رب نه

أَنَّ هٰٓؤُلَآءِ قَوْمٌ مُّجْرِمُونَ ۝ فَأَسْرِ بِعِبَادِي لَيْلًا إِنَّكُمْ مُّتَّبَعُونَ ۝

چه بیشکه دا قوم دې مجرمان (مونږ ورته اووې) چه بوځه بندګان څما د شپې بیشکه تاسو پسې کړې شوی به وی (قبطیان

﴿ وَلَقَدْ فَتَنَّا قَبْلَهُمْ قَوْمَ فِرْعَوْنَ ﴾ دَتخویف دنیوی یوه نمونه ده یعنی دَدې اهل مکه نه مخکښې قوم دَفرعون هم په ازمائش، امتحان کښې مبتلا کړې وو چه رسول موورته لیږلې وو چه آیا دوئ دَالله ﷻ پیغام قبلوی وی اوکنه؟ نوچه کله هغوئ انکار اوکړو اودَرسول تکذیب ئی اوکړو نوفرعون سره دَلښکرنه موپه دریاب کښې غرق کړل، نوستاسو دَپاره ای اهل مکه پدې کښې لوئ عبرت دې. ﴿رَسُولٌ كَرِيمٌ﴾ ای کریم علی الله، کریم فی قومه، موسی علیه السلام ورنه مراد دې.

﴿أَنْ أَدُّوا إِلَيَّ عِبَادَ اللَّهِ﴾ "ان" تفسیریه دې او داتفسیر دې ((وجاءهم رسول کریم)) یعنی تبلیغ او وینا ئې دا وه چې الله بند ګان ما ته حواله کړه او ﴿عِبَادَ اللَّهِ﴾ منصوب دې مفعول دې دَ "أَدُّوا" د پاره، مراد ورنه بنی اسرائیل دی، یعنی موسی علیه السلام فرعون ته اووې چه دابنی اسرائیل چه تاسو غلامان ګرځولی دی داماته حواله کړئ اودَغلامئ نه ئی ازاد کړئ، لکه په سورة طه (۴۷) کښې تیر دی ((ان ارسل معنابنی اسرائیل))، دَابن عباس رضی الله عنه نه مروی ده چه دَ﴿ أَدُّوا ﴾ دَپاره مفعول محذوف دې او ﴿عِبَادَ اللَّهِ﴾ منادیٰ ده حرف نداء ورنه حذف شوې ده او مراد دَ﴿أَدُّوا﴾ نه اطاعة او قبول دَدعوة دې، تقدیر دارنګه دې، اَدّوا الیّ حق الله تعالی من الایمان و قبول الدعوة یا عبادَ الله (روح المعانی) ﴿رَسُولٌ أَمِينٌ﴾ ای اَمینٌ علی الرسالة لیس بخائن و لا کاذب، یعنی امانت دَرسالت ماته حواله دې، نوپدې کښې څه خیانت نه کوم اونه کاذب یم نوداپیغام دَرسالت قبول کړئ او دَ دې نه اعراض مه کوئ.

﴿إِنِّي آتِيكُمْ بِسُلْطَانٍ مُّبِينٍ﴾ تعلیل دې دَ﴿وَأَن لَّا تَعْلُوا عَلَى اللَّهِ﴾ یعنی ماتاسوته داسې واضحه معجزې (عصا، ید بیضاء وغیره) راوړې دی چه په هغې کښې دَانکار هیڅ ګنجائش نشته

دي، نو لهذا تاسو تکبر مه کوئ چه دَدې نه انکار کونکي اوګرځئ، موسی علیه السلام چه خپل قوم ته دغه بيان اوکړونو هغوئ دَده دَقتلولو اراده اوکړه لکه په سورة مومن کښې تيردی وقال فرعون ذروني اقتل موسیٰ....الخ نو موسیٰ علیه السلام ورته اووې چه﴿وَإِنِّي عُذْتُ بِرَبِّي وَرَبِّكُمْ﴾ يعنی ماته الله ﷻ ستادَتکليف نه پناه اوحفاظت راکړيدې، کقوله: فلا يصلون اليکما (القصص).

﴿وَإِن لَّمْ تُؤْمِنُوا لِي فَاعْتَزِلُونِ﴾ اعتزال مطلب يادادې چې که خماخبره نه منئ او ايمان نه راوړئ نو خمانه لرې شئ ماته څه ضرر او ايذاء مه را رسوئ، او يا اعتزال مطلب دا دې چې خما نه لرې شئ خما تاسو سره هيڅ تعلق نشته ليکن چه قوم ئې منع نشونو موسیٰ علیه السلام ورته بددعا اوکړه چه﴿فَدَعَا رَبَّهُ أَنَّ هَٰؤُلَاءِ﴾ لکه په سورة يونس کښې تيردی ربّنا اطمس على اموالهم واشدد على قلوبهم....

﴿فَأَسْرِ بِعِبَادِي لَيْلًا﴾ دې نه مخکښې قلنا مقدر دې﴿إِنَّكُم مُّتَّبَعُونَ﴾ يعنی فرعون او لښکر دَده چه ستاسو دَتلونه خبرشی نو ستاسو دَتعاقب دپاره به درپسی راواوځی نو لهذا تاسو دَشپې اوځئ چه تعاقب مو اونکړی نو﴿إِنَّكُم مُّتَّبَعُونَ﴾ تعليل دې دپاره دَامر په تللو دَشپې کښې.

﴿وَاتْرُكِ الْبَحْرَ رَهْوًا ۖ إِنَّهُمْ جُندٌ مُّغْرَقُونَ ۝ كَمْ تَرَكُوا مِن جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ۝

اوپريږده درياب ولاړ، بيشکه دوئ لښکردي غرقيدونکي ، څومره ئې پريښودل دوئ باغونه اوچينې،

وَزُرُوعٍ وَمَقَامٍ كَرِيمٍ ۝ وَنَعْمَةٍ كَانُوا فِيهَا فَاكِهِينَ ۝ كَذَٰلِكَ

او فصلونه او ځايونه ښائسته ، او نعمتونه چه وو دوئ په هغې کښې خوشحال، هم داسې کوؤمونږ،

وَأَوْرَثْنَاهَا قَوْمًا آخَرِينَ ۝ فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ السَّمَاءُ وَالْأَرْضُ

اوبه ميراث کښې مو ورکړل دغه ، قوم بل ته (بنی اسرائيلو ته)، پس او نه ژړل پدوئ آسمان او نه زمکې

وَمَا كَانُوا مُنظَرِينَ ۝﴾

اونه وو دوئ ته مهلت ميلاؤ شوې.

﴿ وَٱتۡرُكِ ٱلۡبَحۡرَ رَهۡوًا ﴾ رهواً حال دې پمعنی د ساكناعلی حاله يعنی كله چه حضرت موسی علیه السلام دحكم الهی مطابق بنی اسرائيل دځان سره روان كړل. او بحر قلزم غاړې ته او رسيدل، نو ورستو ورپسې دفرعون لښكر را اورسيدو، نو الله تعالیٰ موسی علیه السلام ته حكم اوكړو چه په خپلې عصا سره دا درياب اووهه، نو درياب ساكن اودريدلو او پكښې ورته دولس (۱۲) لارې جوړې شولې، بنی اسرائيل ورباندې پورې وتل (كمافی الشعراء: ۲۵) نو موسی علیه السلام اراده اوكړه چه درياب بيااووهی چه روان شی چه فرعون اولښكر ئی ورپسې رانشی. نوالله تعالیٰ ورته امراوكړوچه پخپل حال ئی پريده چه لښكردفرعون پكښې هم داخل شی، لښكردفرعون چه پدغې وچه كښې ننوتل او ټول دسمندرمنځ ته ورسيدل، نوالله تعالیٰ اوبوته حكم اوكړو نواوبه جاری شوې اوټول لښكر پكښې غرق شو، بعضومفسرينو دفرعون دلښكرتعداد (۱۳) لاكه ليكلې دې.

عكرمه رحمه الله د ﴿رَهۡوًا﴾ معنی يابساً خشک كوی كقوله تعالی: فاضرب لهم طريقافی البحر يبسًا.... الخ (طه:) بعض ئی معنی (منفرجًا) كوی، او دا د دؤو څيزونو مينځ كښې حائل ټكړې ته وائي يعني دسمندر دواړه حصې داسې جدا جدا پريگده ، مآل د ټولو يو معلوميږي

﴿إِنَّهُمۡ جُندٞ﴾ ای لانهم جند....الخ تعليل دې دماقبل، ﴿كَمۡ تَرَكُواْ مِن جَنَّٰتٖ﴾ كم خبريه دې دتكثيردپاره، يعنی دوئ نه په ملک مصركښې ډيرباغونه، نهرونه، خائسته خائسته بنگلې اوډيرنعمتونه پاتې شول.

﴿كَذَٰلِكَ﴾ كاف اسمي دې او په محل د نصب كښې مفعول مطلق دې فعل محذوف د پاره ، او ذلک كښې اشاره ده مذكور نعمت او نقمت دواړو ته، اي : نفعل فعلا مثل ذلک ، يعني مونږ هم دغه رنگ معامله كوو، چې اول خپل نعمتونو ورله وركړو ، خو چې ناشكري ئي اوكړي ، نو خپل ترينه واپس واخلو او تباه ئي كړو. ﴿وَأَوۡرَثۡنَٰهَا قَوۡمًا ءَاخَرِينَ﴾ دا عطف دې په ((تركوا)) باندې ، بنی اسرائيل ورته مراددی لكه په سورة شعراء (۵۹) كښې پدې تصريح ده، ((و اورثناها بنی اسرائيل)) . ددې نه معلوميږی چه بنی اسرآئيل دفرعون دغرقيدلونه ورستو بيا مصرته راغلی وؤ او آبادشوی وؤ، ددې آيت تفصيلی تفسيردسورة شعراء په آيت (۵۹) كښې تيرشويدې نوهلته ئی ملاحظه كړئ.

﴿فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ ٱلسَّمَآءُ وَٱلْأَرْضُ﴾ دَدې آيت په تفسير کښې مختلف اقوال دي:

(۱) بعضِ فرمائي چه داکنايه ده دَعدم اکتراث نه په هلاکت دَفرعونيانو، يعنې دَدوئ هلاکت څه اهمه اولويه حادثه نده، بلکه لکه څرنګه چه دوئ بې قدره اومعمولي وُو نودغه شان ئې هلاکت هم معمولي خبره ده، نو دادَعربو دَعادت مطابق اووئيلې شو، ځکه چه دَهغوئ عادت دې چه کله څه لويه حادثه اولوئ سړې مړشي نوبيا وائي چه "اظلمت له الدنيا، وبکت الرّيح والسّماء والارض"

(۲) بعضِ وائي چه په کلام کښې مضاف مقدر دې تقدير دارنګه دې: فمابکت عليهم اهل السّماء و اهل الارض، يعنې نه وربانديې فرښتو اوجړل اونه انسانانو، بلکه په هلاکت ئې خوشحاله شول

(۳) ليکن دَاکثرو مفسرينو قول دادې چه داحقيقةً دی، ځکه چه په آسمان اوزمکې کښې دَ هغوئ مناسب او لائق شعور موجود دې چه په هغې سره دَمومن اودَ کافر، فاسق دَمرتبې ادراک کوی، نو دَ مومن په وفات غمجن کيږی اوجاړی، لکه په حديث کښې دی چه: مامن عبدٍ الاّ و له في السّمآء بابان، بابٌ يصعَد منه عمله وبابٌ ينزل منه رزقه اذا مات فقداه و بکيا عليه. رواه الترمذی عن انس رضي الله عنه اوابن عباس رضي الله عنه فرمائي چه: انّ الارض لتبکی على المؤمن اربعين صباحا، يعنې زمکه دَمؤمن سړی په وفات باندې څلوېښت ورځې جاړی. اوحضرت علی رضي الله عنه فرمائي چه: انّ المومن اذامات بکیٰ عليه مصلّاه من الارض، چه مومن سړې وفات شی نوورپسې جائ نماز، جاړی، غرض داچه دَ مومن په مرګ دَاسمانونو دروازې اودَځمکې هغه حصه چه ده به وربانديې مونځ کولو ژاړی، او په کافرپسې نه ژاړی بلکه خوشحاله وی، نو مطلب دا شو چه فرعونيانو څه نيک عملونه، نه کول چه زمکه ورپسې اوژاړی اونه ئې اسمان ته څه نيک عمل ختلې وُو چه ورپسې اوژاړی (تفسير کبير، روح المعانی وغيره).

﴿وَمَا كَانُوا۟ مُنظَرِينَ﴾ يعنې چه کله ئې دَهلاکت وخت راغې نوبل وخت ته ورته انتظار اونه کړې شو، اونه ورته اخرت پورې مهلت ملاؤشو بلکه دنيا کښې معذب شول.

وَلَقَدْ نَجَّيْنَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ مِنَ ٱلْعَذَابِ ٱلْمُهِينِ ۝ مِن فِرْعَوْنَ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ

اوبه تحقيق سره مونږ نجات ورکړې وُو بنی اسرائيلو ته دَعذاب رسواکونکی نه چه فرعون وُو، بيشکه دې

عَالِيًا مِّنَ الْمُسْرِفِيْنَ ﴿٣١﴾ وَلَقَدِ اخْتَرْنٰهُمْ عَلٰى عِلْمٍ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿٣٢﴾
متکبر، وؤ دحدنه تجاوز کونکو نه وؤ . او مونږ غوره کړي وؤ دوئ ته دَ علم په بنياد په ټولو خلقو (دَ دغه وخت)
وَاٰتَيْنٰهُمْ مِّنَ الْاٰيٰتِ مَا فِيْهِ بَلٰٓؤٌا مُّبِيْنٌ ﴿٣٣﴾
اوورکړي موږ دوئ ته معجزات هغه چه په هغې کښې وؤ انعام ښکاره

﴿ وَلَقَدْ نَجَّيْنَا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴾ داتتمه دَبيان سابق ده، او ديکښې په بني اسرائيلو باندې د احساناتو ذکر دې ، او دا اول احسان دې چه مونږ بنی اسرائيلوته دَفرعون دَظلمونونه نجات ورکړو ، دَ﴿اَلْعَذَابِ الْمُهِيْنِ﴾نه هغه عذابونه مراد دی چه په سورة بقره،اعراف کښې تير دی، چه "يذبّحون ابناءکم ويستحيون نسآءکم" .

﴿مِنْ فِرْعَوْنَ ﴾بدل دې دَ﴿ اَلْعَذَابِ الْمُهِيْنِ ﴾نه په حذف دَمضاف سره ای من عذابِ فرعون،﴿اِنَّهٗ كَانَ عَالِيًا مِّنَ الْمُسْرِفِيْنَ ﴾ای کان عالي الدّرجة فی طبقة المسرفين(کبير)يعنی په ظالمانو کښې ډير لوئ ظالم وؤ،يا﴿مِنَ الْمُسْرِفِيْنَ﴾ خبرثانی دې دَ﴿ كَانَ ﴾يعنی فرعون متکبرهم وؤ او دَ مسرفينو نه هم وؤيعنی دَحدنه تجاوزکونکې وؤحتّی چه دَالوهيت دعوه ئی کړې وه.

﴿وَلَقَدِ اخْتَرْنٰهُمْ عَلٰى عِلْمٍ﴾ اي لاجل علم . دا دويم احسان دې يعنی مونږبنی اسرائيلوته فضيلت اوغوره والې ورکړې وؤپدې چې دوئ عالمان وؤ،يا﴿عَلٰى عِلْمٍ ﴾ حال دی اي عالمين. معنی داده چه مونږ ته دَ بنی اسرائيلو کمزوريانې او نواقص اګرچه معلوم وؤ خو سره دَ دې نه مو ورته دَ هغې زمانې په خلقوفضيلت اوشرافت ورکړو(روح). ﴿عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴾نه مراددَخپلې زمانې خلق دی، لکه داپه سورة بقره(۴۷)کښې هم تيردی،يا دَ بنی اسرائيلو فضيلت په اعتبار دَ بعضو وجوهو سره دې چه کثرت دَانبياؤ عليهم السلام دې پدوئ کښې،نه من کلّ الوجوه حتی چه لازم شی فضيلت دَبنی اسرائيلوپه دې امّت محمّديه علی صاحبهاالف الف سلامٍ وتحيه، باندې،

﴿وَءَاتَيْنَٰهُم مِّنَ ٱلْءَايَٰتِ﴾دريم احسان و انعام دي ، مراد دآياتونه يامعجزات دموسى عليه السلام دي فقط چونکه معجزه دامت دپاره هم وی نو ځکه« واتینٰهم »اوبلې شو اوياهغه احسانات دی چه الله تعالیٰ په بنی اسرائيلو باندې کړی وو،لکه په درياب کښې ورته لارې جوړيدل،دشمن هلاکول، تظليل الغمام ، انزال دمن اوسلوىٰ وغيره،﴿مَا فِيهِ بَلَٰٓؤٌا۟ مُّبِينٌ﴾ بلآءٌ يا پمعنى د انعام دې،ای نعمة ظاهرة،يا پمعنى دامتحان دې ای اختبار ظاهر لننظر کیف تعملون(روح).

إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَيَقُولُونَ ۝ إِنْ هِيَ إِلَّا مَوْتَتُنَا ٱلْأُولَىٰ وَمَا نَحْنُ بِمُنشَرِينَ ۝
بيشکه دااهلِ مکه داوائی،چه نده دا مگر مرګ زمونږ رومبنې دې او نه يومونږ بيا ژوندی کيدونکی
فَأْتُوا۟ بِـَٔابَآئِنَآ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ۝ أَهُمْ خَيْرٌ أَمْ قَوْمُ تُبَّعٍ
اوکه بيا ژوندی کيدل وی، نو راولئ زمونږمړه پلاران کچرته يئ تاسو رښتنی، آيا دوئ غوره دی اوکه قوم دتبع غوره دې،
وَٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ أَهْلَكْنَٰهُمْ ۖ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ مُجْرِمِينَ ۝
اوهغه خلق چه مخکښې وودهغوئ نه،هلاک کړل مونږهغوئ،بيشکه هغوئ وومجرمان

﴿إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَيَقُولُونَ﴾ دَ تخويف دنيوى نمونې ذکر کولو نه ورستو رُخ دَ کلام بيا اهل مکۆ طرف ته ګرځولې کيږی،شکوه ده ددوئ نه په انکاردبعث بعد الموت باندې،مشرکين دَ بعث بعدالموت نه منکروؤ اوويل به ئی چه مرګ زمونږ اخرى حالت دې،دمرګ نه ورستو بيا ژوندی کيدل نشته دې، ﴿إِنْ هِيَ إِلَّا مَوْتَتُنَا ٱلْأُولَىٰ﴾ که څوک اشکال اوکړی چې مشرکان خو دَ حيات ثاني نه منکر وؤ،نو ان هي الا حياتنا الاولى وئيل پکاروؤ،لکه په سورة انعام(۲۹)کښې دی "ان هی الاّ حياتنا الدنيا" جواب دا دې چې حاصل دَ دواړو يو دې (۱) ځکه چې مسلمان د دې ژوند نه ورستو دمرګ او مرګ نه ورستو د برزخ زندګي، هغې نه ورستو بيا بعث ،حساب او د جنت جهنم قائل دي ، نو دوئ په دې قول کښې وائي چې مونږ درسره صرف دا يوه خبره منو چې مرګ شته ،او دا نور احوال درسره نه منو ، ګويا علم معاني په اصطلاح کښې دا قصر الافراد دې ، دې تقدير باندې د "موت" نه مراد معروفه معنیٰ د مرګ ده او «الاولى» په معنى السابقة سره دې ، اي : الا الموتة السابقة على تلك الاحوال (الجواهر للطنطاوي)

(۲) يا دا چې د دوئ دا قول رد دې د الله ﷻ د دې قول . كنتم امواتا فاحياكم ثم يميتكم ثم يحييكم (البقرة)، چې څنګه اول مرګ (چې عدم په صورت كښې وو) نه ورستو ئې درله ژوند دركړې دې ، دغه شان دويم مرګ نه بعد به خو بيا ژوندي كوي .نو دوئ اوئيل هغه مرګ چې هغې نه ورستو ژوند دې هغه صرف اول مرګ دې او مونږ د هغې قائل يو ، پاتې شو دويم مرګ نه ورستو بيا ژوندي كيدل نو مونږ دا نه منو ، دې تقدير باندې موت نه مراد موت په صورت د نطفې كښې دې او ((الاولى)) په مقابله الثانية كښې دې ، چې هغه معروف مرګ دې نو ګويا علم معاني په اصطلاح كښې دا قصر القلب دې .(كشاف ، كبير)

﴿ أَهُمْ خَيْرٌ أَمْ قَوْمُ تُبَّعٍ ﴾دادتخويف دنيوى دويمه نمونه ده،مشركين مكه دقوم دتبع نه زيات طاقت والاندى،نوچه هغوئ دشرك اودتكبرپوجه هلاک كړې شول نودوئ څوک دى،چه بچ به شى، تبّع دَيمن په بادشاهانوكښ دَيوبادشاه لقب وؤ،اصلى نوم ئى اسعد يا سعد وؤ، نيک،صالح اومؤحدوؤ،علماؤليكلى دى چه تبّع دَيمن هربادشاه ته وائى لكه قيصر دَ روم او كسرىٰ دَفارس بادشاه ته وائى،دَدې وجه نه دتُبّع جمع تبابعه راځى،دلته چه دَ كوم بادشاه ذكردې نودادَحضورﷺدَزمانې نه تقريبًاوه سوه(۷۰۰)كاله مخكښ تير شويدې، پخپل عهدحكومت كښ ئى ډيرې علاقې فتح كړې وې،تردې چه سمرقندپورې رسيدلې وؤ، تاريخ ليكلى دى چه يوځل دې په مدينى منورې باندې تيرشونودَحملې اراده ئى پرې اوكړه، دَ مدينى خلقوبه ورسره دَورځې جنګ كولواودَشپې به ئى ورله ميلمستوب كولو،دې دَهغوئ پدې سلوک باندې حيران وؤ،پدې دوران كښ ورته دوه يهودعالمانواووئيل چه ته دا ښارنشې قبضه كولې ځكه چه دادَنبى اخرالزمانﷺ دَهجرت مقام دې،نودې دَجنګ نه منع شو،اودين موسوى چه پدغه وخت كښ برحق دين وؤهغه ئى قبول كړو،دَحضورﷺپه شان كښ ئى دا اشعار اوويل:

شهدتُ على احمدَانه رسولٌ من الله بارى النّسم
ولومدّدهرى الى دهره لكنتُ وزيراً له وابن عمّ

او بيا ئى دَحضورﷺپه نوم خط اوليكواودَاوس اوخزرج مشرانوته ئى وركړوچه دابه نبى كريمﷺ ته وركوئ،په خط كښ ئى ليكلى وؤ،امّابعدفانّى آمنتُ بکَ وبكتابکَ الّذى اُنزل عليکَ وانا على دينک وسنتکَ وآمنتُ بربّک وربّ كل شىءٍ وآمنتُ بكلّ ماجآء من ربّکَ من شرائع الاسلام،فان

ادرکتک فهاونعمت وان لم ادرک فاشفع لي ولاتنسني يوم القيامة فاني من امتک الأولين وتابعيک قبل مجيئک وانا علي ملتک وملة ابيک ابراهيم علیه السلام .بيانې په خط خپل مهر اولګولو لله الامرمن قبل ومن بعد. نې وروباندې اوليکل،اوخط دپاسه ئې پته اوليکله الی محمدبن عبدالله نبی الله ورسوله خاتم النبين ورسولُ ربّ العالمين،من تُبّع الاول.دده قوم هم دده سره اسلام راوړي وو لیکن دده دوفات نه ورستو بيا ګمراه شوي وو ،بُت پرستي وغيره ئې شروع کړه نو الله ﷻ وروباندې عذاب نازل کړو اوتهس نهس شول،حضورﷺ چه کله مدينه ته هجرت اوکړونوهغه خط ورته ورکړې شو،ورته اولوستلې شو ،نوحضورﷺ درې(۳)ځلي اووې مرحبًابتبع الأخ الصالح اوداهم راغلی دی چه حضورﷺ وروباندې جنازه اوکړه(روح المعاني)په يوروايت کښې داهم دی چه حضورﷺ ارشاد دې چه لاتسبّوا تُبّعًا فانه قد کان اَسلمَ دده په باره کښې راغلی چه دې اولنې بادشاه وو چه خانه کعبې ته ئې غلاف اچولې وو ،اوصيت ئې کړې وو چه دې نه ورستودې هرکال خانه کعبې ته غلاف اغستولې شي،بعض مفسرين فرمائي چه قوم تبّع اوقوم سبأمصداق يودې،دقوم سبأتاريخ او هلاکت دسورة سبأپه تفسيرکښې شويدې هلته ئې ملاحظه کړئ(والله اعلم)

﴿وَالَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ﴾قوم عاد،قوم ثمودوغيره ورنه مراددی،﴿إِنَّهُمْ كَانُوا مُجْرِمِينَ﴾علت دې د هلاکت،يعنی مونږدغه قومونوپدې وجه هلاک کړل چه دوئ مجرمان ووٴنوای کفارمکه وٴتاسوهم دهلاکت نه اويرېږئ،اوپه قرآن ايمان راوړئ.

وَمَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لٰعِبِينَ ﴿٣٨﴾ مَا خَلَقْنٰهُمَآ
اوندی پيداکړی مونږآسمانونه اوزمکه اوهغه څه چه په مينځ ددې دواړوکښې دی عبث،ندی پيداکړی مونږدغه دواړه
إِلَّا بِالْحَقِّ وَلٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٩﴾ إِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ مِيقٰتُهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٤٠﴾
مګردا ثبات دحق توحيد دپاره،ليکن اکثردوئ نه نه پوهيږی،بيشکه ورځ دفيصلې تاريخ ددوئ دټولو، دې
يَوْمَ لَا يُغْنِي مَوْلًى عَن مَّوْلًى شَيْئًا وَلَا هُمْ يُنصَرُونَ ﴿٤١﴾ إِلَّا مَن
هغه ورځ چه نه به راځي پکاريو دوست د بل دوست د هيڅ شي اونه به ددوئ امدادکولې شي،مګرهغه څوک
رَّحِمَ اللَّهُ ۚ إِنَّهُ هُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿٤٢﴾
چه رحم پری اوکړی الله ﷻ،بيشکه الله ﷻ صرف هغه غالب دې په هرڅه،رحم کونکې دې

﴿وَمَا خَلَقْنَا ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ ﴾دلیلِ عقلی دې په توحید. الله ﷻ داتول علویات، سفلیات محض دلوبې تماشې دپاره اوعبث بې مقصده ندی پیدا کړی بلکه دائی دلوئ مقصد چه اثبات دتوحید دې،دلالت کولودپاره پیداکړیدی﴿إِلَّا بِٱلْحَقِّ ﴾ای لاثبات الحقّ،دحق نه مرادتوحیددې،یعنی دتوحید اظهار او اثبات دپاره ئی پیداکړیدی.

﴿إِنَّ يَوْمَ ٱلْفَصْلِ ﴾ دی آیاتونوکښ تخویف اخروی دې دیوم الفصل نه ورځ دقیامت مرادده،قیامت ته یومُ الفصل ځکه وائی چه پدې کښ به دمخلوقاتوفیصلې کیږی،کقوله تعالی:ویومَ القیامة یفصل بینکم(ممتحنه:۳)یابه حق دباطل نه جداکیږی.﴿يَوْمَ لَا يُغْنِي ﴾بدل دې د﴿ يَوْمَ ٱلْفَصْلِ ﴾.﴿إِلَّا مَن رَّحِمَ ٱللَّهُ ﴾بدل دې دضمیرمجهول د﴿يُنصَرُونَ﴾نه یعنی دقیامت په ورځ به دعذاب الهی نه څوک نشی بچ کیدلې مگرهغه چه الله ﷻ ورباندې رحم اوکړی،معاف ئی کړی،اودده باره کښ شفاعت قبول کړی(۲)یامستثنی متصله ده اومرادورنه مومنان دی،یعنی دقیامت په ورځ به هیڅ دوست بل دوست ته څه فائده نشی ورکولې،مگرمومنان به دیوبل شفاعت کوی(۳)یامستثنی منقطع ده پمعنی دلکن سره،یعنی په چاچه الله ﷻ رحم اوکړی نوهغه به نه دوست ته محتاج وی اونه ناصرته چه مددورسره اوکړی(روح المعانی).

﴿إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْعَزِيزُ ﴾غالب دې،نوچاته چه دتعذیب اراده اوکړی نودهغه څوک نصرت نشی کولې﴿ٱلرَّحِيمُ ﴾په چاچه رحم اوکړی نوهغه ته څوک عذاب نشی ورکولې اونه ورته دنصرت ضرورت وی.

إِنَّ شَجَرَتَ الزَّقُّومِ ﴿٤٣﴾ طَعَامُ الْأَثِيمِ ﴿٤٤﴾ كَالْمُهْلِ ۚ يَغْلِي فِي الْبُطُونِ ﴿٤٥﴾
بیشکه اونه دزقوم،خوراک دغټ گنهگار دې ، پشان د ویلی کړې شوی تانبې به وي ، ایشیږی به په خیټوکښ،
كَغَلْيِ الْحَمِيمِ ﴿٤٦﴾ خُذُوهُ فَاعْتِلُوهُ إِلَىٰ سَوَاءِ الْجَحِيمِ ﴿٤٧﴾ ثُمَّ صُبُّوا فَوْقَ
په شان دایشیدلو گرمو اوبو،ونیسئ دې پس راکاږئ دې په دیکودیکومینځ دجهنم ته . بیا واړه وئ دپاسه

رَأْسِهٖ مِنْ عَذَابِ الْحَمِيْمِ ﴿٤٨﴾ ذُقْ ۚ إِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيْزُ الْكَرِيْمُ ﴿٤٩﴾ إِنَّ هٰذَا
دَسردَده دَعذاب دَايشيدلواوبو، «ورته به ويلې شي»اوڅکه بيشکه ته«دنياکښ» ډيرعزت مندمعززوې،بيشکه داعذاب
مَا كُنْتُمْ بِهٖ تَمْتَرُوْنَ ﴿٥٠﴾
هغه دې چه تاسوپدې کښې شک کولو.

﴿إِنَّ شَجَرَتَ الزَّقُّومِ﴾ داتخويف اخروی دې، چه دکافرانو خوراک به په جهنم کښ زقوم وی، چه بدصورته اوترخه به وی ليکن کافران به ئې دَلوږې دَمجبورئ نه خوری، چه کله ئې او خوری نوپه خيټوکښ به دګرمواوبوپه شان خوټکيږی، ابن عباس رضي الله عنه فرمائې چه حضور ﷺ داآيت کريمه تلاوت کړوچه: يايها الذين آمنوا اتّقوا الله حقّ تقاته و لا تموتنّ الاّ و انتم مسلمون(آل عمران: ۱۰۲) بيائی اوفرمايل چه که دَزقوم يوه قطره هم دنياته راوسسيږ نو دنيا والو دَخوراک څيزونه به خراب کړي، نوڅه حال به وی دَهغه قوم چه خوراک ئې زقوم وی. (بغوي)

﴿شَجَرَتَ الزَّقُّومِ﴾ تفصيل په سورة صفّات کښ تيردې اوپه سورة بنیٰ اسرائيل کښ ورته "شجرة الملعونة" وئيلی شويدی.

﴿طَعَامُ الْأَثِيمِ﴾ "اثيم" مبالغه ده په آثم کښ، ډيرګنهګاريعنی کافر﴿كَالْمُهْلِ﴾ جار مجرور خبر دې دَ مبتدا محذوف، چې "هو" دې ، او راجع دې "طعام" ته، نو ديکښې د کفارو مذکور خوراک تفصيل بيان دې ، "مهل" ياويلی کړې شوې تانبې ته وائی، يادُردی الزّيت، ته وائي يعنی تيلوپه آخرکښ چه کوم خيرې اوخاوره وی. «يغلي في البطون» دا خبر ثاني دې مبتدا محذوف، ديکښې د طعام مذکور بل کيفيت بيان دې، ﴿كَغَلْيِ الْحَمِيْمِ﴾ صفة دې دَ مصدرمحذوف ای غلياً كغلي الحميم.

﴿خُذُوهُ﴾ دَدينه مخکښ "يُقال للزبانية" مقدردې، يعنی دَجهنم فرشتوبه اووئيلې شی چه اونی نيسئ اوپه ديکوديکوئی دَ جهنم مينځ ته بوځئ، ﴿فَاعْتِلُوهُ﴾ ای جرّوه بقهرٍ، "عتل" نه ماخوذ دې ، او "عتل" څوک د ګريبان نه نيولو ته وائي ، او دلته د "اعتلوه" معني په زور

راکاږل دي جهنم ته ﴿ثُمَّ صُبُّوا فَوۡقَ رَأۡسِهِ﴾لفظ دَفوق کښې اشاره ده احاطې دَعذاب ته په ټول بدن پورې،﴿ذُقۡ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡكَرِيمُ﴾دا خطاب به ورته استهزاءً اوتوهیناً اوکړې شي،بعضِ وائی چه دا خطاب به ابوجهل ته وی چه نبی کریمﷺ ته ئی په یوه موقع کښې وئیلی وؤچه"اناالعزیزالکریم"پدې کښې اګرچه څه شک نشته دې چه ابوجهل هم دَدې مصداق دې،لیکن غوره داده چه خاص ندې داعذاب په یو کافر پورې(ابن کثیر).

إِنَّ ٱلۡمُتَّقِينَ فِي مَقَامٍ أَمِينٍ ﴿٥١﴾ فِي جَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ﴿٥٢﴾ يَلۡبَسُونَ
بیشکه پرهیزګاران به په داسې ځایونو کښې وی چه په امن کښې به وی دَهرآفت نه، په باغونو او چینو کښې به وی،اغوندی به
مِن سُندُسٍ وَإِسۡتَبۡرَقٍ مُّتَقَٰبِلِينَ ﴿٥٣﴾ كَذَٰلِكَ وَزَوَّجۡنَٰهُم
دَباریکوریښمنونه اودَغټوریښمنونه مخامخ به وی یوبل ته،هم داسې به وی.اوپه نکاح به ورکړومونږدوئ ته
بِحُورٍ عِينٍ ﴿٥٤﴾ يَدۡعُونَ فِيهَا بِكُلِّ فَٰكِهَةٍ ءَامِنِينَ ﴿٥٥﴾ لَا يَذُوقُونَ
توروغټوسترګووالاښځې،غواړی به دوئ په جنت کښې هرقسم میوې حال داچه په امن کښې به وی،نه به څکی دوئ
فِيهَا ٱلۡمَوۡتَ إِلَّا ٱلۡمَوۡتَةَ ٱلۡأُولَىٰ وَوَقَىٰهُمۡ عَذَابَ ٱلۡجَحِيمِ ﴿٥٦﴾
په جنت کښې مرګ مګرهغه مرګ چه ړومبې وؤپه دنیاکښې،اوبچ به کړی دوئ الله تعالی عذاب دَجهنم نه
فَضۡلًا مِّن رَّبِّكَ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ﴿٥٧﴾
په فضل دَرب ستا سره ، هم دا صرف ، کامیابی لویه ده

﴿إِنَّ ٱلۡمُتَّقِينَ فِي مَقَامٍ أَمِينٍ﴾دی آیاتونو کښې بشارت اخرویه دې،مؤمنانو ته به دَاللهﷻ په فضل اوکرم سره دَجنت هرقسمه ابدی سروری نعمتونه حاصل وی،اوهم دالویه کامیابی ده چه دَانسان ابدی ژوند په ابدی نعمتونو کښې تیریږی،اودَاللهﷻ دَعذاب نه محفوظ مامون وی، اوتر ابد الاباد پورې دَالطافواوافضالومورداوګرځی(رزقناالله بفضله).﴿أَمِينٍ﴾یعنی داسې

ځاېونه او بنګلې به ورته ملاؤشي چه جنتي به پکښې دهرآفت،خوف،نه محفوظ وي،په امن کښې به وي.

﴿فِي جَنَّٰتٍ﴾بدل اشتمال دې دَ﴿مَقَامٍ﴾نه﴿سُندُسٍ﴾جمع دَسندسة،ته الرقيق من الديباج:باريک ريښنم ته وائي،او﴿وَإِسْتَبْرَقٍ﴾غټ،موټاريښنم ته وائي﴿مُّتَقَٰبِلِينَ﴾يوبل ته به مخامخ ناست وي،کنايه ده دَدينه چه دَيوبل سره به ئې موانست.محبت وي،بُغض عدوات به ورنه منتزع وي،کقوله تعالى:ونزعنامافى صدورهم من غلّ...الخ(اعراف،حجر).﴿كَذَٰلِكَ﴾ اى الامر کذالک،تقريرا وتحقيق دَماقبل دې،دَ﴿وَزَوَّجْنَٰهُم﴾مطلب يادادې چه دَجنتيانوبه دَ حورو سره باقاعده نکاح کولې کيږي،په جنت کښې به اګرچه احکام تکليفيه نه وي خونکاح به بطورِ اعزاز او اکرام کولې کيږي،ياتزويج په خپله اصلى معنىٰ کښې دې،يعنى حورې به دَ جنتيانو جوړې اوګرځولې شي او جوړه جوړه به ګرځي﴿بِحُورٍ﴾جمع دَحوراَء ده،تک تورو سترګو والا ته وائي﴿عِينٍ﴾جمع دَعيناَء ده،غټو سترګو والا ته وائي.

فائده:ډيرروايات په دې دلالت کوي چه حورې دَجنت غيردى دَنساءالدنيانه،په يوحديث کښې دي:خُلقَ الحورُالعين من زعفران(روح، ابن ابي حاتم) بيااختلاف دې پديکښې چه آياحُورې به افضل وي اوکه نساءالدنيا.بعضې وائي چه نساءالدنيابه بهتره وي په سبب دَنيک عمل دَدوئ نه په دنياکښې ، بعضې وائي چه حورالعين به افضل وي،لقوله عليه السلام:وابدله زوجًاخيرًامن زوجه(مسلم باب الدعاء على الميت کتاب الجنائز)والله اعلم.

﴿ءَامِنِينَ﴾اى آمنين من الانقطاع والنقصان:آمنين حال دې دَضميرفاعل دَ﴿يَدْعُونَ﴾ نه ﴿لَا يَذُوقُونَ فِيهَا ٱلْمَوْتَ﴾دانعمت دَټولونعمتونودَبقاء ضمانت دې،يعنى دوئ به هميشه هم پدغه عيش اونشاط کښې خوشحال اوسيږي،ځکه چه پدوئ به بالکل فناء اومرګ نه راځي، مرګ به ورباندې هم نه راځي اودَمرګ مشابه حالت چه خوب دې،هغه به ورباندې هم نه وي،لکه دَجابربن عبدالله نه روايت دې چه دَحضورﷺنه چاتپوس اوکړو:آينامُ اهلُ الجنة؟ قال لا، النوم اخوالموت واهل الجنة لايموتون ولاينامون(روح المعانى بحواله بيهقى).

﴿إِلَّا ٱلۡمَوۡتَةَ ٱلۡأُولَىٰ﴾استثناء منقطع ده پمعنی دَلکن سره ای لکن الموتة الاولی قد ذاقها فی الدنیا(بحر،روح)﴿فَضۡلٗا مِّن رَّبِّكَ﴾مفعول مطلق دي دَمحذوف دپاره یادَ﴿وَوَقَىٰهُمۡ﴾دپاره مفعول له دي،نوپديکښې اشاره ده چه دَجهنم نه بچ کيدل اوجنت ته داخليدل محض په فضل دَالله ﷻ سره دی،اوپه الله ﷻ باندې دَعملونوثواب ورکول واجب ندی(روح)﴿ذَٰلِكَ﴾اشاره ده،دَجنت نعمتونو اودَجهنم ته بچ کيدوته،چه دالويه کاميابی ده

فَإِنَّمَا	يَسَّرۡنَٰهُ	بِلِسَانِكَ	لَعَلَّهُمۡ	يَتَذَكَّرُونَ ۝	فَٱرۡتَقِبۡ
بيشکه آسان کړې مودې داقرآن په ژبه ستادپاره دَدی چه دوئ نصيحت قبول کړی پس انتظارکوه دَانجام دَدوئ					
إِنَّهُم مُّرۡتَقِبُونَ ۝					
بيشکه دوئ هم انتظارکونکی دی					

﴿فَإِنَّمَا يَسَّرۡنَٰهُ بِلِسَانِكَ﴾داآيت ټول سورة سره متعلق دې ګوياچه دَټول سورة خلاصه اوتاکيددې،اواجمال دې دَتفصيل،اوخصوصي طورباندې اولې دعوې سره متعلق دې چه دا قرآن زمونږ کتاب دې اودوئ د نصيحت دپاره مونازل کړيدې.او﴿بِلِسَانِكَ﴾معنی یاداده چه بلغتک په لغت ستاچه عربی ده،نوداقرآن مودَدوئ په مورنئ ژبه کښې نازل کړيدې چه دوئ ورباندې په اسانئ سره پوهه شی اونصيحت قبول کړی،ايمان پرې راوړی،اويامعنی داده چه دَ دې قرآن لوستل موتاته اسان کړيدی،چه ته ئی دوئ ته بيان کړې اودوئ نصيحت قبول کړی

﴿فَٱرۡتَقِبۡ إِنَّهُم مُّرۡتَقِبُونَ﴾داتخويف دنيوی دې دَابتداء سورة فارتقب يومَ تاتي السمآء سره متعلق دې اوپدې کښې تسلّی هم ده حضور ﷺ ته چه دوئ خوستادَمرګ انتظارکوی چه غلبه دَاسلام به رانشی،ليکن ته انتظارکوه دَدوئ دَبدانجام چه څه ورته پيش کيږی.

ركوعاتها (۴)	سورة الجاثيه مكية	آياتها (۳۷)
	بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ	
	خاص په نوم د الله چه بيحده مهربان او ډير رحم كونكي دي شروع كوم	

ترتيبها حسب التسلسل (۴۵) وحسب النزول (۶۵)

سورة الجاثيه په حواميم سبعه ؤكښ شپږم سورة دې،ترتيب قرآنی لحاظ سره(۴۵)دې، او ترتيب نزولی په لحاظ سره(۶۵)دې،نزلت بعدسورة الدخان،زمانه دَنزول ئی دوراِخيردمكې دې.

ربط اسمي:ماقبل كښ ذكر ؤ چې حق په مقابله كښ به ددوئ دلائل دخان (لوگی) پشان والوزی.اوس دلته ذكركيږی چی حق دلائلو په مقابله كښ دوئ بالكل عاجزه او لاجوابه دی لكه په گوډو چې ناست وی.

ربط معنوی: (۱) ماقبل سورت كښ عظمت قرآن ذكر ؤ اودلته قرآن نه په انكار باندې زجر دې.

(۲)ماقبل كښ بنی اسرائيلو باندې دَ الله ﷻ نعمتونو تذكره وه،دلته ديكښ دَهغوئ ناشكری تذكره كيږی،

(۳)ماقبل كښ هم دَيو شبهې جواب او يوباطلې عقيدې رد وؤ،ديكښ هم يو علی سبيل التنزل دَ مشركينو يوې بلې شبهې جواب او باطلې عقيدې رد دې شبه دا وه چې مشركانو به ويل چې زمونږمعبودان اگرچه زمونږسوالونه،نه آوری ليكن مونږئی عبادت ځكه كوؤ،چې زمونږ آباؤ اجدادو ئی عبادت كړيدې دادَهغوئ رسم دې،نوالله ﷻ ئی جواب كوی چه ثُمَّ جعلناك علي شريعة من الامر.....(۱۸)يعنی دعبادت كولودَپاره مونږتاسوته صحيح دين دركړيدې، نودَهغې اتباع كوئ اودَآباؤاجدادو دَ رسم بداتباع مه كوئ. همدا دَدې سورت دعوی ده چې اتباع دَ شريعت كوئ آباؤو واجداد او د رسم اتباع مه كوئ.

دسورة دَمضامينواجمالی خلاصه

په اول كښ تمهيد دې مسئله دَتوحيدمنلوته،پنځه(۵)عقلی دلائل دی په توحيد،يو(۱)نقلې دې، دې نه علاوه،زجرونه،تخويفات،بشارات دی،اوپه درميان كښ دعوه دَسورة ده.

تفصيلي خلاصه: اول دوه آيتونو کښ تمهيد مع الترغيب الى القرآن دي،
تول پنځه دلائل عقليه په توحيد باندې ذکر کيږي:
(۱) اول دليل عقلي آيت، ۳تر۵ کښ ذکر کيږي، دا دليل على سبيل التدريج والترقى درې
قسمه دلائل باندې مشتمل دې:
(۱) **دليل افاقي**: دَپه ان في السموٰات والارض کښ ذکر دې.
(۲) **دليل انفسي**: داپه وفي خلقکم کښ ذکر دې.
(۳) **دليل جوي**: داپه واختلاف الليل کښ ذکر دې.
(۲) دويم دليل عقلي په آيت ۱۲ کښ ذکر دې: الله الذي سخرلکم البحر.
(۳) دريم دليل عقلي آيت ۲۲ کښ ذکر دې: وخلق الله السموٰات والارض بالحق
(۴) څلورم دليل عقلي په آيت ۲۷ کښ ذکر دې: ولله ملک السموٰات والارض،
(۵) پنځم دليل عقلي په آيت ۳۲ کښ ذکر دې: فلله الحمد رب السموٰات•
تول سورت کښ يو دليل نقلي دې، چې آيت ۱۶ کښ بيانيږي: ولقد آتينا بني اسرائيل
دعوه دَسورت آيت نمبر ۱۸ ثم جعلناک علي شريعة کښ ذکر ده
دينه علاوه په مينځ کښ زجرونه، شکوی، تخويفات، اوبشارتونه ذکر کيږي.

تمت خلاصة السورة اجمالاً وتفصيلاً.

حٰمٓ ① تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ② اِنَّ
الله ﷻ پوهيږي په معنى دَدې نازليدل دَ كتاب دَطرفه دَالله نه دى چه غالب دې حكيم دې، بيشكه
فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ لَاٰيٰتٍ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ③ وَفِيْ خَلْقِكُمْ
په پيدائش دَآسمانونو كښ او زمكه كښ خامخا ډير دلائل دَتوحيد دى دپاره دَمؤمنانو، اوستاسو په پيدا كولو كښ هم
وَمَا يَبُثُّ مِنْ دَآبَّةٍ اٰيٰتٌ لِّقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ ④ وَاخْتِلَافِ الَّيْلِ
اوپه هغه څه كښ چه خوره وى الله دَځناورونه دلائل دَتوحيد دى دپاره دَهغه قوم چه يقين كوى اوپه بدليدلو دَشپې

وَالنَّهَارِ وَمَآ أَنْزَلَ اللّٰهُ مِنَ السَّمَآءِ مِنْ رِّزْقٍ فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ
اوورځې کښې اوپه هغې کښې چه نازل کړيدې الله ﷻ داسمان نه رزق(باران) بيا ژوندئ کړې په هغې سره زمکه
بَعْدَ مَوْتِهَا وَتَصْرِيفِ الرِّيٰحِ اٰيٰتٌ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ۝٥
ورستودوچوالي دهغې نه،اوپه اړه ولوراړه ولو دهواګانوکښې دلائل دتوحيددي دپاره دهغه قوم چه عقل لرې.
تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ نَتْلُوْهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ فَبِأَيِّ حَدِيْثٍ بَعْدَ اللّٰهِ وَاٰيٰتِهٖ
دغه دلائل دتوحيددالله دي لولودامونږيې تاپه حق سره ، پس په کوم کلام ورستودکلام به دالله نه اوددلائلودهغه نه
يُؤْمِنُوْنَ ۝٦
دوئ به ايمان راوړي.

﴿حٰمٓ ۝١ تَنْزِيلُ الْكِتٰبِ﴾دا تمهيد مع الترغيب دې او تفسير ئې په تيرشوو حواميموکښې شويدې

﴿ إِنَّ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ﴾اى فى خلق السّمٰوٰت والارض.ددې ځائ نه تر﴿لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ﴾ پورې دا اول دليل عقلي دې،ټول اته (٨)امورو باندې مشتمل دې،اودرې قسمه دلائل په توحيد باندې على سبيل التدريج والترقى راوړلې شوې دې، اول آيت کښې دليل آفاقي دې ، دويم آيت کښې دليل انفسي دې او دريم آيت کښې دليل جوې دې،﴿إِنَّ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ﴾ دا **دليل عقلى افاقى** دې ، يعنې دې کائنات باندې غور اوکئ،آسمانونو او زمکې پيدائش باندې غور اوتدبر اوکئ،نوتاسو باندې به واضحه شى چې دې صانع خامخا څوک شته دې،

﴿وفي خلقكم﴾دا **دليل عقلى انفسي** دې، على سبيل الترقى ذکر کړې،يعنې که دا نه وې ، نو دې خپل تخليق باندې غور اوکړئ، څومره ادوارو باندې مشتمل دې ،اول نطفه،بيا علقه،بيا مضغة،بيا مور په خيټه کښې يوروغ صورت ورکول، بيا دنيا ته راتلل ،او دغه شان څومره خاروى الله ﷻ په کائنات کښې خواره کړيدى،هر هر يوخلقت ،هيئت او عادت باندې غور اوکړئ نو تاسو ته به يقين راشى دالله ﷻ په وحدانيت.

﴿واختلاف الليل والنهار﴾دا **دليل عقلي جوي** على سبيل الترقي ذكر كيږي، يعنى كه پدې مو يقين نه رازى نوبيادې كائنات انقلاباتو ته اوګورئ شپه راشي ورځ لاړه شي او ورځ راشى، شپه لاړه شى ، كله شپه لويه شى ورځ وړكى شى ،كله ورځ لويه شى شپه وړوكى شى. بيا د الله ﷻ رزق انتظام ته اوګورئ،زمكه مړه پرته وى ،الله ﷻ وريځې راوليږى،باران اورى، فصل راوخيژى،تاسو ته رزق ملاؤشى،هواګانوته اوګورئ څنى شمالا ،جنوبا الوزى. څنې شرقا غربا ،څنې ګرمې وې څنې يخې، څنې خشكې وى ،څنو كښې نمى وى،كه چا كښې لګ غوندې عقل وى،او هغه په دې امورو باندې غوراوكړى نوضرور بالضرور په هغه به واضحه شى چې دې كائنات خالق او متصرف تن تنها صرف الله ﷻ دې.

فائده (١): دا درې آيتونه دى ،اول آيت په آخر كښې لآيت للمؤمنين ذكر دې ،دويم په آخر كښې آيت لقوم يوقنونذكر دې،دريم په آخر كښې آيت لقوم يعقلون راغلې دې،ديكښې څه نكته ده ، علماوؤ دَدې څو توجيهات ليكلى دى:

(١)ايمان على سبيل التدريج درې درجې دى:(١)نفس ايمان: دا مرتبه دا تصديق ده،(٢)ايقان:ديكښې ايمان سره يقين هم راشى اوكوم شكوك وشبهات وى هغه دفع شى(٣)عقل:دې درجه كښې ايمان كښې استحكام راشى اوشكوك و شبهات سره نه متزلزله كيږى،نو دلته دا ايمان ددغه درې درجوذكردې،يعنى چاچې آسمانونه او زمكې پيدائش باندې غوروتدبر اوكړو نو هغه په نفس ايمان سره متصف شى اوتصديق به ورته حاصل شى ،دينه بعد چې كوم دلائل ذكر دى په دويم آيت كښې چاچې په هغې باندې غور و فكر اوكړو نود هغه ايمان به ايقان درجى ته ترقى اوكړى،او چاچې په هغه امورو تدبر وغور اوكړو كوموذكر چى په دريم آيت كښې دى نوده ته به عقل درجه حاصله شى او ايمان به يى مستحكم شى.

(٢)دويمه توجيه بعض علماؤو داليكلى ده،چه د درې واړؤ صفاتومصداق يودې،يعنى دا درې صفات دَ مسلمانانو بيانيږى، يعنى مسلمانان دَ الله ﷻ په ذات وصفات ايمان لرونكى وى، هم دوئ پرې يقين كوى ،ضد اوعناد دَ وجهې نه انكار نه كوى،هم داخلق عاقلان دى.

(٣) تفسير كبير كښې دَدې مطلب داسې بيان شويدې كه چرته چا كښې دَ ايمان طلب وى نو اسمانونو او زمكه كښې كوم دلائل دَ الله ﷻ دَ وحدانيت دى هغه د دپاره كافى دى،اوكه

ايمان راوړل نه غواړي صرف حق پيژندل غواړي نوهغې دپاره بيا دا دلائل كافي دي كوم چې
ولې خلقلكمكښې ذكر شو اوكه نه ايمان راوړل غواړئ او نه حق پيژندل غواړي نو عقلاء خودي ،
كم از كم د عقلاؤو د زمرې نه خو دې ځان نه اوباسي،نو دكوم دلائل چې ذكر دي په اختلاف
الليلكښې دا يو عاقل مجبوره وي چه ايمان راوړي.

فائده (۲): ددې سره مشابهه آيت دسورة بقرې(۱۶۴)آيت هم دې، مكمل تفسيرئې هلته هم
شويدې، هلته دا وكتلې شي، البته په دواړوآياتونوكښې په يوڅووجوهوسره فرق دې:

(۱)په سورة بقره كښې انّ في خلق السموات دي اودلته ئې لفظ دخلق نه دې ذكر
كړيدې، وجه داده چه پديكښې اشاره ده دې خبرې ته چه خلق عين مخلوق دې، نوفرق نشته دې
په مابين د في خلق السموات كښې اود في السموات كښې(۲)په سورة بقره كښې فُلك (كشتئ)
او سحاب(وريځې)ذكردي دلته نه دې ذكر شوي، وجه داده چه دلته دكشتئ اودوريځې، په
سبب چه رياح(هوا)ده، اكتفاء شويده، ذكر دسبب استغناء راولي دمسبب نه
(۳)هلته ئې ټول دلائل په يوآيت كريمه كښې ذكركړيدي اودلته ئې جدا جدا په درې آياتونو
كښې، پديكښې تنبيه ده پدې خبره چه هرقسمه دليل دپاره لابدي ده چه نظر ورته اوكړيشي په
نظرتام اوشافي سره(تفسيركبير)

﴿تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱللَّهِ﴾مشار اليه مذكوره دلائل دي﴿بِٱلْحَقِّ﴾اى بالصدق﴿فَبِأَيِّ حَدِيثٍۭ بَعْدَ ٱللَّهِ﴾اى
بعد حديث الله،يعنى دالله ﷻ دكلام نه بل كوم كلام داوريدلو ومنلو قابل دې چه دوئ ئى واوري
اوونى منئ، نو چه دوئ دالله ﷻ كلام نه منى نوبيا هيڅ هم نه منى.

وَيْلٌ لِّكُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٍ ﴿٧﴾ يَسْمَعُ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ تُتْلَىٰ عَلَيْهِ ثُمَّ يُصِرُّ
هلاكت دې دپاره دهر دير دروغژن، دير ګنهګار چه اورى آياتونه دالله(قرآن)چه لوستلې شى پده بيا كلک اودريګي په كفر
مُسْتَكْبِرًا كَأَن لَّمْ يَسْمَعْهَا ۖ فَبَشِّرْهُ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٨﴾
تكبركونكې وى لكه چه نه وى اوريدلى ده هغه آياتونه پس زيرې وركړه ده ته د عذاب درناک .
وَإِذَا عَلِمَ مِنْ ءَايَٰتِنَا شَيْـًٔا ٱتَّخَذَهَا هُزُوًا ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ
اوكله چه دې خبر شي دې زموږ آياتونو كښې په څه څيز نو اونيسى هغې لره په مسخروسره دغه كسان دوئ دپاره عذاب

مُّهِيْنٌ ۞ مِنْ وَّرَآئِهِمْ جَهَنَّمُ ۚ وَلَا يُغْنِيْ عَنْهُمْ مَّا كَسَبُوْا شَيْـًٔا
ذلت ناک دي،مخکښ دَدوئ نه جهنم دې،اوفائده به ورنکړي دَدوئ نه هغه څه چه کسب کړي وی دوئ د هیڅ څیز
وَّلَا مَا اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَوْلِيَآءَ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ۞ هٰذَا هُدًى ۚ
اونه هغه بتان چه نیولی دی دوئ ماسوئ دَالله نه، کارسازان،اووی به دوئ دپاره عذاب لوئ.داقرآن هدایت دې،
وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ لَهُمْ عَذَابٌ مِّنْ رِّجْزٍ اَلِيْمٌ ۞
اوهغه کسان چه کفرئی کړیدې په آیاتونودَرب خپل دوئ دپاره عذاب دې ډیر سخت، دردناک .

﴿وَيْلٌ لِّكُلِّ اَفَّاكٍ اَثِيْمٍ﴾ دازجردې هغه چاته چه دَآیات الهیه ؤنه اعراض کوی،مفسرین فرمائی چه داآیاتونه نازل دی دَنضربن حارث په باره کښ،چه ده به دَدروغوقصوو الاکتابونه «دائجست» اخستل، خلق به ئی دَقرآن نه پرې منع کول،تفصیل په سورة لقمان په ابتداءکښ تیرشویدې، سبب د نزول اگرچې خاص کس کیدې شي خو مدلول ئي عام دې، هرهغه چاته شامل دې چه موصوف وی پدې صفت سره«روح». ﴿اَفَّاكٍ﴾ای کذّاب،﴿اَثِيْمٍ﴾ای کثیرالاثم،او﴿وَيْلٌ﴾ یاپمعنی دَهلاکت دې یاکنده ده دَکندو دَجهنم نه

﴿وَاِذَا عَلِمَ﴾ دا زجر ثانی دې یعنی ایمان راوړل خولرې خبره ده بلکه چه کله زمونږ ایاتونه واؤری نومسخرې وربورې کوی.«عذاب مهین» جزاء من جنس العمل ده .

﴿مِّنْ وَّرَآئِهِمْ﴾ داتخویف دې ،ای من قُدامهم،یا وراء پمعنی دَ"بعد" سره دې،ای بعد موتهم جهنم، ﴿مَّا كَسَبُوْا شَيْـًٔا﴾ دَدې په عموم کښ دَدنیااحوال، اعمال، اولاد ، ټول داخل دی﴿ وَلَا مَا اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ﴾ رددې دَ مشرکانوپه زعم باطل چه دوئ گمان کولوچه زمونږمعبودان به زمونږشفاعت کوی.

﴿هٰذَا هُدًى﴾ مشارالیه قرآن دې اوحمل مبالغة شویدې، ﴿ لَهُمْ عَذَابٌ مِّنْ رِّجْزٍ اَلِيْمٌ ﴾ "الیم" په رفع سره صفت دې دَ﴿عَذَابٌ﴾او﴿رِّجْزٍ﴾معني مفسرینو سخت عذاب سره کړې ده ، او «من»بیانیه دې ، اودا بیان دې د «عذاب»یعني هغه دردناک عذاب "رجز"دې.

اَللّٰهُ الَّذِیْ سَخَّرَ لَکُمُ الْبَحْرَ لِتَجْرِیَ الْفُلْکُ فِیْهِ بِاَمْرِهٖ
الله ﷻ هغه ذات دې چه تابع كړې ئى دې ستاسودپاره درياب چه ګرځى بيړئ په هغې كښ په حكم خپل سره
وَلِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّکُمْ تَشْکُرُوْنَ ﴿١٢﴾ وَسَخَّرَ لَکُمْ
اودپاره ددې چه طلب كړئ تاسودرزق دالله ﷻ نه اودپاره ددې چه تاسوشكراوباسئ.اوتابع كړى ئى دى ستاسودپاره
مَّا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ جَمِیْعًا مِّنْهُ ؕ اِنَّ فِیْ ذٰلِکَ
هغه څه چه په اسمانونوكښ دى اوهغه چه په زمكه كښ دى داټول د الله د طرفه دې .بيشكه پدى تسخيركښ
لَاٰیٰتٍ لِّقَوْمٍ یَّتَفَکَّرُوْنَ ﴿١٣﴾
خامخادلائل دى دپاره دهغه قوم چه فكركوى.

﴿ اَللّٰهُ الَّذِیْ سَخَّرَ لَکُمُ الْبَحْرَ ﴾دادويم دليل عقلى دې په توحيدعلى سبيل الترقى،چه الله سمندر ستاسو د پاره مسخر كړې دې تاسو د هغې نه خپلې حاصلوئ بلكه هغه دټولو كائناتوخالق دې او داټول كائنات ئې ستاسودپاره مسخركړيدې اوستاسوپه خدمت كښ ئى لګولې دې،كقول الشاعر:

آبروماه وفلك وخورشيددركاراند تاتونانى بكف آرى وبغفلت نه خورى

نوداتسخيردمافى السموات والارض لوئ دليل دې دوحدانيت دالله ﷻ،خودهغه چا د پاره چه دخپل فكراستعمال صحيح اوكړى.«لتجري الفلك» مقاصد د تسخيردبحر بيانيږي ، دا اول مقصد دې چې كشتئ پكښې چليږي او ستاسو د آمد ورفت او تجارت ذريعه وي، «لتجري الفلك» بدل اشتمال دې د ﴿لكم﴾نه او د هغې تفصيل دې .«بامره» اي : باذنه و تسخيره، جار مجرور متعلق په «سخر» پورې، ﴿وَلِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ﴾ دويم مقصد دې ، دفضل معنىٰ دلته وسيع ده، بحرى تجارت، ښكار، وغيره ټولو منافع د بحر ته شامل دي.﴿وَلَعَلَّکُمْ تَشْکُرُوْنَ﴾ دريم او بنيادي مقصددې ، چې شكر د الله ﷻ دې ، اوشكرګذارى ددې نعمت داده چه دالله ﷻ دوحدانيت اوربوبيت اقرار اوكړئ.

﴿جَمِيعًا مِّنْهُ﴾ جميعاً حال دي ﴿مَّا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ﴾ نه. ﴿مِّنْهُ﴾ او منه متعلق دي په محذوف پورې اې کائنامنه.

قُل لِّلَّذِينَ ءَامَنُوا يَغْفِرُوا لِلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ أَيَّامَ ٱللَّهِ
اووایه اې پیغمبره هغه کسانوته چه ایمان ئې راوړی دی بخنه کوئ هغه کسانوته چه امیدنه لری دورخود الله ﷻ
لِيَجْزِىَ قَوْمًۢا بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿١٤﴾ مَنْ عَمِلَ صَٰلِحًا فَلِنَفْسِهِۦ
دپاره ددې چه بدله ورکړی الله ﷻ هرقوم ته په هغې چه وړدوئ چه کول ئې.څوک چه عمل اوکړی نیک نودپاره دځانددی خپلی ئې کوی،
وَمَنْ أَسَآءَ فَعَلَيْهَا ۖ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمْ تُرْجَعُونَ ﴿١٥﴾
اوڅوک چه بدعمل اوکړی نووبال ئې په هغه دی،بیابه خپل رب ته تاسووروستلې شئ.

﴿قُل لِّلَّذِينَ ءَامَنُوا يَغْفِرُوا لِلَّذِينَ﴾ ماقبل کښې د مشرکینو استهزا او عناد ذکر وو او دا چونکه عموما انسان په اشتعال او انتقام مجبوره کوي چې دې کښې اکثر د شریعت حدودو نه تجاوز اوشي نو دې آیت کښې مسلمانانو ته هدایت دې چې د دوئ داسې طرز عمل باندې تاسو د عفو او حلم نه کار اخلئ ،او د شریعت تعلیماتو خلاف اقدام اونکړئ ، څوک چې څه کوي الله ﷻ به ورله د هغې بدله ورکوي ، که نیک کارونه کوي نو نیکه بدله به میلاویږي او بد کارونه کوي نو بده بدله به ورته میلاویږي، د آیت دې تقریر نه معلومه شوه چې دیکښې ممانعت دهغه انتقام او اشتعال دې چې شریعت حدودو نه پکښې تجاوز وي او مقصود ترینه د خپل غیظ او غضب تسکین وي ، د جهاد ممانعت نه دې ، نو مکي دور او مدني دور او ناسخ منسوخ بحث ته هیڅ ضرورت دلته نه پاتې کیږي کوم چې عامو مفسرینو ذکر کړې دې (بیان القرآن)

﴿يَغْفِرُوا﴾ مجزوم دې جواب امردې. ﴿لَا يَرْجُونَ﴾ ((رجاء)) دوه معنی ذکر کیږی :خوف او امید، که اوله معنی واخلو نو بیا د ((ایام الله)) نه مراد هغه واقعات د عذابونو دی چې په مخکنو امتونو باندی راغلی وؤ،لکه سورت ابراهیم کښ ((ذکرهم بایام الله)) کښ یې تفصیل تیر شویدې او که دویمه معنی "امید" واخلو نو بیا ((ایام الله)) نه مراد هغه اجرونه او ثوابونه دی

چې په قيامت کښې نه مؤمنانو ته ميلاويږي ، راجح قول دا دې چې دلته دې عامه معني مراد واغستلې شي چې هغه "اعتقاد" ده، او د« ايام الله »نه مراد دَ آخرت ثواب او عقاب دي ، اي : لا يعتقدون الآخرة

﴿لِيَجْزِيَ قَوْمًا﴾تعليل دې دَماقبل امر،اوراجح قول دا دې چې دلته دَ﴿ قَوْمًا ﴾نه مراد عام واغستې شي ، مؤمنان او كافران دواړه ، يعني هر قوم ته د هغوئ عمل مطابق صله ميلاؤ شي؛ او مخکښې آيت « من عمل صالحا » بيا د دې تفصيل او بيان دې.

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ الْكِتٰبَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ وَرَزَقْنٰهُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ
اوبه تحقيق سره وركړې مو مونږينى اسرائيلوته كتاب(توراة)اوشريعت اونبوة، اورزق مووروته وركړې ووډَپاكوخيزونو
وَفَضَّلْنٰهُمْ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۶﴾ وَاٰتَيْنٰهُمْ بَيِّنٰتٍ مِّنَ الْاَمْرِ
اوفضيلت مووركړې وؤ دوئ ته په ټولوخلقو(ددغه وخت)اووركړى مووؤدوئ ته واضح دلائل دَامردَتوحيد،
فَمَا اخْتَلَفُوْٓا اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ اِنَّ
پس دوئ اختلاف اونكړو مګرورستودَ دې نه چه راغلې وؤدوئ ته علم،دَوجه دَضدنه په مينځ دَدوئ كښې،بيشكه
رَبَّكَ يَقْضِيْ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا كَانُوْا فِيْهِ
رب ستابه فيصله كوي په مينځ دَدوئ كښې په ورځې دَقيامت د هغه امورو په باره كښې "چه وؤدوئ چه په هغې كښې ئې
يَخْتَلِفُوْنَ ﴿۱۷﴾ ثُمَّ جَعَلْنٰكَ عَلٰى شَرِيْعَةٍ مِّنَ الْاَمْرِ فَاتَّبِعْهَا وَلَا تَتَّبِعْ
اختلاف كولو.بيااوګرځولې مونږته اې پيغمبره په واضحه لارې دَامردَدين نه نواتباع كوه دَهغې اواتباع مه كوه
اَهْوَآءَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۸﴾ اِنَّهُمْ لَنْ يُّغْنُوْا عَنْكَ مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا
دَخواهشاتو دَهغه خلقوچه نه پوهيږي.بيشكه دوئ هرګزنشى لرې كولې ستانه دَعذاب دَالله ﷻ نه هيڅ خيز
وَاِنَّ الظّٰلِمِيْنَ بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۚ وَاللّٰهُ وَلِيُّ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۹﴾ هٰذَا بَصَآئِرُ
اوبيشكه ظالمان بعض پدوئ كښې دوستان دَنورو بعضو دي اوالله ﷻ دوست دَمتقيانودې.دا دلائل دى

لِلنَّاسِ	وَهُدًى		وَرَحْمَةٌ		لِقَوْمٍ	يُوْقِنُوْنَ	۝
دپاره	دَ خلقواوهدايت	دي اورحمة	دي دپاره	دغه	قوم	چه يقين كوي	

﴿وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱلْكِتَٰبَ﴾دا دليل نقلي دې په توحيد ،چه مونږپه توراة كښې هم دَتوحيدحكم كړې وؤاوبنى اسرائيلوته مودَتوحيدواضح واضح دلائل وركړى وؤ.ليكن دَ موسى عليه السلام نه ورستوعلماء سوءديده ودانسته محض دَضدپه وجه پدې مسئلې كښې اختلاف اوكړو. ﴿ ٱلْكِتَٰبَ ﴾نه مرادتوراة دې﴿وَٱلْحُكْمَ ﴾نه مراد ،فهم دكتاب،تفقهه فى الدين دې، يا ورنه مراد فيصلې دَخلقودى.﴿وَرَزَقْنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ ﴾حلال او پاكيزه رزق لكه من وسلوى شو.﴿ وَفَضَّلْنَٰهُمْ عَلَى ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ دَخپلې زمانې په خلقو،لكه په سورة دخان كښې تيرشو ،

﴿وَءَاتَيْنَٰهُم بَيِّنَٰتٍ مِّنَ ٱلْأَمْرِ ﴾مِنْ پمعني د "في " سره دې او(١) دَامر' نه مراد امر دَ توحيد او دَ دين دې،يعنى دَتوحيدپه باره كښې موورته واضح دلائل،معجزات وركړل،(٢)ابن عباس رضي الله عنه فرمائى چه دې نه مراد علامات اونشانئ دَبعثت دَحضور ﷺ دى،چه هجرت به كوي مكې نه مدينه ته،اواهل مدينه به ئى انصار وى وغيرذلك،يهودو ته دَحضور ﷺ نشانيانې معلومې وى ليكن چه كله حضور ﷺ مدينه ته تشريف راوړو نو دوئ باوجوددَيقين نه منكر شول، كقوله تعالى:(فلمّا جآءهم ما عرفوا كفروا به....)"البقرة". (٣)بعض وائى چه﴿ بَيِّنَٰتٍ مِّنَ ٱلْأَمْرِ﴾نه مراد حلال، حرام، طهارت نجاسة وغيره والاواضح واضح احكامات دى.

﴿ فَمَا ٱخْتَلَفُوٓا۟ إِلَّا مِنۢ بَعْدِ﴾يعنى مونږ ورته دَدين ټول احكامات بالكل واضح وركړى وؤ،په هغې كښې هيڅ ابهام او اشتباه نوه ،چې اختلاف پكښې اوكړې شى ،اختلاف په دوئ كښې ذاتى انانيت اوحسد دوجهې نه راغلې دَدې تفسيرپه شورىٰ (١۴)اوبقره(٢١٣)كښې په تفصيل سره شويدې.﴿إِنَّ رَبَّكَ يَقْضِى بَيْنَهُمْ ﴾زجردې شرك كونكواواختلاف كونكوته په توحيدكښې،

﴿ ثُمَّ جَعَلْنَٰكَ عَلَىٰ شَرِيعَةٍ ﴾دادَسورة مركزى دعوه ده او دغه شان دَ مشركينو دليل او شبهې جواب هم دې چې دوئ به ويل مونږ خپلو الهوؤ ته بلنه دې وجهې نه، نه كوو چې دا

شفيع قهري دی،يا زمونږ بلنه اوری بلکه مونږ خپل آباوؤ په اتباع اوتقليد کښې دا هرڅه کوؤ، جواب ترينه اوشو چې هر قسم دلائلو عقليو نقليوؤ سره حق واضحه شو،لهذا دينه باوجود دې مخالفت کول خواهش پرستی اونفس پرستی باندی مبنی دې،نو اتباع دحق کوئ خواهشاتو مه کوئ، "شَرِيعَة" په لغت کښې لارته وائی خو ليکن هغه لار چې هغه په يو څو اوصافو سره متصف وی:(۱)دا لار اوبو(گدر)ته تللې وی،چې خلق پرې ځان اوبوته رسوی اوخپله تنده ماته وی (۲)دَا لاره بالکل سيدها وی(۳)پرامنه وی خطرې پکښې نه وی،(۴)باربار تللو د وجهې نرمه وی،تلل پرې آسان وی(۵)وسيع اوکشاده وی.او اسلام ته هم شريعت ځکه وائی چې دا هدايت ته رسائی دپاره يوه سمه،واضحه پرامنه او آسانه لار ده.دلته دَ﴿شَرِيعَةٍ﴾ نه مراد ټول احکامات الهيه دی،اوامر،نواهی دی.

﴿وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَ ٱلَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ﴾يعنی دومره خائسته او واضح دين مې درکړې دې نو ګډو وډو لاروباندې مه ځئ،«لايعلمون»قيد احترازي ندې بلکه اتفاقی دې ځکه چې شريعت خلاف احکاماتوکښې دَاهل علم او دهغوئ خواهشاتو اتباع هم نده جائز.اودلته«لايعلمون» راوړلو کښې نکته داده چې شريعت خلاف څوک څه عمل کوی، هغه که ځان ته ډير لوئ محقق وائی او دَعلم دعويدار وی ،الله ﷻ په نيز په جاهلانو کښې شمار دې.

﴿إِنَّهُمْ لَن يُغْنُوا۟ عَنكَ﴾علت دې دَ﴿وَلَا تَتَّبِعْ﴾يعنی دَ مشرکانو دَ خواهشاتو اتباع مه کوه کچرته اودکړه نومستحق دَعذاب به شې نودوئ ستانه دَعذاب په لرې کولو قادرنه دی، ﴿وَإِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ بَعْضُهُمْ﴾يعنی دَظالمانواومشرکانودوستی اواتباع نه کوی مګرظالم ئې کوی، ﴿وَٱللَّهُ وَلِىُّ ٱلْمُتَّقِينَ﴾يعنی دَمؤمنانو،پرهيزګارانو دوست اومددګارالله ﷻ دې.لهذادهغوئ اتباع کوئ،

﴿هَٰذَا﴾دا ترغيب دې د دعوې منلو،"هذا" کښې اشاره ياقرآن ته ده،او يا اتباع د شريعت ده داعلت دې دَ﴿فَٱتَّبِعْهَا﴾.﴿بصائر للناس﴾"بصائر" جمع د "بصيرة" ده ،اوبصيرت ويلې کيږی باطنی رڼرا او زړه سترګو ته، څنګه چې بصارت ويلی کيږی ظاهری رڼراته،يعنی دا شريعت دَخلقو باطن رڼرا کونکې دی، ﴿هدی﴾عين هدايت دې ﴿رحمة﴾اورحمت دې، نو شريعت دَ درې(۳)

امورو مجموعه شوه: (۱) بصيرت، (۲) هدايت (۳) رحمت.حضرت تهانوی رحمه الله فرمائی دیکښې نکته دا ده چې یو لاره ونکی دپاره درې څیزونو ضرورت وی (۱)لاره، چې منزل ته تللې وی،(۲) منزل (۳) بصر چې هغې په مددلارې روان شی اومنزل ته اورسی،نو شریعت هم دې درې امورو له جامع دې. بصائریعنی سترګی هم دی .هدی:نیغه او سمه لاره هم ده.رحمة منزل او مقصود هم دې، ((بصائر)) جمع دې او ((هدی)) و((رحمة)) مفرد دې.دیکښې نکته دا ده چې لاره ونکی ډیروی او هر یوجدا جدا سترګې وی نوځکه صیغه دجمع راوړلې شوه،اولاره اومنزل خو یو وي،نوځکه ((هدی)) او ((رحمة)) مفرد راوړلې شو.

اَمۡ حَسِبَ الَّذِیۡنَ اجۡتَرَحُوا السَّیِّاٰتِ اَنۡ نَّجۡعَلَهُمۡ كَالَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا
آیاګمان کوی هغه کسان چه کړی ئې وي ګناهونه داچه اوبه ګرځوؤمونږدوئ په شان دهغه چاچه ایمان ئې راوړې دې
وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ۙ سَوَآءً مَّحۡیَاهُمۡ وَمَمَاتُهُمۡ ؕ سَآءَ مَا یَحۡكُمُوۡنَ ﴿۲۱﴾
اوکړې ئې دې نیک عملونه چه برابربه وی ژوند د دوئ اومرګ د دوئ، ډیربددې هغه چه دوئ ئې فیصله کوی.
وَخَلَقَ اللّٰهُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ بِالۡحَقِّ وَلِتُجۡزٰی كُلُّ نَفۡسٍۭ بِمَا
اوپیداکړیدی الله ﷻ اسمانونه اوزمکه په حقه سره اودپاره ددې چه بدله ورکړیشی هرنفس ته په هغه
كَسَبَتۡ وَهُمۡ لَا یُظۡلَمُوۡنَ ﴿۲۲﴾
چه ده کسب کړی وؤ اوبه دوئ به ظلم اونکړیشی.

﴿اَمۡ حَسِبَ الَّذِیۡنَ اجۡتَرَحُوا﴾ دازجردې،چې آیا دمشرکینو دا خیال دې چه باوجود د دې چې دوئ شرک او ګناهونه کوي ، مونږبه دوئ ته دمؤمنانوصالحانوپشان درجه اومرتبه ورکوؤ، دا خیال ددوئ ډیربداوباطل دې، مفسرین فرمائی چه دا آیت نازل دې د عتبه، شیبه، ولید بن مغیره په باره کښې چه حضرت علی رضی الله عنه،حمزه رضی الله عنه،عبیده بن الحارث رضی الله عنه ته اوویل چه "لئن كان مايقول محمدحقًافي الاخرة لنفضلنّ عليكم في الآخرة كما فضّلنا عليكم في الدنيا"يعنى كچرته بعث بعدالموت حق وى لكه محمد ﷺ ئى چه وائى نومونږبه په آخرت كښې ستاسونه

بهتر يولکه څرنګه چه په دنياکښې بهتريو ،کقوله تعالى:ولئن رُجعتُ الى ربّى انّ لى عنده للحسنىٰ (حم سجده: ۵۰)نو الله ﷻ دَدوئ په ردکښې داآيت نازل کړو (قرطبى وغيره).

﴿ ٱجْتَرَحُواْ ﴾پمعنى دَاکسبوادي،ومنه الجوارح،اندامونوته هم جوارح ځکه وائى چه پدې سره کسب دکارونو کيږي دَ﴿ٱلسَّيِّـَٔاتِ﴾نه مرادسيئات دکفراوشرک دى﴿ أَن نَّجْعَلَهُمْ ﴾"هم" ضمير مفعولِ اول دې او ﴿كَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ﴾کښې کاف اسمى دې پمعنى د"مثل" سره دې، او مفعول ثانى دې﴿سَوَآءً﴾ديکښې دوه متواتر قرائته دى ،رفع اونصب،رفع په صورت کښې به داخبر مقدم وى او «محياهم ومماتهم» به مبتدا مؤخر وى،او جمله په حکم دَمفرد کښې بدل دې «كالذين»کښې کاف نه اونصب په صورت کښې «سواء»بدل دې د"کاف" نه چې په«كالذين»کښې دې،او يا دَ "الذين" نه حال دى او «محياهم ومماتهم» پدې صورت کښې فاعل واقع کيږي دَسواءپمعنى مستويا د پاره.

﴿ محياهم ومماتهم ﴾ضمير مجرور مسلمانانو اوکافرانو دواړو ته راجع دې اودې معنى کښې دو قوله دى:

(۱)استفهام انکارى متوجه دې حيات ممات دواړو ته ، يعنى د دوئ دَحيات او ممات دواړو مساوات نفى مقصود ده ،دې صورت کښې به معنى داسې وى: آيا دوئ داګمان کوى چه ژونداومرګ دَدوئ به په شان دَ ژوند او مرګ دَ مومنانو وى؟ هرګز داسې نده،بلکه دوئ نه په ژوندکښې دَمؤمنانوسره برابردي(ځکه چه دَمؤمنانوژوندپه توحيد،اعمال صالحؤ کښې تيريږي اودَدوئ ژوندپه کفر،معاصيؤکښې تيريږي) اونه په مرګ کښې،ځکه چه مؤمنانو ته به دَمرګ په وخت کښې دَجنت اودَرضاء الهى زيرې ورکولې کيږي(اللهم اجعلنامنهم)کقوله تعالى:و ابشروا بالجنة التى...(حم سجده: ۳۰) وقوله تعالى: يا ايّتها النّفس المطمئنة، ارجعى الى ربّكِ راضيةً مرضيةً (الفجر:۲۷) او کافرانو ته به دَعذاب او دَ جهنم زيرى ورکولې کيږي.

(۲) دويم قول دا دې چې انکار صرف ممات ته متوجه دې ،يعنى صرف دَموت مساوات نفى مقصود ده،دى صورت کښې به مطلبَ داسې شى چه دوئ چه دَمؤمنانوسره لکه په ژوندکښې برابر دى(په رزق،صحت وغيره کښې)نوآيادوئ داګمان کوى چه په مرګ اومرګ نه وروستو به هم ورسره برابريو ؟هرګزداسې نده،دحضرت تميم دارىؓ په باره کښې نقل دى چه يوه شپه ئې مونځ کولو ،دَسورة الجاثيه تلاوت ئې کولوچه دې آيت ته اورسيدلونوداآيت ئې

. بار بار لوستلواو ژړل ئی حتّی چه سهارئی کړو ،دَفضیل رحمه الله په باره کښ هم نقل دی چه دې آیت ته اورسیدو نو بیا بیا به ئی لوستلواوژړل به ئی اوونیل به ئی چه یافضیل لیت شعری من ایّ الفریقین انتَ دَدې وجه نه مفسرینودې آیت ته مبکاة العابدین ونیلی دی(قرطبی).

﴿وَخَلَقَ ٱللَّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ﴾دادریم عقلی دلیل دې په توحید﴿بِٱلۡحَقِّ﴾ای لاثبات الحق،دَحق نه توحیدمراددې،یعنی دَاسمانواوزمکې ذره ذره دَالله جل جلاله په واحدانیت باندې دلالت کوی﴿وَلِتُجۡزَىٰ﴾عطف دې په﴿بِٱلۡحَقِّ﴾باندې،یاعطف دې په محذوف باندې،ای خلق الله السّمٰوات والارضَ،لیدلّ هماعلی قدرته ولتجزیٰ....الخ،یعنی دَاسمانونواودَزمکې په پیداکولو کښ یوحکمت داهم دې چه دیکښې مختلف تغیرات او حوادث واقع کیږې، نو هر کس دې دَدې حوادثو نه دا اندازه اوکړی چه یوه ورځ به خامخا دَ دغې عظیم الشانې کارخانې نتیجه هم دا ظاهره کیږی چه هغې ته اخرت وائی اوهلته به هرچاته دَده دَاعمالوجزاء،سزا ،ثمره نتیجه ورورِاندې کیږی،﴿وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ﴾چاچه څه کړلی وی هغه به ربیی،ظلم زیاتې به په هیڅ چانه کیږی.

أَفَرَءَيۡتَ	مَنِ	ٱتَّخَذَ	إِلَٰهَهُۥ	هَوَىٰهُ	وَأَضَلَّهُ	ٱللَّهُ
آیاخبراکړه ته ماته دَهغه چانه چه نیولې ئی دې خپل معبود خواهش خپل اوګمراه کړې دې ده لره الله جل جلاله						
عَلَىٰ	عِلۡمٖ	وَخَتَمَ	عَلَىٰ	سَمۡعِهِۦ	وَقَلۡبِهِۦ	وَجَعَلَ
سره د علمه او مهرئی وهلې دې په غوږونودَده باندې اوپه زړه دَده باندی اوګرځولی ئی ده						
عَلَىٰ بَصَرِهِۦ غِشَٰوَةٗ	فَمَن يَهۡدِيهِ مِنۢ بَعۡدِ ٱللَّهِۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ٢٣					
په سترګودَده باندې پرده،پس څوک به هدایت اوکړی ده ته ماسوا دَالله جل جلاله نه،آیاتاسونصیحت نه قبوله وئ						
وَقَالُواْ مَا هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا ٱلدُّنۡيَا نَمُوتُ وَنَحۡيَا وَمَا يُهۡلِكُنَآ						
اووائی دوئ ندې داژوندمګرهم دغه ژوندزمونږدَدنیاچه بعضې ژوندی کیږو،اوبعضې مره کیږواونه هلاکوی مونږلره						

إِلَّا	الدَّهْرُ ۚ وَمَا	لَهُم	بِذَٰلِكَ	مِنْ	عِلْمٍ ۖ	إِنْ	هُمْ	إِلَّا	يَظُنُّونَ ﴿٢٤﴾	
مګرزمانه او نشته	دَدوئ	سره	پدی	خپله	خبره	هیڅ	دلیل ندی	دوئ	مګر ګمان	کوی

﴿أَفَرَءَيْتَ مَنِ ٱتَّخَذَ إِلَٰهَهُۥ هَوَىٰهُ﴾ دازجردي مشرکانوته اوهغه چاته چه دَخواهشاتو اتباع کوی، اوخپل خواهش ئی خپل دین ګرځولي وی، نوګویاخپل خواهش ئی معبود ګرځولي وی، نو داسې شان سړی په زړه باندې دضداوعنادپوجه الله ﷻ مهرجباریت لګولې وی، څوک ورته هدایت نشی کولې، ﴿أَفَرَءَيْتَ﴾ رؤیت یا په خپلی معنی کښ دي او دلته ترینه مقصود تعجب دې ،یعني اوخوګوره هغه کس ته، څومره تعجب خبره ده چې الله ﷻ یی پریخیدي او خپل خواهشات ئي خپل معبود ګرځولې دې اویا پمعنی دَاخبرنی دې، پدی صورت کښ﴿مَنِ ٱتَّخَذَ﴾ ئی مفعول اول دي، مفعول ثانی ئی مقدردې چه ایهتدی دې، یعنی آیاداسې کس ته به هدایت اوشی؟ دَ «ارایت» مکمل تحقیق جلددوم، ص: ۳۹۳ کښ ذکر شویدې هلته مراجعت اوکړئ ﴿إِلَٰهَهُۥ﴾ عام مفسرینو په نیزمفعول ثانی مقدم دې دَ﴿ٱتَّخَذَ﴾ دپاره او﴿هَوَىٰهُ﴾ ئی مفعول اوَل مؤخردې، ای اتخذ هواه الٰهًا، خپل خواهش یی خپل معبود ګوځولی وی، یعنی دَ خپل خواهش داسې اتباع کوی لکه دَمعبودچه کیږی، به قول والد صاحب نور الله مرقده حضرت شیخ ﷫ به فرمایل چه ﴿إِلَٰهَهُۥ﴾ مفعول اول دې او﴿هَوَىٰهُ﴾ مفعول ثانی دې، نومعنٰی به داشی چه نیولې ئی وی خپل معبوددَخپل خواهش مطابق، مشرکانوبه دَیوکاڼړی عبادت کولو، چه کله به ئی بل ښکلې کاڼړې اولیدلو، نواولنې به ئی اوغورځولو اودَهغې عبادت به ئی شروع کړو.

﴿وَأَضَلَّهُ ٱللَّهُ عَلَىٰ عِلْمٍ﴾ علی پمعني مع سره دې ، او دا حال دې د ضمیر د مفعول نه ، یعني سره د علمه الله ﷻ ګمراه کړې دې او یادَفاعل نه حال دې، یعنی الله ﷻ عالم دې چه پده کښ استعداددَقبول حق نشته دې نوځکه ئی ګمراه کړې هم وی، ﴿وَخَتَمَ عَلَىٰ سَمْعِهِۦ وَقَلْبِهِۦ﴾ یعنی دَضداوعنادپوجه ئی داسې حالت شوې وی چه نصیحت ورباندې اثرنه کوی، اونه ئی په سترګو کښ دَبصیرت رڼراوی، ﴿فَمَن يَهْدِيهِ مِنۢ بَعْدِ ٱللَّهِ﴾ بعد په معنی دَغیرسره دې، «روح» یا

مضاف مقدردې عبارة داسې دې،ای من بعد اضلال الله،یعنی استعداددقبول ورنه دومره سلب شوې وی چه په انسانی تدبیرسره ئی اصلاح نه کیږی. ﴿أَفَلَا تَذَكَّرُونَ﴾ دغه حالت ملاحظه کول عبرت اولوئ نصیحت دې، دحضورﷺ ارشاد دې چه درې څیزونه هلاکونکی دی اودرې نجات ورکونکی،هلاکونکی دادی:(۱)شحٌ مطاع،بخل چه اطاعت ئی وشی(۲)وهویً متبع، خواهش چه اتباع ئی وشی(۳)واعجاب المرء بنفسه، او په خپل ځان باندی عجب. درې نجات ورکونکی دادی:(۱)خشية الله فی السّروالعلانية،په پټه اوښکاره دالله ﷻ نه یره(۲)والقصد فی الغنی و الفقر، مالدارئ، تنگدستئ کښې میانه روی(۳)العدل فی الرضاء والغضب، غصی او رضا دواړه حالتونو کښې دعدل نه کا اغستل حدود نه تجاوز نه کول دَدې وجه نه په هرمؤمن لازم دی چه خپل خواهش دحضورﷺ ددین تابع اوگرځوی کمافی الحدیث لایؤمن احدکم حتّی یکون هواه تبعًالماجئت به،قال سهیل:هواک داءک فان خالفته فدواءک(قرطبی).

﴿وَقَالُوا۟ مَا هِىَ إِلَّا حَيَاتُنَا ٱلدُّنْيَا﴾داشکوه ده دمشرکانونه چه دوئ صرف دتوحیدنه منکرندی بلکه دحشرنشر نه هم منکردی اووائی چه ماسوا د دغه ژوند نه بل ژوند نشته دې، بس هم دغه دنیاده چه مونږکښې ژوندی کیږواومړه کیږو. ﴿نَمُوتُ وَنَحْيَا﴾ای یموت بعض ویحیابعض(کشاف)یعنی څوک به مړیږی اوڅوک به ژوندی کیږی او پیدا کیږي.

﴿وَمَا يُهْلِكُنَآ إِلَّا ٱلدَّهْرُ﴾ای الاطول الزمان،دادکافرانودیوې بلې غلطې عقیدې ذکردې چه دوئ وائی چه مرگ ژوند،بیماری وغیره حوادث دزمانې دگردش نتیجه ده،دالله ﷻ دحکم اومشیت ورسره هیڅ تعلق نشته دې،نو دی وجهی نه کله به چی دوئ ته څه تکلیف رسیدو نو دوئ به دهغی نسبت زمانی ته کوو اوزمانی ته به یی بدې ردې ویلې الله ﷻ دوئ پدې عقیدې ردکوی چه﴿وَمَا لَهُم بِذَٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ﴾دوئ سره پدې خپلې عقیدې باندې هیڅ علم اودلیل نشته دې بلکه هسې داټکل خبرې کوی،ځکه چه داحقیقت دې چه ټول کارونه صرف دالله ﷻ په قدرت اوحکم سره کیږی،په زمانې کښې نه حس شته دې نه شعور،زمانه خو د مقدار حرکت،نوم دې چه څه کارپکښې اوکړیشی،پخپله خودهیڅ څیزمتصرفه نده،هم پدې وجه په حدیث کښې زمانې ته بد رد وئیلونه ممانعت راغلې دې:لاتسبّواالدهرانّ الله هو الدّهر.

او په يو حديث قدسي کښې دي يوذيني ابنُ آدم يسبّ الدهر وانا الدّهر بيدي الامرُاُقلّب اللّيل و النّهار. غرض دا چه دَزماني ټول حوادث دَ الله ﷻ په مشيت او اراده سره کيږي نو زماني ته بد رد وئيل په حقيقت کښې الله ﷻ ته بد ردوئيل دي (اعاذنا الله) بعض خلق دَناپوهئ په وجه داسې وائي چه څو مره خرابه زمانه راغله، خراب وخت راغي وغيره وغيره دَ داسې قسمه الفاظونه ډير احتراز پکار دي.

وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ مَّا كَانَ حُجَّتَهُمْ إِلَّا أَن قَالُوا ائْتُوا بِآبَائِنَا
او چه کله اوسنلې شي پدوئ آياتونه زمونږ واضحه نه وي دليل ددوئ مګر داچه وائي راولئ زمونږ مړه پلاران
إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ۝ قُلِ اللَّهُ يُحْيِيكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يَجْمَعُكُمْ
کچرته تاسو يئ رښتني. اې پيغمبره! ته ورته اوايه چه الله ﷻ ژوندي کوي تاسو بيابه مو مړه کوي بيابه موجمع کوي
إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ لَا رَيْبَ فِيهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ۝
ورځ دَقيامت ته چه نشته دې هيڅ شک په هغې کښې خو ليکن اکثر دخلقو نه پوهيږي.

﴿ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُنَا ﴾ دا دَ مشرکانو نه دويمه شکوه ده، چه کله دوئ ته دَ بعث بعدالموت آياتونه يعنى دلائل بيان کړيشي نو انکار کوي ورنه او تمسک کوي پدې قول چه ﴿ ائْتُوا بِـَٔابَآئِنَآ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴾ يعنى زمونږ مړه آباء اجداد راژوندى کړئ نو بيابه مونږ اومنو چه دَ مرګ نه ورستو ژوندى کيدل شته دې، دَ دوئ دا تمسک باطل دې (چه ورستونى تفصيل راروان دې) په حقيقه کښې تمسک او حجة ندې ليکن حجة ورته علىٰ سبيل التهکم وئيلى شويدى.

﴿ قُلِ ٱللَّهُ يُحْيِيكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ﴾ دا دَ ماقبل دواړو شکو جواب دې، چه ستاسو اول ځل پيدا کونکې صرف الله ﷻ دې، او مړه کونکې هم صرف الله ﷻ دې، دَهر، زماني لره پکښې هيڅ دخل نشته دې (دا دَ وما يهلکنا الاّ الدّهر ترديد او شو) نو چه الله ﷻ په اول ځل پيدا کولو باندې قادر دې نو په دوباره پيدا کولو باندې (چه دَ اول ځل پيدا کولو نه زيات اسان دى) هم قادر دې، او دَ دوباره پيدا کيدلو دَپاره هغه وخت مقرر کړيدې چه ورځ دَقيامت ده چه دَهغې په وقوع کښې

هیخ شک نشته دي، قبل ازوقت دوباره پیدا کول دَهغه دَحکمت نه خلاف دی لهذا ستاسو مطالبه باطله اونامنظوره ده.

﴿وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ﴾یعنی اکثرخلق، کافران نه پوهیږی په دې چه هرکله الله ﷻ قادردې په اول ځل پیدا کولو باندې نو پطریقه اولی قادردې په بعث بعد الموت باندې.

وَلِلَّهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ يَّخْسَرُ
اوخاص الله ﷻ لره ده بادشاهی دَآسمانو اودَزمکې، اوپه کومه ورځ چه راشی قیامت پدغه ورځ نقصان مندبه شی
الْمُبْطِلُوْنَ ﴿۲۷﴾ وَتَرٰى كُلَّ أُمَّةٍ جَاثِيَةً كُلُّ أُمَّةٍ تُدْعٰى إِلٰى كِتٰبِهَا
باطل خلق کافران، اووینی به ته هرامت پروت په زنګونو باندې، هرامت به راغوختلې کیږی خپل عملنامی ته،
اَلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۸﴾ هٰذَا كِتٰبُنَا يَنْطِقُ
(ورته به اوویلې شی) نن ورځ بدله درکولې کیږی تاسوته دَهغه عملونوچه وتی تاسوچه کول مو. داعملنامه زمونږده چه ګواهی کوی
عَلَيْكُمْ بِالْحَقِّ إِنَّا كُنَّا نَسْتَنْسِخُ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۹﴾
په تاسوباندی په حقه سره، بیشکه وږمونږچه په فرشتوبه مولیکل هغه عملونه چه وئ تاسوچه کول به مو.

﴿وَلِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ﴾خلورم دلیلِ عقلی دې په توحید اودَتیرشوی دلائلو خلاصه ده، ﴿وَيَوْمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ﴾تخویف اخروی دې﴿وَيَوْمَ﴾منصوب دې مفعول فیه دې دپاره دَ﴿يَخْسَرُ ٱلْمُبْطِلُونَ﴾ یوم مقدم شویدې پخپل عامل دپاره دَحصر، اشاره ده دیته چه کامل اوپوره تاوان هغه دې چه دَقیامت په ورځ ئی څوک اوکړی(روح المعانی)﴿يَوْمَئِذٍ﴾ بدل دې دَ﴿وَيَوْمَ﴾ یا تاکید دې، دَ﴿ٱلْمُبْطِلُونَ﴾نه کافران مراددی چه منازلو دَجنت کښی ئی تاوان کړیدې اوترینه محرومه شویدی.

﴿وَتَرَىٰ كُلَّ أُمَّةٍ جَاثِيَةً﴾تخویف اخروي سره متعلق دې ، د ((جاثیة)) څو معنی شوی دي:

(۱) جاثیه دَجثونه مشتق دې په ځنګنونوباندې کیناستلوته وائی، داکنایه ده دَقیامت دَورځې دَخوف اوهولناکئ نه، لفظ دَ کلّ مصداق اګرچه ټول خلق دی لیکن انبیاء، صلحاء په

باره كښې راغلي دي چه ﴿لَا يَحْزُنُهُمُ الْفَزَعُ الْأَكْبَرُ﴾ اودغه شان ﴿وَهُم مِّن فَزَعٍ يَوْمَئِذٍ آمِنُونَ﴾ نوددې وجه نه هغوئ ورنه دعام مخصوص منه البعض په طورسره مستثنى دى.

(۲) ابن عباس رضي الله عنه وائي چه دجاثية معنى مجتمعة ده يعنى هرامت او هر اهل دين به جمع شوى وى.

(۳) او څنو مفسرينو دجاثية معنى خاضعة نقل كړې ده يعنى دالتحيات په شكل كيناستل. چه داكنايه ده دادب اوتواضع نه نو دې صورت كښې بيا دا آيت انبياؤو. صلحاؤو غيره ته هم شامل دې (قرطبي وغيره).

﴿كُلُّ أُمَّةٍ تُدْعَىٰ إِلَىٰ كِتَابِهَا﴾ كتاب نه مراداعمالنامه ده. كقوله تعالى: ووضع الكتاب فترى... (كهف) يعنى هرسړې به دهغه په عملنامه كښې ليكلى شوى عملونوحساب طرف ته رابللې كيږى، بعض وائى چه دكتاب نه مرادكتاب دنبى دهرامت دې. يعنى هرسړې به دخپل نبى كتاب طرف ته راوبللې شى چه څومره عمل ئى وربانديې كړې دې. اول قول راجح دې،

﴿الْيَوْمَ تُجْزَوْنَ﴾ يقال ورنه مخكښې مقدردې، ﴿هَٰذَا كِتَابُنَا﴾ اضافت دكتاب (عملنامې) الله ﷻ ته دادنى ملابست دوجه نه شويدې ځكه چه ملائكوته دعملونو دليكلوحكم الله ﷻ كړې دې.

﴿يَنطِقُ عَلَيْكُم﴾ اى يشهد عليكم ﴿بِالْحَقِّ﴾ يعنى بغيردزيادت اونقصان نه، ﴿إِنَّا كُنَّا نَسْتَنسِخُ﴾ متعدى معنى ده يعنى په فرشتوباندې به موليكلوستاسو عملونه. نو دا د ﴿يَنطِقُ عَلَيْكُم بِالْحَقِّ﴾ تعليل دې.

فَأَمَّا	الَّذِينَ	آمَنُوا	وَعَمِلُوا	الصَّالِحَاتِ	فَيُدْخِلُهُمْ	رَبُّهُمْ

پس هغه كسان چه ايمان ئى راوړې دې اوعملونه ئى كړيدى نيك پس داخل به كړى دوئ لره رب ددوئ

فِي رَحْمَتِهِ ذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْمُبِينُ ﴿٣٠﴾ وَأَمَّا الَّذِينَ كَفَرُوا أَفَلَمْ تَكُنْ

په رحمت خپل كښې هم داكاميابى واضحه ده، اوهغه كسان چه كفرئى كړيدې ورته به اوويلې شى آيا نه وو

أَيَاتِي تُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ فَاسْتَكْبَرْتُمْ وَكُنتُمْ قَوْمًا مُّجْرِمِينَ ﴿٣١﴾

آياتونه زماچه لوستلې به شو په تاسوباندې نوتكبركړې وو تاسواوونى تاسوقوم جرم كونكى كفركونكى؛

وَاِذَا قِيْلَ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّالسَّاعَةُ لَا رَيْبَ فِيْهَا قُلْتُمْ

اوچه کله به ویلې شوچه بیشکه وعده دالله ﷻ حقه ده، اوقیامت نشته دي شک په راتلودهغې کښې نوتاسوبه ویل

مَّا نَدْرِيْ مَا السَّاعَةُ اِنْ نَّظُنُّ اِلَّا ظَنًّا وَّمَا نَحْنُ بِمُسْتَيْقِنِيْنَ ۝ وَبَدَا لَهُمْ

نه پیژنو مونږچه څه دي قیامت،نه کووګمان مونږ مګرګمان لږاونه یومونږ یقین کونکی.اوښکاره به شي دوئ ته

سَيِّاٰتُ مَا عَمِلُوْا وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ۝

سزاګانې دهغه عملونوچه دوئ کړي وؤاوچاپیره به شي په دوئ هغه عذاب چه وؤدوئ په هغې پورې توقې کولې،

وَقِيْلَ الْيَوْمَ نَنْسٰكُمْ كَمَا نَسِيْتُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا

اوورته به اویلی شي چه نن ورځ به مونږتاسو هیر کړو لکه چه تاسوهیرکړې وؤملاقات دخپلی ورځې ددې

وَمَاْوٰىكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ۝ ذٰلِكُمْ بِاَنَّكُمُ اتَّخَذْتُمْ

اوټهکانه ستاسوووردې اونه به وی تاسولره هیڅ څوک مددګاران.داپه سبب ددې چه بیشکه تاسونیولی وؤ

اٰيٰتِ اللّٰهِ هُزُوًا وَّغَرَّتْكُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا ۚ فَالْيَوْمَ لَا يُخْرَجُوْنَ مِنْهَا

آیاتونه دالله ﷻ په مسخرې سره اودهوکه کړی وئ تاسوژوندددنیا،پس نن ورځ نه به ویستلې کیږي دوئ ددې جهنم نه

وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُوْنَ ۝

اونه به ددوئ نه طلب دتوبی کیدیشی.

﴿فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا﴾ مؤمنانوصالحانوته بشارتِ اخرویه دي،﴿فِيْ رَحْمَتِهٖ﴾ مراد د رحمت نه جنت دي.﴿وَاَمَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا﴾ تخویف اخروی دې،﴿اَفَلَمْ تَكُنْ اٰيٰتِيْ﴾ دینه نه مخکښې فيقال لهم مقدر دي، او استفهام توبیخادي،﴿ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ ﴾وعده دبعث بعد الموت اودغه شان نور امور اتیه ﴿اِنْ نَّظُنُّ اِلَّا ظَنًّا﴾ داپه ظاهرکښې استثناء دشئ عن نفسه ده،نو ددې وجهې نه مفسرینو د دې مختلف توجهیات کړي دي:

(۱) يو توجيه داده چې ﴿ ظَنًّا ﴾صفت حذف دې چه ضعيفًا دې، اى ان نظنّ الاّ ظنًا ضعيفًا، يعنى دَقيامت په باره كښې زمونږ ډير كم غونته گمان دې. يقين بالكل نشته دې.

(۲) نظنّ پمعنى دَنعتقد سره دې، اى ما نعتقد شيئًا الاّ ظنًا.

(۳) بعضِ وائى چه په كلام كښې تقديم تاخيردې، اصل داسې دې ان نحن الاّنظنّ ظنًا ﴿وَمَا نَحْنُ بِمُسْتَيْقِنِينَ ﴾تاكيددې دَماقبل.

﴿وَقِيلَ ٱلْيَوْمَ نَنسَىٰكُمْ﴾مراد دَ نسيان نه په عذاب كښې پريخودل اودَنظرشفقت نه محرومه كول دى مجازاً. ځكه چه نسبت دَنسيان الله ﷻ ته محال دې، اى نترككم في العذاب من باب اطلاق السبب على المسبب(روح المعانى)يامعنى داده چه گرځوؤمونږه تاسوپمنزله دَشئ منسى چه څوک ئې پرواه نه كوى. ﴿ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هَـٰذَا ﴾اضافت دَلقاء يوم ته اضافت ظرفيه دې، او مفعول مقدردې، اى لقاءَكم الله ﷻ وجزاءه في يومكم هذا(روح)يعنى لكه څرنگه چه تاسوپه دنياكښې دَالله ﷻ سره ملاقات اودَهغه په مخكښې پيشى د دې ورځ هيره كړې وه، نودغه شان تاسوهم نن ورځ الله ﷻ هيركړى يئ، يا﴿لِقَآءَ يَوْمِكُمْ﴾كنايه ده دَ ټولو احوالو دَ قيامت نه، سره دَ بعث نه، اودا انسب للمقام دې.

﴿ذَٰلِكُم بِأَنَّكُمُ ٱتَّخَذْتُمْ ءَايَـٰتِ ٱللَّهِ ﴾دا سبب د عذاب بيان دې يعنى په احكامودَالله ﷻ پورې استهزاء اوپه ژوند دَ دنيا باندې په دهوكه كښې مبتلا كيدل ، داسبب دې دَدې چه تاسو دَ هميشه دَپاره دَجهنم مستحق اوگرځيدلئ، ﴿يُسْتَعْتَبُونَ ﴾يادَعُتبى نه مأخوذدې پمعنى دَ رجوع اوتوبه سره، اى لايُطلب منهم العتبى وهوالرجوع الى طاعته. يعنى طلب دَتوبې به ورنه نشى كيدې، داموقع به ورته نه وى چه الله ﷻ راضى كړى. يادَعتاب نه مأخوذدې، ازاله دَ عتاب اوسزابه ورنه نشى كيدې بلكه هميشه به وى په عذاب كښې.

﴿فَلِلَّهِ ٱلْحَمْدُ رَبِّ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَرَبِّ ٱلْأَرْضِ رَبِّ ٱلْعَـٰلَمِينَ ۝ وَلَهُ ٱلْكِبْرِيَآءُ﴾

پس الله لره ده ټوله ثناء صفت چه رب دَ آسمانونو دې اورب دَزمكې دې، رب دې دَتمامو مخلوقاتو، اوالله ﷻ لره لوئى ده

فِي	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	وَهُوَ	الْعَزِيْزُ	الْحَكِيْمُ	۞	
په	اسمانونوکښ	اوپه زمکه کښ.اوهم	دي	غالب	دي	خاونددحکمت	دي

﴿فَلِلّٰهِ الْحَمْدُ﴾ فاء تفریعیه ده او داپنځم دلیل عقلي دې په توحید، متفرع دې په څلورم دلیل، چه دَاسمان اوزمکې بادشاهت دَالله ﷻ په قبضه او اختیارکښ دي نو ټول صفات دَ الوهیت هم صرف هغه لره ثابت دی ﴿رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ﴾ بدل دې دَماقبل نه

﴿وَلَهُ الْكِبْرِيَآءُ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ﴾ لائق دَلوئی صرف ذات دَالله ﷻ دې، دَ کبریاء معنی امام راغب الترفع عن الانقیادکړیده یعنی دَعاجزئ اوسرټیټئ نه برتر وبالا، او دیکښ عظمت، جلال، بقاء، سلطان، قدرت اوکمال ټول رازی، په حدیث قدسي کښ راغلی دی الکبرياء ردائي والعظمةُ ازاری فمن نازعنی علی واحدٍمنهماقذفته فی النار کبریا څماڅادردې اولوئی څما ازار دې نوهرڅوک چه په دغودواړوکښ څماسره منازعه کوی (یعنی تکبراولوئ کوی) څه به ئی په سخت اورکښ اوغورځوم.
کله چې ثابته شوه چې کبریائی صرف الله ﷻ سره خاص ده نو اتباع هم دَ الله ﷻ اودهغه شریعت پکار ده ، نه ده آباؤ اجدادو اودَهغوئ رسم ورواج.

ركوعاتها (۴)	سورة الاحقاف مكية	آياتها (۳۵)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکي دی شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (۴۶) وحسب النزول (۶۶)

دامکی سورة دي،ترتیب قرآنی په لحاظ سره(۴۲)دي اوترتیب نزولی اعتبار سره(۲۲) دي دَسور الجاثیه نه ورستواودَسورة الزاريات مخکښ نازل دي.زمانه دَنزول ئی لسم(۱۰)کال یا یولسم(۱۱)کال دَنبوة دي.

ربط معنوی: پدې سورة کښ دَمشرکانودآخری سوال جواب دي،ماقبل سورتونو کښ دَدوئ داشبهات دفع شول چه دَدوئ آلهه معبودان ندی،موصوف په صفاتودَالوهیت نه دی، شفعاء قهری نه دی،هرڅه نه آوری او نه وینی،لیکن دوئ به ویل چه زمونږدَمعبودانوپه بلنه کښ تاثیر خامخا شته دي ځکه چه مونږه ورنه کله هم سوال اوکړونوحاجت موپوره کیږی او دَ مصائبو نه محفوظه کیږو،الله ﷻ دَدغې شبهې جواب پدې سورة کښ کوی چه﴿فَلَوْلَا نَصَرَهُمُ الَّذِينَ اتَّخَذُوا مِن دُونِ اللَّهِ قُرْبَانًا آلِهَةً﴾آیت(۲۸).حاصل داچه کچرته دَدوئ په بلنه کښ تاثیر او برکت وې نودوئ خپل عابدین زمونږدګرفت اودَعذاب نه ولې خلاص نه کړل.

(۲)مخکښ سورت کښ ترغیب الی القرآن وو اودَقرآن حقانیت ذکروو.دي سورت کښ باقاعده دلائلوسره دَقرآن حقانیت اثبات کیږی.

(۳)مښ سورت کښ مسئله معاد اجمالی طورباندی بیانه شوی وه چی﴿ قل الله يحييكم ثم يميتكم ثم يجمعكم﴾ دې سورت کښ باقاعده دلیل سره دامسئله بیانیږی.

ربط اسمی: توحید په مقابله کښ دَمشرکینو عجز مثال په مخکښ سورت کښ هغه کس سره ورکړې شوې وو چی سترتیا اوعاجز راتلو وجهی نه په ګوډوباندې ناست وی.اودې سورت کښ داذکر کیږی چی توحید،حقانیت قرآن او اثبات معاد دَ دلائلو په مقابله کښ ددوئ شبهات پشان دَ شګو ډیري دي ،هیڅ دَمقاومت تاب نه لري.

دسورة دمضامينو اجمالي خلاصه

حوامیمو بنیادی مضمون اثبات توحید او رد د شرک دي.خودې سره سره معاد او حقانیت قرآن هم باقاعده ذکر کیږي،چونکه سورت الاحقاف حوامیو آخر اوبلاغ دې نو دیکښې دا درې واړه مسئلې په تفصیل سره ذکر کیږي،دې باندې چې کوم اشکالات دی دهغې جواب ذکر کیږي ،حق عقیدی دلائلو سره اثبات کیږي،او مینځ مینځ کښې تخویفات ،زجر او بشارات هم بیانیږي

تفصیلي خلاصه

آیت 1،2:کښې تمهید مع الترغیب دې.

آیت 3-6:پوری اثبات توحید او رد دشرک دې.

آیت 7-12:پوری دقرآن حقانیت اثبات دې

آیت 13،14: کښې بشارت علی ادا حقوق الله دې

آیت 15،16 :کښې بشارت علی حقوق العباد دې.

آیت 17-28: پوری تخویفات دی.

آیت 29-32: پوری بیا حقانیت قرآن بیانیږي.

آیت 33 :کښې دمعاد اثبات ذکر کیږي.

آیت 34:کښې تخویف دې

آیت 35:کښې تسلی ده نبی ﷺ ته او اعلان دې چې هغې تعلق تولو حوامیمو سره دې.

حٰمٓ ﴿١﴾ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ﴿٢﴾ مَا خَلَقْنَا

الله پوهیږی په معنی ددې،نازلیدل ددې کتاب دطرفه دالله نه دې چه غالب دې خاوند دحکمت دې،ندی پیدا کړی مونږ

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَآ اِلَّا بِالْحَقِّ وَاَجَلٍ

اسمانونه او زمکه او هغه څه چه په مینځ ددې دواړوکښ دی مګردپاره دحق ښکاره کولواودپاره دیوې نیټې

مُّسَمًّى ؕ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا عَمَّآ اُنْذِرُوْا مُعْرِضُوْنَ ﴿٣﴾ قُلْ

مقررې.اوهغه خلق چه کفرئی کړیدې دهغې نه چه دوئ ورنه یره ولې شوي دي اعراض کونکي دي ، ته اوابه

أَرَءَيْتُم	مَّا	تَدْعُونَ	مِن	دُونِ	ٱللَّهِ	أَرُونِى	مَاذَا	خَلَقُوا۟
تاسوماخبرکړئ دَهغې نه چه تاسوورته حاجتونه غواړئ ماسوی دَالله نه،ماته اوښایئ هغه څه چه دوئ پیداکړی دی								
مِنَ ٱلْأَرْضِ أَمْ لَهُمْ شِرْكٌ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ ٱئْتُونِى بِكِتَٰبٍ مِّن قَبْلِ هَٰذَآ								
دَزمکې نه یا، دوئ لره څه برخه ده په اسمانونو کښ، راوړئ ما ته څه کتاب مخکښ دَ دې قرآن نه								
أَوْ	أَثَٰرَةٍ	مِّنْ	عِلْمٍ	إِن	كُنتُمْ	صَٰدِقِينَ ④		
یا	یو نقل	دَ	علم (دَانبیاؤو)	نه	کچرته	یئ تاسو ریشتنی .		

﴿حمٓ ۝ تَنزِيلُ ٱلْكِتَٰبِ﴾تمهید دې مسئلې دَتوحیدته،اوترغیب دې منلودَقرآن ته،چه دا قرآن دَ الله ﷻ دَطرفه نازل دې نودااومنئ.ځکه چې دچا اطاعت ته غاړه ایخولو او فرمان برداری کولو دپاره په مطاع کښ دوه صفات ضروري دی:(۱)قدرت او سلطنت ورته حاصل وی او داجسمانی طور باندی انسان په اطاعت مجبوره کوی(۲)دهغه احکامات او خبرې دَحکمت نه ډکې وي ، اودا وصف انسان عقلی طور متاثره کوی او الله ﷻ چونکه دی دواړو صفاتو سره بطور اکمل متصف دې نولهذا هغه اطاعت او کلام منل ضروری دی.

﴿مَا خَلَقْنَا ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ﴾ دلیل عقلی دې په توحید او نفی دَ قدرت دتصرف ده غیر الله نه او خوغلطو عقیدو باندی رد دې:

(۱)ټول کائنات الله ﷻ پیدا کړیدی اودیکښ خومره تصرفات کیږی الله ﷻ په ارادې سره کیږی، ددې ذکر اوشو په «ما خلقنا السموات والارض» کښ دا په عقیده دهریت رددی چه مشرکینو به ویل مایهلکنا الا الدهر

(۲)داکائنات او دیکښ چې څه دی یو مقصد تحت پیدا شویدی ، داعبث ندی پیدا کړې شوې، بلکه دیکښ دَ الله ﷻ معرفت نشانیانې دي.دا نه ده چې « نموت ونحیا»او بس .﴿إِلَّا بِٱلْحَقِّ﴾کښ دَدې ذکر دې

(۳) يوه ورځ به داسې راځي چه دا هرڅه به فنا شي اوستاسونه به دې ژوند هر لمحې حساب كتاب اخيستې كيږي، په« واجل مسمى»كښې دَ دې ذكر دې. ديكښې عقيده معاد ذكر دى.

﴿عَمَّآ أُنذِرُواْ﴾جار مجرور مابعد سره متعلق دى اومراد ترينه قيامت اودَهغه ورځې اهوال دى . يعنى چه كله دوئ دَبعث بعدالموت اودَقيامت خبرې واورى نودَهغې نه اعراض او انكاركوى.

﴿قُلْ أَرَءَيْتُم مَّا تَدْعُونَ﴾پدې آيت كښې دَمشركانونه په شرك باندې دَدوؤقسمه دليلونومطالبه ده: يو دليل عقلى بل دليل نقلى،﴿أَرُونِى مَاذَا خَلَقُواْ﴾دليل عقلى مطالبه ده. يعنى آياستاسومعبودانوڅه حصه دَزمكې پيداكړيده؟استفهام دَتوبيخ اوپيغوردَپاره دې،يعنى تاسوڅرنګه دَداسې معبودانوعبادت كوئ چه په صفاتو دَ الوهيت نه دې متصف ﴿مِنَ ٱلْأَرْضِ﴾ يعنى زمكه او په مخ دَزمكه داسې څه شته چې دوئ هغې پيدا كولو كښې مستقل وى او الله ﷻ ته محتاج نه وى﴿أَمْ لَهُمْ شِرْكٌ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ﴾يعني آسمان اوپه هغى كښې څومره مخلوقات دى آيا هغې پيدا كولو كښې دوئ الله ﷻ سره څه معاونت او شركت كړيدى،

فائده: دا خبره خوظاهره ده چې دوئ نه زمكى څه حصه پيداكولو كښې الله ﷻ سره شريك دى اونه آسمان ،خو بيا هم شرك نفى صرف آسمان نه اوشوه او زمكه كښې داستقلال نفى اُوشوه، ديكښې نكته داده چې سفليات او دهغى حوادثو كښې غير الله بطور واسطه او سبب درجه كښې څه نه څه دخل وى، ليكن هر چه دى علويات نوهغې كښې دَغير الله هيڅ قسم عمل دخل نشته نو ځكه هلته نفى دَ شركت اوشوه

«ارايتم» او «اروني» دواړه د دوه مفعولو تقاضه كوي ، د «ارايتم» د پاره مفعول اول «ماتدعون» دي او «اروني» د پاره پاره مفعول اول ضمير منصوب «ياء»دي او «ماذا خلقوا» كښې د دواړو تنازع ده ، دواړه ئې خپل مفعول به ثاني جوړيدو تقاضه كوي ، نو فعل ثاني له خو عمل وركړو او د اول مفعول خو محذوف اومنلو ، او بعض وائي چې دا مفعول به ثاني دې د فعل اول ، اويا «اروني» جمله معترضه دپاره د تاكيد ده، نو هډو تنازع نشته

﴿ائْتُونِي بِكِتَابٍ﴾دليل نقلی مطالبه ده ازکتب سابقه،﴿مِّن قَبْلِ هَٰذَا﴾مخکښې دقرآن نه چه توراة،انجیل،زبوردی،﴿أَوْ أَثَارَةٍ مِّنْ عِلْمٍ﴾ دليل نقلی مطالبه ده دَ انبیاؤو سابقوّو نه، دَ ﴿أَثَارَةٍ﴾ څو معنی بیان کړې شویدی:

(۱)روايت: يعني انبياء سابقوّو نه څه اثر او روايت منقول وي دیکښې تو پیش یې کړئ.

(۲) اثارة په معنی بقية سره دې یعنی سابقه علوم نه څه علم پاتې شوې وی او هغې کښې څه داسې خبره وې نو پیش ئې کړئ.

وَمَنْ	أَضَلُّ	مِمَّنْ	يَدْعُوا	مِنْ	دُونِ	اللهِ	مَنْ	لَا	يَسْتَجِيبُ لَهُ
اوڅوک زیات گمراه دې دَهغه چا نه چه دې سوال کوی ماسِوئ دَالله ﷻ نه دَهغه چانه چه نشی قبولولې سوال دده									
إِلَىٰ	يَوْمِ	الْقِيَامَةِ	وَهُمْ	عَنْ	دُعَائِهِمْ	غَافِلُونَ ۝	وَإِذَا	حُشِرَ	النَّاسُ
ترورځې دَقیامت پورې اودوئ (معبودان)دَسوال دَدوئ نه ناخبره دی،اوکله چه راجمع کړې شی خلق دَقیامت په ورځ									
كَانُوا	لَهُمْ	أَعْدَاءً	وَكَانُوا	بِعِبَادَتِهِمْ	كَافِرِينَ ۝				
نووی به	دامعبودان دوئ لره دشمنان		اووی به	په عبادت دَدوئ	باندې انکارکونکی				

﴿وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّن يَدْعُوا﴾ ما قبل کښې نفی د قدرت او تصرف وه دَغیر الله نه، دې آیت کښې نفی دعلم ده دَغیر الله نه. چه دَهغه کس نه لوئ گمراه بل نشته دې چه دَداسې څیزونو نه پخپل حاجتونو کښې مدد غواړی چه ترقیامته پورې نه ورته جواب ورکولې شی او نه ده دوئ حاجتونو نه خبر دې.﴿مِن دُونِ اللَّهِ﴾عام دې عابدانو دَملائکو ،عیسی علیه السلام او جناتو ، جماداتو ، قبرونو ، زیارتونو ټولوته شامل دې.﴿إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ﴾مرادورنه تابيد دې،يعنی همیشه ورته جواب نشی ورکولې﴿وَهُمْ عَن دُعَائِهِمْ غَافِلُونَ﴾ یعنی جواب ورکول اوحاجت پوره کول خو ډیره بعیده ده بلکه دَهغوئ بلنه آوری هم نه اودَدوئ نه بې خبره دی،

صاحب دَروح المعاني رحمه الله ليکلی دی چه بتان خوبهرحال بې خبره دی چه پکښې دَ اوریدلو صلاحیت او استعداد نشته دې،اوهرچه ملائک دی نو هغه خولړې دی،خکه مشرکینو

دَ اسمانی ملائکوعبادت کولو،اوهرچه اولیأانبیاءدی نوبعض خولری وؤدَعابدینونه اوعلم الغیبؔ ورسره نشته دي چه دَدویٔ دَعبادت نه خبرشی،اوڅوک چه قریب دی نوهغه مړه دی او مړی په هروخت کښ خبره نه آوری،یاداچه اللهﷻ دَ مشرکانو دَ شرکی اقوالوافعالونه دویٔ بې خبره ساتی چه په حُزن اوپه غمونوکښ پریشان نشی.

شیخ عطارؒ دَمذکوره آیاتونوترجمانی پخپلواشعاروکښ داسې کړیده،شعر:

دربلایاری مه خواهدازهیچ کس زانکه نه بودجزخدافریادرس

غیرحق راهرکه خواندای پسر کیست درعالم ازوگمراه تر

﴿وَإِذَا حُشِرَ ٱلنَّاسُ﴾دا دویٔ مزید حماقت بیان دې یعنی دامعبودان دَدویٔ بلنه خو هڅې نه اوري بلکه دَ قیامت په ورځ به ئی ورسره عداوت وی .اوپه میدانِ حشرکښ به علی رؤس الاشهاد دا اعلان اوکړی چه مونږ ستاسو دَ عبادت ، او بلنې نه بالکل خبر هم نه وؤچه څوک زمونږ قبر ته راغلیدې او سوالونه ئی کړیدی،سجدې ئی کړیدی،نذرانې ئی ورکړیدی، دا مضمون دَسورة یونس(۲۸) وغیره سورتونوکښ هم تیرشویدې.

((کانوا))کښې ضمیر " من لا یستجیب له " یعني آلهؤو ته راجع دې او ((هم)) ضمیر " من یدعو من دون الله " یعني مشرکینو ته راجع دې ،((اعداء)) چونکه د دویٔ عبادت به ورته د نفعې په ځایٔ نقصان رسوي نو ځکه ورباندې د((اعداء)) اطلاق اوشو ، او مطلب دا دې،چې دویٔ خو د غیر الله تقرب او رضا حاصلولو دَ پاره نن د هغویٔ عبادت کوي ، خو کله چې قیامت ورځ شې ،نو هغویٔ به د دویٔ د شمنان وي،یعني نفعې په ځایٔ به ورته ضرر اورسوي،

((وکانوا بعبادتهم)) ضمیر مرفوع دلته هم " من لا یستجیب له " یعني آلهؤو ته راجع دې او ((بعبادتهم)) کښې ضمیر مجرور مشرکانو ته راجع دې،یعني دَ دویٔ آلهه به دَ دویٔ دَ عبادت نه به برامت اعلان اوکړي ، چې ما کان ینبغي لنا ان نتخذ من دونک من اولیاء، یا ((کانوا))کښې ضمیر په دوارو ځائینو کښې "من یدعون من دون الله" یعني مشرکینو ته راجع دې او ((هم)) ضمیر "من لا یستجیب له " یعني آلهؤو ته راجع دې، یعني قیامت په ورځ چې دویٔ آلهې دویٔ نه برامت اعلان اوکړي ، نو دویٔ به د هغویٔ د شمنان اوګرځي او د هغویٔ عبادت کولو نه انکار اوکړي چې والله ربنا ماکنا مشرکین.

وَإِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ قَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ
اوکله چه لوستلې شي پدوئ آياتونه زمونږښکاره، وائي هغه خلق چه کفرئي کړيدې. قرآن ته، هرکله چه راشي دوئ ته،
هٰذَا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿٧﴾ اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ قُلْ اِنِ افْتَرَيْتُهٗ
داسحردې ښکاره،ولې دوئ داوائی چه دځان نه جوړکړيدې دی پيغمبرداقرآن.ته اوايه کچرې مادځان نه جوړکړې وی داقرآن
فَلَا تَمْلِكُوْنَ لِيْ مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا ؕ هُوَ اَعْلَمُ بِمَا تُفِيْضُوْنَ فِيْهِ ؕ
نومالکان نه يئ تاسومالره دعذاب دالله ﷻ نه دهيڅ څيزالله ﷻ ښه خبردې په هغه کدو ودو چې تاسو لګيايئ په هغې کښې.
كَفٰى بِهٖ شَهِيْدًاۢ بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ ؕ وَهُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴿٨﴾ قُلْ
کافي دې الله ﷻ گواه خبرپه مينځ زمااومينځ ستاسوکښې،اوالله ﷻ بخونکې ډيررحم کونکې دې.ته اووايه
مَا كُنْتُ بِدْعًا مِّنَ الرُّسُلِ وَمَآ اَدْرِيْ مَا يُفْعَلُ بِيْ وَلَا بِكُمْ ؕ اِنْ اَتَّبِعُ اِلَّا
نه يم څه نوې درسولانونه اونه پوهيږم څه چه څه به کولې شي ماسره اونه ستاسوسره،نه کوم څه اتباع مګر
مَا يُوْحٰۤى اِلَيَّ وَمَآ اَنَا اِلَّا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿٩﴾
دهغې چه وحی ئی ئی کيديشی ماته اونه يم څه مګروېرونکې ښکاره.

﴿وَإِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا﴾ دلته نه دقرآن حقانيت اثبات او په قرآن باندی دمشرکينودری شبهات او هغی جواب ذکر کيږی په ضمن د شکوي کښې ، دا اوله شبه او شکوه ده چې ددی مشرکينو عجيب طرز عمل دی يو طرف ته اوګورئ نو باطل پسې روان منډې وهي او د داسې معبودانو عبادت کوی چې هغوئ نه قدرت شته نه د تصرف اختيار، نه ورسره علم شته نه دوئ ته د الله ﷻ په مقابله کښې نفع يا ضرر رسولې شي،بل طرف ته اوګورې چې د الله ﷻ حق کلام دې، په هغې کښې د الله ﷻ وحدانيت واضح دلائل دی. نو دوئ هغې ته سحر وائی، د دې شبهې جواب آيت کښې موجود دې،چې هغی ته اشاره«الحق» او «بينات»کښې شويده،چې دا د الله ﷻ حق ښکاره کلام دې،سحر نه دې؛ ځکه چې سحر معارضه ممکن وی او د دې کلام معارضه ممکن نه ده.

﴿أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ﴾دا **دويمه شبه ده** دَمشركينو علي سبيل الترقي. ام دلته اضراب د پاره دي يعنى داخبرخو ئى څه کئ ، دې بلې ته ئي غوږ شه ،چې قرآن دَ الله ﷻ کلام نه دې بلکه دي پيغمبر دا دَځان نه جوړ کړيدې او الله ﷻ طرف ته ئي منسوب کوی.دَ دوئ پدی شبهی باندې دَ مخکښ شهبې نه زيات تعجب ځکه اوشو چې دا څنګه کيديشی چې يو داسې کلام چې هغې مثل يو آيت پيش کولو باندې دوئ قادر نه دی باوجود دَدينه چې فصحاء، بلغاء او شعراء دی، نويو داسې کس چې امی دې، شعر وشاعرى سره ئي واسطه نشته هغه دَځان نه څنګه جوړ کړو .الله ﷻ دَدې شبهی درې جوابونه ذکر کړو

﴿قُلْ إِنِ افْتَرَيْتُهُ﴾دا **اول جواب** دې، خلاصه دَجواب داده چې څه يو مبلغ يم .الله ﷻ آيات واحکامات خلقو ته بيانوم،کچرته داحقيقت کښ دَ الله ﷻ احکام او آياتونه ، نه وی نو دَ الله ﷻ عذاب راتلل په ما يقينی دي هغی نه ما څوک نشی بچ کولی. کما في قوله تعالى:ولو تقول علينا بعض الاقاويل لاخذنا منه باليمين (الحاقه:۴۴، ۴۷)ځکه چې عادت الله ﷻ دَجاری دې چې کوم کس دَ نبوت دعوی په دروغو کوی او احکام الهی کښ دجل وفريب نه کار اخلی،او حقيقت په خلقو ملتبس کوی نو الله ﷻ خپل قهر په هغه نازل کوی.

﴿بِمَا تُفِيضُونَ فِيهِ﴾داتخويف دې، افاض يفيض ماده په لغت کښې کثرت باندې دلالت کوی، ويلې کيږی: افاض الماء اناءه کله چې اوبونه لوخی ډک او ابهيګی ، ډير سخی انسان ته فياض ويلې کيږی، او افاض في الحديث‌ويلی کيږی څه شی په باره مختلفی خبرې کولوته ،او دلته هم دامعنی مراد ده چې کله ورته سحروائی کله ورته څه او کله څه ؟دی ټولو خبروباندی الله ﷻ خه عالم دي.﴿كَفَىٰ بِهِ شَهِيدًا﴾ دا ماقبل نه بدل الاشتمال دې يعنى کافى دې الله ﷻ ګواه څماپه تبليغ اوستاسوپه تکذيب﴿وَهُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ﴾داترغيب دتوبې او قرآن منلوته. يعنى کچرته اوس تاسوتوبه اوکړئ اوقرآن اومنئ نو الله ﷻ توبه قبولونکې دې رحم کونکې دې.

﴿قُلْ مَا كُنتُ بِدْعًا﴾دا **دويم جواب** دې، خلاصه يې داده چې څه بنياد باندې تاسو دې قرآن کښ شک کوئ؟آيا څما نبوت او پيغمبرې څه يونوې شې دې يا دا قرآن نازليدل يو نوې

امر دي.... ؟انبياء او پيغمبران هم دينه مخكښې مبعوث شويدي اوكتابونه هم نازل شويدي، هغوئ به وحي اتباع كوله څه هم دوحي اتباع كوم.هغوئ به هم دالله ﷻ آياتونه خلقوته اورول اويره ول به يې، ځماهم دا وظيفه ده ،پاتې شول اخبار د دنيوي امورو چه مستقبل كښې به څه كيږي ،تكليف به رسي ياراحت،نقصان به كيږي يا ګټه،غلبه به وېلاويږي يا شكست...دا د نبوت وظيفه نده،دې باره كښې ماته نه دځپل ذات باره كښې علم شته نه تاسو باره كښې، «بدعا» پمعنی د "بديع" كښې دې،لكه خِف پمعنی خفيف او خِل پمعنی خليل سره رازي،"بديع" ويلې كيږي عديم المثال شي ته، ﴿وَمَآ أَدۡرِي مَا يُفۡعَلُ بِي وَلَا بِكُمۡ﴾ دا ايت اولي حصه "ماكنت بدعا" كښې دې خبرې نفي اوشوه چې نه نبوت اورسالت نوې شې دې او نه كتاب نازليدل ،اوس دلته مماثلت بيان كيږي،روايتوكښې رازي چه مشركينو به نبي كريم ﷺ نه داسوال كوو: اخبرنا بمضارنا ومصالحنا في المستقبليعني راتلونكې زمانه كښې كوم تكليفونه په مونږ راروان دي يا كومې فائدې مونږ ته ميلاويږي هغې باره خبر راكه،نو بيا مونږ تا اومنو،الله ﷻ جواب اوكړو چې دا دنبوت اور رسالت وظيفه نده،نبوت اور رسالت وظيفه اتباع وحي او تبليغ وحي ده.

قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ إِن كَانَ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ وَكَفَرۡتُم بِهِۦ وَشَهِدَ
ته اووايه خبراكړئ ماته كچرته وي داقرآن دطرفه دالله ﷻ نه او بيا هم تاسوكفركوئ په دې اوګواهي وركوي
شَاهِدٞ مِّنۢ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ عَلَىٰ مِثۡلِهِۦ فَـَٔامَنَ وَٱسۡتَكۡبَرۡتُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ
يوګواه دبنی اسرائيلو په شان ددې قرآن، نو هغه ايمان راوړې اوتاسوتكبركوئ بيشكه الله ﷻ
لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ۝
هدايت نه كوي قوم ظالمانو ته

﴿قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ إِن كَانَ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ﴾ دا دريم جواب دې، خلاصه يې داده چې دا خو ډير ظلم او بې انصافي خبره ده چې دا قرآن د الله ﷻ طرف نه وي ، اوبني اسرائيلو كښې معتبر اهل علم حضرات پدې ګواهي وركوي، اوايمان پرې هم راوړي او حق يې ګڼړي،ليكن ددې

باوجود تا سو ئي نه منئ او انکار واعراض ترينه کوئ،دې تفسير مطابق ‹‹شاهد›› نه مراد دَاهل کتابو هر هغه عالم دې چې په قرآن ئي ايمان راوړې وى . چې هغه څوک هم وى برابره خبره ده چې دې آيت نزول نه مخکښې راوړې وى ياورستو ‹بيان القرآن› لهذا رواياتو کښې دَ عبدالله بن سلام ﷺ يا ميمون بن يامين او دهغه شان چې کومو نورو اهل علم حضراتو تذکره راغلې ده،هغه بطور مثال ده، تخصيص ترينه نه دې مراد.‹‹مثله›› ضمير مجرور مرجع قرآن دې "مثل" نه مراد يا هغه مضامين د قرآن دى چې هغه تورات کښې هم وؤ،چې هغه توحيد او بعث بعد الموت وغيره دي ، يعنى داشاهد دَ قرآن مضامينو دحقانيت ګواهي ورکوى،لکه بل ځائ کښې راغلى دى: وانه لفي زبرالاولين، اولم يکن لهم اية أن يعلمه علماء بني اسرائيل ، يا "مثل" نه مراد کتب سابقه دى چې هغه منزل من الله کيدلو کښې دَقرآن مماثل دى،او يا "مثل" نه مراد بعينه قرآن دې ، "مثل" لفظ اضافه دَ مبالغې د پاره شويده، لکه اهل عرب وائى مثلک لايبخل.‹‹فآمن››کښې ضمير مستتر "شاهد"ته راجع دې، يعنى بيائي پدې قرآن ايمان هم راوړو.

بعض مفسرينو دَ ‹‹شاهد›› نه مراد کتب سابقه او ‹‹مثله›› نه مضامين دَ قرآن اخستي دي، يعنى سابقه کتابونه چې کوم الله ﷻ نازل کړيدى هغه دَدې کتاب،دَدې مضامينو اودَرسول الله ﷺ دَ رسالت حقانيت ګواهى ورکوى ‹قرطبى› نو دې توجيه مطابق ‹‹فامن›› نه مراد تصديق دې.

حضرت تهانوى ﷫ دَدې آيت منفرد تفسير کړيدې،دَ هغې خلاصه داده چې اهل کتاب باوجود ددينه چې اهل علم وؤ،هغوئ دې قرآن په شان کتابونو تورات اوانجيل وغيره باندې ايمان راوړې دې حالانکه داکتابونه دَ فصاحت و بلاغت هغه مرتبه کښې نه وو چې په کومې مرتبې باندې قرآن دې،او تاسو باوجود دَدينه چې جاهله يئ دَ قرآن نه انکارکوئ، حالانکه دا دَ فصاحت اوبلاغت اوچتې مرتبې باندې فائز دې.دې تفسير مطابق ‹‹مثل›› مصداق تورات ، انجيل وغيره دى،او‹‹فامن›› نه مراد.تورات ،انجيل باندې ايمان راوړل دى.

﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ﴾دجزا محذوف قائم مقام دې،چې هغه فقد ظلمتم يا الستم اظلم الناس ده

وَقَالَ	الَّذِينَ	كَفَرُوا	لِلَّذِينَ	اٰمَنُوْا	لَوْ	كَانَ	خَيْرًا

اووائی هغه خلق چه کافران دی دهغه خلقوپه باره کښ چه ایمان ئی راوړی دی،کچرته وی دا قرآن حق

مَّا سَبَقُوْنَآ اِلَيْهِ ۭ وَاِذْ لَمْ يَهْتَدُوْا بِهٖ فَسَيَقُوْلُوْنَ هٰذَآ اِفْكٌ

نو نه به وی مخکښ شوی دوئ زمونږ نه ده ته،اوکله چه دوئ ته هدایت اونشوېدی قرآن نووائی دوئ دادروغ دی

قَدِيْمٌ ⑪ وَمِنْ قَبْلِهٖ كِتٰبُ مُوْسٰٓى اِمَامًا وَّرَحْمَةً ۭ وَهٰذَا كِتٰبٌ

پخوانی.اومخکښ ددی قرآن نه کتاب دموسی(توراة)وو چه پیشوا او رحمت وو، او دا قرآن کتاب دی

مُّصَدِّقٌ	لِّسَانًا	عَرَبِيًّا	لِّيُنْذِرَ	الَّذِينَ	ظَلَمُوْا

تصدیق کونکی(دمخکنو کتابونو)په ژبه عربئ کښ،د پاره ددی چه ویروی هغه خلق چه ظلم(شرک)ئی کړیدی،

وَبُشْرٰى لِلْمُحْسِنِيْنَ ⑫ اِنَّ الَّذِيْنَ قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوْا

اوزیری دی دپاره دښائسته عمل کونکو.بیشکه هغه خلق چه دائی ویلی دی رب زمونږالله دی بیاکلک ولاړدی پدی خبره،

فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ⑬ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ خٰلِدِيْنَ

نونه به وی هیڅ یره پدوئ باندی اونه به دوئ غمژن وی.دغه کسان اوسیدونکی دجنت دی همیشه به وی

فِيْهَا	جَزَآءًۢ	بِمَا	كَانُوْا	يَعْمَلُوْنَ	⑭

په هغې کښ(ورکولی به شی دوئ ته)بدله په سبب دهغه عملونوچه دوئ کول

﴿وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا﴾ دی آیت کښ الله ﷻ مشرکینو دریمه شبهه ذکر کوی،خلاصه ئې داده چه کچرته قرآن او پدې ایمان راوړلو کښ خیر وې نو مونږ به پرې ایمان راوړې وې، دا خو پر خلق لکه بلال صهیب عمار وغیره شو دوئ به مونږ نه نوو وړاندی شوی، ځکه چې مونږ عقلمند او روشن خیال خلق یو ، اوخیر طرف ته سبقت همیشه علقمند انسان کوی،بلکه اصل خبره دا ده چی دا دالله ﷻ کلام نه دې ،زاړه دروغ دی چې راجمع کړی شویدی،

دَ جاهلیت قدیمه اوجدیده روشن خیالو اقوالو کښ مماثلت ته اوګورئ،نن صبا امت کښ دَ ایمان دعویدار داسې طبقه موجود ده چې هغه ددې امت غرباء چې اصل حاملین دَ دین

دی، دین دَپاره هغوئ خپل مال وجان وقف کړیدې.دین اصل صورت کښې پیش کوی او تحریفاتو نه پرده اوچته وی، دَ هغوئ ظاهری شکل وصورت سادګي او سنت مطابق طرزعمل پورې مسخرې کوی ،او د هغوئ دین حقیقی صورت کښې پیش کولوته رجعت پسندی او قدامت پرستي وائی!!!

﴿لِلَّذِينَ ءَامَنُوا﴾ اي في شانهم ، لام دپاره تعدیه نه دې بلکه تعلیله دې اي لاجل ايمان الذين امنوا

﴿وَإِذْ لَمْ يَهْتَدُوا بِهِۦ﴾داجواب دشبهی دې،خلاصه ئي دا ده چی اصل خبره داده چی دوئ ایمان نه محروم دی اوخیر توفیق ورته نه دې میلاوشوې، نو تکبر اوعناد د وجهې نه داخبره کوی،چی دیکښې خیرنشته اودا زاړه دروغ دی،ده دوئ دا قول داسی دې لکه پښتوکښې وائی انګور تاروه دی،حالانکه انګور تاروه نه وی خودې ترینه محرومه وی

﴿وَمِن قَبْلِهِۦ كِتَٰبُ مُوسَىٰٓ﴾دا جواب دې دَ هذا افک قدیم یعنی دوئ دَ دې خبرې اعتراف کوی چی الله ﷻ په موسی ﷺ باندې تورات نازل کړې وؤ،نو دې کتاب کښې عقائدو اعتبار سره هیڅ نوې خبره نشته، بلکه کوم مضامین دَ توحید،رسالت د معاد وغیره هغې کښې وؤ بعینه هغه دیکښې هم دی، مزید دا چې دا کتاب په عربئ کښې دې او زبان و بیان فصاحت و بلاغت اعتبار سره تورات نه اوچت دې نوڅنګه هغه منئ او دینه انکار کوی.

﴿إِمَامًا﴾ حال دې کتاب نه یعنی مقتدیٰ کتاب وؤ،اتباع او اقتدا به یی کیده لکه څنګه چی دَ امام کیږی، نو هغې کښې نبی کریم ﷺ بشارت هم موجود دې نو څنګه چی تورات حق منئ دا خبره یی هم اومنئ او پدې نبی اوکتاب ایمان راوړی.«وَرَحْمَةً»عمل کونکو په حق کښې رحمت وؤ،﴿لِّسَانًا عَرَبِيًّا﴾ حال دی دَضمیر «مصدق» نه(بیضاوي)

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا ٱللَّهُ﴾دلته نه بشارتونه ذکر کیږی،او دا حقوق الله په ادا کولو باندی بشارت دې یعنی چاپه الله ﷻ وحدانیت باندی ایمان راوړو اودین احکاماتو باندی عمل شروع کړو په استقامت سره نو هغه له به الله ﷻ دنیوی اخروی دواړه انعامات ورکوی، دنیوي انعام یی دادې چی زندګی به یی په آرام وی،خوف اوحزن به ورسره نه وی،اواخروې بدله همیشه دپاره جنت دې.

وَوَصَّيْنَا الْإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ إِحْسَانًا ۖ حَمَلَتْهُ أُمُّهُ كُرْهًا

اوتاکید کړیدي مونږانسان ته په باره دَمورپلارکښې دَاحسان کولو حمل کړی وی دی مور دَ ده په تکلیف سره

وَوَضَعَتْهُ كُرْهًا ۖ وَحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ ثَلَاثُونَ شَهْرًا ۚ حَتَّىٰ إِذَا

او زیګولې ئی وي په تکلیف سره،اوداحمل دده اوجداکول ئی دَ تی نه دیرش میاشتې وي. تردې چه کله دې

بَلَغَ أَشُدَّهُ وَبَلَغَ أَرْبَعِينَ سَنَةً قَالَ رَبِّ أَوْزِعْنِي

اورسي خوانئ خپلې ته او اورسي څلوېښت کالوته ، نو وائی دې اې ربه خماتوفیق راکړې ماته ددې چه

أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتِي أَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلَىٰ وَالِدَيَّ وَأَنْ أَعْمَلَ

خه شکراداکړم دَ نعمت ستا هغه چه دې کړیدې په ما اوپه مور پلار خما،او د دې توفیق راکړه چه خه اوکړم عمل

صَالِحًا تَرْضَاهُ وَأَصْلِحْ لِي فِي ذُرِّيَّتِي ۖ إِنِّي تُبْتُ إِلَيْكَ وَإِنِّي

نیک چه ته پرې راضي شې اوښه والي راوله مالره په اولادخماکښې،بیشکه خه توبه کوم تاته اوبیشکه خه

مِنَ الْمُسْلِمِينَ ﴿١٥﴾ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ نَتَقَبَّلُ عَنْهُمْ أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا

دَمسلمانانونه یمەدغه خلق هغه دی چه مونږقبوله وُددوئ نه ښائسته هغه عملونه چه دوئ کړی وی

وَنَتَجَاوَزُ عَن سَيِّئَاتِهِمْ فِي أَصْحَابِ الْجَنَّةِ ۖ وَعْدَ الصِّدْقِ الَّذِي

اومعافی کوُو دَ هغوئ دَ ګناهونو نه، په جنتیانو کښې به وی وعده د ریښتوني هغه چې

كَانُوا يُوعَدُونَ ﴿١٦﴾

چه دوئ سره کیدله.(په دنیا کښې)

﴿ وَوَصَّيْنَا الْإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ إِحْسَانًا ﴾په مخکښې آیت کښې دَحقوق الله په پوره کولوباندې بشارت وؤیدې آیت کښې دَحقوق العبادحکم اوپه پوره کولوئی بشارت اخرویه دي،مفسرین فرمائي چه داووه آیاتونه نازل شویدی په باره دَحضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه کښې،لیکن تعبیر ترینه په عامو الفاظوسره ځکه شویدې چه هرمسلمان ته پکښې تلقین دې چه دَ والدینو سره او

خصوصًا دَ مور سره ښه سلوک، احسان وکړی، او په عمر تيريدو سره دې الله ﷻ طرف ته رجوع کوی.

فائده: دآيت کريمی نه علماؤ استدلال کړيدې پدې چه په انسان باندې دَمورحق اوخدمت زيات دې دَحق دَپلار نه ځکه چه مور دَ بچی په باره درې تکليفونه برداشت کوی:

(۱) ﴿حَمَلَتْهُ أُمُّهُ كُرْهًا﴾ ترخو مياشتو پورې دَحمل دروندوالې برداشت کول

(۲) ﴿وَوَضَعَتْهُ كُرْهًا﴾ دَتولد په وخت کښ صعوبتونه تکليفونه برداشت کول

(۳) ﴿وَحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ﴾ ترخو مياشتو پورې بچی ته شودې ورکول چه داپه بدن کښ ډيره کمزوری پيدا کوی، په حديث کښ راځی چه يوسړی حضور ﷺ ته عرض اوکړوچه يارسول الله! من ابر؟ دَچاسره نيکی وکړم نو حضور ﷺ ورته اوفرمائيل امک هغی ورته اووې بيادَچاسره حضور ﷺ ورته اوفرمايل ثم امک په دريم ځل ئی بياتپوس اوکړو ثم من حضور ﷺ ورته اوفرمايل امک او په څلورم ځل ئی ورته اوفرمايل چه اباک.

﴿وَحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ ثَلَاثُونَ شَهْرًا﴾ مضاف مقدردې ای مدة حمله وفصاله، فصال مصدر دې پمعنی دَ فطام سره، شودو پريخودلو ته وائی يعنی رضاعت آخري مدت؛

آيت دی حصه کښ دوه مسئلی بيانيږی: (۱) اقل مدت دحمل، (۲) اکثر مدت درضاعت

(۱) دحمل کم ازکم مدت شپږ مياشتې دي ځکه چی دلته الله ﷻ دَحمل او رضاعت مجموعی مده دونيم کاله ذکر کړه. ديکښ دوه کاله مده دَرضاعت ده ځکه چی سورت البقره کښ صفا راغلی دی: والوالدات يرضعن اولادهن حولين کاملين تو پاتې شو نيم کال يعنی شپږ مياشتی چی هغه مدت دَ حمل دې، روايتو کښ راغلی دی چی حضرت عثمان رضی الله عنه زمانه کښ دَيو ښځی بچی پيدا شوه پوره په شپږو مياشتو مودې کښ، چونکه دا عادت خلاف وو نو خاوند يې عثمان رضی الله عنه ته راغلی، حضرت عثمان په هغی ښځی رجم فيصله اوکړه، حضرت علی رضی الله عنه ته پته اولګيده نو هغه يی منع کړو، او دَحمل کم ازکم مدت باندې په دې آيت سره استدلال کړو،

(۲) دويمه مسئله اکثر مدت د رضاعت ده، جمهور فقها په نيز اکثر مدت دَرضاعت دوه (۲) کاله ده لکه والوالدات يرضعن اولادهن حولين کاملين کښ دَدی صفاذکر دې، ليکن امام

ابو حنيفه رحمه الله په نيز اكثر مدت دوه نيم كاله ده،صاحب هدايه دامام صاحب ،په دليل كښې دا آيت پيش كړيدى او استدلال يې ترينه په دې شان كړيدې چې الله ﷻ دلته دَ حمل او دَ فصال (يعنى دَشودونه جدا كول) دَپاره يوه موده بيان كړيده چه﴿ثَلٰثُوْنَ شَهْرًا﴾ دې تقاضه دا ده چې دا د ديرش مياشتو مده دې دواړو كښې هر يو د پاره مستقل مستقل وي ، په دوئ دې تقسيم نه وي ، ليكن چونكه دَمدې دَحمل دَپاره منقص(كمه ونكې)موجود دې چې قول دَحضرت عائشه رضي الله عنها دې چه"الولد لايبقى فى بطن امه اكثرمن سنتين و لو بقدر فلكة مغزل "نودې وجهې نه اكثره مده دَحمل دوه كاله ده،ليكن امر ثانى يعنى فصال به په خپل ظاهرباندې باقى وى چه ﴿ثَلٰثُوْنَ شَهْرًا﴾ ديرش مياشتې دې،لهذاثابته شوه چه مده دَرضاعت دوه نيم كاله ده.ليكن دا استدلال ضعيف دې:

(۱)...ځكه چې سورت البقرة آيت او رواياتو كښې صفا ذكر دَ دوه كالو دې

(۲)...صحابه كرامو دآيت مطلب متعين كړيدې چې هغه دا نه دې لكه دور عثمانى واقعه تيره شو ،

(۳)...كچرته قول دَ حضرت عائشه رضي الله عنها "منقص" كيديشى په حق دَحمل كښې نو آيت و الوالدات... بطريق اولى "منقص" كيديشى په حق دَرضاعت كښې، لهذا جمهور قول قوى اور مفتى به دې.

بعض حضراتودَامام صاحب قول مطلب داسې بيان كړيدى چې امام صاحب په نيز هم اكثره مدت دَرضاعت ۲كاله ده،خو عام فقهاء دوكالو نه بعد بچى ته پئ وركولو ته حرام وائى او امام صاحب رحمه الله مزيد شپږ مياشتو پورى پئ وركول جائز ګڼړى،ځكه چې دوه كاله پورى رضاعت خوبالاتفاق جائز دى اوس كه يو بچې مسلسل دوه كاله پورې د مور پئ اوڅكى،نو هغه يودم خپله غذانشى بدلولى،هغه ته دومره موقع او وخت وركول پكاردى چى هغې كښې هغه رو رو خپل خوراک تبديل كړى اوهغه شپږ مياشتى مده ده (تفسير مظهرى)

حضرت تهانوى رحمه الله فرمائى چې مفتى به قول اګر چه دَ جمهورو دې ليكن خاص نكاح په صورت كښې احتياطا امام صاحب قول رعايت ساتل پكار دى(احكام القرآن)

﴿حَتّٰٓى اِذَا بَلَغَ اَشُدَّهٗ﴾ والدينو سره حسن سلوک نه بعد اوس دَبندګانو تقسيم كيږى،چې ځنى دى وصيت الهى باندى عمل كوى او ځنى نافرمانى، دآيت دى حصه كښې فرمانبردار بنده

تذکره ده. حتی غایه ده دپاره د محذوف اي عاش واستمر حتیيعنی دومره زندګی ورته میلاؤ شی چی هغه زمانی ته اورسی چي عقل اوقوی ئي مستحکم شی . داکومه زمانه ده . دیکښ متعدد اقوال دی:

(۱)دینه مراد بلوغت اوتکلیف زمانه ده،چی انسان دَاحکامات الهیه مکلف اوپابند شی

(۲)دريِ دیرش(۳۳) کاله عمرمراد دی.

(۳)څلویښت(۴۰) کاله مراد دي، دې قول مطابق وبلغ اربعین سنةماقبل تفسیر دی.

(۴) راجح قول دا دې چې دا دیرشو نه واخله تر څلویښتو کالو پورې عمر دې

﴿رَبِّ أَوْزِعْنِىٓ أَنْ أَشْكُرَ﴾ دیکښ دريِ دعاګانو ذکر دې:

(۱)توفیق دَشکر په نعمتونو باندې،اوخصوصا اسلام او توحید باندې چی هغه ټولو کښ لوئ نعمت دې، ﴿عَلَىَّ وَعَلَىٰ وَٰلِدَىَّ﴾والدینو باندې نعمت چونکه داسې دې لکه په انسان باندې بعینه خپله وی نوځکه دهغې شکرتوفیق سوال اوشو.

(۲)اعمال صالحه توفیق.

(۳)صالح اولاد ،دَاولاد صالحیت اونیک والی دعا چی انسان ته مرګ نه بعد هم فائده رسوی. ((واصلح لي في ذريتي))اصلاح فعل بغیر واسطې د حرف جر نه متعدي کیږي ، او دلته د پاره د مبالغې په واسطه د حرف جر 'في' سره متعدي شوې دې ، ذریت پمنزله د ظرف او اصلاح ورله پمنزله د مظروف ګرځولې شوې دې ،یعني صلاح څما په ذریت کښې داسې راسخ کړه چې هډو سره ترینه اونه اوځي،

﴿إِنِّى تُبْتُ إِلَيْكَ﴾هر درخواست پیش کولو نه مخکښ څه نه څه سفارش اوشفاعت پکار وی، نو دیکښ هغه سفارش او شفاعت ذکر دې ، هغه توبه او اسلام دې.

مفسرین دې آیت تحت لیکی چه کوم انسان عمر څلویښت ۴۰ کاله ته اورسی نو هغه ته پکار ده چی خپله تیره شوی زندګی باندې یو نظر واچوی،مکمل الله ﷻ طرف ته متوجه شی او کوم لغزشات اوګناهونه ترینه شوی هغی نه توبه اوکی او آئنده دپاره دَعمل عزم اوکی.

﴿أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ﴾ای اولئک المنعوتون بماذکرمن النعوت الجليلة(روح)دا بشارت دې یعنی دغه صفاتو والا داسې دی چه مونږئی حسنات قبوله وؤاوسئيات ئی معاف کوؤ. ﴿فِىٓ أَصْحَٰبِ

﴿الْجَنَّةِ﴾ اي كائنين في اصحب الجنة حال دي يعنى شمار به اهل جنت كښ وى. ﴿وَعْدَ الصِّدْقِ الَّذِي﴾ وعد مفعول مطلق دي د پاره فعل مقدر نعد۔

وَالَّذِيْ قَالَ لِوَالِدَيْهِ أُفٍّ لَّكُمَآ أَتَعِدَانِنِيْٓ أَنْ أُخْرَجَ
اوهغه كس چه وائي مورپلار خپل ته افسوس دى وى په تاسودواړو آيا تاسو وعده كوئ ماسره دې چه راوبه ويستلې شمه خه دقبرنه،
وَقَدْ خَلَتِ الْقُرُوْنُ مِنْ قَبْلِيْ ۚ وَهُمَا يَسْتَغِيْثٰنِ اللّٰهَ وَيْلَكَ اٰمِنْ ۖ
حال داچه تيرى شويدى ډيرې دلې خمانه مخكښ،اودادواړه فريادكوئ الله ﷻ ته،اوبجى ته وائى هلاك شى ايمان راوړه،
اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ ۚ فَيَقُوْلُ مَا هٰذَآ اِلَّآ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ⑰ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ
بيشكه وعده د الله ﷻ«بعث»حقه ده،نووائى دې ندى داخبرى مگرقصې د مخكنوخلقودى داهغه خلق دى
حَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ فِيْٓ اُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِمْ
چه ثابته شويده پدوئ باندى فيصله دعذاب،«شمار به وي» په هغو ډلو كښې چه تيرې شويدى مخكښ ددوئ نه
مِّنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ ۚ اِنَّهُمْ كَانُوْا خٰسِرِيْنَ ⑱ وَلِكُلٍّ دَرَجٰتٌ
د پيريانو او انسانانو نه ، بيشكه دوئ وو نقصان مند. او د پاره هريوعمل كونكى مختلفې درجې وى
مِّمَّا عَمِلُوْا ۚ وَلِيُوَفِّيَهُمْ اَعْمَالَهُمْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ⑲
دوجه دعملونودوئ نه اوچه پوره پوره وركړى الله ﷻ دوئ ته بدله دعملونودوئ اوپه دوئ به ظلم نه كيږى

﴿وَالَّذِي قَالَ لِوَالِدَيْهِ﴾ والدينو مطيع او فرمانبردار خوى تذكره اوهغه ته بشارت نه بعد اوس دنافرمان اولاد تذكره اوهغوئ ته زجر دتخويف ذكر كيږى يعنى نيک اولاد بالمقابل داسې اولاد هم شته چې مور پلار ورته سوالونه كوى چې ايمان راوړه، آخرت زندگى را روانه ده هغه به دې خائسته شى او الله ﷻ نه ورله دعاگانې هم غواړى ليكن هغه ايمان نه راوړې، آخرت زندگې نه انكار كوى او وائى چې دا تاسو كومې خبرې كوئ دا دزړه خلقو افسانې او واقعات دى، رواياتو كښ راغلي دى چې كله حضرت معاويه ﷺ د خپل زمانه خلافت آخرى ورخو كښ خپل خوي يزيد بن معاويه خان نه ورستو خليفه مقرر كړو،نو خپلو عاملينو او

گورنرانو ته یی حکم اوکړو چی اوس نه ځماپه موجودګئ ـکښې خلقو نه د یزید دپاره بیعت واخلئ ، حجاز گورنر هغهٔ وخت کښې مروان بن حکم وؤ ، هغه خلقو ته یزید په لاس بیعت کولو ترغیب ورکړو او ورته یی اویل چی معاویه ﷺ دا کار بالکل دحضرت ابوبکر اوعمر ﷺ طرز موافق دې، هغوئ هم ځان نه بعد خپل ژوندانه کښې خلیفه مقرر کړې وو او معاویه ﷺ هم داسې اوکړو ،مجلس کښې عبدالرحمن بن ابی ابکر ناست وؤ .هغه انکار اوکړو اواوئیل ماهي الا هرقلیة یعنی داخو دروم په طرز مورثی حکمرانی ده.مروان ورته بیا اوئی چه دا د ابوبکر اوعمر ﷺ سنت دې،حضرت عبدالرحمن بن ابي بکر بیا هغه جواب ورکړو چی دا هرقلیه ده، ابوبکر اوعمر نه خپل ځوې خلیفه مقرر کړیدې او نه ئی څوک خپل رشته دار، مروان له په دې غصه ورغله او دعبدالرحمن دگرفتارئ حکم یی اوکړو ،عبدالرحمن ﷺ اوتختیدو او حضرت عائشه رضي الله عنها حجره کښې ننوتلو .مروان اویل دا هغه کس دې چی ده په باره کښې الله ﷻ د قرآن دا آیت نازل کړیدی: والذي قال لوالدیه... حضرت عائشه ﷺ چی دا واوریدلو نو د پردې شاته نه ئی اوفرمائیل؛ الله ﷻ ځما دبرات نه علاوه نور څه آیاتونه نه دی نازل کړی ، ماته خه پته ده چې دا آیاتونه چا په باره کښې نازل شویدی لیکن څه یی نه ښایم .

خلاصه دا د چی دې آیت نه حضرت عبدالرحمن بن ابي بکر مراد اخستل بالکل صحیح نه دی، بلکه یو کافر باره کښې نازل شویدی،سبب نزول یی که هر څوک وی خو آیت مصداق عام دې هرنافرمان ته شامل دې.

﴿أُفٍّ لَّكُمَآ﴾کلمه د "اُف" داظهاردنفرت دپاره ده،تفصیل ئی په بنی اسرائیل(۲۳)کښې تیر شویدې.﴿أَتَعِدَانِنِيٓ أَنْ أُخْرَجَ﴾ یعنی آیادمرګ نه ورستوبه بیاځه رااوباسلې شم د قبر نه، ﴿وَقَدْ خَلَتِ ٱلْقُرُونُ مِن قَبْلِي﴾استدلال کوی په نفی دبعث بعدالموت نه اومطلب ئی یادادې چه ځمانه مخکښې ډیرخلق مړه شویدی نوکوم یوبیاژوندې شو؟یامطلب دادې چه ځمانه مخکښې هم ډیرتکذیب کونکی دبعث تیرشویدی(روح)

﴿وَيْلَكَ ءَامِنْ﴾کلمه د "ویل"په اصل کښې دعابالهلاک ده، خو کله ترینه بدعا مقصود نه وي بلکه یو کار کولو یا نه کولو باندې آماده کول مقصود دي او دلته هم دا د تحریض یعني ایمان باندې آماده کولو پاره استعمال دې.

﴿حَقَّ عَلَيۡهِمُ ٱلۡقَوۡلُ﴾ تخویف دي او «القول» نه مراد قول دَالله ﷻ دي ابلیس ته "لاملأنّ جهنّم منک وممن تبعک منهم اجمعین". ﴿فِيٓ أُمَمٖ﴾ حال دي ای کائنین فی امم، ﴿مِّنَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ﴾ بیان دَ ﴿أُمَمٖ﴾.

فائده: په آیت کریمه کښې لکه څرنګه چه صراحتاً دَ والدینو سره دَ ښه سلوک کولو او دَهغوئ اطاعت کولو حکم دې، او په نافرمانئ باندې زجر دې، نو دغه رنګه اشارةً والدینو ته هم حکم دې چه اولاد ته دَ ایمان، عمل صالح، کسب حلال وغیره ماموراتو حکم کوی او دَ ګناه، حرام مال کسب کولو، او غلط ماحول نه دَ بچ کیدلو وغیره منهیاتو نه دې په سختئ سره منع کوی.

﴿وَلِكُلّٖ دَرَجَٰتٞ﴾ دا ماقبل بشارت او تخویف دواړو سره متعلق دې ، یعني څوک چې حقوق الله او حقوق العباد پوره کوي هغه له به مونږ جنت ورکو او که څوک چې ئې نه پوره کوي هغه به مونږ جهنم ته لیږو خو دا نه ده چې ټولو نیکانو دپاره د جنت یوه درجه وي او دغه شان ټول مجرمان به د جهنم یوه طبقه کښې وي ، بلکه حسن عمل او جرم اعتبار سره به په دیکښې د درجاتو او طبقاتو فرق وي ،تنوین په﴿لِكُلّٖ﴾ کښې عوض دې دَمضاف الیه نه. ای لکل عامل درجاتٌ.

که څوک اشکال اوکړی چه درجات خو دَ جنت دپاره وی، دَجهنم دَپاره درکات وی، نو څرنګه اطلاق په درکاتو دَجهنم دَدرجات اوشو؟ جواب دادې چه دا یا تغلیباً شویدې، یا په اعتبار دَ معنی لغوی سره شویدې، یعنی زیاتیدل، که عُلواً وی لکه دَاهل جنت او که سفلاً وی لکه دَ اهل جهنم(کبیر). ﴿وَلِيُوَفِّيَهُمۡ﴾ داعلت دې دَمعلل محذوف ای قدرنا تلک الدّرجات لیوفیهم... یعني دا درجات او فرق مراتب خو ځکه مقرر کړي دي چې هر چا ته د خپل عمل اجر پوره پوره میلاؤ شي ، ظلم ، زیاتي او بې انصافي چا سره اونشي ﴿لَا يُظۡلَمُونَ﴾ په حقوقو کښې به ورسره ظلم نه کیږی چه دَچا ثواب کم شي یا دَاستحقاق نه زیات عذاب ملاؤ شي.

وَيَوۡمَ	يُعۡرَضُ	ٱلَّذِينَ	كَفَرُواْ	عَلَى	ٱلنَّارِ	أَذۡهَبۡتُمۡ طَيِّبَٰتِكُمۡ

اوپه هغه ورځ چه پیش کړي شي هغه خلق چه کافران دی په اور دَجهنم (ورته به اوویلې شي) وړیدي تاسو خپلې مزې

فِيْ حَيَاتِكُمُ الدُّنْيَا وَاسْتَمْتَعْتُمْ بِهَا فَالْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ
په خپل ژوند دَ دنيا كښ او نفعه اخيستى وه تاسوپه هغې سره،پس نن ورځ تاسوته سزادركوليشى دَعذاب
الْهُوْنِ بِمَا كُنْتُمْ تَسْتَكْبِرُوْنَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَبِمَا كُنْتُمْ
رسواكونكى پوجه دَ دې چه تاسو تكبر كولو په زمكه كښ په ناحقه سره اوپه وجه دَدى چه تاسو
تَفْسُقُوْنَ ﴿٢٠﴾
گناهونه كول

﴿وَيَوْمَ يُعْرَضُ الَّذِينَ كَفَرُوا﴾داهم تخويف أخروى دې،﴿أَذْهَبْتُمْ طَيِّبَاتِكُمْ﴾كنايه ده دَعدم ايمان نه،چه سبب دې دَحرمان دَطيبات الاخرة نه،يعنى كچرته تاسواَيمان راوړې وې نوستاسودَپاره به طيبات الاخرة وؤليكن تاسوايمان رانه وړلواوخپل طيبات موپه دنياكښ ختم كړل،نونن ماسوىٰ دَعذاب الهون بل څه نشته دې﴿وَاسْتَمْتَعْتُمْ بِهَا﴾ددينه مطلق استمتاع اولذت ندې مرادچه هغه ممنوع اومذموم ندې بلكه هغه چه دَخدافراموشئ اورآخرت فراموشئ ذريعه اَوگرځى.

﴿بِمَا كُنتُمْ تَسْتَكْبِرُونَ فِي الْأَرْضِ﴾دَايمان نه راوړلودوه سببونه ذكركيږى،يوناحق تكبرچه دا انسان دَحق اتباع نه منع كوى،دويم فسق چه په بى خوفئ سره ارتكاب دَ معاصيؤ كوى، مومن سړى ته دَدې دواړونه خپل ځان بچ كول پكاردى اودغه رنگه دَآيت مذكوره مقتضى داهم ده چه دَتنعم اودَتن پرورئ نه دې كناره كش وى، معاذبن جبل﷜ فرمائى چه كله حضور ﷺ څه دَيمن قاضى جوړكړم اوليږلم ئى نودائى راته اوفرمايل چه دَتنعّم اودَعيش پرورئ نه بچ اوسيږه ځكه چه دَالله ﷻ بندگان تن پرورنه وى.بله داچه كله نفس په تنعم باندې عادت شى نوبياىٔ په قبضه كښ راوستل گران وى،نوبيااكثردَتنعماتودَحصول دَپاره دَحرامو ارتكاب كوى.

حضرت عمر﷜ يوځل اوبه اوغوختلې،نودگبين شربت ورته وركړيشو ،نوونې فرمايل: چه داخوعمده څيزدې ليكن دَالله ﷻ داقول:اذهبتم طيباتكم.....الاية،نه په خوف كښ يمه چه هسې نه چه دَلذاتوڅيزونه څه په دنياكښ استعمال كړم،اوپه قيامت كښ راته اوويلې شى

چه "اذهبتم طيباتكم ... الاية" دائي اوويل او شربت ئې اونه څکلو .حضرت عمر رضي الله عنه به په خپل دور خلافت کښې داهم فرمايل: لوشئت لكنت اطيبكم طعاما واحسنكم لباسا ولكن استبقي طيباتي للاخرة، د دې علاوه د حضرت عمر رضي الله عنه په باره کښې د تزهيد في الدنيا او د قناعت نور ډير اقوال هم منقول دي. حضرت علي رضي الله عنه د حضور ﷺ نه په يو روايت کښې دا ارشاد نقل کوي چه کوم سړې د الله جل جلاله په لږ رزق باندې راضي شي نو الله جل جلاله هم د هغه نه په لږ عمل راضي کيږي

وَاذْكُرْ اَخَا عَادٍ ۭ اِذْ اَنْذَرَ قَوْمَهٗ بِالْاَحْقَافِ وَقَدْ خَلَتِ

او ياد کړه نه رور د عاد يانو (هود عليه السلام) کله چه ئې او يرولو قوم خپل په احقاف مقام کښې او په تحقيق سره تير شوې دي

النُّذُرُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهٖٓ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ

نور ډير رسولان مخکښې د ده نه او ورستو د ده نه (دائي ورته اوې) چه مه کوئ عبادت مگر د يو الله جل جلاله کوئ،

اِنِّىْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿21﴾ قَالُوْٓا اَجِئْتَنَا لِتَاْفِكَنَا

بيشکه چه څه يريږم په تاسو د عذاب د ورځې لوئې نو ويل دوئ آيا راغلې ئې ته مونږ ته د پاره د دې چه واړوې ته مونږ

عَنْ اٰلِهَتِنَا ۚ فَاْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿22﴾ قَالَ

د معبودانو خپلو نه، نو راوله مونږ ته هغه عذاب چه ته يروې مونږ کچرته يې ته د رشتينو نه هود عليه السلام ورته وويل

اِنَّمَا الْعِلْمُ عِنْدَ اللّٰهِ ۡ وَاُبَلِّغُكُمْ مَّآ اُرْسِلْتُ بِهٖ

چه بيشکه خبره هم داده چه علم د عذاب الله جل جلاله سره دې، او څه خو تبليغ کوم تاسو ته د هغه څه چه څه پرې راليږلې شوې يم،

وَلٰكِنِّيْٓ اَرٰىكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُوْنَ ﴿23﴾ فَلَمَّا رَاَوْهُ عَارِضًا

ليکن څه وينم تاسو چه تاسو قوم جاهلان يئ نو هر کله چه دوئ اوليدلو هغه عذاب په شکل د وريځ کښې

مُّسْتَقْبِلَ اَوْدِيَتِهِمْ ۙ قَالُوْا هٰذَا عَارِضٌ مُّمْطِرُنَا ۭ بَلْ هُوَ

چه راتله مخامخ د دوئ فصلونو ته، او وئيل دوئ دا وريځ ده باران به اوکړی په مونږ (هود عليه السلام او وئيل) بلکه دا

مَا اسْتَعْجَلْتُمْ بِهٖ ۭ رِيْحٌ فِيْهَا عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝ تُدَمِّرُ كُلَّ شَيْءٍۭ بِاَمْرِ رَبِّهَا
هغه عذاب دې چه تاسوتلوارکوله ده هغې، هوا ده په دیکښې عذاب دردناک دې. تباه کوی هرڅیزپه حکم د رب خپل،
فَاَصْبَحُوْا لَا يُرٰٓى اِلَّا مَسٰكِنُهُمْ ۭ كَذٰلِكَ نَجْزِي الْقَوْمَ الْمُجْرِمِيْنَ ۝
نودوئ اوګرځیدل داسې چه لیدلې نه شول مګرکورونه د دوئ،هم دغه شان سزاورکوؤمونږقوم مجرمانوته

﴿وَاذْكُرْ أَخَا عَادٍ﴾دا تخویف دنیوی دې یعنی قوم عاد تاریخ ځان ته مخکښې کیګدئ هغوئ دَوخت رسول هود ﷺ خبره یې اونه منله،توحید اورسالت باندی ایمان را نوړو نو الله ﷻ ورسره څه حشر اوکو،دا دالله ﷻ دَجزاء ضابطه ده څه هغوئ پورې مخصوص نه ده، بلکه څوک چې هم دَوخت رسول اطاعت نه کوی الله ﷻ به ئې هلاک کړی،او الله ﷻ په مقابله کښې هیڅ قوت ورته نفع نشی ورکولې.

﴿إِذْ أَنذَرَ قَوْمَهُ﴾بدل اشتمال دې دَ"واذکر....الخ"نه﴿بِالْأَحْقَافِ﴾"احقاف"دَحقف جمع ده دَشګوووګدوووګدوغونډوته وائی،په کومه علاقه کښې چه قوم عاداوسیدلوهلته دَشګوډیرې ډیرئ اوغونډئ وې،ځکه ورته احقاف وائی او دادَ"عمان" او"مهره" په مابین کښې علاقه ده،علامه شبیراحمدعثمانی رحمه الله په حواله دَ"ارض القرآن"لیکلی دی چه عادارم دَ نجران او حضرموت ترمینځ علاقه کښې ابادوؤ.د قوم عادتاریخ اوپه مذکوره آیاتونوکښې چه دَهغوئ دَ هلاکت کومه تذکره ده،حضرت والدنوّرالله مرقده وبرّدمضجعه الی یوم البعث،دَسورة اعراف او هود(۵۰) په تفسیرکښې په مکمل بسط اوتفصیل سره ئې ذکرکړیده،هلته ئې ملاحظه کړئ.

﴿وَقَدْ خَلَتِ النُّذُرُ مِنۢ بَيْنِ يَدَيْهِ﴾دَجمله معترضه ده او نبی ﷺ ته حکم دې چې اې نبی!صرف هود ﷺ او دَ قوم عاد په قصه اکتفاء مه کوه،بلکه دینه مخکښې او ورستو هم ډیر داسې رسولان تیرشویدی چه هغوئ خپل قوم ته دعوت ورکړیدې خو قوم ورسره نه دې منلې او الله ﷻ په هغوئ عذاب راوستې دې، نو ټول واقعات ورته واوروه چه په دوئ واضحه شي چې دا صرف د یوم قوم معامله نه ده بلکه هر مجرم سره دَ الله ﷻ دا دستور دې.(کشاف)

﴿ لِتَأْفِكَنَا﴾اى لتصرفنا،يعنى ستاسو بل مقصد نه دي مگر دا چه ته مونږ دَمعبودانو سره حسد كوې او مونږئى دَعبادت نه اړوې﴿قَالَ إِنَّمَا ٱلْعِلْمُ ﴾يعنى دَعذاب مقرره ورځ دَالله ﷻ په علم كښ ده چه كله به راځى،څه خو صرف تاسو دَعذاب نه يروم،چه خامخا به راځى كه ايمان مورانه وړو، ﴿وَلَـٰكِنِّىٓ أَرَىٰكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُونَ﴾ ځکه چه توحيدهم نه قبلوئ اوبيا دَعذاب مطالبه هم كوئ نو دا لوئ جهل دې.

﴿فَلَمَّا رَأَوْهُ ﴾ديكښ دعذاب بيان دې ضميرراجع دې'ما'ته په'ماتعدُنا'كښ چه ذكر دې، ﴿عَارِضًا﴾ ورله حال دې او زجاج رحمه الله په نيز ‹‹ راوه›› ضمير منصوب مبهم دې او‹‹عارضاً›› ورله تمييز دې ،'عارض' په اسمان كښې خورې وريځې ته وائي صورت دَعذاب داوو(لكه په اعراف كښ چه تيرډى)چه دوئ ته گرمى شوې وه،يخه هوا راغله او په اسمان كښ ئى توره وريځ اوليده نو خوشحاله شوچه اوس به باران اوشى وئ ويل﴿قَالُوا۟ هَـٰذَا عَارِضٌ ﴾داوريځ ده په مونږبه باران اوكړى، نووريځ راتله راتله نوپدوئ باندې ئى اور اورولو او ټول هلاک شول

﴿ بَلْ هُوَ مَا ٱسْتَعْجَلْتُم بِهِۦ ﴾'قال هود'ورته مخكښ مقدردې،يعنى هود عليه السلام ورته اوويل چه دا باران نه دې بلكه هغه عذاب دې چه تاسو په جلدئ سره غوختلو ،﴿رِيحٌ ﴾بدل دې دَ 'ما' نه په ‹‹ما استعجلتم به ›› كښې ، يا خبر دَ مبتدا محذوف دې اى هي ريحٌ ... حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائى چه كله به وريځ، سيلئ وغيره شوه دَنبى كريم ﷺ په مخ مبارك به دَ هغې اثر ښكاره كيدو او دَ مخ مبارک رنگ به ئى بدل شو،اودَخوف دَوجهې به ئى كله دننه تشريف راوړلو او كله باهر، او دا دعاء به ئى ويله: اللّهم انى اسئلک خيرها و خير ما فيها و خير ما اُرسلت به ، و اعوذ بک من شرّها و من شرّ ما فيها و شرّ ما ارسلت به، اوهركله چه به باران شونو په مخ به ئى خوشحالى ښكاره شوه،ماعرض اوكړوچه اې دَالله رسوله! ټول خلق چه كله وريځ اووينى نو خوشحاله شى، ليكن تاسو پريشانه شئ؟ حضور ﷺ اوفرمايل:اې عائشه! ماته دَدې څه تسلى ده چه پدې كښ چرته عذاب نه وى،قوم عادته په هواسره عذاب وركړې شوې وؤاوبيائى دا آيت مذكوره تلاوت كړو.

وَلَقَدْ	مَكَّنّٰهُمْ	فِيْمَآ	اِنْ	مَّكَّنّٰكُمْ	فِيْهِ	وَجَعَلْنَا
اوپه تحقيق سره قوت وركړي وؤمونږهغوئ ته په هغه كښ چه نه مودي دركړي ناسوپه هغي كښ اووركړي مووژ						

لَهُمْ سَمْعًا وَّاَبْصَارًا وَّاَفْـِٕدَةً ۖ فَمَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ سَمْعُهُمْ وَلَآ اَبْصَارُهُمْ
هغوئ ته غوږونه اوسترگى اوزړونه،نو فائده ورنكړه دوئ ته غوږونو د دوئ او نه سترگو د دوئ
وَلَآ اَفْـِٕدَتُهُمْ مِّنْ شَيْءٍ اِذْ كَانُوْا يَجْحَدُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَحَاقَ بِهِمْ
اونه زړونودَدوئ د هيڅ څيز څكه چه وؤدوئ انكاربه ئى كولو دَ آياتونو دَ الله جل شانه اوگير كړو دوئ
مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿٢٦﴾
هغه عذاب چه دوئ په هغي پوري مسخري كولي

﴿ وَلَقَدْ مَكَّنّٰهُمْ ﴾دى آياتونو كښ التفات دي اهل مكه ته يعني دا اهل عاد وؤ باوجود دَ دينه چي دوئ قوت ستاسونه زيات وؤ ليكن كله چي دَفرمانئ د وجهي نه پرې دا الله تعالیٰ عذاب راغي نو هغي قوت ورله هيڅ فائده ورنكړه نوستاسو څه حيثيت دي.﴿فِيْمَآ﴾ "ما" موصوله ده او "ان" نافيه دي، تقدير دارنگه دي،مكنّاهم في الّذين مامكناكم فيه،يعني اې اهل مكه! قوم عادته مونږ هغه مالونه، اولادونه، پاخه مكانونه،جسمانى طاقت وغيره وركړي وؤ، چه تاسوته مونه دى دركړي، نوهغوئ دَ كفر په وجه هلاک شول نوستاسوڅه حيثيت دې چه نه به شئ هلاک؟﴿وَجَعَلْنَا لَهُمْ سَمْعًا وَّاَبْصَارًا ﴾اشاره ده هرقسمه جسمانى،عقلى صلاحيتونو ته چه اسباب دَحفاظت دى،﴿ فَمَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ ﴾يعني دغې اسبابو دوئ دَعذاب الهى نه بچ نه كړل چه ايمان ئى رانه وړو،﴿ اِذْ كَانُوْا يَجْحَدُوْنَ ﴾تعليل دي دَماقبل.

وَلَقَدْ	اَهْلَكْنَا	مَا	حَوْلَكُمْ	مِّنَ	الْقُرٰى	وَصَرَّفْنَا الْاٰيٰتِ
اوپه تحقيق سره مونږهلاک كړيدى هغه چه گيرچاپيره دى دَستاسونه كوم كلي اوبيابياورته بيان كړل مونږ						

لَعَلَّهُمْ	يَرْجِعُوْنَ	﴿٢٧﴾ فَلَوْلَا	نَصَرَهُمُ	الَّذِيْنَ	اتَّخَذُوْا
آیاتونه دپاره ددې چه دوئ رااوګرځی دشرک نه،نوولی اونکړوامداددوئ سره هغه معبودانوچه نیولی ئی وو					
مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ قُرْبَانًا اٰلِهَةً ۚ بَلْ ضَلُّوْا عَنْهُمْ ۚ وَذٰلِكَ اِفْكُهُمْ					
ماسوئ دالله ﷻ نه خدایان دپاره دنزدیکت دالله ﷻ نه بلکه غائب شول د دوئ نه. او دا هلاکت اثروو د دوئ د دروغو					
وَمَا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿٢٨﴾					
او د دوئ د افتراء.					

﴿ وَلَقَدْ أَهْلَكْنَا مَا حَوْلَكُمْ ﴾ بل تخویف دې اهل مکو ته . د ﴿مَا حَوْلَكُم مِّنَ الْقُرَىٰ﴾ نه مراد ګیر چاپیره د قوم هود، لوط، ثمود، وغیره معذب کلی دی چه اهل مکه ئی دانجام نه ښه واقف وو، ځکه دوئ به تجارت دپاره شام، یمن ته تلل نوپه لاره کښ به ئی لیدل. لیکن بیائی ورنه هم عبرت وانه خستلو.

﴿فَلَوْلَا نَصَرَهُمُ الَّذِينَ اتَّخَذُوا ﴾، دا د مشرکینو سوال جواب دې چه دوئ به ویل چه زمونږ د معبودانو په بلنې کښ ضرور تاثیر شته، ځکه چه مونږ چه ورنه سوال اوکړو یا ئی عبادت اوکړو نو حاجت موپوره کیږی ، الله ﷻ ئی جواب کوی چه دادروغ اوافتراء ده. کچرته تاثیروې ددوئ په عبادت اوبلنه کښ ، نو بیا ئی دغه معذب کلی او خلق زمونږ دعذاب نه ولې خلاص نه کړل او نصرت ئی ورسره ولې اونکړو؟ یعنی دې قومونه نه عبرت واخلئ کله چې پرې عذاب راغی نوهیڅ شئ هم نفع ورنکړه او هغه شیاطین اومعبودان باطله چې دوئ یې عبادت کولو هغه ترینه غائب شو

﴿ اتَّخَذُوا ﴾ مفعول اول ئی هم محذوف دې، مفعول ثانی ئی ﴿ءَالِهَةً ﴾ دې، او ﴿ قُرْبَانًا﴾ یا پمعنی دتقرب سره، مفعول له دې، یعنی دوئ نیولی وو خپلو معبودانو لره په خدائ سره دپاره د نزدیکت الله ﷻ ته، کقوله ما نعبدهم الاّ لیقربونا الی الله زلفٰی یا پمعنی دمتقرباً حال دې، ﴿بَلْ ضَلُّوا عَنْهُمْ ﴾ پمعنی د غابوا عنهم یعنی په وخت دعذاب کښ ورنه پټ شول، پدې کښ تهکم اوپیغور دې

﴿وَذَٰلِكَ﴾اشاره ده ضلال د آلهؤو ته او د هغوئ نصرت نه کولو ته ،﴿إِفْكُهُمْ﴾افک مصدر دي د افک يافک نه پمعنى د ((صرف)) اړيدلو کښ راځي،دلته مضاف محذوف دى اي ذلک اثر صرفهم عن الحق يعنى دا دحق اوتوحيد نه اعراض اواړيدلو نتيجه ده.﴿وَمَا كَانُوا يَفْتَرُونَ﴾ما مصدريه ده اي اثر افترائهم ، يعنى ددوئ د دروغو نتيجه ده ،ځنى مفسرينو دلته افک پمعنى ددروغو سره اخيستى دى چونکه دې صورت کښ تکرار اشکال پيداکيږى ځکه چى افک هم دروغو ته وائى او افتراء هم ،نو دوئ مابين کښ دلته ځوفرقونه بيان کړيدى:

(۱)افک مصداق خاص قسم دروغ دى چى هغه غير الله ته الله ويل او هغوئ ته خدائ درجه ورکول دى ،افترا عام ده مختلف انواعوددروغو ته شامل ده که هغه شرک وى او که غير شرک، لکه سائبه بحيره باندى افترا اطلاق شوې دې، ما جعل الله من بحيرة ولا سائبة ولا وصيلة ولاحام ولكن الذين يفترون الله الكذب(المائدة)دى صورت کښ عطف ده افترا په افک باندى عطف العام على الخاص قبيلى نه دې(فتوح الغيب)

(۲)ځنې مفسرينودا فرق بيان کړيدى چې افک هغه دروغو ته وائى چى هغى کښ اشتراک وى چاته پکښ خصوصيت نه وى حاصل اوافتراهغه دروغوته وائى چى هغى کښ خصوصيت وى بنسبت يوفرد د جماعت ياقوم وغيره ته،نو د افک تعلق غير الله ته معبود ويلو سره دې ،چى شرک دې،دامخکښ امتونو کښ هم وؤ،مشرکين ته څه خصوصيت نه دى حاصل.اوافتراء تعلق غير الله دتقرب وسيله ګرځولو سره دې.چې داخاص دمشرکينومکه عقيده ده(التحرير والتنوير)

بعض مفسرينو دلته کښ ((ذلک)) مشاراليه اتخاذ الاصنام الهةګرځولې ده،دى صورت کښ بيا مضاف مقدر منلو حاجت نشته،معنى به داوى:دې بتانوته الهه اوشفعا ويل د دوئ دروغ اوافتراده په الله ﷻ باندى(روح)

وَإِذْ صَرَفْنَا إِلَيْكَ نَفَرًا مِّنَ الْجِنِّ يَسْتَمِعُونَ الْقُرْآنَ فَلَمَّا حَضَرُوهُ
اوکله چه مونږمتوجه کړله تاته يوه ډله دپيريانونه چه آوريدلو ئي قرآن.نوهرکله چه حاضرشول قرآن ته

قَالُوٓا اَنْصِتُوْا ۚ فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوْا اِلٰى قَوْمِهِمْ مُّنْذِرِيْنَ ﴿٢٩﴾ قَالُوْا
وئ ويل چه چپ شئ.نوهركله چه ختم شولاوت.واپس لاړل دوئ خپل قوم ته يره ونكى.وئ ويل
يٰقَوْمَنَآ اِنَّا سَمِعْنَا كِتٰبًا اُنْزِلَ مِنْۢ بَعْدِ مُوْسٰى مُصَدِّقًا
اې قومه زمونږ!بيشكه مونږه اوريدلي دي داسې كتاب چه نازل كړې شويدې ورستو د موسى عليه السلام نه.تصديق كونكي
لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ يَهْدِيْٓ اِلَى الْحَقِّ وَاِلٰى طَرِيْقٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٣٠﴾ يٰقَوْمَنَآ اَجِيْبُوْا
دهغه كتاب چه مخكښ دي د ده نه هدايت كوى حق عقائدو ته او لارې نيغي ته.اې قومه زمونږ!قبول كړئ
دَاعِيَ اللّٰهِ وَاٰمِنُوْا بِهٖ يَغْفِرْ لَكُمْ مِّنْ ذُنُوْبِكُمْ وَيُجِرْكُمْ
دعوت د داعى د الله او ايمان پرى راوړئ بخښنه به اوكړى تاسو ته ستاسو د گناهونو او خلاص به كړى تاسو
مِّنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿٣١﴾ وَمَنْ لَّا يُجِبْ دَاعِيَ اللّٰهِ فَلَيْسَ بِمُعْجِزٍ
د عذاب دردناک نه،او هغه څوک چه نه قبوله وى دعوت د داعى د الله جل جلاله نو نه دي هغه خلاصيدونكي د الله جل جلاله نه
فِى الْاَرْضِ وَلَيْسَ لَهٗ مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءُ ۚ اُولٰٓئِكَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿٣٢﴾
په زمكه كښ اونه به وى د ده د پاره د الله جل جلاله نه ماسوى نورمددگاران،دغه كسان په گمراهئ ښكاره كښ دى

﴿وَاِذْ صَرَفْنَآ اِلَيْكَ﴾اى وجهنا وبعثنا اليک،دلته نه بيا قرآن حقانيت اثبات كيږى. چه د جناتو په شان سركش او قوى قوم چه كله قرآن واوريدلو نو ايمان ئى راوړو او دى كتاب ته يى حق او د صراط مستقيم راهنما اويل او بيائى خپل قوم ته هم د ايمان دعوت وركړو،نو تاسو هم ايمان راوړئ.

په آيت مذكوره كښ چه د جناتو د قرآن آوريدلو او ايمان راوړو كومه واقعه چه ذكر ده د هغې ذكر په احاديث صحيحه وكښ داسى راغلي دي،چه د سيد الثقلين ﷺ د بعثت نه ورستو جنات د اسماني خبرو آوريدلو نه منع شول او كوم جن چه به اسماني خبرو اوريدلو د پاره بره تللو نو په شهاب ثاقب به ويشتلو كيدلو،لكه په سورة والصفت كښ دى لايسمّعون الى الملاء الاعلى ويقذفون من كلّ جانبٍ...الاية جناتو خيال اوكړو چه خامخاه نوى خبره پيښنه شويده چه د

هغی پوجه مونږمنع کړې شوی یو ،په سورة الجن کښ دی ﴿وانالاندری اشرٌ اریدبمن فی الارض﴾ ... الاية. نودَ دې خبری دَتحقیق دپاره دوئ څوڅوډلی په مشرق اومغرب کښ خوارې کړې،یوه ډله ئی حجازطرف ته هم رااولیږله،چه کله داډله بطن نخله (چه دَمکې مکرمې ته نزدې یوه وادی ده) ته را اورسیدله،نوپدغه ورځ حضورﷺ سوق عکاظ ته دَدعوت دپاره تشریف وړلو چه دادَحجازلویه تجارتی منډئ وه،پدغه مقام یعنی بطن نخله کښ حضور ﷺ دَسهارمونځ کولو ، جنّاتو چه دَحضورﷺ قرآن واؤریدلونو اوئیل چه بس نوې خبره هم دغه ده چه مونږدَدې په وجه دَ اسمان نه منع شوی اوشړل شوی یو ، دَ قرآن نه متاثره شو ایمان ئی ورباندې راوړو او بیا لاړل خپل قوم ته ئی هم دَایمان دعوت ورکړو ، لیکن حضورﷺ ته دَ جناتو دَ راتللو او قرآن اوریدلو ، ایمان راوړلو علم نه وؤحتّی چه سورة الجن دَنزول نه ورستو ورته دَدې واقعې خبر ورکړې شو.

لیلة الجن واقعه مختلفو احادیثو کښې راغلی ده،روایاتو خپل مینځ کښې فرق هم دې،ځنی روایاتو کښ رازی چی نبی ﷺ مونځ کښ تلاوت کولو نوجناتو قرآن واوریدلو او نبی ﷺ ته هیڅ پته اونه لګیده،بعضو روایاتوکښ دی چی باقاعده جناتو په دعوت تللې وؤ ،د هغه شان ځنی روایاتو کښ راغلی دی چی دی موقع باندی نبی ﷺ یواځې وؤ اوځنی روایاتو کښ دی چی ابن مسعود ﷺ ورسره وؤ .چونکه جناتو سره داسې مختلف مواقع پیش شویدی نودی وجهې نه محدثین دا په مختلف واقعاتوې محمول کوي،چی اول ځل نبی کریم ﷺ یواځی وؤ او هیڅ پته ورته نوه لګیدلی،هر چه ده ابن مسعود همراهی او باقاعده دعوت باندې تلل نو دا بله موقع وه،لهذا روایاتو کښ تعارض نشته.

﴿نَفَرًا مِّنَ ٱلْجِنِّ﴾دَدینه معلومیږی چه دغه جنات دَلسو(۱۰)نه کم اوه(۷)یانهه(۹)وؤ ځکه "نفر" دَ لسو نه کمو کسانو باندی اطلاق کیږی،جمع ئی انفار راځی،ابن ابي شيبه روايت کښې دي چې دا ټول نهه کسانو ټوله وه او د یو نوم پکښې زوبعه وو﴿فَلَمَّا حَضَرُوهُ﴾ ضمیر یا قرآن ته راجع دې یاحضورﷺ ته﴿ وَلَّوْا إِلَىٰ قَوْمِهِم مُّنذِرِينَ ﴾جمهورو علماؤدَدینه استدلال کړیدې چه په جناتو کښ مستقل رسولان نه دی مبعوث بلکه"رسل الجن"نذیران اودَاعیان دَحق دی.

﴿قَالُواْ يَٰقَوْمَنَآ﴾دا قوم ته دعوت دي يعني چه کله خپل قوم ته واپس شول نو دَاصلي قصه نه ئې هم خبرکړل اودعوت ئې هم ورته ورکړو. ﴿أُنزِلَ مِنۢ بَعْدِ مُوسَىٰ﴾ من بعدعيسىٰ ئې اونه ويل نو دينه معلوميږي چه دايهوديان وو.﴿ يَهْدِيٓ إِلَى ٱلْحَقِّ ﴾دينه مراد عقائدصحيحه دی﴿وَإِلَىٰ طَرِيقٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴾دينه مراد احكام فرعيه دی،ياعام دي عقائد .او احكام دواړه ورنه مراددی نودا ذكر دَ عام بعد الخاص دي.

﴿أَجِيبُواْ دَاعِيَ ٱللَّهِ ﴾دا ترغيب دي د دعوت منلو. دَ الله ﷻ داعی نه مراد ئې حضور ﷺ دي، يا ورنه مرادهغه تلاوت دي چه دوئ اوريدلې وو.﴿وَءَامِنُواْ بِهِۦ ﴾ضميرداعی الی الله ته راجع دي ياالله ﷻ ته.﴿يَغْفِرْ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمْ ﴾داورته دوه بشارتونه بيانوی په شرط دَ اجابت، او "من"زائده دي ای يغفرلكم ذنوبكم،ځکه چه په ايمان راوړلوسره ټول ګناهونه ختميږی كقوله تعالىٰ"وان ينتهوايُغفرلهم مّاقدسلف..."﴿وَيُجِرْكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴾دادويم بشارت دي،چه دَعذاب درناک نه به ورته نجات ملاؤشی،داآيت اګرچه پدې کښې صريح دي چه جنات دَ ايمان راوړو په وجه به دَجهنم نه محفوظ شی ليکن دا صراحت نه دلته اونه په بل مقام کښې شته دې،چه آيا جنات په جنت ته داخليږی اوکه نه؟ نوددې وجه نه دَعلماؤ په دې مسئله کښې اختلاف دې، امام ابو حنيفه رحمه الله ته منسوب او دَ بعضو علماؤ قول دي چه دَدوئ دَايمان راوړو صله صرف دا ده چه دَ اورنه به ورته نجات ملاؤشی اوبيابه خاورې شی،دَامام ابوحنيفه رحمه الله نه يوقول دَتوقف هم منقول دې،امام نووی رحمه الله په شرح مسلم کښې فرمائی چه صحيح داده چه جنت ته به داخليږی او دَ خوراک،څکاک وغيره نعمتونوبه ورته ورکولې کيږی،اودا مذهب دَ حسن بصری رحمه الله، ضحاک،وغيره هم دې.

﴿ وَمَن لَّا يُجِبْ دَاعِيَ ٱللَّهِ ﴾داورته زجرذكركوی په عدم ايجابت باندې.

أَوَلَمْ يَرَوْاْ أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَلَمْ يَعْيَ بِخَلْقِهِنَّ
آيانه وينی دوئ چه بيشکه هغه الله ﷻ چه پيدا كړی ئې دی اسمانونه اوزمكه او نه دي عاجزه شوې په پيدا كولو دَدوئ

﴿بَلَٰغٌ﴾خبر دَ مبتدا محذوف دې ای هذا بلاغٌ. حضرت والد رحمه الله فرمائی چه حضرت الشیخ رحمه الله به فرمائیل چی «هذا» کښې اشاره داحوامیم سبعوته او هغې کښې مذکور مضامینو ته، چې پدیکښې تاسوهر قسم شبهې او دلیل جواب اوشو .عقیده توحید رسالت معاد او حقانیت قرآن په مضبوط دلائلو سره ثابت شو نو په دې سره اتمام حجت اوشو ،او خبره انتهاء ته اورسیدله،لهذا که اوس هم څوک نه منی نو دا د هغه سرکشی ده. سرکش اونافرمانه خلق دَ الله تعالیٰ دګرفت نه نشی بچ کیدې.

ركوعاتها (۴)	سورة محمّد مدنية	آياتها (۳۸)
	بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکې دې شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (۴۷) وحسب النزول (۹۵)

سورة محمّدمدنی دې،ترتیب قرآنی لحاظ سره (۴۷) دې اوترتیب نزولی اعتبارسره (۹۵) دې، دَسورة حدیدنه ورستونازل دې،زمانه دَ نزول ئی دهجرت نه فوراًورستوده،ابن عباس رضي الله عنه ،اوقتاده رحمه الله فرمائي چه ددې یوآیت مکی دې،وکاَیِن من قریة....الخ داپه هغه وخت کښ نازل دې چه کله حضورﷺ دمکی نه دهجرت په نیت مدینه ته روان شو،اوونئ فرمایل، انتِ احبّ بلادالله تعالی الیّ ولولاان اهلک اخرجونی منک لم اخرج منک نوداآیت نازل شو.

ربط: ماقبل سورة احقاف کښ دَ توحید باللسان ذکر وو او پدې سورة کښ دَ توحید بالسنان ذکردې یعنی دَتوحیددپاره جهاد اوکړئ﴿فَإِذَا لَقِيتُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَضَرۡبَ ٱلرِّقَابِ﴾ سورة محمد ، سورة فتح اوسورت حجرات درې واړه دَمضمون په لحاظ سره دَیوبل سره مرتبط دی،په سورة محمدکښ دَقتال حکم دې،په سورة فتح کښ داعلان دَفتح اوپه سورة حجرات کښ دَ نظم و نسق اصول اوُاداب بیان شویدی.

سورت مرکزی دعوه: سورت مرکزی دعوه توحید ده ، الله لااله الاالله چې هغې دَپاره جهاد فرض کړې شویدې او هم دې دَ وجهې نه مؤمنانونه دومره لوئی لوئی درجې او کفار و منافقینو ته سخت سخت عذابونه میلاویږې.

سورت موضوع: سورت موضوع جهاد فی سبیل الله ده.

دسورة دَمضامینواجمالی خلاصه

دَسورة دوه حصې دی اوله حصه دَابتداء ... مُتَقَلَّبَكُمۡ وَمَثۡوَىٰكُمۡ﴾ آيت (۱۹) پورې، او دویمه حصه دَ آیت ۲ ... آخر ... او دَ مشرکانو دَ صفاتو په ...

جهاد حکم او ترغیب الی الجهاد علتونه.اومقصود ی مسئله چه دَ هغې دَ پاره جهاد فرض دې یعنی دَ توحید ذکر ، دویمه حصه کښ منافقانو ته زجرونه ذکر کیږی ، چه په جهاد کښ نه ځان لګوی نه مال.

تفصیلی خلاصه

دی سورت دوه حصه دی ،اوله حصه تر آیت ۱۹ پوره ،دویمه حصه ۲۰ تر آخر پوری.اوله حصه کښ دري امور ذکر کیږي ،

(۱)تقابل بین المؤمنین والکفار.(۲)موضوع دَ سورت چې هغه جهاد دې(۳)توحید چې هغې دَ اعلاء دَ پاره جهاد مشروع شوید ي.

آیت نمبر ۱-۳پورې اول تقابل بین المؤمنین والمشرکین ذکر کیږي او وجه فرق بیانیږی

آیت نمبر ۴: دَ جهاد حکم او حکمت بیان دې ،دی آیت آخري حصه والذین قتلوا في ..نه تر آیت۱۱ پورې دویم تقابل دې چې دیکښې مؤمنانو د پاره دوه انعامات او د کفارو د پاره عذابونه ذکر کیږي .

آیت نمبر ۱۲.۱۳کښ دریم تقابل ذکر کیږي

آیت نمبر ۱۴.کښ څلورم تقا بل بیان دې.

آیت۱۵کښ پنځم تقابل ذکر دې:

آیت نمبر ۱۷،۱۸ شپږم تقابل بیانیږې چه هغې بین المؤمنین والمنافقین دي

آیت ۱۹: توحید بیان دې.

دویمه حصه کښ آیت ۲۰-۳۲ پورې منافقینو احوال، هغوئ ته زجرونه ، عذابونه او تخویفاتو ذکر دې

۳۳ نه تر آخر پورې تشجیع علی القتال في سبیل الله اور ترغیب في الانفاق في سبیل الله دې.

اَلَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	وَصَدُّوْا	عَنْ	سَبِيْلِ	اللّٰهِ	اَضَلَّ	اَعْمَالَهُمْ ①	وَالَّذِيْنَ
هغه کسان چه کفرئی کړیدې اومنع کوی خلق دَلارې دَالله جَلَّ جَلالُہٗ نه بربادکړی دی الله عملونه دَدوئ اوهغه کسان								
اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ	وَاٰمَنُوْا	بِمَا	نُزِّلَ			
چه ایمان ئی راوړې دې اوعملونه کوی نیک اوایمان ئی راوړې دې په هغه قرآن چه نازل کړې شویدې								

لٰى مُحَمَّدٍ	وَهُوَ	الْحَقُّ	مِنْ	رَّبِّهِمْ ۙ كَفَّرَ	عَنْهُمْ	سَيِّاٰتِهِمْ	وَاَصْلَحَ	

ه محمدﷺ او دا حق دين دي دَ طرفه دَ رب دَ دوئ نه ، معاف به کړي دَ دوئ نه ګناهونه دَدوئ اوښه به کړي

بَالَهُمْ ۞ ذٰلِكَ بِاَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوا اتَّبَعُوا الْبَاطِلَ وَاَنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّبَعُوا الْحَقَّ

حال دَ دوئ ، دا (فرق) په وجه دَ دي چه بيشکه کافرانو اتباع کړيده دَ باطل او مؤمنانو اتباع کړيده دَ حق

مِنْ	رَّبِّهِمْ ؕ	كَذٰلِكَ	يَضْرِبُ	اللّٰهُ	لِلنَّاسِ	اَمْثَالَهُمْ	۳
چه دَ دوئ دَرب طرفه دي،		هم دارنګه		بيانوي الله ﷻ	خلقوته	مثالونه	دَدوئ

﴿ اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا ﴾ پدي آياتونوکښې اول تقابل ذکرکيږي په مابين دَصفاتودَمشرکانو اومؤمنانو کښې،حاصل دادي چه ايمان دومره بهترين صفت دي چه دَايمان پوجه ګناهونه معاف کيږي او دَانسان دَدنيا اوآخرت دَاحوالو اصلاح کيږي،اوکفر دومره بدترين عمل دي چه دَ دي پوجه نيک عملونه هم حبط کيږي او هيڅ بدله اوثواب پرې نه ورکولې کيږي ﴿ اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا ﴾ دا د کافرانو حالت بيان دي.﴿وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ﴾ مراد اسلام دي او﴿وَصَدُّوْا ﴾لازمي هم استعماليږي يعنې دَ اسلام نه اعراض کوي،ايمان نه راوړي،داپه سبب باندې مسبب عطف شويدې، اومتعدي هم استعماليږي يعني نورخلق دَايمان راوړلونه منع کوي،خلق دَايمان راوړلونه منع کول اوهغوئ ته روکاوټ جوړيدل دکافرانو کاردې،مسلمان ته پکارده چه دَ داسې کردارارتکاب اونکړي چه خلق دَده پوجه دَايمان راوړلونه منع شي.

﴿اَضَلَّ اَعْمَالَهُمْ ﴾دَ ضلال ماده په قرآن کښې درې مشهورو معنو کښې استعمال شوې ده :

(۱) دحقيقت حال نه ، ناواقفيت، لکه ((قال علمها عند ربى فى كتب ، لا يضل ربى ولاينسى)) (طه)،او دغه شان بل آيت ((فرجل وامراتان ممن ترضون من الشهداء ان تضل احديهما))، دې دواړو آيتونو کښې ضلال د حقيقتِ حال نه بې خبره کيدلو او بې لاره کيدلو معنى کښې استعمال شوې دي.

(۲) دَ حقې لارې نه بې لاره کيدل ، لکه غير المغضوب عليهم ، قد ضلو من قبل واضلوا كثيرا،

(۳) اضمحلال ، يعني بې اثره او بې نتيجه کيدل، لکه عرب وائي : ضل السمن في الادام ، دغوړو اثر او نښان په سالن کښې روک شو ، او په ((ااذا ضللنا في الارض)) او ((الذين ضل سعيهم في الحيوة

الدنیا)) کښې دې معنی کښې استعمال شوې دې ،او دلته هم دې آخري معنی کښې استعمال دې، (اضواء البیان) دَ((اعمالهم)) نه مراد عام دې ،دَ کافرانونیک اعمال هم دی لکه دَزلزله زدګانو یاسیلاب زدګانو سره امدادونه کول، رفاهی ادارې ، هسپتالونه جوړول وغیره او هغه تدبیرونه او سازشونه هم دي چه کافرانو دَ حضورﷺ او دَ مسلمانانو خلاف کول، یعني هغه به الله ﷻ ناکامه کوی.

﴿وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ﴾دادَمؤمنانوحالت بیان دې، ﴿وَءَامَنُوا۟ بِمَا نُزِّلَ عَلَىٰ مُحَمَّدٍ ﴾یعنی په قرآن ایمان راوړی او دا اګرچه ماقبل کښې داخل دې،لیکن دَاهتمام شان دَ وجه نه ئی مستقل ذکر کړو ،اوتنبیه ده پدې چه دا اصل دې په ټولوعملونوکښې.ددې وجه نه ئی مؤکد کړوپدې قول سره﴿وَهُوَ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْ ﴾،

﴿كَفَّرَ عَنْهُمْ سَيِّـَٔاتِهِمْ ﴾یعنی په ایمان سره دَسیئات ازاله کیږی، ﴿وَأَصْلَحَ بَالَهُمْ ﴾ای حالهم و شانهم "بال" په اصل کښې فکرته وائی،لکه خطرفي بالی کذا،اطلاق ئی په زړه کیږی چه دَ فکر مرکز دې، نو چه دَ هغې اصلاح اوشی نو دَ هر څه اصلاح اوشی. لکه حدیث کښې راغلي دي چې دَزړه اصلاح او شی نو دَ ټول بدن اصلاح اوشی. نوپدیکښې اشاره ده اصلاح دَعقیدی ته او توفیق دَ نیک اعمالو ته،یعنی په دنیاکښې ئی دَعقیدی او دَ عمل اصلاح اوشی او په آخرت کښې ورته دَ عذابونو نه نجات ملاؤشی،او دا هم مطلب کیدیشی دینوی احوالو اصلاح یې او شي،لکه حدیث کښې راغلی دی :من کان همه الاخرة جمع الله شمله وجعل غناه في قلبه ، و اتته الدنیا وهي راغمة ، و من کانت نیته الدنیا فرق الله علیه ضیعته وجعل فقره بین عینیه ، و لم یأته من الدنیا الا ما کتب له (مسند احمد ، رقم الحدیث:21590)

﴿ ذَٰلِكَ ﴾دیکښې د دواړو فریقینو حالت وجه فرق بیان دې ،او ((ذلک)) کښې اشاره ماقبل وعیدونو او وعدو ته ده،دَ﴿أَمْثَـٰلَهُمْ﴾ نه مراد "احوالهم" دي،یعنی الله ﷻ خلقوته دَمذکوره فریقینودغه رنګه احوال بیانوی چه مؤمنان اتباع دَحق کوی چه نتیجه دَهغې دَدنیااوآخرت فلاح ده، او کافران اتباع دَباطل کوی چه نتیجه ئی دَدنیااوآخرت خسران اورسوائی ده.

فَإِذَا	لَقِيتُمُ	الَّذِينَ	كَفَرُوا	فَضَرْبَ	الرِّقَابِ	حَتَّىٰ	إِذَا
نوكله	چه	مخامخ شئ	تاسودكافرانوسره	نووهئ	ستونه	ددوئ،تردې	چه كله
أَثْخَنتُمُوهُمْ	فَشُدُّوا	الْوَثَاقَ	فَإِمَّا	مَنًّا	بَعْدُ	وَإِمَّا	
تاسودېرى وينى توئ كړئ دكافرانو،نوكلك كړئ تړل ددوئ،نوبياياإحسان اوكړئ ورستودتړلونه اوياورنه							
فِدَاءً	حَتَّىٰ	تَضَعَ	الْحَرْبُ	أَوْزَارَهَا	ذَٰلِكَ	وَلَوْ يَشَاءُ	اللَّهُ
فديه واخلئ.ترهغې چه كېږ دى جنگ (كونكى) اسلحې دجنگ، دغه حكم دالله ﷻ دې،اوكچرته غوختلې الله ﷻ							
لَانتَصَرَ	مِنْهُمْ	وَلَٰكِن	لِّيَبْلُوَا	بَعْضَكُم			
نوخامخاپخپله به ئې بدله اغستې وه د دوئ نه،ليكن حكم دجهاددې پاره دى چه ازمائش اوكړى بعضو ستاسو							
بِبَعْضٍ	وَالَّذِينَ	قُتِلُوا	فِي سَبِيلِ	اللَّهِ	فَلَن	يُضِلَّ	أَعْمَالَهُمْ ④
په بعضو نورو سره،اوهغه كسان چه شهيدان شى په لاره دالله ﷻ كښې نوهرگزبه نه ضائع كوى الله ﷻ عملونه دهغوئ							
سَيَهْدِيهِمْ	وَيُصْلِحُ	بَالَهُمْ	وَيُدْخِلُهُمُ	الْجَنَّةَ			
زرده چه اوبه رسوى دوئ (جنت ته) اواصلاح به اوكړى شان ددوئ،اوداخل به كړى دوئ جنت ته							
عَرَّفَهَا	لَهُمْ	يَا أَيُّهَا ⑥	الَّذِينَ	آمَنُوا	إِن	تَنصُرُوا اللَّهَ	يَنصُرْكُمْ
چه تعارف ئې ورته كړې دې د دې (په دنيا كښې)،اې ايمان والو!كچرته مدد كوئ تاسو ددين دالله نو الله ﷻ به ستاسو مدد كوى							
وَيُثَبِّتْ	أَقْدَامَكُمْ ⑦	وَالَّذِينَ	كَفَرُوا	فَتَعْسًا لَّهُمْ	وَأَضَلَّ	أَعْمَالَهُمْ ⑧	ذَٰلِكَ
اوكلك به كړى قدمونه ستاسو اوكافران چه دى نوهلاكت دې دهغوئ دپاره اوبرباددى عملونه ددوئ،دا(فرق)							
بِأَنَّهُمْ	كَرِهُوا	مَا	أَنزَلَ	اللَّهُ	فَأَحْبَطَ	أَعْمَالَهُمْ ⑨	
بدې وجه دې چه كافرانوبدگنړلې دې هغه قرآن چه نازل كړيدې الله ﷻ نوعبث ئې كړل عملونه ددوئ							

﴿ فَإِذَا لَقِيتُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا ﴾ دَ فريقينو دَ احوالو بيانولو نه ورستو دَ **جهاد حكم** دې چې اې مسلمانانو كله چه تاسو ته دَشرک قباحت معلوم شو چه داجرم عظيم دې نو اوس ددې ختمولو دَ پاره ميدان ته راوځئ او دَمشركانو، كافرانو سره جهاد اوكړئ.

﴿فَضَرْبَ ٱلرِّقَابِ ﴾كنايه ده دَقتلولونه.يعنى قتل ئې كړئ.چونكه رقاب،مذبح دې نو ځكه يې تخصيص اوشو اودغه رنګه پدې تعبيركښې دكفاروسره دَشدت او غلظت اظهارهم دې. ﴿فَضَرْبَ ﴾ منصوب دې،فعل محذوف دپاره مفعول دې.فعل حذف شويدې،مصدرئې قائمقام ګرځيدلې دې اوبيامضاف شويدې مفعول ته په اصل كښې دارنګه دې"فاضربوا الرقاب ضربًا" ﴿حَتَّىٰٓ إِذَآ أَثْخَنتُمُوهُمْ ﴾اثخان د "ثخن" نه دې ،غټ والي او مضبوط والي معني وركوي، "ثخين" غټ او مضبوط څيز ته وئيلې كيږي چې په ځمكه پروت وي نو سرې ئې راغستلې نشي. هم دې وجه نه مانع او بهيدونكې شي ټينګيدلو د پاره هم استعماليږي ، چې دا بيا مخكښې ته حركت نشي كولې، او دلته دا كنايه ده د كفر شان او شوكت ختمولو نه چې بيا پكښې د پورته كيدو او پيش قدمئ طاقت نه وي ، اودې وجهې نه ئې اكثرو مفسرينو معني د اكثروا القتل فيهم سره كړې ده يعنى چه كله تاسودېره خونريزى اوكړئ نو بيا﴿فَشُدُّوا ٱلْوَثَاقَ ﴾ يعنى قيديان ئې كړئ،مضبوط ئې اوتړئ په پړو."شد" مضبوط تړولو ته وائي ، او "الوثاق" هر هغه څيز چې ورسره تړل كيږي ، لكه پړې ، تنړئ ، زنځير وغيره، يعني چې كله نبه اثخان اوشي نو بيا پړې تنړئ كلكې كړئ .

﴿فَإِمَّا مَنًّۢا ﴾اى تمنون منًا﴿وَإِمَّا فِدَآءً ﴾اى تفدون فداءً،يعنى دَقيدكولونه بعد.پرې "من" (احسان)اوكړئ او يا بلامعاوضه ئې پريدئ،لكه نبى كريمﷺچه په غزوه بدركښې خپل خوم ابوالعاصؓ بلامعاوضه پريخې وو،ياورنه فديه واخلئ اوازادئې كړئ.

دَمشرک قيدى قتلول اواستعباديعنى غلام ګرځول بالاتفاق جائزدى البته بلامعاوضه پريخودل يعنى"من" يا فديه اخستل او پريخودل دَامام صاحبؒ په مشهورروايت كښې جائز نه دى،دَدې وجه نه دَعلماء حنفيه په نزددَسورة محمد داآيت مذكوره منسوخ دې په آيت دَ سورة انفال(۹۷)ماكان لنبيّ ان يكون له اسرىٰ... سره چه په هغې كښې فديه اخستلو باندې عتاب راغلې دې(والتفصيل هناک).

البته دَ امام صاحب رحمه الله نه صحیح مذهب په سیرکبیر کښ دَ جمهورو صحابه رضي الله عنهم او فقهاؤو مطابق منقول دي او امام طحاوی رحمه الله په معانی الآثار کښ هم دا مذهب دامام صاحب رحمه الله نه نقل کړيدې، چه کچرته مسلمانانو ته دَمال ډیرضرورت وی نوفدیه اخستل جائزدی او دَ قیدیانو په تبادله کښ ازاده ول هم جائزدی، دَحضرت ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دې چه غزوه بدر اوله غزوه وه او تر اوسه پورې دَ کافرانو طاقت او قوت نه وؤ کمزورې شوې نوپدې وجه دَ قیدیانو نه په فدیه اخستلوباندې عتاب راغې، اوچه کله اسلام او مسلمانانوته غلبه حاصله شوه او کفر مغلوب شو نو الله ﷻ مسلمانانوته اختیاورکړو .د من او دَ فدا نوګویاکه آیت دَ سورة انفال منسوخ دې پدې آیت سره، لیکن تحقیق دادې چه پدې دواړه آیاتونوکښ ناسخ منسوخ نشته دې، ځکه چه دلته چه پدی آیت کښ دَ من او فدا اجازت چه شویدې نوهغه هم دَ اثخان (کافی خونریزئ) نه بعدشویدې، کماقال تعالی﴿حَتَّىٰٓ إِذَآ أَثْخَنتُمُوهُمْ فَشُدُّوا۟ ٱلْوَثَاقَ﴾اوپه سورة انفال کښ هم(حتی یثخن فی الارض)ذکردې یعنی دَاثخان نه قبل من،فداء نه وؤمناسب نو ځکه پرې عتاب راغې،نو دَ دواړو آیاتونو مفهوم یوشان ته دې،اودَواړوآیاتونودَمجموعی خلاصه فقهاؤو دا ذکر کړیده چه دَ قیدیانو په باره کښ دَ امیرالمؤمنین او دَ اهل شوریٰ خوښه ده چه:

(۱)قتل ئې کړی،لکه نبی کریم ﷺ دَبدرپه قیدیانو کښ عقبه،نضربن حارث وغیره قتل کړې وؤ.

(۲)سرې دې غلامان کړی اوښځې دې وینزې جوړې کړی.

(۳)فدیه دې ورنه واخلی که دَتبادلې په صورت کښ وی یانقدی.

(۴)مَن او احسان دې ورسره اوکړی اوازاد دې کړی (والله اعلم).

﴿حَتَّىٰ تَضَعَ ٱلْحَرْبُ﴾ای اهل الحرب﴿أَوْزَارَهَا﴾جمع دَ "وزر" ده ثقل اوبوج ته وائی چې خلق ئې اوچتوي ،او مراد ورنه اسلحه ده،ځکه چې داهم په جنګ کښ خلق اوچتوي ، او دا کنایه ده دَ مغلوب کیدلو نه یعنی چه دوئ مغلوب شی،یا "وزر" په معنی دَ "اثم" ګناه سره دې او مراد ترینه شرک دې ،او «الحرب» نه مراد «اهل الحرب» دي او «تضع» په معني د «تترک» سره دې ، یعني تردې وخت پورې ورسره جهاد کوئ چې اهل حرب ، یعني مشرکان شرک پریګدي او مسلمان یا مسالم اوګرځي.

پدې آيت کښې اشاره ده چه حکم دَجهادنه منسوخ کيږي هميشه به وي.اوهم دامعنی ده دَقول دَحضورﷺچه وَ الْجِهَادُ مَاضٍ مُنْذُ بَعَثَنِي اللَّهُ إِلَى أَنْ يُقَاتِلَ آخِرُ أُمَّتِي الدَّجَّالَ لَا يُبْطِلُهُ جَوْرُ جَائِرٍ، وَلَا عَدْلُ عَادِلٍ، (ابو داود)

سنن نسائي کښې د سلمه بن نفيل رضي الله عنه روايت دي بينما أنا جالس عند رسول الله صلّى الله عليه وسلّم إذ جاء رجل فقال: يا رسول الله إن الخيل قد سيبت ووضع السلاح وزعم أقوام أن لا قتال وإن قد وضعت الحرب أوزارها فقال رسول الله صلّى الله عليه وسلّم: «كذبوا فالآن جاء القتال ولا تزال طائفة من أمتي يقاتلون في سبيل الله لا يضرهم من خالفهم يزيغ الله تعالى قلوب قوم ليرزقهم منهم وتقاتلون حتى تقوم الساعة ولا تزال الخيل معقودا في نواصيها الخير حتى تقوم الساعة ولا تضع الحرب أوزارها حتى يخرج ياجوج ومأجوج»

﴿ذَٰلِكَ﴾من حيث المعنى راجحه داده چه دَماقبل سره متصل شی اوپدی وقف اوشی ای الامر ذلک،یاذلک حکم الکفار،او اشاره ماقبل ضرب الرقاب او شدوا الوثاق ته ده.

﴿وَلَوْ يَشَآءُ ٱللَّهُ لَٱنتَصَرَ مِنْهُمْ﴾ای لانتقم منهم، **حکمت د مشروعيت د جهاد** بيانيږي چې الله ﷻ قدرت لری چې د دې کافرانونه پخپله انتقام واخلی اوخه اسمانی عذاب لکه خسف، زلزله، غرق ورباندې راولی او هلاک ئی کړی لکه عاد،ثمودوغيره ئی چه هلاک کړيدی ، تاسو ته ئی هيڅ ضرورت نشته دې خو تاسوته ئی چې دَجهادحکم کړيدې نوپدی کښې ستاسو امتحان مقصوددې چه څوک دَاللهﷻ په نوم باندی خپل جان ،مال،اولادقربانوی او جهاد ته را اُوځی او څوک نه،اوپدی کښې دَ کافرانوهم امتحان دې چه دَدې سره سامان مجاهدينو په مقابله کښې دَ دوئ دومره لويه ټيکنالوجی شکست خوری او دَ اللهﷻ مدد ورسره پخپلو سترګو وينی نوآياچه دوئ حق قبوله وی اوکنه؟

﴿وَٱلَّذِينَ قُتِلُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ﴾ جهاد حکم نه ورستو **ترغيب دې د جهاد** اودې په ضمن کښې **دويم تقابل** ذکر کيږي ،چې مؤمنان چې الله ﷻ په لار کښې جهاد کوي الله ﷻ به ورله په دې دنيا کښې هم د دې صله ورکوي چې هغه غلبه ده او آخرت کښې به هم ورکوي چې جنت دې، او دوئ په مقابله کښې کافرانو د دنيا انجام هم خراب دې او آخرت خو ئي هځې برباد دې، ((والذين قتلوا في سبيل الله)) دا **اول انعام** دې مجاهدينو ته، چې آخرت سره ئي تعلق دې، يعني که جهاد کښې شهيد شوئ نو اعمال خو به ضائع نه ځی جنتونه به درته ميلاويږی

﴿سَيَهۡدِيهِمۡ﴾ای سیوصلهم الی ثواب تلک الاعمال(روح)﴿وَيُصۡلِحُ بَالَهُمۡ﴾مراحل دَ آخرت، قبر، حشر ، نشر وغیره به ورته اسان کړی.﴿وَيُدۡخِلُهُمُ ٱلۡجَنَّةَ عَرَّفَهَا لَهُمۡ﴾دَ عرّفها یوڅومعنی کړې شویدی:

(۱)دَتعریف نه ماخوذدې یعنی الله ﷻ به ورته خودلی وی ځایونه دَدوئ په جنت کښې، هر جنتی ته به خپل منزل اوکمره معلومه وی سره دَدینه چه دَادنی جنتی به دَدنیانه لس چنده غټ جنت وی،په حدیث کښې دی:لاحدکم بمنزله فی الجنة اعرفُ منه بمنزله فی الدّنیا" دَ دنیا دَ کور نه به ورته زیاتِ معلوم وی،لکه چې دې دلته ډیر وخت اوسیدلې دې.صاحب دَروح المعانی وائی چه دامعلومول به ورته یاپه الهام الهی سره وی،یاپه توسط دَملک سره،یا به حسنات دده رهنمائی کوی.

(۲)تعریف نه مراد پیژندولې ده د جنت په دنیا کښې په ذکر دَ اوصافو سره،یعنی الله ﷻ دَ جنت په دنیا کښې ډوئ ته دومره اوصاف بیان کړو چې دوئ پیژندلې دې تردې چې دوئ پری عاشقان شول . والاذن تعشق قبل العین احیانا.دغه رنګه دَدې په مصداق کښې یوشاعروائی:

اشتاقه من قبلِ رؤیتهِ کما هَوی الجنانُ بطیبِ الاخبار

حضرت والدمحترم نوّرالله مرقده دَدې په مصداق کښې داسی وائی:

نه تنهاعشق ازدیدارخیزد بساکه این دولت ازگفتارخیزد

(۳)دَ عرف نه ماخوذدې په معنی دَخوشبویه کولو،یعنی الله ﷻ ورته جنت خوشبویه کړیدې دامعنی دَابن عباس رضی الله عنه نه مروی ده

(۴)یادَاعراف نه مأخوذدې،ای شرّفها و رفعها.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ﴾دادَ دویم انعام بیان دې چې دنیوي دې چې زندګي کښې که دالله تعالی دین اعلاء دپاره کوششونه کوئ نو الله تعالی خوبه مدد کوی او دَ دشمن په مقابله کښې خوبه ثابت قدم ساتی﴿إِن تَنصُرُواْ ٱللَّهَ﴾ای دینه، ایمان او اتباع حق علت دې دَ غلبې دَپاره ، کفر او اتباع باطل علت دې دَ مغلوبیت لیکن دا علی اطلاق نه دې،بلکه مقید بالشرط دی،او هغه شرط «ان تنصروالله» یعنی نصرت دینَ دې،که شرط(نصرت دین) وی نو علت (ایمان او

اتباع حق) به عمل کوی او حکم (غلبه) به وجود ته راشی.او که شرط(نصرت دین) نه وی نو علت (ایمان او اتباع حق) به عمل نه کوی لهذا بیا دغلبې خوبونه لیدل خیال است ، و محال است و جنون است.او نصرت دین دادې (۱) چې خپله شریعت باندې عمل اوکړي (۲)بیائي نورو ته تبلیغ اوکړي (۳)او بیا د هغې اعلاء د پاره توره لاسې کښې رواخلې او میدان قتال ته راوزي.

﴿وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ﴾تثبیت اقدام نه مراد(۱)جنګ په موقع کښې معونت اونصرت دې (۲) په اسلام ثابت قدم پاتې کیدل،یعنې په طاعت باندې به ورته ددوام توفیق ورکوی. (۳)په پل صراط باندې ثابت قدمی ده.

﴿وَالَّذِينَ كَفَرُوا﴾ دلته نه بطور تقابل د کفارو احوالو بیان دې.علی نشر ولف غیر مرتب، یعنی اهل ایمان برعکس الله تعالی کفارو ته دو سزا ګانې ورکوی. ﴿فَتَعْسًا لَّهُمْ﴾ دا د اولې سزا بیان دې ، "تعس" ویلې کیږي پړمخ پریوتلو ته، د دې تقابل ((وثبت اقدامکم)) سره دې، یعنی مؤمنانو لره ثابت قدمی او کفارو له شکست او ذلت دی.((تعسا)) مفعول مطلق دی فعل محذوف دپاره ،اي تعسهم الله تعسا﴿وَأَضَلَّ أَعْمَالَهُمْ﴾ د دویمې سزا بیان دې،فلن یضل اعمالهم په مقابله کښې راغلې دې.یعني کفارو ټول اعمال به الله ﷻ ضائع کړی او آخرت کښې به ورله هیڅ نفع ورنکړي او دغه شان کوم دنیوی سازشونه کوی دَ مسلمانانو خلاف ،الله تعالی به ورله هغه شنډ کړی او هیڅ تدبیر ورته کار نه ورکوی.

﴿ذَٰلِكَ﴾د کافرانو مذکور ذلت او رسوائي سبب بیانیږي. ﴿مَا أَنزَلَ اللَّهُ﴾ مراد ورنه قرآن، او احکامات دَ هغه دی لکه توحید ،رسالت وغیره.﴿فَأَحْبَطَ أَعْمَالَهُمْ﴾ "فاء" د پاره د تفریع ده ،یعني دالله ﷻ د احکاماتو نه بغاوت په نتیجه کښې د دوئ ټول نیک عملونه باطل شول او دوئ له به آخرت کښې هیڅ فائده ورنکړي، د ((احبط اعمالهم))بظاهر تکرار معلومیږي د ((اضل اعمالهم)) سره ، خو دې دواړو کښې باریک فرق دې ، احباط خاص او اضلال عام دې."احباط" ویلې کیږی مکمل ضائع کولو ته چې انسان ته ترینه هیڅ قسم نفع نشی میلاؤ،نه حقیقي او نه ظاهری،نه دائمی او نه وقتی،او "اضلال" هم ضائع کول وی،لیکن هغې کښې کله کله انسان

نه ظاهري او وقتي طور باندې نفع ښکاريږي، نو دې وجهې نه د احباط تعلق دَ آخرت سره دې او اضلال تعلق دِ نيا و آخرت دواړو سره دې، ۱۰ حباط په صورت کښې د ((اعمالهم)) نه مراد هغه نيک اعمال دي چه ايمان نه يې بغير کړيدې، او اضلال په صورت کښې ((اعمالهم)) نه مراد عام دې، نيک اعمال او مسلمانانو خلاف سازشونه دواړه دي، دنيا کښې اګرچې ځنې وخت کفارو ته نفع ښکاره شي خو ليکن هغه ظاهري او وقتي وې حقيقي او دائمي نه وې. نو دا تخصيص بعد التعميم دې ، يعني د کفر خو هسې ناکامي مقدر ده ، خو به طور خاص اخروي ناکامي ئې ډيره لويه ده ،ځکه چې دنيا کښې خو به ورته بيا هم څه نه څه مهلت او وقتي غلبه ميلاو شي ، خو آخرت کښې به ورله هيڅ نه وي.

أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَيَنظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ
آيا نو نه دي ګرځيدلي دوئ په زمکه کښې چه ئې ليدلې وې ځنګه وو انجام دَ هغه خلقو چه
مِن قَبْلِهِمْ ۚ دَمَّرَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ ۖ وَلِلْكَافِرِينَ أَمْثَالُهَا ⑩
مخکښې وو دَ دوئ نه، تباهي راوسته الله ﷻ په هغوئ،دپاره دَ کافرانو دي دغه شان عذابونه
ذَٰلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ مَوْلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَأَنَّ الْكَافِرِينَ لَا مَوْلَىٰ لَهُمْ ⑪
داپدې وجه دې چه بيشکه الله ﷻ مددګاردمؤمنانودې اوبيشکه کافران چه دي نيشته دې مددګاردوئ لره.

﴿أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ﴾ تخويف دنيوي دی، اواحوال دَمشرکانو دی﴿وَلِلْكَافِرِينَ﴾ لام په کښې دَعهد دپاره دې اى هٰؤلاء الكافرين، مرادورنه کفاردَمکې دی. ﴿أَمْثَالُهَا﴾ مثليت په اعتبار دَ جنس سره مراددې په وقوع دَعذاب کښې،نوعيت په اعتبارسره ندې مراد،چې بعينه د غه عذابونه به پرې رازي. اوضمير مجرور راجع دې﴿عَاقِبَةُ﴾ ته

﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ﴾ ديکښې د مؤمنانو نصرت او د کافرانو ذلت او تعس سبب بيان دي ،يعنى وجه دا ده چه الله تعالى د مؤمنانو مولى او ناصر دي ځکه هغوئ ته فتح او نصرت ورکوی، او د کفارو ناصر نه دې نو ځکه هغوئ ذليله وی. ﴿وَأَنَّ الْكَافِرِينَ لَا مَوْلَىٰ لَهُمْ﴾ مولى دلته

پمعنی دکارسازاوناصرسره دي،نودسورة یونس آیت(۳۰)ثمّ رُدّوا الی الله مولهم الحقّ.سره نې تناقض نشته دي ځکه هلته مولیٰ پمعنی دمالک سره دي.

اِنَّ اللّٰهَ يُدْخِلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ
بیشکه الله ﷻ داخلوی مؤمنان اونیک عملونوالاجنتونوته چه بهیږی به لاندی دهغی نه نهرونه،
وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا يَتَمَتَّعُوْنَ وَيَاْكُلُوْنَ كَمَا تَاْكُلُ الْاَنْعَامُ
هغه کسان چې کفر یې اختیار کړیدي دوئ عیش وعشرت کوي اوخوراک کوی لکه چه څرنګه خوراک کوی څناور
وَالنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ ﴿۱۲﴾ وَكَاَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ هِيَ اَشَدُّ قُوَّةً مِّنْ قَرْيَتِكَ
او اُور د جهنم استونګه ددوئ ده، او ډیر دلسي کلي وو چه خلق دهغو زیات وو په قوت کښې دخلقو دکلي ستانه،
الَّتِيْٓ اَخْرَجَتْكَ ۚ اَهْلَكْنٰهُمْ فَلَا نَاصِرَ لَهُمْ ﴿۱۳﴾ اَفَمَنْ كَانَ عَلٰى بَيِّنَةٍ
هغه کلي چه ته ئې ورنه اوباسلې ئې.هلاک کړل مونږ هغوئ نونه وو مددګار دهغوئ.آیاهغه څوک چه وی په واضح دلیل
مِّنْ رَّبِّهٖ كَمَنْ زُيِّنَ لَهٗ سُوْٓءُ عَمَلِهٖ
دطرفه درب خپل نه،دې کیدیشې په شان دهغه چا چه ښائسته کړې شوې وی هغه ته بدعمل دهغه
وَاتَّبَعُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ ﴿۱۴﴾
اواتباع ئې کړې وی دخواهشاتوخپلو.

﴿اِنَّ اللّٰهَ يُدْخِلُ الَّذِيْنَ﴾ دابشارت اخرویه دې مؤمنانوته،اودریم تقابل دې،چه مؤمنان دایمان پوجه الله ﷻ جنت ته داخلوی اودکافرانو دکفرپه و جه ټهکانه جهنم دې.

﴿وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا﴾ بیان داحوالو دکافرانو دې﴿يَتَمَتَّعُوْنَ وَيَاْكُلُوْنَ﴾ لکه څرنګه چه دڅناور بغیر دَ خوراک نه بل مقصدنه وی اودخپل انجام (نحر،ذبح) نه غافله وی نودغه شان دکافرانوهم دی چه دَ ژوندمقصدئې صرف خوراک،څکاک ګرخولې دې اودَ آخرت نه غافله دی،ددینه اشارةً په ولاړه دَ خوراک ممانعت ثبوت هم اوشو،لکه نن صباپه اکثرودعوتونوکښې دغه رواج

دي، ځکه چه په ولاړه خوراک دځناورو سره مشابهت دي.هيڅ يو ځناورهم په ناسته خوراک نه کوي،په احاديثو کښ په ولاړه داَبو څکلو نه منع راغلي ده.

يامشابهت دځناورو سره په عدم تميزکښ دي په مابين دحرامو حلالو کښ.لکه څرنګه چه ځناور تميزنه کوي په حرام حلال کښ نو دغه شان کافرهم تميزنه کوي.مسلمان ته ددينه ډير زيات اجتناب پکاردي.

﴿وَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ﴾تخويف دي مشرکانوته او ضمنًا تسلّي ده نبی کريمﷺته لکه په ابتدا کښ ددي آيت شان نزول تيرشويدي چه کله نبی کريمﷺ دمکي مکرمي نه دهجرت په اراده روان شو نو مکه معظمه ئی مخاطبه کړه وئی فرمايل چه"انتِ احبّ بلاد الله اليّ..." نو الله تعالیٰ دا آيت نازل کړو چه ډيرکلي مونږ داسي هلاک کړيدی چه ددوئ نه په قوة طاقت کښ زيات وو، ليکن زمونږدعذاب نه هيڅ چاپچ نه کړل،نوته ددوئ په ايذاء باندي مه مغموم کيږه مونږبه ورته عذاب ورکوو. د﴿ مِّن قَرْيَتِكَ الَّتِي ﴾نه مراد مکه مکرمه ده

﴿أَفَمَن كَانَ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ﴾خلورم تقابل دي په مابين د مؤمنانو او کافرانو کښ، استفهام انکاري دي، حاصل دادي چه مؤمنان چه دخپل رب د طرفه په واضح دلائل باندي قائم دی نو کافران ددوئ پشان نشی کيدلي چه شيطان ورته شرک وغيره قبيح اعمال مزين کړيدی او د خواهشاتو اتباع کونکی دی."من"مصداق مؤمن دي، د﴿عَلَىٰ بَيِّنَةٍ﴾معنی ده « على ثباتٍ و يقين » يا ئی معنی ده« على حجةٍ ظاهرةٍ»، ﴿كَمَن زُيِّنَ لَهُ﴾"من" عبارت دي دمشرکانونه.

مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِي وُعِدَ الْمُتَّقُونَ فِيهَا أَنْهَارٌ مِّن مَّاءٍ غَيْرِ آسِنٍ
صفت دجنت هغه چه وعده ئی شويده د متقيانوسره«دادي چه»په هغی کښ نهرونه وی دابو چي نه به وي زوړ
وَأَنْهَارٌ مِّن لَّبَنٍ لَّمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهُ وَأَنْهَارٌ مِّنْ خَمْرٍ لَّذَّةٍ لِّلشَّارِبِينَ
اونهرونه به وی دپيوچه نه به وي بدل خوند د هغی ، او نهرونه به وی د شرابو چه مزه ورکونکی به وی څکونکو ته،
وَأَنْهَارٌ مِّنْ عَسَلٍ مُّصَفًّى وَلَهُمْ فِيهَا مِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ وَمَغْفِرَةٌ
اونهرونه به وی د ګبين چه صفابه وی، او وی به دوئ لره په جنت کښ د هر قسمه ميوو نه اوبخنه

مِّن	رَّبِّهِمْ	كَمَنْ	هُوَ	خَالِدٌ	فِي	النَّارِ	وَسُقُوا	مَآءً

دَطرفه دَرب ددوئ نه (آيا داسې كس كيدې شي) په شان دهغه چاچې هميشه وي ـه اُوركښې اوڅكولې شي ورته اوبه

حَمِيمًا فَقَطَّعَ أَمْعَآءَهُمْ ⑮

ايشيدلې نوپرې به كړې كولمې ددوئ

﴿مَّثَلُ ٱلْجَنَّةِ ٱلَّتِي﴾پنځم تقابل ذکر کیږی په مابین دَ بنده مؤمن او کافر کښې،یعنی بنده مؤمن او متقی به لوئ لوئ نعمتونه والا جنتونو کښې وی چی هغی کښې تازه ابو نهرونه، د خوګو شودو نهرونه، د خوندور شرابو نهرونه او د خالص ګبین نهرونه به پکښې وی،مختلف قسم میوې به پکښې وی او دَ الله ﷻ طرف نه مغفرت پروانه به ورته میلاویږی.بل طرف ته کافر دې ،هغه به همیشه همیشه د پاره جهنم کښې وی،قسما قسم عذابونه پرې وی ـ داسې ګرمې اشیدلی اوبه ، به ورکولې کیږی چه هغه اوڅکی نو کلمی به ئې ورسره اوشلیږی، نو څنګه بنده مؤمن او کافر یوشان کیدیشی؟ ﴿مَّثَل﴾دلته پمعنی دصفت عجیبه سره دې، او دا مبتدا ده اوخبرئی یا فیماتِلی علیکم محذوف دې او﴿فِيهَآ أَنْهَٰرٌ﴾ دهغې محذوف خبرتفسیردې یاورله خبر﴿فِيهَآ أَنْهَٰرٌ﴾دې،

په جنت کښې به څلورقسمه نهرونه وی:(۱)﴿مِّن مَّآءٍ غَيْرِ ءَاسِنٍ﴾ای غیر متغیر الطعم و الریح، یعنی داسی اوبه به وی چه په ډیر حصاریدلوسره به ئې خوند ، رنګ، بوئ، نه بدلیږی پخلاف دَ اوبو دَ دنیا نه چه لګې زړی شي نوتعفن پکښې پیداشي.

(۲)﴿وَأَنْهَٰرٌ مِّن لَّبَنٍ﴾دَشودونهرونه به وی چه شوده به ئې نه خرابیږی،بلکه همیشه به خواږه وی

(۳)﴿وَأَنْهَٰرٌ مِّنْ خَمْرٍ﴾دَشرابونهرونه به وی چه خوږه ذائقه به وی،خوشبوداره به وی، کقوله تعالی: لا فیها غول و لا هم عنها ینزفون (الصفت:۴۷) په خلاف دَ شرابو دَ دنیا نه چه تریخ، بدبو داره وی

(۴) ﴿وَأَنْهَٰرٌ مِّنْ عَسَلٍ﴾ دګبين نهرونه به وی چه دَخیرو نه به پاک وی څکه چه ګبين دَجنت به دَ مچونه ،نه وی راویستلې شوې.

﴿وَلَهُمْ فِيهَا مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ﴾ دابل قسم نعمت دې چه دوئ ته به هرقسمه خوراکونه میسر وی .من زائد دې دَپاره دَتاکید ،چونکه په جنت کښ به خوراک صرف دَلذت دپاره وی دَ لوږې دَ وجه به نه وی نوځکه ئی ذکر دَ ثمراتو (میوو) اوکړوچه دادَلذت دپاره خوړلې کیږی (کبیر).

﴿وَمَغْفِرَةٌ مِّن رَّبِّهِمْ﴾ دابل نعمت دې اومراد دَ مغفرت نه (۱) یامغفرت دګناهونودې قبلْ دَ دخول نه جنت ته (۲) یا ورنه مراد رفع دَ تکلیف (مکلف کیدل) ده چې جنت کښې به څه احکامات لازم یا بل څه پابندي به پرې نه وي (۳) او یا ترینه مراد رضائ الهي ده ،لکه بل آیت کښې دي «ومغفرة من الله ورضوان» .

﴿ كَمَنْ هُوَ خَٰلِدٌ ﴾ دادَ کافرانوحال دې،اواستفهام انکاری دې،یعنی دواړه نشی برابر کیدلې، څکه چه مؤمنانو سره دَانهاراربعه ؤ،من کل الثمرات.او دَ مغفرت وعده ده (اللهمّ اجعلنا منهم) او دَ کافرانوسره دَ تخلیدفی النار ،دَایشیدلواوبوځکل.وعده شویده.نومؤمن به دَ الله ﷻ میلمه وی چه په مختلفو څیزونو سره به ئي میلمستیا کیږی اوکافربه دَالله ﷻ قیدی وی چه زقوم،ضریع خوراک،ایشیدلې اوبه،به ورته ورکولې کیږي.﴿ فَقَطَّعَ أَمْعَآءَهُمْ ﴾په حدیث کښ دی،اذاشربه صاحبه فقطّع امعاءه حتّی تخرج من دُبره(رواه احمدفی المسند)الله ﷻ دی زمونږخاتمه په ایمان اوکړی اودَدی عذابونه دی مونږته حفاظت نصیب کړی(آمین).

وَمِنْهُم مَّن يَسْتَمِعُ إِلَيْكَ حَتَّىٰٓ إِذَا خَرَجُوا مِنْ عِندِكَ قَالُوا لِلَّذِينَ
اوبعض دَدوئ نه هغه دی.چه غوږایږدی تاته تردې چه کله دوئ اوځی ستادمجلس نه،وائی هغه کسانوته
أُوتُوا ٱلْعِلْمَ مَاذَا قَالَ ءَانِفًا ۚ أُولَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ طَبَعَ ٱللَّهُ
چه ورکړې شویدې ورته علم،څه ویل دې پیغمبراُوس، دغه کسان هغه دی چه مهرلګولې دې الله ﷻ

عَلٰى	قُلُوْبِهِمْ	وَاتَّبَعُوْٓا	اَهْوَآءَهُمْ ⑯	وَالَّذِيْنَ	اهْتَدَوْا	
به زړونو ددوئ اواتباع ئى كړيده دخواهشاتوخپلو.اوهغه كسان چه هدايت ئى قبول كړيدې						
زَادَهُمْ	هُدًى	وَّاٰتٰىهُمْ	تَقْوٰىهُمْ ⑰	فَهَلْ	يَنْظُرُوْنَ	اِلَّا السَّاعَةَ
زيات به كړي الله ﷻ دوئ لره هدايت اووربه كړي دوئ ته تقوى ددوئ،پس نه كوى دوئ انتظارمگردقيامت كوى						
اَنْ	تَاْتِيَهُمْ	بَغْتَةً ۚ	فَقَدْ	جَآءَ	اَشْرَاطُهَا ۚ	فَاَنّٰى لَهُمْ
چه راشي پدوئ ناڅاپه،په تحقيق سره راغلى دى علامې دقيامت،نوبيابه څرنگه فائده وركړى دوئ ته						
اِذَا	جَآءَتْهُمْ	ذِكْرٰىهُمْ ⑱	فَاعْلَمْ	اَنَّهٗ	لَآ اِلٰهَ	اِلَّا اللّٰهُ
چه كله راشي قيامت پدوئ ،نصيحت منل ددوئ.پس يقين اوكړه پدې چه بېشكه نشته دې بل معبودماسوى دالله نه.						
وَاسْتَغْفِرْ	لِذَنْۢبِكَ	وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ	وَالْمُؤْمِنٰتِ ؕ	وَاللّٰهُ	يَعْلَمُ	مُتَقَلَّبَكُمْ
اوبخښنه غواړه دگناه خپل اودپاره دگناه دمؤمنانوسړواودمؤمناتوښځو،اوالله ﷻ پوهيږى په حالت ددنياستاسو						
وَمَثْوٰىكُمْ ⑲						
اودآخرت ستاسو.						

﴿ وَمِنْهُم مَّن يَسْتَمِعُ إِلَيْكَ ﴾دى آياتونو كښې شپږم تقابل ذكر كيږى او دا تقابل په مابين د صفاتو د مؤمنانو او د منافقانو كښې دې چه منافقان دنبى كريم ﷺ په صحبت اومجلس كښې ډير په توجه ناست وى،ليكن چه كله بهر ته را اوځى نو بياا ستهزاءً صحابه كرامو ته وائى چه دې پيغمبر ﷺ اوس څه خبره كوله مونږ خو پرې پوهه نشو يعنى گوياكه د هغه وينا ناقابل التفات ده (نعوذبالله) ددې په مقابل كښې صحابه كرام ﷺ چه كله قرآن اونصيحت د پيغمبر ﷺ واورى نو ايمانى كيفيات ئى نورهم زيات شى اوتقوىٰ وركښې پيدا شى.

﴿ لِلَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ ﴾لكه ابن عباس ﷺ،ابن مسعود ﷺ،ابو درداء ﷺ وغيره،﴿ مَاذَا قَالَ آنِفًا ﴾دا يابطوراستهزاء وائى چه(نعوذبالله)دا ئي څه بې فائدې خبرې اوكړې،يا په حقيقة كښې

دوئ نه وی پوهه ځکه چه په غفلت کښې دی توجه ئې نه وی ﴿أُولَـٰئِكَ﴾ اشاره منافقانوته ده ﴿الَّذِينَ طَبَعَ اللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ﴾ یعنی دَدوئ دَاستهزاء اودَغفلت نتیجه داشوه چه الله ﷻ وړباندی مهر جاری کړیت اولګولو، نودَایمان راوړلو توفیق ورته نه ملاویږی

﴿وَالَّذِينَ اهْتَدَوْا﴾ دَمؤمنانو حال دې ﴿زَادَهُمْ﴾ ضمیر د فعل (۱) یا الله ﷻ ته راجع دې ﴿هُدًى﴾ نه مراد بصیرت اوعلم دې، یعنی څوک چه قوائ روحانیه صحیح استعمال اوکړی نو الله ﷻ ورته بصیرت او فهم زیات کړی (۲) یا راجع دې. قول د رسول الله ﷺ ته.

﴿فَهَلْ يَنظُرُونَ﴾ داتخویف دنیوی دې کافرانوته. منافقانوته یعنی دقرآن نصیحتونه، دَ معذب قومونو واقعات، دَجنت بشارتونه. دَ جهنم وعیدونه چه نه منی نومعلومیږی چه دوئ دَبل څه انتظارنه کوی مګردَقیامت چه ناڅاپه وړباندې راشی. ﴿إِلَّا السَّاعَةَ﴾ مراد ورنه قیامت دې، ﴿أَن تَأْتِيَهُم﴾ بدل اشتمال دې دَ الساعة ﴿فَقَدْ جَاءَ أَشْرَاطُهَا﴾ یعنی علامات دَ قیامت ورته راغلی دی نوقیامت به هم راشی لیکن چه قیامت راشی نوبیابه دوئ ته څه (ایمان، توبه) فائده نه ورکوی.

مراد دَ علاماتونه علامات ابتدائیه دَ قیامت دی: (۱) لکه بعثت دَنبی کریم ﷺ، په یو حدیث کښې راغلی دی چه نبی اکرم ﷺ خپله شهادت ګوته اومنځنئ ګوته یوځائ کړې اووئ فرمایل: انا و الساعة کهاتین، یعنی څه دَقیامت نه دومره وړاندی راغلې یم لکه چه منځنئ ګوته دَ شهادت دګوتی نه اوچته او وړاندې ده (مسلم وغیره) (۲) دُخان. کمامرتفسیره فی الدّخان (۳) شق القمرچه په اقتربت السّاعة وانشق القمر کښې ورته اشاره ده. داخوعلامات ابتدائیه دی چه دَنزول قرآن په وخت کښې موجودوو، اوپه آیت کښې هم دیته اشاره ده،

بعض علامات قریبه دی چه په احادیث صحیحه وکښې تذکره راغلې ده، لکه انس رضی الله عنه فرمائی: لَأُحَدِّثَنَّكُمْ حَدِيثًا لاَ يُحَدِّثُكُمْ أَحَدٌ بَعْدِي سمعت رسول الله ﷺ يقول: مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ: أَنْ يَقِلَّ العِلْمُ، وَيَظْهَرَ الجَهْلُ، وَيَظْهَرَ الزِّنَا، وَتَكْثُرَ النِّسَاءُ، وَيَقِلَّ الرِّجَالُ، حَتَّى يَكُونَ لِخَمْسِينَ امْرَأَةً القَيِّمُ الوَاحِدُ (بخاري:81) په یوحدیث کښې دی: اذاضیعت الامانة فانتظرالساعة. چاعرض اوکړوچه امانت به څرنګه ضائع کیږی نونبی کریم ﷺ اوفرمایل: «إِذَا وُسِّدَ الأَمْرُ إِلَى غَيْرِ أَهْلِهِ فَانْتَظِرِ السَّاعَةَ» (بخاري:5439) دَدینه علاوه نوروا حادیثوکښې ئې هم تذکره شته دې

یا د«الساعة» نه مراد ساعت دَمرگ دې نود«أَشْرَاطُهَا » نه مرادجسماني تغيرات دی چه دم بدم انسان مرګ ته نيزدې کوی.

﴿ذِكْرَاهُمْ ﴾ دَدې تعلق دَ﴿ فَأَنَّىٰ لَهُمْ ﴾سره دې ای فانّی لهم ذکراهم ﴿إِذَا جَاءَتْهُمْ ﴾ په درميان کښ جمله معترضه ده.یعنی چه کله قيامت يامرګ راشی نو بيادغه وخت کښ به دوئ نصيحت منل څه فائده ورکړی؟

﴿فَاعْلَمْ أَنَّهُ ﴾ماقبل ټول سورت مضامينو باندې مرتب دې او بيان دَ دعوې دَ سورت دې، یعنی دَمؤمنانو او کافرانو ذکر اوشو ،د هغوی اوصافو تقابل اوشو ،دهغوی انجام پته اولیګده نو دينه معلومه شوه چه متصرف ذات په کائنات کښ يو دی،نو په «لااله الا الله» باندې ثابت قدم اوسه، او دغه مذکوره مضامينو نه دا معلومه شوه چه الله تعالی هغه ذات دې چه هدايت کونکې هم دې او ذلت ورکونکې هم دې،خوش بختی ،بدبختی هغه په لاس کښ ده،عزت ذلت فتح او نصرت او هزيمت وشکست هغه په قبضه قدرت کښ دی، هر وخت تاسو ئي په نظر کښ يئ.تاسو هر حالت نه واقف دې، لهذا هغه ته خپل عاجزی اظهار اوکئ عفو او بخنه ترې اوغواړئ (فتوح الغيب)

﴿فَاعْلَمْ ﴾معنی ده،اثبت علی التوحيدواستمرعليه،یعنی په توحيدباندی ثابت قدم اوسيږه اودوام پرې کوه،يادَتوحيدپه مقتضياتوباندې عمل کول مراددی.﴿وَاسْتَغْفِرْ لِذَنبِكَ ﴾ دَ "ذنب" نسبت نبی کريمﷺته په اعتباردَترک دَماهوالافضل،سره شويدی،ځکه دَ"ذنب"دپاره متفاوت درجات دی،نو چه نبیﷺته ئی نسبت اوشی نودَنبیﷺ ذنب اوسيئه په اصل کښ محسنه وی ليکن په قانون دَ"حسنات الابرارسيئات المقربين"ورته ذنب اوئيلې شی (۲)بعض وائی چه «لذنبک» توطيه اوتمهيددې روستو دَ«للمؤمنين والمؤمنات» دپاره (۳)بعض وائی چه امر حضور ﷺ ته دې ليکن تعليم دې امت ته دَاستغفارکولو،امربالاستغفارمع انّه مغفورله ليستنّ به امته (معالم)(۴)څنې مفسرين فرمائي چې نبي کريم ﷺ هروخت ترقي کيده اوچتې درجې ته ، نو زړه درجه به ورته پمنزله د ذنب وه نو دې وجهې نه ورته د استغفار کولو حکم اوشو ، وغير ذلک من الاقوال.

﴿وَلِلْمُؤْمِنِينَ﴾ دلته مضاف حذف دي اى ولذنوب المؤمنين والمؤمنات﴿ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مُتَقَلَّبَكُمْ وَمَثْوَاكُمْ ﴾ دا پمنزله دعلت دي دماقبل، يعني په توحيد باندى ثبات اودوام او استغفار غوختل ځکه ضروري دي چه الله ﷻ ستاسو دتمامو احوالونه خبردار دي، د متقلب اود مثوى معنى مفسرينو ډيري بيان کړيدى، ابن عباس ﷠ وائى د متقلب نه مراد احوال د دنيا دى اود مثوى نه مراد د قبر او د اخرت احوال دى، بعض وائى د متقلب نه مراد حالت د بيدارئ دي، او د مثوى نه مراد حالت د خوب دي، بعض مفسرينو متقلبكم نه مراد دمعاش لپاره بهر گرځيدل راگرځيدل اغستي دى اومثواكم نه كورونه چي هلته انسان آرام كوي. غوره داده چه ددواړونه مراد ټول احوال د انسان دى، (والله اعلم)

وَيَقُولُ الَّذِينَ آمَنُوا لَوْلَا نُزِّلَتْ سُورَةٌ ۖ فَإِذَا أُنزِلَتْ سُورَةٌ مُّحْكَمَةٌ
اووائى هغه كسان چه ايمان ئى راوړي دي ولي نشى نازلولي يو سورة، نو هركله نازل كړيشي يو سورة، محكم
وَذُكِرَ فِيهَا الْقِتَالُ ۙ رَأَيْتَ الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ يَنظُرُونَ إِلَيْكَ
او ذكر شي پكښ حكم د قتال، نو ته به وينى هغه خلق چه په زړونو د هغوئ كښ مرض د نفاق دي، چه گورى به تاته
نَظَرَ الْمَغْشِيِّ عَلَيْهِ مِنَ الْمَوْتِ ۖ فَأَوْلَىٰ لَهُمْ ۞ طَاعَةٌ وَقَوْلٌ
پشان دكتلو د هغه چا چه بې هوشي راغلي وى په هغه د مرگ، پس غوره ده دوئ له . طاعت كول د پيغمبر اووينا كول
مَّعْرُوفٌ ۚ فَإِذَا عَزَمَ الْأَمْرُ فَلَوْ صَدَقُوا اللَّهَ
سمه، نو كله چي عين وخت شي د قتال ، نو كچرته دوئ ريشتني كړي وي د الله سره،
لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ۞
نودا به غوره وي دوئ لره.

﴿وَيَقُولُ الَّذِينَ آمَنُوا ﴾ ددي ځائ نه تراخره د سورة پورې. د سورة دويمه حصه ده چه پكښ د منافقانو احوال ذكر كيږي، او ورته زجرونه ذكر كيږي. داځ اول حالت دي، حاصل ئى دادي چه كله د مؤمنانو د خواهش مطابق الله ﷻ څه سورة نازل كړي او بيا خاص كر په هغې كښ د

جهاد کولو ذکروی، نودې منافقانو باندې سم څه چل اوشی، سترګی ئی وازې شی پیغمبرﷺ ته داسی ګوری لکه زنکدن ئی شروع وی.

﴿سُورَةٌ مُّحْكَمَةٌ﴾ محکمة یا پمعنی دَ مبیّنة سره دې. یعنی دجهاد واضح حکم وی پکښ (لکه و اقتلوهم ، فضرب الرقاب ...وغیره) دَ پاره دَ دې چه دامنافقین داونه وائی چه مونږ ته دَدې مراد نه دې معلوم، یا پمعنی دَغیرمنسوخ دې، محکم وی منسوخ کیږی نه، دَ دې وجی نه چه دااونه وائی چه حکم دَ جهاد منسوخ دې څکه مونږ جهادنه کوو. قتادهرحمه الله وائی چه: كلّ سورة ذكر فيها الجهاد فهي محكمة(روح، قرطبی وغیره).

﴿فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ﴾ مرض دَنفاق اوشک ﴿نَظَرَ ٱلْمَغْشِيِّ عَلَيْهِ مِنَ ٱلْمَوْتِ﴾ یعنی لکه څرنګه چه دَځنکدن په وخت کښ دَ سترګو نظر روک شی نودغه شان دَجهاد حکم نازلیدلو په وخت کښ دَ منافقانو نظرونه دَ یری او خوف دَ وجه نه ورک شی اوسترګې ئی بی رونقه شی. یا مراد دادې چه دَبزدلئ پوجه پدغه وخت کښ دَدوئ سترګې خکته شی. ﴿فَأَوْلَىٰ لَهُمْ﴾ ددې جملې متعدد توجیهات شوي دي:

(۱) فاولی لهم ، طاعة وقول معروف ' دا مکمل یو کلام دې .چې به طور جمله معترضه واقع شوې دې په مابین دماقبل ((نظر المغشي)) او مابعد ((فاذا عزم الامر))، کښ ((اولی)) صیغه د اسم تفضیل ده او خپلې معروفه معنی (غوره والي) کښې استعمال شوې ده، او مفضل علیه محذوف دي چې هغه د منافقینو حالت مذکوره دې ، او ((طاعة و قول معروف)) ورله مبتدا مؤخر دي ، اي: اولى لهم من ذلک الخوف ان يطيعوا الله ورسوله وان يقولوا قولا معروفا، یعني د دې خوف نه غوره دوئ د پاره دا وه چې الله ﷻ او د هغه رسول اطاعت ئي کړې او سمه خبره ئي کړې وي.

(۲) ځنو مفسرینو لیکلي دي چې ((اولی لهم)) جدا جمله معترضه ده د پاره د بدعاء، او ((طاعة و قول معروف)) سره ئي هیڅ تعلق نشته ، هغه کلام مستانف دې او ماقبل سره ئي تعلق دي ،اودی تقدیر باندې دا یا مشتق دې دَ "ویل" نه پمعنی دَهلاکت، او اصل کښ "اَویَل" بروزن افعل وو بیا پکښ قلب اوشو، "یاء" مو "لام" نه بعد یوځله نو اَوْلَیو شو. بیا "قال" قاعدې مطابق

"اولیٰ" شو يعنی دَدوئ دپاره هلاکت دې. یااولي بلې نه مشتق دې پمعنی دَقرب او اتصال یعنی الله تعالی دی دوئ ته مصيبت او تکلیف نیزدې کړی،بهر حال دواړو صورتونو کښ دا جمله بدعاء دپاره ده،او مابعد طاعة سره ئي تعلق نشته.هغه ځان له کلام مستانف دې.«طاعة» خبر دې د مبتدا محذوف دپاره ، اي: الامر طاعة وقول معروف ، يعني حکم دوئ ته د اطاعت اودَقول معروف شوې دې.

﴿فَإِذَا عَزَمَ ٱلۡأَمۡرُ﴾ "الامر" نه مراد امر د قتال دې او"عزم" نه مراد د قتال شروع کیدل او عین وخت راتلل دي ﴿فَلَوۡ صَدَقُواْ ٱللَّهَ لَكَانَ خَيۡرٗا لَّهُمۡ﴾ ورله جزاء ده نومطلب داشوچه کله دَجهادحکم اوشی او میدان اولګي نوکه چرته پدغه وخت کښ دوئ خپله وعده ریښتنی کړی اوپه اخلاص سره جهاد ته لاړشی نو دَ دوئ د پاره به پکښ خیر وی.

فَهَلۡ	عَسَيۡتُمۡ	إِن	تَوَلَّيۡتُمۡ	أَن	تُفۡسِدُواْ	فِي ٱلۡأَرۡضِ
پس هم دا توقع ده ستاسو نه ،اې منافقانو،کچرته اعراض اوکړئ تاسو چې فسادبه اوکړئ په زمکه کښ						
وَتُقَطِّعُوٓاْ	أَرۡحَامَكُمۡ ٢٢	أُوْلَٰٓئِكَ	ٱلَّذِينَ	لَعَنَهُمُ	ٱللَّهُ	فَأَصَمَّهُمۡ
اوبرې به کړئ تاسوخپلولئ ستاسو.داکسان هغه خلق دی چه لعنت وربااندی کړیدې الله جَلَّجَلَالُهُ نوکانړه کړی ئې دی						
وَأَعۡمَىٰٓ أَبۡصَٰرَهُمۡ ٢٣						
اوړندی کړې ئې دی سترګی دَدوئ.						

﴿فَهَلۡ عَسَيۡتُمۡ﴾ داخطاب دې منافقانوته په طريقې دَ التفات ،او زجر ورته ذکرکیږی چه تاسوچه دَ جهاد نه اعراض کوئ نوفساد به خورشي،امن امان به ختم شی،صله رحمی به قطع شي او خانه جنګی به شروع شی،دَدینه معلومه شوه چه جهاد دهشت ګردی نه ده بلکه دَدهشت ګردی ختمولوذریعه ده . «هل» دلته د تحقیق او تقریر د پاره دي ،«عسيتم» په معني د تحققتم او توقعتم سره دئ ، «ان توليتم» اي : ان اعرضتم عن القتال ،جزاء محذوفه ده چې هغې باندي «ان تفسدوا »دلالت کوي او «ان تفسدوا» خبر دې د "عسى"يعني کچرته مو جهاد پريخودو نو تاسو نه دا قوي امید دې چې تاسو به بیا فساد خوره وئ او قطع رحمی او ظلم به کوئ.

بعض وائی چه تولیتم دولایت نه مشتق دي،مفعول به ئی حذف دي ای تولیتم امور الناس.
یعنی کچرته تاسو متولیان اوحاکمان اوگرځئ دَ خلقو ،حکومت دِرته ملاؤشی نوپه انصاف به قائم پاتی نشئ اوظلم زیاتي به شروع کړئ ؛ ځکه چه تاسو حب دنیا او قوت ایمانی ملاحظه شوي دي،چې صرف دنیوی حظوظ دَپاره دَ جهاد په شان حکم نه خو اعراض کړيدي.

﴿أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَعَنَهُمُ ٱللَّهُ فَأَصَمَّهُمْ﴾یعنی دَدوئ دَاعمال سیئه وَپه نتیجه کښ ورنه الله ﷻ دَحق دَاوریدلوصلاحیت اودَهدایت دَلاری لیدلوصلاحیت سلب کړوچه دَجهادفوائدنه آوری اونه ئی وینی.

أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ ٱلْقُرْءَانَ أَمْ عَلَىٰ قُلُوبٍ أَقْفَالُهَآ ﴿٢٤﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱرْتَدُّوا۟
آیانه کوي دوئ فکر په قرآن کښ،بلکه دَدوئ په زړونو باندې تالې دَ زړونو دی. بیشکه هغه کسان چه واپس شویدی
عَلَىٰٓ أَدْبَٰرِهِم مِّنۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ ٱلْهُدَى ٱلشَّيْطَٰنُ سَوَّلَ لَهُمْ
پخپلو شاګانو ورستو دَدینه چه ښه ښکاره شوې وی دوئ ته هدایت،شیطان ښائسته کړیدی دوئ ته ګناهونه دَ دوئ
وَأَمْلَىٰ لَهُمْ ﴿٢٥﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا۟ لِلَّذِينَ كَرِهُوا۟
اواوګده امیدونه ئی ورکړیدي دوئ ته، دا ارتداد په سبب دَدې چه دوئ ویل هغه کسانوته چه بدئ ګڼړلو
مَا نَزَّلَ ٱللَّهُ سَنُطِيعُكُمْ فِى بَعْضِ ٱلْأَمْرِ ۖ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ إِسْرَارَهُمْ ﴿٢٦﴾
هغه قرآن چه نازل کړیدی الله ﷻ،چه مونږبه اطاعت کوؤستاسو په ځنې کارونوکښ،اوالله عالم دي په پټو جرګو دَ دوئ.

﴿أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ ٱلْقُرْءَانَ﴾ دا بل زجر دي منافقانوته چه دوئ دَقرآن په دلائلو، مواعظو، زواجرو باندې غورفکرنه کوی چه هدایت ورته ملاؤشی،اوکه دَ بدعملونوپه نتیجه کښ په زړونودوئ دَ کفرتالي لګیدلي دی نودَغوراوفکردَهدایت موندلواستعدادئی بالکل ختم شویدي ، دا قضیه مانعة الخلوده،یعنی په دواړوخبروکښ یوه ضروری ده،اومانعة الجمع نه ده ځکه چې په منافقانوکښ دواړه خبری موجودې وي.کقوله تعالی ذلک بانهم آمنوا ثم کفروا فطبع علی قلوبهم. یاپه ﴿أَمْ عَلَىٰ قُلُوبٍ﴾کښ ام منقطعه دي پمعنی دَبل سره یعنی دوئ په قرآن کښ غورځکه نه کوی چه دَدوئ په زړونواقفال (تالې) لګیدلی دی ﴿أَقْفَالُهَآ﴾ ضمیرراجع

دی قلوب ته يعنی اقفال مختصه بالقلوب چه اقفال دکفر دی، نولکه څرنگه چه دروازی ته تالی اولگی نو خارج نه څيز داخل ته نشی راتلي او داخل نه خارج ته نشی تلي، نو دغه رنگه دَدوئ په زړونو د کفر تالی لگيدلی دی کفرورنه خارج کيدي نشی او ايمان داخليدي نشی.

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱرۡتَدُّواْ عَلَىٰٓ أَدۡبَٰرِهِم﴾ ديکښي د عدم تدبر سبب بيانيږي، چې هغه تسويل شيطاني دي او دوئ ته اوگده اوگده اميدونه ورکول دي، «إن الذين» نه مراد منافقان دی چه اسلام ئی راوړي وو، او دَ اسلام دَ حقانيت نه ښه واقفه وو، ليکن بيائی هم په زړه کښ نفاق پروت وو، ﴿ٱرۡتَدُّواْ عَلَىٰٓ أَدۡبَٰرِهِم﴾ يعنی دَ ايمان نه اعراض اوکړی، «الشيطن سول لهم» پوره جمله اسميه "ان" د پاره خبر دي ﴿سَوَّلَ لَهُمۡ﴾ ای زيّن لهم خطاياهم(قرطبی).

﴿وَأَمۡلَىٰ لَهُمۡ﴾ دَدي فاعل هم ياشيطان دي، ای مدّلهم فی الامل ووعدهم طول العمر (ايضا) يعنی شيطان په دهوکه کښ اچولی دی چه گناه کوه کوه ډيروخت دي بيابه چرته په يوه موقع توبه اوباسي، بعض وائی چه فاعل دَ املیٰ الله تعالی دي، يعنی الله ﷻ ورته مهلت ورکړيدي چه فورائی مؤاخذه نه کوی، عذاب پری نه راولی.

قتاده ﷫ او بعض نور وائی چه دا آيت نازل دي په باره دَ اهل کتابو کښ چه حضور ﷺ ئی په هغه اوصافو متصف بيا موندلو چه دَدوئ په کتابونو کښ موجود وو ليکن بيا هم په کفر او انکار دَ بعثت باندی کلک ولاړوو، نودَ ﴿مِّنۢ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ ٱلۡهُدَى﴾ نه مراد اوصاف او علامی دَ نبی کريم ﷺ دی، دَدينه تعبير په ارتداد سره ځکه اوشو چه دَنبی کريم ﷺ دَتشريف راوړلو نه مخکښ به ئي دَ اتباع دعوه کوله، ليکن چه حضور ﷺ تشريف راوړلو نو بيائي ورسره ضد او حسد شروع کړو، کمافی البقرة.

﴿ذَٰلِكَ﴾ اشاره ده ارتداد ته دَهدايت نه، او سبب د ارتداد بيانيږي. ﴿بِأَنَّهُمۡ قَالُواْ﴾ ضميرونه منافقانو ته راجع دی ﴿لِلَّذِينَ كَرِهُواْ﴾ نه مراد يهود يا مشرکان دی، چه بدئ گڼړلو نزول دَقرآن په نبی کريم ﷺ باندی ﴿فِي بَعۡضِ ٱلۡأَمۡرِ﴾ نه مراد(۱) يا عداوت دي دَ اسلام او دَنبی کريم ﷺ سره، يعنی منافقانو اهلِ کتابو ته ئي اووئيل چه که تاسو دَ اسلام او دَحضور ﷺ سره

دشمني کوئ نومونږهم تاسوسره يو . لکه په سورة حشرآيت ۱۱ کښ دي.الم ترالی الّذين نافقوا يقولون لاخوانهم الّذين کفروامن اهل الکتاب لئن اخرجتم لنخرجنّ معکم .الآية

(۲)یاورنه مراد باطنًا اتباع ده یعنی مونږ به ظاهراً اتباع د پیغمبر کوؤ او باطنًا عقیدهٔ تاسو سره يو . ﴿وَاللَّهُ يَعْلَمُ إِسْرَارَهُمْ﴾يعنی دوئ چه کومی پټې خبری يهودوته وائی الله ﷻ په هغی پوهه اوخبرداردي اسرار بکسرالهمزه مصدردي يعنی رازداری.اوبفتح الهمزه هم په يو قرائت کښ راغلي دي.جمع د سر ده يعنی په زونه د دوئ.

فَكَيْفَ إِذَا تَوَفَّتْهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ يَضْرِبُوْنَ وُجُوْهَهُمْ وَأَدْبَارَهُمْ ۝ ذٰلِكَ
پس څه حال به وی ددوئ کله چه وفات کوی دوئ لره فرشتي وهي به مخونه ددوئ اوشاګاني ددوئ داعذاب
بِأَنَّهُمُ اتَّبَعُوْا مَآ أَسْخَطَ اللّٰهَ وَكَرِهُوْا رِضْوَانَهٗ فَأَحْبَطَ
په سبب ددی ده دوئ اتباع کړیده دهغه چه غصه کوی الله ﷻ اوبدئ کنړلي دی رضا دالله ﷻ پس برباد کړل الله ﷻ
أَعْمَالَهُمْ ۝ أَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ أَنْ لَّنْ يُّخْرِجَ اللّٰهُ
(نیک) عملونه ددوئ آیاګمان کوی هغه خلق چه دهغوئی په زړونو کښ بیماری ده داچه چرته به هم راښکاره نه کړی الله
أَضْغَانَهُمْ ۝ وَلَوْ نَشَآءُ لَأَرَيْنٰكَهُمْ فَلَعَرَفْتَهُمْ
بغضونه ددوئ او که مونږ غوختلي نو ضرور به موښودلي وي تاته دوئ . نو تا به پيژندلي وي دوئ
بِسِيْمٰهُمْ وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ فِيْ لَحْنِ الْقَوْلِ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ أَعْمَالَكُمْ ۝
په علامو خپلو سره . اوته به پيژنې دوئ په طرز د خبرو سره . اوالله ﷻ پوهيږي په عملونوستاسو،
وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ حَتّٰى نَعْلَمَ الْمُجٰهِدِيْنَ مِنْكُمْ وَالصّٰبِرِيْنَ ۙ وَنَبْلُوَا
اومونږبه خامخاازميښت کوؤبه تاسو تر دي چه معلوم کړو مونږ جهاد کونکی ستاسو نه/او صبر کونکی،او تحقيق به کوؤ
أَخْبَارَكُمْ ۝ إِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَشَآقُّوا
ستاسو د احوالو بیشکه هغه کسان چه کفرئی کړیدي اومنع کوی خلق دلاري دالله ﷻ اومخالفت کوی

الرَّسُوْلَ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدٰىۙ لَنْ يَّضُرُّوا اللّٰهَ شَيْـًٔا
دپیغمبرﷺورستودښمنۍ وکړي پس ددې نه چه ښکاره شویدې دوئ ته هدایت،هرګزضررنشي رسولې دوئ الله ﷻ ته هیڅ،
وَسَيُحْبِطُ اَعْمَالَهُمْ ۝
او نزدې ده چه برباد به کړي الله ﷻ عملونه ددوئ

﴿فَكَيْفَ إِذَا تَوَفَّتْهُمُ﴾ تخویف دې منافقانوته په عذاب دځنکدن سره،چې څه حال به وی ددوئ چه کله ئې ځنکدن وی اوفرشتې دمرګ ئې په مخونواوپه ادبارو وهي،په مخونواوپه ادبارو وهل لکه چه تعذیب دې نودغه شان دانهایت تذلیل اوبې عزتې هم ده،نوځکه ئې تخصیص اوشو،یاترینه مراد ورستو شاته ټول بدن دې۔حضرت ابن عباسؓ فرمائې چه کوم کافر،فاسق مرګیږي نو د ځنکدن په وخت کښې ئې فرشتې په مخ اوپه ملاوهي(اعاذناالله بفضله).

﴿ذٰلِكَ﴾اشاره عذاب مذکورته ده،او دهغې سبب بیان دی ﴿اتَّبَعُوا مَا أَسْخَطَ اللَّهَ﴾ کفر، کتمان دصفاتودنبي کریمﷺ، دغه رنګه نورمعاصي چه داد الله ﷻ دناراضګۍ اوغضب اسباب دي.﴿وَكَرِهُوا رِضْوَانَهُ﴾ایمان اونیک اعمال ورنه مراددي چه دالله ﷻ دراضي کیدلو اسباب دي،﴿فَأَحْبَطَ أَعْمَالَهُمْ﴾یعنې په نیک اعمالوبه ورته په آخرت کښې هیڅ ثواب نه ملاویږي.

﴿أَمْ حَسِبَ الَّذِينَ﴾دابل زجردې منافقانوته،چه ددوئ څه ګمان دې چه الله ﷻ به ددوئ حالت حضورﷺاومسلمانانوته ښکاره نکړي؟ اوددوئ داسلام اومسلمانانوسره پټه دشمني،حسد ،کینه به دغه شان مستوره وي؟هرګزنه بلکه ددوئ حالت به ښکاره کیږي

﴿مَّرَضٌ﴾مرض د نفاق،حسد،اودشمنۍ د مسلمانانو سره﴿أَضْغَانَهُمْ﴾جمع د ضغن ده پټ عداوة، حسد ،کینه ته وائي.

﴿وَلَوْ نَشَاءُ لَأَرَيْنَاكَهُمْ﴾هم ضمیرراجع دې منافقانوته(۱)جمهورومفسرینودآیت مطلب داسې بیان کړیدې حه،کچرته زمونږ رضاوې نوای پیغمبره!ﷺ تاته به مونږ ودلې وې منافقان

او هر یو منافق به دی فرد افرد اُپیژندلې وې لیکن دَیو خاص حکمت او مصلحت په بناباندې چه موقع دَ توبه ورکول دی ورته اوستاری کول دی په هغوئ داسې او نشو. البته ﴿وَلَتَعۡرِفَنَّهُمۡ فِي لَحۡنِ ٱلۡقَوۡلِ﴾ ته به ئې دَ خپل فطانت، ایمانی فراست، ذهانت سره اوپیژنی. په انداز کلام دَدوئ سره، څکه چه منافق سرې دَخبرونه پیژندلې کیږی.

حضرت شیخ الهند رحمه الله دَترجمې مطابق په﴿لَأَرَيۡنَٰكَهُمۡ﴾باندې وقف دې او﴿فَلَعَرَفۡتَهُم﴾ جداجمله ده، نومطلب به ئې داسې شی چه، که زمونږ رضاوې نوښودلې به وې مونږ تا ته منافقان، لیکن عدم مشیت دې نوعدم روئیت دې، یعنی تاته مو په علم قطعی اودلیل قطعی سره نه دی ښودلی، لکه په سورة توبه(۱۰۱)کښ دی، لاتعلمهم نَحۡنُ نعلمهم، هلته ورنه مرادهم عدم قطعی دې، البته﴿فَلَعَرَفۡتَهُم بِسِيمَٰهُمۡ﴾ته به یې په علاموسره پیژنې، یعنی په دلیل ظنی سره چه دَهغی بیان دادې چه﴿ وَلَتَعۡرِفَنَّهُمۡ فِي لَحۡنِ ٱلۡقَوۡلِ﴾

﴿ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ أَعۡمَٰلَكُمۡ ﴾ خطاب عام دې، نومؤمنانوته بشارت دې اومنافقانوته وعید دې، ﴿وَلَنَبۡلُوَنَّكُم ﴾په جهاد او په نورو اعمال شاقوو سره، دلته هم خطاب عام دې ﴿حَتَّىٰ نَعۡلَمَ ﴾ مراد دَعلم نه امتیاز راوستل دی. ﴿وَنَبۡلُوَاْ ﴾ظهوراوتحقیق کول ورنه مراددی﴿أَخۡبَارَكُمۡ ﴾ای احوالکم.

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ﴾داپه آخردَسورة کښ بیان دَاحوالودَمشرکانودې، چه دَدوئ کفر اومخالفت دَپیغمبر ﷺ سره الله تعالیٰ ته هرګزڅه ضررنشی رسولې. اوانجام اعتبار سره په دنیا کښې هم ناکامې د دوئ وې او په آخرت کښې هم ، «لن یضروا الله شیئا» کښې د دنیا ناکامئ ذکر اوشو ، چې رسول ﷺ په مقابله کښې څومره پلانونه دوئ جوړ کړي دي هغه به ټول شند شي ، اوهیڅ ضرر به ورته اونه رسوي او﴿وَسَيُحۡبِطُ أَعۡمَٰلَهُمۡ﴾کښې د آخرت ناکامئ ذکر دې ، چې نه به ورته هغه نیک اعمال فائده ورکړي ، چې په دنیا کښې په هغې ځان سترې کړې وي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَلَا تُبۡطِلُوٓاْ أَعۡمَٰلَكُمۡ ﴿٣٣﴾
اې مؤمنانو تابعداری کوئ دَالله تعالیٰ اوتابعداری کوئ دَپیغمبر ﷺ اومه باطلوئ عملونه خپل.

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ثُمَّ مَاتُواْ وَهُمْ كُفَّارٌ
بیشکه هغه کسان چه کفرئی کړیدي اومنع کوی خلق دلاري دالله جل جلاله نه بیامړه شي اودوئ کافران وی
فَلَن يَغْفِرَ ٱللَّهُ لَهُمْ ۝ فَلَا تَهِنُواْ وَتَدْعُوٓاْ إِلَى ٱلسَّلْمِ
نوهرگزبه مغفرت نکوی الله جل جلاله دوئ ته.نوتاسوسستی مه کوئ اومه راغواړئ کافران صلح ته،
وَأَنتُمُ ٱلْأَعْلَوْنَ وَٱللَّهُ مَعَكُمْ وَلَن يَتِرَكُمْ أَعْمَٰلَكُمْ ۝
اوتاسوبه غالب یئ اوالله جل جلاله تاسوسره دي اوهرگز به نه کموي ستاسو نه ستاسو عملونه .

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ﴾دا مؤمناتوته تشجيع على القتال ده.چه الله جل جلاله اودهغه رسول ﷺ درته دَ جهاد حکم اوکړی نو جهاد ته ځئ، منافقینو غوندې طرز مه اختیاره وئ ﴿وَلَا تُبْطِلُوٓاْ أَعْمَٰلَكُمْ﴾ بمخالفة الرسولِ والشرک،یعنی دَخپلو عملونوثواب په مخالفت دَرسول الله ﷺ سره مه برباده وئ ځکه په کوم عمل کښ دَحضور ﷺ طریقه نه وی نوهغه باطل عمل وی،دغه رنګه په شرک سره هم اعمال باطلیږی"لئن اشرکتَ لیحبطنّ عملک"فقهاء کرامورحمهم الله دَدې آیت په ظاهر سره استدلال نیولې دې پدې چه"لزم النفل بالشروع"یعنی نفلی عمل خواه که مونځ وی یا روژه وی په شروع کولوسره لازم اوواجب ګرځی.«ان الذین کفروا وصدوا» دیکښې د کافرانو اخروي ناکامي ذکر دي

﴿فَلَا تَهِنُواْ﴾"وهن"سستی کولوته وائی په سبب دَیرې دَمرګ یاپه سبب دَمحبت دنیا سره، یعنی دَ مرګ دَ یرې په سبب دَجهادنه مه پاتی کیږئ،مرګ خوبه خامخاراځی،نودَدښمن په مقابله کښ نامردی اوسستی مه کوئ.﴿وَتَدْعُوٓاْ إِلَى ٱلسَّلْمِ﴾ای ولاتدعواالی السّلم،یعنی کافرانوته دَصلح دعوت مه ورکوئ ځکه دادلیل دې چه تاسوکمزوري یئ.البته کچرته کافران ابتداءً صلح طلب کړی نوصلح کول جائزدی کچرته مصلحت پکښ وی لکه په سورة انفال کښ دی"وان جنحواللسّلم فاجنح لها".

﴿وَأَنتُمُ ٱلْأَعْلَوْنَ﴾ دا دنیا کامیابی ده ﴿وَٱللَّهُ مَعَكُمْ﴾ یعنی الله ﷻ به ستاسو نصرت کوی ﴿وَلَن يَتِرَكُمْ أَعْمَٰلَكُمْ﴾ دا د آخرت کامیابی ده، چه الله ﷻ به ستاسو نیک عملونه، نه ضائع کوی.

إِنَّمَا الْحَيَوٰةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَلَهْوٌ وَإِن تُؤْمِنُوا وَتَتَّقُوا يُؤْتِكُمْ أُجُورَكُمْ
بیشکه ژوند د دنیا لوبه او تماشه ده او کچرته تاسو ایمان راوړئ او تقوی اختیار کړئ. در به کړی تاسو ته ثوابونه ستاسو.
وَلَا يَسْأَلْكُمْ أَمْوَالَكُمْ ﴿٣٦﴾ إِن يَسْأَلْكُمُوهَا فَيُحْفِكُمْ تَبْخَلُوا
او نه غواړی الله ﷻ ستاسو نه ټول مالونه ستاسو، کچرته او غواړی ستاسو نه مال او تنګ کړی تاسو نو بخل به وکړئ تاسو
وَيُخْرِجْ أَضْغَانَكُمْ ﴿٣٧﴾ هَٰٓأَنتُمْ هَٰٓؤُلَآءِ تُدْعَوْنَ
او ښکاره به کړی الله ﷻ کینې ستاسو، خبردار! تاسو ای منافقانو هغه خلک ئي چې دعوت درکولیشی تاسو ته.
لِتُنفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَمِنكُم مَّن يَبْخَلُ وَمَن يَبْخَلْ
چه خرچ کړئ مال په لاره د الله ﷻ کښ، پس څنی په تاسو کښ داسې دی چه بخل کوی. او څوک چه بخل کوی
فَإِنَّمَا يَبْخَلُ عَن نَّفْسِهِ وَاللَّهُ الْغَنِيُّ وَأَنتُمُ الْفُقَرَآءُ
نو پس بیشکه دې منع کوی خیر د خپل ځان نه، او الله ﷻ غنی (بې حاجته) دې او تاسو فقرا (حاجتمند) یئ
وَإِن تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُونُوٓا أَمْثَٰلَكُم ﴿٣٨﴾
او کچرته تاسو اعراض او کړو نو په بدل کښ به پیدا کړی قوم بل ستاسو په ځای. بیا به نوی هغوئ ستاسو په شان.

﴿إِنَّمَا ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا لَعِبٌ وَلَهْوٌ﴾ دی آیتونو کښ د جهاد فی سبیل الله او انفاق في سبیل الله ترغیب ذکر کیږی چه، د آخرت په مقابله کښ دنیا هیڅ څیز ندی، د نیاخو بذاته لهو و لعب ده، نو خپل ځان، مال د دې په لهویاتو باندی مه لګوئ، څکه دا د قیمتی عمر ضائع کول دی، بلکه خپل ځان، مال په ایمان، تقوی، جهاد باندې اولګوئ چه الله ﷻ به درته د دې اجر او بدله درکوی.

﴿وَلَا يَسْـَٔلۡكُمۡ أَمۡوَٰلَكُمۡ﴾عطف دې په جزااو مرتب دې په شرط «ان تؤمنوا» يعني ايمان راوړلو نه په دې وجه اعراض مه کوئ چې بيا به درنه اسلام او الله ﷻ د ټول مال مطالبه کوي، واورئ چې الله ﷻ ستاسونه دټول مال په جهاد کښې خرچ کولو مطالبه نه کوي چې تاسو د دې يرې نه ايمان پريګدئ.

﴿إِن يَسۡـَٔلۡكُمُوهَا فَيُحۡفِكُمۡ﴾او که بالفرض شريعت ستاسو نه مطالبه اوکړي او د ټول مال مطالبه اوکړي نو بيا ستاسو بخل شروع کړئ او ډير مفاد پرستو او کمزور ايمان والو باطني حال به معلوم شي او پټې کينې به ئې څرګندې شي ﴿فَيُحۡفِكُمۡ﴾د "احفاء" نه مشتق دې انتها او مبالغې ته وائي په يوکارکښ،يعني ستاسونه په مال غوښتلوکښ مبالغه اوکړی چه ټول مال خرچ کړئ.

﴿هَٰٓأَنتُمۡ هَٰٓؤُلَآءِ﴾دا په آخر کښ يو بل زجر ذکر کيږي منافقانو ته چه دَ ماقبل مضمون تاکيد دې،چه کله دوئ ته دَالله ﷻ په لاره کښ دَخرچ کولودعوت ورکړيشي نودوئ بخل کوی او مال نه خرچ کوی« هأنتم» کښ «ها» دپاره دَتنبيه ده.«انتم » مبتدا دې او «هؤلاء» ورله خبر دې ،او معنې په ئې داسې شي چې تاسو دا خلق يئ ، او دا تعبير په څه خاص وصف کښې شهرت دپاره استعماليږي ، لکه مونږ پښتو کښې وايو: څه خو خه پيژنم تاسو دا خلق يئ ،ته هغه سړې نه ئې چې...

﴿تُدۡعَوۡنَ﴾دا جمله مستانفه ده ، بعض وائي چې «هؤلاء» منادی دې د حرف ندا محذوف د پاره، او «تدعون» خبر دې د «انتم»، او زمخشري ليکي چې «هؤلاء» دلته اسم شاره نه ده بلکه اسم موصول دې پمعنی دَ "الذی"سره .«تدعون» يې صله ده(کشاف).

﴿فَإِنَّمَا يَبۡخَلُ عَن نَّفۡسِهِۦ﴾دَبخل په صله کښ"عن"راغلې دې نودامتضمن دې معنی دَصارفاً للخير ،ته يعنی څوک چه بخل کوی نودې دَخپل ځان نه خيراړه وی اومنع کوی.﴿وَٱللَّهُ ٱلۡغَنِيُّ﴾يعنی الله ﷻ چه تاسوته دَمال خرچ کولوترغيب درکوی نودا په دې وجه نه چه الله ﷻ محتاج دې بلکه الله ﷻ خوغنی ذات دې تاسوفقراءاومحتاج يئ.﴿وَإِن تَتَوَلَّوۡاْ﴾ يعنی که

تاسو د الله ﷻ حکم نه اعراض اوکړئ اودَالله په لاره کښ مال خرچ نه کړئ،نو بیا دا هم یاد اوساتئ چه الله تبارک وتعالی په دې قادردې چه تاسوختم کړی اوستاسو په عوض کښ بل قوم داسې پیدا کړی چه هغه به ستاسو پشان بخیلان نه وی بلکه دَالله ﷻ اطاعت کونکی به وی.

په حدیث کښ راغلی دی چه صحابه وُعرض اوکړوچه یارسول الله ﷺ دغه بل قوم به څوک وی؟ چه که مونږاعراض اوکړو،نوحضور ﷺ دَحضرت سلمان فارسی رضی الله عنه په اوږه باندی لاس کیخودلو اووئی فرمایل چه هذا و قومه دې اودَده قوم،اوبیائی اوفرمائیل والذی نفسی بیده لو کان الایمان منوطًا بالثریا لتناوله رجال من فارس،دَالله تبارک وتعالی په ذات مې دی قسم وی کچرته ایمان ثریاستورې ته هم ورسیږی نودَفارس خلق به یې دَ هلته نه ئې هم حاصل کړی.

ركوعاتها (۴)	سورة الفتح مكية	اياتها (۲۹)
	بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکې دې شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (۴۸) وحسب النزول (۱۱۱)

سورة فتح مدنی سورة دې، ترتیب قرآنی لحاظ سره (۴۸) دې اوترتیب نزولی په اعتبارسره (۱۱۱) دې، نزلت بعدالجمعة قبل المائدة.

ربط: ئی ماقبل سورة دادې چه په ماقبل سورة کښې اعلان دَجهادوؤېدی سورة کښې دَفتح اعلان دې چه په جهادسره دَمسلمانانوفتح اوغلبه رازی.

دسورة دَمضامينواجمالی خلاصه

دَسورت دوه حصې دې، اوله حصه تر دویمې رکوع اختتام آیت نمبر ۱۷ پورې ده، دیکښې اول دَ فتح اعلان، بیان نبی ﷺ په حق کښې دهغې ثمرات، بیا مؤمنانو صحابؤ په حق کښې او دهغې ثمرات، اوبیا کفاروپه حق کښې اودَ هغې ثمرات ذکر کیږی. همدغه شان دنبی کریم ﷺ اطاعت ترغیب اودَمخالفت تحذیر ذکر کیږی، اودَمنافقینو عذرونه بیانیږی. دویمه حصه کښې دَدې تولو مضامینو اعاده ده.

تفصيلي خلاصه

اوله حصه:

آیت نمبر ۱، اعلان فتح

آیت نمبر ۲، ۳ کښې نبی ﷺ په حق کښې د صلحې حدیبیې څلور ثمرات بیانیږی.

آیت ۴، ۵ کښې صحابؤو په حق کښې څلور ثمرات ذکر کیږی.

آیت ۶، ۷ کښې کفاروپه حق کښې څلور نتائج ذکر کیږی

آیت ۸، ۹ کښې ترغیب دې اطاعت دَ رسول ته.

آیت ۱۰ کښې بشارت دې په اطاعت باندې.

آیت نمبر ۱۱، ۱۴ پورې د منافقینو اول حالت ذکرکیږی، اودَهغې تفصیلي جائزه ده

آیت نمبر ۱۲، ۱۵، کښې منافقینو دویم حالت ذکر او دهغې جائزه ده
آیت نمبر ۱۷ کښې د معذرینود عذربیان دې

دویمه حصه:

آیت: ۱۹، ۲۰، ۲۱ کښې په حدیبیه کښې شریک صحابه کرامو دپاره انعامات ذکر کیږي.
آیت ۲۲، نه تر۲۲ پورې حدیبیه په موقع باندې دقتال او دکفارو مغلوبیت اوعدم قتال حکمتونه ذکر کیږي.
آیت نمبر ۲۷ کښې جواب د شبهې ذکر کیږي.
آیت نمبر ۲۸ ترغیب دې دَ اطاعت رسول
آیت ۲۹ کښې اوصاف صحابه.

شان نزول د سورت

سوزة فتح په حدیبیه کښې نازل شویدې، حضرت انس فرمائی چه دَصلح حدیبیه نه ورستوچه کله حضور ﷺ واپس شومدینی منورې ته تشریف راوړلواودَصحابه کرامو په زړونو کښې دَدې خبرې صدمه وه چه عمره ئې ادانه کړه، نوپه لاره کښې دا سورة نازل شو (چه ګویا صلح حدیبیه شرائط اوفی الحال عمره نه ادا کول شکست مه ګنړئ اوپدې مه خفه کیږئ، دا شکست نه دې بلکه فتح مبین ده).

دَصلح حُدیبیه مختصره واقعه

په سنه۲ هـ شپږمه هجرئ کښې په مدینه کښې حضور ﷺ خوب اولیدلوچه سره دَ صحابهٔ کرامو مکې ته راغلی یو اوعمره مواداکړیده، بعض کسانودَعمرې نه فراغت باندې حلق او بعضِ کسانو قصرکړیدې، داخوب نبی کریم ﷺ صحابه وُته بیان کړو، چونکه دَنبی خوب هم دَ وحی یوصورت وی، او دَ صحابهٔ کرامو په زړونو کښې واړه یادونه راویخ شول نودوئ فوراً تیاری اوکړه، حضور ﷺ ورته اګرچه یوخاص وخت نه وُمتعین کړې مګردَشدت اشتیاق پوجه تولوداا وګنړله چه اوس به داخوب پوره کیږي، دَ صحابه کرامو په تیاری باندې حضور ﷺ هم عمرې ته دَتللواراده اوکړه، اوورسره ئې خوا او شا قبائلو ته هم پیغام اولیږلو اودَعمرې دعوت ئې ورله ورکړو، لیکنَ په هغوئ کښې منافقانو دَ تللو نه انکاراوکړو اوبهانې ئې جوړی کړې چه تفصیل ئې ورستوراځی

چنانچه۶ هجري دذي القعده په مياشت کښ دپيرپه ورځ حضورﷺ غسل اوکړو اونوي لباس ئې واچولو اوپخپلې اوښې قصوى باندې سورشولو ،دصحابه کراموڼښکرئې دځان سره روان کړوچه دهغې تعدادپه اکثرورواياتونوکښ(۱۴۰۰)څوارلس سوه راغلي دي،قافله روانه شوه اودهدي څناورئې هم دځان سره روان کړل،دذوالحليفه مقام نه ئې احرامونه هم اوتړل چه کفارمکه پوهه شي چه ددوئ مقصدجنګ کول ندي بلکه عمره کوي

په لاره کښ نبي اکرمﷺ ته يوکس اطلاع ورکړه چه دمکې کافران ستاسودراتلونه خبر شويدي، ستاسودمقابلې دپاره جمع دي اوهرګزتاسومکې ته نه پريدي،اوحضرت خالدبن وليد سره ديوجماعت نه غميم مقام ته رارسيدلي دي ،نبي ﷺ ته چي پته اولګيده نولاره يې بدله کړه او په بله لاره تلو تلو تردې چې حديبيه مقام ته نيزدې ورسيدلو ،

دحضورﷺ اوښه کيناستله،دډير کوشش باوجود هم نه پاسيدله، صحابه کرامو اووې چه "خلاتِ القصوىٰ" يعني قصوىٰ اوښه لټه شوه،حضورﷺ اوفرمايل:ماخلاتِ القصوىٰ،وماذاك لها بخلقٍ ولكن حبسهاحابس الفيل،يعنى دالټه شوې نه ده اونه دادذې عادت دې بلکه داهغه ذات منع کړيده چه اصحاب الفيل ئې منع کړې وۀ ، بيائې ارشاداوفرمايلو .چه قسم په هغه ذات چه دچاپه قبضه کښ ځماروح دې چه که اهلِ مکه زمونږه نه دداسې څيزمطالبه اوکړي چه په هغې کښ دحرماتُ الله احترام مقصود وي نوځه به ئې خامخامنم،دې نه بعد بيا اوښه پاڅيدله اوقافله روانه شوله،تردې چې حديبيه ته را اورسيدل اوهلته يې پړاو واچولو

نومختصراً داچه حديبيه کښ دوران قيام دافيصله اوشوه چه مشرکين مکه سره مذاکراتو دَ پاره حضرت عثمانؓ دې مکې ته اوليږلې شي اومشرکانو ته ددې وضاحت اوکړي چه ځمونږ اراده صرف عمره کول دي نورڅه مقصدندي لهذامونږمه منع کوئ. حضرت عثمانؓ مکې ته راغې ابوسفيان وغيره سره ئې خبرې اوشوې اودَ صحابه کرامو ؓ دراتلومقصدئې ورته ښکاره کړلوليکن هغوئ بالکل اونه منله اوورته ئې اووې چه که ته يواځې طواف کول غواړې نواوکه ورنه مونږمحمدﷺ اودهغه ملګرې هرګزدلته نه پريدو.

عثمانؓ اوفرمايل:چه څه هرګزدَالله ﷻ اودرسول عليه السلام نه بغيرطواف اوعمره نه کوم.قريشوچه دا واورېدل نوعثمانؓ ئې دَ واپس تللو نه منع کړو ، صحابه کراموته خبرراورسيدلوچه عثمان ؓ شهيدکړيشو ،صحابه کراموته داخبراوريدل ډيره لويه واقعه وه،هرسړې مضطرب او پريشانه وۀ ،نبي اکرمﷺ پدغه وخت کښ ديوې ونې لاندې کيناستلو اوصحابه کرامؓ ئې

جمع کړل او بیعت ئی ورنه واخستلو ،چه مونږ دَ مکې والؤو نه دَ عثمانؓ انتقام اخلو ، او بیا ئی په آخرکښې خپل یو لاس دَبل لاس دَپاسه کیخلودلو او وئی فرمایل چه دا دَعثمانؓ دَجانبه بیعت دې، دَ صحابهٔ کرامودې بیعت ته بیعت رضوان وئیلې کیږی،چه ورستو په آیت نمبر(۱۸)کښې تذکره ده.

دَصحابه ئ کرامو داجذبه او بیعت علی الجهاد نه چه دَمکې کافران خبرشو نو په زړونو کښې رُعب راغې او پخپله صلحې ته اماده شول،اوعثمانؓ ئی واپس پریخودلو ،او باقاعده مذاکراتو آغاز یی اوکړو ،څو کسانو کوششونو نه بعد یی بالآخر سهیل بن عمرو ئی خپل سفیر مقرر کړو چه دَنبی کریمﷺ سره دَصلحی شرائط مقرر کړی او دا مسله ختمه شی

حضورﷺ چه کله سهیل اولیدلو چه راغې نو په طور دَنیک فال ئی اوفرمایل"سهل لکم من امرکم" چه اوس ستاسو معامله اسانه شوله،غرض دا چه دَطویل گفت وشنید نه ورستو په یو څو شرائطو سره صلحه اوشوله نبی اکرمﷺ دَصلح نامې دَلیکلودَپاره حضرت علیؓ را اوغوښتلو ورته ئی اوفرمایل اولیکه"بسم الله الرحمن الرحیم"سهیل اویل داسی مه لیکئ بلکه مونږ چه کومه وایو هغه اولیکئ چه هغه"باسمک اللّهم"ده،نبیﷺ دا منظوره کړله.

حضرت علیؓ په صلحنامې باندې بطورعنوان اولیکل،هذاماقاضیٰ علیه محمّدرسول الله، سهیل اووئیل چه زمونږ خو تاسره تنازعه هم پدی خبره ده چه تادَاللهﷻ رسول نه منو ،رسول الله مه لیکئ،محمد بن عبد الله اولیکئ، حضرت علیؓ دَ دې نه انکار اوکړو ، حضورﷺ پخپله "رسول الله"وران کړو ،او محمدبن عبدالله ئی اولیکلو.

البدایه والنهایه کښې دَصلحنامې متن داسې نقل شویدې:هذا ماصالحَ علیه محمّد بن عبد الله سهیل بن عمرو:

(۱)اصطلحاعلی وضع الحرب عن الناس عشرسنینَ یامن فیهنّ الناس ویکفُ بعضهم عن بعضٍ

(۲)وعلی انه من اتیٰ محمداً من قریش بغیر اذن ولیّه ردّه علیه

(۳) ومن جاءقریشاًممن مع محمدٍلایردوه علیه

(۴)وان بیننا عیبةٌ مکفوفةٌ

(۵)وانّه لااسلال ولااغلالَ

(۶) وانّه من احبّ ان یّدخل فی عقد محمّدٍ و عهدهٖ دخل فیه

(۷)ومن احبّ ان يّدخل في عقدقريش وعهدهم دخل فيه

(۸)وانکَ ترجع عامک هذا فلا تدخل علينا مکة

(۹)وانه اذاکان عامٌ قابلٌ خرجناعنک فدخلتهابأصحابک فاقمت بها ثلاثًا

(۱۰)معک سلاح الراکب السيوف في القرب لا تدخلها بغيرها

يعنې لس(۱۰)کاله پورې به جنګ بندوي،کچرته يوسړي دَقريشونه بغيرداَجازت نه مسلمان شي اوتاسوته راشي نوهغه به واپس کوليشي اوکه څوک دمسلمانانومونږته راشي نه هغه به نه واپس کيږي.دَمعاهدې په مده کښ به دَجانبينُ نه دآمداورفت سلسله به جاري وي په امن سره،مذکوره شرائطوکښ به خيانت نه وي،تمام قبائل به آزادوي چه دَهرچاسره معاهدهٔ معاقدهٔ کوي،تاسوبه دې کال بغيردَعمرې نه واپس ځئ اوآئنده کال به عمره اداکوئ،اسلحه به درسره نه وي مګرپه قدردَحاجت اوهغه به هم دَتيکو(نيام)نه بهرنه راوباسي.

معاهده چه کله مکمله شوه اوصحابه کرام واپس راتلل نوډيرخفه وؤنوپه لاره کښ الله ﷻسورة فتح نازل کړو.چه خفه کيږئ مه اوداصلح شکست مه ګنړئ بلکه دافتح مبين ده.

تنبيه:واقعه دَصلح حديبيه مونږدلته بغرضِ افهام مختصره ذکرکړيده صرف هغه مقصودي اجزا ذکر دي چه په سورة کښ ئې تذکره ده دَبعضِ اجزاء تذکره به ورستوهم کيږي، تفصيلي واقعه په البدايه والنهايه وغيره دسيرت او دَ تاريخ په کتابونوکښ ملاحظه کوليشئ(والله اعلم واتم علمه).

إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِينًا ﴿١﴾ لِّيَغْفِرَ لَكَ اللَّهُ مَا تَقَدَّمَ
بيشکه فتح درکړه مونږتاته فتح ښکاره،ددې پاره چه مغفرت اوکړي تاته الله ﷻ هغه چه مخکښ تيرشويدي
مِن ذَنبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ وَيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكَ وَيَهْدِيَكَ صِرَاطًا مُّسْتَقِيمًا ﴿٢﴾
کوم ګناه د ستا،اوهغه چه ورستودي.او چې پوره کړي نعمت خپل په تا باندې او روان کړي تا په لارې سيدها باندې
وَيَنصُرَكَ اللَّهُ نَصْرًا عَزِيزًا ﴿٣﴾
اومدد اوکړي ستاالله ﷻ مدد غالب

﴿ إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِينًا ﴾دا اعلان د فتحې دې ، دَفتح مبين په مصداق کښې دَ علماؤو ډير اقوال دي: بعضِ وائي چه مرادورنه فتح مکه ده،مکه اګرچه پدغه وخت کښې نه وه فتح شوې،ليکن دَيقيني امرنه تعبيرپه ماضي سره کيږي،نودَ﴿فَتَحْنَا لَكَ ﴾معنى ده حکمنالک بالفتح: يعنى حکم مو اوکړو تا ته دَ فتح،ليکن دَاکثروعلماؤقول دادې چه دَفتح مبين،نه مرادصلح حديبيه ده چونکه صلح حديبيه دَفتح مکه سبب وُنوځکه ورته فتح اووئيلې شوه،اطلاق دَسبب په مسبب اوشو.

حضرات محدثين رحمهم الله فرمائي چه صلح حديبيه په ظاهرکښې اګرچه دَمسلمانانوپه حق کښې شکست اوذلت په نظرراځي،ليکن پدې سره په حقيقت کښې دَفتح مکه دَپاره لارې کولاوې شوې ځکه:

(۱)چه دَصلح په وجه دَمکې اومدينه په مينځ کښې دَ آمدورفت سلسله شروع شوه دَ اسلام د دعوت او نشر دَپاره لارې کولاؤ شوې، مدينې ته به وفود تلل راتلل اسلام به ئې قبولو، خالدبن وليد ﷺاودَعمروبن عاص ﷺپه شان بهادرخلق په اسلام کښې داخل شول،په واقعه حديبيه کښې دَ مسلمانانوتعدادڅوارلس ياپنځلس سوه وُاودوه کاله ورستودَفتح مکه په موقع لس زره تعدادوُ.

(۲)دغه رنګه دَصلح حديبيه په موقع کښې دکافرانوسفيرانودَصحابه ئې کراموجان نثاري، اودَحضورﷺسره بې انتها محبت ئې اوليدلوچه دَ حضورﷺدَ اودس اوبه هم زمکې ته نه پريخودې،عروه بن مسعودچه تراوسه لامسلمان نه وُاودکافرانودَطرفه صلح ته راغلې وُ چې واپس لاړو ، نوقريش مکه ته ئې اووئيل چه ځه دَقيصراوکسرىٰ اونجاشي دربارونوته هم تلې يم،ليکن ما دَ محمدﷺدَملګروپشان تابعدارملګري نه دي ليدلي،کچرته تاسوجنګ کوئ نو دوئ خپل ملګرې چرته هم يواځې نه پريدي،نوپدې سره دکافرانوپه زړونوکښې رُعب راغې،اوهم ددې رعب نتيجه وه چه کله قريشودَمکې دَمعاهدې خلاف ورزي اوکړه نوپه سنه ۸هـ کښې نبي اکرامﷺدَمکې فتح کولوتياري اوکړه نودکافرانودَطرفه هيڅ مقابله اونشوه او ډيرپه اسانئ سره مکه مکرمه فتح شوه،چه تفصيل به ئي انشاءالله په سورة ممتحنه کښې راځي.

(۳)مدينه مكه او خيبر مينځ كښ راتله،مكې كښې مشركين وو او خيبر كښ يهود ،دواړه دَ مسلمانانو سخت دشمنان او اسلام نشر و اشاعت دپاره غټ رکاوټ وو ،دې وجهې نه دوئ ختمول ضروري وو، دواړو سره په يووخت كښې مقابله كول دَ تدبير خلاف وه ځكه چې دواړه غټ قوتونه وو،او داسې هم نشوه كيدې چې مسلمانان خپل ټول قوت يوطرف ته متوجه كړي، ځكه چې بل طرف نه دحملې خطره وه،صلح حديبيې فائده دا اوشوه چې مسلمانان دَ مكې طرف نه مطمئن شو نو په خيبر يې حمله اوكړه او هغه يې فتح كړو ،اوبل طرف ته ورته مكه فتح كول هم آسان شو ،ځكه چې يهودو خطره ختمه شو او دَ خيبر دَوجهې نه ورته معاشي استحكام هم ميلاؤ شو.

حاصل دَماسبق دا شو چه دَفتح مكې سبب صلح حديبيه وه نو ځكه په آيت كريمه كښ صلح حديبيې ته فتح مبين اووئيلې شوه.

حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ اوبراء بن عازب ﷺ وغيره صحابه كراموبه فرمائيل چه تاسو خو مكه فتح كولو ته فتح مبين وايئ(چه په دغه كښ خوشک نشته دې)ليكن مونږه خو صلح حديبيه فتح گنړو ،داقول هم دليل دې پدې خبره چه دَ﴿فَتْحًا مُّبِينًا ﴾مصداق صلح حديبيه ده (والله اعلم).

﴿لِّيَغْفِرَ لَكَ ٱللَّهُ ﴾فتح اعلان او بشارت نه بعد دَهغې ثمرات اونتائج ذكر كيږي،دې آيتونو كښ دَنبي كريم ﷺ دپاره څلوره انعاماتو وعده ذكر كيږي:(۱)مغفرت (۲)اتمام نعمت(۳)هدايت د صراط مستقيم(۴)نصرت عزيز،

دا **اول انعام** تذكره ده لام په ليغفر كښ يا(۱)لام اراده دې او اراد فعل او ان مصدريه ورنه ورستومقدردې،اى ارادغفران ذنوبک.(۲)يا لام تعليليه دې يعنى دَفتح په سبب الله ﷻ تاته مغفرت اوكړې،فتح مبين سبب دَمغفرت پدې اعتبارسره دې چه دَ صلح په وجه دَاسلام قبولو كسانو په تعداد كښ زياتې اوشوچه په هغې سره دَحضور ﷺ په اجراوحسناتو كښ هم اضافه اوشوه اوحسنات كفاره دَسيئاتو دې.

دَاهل سنت والجماعت صحيح عقيده دا ده چه تمام انبياء ﷺ قبل النبوة،بعدالنبوة او دَ صغيره گناهونو او دَ كبيره گناهونود صدور نه هم معصوم دى اوپه آيت كريمه كښ خو

حضور ﷺ ته دَذنب نسبت شویدې نودینه معلومیږی چه دپیغمبر ﷺنه هم گناه کیدیشی.
مفسرینو دَقرآن اودَغه رنګه شارحینو دَحدیث دَ دې آیت ډیر توجیهات بیان کړیدی:

(۱)یوه توجیه داده چه دلته مضاف محذوف دې،من ذنبک ای من ذنب اُمَتکَ یعنی د حضور ﷺ ذنب مراد ندې بلکه دَامت ذنب ورنه مراددې.نبي کریم علیه السلام سره به اکثردَامت دَ گناهونو فکر ملګرې وؤ.الله تعالیٰ ورته اطلاع ورکړه چه ستاأمت به معاف کومه،داتوجیه اګرچه په ظاهرکښ صحیح معلومیږی لیکن ډیره غوره نه ده ځکه چه په ورستوپه آیت نمبر(۵)کښ مؤمنانوته دَمغفرت بشارت مستقلاً ذکر کیږی.

(۲)دویمه توجیه داده چه نبی کریم ﷺ ته دَذنب نسبت کول دَ-حسناتُ الابرار سیئات المقربین- دَ قبیلی نه دې،دَپیغمبر ﷺ ذنب په حقیقت کښ ذنب نه دی بلکه خلاف اولی اوترک دَ ما هو الافضل والاحسن ته ئی ذنب وئیلې کیږی،لکه واقعه دَعبدالله مکتوم رضی الله عنه شوه چه سورة دَعبس وتولی پرې نازل شوې وؤ.

(۳)دریمه توجیه داده چه دَ ذنب نه اجتهادی خطاء مراد ده جه دَانبیاؤ علیهم السلام نه هم ممکنه ده

(۴)خلورمه توجیه داده چه علامه کشمیری رحمه الله فرمائی چه دَذنب نه مراد دَ مشرکانو الزمات دی یعنی چه الله تعالیٰ ستانه دَمشرکانو الزمات لری کړی،دَدینه علاوه نور توجیهات هم پکښ شته دې.

﴿مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنۢبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ﴾تقدم اوتاخرچونکه متقابلین دی دَ دواړو ذکر دَ استغراق او دَ شمول دَپاره کیږی نودَدی وجه نه بعض وائی چه﴿مَا تَقَدَّمَ﴾ او﴿وَمَا تَأَخَّرَ﴾ کنایه ده دَټولوذنوبونه،یعنی ټول گناهونه به معاف کړی،بعض وائی تقدم اوتاخرپه اعتبار دَ نبوت سره دې﴿مَا تَقَدَّمَ﴾ای قبل النبوة، ﴿وَمَا تَأَخَّرَ﴾ ای بعد النبوة بعض وائی چه تقدم تاخرپه اعتبار دَ هجرت سره دې،ای قبل الهجرة وبعدالهجرة،زیاته مناسبه دَمقام سره داده چه تقدم تاخر په اعتباردَفتح سره شی،ای قبلَ الفتح وبعدالفتح.

﴿وَيُتِمَّ نِعۡمَتَهُۥ عَلَيۡكَ﴾دیکښ **دویم انعام** ذکر دې، اتمام دَ نعمت نه مراد غلبه دَ دین ده، یعنی دین به غالب شی،چه دا لویٔ نعمت دې﴿وَيَهۡدِيَكَ صِرَٰطٗا مُّسۡتَقِيمٗا﴾دیکښ **دریم انعام**

ذکر دي، "يهديک" پمعنی دَ "يثبتک" سره دي يعنی الله ﷻ به تا لره په سيدهالاري باندې محکم کړي او داواضحه ده ځکه چه دَفتح په وجه هغه خلق ختم شي چه دصراط مستقيم باندې دَ تللو دَ پاره رکاوټ اومانع جوړيږي. ﴿نَصۡرًا عَزِيزًا﴾ ديکښ خلورم انعام ذکر دې.اى نصرافيه عزّ ومنعةٌ(بحر) داسې نصرت به دی الله ﷻ اوکړي چه هغه به عزت اوغلبې والا وی،نوپه دی کښ اشاره ده فتوحاتو ته،چنانچه په سنه۷هـ کښ خيبرفتحه شو چه دَمسلمانانو په عزت کښ اضافه اوشوه اودغه رنګه په ۸هـ کښ مکه مکرمه فتحه شوه.

هُوَ الَّذِيٓ اَنۡزَلَ السَّكِيۡنَةَ فِيۡ قُلُوۡبِ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ لِيَزۡدَادُوۡۤا اِيۡمَانًا
الله ﷻ هغه ذات دې چه نازله وی اطمينان په زړونودمؤمنانوکښ دپاره ددې چه زيات کړی ايمان
مَّعَ اِيۡمَانِهِمۡ ؕ وَلِلّٰهِ جُنُوۡدُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيۡمًا حَكِيۡمًا ۙ
سره دَايمان دَدوئ نه،اوخاص الله ﷻ لره دی لښکرې دَاسمانونواودزمکې،او الله ﷻ پوهه دې حکمت والا دې

﴿هُوَ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ ٱلسَّكِينَةَ﴾ دی آيتونو کښ د صحابه کرامو په حق کښ صلح حديبيه ثمرات او اثرات ذکر کيږی، چې هغه دا دي: (۱)انزال سکينه(۲)زيادت ايمان(۳)دخول جنت (۴)تکفير سيئات.

دادَ اول انعام بيان دی چه انتهائی پريشان کن حالاتو کښ الله ﷻ په دوئ سکينه نازله کړه، دَ سکينی معنٰی،تسلی اواطمينان قلبی ده،يعنی الله ﷻ دَ صلح حديبيه په موقع دَمسلمانانو په زړونوکښ اطمينان اوتسلی واچوله چه په هغې سره دَ دوئ په نور ايمانی او انشراح صدرکښ اضافه اوشوه اوفيصلې دَرسولﷺ ته ئی غاړه کيخودله،اګرچه دوئ ته دَ صلح دَ شرائطو په وجه ډيرزياته پريشانی لاحقه شوی وه،لکه حضرت عمرؓ دَ ډيرې پريشانئ په وجه عرض اوکړوچه "السناعلی الحق وهم علی الباطل" آيا مونږ په حقه او دوئ په ناحقه نه دی؟ نبی کريمﷺورته اوفرمائيل،ولې نه! بيائی عرض اوکړوچه "اليس قتلانا في الجنة وقتلاهم في النار" آيازمونږمقتولين به په جنت کښ اودَدوئ به په جهنم کښ نه وی،نبی کريمﷺورته اوفرمائيل،هم داسی ده،نوبيائی عرض اوکړوچه بياولې مونږدومره کمزوری شرائط منو؟

حضورﷺ ورته جواب ورکړو چه ځه دَ اللهﷻ نبي يم، اللهﷻ به هرګزما نه ضائع کوي. بيا حضرت عمرؓ هم دغه خبرې دَ ابوبکرؓ سره اوکړې هغه ورته هم دغه جواب ورکړو، آخر دا چه تسلي ئې اوشوه او اواحرام ئې کولاؤکړو.

﴿لِيَزْدَادُوٓاْ إِيمَٰنًا مَّعَ إِيمَٰنِهِمْ﴾ دا دَ **دويم انعام او ثمرې** بيان دی چه دَ سکينې پوجه اللهﷻ به دوئ ايماني کيفيت کښې اضافه اوکړه، بعضِ علماؤلکه امام بخاري رحمه الله وغيره دَ دې آيت نه استدلال کړيدې پدې چه الايمانُ يزيدُ و ينقصُ ايمان کميږي زياتيږي، ليکن محققين علماء چه په هغې کښې امام ابوحنيفه رحمه الله هم دې دا وائي چه الايمان لا يزيدُ ولا ينقصُ ايمان کښې کمې زياتې نه راځي ځکه چه ايمان تصديق ته وائي اوهغه بسيط دې زيادت، نقصان نه قبلوي، دلته پدې آيت کريمه او په نورو آياتونو اودغه شان په احاديثوکښې چه کوم زياتيدل راغلي دي نو دَ هغې نه مراد په اوصافو او آثاروکښې زياتې مراد دې، نفسِ ايمان کښې زياتي ندې مراد، يا زيادت په اعتبارِ دَ مومن بهٔ سره دې.

نو دلته مطلب دا شو چه صحابهٔ کرامو چه اول عزم اوبيعت علی القتال کړې وؤ، نو هغه ئې هم دَ ايمان اثروؤ، اوبيائې چه دَ رسول اللهﷺ په فيصلې راضي شول اوترک دَ قتال ئې اوکړو نو دائې هم دَ ايمان اثروؤ، اول ئې چه عزم دَ قتال وؤنو په اثر دَ ايمان کښې ئې اضافه شوې وه اوورستوئې چه کله صلح قبوله کړه نوبيائې هم په اثر دَ ايمان کښې اضافه اوشوه، اومراد دَ اضافې نه انشراح صدر کښې اضافه ده.

﴿وَلِلَّهِ جُنُودُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ﴾ داجمله معترضه ده دَ پاره دَ بيان دَ علت دماقبل چه اللهﷻ فتحه درکوي، سکينه نازله وي، داپدې وجه چه جنود دَ اسمانونو اودَ زمکې دَ اللهﷻ په قبضه کښې دي، اوکه دَ اللهﷻ خوښه شي نو دَ کفارو دَ هلاکت دَ پاره به خپلې لښکرې را اوليږي، ليکن تاسوته چه حکم کوي نو دَ خپل مصلحت اوحکمت په بناء باندې کوي ځکه چه اللهﷻ

﴿عَلِيمًا حَكِيمًا﴾ دې، منجمله د هغې نه دَ خپلو بندګانو ابتلاء اوامتحان کول دي.

لِّيُدْخِلَ ٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ
دَ پاره دَ دې چه داخل کړي اللهﷻ مؤمنان سړي اومؤمنانې ښځې جنتونوته چه بهيږي به دَ لاندې دَ هغونه ولې

خٰلِدِيْنَ	فِيْهَا	وَيُكَفِّرَ	عَنْهُمْ	سَيِّاٰتِهِمْ	وَكَانَ	ذٰلِكَ
همیشه به وی دوئ په هغوکښې اولرې(معاف)کړی دَدوئ نه ګناهونه ددوئ.اوده دغه(داخلیدل جنت ته)						
عِنْدَ اللّٰهِ فَوْزًا عَظِيْمًا ۞		وَّيُعَذِّبَ	الْمُنٰفِقِيْنَ	وَالْمُنٰفِقٰتِ	وَالْمُشْرِكِيْنَ	
به نزددالله ﷻ کامیابی لویه.اودپاره دَدې چه عذاب ورکړی منافقانواومنافقاتوښځوته اومشرکانوته						
وَالْمُشْرِكٰتِ	الظَّآنِّيْنَ	بِاللّٰهِ	ظَنَّ السَّوْءِ	عَلَيْهِمْ	دَآئِرَةُ	السَّوْءِ
اومشرکاتوښځوته چه ګمان کونکی دی په الله ﷻ باندې ګمان بد،پدوئ باندې دی ګردش بدزمانې،						
وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ		وَلَعَنَهُمْ	وَاَعَدَّ لَهُمْ	جَهَنَّمَ	وَسَآءَتْ	مَصِيْرًا ۞
اوغضب دې دَالله ﷻ پدوئ اولعنت ئی دې پدوئ اوتیارکړې ئی دې دوئ دپاره جهنم.اوډیربدځائ دَورتلودې جهنم						
وَلِلّٰهِ	جُنُوْدُ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	وَكَانَ اللّٰهُ	عَزِيْزًا	حَكِيْمًا ۞
اوخاص الله ﷻ لره دی لښکرې دَاسمانواوزمکې.او الله ﷻ غالب حکمت والادې						

﴿لِّيُدْخِلَ الْمُؤْمِنِيْنَ﴾دا **دريمه ثمره ده** د صلح حديبيه. شان نزول دَدې آيت دا دې چه کله دا آياتونه «ليغفر لک الله الخ» نازل شول اونبی کريم عليه السلام صحابؤو ته بيان کړل نوهغوئ غرض اوکړو : **هنيئا مريئًا لک يا رسول الله لقد بيّن الله لکَ ماذا يفعلُ بکَ، فماذا يفعل بنا؟**يعنی ستا دَ پاره دې مغفرت مبارک وی، زمونږدَپاره څه دی؟ نودا آياتونه نازل شو.

﴿وَالْمُؤْمِنٰتِ﴾ذکر دَتعميم دپاره دې اودَپاره دَدفع دَتوهم،چه ښځې باقاعده اګرچه په دې سفرکښې نه وی شريکې ليکن بيا هم مستحق دَ دې انعام دی.

﴿وَيُكَفِّرَ عَنْهُمْ﴾دیکښې **څلورمی ثمری او انعام** بيان دې.چې ګناهونه به ورله الله ﷻ معاف کړی،

فائده: تکفير دسيئاتو مقدم دې په اخال دجنت،يعنی ګناهونو معافي رومبې کيږی هغی نه بعد به جنت ته داخلول کيږی ليکن دلته جنت کښې داخلولو تذکره مقدم کړيشوه په تکفير سيئات ،ځکه دا مطلوب اعلی دې.

﴿وَكَانَ ذَٰلِكَ عِندَ ٱللَّهِ فَوۡزًا عَظِيمًا﴾ يعني دَدنياظاهری،مادی فتح لويه کاميابی نده بلکه لويه کاميابی دآخرت کاميابی ده چه انسان جنت ته داخل شی اودجهنم نه بچ شی ﴿ذَٰلِكَ﴾ اشاره دخول دَجنت نه ده،علامه شبيراحمدعثمانی رحمه الله فرمائی چې:ځنې نقلي پيران يا مغلوب الحال بزرگان کله دا خبره کوي چې د جنت طلب هڅې يو فضول شې دې ، نو دې آيت نه معلومه شوه چې الله تعالیٰ په نيز دا لوئ کمال دې .

﴿وَيُعَذِّبَ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ﴾ دی آيتونو کښ دَ **کفارو او منافقينو حق کښ دَ صلح حديبيه اثراتو او نتائجو** بيان دې،چې هغه دا دې:(١)تعذيب المنافقين والمشركين.(٢)اسلام خلاف دَدوئ تدابير ناکام ونامراد کيدل(٣)دَ الله تعالیٰ غضب ولعنت مستحق کيدل.(۴)دخول جهنم.

دا **اوله ثمره** ده دَ چه صلح حديبيه اوديکښ نزول دَسکينی اونصرت دَمؤمنانو سبب دَ عذاب دې دَ منافقانو او مشرکانو ،ځکه چه په نزول دَسکينی اونصرت سره به دَاسلامی فتوحاتودروازه کولاوشی چه دادَمنافقانواودکافرانودَهزيمت اوشکست سبب دې. ﴿ٱلظَّآنِّينَ بِٱللَّهِ ظَنَّ ٱلسَّوۡءِ﴾ يعنی دَ الله تعالیٰ په وعدو بدگمانی کوی،منافقانو بدگمانی دا وه چه مسلمانان چه عمری ته ځی نوخامخابه جنگ پيښيږی اومسلمانان به ټول تباه کيږی،يوبه هم واپس نشی ځکه چه دَوطن نه لری،فوج کم،دَ دشمن وطن به وی نومونږولې خپل ځانونه دَدوئ سره په هلاکت کښ واچوؤ،لکه په ورستوآيت(١٢) کښ دَدې ذکردې چه:بل ظننتم الَن يقلب الرسول.....الخ،هم دی وجهې نه دوئ دَمسلمانانوسره عمرې ته نه لاړل.

اودکافرانوبدگمانی داوه چه دامسلمانان خوپه ظاهرکښ عمرې ته راغلی دی خوپه چل سره په بيت الله اوپه مکې باندې قبضه کوی

﴿عَلَيۡهِمۡ دَآئِرَةُ ٱلسَّوۡءِ﴾ دادَ کفارو په حق کښ دَ صلح حديبيی **دويم اثر** دې چی اسلام خلاف دَ دوئ منصوبی او پلانونه به شنډ شی،دی تشريح مطابق داپيشن گوئي ده د دې خبرې چې دوئ سوء ظن به په دوئ واقع کيږي او بدگمانئ مطابق معامله به ورسره کيږي ، دې آيت دويم تفسير داهم بيان شويدې چه داکفاروته بدعاء ده ﴿دَآئِرَةُ﴾مصدردې په وزن دَاسم فاعل،يا اسم فاعل دې دَ "دَارَ يَدُورُ"نه دائره خط محيط ته وائی،اطلاق ئی په کلام عرب کښ په حادثه باندی کيږی ځکه چه حادثه هم سړی باندې احاطه کوی.

﴿وَلِلَّهِ جُنُودُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ﴾ دَسابقی جملې معترضې اعاده اوتکرارږدي برائ تاکید ، یا تکرارندي بلکه دلته دَجنودونه مراد جنود دَهلاکت دی ځکه دلته ﴿عَزِيزًا﴾ ذکر شو او په ماقبل کښ ورنه جنود دَنصرت مرادوُو ځکه هلته ﴿عَلِيمًا﴾ ذکرشو

إِنَّآ	أَرْسَلْنَٰكَ	شَٰهِدًا	وَمُبَشِّرًا	وَنَذِيرًا	لِّتُؤْمِنُوا۟
بیشکه مونږلیږلې ئی ته اې محمده ﷺ ګواهی کونکې اوزیرې ورکونکې اوېره ونکې، چه ایمان راوړئ تاسو					
بِٱللَّهِ	وَرَسُولِهِۦ	وَتُعَزِّرُوهُ	وَتُوَقِّرُوهُ	وَتُسَبِّحُوهُ	بُكْرَةً وَأَصِيلًا ⑨
په الله جل شانه او په رسول دَهغه اومدداوکړئ دَرسول اوعزت ئی اوکړئ، اوپاکی بیان کړئ دَالله جل شانه صبااوبیګاه،					
إِنَّ	ٱلَّذِينَ	يُبَايِعُونَكَ	إِنَّمَا	يُبَايِعُونَ	ٱللَّهَ يَدُ ٱللَّهِ فَوْقَ
بیشکه هغه کسان چه بیعت کوی تاسره بیشکه دوئ بیعت کوی الله جل شانه سره، لاس حمایت دَالله جل شانه دَپاسه					
أَيْدِيهِمْ ۚ	فَمَن	نَّكَثَ	فَإِنَّمَا	يَنكُثُ	عَلَىٰ نَفْسِهِۦ ۖ وَمَنْ أَوْفَىٰ
دلاس دَدوئ دې، پس چاچه بیعت مات کړونوبیشکه ضرر د ماتولو به په هم ده وي، اوچاچه وفااوکړه					
بِمَا	عَٰهَدَ	عَلَيْهُ	ٱللَّهَ	فَسَيُؤْتِيهِ	أَجْرًا عَظِيمًا ⑩
په هغه چه وعده ئی کړیده په هغې الله جل شانه سره نوزرده چه وربه کړی ده ته الله جل شانه اجرلوئ					

﴿إِنَّآ أَرْسَلْنَٰكَ شَٰهِدًا﴾ په دی کښ ترغیب دې نصرت دَنبی علیه السلام ته چې دومره عظیم الشان صفاتو والا پیغمبر مو درلیږلې دې نودَ دې مقصد هم دا دې چې تاسو پرې ایمان راوړئ او د هغه مدد او اطاعت ئي اوکړئ ، ﴿ شَٰهِدًا ﴾ دَالله جل شانه په وحدانیة ،یا په خپل امت یاپه تبلیغ دَسابقه انبیاءکرامو باندی ګواه ،دَدې آیت تفسیرپه احزاب وغیره هم تیرشویدې. ﴿لِّتُؤْمِنُوا۟ بِٱللَّهِ﴾ خطاب صرف امت دې یعني رسالت مقصد دا دې چې تاسو په الله جل شانه او په دې پیغمبر باندې ایمان راوړئ ، او یا خطاب نبی اکرم ﷺ اوامت دواړو ته دې،نو دینه معلومه شوه چه حضور ﷺ په خپل رسالت باندې دَایمان راوړلو مکلف دې ﴿وَتُعَزِّرُوهُ وَتُوَقِّرُوهُ﴾

﴿وَتُسَبِّحُوهُ﴾ "تعزير" وئيلې کيږي نصرت او مدد ته ، "توقير" وئيلې کيږي تعظيم يعني ادب او احترام ته او "تسبيح" وئيلې کيږي پاکي بيانولو ته د نقائصو او د عيبونو نه،او ضمير منصوب په دريې وارو افعالو کښې راجع دې الله ته، او دَ تعزير او توقير نه مراددَالله ﷻ دَ دين اعانت اوتعظيم دې، او يا په ﴿وَتُعَزِّرُوهُ﴾او ﴿وَتُوَقِّرُوهُ﴾ کښې راجع دې نبى اکرم ﷺ ته او﴿وَتُسَبِّحُوهُ﴾ کښې الله ﷻ ته راجع دې،نو آيت کښې درې قسم حقوق بيان شو ،يودَ الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ مشترکه حق چې هغه ايمان دې ، دويم خاص د رسول حقوق چې د هغه تعزير او توقير دې او دريم خاص د الله ﷻ حقوق چې هغه تسبيح او پاکي بيانول دي . ﴿بُكْرَةً وَأَصِيلاً﴾ کنايه ده دَعموم الاوقات نه ياورنه مرادمونځ دَسهار ،مازيګردې. کمامرّفى سورة الاحزاب.

﴿إِنَّ الَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ﴾پدى کښې بشارت دې بيعت کونکو صحابؤو ته چه دَ حضورﷺ سره ئې په انتقام دَحضرت عثمانؓبيعت کړې وو، تفصيل ئې نيزدې راروان دې ﴿إِنَّمَا يُبَايِعُونَ اللَّهَ﴾ ځکه چه په حقيقت کښې مقصوددَدوئ طاعت الهى باندې بيعت کول وؤ.

"بيعت" دَ بيع نه دې،بيعت کونکې هم دَخپل ځان اومال سودا دَ الله ﷻ او دَ هغه دَ رسولﷺ سره کوى،ځکه داسى عهداومعاهدى ته بيعت وئيلې کيږى،حضورﷺپه زمانه کښې به دَ بيعت مختلف قسمونه وؤ،بيعت على الاسلام،بيعت على الهجرة،بيعت على الجهاد دغه رنګه بعض صحابه کرامو به ارکان دَاسلام باندې دَ پابندئ کولو ،هرمسلمان سره دَ خير خواهئ کولو ،اودغه رنګه نورو امورو باندې بيعت کړې وؤ ، ډيراحاديث پدې شاهددى،نن صبا دَ طريقت دَ مشائخو سره بيعت کول هم جائز بلکه بهتر عمل دې کچرته شيخ ظاهر دَ شريعت سره مزين اومتبع سنت وى.

﴿يَدُ اللَّهِ فَوْقَ أَيْدِيهِمْ﴾ کنايه ده دَحمايت اونصرت دَالله ﷻنه،نو دادَماقبل"انمايبايعون الله"تاکيدشو"يدالله"دَمتشابهاتونه دې معني حقيقى ئې الله ﷻته معلومه ده،ظاهرى او متعارفه معنى ورنه مرادکول صحيح نه دى ځکه چه دَدې نه ظاهرى معنى اراده کول دَ مشبهه وؤ مذهب دې،نه دَاهل سنت والجماعت،نوځوک چه دَدې نه ظاهرى متعارفه معنى مرادکوى. او بيا ورته مذهب دَسلفووائى،نوداقول غلط دې،مکمل اومدلل تفصيل دَدې مسئلى دَدې

تفسير په جلد اول (ص ۴۴۲) کښې "واُخرمتشابهات" په تشريح کښې ملاحظه کړئ (والله يهدى الى الحق والى سواء الصراط).

﴿عَلَيْهُ ٱللَّهَ﴾ "عليهُ" کښې ها ضمير ضمير مجرور مبنى على الكسر وى خو دلته لفظ جلاله تفخيم سره وئيلو رعايت دَ دوجهې نه په دې ضمه راغلى ده . ځکه چې کسرى په صورت کښې لام کښې تفخيم نشى راتلى او "پُر" نشى ويلې کيدې (روح المعانى).

سَيَقُولُ	لَكَ	الْمُخَلَّفُونَ	مِنَ	الْأَعْرَابِ	شَغَلَتْنَا	أَمْوَالُنَا

زردې چه وائى به تاته ورستوپاتې شوى دَباندو چيانونه چې مشغوله (منع) کړى وُو مونږه مالونو خپلو

وَأَهْلُونَا فَاسْتَغْفِرْ لَنَا ۚ يَقُولُونَ بِأَلْسِنَتِهِمْ مَا لَيْسَ فِي قُلُوبِهِمْ

اوکډو خپلو نو بخښه اوغواړه مونږ لره،وائى دوئ په ژبو خپلو هغه خبرې چه نشته دې په زړونودوئ کښې.

قُلْ	فَمَنْ	يَمْلِكُ	لَكُمْ	مِنَ	اللَّهِ	شَيْئًا

ته اوايه اې پيغمبره!پس څوک دې چه مالک به شى ستاسو دَ پاره دَ الله ﷻ دَطرفه دَ څه څيز

إِنْ أَرَادَ بِكُمْ ضَرًّا أَوْ أَرَادَ بِكُمْ نَفْعًا ۚ بَلْ كَانَ اللَّهُ بِمَا

کچرته اراده اوکړى الله ﷻ تاسو ته دَ څه تکليف يا اراده اوکړى تاسو ته دَ څه فائدې ، بلکه دې الله ﷻ په هغه

تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ⑪ بَلْ ظَنَنتُمْ أَنْ لَنْ يَنْقَلِبَ الرَّسُولُ وَالْمُؤْمِنُونَ

چه تاسونې کوئ خبردار،بلکه گمان کوؤتاسوداچه هرگزبه راواپس نشى پيغمبرﷺاومؤمنان

إِلَىٰ أَهْلِيهِمْ أَبَدًا وَزُيِّنَ ذَٰلِكَ فِي قُلُوبِكُمْ وَظَنَنتُمْ ظَنَّ السَّوْءِ ۚ

کډو خپلو ته کله هم،او ښائسته کړې شوې وُو دا گمان ستاسو په زړونو کښې اوگمان کولوتاسوگمان بد،

وَكُنتُمْ	قَوْمًا	بُورًا	⑫ وَمَنْ	لَمْ	يُؤْمِنْ	بِاللَّهِ	وَرَسُولِهِ	فَإِنَّا

اووئ تاسوقوم هلاک کيدونکې،اوڅوک چه ايمان رانه ورې په الله ﷻ اوپه رسول دَهغه نوبيشکه

اَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ سَعِيْرًا ﴿۱۳﴾ وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ يَغْفِرُ

مونږ تیار کړیدي دپاره د کافرانو اور د جهنم ، او خاص الله لره ده بادشاهي د اسمانونو او زمکو . مغفرت کوی

لِمَنْ يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۱۴﴾

چاته ئی چه خوښه شی اوعذاب ورکوی چاته ئی چه خوښه شی.اودې الله ﷻ بار بار بخښونکې ډیر رحم کونکی

﴿سَيَقُوْلُ لَكَ الْمُخَلَّفُوْنَ﴾پدې آیاتونوکښ هغه قبائلو **منافقانوحالت** بیان دې چه صلح حُدیبیه کښ نه وو شریک شوی، پدی آیت کښ د هغوئ **اول حالت** تذکره کیږی چه دوئ به دخپل نه تللو دپاره مختلفې حیلې بهانې او عذرونه لټوی اوتاته به ئې پیش کوی.

په ابتداء کښ تیرشویدی چه حضورﷺ عمرې ته دتللوپه وخت کښ دوئ ته هم دعوت ورکړو ، لیکن دوئ دجنګ اومرګ دخوف پوجه پاتی شول،نبی اکرام علیه السلام اوصحابه کرام چه مدینه ته واپس راتلل او منافقانو ته اطلاع ملاو شوه، نو د خپلې بې عزتئ خوف ورسره پیدا شو ، نودخپل عدم شمولیت دپاره ئی بهانې تلاش کړې،لیکن الله ﷻ ددې اطلاع حضورﷺ ته مدینه ته رسیدلونه مخکښ ورکړه

"مخلّف"معنی ده ورستوپاتې کړې شوې،اودوئ خوپه خپل اختیارسره پاتې شوی وو ، نو "متخلفون" وئیل پکار وو لیکن «مخلفون» ورته ځکه اووئیلې شو چه ددوئ پاتې کیدل اثر د قهر د الله تعالى دي،نودوئ په قهرد الله ﷻ سره پاتې کړې شوی وو.

﴿شَغَلَتْنَآ اَمْوَالُنَا وَاَهْلُوْنَا﴾یعنی زمونږعذرداووچه زمونږ کورونه خالی وو ، د مالونو او د بچو د حفاظت دپاره بل څوک نه وو ځکه مونږپاتی شواوتاسره نه لاړو.﴿فَاسْتَغْفِرْ لَنَا﴾په دروغه د دې اظهاردې چه مونږ صحيح مسلمانان يو ، خودغه قصور رانه شويدې اوس ته د الله ﷻ نه زمونږ د پاره مغفرت اوغواړه.﴿يَقُوْلُوْنَ بِاَلْسِنَتِهِمْ﴾یعنی دوئ چه طلب دمغفرت کوی اودمال اولاد حفاظت عذرکوی دادروغ وائی.

﴿قُلْ فَمَنْ يَّمْلِكُ لَكُمْ﴾یعنی دنفع نقصان مالک خوصرف الله ﷻ دې،نودمال،اولاد حفاظت څه عذرنه دې،اونه پدې حفاظت سره ضرر دفع کیدلې شی،که الله ﷻ اوغواړی

نوستاسو په موجودګئ به ورته نقصان اورسوی. ﴿أَوْ أَرَادَ بِكُمْ نَفْعًا﴾ دینه مخکښ "اومن یمنع النفع" مقدر دي، یعنی چه الله ﷻ ورته نفع رسول غواړي نوستاسو عدم او مسافرت دَهغی مانع نشی کیدي.

﴿بَلْ كَانَ ٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًۢا﴾ نوستاسو په پاتی کیدلو باندی اوستاسو په مقصد باندی هم خبیر دي، چه دَهغې بیان دادي ﴿بَلْ ظَنَنتُمْ أَن لَّن يَنقَلِبَ ٱلرَّسُولُ﴾ چه نبی اکرم ﷺ اومؤمنان به هیڅ کله مدینه ته واپس رانشی اوکافران به ئي په یوځل ختم کړی نو په دی وجه تاسو پاتې شوی وئ، نه دَ هغه دروغو عذرونو په وجه، ﴿وَظَنَنتُمْ ظَنَّ ٱلسَّوْءِ﴾ ظن سابق ورنه مراددي چه "ان لن یقلب الرسول" اعاده ئی دَشدة توبیخ په وجه اوشوه ﴿قَوْمًۢا بُورًا﴾ بوراً جمع د "بائر" ده (هلاک کیدلو والا) یعنی تاسو دَ خپلې فاسدې عقیدې اوبدنیتئ په وجه دَالله ﷻ دَ عذاب مستحق یئ.

﴿وَمَن لَّمْ يُؤْمِنۢ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ﴾ تخویف اخروی دي، ﴿وَلِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ﴾ یعنی بادشاهی دَاسمانو اوزمکې دَالله ﷻ په قبضه کښ ده، چاته معافی کول، یاعذاب ورکول هم دَهغه په اختیارکښ دی نوتاسو دهغه نه معافی اوغواړئ، مغفرت به درته اوکړی ځکه ﴿وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا﴾ بعضُ روایانوکښ دی چه بعضِ حضرات دَدغونه بیاورستو تائب اومخلصان شوی وو.

سَيَقُولُ	الْمُخَلَّفُونَ	إِذَا	انطَلَقْتُمْ	إِلَىٰ	مَغَانِمَ	لِتَأْخُذُوهَا	
زر ده چه وائی به ورستوپاتې کړې شوی کله چه لاړشئ تاسوغنیمتونو ته چه واخلئ هغه							
ذَرُونَا	نَتَّبِعْكُمْ	يُرِيدُونَ	أَن	يُبَدِّلُوا	كَلَامَ	اللَّهِ	
«دابه وائی چه پریږدئ مونږچه اتباع (لاړشو) اوکړوستاسو، غواړی دوئ چه بدل کړی حکم «دَالله ﷻ،							
قُل	لَّن	تَتَّبِعُونَا	كَذَٰلِكُمْ	قَالَ	اللَّهُ	مِن	قَبْلُ	فَسَيَقُولُونَ
ته ورته اووایه هرګزمه ځئ تاسومونږسره، هم داسې وئیلی وو الله ﷻ مخکښ ددې نه نوزر ده چه وائی به دوئ								

بَلْ	تَحْسُدُوْنَنَا	بَلْ	كَانُوْا	لَا	يَفْقَهُوْنَ	اِلَّا	قَلِيْلًا ⑮
بلکه	حسدکوئ تاسو مونږ .سره	(داسې	نده)بلکه	دوئ	نه پوهيږی	مگر	کم

﴿سَيَقُولُ ٱلْمُخَلَّفُونَ﴾دابيان دَ **دويم حالت** دې د هغه منافقانوته چه دَحضورﷺسره په سفر دَ عمرې کښ نه وؤشريک شوی، چه دوئ په سخته کښ مسلمانانو سره نه شريک کيږی خوکله چه ورته نفع خکاری نو بيا ځان دَپاره دَهغی مطالبه کوی،نوهم دې وجهې نه دوئ به ستاسو نه دَخيبر غنائمو کښ شرکت مطالبه کوی.

په رواياتوکښ راغلی دی چه کله نبی اکرم عليه السلام دَحديبيه نه واپس راغې نو الله تعالیٰ ورته په خيبرباندی دَحملی کولوحکم اوکړواودَخيبرفتح کولواودَهغی غنائمو ملاويدلووعده ئې ورسره هم اوکړه،اوپه وحی غيرمتلوسره ورته داحکم هم اوشوچه دَخيبرپه غنيمتونوکښ به صرف هغه خلق شريک وی چه په حديبيه کښ شريک وؤ،چه دَمکې دَغنيمتونوعوض اوگرځی. نوپه دغه وخت کښ متخلفين هم دَحضورﷺسره دَتللواراده اوکړه ځکه چه خيبرکښ مالونه، باغونه ډيروؤ، امکان دَ فتحې ډيروؤ،اوخوف خطره نه وه نوځکه دوئ هم تيار شول، نو الله تعالیٰ منع کړل اوپيغمبر عليه السلام ته حکم اوشوچه چه دوئ ته اووايه چه تاسوهرگزېدی سفر کښ مونږسره نشئ تللې،که دوئ تاسوسره ځی نودَدې مطلب به داوی چه دوئ دَالله تعالیٰ په حکم بدله وی حالانکه دَالله تعالیٰ حکم بدليدونکې نه دې.

﴿إِلَىٰ مَغَانِمَ﴾مرادورنه دَخيبرغنائم دی﴿يُرِيدُونَ أَن يُبَدِّلُوا كَلَٰمَ ٱللَّهِ﴾کلام الله نه مرادهغه حُکم دَالله تعالی دې په وحی غيرمتلوسره بيان شوې وو، چه غنائم دَ خيبر به صرف اهل حديبيه دَ پاره وی،﴿لَّن تَتَّبِعُونَا﴾ نفی پمعنی دَنهی ده،يعنی مه ځئ.﴿قَالَ ٱللَّهُ مِن قَبْلُ﴾ای من قبل ان تهيأتم للخروج معنا(روح المعانی)

فائده: دا آيت په حجيت حديث او هغې وحی کيدلو باندې واضح دليل دې،ځکه چې مخکښ خو دَالله تعالیٰ کلام چرته هم دې باره کښ نه دې ذکر شوې.

﴿فَسَيَقُولُونَ بَلْ تَحْسُدُونَنَا﴾يعنی دوئ به وائی چه هيڅ دَالله تعالیٰ حکم نه دې بلکه تاسو مونږ سره حسدکوئ په مال غنيمت کښ،﴿بَلْ كَانُوا لَا يَفْقَهُونَ﴾ رددې ددوئ دَقول،چه دوئ نه

پوهيږي مګر په صرف په أمورودَدنيا .کچرته پوهيدلي نودوئ به دغه قول نه وي کړي،ځکه چه دَ صحابه کرامو مقصد خومال غنيمت حاصلول ندی چه تاسو سره حسد اوکړي،بلکه دَهغوئ ټول استعداد خو په رضادَ الله ﷻ کښې استعماليږي.

قُلْ لِّلْمُخَلَّفِيْنَ مِنَ الْاَعْرَابِ سَتُدْعَوْنَ اِلٰى قَوْمٍ اُولِيْ بَاْسٍ
اووایه ورستوپاتې کړې شوؤ ته دَ باندِه چيانو نه ، زرده چه را اوبه غوښتلې شئ تاسويوقوم ته چه خاوندان دَجنګ
شَدِيْدٍ تُقَاتِلُوْنَهُمْ اَوْ يُسْلِمُوْنَ ۚ فَاِنْ تُطِيْعُوْا
سخت دی.جنګ به کوئ تاسوهغوئ سره يا دا چه دوئ اسلام راوړی. پس کچرته تاسوباخبره اومنله
يُؤْتِكُمُ اللّٰهُ اَجْرًا حَسَنًا ۚ وَاِنْ تَتَوَلَّوْا كَمَا تَوَلَّيْتُمْ مِّنْ قَبْلُ
نودربه کړی تاسوته الله ﷻ اجرښائسته،اوکه تاسوبيااعراض اوکړولکه چه اعراض موکړي وو مخکښې
يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿۱۶﴾ لَيْسَ عَلَى الْاَعْمٰى حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الْاَعْرَجِ حَرَجٌ
نوعذاب به درکړی تاسوته عذاب دردناک.نيشته دي په ړوند باندې څه ګناه اونه په ګډباندې څه ګناه
وَّلَا عَلَى الْمَرِيْضِ حَرَجٌ ۗ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ يُدْخِلْهُ
اونه په بيمارباندې ګناه(په ترک جهاد)اوڅوک چه تابعداری اوکړی دَالله ﷻ اودَرسول دَهغه داخل به کړی
جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۚ وَمَنْ يَّتَوَلَّ يُعَذِّبْهُ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿۱۷﴾
هغه جنتونوته چه بهيږي به لاندې دَ هغې نه ولې، او څوک چه اعراض اوکړی نوعذاب به ورته ورکړی عذاب دردناک.

﴿قُل لِّلْمُخَلَّفِيْنَ مِنَ الْأَعْرَابِ﴾يعنی متخلفين ته اووايه چه مواقع دَجنګونونورې هم راتلونکی دی چه په هغې کښې به تاسوته دَشرکت دعوت ملاويږی،اودَډيرسخت سخت قومونوسره به دَمسلمانانوجنګونه راځي،نوکه تاسوبيادَالله ﷻ اودَهغه دَرسول ﷺ اطاعت اوکړولواوپه جنګ کښې شريک شوی نوالله ﷻ به درته ډيرغنيمتونه درکړی اوکه دَاوسنی په شان مواعراض اوکړونوعذاب اليم به درکوی.

﴿إِلَىٰ قَوْمٍ أُوْلِي بَأْسٍ شَدِيدٍ﴾دَدې قوم په تعيين کښې اختلاف دې:

(۱)بعضِ وائی دَدې نه مراددَعربو قبائل لکه هوازن.ثقیف وغیره مراددی چه دَحنین په مقام کښ ورسره دَمسلمانانو جنګ شوې وؤ.

(۲)بعضِ وائی چه مرادورنه دَمسیلمة الکذاب اودَهغه ملګری دی،چه دَابوبکرصدیق ﷺ په زمانه خلافت کښ ورسره جهادشوې وؤ،رافع بن خدیج ﷺ فرمائی چه مونږبه داآیت لوستلو ، خو نه پوهیدلو چه دې نه څوک مراددی حتّی چه ابوبکرصدیق ﷺ مونږ دَ بنی حنفیه (مسیلمة الکذاب ملګرو) سره دَجنګ کولودَپاره رااوغوښتلونو مونږپوهه شوچه هم دوئ ورنه مراددی.

(۳)بعضِ وائی مرادورنه دَروم اوفارس خلق دی چه حضرت عمر ﷺ ورسره جهادکړې وؤ لکه دَقادسیه جنګ،اودَیرموک،جنګ،اودَدوئ سره دَجنګ په نتیجه کښ مسلمانانوته ډیر مال غنیمت ملاؤشوې وؤ.

فائده:طیبی رحمه الله فرمائی چی دا آیت خلفاء ثلاثۇو ابوبکر.عمر اور عثمان رضی الله عنهم د خلافت حقیت دلیل دې؛ څکه چې ((ستدعون)) کښ داعی یا نبی ﷺ به وی یا غیر ، او اول احتمال نشی کیدې،څکه نبی ﷺ ته دَ ((قل لن تخرجوا معي ابدا ولن تقاتلو معي عدوا)) حکم وؤ، دویم احتمال په صورت کښ به یاعلی رضی الله عنه مراد وی.یا خلفاء ثلاثه،علی رضی الله عنه مراد نشی کیدې،څکه چه هغه قتال خوارج او باغیانو خلاف وؤ،چی هغه مسلمانان وؤ او دلته ((او یسلمون)) نه معلومیږی چه دا جنګ به دَ کفارو خلاف وی ،لهذا دویم صورت متعین شو ،چی مراد ترینه خلافاء ثلاثهٔ دی ،بیا دَهغوئ په اطاعت باندې ((اجرا حسنا)) بشارت او عدم اطاعت باندې ((عذابا الیما)) وعید ذکر شو،چې دې نه د هغوئ خلافت حقیت طرف ته اشاره اوشوه(فتوح الغیب)

﴿تُقَٰتِلُونَهُمۡ أَوۡ يُسۡلِمُونَ﴾ قضیه مانعة الخلو ده او((او)) تنویع دَپاره دې،یعنی یا به قتال وی ،یا به اسلام راوړی،که ((قوم)) نه بنی حنیفه او نور عرب قومونه مراد شی نو((یسلمون)) خپله ظاهری معنی باندی محمول دې او که ترینه نور قومونه مراد شی نو بیا انقیاد په معنی کښې دې،نو دا اعتراض نشی کیدې چی بعض قومونو سره خو نه قتال شویدې،اونه هغوئ اسلام راوړې دې بلکه صلح ورسره شویده

﴿أَجْرًا حَسَنًا ﴾يعنی مال غنیمت،نصرت وغیره په دنیاکښ. او جنّت په آخرت کښې﴿ كَمَا تَوَلَّيْتُم مِّن قَبْلُ ﴾ای في الحديبية.

﴿ لَّيْسَ عَلَى ٱلْأَعْمَىٰ حَرَجٌ ﴾پدی کښ دمعذورينو بيان دې او هغوئ ته تسلی ده چه دوئ دَ زجر مذکور نه مستثنی دی.

لَّقَدْ رَضِيَ ٱللَّهُ عَنِ ٱلْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ ٱلشَّجَرَةِ فَعَلِمَ
يقيناراضی شوې دې الله ﷻ دَمؤمنانو(صحابؤ)نه کله چه بيعت ئې کولوتاسره لاندې دَونې نه نوعالم وو الله ﷻ
مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَنزَلَ ٱلسَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَٰبَهُمْ فَتْحًا
په هغه اخلاص چه دَدوئ په زړونوکښ ووْنونازل ئې کړودَزړه اطمينان پدوئ اوبدله کښ ئې ورته ورکړه فتح
قَرِيبًا ﴿١٨﴾ وَمَغَانِمَ كَثِيرَةً يَأْخُذُونَهَا ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴿١٩﴾
نزدې(فتح خيبر)اوغنيمتونه ډير چې اخلې به دوئ هغه،او الله ﷻ غالب حکمت والادې

﴿ لَّقَدْ رَضِيَ ٱللَّهُ عَنِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾دا دَسورة **دويمه حصه** ده چه پکښ دَاولې حصې دَ مضامينو اعاده کيږی،او دې آيتونو کښې صحابه کرامو باندې د انعاماتو بيان دې ،او دا **اول انعام** دې چې رضا الهي او د ريښتني مؤمن والي بشارت او سند دې هغه صحابؤ ته چه په بيعت الرّضوان کښ شريک شوی ووْ.

بيعت الرضوان دَحديبيه په مقام کښ دَهغه بيعت نوم دې چه حضور ﷺ دَصحابؤنه دَيوې ونې لاندې اغستې ووْپه هغه وخت کښ کله چه نبی کريم ﷺ ته داخبر ملاوْ شو چې کافرانو حضرت عثمان رضی الله شهيد کړو نونبی ﷺ صحابه کرام راجمع کړل،اودَعثمان ﷛ په انتقام اغستلوباندی ئې ورنه بيعت واغستلو.دې بيعت ته بيعت الرضوان په دې وجه وئيلې کيږی چه پديکښ شريک صحابؤ ته الله ﷻ دَخپل رضااعلان اوکړو.

صحيحنو کښ دَجابر ﷛ نه روايت دې چه دَحديبيه په موقع کښ حضور ﷺ مونږته او فرمائيل "انتم خيراهل الارض"په بل روايت کښ راغلی دی چه "لايدخل النّاراحدٌممن بايع تحت الشجرة" يعنی چه کوم خلقو دَ ونې لاندې دَحضور ﷺ سره بيعت کړې ووْپه هغوئ کښې به هيڅ

ځوک هم جهنم ته نه داخلیږي، دابشارتونه په دې دلالت کوي چه ددې ټولو حضراتو خاتمه به په ایمان اوعمل صالح باندې وي، نوپه دې آیت کښې دَشیعه ګانو په غلطې عقیدې باندې واضح رد دې چه په ابوبکرصدیق ﷺ اوعمرفاروق ﷺ وغیره صحابوؤ باندې دَ کفر او نفاق الزام لګوي، او دا خبره هم په اتفاق دَ مؤرخینو ثابته ده چه خلفاءاربعه په دې بیعت کښې موجود وؤ حضرت عثمان ﷺ موجود نه وؤلیکن دَهغه دَطرفه حضور ﷺ بیعت کړې وؤچه خپل ښي لاس ئې په چپ لاس باندې کیخودلو اوونې فرمائیل چه دابیعت دپاره دَعثمان ﷺ دې.

﴿فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ﴾ یعنې دَهغوئ په زړونو کښې چه کوم دَصدق، اخلاص اودَوفاجذبات وؤ الله ﷻ په هغې عالم وؤ، بعض وائي چه دَ﴿مَا فِي قُلُوبِهِمْ﴾ نه مرادصلح اودَهغې دَشرائطونه چه کوم غم، اواضطراب دَصحابوٌکراموزړونوته رسیدلې وؤ، مراددې، اوداقول زیات مناسب دې دَورستو ﴿فَأَنزَلَ السَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ﴾ سره، دا **دویم انعام** دې شرکائ حدیبیه دپاره چه دَ صبر او اتباع دَ رسول سکینه وربانډې الله ﷻ نازله کړله(بحرالمحیط).

﴿وَأَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا﴾ دا**دریم انعام** دې، چه الله ﷻ ورله نقده فتح او ډیر غنیمتونه ورکړې نزدې فتح نه مرادفتح دَخیبرده چه صرف دوه میاشتې ورستوفتح شو، چه دا یوه لویه صوبه وه اودَیهودیانومرکزوؤ، ﴿وَمَغَانِمَ كَثِيرَةً﴾ یعنې غنیمتونه دَخیبرچه دومره کثیرمال غنیمت مخکښې مسلمانانوته نه وؤملاؤشوې، دکجورو باغونه، دَ تیلو، ګبین، ذخائر، او دَ ګدو بیزو رمې، او دَ اوښانو قطارونه او دَ دې نه علاوه نقدې روپئ، اوزیورات په کثرت سره ملاؤ شول. ﴿وَكَانَ اللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا﴾ نوپه خپل زوراوحکمت سره ئې دَحدیبیې دَ نقصانونو معاوضه صحابوٌو ته ورکړه.

وَعَدَكُمُ اللَّهُ مَغَانِمَ كَثِيرَةً تَأْخُذُونَهَا فَعَجَّلَ لَكُمْ هَٰذِهِ وَكَفَّ
وعده کړیده تاسوسره الله ﷻ دَغنیمتونو ډیروچه تاسوبه ئې اخلئ نوزرئې درکړل تاسو ته دا(دَخیبرغنائم)اومنع ئې کړل
أَيْدِيَ النَّاسِ عَنكُمْ وَلِتَكُونَ آيَةً لِّلْمُؤْمِنِينَ وَيَهْدِيَكُمْ صِرَاطًا
لاسونه دَخلقوستاسو نه ، اوچې اوګرځي دامنع کول دلیل دَ پاره دَ مؤمنانو او روان کړي تاسو په لارې

مُسْتَقِيمًا ﴿٢٠﴾	وَأُخْرَىٰ	لَمْ	تَقْدِرُوا	عَلَيْهَا	قَدْ	أَحَاطَ	اللَّهُ	بِهَا	ط

برابري، اونورداسې غنيمتونه چه نشته دي قدرت ستاسو دهغې په اغستلو ،بيشكه احاطه كړېده الله ﷻ په هغې،(ستاسو لپاره)

وَكَانَ	اللَّهُ	عَلَىٰ	كُلِّ	شَيْءٍ	قَدِيرًا	﴿٢١﴾
اودي	الله ﷻ		هرڅه	باندې	قدرت	لرونکې

﴿وَعَدَكُمُ اللَّهُ مَغَانِمَ كَثِيرَةً﴾دا خلورم انعام دي، دَ ډير غنيمتونو نه مراد دلته دَ جمهورو مفسرينو په نيزد هغه تمام غنيمتونه دي چه ترقيامته پورې به مسلمانانو ته حاصليږی (روح المعانی). ﴿فَعَجَّلَ لَكُمْ هَٰذِهِ﴾ اشاره دَخيبرغنيمتونو ته ده. ﴿وَكَفَّ أَيْدِيَ النَّاسِ﴾ دَ ((الناس)) نه مراد(١) يادَخيبر خلك اودَهغوحليفان بنی غطفان اوبنی اسدوغيره دی چه دَاهل خيبر دَ نصرت دَپاره راغلی وؤالله ﷻ ئی په زړونوكښ رعب واچولو اودَمسلمانانوسره ئی جنګ اونكړو(٢)ياورنه مرادكفارمكه دی چه دَحديبيه په مقام كښ الله ﷻ دَصلح صورت پيداكړواوجنګ اونشو(٣) بعض وائي چه مرادورنه يهوددی،چه كله حضورﷺاوصحابه حديبيه اوخيبرته راأووتل نودوئ دَصحابوٴپه اهل وعيال باندی دَحملې كولواراده اوكړه (زاد المسير، كشاف،روح وغيره).

﴿وَلِتَكُونَ آيَةً لِّلْمُؤْمِنِينَ﴾ حكمت او علت بيانيږي د فتح خيبر، واؤ حرف عطف دې او معطوف عليه ورله مقدر دي ، چې هغه لِغايات و حِكَمٍ دي ، لام دپاره د تعليل دي ،او معطوف او معطوف عليه دواړه علت دي د پاره ((فعجل لكم هذه)) او ضمير مستتر په ((لتكون)) كښې راجع دې ((هذه)) ته ،او يا د ((فعجل لكم هذه)) او ((وكف ايدي الناس عنكم)) دواړو مجموعې دپاره علت دې او دې تقدير باندې ضمير مستتر د فجعل اوكف مجموعی نه كوم امور اوخصال حاصليږی هغی ته راجع دې (التحرير والتنوير)، اي: فعجل لكم هذه وكف ايدي الناس عنكم لغايات وحِكَمٍ ولتكون اية...

((اية)) نه مراد يا (١)علامت دی، يعنی فتح دَخيبر وغيره دا علامت اونشانی ده مؤمنانو دَ پاره دَ فتح دمكی. (٢)او يا دليل دې يعنی دا دليل دې مؤمنانو دپاره چې الله ﷻ نصرت اومدد دَ دوئ شامل حال دې.

﴿وَيَهْدِيَكُمْ صِرَٰطًا مُّسْتَقِيمًا﴾ دابل علت اوثمره ده ،هدايت نه مراد اضافه او ادامت دی.
يعنی الله ﷻ په وعده مونور هم يقين راشي او په خپل دين باندی تا دم مرګ مستقيم پاتی
شي، دادشرکاء بيعت رضوان دپاره په ايمان حالت باندی مريدلو بشارت دي.

﴿وَأُخْرَىٰ لَمْ تَقْدِرُواْ عَلَيْهَا﴾ دا **پنځم انعام دي** ((اخری)) مبتدا دي ((لم تقدرو عليها)) ورله
صفت دي يعنی نور داسی ډير غنيمتونه دی چه هغی حاصلول ستاسود وس کارنه
دی، اوتاسو په هغی قادر نه يئ او مراد ورنه د روم فارس غنيمتونه دی

﴿قَدْ أَحَاطَ ٱللَّهُ بِهَا﴾ اي لاجلكم ، دا خبر دي. يعنی الله ﷻ تاسوله ځاتلی دی او تاسوله
بو دَ هغی حصول قدرت درکړی ځکه چی الله ﷻ ته څه ګرانه نده.بعضو﴿لَمْ تَقْدِرُواْ عَلَيْهَا﴾
معنی دا کړيده چی تاسو خيال او اندازی دَ هغه غنيمتونو نه بهر دی، ((قد احاط الله بها)) بس
الله ﷻ ته دَهغی پته او علم دي. اول صورت کښی احاطه نه مراد احاطه قدرت او دويم
صورت کښی احاطه علمی ده،

وَلَوْ قَٰتَلَكُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوَلَّوُاْ ٱلْأَدْبَٰرَ ثُمَّ لَا يَجِدُونَ
اوکه جنګ کړي وي تاسوسره کافرانوخامخاګرځولي به وي دوئ شاګانی(شکست خورده)بيابه نه وۆمونديلي دوئ
وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴿٢٢﴾ سُنَّةَ ٱللَّهِ ٱلَّتِي قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلُ ۖ وَلَن تَجِدَ
دوست اونه مددګار.داعادت دالله ﷻ دي هغه چه يقيناتيرشويدي مخکښ،اوهرګزبه ته اونه مونديي
لِسُنَّةِ ٱللَّهِ تَبْدِيلًا ﴿٢٣﴾ وَهُوَ ٱلَّذِي كَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ
دَعادت دالله ﷻ دپاره بدليدل،اوالله ﷻ هغه ذات دي چه منع ئي کړل لاسونه دَهغوئ ستاسونه اولاسونه ستاسو
عَنْهُم بِبَطْنِ مَكَّةَ مِنۢ بَعْدِ أَنْ أَظْفَرَكُمْ عَلَيْهِمْ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ
دَهغوئ نه په مينځ دَمکي کښی ورستودَدينه چه غلبه ئی درکړيوه تاسوته په هغوئ،اودي الله ﷻ
بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرًا ﴿٢٤﴾
په هغه عملونوچه تاسوئی کوئ ليدونکي

﴿وَلَوْ قَـٰتَلَكُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟﴾ خطاب مؤمنانو ته دې، اودکافرانو نه مراداهل مکه دی او مطلب دادې چه په حدیبیه کښې چه تاسو الله ﷻ دقتال نه منع کړئ نو په دې وجه نه ، چې ستاسو نصرت ئې نه کولو ،بلکه د دې ځان له جدا حکمت وو ، کچرته هغوئ تاسو سره قتال کړې وې اوصلح ئې نه وې کړې نوشکست به ورته ملاویدلو ،اوبیابه ئې هیڅ څوک مددګار او کارساز نه وو .ځکه چې دَ هغوئ مغلوبیت مقتضایات موجود وو ،﴿سُنَّةَ ٱللَّهِ ٱلَّتِى﴾ دا د کفارو مغلوبیت علت بیان دې؛یعني دوئ به ځکه مغلوبه کیدلې چې کفر باطل او اسلام حق دې او دا دَ الله ﷻ سنت جاریه قدیمه دې چې حق له غلبه ورکوی او باطل مغلوبه وی، کما قال الله کتب الله لاغلبن انا ورسلي لیکن منع وقتال ډیر حکمتونو باندی مبنی دې.

﴿وَهُوَ ٱلَّذِى كَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنكُمْ﴾ دې آیت کښې دَ منع قتال حکمتونه بیانیږی ،« کف ایدیهم عنکم » اول حکمت دې، یعنی کچرته جنګ شوی وی نو خامخا به خون ریزی کیده،او دَ مسلمانانو طرف نه مړی کیدل او قوت کښې به یې څه نه څه ضعف راتلو نو الله ﷻ دَدوئ مجتمع قوت بحال پریخودو او منتشر کیدو نه یې بچ اوساتلو. ﴿وایدیکم عنهم﴾ دا دویم حکمت دی دیکښې دی طرف ته اشاره که تاسو هغوئ سره پنجه آزمائی کړې وې نو یو اوګد او طویل وخت به یې اخستې وې اودَجنګ سترې په هغې مستزاد وې ،خوالله ﷻ په تاسو احسان اوکړوچې دَتصادم نه یې هم بچ کړئ اوفتح قریب اوعاجله ئې درله هم درکړه .

پدی آیت کښې هغې واقعې ته اشاره ده چه په صحیح مسلم کښې دَحضرت انس ؓ نه روایت دې چه مونږدَحدیبې په مقام کښې ووچه دکافرانو اتیا(۸۰) مسلح کسان دَجبل تنعیم طرف نه حدیبیه ته راغلل پدی نیت چه که دوئ ته موقع ملاؤشی نوپه دهوکې سره به په نبی کریم ﷺ اوپه صحابه کرامو باندې حمله اوکړی،لیکن صحابۀ کرامو هغوئ اونیول اوبارګاه رسالت ته ئې حاضرکړل،چونکه جرم ئې شدیدوؤنوسزاورته ورکول صحیح وؤلیکن دَدې باوجود نبی کریم ﷺ ازادکړل هیڅ ئې ورته اونه وئیل،چنانچه هم دا عمل دَ صلح سبب اوګرځیدلو ، نوپه آیت کریمه کښې هم دغه واقعې طرف ته اشاره ده.

﴿بِبَطْنِ مَكَّةَ﴾ مرادورنه حدیبیه ده ځکه چه دَحدیبې بعضِ حصه په حرم مکه کښې داخله ده،﴿وَكَانَ ٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرًا﴾ الله ﷻ ستاسو کارونه لیدل او دهغې نتائجو نه هم خبر وو ،چې

هغه دَحکمت د تقاضی خلاف وؤ ،نودې وجهې داسې څه موقع پیدا نه کړه چه قتل وقتال ته ترینه نوبت راشی.

هُمُ الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا وَصَدُّوۡکُمۡ عَنِ الۡمَسۡجِدِ الۡحَرَامِ وَالۡهَدۡیَ
دا(کافران)هغه دی چه کفرئی کړیدې اومنع کړی یئ تاسودَمسجدحرام نه اومنع کړی ئی دی څناوردقربانئ
مَعۡکُوۡفًا اَنۡ یَّبۡلُغَ مَحِلَّهٗ ؕ وَلَوۡلَا رِجَالٌ مُّؤۡمِنُوۡنَ وَنِسَآءٌ
ترلی شوی،دَدینه چې اورسیږی خائ خپل ته، اوکچرته نه وې سړی مؤمنان اوښځې
مُّؤۡمِنٰتٌ لَّمۡ تَعۡلَمُوۡهُمۡ اَنۡ تَطَـُٔوۡهُمۡ فَتُصِیۡبَکُمۡ
مؤمنانې، چې نه دي معلوم تاسو ته هغوئ داچه دَخپولاندې به ئی کړئ نواوبه رسیږی تاسوته
مِّنۡهُمۡ مَّعَرَّةٌۢ بِغَیۡرِ عِلۡمٍ ۚ لِیُدۡخِلَ اللّٰهُ فِیۡ رَحۡمَتِهٖ
دَهغوئ په وجه نقصان په بی خبرئ سره،دَپاره دَدې چه داخل کړی الله ﷻ په رحمت خپل کښ
مَنۡ یَّشَآءُ ۚ لَوۡ تَزَیَّلُوۡا لَعَذَّبۡنَا الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا مِنۡهُمۡ
هغه څوک چه ئی اوغواړی،کچرته جداشوې وې دامؤمنان نوخامخابه عذاب ورکړې وې مونږ کافرانوته دَدوئ نه
عَذَابًا اَلِیۡمًا ﴿۲۵﴾
عذاب دردناک

﴿هُمُ الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا﴾ دیکښ دَ اهل مکؤو دَ مغلوبیت مقتضیات بیانیږی، یعنی کچرته حدیبیه په مقام کښ دوئ مسلمانوسره جنګ کړې وې نو الله ﷻ به مسلمانانو له غلبه ورکړې وې او دوئ به یی مغلوبه کړې وې ،څکه چی دوئ د مغلوبیت اسباب هلته هم موجود وؤ ،چی هغې کښ څه اسباب دادی(۱)﴿کفروا﴾دوئ کافران دی،(۲) ((وصدوکم))دوئ ظالمان او سرکشه وؤ ،تاسو ئې په ناحقه دَ مسجد حرام نه منع کړئ اوکوم دَقربانئ څاروی راوستی وؤ هغه یی پرې نخول. ﴿وَالۡهَدۡیَ﴾ عطف دې په "کم"ضمیرمنصوب باندې په ﴿وَصَدُّوۡکُمۡ﴾ کښ ای وصدّوکم والهدیَ،"هدی" هغه څناورته وائی چه حاجی یامعتمرئی دَخپل څان سره حرم ته

بوځی چه نیت دَذبح ورستودَفراغت دَمناسکونه.﴿أَن يَبْلُغَ مَحِلَّهُۥ﴾بدل اشتمال دي دَ﴿وَٱلْهَدْىَ﴾ په.﴿مَحِلَّهُۥ﴾ هغه ځائ چه حاجی یامعتمرپکښ دَقربانئ ځناورذبح کوی،کوم چه په منیٰ کښ دَمنحرپه نوم باندی موسوم دي.

﴿وَلَوْلَا رِجَالٌ مُّؤْمِنُونَ﴾پدی کښ **دریم حکمت** دَ منع دَ قتال نه په حدیبیه کښ ذکرکیږی چه الله ﷻ تاسودَقتال نه ځکه منع کړئ چه په مکې کښ مؤمنان سړی اومؤمنانې ښځې اوسیدلی چه خپل ایمان ئی پټ کړي وؤ،نوکه جنګ موکړي وي نوهغوئ به موهم په لاعلمئ کښ قتل کړي وي نوداخبره به تاسوته تکلیف ده وه.

«رجال مؤمنون» مبتدا دي او خبر یی محذوف دي، چې موجودون دي ، أی رجال مؤمنون و نساء مؤمنات موجودون ﴿لَّمْ تَعْلَمُوهُمْ﴾دا صفت ثانی دي دپاره د «رجال» او«نساء»،او عدم علم عام دي ،اشخاص او دَهغوئ ایمان دواړه ترینه مراد دی یعنی مکه کښ ځنی کسان داسی دی چی هغوئ ایمان راوړي دي ، تاسولي اګر چه پیژنئ خو د هغوئ ایمان علم درته نشته ، ځنی کسان داسې دی چه تاسو به نه دهغوئ ایمان نه واقف ئي او نه دَهغوئ خاندان نه ،چه څوک دی ،﴿أَن تَطَـُٔوهُمْ﴾ وطء معنی ده خپو لاندې کول ،مراد ترینه دلته بې خبرئ کښ قتلول دی، دا پوره جمله بتاویل مصدر بدل الاشتمال دي دَ«رجال» نه یعنی که دغه مؤمنانواو مؤمناتو د قتل خطره نه وي چې دَ کومو ایمان راوړو تاسوته پته نشته او هغوئ ایمان راوړیدي، جواب دَ لولا محذوف دي چه لَأذن لکم دي،یعنی که دغه خبره نه وي نو تاسوته به مکې ته دَ داخلیدلو اجازت او دَ قریش مکوّو سره دَجنګ اجازت درکړي شوي وؤ،

﴿فَتُصِيبَكُم مِّنْهُم مَّعَرَّةٌۢ﴾ معرة په اصل کښ عیب ته وائی ،دلته ورنه مرادکفاره او یا دَ کافرانو پیغور دي، یعنی که تاسوپه بې خبرئ کښ مسلمانان قتل کړي وي نوکفاره به درباندې راغلې وه، او دغه رنګه کافرانوبه تاسوته پیغوردرکولوچه اوګورئ خپل مسلمانان رونړه ئی قتل کړل.

﴿لِّيُدْخِلَ ٱللَّهُ فِى رَحْمَتِهِۦ﴾دا **څلورم حکمت** دي چه الله ﷻ تاسوځکه دَقتال نه منع کړئ چه دَ بعضِ خلقو مسلمانیدل مقدر وؤ،الله ﷻ دَهغوئ په نصیب کښ ایمان راوړل مقررکړی وؤ

کچرته قتال موکړې وې نوهغوئ به بې ایمانه دَدنیانه تلی وؤ .اوداواضحه ده چه دَصلح نه ورستو په دوؤ کلونو کښ په کثیرتعداد سره خلق مسلمانان شول.دَصلح حدیبیه په وخت کښ دَ مسلمانانو تعداد څوارلس یاپنځلس سوه وؤ او چه دوه کاله ورستو مکه فتح کیدله نو مسلمانان لس زره وؤ. ﴿لَوْ تَزَيَّلُوا﴾پمعنی دَ "تميّزوا" دې،یعنی کچرته په مکه کښ اباد مسلمانان دَ کافرانو نه جدا اوسیدلې نومونږبه کافرانوته دَمسلمانانو دَلاسه دردناک عذاب ورکړې وې.

إِذْ جَعَلَ الَّذِينَ كَفَرُوا فِي قُلُوبِهِمُ الْحَمِيَّةَ حَمِيَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ فَأَنزَلَ اللَّهُ						
کله چه (څکه چه)اوګرځوؤکافرانوپه زړونوخپلوکښ غیرت،غیرت دَجاهلیت نونازل کړوالله ﷻ						
سَكِينَتَهُ عَلَىٰ رَسُولِهِ وَعَلَى الْمُؤْمِنِينَ وَأَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ التَّقْوَىٰ						
اطمینان خپل په رسول خپل باندې اوپه مؤمنانوباندې اولازم ئې کړه کلکه ئې کړه دوئ سره کلمه دَتقوی						
وَكَانُوا أَحَقَّ بِهَا وَأَهْلَهَا ۚ وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا ﴿٢٦﴾						
اووؤدوئ زیات حقداردَدې اولائق ئې وؤ،اوالله ﷻ په هرخیزباندې ښه پوهه دې						

﴿إِذْ جَعَلَ الَّذِينَ كَفَرُوا﴾دیکښ د **کفارو مغلوبیت یو بل مقتضی** ذکر کیږی څکه چی دوئ صلح حدیبیه په موقع باندی انتهائی ضد اوهټ دهرمی مظاهره کړی وه،حتی که چی بسم الله الرحمن الرحیم او دَنبی ﷺ نو مبارک سره رسول الله لیکل یې برداشت نکړو،اودَدوئ په مقابله کښ نبی ﷺ او مؤمنانو د انتهائي تحمل مظاهره اوکړه،او ضد جواب په ضد سره ورنکړو، حالانکه دا دَ ډیر لوئ امتحان ساعت وؤ، خو الله ﷻ خپل فضل معامله دوئ سره اوکړه، ﴿حَمِيَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ﴾بدل دې دَ"الحمية"نه چه مونږ به مسلمانان مکې ته پرې نږدو،اود غه شان دَ صلح په شرائطو کښ ئې هم دَ جاهلیت مظاهره وکړه چه"بسم الله الرحمٰن الرحیم"مه لیکه، او "محمّد رسول الله"مه لیکه وغیره.﴿وَأَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ التَّقْوَىٰ﴾ کلمة التقوی نه مراد بعض مفسرینو دَ رسول کریم صلی الله وسلم اطاعت اغستې دې یعنی الله ﷻ ورته په دی سخته موقعه باندی دَنبی ﷺ اطاعت او د حکم تعمیل توفیق ورته ورکړو،حالانکه صحابه کرام ډیر زیات غصه او پریشان نه وؤ(تفسیر ماجدي)

عامو مفسرينو دينه مراد کلمه لااله الاالله اغستی ده ،يعنی الله ﷻ ورته دَانعام په طور ايمان او په لا اله الاالله باندی ثابت قدمی نصيبه اولازمه کړه چې دا خاتمه بالخير اووبالايمان ضمانت او خبرصادق دي.

﴿وَكَانُوٓاْ أَحَقَّ بِهَا﴾ کلمة التقوىاول تفسير مطابق مطلب يې دادي چې دوئ شايان شان دا وو چې دوئ اطاعت د رسول کړې وي ،ځکه چې اطاعت کول دَ دوئ علامت وو، اودَنبی ﷺ حقيقی جان نثاران وو، دويم تفسير مطابق مطلب دادي چې الله ﷻ په علم کښې هم دا خلق دَ دی کلمی مستحق او لائق او اهل وو،نو ځکه يې په دنيا دَخپل نبی صحبت دپاره دوئ انتخاب اوکړو،اوآخرت کښ به ورله دَدی اجر ورکوی ﴿وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٗا﴾نو په حکمتونو اورازونو دَصلح باندې هم پوهه دي.

لَّقَدۡ صَدَقَ ٱللَّهُ رَسُولَهُ ٱلرُّءۡيَا بِٱلۡحَقِّۖ لَتَدۡخُلُنَّ ٱلۡمَسۡجِدَ ٱلۡحَرَامَ
يقيناًربښتياخودلی دي الله ﷻرسول خپل ته خوب په حقه سره،خامخابه داخليږئ تاسومسجدحرام. ته
إِن شَآءَ ٱللَّهُ ءَامِنِينَ مُحَلِّقِينَ رُءُوسَكُمۡ وَمُقَصِّرِينَ لَا تَخَافُونَۖ فَعَلِمَ
انشاءالله په امن سره خريونکی دَسرواو نو خپلو.او لنده وونکی،نه به يريږئ دَدشمن نه،نوعالم ووالله ﷻ
مَا لَمۡ تَعۡلَمُواْ فَجَعَلَ مِن دُونِ ذَٰلِكَ فَتۡحٗا قَرِيبًا ٢٧ هُوَ ٱلَّذِيٓ
په هغه څه چې نه وئ خبرتاسو،نووئ ګرځوله مخکښ دَداخليدونه مکې ته فتح قريبه الله ﷻهغه ذات دي
أَرۡسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلۡهُدَىٰ وَدِينِ ٱلۡحَقِّ لِيُظۡهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ
چه راليږلې نی دی رسول خپل په هدايت سره اوپه دين حق سره دپاره دَدې چه غالب نی کړی په دينونو
كُلِّهِۦۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدٗا ٢٨
ټولو، اوکافی دي الله ګواه.

﴿لَّقَدۡ صَدَقَ ٱللَّهُ رَسُولَهُ﴾ داجواب دَشبهې دي،په ابتداءکښ تيرشويدی چه حضور ﷺ خوب ليدلې ووچه مونږمکې ته تلی يوؤعمره موکړيده بعضِ صحابؤحلق کړيدي بعض

قصر، خوب دَپیغمبرﷺخووحی وی لیکن اوس دلته په حدیبیه کښ خوپه ظاهرکښ دَ دې خلاف معلومیږی، اودغه رنګه صحابه کرام﷢چه دَحدیبیه نه راواپس شول عمره ئی اونکړه نو منافقانو اعتراض اوکړوچه"و الله ما حلقنا و لا قصرنا و لا رأینا المسجد الحرام" نو الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو، چه الله تعالیٰ به دَخپل رسول ﷺخوب ریشتنې کوی. خامخابه مسجدحرام ته داخلیږی، اوبه په امن، اطمینان سره به عمره کوی.

﴿إِن شَآءَ ٱللَّهُ﴾ دادَشک دَپاره نه دې بلکه(۱)دَتاکیداوتحقیق دپاره دې(۲)، ابوعبیده رحمه الله فرمائی"ان" یعنی دَ"اذ"سره دې یعنی چه کله الله تعالیٰ اوغواړی(۳)دغه رنګه پدی کښ تعلیم دې بندګانوته چه په هرکارکښ ان شاءالله وائی(۴)بعض وائی داعلی وجه الحکایة، ذکر شویدې چه په خوب کښ حضورﷺته دغه رنګه وئیلی شوی وؤ، ﴿ءَامِنِينَ﴾ یعنی دَدشمن نه به په امن کښ یئ، ﴿مُحَلِّقِينَ رُءُوسَكُمْ وَمُقَصِّرِينَ﴾ یعنی بعض به حلق کوی اوبعض قصر، تقدیم دَحلق په قصرباندی دلالت کوی پدې چه په حلق افضل دې دَقصرنه، اودغه رنګه په حدیث کښ محلقینو ته درې ځلې دعا شویده، اللّهم اغفر للمحلقین، قالوا: یا رسول الله! و المقصّرین، قال: اللّهم اغفرللمحلقین ثلاثًا، قالوا: یارسولَ الله والمقصرین، قال: والمقصرین.

﴿فَعَلِمَ مَا لَمْ تَعْلَمُوا۟﴾ یعنی دَخوب تعبیرپوره کولوکښ چه کوم تاخیروشودَهغی په حکمت تاسونه پوهیږئ بلکه الله تعالیٰ پوهیږی یاداچه په صلح کښ چه کوم خیروؤهغه تاسوته نه وؤ معلوم، لیکن الله تعالیٰ ته معلوم وؤهغه داوؤچه﴿فَجَعَلَ مِن دُونِ ذَٰلِكَ﴾اشاره تعبیر دَ خوب او واقع کیدلو دَ خوب ته ده یعنی دَ دې تعبیر پوره کیدلو نه مخکښ به تاسوته فتح قریبه درکړی چه فتح دَ خیبر ده، نو تاسوته به قوت حاصل شی نو پوره په اطمینان سره به عمره اوکړئ. ﴿فَتْحًا قَرِيبًا﴾ فتح دَخیبرورنه مراده ده.

﴿هُوَ ٱلَّذِىٓ أَرْسَلَ رَسُولَهُۥ﴾ پدی آیت کښ الله تعالیٰ مزید دَخپل رسول علیه الصّلوٰة و السّلام صداقت اولوئ شان بیانوی. دآیت مزید تفسیراوتشریح په دریم جلد دَدې تفسیر دَسورة التوبه آیت نمبر(۳۳)کښ شویده هلته ئی اوګورئ. ﴿وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًا﴾ په نبوت اوپه رسالت

دَرسول اکرمﷺاودغه رنګه په وعدوخپلوچه دین اسلام ته به په ټولوادیانوغلبه ورکوی(روح المعانی).

مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ؕ وَالَّذِیْنَ مَعَهٗۤ اَشِدَّآءُ عَلَی الْکُفَّارِ رُحَمَآءُ بَیْنَهُمْ

محمدﷺرسول دَالله ﷻ دي.اوهغه صحابه چه دَده سره دی سخت دی په کافرانورحم کونکی دی په خپل مینځ کښې

تَرٰىهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا یَّبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا ؗ سِیْمَاهُمْ

وینی به ته دوئ لره رکوع کونکی سجده کونکی.غواړی دوئ فضل د الله ﷻ نه او رضا، نخښې ددوئ

فِیْ وُجُوْهِهِمْ مِّنْ اَثَرِ السُّجُوْدِ ؕ ذٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِی التَّوْرٰىةِ ۖۚ وَمَثَلُهُمْ

په مخونودَدوئ کښې دی دَوجه دَاثردَسجدونه.دغه صفت دَ دوئ دي په توراة کښې. او صفت دَ دوئ دي په

فِی الْاِنْجِیْلِ ۚ كَزَرْعٍ اَخْرَجَ شَطْـَٔهٗ فَاٰزَرَهٗ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوٰی

انجیل کښې ، دوئ پشان دَ هغه فصل دی چه را اوباسی خپل تیغ ، بیا قوی کړی هغې لره ، نوغټ شي بیا برابرشي

عَلٰی سُوْقِهٖ یُعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِیَغِیْظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ ؕ وَعَدَ اللّٰهُ

پخپلې تنې باندې،خه لګي په زمینداړانو ،چه اوسوزي پدوئ سره کافران او وعده کړیده الله ﷻ

الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ مِنْهُمْ مَّغْفِرَةً وَّاَجْرًا عَظِیْمًا ﴿۲۹﴾

دَ هغو کسانو سره چه ایمان ئی راوړیدې اوعملونه ئی کړیدی نیک دَدوئ نه دَمغفرت اودَاجرلوئ

﴿مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ﴾دادَحضورﷺپه رسالت دګواهئ بیان دي، مشرکانوپه صلح نامه کښې دَحضورﷺدنوم مبارک سره دَ رسول الله دَلیکلونه انکاراوکړونوالله ﷻدَهغې په بدله کښې ترقیامته کښې پوری لوستونکی کتاب کښې اولیکلوچه ترقیامته پورې نه ورانیږی.

﴿وَالَّذِیْنَ مَعَهٗۤ﴾مبتداده اومابعدئی خبردې،پدې آیت کښې دَصحابه کراموپوځوفضائل اوصفات ذکرکیږی دپاره دَاتباع،ابن عباسؓفرمائي دَدینه مرادهغه صحابه دی چه په صلح حدیبیه کښې دَحضورﷺسره موجودوو،لیکن جمهورمفسرین فرمائی چه ټول صحابهؓ ورنه

مراددی. ﴿أَشِدَّآءُ عَلَى ٱلْكُفَّارِ﴾دا د صحابهٔ کرامو اول صفت دې چه دَدين او اسلام په باره کښ دکافرانو په مقابله کښ دوئ ډير سخت وی حتّی چه دَنسبی رشته دار(پلار، خوې، ورور)وغيره هم لحاظ نکوی.

﴿رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ﴾دائی دويم صفت دې چه په يوبل باندې مهربان،دَيوبل سر مددکونکی دی.حسن بصری رحمه الله فرمائی چه شدت دَصحابهٔ کرامودکفاروسره دې حدته رسيدلې وؤچه خپلی جامې(کپړې)ئی هم دکافرانو دَجامونه بچ ساتلې اوخپل بدنونه به ئي هم دهغوئ دَبدنونه بچ ساتل،اوخپل مينځ کښ مهربانی اورحم دې حدته رسيدلې وؤچه يومؤمن به بل مؤمن اوليدلو نو مصافحه اومعانقه به ئي ورسره کوله.الله تعالی دادواړه صفات په نورو صفاتوباندی مقدم کړل ځکه دادواړه صفات دَايمان کامل صفات دی،په بخاری وغيره کښ حديث دې چه من احبّ لله وابغض لله فقداستکمل ايمانه.

﴿تَرَىٰهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا﴾دائی دريم صفت دې اول دوه صفتونوکښ کمال دَايمان طرف ته اشاره وه اوپدی صفت کښ کمالِ عمل طرف ته اشاره ده،ځکه چه په عملونوکښ دَټولونه افضل عمل مونځ دې،دا صفت دليل دکثرت دَ مونځ دې دَصحابه کرامو رضی الله عنهم.

﴿يَبْتَغُونَ فَضْلًا﴾دائی څلورم صفت دې،چه په مونځونوکولواوذغه رنګه نورونيک عملونو کولونه مقصوددوئ دَالله تعالی نه دَ ثواب او رضا طلب وی. ريا ، شهرت يا څه نور مقصد ئی نه وی، يعنی هرعمل کښ ئی اخلاص وی.﴿فَضْلًا﴾نه مرادثواب الهی دې،حضرت شاه ولي اللهٰ رحمه الله فرمائی چه دَ﴿ فَضْلًا ﴾ نه مراددَژوند دَتيرولولوازمات اوضروريات دی،لکه رزق وغيره شو،چه په سورة الجمعه کښ دَهغی دَطلب کولوهم ترغيب دې.

﴿سِيمَاهُمْ فِى وُجُوهِهِم﴾دائی پنځم صفت دې چه کثرت دَمونځونو اوسجدوپوجه دَدوئ په مخونوباندی نشانات وی،دَدې نشاناتونه مراددَمحراب هغه نخه نه ده مراد چه دَ بعضِ خلقو په تندی باندی جوړه شوې وی،دَبعضِ متقدمينونه نقل دی چه: كنّا نصلّى فلايُرىٰ بين اعيننا شئ ولِرىٰ احدنا الآن يصلى فنرى بين عينيه ركبة البعير، فماندرى اثقلت الرؤس ام خشنت الارض(روح المعانی) بلکه مراددَدې نشاناتو نه

(۱) هغه نورانيت دي چه دَمونځ په برکت سره حاصليږی خصوصاً دَ تهجدپه مونځ سره لکه په روايت کښ دی: من کثُرصلاته باللّيلِ حسنُ وجهه بالنّهار (ابن ماجه).

(۲) بعضِ فرمائی چه دَدينه مرادښه عادتونه اوخشوع اوتواضع ده چه دَمونځ په برکت سره حاصليږی کقوله تعالی: انّ الصّلٰوة تنهیٰ عن الفحشاء والمنکر

(۳) بعضِ فرمائی چه دَدينه مراد زيړوالي دَمخونودي چه دَشوګيره کونکوپه مخ راځی.

(۴) بعضو دَ ابن عباسؓ نه نقل کړيدی چه انّه قال فی الآية: بياضٌ يُغشیٰ وجوههم يومَ القيامة. يعنی دَدی نه مرادهغه سپين والي دي چه دَقيامت په ورځ به دَمونځ کونکوپه مخونو باندي خور وی (روح المعانی) والله اعلم.

ځني مفسرين ليکي چې آيت کښې مذکور صفاتو کښې خلفائ اربعو طرف ته هم اشاره ده ﴿ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ ﴾ کښې اشاره ده حضرت ابوبکرصديقؓ ته چه حضورﷺ ورته فرمائيلي وو "انّ الله معنا" ﴿أَشِدَّآءُ عَلَى ٱلْكُفَّارِ﴾ کښې اشاره ده حضرت عمرؓ ته ، چې دي دکافرانو په مقابلې کښ ډير سخت وو خاص کر دَ حديبيه په موقع کښ ﴿رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ﴾ کښې اشاره ده حضرت عثمانؓ ته چه دي په مسلمانانوباندی ډيرمهربان وو، اوهم دَمسلمانانودَپاره دَحديبيه په موقع کښې مکې ته تلي وو. ﴿تَرَىٰهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا﴾ ديکښې اشاره ده حضرت علیؓ ته ،چې د دوئ کثرت عبادت معروف دي ،

﴿ذَٰلِكَ﴾ اشاره ده ټول مذکورصفاتوده، ﴿مَثَلُهُمْ فِى ٱلتَّوْرَىٰةِ ۚ وَمَثَلُهُمْ فِى ٱلْإِنجِيلِ﴾ دَدي په تفسيرکښ دوه احتماله دی:

(۱) يوداچه وقف په ﴿ فِى ٱلتَّوْرَىٰةِ ﴾ باندي اوکړيشی نومطلب به داشی چه په توراة کښ دَدوئ دغه صفات ذکروؤاو ﴿وَمَثَلُهُمْ فِى ٱلْإِنجِيلِ﴾ جدا جمله ده ﴿وَمَثَلُهُمْ﴾ مبتداده او ﴿ كَزَرْعٍ ﴾ ئی خبردي يعنی مثال دَصحابه ؤپه انجيل کښ پشان دَفصل دي .

(۲) دويم داچه وقف په ﴿فِى ٱلْإِنجِيلِ﴾ باندي اوکړيشی، نومطلب به داشی چه دَصحابه کرامو صفات په انجيل اوتورات دواړوکښ دغه شان دی او دَ ﴿كَزَرْعٍ﴾ نه مخکښ "هم" يا "مثلهم" مقدر دي اودَدي نه بل نوي مثال دَصحابه کرامو ؓ بيانيږی، چه دَدوئ مثال داسی دي لکه چه دَ

فصل اوبوټی اول تیغ ښکاره شی نو کمزوري وی﴿فَـَٔازَرَهُۥ﴾بیا الله ﷻ هغی فصل لره قوی کړی چه په هواګانو وغیره آفتونو سره نه خرابیږی.﴿فَٱسۡتَغۡلَظَ ﴾نو بیا غټ شی اونورهم کلک شی.

﴿فَٱسۡتَوَىٰ عَلَىٰ سُوقِهِۦ﴾یعني بیا پخپلی تنې باندی اودریږی او زمیندار ورته خوشحالیږی نو دغه شان مثال دَصحابه کرامو دی چه په ابتداء کښ کمزوری وؤ هر مسلمان به خپل اسلام پټولو، بیا الله ﷻ دَ حضرت عمر رضي الله عنه اودغه شان نورو ډیرو صحابه ؤ پوجه اسلام قوی کړو، بیا اسلام نور هم قوی شوکله چه دَمکې نه بهر په ګرد و نواح کښ خلق مسلمانان شول. بیا په مدینه کښ الله ﷻ مسلمانانو ته خپل مضبوط او مستقل حکومت ورکړو.

﴿أَخۡرَجَ شَطۡـَٔهُۥ ﴾شطء دَ غنمو ، وربشو یا دَ کجورو تیغ ته وائی﴿أَخۡرَجَ﴾کښې ضمیر د فاعل راجع دې«زرع»ته، اونسبت دَاخراج زرع ته مجازی دې، یا فاعل الله ﷻ دې ﴿فَـَٔازَرَهُۥ﴾ دَ "ازر"نه مشتق دې قوت ته وئیلې کیږی ای اعانه وقواه(روح المعانی) ﴿فَٱسۡتَغۡلَظَ ﴾یعنی باریک والې ئی ختم شی غلظت پکښ پیداشی.﴿فَٱسۡتَوَىٰ عَلَىٰ سُوقِهِۦ﴾ای فاستقام علی قصبه و اصوله. ﴿يُعۡجِبُ ٱلزُّرَّاعَ ﴾ یعنی دَ هغې په قوة، کثفات او حسن منظر وربانـدی ډیر خه لګی او خوشحالیږی.

﴿لِيَغِيظَ بِهِمُ ٱلۡكُفَّارَ﴾متعلق دې دَمحذوف سره، ای شبهوابذلک لیغیظ.....الخ(جلالین) یعنی الله ﷻ دوئ زیات کړل اوقوی کړل په شان دَفصل دَپاره دَدې چه غصه اوخفه شی پدې سره کافران، یعنی دَ صحابه کرامو ترقی اوطاقت دکافرانو دَغیظ اوغضب باعث دې، داآیت واضح دې چه دَصحابه کرامو سره بغض لرونکی کافردې، دَدې وجه نه امام مالک رحمه الله او نورو علماؤ استدلال کړیدې چه شیعه ګان کافران دی ځکه چه دوئ دَصحابه کرامو رضي الله عنهم سره بغض کوی.

﴿وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ﴾دابشارت دې صحابه کرامو رضي الله عنهم ته دَمغفرت اواجرعظیم په﴿مِنۡهُم ﴾ کښ "من"یامؤکده دې یعنی صحابه کرامو کښ هریوصحابی مستقل طورباندی دَدې بشارت حق داردې، یا "من"بیانیه دې اوروافضو(شیعه ګانو)چه دا "من"تبعیضیه ګرځولې دې نو دادَ آیت سیاق سباق سره هم منافی اومبنی دې دَدوئ په بغض اوحسدباندې.

ركوعاتها (۲)	سورة الحجرات مدنية	آياتها (۱۸)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بيحده مهربان او ډير رحم كونكي دي شروع كوم	

ترتيبها حسب التسلسل (۴۹) وحسب النزول (۱۰۶)

سورة الحجرات مدنى دي ترتيب قرآنى لحاظ سره (۴۹) دي او ترتيب نزولى لحاظ سره (۱۰۶) دي، سورة المجادله نه ورستو او سورة التحريم نه قبل نازل شويدي، زمانه دَنزول ئى بعدالهجرة ده، طوال مفصل كښې دا اولني سورة دي، دَحجرات نه تر البروج پورې سورتونو ته طوال مفصل وئيلې كيږي چه دَسهارپه مونځ كښې ئې وئيل مسنون دى.

ربط: سورة فتح كښې اعلان دَفتح وؤپدې سورة كښې دَقوانينو دَژوند تيرولو بيان دې چه مسلمانان منظم او متفق شي.

دسورة دَمضامينو اجمالى خلاصه

دَسورة دوه حصې دى اوله حصه كښې دَپيغمبر ﷺ دَادابو بيان دې، او مسلمانانو ته دَمعاشرت دَادابو تعليم دې دويمه حصه كښې شكوه ده دَاعرابو نه، او دَتوحيد بيان دې دَماقبل سورة محمد ﷺ او سورة فتح نه على سبيل الترقى.

تفصيلي خلاصه

اوله حصه:

دَاولى حصې تفصيل دادې چه پديكښې وه (۷) آداب او قوانين مذكوردى، اول دوه دَحضور ﷺ سره متعلق ددى او باقى پنځه دَعامو خلقو سره متعلق دى:

اول قانون ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُقَدِّمُواْ بَيْنَ يَدَيِ ٱللَّهِ﴾ آيت (۱)

دويم قانون ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَرْفَعُوٓاْ أَصْوَٰتَكُمْ﴾ آيت (۲، ۳)

دريم قانون ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن جَآءَكُمْ﴾ آيت (۶) نه تر آيت (۸) پورى.

څلورم قانون ﴿وَإِن طَآئِفَتَانِ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ٱقْتَتَلُواْ﴾ آيت (۹، ۱۰)

پنځم قانون ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّن قَوْمٍ﴾ آيت (۱۱)

شپږم قانون﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱجْتَنِبُواْ كَثِيرًا ﴾آيت(۱۲)

ووم قانون﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَٰكُم مِّن ذَكَرٍ﴾آيت(۱۳)

دويمه حصه:

دَدويمې حصې تفصيل دادي: ﴿قَالَتِ ٱلْأَعْرَابُ ءَامَنَّا﴾آيت(۱۴)زجراوشکوه ده هغه اعرابوته چه خپل ايمان ئې په حضورﷺباندې زباته ولو.﴿إِنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ غَيْبَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ﴾ايت(۱۸) دَتوحيدبيان دې على سبيل الترقى.

يَٰٓأَيُّهَا	ٱلَّذِينَ	ءَامَنُواْ	لَا	تُقَدِّمُواْ	بَيْنَ	يَدَيِ	ٱللَّهِ	وَرَسُولِهِۦ
اې	ايمان	والؤ!	مه	وړاندې	کيږئ	دَالله ﷻاودَرسول	دَهغه	نه
وَٱتَّقُواْ	ٱللَّهَ	ۚ	إِنَّ	ٱللَّهَ	سَمِيعٌ	عَلِيمٌ	①	
اواوېرېږئ	دَالله ﷻ نه،		بېشکه	الله ﷻ	هرڅه	اورېدونکې،	ښه پوهه	دې،

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُقَدِّمُواْ ﴾ دااول قانون دې چه دَباقى قوانينو دَپاره بنياد اواساس دې، او دا قانون مُتعلق دې دَحضورﷺسره، حاصل ئې دادې چه اې مؤمنانو! دَدين اودَدنيا په هيڅ معامله کښې دَالله ﷻ دَ کتاب اودَهغه دَرسول عليه السلام مخالفت مه کوئ، پخپله توګه څه فيصله مه کوئ، اومه خپل عقل او رائ ته ترجيح ورکوئ، بلکه دَخپل ژوندتول انفرادى، اجتماعى انتظامات په دې دواړو تيره وئ، کمافى الحديث: ترکتُ فيکم امرين لن تضلّوا ما تمسکتم بهما...الکتاب وسنتي.

داحکم دَحضورﷺپه ژوندکښې هم وۆاواوس هم دې، اوس به ورباندې عمل پدې طريقه کيږي چه اول به په هرمسئله اومعامله کښې دَنبى اکرمﷺدَقول يادَفعل صراحت به تالاش کيږي، اوچه کله صراحت نشى ملاؤنوپه نصوص منقوله ؤکښې مجتهدفکراوتأمل کوى او استنباط به ورنه کوى اوعام سړې به دَيوامام تقليدکوى. هرچه باغيان دَقياس اواجماع او دَ تقليد دى نودَهغوئ دپاره داآيت هيڅ کليه استدلال نشى جوړيدلې ځکه قياس، اجماع، ياقول دَيو امام تقديم ندې په کتاب الله ياپه سنت(قرطبى).

دَدې آیاتونو دَشان نزول په باره کښې مفسرینو ډیر اقوال ذکرکړیدی چه په هغې کښې داقول هم دې (کمارواه البخاری) چه یوځل دَبنوتمیم قبیلې څه خلق دَحضورﷺ په خدمت کښې حاضرشول دَدې دپاره چه پدوئ څوک حاکم اومشرمقررکړی نو ابوبکرؓ دَقعقاع ابن معبد په حق کښې رائ ورکړه چه دې دې مشر شی، حضرت عمرؓ دَاقرع ابن حابس په حق کښې رائ ورکړه، ابوبکرؓ اوفرمائیل چه تادا رائ ځما دَ مخالفت دَوجه نه ورکړه، عمرؓ اوفرمائیل ستادَمخالفت دَوجه نه می نه ده ورکړې، پدې معامله کښې دَدواړوحضراتورضی الله عنهما په مینځ کښې څه ترخې خبرې اوشوې اواوازونه ئې هم اوچت شول، نوپه دې باندې داآیاتونه نازل شول (روح المعانی).

په بخاری وغیره کښې دی چه دَ دې آیاتونو دَ نازلیدونه ورستوبه حضرت عمرؓ دَ حضورﷺ په مخکښې داسې په مزه خبرې کولې چه بیابه ورنه تپوس کولیشوچه تاڅه اووې.

﴿لَا تُقَدِّمُوا﴾ دایالازمی دې دَقدّم نه پمعنی دَتقدّم، ای لاتتقدموا یعنی مه مخکښې کیږئ دَ الله ﷻ اودَرسولﷺ نه یعنی مخالفت ئې مه کوئ، یامتعدی دې اومفعول ئې حذف دې دَپاره دَ قصد دَ تعمیم یعنی هیڅ امرخپل مه مخکښې کوئ په اللهﷻ اوپه رسولﷺ دَهغه ﴿وَاتَّقُوا اللَّهَ﴾ تقوی سبب دې دَاطاعت دَامردَاللهﷻ اودَرسولﷺ دَهغه نوځکه ئې حکم اوشو، ﴿إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ﴾ اللهﷻ هرڅه آوری او په هر څه پوهه او خبر دې نو دَ داسې ذات حق دا دې یره ورنه اوکړیشی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَرْفَعُوٓا۟ أَصْوَٰتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ ٱلنَّبِىِّ وَلَا تَجْهَرُوا۟ لَهُۥ بِٱلْقَوْلِ
اې مؤمنانو! مه اوچتوئ اوازونه خپل پورته دَاوازدنبیﷺ نه اوپه زوره اوازمه کوئ ده ته
كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ أَن تَحْبَطَ أَعْمَٰلُكُمْ وَأَنتُمْ لَا تَشْعُرُونَ ②
لکه په زوره اوازکوی بعضِ ستاسونه بعضَ ته چه ضائع نشی عملونه ستاسواوتاسوبه نه پوهیږئ نه یئ خبر).

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا لَا تَرْفَعُوٓا أَصْوَٰتَكُمْ﴾ دا دویم **قانون** دې پدیکښې دَحضورﷺ متعلق دوه ادبونه ذکردی، **اول ادب** دادې چه دَحضورﷺ په مجلس کښې دَحضورﷺ دَآوازنه خپل آوازمه اوچتوئ، په خکته آوازسره خبرې کوئ، **دویم ادب** ﴿وَلَا تَجْهَرُوا لَهُۥ﴾ دَحضورﷺ سره داسې بې

تکلفه اوپه زوره خبرې مه کوئ لکه څرنګه چه د یو بل سره کوئ. په اول ادب کښ مطلقًانهی وه درفع صوت نه، په مجلس دَنبی ﷺ که دَنبی علیہ السلام سره وی او که د یو بل سره خبری کول وی. په دویم ادب کښ دَ حضور ﷺ سره دَخبرو کولو بیان دې، بعض وائی چه په اول ادب کښ نهی دَرفع صوت ده دَ صوت دَنبی علیہ السلام نه او په دویم کښ نهی دَمساواة دَجهرده، چه دَنبی علیہ السلام دَ اواز سره به هم خپل اواز نه برابروئ بلکه خکته به ئی ساتئ،

بعض وائی چه دَ﴿وَلَا تَجْهَرُوا لَهُ بِالْقَوْلِ﴾ معنی داده چه په یامحمد، یااحمد سره ورته خطاب مه کوئ بلکه یانبی الله، یارسول الله ورته وایئ (روح المعانی).

﴿أَن تَحْبَطَ أَعْمَالُكُمْ﴾ علت دې دَماقبل دواړو دا بودپاره، ای لئلاتحبط اعمالکم، یاپکښ مضاف مقدر دې ای خشیة اَن تحبطَ اعمالکم، مطلب دادې چه خپل اوازونه دَحضور ﷺ په اوازمه اوچتوئ دَپاره دَدې چه ستاسو نیک عملونه، ضائع نشی.

دلته دا اشکال دې چه حبط اعمال یعنی نیک عملونه ضائع کولو والا عمل خو صرف کفر دې. په معصیت او ګناه سره خو اعمال نه ضائع کیږی نو په مذکوره عمل سره حبط دَ اعمالو څنګه اوشو، اودغه رنګه پدې سره مذهب دَمعتزله او خوارجو ثابت شوچه په معصیت سره انسان دَ ایمان نه خارجیږی؟

حکیم الامت مولانا اشرف علی تهانوی رحمہ اللہ په بیان القرآن کښ لیکلی دی چه ځما په زړه کښ دَدې آیت په تفسیر کښ ډیر تشویش وو چه دآیت کریمه داسې توجیه بیان کړیشی چه دَڅه بعید تاویل ارتکاب پکښ اونکړیشی، متعدد و تفاسیرو کښ مې تلاش اوکړو لیکن ځما زړه ته په څه توجیه سره شفاء ملاؤ نشوه، اخرمې دَالله تعالیٰ نه دعا اوکړه اودَمولانارومی رحمہ اللہ دَ کلام نه می استمداد اوکړو چه دَده په کلام کښ څه داسې مضمون ظاهر شی چه دآیت په تفسیر کښ معین شی، هرکله چه می مثنوی کهلاؤ کړو نو دا شعر می اولیدلو:

چون دل آن شاه زین ضان خون بود　　عصمت اوانتَ فیهم چون بود

یعنی چه کله زړه دَپیغمبر ﷺ دَدوئ نه ناراضه وی، نودوئ به څرنګه دَعذاب الهی نه محفوظ شی. نو په شعر کښ تأمل کولو سره می فوراً داخبره زړه ته راغله چه بی ادبی سبب دَ ناراضګئ دَ پیغمبر علیہ السلام دې، او دَ پیغمبر ﷺ ناراضګی سبب دَ ناراضګئ دَ الله تعالیٰ دې، او

الله ﷻ چه ناراضه شي نو توفيق ورنه سلب کړي، نو داخطره دَ کفرده او کفرحابط دَاعمالو دي نو لهذا پدې سره حبط دَاعمالو راځي (بيان القرآن ج۲ ص۴۱).

﴿وَأَنتُمْ لَا تَشْعُرُونَ﴾ حال دي دَ ﴿أَن تَحْبَطَ أَعْمَالُكُمْ﴾ نه. يعني په مجلس دَنبي عليه السلام کښې رفع صوت او جهربالقول مه کوئ مبادا پدې وجه ستاسو نيک عملونه حبط شي او تاسو ته به احساس هم نه وي چه حبط دَرفع صوت او جهربالقول پوجه راغلي دي.

فائده (۱): بعد دَنزول دَ آياتو نو مذکورو نه دَصحابو ﷺ دا کيفيت جوړ شوي وو چه ابوبکر ﷺ عرض او کړو چه يارسول الله! والله څه به اوس ترمرګه پورې تاسو سره داسې خبرې کوم لکه څوک چه بل سره سرګوشي کوي، او دَحضرت عمر ﷺ کيفيت مخکښې بيان شو چه دومره وروخبرې به ئې کولې چه بعضِ اوقات به ورنه دوباره تپوس کوليشو، دغه رنګه ثابت بن قيس ﷺ چه دې طبعًا جهير الصوت وو، دَدې آيات دَنزول نه ورستو په کورکښې کيناستلو او ژړل به ئې او ويل به ئې چه انا من اهل النّار يو څو ورځو پورې چه حضور ﷺ ده لره خپل مجلس کښې اونه موندلو نو سعد ﷺ نه ئې تپوس او کړو چه ثابت چرته دې آيا بيمار دې؟ سعد ﷺ دَلاعلمئ اظهار او کړو او بيا دَ ثابت ﷺ کورته راغې، ثابت ﷺ ورته اووې اُنزلت هذه الآية ولقدعلمتم انّي ارفعکم صوتًا على رسول الله ﷺ، فانا من اهل النّار نو حضرت سعد ﷺ دَدې تذکره نبي عليه السلام ته او کړو، نو نبي عليه السلام او فرمايل: بل هو من اهل الجنّة (روح المعاني، بحواله بخاري ومسلم).

فائده (۲): علماؤ ليکلي دي دَحضور ﷺ دَقبر مبارک سره هم آواز او چتول او په زوره خبرې کول منع دي او ګناه دي، ځکه چه حضور ﷺ ته برزخي حيات حاصل دي، دغه رنګه چه حديث بيانيږي نو هم په زوره خبرې کول ګناه دي، ابوحيان رحمه الله او قرطبي دا هم ليکلي دي چه علماء چونکه وارثان دَانبياؤ دي نو دَهغوئ په مجلس کښې هم په زوره خبرې کول مکروه او منع دي.

إِنَّ الَّذِينَ يَغُضُّونَ أَصْوَاتَهُمْ عِندَ رَسُولِ اللَّهِ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ امْتَحَنَ اللَّهُ
بيشکه هغه خلق چه ښکته کوي اوازونه خپل دَرسول الله ﷺ په خواکښې داهغه خلق دي چه خالص کړيدي الله ﷻ
قُلُوبَهُمْ لِلتَّقْوَىٰ ۚ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ عَظِيمٌ ③ إِنَّ الَّذِينَ يُنَادُونَكَ
زړونه دَدوئ دَپاره دَتقوىٰ، دوئ دَپاره مغفرت او اجرِعظيم دې، بيشکه هغه کسان چه اوازونه کوي تاته

مِنْ وَّرَآءِ الْحُجُرٰتِ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ۝ وَلَوْ اَنَّهُمْ صَبَرُوْا حَتّٰى
دَ باهر دَ كورونو نه اكثر په دوئ كښ نه پوهيږي ، او كچرې دوئ صبركړې وې تردې
تَخْرُجَ اِلَيْهِمْ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝
چه ته بهرته راوتلې وې دوئ ته نودابه غوره وه دوئ دپاره،اوالله ﷻ بخښونكې رحم كونكې دې

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يَغُضُّونَ أَصۡوَٰتَهُمۡ﴾ دابشارت اخرويه دې هغه كسانوته چه دَحضور ﷺ په مجلس كښ خپل اوازونه خكته ساتي،بعضِ وائي چه داآيات نازل دې په باره دَشيخينورضي الله عهنماكښ چه دآيات سابقه دَنزول نه ورستوبئ اوازونه خكته ساتل.﴿ٱمۡتَحَنَ ٱللَّهُ قُلُوبَهُمۡ﴾ امتحنَ په معنى دَ"اخلص"دې،لكه څرنگه چه سره زر ويلى كړيشى اوخالص كړيشى نودغه شان دَصحابه كرامو ﷺ زړونه الله ﷻ دَتقوىٰ دپاره خالص كړيدى چه دَدوئ په زړونوكښ صرف اوصرف تقوىٰ ده بغيردَتقوىٰ نه پكښ بل څه نشته دې،اوالمراداخلصهاللتقوىٰ اى جعلهاخالصة لاجل التقوىٰ...الخ(روح المعانى).ابن عباس ﷺ دَ﴿ٱمۡتَحَنَ ٱللَّهُ﴾ معنى كوى چه"طهّرهم من كلّ قبيح"يعنى الله ﷻ دوئ دَهرقبيح كارنه پاک كړيدى اودَدوئ په زړونوكښ خوفِ خدااوتقوى كرځولې ده(قرطبى).

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يُنَادُونَكَ﴾ پديكښ زجردې بى ادبى كونكوته،دآيت په شانِ نزول كښ مفسرينو ليكلى دى چه يوه ورځ دَبنوتميم څه اعربيان(باندهٔ چيان)مدينه ته راغلل دَحضور ﷺ سره دَملاقات په نيت،دَغرمې وخت وُحضور ﷺ قيلوله كوله نودوئ ورته دَدروازونه چغې اواوازونه شروع كړل چه"يامحمّد اُخرُج الينا، يا محمّد اُخرُج الينا"نودَدوئ په دې بى تهذيبئ اوعاميانه اندازباندى الله ﷻ داآياتونه نازل كړل،چه كوم خلق حضور ﷺ ته داسې اوازونه كوى نودوئ «لايعقلون» دى.

﴿مِن وَرَآءِ ٱلۡحُجُرَٰتِ﴾ "حجرات"دَحجرة جمع ده،دَازواج مطهراتوكوټى اوكورونه ورنه مراد دى،﴿أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡقِلُونَ﴾ ذكردَاكثردې ليكن مرادورنه كل دې﴿وَلَوۡ أَنَّهُمۡ صَبَرُواْ﴾ يعنى دوئ صبراوكړى اوستاسوراوتلوته انتظاراوكړى نودابه دوئ دپاره ډيرخه وى څكه چه په

دیکښ به دَحضورﷺ ادب اوتعظیم ملحوظ وی.﴿وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾نوپدی وجه ئی فوراً مؤاخذه اونکړه.

يَٰٓأَيُّهَا	ٱلَّذِينَ	ءَامَنُوٓاْ	إِن	جَآءَكُمۡ	فَاسِقُۢ	بِنَبَإٖ	فَتَبَيَّنُوٓاْ	أَن تُصِيبُواْ
اې ايمان والو!کچرته راشی تاسوته فاسق په څه خبرسره نوبنه تحقيق ئی کوئ،هسې نه،چه اورسوئ تکليف								
قَوۡمَۢا	بِجَهَٰلَةٖ	فَتُصۡبِحُواْ	عَلَىٰ	مَا	فَعَلۡتُمۡ	نَٰدِمِينَ ⑥		
يوقوم ته	په بې	خبرئ سره	نوشئ	به	تاسوپخپلوکړوباندې	پښيمانه		

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن جَآءَكُمۡ فَاسِقُۢ بِنَبَإٖ﴾دا **دريم قانون** دې چه دَعامې معاشرې سره متعلق دې،حاصل ئی دادې چه اې مؤمنانو!کله چه تاسوته څوک څه خبر راوړی بالخصوص فاسق، فاجر،نوپه هغی باندې عمل کولونه مخکښ دَهغی تحقيق کوئ،هسې نه چه چاته څه نقصان اورسوئ اوبياپه خپلوکړوباندې پښيمانه يئ.

شان نزول:دا آيت دَاکثرومفسرينوپه نزددَوليدبن عقبهؓپه باره کښ نازل دې،چه دې نبی علیه السلامدَبنی مصطلق قبيلی نه دَزکواة راوړلودپاره ليږلې وو،دَدې صحابیؓاودَدغه قوم په مينځ کښ پخوانئ دَجاهليت په دورکښ دُشمنی وه،قوم په هغه ورځ چه دَنبی علیه السلامدَقاصد دَ راتلو ورځ وه ټول دَاستقبال دَپاره دکلی نه بهرته راأووتل،صحابیؓ گمان اوکړوچه دوئ لکه دَ خما مقابلی اوقتل دپاره راوتلی دی،نوواپس راغې اونبی علیه السلام ته ئی اووې چه دوئ دَ زکوة ورکولونه انکاراوکړو،اومرتدشويدی اوخما دَقتل دَپاره راوتلی وو.

حضورﷺپدی خبره باندې ډيرخفه شواودَدغه قوم سره ئی دَجهادکولواراده اوکړه،کله چه دوئ ته دَحضورﷺدَارادې علم اوشونودَهغوئ کسان دَحضورﷺخدمت کښ حاضر شول اوعرض ئی وکړوچه ستاسوقاصدراغلې ووُاوموږپه طوردَاستقبال بهرته راوتلی ووُزموږاراده وه چه دَ اللهﷻدَحکم موافق دَخپل مالونوزکوة هغه ته حواله کړوليکن هغه دَلارې نه واپس شو.

بياحضورﷺدَتحقيق حال دپاره دَخالدبن وليدؓ په امارت کښ يوجماعت اوليږلو او ورته ئی اوفرمائيل:انظرفان رأيتَ منهم مايدلّ علی ايمانهم فخذ منهم زکاة اموالهم وان لم تری ذلک فاستعمل فيهم ماتستعمل في الكفار:يعنی ورشه اوگوره کچرته هغوئ په ايمان باقی وی نو

زکوٰة ورنه راؤړه اوکه نه وی نوهغه معامله(قتال)ورسره وکړه چه د نورو کافرانو سره کیږی، خالدبن ولید ﷺچه راغې اودَقوم سره نزدې ئی پړاؤواچولونودمابنام اذان اوبیادَماسخوتن اذان ئی واؤریدلو اوسهرته قریب ئی په تهجدواوپه تلاوت قرآن باندې اولیدل،بیائی ورنه زکاتو نه واخستل اوواپس راغې اوحضورﷺ ئی خبرکړو،نوپدی باندې داآیت کریمه نازل شو.

دآیت کریمه په دې **شان نزول باندی اشکال** دې چه داخوصحابیﷺ ته فاسق اوونیلې شو نعوذ بالله،حالانکه صحابهﷺ ټول عدول اوثقه د ،دَدې شکال مختلف جوابونه شویدی:

(۱)حضرت مولانااشرف علی تهانویﷺفرمائی چه په آیت کریمه کښ دَ﴿فَاسِقٌ﴾ دَ مبالغې فی الحکم دپاره دې،یعنی دلته خوصحابیﷺعادل دې اوبیاهم دَتحقیق حکم دې نو که یوفاسق راشی اوڅه خبردرکړی نوپه طریقه اولی سره تحقیق کوئ.

(۲)خو راجحه خبره دا ده چې د «فاسق» مصداق دا صحابي هډو سره دې نه ، بلکه روایاتو کښې راځي چې دې کله قوم ته نیزدې اورسیدو او قوم ئي سره د اسلحو نه بهر اولیدو نو یو کس ده ته اوئیل چې دا قوم ستا د قتلولو دپاره راوتلې دې ، چونکه د زړې دشمنئ په وجه دا عین ممکن وه نو ده دَ هغه په خبره اعتماد او یقین اوکړو او واپس نبي کریم ﷺ ته راغې ، او طبري په روایت کښې دي چې دا شیطان وو چې ده ته ئي دا خبره کړې وه ، نو مصداق «فاسق» دا خبر ورکونکې دې ، نه ولید بن عقبه،﴿أَن تُصِيبُوا﴾ای لئلاّ تصیبوا یا کراهة ان تُصیبوا.

وَاعْلَمُوٓا	اَنَّ	فِيكُمْ	رَسُوْلَ	اللّٰهِ	لَوْ	يُطِيْعُكُمْ
اوپوه شئ چه بیشکه په تاسوکښې موجوددې رسول دَاللهﷻ،کچرې هغه اطاعت اوکړی ستاسو						
فِيْ كَثِيْرٍ	مِّنَ	الْاَمْرِ	لَعَنِتُّمْ	وَلٰكِنَّ اللّٰهَ	حَبَّبَ	اِلَيْكُمُ الْاِيْمَانَ
په ډیروکارونوکښې نوپه ګناه اومشقت کښې به پریوځئ،لیکن اللهﷻمحبوب کړیدې تاسوته ایمان						
وَزَيَّنَهٗ	فِيْ	قُلُوْبِكُمْ	وَكَرَّهَ	اِلَيْكُمُ	الْكُفْرَ	وَالْفُسُوْقَ
اوښائسته کړې ئی دې په زړونوستاسوکښې اوبدیې ښکاره کړیدې تاسوته کفراوفسق						

وَالْعِصْيَانَ ۚ أُولَٰئِكَ هُمُ الرَّاشِدُونَ ۝ فَضْلًا مِّنَ اللَّهِ وَنِعْمَةً ۚ
اونافرمانی د اخلق هم دوئ هدايت موندونكى دى،دوجه دفضل دالله ﷻ نه اودوجه دنعمت نه
وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ۝
اوالله ﷻ پوهه حکمتونو والادي

﴿وَاعْلَمُوا أَنَّ فِيكُمْ رَسُولَ اللَّهِ﴾ دادا اول قانون سره متعلق دي،چه دادالله ﷻ لوئ نعمت دي چه دهغه رسول په تاسو کښ موجوددي نو د دي نعمت شکريه داده چه په هيڅ معامله کښ دهغه دقول ياعمل نه مخالفت مه کوئ بلکه دهغه اتباع کوئ اوهغه پخپله اتباع مه مجبوره وئ خکه﴿ لَوْ يُطِيعُكُمْ فِي كَثِيرٍ مِّنَ الْأَمْرِ ﴾کچرته هغه ستاسو اتباع اوکړي نو په دې به د ستاسو نقصان وي اگرچه هغه امر دنيوى ولې نه وى،اوتاسو ته پكښ ظاهرى نفع ولې کښ نه خكارى، ليكن درحقيقت ديكښې تاسو ته نقصان وى.﴿لَعَنِتُّمْ ﴾د عنت نه مشتق دي دګناه معنى ئې هم ده،يعنى تاسوبه په ګناه كښ واقع شئ، اوپه څه مصيبت كښ واقع كيدلوته هم وانئ.

﴿وَلَٰكِنَّ اللَّهَ حَبَّبَ إِلَيْكُمُ الْإِيمَانَ﴾ ليكن الله ﷻ تاسو د دي نقصان نه بچ كړئ،اوهغه داسى چې تاسوته يې ايمان توفيق دركړيدې،ايمان،عمل صالح،اواطاعت رسول يې تاسو ته محبوب كړي دي ،او كفر وفسوق او هرقسم ګناهونه ئې ستاسو زړونو كښ نفرت اچولې دي نودي وجهي نه تاسو خپل قول باندى درسول ﷺ قول له ترجيح وركوئ اواطاعت يې كوئ، دي تفسير مطابق دا ستدراک دي د «لعنتم» نه.

حضرت الشيخ فرمائي چه ديكښ د صحابوؤ اعتذار بيان دې ،چه كله نبى ﷺ ته د بنى مصطلق د ارتداد خلاف واقع خبر ميلاؤ شو نوځنو صحابو مشوره اوكړه چې فورا دى په دوئ حمله اوكړيشى ليكن نبى ﷺ داسى اونكړو،بلكه تحقيقات يې اوكړو،نو خبر د هغى خلاف راوتلو ،نو الله ﷻ « لو يطيعكم في كثير من الامر » كښ دى طرف ته اشاره اوكړه چې خپل آراء او مشورو منلو زور په نبى ﷺ مه راولئ،كنې ډير نقصان به اوموندئ اوګناه كښ به مبتلا شئ،

﴿وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ حَبَّبَ إِلَيْكُمُ﴾ديکښې د دې بيان دې چه صحابه کرامو رائ ورکول څه ذاتی تعصب او عناد باندی مبنی نه وه بلکه ايمان دَمحبت او کفر وعصيان دَنفرت دوجهی نه هغوئ دا مشوره ورکړې وه، اګر چه صحيح اقدام هغه وو چې نبی ﷺ کړيدې. نو دا استدراک دې دَ دې وهم چې سابق کلام نه پيدا کيږې.

﴿وَٱلْفُسُوقَ﴾غټ ګناهونه﴿وَٱلْعِصْيَانَ﴾واړه ګناهونه﴿فَضْلًا﴾مفعول له دې دَپاره دَ﴿حَبَّبَ﴾

، ﴿وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ﴾چنانچه دَدې علم کامل په بنيادِ دَهرحکم او قانون مصلحت پيژنی.

وَإِنْ طَآئِفَتَانِ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ٱقْتَتَلُوا۟ فَأَصْلِحُوا۟ بَيْنَهُمَا
اوکه چرې دوه ډلې دَمؤمنانوپه خپل مينځ کښې جنګ شروع کړی نوصلحه کوئ په مينځ دَدوئ کښې،
فَإِنۢ بَغَتْ إِحْدَىٰهُمَا عَلَى ٱلْأُخْرَىٰ فَقَٰتِلُوا۟ ٱلَّتِى تَبْغِى
کچرته زياتې اوکړی يوه ډله په بلې ډلې باندې نوجنګ کوئ تاسودَهغی ډلې سره چه زياتې ئی کړيدې
حَتَّىٰ تَفِىٓءَ إِلَىٰٓ أَمْرِ ٱللَّهِ فَإِن فَآءَتْ فَأَصْلِحُوا۟ بَيْنَهُمَا
تردې چه هغه رااوګرځی حکم دَالله ﷻ ته ، نو کچرته را اوګرځی نو صلحه اوکړئ په مينځ دَدواړوکښې
بِٱلْعَدْلِ وَأَقْسِطُوٓا۟ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُقْسِطِينَ ⑨
په انصاف سره او انصاف اوکړئ ، بيشکه الله ﷻ محبت کوی انصاف کونکوسره.

﴿وَإِن طَآئِفَتَانِ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ﴾دا **خلورم قانون او ادب** دې،دَپيغمبر ﷺ اطاعت کولو نه ورستو په تاسو اصلاح دَذات البين ضروری ده چه دَمسلمانانو په مينځ کښې اتحاد اتفاق برقرار وی، دَ دې قانون اصل اوبالذات مخاطب اولوالامر اوحاکمان دی اوبالواسطه عامة المسلمين هم دی، چه کله دَ مسلمانانو دَ دوؤ ډلو په مينځ کښې جنګ جګړه پيښه شی نو په امام المسلمين باندې واجبه ده چه دَدواړوپه مينځ کښې صلحه اوکړی،دَ صلحې کوشش باوجود کچرته يوه ډله په بلې باندې ظلم اوکړی او دَ جنګ نه نه منع کيږی اودغه رنګه بغاوت وکړی، نو امام المسلمين باندی لازمه ده چه دَباغی فرقې خلاف قتال اوکړی تردې صلحې ته تياره

شي او جنګ بند کړي . دَ فرق باغيه سره قتال او دَ هغې دَ احکامو تفصيلات په کتابونو دَ فقه کښ ليکلي شويدي.

دَآيت کريمه شانِ نزول دَصحيحينو دَروايت موافق دَانصارو دَ دوؤ ډلو "اوس" او "خزرج" په باره کښ شويدي،حضورﷺدَهغوئ په مينځ کښ دَدې آيت ماتحت صلحه اوکړه اودَهغوئ پخوانئ دشمنئ ختمې شوې. ﴿ٱقۡتَتَلُوا﴾ جمع ذکرشوه په اعتباردَمعنى سره ځکه هره طائفه(ډله) يوجماعت دې اوپه﴿بَيۡنَهُمَا﴾کښ رعايت دَلفظ کړې شويدې.﴿فَإِن فَآءَتۡ فَأَصۡلِحُوا﴾ يعنى چه بغاوت کولووالافرقه دَبغاوت اودَقتال نه منع شي نوصرف پدى اکتفاء مه کوئ بلکه زړه دشمنى اوبُغض ختمولو دَ پاره دَ دواړو په مينځ کښ عدل او انصاف سره صلحه اوکړئ چه دآئنده دَپاره جنګ بياشروع نشى.

فائده:په آيت کښ استدلال دې په وجوب دَقتال دَطائفى باغيه سره اګرچه مؤمنه وى او په حديث کښ چه راغلى دى"سباب المسلم فسوقٌ وقتاله كفرٌ"(بخارى)مسلمان ته کنځل کول فسق دې اوقتلول ئى کفردې،دَدينه مرادهغه دې چه بې ګناه اوباغى نه وى،دغه رنګه دآيت نه داهم معلومه شوه چه مرتکب دګناه کبيره دَايمان نه خارج نه دې.ځکه چه قتال اوبغاوت ګناه کبيره ده ليکن په آيت کښ مرتکب ته تعبيرپه مؤمن سره شويدې.

إِنَّمَا	ٱلۡمُؤۡمِنُونَ	إِخۡوَةٌ	فَأَصۡلِحُوا	بَيۡنَ	أَخَوَيۡكُمۡ	وَٱتَّقُوا ٱللَّهَ
بيشکه مؤمنان تول روڼه روڼه دى نوصلحه کوئ په مينځ دَرونړوخپلوکښ اويرېږئ دَاللهﷻنه						
لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ ۝						
دَپاره دَدې چه په تاسورحم اوکړېشى.						

﴿إِنَّمَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ إِخۡوَةٌ﴾دا دَ **خلورم قانون سره متعلق** اودَهغى تاکيددې،يعنى مؤمنان تول روڼه روڼه دى، نو دَ دې تقاضا دا ده چه دَ يو بل سره دې جنګ نه کوى،دَ يو نه څه خطاء اوشى نو بل دې ورته معافى کوى اوکچرته په دوؤ ډلوکښ څوک معافئ ته تيار نه وى نوعامة المسلمين دې دَ دواړو په مينځ کښ صلحه اوکړى ، پدې وجه چه دا اسلامى اخوت باقى پاتې وى.﴿بَيۡنَ أَخَوَيۡكُمۡ﴾دَتثنيه ذکرپدې وجه اوشوچه اشاره شى ديته چه دَاقل په مينځ کښ

صلحه ضروری ده نو دکشیروپه مینځ کښ خوپطریقه اولی ضروری ده، لتضاعف الفتنة والفساد فیه (روح).

اصلاح بین الناس یعنی دخلقوپه مینځ کښ صلحه کول ډیرلوئ ثواب دې ابودرداء ﷺ فرمائی چه حضورﷺ اوفرمائیل الااخبرکم بافضل من درجة الصیام والصدقة والصلوٰة آیاځه تاسو ته دَ نفلی روجو او دَ صدقې او دَ نفلی مونځ کولو دَ درجه نه زیات افضل عمل اونه ښایم؟ مونږ عرض اوکړو ضرور اوښایه ، بیا ئی اوفرمائیل اصلاح ذات البین او بیائی او فرمائیل و فساد ذات البین هی الحالقة یعنی یو بل سره بُغض کول حالق دې، یعنی دین لره ختمونکې دې (مشکاة ازابوداؤدوالترمذی).

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّن قَوْمٍ عَسَىٰٓ أَن يَكُونُوا۟ خَيْرًا
اې مؤمنانو!مسخرې دې نه کوی یوقوم په بل قوم پورې(ځکه چه)کیدیشی داچه هغوئ غوره وی
مِّنْهُمْ وَلَا نِسَآءٌ مِّن نِّسَآءٍ عَسَىٰٓ أَن يَكُنَّ خَيْرًا مِّنْهُنَّ
دَدوئ نه،اونه دې کوی مسخرې ښځې په نوروښځوپورې کیدیشی داچه هغوئ غوره وی دَدوئ نه،
وَلَا تَلْمِزُوٓا۟ أَنفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوا۟ بِٱلْأَلْقَٰبِ ۖ بِئْسَ ٱلِٱسْمُ ٱلْفُسُوقُ
اومه کوئ عیب جوئي پخپلو ځانونو (رونړو) او مه بلئ یو بل په بدو نومونو سره ، ډیر بد دې نوم فسق والا
بَعْدَ ٱلْإِيمَٰنِ ۚ وَمَن لَّمْ يَتُبْ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ⑪
ورستو دَ ایمان نه ، او څوک چه توبه او نکړی نو دغه کسان هم دوئ ظالمان دی

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا يَسْخَرْ﴾ داپنځم قانون دې، پدیکښ دَجنګ جګړوختمیدلو اسباب او دَ اصلاح بین النّاس اسباب ذکردی.پدې آیت کښ دَدرې کارونونه منع راغلیده: (۱)په چا پورې خنداکول اوهغه سپک ګنړل (۲)دَبل چاعیب جوئي کول اوهغه ته طعنه ورکول(۳) بل څوک په داسې نوم اولقب سره بلل چه هغه ئی بدګنړی او خفه کیږی پرې، کچرته دَدې کارونو دَ ارتکاب نه اجتناب اوکړیشی نو یقینًا به فساد ، جنګونه ختم شی

﴿عَسَىٰٓ أَن يَكُونُواْ خَيْرًا مِّنْهُمْ﴾ تعليل دي د نهى مذكورې. ځونکه د تهوقو او مسخرى بنيادى سبب بل ورته حقير ګڼل او خپل ځان ورته هغه نه افضل او بهتر ګڼل وى نو دې وجهې نه الله ﷻ اوفرمائيل کيديشي چه مسخور افضل او بهتر وى د ساخر نه د الله ﷻ په نيز، نو په دى وجه د چا تحقير کول او هغه سپک ګڼل نه دى پکار. بعض وائى معنى داده چې هيڅ څوک دې هم بل لره حقير نه ګڼرى، کيديشى چه محقَر (بالفتح) عزت مند جوړشى او محقِر (بالکسر) ذليل اوګرځى لکه په حديث کښ دي: لاتظهر الشماتة لاخيک فيرحمه الله ويبتليک (ترمذى)

يو شاعر وائى

لاتهينن الفقير علک ان ترکع يوما والدهر قد رفعه

﴿وَلَا نِسَآءٌ مِّن نِّسَآءٍ﴾ ((قوم)) په ضمن کښې زنانوو ذکر هم راغي خو چونکه په ښځو کښ دغه اخلاقى بيمارئ ډيره وى نو ددې وجه نه د هغوئ ذکر بيا مستقلاً اوشو. بعض وائى چه د قوم اطلاق صرف په رجالو باندى کيږى لکه په دې شعر کښې دي

أ قــوم آلُ حصــنٍ أم نســاء

نو ځکه د نساؤ ذکر مستقلاً اوشو. دا حکم د سړو په ښځو پورې او د ښځو د سړو پورې د مسخرو کولو هم دې ليکن دې باوجود د دې ذکر اونشو نو په دې کښې يو بل حکم طرف ته هم اشاره اوشوه چې د مرد و زن اختلاط شرعًا ممنوع اومذموم دې نو چه اختلاط نشته دې نو تسخر د رجالو په زنانوو پورې يا بالعکس هم نه دې متحقق.

نورخلق سپک اوحقيرګڼرلو نه تعبيرپه حديث پاک کښ په کبر سره شويدې: الکبر بطر الحق وغمطُ النّاس (ابوداؤد) او کبر يعنى تکبر د الله ﷻ په نزد مبغوض ترين عمل دې. علماؤو دا هم ليکلى دى چه دا ضرورى نه ده چه بل پورې خندا صرف په ژبې سره وى بلکه په سترګو يا د سر په اشارې سره هم په چا پورې توقې کول حرام او ناجائز دى، کقوله تعالى: ويلٌ لکلّ همزةٍ لمزةٍ.

﴿وَلَا تَلْمِزُوٓا أَنفُسَكُمْ﴾ دادویم نصحیت دي یعنی یو مسلمان دی د بل مسلمان عیب جوني نه کوی او په هغه دی طعنه نه لگوی، دا نهی هم عامه ده د چا د خبرو پیښې کول او د تللو پیښې کول او د چاپه قد و قامت کښې عیب ښکاره کول دا ټول ناجائز او حرام دی.

حضرت عائشهﷺ فرمائی چه ما یوځل د نبیﷺ په مخکښې «بطورعیب» اووې چه د صفیهﷺ قد خو بس دومره غونته دې ، نو حضورﷺ اوفرمائیل لقد قلتِ کلمةً لو مُزِجَ بها البحر لمزجته «مشکاة» یعنی تا داسی خبره «غیبت» اوکړوچه کچرته دا د سمندرسره ملاؤکړیشی نو هغه به هم خراب کړی «نونیک اعمال خوپه طریقه اولی خرابه وی».

«أَنفُسَكُمْ» نه مراد «اخوانکم» دې، والمعنى لاتعيبُوا اخوانكم من المسلمين لأنهم كانفسكم «زادالمسير» بل مسلمان ته طعنه ورکول گویاخپل ځان ته طعنه ورکول دی، یاداچه ته بل چاته طعنه ورکوې نوهغه به تاته طعنه درکوی نوگویاته خپل ځان ته طعنه ورکوې، نوپدې وجه ذکرد ﴿أَنفُسَكُمْ﴾ اوشو.

﴿وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَبِ﴾ دادریم نصیحت دې، «تنابز» د «نَبَز» نه دې، بې کاره لقب ته وائي، او تنابز په بې کاره لقب سره رابللو ته وائي ، «القاب» جمع د لقب ده دلته ورنه مرادلقب سوء دې، یعنی نه دې بلی بعضِ ستاسی بعضُونورولره په داسی لقب سره چه هغه ئی بد گنړی اوخفه کیږی پری، لکه مسلمان ته «اې کافره» اې هندو؟ اې فاسقه؟ وئیل اودغه رنگه اې خبیثه؟ اې حرامي، اې خره، اې سپیه! اې بیغرته! وغیره وئیل داټول حرام اوناجائزدی، دغه رنگه د چاخپل اصل نوم ورانول هم حرام دی.

البته فقهاؤتصریح کړیده چه څوک په عیب دارنوم سره مشهوراومعروف شوې وی اوهغه ورکښې خپل توهین نه گنړی اونه خفه کیږی نوبیاجائزدی، لکه تُوررنگ والاته «توري» وئیل وغیره یا لکه بعضِ رواة د احادیثو په اخفش، اصم، اعرج وغیره سره مشهور دی، ابن عباسﷺ فرمائی د «تنابزوا بالالقاب» نه مراد دا دي چه یوسړې په هغه گناه سره رابلل چه هغه ورنه توبه اوباسلی وی.

معاذ ﷺ نه روایت دی چه حضور ﷺ فرمائی من عیّر اخاه بذنب لم یمت حتّی یعمله (مشکوة) ای: من ذنب قد تاب منه یعنی څوک چه پخپل مسلمان وړور باندې د څه گناه عیب اولګوی نو دا سړی به ترهغه وخته پورې نه مړکیږی ترڅوچه پدی گناه کښې مبتلاشوې نه وی.

﴿بِئْسَ ٱلِٱسْمُ ٱلْفُسُوقُ﴾ دَدې په تفسیرکښې دوه احتماله دی: **یو دا** چه ((الفسوق)) بدل دې دَ ((الاسم)) نه، نومعنی به داشی چه ډیر بد دې نوم چه هغه فسوق دې. یعنی چه دلالة کوی په فسق باندې، لکه اې فاسقه، اې زاني، اې غله وئیل، نودغه شان نومونه وئیل ډیر بد دی.

دویم داچه ((الفسوق)) صفت تسبیبی دې دَ ((الاسم)) دپاره، نومعنی به داشی چه ډیربددې هغه نوم چه هغه سبب دَفسق دَقائل ګرځی، یعنی دَهغی په وئیلو سره قائل فاسق ګرځی ﴿بَعْدَ ٱلْإِيمَٰنِ﴾ ای بعد قبول الایمان. یعنی دَایمان راوړونه بعداوس دَفسق عمل کول ډیربددی.

﴿بِئْسَ ٱلِٱسْمُ ٱلْفُسُوقُ﴾ اصل کښې بِئْسَ اَلِاسْمُ الْفُسُوْقُ وو، الاسم والا همزه وصلی درج کښې راتلو د وجهې نه اوغورځیده، نو د 'لام' او 'سین' په مینځ کښې اجتماع ساکنین راغله نو د هغې ختمولو د پاره اول ساکن چې لام دې ، له څو کسره ورکړه نو لِاسْم الفسوق شو

﴿فَأُولَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ﴾ یعنی حقوق العباد تلف کونکی دی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱجْتَنِبُوا۟ كَثِيرًا مِّنَ ٱلظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ ٱلظَّنِّ إِثْمٌ وَلَا تَجَسَّسُوا۟
اې ایمان والؤخان ساتئ دَډیرودګمانونونه، بیشکه بعضِ ګمان ګناه دې اومه لټوئ عیبونه دَیوبل
وَلَا يَغْتَب بَّعْضُكُم بَعْضًا ۚ أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَن يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ
اوندې کوی غیبت بعضِ ستاسودَبعضو، آیاخوښوی یوکس ستاسونه داچه اوخوری غوښه دَوروروخپل
مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ تَوَّابٌ رَّحِيمٌ ⑫
چه مړوی، نوتاسو خو بدګڼړئ دا، او اویریږئ دَ الله ﷻ نه ، بیشکه الله ﷻ توبه قبلونکې رحم کونکې ذې

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱجْتَنِبُوا۟ كَثِيرًا مِّنَ ٱلظَّنِّ﴾ دا **شپږم قانون** دې پدیکښې هم دَ څو کارونو نه منع راغلیده دَپاره دَتنازع ختمیدلو او اصلاح بین الناس راتللو. اول داچه په چابدګمانی مه

کوئ چه کیدیشی پدی سری کښ به داعیب اوګناه وی،دوئم داچه که ګمان راشی نوبیائی تفتیش اوجاسوسی مه کوئ،دریم داچه که عیب مواولیدلونوبیائی بل چاته بیان مه کوئ.

﴿ كَثِيرًا﴾یامحذوف مفعول مطلق دپاره صفت دې اې:اجتنبوا اجتنابًاكثيرًايعنى ډيرزيات ځان ساتئ دبدګمانئ نه،یادَ﴿مِّنَ ٱلظَّنِّ ﴾ سره لګی،یعنی دډیروګمانونونه ځان ساتئ.﴿إِنَّ بَعْضَ ٱلظَّنِّ إِثْمٌ﴾ خامخاپه بعضِ ګمان کولوکښ ګناه وی،دَدینه معلومیږی چه ځنې ګمان ګناه نه دې مثلاً،۱،په الله ﷻ باندی ښه ګمان بلکه داخوواجب دې،۲،مؤمنانوصالحانوباندی ښه ګمان کول،۳،دیوسړی نه دَځه نقصان خطره وی نوهغه سره په ناسته پاسه کښ احتیاط کول وغیره بعضِ وائی چه﴿بَعْضَ ٱلظَّنِّ﴾نه مرادهغه ګمان دې چه یقین پرې اوکړیشی.

﴿وَلَا تَجَسَّسُوا﴾دادویم نصیحت دې،اودفع دَتوهم ده،توهم داچه بدګمانی خو ناجائز ده. لیکن دَ یقین حاصلولو دَ پاره به تفتیش اوتحقیق صحیح وی.جواب اوشوچه دَچاتجسسَ مه کوئ، علماؤو لیکلی دی چه دَ چا عیب یا ځه ګناه یا بدحالی معلومول، په پټه دَ چا خبرې آوریدل داټول په تجسّس کښ داخل دی چه داعمل ګناه اوناجائز دې،په یوحدیث کښ ارشاد دې چه:ايّاكم والظنّ فانّ الظّن اكذب الحديث، ولاتحسّسوا ولاتجسّسوا ولاتناجشوا ولاتحاسدوا و لاتباغضوا ولاتدابروا وكونوا عبادالله اخوانًا،مشكاة:۴۲۷،یوحدیث په اخرکښ نبی کریم ﷺ فرمائی چه ځوک دَبل مسلمان وروروعیب ښکاره کولوکوشش کوی الله ﷻ دَهغه عیبونو ښکاره کوی تردې پورې چه په خپل کورکښ ئې رسواکړی.

﴿وَلَا يَغْتَب بَّعْضُكُم بَعْضًا ﴾دادریم نصیحت دې اودَفع دَتوهم ده چه بدګمانی اوتجسس ناجائزدی لیکن کچرته بغیر دَ تجسس نه چاپه بل کس کښ عیب اولیدلو نو بیا ئې یو بل ته بیانول اوهغه عیب ښکاره کول جائزدی؟جواب اوشوچه نه دی جائز، ځکه داغیبت دې.

دَغیبت تعریف په حدیث کښ داسې راغلې دې،ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه نبی کریم ﷺ دَ صحابه ؤ نه تپوس اوکړو چه اتدرون ما الغيبة؟ ناسو ته پته ده چه غیبت ځه ته وائی؟ صحابؤو عرض اوکړوچه الله ورسوله اعلم بیانبی اکرم ﷺ اوفرمائیل: ذكرکَ اخاکَ بمايكره، خپل مسلمان وروړ داسې یادول چه په هغه بد لګی،یو صحابی عرض اوکړو چه کومه خبره ځه بیانوم کچرته هغه خبره په هغه کښ موجوده وی،نو بیا نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه هغه خبره دَ

ګناه په هغه کښې موجود وی او ته ئې بيانوې نو هم داخو غيبت دې او کچرته تا داسې خبره اوکړه چه په هغه کښې نه وی موجوده ، نو بيا خو تا په هغه تهمت اولګولو .

په يوحديث کښې غيبت ته اشدمن الزنا وئيلې شويدی دغيبت کولومذمت اوقباحت ورستو په آيت کريمه کښې راروان دې او احاديث،اقوال دَسلفو .خلفوهم په دی کښې کثيردی چه مواعظو کښې دَهغې مطالعه کيديشی.

علماؤ دا هم ليکلی دی چه لکه څرنګه غيبت کول ګناه دې نو دغه شان غيبت آوريدل هم ګناه دې،په مجلس کښې چه دَچا غيبت کيږی نو په سامع باندی لازمه ده چه هغه کس تری نه منع کړی،په يوروايت کښې چه نبی کريمﷺداسې فرمائيلې "من ذبّ عن لحم اخيه بالمغيبة كان حقاعلى الله ان يعتقه من النار"(مشكاة :ص ۴۲۴)يعنی دَاللهﷻ په ذمه باندې دَهغه کس دَ جهنم نه آزادول لازم دی څوک چه دَخپل مسلمان ورور دفاع اوکړی چه دَ هغه غوښه دَ غيبت په وجه خوړلې کيږی.په يوحديث کښې دی،من راىٰ عورةً فسترهاكان كمن احيىٰ موؤدةً چاچه بل کښې څۀ عيب اوليدو اوبيائې پرې پرده واچوله دا داسې دې لکه ژوندئ ښخه کړې شوې حنئ يې ژوندئ کړه(مشكوة:۴۲۴).

﴿ أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَن يَأْكُلَ ﴾دازجراوقباحت ذکرکيږی غيبت کونکوته به طور مثال،يعنی څوک په تاسوکښې دا خوخوي چې انسان وي ، بيا ئي ورور وي ، بيا مړ هم وي او د هغه غوښه او خوري، نو دا څوک خوخوي چې دَخپل مړورورمرداره غوښه اوخوری،بلکه هر کس ئي بدګڼری نودغه رنګه غيبت کول هم بداوګڼرئ،﴿ مَيْتًا ﴾حال دې دَ"لحم"نه او ضمير په "فكرهتموه" کښې ظاهره داده چه راجع دې «اكل» ته ،ياراجع دې «لحم» ته.

يَاأَيُّهَا	النَّاسُ	إِنَّا	خَلَقْنَاكُمْ	مِّن	ذَكَرٍ	وَأُنثَىٰ	وَجَعَلْنَاكُمْ
اې خلقوبيشکه	مونږپيداکړی	يئ	تاسودَيوسړی،آدم،نه	اودَيوې	ښځې،حوا،نه،اوګرځولی	.مونږ	تاسو
شُعُوبًا	وَقَبَائِلَ	لِتَعَارَفُوا	ط	إِنَّ	أَكْرَمَكُمْ	عِندَ	اللَّهِ
غټې قبيلې	اووړې قبيلې	دَپاره دَدې چه يوبل اوپيژنئ،بيشکه			ډيرعزت مندستاسونه	په نزد	دَاللهﷻ

اَتْقٰىكُمْ	اِنَّ	اللّٰهَ	عَلِيْمٌ	خَبِيْرٌ	⑬
ھغه دي چه ډیرتقویٰ دار وی	ستاسونه،بیشکه	اللهﷻ	پوهه دي	او خبردارٌدي	

﴿ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّا خَلَقْنٰكُمْ ﴾داووم(۷)قانون دې،پدیکښې منع راغلیده دَنسبي تفاخرنه،چه په نسب فخرمه کوئ ځکه دادَنفرت اوعداوة باعث دې،اودغه رنګه دَاللهﷻپه درګاه کښې دَ عزت اوکرامت داورمدارنسب نه دې بلکه ایمان،عمل صالح،تقوی ده،نوکه فخرکوئ پدې سره ئې اوکړئ ولله درالجامي حيث قال:

بندهٔ عشق شدی ترکِ نسب کن جامی
که درین راه فلان ابن فلان چیزی نیست

﴿مِّنْ ذَكَرٍ وَّاُنْثٰى ﴾یعنی دَادم عليه السلام اوحواء رضي الله عنهانه، نو د یو مور او پلار نه مو پیدا کړی یئ نو بیا په څه بنیاد تاسو تفاخر کوئ ﴿شُعُوْبًا ﴾جمع دَ"شعبٌ"ده اوچتې طبقې دَ نسب ته وائی ﴿وَّقَبَآىِٕلَ ﴾ جمع دَ"قبیلة"ده دَشعوب نه ورې طبقې ته وائی عربو خپل نسبت اوقومیت دپاره شپږ طبقات جوړکړی وو:(۱)شعب(۲)قبیله(۳)عماره(۴)بطن(۵)فخذ(۶)فصیله،تولونه قریب تر فصیله بیا فخذ،بیا بطن الی آخره.

﴿لِتَعَارَفُوْا ﴾مضارع ده یوه تاحذف شویده،یعنی چه یوبل اوپیژنئ،قریب او بعید او پیژنئ، نو دَ قریب سره به صله رحمي وغیره کوئ اوپه میراث کښې به ورته حصه ورکوئ،لکه په حدیث کښې دی،تعلّموامن انسابکم ماتصلون به ارحامکم.دی دپاره نه یئ تقسیم کړی شوی چې قومیت په بنیاد تعصب اوجهګړې شروع کړئ،اوبعض مفسرینو یی دامعنی هم کړیده چې قومونو اوخاندانو کښې مو دې دپاره تقسیم کړی یی چې خپل نسب او پیژنئ او د بل نسب طرف ته څوک دعوه اونکړی.

﴿اِنَّ اَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ اَتْقٰىكُمْ ﴾یعنی قبیلې اوخاندانونه دَ فخر د پاره نه دی بلکه دَ تعارف دَپاره دی،او دَ فخر څیز تقویٰ ده،ځکه چه دَ اللهﷻ په نزد دَ تولو نه زیات عزت مند دَ تولو نه لوئ تقویٰ دار دې،حضرت جابربن عبدالله رضي الله عنه فرمائی چه حضورﷺمونږته په خطبة الوداع کښې اوفرمائیل: یاایهاالناس الاانّ ربکم واحدٌ، لافضل لعربیٌ علی عجميٌ و لا لعجميٌ

علی عربیٌ ولا لِأسودَ علی احمرَ و لا لِاحمر علی اسودَ الاّ بالتقویٰ اوبیائی اوفرمائیل:الاهل بلّغتُ قالوا:بلی یارسول الله قال فلیبلّغ الشاهدُ الغائب«روح المعانی بحواله بیهقی».

﴿إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ﴾ای علیم بظواهرکم﴿خَبِيرٌ﴾ببواطنکم.

قَالَتِ الْأَعْرَابُ آمَنَّا ۖ قُل لَّمْ تُؤْمِنُوا وَلَٰكِن قُولُوا
اوویل بانده چیانوچه ایمان راوړي دي مونږ ، نه ورته اووایه ایمان مو نه دي راوړي لیکن وایئ
أَسْلَمْنَا وَلَمَّا يَدْخُلِ الْإِيمَانُ فِي قُلُوبِكُمْ ۖ وَإِن تُطِيعُوا
چه اسلام موراوړي دي،اولاتراوسه پوري ندي داخل شوي ایمان په زړونوستاسوکښی،کچرته تاسواطاعت کوئ
اللَّهَ وَرَسُولَهُ لَا يَلِتْكُم مِّنْ أَعْمَالِكُمْ شَيْئًا ۚ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ⑭
دَالله اودرسول دَهغه کم به نه درکوي تاسوته الله جل جلاله ستاسو دَ عملونو نه هیڅ څیز. بیشکه الله جل جلاله بخونکي رحم کونکي دي.
إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا
بیشکه مؤمنان خوهغه دی چه ایمان ئی راوړي وی په الله جل جلاله اوپه رسول دَهغه بیائ شک نه وی کړي
وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ۚ أُولَٰئِكَ هُمُ الصَّادِقُونَ ⑮
اوجهادئی کړي وی په مالونوخپلواوځانونوخپلوسره په لاره دَالله تعالیٰ کښی،دغه خلق هم دوئ ریشتنی دی‌پخپلودعوژکښی.

﴿قَالَتِ الْأَعْرَابُ آمَنَّا﴾دا دَ **سورة دویمه حصه** ده پدیکښی دَبعضِ اعرابونه شکوه ذکرکیږی،دلته چه دکوموا اعرابوذکردي نودَبعضِ مفسرینوپه نزدمرادورنه دَبنواسداوخزیمه منافقین دی چه دَمدینی په جوارکښی اوسیدل په قحط سالئ کښی مبتلاشوی وو، دَ حضور ﷺ په خدمت کښی راغلل اومحض دَصدقاتودَوصولئ دپاره ئی دَاسلام اظهاروکړو اوپه نبی کریم ﷺ باندې ئي احسان کولوچه اوګوره نوروخلقوسره تاسو جهادکوئ اومونږبغیردَجنګ نه مسلمانان شوی یو،نولهذازمونږزیات خیال اوساته اوصدقات راکړه،نوالله تعالیٰ داآیت نازل کړواودَدوئ دَدعوي ردئی اوکړو.

﴿وَلَٰكِن قُولُوٓاْ أَسۡلَمۡنَا﴾ چونکه دَدوئ په زړونو کښې ایمان نه وو ،دعوه ئی صرف دَظاهری افعالو په بناء کوله نو پدې وجه قرآن دَدوئ دَایمان نفی اوکړه چه ﴿ءَامَنَّا﴾مه وایئ بلکه﴿ أَسۡلَمۡنَا ﴾ وایئ ځکه چه دَاسلام معنی په ظاهری افعالو کښې اطاعت کول ده اودوئ په ظاهری طورسره اطاعت کونکی وو،زړونوئی دَنورایمانی نه خالی وو.اسلام اوایمان کښې فرق شته او که نه؟ اوکه وی نو څه فرق دې؟دا یو طویل معرکة الآرا بحث دې.دې دپاره بخاری مسلم شروحو ته رجوع اوفرمائی ﴿لَا يَلِتۡكُم﴾ ای لاینقصکم.

﴿إِنَّمَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ﴾پدی کښې دَحقیقی ایمان صفات ذکرکیږی چه حقیقی اوکاملین مؤمنان هغه دی چه داصفات پکښې موجودوی صرف زبانی اظهارسره سړې مؤمن نشی جوړیدلې لکه اعراب ئی چه دعوه کوی.﴿وَجَٰهَدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ﴾پدیکښې دکافرانوسره قتال،خپل نفس سره جهاد،ځان دَغیرشرعی کارونونه منع کول خپل نفس په دینی تقاضو باندی لګول،ټول پکښې داخل دی صاحب دَروح المعانی فرمائی﴿فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ﴾فی طاعته عزّوجل علی تکثر فنونهامن العبادة البدنیة المحضة والمالیة الصرفة والمشتملة علیهما معًا کالحج والجهاد﴿أُوْلَٰٓئِكَ﴾الموصوفون بماذکرمن الاوصاف الجمیلة.

قُلۡ أَتُعَلِّمُونَ ٱللَّهَ بِدِينِكُمۡ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ
ته اووایه آیاخبرورکوئ تاسوالله ﷻته پخپل دین،حالانکه الله ﷻعالم دې په هغه څه چه په اسمانونوکښې دی
وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ﴿١٦﴾ يَمُنُّونَ عَلَيۡكَ
اوپه هغه څه چه په زمکه کښې دی،اوالله ﷻپه هرڅه ښیزباندې عالم دې،احسان اړه وی دوئ په تاباندې
أَنۡ أَسۡلَمُواْۖ قُل لَّا تَمُنُّواْ عَلَيَّ إِسۡلَٰمَكُمۖ بَلِ ٱللَّهُ يَمُنُّ
داچه دوئ اسلام راوړې دې،ته اووایه احسان مه اړه وئ په ماباندې دَخپل اسلام،بلکه الله ﷻاحسان کړیدې

عَلَيْكُمْ أَنْ هَدٰىكُمْ لِلْإِيمَانِ إِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِينَ ﴿١٧﴾ إِنَّ اللّٰهَ
په تاسودي چه هدايت ئی کړيدي تاسوته دايمان کچرته يئ تاسو ريښتنی(په خپلو دعوو کښې)بيشکه الله ﷻ
يَعْلَمُ غَيْبَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَاللّٰهُ بَصِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١٨﴾
عالم دي په غيب داسمانونواودزمکې،اوالله ﷻ ليدونکي دي دهغه عملونوچه تاسوئی کوئ

﴿ قُلْ أَتُعَلِّمُونَ اللّٰهَ ﴾دازجردي اعرابوته تعليم دلته پمعنی د اخبار سره دي ای تخبرونه سبحانه وتعالی بقولکم امنايعنی آياتاسوپه امنا سره الله ﷻ ته خبرورکوئ چه مونږايمان راوړي دي،حالانکه الله ﷻ خوپه تمامو مغيباتو داسمانونو او دزمکې عالم دي نوستاسوپه دعوي هم عالم دي.

﴿يَمُنُّونَ عَلَيْكَ أَنْ أَسْلَمُوا ﴾داهم اعرابوته زجردي،چه خپل اسلام په نبی ﷺ مه ازباته وئ،بلکه داخو دالله ﷻ احسان اومنئ چه دايمان هدايت ئی درته اوکړو،کماقال الشيخ سعدی رحمه الله.

منت منه که خدمت سلطان همی کنم منت شناس ازوکه بخدمت گذاشته

﴿قُلْ لَا تَمُنُّوا عَلَيَّ إِسْلَامَكُمْ﴾منصوب بنزع الخافض دي،ای باسلامکم﴿بَلِ اللّٰهُ يَمُنُّ عَلَيْكُمْ أَنْ هَدٰىكُمْ لِلْإِيمَانِ ﴾که څوک اشکال اوکړی چه په دوئ کښې خو ايمان په حقيقت کښې نه وو موجود ، کماقال تعالی﴿قل لم تؤمنوا ﴾نوبيا څنګه د ايمان د هدايت احسان اثبات ورباندي کيږي.

جواب(١)دادي چه دلته الله ﷻ داسی اونه فرمائيل أن رزقکم الايمان بلکه ان هداکم ئی اوفرمائيل اوهداية دلته پمعنی دمطلق دلالة اواراءة الطريق سره دي په ارسال د رُسل په واضحو معجزوسره.(٢)دويم جواب دادي چه الله ﷻ دَدي نه ورستوشرط ذکرکړيدي چه﴿إِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِينَ ﴾ اوجواب دشرط محذوف دي ای ان کنتم صادقين فی ادّعاکم فلله المنة عليکم يعنی که تاسوپه خپله دعوه کښې صادق يئ نوداخو دالله ﷻ په تاسواحسان دي،چه ايمان ئی درکړيدي،نوداپه دی دلالت کوی چه دوئ مؤمنان نه وو،نودماقبل سره ئی منافات نشته.

﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ غَيۡبَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ ﴾ دا په آخر دَسورة کښې بيان دَمسئلې دَتوحيد دي على وجه الترقى دَماقبل سورتونو نه، ((والله بصير بما تعملون)) نو په حقيقى توګه سره ايمان راوړئ، ځکه چه الله تعالٰى په ښکاره او په خفيه عملونو ستاسو ليدونکې دې.

سورة السبأ

سورت الفاطر

سورة الصّٰفّٰت

سورة صٓ

سورة الزمر

سورة المومن

سورة حم سجده

سورت حم دخان

سورت الجاثیه